۴

بسم الله الرحمن الرحيم

تفسیر دیوبندی

مرتب

الحاج مولوی عبدالحنان

فاضل جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون

معاون

احمد یاسین

افضل رحیمی

تفسیر دیوبندی

مکتبه حبیبیه کندهار


اقرأ باسم
ربك الذي خلق
۱۴
۳۸
باور کتابتون
BAWAR KETABTOON

فهرست

د تفسیر دیوبندي اصل په دوو (۲) ټوکو کښي چاپ سوی دی، البته د ډېر حجم پر بنیاد مو دغه پي ډي ایف کاپي په څلورو ټوکو باندي وویشی.

جلد اول (۱)

جلد دوهم (۲)

جلد دریم (۳)

جلد څلورم (۴)

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ

فَمَنْ	أَظْلَمُ	مِمَّنْ	كَذَبَ	عَلَى اللّٰهِ	وَكَذَّبَ	بِالصِّدْقِ
پس څوک دی	ډیر ظالم	له هغه چا	چی دروغ تړی	پر الله	او دروغ شمیری	رښتیا خبره

پس څوک دی ډیر ظالم؟ له هغه چاچی دروغ تړی پر الله اودروغ شمیری رښتیا خبره (قرآن)

إِذْ جَآءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِينَ ﴿۳۲﴾

إِذْ جَآءَهُ	أَلَيْسَ	فِي جَهَنَّمَ	مَثْوًى	لِّلْكٰفِرِينَ
کله چی راسی (قرآن) ده ته	آیا نسته	په دوزخ کښی	ځای	دپاره د کافرانو

کله چی راسی (دغه قرآن) دغه (مکذب) ته، آیا نسته په دوزخ کښی ځای دپاره د کافرانو ؟ (بلکه سته)

وَالَّذِي جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُولٰٓئِكَ هُمُ

وَالَّذِي	جَآءَ	بِالصِّدْقِ	وَصَدَّقَ	بِهِۦٓ	أُولٰٓئِكَ	هُمُ
او هغه (محمد)	چی راغی	په رښتیا سره	او هغه چی رښتیا یئ وشمیرله	دا (خبره)	دغه کسان	هم دوی دی

او هغه (محمد) چی راغی په (خبری) رښتیا سره او هغه (مؤمنان) چی رښتیا یئ وشمیرله دا (خبره) دغه کسان هم دوی دی

الْمُتَّقُونَ ﴿۳۳﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذٰلِكَ

الْمُتَّقُونَ	لَهُم	مَّا يَشَآءُونَ	عِندَ	رَبِّهِمْ	ذٰلِكَ
پرهیزګاران	سته دوی ته	هر هغه (نعمت) چی غواړی یئ	په نزد	درب د دوی	دغه

پرهیزګاران. سته دوی ته (په جنت کښی) هر هغه (نعمت) چی غواړی یئ په نزد درب د دوی ، دغه (مذکور کرامت)

جَزَآءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿۳۴﴾ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي

جَزَآءُ	الْمُحْسِنِينَ	لِيُكَفِّرَ	اللّٰهُ	عَنْهُمْ	أَسْوَأَ	الَّذِي
جزا ده	دنیکو کارانو	دپاره ددی چی لیری کړی	الله	له دوی څخه	بد تر	دهغو ګناهونو

جزا ده د محسنانو نیکو کارانو دپاره د دی چی ورژوی (توئی کړی) الله له دوی څخه بدتر دهغو ګناهونو

عَمِلُوا وَيَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۳۵﴾

عَمِلُوا	وَيَجْزِيَهُمْ	أَجْرَهُم	بِأَحْسَنِ	الَّذِي	كَانُوا يَعْمَلُونَ
چی کړی یئ وی	او چی جزاء ورکړی (الله) دوی ته	اجر د دوی	په سبب د هغه ډیر ښه عمل	چی	ؤ دوی چی کاوه به یئ

چی کړی یئ وی او چی جزا ورکړی (الله) دوی ته اجر د دوی په سبب د هغه ډیر ښه عمل چی ؤ دوی چی کاوه به یئ .

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ... پر الله ﷻ باندي دروواغ تړل ډیر لوی ظلم دی: په دغه ایت کي الله ﷻ فرمایي چي تر هغه سړي به زیات نا انصافه او ناحق پر سته څوک وي چي پر ما به درواغ تړي یعني دخدای ﷻ متعلق داسي ووایي چي دده سره نور هم شریک دي او رشتیا خبره یعني قرآن کله چي هغه ده ته درسول په ذریعه ورسیږي درواغجن کړي نو داسي کس لوی ظالم کیدل هم ظاهر دي او دظلم لوی عذاب مستحق کیدل هم ظاهر دي او لوی عذاب دجهنم دی نو ایا دقیامت په ورځ به په جهنم کي داسي کافرانو ځای نه وي ؟ دافیصله خو دباطل پرستو سره او ددوی برخلاف کم خلګ چي رښتینی خبره راوړي دخدای ﷻ طرف ته یا درسول طرف ته خلګو ته راسي او په خپله هم دارښتینی ګڼي یعني داخلګ صادقان هم وي او مُصدِّق هم لکه چي مخکني خلګ کاذبان هم وه او ددرواغو نسبت به یي هم انبیاووته کوی نو داخلګ پرهیزګاره دي دوی چي څه دالله ﷻ څخه غواړي هغه به الله ﷻ دوی ته ورکړي.
(معارف القرآن ج ۸ پ۲۴ ص ۱)

أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ۖ وَيُخَوِّفُوْنَكَ

أَلَيْسَ	اللّٰهُ	بِكَافٍ	عَبْدَهٗ	وَيُخَوِّفُوْنَكَ
آيا نه دى	الله	كافي، بس كيدونكى	دبنده خپل	او بيروى (كفار اى محمده) تا

آيا نه دى الله كافي بس كيدونكى دبنده خپل (بلكه كافي دى) او بيروى (كفار اى محمده!) تا

بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٦﴾

بِالَّذِيْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ	وَمَنْ يُّضْلِلِ	اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ هَادٍ
په هغو (بتانو)	بى له الله	او هر څوک چي گمراه يئ كړى	الله	پس پيدا به نسى دى (گمراه) ته	هيڅوک سمه لاره ښوونكى

په هغو بتانو بيله الله، او هر څوک چي گمراه يئ كړى الله پس پيدا به نسى دى (گمراه) ته هيڅوک سمه لاره ښوونكى

وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ۗ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ

وَمَنْ	يَّهْدِ	اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ مُّضِلٍّ	أَلَيْسَ	اللّٰهُ	بِعَزِيْزٍ
او هر چاته چي	سمه لاره وښيي	الله	پس نسته ده ته	هيڅوک گمراه كوونكى	آيا نه دى	الله	ډير ښه غالب قوى

او هر چاته چي سمه لاره وښيي الله پس نسته ده ته هيڅوک گمراه كوونكى، آيا نه دى الله ډير ښه غالب قوى

ذِي انْتِقَامٍ ﴿٣٧﴾ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

ذِي انْتِقَامٍ	وَلَئِنْ	سَأَلْتَهُمْ	مَّنْ خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ
خاوند دبدل اخيستلو	او خامخا كه	وپوښتې ته له دوى (مشركانو)	چي چا پيدا كړى دى	دا آسمانونه

خاوند دبدل اخيستلو؟. او خامخا كه وپوښتې ته (اى محمده!) له دغو (مشركانو) چي چا پيدا كړى دى دا آسمانونه

وَالْأَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ قُلْ أَفَرَءَيْتُمْ مَّا

وَالْأَرْضَ	لَيَقُوْلُنَّ	اللّٰهُ	قُلْ	أَفَرَءَيْتُمْ	مَّا
او مځكى	نو خامخا وبه وايئ هرومرو	چي الله	ووايه (محمده)	آيا پس وينئ تاسى	هغه چي

او مځكى نو خامخا وبه وايئ هرومرو چي الله (پيدا كړى دى) ووايه (اى محمده) آيا پس وينئ تاسى هغه بتان چي

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ

تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	إِنْ أَرَادَنِيَ	اللّٰهُ	بِضُرٍّ	هَلْ هُنَّ	كٰشِفٰتُ
عبادت يئ كوى تاسى	بى له	الله	كه چيرى اراده وفرمائى زماسره	الله	دضرر رسولو	آيا دى دا	ليرى كوونكى

عبادت يئ كوئ تاسى بى له الله كه چيرى اراده وفرمائى زماسره الله دضرر رسولو آيا دى دا بتان ليرى كوونكى

أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ وَيُخَوِّفُوْنَكَ.. **شان نزول :** ددې آيت شان نزول يوه واقعه ده چي كفارو رسول الله ﷺ او اصحاب ﵃ ددې څخه بيرول چي كه تا زموږ دبتانو بې ادبي وكړه نو ددې بتانو اثر ډير سخت دى دهغه څخه به ته محفوظ نه سي ددې په جواب كي وويل سول چي آيا الله ﷻ دخپل بنده دپاره كافي نه دى ؟ په دې وجه ځينو مفسرينو دلته دبنده څخه مخصوص بنده يعني نبي كريم ﷺ مراد اخيستى دى : او نورو مفسرينو دبنده څخه مراد عام اخيستى دى او دآيت دوهم قرآئت كم چي عباده راغلى دى هغه ددې مؤيد دى او مضمون په هر حال كي عام دى چي الله ﷻ دخپل هر بنده دپاره كافي دى: **عبرت او نصيحت :** ويخوّفونك بالذين يعني كفار تا بيروي دخپلو درواغو معبودانو دغضب څخه ددې آيت ويونكى عموماً داخيال كوي تيريږي چي داديوې خاصي واقعي ذكر دى چي تعلق يي دكفارو داخطارو او دنبي كريم ﷺ دپاک ذات سره دى دې طرف ته خيال نه كوي چي په دې كي زموږ دپاره څه هدايت دى ؟ پاته بيان پر راروان مخ وگوري.

ضُرِّهٖۤ اَوْ اَرَادَنِیْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ

ضُرِّهٖۤ	اَوْ اَرَادَنِیْ	بِرَحْمَةٍ	هَلْ هُنَّ	مُمْسِكٰتُ	رَحْمَتِهٖ	قُلْ
د ضرر د هغه	یا که اراده وفرمائی زما سره	د رحمت	آیا دی دغه (بتان)	منع کوونکی	د رحمت د الله	ووایه (محمده)

دضرر دهغه یا که اراده وفرمائی (الله) له ماسره د رحمت آیا دی دغه (بتان) منع کوونکی د رحمت د الله. ووایه (محمده)

حَسْبِیَ اللّٰهُ ؕ عَلَیْهِ یَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۳۸﴾ قُلْ یٰقَوْمِ

حَسْبِیَ	اللّٰهُ	عَلَیْهِ	یَتَوَكَّلُ	الْمُتَوَكِّلُوْنَ	قُلْ	یٰقَوْمِ
بس دی زما	الله	خاص په هم دغه الله	توکل کوی	توکل کوونکی	ووایه (محمده)	ای قوم زما

دوی ته بس دی زما الله، خاص په هم دغه الله توکل کوی توکل کوونکی (په هر حال). ووایه (محمده) ای قوم زما

اعْمَلُوْا عَلٰی مَكَانَتِكُمْ اِنِّیْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾

اعْمَلُوْا	عَلٰی	مَكَانَتِكُمْ	اِنِّیْ	عَامِلٌ	فَسَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ
عمل کوئ تاسی	پر	ځای خپل کښی	بیشکه! زه	هم عمل کوونکی یم	پس ژر ده چی	معلوم به کړئ تاسی

ژوند (روزګار) کوئ تاسی په ځای خپل کښی بیشکه! زه هم عمل کوونکی یم، پس ژر ده چی معلوم به کړئ تاسی

مَنْ یَّاْتِیْهِ عَذَابٌ یُّخْزِیْهِ وَیَحِلُّ عَلَیْهِ عَذَابٌ

مَنْ یَّاْتِیْهِ	عَذَابٌ	یُّخْزِیْهِ	وَیَحِلُّ	عَلَیْهِ	عَذَابٌ
هر هغه چی رابه سی هغه ته	داسی عذاب	چی وبه شرموی دی	او نازل به سی	په ده	عذاب

هر هغه چی رابه سی هغه ته داسی عذاب چی وبه شرموی (اورسوا به کړی) دی او نازل به سی په ده عذاب

مُّقِیْمٌ ﴿۴۰﴾ اِنَّاۤ اَنْزَلْنَا عَلَیْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ

مُّقِیْمٌ	اِنَّاۤ	اَنْزَلْنَا	عَلَیْكَ	الْكِتٰبَ	لِلنَّاسِ	بِالْحَقِّ	فَمَنِ
همیشه	بیشکه! موږ	نازل کړی مو دی	پر تا	کتاب (قرآن)	دپاره د خلګو	په حقه سره	پس هر چا چی

همیشه. بیشکه! موږ نازل کړی مو دی پر تا کتاب (قرآن) دپاره (دانتفاع د ټولو) د خلګو په حقه سره پس هر چا چی

اهْتَدٰی فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا یَضِلُّ

اهْتَدٰی	فَلِنَفْسِهٖ	وَمَنْ ضَلَّ	فَاِنَّمَا	یَضِلُّ
سمه لاره یئ پیدا کړله	پس نفس د ده لره ده (فائده)	او هر څوک چی ګمراه سو	پس بیشکه! هم داخبره ده	چی ګمراه کیږی

سمه لاره یئ پیدا کړله پس نفس د ده لره ده (فائده یئ) او هر څوک چی ګمراه سو پس بیشکه! هم داخبره ده چی ګمراه کیږی

قُلْ یٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰی مَكَانَتِكُمْ.. دتیر مخ پاته حصه دلته وګوری: حال دادی چي خبره بالکل واضحه ده چي کم سړی هم یو مسلمان په دې وجه بیروي چي که تا فلانی حرام کار یا ګناه ونه کړه نو ستا حاکمان یا مشران یا دکمو چي ته محتاج ګڼل کیږې ستا څخه به خفه سي او تاته به تکلیف ورسوي داهم په دې کي داخل ده که څه هم هغه بیروونکی مسلمان وي او څوک چي وبیروي هغه هم مسلمان وي او دا داسي عام ازمایش دی چي ددنیا په اکثرو ملازمتونوکي خلګو ته پیښیږي چي د الله ﷻ داحکامو خلاف ورزی ته تیار سی یا دخپلو مشرانو عتاب او سزا وڅکی: دې آیت دې ټولوته دا هدایت وکی چي ایا الله ﷻ ستاسي دحفاظت دپاره کافي نه دی؟ که تاسي خالص دالله ﷻ دپاره دګناهونو څخه دځان ساتلو قصد وکی او دالله ﷻ دحکمونو خلاف دچا حاکم او مشر پرواه ونه کړی نو دالله ﷻ امداد به ستاسي سره وي تر زیات لا زیات دا ملازمت به هم درڅخه ولاړ سي خو الله ﷻ به ستاسي درزق بل انتظام وکي الخ.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۴)

اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ..دمرګ او خوب په وخت کې دروح قبض کيدل او په دواړو کي فرق : دتوفی دلفظ معنی ده اخيستل او قبضه کول: په دې آيت کې الله ﷻ دا ښوولې ده چې دجاندارو روحونه په هر حال او په هروخت کې دالله ﷻ په تصرف کې دي هغه چې کله وغواړي قبض کولی يې سي او بيرته يې اخيستی سي او ددې خدايي تصرف يوه مظاهره خو هر جاندار روزانهويني او محسوس کوي يې چې دخوب په وخت کې دده روح په يو حيثيت سره قبض کيږي بيا چې راکښيني بيرته ورکول سي او آخر يو وخت داسي هم راځي چې بالکل قبض سي بيا بيرته نه ورکول کيږي : په تفسير مظهري کې دي چې دروح قبض کيدو معنی ده دانسان دبدن سره يې تعلق قطع کيدل.کله داظاهرااو باطنا بالکل منقطع سي ددې نوم مرګ دی او کله صرف ظاهرا منقطع سي باطنا باقي وي ددې اثر دادی چې صرف حس او حرکت ارادي کم چې ظاهري علامه دژوندده هغه قطع سي او باطنا دروح تعلق دجسم سره باقي وي.پاته بيان پر راروان مخ وګوری

عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝٤١ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى

عَلَيْهَا	وَمَآ	اَنْتَ	عَلَيْهِمْ	بِوَكِيْلٍ	اَللّٰهُ	يَتَوَفَّى
پرځان خپل	اونه يئ	ته	پر دوی	وکيل (ساتونکی)	الله	راکاږی (قبضوی)

پرځان خپل (چې ضرريئ ګالی) اونه يئ ته پر دوی وکيل (ساتونکی). الله راکاږی (قبضوی)

الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ

الْاَنْفُسَ	حِيْنَ	مَوْتِهَا	وَالَّتِيْ	لَمْ تَمُتْ	فِيْ مَنَامِهَا
نفسونه	په وخت	دمرګ د دوی	او هغه نفس	چې نه وی مړ	په خوب د هغه کښی

نفسونه په وخت دمرګ د دوی او هغه نفس چې نه وی مړ (هغه راکاږی) په خوب د هغه کښی

فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰى

فَيُمْسِكُ	الَّتِيْ	قَضٰى	عَلَيْهَا	الْمَوْتَ	وَيُرْسِلُ	الْاُخْرٰى
پس وساتی	هغه (نفس)	چې حکم کړی	پر هغه	دمرګ	او بيرته راليږی	هغه بل (نفس)

پس وساتی هغه (نفس) چې حکم کړی پر هغه د مرګ او بيرته راليږی (بدن ته) هغه بل (نفس)

اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

اِلٰى	اَجَلٍ	مُّسَمًّى	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوْمٍ
تر	نيټې	په نامه کړی سوی پوری	بيشکه!	په دغه کښی	خامخا ډير دلائل دی	دپاره دهغه قوم

تر نيټې په نامه کړی سوی پوری، بيشکه! په دغه (قبض، امساک) کښی خامخا ډير دلائل دقدرت دی دپاره دهغه قوم

يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝٤٢ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ ؕ قُلْ

يَّتَفَكَّرُوْنَ	اَمِ اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	شُفَعَآءَ	قُلْ
چې فکر کوی	آيا نيولی دی دوی (مشرکانو)	غير له	الله	شفاعتګران	وو وايه (محمده)

چې فکر کوی (او عبرت تری اخلی). آيا نيولی دی دغو (مشرکانو) غير له الله شفاعتګران. وو وايه (ای محمده! دوی ته)

اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ۝٤٣ قُلْ

اَوَلَوْ	كَانُوْا	لَا يَمْلِكُوْنَ	شَيْـًٔا	وَّلَا يَعْقِلُوْنَ	قُلْ
آيا اګر که	وی دوی	چې مالکان نه وی	دهيڅ شی	او نه عقل لری دوی	وو وايه (محمده)

آيا اګر که وی دوی په داسی حال کښی چې مالکان نه وی دهيڅ شی او نه عقل لری دوی. وو وايه (ای محمده! دوی ته)

لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

لِّلّٰهِ	الشَّفَاعَةُ	جَمِيْعًا	لَهٗ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
خاص الله ته	شفاعت دی	ټول	خاص الله ته دی	سلطنت	دآسمانونو	او دمځکی

خاص الله ته (اختيار د) شفاعت دی ټول (او بل هيچا لره دخل نسته) خاص الله ته دی سلطنت د آسمانونو او دمځکی

ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

ثُمَّ	اِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ	وَاِذَا	ذُكِرَ	اللّٰهُ	وَحْدَهُ
بيا	خاص هم ده ته	بيرته بيول کيږئ	او په هغه وخت کښی	چی ياد کړی سی	الله	يوازی (بی له بتانو)

بيا خاص هم ده ته بيرته بيول کيږئ. او په هغه وخت کښی چی ياد کړ سی الله يوازی (بی له بتانو)

اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا

اشْمَاَزَّتْ	قُلُوْبُ	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِالْاٰخِرَةِ	وَاِذَا
نو نفرت کوی	زړونه	دهغو کسانو	چی ايمان نه راوړی	په آخرت باندی	او په هغه وخت کښی

نو منقبض شی وترهيږی زړونه د هغو کسانو چی ايمان نه راوړی په آخرت باندی او په هغه وخت کښی

ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾

ذُكِرَ	الَّذِيْنَ	مِنْ دُوْنِهٖۤ	اِذَا هُمْ	يَسْتَبْشِرُوْنَ
چی ياد کړل سی	هغه (بتان)	بی له دغه (الله)	ناڅاپه دوی	خوشحاليږی

چی ياد کړل سی هغه (بتان) بی له دغه (الله) ناڅاپه دوی خوشحاليږی (مخونه يئ راښه او تنديان يئ خلاص سی له خوښی)

قُلِ اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ

قُلِ	اللّٰهُمَّ	فَاطِرَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	عٰلِمَ	الْغَيْبِ
ووايه (محمده)	ای الله	پيداکوونکی	دآسمانونو	او دمځکی	ای عالمه، خبرداره	په پټو

ووايه (ای محمده!) ای الله پيدا کوونکی د آسمانونو او د مځکی ای عالمه خبرداره په پټو

وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا

وَالشَّهَادَةِ	اَنْتَ	تَحْكُمُ	بَيْنَ	عِبَادِكَ	فِيْ مَا كَانُوْا
او په ښکاره ؤ	ته	حکم کوی	په مينځ	دبندګانو خپلو کښی	په هغو چی ؤ دوی

او په ښکاره ؤ ته حکم (فيصله) کوی (په قيامت کښی) په مينځ د بندګانو خپلو کښی په هغو چی ؤ دوی

لَـهٗ مُلْـكُ السَّـمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ثُمَّ اِلَيْهِ. دتير مخ پاته بيان دلته وګوری:
چي په دې سره هغه ساه اخلي اوژوندی وي او صورت دهغه داوي چي دانسان روح دعالم مثال دمطالعې طرف ته متوجه سي ددې عالم څخه غافله او معطله سي چي انسان مکمل ارام پيدا کي او کله دا باطني تعلق هم ختم سي چي ددې په وجه دجسم حيات بالکل ختم سي. پورته چي کم فرق د روح قبض کولو بيان سو دحضرت علی رضی الله عنه ديو قول څخه هم ددې تائيد کيږي هغه فرمايي چي دخوب په وخت کي دانسان روح دده دبدن څخه وزي مګريوه پلوشه دروح په بدن کي وي چي په هغه سره دی ژوندی وي او ددې پلوشې په رابطه هغه خوبويني بيا داخوب که روح دعالم مثال طرف ته دمتوجه کيدو په حالت کي ويني نو په هغه کي شيطاني تصرفات وي او هغه رښتيني خوب نه وي او فرمايي چي دخوب په حالت کي چي کم انساني روح دده دبدن څخه و وزي نو دراوينښيدو په وخت کي دسترګو تر رپ هم ژر راځي او انسان بيا رابيداره کيږي.
(معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۷)

فِيۡهِ يَخۡتَلِفُوۡنَ ۞۴۶ وَلَوۡ اَنَّ لِلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مَا

فِيۡهِ	يَخۡتَلِفُوۡنَ	وَلَوۡ	اَنَّ	لِلَّذِيۡنَ	ظَلَمُوۡا	مَا
چي پکښې	اختلاف به يئ کوو	او که چيری	بيشکه !	(مملوک سی) دهغو کسانو	چی ظلم يئ کړی دی	هغه چی

چي پکښې اختلاف به يئ کوو. او که چيری بيشکه! مملوک سی دهغو کسانو چی ظلم يئ کړی دی هغه چی

فِي الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا وَّمِثۡلَهٗ مَعَهٗ لَافۡتَدَوۡا بِهٖ مِنۡ سُوۡٓءِ

فِي الۡاَرۡضِ	جَمِيۡعًا	وَّمِثۡلَهٗ	مَعَهٗ	لَافۡتَدَوۡا	بِهٖ	مِنۡ سُوۡٓءِ
په مځکه کښې دی	ټول	او په مثل (هم دهغه) نور	ورسره سی	نو خامخا فديه به ورکړی دوی	په هغه سره	له بد رنګه

په مځکه کښې دی ټول او په مثل (هم دهغه) نور ورسره سی نو خامخا فديه به ورکړی دوی په هغه سره له بد رنګه

الۡعَذَابِ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِؕ وَبَدَا لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مَا

الۡعَذَابِ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	وَبَدَا لَهُمۡ	مِّنَ اللّٰهِ	مَا
عذابه	په ورځ	دقيامت کښې	او ښکاره به سی دوی ته	له جانبه دالله	هغه (عذاب)

عذابه په ورځ دقيامت کښې، او ښکاره به سی دوی ته له جانبه دالله هغه (عذاب)

لَمۡ يَكُوۡنُوۡا يَحۡتَسِبُوۡنَ ۞۴۷ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوۡا

لَمۡ يَكُوۡنُوۡا	يَحۡتَسِبُوۡنَ	وَبَدَا لَهُمۡ	سَيِّاٰتُ	مَا كَسَبُوۡا
چی نهٔ دوی	چی ګمان به يئ کوو (دهغه)	او ښکاره به سی دوی ته	(جزاد) بدی	دهغو اعمالو چی کړی يئ وو دوی

چی نهٔ دوی چی ګمان به يئ کوو (دهغه) او ښکاره به سی دوی ته (جزاد) بدی دهغو اعمالو چی کړی يئ وو دوی

وَحَاقَ بِهِمۡ مَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۞۴۸

وَحَاقَ	بِهِمۡ	مَّا كَانُوۡا	بِهٖ	يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ
او چاپيره نازله به سی	په دوی (جزاد)	هغه شی چی ؤ دوی	چی په هغه پوری به يئ	مسخری کولی

او چاپيره نازله به سی په دوی (جزاد) هغه شی چی ؤ دوی چی په هغه پوری به يئ مسخری کولی

فَاِذَا مَسَّ الۡاِنۡسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ اِذَا خَوَّلۡنٰهُ نِعۡمَةً

فَاِذَا	مَسَّ	الۡاِنۡسَانَ	ضُرٌّ	دَعَانَا	ثُمَّ	اِذَا	خَوَّلۡنٰهُ	نِعۡمَةً
پس کله چی	ورسيږی (جنس د)	انسان ته	څه قسم ضرر	نو بولی موږ	بيا	کله چی	ورکړو موږ ده ته	کوم نعمت

پس کله چی ورسيږی (جنس د) انسان ته څه قسم ضرر، نو بولی موږ (دفع دهغه ته) بيا کله چی ورکړو موږ ده ته کوم نعمت

وَلَوۡ اَنَّ لِلَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مَا فِي الۡاَرۡضِ. دقيامت د ورځې دعملي فيصلې په وخت کې دکفارو حالت:

په دغه آيت کې دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چې هغه کسان چې په دې دنيا کې کفر او شرک کړی وو دوی چې کله دقيامت دورځې سختی او عذابونه ويني نو که دټولې دنيا شيان ددوی سره وای او دهغه په اندازه نور هم ورسره وای او دوی په هغو باندې دقيامت دورځې دسختی او عذابونو څخه په خلاصيدلای نو دغه شيان به يې بې دريغه ورکړي وای او ځان به يې خلاص کړی وای ليکن داددوی څخه نه قبليږي بلکې بر عکس به دخدای ﷻ دطرف څخه دوی ته هغه څه راښکاره سي کم چي ددوی ګمان هم نه وو ځکه چي اول خو دآخرت څخه منکر وو بيا په دې کې هم ددې مدعيان وه چې هلته به هم دوی ته عزت او دولت ورکول سي او دغه وخت به دوی ته ټول خپل بد عملونه ورښکاره سي او دکم عذاب سره چې دوی په دنيا کې مسخرې کولې هغه به دوی راګير کې او حقيقت به نن په سترګو ويني چي يقينا داورځ حق ورځ ده.
(معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۹)

مِّنَّا ۚ قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ؕ بَلْ هِيَ

مِّنَّا	قَالَ	اِنَّمَآ	اُوْتِيْتُهٗ	عَلٰى	عِلْمٍ	بَلْ هِيَ
له (جانبه) خپله	وايئ	بيشكه! هم دا خبره ده	چې راكړى سوى دى ماته دغه (نعمت)	په سبب	د پوه	بلكه دغه

له (جانبه) خپله وايئ بيشكه! هم دا خبره ده چې راكړى سوى دى ماته دغه (نعمت) په سبب د پوه ، بلكه دغه اعطاء د نعمت

فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۹﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ

فِتْنَةٌ	وَّلٰكِنَّ	اَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	قَدْ	قَالَهَا	الَّذِيْنَ
فتنه ده	او ليكن	اكثر د دوى	نه پوهيږى	په تحقيق	ويلى ده دغه خبره	هغو كسانو

فتنه ازموينه ده وليكن اكثر د دوى نه پوهيږى (چې دغه استدراج دى) . په تحقيق ويلى ده دغه خبره هغو كسانو

مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۰﴾

مِنْ قَبْلِهِمْ	فَمَآ	اَغْنٰى	عَنْهُمْ	مَّا كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ
پخوا له دوى څخه	پس هيڅ قدر	دفع د عذاب ونه كړه	له دوى ځينى	هغه چې ؤ دوى	چې كسب به يئ كوو

پخوا له دوى څخه (قارون، او قوم د ده) پس هيڅ قدر دفع د عذاب ونه كړه له دوى ځينى هغه چې ؤ دوى چې كسب به يئ كوو

فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ؕ وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ

فَاَصَابَهُمْ	سَيِّاٰتُ	مَا كَسَبُوْا	وَالَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	مِنْ
وروورسيد له هغوى ته	(جزاء) د اعمالو	چې كول به دوى	او هغه كسان	چې ظلم يئ كړى دى	له

پى ورسيد له هغو (پخوانيو) ته (جزا د هغه بدو) اعمالو چې كول به دوى او هغه كسان چې ظلم يئ كړى دى له

هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَمَا هُمْ

هٰٓؤُلَآءِ	سَيُصِيْبُهُمْ	سَيِّاٰتُ	مَا كَسَبُوْا	وَمَا هُمْ
له دغه قوم څخه	ژر ده چې وبه رسيږى دوى ته	(جزا د) بديو	دهغو اعمالو چې كړى دى دوى	او نه دى دوى

دغه (قوم ستا اى محمده) ژر ده چې وبه رسيږى دوى ته (جزا د) بديو دهغو اعمالو چې كړى دى دوى او نه دى دوى

بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

بِمُعْجِزِيْنَ	اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	يَبْسُطُ	الرِّزْقَ
عاجز كوونكى	آيا نه پوهيږى دوى	چې بيشكه!	الله	پراخوى	رزق، روزى

عاجز كوونكى . آيا نه پوهيږى دوى په دى چې بيشكه! الله پراخوى رزق ، روزى

قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ؕ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ. مشركينو ته چې به څه تكليف ورسيدى خپل بتان به يې هير سول الله ﷻ به يې بلى: په دغه ايت كې الله ﷻ فرمايي چې كله مشرک او كافر انسان ته څه تكليف رسيږي نو په كمو بتانو او باطلو خدايانو چې دوى نازيدل هغه ټول پريږدي صرف موږ رابولي دكم څخه چې يې مخكې نفرت وو بياچې كله موږ ده ته دخپل طرف څخه څه نعمت ورکړو نو پر دغه توحيد دكم حقوالى چې په خپله ددوى داقرار څخه ثابت سوى ووقايم نه پاته كيږي بلكې خپلې پخوانى دشرک دطريقې طرف ته بيرته وگرځې دغير الله په عبادت اخته سي: مخكې بيا الله ﷻ ددوى دغه قول: انّما اوتيته ردوي چې دغه نعمت ددوى دتدبير نتيجه نه ده بلكې دغه نعمت دخداى ﷻ وركول سوى دى او دهغه دطرف څخه دانسان يو ازمايش دى چې الله ﷻ وگوري چې په دې سره دى موږ هيروي كفر كوي او كه ياد يې ساتي شكر اداء كوي او په ځينې نعمتونو كې يې داسبابو او كسب واسطه هم ايښې ده الخ.
(معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۹)

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

لِمَنْ يَّشَآءُ	وَيَقْدِرُ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ
هر هغه چاته چي اراده وفرمائی	او تنګوی (چي اراده وفرمائی)	بيشکه!	په دغه کښي	خامخا ډير دلائل دي

هر هغه چاته چي اراده فرمائی او تنګوی (په اندازه کوی يئ) بيشکه! په دغه کښي خامخا ډير دلائل (دقدرت) دی

٥ ع ١١ ٢

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى

لِّقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ	قُلْ	يٰعِبَادِيَ	الَّذِيْنَ	اَسْرَفُوْا	عَلٰٓى
دپاره (دهغه) قوم	چي ايمان راوړی	ووايه (محمده)	ای بندګانو زما	هغو کسانو چي	اسراف يئ کړی دی	پر

دپاره (دهغه) قوم چي ايمان راوړی (په الله) . ووايه (محمده) ای بندګانو زما هغو کسانو چي اسراف يئ کړی دی پر

اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ

اَنْفُسِهِمْ	لَا تَقْنَطُوْا	مِنْ رَّحْمَةِ	اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَغْفِرُ
نفسونو خپلو	مه نااميده کيږئ	له رحمته	دالله	بيشکه!	الله	مغفرت کوی ، بخښي

نفسونو خپلو مه نااميده کيږئ له رحمته د الله (ځکه چي) بيشکه! الله مغفرت کوی بخښي

الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾

الذُّنُوْبَ	جَمِيْعًا	اِنَّهٗ	هُوَ الْغَفُوْرُ	الرَّحِيْمُ
ګناهونه	ټول	بيشکه! چي الله	هم دی دی ښه بخښونکی	ډير رحم والا

ګناهونه ټول (که ډير هم وی بی له شرکه) ، بيشکه! چي الله هم دی دی ښه بخښونکی (دخطياتو) ډير رحم والا .

وَاَنِيْبُوْٓا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ

وَاَنِيْبُوْٓا	اِلٰى رَبِّكُمْ	وَاَسْلِمُوْا	لَهٗ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ
او بيرته وګرځئ تاسی	رب خپل ته	او غاړه کښيږدئ	ده ته	مخکی له هغه	چي

او بيرته وګرځئ تاسی رب خپل ته (له شرکه او عصيانه) او غاړه کښيږدئ ده ته پخوا له هغه چي

يَّأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاتَّبِعُوْٓا

يَّأْتِيَكُمُ	الْعَذَابُ	ثُمَّ	لَا تُنْصَرُوْنَ	وَاتَّبِعُوْٓا
راسی تاسی ته	عذاب	بيا به	مرسته درسره نسی کولی	او متابعت وکړئ

راسی تاسی ته عذاب بيا به مدد (مرسته) درسره نسی کولی (په دفع د عذاب کښی). او متابعت وکړئ

قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ.

دالله ﷻ رحمت ډير فراخه دی نااميده کيدل نه دي پکار: حضرت سعيد ابن جبير رضي الله عنه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کوي چي ځيني خلګ داسي وه چي ناحقه قتلونه او نور داسي کارونه او زناګاني يي کړي وې دوی راغله نبي کريم ﷺ ته يي عرض وکړی چي دکم دين طرف ته تاسي دعوت ورکوی داخو ډير ښه دين دی ليکن فکر دادی چي کله موږ دومره لوی لوی ګناهونه کړي دي اوس که مسلمانان هم سو نو آيا زموږ توبه به قبوله سي؟ پر دې باندي الله ﷻ داذکر سوی آيت نازل کی په دې وجه دآيت دمضمون خلاصه داسوه چي دمرګ څخه مخکي مخکي دهري لويي څخه لويه ګناه تر دي چي دکفر او شرک څخه هم توبه وکاږي نوقبليږي او په رښتيني توبه سره ټول ګناهونه معاف کيږي په دې وجه چاته دالله ﷻ درحمت څخه نااميده کيدل نه دي پکار.حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چي داآيت دګناهګارانودپاره دټولو اياتونو څخه زيات اميد زياتوونکی آيت دی.

(معارف القرآن ج ٨ پ ٢۴ ص ١۴)

أَحْسَنَ مَآ أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَكُمُ

أَحْسَنَ	مَآ أُنْزِلَ	إِلَيْكُمْ	مِّنْ رَّبِّكُمْ	مِّنْ قَبْلِ	أَنْ يَّأْتِيَكُمُ
د ډیر ښه حکم	هغه چې نازل کړی سوی دی	تاسی ته	له (جانبه د) رب ستاسی	دمخه دهغه چې	راسی تاسی ته

د ډیر غوره حکم دهغه (قرآن) چې نازل کړی سوی دی تاسی ته له (جانبه د) رب ستاسی پخوا له هغه چې راسی تاسی ته

الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿٥٥﴾ أَنْ تَقُوْلَ

الْعَذَابُ	بَغْتَةً	وَّأَنْتُمْ	لَا تَشْعُرُوْنَ	أَنْ تَقُوْلَ
عذاب	یو ناڅاپه	حال دا چې تاسی	به نه پوهیږئ	چې وبه وایئ

عذاب یو ناڅاپه حال دا چې تاسی به نه پوهیږئ (چې له کوم لوری راځی) . چې وبه وایئ

نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَإِنْ

نَفْسٌ	يّٰحَسْرَتٰى	عَلٰى	مَا فَرَّطْتُّ	فِيْ جَنْۢبِ	اللّٰهِ	وَإِنْ
یو نفس	ای ارمان او ندامت می دی	پر	هغه چې کوتاهی می وکړه	په طرف	دالله کښی	او بیشکه!

یو نفس ای ارمان او ندامت می دی پر هغه چې تقصیر می کړی دی په طرف (په حق د طاعت) دالله کښی او بیشکه!

كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ أَوْ تَقُوْلَ لَوْ أَنَّ

كُنْتُ	لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ	أَوْ تَقُوْلَ	لَوْ	أَنَّ
چی وم زه	خامخا له مسخرو کوونکو څخه	یا چی ووایئ	که چیری داسی وی	چی بیشکه!

چی وم زه خامخا له مسخرو کوونکیو (په مؤمن به) څخه. یا (پخوا له دی څخه) چی ووایئ که چیری داسی وی چی بیشکه!

اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٥٧﴾ أَوْ تَقُوْلَ

اللّٰهَ	هَدٰىنِيْ	لَكُنْتُ	مِنَ الْمُتَّقِيْنَ	أَوْ تَقُوْلَ
الله	سمه لاره ښوولی وی ماته	نو خامخا وم زه	له متقیانو	یا چی ووایئ

الله سمه لاره ښوولی وی ماته نو خامخا وم به زه له متقیانو پرهیزګارانو (له شرکه او له معاصی څخه) یا چی ووایئ (نفس)

حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِيْ كَرَّةً فَأَكُوْنَ مِنَ

حِيْنَ	تَرَى	الْعَذَابَ	لَوْ أَنَّ	لِيْ كَرَّةً	فَأَكُوْنَ	مِنَ
په هغه وخت کښی	چی ووینی	عذاب	کاشکی وی	ماته بیا بیرته ورتګ	پس وم به زه هلته	له

په هغه وخت کښی چی ووینی عذاب کاشکی وی ماته بیا بیرته ورتګ (دنیا ته) پس وم به زه هلته له

أَحْسَنَ مَآ أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ.. ټوله قران کریم احسن دی: قرآن کریم ته: احسن ما انزل: په دې اعتبار سره هم ویل کیږي چې څومره کتابونه، تورات، انجیل، او زبور دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی دی په دغو ټولو کي احسن او اکمل قرآن دی: د: ان تقول نفس یا حسرتی: څخه بیا تر: من المحسنین: پوري په دریو ایاتونو کي دهغه مضمون تشریح او تاکید دی کم چي ددې څخه مخکي په دریو ایاتونو کي بیان سوی دی چي یو چا دلوی څخه لوی مجرم کافر ته هم دالله ﷻ درحمت څخه مایوسه کیدل نه دي پکار که دی توبه وکاږي نو الله ﷻ به دده ټول تیر ګناهونه معاف کړي مګر دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چي دتوبې وخت دمرګ څخه مخکي مخکي دی دمرګ څخه وروسته دقیامت په ورځ که څوک توبه کاږي یا په خپلو کړو پښیماني کوي نو ددې به هیڅ فایده نه وي: لکه چي ځیني کافران او فاجران به دقیامت په ورځ مختلفي ارزوګاني کوي او افسوس کوي چي ما دالله ﷻ په اطاعت کي کوتاهي ولي کړې وه؟ . پاته بیان پر راروان مخ وګوری....

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا

الْمُحْسِنِيْنَ	بَلٰى	قَدْ	جَآءَتْكَ	اٰيٰتِيْ	فَكَذَّبْتَ	بِهَا
نیکو کارانو	هو! داسې ده	چې په تحقیق	راغلې ؤ تاته	دلائل (دقرآن) زما	پس تکذیب کړې ؤ تا	په هغو سره

نیکو کارانو . هو! داسې ده چې په تحقیق راغلې ؤ تاته دلائل (قرآن) زما پس تکذیب کړې ؤ تا په هغو سره

وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾ وَيَوْمَ

وَاسْتَكْبَرْتَ	وَكُنْتَ	مِنَ	الْكٰفِرِيْنَ	وَيَوْمَ
او تکبر دې کړې وو	او وې ته	له	کافرانو	او په ورځ

او تکبر دې کړې وو او وې ته له کافرانو (نامنونکيو څخه). او په ورځ

الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ

الْقِيٰمَةِ	تَرَى	الَّذِيْنَ	كَذَبُوْا	عَلَى اللّٰهِ	وُجُوْهُهُمْ
دقیامت کښې	به ووینې ته	هغه کسان	چې دروغ يې تړلې دي	پر الله پورې	مخونه د دوی به

دقیامت کښې به ووینې ته هغه کسان چې دروغ يې تړلې دي پر الله پورې (په نسبت د شرک او نورو) مخونه د دوی به

مُّسْوَدَّةٌ ۭ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾

مُّسْوَدَّةٌ	اَلَيْسَ	فِيْ جَهَنَّمَ	مَثْوًى	لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ
تور کړې سوي وي	آيا نسته	په دوزخ کښې	ځای	دپاره د کبرجنو

تور کړې سوي وي. آيا نسته په دوزخ کښې ځای دپاره د کبر جنو (کافرانو؟ يعنې سته!)

وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ

وَيُنَجِّي	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	بِمَفَازَتِهِمْ
او نجات به ورکړي	الله	هغه کسانو ته	چې ځان يې ساتلی وی	په سبب د خلاصی پیدا کولو د دوی

او نجات به ور کړي الله (له دوزخه) هغه کسانو ته چې ځان يې ساتلی وی (له شرکه) په سبب د خلاصی موندلو د دوی

لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾ اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ

لَا يَمَسُّهُمُ	السُّوْٓءُ	وَلَا هُمْ	يَحْزَنُوْنَ	اَللّٰهُ	خَالِقُ	كُلِّ شَيْءٍ
نه به رسيږي دوی ته	سختي	او نه به دوی	غمجن کيږي	الله	پیدا کوونکی	د هر شي دی

نه به رسيږي دوی ته سختي او نه به دوی غمجن کيږي. الله پیدا کوونکی د هر شي دی (چې موجود وی په دنیا کښې) .

بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا.. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری :
ځيني کافران به خپل الزام پر تقدير وروغورزوي او ځان محفوظ کول به غواړي هغه به وايي چې که الله ﷻ ماته هدايت کړی وای نوزه به هم په متقيانوکي داخل سوی وای مګر خدای ﷻ هدايت راته ونه کړی نوزه څه وکم ځيني به دا ارزو کوي چې کاشکي که زه دوباره دنيا ته وليږل سم نو زه به پوخ رښتينی مسلمان جوړ سم او دالله ﷻ داحکامو پوره اطاعت به کوم مګر ددې وخت دا حسرتونه او ارزوګاني به په هيڅ کار ورنه سي : دادرې قسمه ارزوګاني کيدای سي چې دمختلفو خلګو وي او داهم ممکنه ده چې دادرې واړه ارزوګانې يو په بل پسې دکفارو ديو جماعت دطرف څخه وي ځکه چې آخري خبره په کمه کي چې دوباره دنيا ته دراتلو ارزو ده دهغه سره په ايت کي ذکر دي چي هغه به دعذاب د ليدو څخه وروسته وي. ددې څخه په ظاهره دا معلوميږي چي اولنی دواړي خبري دعذاب ليدو څخه مخکي دي چي دقيامت په ورځ به داول څخه دخپل عمل کوتاهي يادوي الخ.
(معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۱۵)

وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ وَّكِيۡلٌ ﴿۶۲﴾ لَهٗ مَقَالِيۡدُ السَّمٰوٰتِ

وَّهُوَ	عَلٰى	كُلِّ شَىۡءٍ	وَّكِيۡلٌ	لَهٗ	مَقَالِيۡدُ	السَّمٰوٰتِ
او دغه (الله)	پر	هر شي	وکيل (ساتونکی) دی	خاص هم ده لره دی	کليگانی د (خزانو)	دآسمانونو

او دغه (الله) پر هر شي وکيل (ساتونکی) دی ، خاص هم دغه (الله) لره دی کليگانی د (خزانو) دآسمانونو

وَالۡاَرۡضِ‌ؕ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓـئِكَ هُمُ

وَالۡاَرۡضِ	وَالَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	اُولٰٓـئِكَ	هُمُ
او دمځکی	او هغه کسان	چی کافران سوی دی	په آيتونو	دالله	دغه کسان	هم دوی

او دمځکی ، او هغه کسان چی کافران سوی دی په آيتونو (دلائلو دقدرت) دالله دغه کسان هم دوی

الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۶۳﴾ قُلۡ اَفَغَيۡرَ اللّٰهِ تَاۡمُرُوۡٓنِّىۡۤ اَعۡبُدُ

الۡخٰسِرُوۡنَ	قُلۡ	اَفَغَيۡرَ	اللّٰهِ	تَاۡمُرُوۡٓنِّىۡۤ	اَعۡبُدُ
زيانکاران دی	ووايه (محمده)	آيا پس بی له	الله	امر کوئ تاسی ماته	چی عبادت يئ وکړم

زيانکاران دی (چی ځايی ئی دوزخ دی). ووايه (ای محمده!) آيا پس بی له الله امر کوئ تاسی ماته چی عبادت يئ وکړم

اَيُّهَا الۡجٰهِلُوۡنَ ﴿۶۴﴾ وَلَقَدۡ اُوۡحِىَ اِلَيۡكَ وَاِلَى الَّذِيۡنَ

اَيُّهَا الۡجٰهِلُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اُوۡحِىَ	اِلَيۡكَ	وَاِلَى الَّذِيۡنَ
ای جاهلانو	او خامخا په تحقيق	وحی کړی سوی ده	تاته	او (کړی سوی ده) هغو کسانو ته

ای جاهلانو ، ناپوهانو!. او خامخا په تحقيق وحی کړی سوی ده تا ته (ا و وحی کړی سوی ده) هغو کسانو ته

مِنۡ قَبۡلِكَ‌ۚ لَئِنۡ اَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوۡنَنَّ

مِنۡ قَبۡلِكَ	لَئِنۡ	اَشۡرَكۡتَ	لَيَحۡبَطَنَّ	عَمَلُكَ	وَلَتَكُوۡنَنَّ
چی مخکی ستا څخه ؤ	که	شرک پيدا کړ تا	نو خامخا خراب به سی هرومرو	عمل ستا	او خامخا سی به ته هرومرو

چی مخکی له تا څخه ؤ (قسم دی) که شرک پيدا کړ تا نو خامخا خراب به سی هرومرو عمل ستا او خامخا سی به ته هرومرو

مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ اللّٰهَ فَاعۡبُدۡ وَكُنۡ مِّنَ الشّٰكِرِيۡنَ ﴿۶۶﴾

مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ	بَلِ	اللّٰهَ	فَاعۡبُدۡ	وَكُنۡ	مِّنَ الشّٰكِرِيۡنَ
له زيانکارانو	بلکه (يوازی)	دالله	پس عبادت کوه	او اوسه	له شکر کوونکيو (په نعمت)

له زيانکارانو (نوځان وساته له شرکه) بلکه (يوازی) د الله پس عبادت کوه او اوسه له شکر کوونکيو (په نعمت)

لَـهٗ مَقَالِيۡـدُ السَّـمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ‌ؕ وَالَّذِيۡنَ..دخزانو کليـاني دچاسـره دي ؟ مقاليـد جمـع دمقـلاد ،يامقليـد ده کـم چـي دژرنـدي کيلـی تـه ويـل کيږي او ځيني حضرات بيا وايـي چي پـه اصـل کي دا لفـظ دفارسـي ژبـي څخـه معرّب سوی دی په فارسي کـي کيلـي تـه کليـد وايـي معرب يي کی او اقليد يي ورڅخـه جوړ کـی بيـا يـي ددي جمـع مقاليـد راوړه. روح المعـاني : کيليـاني چـي دچـا پـه لاس کـي وي دانبنـانه ده دمالـک او متصرف کيدو پـه دې وجه مـراد دآيـت دادی چـي پـه اسـمانونواو مځکـو کـي دنعمتونوکمي خزانـي چي پټـي دي دهغـه ټولـو کيليـاني دالله ﷻ پـه لاس کـي دي هغـه يـي محـافظ دی او هغه يي متصرف دی چي کله وغواړي چاتـه چي وغـواړي څـومره چـي وغـواړي ورکـوي يـي او چاتـه چي وغـواړي نـه يي ورکـوي: او پـه ځينـو روايتونوداحـاديثو کـي دريمه کلمه يعني: سبحان الله والحمـد لله ولااله الا الله والله اکبـر ولاحـول ولاقـوة الا بـالله العلـی العظـيم. تـه يـي مقاليـد السـموات والارض ويلـي دي چـي داڅـوک سـهار او مابنام وايي هغه ته الله ﷻ داسـمانونواو مځکـي دخزانـو نعمتونـه ورکـوي. (معارف القرآن ج۸پ۲۴ ص ۱۷)

ع ۲

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا

جَمِيْعًا	وَالْاَرْضُ	قَدْرِهٖ	حَقَّ	اللّٰهَ	وَمَا قَدَرُوا
ټوله	او مځکه	د تعظيم د ده	حق	د الله	او تعظيم نه دی کړی دوی

او تعظيم نه دی کړی دغو (مشرکانو) د الله حق د تعظيم د ده ، او مځکه ټوله

قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ ؕ

بِيَمِيْنِهٖ	مَطْوِيّٰتٌ	وَالسَّمٰوٰتُ	الْقِيٰمَةِ	يَوْمَ	قَبْضَتُهٗ
په راسته لاس د ده کښې	نغښتلی سوی دی	او آسمانونه	د قيامت کښې	په ورځ	په قبضه د ده کښې ده

په قبضه تصرف د ده کښې ده په ورځ د قيامت کښې او آسمانونه نغښتلی سوی دی په يمين د ده کښې

سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ

فِي الصُّوْرِ	وَنُفِخَ	يُشْرِكُوْنَ	عَمَّا	وَتَعٰلٰى	سُبْحٰنَهٗ
په شيپيلی کښې	او پوکل به وکړل سی	چې دوی يې شريکوی	له هغو شيانو	او لوړ لوی دی	پاکی د ده د ه ته

پاکی د ه د ه ته او لوړ لوی دی له هغو شيانو چې دوی يې شريکوی (له الله سره) . او پوکل به وکړل سی په شيپيلی کښې

فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ

مَنْ	اِلَّا	فِي الْاَرْضِ	وَمَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	مَنْ	فَصَعِقَ
هغه څوک	مګر	په مځکه کښې دی	او هر هغه چې	په آسمانونو کښې دی	هر هغه چې	پس بيهوشه مړه به سی

پس بيخوده مړه به سی هر هغه چې په آسمانونو کښې دی او هر هغه چې په مځکه کښې دی مګر هغه څوک

شَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ

فَاِذَا هُمْ	اُخْرٰى	فِيْهِ	نُفِخَ	ثُمَّ	اللّٰهُ	شَآءَ
پس ناڅاپه به دغه خلک	بل واری	په هغه کښې	و پوکل سی	بيا به	الله	چې اراده وفرمائی

چې اراده وفرمائی الله (د نه وژلو د هغه) بيا به و پوکل سی په هغه (شيپيلی) کښې بل ځلی پس ناڅاپه به دغه خلک

قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ

وَوُضِعَ	رَبِّهَا	بِنُوْرِ	الْاَرْضُ	وَاَشْرَقَتِ	يَّنْظُرُوْنَ	قِيَامٌ
او کښيښنودل به سی	د رب د دغی (مځکی)	په نور	مځکه	او روښانه به سی	کتونکی	ولاړی وی

ولاړ وی (منتظروی) کتونکی . او روښانه به سی مځکه په نور د رب د دغی (مځکی) او کښيښنودل به سی

وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ. د قيامت په ورځ به مځکه د الله ﷻ په موټ کې وي: د قيامت په ورځ د مځکې د الله ﷻ په موټ کې کېدل او د آسمانونو رانغښتل او د هغه په راسته لاس کې کېدل د اسلافو متقدمينو په نزد په خپلو حقيقي معانيو کې دي مګر مضمون د آيت د متشابهاتو څخه دی چې حقيقت يې بغير د خدای ﷻ څخه چا ته معلوم نه دی: عام و خلګو ته د دې د حقيقت معلومولو کوشش کول هم منع دي بس پر دې ايمان راوړل دي چې د دې څخه د الله ﷻ څه مراد وي هغه حق او صحيح دی چونکې د آيت د ظاهري الفاظو څخه د الله ﷻ د پاره موټی او راسته لاس کېدل معلوميږي کوم چې جسماني اعضاء او جوارح دي او الله ﷻ د جسم او جسمانيت څخه پاک دی د ې طرف ته يې د آيت په خاتمه کې اشاره وکړه چې د االفاظ په خپلو اعضاوو باندې مه قياس کوی الله ﷻ د دې څخه پاک دی او متاخرينو علماوو دا آيت يو تمثيل او مجاز مقرر کړی دی چې دا کنايه ده د مکمل قدرت او مکملي قبضې څخه الخ. (معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۱۸)

الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ

الْكِتٰبُ	وَجِايْٓءَ	بِالنَّبِيّٖنَ	وَالشُّهَدَآءِ	وَقُضِيَ
کتاب	او راتله به وکړل سی	په انبیاؤ	او په شهداؤ سره	او حکم به وکړسی

کتاب (عمل نامه دپاره دحساب) او راتله به وکړل سی په انبیاؤ (محشر ته) او په شهداؤ سره او حکم به وکړسی

بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۞٦٩ وَوُفِّيَتْ كُلُّ

بَيْنَهُمْ	بِالْحَقِّ	وَهُمْ	لَا يُظْلَمُوْنَ	وَوُفِّيَتْ	كُلُّ
په مينځ د دوی کښې	په حق سره	او پر دوی به	ظلم ونه کړسی	او پوره به ورکړه سی	هر

په مينځ د دوی کښې په حق عدل سره او پر دوی به ظلم ونه کړسی (هيڅ قدر) . او پوره به ورکړه سی هر

نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۞٧٠

نَفْسٍ	مَّا عَمِلَتْ	وَهُوَ	اَعْلَمُ	بِمَا	يَفْعَلُوْنَ
نفس لره	(جزا) د هغه عمل چي کړی يئ ؤ (ده)	او حال دا چي الله	ښه عالم دی	پر هغو اعمالو	چي دوی يئ کوی

نفس لره (جزا د هغه) عمل (چي کړی) يئ ؤ (ده) او حال دا چي الله ښه عالم دی پر هغو اعمالو چي دوی يئ کوی.

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى

وَسِيْقَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِلٰى	جَهَنَّمَ	زُمَرًا	حَتّٰٓى
او شړلی راکښلی کيږی	هغه کسان	چي کافران سوی دی	طرف	د دوزخ ته	ډلی ډلی	تر هغه پوری

او شړلی راکښلی کيږی (په شدت سره) هغه کسان چي کافران سوی دی طرف د دوزخ ته ډلی ډلی تر هغه پوری کله

اِذَا جَآءُوْهَا فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ

اِذَا جَآءُوْهَا	فُتِحَتْ	اَبْوَابُهَا	وَقَالَ	لَهُمْ	خَزَنَتُهَآ
کله چي راسی دوی دوزخ ته	حال دا چي خلاصي به سی	دروازی د دغه	او وبه وايئ	دوی ته	محافظان د دغه (دوزخ)

چي راسی دوی دزوخ ته حال دا چي وبه پرانيستلی سی دروازی د دغه (دوزخ)، او وبه وايئ دوی ته متصرفان د دغه (دوزخ)

اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ

اَلَمْ يَاْتِكُمْ	رُسُلٌ	مِّنْكُمْ	يَتْلُوْنَ	عَلَيْكُمْ	اٰيٰتِ
آيا نه ؤ راغلی تاسی ته	رسولان	له تاسی څخه	چي لوستل به دوی	پر تاسی	آيتونه (دقرآن)

آيا نه ؤ راغلی تاسی ته رسولان له تاسی څخه ، چي لوستل به دغو (رسولانو ستاسی) پر تاسی آيتونه (دقرآن)

وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ.. په ميدان دحشر کي به دحساب او کتاب په وخت کي ټول انبياء موجود وي: په دغه ايت کي د الله ﷻ ارشاد مبارک دی چي دقيامت په ورځ کله چي حضرت اسرافيل عليه السلام په شپيلی کي پوه کړي او مخلوقات دقبرونو څخه ژوندي راووزي او دحشرگاه پر ميدان جمع سي دحساب او کتاب دپاره نو په دغه وخت کي به انبياء عليهم السلام هم موجود وي او نورټول شاهدان به هم حاضر وي په دې شاهدانو کي به په خپله انبياء هم وي لکه چي په قرآن کريم کي الله ﷻ فرمايي: جئنا من كلّ امة بشهيد. او ملايکي به هم په شاهدانو کي وي لکه چي په قرآن کريم دي: معها سآئق وشهيد. په دې کي د سآئق او شهيد څخه مراد ملايکي کيدل په تفسير درمنثور کي په سورت ق کي ذکر دي او په دې شاهدانو کي به امت محمدی هم وي لکه چي په قرآن کريم کي چي دي: وتكونوا شهدآء على الناس او په دې شاهدانو کي به په خپله د انسان اعضاء او جوارح هم وي: وتكلمنا ايديهم وتشهد ارجلهم. (معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۲۲)

ع ۷

رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۖ قَالُوْا

رَبِّكُمْ	وَيُنْذِرُوْنَكُمْ	لِقَآءَ	يَوْمِكُمْ	هٰذَا	قَالُوْا
درب ستاسی	او بیرول به دوی تاسی	له ملاقات	دهغی ورځی ستاسی	چی دغه ده	وبه وایئ

درب ستاسی او بیرول به دوی تاسی له ملاقات دهغی ورځی ستاسی چی دغه ده وبه وایئ (کفار چی ولی نهٔ راغلی)

بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧١﴾ قِيْلَ

بَلٰى	وَلٰكِنْ	حَقَّتْ	كَلِمَةُ	الْعَذَابِ	عَلَى	الْكٰفِرِيْنَ	قِيْلَ
بلکه راغلی ؤ	او لیکن	ثابته سوی ده	کلمه (حکم)	دعذاب	پر	کافرانو	وبه ویل سی دوی ته

بلکه راغلی ؤ او لیکن ثابته سوی ده کلمه (حکم) دعذاب پر کافرانو. وبه ویل سی دوی ته

ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى

ادْخُلُوْٓا	اَبْوَابَ	جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	فَبِئْسَ	مَثْوَى
ننوځئ	دروازو	د دوزخ ته	چی همیشه اوسیدونکی اوسئ	په دهٔ کښی	پس بد دی ځای	دهستوګنی

ننوځئ دروازو د دوزخ ته په دی حال کښی چی همیشه اوسیدونکی اوسئ په دهٔ کښی، پس بد دی ځای دهستوګنی

الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ

الْمُتَكَبِّرِيْنَ	وَسِيْقَ	الَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	رَبَّهُمْ
دمتکبرانو	او بیول کیږی به	هغه کسان	چی بیریدل به دوی	له ربه خپله

دمتکبرانو (دا دوزخ). او بیول کیږی (بلل کیږی) به هغه کسان چی بیریدل به دوی له ربه خپله

اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْهَا وَفُتِحَتْ

اِلَى الْجَنَّةِ	زُمَرًا	حَتّٰٓى	اِذَا	جَآءُوْهَا	وَفُتِحَتْ
طرف دجنت ته	ډلی ډلی	ترهغه پوری	کله چی	راسی دوی جنت ته	حال دا چی خلاصی سوی به وی

طرف د جنت ته ډلی ډلی، ترهغه پوری چی راسی دوی جنت ته حال دا چی پرانیستلی سوی به وی

اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ

اَبْوَابُهَا	وَقَالَ	لَهُمْ	خَزَنَتُهَا	سَلٰمٌ	عَلَيْكُمْ
دروازی ددغه (جنت)	او وبه وایئ	دوی ته	محافظان (متصرفان) دجنت	سلام دی وی	پر تاسی

دروازی د دغه (جنت) او وبه وایئ دوی ته خزانچیان (متصرفان) دجنت سلام دی وی پر تاسی

وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۖ **کافران به دجهنم طرف ته ډلي ډلي روان کړی سي:** په دغه ایت کي دالله جَلَّ جَلَالُهٗ ارشاد مبارک دی چي کم کسان په دنیا کي کافران وه هغه به دجهنم طرف ته په دکو ورکولو ذلت او خواری سره روان سي: ډلي ډلي ځکه چي اقسام او مرتبې دکفر جلا جلا دي نو دیو یو قسم کفارو به یوه یوه ډله وي تر دي چي کله دوزخ ته ورسیږي نو دغه وخت به دهغه دروازې خلاصي سي او دوی ته به ددوزخ چوکیداري ملایکي په طور دملامتی ووایي چي آیا تاسي ته ستاسي د خلګو څخه دکمو څخه چي فائده اخیستل ستاسي دپاره مشکل نه وه پیغمبران نه وه راغلي کمو چي تاسي ته ستاسي درب ایاتونه ویل او تاسي یي ستاسي ددې ورځي مخ ته دراتلو څخه بیرولاست هغه کافران به ووایي چي هو رسولان هم راغلي وه او بیرول یي هم کړي وه لیکن دعذاب وعده پر کافرانو چي موږ په کښي هم داخل یو پوره سوه دا اعتذار نه دی بلکي اعتراف دی چي سره دابلاغ څخه موږ کفر وکی او اوس واقعي موږ مجرمان یو الخ.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۲۰)

طِبۡتُمۡ فَادۡخُلُوۡهَا خٰلِدِيۡنَ ﴿۷۳﴾ وَقَالُوا

طِبۡتُمۡ	فَادۡخُلُوۡهَا	خٰلِدِيۡنَ	وَقَالُوا
پاک یئ تاسی	پس ننوځئ جنت ته	چې همیشه اوسیدونکی اوسئ	او وایئ به دوی (جنتیان)

پاک یئ تاسی (له ګناهونو) پس ننوځئ جنت ته په دی حال کښی چې همیشه اوسیدونکی اوسئ. او وایئ به دغه (جنتیان)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡ صَدَقَنَا وَعۡدَهٗ وَاَوۡرَثَنَا الۡاَرۡضَ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ	الَّذِىۡ	صَدَقَنَا	وَعۡدَهٗ	وَاَوۡرَثَنَا	الۡاَرۡضَ
تول ثناء صفت خاص الله ته دی	هغه (الله)	چې رښتینه یئ کړه له موږ سره	وعده خپله	او میراث یئ راکړه موږ ته	مځکه

تول ثناء صفت خاص الله ته دی هغه (الله) چې رښتینه یئ کړه له موږ سره وعده خپله او میراث یئ راکړه موږ ته مځکه

نَتَبَوَّاُ مِنَ الۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعۡمَ اَجۡرُ الۡعٰمِلِيۡنَ ﴿۷۴﴾

نَتَبَوَّاُ	مِنَ الۡجَنَّةِ	حَيۡثُ	نَشَآءُ	فَنِعۡمَ	اَجۡرُ	الۡعٰمِلِيۡنَ
چې ځای نیسو	له جنته	هر ځای چې	خوښ سی زموږ	پس ښه دی	اجره	(نیک) عمل کوونکو

چې ځای نیسو له جنته هر ځای چې خوښ سی زموږ. پس ښه دی اجره (نیک) عمل کوونکو (دغه جنت)

وَتَرَى الۡمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيۡنَ مِنۡ حَوۡلِ الۡعَرۡشِ

وَتَرَى	الۡمَلٰٓئِكَةَ	حَآفِّيۡنَ	مِنۡ حَوۡلِ	الۡعَرۡشِ
او وینی به ته (محمده)	ملائیکی	طواف کوونکی	چاپیره	له عرشه

او وینی به ته (ای محمده!) ملائیکی طواف کوونکی (چار چاپیر نیوونکی) چاپیر له عرشه

يُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ ۚ وَقُضِىَ بَيۡنَهُمۡ بِالۡحَقِّ

يُسَبِّحُوۡنَ	بِحَمۡدِ	رَبِّهِمۡ	وَقُضِىَ	بَيۡنَهُمۡ	بِالۡحَقِّ
چې تسبیح به وایئ دوی	سره له حمده ثناء	د رب د دوی سره	او حکم به وکړی سی	په مینځ د خلکو کښی	په حق سره

چې تسبیح به وایئ دوی (پیوسته) له حمده ثناء د رب د دوی سره، او حکم به وکړی سی په مینځ د خلکو کښی په حق سره

وَقِيۡلَ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۷۵﴾ ع

وَقِيۡلَ	الۡحَمۡدُ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الۡعٰلَمِيۡنَ
او به ویلی سی	چې تول ثناء ده	الله ته	چې رب، پالونکی	د مخلوقاتو دی

او به ویلی سی چې تول ثناء ده خاص الله ته چې رب پالونکی د عالمیانو دی .

نَتَبَوَّاُ مِنَ الۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُ.. **جنتیان به په جنت کي دنورو جنتیانو سره ملاقت ته ورځي:** مطلب دادی چي دجنتیانو دپاره به خپل مکانات ، محلات او باغات خو وي او دوی ته به دا اختیار ورکول سي چي دنورو جنتیانو خواته دملاقات اوتفریح دپاره ځي او راځي: دحضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي یو سړی دنبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یي وکی چي یا رسول الله زما ستا سره دومره محبت دی چي خپل کورته هم ځم نو تاسي یادوم اوتر څو پوري چي بیا په خدمت کي نه یم حاضر سوی ماته صبر نه وي مګر کله چي زه خپل مرګ یادوم او ترڅو پوري چي بیا په خدمت کي نه یم حاضرسوی ماته صبر نه وي مګر کله چي زه خپل مرګ یادوم او ستاسي وفات یادوم نو داګنم چي تاسي خو به په جنت کي دانبیاوو علیهم السلام په لوړو مقاماتو کي یاست او زه که جنت ته ولاړ هم سم نو یو ځای په لاندي درجه کي به یم نو زما سره دافکر دی چي زه به تاسي څنګه وینم نبي کریم ﷺ جواب ورنه کی هغه وو چي جبرآئیل امین دغه ایت نازل کی ومن یطع الله والرسول الخ (معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۲۲)

ع۸ الربع

آیاتونه ٨٥ — ٤٠ سُوْرَةُ الْمُؤْمِنِ مَكِّيَّةٌ ٦٠ — رکوعوي ٩

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٢﴾

حٰمٓ	تَنْزِيْلُ	الْكِتٰبِ	مِنَ	اللّٰهِ	الْعَزِيْزِ	الْعَلِيْمِ
حا میم	نازلیدل	ددی کتاب	له (جانبه)	د الله دی	چی دی ښه غالب قوی	ښه عالم دی

حا میم، نازلیدل ددی کتاب (قرآن) له (جانبه) د الله دی چی (دی) ښه غالب قوی ښه عالم دی

غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي

غَافِرِ	الذَّنْۢبِ	وَقَابِلِ	التَّوْبِ	شَدِيْدِ	الْعِقَابِ	ذِي
بخښونکی	دګناهونو دی	او قبلوونکی	د توبی دی	سخت	عذاب ورکوونکی دی	خاوند

بخښونکی د ګناهونو دی (عاصیانو لره) او قبلوونکی د توبی دی (تائبانو لره) سخت عذاب ورکوونکی دی خاوند

الطَّوْلِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿٣﴾

الطَّوْلِ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	اِلَيْهِ	الْمَصِيْرُ
دفضل دی	نشته لایق د عبادت بل هیڅوک	مګر یوازی	هم دی دی	خاص هم ده ته	بیرته ورتلل دی

دفضل دی (په مؤمنانو) نشته لایق د عبادت بل هیڅوک مګر یوازی هم دی دی خاص هم ده ته بیرته ورتلل دی

مَا يُجَادِلُ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ

مَا يُجَادِلُ	فِيْٓ اٰيٰتِ	اللّٰهِ	اِلَّا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فَلَا يَغْرُرْكَ
جګړی نه کوی	په آیتونو	د الله	مګر	هغه کسان	چی کافران سوی دی	پس نه دی تیر باسی تا

جګړی نه کوی په آیتونو د الله مګر هغه کسان چی کافران سوی دی پس نه دی تیر باسی تا

تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ﴿٤﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

تَقَلُّبُهُمْ	فِي الْبِلَادِ	كَذَّبَتْ	قَبْلَهُمْ	قَوْمُ	نُوْحٍ
ګرځیدل د دوی	په ښارونو کښی	دروغجن شمیرلی ؤ	پخوا له دوی څخه	قوم	د نوح

ګرځیدل د دوی په ښارونو کښی . دروغجن شمیرلی ؤ (رسولان خپل) پخوا له دوی څخه قوم د نوح

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ.. دسورت مومن خصوصیات او فضائل وغیره : ددغه ځایه څخه تر سورت احقاف پوري اووه سورتونه د حم څخه شروع کیږي دې ته آل حم یا حوامیم ویل کیږي : حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چي آل حم دیباج القرآن دی : دیباج وریښمي ټوکر ته ویل کیږي مراد ددي څخه ښایست دی او مسعر ابن کدام رحمة الله علیه فرمایي چي دوی ته عرائس ویل کیږي : یعني ناویاني : او حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چي دهر شي یو مغز او خلاصه وي دقرآن کریم خلاصه آل حم دی یا فرمایي چي حوامیم دی : او حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چي دقرآن مثال داسي دی چي یو سړی دخپل اهل او عیال داوسیدو دپاره دځای په تلاښ کي ووتی نو یو شین میدان یي ولیدی او خوشحاله سو چي ناڅاپه مخ ته ولاړی نو داسي باغونه یي ولیدل چي په مځکه کي یي دفصل ټوکولو ماده زیاته وه دایي چي ولیدل نو ویي ویل چي ما خو دباران په مخکي پر شینګیاه باندي تعجب کوی : پاته بیان پر راروان مخ وګوری :

وَّالۡاَحۡزَابُ مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ‌ ۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ اُمَّةٍۢ بِرَسُوۡلِهِمۡ

وَّالۡاَحۡزَابُ	مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ	وَهَمَّتۡ	كُلُّ	اُمَّةٍۢ	بِرَسُوۡلِهِمۡ
او نورو اقوامو	وروسته له دوی څخه	او قصد وکړ	هر	امت	پر رسول خپل

او نورو اقوامو وروسته له دوی څخه او قصد وکړ هر امت (له دوی څخه) پر رسول خپل

لِيَاۡخُذُوۡهُ وَجٰدَلُوۡا بِالۡبَاطِلِ لِيُدۡحِضُوۡا

لِيَاۡخُذُوۡهُ	وَجٰدَلُوۡا	بِالۡبَاطِلِ	لِيُدۡحِضُوۡا
چې ونیسي دوی هغه	او جګړې به کولې دوی	په باطله سره	دپاره ددې چې ناکامه کړي

چې ونیسي دوی هغه (رسول) او جګړې به کولې دوی (له دغو رسولانو سره) په باطله سره دپاره د دې چې پټ کړي

بِهِ الۡحَقَّ فَاَخَذۡتُهُمۡ‌ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ۝۵

بِهِ	الۡحَقَّ	فَاَخَذۡتُهُمۡ	فَكَيۡفَ	كَانَ	عِقَابِ
په دغه باطل سره	حق (توحید)	پس ومونیول دوی	پس څرنګه	ؤ	سزاء عقوبت زما

په دغه (باطله سره) حق (توحید) پس ومو نیول دوی (په عذاب سره) پس څرنګه ؤ سزاء عقوبت زما (دوی لره ؟)

وَكَذٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا

وَكَذٰلِكَ	حَقَّتۡ	كَلِمَتُ	رَبِّكَ	عَلَى الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡۤا
همداسې	واجبه سوې ده	خبره (دعذاب)	درب ستا	پر هغو کسانو	چې کافران سوي دي

همداسې (لکه وجوب د عذاب پر دغو خلګو) واجبه سوې ده خبره (دعذاب) درب ستا پر هغو کسانو چې کافران سوي دي

اَنَّهُمۡ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۝۶ اَلَّذِيۡنَ يَحۡمِلُوۡنَ الۡعَرۡشَ

اَنَّهُمۡ	اَصۡحٰبُ	النَّارِ	اَلَّذِيۡنَ	يَحۡمِلُوۡنَ	الۡعَرۡشَ
بیشکه! دوی	ملګري	داور (دوزخ) دي	هغه کسان	چې پورته اخلي	عرش

بیشکه! دوی ملګري د اور (د دوزخ) دي. هغه کسان (له ملائیکو) چې پورته اخلي عرش

وَمَنۡ حَوۡلَهٗ يُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُوۡنَ

وَمَنۡ	حَوۡلَهٗ	يُسَبِّحُوۡنَ	بِحَمۡدِ	رَبِّهِمۡ	وَيُؤۡمِنُوۡنَ
او هم هغه چې	چارچاپېرې دي د عرش	تسبیح وايي	سره د حمد ثناء	درب د دوی	او ایمان يې راوړی دی

او هم هغه (ملائیکې) چې چار چاپېرې دي د عرش تسبیح وايي سره د حمد ثناء درب د دوی او ایمان يې راوړی دی

فَاَخَذۡتُهُمۡ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ..دتیر مخ پاته بیان دلته وکورئ: داخو دهغه څخه هم زیات عجیبه دي نو هغه ته دا وویل سي چې داول چمن او سبزې مثال دعام قرآن کریم دی او ددې باغونو مثال په قرآن کریم کي دآل حم په مثل دی: په دې وجه عبد الله ابن مسعود ﵁ فرمايي چې کله زه دقرآن کریم تلاوت کوم او آل حم ته راورسیږم نو ګویا په دې کي زما ډیره خوشحالي وي. دحضرت ابو هریره ﵁ څخه روایت دي چې نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې څوک دورځي په اول کي آیت الکرسي او د سورت مومن اولني درې اياتونه دحم څخه تر: اليه المصير پوري ووايي هغه به په دغه ورځ دهري بدی او تکلیف څخه محفوظ سي: په بل حدیث شریف کي دي چې نبي کریم ﷺ یو وخت دجهاد پر موقع باندي وفرمايل چې که دشپې پر تاسي باندي چاپه ووهل سي نو تاسي حم لاينصرون وایاست چې ددې مطلب دلفظ دحم سره دادعا کول دي چې زموږ دښمن پر موږ باندي کامیابه او غالبه نه سي: یا الله ﷻ موږ ته يې هم دويلو توفيق رانصيب کړې آمين. (معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۲۶)

بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا وَسِعْتَ

بِهٖ	وَيَسْتَغْفِرُوْنَ	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	رَبَّنَا	وَسِعْتَ
په دغه (الله)	او مغفرت غواړي	هغو کسانو ته	چي ايمان يئ راوړی دی	ای ربه زموږ	احاطه کړی ده تا

پهدغه (الله) او مغفرت غواړي (له الله څخه) هغو کسانو ته چي ايمان يئ راوړی دی ، ای ربه زموږ رسيدلی يئ ته

كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا

كُلَّ شَيْءٍ	رَّحْمَةً	وَّعِلْمًا	فَاغْفِرْ	لِلَّذِيْنَ	تَابُوْا	وَاتَّبَعُوْا
هر شی ته	له جهته د رحمته	او علمه	پس مغفرت وکړه	هغو کسانو ته	چي توبه يئ ايستلی ده	او متابعت يئ کړی دی

هر شی ته له جهته د رحمته بخښنښ او علمه پس مغفرت وکړه هغو کسانو ته چي توبه يئ ايستلی ده او متابعت يئ کړی دی

سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝٧ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ

سَبِيْلَكَ	وَقِهِمْ	عَذَابَ	الْجَحِيْمِ	رَبَّنَا	وَاَدْخِلْهُمْ	جَنّٰتِ
دلاری ستا	او وساته دوی	له عذابه	د دوزخ څخه	ای ربه زموږ	او ننه باسه دوی	په جنتونو

دلاری ستا او وساته دوی له عذابه د دوزخ څخه .(او هم وايئ به) ای ربه زموږ او ننه باسه دوی په جنتونو

عَدْنِ الَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ

عَدْنِ	الَّتِيْ	وَعَدْتَّهُمْ	وَمَنْ	صَلَحَ	مِنْ	اٰبَآئِهِمْ
دهميشه هستوګنی کښی	هغه چي	وعده کړی ده تا له دوی سره	او څوک چي	نيک سوی وی	له	پلرونو د دوی

دهميشه هستوګنی کښی هغه چي وعده کړی ده تا له دوی سره او څوک چي نيک سوی وی له پلرونو د دوی

وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ ۭ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٨

وَاَزْوَاجِهِمْ	وَذُرِّيّٰتِهِمْ	اِنَّكَ	اَنْتَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ
او له ښځو د دوی	او (له) اولادو د دوی	بيشکه! چي ته	هم ته يئ	ښه غالب قوی	ښه حکمت والا

او له ښځو د دوی او (له) اولادو د دوی ، بيشکه! چي ته هم ته يئ ښه غالب قوی ښه حکمت والا .

وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ۭ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ

وَقِهِمُ	السَّيِّاٰتِ	وَمَنْ	تَقِ	السَّيِّاٰتِ	يَوْمَئِذٍ	فَقَدْ
او وساته دوی	له بديو څيني	او هر څوک چي	وساتی ته	له بديو څخه	په دغه ورځ دقيامت کښی	نو په تحقيق

او وساته دوی له بديو څيني ، او هر څوک چي وساتی ته له بديو څخه په دغه ورځ دقيامت کښی نو په تحقيق

وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا..دعرش دحاملانو فرشتو دعاوي دمسلمانانو دپاره : دعرش حاملاني ملايکي اوس څلوردي او دقيامت په ورځ به اته سي او دعرش څخه چاپيره چي څومره ملايکي دي دهغو شمير الله ﷻ ته ښه معلوم دی : په ځينو روايتونو کي دديې صفونو تعداد ښوول سوی دی چي لکونو ته رسيږي داټولي دالله ﷻ مقربي ملايکي دي په دې آيت کي دا ښوول سويده چي داټولي مقربي ملايکي دمومنانو دپاره خصوصا کم چي دګناهونو څخه توبه ګاره سوي دي او دشريعت تابع سوي دي ددوی دپاره دعاګاني کوي يا خو په دې وجه چي الله ﷻ دوی په دې باندي ماموره کړي دي يا ددوی فطرت او طبيعت داسي دی چي هغوی دالله ﷻ دنيکوبندګانو دپاره دعاوي کوي :په دې وجه حضرت مطرف ابن عبدالله ابن شخير رحمة الله عليه فرمايي چي دالله ﷻ په بندګانو کي دمومنانو خيرخواه دټولو څخه زياتي دالله ﷻ ملايکي دي ځکه چي هغوی هميشه دمومنانو دپاره دعاوي کوي الخ.
(معارف القرآن ج۸پ۲۴ص۳۰)

رَحۡمَتَهٗ ۚ وَذٰلِكَ هُوَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ﴿٩﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ

رَحۡمَتَهٗ	وَذٰلِكَ	هُوَ	الۡفَوۡزُ	الۡعَظِيۡمُ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ
رحمت دی وکړې پرهغه	او دغه	هم دغه دی	بری	ډیر لوی	بیشکه!	هغه کسان

رحمت دی وکړې پرهغه او دغه (ساتل ستا له عذابه) هم دغه دی بری ډیر لوی. بیشکه! هغه کسان

كَفَرُوۡا يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ اللّٰهِ اَكۡبَرُ

كَفَرُوۡا	يُنَادَوۡنَ	لَمَقۡتُ	اللّٰهِ	اَكۡبَرُ
چې کافران سوی دی	ږغ به ورته وکړل سی	چې خامخا ناراضګی او قهر	د الله (پرتاسی)	ډیر لوی دی

چې کافران سوی دی ږغ به ورته وکړل سی (په ژبو دملائیکو) چې خامخا دبنمنی (او قهر) د الله (پر تاسی) ډیر لوی دی

مِنۡ مَّقۡتِكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ اِذۡ تُدۡعَوۡنَ اِلَى الۡاِيۡمَانِ

مِنۡ مَّقۡتِكُمۡ	اَنۡفُسَكُمۡ	اِذۡ تُدۡعَوۡنَ	اِلَى الۡاِيۡمَانِ
له ناراضی ستاسی	له ځانونو خپلو سره	کله چې وبه بللی سوئ تاسی	طرف د ایمان راورلو ته

له دبنمنی (او قهر) ستاسی له ځانونو خپلو سره کله چې وبه بللی سوئ تاسی (په دنیا کښې) طرف د ایمان راورلو ته

فَتَكۡفُرُوۡنَ ﴿١٠﴾ قَالُوۡا رَبَّنَاۤ اَمَتَّنَا اثۡنَتَيۡنِ وَاَحۡيَيۡتَنَا اثۡنَتَيۡنِ

فَتَكۡفُرُوۡنَ	قَالُوۡا	رَبَّنَاۤ	اَمَتَّنَا	اثۡنَتَيۡنِ	وَاَحۡيَيۡتَنَا	اثۡنَتَيۡنِ
پس کافران کیدئ به تاسی	وبه وایئ (کفار)	ای ربه زموږ	مړه دی کړو موږ	دوه ځلی	اوژوندی دی کړو موږ	دوه ځلی

پس کافران کیدئ به تاسی. وبه وایئ (دا کفار) ای ربه زموږ مړه دی کړو موږ دوه ځلی او ژوندی دی کړو موږ دوه ځلی

فَاعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوۡبِنَا فَهَلۡ اِلٰى خُرُوۡجٍ مِّنۡ سَبِيۡلٍ ﴿١١﴾ ذٰلِكُمۡ

فَاعۡتَرَفۡنَا	بِذُنُوۡبِنَا	فَهَلۡ	اِلٰى خُرُوۡجٍ	مِّنۡ سَبِيۡلٍ	ذٰلِكُمۡ
پس اقرار وکړموږ	په ګناهونو خپلو	پس آیا سته	دوتلو	کومه لاره	دغه تاسی ته

پس قایل سو موږ په ګناهونو خپلو پس آیا سته د وتلو (زموږ ته له دغه دوزخه) کومه لاره. دغه (ابدی عذاب) تاسی ته

بِاَنَّهٗۤ اِذَا دُعِىَ اللّٰهُ وَحۡدَهٗ كَفَرۡتُمۡ ۚ وَاِنۡ يُّشۡرَكۡ

بِاَنَّهٗ	اِذَا	دُعِىَ	اللّٰهُ	وَحۡدَهٗ	كَفَرۡتُمۡ	وَاِنۡ يُّشۡرَكۡ
په سبب د دی دی	کله چې	وبه باله سو	الله	یواځی	نو کفر به اختیار کړ تاسی	او که به شرک ورسره کیدی

په سبب د دی دی کله چې وبه باله سو الله یواځی (بې له خدایانو ستاسی) نو کفر به اختیار کړ تاسی او که به شرک ورسره کیدی

اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ اللّٰهِ اَكۡبَرُ. **کفار به په دوږخ کي دخپلو ځانونو څخه هم نفرت وکړي:** په دغه آیت کي دي چي کم کسان کافران سوي دي نو هغوی چي کله دوږخ ته ولاړ سي په خپل کفر او شرک اختیارولو باندي به افسوس وکړي او په خپله به ددوی دځان څخه سخت نفرت وسي تر دي چي په ډیر درد سره به خپلي ګوتي چیچي لکه چي هم داسي په روایتو کي راغلي دي دغه وخت به دوی ته آواز وسي چي لکه څنګه تاسي داوخت دخپلو ځانونو څخه نفرت کوی ددې څخه زیات دخدای ﷻ ستاسي څخه نفرت وو کله چي تاسي په دنیا کي دایمان طرف ته وبلل سولاست بیا دبللو څخه وروسته به تاسي نه منله مقصود ددې څخه ددوی په حسرت کي او ندامت کي نور زیاتی کول دي دغه خلګ به ووایي چي ای زموږ پروردګاره موږ چي ددوباره ژوندي کیدو څخه انکار کوی نو موږ ته خپله غلطي معلومه سوه چنانچي ومو لیدل چي تاموږ ته دوه واره مرګ راکړی یو دپیدایش څخه مخکسي او دوهم وار دي عالم ته دراتلو او ژوندي کیدو څخه وروسته په متعارف مرګ مړه کړو.

(معارف القرآن ج٨ پ٢٤ ص ٣١)

بِهٖ تُؤْمِنُوْا ؕ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ﴿۱۲﴾ هُوَ الَّذِيْ

بِهٖ	تُؤْمِنُوْا	فَالْحُكْمُ	لِلّٰهِ	الْعَلِيِّ	الْكَبِيْرِ	هُوَ الَّذِيْ
دده سره	نو ایمان به راوړ تاسی	پس حکم	خاص الله لره دی	چی ډیر پورته دی	ډیر لوی دی	الله هغه ذات دی

دده سره نو ایمان به راوړ تاسی پس حکم خاص الله لره دی چی ډیر پورته دی ډیر لوی دی. الله هغه ذات دی

يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ وَمَا يَتَذَكَّرُ

يُرِيْكُمْ	اٰيٰتِهٖ	وَيُنَزِّلُ	لَكُمْ	مِّنَ السَّمَآءِ	رِزْقًا	وَمَا يَتَذَكَّرُ
چی ښيي تاسی ته	دلائل خپل	او نازلوی	تاسی ته	له (طرفه) دآسمانه	رزق، روزی	او پند نه اخلی

چی ښيي تاسی ته دلائل (دقدرت) خپل او نازلوی تاسی ته له (طرفه) دآسمانه رزق، روزی او پند نه اخلی (په دغو دلائلو)

اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ﴿۱۳﴾ فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ

اِلَّا	مَنْ يُّنِيْبُ	فَادْعُوا	اللّٰهَ	مُخْلِصِيْنَ	لَهُ
مگر	هغه چی راګرځیدلی وی	پس وبولئ تاسی	الله	چی خالص کوونکی اوسئ	دغه (الله) ته

مگر هغه چی راګرځیدلی وی (له شرکه). پس وبولئ تاسی الله په دی حال کښې چی خالص کوونکی اوسئ دغه (الله) ته

الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو

الدِّيْنَ	وَلَوْ	كَرِهَ	الْكٰفِرُوْنَ	رَفِيْعُ	الدَّرَجٰتِ	ذُو
د دین	او اګر که	بد ګڼی دغه	کافران	پورته کوونکی	د درجو (دمؤمنانو) دی	خاوند د

د دین (له شرکه) او اګر که بد ګڼی دغه کافران (دغه اخلاص ستاسی). پورته کوونکی د درجو (دمؤمنانو) دی خاوند د

الْعَرْشِ ۚ يُلْقِي الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

الْعَرْشِ	يُلْقِي	الرُّوْحَ	مِنْ اَمْرِهٖ	عَلٰى	مَنْ يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ
عرش دی	رالیږی	روح (جبرئیل)	په امر، حکم خپل	پر	هغه چاچی اراده وفرمائی	له بندګانو خپلو

عرش دی رالیږی روح (جبرئیل) په امر حکم خپل پر هغه چا چی اراده وفرمائی له بندګانو خپلو

لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾ يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ

لِيُنْذِرَ	يَوْمَ	التَّلَاقِ	يَوْمَ	هُمْ	بٰرِزُوْنَ
دپاره ددی چی وبیروی	له ورځی	دملاقات	په هغه ورځ کښې	چی دوی به	راښکاره وی

دپاره ددی چی وبیروی (خلګ) له ورځی د ملاقات. په هغه ورځ کښې چی دوی به راښکاره وی (دباندی راولاړ دقبرونو)

رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ يُلْقِي الرُّوْحَ.

دالله جل جلاله دکمال صفتونه دټولو څخه زيات رفيع الشان دي: ددرجاتو څخه مراد ځيني حضراتو صفتونه مقرر کړي دي چي پـه دې سره د: رفيع الدرجات. معنی سوه رفيع الصفات يعني دهغه صفتونه دکمال دټولو څخه زيات رفيع الشان دي حافظ ابن كثير رحمة الله عليه دا پر خپل ظاهر باندي مقرر كړی دی او دامعنی يي كړې ده چي ددې څخه مراد دعرش عظيم درفعت بيان دی چي هغه پر ټولو مځكو او اسمانونو حاوي دی او دټولو څخه لوړ پر منزله دچت باندي بلند دی لكه چي دسورت معارج پـه آيت كي راغلي دي: من الله ذی المعارج ؞ تعرج الملائكة والروح اليه فی يوم كان مقداره خمسين الف سنة. دابن كثير رحمة الله عليه تحقيق په دې كي دادی چي دادپنځوس زرو كالو مقدار دهغه مسافت بيان دی كم چي داوومي مځكي څخه تر عرشه پوري دی او دايي دمځكي او وروسته ديولوی جماعت پـه نـزد راجـح گرځولی دی او بيان يي كړی دی چي عرش ديو سوريا قوت څخه جوړ دی الخ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۳۴)

لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۭ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ لِلّٰهِ

لَا يَخْفٰى	عَلَى اللّٰهِ	مِنْهُمْ	شَيْءٌ	لِمَنِ	الْمُلْكُ	الْيَوْمَ	لِلّٰهِ
پټ به نه وی	پر الله	له دی څخه	هیڅ شی	چا لره دی	سلطنت	نن ورځ	خاص الله لره دی

پټ به نه وی پر الله له دی څخه هیڅ شی، چا لره دی سلطنت، (نو جواب فرمائی پخپله) الله نن ورځ خاص الله لره دی (سلطنت)

الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۱۶﴾ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا

الْوَاحِدِ	الْقَهَّارِ	اَلْيَوْمَ	تُجْزٰى	كُلُّ	نَفْسٍ	بِمَا
چی یو دی	ښه غالب قوی	نن ورځ به	جزاء ورکړه سی	هر	نفس ته	په قدر د هم هغه عمل

چی یو دی ښه غالب قوی، نن ورځ به جزاء ورکړه سی هر نفس ته په قدر د هم هغه عمل

كَسَبَتْ ۭ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۷﴾

كَسَبَتْ	لَا ظُلْمَ	الْيَوْمَ	اِنَّ	اللّٰهَ	سَرِيْعُ	الْحِسَابِ
چی کړی یئ دی	نسته هیڅ قدر ظلم	نن ورځ	بیشکه!	چی الله	ډیر زر	حساب کوونکی دی

چی کړی یئ دی نسته هیڅ قدر ظلم نن ورځ، بیشکه! چی الله ډیر زر حساب کوونکی دی .

وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ

وَاَنْذِرْهُمْ	يَوْمَ	الْاٰزِفَةِ	اِذِ الْقُلُوْبُ	لَدَى	الْحَنَاجِرِ
او ویروه دوی	دورځی	نژدی راتلونکی څخه	کله چی زړونه به	په نزد	د کرغنکو وی

او ویروه (ای محمده دغه کفار له عذابه) د ورځی نژدی کله چی زړونه به په نزد د چنغر کو وی

كٰظِمِيْنَ ڛ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ

كٰظِمِيْنَ	مَا لِلظّٰلِمِيْنَ	مِنْ حَمِيْمٍ	وَّلَا شَفِيْعٍ
چی غمکوونکی به وی	نه به وی ظالمانو ته	هیڅوک دوست	او نه شفاعتګر

په دی حال کښی چی غمکوونکی به وی. نه به وی ظالمانو ته (په قیامت کښی) هیڅوک دوست او نه کوم شفاعتګر

يُّطَاعُ ﴿۱۸﴾ يَعْلَمُ خَاۗىِٕنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾

يُّطَاعُ	يَعْلَمُ	خَاۗىِٕنَةَ	الْاَعْيُنِ	وَمَا	تُخْفِي	الصُّدُوْرُ
چی خبره یئ ومنله سی	معلوم دی (الله) ته	خیانت	سترګو	او هغه نیت	چی پټوی یئ	سینی (زړونه)

چی خبره یئ ومنله سی، معلوم دی (الله) ته خیانت د سترګو او هغه نیت چی پټوی یئ سینی (زړونه)

لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ لِمَنِ الْمُلْكُ. دحشر دمیدان مځکه به یوه هوار سطحه او میدان وي دبارزون څخه مراد دادی چي دحشر دمیدان مځکه به چونکي یوه برابره سطحه سي چي په کمه کي به څه غر یا غار یاابادي او درخته نه وي چي څوک ځیني پناه سي په دې وجه ټول به په ډاګ میدان کي مخامخ وي: لمن الملک اليوم .ددې کلمې دراوړلو څخه په ظاهره داسي معلومیږي چي دالله ﷻ داارشاد به ددوهمي شپیلی څخه وروسته وي چي ټول مخلوقات دوباره پیداسي ددې په تائید کي قرطبي رحمة الله عليه یو حدیث شریف په روایت دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نقل کړی دی هغه دا چي ټول انسانان به پر یوه صفا مځکه جمع سي پر کمه چي به چا څه ګناه نه وي کړې دغه وخت به یو آوازکوونکي ته حکم وسي چي دا اوازبه وکي چي: لمن الملک اليوم. یعني نن دچا حکومت دی ؟پر دې به ټول مخلوقات مومنان او کافران داجواب ورکړي چي: لله الواحد القهار چي نن ورځ حکومت فقط یوازي دالله ﷻ دی چي قهار ذات دی. پاته بیان پر راروان مخ وګوری

ع ۲

وَ اللّٰهُ يَقۡضِيۡ بِالۡحَقِّ ؕ وَالَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖ

وَ اللّٰهُ	يَقۡضِيۡ	بِالۡحَقِّ	وَالَّذِيۡنَ	يَدۡعُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِهٖ
او الله	حکم کوی	په حقه سره	او هغه کسان	چي بولي يئ دوی	غير له دغه (الله)

او الله حکم (فيصله) کوی په حقه (عدل) سره ، او هغه کسان چي بولي يئ دوی غير له دغه (الله)

لَا يَقۡضُوۡنَ بِشَيۡءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيۡعُ الۡبَصِيۡرُ ۝۲۰

لَا يَقۡضُوۡنَ	بِشَيۡءٍ	اِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	السَّمِيۡعُ	الۡبَصِيۡرُ
حکم نسی کولی دوی	په هيڅ شی	بيشکه!	الله	هم دی دی	ښه اوريدونکی	ښه ليدونکی

حکم نسی کولی دوی په هيڅ شی، بيشکه! الله هم دی دی ښه اوريدونکی (داقوالو) ښه ليدونکی (داعمالو).

اَوَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا فِي الۡاَرۡضِ فَيَنۡظُرُوۡا كَيۡفَ كَانَ

اَوَلَمۡ يَسِيۡرُوۡا	فِي الۡاَرۡضِ	فَيَنۡظُرُوۡا	كَيۡفَ	كَانَ
آيا نه گرځی دوی (مشرکان)	په ځمکه کښی	پس چي وگوری دوی	چي څرنگه	وه

آيا نه گرځی (دغه مشرکان) په ځمکه (ملکونو) کښی پس چي وگوری دوی چي څرنگه وو

عَاقِبَةُ الَّذِيۡنَ كَانُوۡا مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ كَانُوۡا هُمۡ اَشَدَّ

عَاقِبَةُ	الَّذِيۡنَ	كَانُوۡا	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	كَانُوۡا	هُمۡ	اَشَدَّ
آخره خاتمه	دهغو کسانو	چي وو	پخوا له دوی (مشرکانو)	چي وو هغوی	هم دوی	ډير سخت

آخره خاتمه د هغو کسانو چي وو پخوا له دغو (مشرکانو) چي وو هغوی (پخواني مکذبين) هم دوی ډير سخت

مِنۡهُمۡ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الۡاَرۡضِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ

مِنۡهُمۡ	قُوَّةً	وَّاٰثَارًا	فِي الۡاَرۡضِ	فَاَخَذَهُمُ	اللّٰهُ
له دغو (کفارو) څخه	له جهته د قوت	او نښو کښی	په ځمکه کښی	پس ونيول (هلاک کړی) دوی	الله

له دغو (کفارو) څخه له جهته د قوت او آثار (چي پريښی يئ دی) په ځمکه کښی، پس ونيول (هلاک کړی) دوی الله

بِذُنُوۡبِهِمۡ ؕ وَمَا كَانَ لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ وَّاقٍ ۝۲۱ ذٰلِكَ

بِذُنُوۡبِهِمۡ	وَمَا كَانَ	لَهُمۡ	مِّنَ	اللّٰهِ	مِنۡ وَّاقٍ	ذٰلِكَ
په سبب د گناهونو د دوی	او نه وو	دوی ته	له (عذابه د)	الله	هيڅوک ساتونکی	دغه (نيول د دوی)

په سبب د گناهونو د دوی ، او نه وو دوی ته له (عذابه د) الله هيڅوک ساتونکی. دغه (نيول او هلاک د دوی)

وَاللّٰهُ يَقۡضِيۡ بِالۡحَقِّ ؕ وَالَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖ..دتير مخ پاته بيان دلته وگوری: ليکن دځينو نورو مفسرينو بيان بيا دادی چي داارشاد به حق تعالی ﷻ هغه وخت وفرمايي کله چي داولي شپيلی څخه وروسته ټول مخلوقات فناسي اوبيا مخصوصومقربو ملايکو جبرائيل و ميکائيل ، اسرافيل ، او ملک الموت ته هم مرگ راسي او ماسوا دالله ﷻ دذات څخه به بل څوک پاته نه سي دغه وخت به الله ﷻ وفرمايي چي : لمن الملک اليوم. نو چونکي دغه وخت به جواب ورکوونکی هيڅوک هم نه وي نو په خپله به الله ﷻ خپل ځان ته جواب ورکي : لله الواحد القهار. حضرت حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي چي په دي کي سوال کوونکی او جواب ورکوونکی يو الله ﷻ دی دمحمد ابن کعب قرظي هم داقول دی او ددي تائيد دحضرت ابوهريره رضي الله عنه او ابن عمر رضي الله عنه ددي حديث څخه کيږي چي دقيامت په ورځ به الله ﷻ ټولي ځمکي په چپه لاس کي او اسمانونه به په راسته لاس کي واخلي او وبه فرمايي انا الملک اين الجبّارون اين المتکبرون ؟ : الخ

معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۳۵

بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا

بِاَنَّهُمْ	كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ	رُسُلُهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	فَكَفَرُوْا
په سبب ددی چی بیشکه! دوی	راتلل به دوی ته	رسولان ددوی	په دلائلو، نښو ښکاره وو	پس کافران سول

په سبب ددی وو چی بیشکه! هغوی ته به راتلل رسولان د دوی په دلائلو، نښو ښکاره وو (دقدرت) پس کافران سول

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ

فَاَخَذَهُمُ	اللّٰهُ	اِنَّهٗ	قَوِيٌّ	شَدِيْدُ	الْعِقَابِ	وَلَقَدْ
پس ونیول دوی	الله	بیشکه!	چی دغه (الله) قوی و زوررور	سختوونکی	دعذاب دی	او خامخا په تحقیق

پس ونیول دوی الله (هلاک یې کړی) بیشکه! چی دغه (الله) قوی ښه زوررور سختوونکی دعذاب دی. او خامخا په تحقیق

اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾ اِلٰی فِرْعَوْنَ

اَرْسَلْنَا	مُوْسٰی	بِاٰيٰتِنَا	وَسُلْطٰنٍ	مُّبِيْنٍ	اِلٰی فِرْعَوْنَ
لیږلی وو موږ	موسیٰ	په آیاتونو، دلائلو خپل	او په برهان، سند	ښکاره سره	طرف د فرعون ته

لیږلی وو موږ موسیٰ په آیاتونو دلائلو (دقدرت) خپل او په برهان، سند ښکاره سره، طرف د (باچا دمصر) فرعون ته

وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾

وَهَامٰنَ	وَقَارُوْنَ	فَقَالُوْا	سٰحِرٌ	كَذَّابٌ
او هامان ته	او قارون ته	پس وویل دوی	جادوګر دی	دروغجن دی

او هامان ته (چی وزیر یې وو) او قارون ته (چی مصاحب یې وو)، پس وویل (دوی چی دا رسول) ساحر دی دروغجن دی

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ

فَلَمَّا	جَآءَهُمْ	بِالْحَقِّ	مِنْ عِنْدِنَا	قَالُوا	اقْتُلُوْٓا	اَبْنَآءَ
پس کله چی	راغی (موسیٰ) دوی ته	په حقه سره	له نزده زموږ	وویل دوی	چی ووژنئ تاسی	زامن د هغو (سبطیانو)

پس کله چی راغی (موسیٰ) دغو (قبطیانو) ته په حقه سره له نزده زموږ وویل دوی چی ووژنئ تاسی زامن دهغو (سبطیانو)

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ۭ وَمَا كَيْدُ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مَعَهٗ	وَاسْتَحْيُوْا	نِسَآءَهُمْ	وَمَا	كَيْدُ
هغه چی	ایمان یې راوړی دی	له موسیٰ سره	او ژوندی پریږدئ تاسی	ښځی د دوی	او نه دی	مکر

هغه چی ایمان یې راوړی دی له موسیٰ سره او ژوندی پریږدئ تاسی ښځی (لوڼی) د دوی (خدمت ته)، او نه دی مکر

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ

الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام لره فرعون، قارون، او هامان ته ولیږی: په راروانو ایاتونو کې د الله جل جلاله ارشاد دی چې موږ موسی علیه السلام ته خپل احکام او ښکاره دلیلونه یعنې معجزې ورکړې او دی مو دفرعون او هامان او قارون طرف ته ولیږی په هغو خلګو کې ځینو یا ټولو وویل چې نعوذبالله دا جادوګر او درواغجن دی جادوګر یې ورته په معجزو کې وویل او درواغجن یې په دعوه د نبوت او احکامو کې ورته وویل دا قول دفرعون، هامان، او قارون درو واړو طرف ته منسوبه کړی دی مګر قارون چونکې په بنی اسرآئیلو کې وو او په ظاهره یې پر حضرت موسی علیه السلام ایمان درلودی دده هغه ته ساحر ویل په ظاهره څه مستبعد ول ښکاري لیکن کیدای سي چې دی دغه وخت منافق وو او پر حضرت موسی علیه السلام یې په ظاهره د ایمان دعوه کوله حقیقت نه وو او دا هم ممکنه ده چې دا قول صرف دفرعون او دهامان وي تغلیبًا یې ددرو واړو طرف ته نسبت سوی وي. نو ځینې بیا مسلمانان سول او اکثره مخالف سول.

(معرف القرآن ج۸پ۲۴ص۴۰)

الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ

الْكٰفِرِيْنَ	اِلَّا	فِيْ ضَلٰلٍ	وَقَالَ	فِرْعَوْنُ	ذَرُوْنِيْٓ
دکافرانو	مګر	په ګمراهۍ کښې	او وویل	فرعون	پرېږدئ (ای مشرانو) ما

دکافرانو مګر په ګمراهۍ کښې، او وویل فرعون (عملي خپلې ته) پرېږدئ (ای مشرانو) ما

اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ

اَقْتُلْ	مُوْسٰى	وَلْيَدْعُ	رَبَّهٗ	اِنِّيْٓ	اَخَافُ	اَنْ يُّبَدِّلَ
چې ووژنم	موسیٰ	او راودې بولي	رب خپل	بیشکه! چې زه	بېرېږم	چې بدل به کړي (موسیٰ)

چې ووژنم موسیٰ او راودې بولي (موسیٰ) رب خپل (وویل فرعون) بیشکه! چې زه بېرېږم چې بدل به کړي (موسیٰ)

دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ فِي الْاَرْضِ الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾ وَقَالَ

دِيْنَكُمْ	اَوْ	اَنْ يُّظْهِرَ	فِي الْاَرْضِ	الْفَسَادَ	وَقَالَ
دین ستاسی	یا	به ظاهر کړي (موسیٰ)	په مځکه کښې	فساد	او وویل

دین ستاسی (ای قبطیانو!) یا به ظاهر کړي (موسیٰ) په مځکه (دمصر) کښې فساد. او وویل

مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ

مُوْسٰٓى	اِنِّيْ	عُذْتُ	بِرَبِّيْ	وَرَبِّكُمْ	مِّنْ كُلِّ	مُتَكَبِّرٍ
موسیٰ	چې بیشکه! زه	پناه غواړم	په رب خپل	او په رب ستاسی	له (شره د) هر	متکبر

موسیٰ (قوم خپل ته) چې بیشکه! زه پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسی له (شره د) هر متکبر (سرکشه)

لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ

لَّا يُؤْمِنُ	بِيَوْمِ	الْحِسَابِ	وَقَالَ	رَجُلٌ	مُّؤْمِنٌ	مِّنْ
چې نه راوړي ایمان	په ورځ	دحساب	او وویل	یو سړی	مؤمن	له

چې نه راوړي ایمان په ورځ د حساب. او وویل یو سړي مؤمن له

اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ

اٰلِ	فِرْعَوْنَ	يَكْتُمُ	اِيْمَانَهٗٓ	اَتَقْتُلُوْنَ	رَجُلًا	اَنْ يَّقُوْلَ
خپلوانو	دفرعون څخه	چې پټوي ده	ایمان خپل	آیا وژنئ تاسی	داسې یو سړی	چې وایئ

خپلوانو د فرعون څخه چې پټاوه ده ایمان خپل (له نورو قبطیانو) آیا وژنئ تاسی داسی یو سړی چې وایئ

٣ ع ٨

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ.. دال فرعون مومن: په لوړو تیروسوو ایاتونو کي ځای پرځای دتوحید او رسالت منکرانو ته دعذاب او تهدید په ضمن کي دکفارود خلاف اوعناد ذکر سوی دی چي په دې سره په طبعي طور نبي کریم ﷺ ته غم او خفګان رسیدی ددوی دتسلی دپاره په دې ذکر سوو تقریبا دو رکوع ګانو کي دحضرت موسی ﷺ او فرعون قصه ذکر سویده په دې قصه کي یوه اوږده مکالمه دفرعون اود فرعون دقوم سره دهغه بزرګ سړي ده کم چي په خپله په آل فرعون کي وواو ددې باوجود یي دحضرت موسی علیه السلام معجزې ولیدې اوایمان یي پر راوړی وو مګر په مصلحت سره یي خپل ایمان تر دغه وخت پوري پټ ساتلی وو ددې مکالمې په وخت کي دده دایمان هم حتمي اعلان وسو: امام مقاتل، سدي اوحضرت حسن رحمة الله علیهم فرمایي چي دادفرعون داکا زوی وواوداهغه سړی وو کم چي هغه وخت کله چي دقبطي دقتل په واقعه کي د ده قصاص په طورد حضرت موسی علیه السلام دقتلولو مشوره کیده نوهغه راغی موسی علیه السلام یي خبر کړی: (پاته بیان پر راروان مخ وګوری)

رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاِنْ

رَبِّيَ	اللّٰهُ	وَقَدْ	جَآءَكُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	مِنْ رَّبِّكُمْ	وَاِنْ
رب زما	الله دی	او داچې په تحقیق	راغلی دی تاسی ته	په ښکاره دلائلو	له (طرفه) د رب ستاسی	او که چیری

رب زما الله دی او حال دا چې په تحقیق راغلی دی تاسی ته په ښکاره دلائلو له (طرفه) د رب ستاسی، او که چیری

يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ يَّكُ صَادِقًا يُّصِبْكُمْ

يَّكُ	كَاذِبًا	فَعَلَيْهِ	كَذِبُهٗ	وَاِنْ يَّكُ	صَادِقًا	يُّصِبْكُمْ
وی (موسٰی)	دروغجن	نو پس پر هم دده	(جزاء د) دروغو	او که چیری وی	رښتینی	نو وبه رسیږی تاسی ته

وی (موسٰی) دروغجن نو پس پر هم دده (جزاء د) دروغو دده او که چیری وی (موسٰی) رښتینی نو وبه رسیږی تاسی ته

بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ

بَعْضُ	الَّذِيْ	يَعِدُكُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِيْ	مَنْ هُوَ
ځینی	دهغه عذاب	چې وعده کوی له تاسی سره	بیشکه!	الله	سمه لاره نه ښیی	هر هغه چا ته چې هغه

ځینی د هغه عذاب چې وعده کوی (موسٰی دهغه) له تاسی سره، بیشکه! الله سمه لاره نه ښیی هر هغه چا ته چې هغه

مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ

مُسْرِفٌ	كَذَّابٌ	يٰقَوْمِ	لَكُمُ	الْمُلْكُ	الْيَوْمَ
له حده تیریدونکی وی	ډیر دروغجن وی	ای قومه زما	تاسی لره ده	باچاهی	نن ورځ

مسرف له حده تیریدونکی وی ډیر دروغجن وی. ای قومه زما تاسی لره دی ملک باچاهی نن ورځ

ظٰهِرِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۫ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ

ظٰهِرِيْنَ	فِي الْاَرْضِ	فَمَنْ	يَّنْصُرُنَا	مِنْۢ بَاْسِ	اللّٰهِ
په دغه حال کښی چې غالب ئی	په مځکه کښی	پس څوک به	نصرت وکړی له موږ سره	له عذابه	د الله

په دغه حال کښی چې غالب یئ په مځکه (دمصر کښی) پس څوک به نصرت وکړی له موږ سره له عذابه د الله

اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى

اِنْ جَآءَنَا	قَالَ	فِرْعَوْنُ	مَآ اُرِيْكُمْ	اِلَّا	مَآ اَرٰى
که راسی (دا عذاب) موږ ته	وویل	فرعون	چې زه نه ښیم تاسی ته	مګر	هم هغه چې وینم زه

که راسی (دا عذاب) موږ ته، وویل فرعون چې زه نه ښیم تاسی ته مګر هم هغه (مصلحت) چې وینم زه (په وړلو دموسٰی کی)

وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ وَاِنْ. دتیر مغ پاته بیان دلته وګوری: او دغه سړي حضرت موسی علیه السلام ته دا مشوره ورکړه چې دمصر څخه دباندې ولاړ سه چې واقعه یې په سورت القصص کي راغلې ده ددغه شخص نوم ځیني علماوو حبیب ښوولی دی مګر صحیح داده چې حبیب دهغه سړي نوم دی دکم قصه چې په سورت یس کي راغلې ده ددغه سړي نوم شمعان دی: سهیلي دا نوم زیات صحیح مقرر کړی دی او نورو حضراتو بیا دده نوم حزقیل ښوولی دی ثعلبي دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه دا قول نقل کړی دی: په یو حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي صدیقین څو تنه دي یو حبیب نجار چي قصه یي په سورت یس کي تیره سویده. دوهم مومن دآل فرعون، دریم ابو بکر رضی الله عنه او دی په دي ټولو کي افضل دی یکتم ایمانه ددي څخه معلومه سوه چي یو سړی که دخلګو په مخکي دخپل ایمان اظهار نه کوي او په زړه سره پخه اراده لري نو هغه مومن دی لیکن صحیح داده چي دژبي اقرار شرط دی مګر په اعلان یي بیا نه دی شرط. معارف القرآن ج۷ پ۲۴ ص۴۵

وَمَآ اَهۡدِيۡكُمۡ اِلَّا سَبِيۡلَ الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الَّذِيۡۤ اٰمَنَ

وَمَآ اَهۡدِيۡكُمۡ	اِلَّا	سَبِيۡلَ	الرَّشَادِ	وَقَالَ	الَّذِيۡۤ	اٰمَنَ
او نه بنیم زه تاسی ته	مگر	لاره	دنیکی	او وویل	هغه (سړی)	چی ایمان یئ راوړی وو

او نه بنیم زه تاسی ته (ای قبطیانو!) مگر لاره د نیکی (او د مصلحت) . او وویل هغه (سړی) چی ایمان یئ راوړی وو

يٰقَوۡمِ اِنِّيۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ مِّثۡلَ يَوۡمِ الۡاَحۡزَابِ ﴿۳۰﴾

يٰقَوۡمِ	اِنِّيۡۤ	اَخَافُ	عَلَيۡكُمۡ	مِّثۡلَ	يَوۡمِ	الۡاَحۡزَابِ
ای قومه زما	بیشکه! زه	بیریږم	پر تاسی	په مثل د (عذاب)	دورځی	دډلو (دپخوانیو)

ای قومه زما بیشکه! زه بیریږم پر تاسی (په تکذیب د موسیٰ کښی) په مثل د (عذاب) دورځی د ډلو (دپخوانیو)

مِثۡلَ دَاۡبِ قَوۡمِ نُوۡحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوۡدَ وَالَّذِيۡنَ

مِثۡلَ	دَاۡبِ	قَوۡمِ	نُوۡحٍ	وَّعَادٍ	وَّثَمُوۡدَ	وَالَّذِيۡنَ
په مثل	دحال	دقوم	دنوح	او (په شان) دعادیانو	او (په شان) د ثمودیانو	او هغه کفار

په مثل د حال د قوم د نوح (چی ډوب سول) او (په شان) د عادیانو (چی په باد هلاک سول) او (په شان) د ثمودیانو او هغه کفار

مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيۡدُ ظُلۡمًا لِّلۡعِبَادِ ﴿۳۱﴾ وَيٰقَوۡمِ

مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ ؕ	وَمَا	اللّٰهُ	يُرِيۡدُ	ظُلۡمًا	لِّلۡعِبَادِ	وَيٰقَوۡمِ
چی وروسته له دوی څخه وو	او نه دی	الله	چی اراده لری	د ظلم	پر بندګانو خپلو	او ای قومه! زما

چی وروسته له دوی څخه وو ، او نه دی الله چی اراده لری د ظلم پر بندګانو خپلو . او ای قومه! زما

اِنِّيۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ التَّنَادِ ﴿۳۲﴾ يَوۡمَ تُوَلُّوۡنَ

اِنِّيۡۤ	اَخَافُ	عَلَيۡكُمۡ	يَوۡمَ	التَّنَادِ	يَوۡمَ	تُوَلُّوۡنَ
بیشکه! زه	بیریږم	پر تاسی	له ورځی	درابللو	هغه ورځ	چی وګرځئ تاسی

بیشکه! زه بیریږم پر تاسی له (عذابه د) ورځی د رابللو (په چغو سره یو بل ته) هغه ورځ چی وګرځئ تاسی

مُدۡبِرِيۡنَ ۚ مَا لَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ مِنۡ عَاصِمٍ ۚ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ

مُدۡبِرِيۡنَ	مَا لَكُمۡ	مِّنَ	اللّٰهِ	مِنۡ عَاصِمٍ	وَمَنۡ يُّضۡلِلِ
شا اړوونکی	نو نه به وی تاسی ته	له (عذاب)	د الله	هیڅوک ساتونکی	او هر هغه چی ګمراه یئ کړی

شا اړوونکی (په طرف د دوزخ) نو نه به وی تاسی ته له (عذابه) د الله هیڅوک ساتونکی او هر هغه چی ګمراه یئ کړی

اِنِّيۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ التَّنَادِ.. دقیامت په ورځ به بې شمیره چیغي او اوازونه وي: دحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي کله دقیامت ورځ سي نو دالله جل جلاله یو اواز کوونکی به آواز وکړي چي دالله جل جلاله مخالف خلگ دي ودریږي ددې څخه به مراد هغه خلگ وي کمو چي دتقدیر څخه انکار کوی او بیا به جنتیان دوږخیانو ته او دوږخ والا جنتیانو ته او اصحاب الاعراف داوړو ته اوازونه وکړي خپلي خپلي خبري به وکړي او دغه وخت به دهر خوش نصیب او بد نصیب نوم سره دولدیت څخه واخیستل سي دهغه دنتیجي اعلان به وسي چي فلانی دفلاني زوی خوش نصیب او کامیابه سو ددې څخه وروسته دده دبدنصیبی هیڅ احتمال نسته: او بیا به اعلان وسي چي فلانی دفلانـي زوی بدبخت سو اوس دده ده نیک بختی هیڅ احتمال نسته. دحضرت انس رضی الله عنه دروایت څخه داسي معلومیږي چي دغه دنیکبختی او بدبختی اعلان به دوزن دعملونو څخه وروسته وسي: والله اعلم
معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۴۶

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ

اللّٰهُ	فَمَا لَهٗ	مِنْ هَادٍ	وَلَقَدْ	جَآءَكُمْ	يُوْسُفُ
الله	نو نه به وی ده ته	هیڅوک لار ښوونکی	او خامخا په تحقیق	راغلی وو تاسی ته	یوسف

الله نو نه به وی ده ته هیڅوک هادی لار ښوونکی. او خامخا په تحقیق راغلی وو تاسی ته یوسف

مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ

مِنْ قَبْلُ	بِالْبَيِّنٰتِ	فَمَا زِلْتُمْ	فِيْ شَكٍّ	مِّمَّا	جَآءَكُمْ
پخوا له (موسیٰ) څخه	په ښکاره وو دلائلو	پس همیشه به وئ تاسی	په شک کښی	له هغه چی	راغلی ؤ دی تاسی ته

پخوا له (موسیٰ څخه) په ښکاره وو دلائلو پس همیشه به وئ تاسی په شک (گمان) کښی له هغه چی راغلی ؤ دی تاسی ته

بِهٖ حَتّٰٓى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ

بِهٖ	حَتّٰٓى	اِذَا	هَلَكَ	قُلْتُمْ	لَنْ يَّبْعَثَ	اللّٰهُ	مِنْۢ بَعْدِهٖ
په هغه سره	تر هغه پوری	کله چی	وفات سو	نو وویل تاسی	چی له سره به راونه لیږی	الله	وروسته له دغه (یوسف)

په هغه سره، تر هغه پوری کله چی وفات سو (یوسف) نو وویل تاسی چی له سره به راو نه لیږی الله وروسته له دغه (یوسف)

رَسُوْلًا ۭ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُۚ ﴿٣٤﴾

رَسُوْلًا	كَذٰلِكَ	يُضِلُّ	اللّٰهُ	مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ	مُّرْتَابُ
هیڅ رسول	هم داسی	گمراه کوی	الله	هر هغه لره چی له حده تیریدونکی وی	شک راوړونکی وی

هیڅ رسول. هم داسی (لکه دغه اضلال) گمراه کوی الله هر هغه لره چی مسرف له حده تیریدونکی وی شک راوړونکی وی

الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۭ

الَّذِيْنَ	يُجَادِلُوْنَ	فِيْٓ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	بِغَيْرِ	سُلْطٰنٍ	اَتٰىهُمْ
هغه کسان	چی جگړی کوی	په	دلائلو	دالله کښی	بی له کوم	برهان، علمی سند	چی راغلی وی دوی ته

هغه کسان چی جگړی کوی (له انبیاؤ سره) په دلائلو دالله کښی بی له کوم برهان، علمی سنده چی راغلی وی دوی ته

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ كَذٰلِكَ

كَبُرَ	مَقْتًا	عِنْدَ اللّٰهِ	وَعِنْدَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	كَذٰلِكَ
ډیر لوی دی	له جهته دبغض او ناخوښئ	په نزد دالله	او په نزد	دهغو کسانو	چی ایمان ئ راوړی دی	هم داسی (لکه دغه)

ډیر لوی دی (دغه دجال) له جهته دبغض په نزد دالله او په نزد د هغو کسانو چی ایمان ئ راوړی دی، هم داسی (لکه دغه)

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ.

په ورځ دقیامت به مجرمان بیرته شاته بوتلل سي: دسورت مومن درودیرشم ۳۳ آیت دی چي معنی یي داده چي کله تاسي په شا باندي بیرته بیول کیږی: امام بغوي رحمة الله علیه ددې مطلب دا بیان کړی دی چي دادهغه حالت بیان دی کله چي مجرمان دموقف دحساب څخه دجهنم طرف ته بیول کیږي: ددې مطلب دادی چي اول به دا اوازونه او اعلانات دکمو ذکر چي ديوم التناد په تفسیر کي تیر سوی دی دغه ټول وسي ددې څخه وروسته به دغه خلگ دحساب دموقف څخه بیرته راسي او دجهنم طرف ته به ولاړ سي. او دځینو مفسرینو حضراتو په نزد داحال په دنیا کي داولي شپیلی دوخت بیان سوی دی چي کله اول شپیلی ووهل سي او مځکه ځیري سي نوداخلگ به یوې خوا بلي خواته ځغلي مگر هر طرف ته به ملایکي ولاړي وي دوتو لار به نه وي ددغه حضراتو په نزد ديوم التناد څخه مراد هم داولي شپیلی وخت دی چي په دي کي به هر طرف ته چیغي وي او ناري به وي الخ.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۴۷)

يَطۡبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلۡبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ۝۳۵ وَقَالَ

يَطۡبَعُ	اللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ	قَلۡبِ	مُتَكَبِّرٍ	جَبَّارٍ	وَقَالَ
مهروهي	الله	پر	هر	زړه	دکبرجن	ډیر سرکښه جبر کوونکی	او وویل

مهروهي الله (دکفر او شقاوت) پر هر زړه د متکبر (سرکش) ډیر جبر کوونکی. او وویل

فِرۡعَوۡنُ يٰهَامٰنُ ابۡنِ لِيۡ صَرۡحًا لَّعَلِّيۡۤ اَبۡلُغُ الۡاَسۡبَابَ ۝۳۶

فِرۡعَوۡنُ	يٰهَامٰنُ	ابۡنِ لِيۡ	صَرۡحًا	لَّعَلِّيۡۤ	اَبۡلُغُ	الۡاَسۡبَابَ
فرعون	ای هامان	جوړه کړه ماته	یوه مانۍ ډیره لوړه	ښایئ چی زه	ورسیږم	لاروته (په دغوختلو سره)

فرعون ای هامان (زما وزیره) جوړه کړه ماته یوه مانۍ ډیره لوړه او چته ښایئ ورسیږم لاروته (په دغو ختلو سره).

اَسۡبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰۤى اِلٰهِ مُوۡسٰى وَاِنِّيۡ

اَسۡبَابَ	السَّمٰوٰتِ	فَاَطَّلِعَ	اِلٰۤى اِلٰهِ	مُوۡسٰى	وَاِنِّيۡ
لارو	دآسمانونو ته	پس چی زه له لری څخه وګورم	طرف د الله	دموسیٰ ته	او بیشکه! زه

لارو دآسمانونو ته پس چی زه له لری څخه وګورم الله د موسیٰ ته (چی آیا سته که نسته) او بیشکه! زه

لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرۡعَوۡنَ سُوۡٓءُ عَمَلِهٖ

لَاَظُنُّهٗ	كَاذِبًا	وَكَذٰلِكَ	زُيِّنَ	لِفِرۡعَوۡنَ	سُوۡٓءُ	عَمَلِهٖ
ګمان کوم پر دغه (موسیٰ)	د دروغجن	او هم داسی	ښائسته کړی سوی وه	فرعون ته	بدی	دعمل دده

ګمان کوم پر دغه (موسیٰ) د دروغجن (په دغه دعوی کښی) او هم داسی ښائسته کړی سوی وه فرعون ته بدی دعمل د ده

وَصُدَّ عَنِ السَّبِيۡلِ ؕ وَمَا كَيۡدُ فِرۡعَوۡنَ اِلَّا فِيۡ تَبَابٍ ۝۳۷ ع ۴ ۱۰ ۹

وَصُدَّ	عَنِ	السَّبِيۡلِ	وَمَا	كَيۡدُ	فِرۡعَوۡنَ	اِلَّا	فِيۡ تَبَابٍ
او منع کړی سوی ؤ دی	له	سمی لاری	او نه وو	دغه مکر	دفرعون	مګر	په زیان کاری هلاکولو کښی وو

او منع کړی سوی ؤ دی له سمی لاری (دهدایت)، او نه وو دغه مکر، فریب دفرعون مګر په زیان کاری هلاکولو کښی وو

وَقَالَ الَّذِيۡۤ اٰمَنَ يٰقَوۡمِ اتَّبِعُوۡنِ اَهۡدِكُمۡ

وَقَالَ	الَّذِيۡۤ	اٰمَنَ	يٰقَوۡمِ	اتَّبِعُوۡنِ	اَهۡدِكُمۡ
او وویل	هغه (سړی)	چی ایمان یئ راوړی وو	ای قومه زما	متابعت وکړئ زما	چی وښیم تاسی ته

او وویل هغه (سړی) چی ایمان یئ راوړی وو ای قومه زما متابعت وکړئ زما چی وښیم تاسی ته

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ يٰهَامٰنُ ابۡنِ لِيۡ صَرۡحًا. فرعون دجګي ابادي دجوړولو سرکاري امر ورکړی: دصرح معنی جګه آبادي ده ظاهر ددې دادی چي فرعون خپل وزیر هامان ته حکم ورکی چي یوه داسي جګه آبادي جوړه کړه چي آسمان ته نژدي وي چي زه وروخیژم خدای ﷻ وګورم دااحمقانه خیال کم چي دیو ادنی پوهي سړی هم نه سي کولای یا خو دمصر دحکومت دپاچا فرعون واقعي دی چي دده دانتهایي بې عقلی او حماقت دلیل دی او که وزیر هم په دې عمل وکی نود. وزیر چنین شهر یاري چنین. یعني چي داسي وزیران وي داسي به یي بادشاهان وي: مصداق دی مګر دیو مشر دملک څخه هم دداسي احمقانه او بې عقلانه تصور امید نه سي کیدای په دې وجه مفسرین حضرات وایي چي په دې خو دی په خپله هم پوه وو چي که هر څومره لوړمکان جوړسي خواسمان ته نه سي رسیدای مګر دخپلو خلګو له بې وقوفه جوړولو او ځان ښوولو دپاره یي داحرکت کړی وو بیا په یو صحیح اوقوي روایت سره دا ثابته هم نه ده: پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

سَبِيْلَ الرَّشَادِ ۟ يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ﴿۳۸﴾

سَبِيْلَ	الرَّشَادِ	يٰقَوْمِ	اِنَّمَا	هٰذِهِ	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَا
لاره	دنیکی	ای قومه زما	بیشکه! هم داخبره ده	چی دغه	ژوندون	ددنیا

لاره د هدایت. ای قومه زما بیشکه! هم داخبره ده چی دغه ژوندون د دنیا

مَتَاعٌ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنْ عَمِلَ

مَتَاعٌ	وَّاِنَّ	الْاٰخِرَةَ	هِيَ	دَارُ الْقَرَارِ	مَنْ عَمِلَ
یوه گټه لږه ده	او بیشکه!	آخرت	هم هغه	دی کور د قراری	هر څوک چی وکړی

یوه متاع (گټه لږه) ده او بیشکه! آخرت هم هغه دی کور د قراری (بی زواله). هر څوک چی وکړی

سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا

سَيِّئَةً	فَلَا يُجْزٰٓى	اِلَّا	مِثْلَهَا	وَمَنْ	عَمِلَ	صَالِحًا
بد کار	پس جزا نه ورکوله کیږی	مگر	په قدر د هم هغی بدی	او هر څوک چی	وکړی	نیک کار

بد کار پس جزا نه ورکوله کیږی (هغه ته) مگر په قدر د هم هغی بدی او هر څوک چی وکړی نیک کار

مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ

مِّنْ ذَكَرٍ	اَوْ اُنْثٰى	وَهُوَ	مُؤْمِنٌ	فَاُولٰٓئِكَ	يَدْخُلُوْنَ	الْجَنَّةَ
له نارینه ؤ وی	یا له ښځو وی	حال داچی دی	مؤمن وی	پس دغه	ننه به وځی	په جنت کښی

له نارینه ؤ وی یا له ښځو وی حال داچی دی مؤمن وی پس دغه (صالحان مؤمنان) ننه به وځی په جنت کښی

يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾ وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ

يُرْزَقُوْنَ	فِيْهَا	بِغَيْرِ	حِسَابٍ	وَيٰقَوْمِ	مَالِيْٓ
رزق، روزی به ورکوله کیږی	په دغه جنت کښی	بی له	حسابه	او ای قومه زما	څه دی ما لره

رزق، روزی به ورکوله کیږی (دوی ته) په دغه جنت کښی بی حسابه. او ای قومه زما څه دی ما لره

اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾ ط

اَدْعُوْكُمْ	اِلَى	النَّجٰوةِ	وَتَدْعُوْنَنِيْٓ	اِلَى النَّارِ
چی بولم تاسی	په طرف	دنجات	او بولئ تاسی ما	په طرف د اور (د دوزخ)

چی بولم تاسی په طرف دنجات (او خلاصی) او بولئ تاسی ما په طرف داور (د دوزخ)

يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ...د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری:

چي داسي څه لوړ او عاليشان محل يي جوړ کی که نه ؟: قرطبي رحمة الله عليه نقل کړي دي چي دالوړه ابادي يي جوړه کړې وه کمه چي بلندی ته درسيدو سره ونړيده. ددارالعلوم ديوبند داولني صدر مدرس مولانا محمد يعقوب صاحب رحمة الله عليه خاص شاګرد مولانا محمد ياسين صاحب رحمة الله عليه چي دحضرت مفتي شفيع رحمة الله عليه پلارکيږي دی دخپل استاذ څخه نقل کوي فرمايي چي ددغي لوړي مانۍ دنړولو دپاره ضروري نه ده چي څه آسماني عذاب راغلی وي بلکي دهري ابادی بلندي ددې دبنيادونو په تحمل سره موقوفه وي ده که هر څومره زور بنيادونه ايښي وي مګرتر يوحده پوري به زوروه کله چي پر دې بادي لوړيده نو لازمه وه چي کله دانسانانو دتحمل څخه زياته سي نو ونړيږی په دي سره دفرعون او هامان بله بې وقوفي ثابته سوه والله سبحانه وتعالی اعلم. ددې څخه معلومه سوه چي داقتدار نشه ډيره بده نشه ده چي انسان کله کله احمق او بې عقل جوړوي.

معارف القرآن ج ۸ پ۲۴ ص ۴۸

نصف

تَدْعُوْنَنِيْ لِاَ كْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ

تَدْعُوْنَنِيْ	لِاَ كْفُرَ	بِاللّٰهِ	وَاُشْرِكَ	بِهٖ	مَا لَيْسَ	لِيْ
بولئ تاسی ما	دپاره ددی چی کفر اختیار کړم	په الله پوری	او چی شریک ونیسم	له دغه (الله) سره	هغه چی نسته	ماته

بولئ تاسی ما دپاره ددی چی کفر اختیار کړم په الله پوری او چی شریک ونیسم له دغه (الله) سره هغه (شی) چی نسته ماته

بِهٖ عِلْمٌ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ لَا جَرَمَ

بِهٖ	عِلْمٌ	وَّاَنَا	اَدْعُوْكُمْ	اِلَى الْعَزِيْزِ	الْغَفَّارِ	لَا جَرَمَ
په هغه شی	علم	او چی زه	بولم تاسی	هغه (الله) ته چی ښه غالب قوی دی	ښه مغفرت کوونکی دی	حقه او ریښتیا خبره ده

په هغه شی علم ، حال دا چی زه بولم تاسی هغه (الله) ته چی ښه غالب قوی دی ښه مغفرت کوونکی دی. حقه او ریښتیا خبره ده

اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا

اَنَّمَا	تَدْعُوْنَنِيْٓ	اِلَيْهِ	لَيْسَ	لَهٗ	دَعْوَةٌ	فِي الدُّنْيَا
بیشکه! هغه چی	بولئ تاسی ما (عبادت د)	هغه ته	نسته	هغه ته	(قوت د) بلنی	(نه) په دنیا کښی

بیشکه! هغه (معبود) چی بولئ تاسی ما (عبادت د) هغه ته نسته هغه ته (قوت د) بلنی (نه) په دنیا کښی

وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَى اللّٰهِ وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ

وَلَا فِي الْاٰخِرَةِ	وَاَنَّ	مَرَدَّنَآ	اِلَى اللّٰهِ	وَاَنَّ	الْمُسْرِفِيْنَ	هُمْ
او نه په آخرت کښی	او بیشکه! چی	ورتله زموږ	خاص الله ته دی	او بیشکه! چی	له حده تیریدونکی	هم دوی

او نه په آخرت کښی، او بیشکه! چی ورتله زموږ خاص الله ته دی او بیشکه! چی له حده تیریدونکی (مشرکان) هم دوی

اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۴۳﴾ فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۭ

اَصْحٰبُ	النَّارِ	فَسَتَذْكُرُوْنَ	مَآ	اَقُوْلُ	لَكُمْ
ملګری	داور (د دوزخ) دی	پس ژر ده چی یاد به کړئ تاسی	هغه چی	زه یئ وایم اوس	تاسی ته

ملګری د اور (د دوزخ) دی (چی تل پکښی او سیږی). پس ژر ده چی یاد به کړئ تاسی چی زه یئ وایم اوس تاسی ته

وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾

وَاُفَوِّضُ	اَمْرِيْٓ	اِلَى اللّٰهِ	اِنَّ	اللّٰهَ	بَصِيْرٌۢ	بِالْعِبَادِ
او سپارم زه	هر کار خپل	الله ته	بیشکه! چی	الله	ښه لیدونکی دی	د بندګانو

او سپارم زه هر کار خپل الله ته بیشکه! چی الله ښه لیدونکی دی(د ټولو اقوالو او افعالو) د بندګانو .

فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۭ... دال فرعون دمومن اخري خبره : دا دآل فرعون دمومن آخري خبره ده کمه چي یي خپل قوم ته دحق ته دبلني په سلسله کي کړیده چي په دي کي اظهار دی چي نن خو تاسي زما خبره نه منی مګر کله چي عذاب تاسي ونیسي نو دغه وخت به تاسي ته زما دخبري حقیقت درمعلوم سي مګر ددغه وخت یادیدل به بې کاره وي او اوس کله چي ددې اوږدې مکالمې او نصیحت او دعوت په ذریعه دآل فرعون ددې مومن ایمان دی خلګو ته ظاهر سو نو فکر وسو ورسره چي اوس خو به داخلګ په ده پسې سي په دې وجه یي وفرمایل چي زه خپله معامله الله جل جلاله ته سپارم هغه دخپلو بندګانو نګران او محافظ دی: دتفسیر شریف امام مقاتل رحمة الله علیه فرمايي چي دده دګمان مطابق دفرعون قوم په ده پسي سو نو دی دغره طرف ته وتښتیدی او ددوی په ګرفت کي رانه غلی چي ذکر یي په مخ ته آیت کي داسي راغلی دی: فوقاه الله سیئآت ما مکروا یعني دی الله جل جلاله دفرعون دقوم دبدو تدبیرونو څخه وساتی. (معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۴۹)

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ

فَوَقٰىهُ	اللّٰهُ	سَيِّاٰتِ	مَا مَكَرُوْا	وَحَاقَ	بِاٰلِ	فِرْعَوْنَ
پس وساته دغه له	الله	له سختو عذابونو	دهغو چې مکر کړی وو دوی	او راتاو سو	پر آل	دفرعون

پس وساته دغه (موسٰی یا مؤمن سړی) لره الله له سختو (عذابونو) دهغو چې مکر کړی وو دوی او چاپېر سو په آل دفرعون

سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿٤٥﴾ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا

سُوْٓءُ	الْعَذَابِ	اَلنَّارُ	يُعْرَضُوْنَ	عَلَيْهَا	غُدُوًّا
بد	عذاب	اور (د دوزخ)	پيش کولی سی دوی	پردی (اور)	هر سهار

بد عذاب (دغرق په دنيا). اور (د دوزخ) وړاندی کاوه سی (دا کفار) پر دی (اور) هر سهار

وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۗ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ

وَّعَشِيًّا	وَيَوْمَ	تَقُوْمُ	السَّاعَةُ	اَدْخِلُوْٓا	اٰلَ فِرْعَوْنَ
او هر ماښام	او په هغه ورځ کښې	چې قائم سی	قيامت	ننه باسئ تاسی	آل دفرعون

او هر ماښام، او په هغه ورځ کښې چې قائم سی قيامت، ننه باسئ تاسی آل د فرعون (سره له فرعون)

اَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِى النَّارِ فَيَقُوْلُ

اَشَدَّ	الْعَذَابِ	وَاِذْ	يَتَحَآجُّوْنَ	فِى النَّارِ	فَيَقُوْلُ
په ډير سخت	عذاب کښې	او هغه چې	جګړه به کوی دوی	په اور کښې	پس وبه وايئ

په ډير سخت عذاب کښې. او (يادکړی) هغه چې جګړه به کوی (دوزخيان د دوزخ) په اور کښې پس وبه وايئ

الضُّعَفٰٓؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ

الضُّعَفٰٓؤُا	لِلَّذِيْنَ	اسْتَكْبَرُوْٓا	اِنَّا	كُنَّا	لَكُمْ	تَبَعًا	فَهَلْ
ضعيفان	هغو کسانو ته	چې سرکشان وو	بيشکه! موږ	وو	تاسی ته	تابعان	پس آيا اوس

ضعيفان (کشران تابعان) هغو کسانو ته چې سرکشان (او مشران وو) بيشکه! وو موږ تاسی ته تابعان پس آيا اوس

اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ الَّذِيْنَ

اَنْتُمْ	مُّغْنُوْنَ	عَنَّا	نَصِيْبًا	مِّنَ النَّارِ	قَالَ	الَّذِيْنَ
يئ تاسی	دفع کوونکی	له موږ څخه	کومه برخه	له اوره	وايئ	هغه کسان

يئ تاسی دفع کوونکی له موږ څخه کومه برخه له اوره (د دوزخ). وايئ هغه کسان

وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِى النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا. دکفارو به دوږخ کي دننه ديو بل سره جګړې: په دغه اياتونو کي دالله ﷻ ارشاد دی چي هغه وخت ديادوولو قابل دی کله چي کفار به په دوږخ کي ديو بل سره جګړې کوي: نودادنی درجې خلګ يعني تابعين به دلويي درجې خلګو يعني متبوعينو او خپلو مشرانو ته دکمو چي هغوی په دنيا کي تابعداري کوله وو ايي چي موږ په دنيا کي ستاسي تابع وو ايا تاسي زموږ څخه داورڅه حصه ليري کولی سی يعني چي کله په دنيا کي تاسي موږ خپل تابعداران او پيروان جوړ کړي واست نو نن تاسي ته پکار دي چي زموږ مدد وکی دغه لوی خلګ به ورته وو ايي چي موږ ټول په دوږخ کي يو يعني موږ خپل عذاب نه سو کمولای نو ستاسي به څه کم کړو الله ﷻ دخپلو بندګانو په مينځ کي قطعي فيصله وکړه او ددې دخلاف کولو دهيڅ چا مجال نسته او ددې څخه وروسته ټومره خلګ چي په دوږخ کي وي يعني لوی او واړه تابع او متبوع ټول به په جمع دجهنم دامقررو ملايکو ته وو ايي. پاته بيان پر راروان مخ وګوری

اسۡتَكۡبَرُوۡۤا اِنَّا كُلٌّ فِيۡهَاۤ اِنَّ اللّٰهَ قَدۡ حَكَمَ بَيۡنَ

اسۡتَكۡبَرُوۡۤا	اِنَّا	كُلٌّ	فِيۡهَاۤ	اِنَّ	اللّٰهَ	قَدۡ	حَكَمَ	بَيۡنَ
چي تکبريئ کړی ؤ	بيشکه! موږ	ټول	په دوزخ کښې يو	بيشکه!	الله	په تحقيق	حکم کړی دی	په مينځ

چي تکبريئ کړی ؤ (سرکش وو) بيشکه! موږ ټول په دوزخ کښې يو بيشکه! الله په تحقيق حکم کړی دی په مينځ

الۡعِبَادِ ۝٤٨ وَقَالَ الَّذِيۡنَ فِى النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ

الۡعِبَادِ	وَقَالَ	الَّذِيۡنَ	فِى النَّارِ	لِخَزَنَةِ	جَهَنَّمَ
دبندګانو کښې	او وبه وايئ	هغه کسان (چي پراته دي)	په اور کښې	خزانچيانو ، متصرفانو فرشتو	د دوزخ ته

د بندګانو کښې ، او وبه وايئ هغه کسان (چي پراته دي) په اور کښې خزانچيانو متصرفانو ملائيکو د دوزخ ته

ادۡعُوۡا رَبَّكُمۡ يُخَفِّفۡ عَنَّا يَوۡمًا مِّنَ الۡعَذَابِ ۝٤٩

ادۡعُوۡا	رَبَّكُمۡ	يُخَفِّفۡ	عَنَّا	يَوۡمًا	مِّنَ	الۡعَذَابِ
چي دعاء وکړئ	رب خپل ته	چي سپک کړي	له موږ	يوه ورځ	له	عذابه

چي دعاء وکړئ (زموږ دپاره) رب خپل ته چي سپک کړی له موږه يوه ورځ له عذابه (چي لږ څه په آرام سو).

قَالُوۡۤا اَوَلَمۡ تَكُ تَاۡتِيۡكُمۡ رُسُلُكُمۡ بِالۡبَيِّنٰتِ ؕ قَالُوۡا

قَالُوۡۤا	اَوَلَمۡ تَكُ	تَاۡتِيۡكُمۡ	رُسُلُكُمۡ	بِالۡبَيِّنٰتِ	قَالُوۡا
وبه وايئ	آيا نه ؤ	راغلي تاسي ته	رسولان ستاسي	په دلائلو ښکاره ؤ	وايئ (ولې نه)

وبه وايئ (متصرفان دوزخيانو ته) آيا نه ؤ راغلي تاسي ته رسولان ستاسي په دلائلو ښکاره ؤ (دقدرت)، وايئ (ولې نه)

بَلٰى ؕ قَالُوۡا فَادۡعُوۡا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا الۡكٰفِرِيۡنَ اِلَّا فِىۡ ضَلٰلٍ ۝٥٠ ع

بَلٰى	قَالُوۡا	فَادۡعُوۡا	وَمَا دُعٰٓؤُا	الۡكٰفِرِيۡنَ	اِلَّا	فِىۡ ضَلٰلٍ
بلکه راغلي ؤ	نو وبه وايئ	پس وبولئ تاسي	او نه ده دعاء	دکافرانو	مګر	په ګمراهي کښې

بلکه راغلي ؤ نو وبه وايئ (متصرفان د دوزخ) پس وبولئ تاسي (پخپله الله) او نه ده دعاء د کافرانو مګر په ګمراهي کښې.

اِنَّا لَنَنۡصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا فِى الۡحَيٰوةِ

اِنَّا	لَنَنۡصُرُ	رُسُلَنَا	وَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	فِى الۡحَيٰوةِ
بيشکه! موږ	خامخا مرسته کوو	له رسولانو خپلو سره	او د هغو کسانو سره	چي ايمان يئ راوړی دی	په ژوندانه

بيشکه! چي موږ خامخا مرسته، مدد کوو له رسولانو خپلو سره او د هغو کسانو سره چي ايمان يئ راوړی دی په ژوندانه

ادۡعُوۡا رَبَّكُمۡ يُخَفِّفۡ عَنَّا يَوۡمًا مِّنَ الۡعَذَابِ. دتيـر
مخ پاته بيان دلته وګورى
ددرخواست په طور باندي
چي تاسي خپل رب ته دعا
وکړی چي يوه ورځ خوموږ
څخه عذاب سپک کړي
يعني دعذاب دبالکل
دليري کيدويا دهميشه
دپاره دکميدو اميد خو
نسته ليکن کم ازکم چي
ديوې ورځې چُټي
خوورکولی سی ملايکي
به ووايي چي دا وواياست
ايا تاسي ته ستاسي
پيغمبرانو معجزې نه وې
راوړې ؟او ددوزخ څخه
دمحفوظه کيدو طريقې
يي نه وې درته ښوولي؟
دوزخيان به ووايي چي هو
راغلي خو وه مګر موږ يي
خبره ونه منله ملايکي به
ووايي چي بيا خوموږ
ستاسي دپاره دعا نه
سوکولای ځکه چي
دکافرانو دپاره ددعا کولو
موږ ته اجازه نسته تاسي
که زړه مو غواړي نو په
خپله دعا وکی او ستاسي
ددعا به هم هيڅ نتيجه نه
وي ځکه چي دکافرانو دعا
په آخرت کي محض بې
اثره ده ځکه چي په آخرت
کي هيڅ دعا بغير دايمان
څخه نه سي قبليدای او
دايمان موقع په دنيا کي
وه هغه ددوی دلاس څخه
ولاړه نور نو صبر سی الخ.
معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۵۱)

ع ۱۳ ۱۰

الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ

الدُّنْيَا	وَيَوْمَ	يَقُومُ	الْأَشْهَادُ	يَوْمَ	لَا يَنْفَعُ
د دنيا كښې	او په هغه ورځ	چې وبه درېږي	شاهدان	په هغې ورځې كښې به	هيڅ نفع نه رسوي

د دنيا كښې ، او په هغه ورځ چې وبه درېږي شاهدان ، په هغې ورځې كښې به هيڅ نفع نه رسوي

الظّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ

الظّٰلِمِينَ	مَعْذِرَتُهُمْ	وَلَهُمُ	اللَّعْنَةُ	وَلَهُمْ	سُوٓءُ
ظالمانو ته	معذرت عذرونه د دوی	او سته دوی ته	لعنت لرېوالی له رحمته	او سته دوی ته	ناكاره

ظالمانو ته معذرت عذرونه د دوی او سته دوی ته لعنت لرېوالی له رحمته او سته دوی ته ناكاره

الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا

الدَّارِ	وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوسَى	الْهُدٰى	وَاَوْرَثْنَا
كور (د دوزخ)	او خامخا په تحقيق	وركړی وو موږ	موسیٰ ته	هدايت (تورات)	او په ميراث مو وركړ

كور (د دوزخ) . او خامخا په تحقيق وركړی وو موږ موسیٰ ته (اموږ) هدايت (تورات) او په ميراث مو وركړ

بَنِيٓ اِسْرَآءِيلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي

بَنِيٓ اِسْرَآءِيلَ	الْكِتٰبَ	هُدًى	وَّذِكْرٰى	لِاُولِي
بني اسرائيلو ته	كتاب (تورات)	چې سمه لار ښوونكې ؤ	او پند وو	دپاره د خاوندانو

بني اسرائيلو ته كتاب (د تورات) په دې حال كښې چې هدايت سمه لاره ښوونكې ؤ او پند وو دپاره د خاوندانو

الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ

الْاَلْبَابِ	فَاصْبِرْ	اِنَّ	وَعْدَ	اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّاسْتَغْفِرْ
د خالصو عقلونو	پس صبر وكړه (محمده)	بيشكه!	چې وعده	د الله	حقه ده	او مغفرت وغواړه

د خالصو عقلونو. پس صبر وكړه (ای محمده!) بيشكه! چې وعده د الله حقه ده (په نصرت د انبياؤ) او مغفرت وغواړه

لِذَنْبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿٥٥﴾

لِذَنْبِكَ	وَسَبِّحْ	بِحَمْدِ	رَبِّكَ	بِالْعَشِيِّ	وَالْاِبْكَارِ
دپاره د ګناه خپل	او تسبيح وايه	سره له ثناء	د رب خپل	هم په آخره د ورځې كښې	او په اوله د ورځې كښې

دپاره د ګناه (دامت) خپل (له الله) او تسبيح وايه سره له ثناء د رب خپل هم په آخره د ورځې كښې او په اوله د ورځې كښې.

الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْاَشْهَادُ..په دنيا كي دالله ﷻ نصرت دخپلو رسولانو او دهغو داطاعت كوونكو سره دی : په دغه آيت كي دالله ﷻ وعده ده چي هغه دخپلو رسولانو او مومنانو مدد كوي په دنيا كي هم په آخرت كي هم او ظاهره داده چي دا مدد په مقابله كي دمخالفينو او دښمنانو مقصود دی داكثرو انبياوو عليهم السلام لكه يحيي ؑ زكريا ؑ او شعيب ؑ كم چي دښمنانو شهيدان كړل يا ځينو يي وطن پرېښوولو او بل ځای ته يي هجرت وكی لكه حضرت ابراهيم ؑ او خاتم الا نبياء نبي كريم ﷺ ددې متعلق شبه كيدای سي چي دوی ولي په تكليف سوه ؟ ابن كثير رحمه الله په حواله دابن جرير رحمه الله دا جواب وركړی دی چي په آيت كي دنصرت څخه مراد انتصار او ددښمنانو څخه بدله اخيستل دي په خپله ددوی په موجودگی كي ددوی په لاسونو يا ددوی دوفات څخه وروسته : دامعنی په ټولو انبياوو او مومنانو كي بغير د څه استثناء څخه صادقه ده كمو خلگو چي خپل انبياء قتل كړل بيا هغوی په څنگه څنگه عذابونو كي گرفتاره سول: پاته بيان پر راروان مخ وگوری :

اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	يُجَادِلُوْنَ	فِيْٓ اٰيٰتِ	اللّٰهِ	بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ
بیشکه!	هغه کسان	چی جګړه کوی	په (بطلان) دآیتونو	دالله	بی له کوم علمی سند

بیشکه! هغه کسان چی مجادله جګړه کوی په (بطلان) د آیتونو دالله بی له کوم برهان علمی سند

اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ

اَتٰىهُمْ	اِنْ	فِيْ صُدُوْرِهِمْ	اِلَّا	كِبْرٌ	مَّا هُمْ	بِبَالِغِيْهِ
چی راغلی وی دوی ته	بیشکه!	چی نه دی په سینو ددوی کښی	مګر	کبر	چی نه دی دوی	رسیدونکی هغه ته

چی راغلی وی دوی ته بیشکه! چی نه دی په سینو د دوی کښی مګر کبر او سرکشی ده چی نه دی دوی رسیدونکی هغه ته

فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾ لَخَلْقُ

فَاسْتَعِذْ	بِاللّٰهِ	اِنَّهٗ	هُوَ	السَّمِيْعُ	الْبَصِيْرُ	لَخَلْقُ
پس پناه ونیسه	په الله پوری	بیشکه! دغه (الله)	هم دی دی	ښه اوریدونکی	ښه لیدونکی	خامخا پیدا کول

پس پناه ونیسه په الله پوری بیشکه! دغه (الله) هم دی دی ښه اوریدونکی ښه لیدونکی . خامخا پیدا کول

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	اَكْبَرُ	مِنْ خَلْقِ	النَّاسِ	وَلٰكِنَّ
د آسمانونو	او د ځمکی	ډیر لوی دی	له پیدا ایښته	دخلکو	او لیکن

د آسمانونو او د ځمکی ډیر لوی دی له پیدا ایښته د خلکو او لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى

اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ	وَمَا يَسْتَوِي	الْاَعْمٰى
اکثر	دخلکو	نه پوهیږی	او نه سره برابریږی	(یو) ړوند

اکثر د خلکو نه پوهیږی (په آسانی د دغه) . او نه سره برابریږی (یو) ړوند (غافل جاهل)

وَالْبَصِيْرُ ڏ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

وَالْبَصِيْرُ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوْا	الصّٰلِحٰتِ
او بل کتونکی	او هغه کسان	چی ایمان یئ راوړی دی	او کړی یئ دی	ښه (عملونه)

او بل کتونکی (عالم، ذاکر) او هغه کسان چی ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی ښه (عملونه)

اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: ددې ځخه تاریخ ډک دی دحضرت یحیی علیه السلام او زکریا علیه السلام او حضرت شعیب علیه السلام پر قاتلانو یې ددوی دښمنان مسلط کړل کمو چې هغوی ذلیل او خوار کړل او قتل یې کړل پر نمرود الله جل جلاله روم مسلط کی کمو چې هغوی ذلیل او خوار کړل او بیا به الله جل جلاله دقیامت ځخه مخکې مخکې دوی پر دښمنانو باندې غالبه کړې او دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دښمنان خو الله جل جلاله دمسلمانانو تر لاس لاندې کړل ددوی سرکښه سرداران ووژل سول ځینې قیدیان او بندیان راوستل سول او پاته په فتح دمکې کې ګرفتار سوي پیش سول کم چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم آزاد کړل ددوی کلمه په دنیا کې هم لوړه سول او هغه پر ټولو ادیانو باندې غالب سو په ټول جزیرة العرب کې ددوی په زمانه کې داسلام حکومت قائم سو. **یوم یقوم الاشهاد** : یعني په کمه ورځ چې ودریږي شاهدان: مراد ورځ دقیامت ده هلته خود انبیاوو او مومنانو دپاره د الله جل جلاله دنصرت خصوصي ظهور وي.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۵۵)

وَلَا الْمُسِيْٓءُ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ السَّاعَةَ

وَلَا الْمُسِيْٓءُ	قَلِيْلًا مَّا	تَتَذَكَّرُوْنَ	اِنَّ	السَّاعَةَ
او نه هغه چې بدکار دی	ډیر لږ	پند اخلئ تاسی (ای خلګو)	بیشکه!	چې قیامت

او نه هغه چې بدکار دی ، ډیر لږ پند اخلئ تاسی (ای خلګو). بیشکه! چې قیامت

لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

لَاٰتِيَةٌ	لَّا رَيْبَ	فِيْهَا	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ
خامخا راتلونکی دی	نشته هیڅ شک	په (راتلو) دهغه کښې	او لیکن	زیاتره	د خلګو

خامخا راتلونکی دی نشته هیڅ شک په (راتللو د) دغه (قیامت) کښې او لیکن زیاتره دخلګو

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ

لَا يُؤْمِنُوْنَ	وَقَالَ	رَبُّكُمُ	ادْعُوْنِيْٓ	اَسْتَجِبْ	لَكُمْ
ایمان نه راوړی	او فرمائی	رب ستاسی	تاسی وبولئ ما	چې قبلوم	تا سی ته (دعاء ستاسی)

ایمان نه راوړی (په قیامت) او فرمائی رب ستاسی (ای بندګانو زما) تاسی وبولئ ما چې قبلوم تا سی ته (دعاء ستاسی)

اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	يَسْتَكْبِرُوْنَ	عَنْ عِبَادَتِيْ	سَيَدْخُلُوْنَ
بیشکه!	هغه کسان	چې تکبر کوی	له عبادت ځخه زما	ژر ده چې ننه به وځی دوی

بیشکه! هغه کسان چې تکبر (سرکشی) کوی له عبادت ځخه زما ژر ده چې ننه به وځی دوی

جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ

جَهَنَّمَ	دٰخِرِيْنَ	اَللّٰهُ	الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الَّيْلَ
په دوزخ کښې	چې خوار ، سپک وی	الله	هغه (ذات) دی	چې ګرځولې یئ ده	تاسی ته	شپه

په دوزخ کښې په دی حال کښې چې خوار او سپک وی. الله هغه (ذات) دی چې ګرځولې یئ ده تاسی ته شپه

لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ

لِتَسْكُنُوْا	فِيْهِ	وَالنَّهَارَ	مُبْصِرًا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَذُوْ	فَضْلٍ
لپاره ددی چې آرام وکړئ تاسی	په هغې کښې	او ورځ	روښانه	بیشکه!	الله	خامخا خاوند	دفضل دی

لپاره د دی چې آرام وکړئ تاسی په هغې کښې او (ګرځولی یئ ده) ورځ لیدلو ته ، بیشکه! الله خامخا خاوند دفضل دی

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ...ددعا حقیقت او ددې فضیلتونه او درجې او شرط دقبولیت ددعا لفظي معنی بلنه ده او اکثره استعمال یې دځه حاجت او ضرورت دپاره دبلنې وي کله مطلق د الله ﷻ ذکر ته دعا ویل کیږي داایت دامت محمدي خاص اعزاز دی چې دوی ته ددعا غوښتلو حکم ورکول سو او ددې دقبولیت وعده وسوه او څوک چې دعانه غواړي دهغه دپاره عذاب راغلی دی : حضرت قتاده ؒ دکعب احبار ؓ څخه نقل کړی دی چې په اوله زمانه کې داخصوصیت دانبیاو علیهم السلام وو چې دوی ته به دا الله ﷻ دطرف څخه حکم کیدی چې تاسي دعاکوی زه به یي قبلوم دامت محمدیه دا خصوصیت دی چې داحکم دټول امت دپاره عام سو : حضرت نعمان ابن بشیر ؓ ددې آیت په تفسیر کي داحدیث بیان کړی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : انّ الدعآء هو العبادة : یعنی دعا عبادت دی او بیا دوی په استدلال کي داآیت ووایه انّ الذین یستکبرون عن عبادتی : رواه الامام احمد : (معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۵۶)

ع۶

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾

عَلَى	النَّاسِ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَشْكُرُوْنَ
پر	انسانانو	او ليکن	زياتر	دانسانانو	شکرنه باسي

پر انسانانو او ليکن زياتره انسانانو شکر نه باسي (په دغو نعماؤ دالله) .

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمْ	خَالِقُ	كُلِّ شَيْءٍ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا
دغه تاسی ته	الله دی	پالونکی ستاسی	چی پیداکوونکی	دهر شی دی	نشته هیڅوک	لائق دعبادت	مگر

دغه (ذات) تاسی ته الله دی رب پالونکی ستاسی چی خالق پیدا کوونکی د هر شی دی نشته هیڅوک لائق دعبادت مگر

هُوَ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ

هُوَ	فَاَنّٰى	تُؤْفَكُوْنَ	كَذٰلِكَ	يُؤْفَكُ	الَّذِيْنَ
هم دی یوازی	پس کوم طرف ته	گرځولی سوی یئ تاسی	هم داسی	گرځولی کیږی (له حقه)	هغه کسان

هم دی یوازی پس کوم طرف ته گرځولی سوی یئ تاسی (له عبادت) هم داسی گرځولی کیږی (له حقه) هغه کسان

كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ

كَانُوْا	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	يَجْحَدُوْنَ	اَللّٰهُ	الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ
چی ؤ له	آیتونو	دالله	به یئ انکار کوو	الله	هغه (ذات) دی	چی گرځولی یئ ده	تاسی ته

چی ؤ له آیتونو د الله به یئ انکار کوو الله هغه (ذات) دی چی گرځولی یئ ده تاسی ته

الْاَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ

الْاَرْضَ	قَرَارًا	وَّالسَّمَآءَ	بِنَآءً	وَّصَوَّرَكُمْ	فَاَحْسَنَ
مځکه	ځای دقرار	او آسمان	چت	او صورتونه یئ جوړکړی دی ستاسی	پس ډیر ښائسته یئ جوړ کړه

مځکه ځای دقرار او (گرځولی یئ دی) آسمان چت او صورتونه یئ ترلی دی ستاسی پس ډیر ښائسته جوړکړه

صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۖ

صُوَرَكُمْ	وَرَزَقَكُمْ	مِّنَ الطَّيِّبٰتِ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبُّكُمْ
صورتونه ستاسی	او روزی یئ درکړی ده تاسی ته	له پاکیزه وو	دغه (خالق)	الله دی	رب پالونکی ستاسی

صورتونه ستاسی او روزی یئ درکړی ده تاسی ته له طیباتو پاکیزه وو دغه (خالق ، رازق) الله دی رب پالونکی ستاسی

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ددعا فضيلتونه

:نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي دالله ﷻ په نزد ددعا څخه زيات څه شی مکرم او عزتمند نسته : په بل حديث شريف کي دنبي کريم ﷺ ارشاد مبارک دی چي: الدعآء مُخّ العبادة : يعني دعا دعبادت مغز دی: په يو بل حديث شريف کي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي دالله ﷻ څخه دهغه فضل غواړی ځکه چي الله ﷻ سوال او حاجت غوښتل خوښوي او دټولو څخه لوی عبادت دادی چي دسختی په وخت کي بنده دفراخی انتظار وکړي : په يو بل حديث شريف کي دنبي کريم ﷺ ارشاد مبارک دی چي کم سړي دالله ﷻ څخه دخپلو حاجتونو سوال نه کوی دالله ﷻ پر هغه باندي غضب وي :: په بل حديث شريف کي دنبي کريم ﷺ ارشاد دی چي ددعا څخه مه عاجزه کيږه ځکه چي ددعا سره څوک نه هلاکيږي : او په بل حديث شريف کي دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي دعا دمومن وسله ده او ددين ستن ده او دعا دآسمان او دمځکي نور دی: نورهم حديثونه سته.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۵۷)

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ

فَتَبٰرَكَ	اللّٰهُ	رَبُّ	الْعٰلَمِيْنَ	هُوَ	الْحَيُّ	لَآ
پس ډیر برکت والادی	الله	چي پالونکی	دټولو مخلوقاتو دی	هم دی	همیشه ژوندی دی	نشته بل هیڅوک

پس ډیر برکتی دی الله چي رب پالونکی د ټولو عالمیانو دی، هم دی ژوندی دی (تل په یو حال باقي قائم)، نشته بل هیڅوک

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ اَلْحَمْدُ

اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	فَادْعُوْهُ	مُخْلِصِيْنَ	لَهُ	الدِّيْنَ	اَلْحَمْدُ
لائق دعبادت	مگر	هم دی یوازی	پس وبولی هم دی	چي خالص کوونکی یئ تاسی	خاص دغه (الله) لره	دین	ټوله ثناء ده

لائق د عبادت مگر هم دی یوازی پس وبولی هم دی چي خالص کوونکی یئ تاسی خاص دغه (الله) لره دین ټوله ثناء ده

لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ

لِلّٰهِ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	قُلْ	اِنِّيْ	نُهِيْتُ	اَنْ اَعْبُدَ
خاص الله لره	چي رب پالونکی	دټولو مخلوقاتو دی	ووایه (محمده!)	بیشکه! زه	منع کړی سوی یم	له دی څخه چي عبادت وکړم

خاص الله لره چي رب پالونکی د ټولو عالمیانو دی. ووایه (محمده!) بیشکه! زه منع کړی سوی یم له دی څخه چي عبادت وکړم

الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ مِنْ رَّبِّيْ

الَّذِيْنَ	تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	لَمَّا جَآءَنِيَ	الْبَيِّنٰتُ	مِنْ رَّبِّيْ
دهغو (بتانو)	چي بولئ یئ تاسی	بی له	الله	هرکله چي راغلل ماته	ښکاره دلیلونه	له (جانبه د) رب زما

دهغو (بتانو) چي بولئ یئ تاسی غیر له الله کله چي راغلل ماته ښکاره دلیلونه (دتوحید) له (جانبه د) رب پالونکی زما

وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۶﴾ هُوَ الَّذِيْ

وَاُمِرْتُ	اَنْ اُسْلِمَ	لِرَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	هُوَ الَّذِيْ
او امر کړی سوی دی پر ما	چي غاړه کښیږدم	رب	دمخلوقاتو ته	الله هغه (ذات) دی

او امر، حکم کړی سوی دی پر ما چي غاړه کښیږدم (تابع سم) رب پالونکی د (تمامو) عالمیانو ته. الله هغه (ذات) دی

خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ

خَلَقَكُمْ	مِّنْ	تُرَابٍ	ثُمَّ	مِنْ نُّطْفَةٍ	ثُمَّ
چي (اول) یئ پیدا کړی دی (نیکه) ستاسی	له	خاورو څخه	بیا یئ (پیدا کړه)	له نطفی (اوبو دمنی) څخه	بیا

چي (اول) یئ پیدا کړی دی (نیکه) ستاسی له خاورو څخه، بیا (پیدا کړه اولاده دآدم) له نطفی (اوبو دمنی) څخه بیا

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ هُوَ الْحَيُّ ... دانسان صورت په ټولو مخلوقاتو کي الله ﷻ ښایسته جوړ کړی دی: په دغه ایت کي دالله ﷻ ارشاد دی چي ما دانسان صورت دټولو حیوانانو څخه په ممتاز، اعلی او ښه انداز کي جوړ کړی دی ده ته یي دفکر کولو او پوهیدلو دپاره عقل ورکړی دی دده لاسونه او پښي یي داسي جوړ کړل چي په دې سره دی قسم قسم مصنوعات او شیان جوړوي او دخپل راحت سامان پیدا کوي ددوی خوړل چیښل هم دعامو حیواناتو څخه ممتاز دی هغوی په خپلو خولو سره څړ کوي او چیښل کوي او بني آدم دلاسونو څخه کارونه اخلي دعامو حیوانانو خوراک دمفرداتو څخه وي دوی ځیني غوښه خوري ځیني واښه خوري او ځیني پاڼي خوري او هغه هم بالکل مفرد بر خلاف دانسان څخه چي دی خپل خوراک دمختلف قسم شیانو، میوو ترکاریانو غوښو او مصالحو سره خوندور جوړوي او خوري یي دیوې یوې میوې څخه قسم قسم خوراکونه اچار مربا چټنیاني تیاروي: فتبارک الله احسن الخالقین.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۶۲)

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ... کفار دالله ﷻ دایاتونو په باره کي جګړې کوي: په دغه راروانو ایاتونو کي د الله ﷻ ارشاد دی نبي کریم ﷺ ته چي آیا تاسي دهغه خلګو حالت ونه لیدی کم چي دالله ﷻ په ایاتونو کي جګړې راباسي دحق څخه کمي خواته واپس روان دي اوکمو خلګو چي دا کتاب یعني قرآن کریم دروواغجن کی او هغه څه یي هم درواغجن کړل کم چي مونږ خپلو پیغمبرانو ته ورکړي او لیږلي وه په دي کي کتابونه احکام او معجزې ټوله داخل دي ځکه چي دعربو مشرکینو بل یو پیغمبر هم نه منی نو اوس به دوی ته یعني په قیامت کي به نژدې ورته معلومه سي کله چي به طوقونه ددوی په څټونو کي وي او په دغو طوقونو کي به ځنځیرونه پیول سوي وي چي بل سر به یي دملایکو په لاسو کي وي او په دې زنځیرونو سره به دوی راکشول کیږي چي ګرمو اوبو ته ورسول سي بیا به دوی اور ته وغورځول سي بیا به دهغوی څخه پوښتنه وسي چي هغه باطل معبودان غیر الله موچیري ولاړل الخ (معرف القرآن ج۸پ۲۴ص۶۳)

مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلًا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوۡۤا

مِنۡ عَلَقَةٍ	ثُمَّ	يُخۡرِجُكُمۡ	طِفۡلًا	ثُمَّ	لِتَبۡلُغُوۡۤا
له کلکی توټی د وینو	بیا	راوباسی تاسی	ماشومان واړه	بیا	دپاره ددی چی ورسیږئ تاسی

له کلکی توټی د وینو، بیا راوباسی تاسی (له ارحامو دمیندو) اطفال واړه بیا (تربیت کوی ستاسی) دپاره ددی چی ورسیږئ تاسی

اَشُدَّكُمۡ ثُمَّ لِتَكُوۡنُوۡا شُيُوۡخًا ۚ وَمِنۡكُمۡ مَّنۡ يُّتَوَفّٰى

اَشُدَّكُمۡ	ثُمَّ	لِتَكُوۡنُوۡا	شُيُوۡخًا	وَمِنۡكُمۡ	مَّنۡ يُّتَوَفّٰى
منتها د قوت خپل ته	بیا	دپاره ددی چی سئ تاسی	زاړه	او ځینی له تاسی	هغه دی چی مړه کول سی

منتها د قوت خپل ته بیا (ژوندی ساتی تاسی) دپاره ددی چی سئ تاسی زاړه او ځینی له تاسی هغه دی چی مړه کول سی

مِنۡ قَبۡلُ وَلِتَبۡلُغُوۡۤا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمۡ

مِنۡ قَبۡلُ	وَلِتَبۡلُغُوۡۤا	اَجَلًا	مُّسَمًّى	وَّلَعَلَّكُمۡ
پخوا له دی	او دپاره ددی چی ورسیږئ تاسی	ترهغی نیټی	په نامه کړی سوی پوری	او دپاره ددی چی تاسی

پخوا له دی (بلوغه) او دپاره د دی چی ورسیږئ تاسی ترهغی نیټی په نامه کړی سوی پوری اودپاره ددی چی تاسی

تَعۡقِلُوۡنَ ۝۶۷ هُوَ الَّذِىۡ يُحۡىٖ وَيُمِيۡتُ ۚ فَاِذَا قَضٰۤى

تَعۡقِلُوۡنَ	هُوَ الَّذِىۡ	يُحۡىٖ	وَيُمِيۡتُ	فَاِذَا	قَضٰۤى
عقل وچلوئ	(الله) هم هغه (ذات) دی	چی ژوندی کول کوی	او مړه کول کوی	پس هر کله چی	اراده حکم وکړی

عقل ورکړئ. (الله) هم هغه (ذات) دی چی ژوندی کول کوی او مړه کول کوی پس هر کله چی اراده حکم وکړی

اَمۡرًا فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ كُنۡ فَيَكُوۡنُ ۝۶۸ اَلَمۡ تَرَ

اَمۡرًا	فَاِنَّمَا	يَقُوۡلُ	لَهٗ	كُنۡ فَيَكُوۡنُ	اَلَمۡ تَرَ
دیوه کار	پس بیشکه! هم داخبره ده	چی وایئ	ورته	چی سه پس هغه موجود سی	آیا نه ګوری ته

دیوه کار پس بیشکه! هم داخبره ده چی وایئ ورته چی (موجود) سه پس هغه موجود سی (بی له مهلته) . آیا نه وینی ته

اِلَى الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى يُصۡرَفُوۡنَ ۝۶۹

اِلَى الَّذِيۡنَ	يُجَادِلُوۡنَ	فِىۡۤ اٰيٰتِ	اللّٰهِ	اَنّٰى	يُصۡرَفُوۡنَ
هغه کسانو ته	چی جګړه کوی	په آیتونو (دقرآن)	دالله کښی	پس کوم طرف ته	ګرځولی سی دوی له تصدیقه دهغو

هغه کسانو ته چی مجادله جګړه (او نزاع) کوی په آیتونو (دقرآن) د الله کښی پس کوم طرف ته ګرځولی سی دوی له صدقه.

ع۸
۱۲

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ

الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِالْكِتٰبِ	وَبِمَآ	اَرْسَلْنَا	بِهٖ	رُسُلَنَا
هغه کسان	چې تکذیب یې کړی دی	په دغه کتاب	او په هغو	چې رالیږلي مو دي	په هغو سره	رسولان خپل

هغه کسان چې تکذیب یې کړی دی په دغه کتاب (قرآن) او په هغو (شیانو) چې رالیږلي مو دي په هغو سره رسولان خپل

فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٠﴾ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ

فَسَوْفَ	يَعْلَمُوْنَ	اِذِ الْاَغْلٰلُ	فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ
پس ژر ده چې	پوه به سي دوی	کله چې وي به (د اور) طوقونه	په غاړو د دوی کښې

پس ژر ده چې پوه به سي دوی (چې د دغه تکذیب بده نتیجه کیږي) کله چې وي به (د اور) غاړکۍ په غاړو د دوی کښې

وَالسَّلٰسِلُ ۭ يُسْحَبُوْنَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ

وَالسَّلٰسِلُ	يُسْحَبُوْنَ	فِي الْحَمِيْمِ	ثُمَّ	فِي النَّارِ
او ځنځیرونه به هم وی	چې راکشول کیږی به دوی	په اوبو ډیرو تودو کښې	بیا به	په اور (د دوزخ) کښې

او ځنځیرونه به هم وی چې راښکلی کیږی به دوی. په اوبو ډیرو تودو کښې بیا به په اور (د دوزخ) کښې

يُسْجَرُوْنَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٣﴾

يُسْجَرُوْنَ	ثُمَّ	قِيْلَ	لَهُمْ	اَيْنَ	مَا كُنْتُمْ	تُشْرِكُوْنَ
وسوځول وریتول سی دوی	بیا به	وویل سی	دوی ته	چې چیرته دی	هغه (بتان) چې وئ تاسی	چې شریکول به مو

سوځول وریتول سی دوی ، بیا به وویل سی دوی ته چې چیرته دی غه (بتان) چې وئ تاسی چې شریکول به مو (له الله سره)

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ لَّمْ نَكُنْ

مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	قَالُوْا	ضَلُّوْا	عَنَّا	بَلْ لَّمْ نَكُنْ
بې له	الله	نو وبه وایې (کفار)	چې ورک سول	له موږ څخه	بلکه ګویا نه وو موږ

بې له الله نو وبه وایې (کفار) چې ورک سول له موږ څخه (هغه معبودان زموږ) بلکه ګویا نه وو موږ

نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـــًٔا ۭ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ

نَّدْعُوْا	مِنْ قَبْلُ	شَيْـًٔا	كَذٰلِكَ	يُضِلُّ	اللّٰهُ
چې بلل به مو	پخوا له دی څخه	هیڅ شی	هم داسی	ګمراهان کوی	الله

چې بلل به مو (په عبادت سره د غه بتان) پخوا له دی څخه هیڅ شی، هم داسی (په شان د دغو) ګمراهان کوی الله

فِي الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ .. دوږخيان به ګرمو اوبو ته واچول سي: حميم جوشيدلي ګرمي اوبه دي: دآيت څخه معلوميږي چي دوږخيان به اول ګرمو اوبو ته واچول سي ددې څخه وروسته به جهنم ته واچول سي او په ظاهره ددې څخه معلوميږي چي حميم د جهنم څخه دباندي يو ځای دی دسورت صفت په دغه آيت کي: ثمّ ان مرجعهم لالی الجحيم. څخه هم دا معلوميږي چي حميم دجهنم څخه دباندي يو ځای دی دوږخيان به دهغه داوبو دڅيښلو دپاره راوستل سي بيا به جهنم ته ولاړ سي: او دقرآن کريم دځينو اياتونو څخه بيا معلوميږي چي حميم په جهنم کي دننه دی لکه په دغه آيت کي چي دي: هذه جهنم اللتی يکذّب بها المجرمون: يطوفون بينها وبين حميم آن په دي کي وضاحت دی چي حميم په جهنم کي دی: جواب دادی چي دلته تعارض او تکر نسته ځکه چي دجهنم به ډيري طبقي وي په هغه کي يوه طبقه به دحميم وي نو په وجه دممتاز کيدو اوجلاوالي به ورته د جهنم څخه دباندي هم ويل کيږي او چونکي دادجهنم يوه طبقه ده نو په دې وجه به په جهنم کي دننه هم ورته ويل کيږي.

معارف القرآن ج ۸ پ۲۴ ص۶۵

الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ

فِي الْاَرْضِ	تَفْرَحُوْنَ	كُنْتُمْ	بِمَا	ذٰلِكُمْ	الْكٰفِرِيْنَ
په ځمکه کښې	چې خوشحالي به مو کولې	چې وئ تاسې	په سبب د هغه دی	دغه تاسې ته	کافران

کافران. دغه (ګمراهي او عذاب) تاسې ته په سبب د هغه دی چې وئ تاسې چې خوشحالي به مو کولې په ځمکه کښې

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿۷۵﴾ اُدْخُلُوْا

اُدْخُلُوْا	تَمْرَحُوْنَ	كُنْتُمْ	وَبِمَا	بِغَيْرِ الْحَقِّ
ننوځئ تاسې	چې لوئی به مو کوله په ناحقه سره	وئ تاسې	او په سبب د هغه چې	په ناحقه سره

په ناحقه سره او په سبب د هغه چې وئ تاسې چې تکبر (لوئی) به مو کوله په ناحقه سره ، ننوځئ تاسې

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى

مَثْوَى	فَبِئْسَ	فِيْهَا	خٰلِدِيْنَ	جَهَنَّمَ	اَبْوَابَ
ځای	پس ناکاره	په دغه (دوزخ) کښې	چې همیشه پاتې کیدونکی اوسئ	د دوزخ کښې	په (۷) دروازو

په (اوو) دروازو د دوزخ کښې، په دی حال چې همیشه پاتې کیدونکی اوسئ په دغه (دوزخ) کښې پس ناکاره ځای

الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ

حَقٌّ	اللّٰهِ	وَعْدَ	اِنَّ	فَاصْبِرْ	الْمُتَكَبِّرِيْنَ
حقه ده	د الله	چې وعده	بیشکه!	پس صبر وکړه	د متکبرانو دی

د متکبرانو دی (دا دوزخ) پس صبر وکړه (ای محمده! په ضرر د کفارو) بیشکه! چې وعده د الله حقه ده

فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ

اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ	نَعِدُهُمْ	الَّذِيْ	بَعْضَ	فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ
یا قبض کړو موږ روح ستا	وعده یئ کوو موږ له هغوی سره	دهغه عذاب چې	ځینې	پس که وښیو موږ تاته

پس که وښیو موږ تاته ځینې دهغه عذاب چې وعده یئ کوو موږ له هغوی سره (نو ډیره ښه ده!) یا قبض کړو موږ

فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا

رُسُلًا	اَرْسَلْنَا	وَلَقَدْ	يُرْجَعُوْنَ	فَاِلَيْنَا
رسولان	لیږلی وو موږ	او خامخا په تحقیق	بیا بیرته راوستل سی دوی	پس خاص موږ ته به

پس خاص موږ ته به بیا بیرته راوستل سی دوی (نو جزاء به ورکړه سی دوی ته) . او خامخا په تحقیق لیږلی وو موږ رسولان

بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ. کفار دمال او دولت په فخر او غرور کې اخته دي: تفرحون دفرح څخه مشتق دی چې معنی یې ده خوشحاله او مسروره کیدل. او تمرحون: دمرح څخه مشتق دی او معنی یې ده لویي کول او ده مال او دولت په فخر اوغرورکې اخته کیدل او دنورو په حقونو کې زیاتی کول. مرح خو مطلق مذموم او حرام دی اوفرح یعني په خوښی کې دا تفصیل دی چې دمال او دولت په نشه کې چې خدای هیر کې په ګناهونو کې لذت حاصلول او خوشحالیږي داخو حرام او ناجائز دی او په دې آیت کې دافرح مراد دی لکه دقارون په قصه کې هم فرح په دې معنی کې راغلی دی. لاتفرح انّ الله لایحبّ الفرحین یعني ډیر مه خوشحالیږه الله ﷻ خوشحالیدونکی نه خوښوي. اودوهمه درجه دفرح داده چې ددنیا نعمتونه او راحتونه د الله ﷻ انعام وګڼي او په دې دخوشحالی او مسرت اظهار کوي دا جائز بلکې مستحب او مامور به دی دالله ﷻ ارشاد دی فبذلک فليفرحوا. یعنې په دې خوشحالیدل پکار دي الخ
معارف القرآن ج ۸ پ ۲۴ ص ۶۴

مِّنۡ قَبۡلِكَ مِنۡهُمۡ مَّنۡ قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُمۡ

مِّنۡ قَبۡلِكَ	مِنۡهُمۡ	مَّنۡ قَصَصۡنَا	عَلَيۡكَ	وَمِنۡهُمۡ
پخوا له تا څخه	چې ځيني له هغوی	هغه دي چې قصې د هغو کړې دي موږ	تا ته	او ځيني له هغو

پخوا له تا څخه چې ځيني له (يو لک ۲۴ زره انبياؤ) هغه (۲۹) انبياء دي چې قصې د هغو کړې دي موږ تا ته او ځيني له دغو

مَّنۡ لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَ ؕ وَمَا كَانَ لِرَسُوۡلٍ اَنۡ يَّاۡتِىَ بِاٰيَةٍ

مَّنۡ	لَّمۡ نَقۡصُصۡ	عَلَيۡكَ	وَمَا كَانَ	لِرَسُوۡلٍ	اَنۡ يَّاۡتِىَ	بِاٰيَةٍ
هغه انبياء دي	چې موږ قصې نه دي کړې	تا ته	او نه وو	هيڅ رسول ته	دا چې راوړي	کوم يو دليل

هغه انبياء دي چې قصې نه دي کړې موږ تا ته. او نه وو هيڅ رسول ته (او نه يې مقدور وو) دا چې راوړي کوم يو دليل

اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَمۡرُ اللّٰهِ قُضِىَ بِالۡحَـقِّ

اِلَّا	بِاِذۡنِ	اللّٰهِ	فَاِذَا	جَآءَ	اَمۡرُ	اللّٰهِ	قُضِىَ	بِالۡحَـقِّ
مګر	په حکم	د الله سره	پس کله چې	راغلی	امر	د الله	فيصله به وکړه سی	په حقه سره

مګر په اذن، حکم د الله سره ، پس کله چې راغی امر، حکم د الله فيصله به وکړه سی په حقه سره

وَخَسِرَ هُنَالِكَ الۡمُبۡطِلُوۡنَ ۝٧٨ اَللّٰهُ الَّذِىۡ جَعَلَ

وَخَسِرَ	هُنَالِكَ	الۡمُبۡطِلُوۡنَ	اَللّٰهُ	الَّذِىۡ	جَعَلَ
او زيان به وکړي	هلته	باطلوونکي	الله	هغه (ذات) دی	چې پيدا کړي يې دي

او زيان به وکړي هلته باطلوونکي (د حق دروغجنان). الله هغه (ذات) دی چې پيدا کړي يې دي

لَـكُمُ الۡاَنۡعَامَ لِتَرۡكَبُوۡا مِنۡهَا وَمِنۡهَا تَاۡكُلُوۡنَ ۝٧٩

لَـكُمُ	الۡاَنۡعَامَ	لِتَرۡكَبُوۡا	مِنۡهَا	وَمِنۡهَا	تَاۡكُلُوۡنَ
تاسي ته	چارپايان	د پاره د دې چې سپريږئ	پر ځينو د دوی	او له ځينو د دوی	خورئ تاسي

تاسي ته چارپايان د پاره د دې چې سوريږئ پر ځينو د دوی او له ځينو د دوی خورئ تاسي .

وَلَـكُمۡ فِيۡهَا مَنَافِعُ وَلِتَبۡلُغُوۡا عَلَيۡهَا حَاجَةً

وَلَـكُمۡ	فِيۡهَا	مَنَافِعُ	وَلِتَبۡلُغُوۡا	عَلَيۡهَا	حَاجَةً
او دی تاسي ته	په دغو انعامو کښې	ډيري نفعې	او د پاره د دې چې ورسيږئ تاسي	پر دوی سره	هغه حاجت ته

او دی تاسي لره په دغو انعامو کښې ډيرې نفعې او د پاره د دې چې ورسيږئ تاسي پر دوی سره هغه حاجت ته

اَللّٰهُ الَّـذِىۡ جَعَـلَ لَـكُمُ الۡاَنۡعَــامَ لِتَرۡكَبُــوۡا.

حيوانان الله ﷻ دانسانانو دنفعې دپاره پيدا کړي دي:

يعني الله ﷻ هغه ذات دی کم چې ستاسي دپاره حيوانان پيدا کړل چې په دغو کي پر ځينو باندي تاسي سپرلی کوی يعني باندي سپريږی او په دوی کي بيا ځيني هغه دي چې تاسي يې حلالوی او بيا يې خوری او ستاسو دپار په دغو کي نوري فائدې هم دي چې ددغو وړی او وريښته په کار درځي او دايي په دې وجه پيدا کړل چې تاسي پرهغو باندي سپاره سی او خپل مطلب ته ورسيږی کم چې ستاسي په زړونو کي دی لکه دچا سره دليدلو دپاره تللو وغيره وغيره او په سپريدو کي څه ددغه تخصيص نسته بلکي پر دغو حيوانانو هم او پر کښتيو هم سپاره سپاره ګرځی او ددې څخه علاوه تاسي ته خپلي دقدرت نوري نښانې ښيي چنانچي هر مصنوع دهغه دصنعت يوه نښانه ده پس تاسي دالله ﷻ دکمو کمو نښو څخه انکار کوی او داخلګ چي وروسته ددليلونو دقايميدو څخه منکره دي نو ايا دوی دشرک دوبال څخه خبر نه دي: (معارف القرآن ج ۸ پ۲۴ ص ۶۷)

۸ ع ۱۴

فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿٨٠﴾

فِيْ صُدُوْرِكُمْ	وَعَلَيْهَا	وَعَلَى	الْفُلْكِ	تُحْمَلُوْنَ
چې په سینو ستاسي کښې وي	او پر دغو انعامو	او په	کشتۍ کښې	سپاره کرځۍ تاسي

چې په سینو (زړونو) ستاسي کښې وي، اوپر دغو انعامو (په بر کښې) او پر بیړۍ (په بحر کښې) سورول کیږئ تاسي

وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۖ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿٨١﴾

وَيُرِيْكُمْ	اٰيٰتِهٖ	فَاَيَّ اٰيٰتِ	اللّٰهِ	تُنْكِرُوْنَ
او ښیي تاسي ته	دلائل خپل	پس له کوم یوه له دلائلو	دالله ښخه	انکار کوئ تاسي

او ښیي تاسي ته دلائل (دقدرت) خپل پس له کوم یوه له دلائلو (دقدرت) دالله ښخه انکار کوئ تاسي . آیا پس نه دي

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ	فَيَنْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ
آیا پس نه دي ګرځیدلي دوی	په مځکه کښې	پس چې وګوري دوی	چې څرنګه	سو	عاقبت

ګرځیدلي دوی په مځکه (ملکونو) کښې پس چې وګوري دوی چې څرنګه سو عاقبت، آخره خاتمه

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۗ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ

الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	كَانُوْٓا	اَكْثَرَ	مِنْهُمْ	وَاَشَدَّ
دهغو کسانو	چې پخوا له دوی ښخه وو	چې وو هغوی	ډیر زیات	له دغو (کفارو) ښخه	او ډیر سخت وو

دهغو کسانو چې پخوا له دوی ښخه (تیر سوي) وو، چې وو هغوی ډیر زیات له دغو (کفارو) ښخه او ډیر سخت وو

قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

قُوَّةً	وَّاٰثَارًا	فِي الْاَرْضِ	فَمَآ اَغْنٰى	عَنْهُمْ	مَّا كَانُوْا
په قوت	او په نښو کښې	په مځکه کښې	پس هیڅ دفع ونه کړه	له دوی ښخه	هغه چې وو هغوی

په (بدني) قوت او (مدني) آثارو په مځکه کښې پس هیڅ دفع ونه کړه له دوی ښخه هغه (اعمال) چې وو هغو ی

يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

يَكْسِبُوْنَ	فَلَمَّا	جَآءَتْهُمْ	رُسُلُهُمْ
چې دوی به کول	پس هر کله چې	رابه غلل دوی ته	رسولان ددوی

چې کسب پیدا کول به یې. پس هر کله چې را به غلل دوی ته رسولان د دوی

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ... کفارو خپل علم دانبیاوو عليهم السلام دعلم ښخه غوره وګڼی: یعني دې انجام ته فکر نه کوونکو منکرانو ته چې کله دالله جل جلاله رسولانو واضح دلیلونه دتوحید او ایمان راوړل نو دغه خلګو خپل علم دانبیاوو عليهم السلام دراوړي علم ښخه غوره او حق وګڼی او دانبیاوو عليهم السلام دکلام ردول یې شروع کړل: داعلم په کم چې کفار خوشحاله او مشغول وه او ددې په مقابله کې دانبیاوو عليهم السلام علمونه یې ردول یا خوددوی جهل مرکب وو چې ناحق او باطل یې حق او صحیح وګڼل لکه دیوناني فلاسفرانو ډیر علمونه دتحقیقات کم چې دالهیاتو متعلق دي ددې نمونې دي چې هیڅ دلیل یې نسته دغو ته جهل مرکب ویل کیږي دهغو نوم علم ایښوول دعلم سپکاوی دی یا بیا ددغو ددې علم ښخه مراد ددنیا دتجارت صنعت وغیره علم دی په کم کې چې دغه خلګ په واقع کې ماهران وه او قرآن کریم ددغو ددې علم ذکر دسورت روم په آیت کې داسي فرمایلی دی: چې داکسان فقط ددنیا ظاهري ژوند ښه پیژني: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ

بِالْبَيِّنٰتِ	فَرِحُوْا	بِمَا	عِنْدَهُمْ	مِّنَ الْعِلْمِ	وَحَاقَ
په ښکاره دلائلو	نو خوشحاله به سول	په هغه چي	له دوی څخه به وو	له علمه ددنیا	او راتاو سو

په ښکاره دلائلو (دقدرت) نو خوشحاله به سول (دغه کفار) په هغه چي له دوی څخه به وو له علمه د دنیا ، او چاپیر سو

بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْا

بِهِمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ	فَلَمَّا	رَاَوْا
پر دوی هغه	چي وو دوی	چي په هغه پوري به یئ	مسخری کولی	پس هر کله چي	وبه لیدئ دوی

پر دوی هغه (عذاب) چي وو به دوی چي په هغه پوری به یئ مسخری کولی. پس هر کله چي وبه لیدئ دوی (په دنیا کښی)

بَأْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا

بَأْسَنَا	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	وَحْدَهٗ	وَكَفَرْنَا	بِمَا
سخت عذاب زمونږ	نو وبه یئ ویل	ایمان مو راوړی دی	په الله	یوائی	او کافران سو مونږ	پر هغو شیانو

سخت عذاب زمونږ نو وبه یئ ویل ایمان مو راوړی دی په الله یوائی او کافران سو مونږ پر هغو شیانو

كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ

كُنَّا	بِهٖ	مُشْرِكِيْنَ	فَلَمْ يَكُ	يَنْفَعُهُمْ
چي وو مونږ	په سبب دهغه شی	مشرکان	پس نه ؤ (داکار)	چي نفع ورسوی دوی ته

چي وو مونږ په سبب دهغه شی مشرکان (چي بت ندی). پس نه ؤ (داکار) چي نفع ورسوی دوی ته

اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَأْسَنَا سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ

اِيْمَانُهُمْ	لَمَّا	رَاَوْا	بَأْسَنَا	سُنَّتَ	اللّٰهِ	الَّتِيْ
ایمان د دوی	هر کله چي	وبه لید دوی	سخت عذاب زمونږ	طریقه	دالله	هغه چي

ایمان د دوی هر کله چي وبه لید دوی سخت عذاب زمونږ، طریقه (ایښی ده الله) دالله هغه چي

قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ ع

قَدْ	خَلَتْ	فِيْ عِبَادِهٖ	وَخَسِرَ	هُنَالِكَ	الْكٰفِرُوْنَ
په تحقیق	تیره سوی ده	په بندګانو ددغه (الله) کښی	او زیان کاره سول	په دغه ځای کښی	کافران

په تحقیق تیره سوی ده په بندګانو ددغه (الله) کښی او زیان کاره سول په دغه ځای کښی کافران (چي ښکاره سو خسران د دوی)

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری :مګر دآخرت څخه کم ځای چي همیشه او سیدل دي او کم ځای چي راحت او تکلیف دایمي وي دهغه څخه بالکل جاهلان او ناخبره دي : په دې آیت کي هم که ددنیا دا ظاهري علم واخیستل سي نو مطلب به داوي چي داخلګ چونکي دقیامت او آخرت څخه منکره دي او دهغه ځای دراحت او تکلیف څخه غافل او ناخبره دي په دې وجه په خپل دې ظاهري هنر خوشحاله او مشغوله دي دانبیاوو علیهم السلام دعلمونو طرف ته توجه نه کوي: مظهري . مخکي الله جل جلاله فرمايي: فلم يک ينفعهم ايمانهم : يعني دعذاب مخ ته دراتلو څخه وروسته داخلګ دایمان اقرار کوي مګر ددغه وخت ایمان دالله جل جلاله په نزد مقبول او معتبر نه دی :په حدیث شریف کي دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي الله جل جلاله دبنده توبه دهغه وخت څخه مخکي قبلوي چي دروح ختلو او غرغره دمرګ مخ ته رانه سي دآسماني عذاب مخ ته دراتلو څخه وروسته دچا توبه او ایمان نه قبلیږي الخ.
(معارف القرآن ج۸پ۲۴ص ۶۸)

ع ۱۴

أياتونه ۵۴ — ۴۱ سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ ۶۱ — ۶ ركوعي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

حٰمٓ ۞ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞ كِتٰبٌ

حٰمٓ	تَنْزِيْلٌ	مِّنَ الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ	كِتٰبٌ
حا میم	رالیږلی سوی دی	له (هغه الله) چې ډیر مهربان	ډیر رحم والا دی	داسی کتاب دی

حا میم، (دغه قرآن) رالیږلی سوی دی له (هغه الله) چې خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی، داسی کتاب دی

فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۞

فُصِّلَتْ	اٰيٰتُهٗ	قُرْاٰنًا	عَرَبِيًّا	لِّقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ
چې په تفصیل سره بیان سوی دی	آیتونه دده	چې لوستلی سوی دی	په عربی ژبه	دپاره د هغه قوم	چې پوهیږی

چې په تفصیل سره بیان سوی دی آیتونه دده، په دی حال چې لوستلی سوی دی په عربی ژبه دپاره د هغه قوم چې پوهیږی.

بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ

بَشِيْرًا	وَّنَذِيْرًا	فَاَعْرَضَ	اَكْثَرُهُمْ	فَهُمْ
زیری ورکوونکی	او بیروونکی دی	پس مخ وګرځاوه	زیاترو د دغو (کفارو)	پس دوی

زیری ورکوونکی او بیروونکی دی پس مخ وګرځاوه زیاترو د دغو (کفارو) پس دوی

لَا يَسْمَعُوْنَ ۞ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ

لَا يَسْمَعُوْنَ	وَقَالُوْا	قُلُوْبُنَا	فِيْٓ اَكِنَّةٍ	مِّمَّا	تَدْعُوْنَآ
نه اوری	او وایئ (دغه کفار)	زړونه زموږ	په پردو کښی دی	له هغه شی	چې بولی ته موږ

نه اوری (حق په آوریدلو دقبول سره). او وایئ (دغه کفار) زړونه مو په پردو کښی دی له (فهمه) دهغه شی چې بولی ته موږ

اِلَيْهِ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ

اِلَيْهِ	وَفِيْٓ اٰذَانِنَا	وَقْرٌ	وَّمِنْۢ بَيْنِنَا	وَبَيْنِكَ	حِجَابٌ
هغه ته	او په غوږونو زموږ کښی	درونډوالی دی	او په مینځ زموږ	او په مینځ ستا کښی	پرده ده

هغه ته او په غوږونو زموږ کښی درونډوالی دی او په مینځ زموږ او په مینځ ستا کښی پرده ده (دمخالفت)

تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دسورت حم السجدة په اړه څه بیان: ددې سورت اولني مخاطب دعربو قریش دي دکمو په مخکي چي دا قرآن نازل سو او ددوی په ژبه نازل سو دوی دقرآن کریم اعجاز ولیدی بیايي دنبي کریم ﷺ بې شمیره معجزې ولیدلې ددې باوجود یې دقرآن کریم څخه منع وکړه او په پوهیدل هم څه چي یي اوریدل خو بیا یي هم خوښ نه کړل او دنبي کریم ﷺ دمشفقانه نصیحتونو په جواب کي یي بالاخر داوویل چي ستا خبري نه زموږ په فکر کي راځي نه زموږ زړه داقبلوي نه زموږ غوږونه ددې اوریدو ته تیار دي زموږ او ستا په مینځ کي غبرګي پردې حائلي سوي دي بس ته خپل کار کوه او موږ پر خپل حال پریږده دغه مطلب ددغه سورت دابتدايي پنځو ایاتونو دی په دې ایاتونو کي الله ﷻ په خصوصیت سره قریشوته ددې خبري اظهار وفرمایه چي قرآن کریم یي په عربي ژبه کي ستاسي دخاطره نازل کی چي تاسي ته ددې دمضامینو په پوهیدو کي مشکل نه وي لیکن تاسي یي جواب په انکار سره ورکی الخ.

(معارف القرآن ج ۸پ۲۴ص۷۱)

فَاعۡمَلۡ اِنَّنَا عٰمِلُوۡنَ ۞ قُلۡ اِنَّمَاۤ

فَاعۡمَلۡ	اِنَّنَا	عٰمِلُوۡنَ	قُلۡ	اِنَّمَاۤ
نو عمل وکړه ته	بیشکه! موږ	هم عمل کوونکي یو	ووایه (محمده)	بیشکه! هم دا خبره ده

نو عمل وکړه ته (پر دین خپل) بیشکه! موږ هم عمل کوونکي یو (پر دین خپل). ووایه (محمده!) بیشکه! هم دا خبره ده

اَنَا بَشَرٌ مِّثۡلُکُمۡ یُوۡحٰۤی اِلَیَّ اَنَّمَاۤ اِلٰـهُکُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

اَنَا بَشَرٌ	مِّثۡلُکُمۡ	یُوۡحٰی	اِلَیَّ	اَنَّمَاۤ	اِلٰهُکُمۡ اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ
زه یو انسان یم	په شان ستاسي	وحی کیږي ماته	داسي چي	بیشکه! هم دا خبره ده	چي معبود ستاسي	یو دی

زه یو انسان یم په شان ستاسي وحی کیږي ماته (له طرفه درب زما) داسي چي بیشکه! هم دا خبره ده چي معبود ستاسي یو دی

فَاسۡتَقِیۡمُوۡۤا اِلَیۡهِ وَاسۡتَغۡفِرُوۡهُ ؕ وَوَیۡلٌ لِّلۡمُشۡرِکِیۡنَ ۞ الَّذِیۡنَ

فَاسۡتَقِیۡمُوۡۤا	اِلَیۡهِ	وَاسۡتَغۡفِرُوۡهُ	وَوَیۡلٌ	لِّلۡمُشۡرِکِیۡنَ	الَّذِیۡنَ
پس سم سیده ودریږئ	ده ته	او مغفرت وغواړئ له ده څخه	او افسوس، خرابي ده	دپاره د مشرکانو	هغه کسان

پس سم مستقیم ورځئ ده ته او مغفرت وغواړئ له ده څخه، او افسوس، هلاک خرابي ده دپاره د مشرکانو. هغه کسان

لَا یُؤۡتُوۡنَ الزَّکٰوةَ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ کٰفِرُوۡنَ ۞ اِنَّ

لَا یُؤۡتُوۡنَ	الزَّکٰوةَ	وَهُمۡ	بِالۡاٰخِرَةِ	هُمۡ	کٰفِرُوۡنَ	اِنَّ
چي نه ورکوي	زکوٰة	او دوی	د آخرت څخه	هم دوی	کافران، منکران دي	بیشکه!

چي نه ورکوي زکوٰة او دوی پر آخرت (حساب کتاب ثواب عقاب) هم دوی کافران منکران دي. بیشکه!

الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ اَجۡرٌ غَیۡرُ

الَّذِیۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	لَهُمۡ	اَجۡرٌ	غَیۡرُ
هغه کسان	چي ایمان یې راوړی دی	او کړي یې دي	ښه (عملونه)	ستا دوی ته	اجر	چي نه دی

هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه (عملونه) ستا دوی ته اجر چي نه دی

مَمۡنُوۡنٍ ۞ قُلۡ اَئِنَّکُمۡ لَتَکۡفُرُوۡنَ بِالَّذِیۡ خَلَقَ

مَمۡنُوۡنٍ	قُلۡ	اَئِنَّکُمۡ	لَتَکۡفُرُوۡنَ	بِالَّذِیۡ	خَلَقَ
قطع کیدونکی	ووایه (محمده)	آیا بیشکه اتاسي	خامخا کافران کیږئ	په هغه الله	چي پیدا کړی یې ده

قطع کیدونکی. ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا بیشکه! تاسي خامخا کافران کیږئ په هغه الله چي پیدا کړی یې ده

قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ مِّثۡلُکُمۡ یُوۡحٰۤی اِلَیَّ..کفارو نبي کریم ﷺ ته وویل چي زموږ څخه دقبلیدو امید مه ساته: ددوی ددغي خبري په جواب کي الله جل جلاله ونبي کریم ﷺ ته امر کړی دی چي تاسي دوی ته وواياست چي پر ایمان مجبوره کول خوزما دوس خبره نه ده ځکه چي زه خوستاسي په شان بشریم خدای نه یم چي په زړونو تصرف کولی سم البته الله جل جلاله ماته دا امتیاز راکړی دی چي پرما داوحی نازلیږي چي ستاسي معبود یو دی او داوحی داسي دي چي هرسړی فکر وکي نو ددې په حقوالي او معقولوالي باندي پوهیدی سي او کله چي زما نبوت او وحی په معجزو سره ثابت سوه نو زما خبره په هر حال منل پر تولو باندي فرض دي ستاسي دنه قبلولو څه وجه نسته ضروريي قبوله کړی هغه معبود بر حق ته سیده سی یعني دهغه څخه ماسوا دبل چاعبادت طرف ته توجه مه کوی او دهغه څخه معافي غواړی یعني دتیرو عملونو دشرک څخه توبه وکاړی او دخپلو خطاګانو معافي غواړی او دداسي مشرکانو دپاره لويه خرابي ده الخ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۷۰)

الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ وَ تَجْعَلُوْنَ لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ ذٰلِكَ رَبُّ

الْاَرْضَ	فِيْ يَوْمَيْنِ	وَ تَجْعَلُوْنَ	لَهٗۤ	اَنْدَادًا	ذٰلِكَ	رَبُّ
مځکه	په‌دوو ورځو	او ګرځوئ له‌خپل ځانه	(دغه‌الله) ته	شريکان	دغه‌ذات	پالونکی

مځکه په‌دوو ورځو او ګرځوئ له‌خپل ځانه (دغه‌الله) ته شريکان، دغه‌ذات (چی مځکه يئ په‌دووورځوکی پيدا کړی‌ده) رب

الْعٰلَمِيْنَ ۝٩ وَ جَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا

الْعٰلَمِيْنَ	وَ جَعَلَ	فِيْهَا	رَوَاسِيَ	مِنْ فَوْقِهَا
دټولو مخلوقاتو دی	او پيداکړی‌دی (الله)	په‌دغه‌کښی	درانه، محکم‌غرونه	دپاسه د دی‌شخه

دعالميانو دی. او پيداکړی دی (الله) په‌دغه (مځکه) کښی درانه کلک محکم غرونه د پاسه ددی شخه

وَ بٰرَكَ فِيْهَا وَ قَدَّرَ فِيْهَاۤ اَقْوَاتَهَا فِيْۤ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ ؕ

وَبٰرَكَ	فِيْهَا	وَقَدَّرَ	فِيْهَاۤ	اَقْوَاتَهَا	فِيْۤ اَرْبَعَةِ	اَيَّامٍ
او بيا يئ برکت کښيښودئ	په‌دغه‌کښی	او مقرره کړی‌يئ‌ده	په‌دی‌مځکه‌کښی	روزی ددی	په‌څلورو	ورځو کښی

او بيا يئ برکت کښيښودئ په‌دغه‌کښی او مقرره کړی يئ ده په دی مځکه کښی روزی (داهل) د دی، په‌څلورو ورځوکښی

سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝١٠ ثُمَّ اسْتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ وَ هِيَ دُخَانٌ

سَوَآءً	لِّلسَّآئِلِيْنَ	ثُمَّ	اسْتَوٰۤى	اِلَى السَّمَآءِ	وَهِيَ	دُخَانٌ
برابر دی	دپاره‌د پوښتنی کوونکيو	بيا يئ	اراده‌وفرمايله	آسمان‌ته	داچی دغه‌آسمان	يو دود ؤ

برابر دی دپاره د پوښتنی کوونکيو ، بيا يئ اراده وفرمايله (پيداکولو د) آسمان ته حال داچی دغه‌آسمان يو لوګی ؤ (ولاړ)

فَقَالَ لَهَا وَ لِلْاَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ قَالَتَاۤ

فَقَالَ	لَهَا	وَلِلْاَرْضِ	ائْتِيَا	طَوْعًا	اَوْ كَرْهًا	قَالَتَاۤ
پس‌وفرمايل (الله)	دغه (آسمان) ته	او مځکی ته	چی راسئ‌دواړه	پخپلی خوښی سره	يا په‌زور سره	وويل (دی‌دواړو)

پس وفرمايل (الله) دغه (آسمان) ته او (دغی) مځکی ته چی راسئ دواړه پخپلی خوښی سره يا په‌زور سره وويل آسمان او مځکی

اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ۝١١ فَقَضٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ

اَتَيْنَا	طَآئِعِيْنَ	فَقَضٰىهُنَّ	سَبْعَ	سَمٰوَاتٍ	فِيْ يَوْمَيْنِ
راغلو موږ	په‌خوښی سره	پس‌مقرر جوړ کړل‌ده‌هغوی	اووه	آسمانونه	په‌دوو ورځو کښی

راغلو موږ (فرمان ستا ته) په‌خوښی سره. پس مقرر جوړ کړل اووه آسمانونه په‌دوو ورځو (دپنجشنبی جمعی) کښی

وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا. په مځکه کي غرونه ددې دتوازن ددرست ساتلو دپاره پيدا سوي دي: لکه چي دقرآن کريم په ډيرو اياتونو کي ددې وضاحت راغلی دی په دې وجه داضروري نه وه چي داغرونه دمځکي پر سطح باندي لوړ کښيښوول سي په مځکه کي دننه هم کښيښوول کيدای سوه مګر په لوړاېښوولوکي او دومره يي لوړول چي دعامو حيوانانو او انسانانوورته رسيدل نه سي کيدای په دي کي دمځکي د اوسيدونکي دپاره په زرګونو بلکي بې شميره فائدي دي په دې وجه په دې آيت کي د من فوقها په لفظ سره دې خاص نعمت ته اشاره ده وقدر فيها اقواتها فی اربعة ايام. اقوات دقوت جمع ده چي معنی يي رزق او روزي ده چي عام انساني ضرورتونه په کښي داخل دي. او حضرت حسن رحمة الله عليه او سدي رحمة الله عليه ددې په تفصيل کي فرمايي چي الله جل جلاله دمځکي په هره حصه کي ددې د اوسيدونکو دمصلحتونو ناسب رزق او روزي مقرر کړيده يعني داحکم جاري سو چي دمځکي په فلانی حصه کي دي فلانی شی دومره اندازه پيدا سي الخ. پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ۭ وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ

وَاَوْحٰى	فِيْ كُلِّ	سَمَآءٍ	اَمْرَهَا	وَزَيَّنَّا	السَّمَآءَ
او ویئ لیږه	په هر	آسمان کښې	کار دهغه	او ښائسته کړې مو دی	دغه آسمان

او ویئ لیږه (مقرریئ کړ) په هر آسمان کښې کار (مناسب تدبیر) دهغه (آسمان) او ښائسته کړې مو دی دغه آسمان

الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ ۖ وَحِفْظًا ۭ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ

الدُّنْيَا	بِمَصَابِيْحَ	وَحِفْظًا	ذٰلِكَ	تَقْدِيْرُ	الْعَزِيْزِ
نژدې	په څراغانو (ستوریو) سره	او په ساتلو سره	دغه (مخلوقات)	اندازه کول دی	د الله ښه غالب قوی

نژدې په ډیوو (ستوریو) سره او (ساتلې دی موږ دا) په ساتلو سره دغه (مخلوقات) اندازه کول دی د الله ښه غالب قوی

الْعَلِيْمِ ﴿١٢﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً

الْعَلِيْمِ	فَاِنْ	اَعْرَضُوْا	فَقُلْ	اَنْذَرْتُكُمْ	صٰعِقَةً
ښه عالم	پس که چیرې	مخ وګرځاوه	پس ووایه (محمده)	چې ییروم زه تاسې	له سخت عذابه

ښه عالم (په هر شی). پس که چیرې مخ وګرځاوه (دغو کفارو) پس ووایه (ای محمده!) چې ییروم زه تاسې له سخت عذابه

مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ ﴿١٣﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ

مِّثْلَ	صٰعِقَةِ	عَادٍ	وَّثَمُوْدَ	اِذْ جَآءَتْهُمُ	الرُّسُلُ
په مثل	دسخت عذاب	دعادیانو	او ثمودیانو	کله چې راغلل دوی ته	رسولان (هود، او صالح)

په مثل د سخت عذاب د عادیانو (باد صرصر) او ثمودیانو (چغه دجبرئیل)، کله چې راغلل دوی ته رسولان (هود او صالح)

مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ

مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ	وَمِنْ خَلْفِهِمْ	اَلَّا تَعْبُدُوْٓا	اِلَّا	اللّٰهَ
له طرفه د وړاندې ددغو (کفارو)	او له طرفه د وروسته ددغو	چې مه کوئ عبادت	مګر	د الله

له طرفه د وړاندې د دغو (کفارو) او له طرفه د وروسته ددغو (وی ویل دوی ته دا سې) چې مه کوئ عبادت مګر د الله

قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا

قَالُوْا	لَوْ شَآءَ	رَبُّنَا	لَاَنْزَلَ	مَلٰٓئِكَةً	فَاِنَّا
وویل	که اراده فرمائلې وی	رب زموږ	خامخا لیږلې به یئ وی	ملائیکې	پس بیشکه! چې موږ

وویل (کفارو) که اراده فرمائلې وی رب زموږ (په لیږلو د رسولانو) خامخا لیږلې به یئ وی ملائیکې پس بیشکه! چې موږ

وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ : په دغه تقدیر الهي سره دهري حصې دمځکې څه خصوصیات هر ځای مختلف قسم معدنیات دمختلفو اقسامو بوټي او درختي او حیوانان ددغه حصې دمځکې ضرورتونه ددغو دمزاج او پسند مطابق یې پیدا اوفرمایل: په دې سره دهرې حصې دمځکې مصنوعات او ملبوسات مختلف وي په یمن کي عصب په سابور کي سابوري او په رې کي طیالسة په ځینې مځکه کي غنم په ځینو کي ورجي او نوري غلې په یو ځای کي پنبه په ځیني کي سیب ، انګور او په ځیني کي آم ددې شیانو په اختلاف کي دهرې مځکي دمزاجونو مناسبت هم دی : او دعکرمه او دضحاک دقول مطابق دافائده هم ده چي ددنیا دټولو حصو او ملکونو دیو او بل سره دتجارت او تعاون لاري جوړي سي یوه حصه دمځکي دبلي حصې دمځکي څخه مستغني نه وي یو بل ته په احتیاج کي دیو بل سره تعاون هم مضبوطیږي یو شی په یو ځای کي ارزان لیکن هغه بل ځای د زرو په قیمت خرخیږي.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۸۳)

بِمَآ اُرۡسِلۡتُمۡ بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ⑭ فَاَمَّا عَادٌ فَاسۡتَكۡبَرُوۡا فِي الۡاَرۡضِ

بِمَآ اُرۡسِلۡتُمۡ	بِهٖ	كٰفِرُوۡنَ	فَاَمَّا	عَادٌ	فَاسۡتَكۡبَرُوۡا	فِي الۡاَرۡضِ
په هغه شي چې رالیږلی سوي یئ تاسي	په هغه سره	کافران یو	پس هر څه	چې عادیان وو	پس کبر ئی غوره کړه	په ځمکه کښې

په هغه شي چې رالیږلی سوي یئ تاسي په هغه سره کافران یو، پس هر څه چې عادیان وو پس کبر ئی غوره کړه په ځمکه کښې

بِغَيۡرِ الۡحَقِّ وَقَالُوۡا مَنۡ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّ

بِغَيۡرِ الۡحَقِّ	وَقَالُوۡا مَنۡ	اَشَدُّ	مِنَّا	قُوَّةً	اَوَلَمۡ يَرَوۡا	اَنَّ
په ناحقه سره	او وویل دوی څوک دی	زیات سخت	له موږ ځیني	په قوت کښې	آیا نه ویني دوی	چې بیشکه!

په ناحقه سره او وویل دوی څوک دی زیات سخت له موږ ځیني په قوت کښې، آیا نه ویني (نه پوهیدل) دوی چې بیشکه!

اللّٰهَ الَّذِيۡ خَلَقَهُمۡ هُوَ اَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةً ؕ وَكَانُوۡا

اللّٰهَ	الَّذِيۡ	خَلَقَهُمۡ	هُوَ	اَشَدُّ	مِنۡهُمۡ	قُوَّةً	وَكَانُوۡا
الله	هغه (ذات) دی	چې پیدا کړی یئ دی دوی	هغه ډیر	سخت دی	له دوی څخه	په قوت زور کښې	او وه دوی

الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړی یئ دی دوی هغه ډیر سخت دی له دوی څخه په قوت زور کښې او وه دوی

بِاٰيٰتِنَا يَجۡحَدُوۡنَ ⑮ فَاَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيۡحًا

بِاٰيٰتِنَا	يَجۡحَدُوۡنَ	فَاَرۡسَلۡنَا	عَلَيۡهِمۡ	رِيۡحًا
په دلائلو د (قدرت) زموږ	چې انکار به یئ کوو	پس راو مولیږه	پر دوی باندی	باد

په دلائلو د (قدرت) زموږ چې انکار به یئ کوو . پس راو مولیږه پر دوی باندی باد

صَرۡصَرًا فِيۡۤ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيۡقَهُمۡ عَذَابَ

صَرۡصَرًا	فِيۡۤ اَيَّامٍ	نَّحِسَاتٍ	لِّنُذِيۡقَهُمۡ	عَذَابَ
یخ توند	په څوورځو کښې	چې ډیری سپیری شومې وی	د پاره ددې چې وڅکوو موږ پر دوی	عذاب

یخ ډیر زورور هیبتناک په څو ورځو کښې چې ډیری نحسی شومې وی د پاره د دې چې وڅکوو موږ پر دغو (کفارو) عذاب

الۡخِزۡيِ فِي الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ؕ وَلَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ اَخۡزٰى وَهُمۡ

الۡخِزۡيِ	فِي الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا	وَلَعَذَابُ	الۡاٰخِرَةِ	اَخۡزٰى	وَهُمۡ
د رسوایۍ	په دغه ژوندون	د دنیا کښې	او خامخا عذاب	د آخرت	خو ډیر رسوا کوونکی دی	چې له دوی سره به

رسوا کوونکی په دغه ژوندون د دنیا کښې او خامخا عذاب د آخرت خو ډیر رسوا کوونکی دی حال دا چې له دوی سره به

فَاَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيۡحًا صَرۡصَرًا فِيۡۤ اَيَّامٍ ...پر قوم دعادیانو باندي دعذاب الهي پس منظر: امام ضحاک رحمة الله علیه فرمایي چې قوم دعادیانو کله دحضرت هود علیه السلام خبره ونه منله او دده تکذیب یي وکړی نو الله جل جلاله دوی ته په قهر سو او عذاب یي پر الیږل شروع کړه په داسي شکل سره چې الله جل جلاله پر دوی باندي درې کاله باران بند کی او تیزي او تندي وچې هواوي به چلیدې اواته ورځې او اووه شپې مسلسل دهوا سخت طوفان وو په ځینو روایتونو کي دي چې دا واقعه دشوال په آخرکي دیوې چهارشنبې په ورځ شروع سوه او تربلې چارشنبې پورې وه او پر کم قوم چې عذاب راغلی دی نو هغه دچار شنبې په ورځ راغلی دی: قرطبي مظهري. حضرت جابر ابن عبدالله رضي الله عنه فرمایي چې کله الله جل جلاله دیو قوم خیر غواړي نو پر هغوی باران اوروي او ډیري تیزي هواګاني پر هغوی نه راولي او کله چې دیو قوم په مصیبت کي اخته کول غواړي نو باران ور څخه منع کړي او هوا ګاني زیاتي او تیزي چلیږي چې دبې برکتی علامه ده: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿١٦﴾ وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا

لَا يُنْصَرُوْنَ	وَاَمَّا	ثَمُوْدُ	فَهَدَيْنٰهُمْ	فَاسْتَحَبُّوا
مرسته ونه کړل سي	او هرڅه	چې ثموديان وو	پس سمه لاره مو وښووله دوی ته	پس غوره کړه دوی

مرسته ونه کړل سي. او هرڅه چې ثموديان وو پس سمه لاره مو وښووله دوی ته پس غوره کړه دوی

الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ

الْعَمٰى	عَلَى الْهُدٰى	فَاَخَذَتْهُمْ	صٰعِقَةُ	الْعَذَابِ
ړوند والي	پر هدايت	پس ونيول دوی	سختی چغې (دجبرائيل)	دعذاب

ړوندوالی (ضلالت) پر هدايت (او رهنمايئ)، پس ونيول دوی سختی چغې (دجبرائيل او) دعذاب

الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ

الْهُوْنِ	بِمَا كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ	وَنَجَّيْنَا	الَّذِيْنَ
سپکوونکی	په سبب دهغه چې وو دوی	چې کول به يئ	او نجات مو ورکړ	هغو کسانو ته

سپکوونکی په سبب د هغه (شرک او عصيان) چې وو دوی چې کول به يئ. او نجات مو ورکړ هغو کسانو ته

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿١٨﴾ وَيَوْمَ يُحْشَرُ

اٰمَنُوْا	وَكَانُوْا	يَتَّقُوْنَ	وَيَوْمَ	يُحْشَرُ
چې ايمان يئ راوړی وو	او وو دوی	چې پرهيزګاری به يئ کوله	او هغه ورځ چې	راټول به کړی سی

چې ايمان يئ راوړی وو او وو دوی چې پرهيزګاری به يئ کوله (له شرکه). او (يادکړه) هغه ورځ چې راټول به کړی سی

اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿١٩﴾ حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا

اَعْدَآءُ	اللّٰهِ	اِلَى النَّارِ	فَهُمْ	يُوْزَعُوْنَ	حَتّٰٓى	اِذَا مَا	جَآءُوْهَا
دښمنان	دالله	اورته	پس دوی به	ډلی ډلی کړل سی	تر	هغه وخته پوری	چې راسی دوی دغه (اورته)

دښمنان دالله اور (د دوزخ) ته پس دوی به ډلی ډلی کړل سی. ترهغه وخته پوری چې راسی دوی دغه (اورته)

شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا

شَهِدَ	عَلَيْهِمْ	سَمْعُهُمْ	وَاَبْصَارُهُمْ	وَجُلُوْدُهُمْ	بِمَا
شاهدی به ورکړی	پردوی باندی	غوږونه ددوی	او سترګی د دوی	او پوستکی د دوی	پرهغو (کارونو)

شاهدی به ورکړی پردوی باندی غوږونه د دوی او سترګی د دوی او پوستکی (او نور اعضاء) ددوی پرهغو (کارونو)

١٦ع ٢

وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى...دتير مخ پاته بيان دلته وګورى

دسورت حم السجدة په پنځلسم آيت کي دالله جل جلاله داارشاد وو چي: فى ايام نحسات: داسلام داصولو او دنبي کريم ﷺ د احاديثو څخه ثابته ده چي يوه ورځ يا شپه په خپل ذات کي منحوسه او بې برکته او دکرکي وړنه ده پر قوم دعاديانو باندي دباد دطوفان ورځوته د نحسات فرمايلو دا مطلب دی چي دغه ورځي ددغه قوم په حق کي ددوی دبدو عملونو په سبب منحوسي وې:مظهري او بيان القرآن او ددې مسئلې پوره تحقيق دحضرت مولانا مفتي شفيع رحمة الله عليه په کتاب احکام القرآن حزب خامس کي وګورى کم چي په عربي ژبه کي طبع سوى دى:فهم يوزعون. دادوزع څخه مشتق دی چي معنى يې منع کول او بندول دي اکثره مفسرين حضرات دا معنى اخلي چي جهنميان به په ډير شميرکي وي دوى به ميدان دحشر او موقف دحساب ته دبيولو په وخت کي دانتشار څخه دمحفوظ کولو دپاره مخ ته لږ وخت ودروي چي وروسته خلګ راسي او ورسره يوځای سي. (معارف القرآن ج٨ پ٢٤ ص ٩٠)

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ

كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَقَالُوْا	لِجُلُوْدِهِمْ	لِمَ شَهِدْتُّمْ
چي وو دوی	چي کول به يئ	او وبه وايئ	پوستکو خپلو ته	ولی مو شاهدی ورکړه تاسی

چي وو دوی چي کول به يئ. او وبه وايئ (کفار) پوستکو خپلو ته ولی مو شاهدی ورکړه تاسی

عَلَيْنَا ؕ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ

عَلَيْنَا	قَالُوْٓا	اَنْطَقَنَا	اللّٰهُ	الَّذِيْٓ	اَنْطَقَ	كُلَّ شَيْءٍ
پر موږ	نو وبه وايئ	ږغولي يو موږ	الله	هغه چي	ږغولي يئ دی	هر شي

پر موږ؟ نو وبه وايئ (دغه پوستکی دوی ته) ږغولي يو موږ الله هغه (قادر مطلق) چي ږغولي يئ دی هر شي

وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَا كُنْتُمْ

وَّهُوَ	خَلَقَكُمْ	اَوَّلَ	مَرَّةٍ	وَّاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ	وَمَا كُنْتُمْ
حال دا چي الله	پيدا کړي يئ تاسی	اول	وار	او خاص هم دغه الله ته	بيرته بيولی سئ تاسی	او نه وئ تاسی

حال دا چي الله پيدا کړي يئ تاسی اول ځلی او خاص هم دغه الله ته بيرته بيولی سئ (مجازاتو ته) . او نه وئ تاسی

تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ

تَسْتَتِرُوْنَ	اَنْ يَّشْهَدَ	عَلَيْكُمْ	سَمْعُكُمْ	وَلَآ اَبْصَارُكُمْ
چي پټول به مو	چي شاهدی به ورکړي	پر تاسی	غوږونه ستاسی	او نه سترګی ستاسی

چي پټول به مو (دغه فواحش) چي شاهدی به ورکړي پر تاسی غوږونه ستاسی او نه سترګی ستاسی

وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ

وَلَا جُلُوْدُكُمْ	وَلٰكِنْ	ظَنَنْتُمْ	اَنَّ	اللّٰهَ
او نه پوستکی ستاسی	او ليکن	ګمان به کوی تاسی	ددی چي	بيشکه! الله

او نه پوستکی ستاسی (چي دخپلو اعضاء په شهادت مو باور نه درلود). او ليکن ګمان به کوی تاسی ددی چي بيشکه! الله

لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ

لَا يَعْلَمُ	كَثِيْرًا	مِّمَّا	تَعْمَلُوْنَ	وَذٰلِكُمْ	ظَنُّكُمُ	الَّذِيْ
نه دی عالم	پر ډيرو	له هغو کارونو	چي کول به تاسو	او دغه	(فاسد) ګمان ستاسی	هغه دی

نه دی عالم پر ډيرو له هغو کارونو چي کول به تاسو. او دغه (فاسد ګمان) ستاسی هغه دی

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ.. دانساني اندامونواو جوارحو په محشر کي شاهدي: په صحيح مسلم شريف کي دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ موږ دنبي کريم ﷺ سره ووده ﷺ ته خندا ورغله بيا دوی وفرمايل چي تاسي ته معلومه ده چي زه په څه خبره پوري خاندم موږ عرض وکي چي الله جل جلاله او دهغه رسول ښه پوهيږي دوی وفرمايل چي ماته خندا پر دغه خبره راغله کمه چي به په ميدان دحشر او موقف دحساب کي بنده دخپل رب سره کوي داعرض به وکي چي ای زما پروردګاره آياتا دظلم څخه پناه نه ده راکړي؟ الله جل جلاله به وفرمايي چي بيشکه درکړې مې ده نو په دې باندي به بنده ووايي چي کله خبره داده نوزه دخپل حساب او کتاب په معامله کي دبل هيچا په شاهدی باندي نه مطمئن کيږم بغير ددې څخه چي زما په بدن کي يو څوک شاهدي اداء کړي الله جل جلاله به وفرمايي: كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا يعني ښه دی ته په خپله خپل حساب وکړه ددې څخه به وروسته دده پر خولې باندي مهر ووهل سي. پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

ظَنَنۡتُمۡ بِرَبِّكُمۡ اَرۡدٰىكُمۡ فَاَصۡبَحۡتُمۡ مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ﴿۲۳﴾

ظَنَنۡتُمۡ	بِرَبِّكُمۡ	اَرۡدٰىكُمۡ	فَاَصۡبَحۡتُمۡ	مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ
چې ګمان به کاوه تاسی	په رب خپل	هلاک کړی یئ تاسی	پس نن وګرځیدئ تاسی	له زیان کارانو څخه

ګمان ستاسی دی چې کاوه به تاسی په رب خپل هلاک کړی یئ تاسی پس نن وګرځیدئ تاسی له زیان کارانو څخه.

فَاِنۡ يَّصۡبِرُوۡا فَالنَّارُ مَثۡوًى لَّهُمۡ‌ ۚ وَاِنۡ

فَاِنۡ يَّصۡبِرُوۡا	فَالنَّارُ	مَثۡوًى	لَّهُمۡ	وَاِنۡ
پس که صبر وکړی دوی	پس اور	ځای دهستوګنی دی	دوی ته	او که

پس که صبر وکړی دوی (په دی عذاب) پس اور (د دوزخ) ځای دهستوګنی دی دوی ته او که

يَّسۡتَعۡتِبُوۡا فَمَا هُمۡ مِّنَ الۡمُعۡتَبِيۡنَ ﴿۲۴﴾ وَقَيَّضۡنَا لَهُمۡ

يَّسۡتَعۡتِبُوۡا	فَمَا هُمۡ	مِّنَ الۡمُعۡتَبِيۡنَ	وَقَيَّضۡنَا	لَهُمۡ
معافی غواړی دوی	پس نه به وی دوی	له قبول کړیو سویو	او مقرر کړی مو دی	دوی ته

رضاء دالله غواړی دوی پس نه به وی دوی له قبول کړیو سویو (په طلب د رضاء دالله). او مقرر کړی مو دی دوی ته

قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوۡا لَهُمۡ مَّا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ

قُرَنَآءَ	فَزَيَّنُوۡا	لَهُمۡ	مَّا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ	وَمَا	خَلۡفَهُمۡ
ملګری	پس ښائسته کړی یئ دی	دوی ته	هغه شیان چې وړاندی له دوی دی	او هغه شیان	چې وروسته له دوی دی

ملګری (له شیاطینو) پس ښائسته کړی یئ دی دوی ته هغه شیان چې وړاندی له دوی دی او هغه شیان چې وروسته له دوی دی

وَحَقَّ عَلَيۡهِمُ الۡقَوۡلُ فِىۡۤ اُمَمٍ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ

وَحَقَّ	عَلَيۡهِمُ	الۡقَوۡلُ	فِىۡۤ اُمَمٍ	قَدۡ	خَلَتۡ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ
او ثابته سوی ده	پر دوی	خبره	په هغو امتونو کښی	چې په تحقیق	تیر سوی دی	پخوا له دوی څخه

او ثابته سوی ده پر دوی خبره (دعذاب) په هغو امتونو کښی چې په تحقیق تیر سوی دی پخوا له دوی څخه

مِّنَ الۡجِنِّ وَالۡاِنۡسِ‌ ۚ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا خٰسِرِيۡنَ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ

مِّنَ	الۡجِنِّ	وَالۡاِنۡسِ	اِنَّهُمۡ	كَانُوۡا	خٰسِرِيۡنَ	وَقَالَ
له	پیریانو	او له انسانانو	بیشکه! چې دوی	وو	زیان کاران	او وایئ

له پیریانو او له انسانانو، بیشکه! چې دوی وو زیان کاران (په دواړو جهانونو کښی). او وایئ

ع ۱۷ ۳

ظَنَنۡتُمۡ بِرَبِّكُمۡ اَرۡدٰىكُمۡ فَاَصۡبَحۡتُمۡ مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ

دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: او ددغه کافر اندامونو ته به وویل سي چې تاسي دده عملونه وښیاست هر یو اندام به ووايي او رښتینی شاهدي به پر ادا کړي ددې څخه وروسته به دده ژبه خلاصه سي نو دی به په خپله دخپلو اندامونو څخه ناراضه سي وبه وايي: بعداً لكنّ وسحقا فعنكنّ اناضل: يعنی تاسي خراب او برباد سی ماخو په دنيا کي چي څه کړي دي تاسي ته دارام رسولو دپاره مي کړي دي نو اوس تاسي زما خلاف شاهدي اداء کړه: او دحضرت ابوهريره ﵁ په روايت کي دی چي ددغه سړي پر خُله به مهر ووهل سي او دده ورانه ته به وويل سي چي ته ووايه او دده عملونه بيان کړه نو دانسان دورنونو غوښه او هډوکي ټول به دده دعملونو شاهدي اداء کړي : او دمعقل بن يسار ﵁ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي راتلونکي ورځ انسان ته داآواز کوي چي زه نوې ورځ يم کم عمل چي ته په ما کي کوې دقيامت په ورځ به زه دهغه شاهدي ادا کوم الخ.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۹۱)

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَا تَسْمَعُوْا	لِهٰذَا	الْقُرْاٰنِ	وَالْغَوْا
هغه كسان	چي كافران سوي دي	چي غوږ مه ږدئ تاسي	دغه	قرآن ته	او شورماشور واچوئ

هغه كسان چي كافران سوي دي (په وخت دقرائت دقرآن) چي مه اورئ غوږ مه ږدئ تاسي دغه قرآن ته او شورماشور واچوئ

فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ

فِيْهِ	لَعَلَّكُمْ	تَغْلِبُوْنَ	فَلَنُذِيْقَنَّ	الَّذِيْنَ
په ده كښي	ښايئ چي تاسي	غالب سئ	پس خامخا وبه څكوو موږ	هغو كسانو ته

په (وخت دلوستلو د) ده كښي ښايئ چي تاسي غالب سئ. (فرمائي الله) پس خامخا وبه څكوو موږ هرومرو هغو كسانو ته

كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ كَانُوْا

كَفَرُوْا	عَذَابًا	شَدِيْدًا	وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ	اَسْوَاَ	الَّذِيْ	كَانُوْا
چي كافران سوي دي	عذاب	سخت	او خامخا جزاء به وركړو موږ دوى ته	ډيره بده سزا	دهغو اعمالو	چي وو دوى

چي كافران سوي دي عذاب سخت او خامخا جزاء به وركړو موږ هرومرو دوى ته ډيره بده سزا دهغو اعمالو چي وو دوى

يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيْهَا

يَعْمَلُوْنَ	ذٰلِكَ	جَزَآءُ	اَعْدَآءِ	اللّٰهِ	النَّارُ	لَهُمْ	فِيْهَا
چي كول به يئ	دغه	جزاء	دډښمنانو	دالله ده	چي اور دى	سته دوى ته	په دغه اور كښي

چي كول به يئ. دغه (سخت عذاب) جزاء دډښمنانو دالله چي اور دى سته دوى ته په دغه اور كښي

دَارُ الْخُلْدِ ۭ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٢٨﴾

دَارُ	الْخُلْدِ	جَزَآءً	بِمَا كَانُوْا	بِاٰيٰتِنَا	يَجْحَدُوْنَ
كور	دهميشه والي	په جزاء وركولو	په سبب دهغه چي وو دوى	چي په آيتونو زموږ سره به يئ	انكار كاوه

كور د هميشه والى (دپاره دجزاء) په جزاء وركولو په سبب دهغه چي وو دوى چي په آيتونو زموږ (قرآن) به يئ انكار كاوه.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ

وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	رَبَّنَآ	اَرِنَا	الَّذَيْنِ
او وبه وايئ	هغه كسان	چي كافران سوي دي	اى ربه زموږ	وښيه موږ ته	هغه (دوه تنه)

او وبه وايئ (په اور كښي) هغه كسان چي كافران سوي دي اى ربه زموږ وښيه موږ ته هغه (دوه تنه)

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ. كافرانو به په خپل مينځ كي ويل چي داقران مه اورى: كفار چي كله دقرآن كريم دمقابلې څخه عاجزه سول او ددې خلاف ددوى ټول تدبيرونه ناكامه سول نو دغه وخت دوى دغه حركت شروع كى حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي ابوجهل خلګ دې ته تيار كړل چي كله محمد ﷺ قرآن وايي نو تاسي دده خواته ورځى چيغي او شوركوى چي خلګو ته درک ونه لګيږي چي دى څه وايي: ځينو ويلي دي چي دشپيليو وهلو، لاسونو ټوكولو، او قسم قسم اوازونه راايستلو په وجه سره يي دقرآن كريم داوريدو څخه دخلګو دمنع كولو تدبيرونه وكړل: قرطبي: دذكر سوي ايت څخه دامعلومه سوه چي دقرآن په تلاوت كي دخلل اچولو په نيت سره شوركول خو دكفارو نښانه ده ددې څخه دا هم معلومه سوه چي چپ اوسيدل او قرآن كريم په غور او خشوع سره اوريدل واجب او دايمان نښه ده: الله جل جلاله دي اول موږ ته او بيا عامو مسلمانانو ته هدايت وكي چي دقرآن كريم قدر عزت او احترام هر وخت وكړو. (معارف القرآن ج٨ پ٢٤ ص ٩٣)

اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا

اَضَلّٰنَا	مِنَ الْجِنِّ	وَالْاِنْسِ	نَجْعَلْهُمَا	تَحْتَ	اَقْدَامِنَا	لِيَكُوْنَا
چی گمراهان کړی یئ وو موږ	له پیریانو	او له انسانانو	چی وګرځوو دوی	لاندی	دقدمونو خپلو	دپاره ددی چی سی دوی

چی گمراهان کړی یئ ؤ موږ له پیریانو او له انسانانو چی وګرځوو دوی لاندی دقدمونو خپلو دپاره ددی چی سی دوی

مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ۝٢٩ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ

مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	قَالُوْا	رَبُّنَا	اللّٰهُ	ثُمَّ
له ډیره کښته خلګو څخه	بیشکه!	هغه کسان	چی ویلی یئ دی	چی رب زموږ	الله دی	بیا

له کښته (سپکو ذلیلو). بیشکه! هغه کسان چی ویلی یئ دی صدقاً له زړه چی رب زموږ الله دی بیا

اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا

اسْتَقَامُوْا	تَتَنَزَّلُ	عَلَيْهِمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	اَلَّا تَخَافُوْا
ټینګ ولاړ وی	رانازلیږی به	پر دوی	ملائیکی	مه ببیریږئ

ټینګ ولاړ وی (په دغه توحید) رانازلیږی به پر دوی ملائیکی (چی داسی به وایئ) مه ببیریږئ

وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝٣٠

وَلَا تَحْزَنُوْا	وَاَبْشِرُوْا	بِالْجَنَّةِ	الَّتِيْ	كُنْتُمْ	تُوْعَدُوْنَ
او غمجن کیږئ	او خوشحاله اوسئ تاسی	په جنت	هغه چی	وئ تاسی	چی وعده یئ درسره کړی سوی ده

او مه خپه کیږئ او خوشحاله اوسئ تاسی په جنت هغه چی وئ تاسی چی وعده یئ درسره کړی سوی ده (په ژبو دانبیاؤ)

نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ

نَحْنُ	اَوْلِيٰٓؤُكُمْ	فِي الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	وَفِي الْاٰخِرَةِ
موږ یو	دوستان ستاسی	په دغه ژوندون	ددنیا کښی	او په آخرت کښی

(بل داچی) موږ یو دوستان ستاسی په دغه ژوندون ددنیا کښی (په حفاظت نصرت) او په آخرت کښی

وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا

وَلَكُمْ	فِيْهَا	مَا تَشْتَهِيْٓ	اَنْفُسُكُمْ	وَلَكُمْ	فِيْهَا
او سته تاسی ته	په دغه (جنت) کښی	هغه چی اشتهاء ورته کوی	نفسونه ستاسی	او سته تاسی ته	په دغه (جنت) کښی

او سته تاسی ته په دغه جنت کښی هغه نعماء چی مینه ورته کوی نفسونه ستاسی او سته تاسی ته په دغه (جنت) کښی

اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا. **داستقامت معنی او مفهوم**: اولنی جزیي په لفظ داستقامت سره تعبیر کړی ارشاد وسو انّ الذین قالوا ربّنا الله ثمّ استقاموا: یعني کمو خلګو چي په صدق دزړه سره پر الله ﷻ باندي دخپل رب یقین وکی او ددې اقرار یي هم وکی نو دااصل ایمان سو مخ ته پر دغه باندي مستقیم هم پاته سو داعمل صالح سو: دغه رکم دایمان او عمل صالح جامع سو دلفظ داستقامت چي کم مطلب علماوو بیان کړی دی چي پر ایمان او توحید باندي قایم پاته کیدل او هغه نه پریښوول داتفسیر دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه څخه منقول دی او تقریبا دامضمون دحضرت عثمان رضی الله عنه څخه هم منقول دی هغوی داستقامت تفسیر په اخلاص عمل سره فرمایلی دی او حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه فرمایي چي: استقامت دادی چي ته دالله ﷻ پر ټولو احکامو او امرو او نواهیوو باندي برابر پاته سې دهغه څخه یوه خوا او بله خواته دګیدړ په شان دتیښتي لار ونه لټوې: الله ﷻ دي موږ او تاسي ته رانصیب کړي.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۹۷)

ع ۴ ۱۸

مَا تَدَّعُوْنَ ﴿۳۱﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ﴿۳۲﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ

مَا تَدَّعُوْنَ	نُزُلًا	مِّنْ غَفُوْرٍ	رَّحِيْمٍ	وَمَنْ	اَحْسَنُ
هغه چي غواړئ يئ تاسي	ميلمستيا ده	له ښه بخښونکي	ډير رحم والا	او څوک دی	ډير ښائسته

هغه چي غواړئ يئ تاسي. ميلمستيا ده له (جانبه دالله) ښه بخښونکي ډير رحم والا. او څوک دی ډير ښائسته (بلکه نسته)

قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ

قَوْلًا	مِّمَّنْ	دَعَآ	اِلَى اللّٰهِ	وَعَمِلَ	صَالِحًا	وَّقَالَ	اِنَّنِيْ
له جهته د وينا	تر هغه چاچي	بولي	طرف دالله ته	او عمل كوي	نيک	او وايئ	بيشكه! زه

له جهته د وينا له هغه چا چي بولي (خلق) طرف دالله ته او عمل كوي نيک او وايئ بيشكه! زه

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا تَسْتَوِى الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ	وَلَا تَسْتَوِى	الْحَسَنَةُ	وَلَا السَّيِّئَةُ
له مسلمانانو يم	او نه برابريږی سره	نيكي	او نه بدی

له مسلمانانو يم. او نه برابريږی سره نيكي او نه بدی (په جزاء او حسن العاقبة كښې)

اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ

اِدْفَعْ	بِالَّتِيْ	هِيَ اَحْسَنُ	فَاِذَا	الَّذِيْ	بَيْنَكَ	وَبَيْنَهٗ
دفع كوه	په هغه خصلت سره	چي هغه ډير ښه وی	پس ناڅاپه	هغه څوک	چي په مينځ ستا	او په مينځ د هغه كښې

دفع كوه (ته هغه بدی) په هغه خصلت سره چي هغه ډير ښه وی پس ناڅاپه هغه څوک چي په مينځ ستا او په مينځ د هغه كښې

عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾ وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ

عَدَاوَةٌ	كَاَنَّهٗ	وَلِيٌّ	حَمِيْمٌ	وَمَا يُلَقّٰهَآ	اِلَّا	الَّذِيْنَ
دښمني وی	لكه چي دی به	دوست وی	ډير مهربان	او نه وركول كيږی دا	مگر	هغو كسانو ته

عداوت ، دښمني وی لكه چي دی به دوست وی ډير مهربان. او نه وركول كيږی دا (نيک خصلت) مگر هغو كسانو ته

صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَاِمَّا

صَبَرُوْا	وَمَا يُلَقّٰهَآ	اِلَّا	ذُوْ حَظٍّ	عَظِيْمٍ	وَاِمَّا
چي صبر تحمل كوی	او نه وركول كيږی دا	مگر	خاوند د برخي	ډيری لوئ ته	او كه

چي صبر تحمل كوی او نه وركول كيږی دا (نيک خصلت) مگر خاوند د برخي ډيری لوئ ته. او كه

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ. د كاملو مومنانو داحوالو دوهمه حصه: يعني د الله ﷻ نيک بندگان هغه دي چي هغوی صرف په خپله پر خپل ايمان او عمل قناعت نه كوي بلكي نورو خلگو ته هم ددې دعوت وركوي او الله ﷻ فرمايي چي د هغه څخه ښه دچا قول كيدای سي كم چي خلگ دالله ﷻ طرف ته رابولي معلومه سوه چي دانسان په خبروكي دټولو څخه ښه او حسنة هغه خبره ده په كمه كي چي نورو ته دحق دعوت وركول سوی وي په دي كي دالله ﷻ طرف ته ددعوت ټول صورتونه داخل دي په ژبه ، سره په ليک سره يا په بل څه عنوان سره حتی آذان كوونكي هم په دي كي داخل دي ځكه چي هغه نور دلمانځه طرف ته رابولي په دې وجه حضرت عائشه صديقه رضی اللہ عنہا: فرمايي چي دا آيت دمؤذنانو په باره كي نازل سوی دی او ددې دعا الی الله څخه وروسته عمل صالحًا هم راغلی دی: ددې څخه مراد دادی چي دآذان او اقامت په مابين كي دوه ركعته لمونځ وكي :حديث شريف دی چي دآذان او اقامت په مابين كي دعا نه رد كيږي.
(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص ۹۹)

يَنۡزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيۡطٰنِ نَزۡغٌ فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

يَنۡزَغَنَّكَ	مِنَ الشَّيۡطٰنِ	نَزۡغٌ	فَاسۡتَعِذۡ	بِاللّٰهِ	اِنَّهٗ	هُوَ
ورسيږی تاته	له طرفه د شيطان	څه تباهي، وسوسه	پس پناه ونيسه	په الله	بيشکه! الله	هم دی دی

ورسيږی تاته له طرفه د شيطان څه تباهي، وسوسه پس پناه ونيسه په الله (له شره دده) بيشکه! الله هم دی دی

السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۶﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهِ الَّيۡلُ وَالنَّهَارُ

السَّمِيۡعُ	الۡعَلِيۡمُ	وَمِنۡ	اٰيٰتِهِ	الَّيۡلُ	وَالنَّهَارُ
ښه اوريدونکی	ښه عالم	او ځيني	له دلائلو دالله	شپه	او ورځ ده

ښه اوريدونکی ښه عالم. او ځيني له دلائلو (دقدرت) دالله شپه او ورځ ده (چې په يوه کښي لباس او په بل کښي معاش دی)

وَالشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ ؕ لَا تَسۡجُدُوۡا لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ

وَالشَّمۡسُ	وَالۡقَمَرُ	لَا تَسۡجُدُوۡا	لِلشَّمۡسِ	وَلَا لِلۡقَمَرِ
او لمر	او سپوږمی دی	مه کوئ سجده تاسی	دپاره د لمر	او نه دپاره د سپوږمی

او لمر او سپوږمی دی، مه کوئ سجده تاسی دپاره د لمر او نه دپاره د سپوږمی

وَاسۡجُدُوۡا لِلّٰهِ الَّذِىۡ خَلَقَهُنَّ اِنۡ كُنۡتُمۡ اِيَّاهُ

وَاسۡجُدُوۡا	لِلّٰهِ	الَّذِىۡ	خَلَقَهُنَّ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	اِيَّاهُ
او سجده کوئ تاسی	خاص الله ته	هغه چې	پيدا کړي يئ دی دا	که چيرې يئ تاسی	چې خاص هم ده ته

او سجده کوئ تاسی خاص هغه (الله) ته چې پيدا کړي يئ دی دا (ځلور علامی) که چيرې يئ تاسی چې خاص هم ده (الله) ته

تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۳۷﴾ فَاِنِ اسۡتَكۡبَرُوۡا فَالَّذِيۡنَ عِنۡدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوۡنَ

تَعۡبُدُوۡنَ	فَاِنِ	اسۡتَكۡبَرُوۡا	فَالَّذِيۡنَ	عِنۡدَ	رَبِّكَ	يُسَبِّحُوۡنَ
عبادت کوئ	پس که	لوئي وکړه دوی	پس هغه څوک	چې په نزد	درب ستا دی	تسبيح وايئ

عبادت کوئ. پس که لوئي وکړه دوی (له سجدی دالله) پس هغه څوک چې په نزد درب ستادی (له ملائيکو) تسبيح وايئ

لَهٗ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَهُمۡ لَا يَسۡـَٔمُوۡنَ ﴿۳۸﴾ ۩ السجدة وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ

لَهٗ	بِالَّيۡلِ	وَالنَّهَارِ	وَهُمۡ	لَا يَسۡـَٔمُوۡنَ	وَمِنۡ	اٰيٰتِهٖۤ
دغه (الله) ته	هم په شپه کښي	او هم په ورځ کښي	حال داچې دوی	نه ستړي کيږي	او ځيني له	دلائلو دغه (الله) دا دی

دغه (الله) ته هم په شپه کښي او هم په ورځ کښي حال داچې دوی نه ستړي کيږي. او ځيني له دلائلو دغه (الله) دا دی

لَا تَسۡجُدُوۡا لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَاسۡجُدُوۡا. دالله جل جلاله څخه ماسوا بل چاته سجده نه ده رواه: ددې آيت څخه ثابته سوه چې سجده صرف د خالق کائنات حق دی د هغه څخه ماسوا څه ستوری يا انسان وغيره ته سجده کول حرام دي برابره خبره ده که هغه دعبادت په نيت سره وي او که محض دتعظيم او تکريم په نيت سره وي په دواړو صورتونو کي په اجماع دامت حرامه ده فرق صرف دومره دی چې څوک دعبادت په نيت سره چاته سجده وکي هغه به کافر سي او چاچي محض دتعظيم او تکريم دپاره سجده وکړه ده ته کافر نه ويل کيږي مګر دحرامو مرتکب او مجرم او فاسق به ورته ويل کيږي: دعبادت سجده خو دالله جل جلاله څخه ماسوا هيچاته په يو امت او شريعت کي حلاله نه ده راغلي ځکه چي هغه په شرک کي داخله ده او شرک دټولو پيغمبرانو په شريعتونو کي حرام راغلی دی البته چاته تعظيما سجده کول داپه تيرو شريعتونو کي جائزوه ليکن په اتفاق دفقهاوو په اسلام کي داحکم منسوخ ګرځول سوی دی او سجده غير الله ته ناروا ده.
(معارف القرآن ج۸پ۲۴ص۱۰۱)

السجدة ۱۱

اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ

اَنَّكَ	تَرَى	الْاَرْضَ	خَاشِعَةً	فَاِذَآ	اَنْزَلْنَا	عَلَيْهَا	الْمَآءَ
چې بیشکه! ته	وینې	ځمکه	وچه ، کلکه	پس هر کله چې	نازلې کړو موږ	پر دغې	اوبه (باران)

چې بیشکه! ته وینې ځمکه وچه کلکه پس هر کله چې نازلې کړو موږ پر دغې (ځمکې) اوبه (دباران)

اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ

اهْتَزَّتْ	وَرَبَتْ	اِنَّ	الَّذِيْٓ	اَحْيَاهَا	لَمُحْيِ
نو سره وښورېږي	او وپړسیږي	بیشکه!	هغه الله	چې ژوندۍ کړې ده دا (ځمکه)	خامخا ژوندی کوونکی دی

نو سره وخوځیږي او وپړسیږي (او شنه سي) بیشکه! هغه الله چې ژوندۍ کړې ده دا (ځمکه) خامخا ژوندی کوونکی دی

الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۳۹ اِنَّ الَّذِيْنَ

الْمَوْتٰى	اِنَّهٗ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ
دمړیو	بیشکه! الله	پر	هر شی باندی	ښه قادر دی	بیشکه!	هغه کسان

دمړیو بیشکه! الله پر هر شي باندي (چې اراده وفرمائي) ښه قادر دی. بیشکه! هغه کسان

يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ؕ اَفَمَنْ يُّلْقٰى

يُلْحِدُوْنَ	فِيْٓ اٰيٰتِنَا	لَا يَخْفَوْنَ	عَلَيْنَا	اَفَمَنْ	يُّلْقٰى
چې میلان کوی له حقه باطل ته	په آیتونو زموږ کښې	نه دي پټ دوی	پر موږ	آیا پس هغه څوک چې	وغورځولی سی

چې میلان کوی له حقه باطل ته په آیتونو (دقرآن) زموږ کښې نه دي پټ دوی پر موږ، آیا پس هغه څوک چې وغورځولی سی

فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ

فِي النَّارِ	خَيْرٌ	اَمْ مَّنْ	يَّاْتِيْٓ	اٰمِنًا	يَّوْمَ	الْقِيٰمَةِ	اِعْمَلُوْا	مَا شِئْتُمْ
په اور کښې	غوره دي	یا هغه څوک چې	رابه سي	په امن	په ورځ	دقیامت کښې	کوئ تاسي	هر څه چې خوښ مو وي

په اور کښې غوره دي یا هغه څوک چې رابه سي په امن (له عذابه) په ورځ دقیامت کښې کوئ تاسي هر څه چې مو خوښ وي

اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۴۰ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اِنَّهٗ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
بیشکه! الله	پر هغو اعمالو	چې کوئ یئ تاسي	ښه لیدونکی دی	بیشکه!	هغه کسان	چې کافران سوي دي

(ای کفارو) بیشکه! الله پر هغو اعمالو چې کوئ یئ تاسي ښه لیدونکی دی. بیشکه! هغه کسان چې کافران سوي دي

اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا... دکفریو خاص قسم الحاد دی ددې تعریف او احکام: دلحد او الحاد لغوي معنی یو طرف ته مائله کیدل دي: دقبر لحد ته هم په دې وجه لحد وایي چې هغه یو طرف ته مائل وي: دقرآن اوحدیث په اصطلاح کي دقرآن کریم دایاتونو څخه تجاوز او انحراف ته الحاد وایي: دلغوي معنی په اعتبار سره خو داعام دی که صراحة په ډاګه انحراف کوي یا دفاسدو تاویلاتو په بهانه انحراف کوي لیکن په عام طورسره الحاد داسي انحراف ته ویل کیږي چې په ظاهر کي خو دقرآن او ددې په ایاتونو دایمان او تصدیق دعوی کوي مګر معنی یي دخپل ځان څخه داسي جوړوي کم چې دقرآن دنصوصو او دسنتو دنصوصو اود جمهور امت څخه خلاف وي چې په دې سره دقرآن کریم مقصد چپه سي: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه ددې آیت په تفسیر کي دالحاد معنی دامنقول ده فرمایي: الالحادُ وضعُ الکلامِ علی غیر موضعه. او په ذکر سوي آیت کي د: لایخفون علینا. جمله هم ددې قرینه ده: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

بِالذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيۡزٌ ﴿۴۱﴾ لَّا يَاۡتِيۡهِ

بِالذِّكۡرِ	لَمَّا	جَآءَهُمۡ	وَاِنَّهٗ	لَكِتٰبٌ	عَزِيۡزٌ	لَّا يَاۡتِيۡهِ
په ذکر، قرآن	کله چي	راغلی دوی ته	حال دا چي بیشکه! دغه قرآن	خامخا کتاب	قوی دی	نه راځي دغه قرآن ته

په ذکر قرآن کله چي راغی دوی ته، حال دا چي بیشکه! دغه قرآن خامخا کتاب قوی (نادر) دی نه راځي دغه قرآن ته

الۡبَاطِلُ مِنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهٖ ؕ تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ

الۡبَاطِلُ	مِنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ	وَلَا مِنۡ خَلۡفِهٖ	تَنۡزِيۡلٌ	مِّنۡ
باطل	دمخی (له طرفه) د دی	او نه د شا (له طرفه) یې	رالیږلی سوی دی	له طرفه

باطل (نه) دمخی (له طرفه) د دی او نه د شا (له طرفه) یې (بوجه من الوجوه) رالیږلی سوی دی له طرفه

حَكِيۡمٍ حَمِيۡدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدۡ قِيۡلَ

حَكِيۡمٍ	حَمِيۡدٍ	مَا يُقَالُ	لَكَ	اِلَّا	مَا قَدۡ	قِيۡلَ
د حکمت والا	ثناء ویلی سوی	نه ویل کیږي	تا ته	مګر	هغه وینا چي په تحقیق	ویلی سوی وه

د حکمت والا ثناء ویلی سوی (الله). نه ویل کیږي تا ته (ای محمده!) مګر (هم هغسی) وینا چي په تحقیق ویلی سوی وه

لِلرُّسُلِ مِنۡ قَبۡلِكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوۡ مَغۡفِرَةٍ وَّذُوۡ

لِلرُّسُلِ	مِنۡ قَبۡلِكَ	اِنَّ	رَبَّكَ	لَذُوۡ	مَغۡفِرَةٍ	وَّذُوۡ
دپاره د هغو رسولانو	چي پخوا له تا تیر سوي دي	بیشکه!	رب ستا	خامخا څښتن	د مغفرت دی	او څښتن

دپاره د هغو رسولانو چي پخوا له تا تیر سوي دي، بیشکه! رب ستا خامخا څښتن (مالک) د مغفرت دی او څښتن

عِقَابٍ اَلِيۡمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوۡ جَعَلۡنٰهُ قُرۡاٰنًا اَعۡجَمِيًّا لَّقَالُوۡا

عِقَابٍ	اَلِيۡمٍ	وَلَوۡ	جَعَلۡنٰهُ	قُرۡاٰنًا	اَعۡجَمِيًّا	لَّقَالُوۡا
د عذاب	دردناک دی	او که	ګرځولی مو وای دغه	قرآن	په عجمي ژبه	خامخا ویلی به وو

د عذاب دردناک دی (کافرانو ته). او که ګرځولی مو وی دغه قرآن په ژبه د عجمو نو خامخا ویلی به وو (دغو عربو کفارو)

لَوۡلَا فُصِّلَتۡ اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعۡجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلۡ هُوَ

لَوۡلَا فُصِّلَتۡ	اٰيٰتُهٗ	ءَاَعۡجَمِيٌّ	وَّعَرَبِيٌّ	قُلۡ	هُوَ
ولی واضح بیان سوی نه دي	آیتونه د دي	آیا دا قرآن عجمي دی	او نبي یې عربي دی	وو وایه	چي دغه قرآن

ولی واضح بیان سوی نه دي آیتونه د دي (دغه قرآن) عجمي دی او (نبي یې) عربي دی، وو وایه (محمده) چي دغه قرآن

لَّا يَاۡتِيۡهِ الۡبَاطِلُ مِنۡۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ... دتیر مخ پاته بیان

دلته وګوری: چي الحاد یو داسي کفر دی کم چي دي خلګو پټول غوښتل په دي وجه سره الله جل جلاله ارشاد وفرمایه چي دوی زموږ څخه خپل کفر نه سي پټولای: او ذکر سوي آیت په وضاحت سره وښووله چي دقرآن دایاتونو څخه انکار او انحراف که په صفا او ښکاره لفظونو کي وي یا په معانیو کي په باطل تاویلونو کي وي او دقرآن داحکامو دبدلولو په فکر کي وي دا ټول کفر او ګمراهي ده: لنډه دا چي الحاد یو قسم کفر او نفاق دی چي په ظاهره دقرآن او دقرآن دایاتونو دعوی او اقرار کوي لیکن دقرآن دایاتونو معنی داسي دځانه جوړوي کم چي په نورو نصوصو دقرآن او سنت او داسلام داصولو سره ثابتي نه وي امام ابو یوسف رحمة الله علیه په کتاب الخراج کي فرمایي چي: کذلک الزنادقة یلحدون وقد کانو یظهرون الاسلام. همداسي هغه زندیقان خلګ دي کم چي الحاد کوي او په ظاهره داسلام دعوی کوي: ددې څخه معلومه سوه چي ملحد او زندیق دواړه هم معنی دي الخ.

(معارف القرآن ج۸ پ۲۴ ص۱۰۵)

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ۭ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ

لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	هُدًى	وَّشِفَآءٌ	وَالَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	فِيْٓ اٰذَانِهِمْ
دپاره دهغو کسانو	چې ايمان يې راوړی دی	هدايت	او شفاء دی	او هغه کسان	چې ايمان نه راوړی	په غوږونو ددوی کښې

دپاره دهغو کسانو دی چې ايمان يې راوړی دی هدايت او شفاء دی او هغه کسان چې ايمان نه راوړی په غوږونو ددوی کښې

وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۭ اُولٰۗىِٕكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾ ع ۵ ۱۲ ۱۹

وَقْرٌ	وَّهُوَ	عَلَيْهِمْ	عَمًى	اُولٰۗىِٕكَ	يُنَادَوْنَ	مِنْ مَّكَانٍۢ	بَعِيْدٍ
درنوالی دی	حال داچې دغه	پردوی باندی	ړوندوالی دی	دغه (کفار)	ږغ ورته کاوه سی	له ځای	ليری څخه

درنوالی دی حال داچې دغه (قرآن) پردوی باندی ړوندوالی دی، دغه کفار (داسی دی لکه) ږغ ورته کاوه سی دليری ځای

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ۭ وَلَوْ

وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوْسَى	الْكِتٰبَ	فَاخْتُلِفَ	فِيْهِ	وَلَوْ
او خامخا په تحقيق	ورکړی وو موږ	موسٰی ته	کتاب	پس اختلاف وکړسو	په هغه کښی	او که چيری

او خامخا په تحقيق ورکړی وو موږ موسٰی ته کتاب (تورات) پس اختلاف وکړسو په (تصديق) د هغه کښی او که چيری

لَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ

لَا كَلِمَةٌ	سَبَقَتْ	مِنْ رَّبِّكَ	لَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ	وَاِنَّهُمْ
نه وی هغه خبره	چې مخکی سوی ده	له رب ستا	نو خامخا حکم به کړی ؤ	په مينځ د دوی کښی	او بيشکه! چې دوی

نه وی هغه خبره چې مخکی سوی ده له (طرفه) د رب ستانو خامخا حکم به کړی ؤ په مينځ د دوی کښی، او بيشکه! چې دوی

لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا

لَفِيْ	شَكٍّ	مِّنْهُ	مُرِيْبٍ	مَنْ عَمِلَ	صَالِحًا
خامخا په	داسی شک کښی دی	له دی څخه	چې موجب د اضطراب دی	او هر څوک چې وکړی	نيک (کار)

خامخا په داسی شک کښی دی له دی څخه چې موجب د اضطراب دی، او هر څوک چې وکړی نيک (کار)

فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ اَسَاۗءَ فَعَلَيْهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾

فَلِنَفْسِهٖ	وَمَنْ	اَسَاۗءَ	فَعَلَيْهَا	وَمَا رَبُّكَ	بِظَلَّامٍ	لِّلْعَبِيْدِ
پس دپاره د ځان خپل يې دی	او هر څوک چې	بد کاروکړی	نو هم پر ده دی وبال يې	او نه دی رب ستا	ظلم کوونکی	پر بندګانو

پس دپاره د ځان خپل يې دی او هر څوک چې بد کار وکړی پس هغه بار دی په ده او نه دی رب ستا ظلم کوونکی پر بندګانو .

هُدًى وَّشِفَآءٌ ۭ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ.. دقران کريم دوه صفتونه او دهغو بيان : دلته الله جَلَّ جَلَالُهُ دقرآن کريم دوه صفتونه ښوولي دي يوداچي هغه هدايت دی .دژوند په هر اړخ کي انسان ته داسي لاره ښيي کمه چي دده دپاره فائده منده وي.دوهم داچي هغه شفاء ده. دقرآن کريم دباطني امراضو کفر ، شرک ، کبر ، حسد ، حرص ،اوطمع وغيره دپاره شفا کيدل خو ظاهر دي دظاهري او جسماني امراضو څخه شفاوالی هم په دي کي داخل دي لکه چي ليدل کيږي چي دډيرو جسماني مرضونو علاج په قرآني دعاګانو سره کيږي او کاميابي هم وي: مخکي دالله جَلَّ جَلَالُهُ ارشاددی چي: اولئک ينادون من مکان بعيد :دايو تمثيل دی کم سړی چي په خبره پوهيږي عرب هغه ته وايي. انت تسمع من قريب : يعني ته دنږدي څخه اوري او څوک چي په خبره نه پوهيږي نو هغه ته وايي چي. انت تُنَادی من بعيد : يعني تاته دليري څخه اواز کيږي. مطلب دادی چي داخلګ په قرآني هدايتونو باندي داوريدو او دځان دپوهيدو اراده نه لري نو ګويا دوی کاڼه دي (معارف القرآن ج۸پ۲۴ص۱۱۱)

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ مِّنْ

اِلَيْهِ	يُرَدُّ	عِلْمُ	السَّاعَةِ	وَمَا تَخْرُجُ	مِنْ ثَمَرٰتٍ	مِّنْ
خاص هم دغه (الله) ته	ورګرځولی سی	علم	دقیامت	او نه راوځی	هیڅ قسم له میوو څخه	له

خاص هم دغه (الله) ته ورکاوه سی علم دقیامت (چی څه وخت به واقع کیږی) ، او نه راوځی هیڅ قسم له میوو څخه له

اَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ

اَكْمَامِهَا	وَمَا تَحْمِلُ	مِنْ اُنْثٰى	وَلَا تَضَعُ	اِلَّا	بِعِلْمِهٖ
غلافو د دوی څخه	او نه آخلی بار	هیڅ ښځه	او نه ږدی بار (حمل) خپل	مګر	په علم د الله سره

غلافو د دوی څخه او نه آخلی بار هیڅ ښځه (له انسان او حیوانه) او نه ږدی بار (حمل) خپل مګر په علم د الله سره

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اَيْنَ شُرَكَآءِيْ قَالُوْٓا اٰذَنّٰكَ

وَيَوْمَ	يُنَادِيْهِمْ	اَيْنَ شُرَكَآءِيْ	قَالُوْٓا	اٰذَنّٰكَ
او په هغه ورځ به	ږغ وکړی (الله) دوی ته	چی څه سول شریکان زما	نو وبه وایئ دغه (مشرکان)	چی خبر کړی موږ ته

او په هغه ورځ ږغ به وکړی (الله) مشرکانو ته چی څه سول شریکان زما نو وبه وایئ دغه (مشرکان) چی خبر کړی موږ ته

مَا مِنَّا مِنْ شَهِيْدٍ ۝٤٧ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَدْعُوْنَ

مَا مِنَّا	مِنْ شَهِيْدٍ	وَضَلَّ	عَنْهُمْ	مَّا كَانُوْا	يَدْعُوْنَ
چی نسته زموږ څخه	هیڅوک شاهد	او ورک به سی	له دوی څخه	هغه چی وو دوی	چی عبادت به یئ کاوه

چی نسته زموږ څخه هیڅوک شاهد ، او ورک به سی له دوی څخه هغه (بتان) چی وو دوی چی عبادت به یئ کاوه (دهغوی)

مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ۝٤٨ لَا يَسْئَمُ الْاِنْسَانُ

مِنْ قَبْلُ	وَظَنُّوْا	مَا لَهُمْ	مِّنْ مَّحِيْصٍ	لَا يَسْئَمُ	الْاِنْسَانُ
پخوا له دی څخه	او یقین به راسی د دوی	چی نسته دوی ته	هیڅ ځای د تیښتی	نه ستړی کیږی	انسان

پخوا له دی څخه (په دنیا کښی) او یقین به راسی د دوی چی نسته دوی ته هیڅ ځای د تیښتی (له عذابه) نه ستړی کیږی انسان

مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوْسٌ قَنُوْطٌ ۝٤٩

مِنْ دُعَآءِ	الْخَيْرِ	وَاِنْ	مَّسَّهُ	الشَّرُّ	فَيَئُوْسٌ	قَنُوْطٌ
له غوښتلو	دخیر	او که	ورسیږی ورته	کوم شر	پس نا امیده وی دی	ډیر سخت نا امید

له غوښتلو د خیر او که ورسیږی ورته کوم شر پس نا امیده وی دی ډیر سخت (له رحمته د الله).

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ

دقیامت دعلم حواله دالله ﷻ طرف ته کول کیږي :

یعني ددې سوال په جواب کې چې قیامت به کله راځي لکه کفارو چې به په غرض دانکار داسې ویل هم دا به ویل کیږي چې دهغه علم خدای ﷻ ته دی مخلوق ته دهغه نه کیدو څخه دهغه نه واقع کیدل نه لازمیږي. او دقیامت څه تخصیص دی ؟ دهغه علم خو پر هرشي احاطه کوونکی دی تر دې چې یوه میوه دخپل پوښ څخه نه راوزي او نه یوه ښځه حملداره کیږي او نه هغه بچې زیږوي مګر دا ټول دهغه په علم کې وي او ددې دعلم لرلو په وجه دهغه دعلم صفت ذاتي دی کم چې داعلی درجې دکمال په وجه دتوحید دلیل هم دی او دقیامت دعلم دلیل هم دی پس په دې سره ددواړو مضمونو نو تائید وسو او په مخکې کې بیا ددغه قیامت دیوې واقعې ذکر دی چې په هغې سره دتوحید اثبات او دشرک ابطال هم کیږي یعني په کمه ورځ چې الله ﷻ دوی مشرکین راوبلي او ووايي ورته چې کم تاسې زما سره شریکان کړي وه هغه زما شریکان اوس چیرې دي ؟ الخ.

(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۲)

وَلَئِنۡ اَذَقۡنٰهُ رَحۡمَةً مِّنَّا مِنۡۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ

وَلَئِنۡ اَذَقۡنٰهُ	رَحۡمَةً	مِّنَّا	مِنۡۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ	مَسَّتۡهُ
او قسم دی خامخا که وڅکوو ده ته	رحمت	له جانبه زمونږ	پس له هغې سختئ	چې رسیدلی وی ده ته

او قسم دی خامخا که وڅکوو ده ته رحمت (مهربانی، غنا) له (جانبه) زمونږ پس له هغې سختئ چې رسیدلی وی ده ته

لَيَقُوۡلَنَّ هٰذَا لِيۡ ۙ وَمَاۤ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنۡ رُّجِعۡتُ

لَيَقُوۡلَنَّ	هٰذَا لِيۡ	وَمَاۤ اَظُنُّ	السَّاعَةَ	قَآئِمَةً	وَّلَئِنۡ	رُّجِعۡتُ
خامخا وبه وایئ دی	چې دغه زما دی	او ګمان نه کوم	پر قیامت	د دریدونکی	او قسم دی که	بیرته وګرځولی سم

خامخا وبه وایئ دی هرومرو چې دغه زما دی او ګمان نه کوم پر قیامت د دریدونکی او قسم دی که بیرته وګرځولی سم

اِلٰى رَبِّيۡۤ اِنَّ لِيۡ عِنۡدَهٗ لَلۡحُسۡنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيۡنَ

اِلٰى	رَبِّيۡۤ	اِنَّ لِيۡ	عِنۡدَهٗ	لَلۡحُسۡنٰى	فَلَنُنَبِّئَنَّ	الَّذِيۡنَ
په طرف	درب خپل	نو بیشکه! زما دپاره به وی	په نزد د دغه (الله)	خامخا نیکی	پس خامخا خبر به ورکړو	هغو کسانو ته

په طرف درب خپل نو بیشکه! زما دپاره به وی په نزد د دغه (الله) کښې خامخا نیکی. پس خامخا خبر به ورکړو هغو کسانو ته

كَفَرُوۡا بِمَا عَمِلُوۡا ۙ وَلَنُذِيۡقَنَّهُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيۡظٍ ﴿۵۰﴾ وَاِذَاۤ

كَفَرُوۡا	بِمَا عَمِلُوۡا	وَلَنُذِيۡقَنَّهُمۡ	مِّنۡ عَذَابٍ	غَلِيۡظٍ	وَاِذَاۤ
چې کافران سوی دی	په هغو چې کړی یئ دی	او خامخا وبه څکوو پر دوی	له عذابه	سخته لویه	او کله چې

چې کافران سوی دی په هغو (عملو) چې کړی یئ دی او خامخا وبه څکوو پر دوی له عذابه سخته لویه. او کله چې

اَنۡعَمۡنَا عَلَى الۡاِنۡسَانِ اَعۡرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

اَنۡعَمۡنَا	عَلَى الۡاِنۡسَانِ	اَعۡرَضَ	وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ	وَاِذَا	مَسَّهُ	الشَّرُّ
انعام وکړو موږ	پر انسان	نو وګرځی (له حقه)	او لیری کړی بغل خپل (جارباسی)	او کله چې	ورسیږی ده ته	کومه سختی

انعام وکړو موږ پر انسان نو وګرځی (له حقه) او لری سی په سبب د غرور خپلی او کله چې ورسیږی ده ته کومه سختی (بلاء)

فَذُوۡ دُعَآءٍ عَرِيۡضٍ ﴿۵۱﴾ قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ كَانَ مِنۡ عِنۡدِ

فَذُوۡ	دُعَآءٍ	عَرِيۡضٍ	قُلۡ	اَرَءَيۡتُمۡ	اِنۡ كَانَ	مِنۡ عِنۡدِ
پس دی خاوند	د دعاء	اوږدی وی	ووایه (محمده)	آیا وینئ تاسی	که چیری وی (قرآن)	له نزده

پس دی خاوند د دعاء اوږدی وی. ووایه (محمده) آیا وینئ تاسی که چیری وی (دغه قرآن) له نزده

وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوۡ دُعَآءٍ عَرِيۡضٍ. کافر دخوشحالی په وخت کې الله ﷻ هیر کړي: مقصود دادی چې دکافر انسان خصلت دادی چې کله الله ﷻ ده ته څه نعمت دولت او عافیت ورکي نو په هغه کي مشغول او مست سي دمنعم حقیقي الله ﷻ څخه نور هم زیات لیري سي او دده تکبر او غفلت نور هم زیات سي او کله چې ورته څه مصیبت راپیښ سي نو دالله ﷻ څخه اوږدې اوږدې دعاګاني غواړي اوږده دعا یې دلته په عریض یعني پلنوالي سره تعبیر کړیده چې په دې کي زیاته مبالغه ده ځکه چې دکم شي پلنوالی ډیر وي دهغه اوږدوالی ددې څخه زیات خودبخوده معلومیږي په دې وجه دجنت دفراخی په بیانولو هم الله ﷻ فرمایي چې: عرضها كعرض السمآء والارض: یعني جنت دومره وسیع او فراخه دی چې په پلنوالي کي یې ټول اسمانونه او مځکه ځاییږي: او اوږدې دعاګانې غوښتل که څه هم فی نفسه محمود او یو مستحسن کار دی لیکن دلته مذمت خاص دده پر دغه حالت سوی دی یعني دغفلت پر حالت چې فقط په دغه وخت کي الله ﷻ یاد وي الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۴)

سَنُرِيۡهِمۡ اٰيٰتِنَا فِي الۡاٰفَاقِ وَفِيۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ.. الله ﷻ دخپل كامل قدرت او وحدانيت نښي دې خلكو ته ښيي: يعني دخپل كامل قدرت او وحدانيت نښي دې خلكو ته به وښيو په خوا اوشاكي هم او په خپله ددوی په بدن كي هم: آفاق دافق جمع ده دآسمان غاړي ته ويل كيږي مراد دآفاق څخه اطراف دعالم دي يعني ټول عالم لوی واړه مصنوعات او مخلوقات دآسمان او مځكي او ددې په درمياني مخلوقات كي هر شی ته وګوره نو هغه دالله ﷻ دوجود او دده دعلم او قدرت دمحيط كيدو اودده ديووالي شهادت وركوي او ددغو څخه زيات نژدې شی په خپله دانسان خپل ځان او جسم دی دده يو يو اندام او په ده كي كار كوونكو باريكو او نازكو مشينانو ته وګوری چي په دي كي دانسان دراحت او سهولت څنګه څنګه انتظام سوی دی چي عقل ورته حيرانيږي بيا يي دا نازك مشينونه دومره مضبوط جوړ كړي دي چي تر آو يا كالو پوري هغه سوليږي نه حالانكه په ښكاره څومره كمزوري ښكاري دا دالله ﷻ پر الوهيت او دهغه پر حقوالي ښكاره دليل دی الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۴)

اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرۡتُمۡ بِهٖ مَنۡ اَضَلُّ مِمَّنۡ هُوَ فِيۡ شِقَاقٍ

اللّٰهِ	ثُمَّ	كَفَرۡتُمۡ	بِهٖ	مَنۡ اَضَلُّ	مِمَّنۡ	هُوَ	فِيۡ شِقَاقٍ
دالله	بيا	كافران سئ تاسي	په دغه (قرآن)	نو څوک دی ډير ګمراه	له هغه چاچي	دی	په مخالفت

دالله بيا كافران سئ تاسي په دغه (قرآن) نو څوک دی ډير ګمراه له هغه چاچي دی په مخالفت

بَعِيۡدٍ ۝۵۲ سَنُرِيۡهِمۡ اٰيٰتِنَا فِي الۡاٰفَاقِ وَفِيۡۤ

بَعِيۡدٍ	سَنُرِيۡهِمۡ	اٰيٰتِنَا	فِي الۡاٰفَاقِ	وَفِيۡۤ
ليری كښې وی	ژر ده چې وبه ښيو دوی ته	دلائل (دقدرت) خپل	چې په ملكونو كښې دی	او په

ليری كښې (له حقه) وی. ژر ده چې وبه ښيو دوی ته دلائل (دقدرت) خپل چې په آفاق ملكونو كښې دی او په

اَنۡفُسِهِمۡ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ اَنَّهُ الۡحَقُّ ؕ

اَنۡفُسِهِمۡ	حَتّٰى	يَتَبَيَّنَ	لَهُمۡ	اَنَّهُ	الۡحَقُّ
نفسونو د دوی كښې دی	تر هغه پوری	چې ښكاره سی	دوی ته	چې بيشكه! دغه قرآن	حق دی

نفسونو د دوی كښې دی تر هغه پوری چې ښكاره سی دوی ته چې بيشكه ! دغه قرآن حق دی

اَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ۝۵۳

اَوَلَمۡ	يَكۡفِ	بِرَبِّكَ	اَنَّهٗ	عَلٰى	كُلِّ شَىۡءٍ	شَهِيۡدٌ
آيا	كافي نه دی	رب ستا	بيشكه! الله	پر	هر شی	شاهد، حاضر، ګواه دی

آيا كافي نه دی رب ستا (بلكه بس او كافي دی) بيشكه! الله پر هر شی شاهد حاضر ګواه دی.

اَلَاۤ اِنَّهُمۡ فِيۡ مِرۡيَةٍ مِّنۡ لِّقَآءِ رَبِّهِمۡ ؕ

اَلَاۤ	اِنَّهُمۡ	فِيۡ مِرۡيَةٍ	مِّنۡ لِّقَآءِ	رَبِّهِمۡ
واوره خبردار سه!	چې بيشكه! دوی (كفار)	په شک كښې دی	له ملاقات	درب خپل

واوره خبردار سه! چې بيشكه! كفار په شک كښې دی له ملاقات د رب خپل (ځكه چې منكران دی له بعثه)

اَلَاۤ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَىۡءٍ مُّحِيۡطٌ ۝۵۴ ع

اَلَاۤ	اِنَّهٗ	بِكُلِّ شَىۡءٍ	مُّحِيۡطٌ
واوره خبردار سه!	چې بيشكه! الله	پر هر شي	احاطه كوونكی دی

واوره خبردار سه! چې بيشكه! الله پر هر شي چاپير كيدونكی دی (په علم په قدرت خپل او جزاء د كفر به وركړی)

ع-۲

آیاتونه ۵۳ | ۴۲ سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ ۶۲ | ۷ کوعوي ۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

حٰمٓ ۚ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ

وَاِلَى الَّذِيْنَ	اِلَيْكَ	يُوْحِيْٓ	كَذٰلِكَ	عٓسٓقٓ	حٰمٓ
او هغو انبياؤ ته	تاته (محمده)	هميشه وحی کوی	په مثل دهم دی (سورت)	عين، سين، قاف	حا، ميم،

حا ميم، عين، سين، قاف. په مثل (دوحی) دهم دی (سورت) هميشه وحی کوی تاته (ای محمده!) او هغو انبياؤ ته

مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

فِي السَّمٰوٰتِ	مَا	لَهٗ	الْحَكِيْمُ	الْعَزِيْزُ	اللّٰهُ	مِنْ قَبْلِكَ
چې په آسمانونو کښې دی	هر هغه شيان	خاص هم ده لره دی	ښه حکمت والا دی	ښه غالب قوی	الله	چې پخوا له تا څخه وو

چې پخوا له تا وو الله ښه غالب قوی ښه حکمت والا دی. خاص هم ده لره دی هر هغه شيان چې په آسمانونو کښې دی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۴﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

السَّمٰوٰتُ	تَكَادُ	الْعَظِيْمُ	الْعَلِيُّ	وَهُوَ	فِي الْاَرْضِ	وَمَا
آسمانونه (ټول)	نژدې دی	ډير لوی	ډير پورته	او هم دی دی	چې په مځکه کښې دی	او هر هغه شيان

او هر هغه شيان چې په مځکه کښې دی او هم دی دی ډير پورته ډير لوی. نژدې دی آسمانونه (ټول دی ته)

يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

رَبِّهِمْ	بِحَمْدِ	يُسَبِّحُوْنَ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ	مِنْ فَوْقِهِنَّ	يَتَفَطَّرْنَ
درب خپل	سره د حمد	تسبيح وايئ	او ملائيکې	له پاسه د دوی	چې وچوی

چې وچوی له پاسه د دوی (له جهته د ظهور) او ملائيکې تسبيح وايئ سره د حمد درب خپل

وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ۭ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ

هُوَ الْغَفُوْرُ	اللّٰهَ	اِنَّ	اَلَآ	فِي الْاَرْضِ	لِمَنْ	وَيَسْتَغْفِرُوْنَ
هم هغه ښه مغفرت کوونکی دی	الله	چې بيشکه!	واوره خبردار سه!	په مځکه کښې دی	دپاره د هغه چا چې	او مغفرت غواړي

او مغفرت غواړي دپاره د هغه چا چې په مځکه کښې دی (مؤمنانوته) واوره خبردار سه چې بيشکه! الله ښه مغفرت کوونکی

كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ... پر نـورو انبياوو عليهم السلام باندي هم الله جَلَّ جَلَالُهُ وحي نازلي کړي وي: يعني څنګه چي ددين د اصولو دتحقيق او عظيمو فائدو دپاره دا سورت پر تا نازليږي دغه شان پر تا او کم پيغمبران چي ستا څخه مخکي تير سوي دي پر هغوی دالله جَلَّ جَلَالُهُ چي زبردست حکمت والا ذات دی د نورو سورتونو او کتابونو وحي ليږلي دي او دغه شان دادی چي دغه ملکيت دی څه چي په اسمانونو کي دي او څه چي په مځکه کي دي او هغه تر ټولو لوړ او عظيم الشان دی دده عظمت او لويي که دمخکي خلګ ونه پيژني او وي نه مني خو هغه ذات يي هيڅ پروا نه لري ځکه چي په اسمانونو کي دده معرفت لرونکي او عظمت پيژندونکي فرشتي دومره ډيري دي چي څه ليري نه ده چي اسمان ددوی دبوج په وجه دځيل لوړ څخه چي بوج باندي راځي څيري سي لکه چي په حديث شريف کي راځي چي اسمان اواز باسي او په توله اسمان کي څلور ګوتي ځای نسته مګر هلته فرشته پر سجده باندي پرته ده الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۷)

الرَّحِيۡمُ ۞ وَالَّذِيۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءَ اللّٰهُ

الرَّحِيۡمُ	وَالَّذِيۡنَ	اتَّخَذُوۡا	مِنۡ دُوۡنِهٖۤ	اَوۡلِيَآءَ	اللّٰهُ
ډیر رحم والا دی	او هغه کسان	چې نیولی يئ دی	بې له دغه (الله)	دوستان (بتان)	الله

ډیر رحم والا دی، او هغه کسان چې نیولی يئ دی بې له دغه (الله) دوستان (بتان چې عبادت يئ کوی) الله

حَفِيۡظٌ عَلَيۡهِمۡ ۖ وَمَاۤ اَنۡتَ عَلَيۡهِمۡ بِوَكِيۡلٍ ۞ وَكَذٰلِكَ

حَفِيۡظٌ	عَلَيۡهِمۡ	وَمَاۤ اَنۡتَ	عَلَيۡهِمۡ	بِوَكِيۡلٍ	وَكَذٰلِكَ
نښه ساتونکی دی	پر دوی	او نه يئ ته	پر دوی	ذمه وار	او هم داسې

نښه ساتونکی دی پر دوی او نه يئ ته پر دوی وکیل (مسلط کړی سوی) . او هم داسې (چې هر نبی ته مو وحی کوله)

اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ قُرۡاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰى وَمَنۡ

اَوۡحَيۡنَاۤ	اِلَيۡكَ	قُرۡاٰنًا	عَرَبِيًّا	لِّتُنۡذِرَ	اُمَّ	الۡقُرٰى	وَمَنۡ
وحی مو کړی دہ	تاته	قرآن	عربی	د پاره ددی چې وبیروی	مور (اهل د)	د ښارونو	او هغه کسان

وحی مو کړې ده تاته (ای محمده) قرآن عربی د پاره ددی چې وبیروی (اهل د) مور د ښارونو (چې مکه ده) او هغه کسان

حَوۡلَهَا وَتُنۡذِرَ يَوۡمَ الۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ ؕ

حَوۡلَهَا	وَتُنۡذِرَ	يَوۡمَ	الۡجَمۡعِ	لَا رَيۡبَ	فِيۡهِ
چې چاپیر دی له دی څخه	او چې وبیروی	له ورځی	د جمع کیدلو	چې نسته هیڅ شک	په دغه کښی

چې چاپیر دی له دی څخه ، او چې وبیروی (خلک) له ورځی د جمع کیدلو چې نسته هیڅ شک په (وقوع د) دغه کښی

فَرِيۡقٌ فِى الۡجَنَّةِ وَفَرِيۡقٌ فِى السَّعِيۡرِ ۞ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمۡ

فَرِيۡقٌ	فِى الۡجَنَّةِ	وَفَرِيۡقٌ	فِى السَّعِيۡرِ	وَلَوۡ شَآءَ	اللّٰهُ	لَجَعَلَهُمۡ
یوه فرقه به وی	په جنت کښی	او بله فرقه به وی	په دوزخ کښی	او که اراده فرمائلی وی	الله	نو خامخا گرځولی به يئ وو دغه دوی

یوه فرقه به وی په جنت کښی او بله فرقه به وی په دوزخ کښی ، او که اراده فرمائلی وی الله نو خامخا گرځولی به يئ وو دغه

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنۡ يُّدۡخِلُ مَنۡ يَّشَآءُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوۡنَ

اُمَّةً	وَّاحِدَةً	وَّلٰكِنۡ	يُّدۡخِلُ	مَنۡ يَّشَآءُ	فِىۡ رَحۡمَتِهٖ	وَالظّٰلِمُوۡنَ
فرقه	یوه	او لیکن	ننه باسی (الله)	هر هغه څوک چې اراده وفرمائی	په رحمت خپل کښی	او ظالمان چې دی

فرقه یوه او لیکن ننه باسی (الله) هر هغه څوک چې اراده وفرمائی په رحمت (جنت) خپل کښی او ظالمان چې دی

لِّتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰى وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنۡذِرَ...مکه مکرمه دټولو ښارونو کلو اصل او بنیادده : دامُ القُری معنی ده دټولو کلو او ښارونو اصل او بنیاد. مراد دلته مکه مکرمه ده ددې نوم امُ القُری ځکه کښیښوول سو چې دا ښار دټولي دنیا دښارونو او کلو او دټولي مځکي څخه دالله ﷻ په نزد افضل او اشرف دی :لکه چې دحضرت عدی ابن حمراء زهري ؓ څخه روایت دی دوی فرمايي چې ما دنبي کريم ﷺ څخه هغه وخت واوريدل کله چې دوی دمکې مکرمې څخه هجرت کوی او دمکې دبازارپر مقام حزوره باندي دی مبارک موجود وو چې مکې مکرمې ته يې خطاب وکی او ويې فرمايل: انّک لخيرُ ارض الله واحبُّ ارض الله الی الله ولولا انّي اخرجتُ منک لما خرجتُ. رواه الترمذی والنّسايی وابن ماجة. يعني ته زما په نزد دالله ﷻ دټولي مځکي څخه ښه يې او دټولو مځکو څخه زياته محبوبه يې که زه ددې مځکي څخه نه وای ایستل سوی نو زه به نه وای وتلی يعني ما به داځای په خپله خوښه نه وای پرې ايښی. (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۹)

مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۞ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

مَا لَهُمْ	مِّنْ وَّلِيٍّ	وَّلَا نَصِيْرٍ	اَمِ	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِهٖٓ
نشته دوی ته	هيڅوک دوست	او نه مرسته کوونکی	آيا	نيولی دی دوی (کفارو)	غير له الله (نوربتان)

نشته دوی ته هيڅوک دوست (نافع) او نه مرسته کوونکی. آيا نيولی دی (کفارو) غير له الله (نوربتان)

اَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

اَوْلِيَآءَ	فَاللّٰهُ	هُوَ	الْوَلِيُّ	وَهُوَ	يُحْيِ	الْمَوْتٰى	وَهُوَ	عَلٰى كُلِّ
دوستان	پس الله چي دی	هم دی دی	دوست	او هم دی	ژوندی کوی	مړی	او هم دی	پر هر

دوستان پس الله چي دی هم دی دی دوست (په حق سره) او هم دی ژوندی کوی مړی او هم دی پر هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۞ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ

شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	وَمَا	اخْتَلَفْتُمْ	فِيْهِ	مِنْ شَيْءٍ	فَحُكْمُهٗٓ
شی باندی	ښه قادر دی	او په هغه خبره کښی	چي جګړه کوئ تاسی	په هغه کښی	له کوم شی	پس حکم دهغه دی

شی باندی ښه قادر دی. او په هغه خبره کښی چي جګړه کوئ تاسی په هغه کښی له کوم شی پس حکم دهغه دی

اِلَى اللّٰهِ ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ڰ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۞

اِلَى اللّٰهِ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	رَبِّيْ	عَلَيْهِ	تَوَكَّلْتُ	وَاِلَيْهِ	اُنِيْبُ
الله ته	دغه (ذات)	الله دی	رب زما	خاص پر هم ده	توکل کړی دی ما	او خاص هم ده ته	رجوع کوم

الله ته دغه (مطلق قادر) الله دی رب زما خاص پر هم ده توکل کړی دی ما او خاص هم ده ته رجوع کوم (په هر حال)

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ

فَاطِرُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	جَعَلَ لَكُمْ	مِّنْ اَنْفُسِكُمْ
(الله) پيدا کوونکی دی	دآسمانونو	او دمځکی	پيدا کړی دی (الله) تاسو ته	له ځانونو ستاسی

(الله) پيدا کوونکی دی دآسمانونو او دمځکی پيدا کړی دی (الله) تاسو ته له ځانونو ستاسی

اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ۭ لَيْسَ

اَزْوَاجًا	وَّمِنَ	الْاَنْعَامِ	اَزْوَاجًا	يَذْرَؤُكُمْ	فِيْهِ	لَيْسَ
جوړی	او له	چارپايانو	جوړی	پيدا کوی تاسی	په دغه کښی	نشته

جوړی (له جنسه ستاسی ښځی) او له چارپايانو جوړی (نر او ښځه)، پيدا کوی تاسی په دغه (طريقه) سره، نشته

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ۭ داختلافاتو دحل فيصلي الله ﷻ ته سپارل سوي دي: يعني په کمه معامله کي چي ستاسي په مينځ کي څه اختلاف وي دهغه فيصله الله ﷻ ته سپارل سويده ځکه چي اصل حکم صرف دالله ﷻ دی لکه چي په بل آيت کي چي ارشاد دی: ان الحکم الا لله: او په نورو ډيرو اياتونو کي چي کم داطاعت په حکم کي رسول او په ځينو اياتونو کي أُولُو الامر هم شامل کړي دي هغه دد‌ې معارض نه دي ځکه چي رسول يا اولوالامر چي کمه فيصله يا حکم کوي هغه په يو حيثيت سره دالله ﷻ حکم کوي که په ذريعه دوحي يا دکتاب او سنت په نصوصو سره وي نو دهغه خو حکم الهي کيدل ظاهر دی او که په خپل اجتهاد سره وي نو چونکه داجتهاد مدار هم دقرآن او سنت پر نصوصو باندي دی په دي وجه دغه هم په يو حيثيت سره دالله ﷻ حکم دی دامت دمجتهدينو اجتهادونه هم په دي حيثيت سره دالله ﷻ په احکامو کي داخل دي. په دي وجه علمآء فرمايي چي دعام سړي په حق کي دمفتي فتوی ته حکم شرعي ويل کيږي.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۱۰)

كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ⑪ لَهٗ مَقَالِيْدُ

كَمِثْلِهٖ	شَيْءٌ	وَهُوَ	السَّمِيْعُ	الْبَصِيْرُ	لَهٗ	مَقَالِيْدُ
په شان ددغه	هيڅ شي	او هم دغه (الله) دی	ښه اوريدونکی	ښه ليدونکی	خاص ده (الله) لره دی	کليګانی

په شان ددغه (الله) هيڅ شی او هم دغه (الله) دی ښه اوريدونکی ښه ليدونکی. خاص ده (الله) لره دی کليګانی (دخزائنو)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	يَبْسُطُ	الرِّزْقَ	لِمَنْ يَّشَآءُ	وَيَقْدِرُ
دآسمانونو	او دمځکی	پراخوی	رزق	دپاره دهر هغه چاچي اراده وفرمائی	او تنګوی

دآسمانونو او د مځکی پراخوی رزق، دپاره د هر هغه چا چی اراده وفرمائی او تنګوی (يئ پر هغه چا چی اراده وفرمائی)

اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑫ شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى

اِنَّهٗ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ	شَرَعَ	لَكُمْ	مِّنَ الدِّيْنِ	مَا وَصّٰى
بيشکه! دغه (الله)	پر هر	شی باندی	ښه عالم دی	بيان کړی دی	تاسی ته	له دين څخه	هغه چی وصيت يئ کړی وو

بيشکه! دغه (الله) پر هر شی باندی ښه عالم دی. مقرر کړی بيان کړی دی تاسی ته له دين څخه هغه چی وصيت يئ کړی وو

بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ

بِهٖ	نُوْحًا	وَّالَّذِيْٓ	اَوْحَيْنَآ	اِلَيْكَ	وَمَا	وَصَّيْنَا	بِهٖٓ
په هغه سره	نوح ته	او هغه چی	وحی، حکم کړی ده موږ	تاته (محمده)	او هغه چی	حکم کړی وو موږ	په هغه سره

په هغه سره نوح ته او هغه (شی) چی وحی حکم کړی ده تاته (ای محمده!) او هغه(شی) چی حکم کړی وو موږ په هغه سره

اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا

اِبْرٰهِيْمَ	وَمُوْسٰى	وَعِيْسٰٓى	اَنْ اَقِيْمُوا	الدِّيْنَ	وَلَا تَتَفَرَّقُوْا
ابراهيم ته	او موسیٰ ته	او عيسیٰ ته	داسی چی قائم کړئ	دين	او اختلاف مه کوی

ابراهيم ته او موسیٰ ته او عيسیٰ ته ، داسی چی قائم کړئ سم ودروئ دين (دتوحيد) او مه غورځوئ اختلاف

فِيْهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ۚ

فِيْهِ	كَبُرَ	عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ	مَا تَدْعُوْهُمْ	اِلَيْهِ
په هغه کښی	ډير درونددی	پر مشرکينو	هغه چی بولی ته دوی	هغه ته

په هغه کښی، ډير درونددی پر مشرکينو هغه (شی) چی بولی ته دوی هغه (توحيد) ته ،

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا..دروحاني او باطني نعمتونو بيان :
هغه داچي الله جل جلاله ستاسي دپاره داسي مضبوط او مستحكم دين دركړی دی كم چي په ټولو پيغمبرانوكي مشترک او متفق عليه دی : په آيت كي يي دانبياء عليهم السلام څخه دپنځوذكر وفرمايه دټولو څخه اول دنوح عليه السلام او په آخر كي زموږ درسول خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم او په مينځ كي دحضرت ابراهيم عليه السلام ځكه چي هغه ابوالانبياء دپيغمبرانو پلار دی او دعربو خلګ سره دخپل كفر او شرک څخه دهغوی دنبوت قائل وه او ددوی څخه وروسته يي دحضرت موسى عليه السلام او حضرت عيسى عليه السلام ذكر وكی چي دقرآن دنزول په وخت كي ددې دواړو پيغمبرانو منونكي يهود او نصارای موجود وه : په سورت احزاب كي هم دميثاق انبياء په ذكر كي ددې پنځو ذكر راغلی دی. واذا خذنا من النبيين ميثاقهم ومنک ومن نوح الخ : فرق دادی چي په سورت احزاب كي دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ذكر اول او دنوح عليه السلام دوروسته او په سورت شوری كي دنوح عليه السلام د اول او دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ذكروروسته راغلی دی الخ
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۱۳)

اَللّٰهُ يَجْتَبِيٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ⑬

اَللّٰهُ	يَجْتَبِيٓ	اِلَيْهِ	مَنْ يَّشَآءُ	وَيَهْدِيٓ	اِلَيْهِ	مَنْ يُّنِيْبُ
الله	غوره کوی	ځان خپل ته	هغه څوک چې اراده وفرمائي	او سمه لاره ښيي	هغه چاته	چې رجوع کوی

الله راکاږی ځان خپل ته (غوره کوی) هغه څوک چې اراده وفرمائي او سمه لاره ښيي هغه چاته چې رجوع کوی (الله ته) .

وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا

وَمَا تَفَرَّقُوْٓا	اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِ	مَا جَآءَهُمُ	الْعِلْمُ	بَغْيًا
او نه وو سره مختلف سوی	مگر	پس له هغه	چې راغلی دوی ته	علم	له جهته د حسده

او نه وو سره مختلف سوی (پخوانی خلک په دين خپل کی) مگر پس له هغه چې راغلی دوی ته علم (مختلف سوه) له جهته د حسده

بَيْنَهُمْ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى

بَيْنَهُمْ	وَلَوْلَا	كَلِمَةٌ	سَبَقَتْ	مِنْ رَّبِّكَ	اِلٰٓى اَجَلٍ	مُّسَمًّى
په مينځ خپل کښې	او که چيری نه وی	يو خبره	چې مخکی ويلی سوی ده	له (طرفه د) رب ستا	تر نيټې	معلومی پوری

په مينځ خپل کښې او که چيری نه وی يو خبره چې مخکی ويلی سوی ده له (جانبه) د رب ستا ترنيټې په نامه کړی سوی پوری

لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ

لَّقُضِيَ	بَيْنَهُمْ	وَاِنَّ	الَّذِيْنَ	اُوْرِثُوا	الْكِتٰبَ
نو خامخا حکم به کړی سوی وو	په مينځ د دوی کښې	او بيشکه!	هغه کسان	چې ورته په ميراث ورکړی سوی دی	کتاب

نو خامخا حکم به کړی سوی وو په مينځ د دوی کښې او بيشکه! هغه کسان چې ورته په ميراث ورکړی سوی دی کتاب

مِنْۢ بَعْدِهِمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ⑭ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ

مِنْۢ بَعْدِهِمْ	لَفِيْ شَكٍّ	مِّنْهُ	مُرِيْبٍ	فَلِذٰلِكَ	فَادْعُ
پس له هغو څخه	خامخا په داسی شک کښې دی	له دی (قرآنه)	چې په اضطرب کی اچوونکی دی	پس دغه ته	پس وبوله ته

پس له هغو څخه خامخا په داسی شک کښې دی له دی (قرآنه) چې په اضطراب کی اچوونکی دی .پس دغه ته پس وبوله ته

وَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ وَقُلْ

وَاسْتَقِمْ	كَمَآ	اُمِرْتَ	وَلَا تَتَّبِعْ	اَهْوَآءَهُمْ	وَقُلْ
او محکم ولاړ اوسه	لکه چې	امر ، حکم کړی سوی دی تاته	او مه کوه متابعت	دخواهشونو ددوی	او ووايه (محمده)

او محکم ولاړ اوسه لکه چې امر ، حکم کړی سوی دی تاته او مه کوه متابعت د خواهشونو د دوی او ووايه (محمده)

اَللّٰهُ يَجْتَبِيٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيٓ.. دهدايت حاصلولو دوې طريقې: يوه يې خاص طريقه ده او بله بيا عامه طريقه د هدايت پيداکيدو ده چې کم سړی دالله ﷻ طرف ته رجوع وکړي او دهغه پر دين دتلو اراده وکړي نو هغه ته الله ﷻ دحق دين هدايت کوي دا مطلب دی ددوهمې جملې: ويهدى اليه من ينيب لنډه داچې دهدايت دپيداکيدو صرف دوې طريقې دي يوه خصوصي چې الله ﷻ چالره په خپله دصراط مستقيم دپاره منتخب کړي دوهمه عمومي چې څوک دالله ﷻ طرف ته رجوع وکي او دده دحق دين تلاش وکي نو الله ﷻ هغه دهغه مقصود هدايت ته رسوي او دمکې مشرکان چې دتوحيد دعوت ورته دروند معلوميږي ددې سبب دادی چې هغوی په دين دپوهيدو او پر دې دچليدو اراده هم نه کوي: مخکې دالله ﷻ ارشاد مبارک دی وماتفرّقوا الا من بعد ماجآءهم العلم .يعني دقريشو کافرانوچې کم دحق دين او صراط مستقيم څخه جداوالی اختياره کړی دی دافي نفسه هم سخته ناپوهي ده اوسره ددې هم چې د الله ﷻ دطرف څخه دوی ته علم راغلی ووالخ: (معارف القرآن ج۹ پ ۲۵ ص ۱۶)

اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ

اٰمَنْتُ	بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	مِنْ كِتٰبٍ	وَاُمِرْتُ	لِاَعْدِلَ
ایمان می راوړی دی	پر هغه	چی نازل کړی دی	الله	له کتاب څخه	او امر، حکم کړی سوی دی ماته	چی عدل وکړم

ایمان می راوړی دی پر هغه چی نازل کړی دی الله له (جنسه) کتاب څخه او امر حکم کړی سوی دی ماته چی عدل وکړم

بَيْنَكُمْ ۖ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ

بَيْنَكُمْ	اَللّٰهُ	رَبُّنَا	وَرَبُّكُمْ	لَنَآ	اَعْمَالُنَا	وَلَكُمْ
په مینځ ستاسی کښی	یو الله	رب دی زموږ	او رب دی ستاسی	موږ ته ده	(جزاء د) اعمالو زموږ	او تاسی ته ده (جزاء د)

په مینځ ستاسی کښی یو الله رب دی زموږ او رب دی ستاسی ، موږ ته ده (جزاء د) اعمالو زموږ او تاسی ته ده (جزاء د)

اَعْمَالُكُمْ ۖ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ۖ اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۚ

اَعْمَالُكُمْ	لَا حُجَّةَ	بَيْنَنَا	وَبَيْنَكُمْ	اَللّٰهُ	يَجْمَعُ	بَيْنَنَا
داعمالو ستاسی	نسته هیڅ جګړه	په مینځ زموږ	او په مینځ ستاسی کښی	الله	جمع به وکړی	په مینځ زموږ کښی

داعمالو ستاسی نسته هیڅ جګړه په مینځ زموږ او په مینځ ستاسی کښی الله جمع به وکړی په مینځ زموږ (او ستاسی کښی)

وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿١٥﴾ وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا

وَاِلَيْهِ	الْمَصِيْرُ	وَالَّذِيْنَ	يُحَآجُّوْنَ	فِي اللّٰهِ	مِنْ بَعْدِ مَا
او خاص هم ده ته	بیا ورتلل دی	او هغه کفار	چی مخاصمه جګړی کوی	په (دین د) الله کښی	وروسته له دی څخه

او خاص هم ده ته بیا ورتلل دی. او هغه کفار چی مخاصمه جګړی کوی په (دین د) الله کښی وروسته له دی څخه

اسْتُجِيْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ

اسْتُجِيْبَ	لَهٗ	حُجَّتُهُمْ	دَاحِضَةٌ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	وَعَلَيْهِمْ
چی قبولوالی کړی سوی دی	دغه لره	خصومت حجت د دوی	باطل دی	په نزد	درب د دوی	او پر دوی

چی قبولوالی کړی سوی دی (حکم د) دغه (الله) لره خصومت حجت د دوی باطل دی په نزد درب د دوی او پر دوی

غَضَبٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ﴿١٦﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

غَضَبٌ	وَّلَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيْدٌ	اَللّٰهُ	الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ
غضب دی	او سته دوی ته	عذاب	ډیر سخت	الله	هغه (ذات) دی	چی نازل کړی یئ دی

غضب دی (دالله) او سته دوی ته عذاب ډیر سخت. الله هغه (لوی ذات) دی چی نازل کړی یئ دی

اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ. نبي كريم ﷺ ته دالله ﷻ له طرفه دن صیحت خطابات: یعني ای زما نبي ته دا اعلان وکه چي څومره کتابونه الله ﷻ نازل کړي دي زما پر هغو ټولو باندي ایمان دی: بل حکم الله ﷻ داورته ورکی چي داهم دې کفاروته ووایه: **وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمْ**. ددې مطلب خو په ظاهره دادی چي ماته کمي معاملې دمابیني جګړو راسي ماته حکم سوی دی چي زه په هغه کي عدل او انصاف وکم. ځیني حضراتو دعدل معنی دلته دبرابری اخیستې ده دایت دامطلب یي مقرر کړی دی چي زه ستاسي په مینځ کي ددین ټول احکام برابر وساتم چي پر هر نبي او هر کتاب تاسي ایمان راوړی او دالله ﷻ دټولو احکامو اطاعت وکی داسي نه چي پر ځینو ایمان راوړی او پر ځینو یي نه راوړی یا دځینو احکامو تعمیل او پر ځای کول کوی او دځینو دبیا نه کوی: بل حکم دالله ﷻ دطرفه څخه ونبي کریم ﷺ ته دا ورکړه سوی دی چي ووایه دوی ته **اللّٰهُ رَبُّنَا** یعني الله ﷻ زموږ دټولو پالونکی دی نه ستاسي بتان.
(معارف القرآن ج۹ پ ۲۵ ص ۱۸)

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ

الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	وَالْمِيْزَانَ	وَمَا يُدْرِيْكَ	لَعَلَّ	السَّاعَةَ
كتاب (قرآن)	په حقه سره	او تله يئ هم مقرره كړې ده	او څه شى خبر كړي يئ ته	ښايئ چي	ساعت (قيامت)

كتاب (قرآن) په حقه سره او ميزان تله يئ هم مقرره كړې ده، او څه شى خبر كړي يئ ته ښايئ چي ساعت (قيامت)

قَرِيْبٌ ﴿١٧﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهَا ۚ

قَرِيْبٌ	يَسْتَعْجِلُ	بِهَا	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ	بِهَا
ډير نژدې وى	تلواره كوى په راتللو	د دغه	هغه كسان	چي نه راوړى ايمان	په هغه باندى

ډير نژدې وى. تعجيل كوى په راتللو د دغه (قيامت) هغه كسان چي نه راوړى ايمان په هغه (قيامت) باندى

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مُشْفِقُوْنَ مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهَا الْحَقُّ ؕ

وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مُشْفِقُوْنَ	مِنْهَا	وَيَعْلَمُوْنَ	اَنَّهَا	الْحَقُّ
او هغه كسان	چي ايمان يئ راوړى دى	ويريدونكى دى	له دغه (قيامت)	او پوهيږى په دى	چي بيشكه! دغه	حق دى

او هغه كسان چي ايمان يئ راوړى دى ويريدونكى دى له دغه (قيامت) او پوهيږى په دى چي بيشكه! دغه (قيامت) حق دى

اَلَآ اِنَّ الَّذِيْنَ يُمَارُوْنَ فِى السَّاعَةِ لَفِيْ ضَلٰلٍۭ بَعِيْدٍ ﴿١٨﴾

اَلَآ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يُمَارُوْنَ	فِي السَّاعَةِ	لَفِيْ	ضَلٰلٍۭ	بَعِيْدٍ
واوره خبردار سه!	بيشكه!	هغه كسان	چي جګړى كوى	په (راتللو د) قيامت كښى	خامخا دوى په	ګمراهى	ليرى كښى دى

واوره خبردار سه! بيشكه! هغه كسان چي جګړى كوى په (راتللو د) قيامت كښى خامخا دوى په ګمراهى ليرى كښى دى

اَللّٰهُ لَطِيْفٌۢ بِعِبَادِهٖ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ الْقَوِيُّ

اَللّٰهُ	لَطِيْفٌۢ	بِعِبَادِهٖ	يَرْزُقُ	مَنْ يَّشَآءُ	وَهُوَ	الْقَوِيُّ
الله	ډير مهربان دى	پر بندګانو خپلو	رزق، روزى وركوى	هغه چاته چي اراده وفرمائى	او هم دى	قوى، زورور

الله ډير لطف كوونكى ښه مهربان دى پر بندګانو خپلو،رزق، روزى وركوى (الله) هغه چاته چي اراده وفرمائى او هم دى قوى

الْعَزِيْزُ ﴿١٩﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ

الْعَزِيْزُ	مَنْ كَانَ	يُرِيْدُ	حَرْثَ	الْاٰخِرَةِ	نَزِدْ لَهٗ
ښه ډير غالب دى	هر څوک چي وى دى	چي اراده لرى	د كښت	دآخرت	نو زيادت كوو ده ته

زورور ښه ډير غالب دى. هر څوک چي وى دى چي اراده لرى (په عمل سره ثواب) كښت د آخرت نو زيادت كوو ده ته

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ وَمَا يُدْرِيْكَ. ددين اسلام اوقران حجت پر خلكو تمام سوى دى: قرآن كريم په ذكر سوو اياتونوكي كافران خبردار كړي دي چي ددين اسلام او قرآن حجت پر خلګو تمام سوى دى او په خپله په تاسي كي پوهانواو انصاف پسندو خلګو منلى دى او مسلمانان سوي دي اوس دا ستاسي حجت بازي باطله اوګمراهي ده چي هيڅ قرار يي نسته اوس كه دانه منى نو دخداى جل جلاله غضب به پر تاسي خامخا راځي. مخ ته دقرآن د الله جل جلاله دطرف څخه كيدل او دحقوق الله او حقوق العباد دپاره جامع قانون كيدلو بيان دى فرمايي چي. انزل الكتاب بالحق والميزان. دكتاب څخه مراد دلته مطلق آسماني كتاب دى چي په دې كي قرآن اومخكني ټول كتابونه داخل دي او دحق څخه مراد هغه حق دين دى دكم ذكر چي لوړ راغلى دى او دميزان لفظي معنى ده تله داچونكي دانصاف قائمولو او حق پوره وركولو يوه آله ده په دې وجه حضرت ابن عباس رضي الله عنه دميزان تفسير په عدل او انصاف سره كړى دى: والله اعلم.
(معارف القرآن ج۹ پ ۲۵ ص ۲۰)

ع۳

فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَا

فِيْ حَرْثِهٖ	وَمَنْ كَانَ	يُرِيْدُ	حَرْثَ	الدُّنْيَا	نُؤْتِهٖ	مِنْهَا	وَمَا
په کښت دده کښې	او هرڅوک چې وی دی	چې اراده لری	د کښت	ددنيا	نو وربه کړو ده ته	له هغه	او نه به وی

په کښت دده کښې، او هر څوک چې وی دی چې اراده لری (په عمل) کښت د دنيا نو وربه کړو ده ته له هغه او نه به وی

لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ۞ ۲۰ اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا شَرَعُوْا

لَهٗ	فِي الْاٰخِرَةِ	مِنْ نَّصِيْبٍ	اَمْ	لَهُمْ	شُرَكٰٓؤُا	شَرَعُوْا
ده ته	په آخرت کښې	هيڅ برخه	آيا دی	دوی لره	شريکان	چې مقرره کړی دوی لاره

ده ته په آخرت کښې هيڅ نصيب برخه. آيا دی دوی لره شريکان چې ساز کړی دوی لاره

لَهُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْۢ بِهِ اللّٰهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ

لَهُمْ	مِّنَ الدِّيْنِ	مَا لَمْ يَاْذَنْ	بِهِ	اللّٰهُ	وَلَوْلَا كَلِمَةُ
هغوی ته	له دين څخه	هغه چې حکم نه دی کړی	په هغه سره	الله	او که چيرې نه وی خبره

هغوی ته له دين (دجاهليت) هغه (شی) چې حکم نه دی کړی په هغه سره الله (دی کفاروته) او که چيرې نه وی خبره

الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۞ ۲۱

الْفَصْلِ	لَقُضِيَ	بَيْنَهُمْ	وَاِنَّ	الظّٰلِمِيْنَ	لَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
د فيصلې	نو خامخا حکم به کړی سوی وو	په مينځ د دغو کښې	او بيشکه!	ظالمان چې دی	سته دوی ته	عذاب	ډير دردناکه

د فيصلې نو خامخا حکم به کړی سوی وو په مينځ د دغو کښې او بيشکه! ظالمان چې دی سته دوی ته عذاب ډير دردناکه

تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ وَاقِعٌۢ

تَرَى	الظّٰلِمِيْنَ	مُشْفِقِيْنَ	مِمَّا	كَسَبُوْا	وَهُوَ	وَاقِعٌۢ
وبه وينې ته	ظالمان	بيريدونکی	له جهته د هغو	چې کړی يئ دی	دا چې هغه به	پريوتونکی وی

وبه وينې ته (په قيامت کښې) ظالمان بيريدونکی له جهته د هغو (بديو) چې کړی يئ دی دا چې هغه به پريوتونکی وی

بِهِمْ ۭ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ

بِهِمْ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	فِيْ رَوْضٰتِ	الْجَنّٰتِ
پر دوی	او هغه کسان	چې ايمان يئ راوړی دی	او کړی يئ دی	ښه (عملونه)	(وی به) په باغونو کښې	د جنتونو

پر دوی، او هغه کسان چې ايمان يئ راوړی دی او کړی يئ دی ښه (عملونه) په باغونو کښې به وی د جنتونو

وَمَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ..ددنيا په نعمتو مغروره خلکو الله ﷻ هير کړی دی: الله ﷻ فرمايي هغه خلگ چې ددنيا په نازاو نعمت مغروره سوي دي آخرت يي هير کړی دی او داسي ګڼي او وايي چې که زموږ عمل دالله ﷻ درضا خلاف وای نو موږ ته به يي داعيش او عشرت ولې راکوی ښه پوه سی چې داددوی ناپوهي ده ددې دنيا نعمت او دولت دليل درضانه دی بلکې ددې وجه خو داده چې الله ﷻ په دنيا کې په خپلو بندګانو باندې په عام طور سره مهربان دی ددې عام رحمت په سبب سره ټولو ته رزق ورکوي صحت او تندرستي ورکوي چې په دې کې دمصلحتونو او حکمتونو په بنا کمی او زياتی هم کيږي چې چاته څومره قدر چې غواړي رزق ورکوي مگر نفس رزق په ټولو کې مشترک دی. او په دنيا کې په دې لطف او مهرباني سره داګڼل چې دده طريقه حقه ده او په آخرت کې به هم دالطف او مهرباني جاري وي دا سراسر دوکه ده هلته خو به ددوی په بدو عملو باندې عذاب وي کمه چې څه مستبعده نه ده ځکه چې هغه قوت والا ذات دی.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۲۱)

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۲۲﴾

الْكَبِيْرُ	هُوَ الْفَضْلُ	ذٰلِكَ	رَبِّهِمْ	عِنْدَ	مَّا يَشَآءُوْنَ	لَهُمْ
ډیرلوی	هم دغه دی فضل	دغه	دربددوی	په نزد	هغه چې خوښ وی ددوی	وی به دوی ته

وی به دوی ته هغه (نعمتونه) چې خوښ وی د دوی په نزد دربد دوی ، دغه (مذکور کرامت) هم دغه دی فضل ډیر لوی

ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

وَعَمِلُوا	اٰمَنُوْا	الَّذِيْنَ	عِبَادَهُ	اللّٰهُ	يُبَشِّرُ	الَّذِيْ	ذٰلِكَ
او کړی یئ دی	ایمان یئ راوړی دی	هغو چې	پر بندګانو	الله	چې زیری کوی	هغه دی	دغه (ثواب)

دغه (ثواب) هغه دی چې زیری کوی الله (په هغه سره) پر هغو بندګانو خپلو چې ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی

الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ

الْمَوَدَّةَ	اِلَّا	اَجْرًا	عَلَيْهِ	لَّآ اَسْئَلُكُمْ	قُلْ	الصّٰلِحٰتِ
محبت ، دوستی غوارم	لیکن	اجر	پر دغه	چې نه غوارم له تاسی	ووایه (محمده)	ښه (عملونه)

ښه (عملونه)، ووایه (ای محمده!) چې نه غوارم له تاسی پر دغه (پیغام رسولو) اجر لیکن دوستی غوارم

فِي الْقُرْبٰى ؕ وَمَنْ يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا حُسْنًا ؕ

حُسْنًا	فِيْهَا	نَّزِدْ لَهٗ	حَسَنَةً	وَمَنْ يَّقْتَرِفْ	فِي الْقُرْبٰى
ښائست	په هغه کښې	زیادت به کوو موږ ده ته	نیکی	او هر څوک چې وکړی	په قرابت خپلوی کښې

په قرابت خپلوی کښې ، او هر څوک چې وکړی نیک کارونه زیادت به کوو موږ ده ته په هغه (نیک کار) کښې ښائست

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

عَلَى اللّٰهِ	افْتَرٰى	اَمْ يَقُوْلُوْنَ	شَكُوْرٌ	غَفُوْرٌ	اللّٰهَ	اِنَّ
پر الله	چې له خپل ځانه تړلی دی (محمد)	آیا وایئ دوی	ښه قبلونکی دی	ښه مغفرت کوونکی	الله	بیشکه!

بیشکه! الله ښه مغفرت کوونکی ښه قبلونکی (د طاعت) دی. آیا وایئ (دا کفار) چې له خپل ځانه تړلی دی (محمد) پر الله

كَذِبًا ۚ فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ؕ وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ

الْبَاطِلَ	اللّٰهُ	وَيَمْحُ	قَلْبِكَ	عَلٰى	يَخْتِمْ	اللّٰهُ	فَاِنْ يَّشَاِ	كَذِبًا
باطل	الله	او نابودبه کړی	زړه ستا	پر	نو مهر به ولګوی	الله	پس که اراده وفرمائی	دروغ

دروغ پس که اراده وفرمائی الله نو مهر به کیږدی (د صبر) پر زړه ستا ، او محو کوی الله باطل

قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ. نبي کریم ﷺ پرخپل دعوت او تبلیغ باندي مزدوري نه ده غوښتي : ددغه ایت تفسیر دجمهورو مفسرینو څخه منقول مأثور او مختار دی ددي مطلب دادی چي زما اصل حق پر تاسي تولو دادی چي زه دالله ﷻ رسول یم تاسي ددي اعتراف وکړی او دخپلي صلاح او فلاح دپاره زما اطاعت وکړی مګر که زما رسالت او نبوت تاسي نه تسلیموی نو پرواه نشته مګر زما یو انساني او خانداني حق خو هم دی دکم څخه چي تاسي انکار نه سی کولای چي ستاسي په اکثرو قبیلوکي زما قرابت او خپلولي ده دخپلولي دحقوقواو دصله رحمی دضرورت څخه خو ستاسي هم انکار نسته نوزه ستاسي څخه دخپل دغه خدمت کم چي ستاسي دتعلیم تبلیغ او عملونو او حالاتو دپاره دی کوم څه معاوضه ستاسي څخه نه غوارم صرف دومره غوارم چي دقرابت دحقوقو خیال کوی خبره منل یا نه منل ستاسي په اختیار کي دي مګر عداوت او دښمني خو کم ازکم ددي خپلولي او نسب په وجه مه کوی الخ. (معارف القرآن ج۹پ۲۵ ص ۲۵)

وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۞ ۲۴ وَهُوَ

وَيُحِقُّ	الْحَقَّ	بِكَلِمٰتِهٖ	اِنَّهٗ	عَلِيْمٌ	بِذَاتِ	الصُّدُوْرِ	وَهُوَ
او ثابتوی	حق	په کلماتو خپلو سره	بیشکه! دغه الله	ښه عالم دی	په خبرو	دسینو باندی هم	او الله

او ثابتوی حق په کلماتو خپلو سره، بیشکه! دغه (الله) ښه عالم دی په خبرو د سینو (زړونو) باندی هم، او الله

الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ

الَّذِيْ	يَقْبَلُ	التَّوْبَةَ	عَنْ عِبَادِهٖ	وَيَعْفُوْا	عَنِ	السَّيِّاٰتِ
هغه (ذات) دی	چی قبلوی	توبه	له بندګانو خپل	او عفوه کوی	له	بدو کارونو

هغه (ذات) دی چی قبلوی توبه له بندګانو خپل او عفوه کوی له بدو کارونو (د دوی پس له پښیمانی)

وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۞ ۲۵ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

وَيَعْلَمُ	مَا تَفْعَلُوْنَ	وَيَسْتَجِيْبُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
او ورمعلوم دی	هر هغه کار چی کوئ یئ تاسی	او قبلوی دعاء	دهغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی

او ورمعلوم دی هر هغه کار چی کوئ یئ تاسی او قبلوی (الله دعاء) دهغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ وَالْكٰفِرُوْنَ

وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	وَيَزِيْدُهُمْ	مِّنْ فَضْلِهٖ	وَالْكٰفِرُوْنَ
او کړی دی	ښه (عملونه)	او زیادت کوی دوی ته	له مهربانی خپلی	او کافران چی دی

او کړی دی ښه (عملونه) او زیادت کوی (دوی ته) له مهربانی خپلی، او کافران چی دی

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۞ ۲۶ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ

لَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيْدٌ	وَلَوْ	بَسَطَ	اللّٰهُ	الرِّزْقَ	لِعِبَادِهٖ
سته دوی ته	عذاب	ډیر سخت	او که چیری	پراخه کړی وی	الله	رزق، روزی	دپاره د بندګانو خپلو

سته دوی ته عذاب ډیر سخت (د دوزخ)، او که چیری پراخه کړی وی الله رزق، روزی دپاره د (ټولو) بندګانو خپلو

لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاۗءُ ۭ اِنَّهٗ

لَبَغَوْا	فِي الْاَرْضِ	وَلٰكِنْ	يُّنَزِّلُ	بِقَدَرٍ مَّا	يَشَاۗءُ	اِنَّهٗ
نو خامخا سرکشی به کړی وه دوی	په مځکه کښی	او لیکن	نازلوی	په هغه اندازه سره	چی اراده وفرمائی	بیشکه! الله

نو خامخا سرکشی به کړی وه دوی په مځکه کښی او لیکن نازلوی په هغه اندازه سره چی اراده وفرمائی بیشکه! الله

وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ... دتوبې حقیقت او دهغه بیان :
دتوبې لفظي معنی ده واپس کیدل او رجوع کول. او دشرعې په اصطلاح کې دګناه څخه واپس کیدو ته توبه وايي او ددې دصحیح او معتبر کیدو دپاره درې ۳ شرطونه دي: یو داچي په کمه ګناه کې في الحال مبتلا دی هغه فورا پریږدي. دوهم داچي په تیر وخت کې ورڅخه کمه ګناه سوې وي پر هغه پښیمانه او نادم سي. دریم داچي آینده دپریښوولو پوخ قصد وکړي او که څه شرعي فرض یې پرېښی وي نو چي دهغه په اداکولو او قضا راګرځولو کې شروع سي او که داسې ګناه وه چي دبنده حق وو نو په دې کې یو شرط داهم دی چي که دچا مال دده پر ذمه واجب وي او هغه سړی ژوندی هم وي نو چي یاهغه ته دهغه مال واپس کې او یا ورڅخه معافي وغواړي او که هغه ژوندی نه وي او ورثایي موجود وي نو هغوی ته یې واپس کړي او که ورثایي هم نه وي نو چي بیت المال ته یې داخل کړي که بیت المال هم نه وي یا خووي خو نظم سم نه وي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ

بِعِبَادِهٖ	خَبِيْرٌ	بَصِيْرٌ	وَهُوَ	الَّذِيْ	يُنَزِّلُ	الْغَيْثَ
پر بندګانو خپلو	ښه خبردار دى	ښه ليدونکى دى	او الله	هغه (لوى ذات) دى	چې نازلوى	باران

پر بندګانو خپلو ښه خبردار دى ښه ليدونکى دى. او الله هغه لوى ذات دى چې نازلوى باران

مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ؕ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾

مِنْۢ بَعْدِ	مَا قَنَطُوْا	وَيَنْشُرُ	رَحْمَتَهٗ	وَهُوَ	الْوَلِيُّ	الْحَمِيْدُ
وروسته له هغه چې	ناميد سى خلک	او هواروى	رحمت خپل	او هم دى دى	دوست	ډير ثناء ويلى سوى

وروسته له هغه چې نااميد سى او خوروى رحمت (باران) خپل او هم دى دى دوست، کارجوړوونکى ډير ثناء ويلى سوى .

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا

وَمِنْ	اٰيٰتِهٖ	خَلْقُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا بَثَّ	فِيْهِمَا
او ځينى له	دلائلو دالله	پيدا کول	دآسمانونو	او دمځکى دى	او دهغو شيانو چې پاشل سوى دى	په دى دواړو کښى

او ځينى له دلائلو دالله پيدا کول دآسمانونو او دمځکى دى. او دهغو شيانو چې خواره کړسوى دى په دى دواړو کښى

مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ ع

مِنْ دَآبَّةٍ	وَهُوَ	عَلٰى	جَمْعِهِمْ	اِذَا يَشَآءُ	قَدِيْرٌ
له ذى روح شخه	او دغه (الله)	پر	جمع کولو ددوى	هر کله چې اراده وفرمائى	ښه قادر دى

له ذى روح خوځيدونکو شخه، او دغه (الله) په جمع کولو ددوى (محشرته) هر کله چې اراده وفرمائى ښه قادر دى.

وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا

وَمَآ اَصَابَكُمْ	مِّنْ مُّصِيْبَةٍ	فَبِمَا	كَسَبَتْ	اَيْدِيْكُمْ	وَيَعْفُوْا
او هغه شه چې رسيږى تاسى ته	له کوم مصيبت	پس په وجه دهغو اعمالو دى	چې کړى دى	لاسونو ستاسى	او عفوه کوى (الله)

او هغه شه چې رسيږى تاسى ته له کوم مصيبت پس له دهغو اعمالو دى چې کړى دى لاسونو ستاسى او عفوه کوى (الله)

عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۰﴾ ؕ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۚ وَمَا لَكُمْ

عَنْ كَثِيْرٍ	وَمَآ اَنْتُمْ	بِمُعْجِزِيْنَ	فِي الْاَرْضِ	وَمَا لَكُمْ
له ډيرو (ګناهونو)	او نه يئ تاسى	عاجزکوونکى	په مځکه کښى	او نسته تاسى ته

له ډيرو (ګناهونو). او نه يئ تاسى عاجزکوونکى په مځکه کښى او نسته تاسى ته

وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا..دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: نوبيا دي دغه حق يا پيسه دهغه دطرفه شخه صدقه کړي او که شه غيرمالي حق يې ديو چا پر ذمه واجب وي مثلا ناحقه يې ځوک ازار کړى وي او يا يې بد رد ورته ويلي وي يا يې دهغه غيبت کړى وي نو څنګه چې ده لره ممکن وي هغه دي راضي کړي او معافي دي ورڅخه واخلي: اوداخو دهر قسم توبې دپاره ضروري ده چې دګناه پريښوول دالله ﷻ دپاره وي دخپلي شه جسماني کمزورى يا مجبورى پر بنا باندي نه وي او په شريعت کي اصل مطلوب خو دادى چي توبه دټولو ګناهونو شخه وسي ليکن که صرف دشه خاص ګناه شخه توبه وکاږي نو داهل سنتو دمسلک مطابق به دهغه ګناه تر حده پوري که معاف سي خو دنورو ګناهونو وبال به يې پر سر باندي پاته وي خبرداري! په نن وخت او حالاتو کي دتوبې ډير اشد ضرورت دى تاسي وګورى چي پر مسلمانانو باندي شه حالات تيريږي او شه فتني رواني دي يو طرف دکفارو ظلمونه او بل طرف دمسلمانانو دننه اختلافات.والى المشتکى (معارف القرآن ج۹ پ ۲۵ ص ۳۱)

مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۳۱﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهِ

مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	مِنۡ وَّلِيٍّ	وَّلَا نَصِيۡرٍ	وَمِنۡ	اٰيٰتِهِ
غير له	الله	هيڅوک دوست	او نه مرسته کوونکی	او ځينی له	دلائلو (دقدرت) دالله

غير له الله هيڅوک دوست کار جوړوونکی او نه مرسته کوونکی، او ځينی له دلائلو (دقدرت د) الله

الۡجَوَارِ فِي الۡبَحۡرِ كَالۡاَعۡلَامِ ﴿۳۲﴾ اِنۡ يَّشَاۡ يُسۡكِنِ الرِّيۡحَ

الۡجَوَارِ	فِي الۡبَحۡرِ	كَالۡاَعۡلَامِ	اِنۡ يَّشَاۡ	يُسۡكِنِ	الرِّيۡحَ
رواني (کشتياني) دی	په بحر کښې	په شان د غرونو	که اراده وفرمائی (الله)	نو و به دروی دغه	باد

رواني (کشتياني) دی په بحر کښې په شان د غرونو (په لوی والی)، که اراده وفرمائی (الله) نو و به دروی دغه باد

فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهۡرِهٖ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ

فَيَظۡلَلۡنَ	رَوَاكِدَ	عَلٰى ظَهۡرِهٖ	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّكُلِّ
پس و به ګرځی	ولاړی	پر شا د دغه کښې	بيشکه!	په دغه کښې	خامخا لوی دلائل دی	دپاره دهر

پس و به ګرځی (دغه کشتياني) ولاړی پر شا د دغه (بحر). بيشکه! په دغه کښې خامخا لوی دلائل دی دپاره دهر

صَبَّارٍ شَكُوۡرٍ ﴿۳۳﴾ اَوۡ يُوۡبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُوۡا وَيَعۡفُ عَنۡ

صَبَّارٍ	شَكُوۡرٍ	اَوۡ يُوۡبِقۡهُنَّ	بِمَا	كَسَبُوۡا	وَيَعۡفُ	عَنۡ
صبر کوونکی	شکر کوونکی	يا به هلاک کړی دغه	په سبب دهغو ګناهونو	چې کړی دی دوی	او عفوه کوی (الله)	له

صبر کوونکی شکر کوونکی. يا به هلاک کړی دغه په سبب دهغو ګناهونو چې کړی دی دوی او عفوه کوی (الله) له

كَثِيۡرٍ ﴿۳۴﴾ وَّيَعۡلَمَ الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ فِيۡۤ اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمۡ

كَثِيۡرٍ	وَّيَعۡلَمَ	الَّذِيۡنَ	يُجَادِلُوۡنَ	فِيۡۤ اٰيٰتِنَا	مَا لَهُمۡ
ډيرو	او چې پوه سی	هغه کسان	چې جګړې کوی	په آيتونو زموږ کښې	چې نسته دوی ته

ډيرو (ګناهونو). او چې پوه سی هغه کسان چې مجادلې جګړې کوی په آيتونو زموږ کښې چې نسته دوی ته

مِّنۡ مَّحِيۡصٍ ﴿۳۵﴾ فَمَاۤ اُوۡتِيۡتُمۡ مِّنۡ شَيۡءٍ فَمَتَاعُ الۡحَيٰوةِ

مِّنۡ مَّحِيۡصٍ	فَمَاۤ	اُوۡتِيۡتُمۡ	مِّنۡ شَيۡءٍ	فَمَتَاعُ	الۡحَيٰوةِ
هيڅ ځای دخلاصيدلو	پس هغه چې	درکړی سوی دی تاسی ته	له څه شی څخه	سامان (اسباب)	دژوندانه

هيڅ ځای دخلاصيدلو. پس هغه چې درکړی سوی دی تاسی ته پس لږ څه سامان (اسباب) د ژوندانه

فَمَاۤ اُوۡتِيۡتُمۡ مِّنۡ شَيۡءٍ فَمَتَاعُ الۡحَيٰوةِ.. ددنيا نعمتونه ناقص او فنا کيدونکي دي: په ذکر سوو اياتونو کي الله ﷻ دامضمون بيان کړی دی چي ددنيا نعمتونه ناقص او فنا کيدونکي دي او ددې په مقابل کي دآخرت نعمتونه کامل او هميشني او دايمي دي او دآخرت دنعمتونو دحاصلوالي دپاره دټولو څخه لوی او اهم شرط ايمان دی چي ددې څخه بغير دانعمتونه هيچاته نه سي ورکول کيدای ليکن دايمان سره به نيک عملونه هم په پوره اهتمام سره سوي وي نو دآخرت دا نعمتونه بالکل ورکول کيږي کنه نو دخپلو ګناهونو او کوتاهيو دسزاتيرولو څخه وروسته به ورکول کيږي په دې وجه په ذکر سوو اياتونو کي دټولو څخه اولنی شرط خو يي الذين آمنوا بيان فرمايلی دی او ددې دخاصو عملونو ذکر يي وکی دکمو څخه بغير چي دقاعدې مطابق د آخرت نعمتونه دشروع څخه نه ورکول کيږي بلکي دخپلو ګناهونو دسزا دپيدا کولو څخه وروسته به ورکول کيږي او که بيا هم الله ﷻ وغواړي نو ټول ګناهونه به يي معاف کړي الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۴۰)

اَلدُّنْيَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ

اَلدُّنْيَا	وَمَا	عِنْدَ اللّٰهِ	خَيْرٌ	وَّاَبْقٰى	لِلَّذِيْنَ
د دی دنیا دی	او هغه ثواب	چی په نزد د الله دی	غوره	او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی	د پاره د هغو کسانو چی

د دی دنیا او هغه ثواب چی په نزد د الله دی خیر غوره او ډیر باقی پاتی کیدونکی دی د پاره د هغو کسانو چی

اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۚ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ

اٰمَنُوْا	وَعَلٰى	رَبِّهِمْ	يَتَوَكَّلُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	يَجْتَنِبُوْنَ
ایمان یې راوړی دی	او پر	رب خپل	توکل کوی دوی	او هغو کسانو ته	چی ځان ساتی دوی

ایمان یې راوړی دی او پر رب خپل توکل کوی دوی، او (بل) هغو کسانو ته چی ځان ساتی دوی

كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ۚ ﴿٣٧﴾

كَبٰٓئِرَ	الْاِثْمِ	وَالْفَوَاحِشَ	وَاِذَا	مَا غَضِبُوْا	هُمْ	يَغْفِرُوْنَ
له غټو	ګناهونو	او له فواحشو	او کله چی	په غضب سی	هم دوی	بخښنه کوی

له غټو ګناهونو او له فواحشو او کله چی په غضب سی هم دوی بخښنه کوی

وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۠ وَاَمْرُهُمْ

وَالَّذِيْنَ	اسْتَجَابُوْا	لِرَبِّهِمْ	وَاَقَامُوا	الصَّلٰوةَ	وَاَمْرُهُمْ
او هغو کسانو ته	چی حکم منی	د رب د دوی	او قائموی	لمونځ	او کار د دوی

او (بل د پاره د) هغو کسانو ته چی اجابت کوی (د احکامو) د رب د دوی او قائموی لمونځ او کار د دوی (په)

شُوْرٰى بَيْنَهُمْ ۠ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۚ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ

شُوْرٰى	بَيْنَهُمْ	وَمِمَّا	رَزَقْنٰهُمْ	يُنْفِقُوْنَ	وَالَّذِيْنَ
مشوره کول وی	په مینځ د دوی کښی	او له ځینو د هغو شیانو	چی ورکړی دی موږ دوی ته	نفقه کوی	او د هغو کسانو د پاره

مشورت (سره) وی په مینځ د دوی کښی، او له ځینو د هغو شیانو چی ورکړی دی موږ دوی ته نفقه کوی او د هغو کسانو

اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ

اِذَآ	اَصَابَهُمُ	الْبَغْيُ	هُمْ	يَنْتَصِرُوْنَ	وَجَزٰٓؤُا	سَيِّئَةٍ
کله چی	ورسیږی دوی ته	ظلم، تعدی	نو دوی	انتقام اخلی	او جزاء	د بد کار

کله چی ورسیږی دوی ته ظلم تعدی (له طرفه د کفارو) نو دوی انتقام اخلی. او جزاء د بد کار

وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ.

دنیکانو مسلمانانو صفتونه

یعني نیکان مسلمانان هغه دي کم چي د کبیره ګناهونو څخه خصوصا د بې حیایي د کارونو څخه پرهیز کوونکي دي: په کبیره ګناهونو کي ټول ګناهونه داخل وه په دي کي د فواحشو په جلا بیانولو کي دا حکمت دی چي د فواحشو ګناه د عامو کبیره ګناهونو څخه زیاته سخته هم ده او هغه یو متعدي مرض هم وي چي نور خلګ ورڅخه هم متاثره کیږي: فواحش هغو کارونو ته ویل کیږي په کمو کي چي بې حیایي وي لکه زنا او د دې مقدمات دا رنګه هغه بد عملونه کم چي همیشه او په ډاګه کول کیږي هغه ته هم فواحش وایي د هغه وبال هم ډیر سخت او پوره انساني معاشرې لره خرابوونکی دی: واذاما غضبوا هم یغفرون: یعني نیکان خلګ هغه دي چي کله ورلره غصه راسي نو معاف کوي. داده ښه خوی اعلی نمونه ده ځکه چي د چا محبت یا چاته غصه دادواړه شیان چي کله غالب سي نو ښه هوښیار انسان هم ړوند او کوڼ کړي بیا پرنتیجي د فکر کولو صلاحیت یي ولاړ سي الخ.

(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۴۰)

سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُ

سَيِّئَةٌ	مِّثْلُهَا	فَمَنْ	عَفَا	وَأَصْلَحَ	فَأَجْرُهُ	عَلَى اللَّهِ	إِنَّهُ
بد کاری	په شان دهغه	پس هر چاچي	عفوه وکړه	او صلح یئ وکړه	پس اجر دده	پر الله دی	بیشکه! الله

بد کاری په شان دهغه (نه زیات) پس هر چا چي عفوه وکړه او صلح یئ وکړه پس اجر د ده پر الله دی بیشکه الله

لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ انتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ فَأُولَٰئِكَ

لَا يُحِبُّ	الظَّالِمِينَ	وَلَمَنِ	انتَصَرَ	بَعْدَ	ظُلْمِهِ	فَأُولَٰئِكَ
نه خوښوی	ظالمان	او خامخا هغه څوک	چي واخلی حق خپل	پس له	مظلوم کیدلو دده	پس دغه کسان

نه خوښوی ظالمان. او خامخا هغه څوک چي واخلی حق خپل پس له مظلوم کیدلو دده پس دغه کسان

مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ

مَا عَلَيْهِم	مِّن سَبِيلٍ	إِنَّمَا	السَّبِيلُ	عَلَى	الَّذِينَ
نسته پر دوی	هیڅ لاره	بیشکه! هم داخبره ده	چی لاره	پر	هغو کسانو ده

نسته پر دوی هیڅ لاره (ملامتیا). بیشکه! هم داخبره ده چی لاره (د معاتبت) پر هغو کسانو ده

يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ

يَظْلِمُونَ	النَّاسَ	وَيَبْغُونَ	فِي الْأَرْضِ	بِغَيْرِ الْحَقِّ
چي ظلم کوی	پر خلکو	او سرکشی کوی	په مځکه کښی	په ناحقه سره

چي ظلم کوی پر خلکو او سرکشی (تجاوز) کوی په مځکه کښی په ناحقه سره (بی له حجته)

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ

أُولَٰئِكَ	لَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ	وَلَمَن	صَبَرَ	وَغَفَرَ	إِنَّ
دغه (ظالمان)	ستهدوی ته	عذاب	دردناک	او خامخا هغه څوک چي	صبر وکړی	او بخښنه یئ وکړه	بیشکه!

دغه (ظالمان) سته دی ته عذاب دردناک او خامخا هغه څوک چي صبر وکړی او بخښنه یئ وکړه، بیشکه

ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ

ذَٰلِكَ	لَمِنْ عَزْمِ	الْأُمُورِ	وَمَن يُضْلِلِ	اللَّهُ	فَمَا لَهُ
دغه	خامخا ډیر د همت	کارونو څخه دی	او هر هغه څوک چي گمراه یئ کړی	الله	پس نسته ده ته

دغه خامخا له عزم الامور غورو کارونو څخه دی. او هر هغه څوک چي گمراه یئ کړی الله پس نسته ده ته

سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ دبدی جزا ددې برابر بدي کول دي: يعني څومره نقصان مالي يا جسماني چي چاتاته رسولی دی بس دهغه په مقدار او برابری سره يي ته ورته ورسوه څنگه بدي چي هغه ستاسره کړيده هم هغسي ته ورسره وکړه مگر په دي کي دا شرط دی چي هغه بدي به في نفسه گناه نه وي مثلا يو چا په تا باندي په زور سره شراب وچيښل العياذ بالله نو ددې په جواب کي تاته نه دي رواه چي ته هم په هغه باندي په زور سره شراب وچيښي په دغه آيت کي که څه هم دبرابرپه برابر دبدلې اخيستو اجازت ورکول سوی دی مگر مخ ته يي دا هم وفرمايل چي: فمن عفا واصلح فاجره علی الله. يعني څوک چي معافي وکړي او داصلاح لاره اختياره کړي دهغه اجر دالله ﷻ پر ذمه دی په دي کي يي داهدايت ورکی چي معاف کول افضل او ښه کار دی: ددې څخه وروسته په دوو اياتونو کي ددې زيات تفصيل راغلی دی: په عفوه بدل اخيستلوکي درميانه فيصله...حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله عليه فرمايي: پاته بيان پر راروان مخ وگوری

ع ۴ / ۵

مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

مِنْ وَّلِيٍّ	مِّنْۢ بَعْدِهٖ	وَتَرَى	الظّٰلِمِيْنَ	لَمَّا	رَاَوُا	الْعَذَابَ
هیڅوک دوست	وروسته له (ګمراه کولو) څخه	او وینی به ته	ظالمان	هرکله چي	ووینی دوی	عذاب

هیڅوک ولي، دوست وروسته له (ګمراه کولو د) الله څخه ده لره ، او وینی به ته ظالمان هرکله چي ووینی دوی عذاب

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ۝۴۴ وَتَرٰىهُمْ

يَقُوْلُوْنَ	هَلْ	اِلٰى مَرَدٍّ	مِّنْ سَبِيْلٍ	وَتَرٰىهُمْ
وایئ به	آیا سته	بیرته تللو ته	کومه لاره	او وینی به ته دوی

وایئ به دوی آیا سته بیرته تللو (د دنیا) ته کومه لاره ؟ او وینی به ته دوی

يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ

يُعْرَضُوْنَ	عَلَيْهَا	خٰشِعِيْنَ	مِنَ الذُّلِّ	يَنْظُرُوْنَ	مِنْ طَرْفٍ
چي مخامخ کولی به سی	په دغه اور	چي بیریدونکی به وی	له خواری	ګوری به دوی	په کتنی

چي وراندی کولی به سی په دغه اور په دغه حال کښی چي بیریدونکی به وی له خواری ګوری به دوی (دغه اور ته) په کتنی

خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ

خَفِيٍّ	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنَّ	الْخٰسِرِيْنَ	الَّذِيْنَ
پټی	او وایئ به	هغه کسان	چي ایمان يئ راوړی دی	بیشکه!	زیانکاران	هغه کسان دی

پټی (له ډیره هیبته)، او وایئ به هغه کسان چي ایمان يئ راوړی دی (داسی چي) بیشکه! زیانکاران هغه کسان دی

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ

خَسِرُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	وَاَهْلِيْهِمْ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ	اَلَآ	اِنَّ
چي زیان يئ رسولی دی	نفسونو خپلو ته	او کورنی خپلی ته	په ورځ	دقیامت کښی	واوره! خبردار سه!	چي بیشکه!

چي زیان يئ رسولی دی نفسونو خپلو ته او کورنی خپلی ته په ورځ دقیامت کښی ، واوره! خبردار سه! چي بیشکه!

الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ۝۴۵ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ

الظّٰلِمِيْنَ	فِيْ عَذَابٍ	مُّقِيْمٍ	وَمَا كَانَ	لَهُمْ	مِّنْ
ظالمان	په عذاب	همیشه کښی دی	او نه به وی	دوی ته (کفاروته)	هیڅوک له

ظالمان په عذاب همیشه کښی دی ، او نه به وی دغو کفاروته هیڅوک له

وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ.. دتیر مغ پاته بیان دلته وګوری: چي سلفو صالحینو دانه خوښوله چي مومنان خپل ځانونه دفاسقانو فاجرانو په مخکي ذلیل کړي او دهغوی جرائت زیات سي په دې وجه کم ځای چي داخطره وي چي په معاف کولو سره دفاسقانو جرآئت زیاتیږي او هغوی به نور نیکان خلګ بیا په آینده کي آزاروي نو هلته به بدل اخیستل ښه وي دمعافی ښه والی په دې صورت کي دی کله چي ظلم کوونکی پر خپل کار باندي ستومانه او پښیمانه سي او پر نور ظلم باندي یې دجرآئت دزیاتیدو خطره نه وي: قاضي ابن عربي رحمة الله علیه په احکام القرآن کي اوعلامه قرطبي رحمة الله علیه په خپل تفسیر کي دغه خبره اختیاره کړیده چي دعفوي اوانتقام دواړو حکم دمختلفو حالاتو په اعتبارسره دی څوک چي دظلم کولو څخه وروسته شرمنده سي هغه ته عفوه کول افضله ده او څوک چي پر خپل ضداو ظلم باندي اصرارکوي نو دهغه څخه انتقام اخیستل بیا ښه کار دی چي دآینده دپاره دخپل شرارت څخه منع سي.
(معارف القرآن ج۹پ۲۵ص ۴۳)

اَوۡلِيَآءَ يَنۡصُرُوۡنَهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا

اَوۡلِيَآءَ	يَنۡصُرُوۡنَهُمۡ	مِّنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	وَمَنۡ يُّضۡلِلِ	اللّٰهُ	فَمَا
دوستانو	چي مرسته وکړي له دوی سره	غیر له	الله	او هر هغه چي ګمراه یئ کړي	الله	پس نه به وي

دوستانو چي مرسته وکړي له دوی سره (په دفع د عذاب) غیر له الله او هر هغه چي ګمراه یئ کړي الله پس نه به وي

لَهٗ مِنۡ سَبِيۡلٍ ﴿۴۶﴾ اِسۡتَجِيۡبُوۡا لِرَبِّكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ

لَهٗ	مِنۡ سَبِيۡلٍ	اِسۡتَجِيۡبُوۡا	لِرَبِّكُمۡ	مِّنۡ قَبۡلِ	اَنۡ يَّاۡتِىَ
ده ته	هیڅ لاره	قبول کړی حکمونه	د رب خپل	د مخه له هغه	چي راسي (هغه)

ده ته هیڅ لاره (حق ته). اجابت وکړئ (ای خلکو!) رب ستاسي ته (په ایمان او توحید سره) پخوا له هغه چي راسي (هغه)

يَوۡمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمۡ مِّنۡ مَّلۡجَاٍ يَّوۡمَئِذٍ

يَوۡمٌ	لَّا مَرَدَّ لَهٗ	مِنَ	اللّٰهِ	مَا لَكُمۡ	مِّنۡ مَّلۡجَاٍ	يَّوۡمَئِذٍ
ورځ	چي نسته هیڅ رد او دفع هغې لره	له (جانبه د)	الله	نه به وي تاسي ته	هیڅ د پټیدلو ځای	په دغه ورځ کښي

ورځ چي نسته هیڅ رد او دفعه هغې (ورځې) لره له (جانبه د) الله، نه به وي تاسي ته هیڅ د پټیدلو ځای په دغه ورځ کښي

وَّمَا لَكُمۡ مِّنۡ نَّكِيۡرٍ ﴿۴۷﴾ فَاِنۡ اَعۡرَضُوۡا فَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ عَلَيۡهِمۡ

وَّمَا لَكُمۡ	مِّنۡ نَّكِيۡرٍ	فَاِنۡ	اَعۡرَضُوۡا	فَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ	عَلَيۡهِمۡ
او نه به وي تاسي ته	هیڅ لاره د انکار	پس که	مخ وګرځوه	پس نه یئ لیږلی موږ ته	پر دوی

او نه به وي تاسي ته هیڅ لاره د انکار (له ګناهونو)، پس که مخ وګرځوه (د غو مشرکانو) پس نه یئ لیږلی موږ ته پر دوی

حَفِيۡظًا ؕ اِنۡ عَلَيۡكَ اِلَّا الۡبَلٰغُ ؕ وَاِنَّاۤ اِذَاۤ اَذَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ

حَفِيۡظًا	اِنۡ عَلَيۡكَ	اِلَّا	الۡبَلٰغُ	وَاِنَّاۤ	اِذَاۤ	اَذَقۡنَا	الۡاِنۡسَانَ
ساتونکی	نسته پر تا	مګر	پیغام رسول	او بیشکه! موږ	کله چي	وڅکوو	دا انسان ته

ساتونکی ، نسته پر تا مګر یوازي تبلیغ ، او بیشکه! موږ کله چي وڅکوو (جنس) دا انسان ته

مِنَّا رَحۡمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَاِنۡ تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا

مِنَّا	رَحۡمَةً	فَرِحَ	بِهَا	وَاِنۡ	تُصِبۡهُمۡ	سَيِّئَةٌ	بِمَا
له طرفه خپله	کوم رحمت	نو خوشحاله سی دی	په هغه	او که	ورسیږی دوی ته	کوم قسم بدی	په سبب د هغو بدیو

له طرفه خپله کوم رحمت نو خوشحاله سی دی په هغه او که ورسیږی دوی ته کوم قسم بدی په سبب د هغو بدیو

اِسۡتَجِيۡبُوۡا لِرَبِّكُمۡ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِىَ د قیامت د عذاب د راتلو څخه مخکي توبه وباسي: په دغه آیت کي الله ﷻ و کفارو ته خطاب کړی دی د نصیحت په صورت کي چي د قیامت د عذاب د راتلو څخه مخکي اول توبه وباسي او ایمان راوړي او بیا نبي کریم ﷺ ته تسلي او اطمینان ورکول سوی دی چي ستا د بار بار تبلیغ او کوشش باوجود که دا خلګ په هوښ کي رانه سي ایمان او اسلام رانه وړي نو ته ځان په غم کي مه اچوه ځکه چي موږ ته پر دوی باندي داسي نګران نه یي لیږلي چي ته به خامخا په دوی باندي په زور سره ایمان او اسلام قبلوي او نه هم داسي سوي دي مخکي ځکه چي دا هم د الله ﷻ ارشاد دی: لا اکراه فی الدین قد تبین الرشد من الغي: چي د دین په قبلولو کي زور او زبر دستي نسته که یې خوک په خپل خوښه سره دا دین قبلوي قبول دي کي که یي نه قبلوي نو د آخرت د همیشني او دایمي عذابونو ته دي خپل ځان اماده کړي ځکه چي د الله ﷻ ارشاد دی: فمن شآء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر انا اعتدنا للظلمین نارا (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۴۷)

قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ فَاِنَّ الۡاِنۡسَانَ كَفُوۡرٌ ﴿۴۸﴾ لِلّٰهِ مُلۡكُ

قَدَّمَتۡ	اَيۡدِيۡهِمۡ	فَاِنَّ	الۡاِنۡسَانَ	كَفُوۡرٌ	لِلّٰهِ	مُلۡكُ
چې پخوا لیږلې دي	لاسونو د دوی	نو بیشکه! چې	انسان	ناشکره دی	خاص الله لره ده	باچاهي

چې پخوا لیږلې دي لاسونو د دوی بیشکه! چې (جنس د) انسان ناشکره دی، خاص الله لره ده باچاهي سلطنت،

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ‌ؕ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ‌ؕ يَهَبُ لِمَنۡ يَّشَآءُ

السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	يَخۡلُقُ	مَا يَشَآءُ	يَهَبُ	لِمَنۡ يَّشَآءُ
د آسمانونو	او د ځمکې	پیدا کوي (الله)	هر هغه شی چې اراده یې وفرمائي	بخښي	د پاره د هر هغه چا چې اراده وفرمائي

د آسمانونو او د ځمکې پیدا کوي (الله) هر هغه شی چې اراده وفرمائي بخښي د پاره د هر هغه چا چې اراده وفرمائي

اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنۡ يَّشَآءُ الذُّكُوۡرَ ۙ ﴿۴۹﴾ اَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ

اِنَاثًا	وَّيَهَبُ	لِمَنۡ يَّشَآءُ	الذُّكُوۡرَ	اَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ
لوڼې	او بخښي (الله)	د پاره د هر هغه چا چې اراده وفرمائي	زامن	یا جوړه ورکوي دوی ته (الله)

لوڼې او بخښي (الله) د پاره د هر هغه چا چې اراده وفرمائي زامن یا جوړه ورکوي دوی ته (الله)

ذُكۡرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجۡعَلُ مَنۡ يَّشَآءُ عَقِيۡمًا‌ ؕ اِنَّهٗ عَلِيۡمٌ قَدِيۡرٌ ﴿۵۰﴾

ذُكۡرَانًا	وَّاِنَاثًا	وَيَجۡعَلُ	مَنۡ يَّشَآءُ	عَقِيۡمًا	اِنَّهٗ	عَلِيۡمٌ	قَدِيۡرٌ
زامن	او لوڼې	او ګرځوي	هر هغه څوک چې اراده وفرمائي	وچه	بیشکه! الله دی	ښه عالم	ښه قادر

زامن او لوڼې او ګرځوي هر هغه څوک چې اراده وفرمائي (الله) شنډه، بیشکه! دغه (الله) دی ښه عالم ښه قادر.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنۡ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحۡيًا اَوۡ

وَمَا كَانَ	لِبَشَرٍ	اَنۡ يُّكَلِّمَهُ	اللّٰهُ	اِلَّا	وَحۡيًا	اَوۡ
او نه بنایئ	د پاره د هیڅ بشر	د اچې خبرې وکړي له ده سره	الله	مګر	په وحی سره	یا

او نه بنایئ د پاره د هیڅ بشر د اچې خبرې وکړي له ده سره الله مګر په وحی سره (په خوب کښې، یا په الهام سره) یا

مِنۡ وَّرَآىٴِ حِجَابٍ اَوۡ يُرۡسِلَ رَسُوۡلًا فَيُوۡحِىَ بِاِذۡنِهٖ مَا يَشَآءُ‌ ؕ

مِنۡ وَّرَآىٴِ	حِجَابٍ	اَوۡ يُرۡسِلَ	رَسُوۡلًا	فَيُوۡحِىَ	بِاِذۡنِهٖ	مَا يَشَآءُ
وروسته له	پردې څخه	یا ولیږي	کوم رسول	پس وحی یو سی	په حکم د الله سره	هغه چې اراده وفرمائي (الله)

وروسته له پردې څخه یا ولیږي (الله) کوم رسول استاځی پس وحی یو سی په حکم د الله سره هغه چې اراده وفرمائي (الله)

يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ يَهَبُ لِمَنۡ يَّشَآءُ اِنَاثًا... الله جَلَّ جَلَالُهٗ ته دهرلوی او وروکي شي پر جوړولو باندې پوره قدرت حاصل دی: هغه چې کله غواړي او څه چې غواړي پیدا کوي یې: په دې سلسله کې یې د انسان د پیدا کیدو ذکر وفرمایي: يهب لمن يشاء اناثا ويهب لمن يشاء الذكور الخ. یعني د انسان په پیدا کولو کې د چا د ارادې او اختیار بلکې د علم او خبر هم هیڅ دخل نشته او د چا دخل خو څه کوي د انسان مور او پلار کم چې د هغه د پیدایش ظاهري سبب جوړیږي په خپله د دوی د ارادې او اختیار هم د بچي په پیدایش کې څه دخل نشته په پیدایش کې دخل خو لیرې خبره ده د بچي د پیدایش څخه مخکې مورته هم هیڅ خبر نه وي چې دې په نس کې څه او څنګه او په څه شان جوړیږي دا صرف د الله جَلَّ جَلَالُهٗ کار دی چې چاته لوڼې ورکوي او چاته زامن ورکوي چاته زامن او لوڼې دواړه ورکوي او څوک وچه او وچ کوي چې هیڅ اولاد یې بیا نه کیږي او په دې کې چاته د څه سوال او اعتراض موقع هم نشته ځکه چې هغه مختار کل ذات دی چې څه کوي هغه کوي.

(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۴۷)

اِنَّهٗ عَلِیٌّ حَکِیۡمٌ ﴿۵۱﴾ وَ کَذٰلِكَ اَوۡحَیۡنَاۤ اِلَیۡكَ رُوۡحًا

اِنَّهٗ	عَلِیٌّ	حَکِیۡمٌ	وَ کَذٰلِكَ	اَوۡحَیۡنَاۤ	اِلَیۡكَ	رُوۡحًا
بیشکه! دغه (الله)	ډیر پورته غالب	ښه حکمت والا دی	او همداسی	وحی رالیږلی دی موږ	تاته	روح (قرآن، ملائیکه)

بیشکه! دغه (الله) ډیر پورته غالب ښه حکمت والا دی، او همداسی وحی راولیږلی موږ تاته (محمده) روح (قرآن،ملائیکه)

مِّنۡ اَمۡرِنَا ؕ مَا کُنۡتَ تَدۡرِیۡ مَا الۡکِتٰبُ وَلَا الۡاِیۡمَانُ

مِّنۡ اَمۡرِنَا	مَا کُنۡتَ	تَدۡرِیۡ	مَا الۡکِتٰبُ	وَلَا الۡاِیۡمَانُ
په حکم خپل سره	نه وی ته چی	پوهیدی به	چی څه دی کتاب	او نه (پوهیدی چی څه دی) ایمان

په امر ، حکم خپل سره، نه وی ته چی پوهیدی به چی څه دی کتاب او نه (پوهید ی چی څه دی شرایع) او ایمان

وَلٰکِنۡ جَعَلۡنٰهُ نُوۡرًا نَّهۡدِیۡ بِهٖ مَنۡ نَّشَآءُ

وَلٰکِنۡ	جَعَلۡنٰهُ	نُوۡرًا	نَّهۡدِیۡ	بِهٖ	مَنۡ نَّشَآءُ
او لیکن	ګرځولی دی موږ دغه	داسی یوه رڼا	چی سمه لاره ښیو	په هغه سره	هغه چاته چی اراده وفرمایو موږ

او لیکن ګرځولی دی موږ دغه (کتاب، ایمان) داسی یوه رڼا چی سمه لاره ښیو په هغه سره هغه چاته چی اراده وفرمایو موږ

مِنۡ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ لَتَهۡدِیۡۤ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۵۲﴾

مِنۡ عِبَادِنَا	وَاِنَّكَ	لَتَهۡدِیۡۤ	اِلٰی	صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِیۡمٍ
له بندګانو خپلو	او بیشکه! ته	خامخا ښودل کوی	پر طرف	دلاری	مستقیمی ، برابری

له بندګانو خپلو ، او بیشکه! ته خامخا ښودل کوی (خلکو ته) پر طرف دلاری مستقیمی برابری.

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا

صِرَاطِ	اللّٰهِ	الَّذِیۡ	لَهٗ	مَا	فِی السَّمٰوٰتِ	وَمَا
سمی لاری د	الله ته	هغه چی	خاص ده لره دی	هر هغه شیان چی	په آسمانونو کښی دی	او هر هغه شیان چی

سمی لاری دهغه الله ته چی خاص ده لره دی هر هغه شیان چی په آسمانونو کښی دی (له علویاتو) او هر هغه شیان چی

فِی الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِلَی اللّٰهِ تَصِیۡرُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۵۳﴾

فِی الۡاَرۡضِ	اَلَاۤ	اِلَی اللّٰهِ	تَصِیۡرُ	الۡاُمُوۡرُ
په مځکه کښی دی	واوره! خبردار اوسه!	خاص الله ته	بیرته ګرځی	ټول کارونه

په مځکه کښی دی ، واوره! خبردار او سه! خاص الله ته بیرته ګرځی ټول کارونه (دمخلوقاتو په قیامت کښی).

مَا کُنۡتَ تَدۡرِیۡ مَا الۡکِتٰبُ وَلَا الۡاِیۡمَانُ

دیهودو ترغوښتنو وروسته نبي کریم ﷺ ته دالله ﷻ خطاب: دغه آیت ددغه څخه دمخکښي آیت دمضمون تکمله ده: مطلب یي دادی چي په دنیا کي دالله ﷻ سره مخامخ خبري خونه دچا سره سوي دي اونه کیدای سي البته الله ﷻ پر خپلو مخصوصو بندګانو باندي خپلي وحي لیږي دکمي چي دري طریقي دي ددغه سنت الهي مطابق پر تاهم وحي لیږل کیږي دیهودو دغه غوښتنه چي ته دالله ﷻ سره مخامخ ولي خبري نه کوې محض جهالت او بغض دی په دې وجه یي داوفرمایل چي یو انسان ته تر دې چي رسول ته هم څه علم ورکول کیږي هغه ټول دالله ﷻ ورکړه وي او ترڅو پوري چي الله ﷻ په ذریعه دوحی دوی ته ونه ښیي نو نه دوی ته دڅه کتاب پوه حاصلیدای سي ، نه دایمان تفصیلات : دکتاب پوه خو دوحی څخه مخکي نه کیدل ظاهر دي دایمان څخه دواقفیت نه کیدو معنی داده چي دایمان تفصیلات او دهغه اعلی مقام کم چي وروسته تر نبوت حاصلیږي ددې واقفیت دوی ته مخکي تر نبوت نه وو الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ ۲۵ ص ۵۱)

ع۵

أياتونه ۸۹ ۴۳ سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ ۶۳ ۷ کوعوي ۷

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

حٰمٓ ① وَالۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ② اِنَّا جَعَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا عَرَبِيًّا

حٰمٓ	وَالۡكِتٰبِ	الۡمُبِيۡنِ	اِنَّا	جَعَلۡنٰهُ	قُرۡءٰنًا	عَرَبِيًّا
حا، میم،	قسم دی په دغه کتاب	روښان بیانونکی	چی بیشکه! موږ	گرځولی مو دی دغه	قرآن	په عربی ژبه

حا، میم. قسم دی په دغه کتاب روښان بیانونکی چی بیشکه! موږ گرځولی مو دی دغه (کتاب) قرآن په عربی ژبه

لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ③ وَاِنَّهٗ فِيۡۤ اُمِّ الۡكِتٰبِ لَدَيۡنَا

لَّعَلَّكُمۡ	تَعۡقِلُوۡنَ	وَاِنَّهٗ	فِيۡۤ اُمِّ	الۡكِتٰبِ	لَدَيۡنَا
د پاره ددی چی تاسی	پری وپوهیږئ	او بیشکه! دغه کتاب	په اصل	دکتاب کښی	په نزد زموږ دی

د پاره ددی چی تاسی پری پوهیږئ. او بیشکه! دغه کتاب (ثابت دی) په اصل دکتاب (لوح محفوظ) کښی په نزد زموږ

لَعَلِيٌّ حَكِيۡمٌ ④ اَفَنَضۡرِبُ عَنۡكُمُ الذِّكۡرَ صَفۡحًا اَنۡ

لَعَلِيٌّ	حَكِيۡمٌ	اَفَنَضۡرِبُ	عَنۡكُمُ	الذِّكۡرَ	صَفۡحًا	اَنۡ
خامخا خاوند دلوئی مرتبی	مستحکم دی	آیا پس موږ به واړوو	له تاسی	دغه پند	په اړولو سره	له دی سببه چی

خامخا خاوند دلوئی مرتبی مستحکم دی. آیا پس بند کړو (وګرځوو) له تاسی دغه پند (قرآن) بندیدل له دی سببه چی

كُنۡتُمۡ قَوۡمًا مُّسۡرِفِيۡنَ ⑤ وَكَمۡ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ نَّبِيٍّ فِي الۡاَوَّلِيۡنَ ⑥

كُنۡتُمۡ	قَوۡمًا	مُّسۡرِفِيۡنَ	وَكَمۡ	اَرۡسَلۡنَا	مِنۡ نَّبِيٍّ	فِي الۡاَوَّلِيۡنَ
یئ تاسی	یو قوم	له حده تیریدونکی	او څومره ډیر	موږ لیږلی دی	له انبیاؤ څخه	په پخوانیو (خلګو کښی)

یئ تاسی یو قوم له حده تیریدونکی. او څومره ډیر موږ لیږلی دی له انبیاؤ څخه په پخوا نیو (خلګو کښی).

وَمَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ⑦

وَمَا يَاۡتِيۡهِمۡ	مِّنۡ نَّبِيٍّ	اِلَّا	كَانُوۡا	بِهٖ	يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ
او نه به راتلی دوی ته	هیڅ نبی	مګر	وو به هغوی	چی په هغه پوری به یئ	مسخری کولی

او نه به راتلی دوی ته هیڅ نبی مګر وو به هغوی چی په هغه (نبی) پوری به یئ مسخری کولی.

وَالۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ② اِنَّا جَعَلۡنٰهُ قُرۡءٰنًا... الله پاک ﷻ په قران کریم باندي قسم پورته کړی دی: دکتاب مبین څخه مراد دلته قرآن کریم دی الله ﷻ چي هر کله په یوشي باندي قسم اخلي نو عموما هغه شی دوریمي دعوي دلیل وي دلته یي په قرآن کریم باندي قسم واخیستي او دي طرف ته یي اشاره وکړه چي قرآن کریم بذات خود دخپل اعجاز په وجه سره دخپل حقوالي دلیل دی: او قرآن کریم ته دواضح ویلو مطلب دادی چي ددي پر وعظ او نصیحت باندي مشتمل مضامین داسي دي چي په آسانی سره په پوهیدای سي لیکن تر کمه حده پوري چي ددي څخه دشرعي احکامو داستنباط او راایستلو تعلق دی هغه بیشکه یو مشکل کار دی: داجتهاد دپوره صلاحیت څخه بغیر نه سي کیدای چنانچي بل ځای داخبره واضحه سویده: او بیشکه موږ قرآن کریم دنصیحت حاصلولو دپاره آسانه جوړ کړی دی پس سته څوک چي نصیحت حاصل کړي؟ په دي وجه ددي څخه داجتهاد او استنباط اسان والی نه لازمیږي چي هر څوک یي وکړي بیله صلاحیته (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۵۳)

فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٨

فَاَهْلَكْنَآ	اَشَدَّ	مِنْهُمْ	بَطْشًا	وَّمَضٰى	مَثَلُ	الْاَوَّلِيْنَ
پس هلاک کړل موږ	هغه سخت تر	له دوی څخه	له جهته دقوت	او تیر سوی دی	مثال	دپخوا نیو خلکو

پس هلاک کړل موږ هغه (پخوانی خلک چی) سخت تر(و) له دوی څخه له جهته د قوت او تیر سوی دی مثل دپخوانیو خلکو.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

وَلَئِنْ	سَاَلْتَهُمْ	مَّنْ خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ
او قسم دی خامخا	که چیری پوښتنه وکړی ته له دوی	چی څوک دی هغه چی پیدا کړی یئ دی	آسمانونه	او مځکه

او قسم دی خامخا که چیری پوښتنه وکړی ته له دغو کفارو چی څوک دی هغه ذات چی پیدا کړی یئ دی آسمانونه او مځکه

لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۝٩ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ

لَيَقُوْلُنَّ	خَلَقَهُنَّ	الْعَزِيْزُ	الْعَلِيْمُ	الَّذِيْ	جَعَلَ لَكُمُ
نو خامخا وبه وایئ دوی	چی پیدا کړی دی (الله)	ښه غالب قوی دی	ښه عالم دی	هغه (ذات)	چی گرځولی یئ ده تاسی ته

نو خامخا وبه وایئ دغه کفار هرومرو چی پیدا کړی دی (الله) ښه غالب قوی دی ښه عالم دی، هغه چی گرځولی یئ ده تاسی ته

الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝١٠

الْاَرْضَ	مَهْدًا	وَّجَعَلَ لَكُمْ	فِيْهَا	سُبُلًا	لَّعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ
مځکه	فرش	او گرځولی دی تاسی ته	په دغی مځکی کښی	لاری	دپاره ددی چی تاسی	سمه لاره پیدا کړئ

مځکه فرش او گرځولی دی تاسی ته په دغی مځکی کښی لاری دپاره ددی چی تاسی سمه لاره پیدا کړئ.

وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۢ بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ

وَالَّذِيْ	نَزَّلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	بِقَدَرٍ	فَاَنْشَرْنَا	بِهٖ
او هغه (ذات)	چی نازلی کړی یئ دی	له آسمانه	او به	په اندازه سره	پس ژوندی کړی دی موږ	په دغو اوبو سره

او هغه (ذات) چی نازلی کړی یئ دی له (طرفه) دآسمانه او به په اندازه سره ، پس ژوندی کړی دی موږ په دغو اوبو سره

بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ۝١١ وَالَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ

بَلْدَةً	مَّيْتًا	كَذٰلِكَ	تُخْرَجُوْنَ	وَالَّذِيْ	خَلَقَ	الْاَزْوَاجَ
کلی (مځکه)	مړه (وچه)	همداسی به	راویستل سئ تاسی	او هغه چی	پیدا کړی یئ دی	جوړی

کلی مړه (وچی مځکی) همداسی به را ویستل سئ تاسی. او هغه (ذات) چی پیدا کړی یئ دی اصناف (انواع دمخلوقاتو)

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ **کفارو هم الله ﷻ خالق منی خو دنبي کريم ﷺ رسالت يي نه منی** : په دغه آيت کي الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته خطاب کړی دی چي که ته ددغه کفارو څخه پوښتنه وکړې چي آسمانونه او مځکي چا پيدا کړي دي نو دوی به خامخا ووايي چي هغه مځکي او اسمانونه زبردست او غښتلي ذات پيدا کړي دي او دا ښکاره ده چي کم ذات يوازي داعظيم مخلوقات پيدا کړي وي عبادت هم يوازي دهغه کول پکار دی په دې وجه توحيد په خپله ددوی په اقرار سره ثابت سو مخ ته الله ﷻ دتوحيد دزيات مدلل کولو دپاره خپل هغه کارونه بيانوي کم چي پر توحيد دلالت کوونکي دي يعني دامځکه او اسمانونه هغه پيدا کړي دي کم چي ستاسي دارام دپاره مځکه په مثل دفرش جوړه کړيده چي پر دې ارام کوی او په هغه مځکه کي هغه ستاسي منزل مقصود ته درسيدو دپاره لاري جوړي کړې چي په هغو لارو ولاړسی تاسي منزل مقصود ته ورسيږی او چاچي دآسمان څخه اوبه په يو خاص انداز سره دخپل مشيت او حکمت مطابق راواورولې الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۵۵)

كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿۱۲﴾

كُلَّهَا	وَجَعَلَ	لَكُمْ	مِّنَ الْفُلْكِ	وَالْاَنْعَامِ	مَا تَرْكَبُوْنَ
تول د دوى	او گرځولى يئ دى	تاسي ته	له كښتيو	او له چارپايانو	هغه چي سپريږئ تاسي پرى

تول د دوى ، او گرځولى يئ دى تاسي ته له كشتيو او له چارپايانو هغه چي سپريږئ تاسي پرى (په لونده او وچى كښى).

لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ

لِتَسْتَوٗا	عَلٰى	ظُهُوْرِهٖ	ثُمَّ	تَذْكُرُوْا	نِعْمَةَ	رَبِّكُمْ
دپاره د دى چي سم برابر كښينئ تاسي	پر	شاوو د هغه	بيا	ياد كړئ تاسي	نعمت	درب خپل

دپاره د دى چي سم برابر كښينئ تاسي پر شاوو (دهريوه) دهغه ، بيا ياد كړئ تاسي نعمت درب خپل

اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا

اِذَا	اسْتَوَيْتُمْ	عَلَيْهِ	وَتَقُوْلُوْا	سُبْحٰنَ	الَّذِيْ	سَخَّرَ لَنَا	هٰذَا
كله چي	برابر كښينئ	پر هغه	او ووايئ تاسي	پاكى ده	هغه (ذات) ته	چي مسخر كړى يئ دى موږ ته	دغه

كله چي برابر كښينئ (سپاره سى) پر هغه او ووايئ تاسي پاكى ده هغه (لوى ذات) ته چي مسخر كړى يئ دى موږ ته دغه

وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾

وَمَا كُنَّا	لَهٗ	مُقْرِنِيْنَ	وَاِنَّآ	اِلٰى رَبِّنَا	لَمُنْقَلِبُوْنَ
او نه وو موږ	ده لره	په قابو كښى راوستونكى	او بيشكه!	چي موږ رب خپل ته	خامخا بيرته ورتلونكى يو

او نه وو موږ ده لره په ضبط (او قيد) كښى راوستونكى . او بيشكه! چي موږ رب خپل ته خامخا بيرته ورتلونكى يو .

وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ

وَجَعَلُوْا	لَهٗ	مِنْ عِبَادِهٖ	جُزْءًا	اِنَّ	الْاِنْسَانَ	لَكَفُوْرٌ
او گرځوى	الله ته	له بندگانو د ده	يوه برخه	بيشكه!	چي انسان	خامخا ډير ناشكره دى

او گرځوى (مقرروى كفار) الله ته له بندگانو د ده يوه برخه ، بيشكه! چي (كافر) انسان خامخا ډير ناشكره دى

مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّاَصْفٰكُمْ

ع ۱۵

مُّبِيْنٌ	اَمِ اتَّخَذَ	مِمَّا	يَخْلُقُ	بَنٰتٍ	وَّاَصْفٰكُمْ
ښكاره	آيا وايئ تاسي چي نيولى دى	له هغه مخلوقه	چي پيدا كوى يئ	لوڼى	او غوره كړى يئ ياست تاسي

ښكاره. آيا وايئ تاسي چي (الله) نيولى دى له هغه مخلوقه چي پيدا كوى يئ لوڼى او غوره كړى يئ ياست تاسي

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ د الله ﷻ پيدا كړي انعامات دانسانانو دپاره: يعني ستاسي دپاره يي دغه كښتى او حيوانان جوړ كړي دي پر كمو چي تاسي سپريږئ: دانسان دسپرلى دوه قسمونه وي: يو هغه سپرلى كم چي انسان دخپل صنعت او كاريگرى په ذريعه يي په خپله جوړوي: او دوهم هغه حيوانات دكمو په پيدايش كي چي دانسان دكاريگرى هيڅ دخل نسته: دكښتيو څخه دسپرليو اولنى قسم مراد دى او دحيوانانو څخه دوهم قسم پر هر حال مطلب دادى چي دانساني استعمال تولي سپرلي برابره خبره ده كه ددوى په تياري كي دانسان دخل وي او كه نه وي دالله ﷻ يو ډير لوى نعمت دى دحيوانانو نعمت كيدل خو بالكل ظاهر دي چي هغه دانسان څخه څو چنده زيات طاقتور دي ليكن الله ﷻ ددوى دانسان په مخكي داسي آرام كړي دي چي يو بچي ددوى په خله كي واگي يا پيزوان واچوي نو كم خواته چي يي غواړي بيولى يي سي او دا الله ﷻ مسخراو تابع كړي دي نه انسان په خپله. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۵۸)

بِالْبَنِيْنَ ﴿١٦﴾ وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ

بِالْبَنِيْنَ	وَاِذَا	بُشِّرَ	اَحَدُهُمْ	بِمَا	ضَرَبَ	لِلرَّحْمٰنِ
په زامنو سره	او داچې هرکله چې	زيری ورکړی سی	يو د دوی ته	په (تولد) دهغه سره	چې ګرځولی يئ دی	رحمٰن ته

په زامنو سره . حال داچې هرکله چې زيری ورکړ سی يو د دوی ته په (تولد د) هغه سره چې ګرځولی يئ دی رحمٰن ته

مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿١٧﴾ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا

مَثَلًا	ظَلَّ	وَجْهُهٗ	مُسْوَدًّا	وَّهُوَ	كَظِيْمٌ	اَوَمَنْ	يُّنَشَّؤُا
مثل	وګرځی	مخ د ده	تک تور	داچې دی به	ډک وی له غمه	آيا هغه څوک چې	پالل کيږی

مثل (او شبيه نو) وګرځی مخ د ده تک تور (له ډيره غمه) داچې دی به ډک وی له غمه. آيا هغه څوک چې لويولی سی

فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُوا

فِي الْحِلْيَةِ	وَهُوَ	فِي الْخِصَامِ	غَيْرُ مُبِيْنٍ	وَجَعَلُوا
په ګاڼو کښی	حال داچې هغه	په وخت د جګړو کښی	نسی بيانولی مطلب خپل	او ګرځوی (کفار)

په ګاڼو کښی حال داچې هغه په وخت د جګړو کښی نسی ښکاره کولی. اوګرځوی (کفار)

الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ۭ اَشَهِدُوْا

الْمَلٰٓئِكَةَ	الَّذِيْنَ	هُمْ	عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ	اِنَاثًا	اَشَهِدُوْا
ملائيکی	هغه چې	دوی	بندګان د رحمٰن دی	ښځی	آيا حاضر وو

ملائيکی هغه چې دوی عباد الرحمٰن د الله بندګان دی ښځی (لوڼی د الله)، آيا حاضر وو (دغه کفار په وخت د

خَلْقَهُمْ ۭ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا

خَلْقَهُمْ	سَتُكْتَبُ	شَهَادَتُهُمْ	وَيُسْـَٔلُوْنَ	وَقَالُوْا
په پيدا کيدلو د دغو ملائيکو کښی	ژر ده چې وبه ليکلی سی	شاهدی د دوی	او پوښتنه به هم تری وکړه سی	او وايئ

پيدا کيدلو د دغو ملائيکو کښی ، ژر ده چې وبه ليکلی سی شاهدی د دوی او پوښتنه به هم تری وکړه سی . او وايئ

لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ۭ مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۤ

لَوْ شَآءَ	الرَّحْمٰنُ	مَا عَبَدْنٰهُمْ	مَا لَهُمْ	بِذٰلِكَ	مِنْ عِلْمٍ
که اراده فرمائلی وی	رحمٰن	نو عبادت به مونږ ه وای کړی د دوی	نسته دوی ته	په دغی (وينا)	هيڅ قدر علم

(مشرکان) که اراده فرمائلی وی رحمٰن نو عبادت به مونږ نه وی کړی د دغو بتانو نسته دوی ته په دغی (وينا) هيڅ قدر علم

اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ..

اياڅوک چي په ارائش کي پرورش پيداکي ؟

ددې ځخه معلومه سوه چي دښځي دپاره دکالو استعمال او دشريعت موافق ډول سنګار کول رواه او جائز دی چنانچي پر دې دامت دعلماوو اجماع هم ده ليکن ددې سره دبيان طرز دا ښيي چي په ډول او سنګار کي دومره مشغوليدل چي شپه او ورځ په دي کي مشغوله وي دا مناسبه نه ده بلکي داد کمزوري عقل او کمزوري رايي نښانه هم ده او ددې سبب هم دی : مخکي دالله ﷻ ارشاد دی وهوفی الخصام غير مبين.او هغه دمباحثې په وخت کي قوت بيان هم نه لري. مطلب دادی چي دښځو اکثريت داسي دی چي هغه خپل مافی الضمير دقوت او وضاحت سره دسړيو په مخ کي پر بيانولو قادري نه دي په دې وجه که چيري مباحثه جوړه سي نو خپله دعوه ثابتول او دبل دليلونه ردول ددې دپاره مشکل وي ليکن دا حکم د اکثريت په اعتبار سره دی په دې وجه که ځيني ښځي دخبرو دسليقې مالکاني هم وي نو هغه ددغه ايت سره تعارض نه لري الخ.

(معرف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۶۰)

إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾ أَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ

إِنْ هُمْ	إِلَّا	يَخْرُصُوْنَ	أَمْ	اٰتَيْنٰهُمْ	كِتٰبًا	مِّنْ قَبْلِهٖ	فَهُمْ
نه دی دوی	مگر	فرضی خبری جوړوی	آیا	ورکړی مو دی دوی ته	کوم کتاب	پخوا له دغه (قرآن)	پس دوی

نه دی دوی مگر دروغ وایئ ، آیا ورکړی مو دی دوی ته کوم کتاب پخوا له دغه (قرآن) پس دوی

بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿٢١﴾ بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى

بِهٖ	مُسْتَمْسِكُوْنَ	بَلْ	قَالُوْٓا	اِنَّا	وَجَدْنَآ	اٰبَآءَنَا	عَلٰٓى
په هغه کتاب	منگلی ښخوونکی دی	بلکه	وایئ دوی	بیشکه! موږ	پیدا کړی مو دی	پلرونه خپل	پر

په هغه کتاب منگلی ښخوونکی دی ، بلکه وایئ دغه مشرکان بیشکه! موږ موندلی دی پلرونه خپل پر

اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَكَذٰلِكَ

اُمَّةٍ	وَّاِنَّا	عَلٰٓى	اٰثٰرِهِمْ	مُّهْتَدُوْنَ	وَكَذٰلِكَ
یوی لاری	او بیشکه! موږ	پر	قدمونو د دوی	لاره پیدا کوونکی ، تلونکی یو	او هم داسی

یوی لاره (دین) او بیشکه! موږ پر قدمونو د دوی لاره موندونکی تلونکی یو. او هم داسی (ستا په شان)

مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ

مَآ اَرْسَلْنَا	مِنْ قَبْلِكَ	فِيْ قَرْيَةٍ	مِّنْ نَّذِيْرٍ	اِلَّا	قَالَ
نه وو لیږلی موږ	پخوا له تا څخه	په هیڅ قریه ، کلی کښی	کوم بیروونکی	مگر	وبه ویل

نه وو لیږلی موږ پخوا له تا څخه په هیڅ قریه، کلی کښی کوم بیروونکی مگر وبه ویل

مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ

مُتْرَفُوْهَآ	اِنَّا	وَجَدْنَآ	اٰبَآءَنَا	عَلٰٓى اُمَّةٍ	وَّاِنَّا	عَلٰٓى	اٰثٰرِهِمْ
هوسا او نعمت لرونکو دهغی	بیشکه! موږ	پیدا کړی مو دی	پلرونه خپل	پر یوی لاری	او بیشکه! موږ	پر	قدمونو د دوی

هوسا (آرام) او نعمت لرونکو بیشکه! موږ چی یو موندلی مو دی پلرونه خپل پر یوی لاری او بیشکه! موږ پر قدمونو د دوی

مُّقْتَدُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ

مُّقْتَدُوْنَ	قُلْ	اَوَلَوْ	جِئْتُكُمْ	بِاَهْدٰى	مِمَّا	وَجَدْتُّمْ
تلونکی یو	وبه ویل (نبی)	آیا اگر که	راتله کړی دی ما تاسی ته	په ښه لاره ښوونکی	له هغه شی څخه	چی پیدا کړی دی تاسی

تلونکی یو ، وبه ویل (نبی) آیا اگر که راتله کړی دی ما تاسی ته په ښه لاره ښوونکی له هغه شی څخه چی پیدا کړی دی تاسی

اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ

قریشو دمکې ته الله جل جلاله دقران کریم مخکې بل کتاب نه وو ورکړی: په دغه ایت کې دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی چې آیا موږ دغه کفارو دمکې ته ددې قرآن څخه مخکې بل کتاب ورکړی دی چې دوی په دې دعوه کې دبت پرستی دهغه څخه استدلال کوي حقیقت دادی چې نه ددوی سره دلیل عقلي سته او نه دلیل نقلي سته بلکې محض دخپلو پلارانو او نیکه گانو اتباع ده چنانچې هغه خلگ وایي چې موږ خپل پلرونه او نیکه گان پر یوه لاره دبت پرستی او شرک پیدا کړي دي نو موږ هم په هغوی پسې ورځو او دهغو پیروي کوو نو لکه څنگه چې داخلگ بې دلیله بلکې ددلیل څخه خلاف خپل پخوانی رسم په طور دسند پیش کوي دغه شان موږ ستا څخه مخ ته یو کلي ته هیڅ یو پیغمبر نه دی لیږلی مگر دهغه ځای خوشحاله خلگو او آسوده خلگو دا وویل چې موږ خپل پلرونه او نیکه گان پر یوه طریقه پیدا کړي دي او موږ هم په هغوی پسې وروسته وروسته روان یو ستاسې خبره نه منو.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۵۸)

ع۲ ۸ نصف

عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۭ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾

عَلَيْهِ	اٰبَآءَكُمْ	قَالُوْٓا	اِنَّا	بِمَآ اُرْسِلْتُمْ	بِهٖ	كٰفِرُوْنَ
پر هغه شی باندی	پلرونه خپل	وبه ویل دوی	بیشکه اموږ	په هغه چی لیږلی سوی یئ تاسی	په هغه سره	کافران یو

پر هغه شی باندی پلرونه خپل، وبه ویل دوی بیشکه! موږ چی یو په هغه چی لیږلی سوی یئ تاسی په هغه سره کافران یو.

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ ع

فَانْتَقَمْنَا	مِنْهُمْ	فَانْظُرْ	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُكَذِّبِيْنَ
پس انتقام مو واخیست	له دوی څخه	پس وګوره	چی څرنګه	وو	انجام	د دروغجن ګڼونکو

پس انتقام مو واخیست له دوی څخه پس وګوره چی څرنګه وو آخره خاتمه د دورغجن ګڼونکو (انبیاؤ ته)

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا

وَاِذْ قَالَ	اِبْرٰهِيْمُ	لِاَبِيْهِ	وَقَوْمِهٖٓ	اِنَّنِيْ	بَرَآءٌ	مِّمَّا
او هغه وخت چی وویل	ابراهیم	پلار خپل ته	او قوم خپل ته	چی بیشکه! زه	بیزاره یم	له هغو بتانو

او (یادکړه) هغه وخت چی وویل ابراهیم پلار خپل (آزر) ته او قوم خپل (نمرودیانو) ته چی بیشکه! زه بیزاره یم له هغو بتانو

تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۶﴾ اِلَّا الَّذِيْ فَطَرَنِيْ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾

تَعْبُدُوْنَ	اِلَّا	الَّذِيْ	فَطَرَنِيْ	فَاِنَّهٗ	سَيَهْدِيْنِ
چی تاسی یئ عبادت کوئی	مګر	هغه الله	چی پیدا کری یئ یم زه	پس بیشکه! چی هغه (الله)	به ثابت لری ما په هدایت باندی

چی تاسی یئ عبادت کوئ مګر هغه الله چی پیدا کری یئ یم زه پس بیشکه! چی هغه (الله) به ثابت لری ما په هدایت باندی.

وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾

وَجَعَلَهَا	كَلِمَةً	بَاقِيَةً	فِيْ عَقِبِهٖ	لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ
او ګرځولی وه دغه	کلمه	باقی پاتی کیدونکی	په اولاد خپل کښی	دپاره ددی چی دوی	بیرته راوګرځی

او ګرځولی وه (ابراهیم) دغه کلمه باقی پاتی کیدونکی په پښت اولاد خپل کښی دپاره د دی چی دوی بیرته راوګرځی

بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى جَآءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُوْلٌ

بَلْ مَتَّعْتُ	هٰٓؤُلَآءِ	وَاٰبَآءَهُمْ	حَتّٰى	جَآءَهُمُ	الْحَقُّ	وَرَسُوْلٌ
بلکه نفع ورکری وه ما	دغو ته	او پلرونو د دوی ته	ترهغه پوری	چی راغلی دوی ته	حق	او رسول (محمد)

بلکه نفعه ورکری وه ما دغو (شرکاؤ) ته او پلرونو د دوی ته تر هغه پوری چی راغی دوی ته حق (دین قرآن) او رسول (محمد)

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ... که دپلار نیکه پر لاره تلل غوارۍ نو دابراهیم علیه السلام پر لاره ولي نه ځی؟ په دغه ایاتونو کي الله جل جلاله اشاره فرمایلې ده چي دغه کفار بدبختان خو وایي چي موږ دپلار او نیکه پر لاري باندي ځو او روان یو نو اوس دوی ته پکار دي چي دحضرت ابراهیم علیه السلام پر لاره باندي ولاړ سي کم چي ددوی اشرف ترین جداعلی دی یعني لوی نیکه یي دی او دا هغه شخصیت دی دکم سره چي دوی خپل نسبي تړون هم ساتي اوداد ځان دپار غټ فخر بولي او حضرت ابراهیم علیه السلام صرف نه چي دتوحید قائل دی او خپل اولاد ته یي هم ددې وصیت کړی دی بلکي په خپله دده طرز عمل دابښيي چي دښکاره عقلي او نقلي دلائلو په موجودګی کي محض دپلار نیکه تقلید کول جائز نه دی: هر کله چي هغه دنیا ته مبعوث سونودده ټول قوم دخپل پلار نیکه په تابعداری کي په شرک کي مبتلاوو لیکن دوی دخپل پلار نیکه دړوند تقلید پرځای دواضحو دلائلو په تابعداری کي دخپل قوم څخه دبیزاری اعلان وکی. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۶۲)

مُّبِيۡنٌ ﴿۲۹﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ الۡحَقُّ قَالُوۡا هٰذَا سِحۡرٌ وَّاِنَّا بِهٖ

مُّبِيۡنٌ	وَلَمَّا	جَآءَهُمُ	الۡحَقُّ	قَالُوۡا	هٰذَا	سِحۡرٌ	وَّاِنَّا	بِهٖ
ښکاره بیانوونکی	او څه وخت	چې راغلی دوی ته	حق	وویل (کفارو)	دا	جادو دی	او بیشکه! موږ	په دغه قرآن

ښکاره بیانوونکی. او څه وخت چې راغلی دوی ته حق (دین قرآن) وویل (کفارو) دا سحر دی او بیشکه! موږ په دغه قرآن

كٰفِرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ وَقَالُوۡا لَوۡلَا نُزِّلَ هٰذَا الۡقُرۡاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ

كٰفِرُوۡنَ	وَقَالُوۡا	لَوۡلَا نُزِّلَ	هٰذَا	الۡقُرۡاٰنُ	عَلٰى	رَجُلٍ
کافران یو	او وویل (کفارو)	ولې نه نازلوی سی	دغه	قرآن	پر	یو سړی

کافران یو، او وویل (کفارو) ولې نه نازلوه سی دغه قرآن پر یو سړی

مِّنَ الۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيۡمٍ ﴿۳۱﴾ اَهُمۡ يَقۡسِمُوۡنَ رَحۡمَتَ رَبِّكَ

مِّنَ الۡقَرۡيَتَيۡنِ	عَظِيۡمٍ	اَهُمۡ	يَقۡسِمُوۡنَ	رَحۡمَتَ	رَبِّكَ
له دغو دوو قریو څخه	چې ډیر لوی وی	آیا دوی	تقیسموی، ویشی	رحمت (نبوت)	درب ستا

له دغو دوو قریو څخه (مکه او طائف) ډیر لوی وی. آیا دوی تقسیموی ویشی رحمت (نبوت) درب ستا

نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُمۡ مَّعِيۡشَتَهُمۡ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا

نَحۡنُ	قَسَمۡنَا	بَيۡنَهُمۡ	مَّعِيۡشَتَهُمۡ	فِى الۡحَيٰوةِ	الدُّنۡيَا
موږ	قسمت کړی (ویشلی) مو دی	په مینځ د دوی کښې	روزی د دوی	په دغه ژوندون	د دنیا کښې

(نه دا سی بلکه پخپله) موږ ویشلی قسمت کړی مو دی په مینځ د دوی کښې معیشت د دوی په دغه ژوندون د دنیا کښې

وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُمۡ

وَرَفَعۡنَا	بَعۡضَهُمۡ	فَوۡقَ	بَعۡضٍ	دَرَجٰتٍ	لِّيَتَّخِذَ	بَعۡضُهُمۡ
او پورته کړی مو دی	ځینی د دوی	دپاره	دځینو نورو	په مرتبو کښې	دپاره ددې چې ونیسی	ځینی د دوی

او پورته کړی مو دی ځینی د دوی دپاره د ځینو نورو په مرتبو کښې دپاره ددې چې ونیسی ځینی د دوی (چې غنیان دی)

بَعۡضًا سُخۡرِيًّا ؕ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٌ مِّمَّا يَجۡمَعُوۡنَ ﴿۳۲﴾

بَعۡضًا	سُخۡرِيًّا	وَرَحۡمَتُ	رَبِّكَ	خَيۡرٌ	مِّمَّا	يَجۡمَعُوۡنَ
ځینی نور	خدمتګاران	او رحمت	درب ستا	ډیر غوره دی	له هغو چې	تولوی یې دوی

ځینی نور (چې فقیران) تابعان کار کوونکی او رحمت درب ستا (جنت) ډیر غوره دی له هغو چې تولوی یې دوی په دنیا کې

وَقَالُوۡا لَوۡلَا نُزِّلَ هٰذَا الۡقُرۡاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ.

دعربو دیو سوال جواب:

په دغه ایاتونو کې الله ﷻ دعربو مشرکینو دیو اعتراض جواب ورکړی دی کم چې به هغوی دنبي کریم ﷺ پر رسالت باندې کوی دراصل په اول کې خو هغوی دې باور کولو ته هم تیار نه وه چې څوک انسان دالله ﷺ رسول کیدای سي چنانچې دهغوی دا اعتراض قرآن کریم ځای پر ځای ذکر کړی دی چې نبي کریم ﷺ موږ رسول څنګه ومنو هرکله چې دی دعامو انسانانو په شان خوري او چیښي او په بازارونو کې ګرځي لیکن هرکله چې دقرآن کریم دډیرو ایاتونو په ذریعه دا واضحه سوه چې دا صرف دنبي کریم ﷺ خصوصیت نه دی بلکې په دنیا کې چې څومره انبیاء علیهم السلام راغلي دي هغه ټول انسانان وه. نو اوس بیا هغو خپل اعتراض بدل کړی او دا اعتراض او سوال یې وکړی چې که چا انسان ته نبوت ورکول کیږي نو حضور ﷺ خو په مالي اعتبار سره څه لوی صاحب حیثیت نه دی دا منصب دده پر ځای دمکې او طائف چا لوی دولتمند او صاحب مرتبې شخص ته ورکول پکار وو الله ﷻ ددې خبري جواب ورکړی الخ..

(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۶۴)

وَلَوۡلَآ اَنۡ يَّكُوۡنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلۡنَا لِمَنۡ

وَلَوۡلَآ	اَنۡ يَّكُوۡنَ	النَّاسُ	اُمَّةً	وَّاحِدَةً	لَّجَعَلۡنَا	لِمَنۡ
او كه نه وى دغه	چې سي	دا خلک	ډله	يوه	نو خامخا گرځولی به مو وو	هغه چالره

اوكه نه وى دغه (خطره) چې سي دا خلک ډله يوه (متفق په كفر) نو خامخا گرځولى به مو وو هغه چا لره

يَّكۡفُرُ بِالرَّحۡمٰنِ لِبُيُوۡتِهِمۡ سُقُفًا مِّنۡ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ

يَّكۡفُرُ	بِالرَّحۡمٰنِ	لِبُيُوۡتِهِمۡ	سُقُفًا	مِّنۡ فِضَّةٍ	وَّمَعَارِجَ
چې كافر كيږي	په رحمٰن	دپاره د كوټو د دوى	چتونه	له سپينو زرو	او زينه پائى به يئ هم د سپينو زرو واى

چې كافر كيږي په رحمٰن دپاره د كوټو د دوى چتونه له سپينو زرو او زينه پائى به هم

عَلَيۡهَا يَظۡهَرُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَلِبُيُوۡتِهِمۡ اَبۡوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيۡهَا

عَلَيۡهَا	يَظۡهَرُوۡنَ	وَلِبُيُوۡتِهِمۡ	اَبۡوَابًا	وَّسُرُرًا	عَلَيۡهَا
پر دغو به	ختلى دوى	او دپاره د كوټو د دوى	دروازى به واى	او تختونه هم	چې پر هغو به يئ

پر دغو (كوټو) به ختلى دوى (دپاره د حاجتو خپلو)، او دپاره د كوټو د دوى دروازى به واى او تختونه چې پر هغو به يئ

يَتَّكِـُٔوۡنَ ﴿۳۴﴾ وَزُخۡرُفًا ؕ وَاِنۡ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الۡحَيٰوةِ

يَتَّكِـُٔوۡنَ	وَزُخۡرُفًا	وَاِنۡ	كُلُّ ذٰلِكَ	لَمَّا	مَتَاعُ	الۡحَيٰوةِ
تكيې وهلى وى دوى	او (له) سرو زرو	او نه دى	ټول دا	مگر	نفع د دغه	ژوندون

تكيې وهلى وى دوى. او (له) سرو زرو (نور د زينت شيان)، او نه دى دا ټول مگر متاع نفع د دغه ژوندون

الدُّنۡيَا ؕ وَالۡاٰخِرَةُ عِنۡدَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۳۵﴾ وَمَنۡ يَّعۡشُ

الدُّنۡيَا	وَالۡاٰخِرَةُ	عِنۡدَ	رَبِّكَ	لِلۡمُتَّقِيۡنَ	وَمَنۡ	يَّعۡشُ
د دنيا	او آخرت	په نزد	د رب ستا	دپاره د متقيانو دى	او هر څوک چې	اعراض كوى

د دنيا او (نفع د) آخرت (جنت) په نزد د رب ستا دپاره د متقيانو دى، او هر څوک چې اعراض كوى (سترگې پټوى)

عَنۡ ذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ نُقَيِّضۡ لَهٗ شَيۡطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيۡنٌ ﴿۳۶﴾

عَنۡ ذِكۡرِ	الرَّحۡمٰنِ	نُقَيِّضۡ	لَهٗ	شَيۡطٰنًا	فَهُوَ	لَهٗ قَرِيۡنٌ
له يادولو	د رحمٰن	مسلط به كړو موږ	پر هغه باندى	يو شيطان	پس هغه به	له ده سره ملگرى وى

له ذكر يادولو (د قرآن) د رحمٰن مسلط به كړو موږ پر هغه باندى يو شيطان پس هغه به له ده سره (دائمى) ملگرى وى.

وَلَوۡلَآ اَنۡ يَّكُوۡنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً... دمال او دولت زياتى دفضيلت سبب نه دى: كفارو چې داويلي وه چې دمكې اوطائف يولوى مالدار نبي ولي جوړ نه سو په دې ايتونوكي دهغه دوهم جواب وركول سوى دى او ددې خلاصه داده چې بيشكه دنبوت دپاره دصلاحيت څه شرطونه پيدا كول ضروري دي ليكن دمال دولت دزياتي پر بنا باندي چاته نبوت نه سي وركول كيداى ځكه چې مال اودولت زموږ په نظركي دومره سپک شى دى چې كه دټولو خلگو دكافرو جوړيدو بيره نه واى نو موږ به پر ټولو كافرانو باندي دسرو او سپينو باران كړى واى: په يو حديث شريف كي دنبي كريم ﷺ ارشاد مبارک دى: لوكانت الدنيا تعدل عند الله جناح بعوضة ما سقى كافرا منها شربة مآء: يعني كه دنيا دالله ﷻ په نزد دغوماشي دوزر برابر درجه لرلى نوالله ﷻ به يوه كافر ته ددې څخه داوبو يو غړپ هم نه واى وركړى: ددې څخه معلومه سوه چې دمال او دولت زياتى څه دفضيلت شى نه دى او نه دانسان دكمي رتبې نښه ده (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۷۲)

ع ۳ ۹

وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ

وَاِنَّهُمْ	لَيَصُدُّوْنَهُمْ	عَنِ السَّبِيْلِ	وَيَحْسَبُوْنَ	اَنَّهُمْ
او بیشکه! دوی	خامخا اړوي دغه خپل ملګري	له لاري (دحق)	او ګمان کوي	داسي چې بیشکه! دوی

او بیشکه! دغه (شیطانان) خامخا اړوي دغه خپل ملګري له لاري (دحق) او ګمان کوي داسي چې بیشکه! دوی

مُّهْتَدُوْنَ ۝۳۷ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ

مُّهْتَدُوْنَ	حَتّٰٓى	اِذَا	جَآءَنَا	قَالَ	يٰلَيْتَ	بَيْنِيْ
د سمي لاري پیداکوونکی دی	تر هغه پوري	کله چي	راسي موږته	نو وبه وایئ	کاشکی چي وای	په مینځ زما

د سمي لاري پیداکوونکی دی. تر هغه پوري چي راسي موږته نو وبه وایئ کاشکی چي وی په مینځ زما

وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ۝۳۸ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ

وَبَيْنَكَ	بُعْدَ	الْمَشْرِقَيْنِ	فَبِئْسَ	الْقَرِيْنُ	وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ
او په مینځ ستا کښي	لیري والي	له مشرقه تر مغربه	پس بد	ملګری دئ	او له سره به څه فائده ونه رسوی تاسی ته

او په مینځ ستا کښي لیري والي له مشرقه تر مغربه پس بد ملګری (یئ ته زما). او له سره به څه فائده ونه رسوی تاسی ته

الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ اَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ

الْيَوْمَ	اِذْ ظَّلَمْتُمْ	اَنَّكُمْ	فِي الْعَذَابِ
نن ورځ	هر کله چي ظلم کړی دی تاسی	داسي چي بیشکه! تاسی	په عذاب کښي

نن ورځ (له دی جهته) هر کله چي ظلم کړی دی تاسی (په شرک سره) داسي چي بیشکه! تاسي په عذاب کښي

مُشْتَرِكُوْنَ ۝۳۹ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ اَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ

مُشْتَرِكُوْنَ	اَفَاَنْتَ	تُسْمِعُ	الصُّمَّ	اَوْ تَهْدِي	الْعُمْيَ
سره شریکان یئ	آیا پس ته به	آورول وکړی	کڼو ته	یا سمه لاره به وښیی	ړندو ته

سره شریکان یئ. آیا پس ته به (ای محمده!) آورول وکړی کڼو ته یا سمه لاره به وښیی ړندو ته

وَمَنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝۴۰ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا

وَمَنْ كَانَ	فِيْ ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ	فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ	بِكَ	فَاِنَّا
او هغه چاته چي وی	په ګمراهي	ښکاره کښي	پس که موږ بوزو خامخا	تا د دنیا څخه	پس بیشکه! موږ

او هغه چا ته چي وی په ګمراهي ښکاره کښي. پس که بیول وکړو موږ خامخا په تا سره پس بیشکه! موږ

وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ

دخدای ﷻ دیادو څخه اعراض دبد صحبت سبب دی: دسورت الزخرف په شپږدیرشم۳۶ آیت کې دالله ﷻ دارشاد مطلب دادی چې کم سړی دالله ﷻ د نصیحت یعني قرآن کریم اووحی څخه قصدا اعراض کوي نو موږ پرده باندي یو شیطان مسلط کړو کم چې په دنیا کې هم دده سره اوسیږي او دی دنیکو څخه منع کوي او بدو ته یې راپاروي او په آخرت کې هم چې کله داسړی دقبر څخه پورته سي نو دا شیطان به دده سره وي تر دې چې دواړه به جهنم ته داخل سي: قرطبي. ددې څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ دیادو څخه داعراض په وجه دومره سزا په دنیا کې ورکول کیږي چې دانسان صحبت خراب سي او شیطانان برابره خبره ده که دانسانانو څخه وي او که دپیریانو څخه وي دی دنیکو څخه لیري او بدیو ته نژدې کوي دی تول کارونه دګمراهي کوي مګرګڼي داسي چې ډیر ښه کوي: قرطبي. او دلته چې دکم شیطان دمسلط کولو ذکر دی هغه دهغه شیطان څخه علاوه دی کم چې دهر مومن او کافر سره لګیدلی دي. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۷۵)

مِنۡهُمۡ مُّنۡتَقِمُوۡنَ ﴿۴۱﴾ اَوۡ نُرِيَنَّكَ الَّذِىۡ وَعَدۡنٰهُمۡ

مِنۡهُمۡ	مُّنۡتَقِمُوۡنَ	اَوۡ نُرِيَنَّكَ	الَّذِىۡ	وَعَدۡنٰهُمۡ
له دوی څخه	انتقام اخیستونکی یو	یا به وښیو تاته	هغه (عذاب)	چي وعده یئ کوله دوی سره

له دوی څخه انتقام اخیستونکی یو (په آخرت کښی) یا به وښیو تاته هغه (عذاب) چي وعده یئ کوو له دوی سره

فَاِنَّا عَلَيۡهِمۡ مُّقۡتَدِرُوۡنَ ﴿۴۲﴾ فَاسۡتَمۡسِكۡ بِالَّذِىۡۤ اُوۡحِىَ

فَاِنَّا	عَلَيۡهِمۡ	مُّقۡتَدِرُوۡنَ	فَاسۡتَمۡسِكۡ	بِالَّذِىۡۤ	اُوۡحِىَ
پس بیشکه ! موږ	پر دوی	قدرت لرونکی یو	پس منګلی ښخی کړه	په هغه	چي وحی کړی سوی دی

پس بیشکه موږ پر (عذاب د) دوی قادر یو . پس منګلی ښخی کړه (ښه عمل وکړه) په هغه (قرآن) چي وحی کړی سوی دی

اِلَيۡكَ‌ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۴۳﴾ وَاِنَّهٗ لَذِكۡرٌ لَّكَ

اِلَيۡكَ	اِنَّكَ	عَلٰى	صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِيۡمٍ	وَاِنَّهٗ	لَذِكۡرٌ	لَّكَ
تاته	بیشکه! ته	پر	لاری	سمی روان یئ	او بیشکه! دغه (قرآن)	پند دی	تاته

تاته (ای محمده!) بیشکه! ته پر لاری سمی روان یئ. او بیشکه! دغه (قرآن) پند (شرف عزت) دی تاته (ای محمده)

وَلِقَوۡمِكَ‌ۚ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔـلُوۡنَ ﴿۴۴﴾ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ اَرۡسَلۡنَا

وَلِقَوۡمِكَ	وَسَوۡفَ	تُسۡـَٔـلُوۡنَ	وَسۡـَٔلۡ	مَنۡ	اَرۡسَلۡنَا
او قوم ستا ته	او ژر ده چي	پوښتنه به وکړه سی له تاسی	او پوښتنه وکړه	له هغه چا چي	لیږلي مو دی

او قوم (امت) ستا ته، او ژر ده چي پوښتنه به وکړه سی له تاسی . او پوښتنه وکړه (ای محمده!) له هغه چا چي لیږلي مو دی

مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلۡنَا مِنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ اٰلِهَةً

مِنۡ قَبۡلِكَ	مِنۡ رُّسُلِنَاۤ	اَجَعَلۡنَا	مِنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ	اٰلِهَةً
پخوا له تا	له رسولانو زموږ	آیا مقرر کړی وو موږ	بی له رحمٰن	نور معبودان

پخوا له تا له رسولانو زموږ (په شپه د معراج کښی یا له علماؤ د دوی) آیا مقرر کړی وو موږ بی له رحمٰن نور معبودان

يُّعۡبَدُوۡنَ ﴿۴۵﴾ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰى بِاٰيٰتِنَاۤ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ

يُّعۡبَدُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اَرۡسَلۡنَا	مُوۡسٰى	بِاٰيٰتِنَاۤ	اِلٰى فِرۡعَوۡنَ
چي عبادت به یئ کیدئ	او خامخا په تحقیق	لیږلی وو موږ	موسیٰ	سره له دلائلو (دقدرت) زموږ	فرعون ته

چي عبادت به یئ کیدئ. او خامخا په تحقیق لیږلی وو موږ موسیٰ سره له (نهو) دلائلو (دقدرت) زموږ فرعون ته

وَاِنَّهٗ لَذِكۡرٌ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَ‌ۚ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔـلُوۡنَ... نیک شهرت هم په دین کي خوښ ګڼل سوی دی: او داقرآن ستا دپاره او ستا دقوم دپاره لوی دشرف شی دی: دذکر څخه مراد نیکه ناموري ده او مطلب دادی چي قرآن کریم ستا او ستا دقوم دپاره عظیم شرف او دنیک شهرت باعث دی: امام رازي رحمة الله علیه فرمایي چي ددې ایت څخه دامعلومه سوه چي نیک شهرت یو قابل رغبت شی دی په دې وجه الله جل جلاله دلته دادیو احسان په طور سره ذکر فرمایلي دي او په دې وجه حضرت ابراهیم علیه السلام دادعا فرمایلي وه چي: واجعل لی لسان صدق فی الآخرین: تفسیر کبیر. لیکن دا یاد ساتل پکار دي چي نیک شهرت هغه وخت ښه دی کله چي دادژوند دمقصد جوړولو څخه بغیر دانسان دنیکو عملونو په وجه خود بخوده حاصل سي او که انسان نیکي صرف په دې مقصد کوي چي دده په دنیا کي نوم نیک سي نو دا ریا ده چي په دې سره دنیکیو ټولو فائده ختمه سي او چپه ګناه لازم سي لکه په ټولنه کي دا سي ریاکاران هم کله په نظر راځي. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۷۶)

رکوع ۱۰

وَمَلَإِيْهٖ فَقَالَ اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۶﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ

وَمَلَإِيْهٖ	فَقَالَ	اِنِّيْ	رَسُوْلُ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	فَلَمَّا	جَآءَهُمْ
او مشرانو دده ته	پس وويل	بيشكه! زه	رسول	درب	دمخلوقاتو يم	پس كله چي	راغلى دوى ته

او مشرانو د ده ته پس وويل (موسىٰ) بيشكه! زه چي يم رسول د رب د عالميانو يم پس لكه چي راغلى (موسىٰ) دوى ته

بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ

بِاٰيٰتِنَآ	اِذَا هُمْ	مِّنْهَا	يَضْحَكُوْنَ	وَمَا نُرِيْهِمْ	مِّنْ اٰيَةٍ
سره له دلائلو زمونږ	ناڅاپه دوى	په دغو دلائلو پورى	به يئ خندل	او نه مو ښوده دوى ته	هيڅ دليل له دلائلو

سره له دلائلو (دقدرت) زمونږ ناڅاپه دوى په دغو دلائلو (دقدرت) به يئ خندل. او نه مو ښوده دوى ته (هيڅ دليل) له دلائلو

اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا ۫ وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ

اِلَّا	هِيَ	اَكْبَرُ	مِنْ اُخْتِهَا	وَاَخَذْنٰهُمْ	بِالْعَذَابِ	لَعَلَّهُمْ
مگر	هغه به وه	لويه وه	له اولى نښى ددى	او نيولي وو موږ دوى	په عذاب سره	دپاره ددى چي دوى

مگر هغه به وه لويه وه له اولى نښى د دى ، او نيولي وو موږ دوى په عذاب سره دپاره ددى چي دوى

يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ

يَرْجِعُوْنَ	وَقَالُوْا	يٰٓاَيُّهَ	السّٰحِرُ	ادْعُ لَنَا	رَبَّكَ	بِمَا عَهِدَ
راوگرځى	او وويل	آى	جادوگره	وبوله زمونږ دپاره	رب خپل	په سبب د هغى وعدى

راوگرځى (له كفره خپله) .او وويل (قبطيانو موسىٰ ته) اى ساحره! وبوله زمونږ دپاره رب خپل په سبب د هغى وعدى

عِنْدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ

عِنْدَكَ	اِنَّنَا	لَمُهْتَدُوْنَ	فَلَمَّا	كَشَفْنَا	عَنْهُمُ	الْعَذَابَ
چى له تاسره ده	بيشكه! چى موږ	خامخا لاره پيدا كوونكى يو	پس كله چي	ليرى مو كړئ	له دوى څخه	عذاب

(د الله) چى له تا څخه ده بيشكه! چى موږ خامخا لاره موندونكى يو پس كله چي ليرى مو كړئ له دوى څخه عذاب (په دعاء د

اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ

اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ	وَنَادٰى	فِرْعَوْنُ	فِيْ قَوْمِهٖ
ناڅاپه ماته كړه دوى وعده	او بړغ وكړ	فرعون	په قوم خپل كښى

موسىٰ سره) ناڅاپه ماته كړه دوى وعده (هغه وعده خپله). او بړغ وكړ فرعون (افتخاراً) په قوم خپل كښى

وَمَلَإِيْهٖ فَقَالَ اِنِّيْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. الله جَلَّ جَلَالُهُ

حضرت موسى عليه السلام فرعون او دده قوم ته ورولیږی: په دغه اياتونو كي بيا الله جل جلاله دحضرت موسى عليه السلام قصه را اخيستي ده فرمايي چي موږ موسى عليه السلام لره خپل دليلونه يعني معجزي عصا او يد بيضاء وركړل فرعون او دده سردارانو ته مو وروليږي: دحضرت موسى عليه السلام واقعه مخكي بار بار تيره سويده او په دي آياتونو كي چي ددوى كمو واقعاتو ته اشاره سويده هغه په تفصيل سره په سورت اعراف كي راغلي دي دلته دده دواقعي ديادولو څخه مقصد دادى چي دمكي كافرانو به دنبي كريم ﷺ پر نبوت باندي ددوى دنه مالداري په وجه شبه كوله او داخه نوي شبهه نه ده بلكي فرعون او دده قوم هم دا شبه دحضرت موسى عليه السلام پر نبوت باندي كړي وه دفرعون وينا داوه چي زه دمصر دحكومت مالک يم او زما تر محلونو لاندي ويالي بهيږي په دي وجه زه ترحضرت موسى عليه السلام ښه يم بيا زما په مقابله كي ده ته نبوت ولي وركول سو؟ ليكن نتيجه ددي سوال او ضد آخركار غرقيدل سوه الخ. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۸۰)

قَالَ يٰقَوۡمِ اَلَيۡسَ لِيۡ مُلۡكُ مِصۡرَ وَهٰذِهِ الۡاَنۡهٰرُ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِيۡ

قَالَ	يٰقَوۡمِ	اَلَيۡسَ	لِيۡ مُلۡكُ	مِصۡرَ	وَهٰذِهِ	الۡاَنۡهٰرُ	تَجۡرِيۡ	مِنۡ تَحۡتِيۡ
وويل	اى قومه زما !	آيا نسته	مالره سلطنت	دمصر	او دغه	ويالى	چې بهيږى	لاندى تر ما

وويل (فرعون) اى قومه زما! آيا نسته ما لره سلطنت د مصر او دغه ويالى چې بهيږى لاندى تر (مانۍ) ما

اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۵۱﴾ اَمۡ اَنَا خَيۡرٌ مِّنۡ هٰذَا الَّذِيۡ هُوَ مَهِيۡنٌ

اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ	اَمۡ اَنَا	خَيۡرٌ	مِّنۡ هٰذَا	الَّذِيۡ هُوَ	مَهِيۡنٌ
آيا پس نه وينئ تاسى	بلكه زه	بهتريم	له دغه سړي	چې هغه	سپک دى

آيا پس نه وينئ تاسى (دغه لوئ جاه او جلال زما) . بلكه زه بهتريم له دغه سړي (موسیٰ) چې هغه سپک (او حقير) دى.

وَّلَا يَكَادُ يُبِيۡنُ ﴿۵۲﴾ فَلَوۡلَاۤ اُلۡقِيَ عَلَيۡهِ اَسۡوِرَةٌ مِّنۡ ذَهَبٍ

وَّلَا يَكَادُ	يُبِيۡنُ	فَلَوۡلَاۤ اُلۡقِيَ	عَلَيۡهِ	اَسۡوِرَةٌ	مِّنۡ ذَهَبٍ
او نه دى نژدى	چې صاف بيان كړى	پس ولى نه غورځول كيږي	په ده باندى	وبنى	له سروزو

او نه دى نژدى (دى ته چې) صاف بيان وكړى. پس ولى نه غورځول كيږى په ده باندى باهوګان (وبنى) له سرو زرو

اَوۡ جَآءَ مَعَهُ الۡمَلٰٓـئِكَةُ مُقۡتَرِنِيۡنَ ﴿۵۳﴾ فَاسۡتَخَفَّ قَوۡمَهٗ

اَوۡ جَآءَ	مَعَهُ	الۡمَلٰٓـئِكَةُ	مُقۡتَرِنِيۡنَ	فَاسۡتَخَفَّ	قَوۡمَهٗ
ياولى نه دى راغلى	له ده سره	ملائيكى	جمع كړل سوى	پس سپک بې عقل يئ پيداكړ	قوم خپل

يا ولى نه دى راغلى له ده سره ملائيكى پيوسته (صف تړلى). پس سپک بې عقل وموند (فرعون) قوم خپل

فَاَطَاعُوۡهُ ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمًا فٰسِقِيۡنَ ﴿۵۴﴾ فَلَمَّاۤ اٰسَفُوۡنَا

فَاَطَاعُوۡهُ	اِنَّهُمۡ	كَانُوۡا	قَوۡمًا	فٰسِقِيۡنَ	فَلَمَّاۤ	اٰسَفُوۡنَا
پس اطاعت يئ وكړ قوم دهغه	بيشكه! چې دوى	وو	يو قوم	فاسقان	پس هركله چې	غصه كړو دوى موږ

پس اطاعت يئ وكړه دهغه (فرعون) بيشكه چې دوى وو يو قوم فاسقان(نو وى مانه). پس هركله چې خفه كړو دوى موږ

انۡتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۵۵﴾ فَجَعَلۡنٰهُمۡ سَلَفًا وَّمَثَلًا

انۡتَقَمۡنَا	مِنۡهُمۡ	فَاَغۡرَقۡنٰهُمۡ	اَجۡمَعِيۡنَ	فَجَعَلۡنٰهُمۡ	سَلَفًا	وَّمَثَلًا
نو انتقام واخيست موږ	له دوى څخه	پس غرق موكړل دوى	ټول	پس وموګرځول دوى	پيشوايان	او مثل

نو انتقام واخيست موږ له دوى څخه پس غرق، ډوب مو كړل دوى ټول. پس ومو ګرځول دوى پيشوايان او مثل

وَّلَا يَـكَادُ يُبِـيۡنُ ﴿۵۲﴾ فَلَـوۡلَاۤ اُلۡـقِيَ عَلَيۡـهِ اَسۡـوِرَةٌ..

فرعون پر حضرت موسى عليه السلام باندي دپخواني عيب تهمت ولګوى:

اوكم چي دخبرو كولو قوت هم نه لري: كه څه هم دحضرت موسى عليه السلام په دعا سره الله جل جلاله دده دژبي بندوالى او تتوالى ليري كړى وو ليكن فرعون ته دده اولنى منظر يادوو په دي وجه هغه پر حضرت موسى عليه السلام باندي داعيب ولګوى اوداهم كيداى سي چي دلته دقوت بيانيه څخه مراد دژبي دروانى پر ځاى دلايل دقوت او وضاحت وي او دفرعون مطلب داوي چي دحضرت موسى عليه السلام سره داسي كافي دلائل نسته كم چي ما مطمئن كړى سي او حال دادى چي دادفرعون صرف الزام وو كنه نو دحضرت موسى عليه السلام ددلائلو او براهينو په مقابله كي فرعون قطعي لاجوابه وو: روح المعاني تفسيركبير.

فاستخفّ قومه.ددې جملې دوې ترجمې كيداى سي: يوه داچي فرعون په آسانى سره خپل قوم خپل تابع جوړ كي: طلب منهم الخفّة فطاوعته.او دوهمه دا چي ده خپل قوم بې عقل پيدا كي.وجدهم خفيفة احلامهم: روح (معارف القرآن ج۹پ۲۵ص ۶۴)

ع ۵ ۱۱

لِّلۡاٰخِرِيۡنَ ۞ وَلَمَّا ضُرِبَ ابۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوۡمُكَ ۵۶

لِّلۡاٰخِرِيۡنَ	وَلَمَّا	ضُرِبَ	ابۡنُ	مَرۡيَمَ	مَثَلًا	اِذَا	قَوۡمُكَ
دپاره د وروستنیو	او کله چې	بیان کړه سو	زوی	دمریمی	مثل	ناڅاپه	قوم ستا

دپاره د وروستنیو (خلګو تر قیامت پوری). او کله چې وګرځاوه سو زوی د مریمی مثل ناڅاپه قوم ستا

مِنۡهُ يَصِدُّوۡنَ ۞ وَقَالُوۡٓا ءَاٰلِهَتُنَا خَيۡرٌ اَمۡ هُوَ ۵۷

مِنۡهُ	يَصِدُّوۡنَ	وَقَالُوۡٓا	ءَاٰلِهَتُنَا	خَيۡرٌ	اَمۡ هُوَ
پر هغه	شور ماشور د خوشحالتیا کوی	او وایې دوی	آیا معبودان زموږ	غوره دی	او که هغه غوره دی

پر هغه شور ماشور د خوشحالتیا (او خندا) کوی او وایې دغه (کفار) آیا معبودان زموږ غوره دی او که هغه غوره دی

مَا ضَرَبُوۡهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ؕ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ خَصِمُوۡنَ ۞ ۵۸

مَا ضَرَبُوۡهُ	لَكَ	اِلَّا	جَدَلًا	بَلۡ هُمۡ	قَوۡمٌ	خَصِمُوۡنَ
نه دی بیان کړی دوی دغه مثال	تا لره	مګر	محض دپاره د جګړی	بلکه	دوی یو قوم	جګړه کوونکی دی

نه دی ترلی دوی دغه مثال تا لره مګر محض دپاره د مجادلی خصومت جګړی بلکه دوی یو قوم جګړه کوونکی دی .

اِنۡ هُوَ اِلَّا عَبۡدٌ اَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىۡٓ اِسۡرَآءِيۡلَ ۞ ۵۹

اِنۡ هُوَ	اِلَّا	عَبۡدٌ	اَنۡعَمۡنَا	عَلَيۡهِ	وَجَعَلۡنٰهُ	مَثَلًا	لِّبَنِىۡٓ اِسۡرَآءِيۡلَ
نه دی دغه	مګر	یو بنده دی	چې نعمت کړی ؤ موږ	پر هغه	او ګرځولی مو وو دی	یو مثال	دپاره د بنی اسرائیلو

نه دی دغه (عیسٰی) مګر یو بنده دی چې نعمت کړی ؤ موږ پری او ګرځولی مو وو دی یو مثل دپاره د بنی اسرائیلو،

وَلَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَا مِنۡكُمۡ مَّلٰٓئِكَةً فِى الۡاَرۡضِ

وَلَوۡ نَشَآءُ	لَجَعَلۡنَا	مِنۡكُمۡ	مَّلٰٓئِكَةً	فِى الۡاَرۡضِ
او که اراده فرمائلی وی موږ	نو خامخا ګرځولی به مو وی	په ځای ستاسی	ملائیکی	په ځمکه کښی

او که اراده وفرمائلی وی موږ نو خامخا ګرځولی به مو وی په ځای ستاسی ملائیکی په ځمکه کښی

يَخۡلُفُوۡنَ ۞ وَاِنَّهٗ لَعِلۡمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمۡتَرُنَّ ۶۰

يَخۡلُفُوۡنَ	وَاِنَّهٗ	لَعِلۡمٌ	لِّلسَّاعَةِ	فَلَا تَمۡتَرُنَّ
چې خلیفګانی سوی به وای	او بیشکه! دغه (عیسٰی)	خامخا نښه ده	دپاره دقیامت	پس شک مه کوئ تاسی

چې خلیفګانی سوی به وای یو په بل پسی. او بیشکه! دغه (عیسٰی) خامخا نښه ده دپاره د قیامت پس شک مه کوئ تاسی

وَلَمَّا ضُرِبَ ابۡنُ مَرۡيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوۡمُكَ مِنۡهُ

ددغه ایاتونو په شان نزول کي دمفسرینو مختلف روایات: ددې ایاتونو په شان نزول کي مفسرینو درې روایتونه ذکر کړي دي. **اول روایت:** دادی چي یو وار نبي کریم ﷺ دقریشو دقبیلې خلګو ته خطاب کوی ویې فرمایل: **یا معشر قریش لاخیر فی احد یعبد من دون الله:** یعني ای دقریشو خلګو دالله ﷻ څخه ماسوا چي دچا عبادت کول کیږي په هغه کي هیڅ خیر نسته پر دې مشرکینو وویل چي نصارا دحضرت مسیح علیه السلام عبادت کوي لیکن ته په خپله منې چي هغه دالله ﷻ نیک بنده او دهغه نبي وو ددوی ددې اعتراض په جواب کي دا ایت نازل سو: قرطبي. **دوهم روایت:** دادی چي کله دقرآن کریم دا آیت: **انّکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم.** یعني بیشکه ای مشرکینو تاسي او دکمو چي تاسي عبادت کوی هغه به دجهنم خاشاک جوړیږي نازل سونو پر دې باندي عبدالله ابن الزبعری کم چي دوخت کافر وو دا وویل چي ددې آیت خو زما سره بهترین جواب موجود دی: **پاته بیان پر راروان مخ وګوری**

بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ

بِهَا	وَاتَّبِعُوْنِ	هٰذَا	صِرَاطٌ	مُّسْتَقِيْمٌ	وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ
په قيامت کښې	او متابعت وکړئ زما	دغه	لاره ده	سمه برابره	او نه دې اړوي تاسي

په (راتلو د) قيامت کښې او متابعت وکړئ زما (په توحيد کښې) دغه لاره ده سمه برابره ، او نه دې اړوي تاسي

الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ

الشَّيْطٰنُ	اِنَّهٗ	لَكُمْ	عَدُوٌّ	مُّبِيْنٌ	وَلَمَّا	جَآءَ عِيْسٰى	بِالْبَيِّنٰتِ
شيطان	بيشکه! چي دغه	تاسي ته	دښمن دی	ښکاره	او کله چي	راغلی عيسٰی	په دلائلو ښکاره ووسره

شيطان (له دغی لاری) بيشکه! چي (دغه) تاسي ته دښمن دی ښکاره. او کله چي راغلی عيسٰی په دلائلو ښکاره وو سره

قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ

قَالَ	قَدْ	جِئْتُكُمْ	بِالْحِكْمَةِ	وَلِاُبَيِّنَ	لَكُمْ	بَعْضَ	الَّذِيْ
وويل	چي په تحقيق	راغلی يم زه تاسي ته	په حکمت	او دپاره ددې چي بيان کړم	تاسي ته	ځيني	له هغو احکامو

وويل (عيسٰی) چي په تحقيق راغلی يم زه تاسي ته په حکمت او دپاره ددې چي بيان کړم تاسي ته ځيني له هغو احکامو

تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ

تَخْتَلِفُوْنَ	فِيْهِ	فَاتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوْنِ	اِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	رَبِّيْ
چي اختلاف به مو کاوه	په هغو کښې	پس وبيريږئ	له الله	او اطاعت وکړئ زما	بيشکه!	الله	هم هغه دی	رب زما

چي اختلاف به مو کاوه په هغو کښې ،پس وبيريږئ له الله او اطاعت وکړئ زما. بيشکه! الله هم هغه دی رب زما

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٦٤﴾ فَاخْتَلَفَ

وَرَبُّكُمْ	فَاعْبُدُوْهُ	هٰذَا	صِرَاطٌ	مُّسْتَقِيْمٌ	فَاخْتَلَفَ
او رب ستاسو	پس عبادت کوئ يوازی د دغه (الله)	دغه	لاره ده	سمه برابره	پس مختلف سول سره

او رب ستاسو پس عبادت کوئ يوازی د دغه (الله او حکم يئ منئ) دغه لاره ده سمه برابره. پس مختلف سول سره

الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

الْاَحْزَابُ	مِنْۢ بَيْنِهِمْ	فَوَيْلٌ	لِّلَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا
دغه قومونه	په مينځ خپل کښې	پس افسوس، خرابی ده	دپاره د هغو کسانو	چي ظلم يئ کړی دی

دغه قومونه (د نصارٰی) په مينځ خپل کښې، پس افسوس هلاکت ، خرابی ده دپاره دهغو کسانو چي ظلم يئ کړی دی

وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ
دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: او هغه داچي نصاری خو دحضرت مسيح عليه السلام عبادت کوي او يهود دحضرت عزير عليه السلام نو ايا دادواړه به دجهنم خاشاک جوړيږي: داخبره چي دقريشو مشرکينو واوريده نو ډير خوشحاله سول پر دې الله جل جلاله يو خو دا آيت نازل کی چي: انّ الذين سبقت لهم منّا الحسنى اولئک عنها مبعدون. و دوهم دسورت زخرف دالوړ ذکر سوی آيت نازل سو: دريم روايت: هغه دادی چي يو وار دمکې مشرکينو دابې هوده خيال ظاهر کی چي حضرت محمد صلى الله عليه وسلم دخدايي دعوه کول غواړي ددې مرضي داده چي لکه څنګه چي نصاری د حضرت مسيح عليه السلام عبادت کوي دغه شان موږ دده عبادت کوو پر دې باندې دا لوړ اياتونه نازل سول او په حقيقت کي په درويو سره روايتونو کي څه تعارض نسته څکه چي کفارو دغه درې سره قسمه خبري کړي وې هغه وو چي په جواب کي الله جل جلاله داسي جامع اياتونه نازل کړل چي ددغو دروا واړو اعتراضونو جواب په وسو. (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۸۴)

مِنۡ عَذَابِ يَوۡمٍ اَلِيۡمٍ ﴿٦٥﴾ هَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّا السَّاعَةَ

مِنۡ عَذَابِ	يَوۡمٍ	اَلِيۡمٍ	هَلۡ	يَنۡظُرُوۡنَ	اِلَّا	السَّاعَةَ
له عذابه	دورځې	درد ورکوونکې	آیا	منتظر دي دوی	مګر	قیامت ته

(په باب د عیسیٰ کې) له عذابه د ورځې درد ورکوونکې. آیا منتظر دي (دغه کفار د مکې یعنې نه دي) مګر قیامت ته

اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ بَغۡتَةً وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿٦٦﴾ اَلۡاَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذٍۢ بَعۡضُهُمۡ

اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ	بَغۡتَةً	وَّهُمۡ	لَا يَشۡعُرُوۡنَ	اَلۡاَخِلَّآءُ	يَوۡمَئِذٍۢ	بَعۡضُهُمۡ
چې رابه سي دوی ته	یو ناڅاپه	او دوی به	نه پوهیږي	یاران د دنیا به	په دغه ورځ کښې	ځینې د دوی

چې رابه سي دوی ته یو ناڅاپه او دوی به نه پوهیږي. یاران (د کفر) په دنیا کښې په دغه ورځ (د قیامت) کښې ځینې د دوی

لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿٦٧﴾ يٰعِبَادِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمُ الۡيَوۡمَ

لِبَعۡضٍ	عَدُوٌّ	اِلَّا	الۡمُتَّقِيۡنَ	يٰعِبَادِ	لَا خَوۡفٌ	عَلَيۡكُمُ	الۡيَوۡمَ
له ځینو نورو سره به	دښمنان وي	مګر	متقیان	ای بندګانو زما	نسته هیڅ بیره	پر تاسي	نن ورځ

له ځینو نورو سره به دښمنان وي مګر متقیان. (پاتې به وي دوستي د متقیانو) ای بندګانو زما نسته هیڅ بیره پر تاسي نن ورځ

وَلَاۤ اَنۡتُمۡ تَحۡزَنُوۡنَ ﴿٦٨﴾ اَلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوۡا مُسۡلِمِيۡنَ ﴿٦٩﴾

وَلَاۤ اَنۡتُمۡ	تَحۡزَنُوۡنَ	اَلَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	بِاٰيٰتِنَا	وَكَانُوۡا	مُسۡلِمِيۡنَ
او نه به تاسي	غمجن کیږئ	هغه کسان چې	ایمان یئ راوړی دی	په آیتونو زموږ	او وو دوی	مسلمانان

او نه به تاسي غمجن کیږئ هغه کسان چې ایمان یئ راوړی دی په آیتونو زموږ او وو دوی مسلمانان (په دنیا کښې).

اُدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ اَنۡتُمۡ وَاَزۡوَاجُكُمۡ تُحۡبَرُوۡنَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيۡهِمۡ

اُدۡخُلُوا	الۡجَنَّةَ	اَنۡتُمۡ	وَاَزۡوَاجُكُمۡ	تُحۡبَرُوۡنَ	يُطَافُ	عَلَيۡهِمۡ
ننوځئ	جنت ته	تاسي	او ښځې ستاسي	چې خوشحاله به کړل سئ	ګرځولی کیږی به	پر دغو جنتیانو

ننوځئ، جنت ته تاسي او ښځې ستاسي چې خوشحاله به کړل سئ، ګرځولی کیږی به (د غلمانو له خوا) پر دغو جنتیانو

بِصِحَافٍ مِّنۡ ذَهَبٍ وَّاَكۡوَابٍ وَفِيۡهَا مَا تَشۡتَهِيۡهِ

بِصِحَافٍ	مِّنۡ ذَهَبٍ	وَّاَكۡوَابٍ	وَفِيۡهَا	مَا تَشۡتَهِيۡهِ
کاسي، ګلاسونه	له سرو زرو څخه	او پیالې	او دی په دغه (جنت) کښې	هغه شیان چې خواهش کوی د هغو

کاسي ګلاسونه له سرو زرو څخه او صراحی ګانې او (پیالې وی به دوی ته) په دغه کښې هغه شیان چې خواهش کوی د هغو

اَلۡاَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذٍۢ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ... تـــول دوستان به په دغه ورځ دیو بل دښمنان سي پیله هغه چې د الله ﷻ څخه بیریږي: دې آیت دا خبره په ډاګه ښکاره کړه چې دا دوستانه تعلقات په کوم چې انسان په دنیا کې ناز کوي او دکمو په خاطر چې حلال او حرام یو کوي دقیامت په ورځ به نه صرف داچې په کار رانه سي بلکې دښمنان به سي چنانچې حافظ ابن کثیر رحمه الله تردغه آیت لاندې دحضرت علي رضی الله عنه دا ارشاد په روایت دمحدثینو نقل کړی دی: چې دوه دوستان مومنان وه او دوه کافران په مومنانو دوستانو کې دیوه انتقال وسواو ده ته دجنت خوشخبري واورول سوه نو ده ته خپل دوست راپه یاد سو ده دعا وکړه چې یا الله زما فلاني دوست به ماته ستا او ستا درسول ﷺ داطاعت تاکید کوی دنیکی حکم به یې راته کوی او دبدی څخه به یې منع کولم او دابه یې راته یادوله چې زه به یوه ورځ تاته حاضریږم په دې وجه یا الله ﷻ دی زما څخه وروسته مه ګمراه کوي چې هغه هم دجنت مناظر ووینې کم چې تا ماته وښوول. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

١١
١٢

الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ وَاَنْتُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ

الْاَنْفُسُ	وَتَلَذُّ	الْاَعْيُنُ	وَاَنْتُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ	وَتِلْكَ
نفسونه	او چې خوند اخلي	سترګې (د دوی)	او تاسي	په دغه (جنت) کښې	همېشه اوسېدونکي يئ	او دغه

نفسونه (د دوی) او چې خوند اخلي سترګې (د دوی ترې). او تاسي په دغه جنت کښې همېشه اوسېدونکي يئ. او دغه

الْجَنَّةُ الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٧٢﴾

الْجَنَّةُ	الَّتِيْٓ	اُوْرِثْتُمُوْهَا	بِمَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ
جنت دی	هغه چې	په مېراث درکړی سوی دی تاسو ته هغه	په سبب د هغو	چې وئ تاسي	چې کول به مو

جنت دی هغه چې په مېراث درکړی سوی دی هغه تاسو ته په سبب د هغو (نيکو عملونو) چې وئ تاسي چې کول به مو.

لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٧٣﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ

لَكُمْ	فِيْهَا	فَاكِهَةٌ	كَثِيْرَةٌ	مِّنْهَا	تَاْكُلُوْنَ	اِنَّ	الْمُجْرِمِيْنَ
سته تاسي ته	په دغه کښې	مېوې	ډېرې	چې له هغو څخه	به يې خورئ تاسي	بېشکه! چې	مجرمان

سته تاسي ته په دغه (جنت) کښې مېوې ډېرې چې له هغو څخه به يې خورئ تاسي. بېشکه! چې مجرمان (کافران)

فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيْهِ

فِيْ عَذَابِ	جَهَنَّمَ	خٰلِدُوْنَ	لَا يُفَتَّرُ	عَنْهُمْ	وَهُمْ	فِيْهِ
په عذاب	د دوزخ کښې به	همېشه پاتې کېدونکي وي	نه به سپکاوه سي	له دوی څخه	او دوی به	په دغه کښې

په عذاب د دوزخ کښې به همېشه پاتې کېدونکي وي. نه به سپکاوه سي له دوی څخه او دوی به په دغه (دوزخ) کښې

مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧٦﴾

مُبْلِسُوْنَ	وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ	وَلٰكِنْ	كَانُوْا	هُمُ	الظّٰلِمِيْنَ
ساکت نااميده وي	او نه دی کړی موږ ظلم پر دوی	او ليکن	وو دوی	هم دوی	ظالمان

ساکت نااميده وي. او نه دی کړی موږ ظلم پر دوی او ليکن دوی وو هم دوی ظالمان (پر ځانونو خپلو په کفر سره).

وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ

وَنَادَوْا	يٰمٰلِكُ	لِيَقْضِ	عَلَيْنَا	رَبُّكَ	قَالَ
او ږغ به وکړي	چې ای مالکه	حکم دې وکړي	پر موږ	رب ستا (د مرګ)	وبه وايئ

او ږغ به وکړي (جهنميان) چې ای مالکه (خازنه د دوزخ) حکم دې وکړي پر موږ رب ستا (د مرګ)، وبه وايئ (ملک خازن)

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ. د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ:
اوته چې څنګه زما څخه راضي سوې دغه شان دهغه څخه هم راضي سه ددې دعا په جواب کې به ده ته وويل سي چې که تاته معلومه سي چې ما ستا دهغه دوست دپاره څه اجر او ثواب اېښې دی نو ته به ژاړې کم او خاندې به زيات: ددې څخه وروسته چې هر کله دبل دوست انتقال وسي نو ددواړو ارواحان به جمع سي باري تعالی به دوی ته وفرمايي چې په تاسي کې دې هريو دبل تعريف وکړي نو ددوی څخه هريو به دبل په باره کې دا ووايي چې دابهترين ورور او بهترين دوست دی: ددې برخلاف کله چې ددوو کافرو دوستانو څخه ديوه انتقال وسي او خپل دوست به يې وريادسي دغه وخت به هغه دعا وکي چې يا الله زما فلاني دوست به ماته ستا او ستا درسول ﷺ دنافرماني کولو حکم کوی دبدی تاکيد به يې راته کوی او دنيکی څخه به يې منع کولم او ماته به يې ويل چې زه به هيڅکله هم ستا په حضور کې حاضر نه سم په دې وجه يا الله جل جلاله چې زما څخه وروسته ده ته هدايت ونه سي.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۸۹)

اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾ لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ

اِنَّكُمْ	مّٰكِثُوْنَ	لَقَدْ	جِئْنٰكُمْ	بِالْحَقِّ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَكُمْ
چې بيشكه! تاسي	پاتې كيدونكي يئ	خامخا په تحقيق	راغلي وو موږ تاسي ته	په حق سره	او ليكن	زياتره ستاسي

چې بيشكه! تاسي (ژوندي) پاتې كيدونكي يئ، خامخا په تحقيق راغلي وو موږ تاسي ته په حق سره او ليكن زياتره ستاسي

لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ اَمْ

لِلْحَقِّ	كٰرِهُوْنَ	اَمْ اَبْرَمُوْٓا	اَمْرًا	فَاِنَّا	مُبْرِمُوْنَ	اَمْ
حق لره	بد ګڼونكي يئ	آيا دوى كلک قصد كړى دى	ديو كار	پس بيشكه! موږ	كلک قصد كوونكي يو	آيا

حق لره بد ګڼونكي يئ .بلكه محكم كړى دى (كفارو) يو كار پس بيشكه! موږ هم محكم كوونكي يو (د تدبير خپل). آيا

يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى وَرُسُلُنَا

يَحْسَبُوْنَ	اَنَّا	لَا نَسْمَعُ	سِرَّهُمْ	وَنَجْوٰىهُمْ	بَلٰى	وَرُسُلُنَا
ګمان كوونكي دي دوى	چې بيشكه! موږ	نه اورو	پټې خبرې د دوى	او پټې مشورې د دوى	بلكه اوروو يئ	او رسولان زموږ

ګمان كوونكي دي (كفار) چې بيشكه! موږ نه آورو پټې خبرې د دوى او پټې مشورې د دوى بلكه آورو يئ او فرشتي زموږ

لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۸۰﴾ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ۖ فَاَنَا

لَدَيْهِمْ	يَكْتُبُوْنَ	قُلْ	اِنْ كَانَ	لِلرَّحْمٰنِ	وَلَدٌ	فَاَنَا
له دوى سره دي	چې ليكي	ووايه (محمده)	كه وى	رحمٰن ته	ولد	پس زه به

له دوى سره دي چې ليكي (ټول اعمال د دوى). ووايه (محمده!) كه وى (بالفرض) رحمٰن ته ولد (زوى، لور) پس زه به

اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

اَوَّلُ	الْعٰبِدِيْنَ	سُبْحٰنَ	رَبِّ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
مخكنى	له عبادت كوونكو وم	پاكي ده	رب	د آسمانونو ته	او (رب د) مځكې ته

(د غه ولد لره) مخكنى له عبادت كوونكو وم. پاكي ده رب د آسمانونو ته او (رب د) مځكې ته

رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا

رَبِّ	الْعَرْشِ	عَمَّا	يَصِفُوْنَ	فَذَرْهُمْ	يَخُوْضُوْا
رب	د عرش ته	له هغه څه چې	بيانوى (دوى ورته)	پس پريږده دوى	چې مشغول سى

رب د عرش ته له هغه څه چې بيانوى (دوى ورته) . پس پريږده دوى چې غوټې وهى (په باطلو خبرو)

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ.. الله جلّ جلاله

رشتيني دين وخپلو بندګانو ته رسولي دى: په دغه آيت كي الله جلّ جلاله فرمايي چې په تيرو ايـاتونو كي د مجرمينو دپاره چې د كمو سزاګانو بيان وسو د اځكه د اسزاوې موږ دوى ته وركوو چې موږ ربښتيني دين چې غټ ركن يې عقيده ساتل دي پر توحيد د الله جلّ جلاله باندي او د نبي كريم ﷺ پر رسالت باندي دغه دين موږ دوى ته ورسوى ليكن په دوى كي اكثره خلګ د دغه ربشتيني دين څخه نفرت كوي. اكثره خلګ خو يې په دې وجه وويل چې څيني آينده ايمان راوړونكي وه او ياڅكه چې نفرت خو په صحيح معنى سره څينو ته وونورو څينو محض په تقليد سره حقه لار پريښي وه او دا نفرت شامل دى د رسول مخالفت ته هم او د توحيد مخالفت ته هم چې مخكې د دواړو تفصيل راوران دى: البته دغه كفارو نبي كريم ﷺ ته د نقصان رسولو په باره كي څه انتظام برابر كړى وو اودا ظاهره ده چې دخدايي انتظام په مخكې د دوى انتظام نسي چليدلاى چنانچي نبي كريم ﷺ الله جلّ جلاله محفوظ كړى.

(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۵ ص ۹۱)

وَيَلْعَبُوا حَتّٰى يُلٰقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِىْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَهُوَ

وَيَلْعَبُوا	حَتّٰى	يُلٰقُوا	يَوْمَهُمُ	الَّذِىْ	يُوْعَدُوْنَ	وَهُوَ
او لوبي كوى	تر هغه پورى	چي ملاقات وكړى	له ورځى د دوى سره	هغه چي	وعده كړى سوى ده ددوى سره	او الله

او لوبي كوى تر هغه پورى چي ملاقات وكړى له ورځى د دوى سره هغه (هغه ورځ) چي وعده كړى سوى ده. او الله

الَّذِىْ فِى السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِى الْاَرْضِ اِلٰهٌ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

الَّذِىْ	فِى السَّمَآءِ	اِلٰهٌ	وَّفِى الْاَرْضِ	اِلٰهٌ	وَهُوَ	الْحَكِيْمُ
هغه (ذات) دى	چي په آسمانونو كښى	معبود دى	او په مځكه كښى	معبود	او هم دى دى	ښه حكمت والا

هغه (لوى ذات) دى چي په آسمانونو كښى معبود دى او په مځكه كښى معبود او هم دى دى ښه حكمت والا

الْعَلِيْمُ ﴿٨٤﴾ وَتَبٰرَكَ الَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

الْعَلِيْمُ	وَتَبٰرَكَ	الَّذِىْ	لَهٗ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
ښه عالم	او بركتناك دى	هغه چي	خاص ده ته دى	سلطنت	دآسمانونو	او دمځكى

ښه عالم. او بركتناك دى هغه (لوى ذات) چي خاص ده ته دى ملك، سلطنت د آسمانونو او دمځكى

وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٨٥﴾

وَمَا بَيْنَهُمَا	وَعِنْدَهٗ	عِلْمُ	السَّاعَةِ	وَاِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ
او دهر هغه څه چي په مينځ د دغو دواړو كښى دى	او له هم ده سره دى	علم	دقيامت	او خاص هم ده ته	بيرته بيولى سى تاسو

او دهر هغه څه چي په مينځ د دغو دواړو كښى دى او (خاص) له هم ده سره دى علم د قيامت، او خاص هم ده ته بيرته بيولى سو.

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ

وَلَا يَمْلِكُ	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِهِ	الشَّفَاعَةَ	اِلَّا	مَنْ
او اختيار نه لرى	هغه معبودان	چي دوى يئ عبادت كوى	بى له دغه (الله)	دشفاعت	مګر	هغه څوك چي

او اختيار نه لرى هغه معبودان چي دوى يئ عبادت كوى بى له دغه (الله) د شفاعت مګر هغه څوك چي

شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٨٦﴾

شَهِدَ	بِالْحَقِّ	وَهُمْ	يَعْلَمُوْنَ
شاهدى يئ ويلى وى	په حقه سره	حال داچي دوى	پوهيږى

شاهدى يئ ويلى وى (په ژبه) په حقه سره حال داچي دوى پوهيږى (او علم يئ وى پر هغو باندى په زړه سره).

اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿٨١﴾ سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

كه دالله رحمن څوك اولادواى نو دټولو څخه مخكي به ما دهغه عبادت كوى: ددې مطلب دانه دى چي معاذالله دخداى ﷻ داولاد كيدو په څه درجه كي هم امكان سته بلكي مقصد په اصل كي دا ښوول دي چي زه ستاسي دعقيدو انكار په څه عناد يا بغض سره نه كوم بلكي ددليلونو په وجه سره يي كوم كه په صحيح دليلونو سره دالله ﷻ د اولاد وجود ثابت سوى واى نو ما به ضرور منلى واى مګر دعقل او نقل هر يو دليل ددې ترديد كوي په دې وجه دمنلو يي هيڅ سوال نه پيداكيږي ددې څخه معلومه سوه چي داهل باطلو سره دمباحثې په وخت كي دخپلي حق پسندى وريادولو دپاره داويل جائز او مناسب دي چي كه ستاسي دعوى په صحيح دليلونو سره ثابته واى نو ما به تسليمه كړې واى ځكه چي ځيني وخت دخبرو په داسي انداز سره دمخالف په زړه كي داسي نرمي پيداكيداى سي كمه چي هغه حق قبلولو ته تيار كي: الله ﷻ دي په هر چا كي دحق دمنلو جذبه پيدا كړي: آمين.

(معارف القرآن ج٩ پ٢٥ ص ٩٣)

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰى

فَاَنّٰى	اللّٰهُ	لَيَقُوْلُنَّ	مَّنْ خَلَقَهُمْ	سَاَلْتَهُمْ	وَلَئِنْ
پس كوم طرف ته	چې الله	خامخا وبه وايئ هرومرو دوى	چې چا پيدا كړي دي دوى	وپوښتې ته دوى	او قسم دى كه

او قسم دى كه وپوښتې ته دوى چې چا پيدا كړي دي دغه (عابدان) خامخا وبه وايئ هرومرو دوى چې الله پس كوم طرف ته

يُؤْفَكُوْنَ ﴿۸۷﴾ وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾

لَّا يُؤْمِنُوْنَ	قَوْمٌ	هٰۤؤُلَآءِ	اِنَّ	يٰرَبِّ	وَقِيْلِهٖ	يُؤْفَكُوْنَ
چې ايمان نه راوړي دوى	يو قوم دى	دغه	بيشكه!	چې اى رب زما	قسم دى پر دغې وينا ددغه	گرځول كيږي دوى

گرځول كيږي دوى. او (قسم دى) پر دغې وينا ددغه (رسول) چې اى رب زما بيشكه! دغه يو قوم دى چې ايمان نه راوړي دوى

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾ ع

يَعْلَمُوْنَ	فَسَوْفَ	سَلٰمٌ	وَقُلْ	عَنْهُمْ	فَاصْفَحْ
پوه به سى دوى	پس ژر ده چې	سلامتي ده	او ووايه (محمده)	له دوى	پس مخ وگرځوه

پس مخ وگرځوه له دوى (او طمع پريكړه) او ووايه (اى محمده!) سلامتي پس ژر ده چې پوه به سى دوى (په عاقبت د كفر)

اٰياتونه ۵۹ — ۴۴ سُوْرَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّةٌ ۶۴ — ركوعي ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاك چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

مُّبٰرَكَةٍ	فِيْ لَيْلَةٍ	اَنْزَلْنٰهُ	اِنَّآ	الْمُبِيْنِ	وَالْكِتٰبِ	حٰمٓ
بركتناكه كښې	په شپه	نازل كړى مو دى هغه	چې بيشكه! موږ	ښكاره كوونكى	قسم دى پر دغه كتاب	حاء ميم

حا، ميم. قسم دى پر دغه كتاب ښكاره كوونكى چې بيشكه! موږ نازل كړى مو دى هغه په شپه بركتناكه كښې.

اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ﴿۳﴾ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ﴿۴﴾

حَكِيْمٍ	اَمْرٍ	كُلُّ	يُفْرَقُ	فِيْهَا	مُنْذِرِيْنَ	كُنَّا	اِنَّا
حكمت والا	كار	هر	فيصله كولى سى	په دغه (شپه) كښې	بيروونكي	يو	بيشكه! موږ

بيشكه! موږ يو بيروونكي (په راليږلو ددغه قرآن) په دغه (شپه) كښې بيلا وه سى هر كار حكمت والا

وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ... دسورت الدُّخان فضيلت: دحضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې كم سړي دجمعې په شپه كي سورت دخان ووايي نو سهار ته به دده گناهونه معاف سوي وي. او دحضرت امامه رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې چا دجمعې په ورځ يا په شپه كي سورت دخان ووايه الله جل جلاله به ده هغه دپاره په جنت كي كور جوړ كړي: قرطبي: په ذكر سوو اياتونو كي دقرآن كريم عظمت او خاص صفتونو بيان دى. والكتاب المبين: يعني دا واضح كتاب دى ددي څخه مراد په خپله قرآن كريم دى په دي ايت كي الله جل جلاله په قرآن كريم باندي قسم اخيستى دى او ارشاد يي فرمايلي دى چي دا موږ په يوه مباركه شپه كي نازل كړى دى چي مقصدي دغافلو بندگانو بيدارول دي دغه شان قسم په دي الفاظو سره دسورت زخرف په اول كي هم تير سوى دى. او داخبره هم تيره سويده چي الله جل جلاله په يو شي سره قسم اخلي داده‌غه شي دعظمت نښه وي الخ. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۹۶)

أَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ۚ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ۝٥ رَحْمَةً مِّنْ

أَمْرًا	مِّنْ عِنْدِنَا	إِنَّا	كُنَّا	مُرْسِلِينَ	رَحْمَةً	مِّنْ
په وحې کولو سره	له نزده زموږ	بيشکه! موږ	يو	ليږونکي	دپاره درحمت	له

حکم له نزده زموږ بيشکه! موږ يو ليږونکي (درسولانو). دپاره د رحمت (او مهرباني) له

رَّبِّكَ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۝٦ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

رَّبِّكَ	إِنَّهُ	هُوَ	السَّمِيعُ	الْعَلِيمُ	رَبِّ	السَّمٰوٰتِ
رب ستا	بيشکه! الله	هم دی دی	ښه اوريدونکی	ښه عالم	رب	دآسمانونو

رب ستا بيشکه! الله هم دی دی ښه اوريدونکی د اقوالو ښه عالم (په ټولو احوالو). رب دآسمانونو

وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ إِنْ كُنْتُمْ مُّوقِنِينَ ۝٧ لَآ إِلٰهَ

وَالْأَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	إِنْ كُنْتُمْ	مُّوقِنِينَ	لَآ إِلٰهَ
او دمځکې دی	او دهغو شيانو چې	په مينځ د دوی کښې دی	که چيرې يئ تاسې	يقين کوونکی	نشته لائق دعبادت بل هيڅوک

او (رب) دمځکې دی او (رب) دهغو شيانو چې په مينځ د دوی کښې دی که چيرې يئ تاسې يقين کوونکی . نشته لائق

إِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيتُ ۖ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْأَوَّلِينَ ۝٨

إِلَّا	هُوَ يُحْيٖ	وَيُمِيتُ	رَبُّكُمْ	وَرَبُّ	اٰبَآئِكُمُ	الْأَوَّلِينَ
مګر	هم دی دی چې ژوندی کوی	او مړه کوی	رب ستاسې دی	او رب	دپلرونو ستاسې دی	چې مخکنی دی

دعبادت بل هيڅوک مګر هم دی دی چې ژوندی کوی او وژل کوی ، رب ستاسې دی او رب دپلرونو مخکنيو ستاسې دی

بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُونَ ۝٩ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي

بَلْ هُمْ	فِيْ شَكٍّ	يَّلْعَبُونَ	فَارْتَقِبْ	يَوْمَ	تَأْتِي
بلکه دوی	په شک کښې	لوبې ، مسخرې کوونکی دی	پس منتظر اوسه	دهغې ورځې	چې رابه وړی

بلکه دوی په شک کښې دی (له بعث) چې لوبې مسخرې کوونکی دی. پس منتظر اوسه (محمده) په هغه ورځ چې راسی

السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ۝١٠ يَّغْشَى النَّاسَ ۖ هٰذَا عَذَابٌ

السَّمَآءُ	بِدُخَانٍ	مُّبِينٍ	يَّغْشَى	النَّاسَ	هٰذَا	عَذَابٌ
دا آسمان	په دود	ښکاره سره	چې پټ به کړی	ټول مخلوق	دغه	عذاب

دا آسمان په دود ښکاره سره چې پټ به کړی ټول مخلوق، (وبه وايئ دوی) دغه عذاب

أَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ..دمخلوقاتو دټولو اهمو کارونو فيصلې يعني په دغه شپه کې دهر حکمت والامعاملې فيصله زموږ دطرف څخه کول کيږي چې معنى يې حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا فرمايلې ده چې دا شپه په کمه کې چې دقرآن کريم نزول سوی دی يعني شب قدر په دې کې دمخلوقاتو متعلق ټول اهم کارونه دکمو فيصلې چې په دې کال کې تر راتلونکي شب قدر پورې واقع کيدونکې وي طی کيږي چې څوک څوک به په دې کال کې پيدا کيږي او څوک څوک به په دې کال کې مري چاته به څومره رزق په دې کال کې ورکول کيږي دغه تفسير دتفسير شريف دنورو امامانو څخه هم منقول راغلی دی او مهدوي رحمة الله عليه فرمايي چې معنى ددې داده چې داټولې فيصلې کمې چې په تقدير الهي کې دمخکې څخه طی سوي وي په دې شپه کې متعلقه فرشتو ته حواله او سپارل کيږي ځکه چې دقرآن او سنت نور نصونه پر دې شاهد دي چې الله جل جلاله دا فيصلې دانسان دپيدايش څخه مخکې په ازل کې ليکلې وې الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۹۷)

أَلِيمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

أَلِيمٌ	رَبَّنَا	اكْشِفْ	عَنَّا	الْعَذَابَ	إِنَّا	مُؤْمِنُونَ
ډير دردناک دی	ای ربه زموږ	ليری کړه	زموږ څخه	دغه عذاب	بيشکه! موږ	ايمان راوړونکی يو

ډير دردناک دی. ای ربه زموږ ليری کړه زموږ څخه دغه عذاب بيشکه! موږ ايمان راوړونکی يو.

أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ

أَنَّىٰ	لَهُمُ	الذِّكْرَىٰ	وَقَدْ	جَاءَهُمْ	رَسُولٌ	مُّبِينٌ	ثُمَّ
کوم ځای به وی	دوی ته	پند اخيستل	حال دا چې په تحقيق	راغلی ؤ دوی ته	رسول	ښکاره، بيانوونکی	بيا

چيرته به نفع ورسوی دوی ته پند اخيستل حال دا چې په تحقيق راغلی ؤ دوی ته رسول ښکاره، بيانوونکی. بيا

تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾ إِنَّا

تَوَلَّوْا	عَنْهُ	وَقَالُوا	مُعَلَّمٌ	مَّجْنُونٌ	إِنَّا
هم داسې وګرځيدل دوی	له هغه	او وويل	ده ته ښوونه کړی سوی ده	ليونی دی	بيشکه! موږ

هم داسې وګرځيدل دوی له هغه (اجابت د رسول څخه) او وويل (کفارو) ده ته ښوونه کړی سوه ده ليونی دی. بيشکه موږ

كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيلًا إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿١٥﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ

كَاشِفُوا	الْعَذَابِ	قَلِيلًا	إِنَّكُمْ	عَائِدُونَ	يَوْمَ	نَبْطِشُ
ليری کوونکی يو	د دغه عذاب	لږ مدت	بيشکه! تاسې	بيرته ګرځيدونکی يئ	هغه ورځ چې	وبه نيسو موږ

لری کوونکی يو د دغه عذاب لږ مدت بيشکه! تاسې بيرته ګرځيدونکی يئ (کفر خپل ته). هغه ورځ چې وبه نيسو موږ

الْبَطْشَةَ الْكُبْرَىٰ إِنَّا مُنتَقِمُونَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ

الْبَطْشَةَ	الْكُبْرَىٰ	إِنَّا	مُنتَقِمُونَ	وَلَقَدْ	فَتَنَّا	قَبْلَهُمْ
په نيولو	لويو سره	بيشکه! موږ	انتقام اخيستونکی يو	او خامخا په تحقيق	ازمويلی وو موږ	پخوا له دی څخه

(دغه کفار) په نيولو لويو سره بيشکه! موږ انتقام اخيستونکی يو. او خامخا په تحقيق ازمويلی وو موږ پخوا له دی څخه

قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَاءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوا إِلَيَّ

قَوْمَ	فِرْعَوْنَ	وَجَاءَهُمْ	رَسُولٌ	كَرِيمٌ	أَنْ	أَدُّوا	إِلَيَّ
قوم	د فرعون	او راغلی ؤ دوی ته	رسول (موسیٰ)	عزتمند	چې	وسپارئ تاسې	وماته

قوم د فرعون او راغلی ؤ دوی ته رسول (موسیٰ) عزتمند (په نزد د الله). چې وسپارئ تاسې پر ما باندی

رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ.. داستان دطرف څخه نظر راتلونکی دودبه راپيداسي : يعني كله چې دغه كفار دمكې دواضح دلائلوباوجوددغه حق دين نه مني نو تاسې ددوى دپاره دهغه ورځي انتظار كوى چې دآسمان دطرف څخه به نظر راتلونكى دود پيداسي كم چې به پر دې ټولوخلګو باندې عام سي داهم يوه دردناكه سزا ده كمه چې به دوى لره وي : ددې څخه مراد دغلې قحطي ده په كمه كي چې دمكې خلګ دنبي كريم ﷺ په ښراوو سره اختـه سوي وه او دابنيرې يووار په مكه كي سوي وي او يووار په مدينه منوره كي: او داقاعده ده چې سخته لوږه اوتنده دآسمان او مځكې په مينځ كې دسترګوپه مخكې ددودشان په نظر راولي غرض دمكي خلګ په خپلو ځانونوپوري تنګ سول او عاجزي يي شروع كړل چنانچي دپيشګويي په طور فرمايي چې دغه وخت به دالله ﷻ په دربار كي عرض كوي چي اى زموږ ربه زموږ څخه دامصيبت ليري كړې نو موږ به ضرور ايمان راوړو الله ﷻ فرمايي دا خلګ خو وايي ليكن ايمان نه راوړي.
(معارف القرآن ج۹پ ۲۵ ص ۹۹)

عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ﴿۱۸﴾ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا

عِبَادَ اللّٰهِ	اِنِّیْ	لَكُمْ	رَسُوْلٌ	اَمِیْنٌ	وَّاَنْ	لَّا تَعْلُوْا
بندګان دالله	بیشکه! زه	تاسی ته	رسول	امانتګریم	او چي	سرکشی مه کوئ

بندګان دالله ، بیشکه! زه تاسی ته رسول مکرم امانتګریم او (وویل موسیٰ فرعون ته) چي سرکشی مه کوئ

عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّیْۤ اٰتِیْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱۹﴾ وَاِنِّیْ عُذْتُ

عَلَى اللّٰهِ	اِنِّیْۤ	اٰتِیْكُمْ	بِسُلْطٰنٍ	مُّبِیْنٍ	وَاِنِّیْ	عُذْتُ
پر الله	بیشکه! چي	زه راوړونکی یم تاسی ته	دعلمی سند	ښکاره ، واضح	او چي بیشکه! زه	پناه نیسم

پر الله بیشکه! چي زه راوړونکی یم تاسی ته د علمی سند ښکاره واضح. او چي بیشکه! زه پناه نیسم

بِرَبِّیْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۰﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِیْ

بِرَبِّیْ	وَرَبِّكُمْ	اَنْ	تَرْجُمُوْنِ	وَاِنْ	لَّمْ تُؤْمِنُوْا	لِیْ
په رب خپل	او په رب ستاسی	له دی څخه	چي سنګسار کړئ تاسی ما	او که	ایمان نه راوړئ تاسی	پر ما

په رب خپل او په رب ستاسی له دی څخه چي سنګسار کړئ تاسی ما. او که ایمان نه راوړئ (ای فرعونیانو) تاسی پر ما

فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿۲۱﴾ فَدَعَا رَبَّهٗۤ اَنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾ الثلثة

فَاعْتَزِلُوْنِ	فَدَعَا	رَبَّهٗۤ	اَنَّ	هٰۤؤُلَآءِ	قَوْمٌ	مُّجْرِمُوْنَ
نو جلا سئ زما څخه	پس دعاء وکړه	رب خپل ته	داسی چي بیشکه!	دغه (قبطیان)	یو قوم دی	ګنهګاران

پس پر څنګ سئ زما څخه. پس دعاء وکړه (موسیٰ) رب خپل ته داسی چي بیشکه! دغه (قبطیان) یو قوم دی ګنهګاران.

فَاَسْرِ بِعِبَادِیْ لَیْلًا اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ

فَاَسْرِ	بِعِبَادِیْ	لَیْلًا	اِنَّكُمْ	مُّتَّبَعُوْنَ	وَاتْرُكِ	الْبَحْرَ
پس بوځه	بندګان زما	دشپی	بیشکه! ستاسو	تعاقب به کیږی	او پریږده	دریاب

(نو فرمائی الله موسیٰ ته) پس بوځه بندګان زما دشپی بیشکه! تاسی متبوع یئ (دقبطیانو). او پریږده دبحر

رَهْوًا ؕ اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۴﴾ كَمْ تَرَكُوْا مِنْ جَنّٰتٍ

رَهْوًا	اِنَّهُمْ	جُنْدٌ	مُّغْرَقُوْنَ	كَمْ تَرَكُوْا	مِنْ جَنّٰتٍ
ولاړ	بیشکه! دوی	لښکری دی	ډوبی کړی سوی	څومره ډیر پریښودل دوی	له باغونو

ولاړ (ساکن کوڅی کوڅی) بیشکه! دوی لښکری دی ډوبی کړی سوی. څومره ډیر پریښودل دوی له باغونو

وَاِنِّیْ عُذْتُ بِرَبِّیْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ... دفرعون دشړیه مقابل کي حضرت موسی علیه السلام دالله جل جلاله څخه پناه واخیسته: یعني زه دخپل پروردګار او ستاسو دپروردګار څخه پناه غواړم ددې څخه چي تاسي مارجم کړی: درجم معنی په ډبرو ویشتل او هلاکول هم دي او چاته ښکنځل او ردي بدي ویل هم دي: دلته دواړي معناوي مراد دي ځکه چي کیدای سي چي دفرعون قوم موسی علیه السلام ته دقتل اخطار هم ورکړی وي: واترک البحر رهواً. او دریاب دسکون په حالت کي پریږده: درهو معنی ده سکون په اصل کي دحضرت موسی علیه السلام او دده دملګرو طبعي خواهش داسي پکار ووچي ددوی دپوري وتو څخه وروسته دي دریاب پر خپل اصلي حالت سي چي دفرعون لښکر راپوري نه وځي په دې وجه الله جل جلاله دوی خبردار کړل چي تاسي پوري وځی نو سمندر پر خپل حالت ساکن پریږدی او داوبو ددوباره جاري کیدو فکر مه کوی چي فرعون به په دریاب کي وچه جوړه سوې لاره ویني نو دسمندر مینځ ته به ورسیږي هغه وخت به موږ دریاب پر رابند کړو. (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۰۸)

وَّعُيُوۡنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوۡعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيۡمٍ ﴿۲۶﴾ وَّنَعۡمَةٍ كَانُوۡا

وَّعُيُوۡنٍ	وَّزُرُوۡعٍ	وَّمَقَامٍ	كَرِيۡمٍ	وَّنَعۡمَةٍ	كَانُوۡا
او (له) چينو	او (له) فصلونو	او ځايونو	ښائسته	او (له) نعمتونو	چې وو دوی

او (له) چينو او (له) فصلونو او ځايونه عمده مخصوص ښائسته او (له) نعمتونو چې وو دوی

فِيۡهَا فٰكِهِيۡنَ ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ ۖ وَاَوۡرَثۡنٰهَا قَوۡمًا اٰخَرِيۡنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا

فِيۡهَا	فٰكِهِيۡنَ	كَذٰلِكَ	وَاَوۡرَثۡنٰهَا	قَوۡمًا	اٰخَرِيۡنَ	فَمَا
په هغو كښې	خوشحالي كوونكي	همداسې	او په ميراث مو وركړل هغه	قوم	بل ته	پس ونه

په هغو كښې خوشحالي خوندور. همداسې (هلاک کوو موږ) او په ميراث مو وركړل (دغه شيان) قوم بل ته. پس ونه

بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ السَّمَآءُ وَالۡاَرۡضُ وَمَا كَانُوۡا مُنۡظَرِيۡنَ ﴿۲۹﴾ ع ۲۹ ۱۴

بَكَتۡ	عَلَيۡهِمُ	السَّمَآءُ	وَالۡاَرۡضُ	وَمَا كَانُوۡا	مُنۡظَرِيۡنَ
ژړل	پر دوی باندی	آسمانونو	او مځكې	او نه وو دوی	مهلت وركړ سوی

ژړل پر دوی باندی آسمانونو او مځكې، او نه وو دوی مهلت وركړ سوی.

وَلَقَدۡ نَجَّيۡنَا بَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ مِنَ الۡعَذَابِ الۡمُهِيۡنِ ﴿۳۰﴾

وَلَقَدۡ	نَجَّيۡنَا	بَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ	مِنَ الۡعَذَابِ	الۡمُهِيۡنِ
او خامخا په تحقيق	نجات مو وركړ	بني اسرائيلو ته	له عذاب	سپكوونكي

او خامخا په تحقيق نجات مو وركړ بني اسرائيلو ته له عذاب سپكوونكي.

مِنۡ فِرۡعَوۡنَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ

مِنۡ فِرۡعَوۡنَ	اِنَّهٗ	كَانَ	عَالِيًا	مِّنَ الۡمُسۡرِفِيۡنَ	وَلَقَدِ
چې له فرعون وو	بيشكه! دغه	وو	سركشه، متكبر	له حده تيريدونكي	او خامخا په تحقيق

چې له (طرفه د) فرعون وو بيشكه! دغه (فرعون) وو سركشه متكبر له حده تيريدونكي، او خامخا په تحقيق

اخۡتَرۡنٰهُمۡ عَلٰى عِلۡمٍ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۳۲﴾ وَاٰتَيۡنٰهُمۡ مِّنَ

اخۡتَرۡنٰهُمۡ	عَلٰى عِلۡمٍ	عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ	وَاٰتَيۡنٰهُمۡ	مِّنَ
غوره كړي مو وه دوی	په علم خپل	پر خلكو	او وركړ مو كړ دوی ته	له

غوره كړي مو وه دغه (بني اسرائيل) په علم خپل پر خلكو (دزماني د دوی)، او وركړ مو كړ دوی ته له

فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ السَّمَآءُ وَالۡاَرۡضُ.. دمځكې او اسمان ژړل: پس پر دوی نه آسمان او نه مځكې وژړل. مطلب دادی چې دوی پر مځكه داسې نيک عمل نه وو كړی چې پر مرگ يې مځكه وژاړي او نه د دوی څه نيک عمل آسمان ته رسيدلی وو چې آسمان پر وژاړي او داخبره په ډيرو روايتونو سره ثابته ده چې دچا نيک بنده پر مرگ باندې آسمان او مځكې ژاړي: دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په اسمان كې دهر بنده دپاره دوې دروازې مقرري دي پر يوه دده رزق رانازليږي. او پر دوهمه دده عمل او دده خبرې لوړې رسيږي چنانچې كله دغه بنده مړسي نو دادواړې دروازې دی يادوي او ژاړي ددې څخه وروسته نبي كريم صلى الله عليه وسلم په طور د استشهاد دا آيت تلاوت وفرمايي چې: فما بكت عليهم السمآء والارض. دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه هم ددې قسمه روايتونه نقل سوي دي: دحضرت علي رضي الله عنه څخه هم نقل دي چې دنيک سړي پر مرگ باندې اسمان او مځكه ژړاه كوي.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۰۸)

الْاٰيٰتِ مَا فِيْهِ بَلٰٓـؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿۳۳﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۳۴﴾

الْاٰيٰتِ	مَا فِيْهِ	بَلٰٓـؤٌا	مُّبِيْنٌ	اِنَّ	هٰٓؤُلَآءِ	لَيَقُوْلُوْنَ
دلائلو	هغه چي په هغو کښې	ازمائش	ښکاره وو	بيشکه!	دغه (کفار)	خامخا وايئ

دلائيلو هغه (نعمت) چي په هغو کښې ازمائش مدد ؤ ښکاره وو . بيشکه! دغه (کفار) خامخا وايئ

اِنْ هِيَ اِلَّا مَوْتَتُنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُنْشَرِيْنَ ﴿۳۵﴾

اِنْ هِيَ	اِلَّا	مَوْتَتُنَا	الْاُوْلٰى	وَمَا نَحْنُ	بِمُنْشَرِيْنَ
چي نه دى دغه عاقبت زموږ	مګر	هم دا مرګ زموږ دى	اولنى	او نه يو موږ	راپورته کړى سوى

چي نه دى دغه عاقبت زموږ مګر هم دا اولنى مرګ زموږ دى (په دنيا کښې) او نه يو موږ راپورته کړى سوى (له قبرونو)

فَأْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۶﴾ اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ

فَأْتُوْا	بِاٰبَآئِنَآ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	اَهُمْ	خَيْرٌ	اَمْ قَوْمُ
پس راولئ	پلرونه زموږ	که چيرى يئ تاسي	رښتيني	آيا دوى (قريش)	غوره دى	که قوم

پس (ژوندى) راولئ پلرونه زموږ که چيرى يئ تاسي رښتيني ،آيا دغه (قريش) غوره دى که قوم

تُبَّعٍ وَّالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ اَهْلَكْنٰهُمْ اِنَّهُمْ كَانُوْا

تُبَّعٍ	وَّالَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	اَهْلَكْنٰهُمْ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا
دتبع	او هغه کسان	چي پخوا تير سوي وو له دوى څخه	هلاک کړل موږ دوى	بيشکه! دوى	وو

د (تبع) ؟ او هغه کسان چي پخوا تير سوي وو له دغو (قوم دتبع) هلاک کړل موږ دوى بيشکه! دوى وو

مُجْرِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

مُجْرِمِيْنَ	وَمَا خَلَقْنَا	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَمَا
ګنهګاران	او نه دى پيدا کړى موږ	آسمانونه	او ځمکه	او ټول هغه شيان

ګنهګاران ، او نه دى پيدا کړى موږ آسمانونه او ځمکه او ټول هغه شيان

بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ

بَيْنَهُمَا	لٰعِبِيْنَ	مَا خَلَقْنٰهُمَآ	اِلَّا	بِالْحَقِّ	وَلٰكِنَّ
چي په مينځ د دغو دواړو کښې دى	حال دا چي لوبى کوونکي يو	نه دى پيدا کړى موږ دغه دواړه	مګر	په حقه سره	او ليکن

چي په مينځ د دغو دواړو کښې دى . حال دا چي لوبى کوونکي يو نه دى پيدا کړى موږ دغه دواړه مګر په حقه سره او ليکن

فَأْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ.. دمکي دکفارو يوه احمقانه او پر تعصب باندي بنا غوښتنه : که تاسي رښتيني ياست نو زموږ پلرونه او نيکه ګان راولئ. په دغه آيت کي الله ﷻ دمکي دکفارو هغه غوښتنه ذکر کړي ده کمه چي دوى دنبي کريم ﷺ څخه کړي وه چي که تاسي دخپل نبوت او رسالت په دعوى کي رښتيني ياست نوزموږ پلرونه او نيکه ګان راژوندي کړى :قرآن کريم ددوى ددې اعتراض جواب نه دى ورکړى ځکه چي دا بالکل ظاهره وه او هغه دا چي دتولو انسانانو ددوباره ژوند دعوه په آخرت کي کيداى سي هغه وخت بـه الله ﷻ تولـه ژوندي کوي په دنيا کي مرګ او ژوند دمخصوصو قوانينو او مصلحتونو پابيند دى کـه الله ﷻ دا وخت چاته هم دوهم ژوند ورنه کړي نو داددي خبرى دليل څنګه جوړيداى سي چي په آخرت کي به هم هغه دوباره ژوندى نه سي : په منطقي اصطلاح کي ددې جواب داسي تعبير کيږي چي دمقيد عدم وقوع دمطلق عدم وقوع لره مستلزم کيداى نه سي. فهوالخالق الباري المصوّر (معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص ۱۱۱)

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ مِيْقَاتُهُمْ

اَكْثَرَهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	اِنَّ	يَوْمَ	الْفَصْلِ	مِيْقَاتُهُمْ
زياتره دوی (مشرکانو)	نه پوهيږی	بيشکه!	ورځ	دفيصلی ،	وعده د دوی ده

زياتره دوی (مشرکانو) نه پوهيږی. بيشکه! ورځ د فيصلی وعده (دجمع کولو) د دوی ده

اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٠﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْـًٔا وَّلَا

اَجْمَعِيْنَ	يَوْمَ	لَا يُغْنِيْ	مَوْلًى	عَنْ مَّوْلًى	شَيْـًٔا	وَّلَا
دټولو	هغه ورځ	چی دفع به نسی کولی	هيڅ دوست	له دوست خپل څخه	هيڅ شی	او نه به

دټولو .هغه ورځ چی دفع به نسی کولی هيڅ دوست خپلوان له دوست خپل څخه هيڅ شی (له عذابه) او نه به

هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤١﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ

هُمْ	يُنْصَرُوْنَ	اِلَّا	مَنْ رَّحِمَ	اللّٰهُ	اِنَّهٗ	هُوَ الْعَزِيْزُ
له دوی سره	مرسته وکړی سی	مگر	هغه څوک چی رحم پری وکړی	الله	بيشکه! الله	هم دی دی بنه غالب قوی

له دوی سره مرسته وکړی سی. مگر هغه څوک چی رحم پری وکړی الله (مؤمنان دی) بيشکه! الله هم دی دی بنه غالب قوی

الرَّحِيْمُ ﴿٤٢﴾ اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْاَثِيْمِ ﴿٤٤﴾

الرَّحِيْمُ	اِنَّ	شَجَرَتَ	الزَّقُّوْمِ	طَعَامُ	الْاَثِيْمِ
ډير رحم والا	بيشکه!	درخته	دزقوم	طعام ، خواړه	دګنهګارانو دی

ډير رحم والا. بيشکه! (ميوه د) ونی د زقوم طعام خواړه د (ډير لويو) ګنهګارانو دی.

كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ الْحَمِيْمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوْهُ

كَالْمُهْلِ	يَغْلِيْ	فِي الْبُطُوْنِ	كَغَلْيِ	الْحَمِيْمِ	خُذُوْهُ
په شان د مس ويلی کړی سوی	چی ايشيږی	په نسونو کښی	په شان د ايشيدلو	اوبو خوټيدونکو	ونيسئ دی

په شان د مس (او ژير) ويلی کړی سوی چی ايشيږی په ګيډو کښی په شان د ايشيدلو اوبو خوټيدونکو ، ونيسئ دی

فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ رَاْسِهٖ

فَاعْتِلُوْهُ	اِلٰى سَوَآءِ	الْجَحِيْمِ	ثُمَّ	صُبُّوْا	فَوْقَ	رَاْسِهٖ
پس راکاږئ دی	برابر مينځ	د دوزخ ته	بيا	ورتوئ کړئ	لوړ	پر سر د ده

پس راکاږئ دی برابر مينځ د دوزخ ته . بيا ورتوئ کړئ پاس پر سر د ده

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ. مځکي او اسمانونه الله جل جلاله په خپل حکمت سره جوړ کړي دي: الله جل جلاله فرمايي چي موږ دادواړه يعني مځکي او آسمانونه په څه حکمت سره جوړ کړي دي ليکن اکثره خلگ نه په پوهيږي: مطلب دادی چي که په چا کي دسوچ او فکر والا عقل وي نو آسمانونه او مځکي او په دي کي چي کم مخلوقات پيدا سوي دي هغه ټول پر ډيرو حقيقتونو باندي دلالت کوي مثلاً يوخو پر قدرت خداوندي باندي. دوهم دآخرت پر امکان ځکه چي کم ذات داعظيم الشان اجسام دعدم څخه وجود ته راوستل هغه يقينا په دې خبره هم قادر دی چي دوی يو وار فناکړي او دوباره يي پيدا کی.دريم دجزاءاو سزا پر ضرورت باندي که چي که دآخرت جزا او سزا نه وي نو داټوله کارخانه دوجود بيکاره کيږي ددې دپيداکولو خو حکمت دادی چي دا دارالامتحان جوړ سي او ددې څخه وروسته په آخرت کي جزا او سزا ورکول سي کنه نو دنيک او بد دواړوانجام يو کيدل لازميږي کم چي دالله جل جلاله دشان څخه بعيد دی.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۱۳)

ع ۲
۱۳
۱۵

مِنۡ عَذَابِ الۡحَمِيۡمِ ﴿٤٨﴾ ذُقۡ ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡكَرِيۡمُ ﴿٤٩﴾

مِنۡ عَذَابِ	الۡحَمِيۡمِ	ذُقۡ	اِنَّكَ	اَنۡتَ	الۡعَزِيۡزُ	الۡكَرِيۡمُ
له عذابه	دایشیدلو اوبو	وڅکه	بیشکه! ته	هم دغه ته	عزتمن،	غښ، مشروی

له عذابه د ایشیدلو اوبو. (وبه ویل سی ده ته) وڅکه (دغه عذاب) بیشکه! ته هم دغه ته عزتمن غښ مشر (کافر) وی.

اِنَّ هٰذَا مَا كُنۡتُمۡ بِهٖ تَمۡتَرُوۡنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ مَقَامٍ

اِنَّ	هٰذَا	مَا كُنۡتُمۡ	بِهٖ	تَمۡتَرُوۡنَ	اِنَّ	الۡمُتَّقِيۡنَ	فِىۡ مَقَامٍ
بیشکه !چی	دغه عذاب	هغه دی چی وئ تاسی	چی په ده کښی به مو	شک کاوه	بیشکه!	چی متقیان به	په ځای

بیشکه! چی دغه عذاب هغه دی چی وئ تاسی چی په ده کښی به مو شک کاوه. بیشکه! چی متقیان به په ځای

اَمِيۡنٍ ﴿٥١﴾ فِىۡ جَنّٰتٍ وَّعُيُوۡنٍ ۚ ﴿٥٢﴾ يَّلۡبَسُوۡنَ مِنۡ سُنۡدُسٍ

اَمِيۡنٍ	فِىۡ	جَنّٰتٍ	وَّعُيُوۡنٍ	يَّلۡبَسُوۡنَ	مِنۡ سُنۡدُسٍ
دامن کښی وی	په	جنتونو	او چینو کښی	چی اغوندی به	له وریښمو نازکو

دامن کښی وی. په جنتونو او چینو کښی. چی اغوندی به (دوی جامی) له وریښمو نازکو

وَّاِسۡتَبۡرَقٍ مُّتَقٰبِلِيۡنَ ﴿٥٣﴾ كَذٰلِكَ ۟ وَزَوَّجۡنٰهُمۡ

وَّاِسۡتَبۡرَقٍ	مُّتَقٰبِلِيۡنَ	كَذٰلِكَ	وَزَوَّجۡنٰهُمۡ
او له وریښمو پنډو	چی سره مخامخ به ناست وی	همداسی به وی	او ملګری به کړو موږ دوی

او له وریښمو پیړو (غټو) په دی حال کښی چی سره مخامخ به ناست وی. همداسی به وی او ملګری به کړو موږ دوی

بِحُوۡرٍ عِيۡنٍ ﴿٥٤﴾ يَدۡعُوۡنَ فِيۡهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ

بِحُوۡرٍ	عِيۡنٍ	يَدۡعُوۡنَ	فِيۡهَا	بِكُلِّ	فَاكِهَةٍ
له پیغلو سپینو پوستو	غټو سترګو سره	غواړی به دوی	په دغه کښی	له هر قسم	میوی

له پیغلو سپینو پوستو غټو (بنایسته) سترګو سره. غواړی به دوی په دغه (جنت) کښی له هر قسم میوی حال داچی

اٰمِنِيۡنَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوۡقُوۡنَ فِيۡهَا الۡمَوۡتَ اِلَّا الۡمَوۡتَةَ

اٰمِنِيۡنَ	لَا يَذُوۡقُوۡنَ	فِيۡهَا	الۡمَوۡتَ	اِلَّا	الۡمَوۡتَةَ
په امن کښی به وی	نه به څکی دوی	په دغه کښی	مرګ	مګر	خو هغه مرګ (چی تیر سوی دی)

په امن کښی به وی له (ضرر). نه به څکی دوی په دغه جنت کښی مرګ مګر خو هغه مرګ (چی تیرسوی دی په دنیا کی)

اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِىۡ مَقَامٍ اَمِيۡنٍ..دجنت دهمیشه نعمتونو بیان: په دغه آیاتونو کي دجنت دهمیشه نعمتونو طرف ته اشاره سویده او تقریبا دنعمتونو ټول قسمونه یي جمع کړي دي ځکه چي دانساني ضرورت شیان عموما داوي.۱ داوسیدو عمده ځای.۲ عمده لباس، ۳ دژوند بهترین ملګری، ۴ بهترین خوراکونه، ۵ بیا ددي ټولو نعمتونو دباقي پاته کیدو ضمانت ۶ او درنځ او تکلیف څخه په کلي طور سره دامن داوسیدو یقین: دلته یي داشپږ واړه خبري دجنتیانو دپاره ثابتي کړي دي لکه چي په دې شپږو خبرودفکرکولو څخه صفا ظاهره ده.دلته یي د جنتیانو داوسیدو ځای ته امن وویل او دې طرف ته یي هم اشاره وفرمایل چي دانسان داوسیدو دځای دټولو څخه قابل تعریف صفت ددې پر امن کیدل یعني دخطراتو څخه محفوظ کیدل دي: سُنۡدُسٍ واستبرق.دادواړه د وریښمو دجامونو مونه دي سُنۡدُس دنرمو وریښمو جامه ده او استبرق دپنډو وریښمو:یعني جنتیانو ته به ددغه دواړو قسمونو جامې ورپه تن کیږي الخ. (معارف القرآن ج۹پ۲۵ص۱۱۶)

الْاُوْلٰى ۚ وَوَقٰىهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۵۶﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ

مِّنْ رَّبِّكَ	فَضْلًا	الْجَحِيْمِ	عَذَابَ	وَوَقٰىهُمْ	الْاُوْلٰى
له طرفه د رب ستا	له جهته د فضل	د دوزخ څخه	له عذابه	او وبه ساتی (الله) دوی	مخکنی

مخکنی (اولنۍ)، او وبه ساتی (الله) دوی له عذابه د دوزخ څخه له جهته د فضل له طرفه د رب ستا

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۵۷﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ

بِلِسَانِكَ	يَسَّرْنٰهُ	فَاِنَّمَا	الْعَظِيْمُ	هُوَ الْفَوْزُ	ذٰلِكَ
په ژبه ستا	چي آسان کړی مو دی دغه (قرآن)	پس بیشکه! هم دا خبره ده	ډیر لوی	هم دا بری دی	دغه


دغه (انعام او اکرام) هم دا بری دی ډیر لوی. پس بیشکه! هم دا خبره ده چي آسان کړی مو دی دغه (قرآن) په ژبه ستا

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿۵۹﴾ ع

مُّرْتَقِبُوْنَ	اِنَّهُمْ	فَارْتَقِبْ	يَتَذَكَّرُوْنَ	لَعَلَّهُمْ
هم منتظر دی	بیشکه! دوی	پس منتظر اوسه ته	پند واخلی	دپاره د دي چي دوی

دپاره د دي چي دوی پند واخلی (ښه وپوهیږی). پس منتظر اوسه ته بیشکه! دوی هم منتظر دی (هلاک د تاته).

۳ ع ۱۷ ۱۲



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ اِنَّ

اِنَّ	الْحَكِيْمِ	الْعَزِيْزِ	مِنَ اللّٰهِ	الْكِتٰبِ	تَنْزِيْلُ	حٰمٓ
بیشکه!	ښه حکمت والا دی	چي ډیر غالب قوی	له طرفه د الله دی	د کتاب	نازلیدل	حا، میم

حا، میم. نازلیدل د کتاب له طرفه د الله دی چي ډیر غالب قوی دی ښه حکمت والا دی. بیشکه!

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳﴾ وَفِيْ

وَفِيْ	لِّلْمُؤْمِنِيْنَ	لَاٰيٰتٍ	وَالْاَرْضِ	فِي السَّمٰوٰتِ
او په	مؤمنانو ته	خامخا ډیر دلائل دی	او په مځکی کښی	په (پیدا ئینت) د آسمانونو کښی

په (پیدا ئینت) د آسمانونو کښی او په مځکی کښی خامخا ډیر دلائل (د قدرت) دی مؤمنانو ته. او په

اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ. د قران کریم په دغه ایاتونو سره د توحید اثبات: دا پوره سورت مکي دی صرف یو قول دادی چي ایت: قُل للذين آمنوا يغفروا للذين لايرجون ايّام الله. مدني دی او باقي مکي دی لیکن د جمهورو قول دادی چي داټول سورت د هجرت څخه مخکي نازل سوی دی او د نورو مکي سورتونو په شان ددې بنیادي مضمون د عقیدو اصلاح ده چنانچي په دغه ایاتونو سره الله ﷻ د توحید اثبات کړی دی د دغه په شان ایاتونه په دوهمه پاره کي په رکوع: انّ في خلق السموات والارض. کي تیر سوی دی: په دواړو ځایونو کي چي د عنوان څه لږلږ فرق دی ددې متعلق نکتې علماء کرام د امام رازي رحمه الله په تفسیر کي کتلای سي. البته یوه خبره د ذکر قابله ده چي دلته د کائناتو مختلفي نښي یې بیان کړي دي یو ځای یې دا فرمایلي دي چي په دي کي د ایمان راوړنکو دپاره نښي دي بل ځای دا ارشاد دی چي د یقین کوونکو دپاره نښي دي په دي کي د تنوع د اسلوب څخه علاوه د دي طرف ته اشاره ده: پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾

خَلْقِكُمْ	وَمَا	يَبُثُّ	مِنْ دَآبَّةٍ	اٰيٰتٌ	لِّقَوْمٍ	يُّوْقِنُوْنَ
پیداکولو ستاسی کښې	او په هغه څه کښې	چې پاشلي دي	له هر قسم ذي روح	ډیر دلائل دي	دپاره دهغه قوم	چې یقین کوي

پیداکولو ستاسی کښې او په هغه څه کښې چې خواره کړي دي له هر قسم خوځیدونکو ډیر دلائل دي دپاره دهغه قوم چې یقین کوي

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ

وَاخْتِلَافِ	الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ	وَمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	مِنَ السَّمَآءِ	مِنْ رِّزْقٍ
او په اختلاف	دشپې	او دورځې	او په هغه کښې چې	نازل کړي دي	الله	له آسمانه	رزق

او په اختلاف د شپې او دورځې او په هغه کښې چې نازل کړي دی الله له (طرفه د) آسمان له (اسباب د) رزق

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ

فَاَحْيَا	بِهِ	الْاَرْضَ	بَعْدَ	مَوْتِهَا	وَتَصْرِيْفِ
پس (الله) ژوندی کړی ده	په دی سره	مځکه	پس له	مرګه دهغې	او په بدلولو

(باران، حرارت)، پس (الله) ژوندی کړی ده په دی (اوبو) سره مځکه پس له مرګه (وچوالی) د هغې او په بدلولو

الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۵﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا

الرِّيٰحِ	اٰيٰتٌ	لِّقَوْمٍ	يَّعْقِلُوْنَ	تِلْكَ	اٰيٰتُ	اللّٰهِ	نَتْلُوْهَا
دبادونو کښې	دلائل دی	دپاره دقوم	چې عقل چلوی	دغه	دلائل	دالله دی	چې وایو یې موږ

دبادونو کښې دلائل دی دپاره د (هغه) قوم چې عقل چلوی. دغه (علامی) دلائل (دقدرت) دالله دی چې وایو یې موږ

عَلَيْكَ بِالْحَقِّ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾

عَلَيْكَ	بِالْحَقِّ	فَبِاَيِّ	حَدِيْثٍ	بَعْدَ	اللّٰهِ	وَاٰيٰتِهٖ	يُؤْمِنُوْنَ
پرتا باندی	په حقه سره	پس پر کومه	یوه خبره	پس له (خبری)	دالله	او پس له دلایلو دالله	ایمان به راوړی دوی

پر تا باندی په حقه سره پس پر کومه یوه خبره پس له (خبری) دالله (قرآن) او پس له دلایلو دالله ایمان به راوړی دوی؟

وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ﴿۷﴾ يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى

وَيْلٌ	لِّكُلِّ	اَفَّاكٍ	اَثِيْمٍ	يَّسْمَعُ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	تُتْلٰى
افسوس، خرابی ده	هر	دروغ ترونکی	ګنهګارته	چې آوری	آیتونه	دالله	چې لوستل کیږی

خرابی هلاک افسوس دی هر دروغ ترونکی ګنهګار ته چې آوری آیتونه دالله چې لوستل کیږی

وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنْزَلَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: چې ددې نښو څخه فائده خو هغه اخیستی سي کم چې ایمان راوړي دوهم نمبر دادهغه خلګو دپاره مفید کیدای سي کم چې برابره خبره ده که فورا آیمان رانه وړي لیکن ددوی په زړونو کي یقین پیدا سي چې دا شیان پر توحید دلالت کوي ځکه چې دا یقین یوه نه یوه ورځ دایمان سبب جوړیدای سي او په دریمه درجه کي دهغو خلګو دپاره مفید دی کم چې برابره خبره ده که فی الحال نه مومن وي نه یقین کوونکی لیکن عقل سلیم لري او په دي کي په بصیرت سره فکر وکي ځکه چې په عقل او بصیرت سره کله هم په دې نښوباندي فکر وسي آخر په دې سره ایمان او یقین ضرورو پیداکیږي البته کم خلګ چې عقل سلیم نه لري یا په دې معاملاتو کي عقل لره تکلیف ورکول نه برداشت کوي ددوی په مخکي که په زرګونو دلیلونه پیش سي ټول به ناکافي وي چې ددې ښه مثال دمکې کفار دي چې دهر څه واضحو دلائلو باوجود یي دتعصب او ضد څخه کار واخیستی.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۱۹)

عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرًا كَاَنۡ لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا

لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا	كَاَنۡ	مُسۡتَكۡبِرًا	يُصِرُّ	ثُمَّ	عَلَيۡهِ
يئ نه دی آوريدلی هغه	لكه چي	چي متكبر دی	لا ښه كلك سی	بيا	پر ده

پر ده بيا لا ښه كلك سی (په كفر خپل) په دی حال كښي چي متكبر دی لكه چي ئی نه دی آوريدلی هغه (آيتونه)،

فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۝٨ وَاِذَا عَلِمَ مِنۡ اٰيٰتِنَا شَيۡـًٔاۨ اتَّخَذَهَا

اتَّخَذَهَا	شَيۡـًٔا	مِنۡ اٰيٰتِنَا	عَلِمَ	وَاِذَا	اَلِيۡمٍ	بِعَذَابٍ	فَبَشِّرۡهُ
نو نيسی يئ هغه	پر يوه څه شي	له آيتونو زموږ	پوه سی	او كله چي	دردناک سره	په عذاب	پس زيری ور كړه ده ته

پس زيری ور كړه ده ته په عذاب دردناک سره. او كله چي پوه سی له آيتونو (دقرآن) زموږ پر يوه څه شي نو نيسی يئ

هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِيۡنٌ ۝٩ مِنۡ وَّرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُ ۚ

جَهَنَّمُ	مِنۡ وَّرَآئِهِمۡ	مُّهِيۡنٌ	عَذَابٌ	لَهُمۡ	اُولٰٓئِكَ	هُزُوًا
دوزخ دی	وروسته له (مرګه) د دوی	سپكوونكی	عذاب	سته دوی ته	دغه	په ټوكو،

په ټوكو، مسخرو دغه سته دوی ته عذاب سپكوونكی. وروسته له (مرګه) د دوی دوزخ دی

وَلَا يُغۡنِيۡ عَنۡهُمۡ مَّا كَسَبُوۡا شَيۡـًٔا وَّلَا مَا اتَّخَذُوۡا

وَّلَا مَا اتَّخَذُوۡا	شَيۡـًٔا	مَّا كَسَبُوۡا	عَنۡهُمۡ	وَلَا يُغۡنِيۡ
او نه هغه بتان چي نيولی دی دوی	هيڅ شي	هغه شي چي كسب كړی وی دوی	له دوی څخه	او دفعه به نه كړی

او دفعه به نه كړی له دوی څخه هغه شي چي كسب كړی وی دوی هيڅ شي (له عذابه) او نه هغه بتان چي نيولی دی دوی

مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اَوۡلِيَآءَ ۚ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝١٠ هٰذَا

هٰذَا	عَظِيۡمٌ	عَذَابٌ	وَلَهُمۡ	اَوۡلِيَآءَ	اللّٰهِ	مِنۡ دُوۡنِ
دغه (قرآن كامل)	ډير لوی	عذاب	او سته دوی ته	دوستان	الله	بی له

بی له الله دوستان (معبودان)، او سته دوی ته عذاب ډير لوی (د دوزخ) دغه (قرآن كامل)

هُدًى ۚ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ عَذَابٌ

عَذَابٌ	لَهُمۡ	رَبِّهِمۡ	بِاٰيٰتِ	كَفَرُوۡا	وَالَّذِيۡنَ	هُدًى
عذاب	سته دوی ته	درب خپل	په آيتونو	چي كافران سوی دی	او هغه كسان	هدايت دی

هدايت دی او هغه كسان چي كافران سوی دی په آيتونو درب خپل سته دوی ته عذاب

عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرًا كَاَنۡ لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا..لوی به خرابي دي هغه چالره وي كم چي درواغجن وي: ويل لكلّ افاک اثيم: ددې آيت په شان نزول كي ډير روايتونه دي دځينو څخه معلوميږي چي دا د نضر بن حارث په شان كي نازل سوی دی.په ځينو كي دي چي دحارث ابن كلده په باره كي نازل سوی دی: او دځينو بياوينا داده چي ددې څخه مراد ابوجهل او دده ملګري دي :قرطبي. او په حقيقت كي دقرآني مطلب دوضاحت دپاره ديو سري دمتعين كولو ضرورت نسته دكُل لفظ دا ښيي چي برابره خبره ده كه دآيت دنزول په وروسته منظر كي دادري واړه افراد وي ليكن مراد هر هغه سړی دی كم چي دا سي صفتونه لري من ورآئهم جهنم دوراء لفظ په عربي كي دشا ته دپاره زيات او دمخ ته دپاره كم استعماليږي ليكن اكثره مفسرينو دلته دمخكي معنی كړيده. البته ځيني مفسرينو بيا دلته د شا ته ترجمه كړيده او مطلب يي دا اخيستی دی چي په دنيا كي چي دوی دكبراو غرورژوند تيروي په هغه پسي شا ته جهنم راتلونكی دی. (معارف القرآن ج۹پ۲۵ص۱۲۰)

ع ۱۱/۱۷

مِّنۡ رِّجۡزٍ اَلِيۡمٌ ﴿١١﴾ اَللّٰهُ الَّذِيۡ سَخَّرَ لَكُمُ الۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ

مِّنۡ رِّجۡزٍ	اَلِيۡمٌ	اَللّٰهُ	الَّذِيۡ	سَخَّرَ	لَكُمُ	الۡبَحۡرَ	لِتَجۡرِيَ
له عذابه	دردرسوونکی څخه	الله	هغه دی	چی تابع کړی یې دی	تاسی ته	دریاب	دپاره ددی چی ګرځی

له (هغه ډیر سخت) عذاب درد رسوونکی څخه. الله هغه (ذات) دی چی تابع کړی یې دی تاسی ته بحر دپاره ددی چی ګرځی

الۡفُلۡكُ فِيۡهِ بِاَمۡرِهٖ وَلِتَبۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِهٖ وَلَعَلَّكُمۡ

الۡفُلۡكُ	فِيۡهِ	بِاَمۡرِهٖ	وَلِتَبۡتَغُوۡا	مِنۡ فَضۡلِهٖ	وَلَعَلَّكُمۡ
کشتی	په دغه کښی	په حکم دالله سره	او دپاره ددی چی طلب کوئ تاسی	له فضله دالله	او دپاره ددی چی تاسی

کشتی په دغه (بحر) کښی په امر، حکم دالله سره، او دپاره ددی چی طلب کوئ تاسی له فضله دالله او دپاره ددی چی تاسی

تَشۡكُرُوۡنَ ﴿١٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمۡ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

تَشۡكُرُوۡنَ	وَسَخَّرَ	لَكُمۡ	مَّا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا
یئ شکر وباسئ	او تابع کړی یې دی	تاسی ته	هر هغه شیان	چی په آسمانونو کښی دی	او هر هغه شیان چی

یئ شکر وباسئ. او مسخر، تابع کړی یې دی تاسی ته هر هغه شیان چی په آسمانونو کښی دی او هر هغه شیان چی

فِي الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا مِّنۡهُ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ

فِي الۡاَرۡضِ	جَمِيۡعًا	مِّنۡهُ	اِنَّ	فِيۡ ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّقَوۡمٍ
په ځمکه کښی دی	ټول	له طرفه دالله دی	بیشکه	په دغه کښی	خامخا لوی دلائل دی	دپاره د هغه قوم

په ځمکه کښی دی ټول (مسخر) له طرفه دالله دی. بیشکه! په دغه کښی خامخا لوی دلائل (دقدرت) دی دپاره دهغه قوم

يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿١٣﴾ قُلۡ لِّلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يَغۡفِرُوۡا لِلَّذِيۡنَ

يَّتَفَكَّرُوۡنَ	قُلۡ	لِّلَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	يَغۡفِرُوۡا	لِلَّذِيۡنَ
چی فکر کوی	ووایه (محمده!)	هغو کسانو ته	چی ایمان یې راوړی دی	چی مغفرت وکړی	هغو کسانو ته

چی فکر کوی. ووایه (ای محمده!) هغو کسانو ته چی ایمان یې راوړی دی چی مغفرت وکړی (د آزار) هغو کسانو ته

لَا يَرۡجُوۡنَ اَيَّامَ اللّٰهِ لِيَجۡزِيَ قَوۡمًا ۢ بِمَا كَانُوۡا يَكۡسِبُوۡنَ ﴿١٤﴾

لَا يَرۡجُوۡنَ	اَيَّامَ	اللّٰهِ	لِيَجۡزِيَ	قَوۡمًا	بِمَا كَانُوۡا	يَكۡسِبُوۡنَ
چی امید نه لری	دورځو دحوادثو	دالله	دپاره د دی چی جزاء ورکړی	هغه قوم ته	پر هغه چی وو دوی	چی کسب کوله یئ

چی امید نه لری د ورځو دالله، دپاره ددی چی جزاء ورکړی (الله) هغه قوم ته پر هغه چی وو دوی چی کسب کوله یئ.

قُلۡ لِّلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا يَغۡفِرُوۡا لِلَّذِيۡنَ لَا يَرۡجُوۡنَ..

وايمانداروته دعفوې او درګذر امر: ته ايماندارو ته ووايه چي دهغه خلګو څخه درګذرکوي کم چي دخدای ﷻ پر معاملاتو يقين نه لري: ددې آيت په شان نزول کي دوه روايتونه دي **اول روايت**: داچي په مکه مکرمه کي يو مشرک حضرت عمر رضي الله عنه ته بنکنځل کړي وه حضرت عمر رضي الله عنه ددې په بدله کي هغه ته دتکليف رسولواراده وفرمايله پر دې باندي دا آيت نازل سو: ددې روايت مطابق داايت مکي دی. **دوهم روايت**: دادی چي دغزوه بني مصطلق پر موقع نبي کريم ﷺ او ددوی اصحابو رضي الله عنهم دمريسيع نومي څاه په خوا کي هوسايي وکړه دمنافقينو سردار عبدالله ابن ابی ابن سلول هم دمسلمانانو په لښکر کي شامل وو ده خپل غلام څاه ته داوبو ډکولو اوراوړلو دپاره وليږی دغه غلام په راتلو کي ډير ځنډوکړی عبد الله ابن ابی پوښتنه ځني وکړه نو ده وويل چي دحضرت عمر رضي الله عنه يو غلام دڅاه پر غاړه ناست ووهغه چاته تر هغه پوري داوبو دډکولو اجازه نه ورکوله تر څوپوري چي يي: **پاته بيان پر راروان مخ وګوری**

مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ اَسَآءَ فَعَلَيۡهَا

مَنۡ عَمِلَ	صَالِحًا	فَلِنَفۡسِهٖ	وَمَنۡ	اَسَآءَ	فَعَلَيۡهَا
هر هغه څوک چي وکړي	نيک (کار)	نو دپاره دځان خپل	او هغه څوک چي	(وکړي) بد	پس پر هم ده دی

هر هغه څوک چي وکړي (کوم کار) نيک نو دپاره (دنفع) دځان خپل او هر هغه څوک چي (وکړي کوم) بد پس پر هم ده دی

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُوۡنَ ⑮ وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ

ثُمَّ	اِلٰى رَبِّكُمۡ	تُرۡجَعُوۡنَ	وَلَقَدۡ	اٰتَيۡنَا	بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ
بيا	خاص رب ستاسی ته به	بيول کيږئ	او خامخا په تحقيق	ورکړی وو موږ	بنی اسرائيلو ته

بيا خاص رب ستاسی ته به بيول کيږئ. او خامخا په تحقيق ورکړی وو موږ بنی اسرائيلو ته

الۡكِتٰبَ وَالۡحُكۡمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقۡنٰهُمۡ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ

الۡكِتٰبَ	وَالۡحُكۡمَ	وَالنُّبُوَّةَ	وَرَزَقۡنٰهُمۡ	مِّنَ الطَّيِّبٰتِ
کتاب	او حکم	او نبوت	او روزی ورکړه موږ وه دوی ته	له شيانو پاکو، حلالو

کتاب (تورات) او حکم او نبوت (موسیٰ او هارون ته) او روزی ورکړه موږ وه دوی ته له شيانو پاکو حلالو

وَفَضَّلۡنٰهُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ⑯ وَاٰتَيۡنٰهُمۡ بَيِّنٰتٍ

وَفَضَّلۡنٰهُمۡ	عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ	وَاٰتَيۡنٰهُمۡ	بَيِّنٰتٍ
او فضيلت ورکړی وو موږ دوی ته	پر خلکو	او ورکړی وو موږ دوی ته	ښکاره دلائل

او فضيلت ورکړی وو موږ دوی ته پر خلکو، او ورکړی وو موږ دوی ته ښکاره دلائل

مِّنَ الۡاَمۡرِ ۚ فَمَا اخۡتَلَفُوۡۤا اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ ۙ بَغۡيًا

مِّنَ الۡاَمۡرِ	فَمَا اخۡتَلَفُوۡۤا	اِلَّا	مِنۡۢ بَعۡدِ	مَا	جَآءَهُمُ	الۡعِلۡمُ	بَغۡيًا
له امره	پس و نه کړ اختلاف دوی	مگر	پس له	هغه چي	راغلی دوی ته	علم	له جهته دهغه ضد او عناد

له امره پس و نه کړ اختلاف مگر پس له هغه چي راغی دوی ته علم له جهته دهغه ضد او عناد

بَيۡنَهُمۡ ؕ اِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِىۡ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فِيۡمَا

بَيۡنَهُمۡ	اِنَّ	رَبَّكَ	يَقۡضِىۡ	بَيۡنَهُمۡ	يَوۡمَ	الۡقِيٰمَةِ	فِيۡمَا
چي وو په مينځ د دوی کښی	بيشکه!	رب ستا به	حکم وکړی	په مينځ د دوی کښی	په ورځ	دقيامت	په هغه شی کښی

چي وو په مينځ د دوی کښی بيشکه! رب ستا به حکم وکړی په مينځ د دوی کښی په ورځ دقيامت په هغه شی کښی

مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ اَسَآءَ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورئ: دنبي کريم ﷺ او دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه مشکيزې او منګي ډک کړي نه وي پر دې باندي عبدالله ابن ابی وويل چي پر موږ او پر دغو خلګو خو هغه مثال صادقه راځي چي ويلي دي: سمّن کلبک يأكلك. يعني خپل سپی چاغ کړه نو اخر به تا وخوري: حضرت عمر رضي الله عنه چي ددې څخه خبر سو نو هغه ووچي توره يي راواخيسته او دعبدالله ابن ابی طرف ته روان سو پر دې باندي دا آيت نازل سو ددې روايت مطابق بيا دا آيت مدني دی: قرطبي روح المعانی. ددغه روايتونو داسنادي تحقيق څخه که ددواړو صحت ثابت سي نو په دواړو کي تطبيق داسي کيدای سي چي په اصل کي دا آيت په مکه مکرمه کي نازل سوی وو بيا چي هر کله دغزوه بنی المصطلق پر موقع داسي قصه پيښه سوه نو نبي کريم ﷺ دا آيت پر هغه موقع تلاوت کړی او هغه کيدونکي واقعه يي په دي پوري منطبقه وفرمايله: دنور تفصيل لپاره معارف القرآن ته رجوع وکړی.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۲۱)

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۞ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ

كَانُوْا	فِيْهِ	يَخْتَلِفُوْنَ	ثُمَّ	جَعَلْنٰكَ	عَلٰى	شَرِيْعَةٍ
چې وو دوی	چې په هغه كښې به یئ سره	اختلاف كاوه	بیا	ومو گرځولی ته	(ولاړ) پر	شریعت پراخه لاره

چې وو دوی چې په هغه كښې به یئ سره اختلاف كاوه. بیا مو وگرځولی ته ولاړ پر شریعت پراخه لاره

مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞۱۸

مِّنَ الْاَمْرِ	فَاتَّبِعْهَا	وَلَا تَتَّبِعْ	اَهْوَآءَ	الَّذِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ
له كاره د دین	پس متابعت وكړه د هغه	او متابعت مه كوه	د آرزوگانو	د هغو كسانو	چې نه پوهیږی دوی

له كاره د دین، پس متابعت وكړه د هغه او متابعت مه كوه د آرزوگانو د هغو كسانو چې نه پوهیږی دوی (په حقیقت)

اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ

اِنَّهُمْ	لَنْ يُّغْنُوْا	عَنْكَ	مِنَ اللّٰهِ	شَيْـًٔا	وَاِنَّ	الظّٰلِمِيْنَ
بیشكه! چې دوی	له سره به دفعه نه كړی	تا له (عذابه د)	د الله څخه	هیڅ شی	او بیشكه! چې	ظالمان

بیشكه! چې دوی له سره به دفعه نه كړی تا له (عذابه د) د الله څخه هیڅ شی، او بیشكه! چې ظالمان

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ۞۱۹ هٰذَا

بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ	وَاللّٰهُ	وَلِيُّ	الْمُتَّقِيْنَ	هٰذَا
ځینې د دوی	دوستان دی	د ځینو نورو	او الله	دوست دی	د متقیانو	دغه (قرآن)

ځینې د دوی دوستان (كار جوړوونكی) دی د ځینو نورو او الله ولی دوست دی د متقیانو. دغه (قرآن)

بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۞۲۰ اَمْ

بَصَآئِرُ	لِلنَّاسِ	وَهُدًى	وَّرَحْمَةٌ	لِّقَوْمٍ	يُّوْقِنُوْنَ	اَمْ
پندونه دی	د پاره د خلكو	او هدایت دی	او رحمت دی	د پاره د هغه قوم	چې یقین راوړی	آیا

بصیرتونه پندونه دی د پاره د خلكو او هدایت لار ښوونه دی او رحمت دی د پاره د هغه قوم چې یقین راوړی. آیا

حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ

حَسِبَ	الَّذِيْنَ	اجْتَرَحُوْا	السَّيِّاٰتِ	اَنْ نَّجْعَلَهُمْ	كَالَّذِيْنَ
گمان كوی	هغه كسان	چې كړی دی	بد كارونه	د دی چې وبه گرځوو موږ دوی	په شان د هغو كسانو

گمان كوی هغه كسان چې كړئ دی بد كارونه د دی چې وبه گرځوو موږ دوی (په آخرت كښې) په شان د هغو كسانو

ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ... د تیرو امتونو د شریعتونو حكم زموږ د پاره: ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ بیا موږ ته د دین پر یوه خاص طریقه باندي كړې: دلته دا خبره په ذهن كي لرل پكار دي چي د دين اسلام څه خو اصولي عقائد دي مثلا توحید آخرت وغیره او څه د عملي ژوند سره متعلق احكام دي تر كمه حده پوري چي د اصولي عقائدو تعلق دی هغه خو د هر نبي په امت كي یو شان راغلي دي او په دي كي هیڅكله ترمیم او تبدیلي نه ده سوې لیكن عملي احكام د مختلفو انبیاوو په شریعتونو كي د خپلي خپلي زمانې په لحاظ سره بدل سوي دي په ذكر سوي آیت كي یي دا دوهم قسم احكام د دین په یوه خاصه طریقه سره تعبیر كړي دي او په دې وجه فقهاوو د دې آیت دا نتیجه را ایستلې ده چي د امت محمدي د پاره صرف د شریعت محمدي احكام واجب العمل دي تیرو امتونو ته چي كم احكام وركول سوي وه هغه زموږ د پاره تر هغه وخته پوري واجب العمل نه دي تر څو چي د قرآن او حدیث څخه د هغه تائید ونه سي الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۲۵)

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ؕ

اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	سَوَآءً	مَّحْيَاهُمْ	وَمَمَاتُهُمْ
چې ایمان یې راوړی دی	او کړی یې دی	ښه (عملونه)	برابر به وي	ژوندون د دوی	او مرګ د دوی

چې ایمان یې راوړی دی او کړي ئې دي ښه (عملونه) برابر (او یو شانې) به وي ژوندون د دوی او مرګ د دوی

سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

سَآءَ	مَا يَحْكُمُوْنَ	وَخَلَقَ	اللّٰهُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ
بد دی	هغه چې حکم کوی دوی	او پیدا کړی دی	الله	آسمانونه	او ځمکه

بد دی هغه چې حکم کوی دوی. او پیدا کړي دي الله آسمانونه او ځمکه

بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ

بِالْحَقِّ	وَلِتُجْزٰى	كُلُّ	نَفْسٍۢ	بِمَا كَسَبَتْ	وَهُمْ
په حقه سره	او د پاره د دی چې جزاء ورکړه سی	هر	نفس ته	په هغه عمل سره چې کړی یې وی	او پر دوی به

په حقه سره (لکه چې مناسب وو) او د پاره د دی چې جزاء ورکړه سی هر نفس ته په هغه عمل سره چې کړي یئ وي او پر دوي

لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ

لَا يُظْلَمُوْنَ	اَفَرَءَيْتَ	مَنِ اتَّخَذَ	اِلٰهَهٗ	هَوٰىهُ	وَاَضَلَّهُ
به ظلم و نه کړی سی	آیا پس وینی ته	هغه څوک چې نیولی وی دده	معبود خپل	آرزو خپل	او ګمراه کړی وی دده لره

به ظلم و نه کړي سي. آیا پس وینی ته هغه څوک چې نیولي وي دده معبود خپل آرزو (دنفس) خپل او ګمراه کړي وي دده لره

اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى

اللّٰهُ	عَلٰى	عِلْمٍ	وَّخَتَمَ	عَلٰى	سَمْعِهٖ	وَقَلْبِهٖ	وَجَعَلَ	عَلٰى
الله	په	علم باندی	او مهر لګولی وی	پر	غوږونو دده	او پر زړه دده	او ګرځولی یې وی	پر

الله په علم باندي (چې استعداد یئ ورته معلوم دي). او مهر لګولي وي پر غوږونو د ده او پر زړه د ده او ګرځولي یئ وي پر

بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٣﴾

بَصَرِهٖ	غِشٰوَةً	فَمَنْ	يَّهْدِيْهِ	مِنْۢ بَعْدِ	اللّٰهِ	اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ
سترګو د ده	پرده	پس څوک به	لاره وښیی ده ته	پس له (ګمراه کولو د)	الله	پس آیا تاسی پند نه اخلئ

سترګو د ده پرده پس څوک به لاره وښیي ده ته پس له (ګمراه کولو د) الله (ده لره) پس آیا تاسي پند نه اخلئ.

وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ... عالم اخرت او په دې کې جزا او سزا عقلاً ضروري ده: د ذکر سوو دوو ایاتونو څخه داول ایت مطلب یو عقلي استلال دی د قیامت دورځي په ضروري کیدو باندې. هغه دا دی چې داخبره خوهرسړی ویني او هیڅ ته په دې کې د انکار ګنجایش نسته چې په دنیا کې دښه او بد عمل پوره بدله نه ورکول کیږي بلکي په عام طور سره کفار فجار په دولت دنیا عیش او عشرت کې ژوند تیروي: او د الله ﷻ اطاعت شعاره بندګان په لوږه تنده او مصیبتونو او آفتونو کې مبتلاوي اول خو په دنیا کې د بدکارو مجرمانو دجرم اکثره پته نه لګیږي او که پته یې هم ولګیږي نو نیوی کیدای نه سي که ونیول هم سي نو دحلالو او حرامو ربښتیا دروغو دپروا کولو څخه بغیر دسزا څخه دبچ کیدولاري لټوي او په سوونو کې که چیرې یوه ته هم سزا ورکول سي نو هغه هم دده دعمل پوره سزا ه نه وي دغه شان دخدای ﷻ باغي دخپلو خواهشاتو پیروکار ددې دنیا په ژوندانه کې په مزو او چرچو ګرځي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

ع ۲ | ۱۸

وَقَالُوْا مَا هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا

وَقَالُوْا	مَا هِيَ	اِلَّا	حَيَاتُنَا	الدُّنْيَا	نَمُوْتُ	وَنَحْيَا
او وايئ (كفار)	نسته ژوندون	مگر	هم دغه ژوندون زمونږ دی	په دغي دنيا كښې	چې مره كيږو	او ژوندی كيږو

او وايئ (كفار) نسته ژوندون مگر هم دغه ژوندون زمونږ دی په دغي دنيا كښې چې مره كيږو او ژوندی كيږو

وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ

وَمَا يُهْلِكُنَآ	اِلَّا الدَّهْرُ	وَمَا لَهُمْ	بِذٰلِكَ	مِنْ عِلْمٍ	اِنْ هُمْ
او نه مو هلاكوی	مگر زمانه	او نسته دوی ته	په دغه	هيڅ قدر علم، پوه	نه دی دوی

او نه مو هلاكوی مگر زمانه، او نسته دوی ته په دغه هيڅ قدر علم پوه نه دی دوی

اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ

اِلَّا	يَظُنُّوْنَ	وَاِذَا	تُتْلٰى	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتُنَا	بَيِّنٰتٍ
مگر	گمان كوی	او هر كله چې	ولوستل سی	پر دغو (كفارو)	آيتونه (دقرآن) زمونږ	ښكاره

مگر گمان كوی، او هر كله چې ولوستل سی پر دغو (كفارو) آيتونه (د قرآن) زمونږ ښكاره

مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ

مَّا كَانَ	حُجَّتَهُمْ	اِلَّآ	اَنْ قَالُوا	ائْتُوْا	بِاٰبَآئِنَآ	اِنْ كُنْتُمْ
نو نه وی	حجت، دليل د دوی	مگر	داچې وايئ	راولئ	پلرونه زمونږ	كه چيری يئ تاسی

نو نه وی حجت دليل د دوی مگر داچې وايئ راولئ پلرونه زمونږ كه چيری يئ تاسی

صٰدِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ

صٰدِقِيْنَ	قُلِ	اللّٰهُ	يُحْيِيْكُمْ	ثُمَّ	يُمِيْتُكُمْ	ثُمَّ	يَجْمَعُكُمْ
صادقان	ووايه (محمده)	چې الله	ژوندی كوی تاسی	بيا	مره كوی تاسی	بيا به	سره ټولوی تاسی

ربښتيني، صادقان. ووايه (محمده!) چې الله ژوندی كوی تاسی بيا مره كوی تاسی بيا به سره ټولوی تاسی

ع ٣ ١٩
اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾

اِلٰى يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	لَا رَيْبَ	فِيْهِ	وَلٰكِنَّ	اَكْثَرَ	النَّاسِ	لَا يَعْلَمُوْنَ
ورځی	دقيامت ته	چې نسته هيڅ شک	په هغې كښې	او ليكن	زياتره	خلگ	نه پوهيږی

ورځی د قيامت ته چې نسته هيڅ شک په (راتلو د) هغې كښې اوليكن زياتره (كافران) خلگ نه پوهيږی.

وَقَالُوْا مَا هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ... دتير مخ پاته بيان دلته وګورئ: او بې چاره مومن پايبند دشريعت ډير دولت او لذتونه خو حرام گڼي او پريږدي يي او دمصيبتونو او آفتونو څخه دبچ كيدو دپاره هم جائزي طريقې اختياروي په دې وجه په دنيا كې ددوی دلويو راحتونو او لذتونو څخه خو محروم كيدل ښكاره خبره ده او هر كله چې دا معلومه سوه چې په دې دنيا كې دعملونو پوره بدله نه وركول كيږي نو اوس كه ددې دنيا څخه وروسته بل عالم آخرت او په دې كې دوباره ژوند او دجزا او سزا نفاذ نه وي نو بيا په دنيا كې غلا، ډاكه، زنا و قتل، وغيره ته جرم ويل دحماقت څخه ماسوا نور څه دي داخلگ خو اكثره په دنيا كې لوی كامياب ژوند تيروي يو غل ډاكو په يوه شپه كې دومره دولت حاصلوي نو كه دآخرت او ددې حساب كتاب هيڅ نه وي نو دې غل ډاكو ته ددې شريف فارغ شده څخه به بيا ښه ويل پكار وي كم چې يو دعقل خاوند يې نه سي خوښولای او نه تر اوسه دا چا ويلي دي والله اعلم بالصواب.
معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۲۶)

وَلِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ وَيَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَةُ

وَلِلّٰهِ	مُلۡكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَيَوۡمَ	تَقُوۡمُ	السَّاعَةُ
او خاص الله لره دی	سلطنت	دآسمانونو	او دمځکی	او په هغه ورځ کښی	چی ودریږی	قیامت

او خاص الله لره دی سلطنت دآسمانونو او دمځکی او په هغه ورځ کښی چی ودریږی قیامت

يَوۡمَئِذٍ يَّخۡسَرُ الۡمُبۡطِلُوۡنَ ﴿٢٧﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۫ قف

يَوۡمَئِذٍ	يَّخۡسَرُ	الۡمُبۡطِلُوۡنَ	وَتَرٰى	كُلَّ	اُمَّةٍ	جَاثِيَةً
نو په دغه ورځ به	زیان کاره سی	اهل باطل	او وبه وینی ته	هر	امت	ناست پر ځنګنونو خپلو

نو په دغه ورځ به زیان کاره سی مبطلان (کافران) . او وبه وینی ته هر امت ناست پر ځنګنونو خپلو (له خوفه او هیبته)

كُلُّ اُمَّةٍ تُدۡعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا ؕ اَلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ مَا كُنۡتُمۡ

كُلُّ	اُمَّةٍ	تُدۡعٰۤى	اِلٰى	كِتٰبِهَا	اَلۡيَوۡمَ	تُجۡزَوۡنَ	مَا كُنۡتُمۡ
هر یو	امت به	رابللی سی	په طرف	دا عمالنامی خپلی	نن ورځ	جزا به درکړه سی	د هغو چی وئ تاسی

هر یو امت به رابللی سی په طرف د کتاب ، داعمالنامی خپلی نن ورځ به جزاء درکړه سی (تاسی ته د) هغو چی وئ تاسی

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٢٨﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا يَنۡطِقُ عَلَيۡكُمۡ بِالۡحَقِّ ؕ اِنَّا كُنَّا

تَعۡمَلُوۡنَ	هٰذَا	كِتٰبُنَا	يَنۡطِقُ	عَلَيۡكُمۡ	بِالۡحَقِّ	اِنَّا	كُنَّا
چی کول به مو	دغه	کتاب زموږ دی	خبری کوی	پر تاسی باندی	په حقه سره	بیشکه! موږ	وو

چی کول به مو . دغه کتاب زموږ دی خبری کوی (او شاهدی وایئ) پر (اعمالو د) تاسی باندی په حقه سره ، بیشکه! موږ وو

نَسۡتَنۡسِخُ مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٢٩﴾ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

نَسۡتَنۡسِخُ	مَا كُنۡتُمۡ	تَعۡمَلُوۡنَ	فَاَمَّا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
چی لیکل مو	هر هغه څه چی وئ تاسی	چی کول به مو	پس هر څه	هغه کسان	چی ایمان یئ راوړی دی

چی امر به مو کاوه په لیکلو سره د هر هغه څه چی وئ تاسی چی کول به مو . پس هر څه هغه کسان چی ایمان یئ راوړی دی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ فِيۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	فَيُدۡخِلُهُمۡ	رَبُّهُمۡ	فِيۡ رَحۡمَتِهٖ	ذٰلِكَ	هُوَ
او کړی یئ دی	نیه (عملونه)	پس ننه باسی دوی	رب د دوی	په رحمت خپل کښی	دغه (ننوتل)	هم دغه

او کړی یئ دی نبه (عملونه) پس ننه باسی دوی رب د دوی په رحمت (جنت) خپل کښی دغه (ننوتل) هم دغه

وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً
كُلُّ اُمَّةٍ تُدۡعٰۤى اِلٰى... هره ډله به دقیامت په ورځ دیبري څخه پر ځنګنونو پريوزي : لفظ دجاثية دجثو څخه مشتق دی چي معنی یي پر ځنګنونو کښيناستل دي او حضرت سفيان ثوری رحمة الله عليه فرمايي جثو داسي کښينستلو ته وايي په کموکي چي پر مځکه صرف ځنګونه او دپښو خپري ولګيږي دغه شان کښيناستل دبيري او ترهي په وجه سره وي. او دکلّ امة دلفظ څخه ظاهره داده چي داصورت دبيري به پر ټول اهل محشر مومن کافر نيک او بد ټولو باندي وي او په ځينو روايتونو کي چي يي دمحشر دبيري او ترهي څخه انبياء عليهم السلام مستثنی ګرځولي دي دا ددې سره منافي او ټکر نه لري ځکه چي ممکنه ده چي دابيره او ترهه دلږ وخت دپاره پر انبياوو او صالحينو باندي هم راسي مګر دلږوالي په وجه يي هغه دنيست برابر ګرځيده او داهم کيدای سي چي دکلّ امة څخه مرادعام اهل محشر نه وي بلکي اکثر ورڅخه مراد وي لکه چي لفظ دکل داکثره وخت دپاره ويل کيږي الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته آسانه کړي (معارف القرآن ج ٩پ ٢٥ ص ١٣٣)

الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿٣٠﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَفَلَمْ تَكُنْ

الْفَوْزُ	الْمُبِيْنُ	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	اَفَلَمْ تَكُنْ
بری دی	ښکاره	او هرڅه	هغه کسان	چې کافران سوی دی	آیا نه ؤ

بری دی ښکاره. او هرڅه هغه کسان چې کافران سوی دی (وبه ویل سی دوی ته داسی) آیا نه ؤ

اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣١﴾

اٰيٰتِيْ	تُتْلٰى	عَلَيْكُمْ	فَاسْتَكْبَرْتُمْ	وَكُنْتُمْ	قَوْمًا	مُّجْرِمِيْنَ
آیتونه زما	چې لوستل کیدل به	پر تاسی باندی	پس تکبر مو وکړ	او وئ تاسی	قوم	ګنهګاران

آیتونه (د قرآن) زما چې لوستل کیدل به پر تاسی باندی پس تکبر مو وکړ او وئ تاسی قوم ګنهګاران (کافران).

وَاِذَا قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ

وَاِذَا	قِيْلَ	اِنَّ	وَعْدَ اللّٰهِ	حَقٌّ	وَّالسَّاعَةُ	لَا رَيْبَ
او هرکله چې	وبه ویل سو	چې بیشکه!	چې وعده دالله	حقه ده	او قیامت	نشته شک

او هرکله چې وبه ویل سو (تاسو ته ای کفارو) چې بیشکه! چې وعده دالله حقه ده او قیامت نشته شک په (راتلو)

فِيْهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ مَا السَّاعَةُ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ

فِيْهَا	قُلْتُمْ	مَّا نَدْرِيْ	مَا السَّاعَةُ	اِنْ نَّظُنُّ	اِلَّا	ظَنًّا	وَّمَا نَحْنُ
په (راتلو) کښې د هغه	وبه ویل تاسی	نه پوهیږو موږ	چې څه شی دی قیامت	ګمان نه کوو	مګر	ګمان لږ	او نه یو موږ

دهغه کښې نو وبه ویل تاسی نه پوهیږو چې څه شی دی قیامت ګمان نه کوو مګر ګمان لږ او نه یو موږ

بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا

بِمُسْتَيْقِنِيْنَ	وَبَدَا لَهُمْ	سَيِّاٰتُ	مَا عَمِلُوْا
یقین راوړونکی	او ښکاره به سی دوی ته	ناکاره والی	دهغو چې کړی وو دوی

یقین راوړونکی. او ښکاره به سی دوی ته ناکاره والی (بدی جزاوی) دهغو (بدواعمالو) چې کړی وو دوی

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَقِيْلَ الْيَوْمَ

وَحَاقَ	بِهِمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ	وَقِيْلَ	الْيَوْمَ
او نازل به سی	پر دوی (عذاب)	هغه چې وو دوی	چې په هغه پوری به یئ	مسخری کولی	او وبه ویل سی	چې نن ورځ

او چاپیر (نازل) به سی پر دوی (عذاب) هغه چې وو دوی چې په هغه پوری به یئ مسخری کولی. او وبه ویل سی چې نن ورځ

وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَفَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى.. **کفارو ته به ددوی دذلیله کیدو او شرمنده کیدو دپاره اواز وسي**: په دغه آیت کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي کم کسان په دي دنیا کي کافران سوي وه یعني کفر او شرک یي اختیاره کړی ووا و ددین اسلام تکذیب یي کړی وو هغوی ته به وویل سي چي ایا زما ایاتونه تاسي ته نه ویل کیدل او تاسي به دهغو ټولو دقبلولو څخه انکار او تکبر کوی نو په دي وجه تاسي لوی مجرمان یاست او ستاسي داحال ووچي هرکله به تاسي ته وویل سول چي دالله ﷻ وعده ددوباره ژوندي کولو جزا او سزا ورکولو حقه ده او په قیامت کي هیڅ شک نسته نو تاسي به په ډیره بې پرواهی سره ویل چي موږ نه پیژنو چي قیامت څه شی دی؟ صرف په اوریدو سره یي خو موږ ته محضي یو خیالي شان راځي او موږ ته پر هغه باندي یقین نسته او هغه وخت به دوی ته ټول خپل بد عملونه ورښکاره کړی سي او دکم عذاب چي ددوی سره وعده سوې وه هغه به دوی ټوله راټینګ کړي او دا ورځ به پردوی: پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا

نَنْسٰكُمْ	كَمَا	نَسِيْتُمْ	لِقَآءَ	يَوْمِكُمْ	هٰذَا
هیربه کړو موږ تاسی	لکه چی	هیر کړی وو تاسی	ملاقات	دورځی ستاسی	دغه (ورځ)

هیر کړو (پری به ږدو) موږ تاسی (په دوزخ کښی) لکه چی هیر کړی وو تاسی ملاقات دورځی ستاسی دغه (ورځ دقیامت)

وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٣٤﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ

وَمَاْوٰىكُمُ	النَّارُ	وَمَا لَكُمْ	مِّنْ نّٰصِرِيْنَ	ذٰلِكُمْ	بِاَنَّكُمُ
او ځای دورتلو ستاسی	اور دی	او نسته تاسو ته	هیڅوک له مددګارانو	دغه	چی بیشکه! تاسی

او ځای ستاسی اور دی او نسته تاسو ته هیڅوک له مدد ګارانو. دغه (تعذیب له دی سببه دی) چی بیشکه! تاسی

اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ

اتَّخَذْتُمْ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	هُزُوًا	وَّغَرَّتْكُمُ	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَا	فَالْيَوْمَ
نیولی مو وو	آیتونه	دالله	په ټوکو سره	او تیر ایستلی واست تاسی	دغه ژوندون	د دنیا	نو نن ورځ

نیولی مو وو آیتونه (دقرآن) دالله په ټوکو سره او مغرور کړی وئ تاسی دغه ژوندون د دنیانو نن ورځ

لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ

لَا يُخْرَجُوْنَ	مِنْهَا	وَلَا هُمْ	يُسْتَعْتَبُوْنَ	فَلِلّٰهِ	الْحَمْدُ
وبه نه ایستلی سی دوی	له دوزخه	او نه به د دوی	عذر قبول کړی سی	پس خاص الله لره دی	ټول له ثناء صفت

وبه نه ایستلی سی دوی له دوزخه او نه به د دوی عذر قبول کړی سی. پس خاص الله لره دی ټول له ثناء صفت

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ

رَبِّ	السَّمٰوٰتِ	وَرَبِّ	الْاَرْضِ	رَبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	وَلَهُ
چی رب	دآسمانونو	او رب	دمځکی دی	رب	دټولو مخلوقاتو دی	او خاص الله لره دی

چی رب د آسمانونو او رب دمځکی دی رب د ټولو عالمیانو دی. او خاص الله لره دی

الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۠ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٣٧﴾ ع

الْكِبْرِيَآءُ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ
لوئی	په آسمانونو	او په مځکه کښی	او هم دی دی	بنه غالب قوی	بنه حکمت والا

لوئی په آسمانونو او په مځکه کښی او هم دی دی بنه غالب قوی بنه حکمت والا (چی هر کار په تدبیر سره کوی)

ع ۴ ۲۰

نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:
باندي ډیره سخته وي او دوی ته به وویل سي چي موږ نن تاسي هیروویعني دخپل رحمت څخه تاسي محرومه کوو کم ته چي یي مجازاً هیرول وویل لکه څنګه چي تاسي دخپلي دي ورځي راتلل هیر کړي وه او دنن څخه ستاسي ځای جهنم دی او دلته څوک ستاسي مددګار هم نسته دا سزا په دې وجه سره درکول کیږي چي تاسي به په دنیا کي دالله ﷻ په ایاتونو پوري خنداګاني کولې او تاسي ددنیا ژوند په دوکه او چم کي غورځولي واست چي په هغه کښي مشغول سواست او دآخرت څخه بالکل غافل بلکه منکره سواست نو نن به داخلګ نه ددوږخ څخه راایستل کیږي او نه به ددوی څخه دخدای ﷻ دخفګان څه تدارک وغوښتل سي یعني ددې موقع به ورلره ورنه کړل سي چي توبه وباسي او خپل خدای ﷻ راضي کړي کله چي دا ټول مضامین تاسي واوریدل نو معلومه سول چي ټول ثنا او صفت خاص الله ﷻ لره ثابت دی کم چي پروردګار دی زموږ اوستاسو الخ.
معارف القرآن ج۹ پ۲۵ ص۱۳۳

أياتونه ٣٥ — ٤٦ سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ ٦٦ — ركوعونه ٤

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکى ذات دى

حٰمٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ②

حٰمٓ	تَنْزِيْلُ	الْكِتٰبِ	مِنَ اللّٰهِ	الْعَزِيْزِ	الْحَكِيْمِ
حا، ميم	راليږل دى	كتاب دى	له طرفه د الله	ښه غالب قوى	ښه حكمت والا

حا، ميم. راليږل د دى كتاب (قرآن) دى له طرفه د الله ښه غالب قوى ښه حكمت والا .

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ

مَا خَلَقْنَا	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	وَمَا	بَيْنَهُمَآ	اِلَّآ	بِالْحَقِّ
نه دى پيدا كړي موږ	آسمانونه	او مځكه	او هر هغه شيان چې	په مينځ د دوى دواړو كښې دى	مگر	په حقه

نه دى پيدا كړي موږ آسمانونه او مځكه او هر هغه شيان چې په مينځ د دوى دواړو كښې دى مگر په حقه

وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ③

وَاَجَلٍ	مُّسَمًّى	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	عَمَّآ	اُنْذِرُوْا	مُعْرِضُوْنَ
او ټاكلى	وعدى سره	او هغه كسان	چې كافران سوى دى	له هغه شى	چې دوى پرى بيرولى سى	مخ گرځوونكى دى

او ټاكلى (مقررى) وعدى سره. او هغه كسان چې كافران سوى دى له هغه شى چې دوى پرى بيرولى سى مخ گرځوونكى دى

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ

قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	مَّا تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	اَرُوْنِيْ
ووايه	آيا وينئ خبر كړئ تاسى ما	په هغو چې عبادت يې كوئ تاسى	بى له	الله	وښيئ تاسى ماته

ووايه (محمده) آيا وينئ خبر كړئ تاسى ما په هغو (بتانو) چې بولئ يې عبادت كوئ تاسى بى له الله وښيئ تاسى ماته

مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى السَّمٰوٰتِ

مَاذَا	خَلَقُوْا	مِنَ الْاَرْضِ	اَمْ لَهُمْ	شِرْكٌ	فِى السَّمٰوٰتِ
كوم دى هغه شى	چې پيدا كړي دى دوى	له مځكى څخه	آيا سته دوى ته	څه شركت	په آسمانونو كښى

كوم دى هغه شى چې پيدا كړي دى دوى له مځكى څخه؟ آيا سته دوى ته څه شركت (په پيدا كولو د) آسمانونو كښى؟

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ... قران كريم د الله ﷻ د طرفه څخه راليږل سوى كتاب دى: د سورت الاحقاف په ابتداء كي الله ﷻ د قرآن كريم حقانيت بيان كړى دى او دا يې ښوولي ده منكرينو ته چې نور دانكار ده جال څخه خپل ځانونه راخلاص كړي او په دې كتاب كي شك مه كوى ځكه چې دا كتاب د هغه ذات د طرفه نازل سوى دى پر نبي كريم ﷺ باندي چې هغه ذات الهي ډير زبردست او حكمت والا ذات دى نو په دې ددې مضامين دغور قابل دي: په راروانو اياتونو كي بيا د توحيد او معاد بيان دى چې موږ اسمانونه او مځكي او كم شيان چې ددوى په مينځ كي دي په حكمت سره او تريو معين ميعاده پوري پيدا كړي دي چې يو وخت به بيرته دا نظام پناه كيږي او يونوي دار ته به موږ او تاسي داخليږو چې هغه دار د آخرت دى او كم خلك چې كافران سوي دي نو دوى چې د كم شي څخه بيرول كيږي مثلاً دا چې د توحيد څخه د انكار په نتيجه كي به تاسي ته عذاب دركول كيږي دوى په هغه پسي مسخري كوي او خيال نه ورته كوي. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٦ ص ٢)

اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ

اِيْتُوْنِيْ	بِكِتٰبٍ	مِّنْ قَبْلِ	هٰذَآ	اَوْ اَثٰرَةٍ	مِّنْ	عِلْمٍ
راوړی تاسی ماته	کوم کتاب	پخواله	دغه (قرآنه)	یا څه روایت	له	علمه

راوړی تاسی ماته کوم کتاب (چی راغلی وی تاسی ته) پخوا له دغه (قرآنه) یا یوه باقی علامه دلیل له علمه

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ④ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ

اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	وَمَنْ	اَضَلُّ	مِمَّنْ	يَّدْعُوْا	مِنْ دُوْنِ
که چیری یئ تاسی	رښتینی	او څوک دی	ډیر گمراه	له هغه چاچی	بولی یئ	بی له

که چیری یئ تاسی رښتینی . او څوک دی ډیر گمراه له هغه چاچی بولی (عبادت یئ کوی) بی له

اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ

اللّٰهِ	مَنْ	لَّا يَسْتَجِيْبُ	لَهٗٓ	اِلٰى	يَوْمِ	الْقِيٰمَةِ	وَهُمْ	عَنْ
الله څخه	هغه چی	نسی قبلولی	هغه لره	تر	ورځی	دقیامت پوری	او دوی (بتان)	له

الله څخه هغه چی نسی قبلولی هغه لره (دعاء سؤال) تر ورځی د قیامت پوری (چی بتان دی) او دغه (بتان) له

دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ ⑤ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ

دُعَآئِهِمْ	غٰفِلُوْنَ	وَاِذَا	حُشِرَ	النَّاسُ	كَانُوْا	لَهُمْ
دعاء بلنی د دوی	بی خبره دی	او کله چی	راټول کړل سی	خلگ	وی به دغه (بتان)	دوی ته

دعاء بلنی د دغو بی خبره دی. او کله چی راټول کړل سی خلگ (لپاره د حساب) وی به دغه (بتان) دوی ته (خپلو عابدانو ته)

اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ⑥ وَاِذَا تُتْلٰى

اَعْدَآءً	وَّكَانُوْا	بِعِبَادَتِهِمْ	كٰفِرِيْنَ	وَاِذَا	تُتْلٰى
دښمنان	او وی به دغه (بتان)	په عبادت د دوی	منکران	او کله چی	ولوستل سی

دښمنان او وی به (وبه گرځی) دغه (معبودان) په عبادت د دغو منکران. او کله چی ولوستل سی

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا

عَلَيْهِمْ	اٰيٰتُنَا	بَيِّنٰتٍ	قَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِلْحَقِّ	لَمَّا
پر دوی باندی	آیتونه زموږ	ښکاره	نوواییٔ	هغه کسان	چی کافران سوی دی	حق (قرآن) ته	کله چی

پر دوی (اهل د مکی) باندی آیتونه (دلائل) زموږ ښکاره ، نو وایئ هغه کسا ن چی کافران سوی دی حق (قرآن) ته کله چی

اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ... دکفاروسره پر خپل بت پرستی باندي هیڅ دلیل دعقل او نقل نسته: یعني که ستاسي سره دبت پرستی څه نقلي دلیل موجود وي نو څه اسماني کتاب پیش کی چي په هغه کي یي دبت پرستی اجازت ورکړی وي او دبل قسم یعني د پیغمبرانو داقوالو دنفي دپاره یي داوفرمایله: اواثارة من علم. یعني که دالله ﷻ په یوکتاب کي تاسي ته دشرک او بت پرستی څه دلیل او شهادت نه ښکاري نو کم ازکم په انبیاوو علیهم السلام کي دچا قول پیش کړی کم چي په معتبرسند سره ددوی څخه ثابت وي او کله چي تاسي دا هم نه سي پیش کولای نو ستاسي قول او عمل بغیر دگمراهی څخه نورڅه کیدای سي؟ په لفظ داثارة من علم اثارة مصدر دی په وزن د شجاعت او سماحت دی چي معنی یي نقل او روایت ده په دې وجه حضرت عکرمه رحمة الله علیه او اتل رحمة الله علیه داثارة من علم په تفسیرکي فرمايي روایة عن الانبیاء فرمايي او قرطبي ددې تفسیر په اسناد حسن سره فرمایلی دی. (معرف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۳)

جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑦ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ

جَآءَهُمْ	هٰذَا	سِحْرٌ	مُّبِيْنٌ	اَمْ يَقُوْلُوْنَ	افْتَرٰىهُ	قُلْ
راغي دوى ته	چې دا	جادو دى	ښكاره	بلكه وايئ دوى	له ځانه يئ جوړ كړى دى	ووايه (محمده)

راسی دوی ته چې دا سحر جادو دی ښکاره. بلکه وایئ دوی له ځانه یئ جوړ کړی دی (محمد دغه قرآن)، ووایه (محمده)

اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِيْ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ هُوَ اَعْلَمُ

اِنِ افْتَرَيْتُهٗ	فَلَا تَمْلِكُوْنَ	لِيْ	مِنَ اللّٰهِ	شَيْـًٔا	هُوَ	اَعْلَمُ
كه ما جوړ كړى وى دغه له ځانه	پس نه به سئ تاسى خلاصوونكى	مالره	له الله	هيڅ قدر	هغه الله	ښه پوهه دى

که ما جوړ کړی وی دغه (قرآن) له ځانه پس نه به سئ تاسی خلاصوونکی ما له الله هیڅ قدر دغه (الله) ته ښې معلومې دی

بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ۭ كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ

بِمَا	تُفِيْضُوْنَ	فِيْهِ	كَفٰى	بِهٖ	شَهِيْدًۢا	بَيْنِيْ	وَبَيْنَكُمْ
په هغه	چې تاسى لګياه ياست	په هغو كښې	كافى دى	دغه (الله)	ښه شاهد	په مينځ زما	او په مينځ ستاسى كښې

هغه خبرې چې تاسی یئ وایاست په هغو کښې کافی دی دغه (الله) ښه شاهد په مینځ زما او په مینځ ستاسی کښې،

وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ⑧ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ

وَهُوَ	الْغَفُوْرُ	الرَّحِيْمُ	قُلْ	مَا كُنْتُ	بِدْعًا	مِّنَ الرُّسُلِ
او هم دغه (الله)	ښه مغفرت كوونكى	ډير رحم والا دى	ووايه (محمده)	نه يم زه	نوى راغلى	له رسولانو

او هم دغه (الله) دی ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا. ووایه (محمده) نه یم زه اول له رسولانو

وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ۭ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ

وَمَآ اَدْرِيْ	مَا يُفْعَلُ	بِيْ	وَلَا بِكُمْ	اِنْ اَتَّبِعُ	اِلَّا مَا يُوْحٰٓى	اِلَيَّ
او نه پوهيږم	چې څه به وكړل سى	له ما سره	او نه چې څه به وكړل سى له تاسى سره	نه كوم متابعت	مګر د هغه چې راليږل سوى دى	ماته

او نه پوهیږم چې څه به وکړل سی له ما سره او نه چې څه به وکړل سی له تاسی سره، نه کوم متابعت مګر د هغه چې رالیږل سوی دی ماته

وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ⑨ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ

وَمَآ اَنَا	اِلَّا	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ	قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	اِنْ كَانَ	مِنْ عِنْدِ
او نه يم زه	مګر	بيروونكى يم	ښكاره	ووايه	آيا وينئ تاسى ما	كه چيرى وى دغه (قرآن)	له جانبه

او نه یم زه مګر بیروونکی یم ښکاره. ووایه (محمده) آیا وینئ خبری کړئ تاسی ما که چیری وی دغه (قرآن) له جانبه

وَمَآ اَدْرِيْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ۭ اِنْ اَتَّبِعُ... دنبي كريم ﷺ دعلم غيب متعلق دادب تقاضا :

يعني زه نه پيژنم بغير دهغه څخه چي پرما باندي وحي كيږي : دنبي كريم ﷺ دعلم غيب متعلق دادب تقاضا داده چي داسي ونه ويل سي چي دوى په غيبونه پوهيدل بلكي داسي وويل سي چي الله جل جلاله نبي كريم ته دغيبو دكارونو ډير لوى علم وركړى وو كم چي په انبياووكي بل چاته نه دى وركول سوى او ځينو مفسرينو حضراتو چي دا فرمايلي دي چي په دې آيت كي نفى دعلم صرف ددنيوي كارونو سره متعلق ده دآخرت متعلق دعلم غيب نفي په دي كي شامله نه ده لكه چي قرطبي يي ذكر كړى دى دوى غالبا جمله د ان اتبع الا مايوحى په معنى داستثناء نه ده مقرر كړې په دې وجه نفى دعلم غيب يي ددنيا دكارونو سره مخصوص كړه ځكه چي دآخرت متعلق خو دوى په ډاګه وښوولە چي كافران به دوږخ ته او مومنان به جنت ته ځي جنتيان به دخپلو نيكو اعمالو بدله ويني او دوږخيان به دخپلو بدو اعمالو بدله ويني. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٦ ص ٧)

اللّٰهِ وَ كَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى

اللّٰهِ	وَ كَفَرْتُمْ	بِهٖ	وَشَهِدَ	شَاهِدٌ	مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	عَلٰى
دالله	داچې کافران سوی يئ تاسی	په ده سره	او بيا شاهدی ويلی ده	يو شاهد	دبنی اسرائيلو	پر

دالله داچې کافران سوی يئ تاسی په ده سره او بيا شاهدی ويلی ده يوه شاهد (له علماؤ) د بنی اسرائيلو پر

مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ

مِثْلِهٖ	فَاٰمَنَ	وَاسْتَكْبَرْتُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِى	الْقَوْمَ
مثل د داسی يو کتاب باندی	پس ايمان راوړی وی	او تکبر کړی وی تاسی	بيشکه !	الله	نه نبيی سمه لاره	قوم

مثل حقيقت د داسی يو کتاب باندی پس ايمان راوړی وی او تکبر کړی وی تاسی بيشکه ! الله نه نبيی سمه لاره قوم

الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ

الظّٰلِمِيْنَ	وَقَالَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَوْ كَانَ
ظالمانو ته	او وايئ	هغه کسان	چې کافران سوی دی	(په حق) دهغو کسانو کښې	چې ايمان يئ راوړی دی	که چيری وی

ظالمانو ته . او وايئ هغه کسان چې کافران سوی دی په حق دهغو کسانو کښې چې ايمان يئ راوړی دی که چيری وی دا ايمان

خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ؕ وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ

خَيْرًا	مَّا سَبَقُوْنَآ	اِلَيْهِ	وَاِذْ	لَمْ يَهْتَدُوْا	بِهٖ
خير	نه به وو مخکی سوی پر موږ باندی	هغه ته	او کله چې	سمه لاره نه کړه پيدا دوی	په دغه قرآن سره

خير، بهتر نو نه به وو مخکی سوی پر موږ باندی هغه ته ،او کله چې سمه صافه لاره بيا نه مونده دغو منکرانو په دغه قرآن سره

فَسَيَقُوْلُوْنَ هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ ۝١١ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى

فَسَيَقُوْلُوْنَ	هٰذَآ	اِفْكٌ	قَدِيْمٌ	وَمِنْ	قَبْلِهٖ	كِتٰبُ	مُوْسٰٓى
نوژر ده چې وبه وايئ دوی	دغه (قرآن)	دروغ	پخوانی دی	حال داچې	پخوا له دغه (قرآن)	کتاب	دموسٰی

نو ژر ده چې وبه وايئ دوی دغه (قرآن) دروغ پخوانی دی. حال داچې پخوا له دغه (قرآن) کتاب(تورات) دموسٰی

اِمَامًا وَّرَحْمَةً ؕ وَهٰذَا كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا

اِمَامًا	وَّرَحْمَةً	وَهٰذَا	كِتٰبٌ	مُّصَدِّقٌ	لِّسَانًا	عَرَبِيًّا
لاره ښوونکی	او رحمت وو	او دغه (قرآن)	يو کتاب	تصديق کوونکی دی	چې په ژبه	عربی دی

امام، لاره ښوونکی و او رحمت وو او دغه (قرآن) يو کتاب تصديق کوونکی دی ، په دی حال کښې چې په ژبه عربی دی

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى... دبنی اسرائيلو دعالمانو څخه يو معتبر عالم هم دقران کريم دحقانيت شاهدي ورکړه : ددې آيت مضمون تقريبا هغه دی کم چې دسورت شعرآء دآخري رکوع دآيت دی يعني : اولم يكن لهم آية ان يعلمه علمآء بنى اسرآئيل مطلب يې دادی چې داجاهل يهود او نصاری کم چې دنبي کريم ﷺ درسالت او قرآن څخه انکار کوي دوی په خپله دخپلو کتابونو څخه هم ناواقفه او جاهلان دي ځکه چې ډيرو علماوو دبنی اسرآئيلو په خپلو کتابونو کې دنبي کريم ﷺ دنبوت اوددوی د علاماتو مشاهده وکړه او پر ده يې ايمان راوړی ايا دهغو عالمانو شهادت هم ددې جاهلانو خلګو دپاره کافي نه دی په دې آيت کې دا ارشاد دی چې تاسي دا واياست چې زما دعوه درسالت او دقرآن دالله ﷻ کتاب کيدل غلط او افترآء ده اول خو ددې دغلطيدو دپاره دغه خبره کافي ده کمه چې اول اوس ذکر سويده چې کم سړی پر الله ﷻ داسي ښکاره افترآء کوي چې زه هغه نبي جوړکړی رالیږلی يم. پاته بيان پر راروان مخ وګوری

ع

لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲﴾ اِنَّ

لِّيُنْذِرَ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	وَبُشْرٰى	لِلْمُحْسِنِيْنَ	اِنَّ
دپاره ددې چې وبيروي	هغه کسان	چې ظلم يې کړی دی	او زيری دی	نيکو کارانو ته	بيشکه!

دپاره ددې چې وبيروي (دغه قرآن) هغه کسان چې ظلم يې کړی دی او زيری دی نيکو کارانو (مؤمنانو) لره. بيشکه!

الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

الَّذِيْنَ	قَالُوْا	رَبُّنَا	اللّٰهُ	ثُمَّ	اسْتَقَامُوْا	فَلَا خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ
هغه کسان	چې وايئ	رب زموږ	الله دی	بيا	ټينګ ودريږي	پس نه به وی هيڅ ويره	پر دوی

هغه کسان چې وايئ رب زموږ الله دی (نه بتان) بيا ټينګ ودريږي (په عبادت) پس نه به وی (هيڅ) ويره پر دوی

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ	اُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	الْجَنَّةِ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا
او نه به وی دوی چې غمجن به سی	دغه کسان	ياران، اوسيدونکي	د جنت دی	چې هميشه به وی دوی	په دغه کښې

او نه به وی دوی چې خپه به سی (په آخرت)، دغه کسان ياران اوسيدونکي د جنت دی چې هميشه به وی دوی په دغه کښې

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ

جَزَآءً	بِمَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	وَوَصَّيْنَا	الْاِنْسَانَ
ورکوله به سی دوی ته جزاء	په سبب دهغو چې وو دوی	چې کول به يئ	او وصيت، حکم مو کړی دی	هر انسان ته

ورکوله به سی دوی ته جزاء په سبب دهغو (عملونو) چې وو دوی چې کول به يئ. او وصيت حکم مو کړی دی هر انسان ته

بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا ۭ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۭ

بِوَالِدَيْهِ	اِحْسٰنًا	حَمَلَتْهُ	اُمُّهٗ	كُرْهًا	وَّوَضَعَتْهُ
له مور او پلار خپل سره	داحسان کولو	پورته کړی يئ دی ده لره	مور دده	په سختی سره	او (بيا) يئ ځيږولی دی دی

له مور او پلار خپل سره داحسان نيکی کولو، پورته کړی يئ دی (په نس کی) مور دده په سختی سره او (بيا) يئ ځيږولی دی دی

كُرْهًا ۭ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ۭ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ

كُرْهًا	وَحَمْلُهٗ	وَفِصٰلُهٗ	ثَلٰثُوْنَ	شَهْرًا	حَتّٰٓى	اِذَا بَلَغَ
په سختی سره	او پورته کول، ساتل د ده	او جلا کول دده	ديرش	مياشتې وی	ترهغه پوری	کله چې ورسيد دی

په سختی سره، او (دا) پورته کول ساتل دده او جلا کول دده (له تی) ديرش مياشتې وی ترهغه پوری کله چې ورسيد دی

لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ. دتير مخ پاته بيان دلته وګوری:
او په واقع کي هغه نبي نه وي نو پر ده باندي په دې دنيا کي عذاب راتلل او دده هلاکول ضروري دي چي عام خلګ ددوکي څخه بچ سي او بالفرض که تاسي دا هم نه منی نو کم ازکم دا احتمال خو مه نظر انداز کوی چي که زما دعوی صحيح وي او دا کتاب دالله جَلَّ جَلَالُهُ دطرف څخه راغلی وي او تاسي ددې څخه پر کفر او انکار باندي ټينګ ياست نو ستاسي به څه انجام وي خصوصا په دې صورت کي چي په خپله ستاسي دقوم بنی اسرآئيلو څخه څوک لوی سړی ددې دالله جَلَّ جَلَالُهُ دطرف څخه دکيدو شهادت ورکړي او مسلمان سي او تاسي دهغه علم څخه وروسته هم پر خپل ضد او تکبر باندي پاته سی نو تاسي به دڅومره عذاب مستحق سی ؟ ددې آيت په الفاظو کي يي دچا خاص عالم دبنی اسرآئيلونوم نه دی اخيستی او نه يي دا متعين کړی دی ځکه چي ضروري نه ده چي دبنی اسرآئيلو دعلماوو څخه يو معين شاهد ددې مصداق مقرر سي بلکي ددوی ټوله ايمان راوړنکي په دې کي شامل دي.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص۷)

اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ

اَشُدَّهٗ	وَبَلَغَ	اَرْبَعِيْنَ	سَنَةً	قَالَ	رَبِّ	اَوْزِعْنِيْٓ	اَنْ اَشْكُرَ
قوت خپل ته	او ورسید	څلوېښت	کلونو ته	وویل ده	ای ربه زما	توفیق راکړی ماته	په دی چی شکراداء کړم

قوت خپل ته او ورسید څلوېښت کلونو ته ، وویل ده ای ربه زما توفیق راکړی ماته په دی چی شکرا داء کړم

نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ

نِعْمَتَكَ	الَّتِيْٓ	اَنْعَمْتَ	عَلَيَّ	وَعَلٰى	وَالِدَيَّ	وَاَنْ	اَعْمَلَ
دنعمت ستا	هغه چی	انعام کړی دی تا	پر ما باندی	او پر	مور او پلار زما	او چی	عمل وکړم

دنعمت ستا هغه (اسلام) چی انعام کړی دی تا پر ما باندی او په مور او پلار زما باندی او چی عمل وکړم

صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ۚ اِنِّيْ تُبْتُ اِلَيْكَ

صَالِحًا	تَرْضٰىهُ	وَاَصْلِحْ لِيْ	فِيْ ذُرِّيَّتِيْ	اِنِّيْ	تُبْتُ	اِلَيْكَ
نیک	چی راضی کیږی ته په هغه	او صلاحیت کښیږده مالره	په اولاد زما کښی	بیشکه! ما	توبه کړی ده	تاته

نیک چی راضی کیږی ته په هغه او صلاحیت کښیږده ته مالره (یا الله) په اولاده زما کښی، بیشکه! ماتوبه کړی ده تاته

وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ

وَاِنِّيْ	مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	نَتَقَبَّلُ	عَنْهُمْ
او بیشکه! یم زه	له حکم منونکو څخه	دغه	هغه کسان دی	چی قبلوو موږ	له دوی څخه

او بیشکه! یم زه له حکم منونکو څخه دغه هغه کسان دی چی قبلوو موږ له دوی څخه

اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ فِيْٓ اَصْحٰبِ

اَحْسَنَ	مَا عَمِلُوْا	وَنَتَجَاوَزُ	عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ	فِيْٓ اَصْحٰبِ
ډیر ښه	دهغو چی کړی دی دوی	او تیریږو	له ګناهونو د دوی څخه	چی وی به په یارانو

ډیر ښه دهغو (کارونو) چی کړی دی دوی او تیریږو له ګناهونو د دوی څخه چی وی به په یارانو ، او سیدونکیو

الْجَنَّةِ ۭ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿١٦﴾

الْجَنَّةِ	وَعْدَ	الصِّدْقِ	الَّذِيْ	كَانُوْا	يُوْعَدُوْنَ
دجنت کښی	وعده کړی ده	رښتینی	هغه چی	وو دوی	چی وعده به یئ ورسره کولی سوه

دجنت کښی وعده کړی ده الله وعده رښتینی هغه (وعده) چی وو دوی چی وعده به یئ ورسره کولی سوه (په دنیا) کښی.

الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ.. دمور حق دپلار دحق څخه زیات دی: دایت په شروع کي دحسن سلوک حکم دمور او پلار دواړو دپاره دی مګر دلته صرف دمور دمحنت او مشقت په ذکر کولوکي حکمت دادی چي دمور محنت او مشقت لازمي او ضروري دی: دحمل زماني تکليفونه بيا دوضع حمل او لنګون زيږولو تکليف په هر حال دهر بچي دپاره لازمي دی کم چي صرف دمور محنت دی دپلار دپاره دپرورش محنت دومره ضروري نه سي کيدای چي دپلار دپاره داولاد په پرورش کي څه محنت او مشقت کول راسي کله چي بياهغه مالدار او دخادمانو خاوند وي نو په نورو باندي دخپلو اولادونو خدمت کوي يا بل ملک ته ولاړ سي او خرڅ راليږي داوجه ده چي نبي کريم ﷺ پر اولادباندي دمورحق دټولو څخه زيات اېښی دی : په يو حديث شريف کي ارشاد مبارک دی چي صله رحمي او خدمت کوه دخپلي مور بيا دخپلي مور بيا دخپلي مور ددې څخه وروسته دخپل پلار او ددې څخه وروسته چي کم زيات نژدي قريب وي دهغوی بيا ورپسې الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۱۵)

وَالَّذِىۡ قَالَ لِوَالِدَيۡهِ اُفٍّ لَّـكُمَاۤ اَتَعِدٰنِنِىۡۤ

وَالَّذِىۡ	قَالَ	لِوَالِدَيۡهِ	اُفٍّ	لَّـكُمَاۤ	اَتَعِدٰنِنِىۡۤ
او هغه چې	ويې ويل	مور او پلار خپل ته	افسوس او كراهيت دى	تاسي دواړو لره	آيا وعده كوئ تاسي له ما سره

او هغه (سړى) چې ويې ويل مور او پلار خپل ته قباحت او كراهيت دى وى تاسي دواړو لره آيا وعده كوئ تاسي له ماسره

اَنۡ اُخۡرَجَ وَقَدۡ خَلَتِ الۡقُرُوۡنُ مِنۡ قَبۡلِىۡ‌ۚ وَهُمَا يَسۡتَغِيۡثٰنِ

اَنۡ اُخۡرَجَ	وَقَدۡ	خَلَتِ	الۡقُرُوۡنُ	مِنۡ قَبۡلِىۡ	وَهُمَا	يَسۡتَغِيۡثٰنِ
چې وبه ايستلى سم	او په تحقيق	تير سوى دى	ډير اهل د زماني	پخوا له ما څخه	او هغو دواړو	زارى كولى

چې وبه ايستلى سم (له قبره) حال دا چې په تحقيق تير سوى دى ډير اهل د زماني پخوا له ما څخه او هغو دواړو زارى كولى

اللّٰهَ وَيۡلَكَ اٰمِنۡ‌ۖ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ‌ ۖۚ فَيَقُوۡلُ مَا هٰذَاۤ اِلَّاۤ

اللّٰهَ	وَيۡلَكَ	اٰمِنۡ	اِنَّ	وَعۡدَ اللّٰهِ	حَقٌّ	فَيَقُوۡلُ	مَا هٰذَاۤ	اِلَّاۤ
الله ته	خرابي ده تا ته	ايمان راوړه ته	بيشكه!	وعده د الله	حقه، ربښتيا ده	پس وايئ دى	نه دى دا (قول)	مگر

الله ته خرابي ده تاته ايمان راوړه ته! بيشكه! وعده د الله حقه ربښتيا ده ، پس وايئ دى نه دى دا (قول په بعث) مگر

اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ‏ ﴿۱۷﴾ اُولٰۤـئِكَ الَّذِيۡنَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ

اَسَاطِيۡرُ	الۡاَوَّلِيۡنَ	اُولٰۤـئِكَ	الَّذِيۡنَ	حَقَّ	عَلَيۡهِمُ
دروغى قصى	د پخوانيو خلكو	دا	هغه كسان دى	چې حقه، ثابته سوى ده	پر دوى باندي

دروغى قصى د پخوانيو خلكو . دا هغه كسان دى چې حقه ثابته سوى ده پر دوى باندي

الۡقَوۡلُ فِىۡۤ اُمَمٍ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّنَ الۡجِنِّ

الۡقَوۡلُ	فِىۡۤ اُمَمٍ	قَدۡ	خَلَتۡ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ	مِّنَ الۡجِنِّ
خبره	په جمله د نورو امتونو خلكو كښى	په تحقيق	تير سوى دى	پخوا له دوى څخه	له پيريانو

خبره (د عذاب) په جمله د نورو امتونو خلكو كښى چې په تحقيق تير سوى دى پخوا له دوى څخه له پيريانو

وَالۡاِنۡسِ‌ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا خٰسِرِيۡنَ‏ ﴿۱۸﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا

وَالۡاِنۡسِ	اِنَّهُمۡ	كَانُوۡا	خٰسِرِيۡنَ	وَلِكُلٍّ	دَرَجٰتٌ	مِّمَّا
او انسانانو	بيشكه! دوى	وو	زيان كاران	او هرى فرقى ته	مرتبى دى	له (جزاء د) هغو

او انسانانو بيشكه! دوى وو زيان كاران (په دنيا كښى). او هرى فرقى ته مرتبى دى له (جزاء د) هغو

وَالَّذِىۡ قَالَ لِوَالِدَيۡهِ اُفٍّ لَّكُمَاۤ. د مور او پلار سره بدسلوكي او بدزباني د بدبختي او شقاوت علامه ده: په تير آيت كي د والدينو د خدمت او اطاعت احكام وه په دې آيت كي د هغه سړي د عذاب او سزا ذكر دى كم چي د مور او پلار سره بد سلوكي او بد زباني كوي خاص بيا هر كله چي والدين ده ته د اسلام او نيكو عملو طرف ته دعوت وركوي: د دوى خبره نه منل دوچنده گناه ده: حافظ ابن كثير رحمه الله فرمايي چي ددې آيت مطلب عام دى كم سړي چي د خپل مور او پلار سره بدسلوكي كوي هغه ددې مصداق دى: مروان چي كم ددې آيت مصداق حضرت عبدالرحمن ابن ابي بكر رضي الله عنه په خپله يوه خطبه كي گرځولى وو ددې خبري تكذيب په صحيح بخاري كي په روايت د حضرت عائشي رضي الله عنها موجود دى: صحيح خبره داده چي مطلب د آيت عام دى په څه صحيح روايت كي يو فرد مصداق د آيت نه دى نقل سوى د غلط تعليم او تربيي په نتيجه كي تاسي وينى چي نن سبا د مور او پلار اهانت د ټولني په ځينو ځوانانو كي پيدا او عادت دى. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٦ ص ٢١)

عَمِلُوۡا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمۡ اَعۡمَالَهُمۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ⑲

عَمِلُوۡا	وَلِيُوَفِّيَهُمۡ	اَعۡمَالَهُمۡ	وَهُمۡ	لَا يُظۡلَمُوۡنَ
چې کړي يئ دي	او د پاره ددې چې پوره به ورکړه سي دوی ته	جزاء د عملونو د دوی	چې پر دوی به	ظلم و نه کړل سي

چې کړي ئې دي او د پاره ددې چې پوره به ورکړه سي دوی ته جزاء د عملونو ددوی چې پر دوی به ظلم و نه کړل سي

وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا عَلَى النَّارِ ؕ اَذۡهَبۡتُمۡ

وَيَوۡمَ	يُعۡرَضُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	عَلَى النَّارِ	اَذۡهَبۡتُمۡ
او هغه ورځ	چې وړاندی کړل سي	هغه کسان چې	کافران سوي دي	پر اور (د دوزخ)	چې وړي دي تاسي

اویاده کړه هغه ورځ چې وړاندی کړل سي هغه کسان چې کافران سوي دي پر اور (د دوزخ) چې وړي دي تاسي

طَيِّبٰتِكُمۡ فِىۡ حَيَاتِكُمُ الدُّنۡيَا وَاسۡتَمۡتَعۡتُمۡ بِهَا ۚ

طَيِّبٰتِكُمۡ	فِىۡ حَيَاتِكُمُ	الدُّنۡيَا	وَاسۡتَمۡتَعۡتُمۡ	بِهَا
خپل د خوند شيان	په ژوندون	د دنيا خپل کښې	او نفع اخيستی ده تاسي	په هغه سره

لذائذ نیکی خپل په ژوندون د دنیا خپل کښې او نفع اخیستی ده تاسي په هغه سره (په دنیا کښې)

فَالۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ الۡهُوۡنِ بِمَا كُنۡتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ

فَالۡيَوۡمَ	تُجۡزَوۡنَ	عَذَابَ	الۡهُوۡنِ	بِمَا كُنۡتُمۡ	تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ
پس نن ورځ به	جزاء درکوله سی تاسی ته	د عذاب	سپکوونکی	په سبب د هغی چې وئ به تاسی	چې تکبر لوئ به موکوله

پس نن ورځ به جزاء درکوله سی تاسی ته د عذاب سپکوونکی په سبب د هغی چې وئ به تاسو چې تکبر لوئ به مو کوله

فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ وَبِمَا كُنۡتُمۡ تَفۡسُقُوۡنَ ⑳ وَاذۡكُرۡ

فِى الۡاَرۡضِ	بِغَيۡرِ الۡحَقِّ	وَبِمَا	كُنۡتُمۡ	تَفۡسُقُوۡنَ	وَاذۡكُرۡ
په مځکه کښې	په ناحقه سره	او په سبب د هغی	چې وئ تاسی	چې نافرماني به مو کوله	او یاد کړه (محمده)

په مځکه کښې په ناحقه سره او په سبب دهغی چې وئ تاسو چې نافرماني به مو کوله . او یاد کړه (محمده)

اَخَا عَادٍ ؕ اِذۡ اَنۡذَرَ قَوۡمَهٗ بِالۡاَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ

اَخَا	عَادٍ	اِذۡ اَنۡذَرَ	قَوۡمَهٗ	بِالۡاَحۡقَافِ	وَقَدۡ	خَلَتِ
ورور	د عاد	کله چې وبیراوه ده	قوم خپل	په وادی احقاف کښې	او په تحقیق	تیر سوی وو (نور)

ورور د عاد (هود) کله چې وبیراوه ده قوم خپل په (ریګستان) چې احقاف دی (له عذابه) او په تحقیق تیر سوی وو (نور)

اَذۡهَبۡتُمۡ طَيِّبٰتِكُمۡ فِىۡ حَيَاتِكُمُ الدُّنۡيَا..

کفاروته دالله ﷻ دطرفه

خطاب: يعني کفارو ته خطاب دی او دا ورته وبيل کيږي چې تاسي که څه ښه کار په دنيا کي کړی وونو دهغه بدله هم تاسي ته ددنيوي نعمتونو او عيش عشرت په صورت کي درکول سوي ده اوس په آخرت کي ستاسي هيڅ حصه باقي نه ده پاته سوي : داخطاب کفارو ته دی ددې څخه معلوميږي چې دکفارونيک عملونه کم چې دايمان نه راوړو په وجه دالله ﷻ په نزد مقبول نه دي په آخرت کي څو ددوی هيڅ قيمت نسته مګر په دنيا کي الله ﷻ ددوی بدله ورکوي کفارو فاجرانوته چې کم مال دولت او عزت مرتبه وغيره کمه په دنيا کي ورکول کيږي هغه ددوی دنيکو عملونو سخاوت همدردی او ربتينولالي وغيره بدله وي دمومنانو دپاره داحکم نه دی چې که دوی ته په دنيا کي څه مال دولت نعمت وغيره ورکول سي نو دآخرت دحق څخه به محرومه سي : په دغه آيت کي کفاروته عتاب اوعذاب دهغوی په دنيوي لذتونو کي دمشغوليدوپربنا وسو.

(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۲۱)

ع ۲

النُّذُرُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

النُّذُرُ	مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ	وَمِنْ خَلْفِهٖٓ	اَلَّا تَعْبُدُوْٓا
بیرونکی	مخکی له دغه (هوده)	او وروسته له ده څخه (په دی سره)	چی عبادت مه کوئ د هیچا

بیرونکی (انبیاء) وړاندی له دغه (هوده) او وروسته له ده څخه (په دی سره) چی عبادت بندګی مه کوئ د هیچا

اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ٢١ قَالُوْٓا

اِلَّا	اللّٰهَ	اِنِّیْٓ	اَخَافُ	عَلَيْكُمْ	عَذَابَ	يَوْمٍ	عَظِيْمٍ	قَالُوْٓا
بی له	الله	بیشکه! زه	بیریږم	پر تاسی باندی	له عذابه	دورځی	لوئی	وویل (هود ته قوم یئ)

بی له الله بیشکه! زه بیریږم پر تاسی باندی له عذابه د ورځی لوئی. وویل (هود ته قوم یئ)

اَجِئْتَنَا لِتَاْفِكَنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

اَجِئْتَنَا	لِتَاْفِكَنَا	عَنْ اٰلِهَتِنَا	فَاْتِنَا	بِمَا	تَعِدُنَآ
آیا راغلی یئ ته موږ ته	چی وګرځوی موږ	له معبودانو خپلو	پس راوړه موږ ته	هغه (عذاب)	چی وعده یئ کوی له موږ سره

آیا راغلی یئ ته موږ ته چی وګرځوی موږ له معبودانو خپلو پس راوړه موږ ته هغه (عذاب) چی وعده یئ کوی له موږ سره

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ٢٢ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ

اِنْ كُنْتَ	مِنَ الصّٰدِقِيْنَ	قَالَ	اِنَّمَا	الْعِلْمُ	عِنْدَ اللّٰهِ
که چیری یئ ته	له ربنتیا ویونکو څخه	وویل (هود)	بیشکه! هم داخبره ده	چی علم	په نزد د الله دی

که چیری یئ ته له ربنتیا ویونکو څخه. وویل (هود) بیشکه! هم داخبره ده چی علم د راتلو د عذاب په نزد د الله دی

وَاُبَلِّغُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَلٰكِنِّیْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ٢٣

وَاُبَلِّغُكُمْ	مَّآ اُرْسِلْتُ	بِهٖ	وَلٰكِنِّیْٓ	اَرٰىكُمْ	قَوْمًا	تَجْهَلُوْنَ
او رسوم زه تاسی ته	هغه څه چی پری رالیږلی سوی یم زه	په هغو سره	او لیکن زه	وینم تاسی	یو قوم	جاهل، ناپوه

او رسوم زه تاسی ته هغه څه (احکام) چی پری رالیږلی سوی یم زه په هغو سره او لیکن زه وینم تاسی یو قوم جاهل، ناپوه

فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ ۙ قَالُوْا هٰذَا

فَلَمَّا	رَاَوْهُ	عَارِضًا	مُّسْتَقْبِلَ	اَوْدِيَتِهِمْ	قَالُوْا	هٰذَا
پس کله چی	ولید دوی هغه	په شکل د یوی پلنی وریځی	مخ کوونکی	کندو کښتو د دوی ته	نو وی ویل دوی	دا

پس کله چی ولید دوی (هغه عذاب په شکل) د یوی پلنی وریځی مخ کوونکی کندو کښتو ددوی ته نو وی ویل دوی دا

النُّذُرُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

وکفارو دمکي ته دحضرت هود ؑ او دده دقوم قصه وریادول: په دغه راروانو ایاتونو کي الله ﷻ خطاب نبي کريم ﷺ ته کړی دی چي تاسي وکفارو دمکي ته ده حضرت هود ؑ او دده دقوم ذکر وکړی هغه وخت چي کله حضرت هود ؑ خپل قوم د الله ﷻ دعذاب څخه وبيروی او قوم دعادپه داسي مقام کي اوسيدل چي هلته دشګو اوږدي اوږدي غونډی او ډيری پرتې وې داد مقام نښه الله پاک ﷻ ځکه وښووله چي دليدونکو په ذهن کي دغه ځای حاضر سي نو حضرت هود ؑ دوی ته داپيغام دالله ﷻ دطرفه څخه ورسوی چي تاسي عبادت فقط ديوه الله ﷻ کوی او دخدای ﷻ څخه ماسوا دبل چا عبادت مه کوی کنه نو پر تاسي به دالله ﷻ عذاب رانازل سي او دا داسي ضروري او صحيح خبره ده چي دهغه هود ؑ څخه مخکي او دهغه څخه وروسته ددي مضمون بيرونکي پيغمبران تير سوي دي او دا هم عجيبه نه ده چي حضرت هود ؑ دي ددغه ټولو. **پاته بيان پر راروان مخ وګوری:**

عَارِضٌ مُّمۡطِرُنَا ؕ بَلۡ هُوَ مَا اسۡتَعۡجَلۡتُمۡ بِهٖ ؕ رِيۡحٌ

عَارِضٌ	مُّمۡطِرُنَا	بَلۡ هُوَ	مَا اسۡتَعۡجَلۡتُمۡ	بِهٖ	رِيۡحٌ
يوه پلنه وريځ ده	باران وروونکې پر موږ باندی	بلکه دا	هغه عذاب دی چې تلوار به مو کاوه تاسو	په هغه	يو باد دی

يو پلنه وريځ ده باران وروونکې پر موږ باندی، بلکه دا هغه عذاب دی چې تلوار به مو کاوه تاسو په هغه، يو باد دی

فِيۡهَا عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۝٢٤ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءٍۭ بِاَمۡرِ رَبِّهَا فَاَصۡبَحُوۡا

فِيۡهَا	عَذَابٌ	اَلِيۡمٌ	تُدَمِّرُ	كُلَّ شَيۡءٍۭ	بِاَمۡرِ	رَبِّهَا	فَاَصۡبَحُوۡا
چې په ده کښې	عذاب دی	دردناک	چې هلاکوی	هر شی	په امر، حکم	د رب خپل	بيا سهار ته پاتی سول

چې په ده کښې عذاب دی دردناک .چې هلاکوی هر شی په امر، حکم د رب خپل بيا سهار ته پاتی سول

لَا يُرٰۤى اِلَّا مَسٰكِنُهُمۡ ؕ كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡقَوۡمَ الۡمُجۡرِمِيۡنَ ۝٢٥

لَا يُرٰۤى	اِلَّا	مَسٰكِنُهُمۡ	كَذٰلِكَ	نَجۡزِى	الۡقَوۡمَ	الۡمُجۡرِمِيۡنَ
چې نه بهٔ ليدل کيدل	مگر	کورونه (خالی) د هغوی	همداسی	جزاء ورکوو موږ	قوم	گنهگارانو ته

داسی چې نه بهٔ ليدل سو مگر کورونه (خالی) دهغوی، همداسی جزاء ورکوو موږ قوم گنهگارانو ته

وَلَقَدۡ مَكَّنّٰهُمۡ فِيۡمَاۤ اِنۡ مَّكَّنّٰكُمۡ فِيۡهِ

وَلَقَدۡ	مَكَّنّٰهُمۡ	فِيۡمَاۤ	اِنۡ مَّكَّنّٰكُمۡ	فِيۡهِ
او خامخا په تحقيق	قدرت ورکړی وو موږ دوی ته	په هغو شيانو کښې	چې قدرت مو نه دی ورکړی تاسی ته	په هغه کښې

او خامخا په تحقيق قدرت ورکړی وو موږ دوی ته په هغو شيانو کښې چې قدرت مو نه دی ورکړی تاسی ته په هغه کښې

وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ سَمۡعًا وَّاَبۡصَارًا وَّاَفۡـِٕدَةً ۖ فَمَاۤ اَغۡنٰى عَنۡهُمۡ سَمۡعُهُمۡ

وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ	سَمۡعًا	وَّاَبۡصَارًا	وَّاَفۡـِٕدَةً	فَمَاۤ اَغۡنٰى	عَنۡهُمۡ	سَمۡعُهُمۡ
او گرځولی دی موږ هغوی ته	غوږونه	او سترگې	او زړونه	بيا دفع نه کړه	له دوی څخه	غوږونو د دوی

او گرځولی دی موږ هغوی ته غوږونه او سترگې او زړونه بيا دفع نه کړه له دوی څخه غوږونو د دوی

وَلَاۤ اَبۡصَارُهُمۡ وَلَاۤ اَفۡـِٕدَتُهُمۡ مِّنۡ شَيۡءٍ اِذۡ كَانُوۡا

وَلَاۤ اَبۡصَارُهُمۡ	وَلَاۤ اَفۡـِٕدَتُهُمۡ	مِّنۡ شَيۡءٍ	اِذۡ كَانُوۡا
او نه سترگو د دوی	او نه زړونو د دوی	هيڅ قدر	چې وو دوی

او نه سترگو د دوی او نه زړونو د دوی هيڅ قدر (له عذاب څخه)، له دی جهته چې وو دوی

عَارِضٌ مُّمۡطِرُنَا بَلۡ هُوَ مَا اسۡتَعۡجَلۡتُمۡ۔ دتير مخ پاته بيان دلته وگورى: پر توحيد باندي متفق کيدل ددوی په مخکي بيان کړي هم وي پس دجملي: وقد خلت النذر: په مينځ کي زياتول ددې دپاره دي چي ددعوت دمضمون تاکيد وسي او هود ﷺ په بيروولو کي دا وفرمايل چي زه تاسي ديوې لويې سختي ورځي دعذاب څخه بيروم که دهغه څخه ځانونه ساتل غواړی نو دالله ﷻ وحدانيت اويووالی قبول کړی هغوی وويل ايا ته موږ ته په دې اراده سره راغلې چي موږ زموږ دمعبودانو څخه واړوې پس موږ خو واپس کيدونکي نه يو باقي که ته رښتينی يې نو دکم عذاب چي ته زموږ سره وعده کوې هغه پر موږ واقع کړه هغوی وفرمايل چي پوره علم خو دخدای ﷻ سره دی چي عذاب به کله پر تاسي باندي راځي او ماته چي کم پيغام راکول سوی دی راليږل سوی يم زه خو تاسي ته هغه رسوم چنانچي په هغه کي ماته دا هم ويل سوي دي چي پر تاسي به ددې توحيد دمخالفت په نتيجه کي خامخا عذاب راځي الخ. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٦ ص ٢٢)

يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

يَجْحَدُوْنَ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ	وَحَاقَ	بِهِمْ	مَّا كَانُوْا	بِهٖ
چې انکار به يې کاوه	په دلائلو	دالله	او نازل سو	په هغوی	هغه (عذاب) چې وو دوی	په هغه پوری

چې انکار به يې کاوه په دلائلو (دقدرت) دالله او نازل سو په هغوی هغه (عذاب) چې وو دوی چې په هغه پوری به يې

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى

يَسْتَهْزِءُوْنَ	وَلَقَدْ	اَهْلَكْنَا	مَا حَوْلَكُمْ	مِّنَ الْقُرٰى
توکی کولې	او خامخا په تحقيق	هلاک کړې دی موږ	هغه چې شاوخوا دی له تاسی څخه	له کليو څخه

مسخرې، توکی کولې. او خامخا په تحقيق هلاک کړې دی موږ هغه چې چاپېر دی له تاسی څخه له (اهل د) کليو څخه

٣ ع٢ ٣

وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ

وَصَرَّفْنَا	الْاٰيٰتِ	لَعَلَّهُمْ	يَرْجِعُوْنَ	فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ
او مکرر موبيان کړی دی	دلائل	لپاره ددې چې دوی	بيرته راوګرځی	پس ولی مرسته ونه کړه له دوی سره

او مکرر مو بيان کړی دی دلائل (دقدرت) لپاره د دې چې دوی بيرته راوګرځی. پس ولی مدد، مرسته ونه کړه له دوی سره

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً بَلْ ضَلُّوْا

الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	مِنْ دُوْنِ	اللّٰهِ	قُرْبَانًا	اٰلِهَةً	بَلْ	ضَلُّوْا
هغو (بتانو)	چې نيولی ؤ دوی	بی له	الله	دپاره د نژديوالی	نور خدايان	بلکه	ورک سول

هغو (بتان) چې نيولی ؤ دوی (هغه بتان) بی له الله دپاره د نژديوالی نورخدايان، بلکه ورک سول (بتان په وخت دعذاب)

عَنْهُمْ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٨﴾ وَاِذْ

عَنْهُمْ	وَذٰلِكَ	اِفْكُهُمْ	وَمَا كَانُوْا	يَفْتَرُوْنَ	وَاِذْ
له دوی څخه	او دا	دروغ د دوی وو	او هغه چې وو دوی	چې له خپل ځانه به يې جوړول	او کله چې

له دوی څخه او دا (نيول دبتانو) دروغ د دوی وو او هغه چې وو دوی چې له خپل ځانه به يې جوړول. او ياد کړه کله چې

صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ

صَرَفْنَآ	اِلَيْكَ	نَفَرًا	مِّنَ الْجِنِّ	يَسْتَمِعُوْنَ	الْقُرْاٰنَ
وګرځول موږ	تاته	يو ټولی	له پيريانو څخه	چې غوږ به يې ايښود	قرآن ته

وګرځول موږ تاته يو ټولی له پيريانو څخه چې غوږ به يې ايښود قرآن ته

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى.. دمکې شا اوخوا کلي هم الله جَلَّ جَلَالُهُ دکفر او شرک په سبب هلاک کړي وه: په دغه آيت کي خطاب دمکې کفارو ته دی چي نور کفر او شرک پريږدی په ايمان او اسلام سره مشرفه سی ځکه چي ستاسي خوا او شاته نور کلي هم موږ ددې کفر او شرک په سبب هلاک کړي دي لکه ثموديان او قوم دلوط عليه السلام چي شام ته دتللو پر وخت به دمکې خلگ پر دغه کلو تيريدل او چونکي دمکې څخه يو طرف ته يمن دی او بل طرف ته شام دی نو ځکه يي: ماحولکم وفرمايل او موږ دهلاکولو څخه مخکي دهغوی دپوهولو دپاره بار بار خپلي نښي هغوی ته ښوولي وې چي هغوی دکفر او شرک څخه واپس سي مگر واپس نه سول او هلاک سول پس د خدای جَلَّ جَلَالُهُ څخه ماسوا کم کم شيان چي هغوی دخدای جَلَّ جَلَالُهُ دتقرب حاصلولو دپاره خپل معبودان جوړ کړي وه چي دا به په مصيبت کي زموږ په کارراسي دهلاکت او عذاب په وخت کي هغوی دددوی هيڅ مدد ولې ونه کی ؟ نو معلومه سول چي هغه هيڅ دي.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص ۲۴)

فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى

فَلَمَّا	حَضَرُوْهُ	قَالُوْٓا	اَنْصِتُوْا	فَلَمَّا	قُضِيَ	وَلَّوْا	اِلٰى
پس کله چي	حاضر سول دوی	وویل دوی	چپ سئ تاسی	بیا کله چي	پوره کړی سو	بیرته وګرځیدل	طرف د

پس کله چي حاضر سول دوی (دی قرآن ته) وویل دوی په مینځ خپل کښې چپ سئ تاسی بیا کله چي تمام سو بیرته وګرځیدل

قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ۝٢٩ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا

قَوْمِهِمْ	مُّنْذِرِيْنَ	قَالُوْا	يٰقَوْمَنَآ	اِنَّا	سَمِعْنَا	كِتٰبًا
قوم خپل ته	بیروونکی	وویل دوی	ای قومه زموږ	بیشکه! موږ	واووریده موږ	داسی یو کتاب

قوم خپل ته بیروونکی. وویل دوی ای قومه زموږ بیشکه! موږ واووریده موږ داسی یو کتاب

اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ

اُنْزِلَ	مِنْۢ بَعْدِ	مُوْسٰى	مُصَدِّقًا لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ	يَهْدِيْٓ
چي نازل کړی سوی دی	وروسته	له موسٰی	چي تصدیق کوونکی دی له هغو	چي پخوا له دی نه وو	لاره ښیي

چي نازل کړی سوی دی وروسته له موسٰی چي تصدیق کوونکی دی له هغو (کتابونو) سره چي پخوا له دی نه وو لاره ښیي

اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝٣٠ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ

اِلَى الْحَقِّ	وَاِلٰى طَرِيْقٍ	مُّسْتَقِيْمٍ	يٰقَوْمَنَآ	اَجِيْبُوْا	دَاعِيَ
وحق دین ته	او لاری	سمی ته	ای قومه! زموږ	قبول کړئ تاسی	قول د بلونکی

و حق دین ته او لاری سمی ته ، ای قومه زموږ! قبول کړئ تاسی قول د بلونکی

اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ

اللّٰهِ	وَاٰمِنُوْا	بِهٖ	يَغْفِرْ لَكُمْ	مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ	وَيُجِرْكُمْ	مِّنْ
دالله	او ایمان راوړئ	په ده باندی	چي مغفرت وکړی تاسی ته	دګناهونو ستاسی	او خلاص به کړی تاسی	له

دالله او ایمان راوړئ په ده باندی چي مغفرت وکړی (الله) تاسی ته د ګناهونو ستاسی ، او خلاص به کړی (الله) تاسی له

عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٣١ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ

عَذَابٍ	اَلِيْمٍ	وَمَنْ	لَّا يُجِبْ	دَاعِيَ	اللّٰهِ	فَلَيْسَ
عذاب	دردناک څخه	او هغه څوک	چي ونه منی	بلونکی	دالله	پس نه به وی

عذاب دردناک څخه او هغه څوک چي ونه منی (بلنه د) بلونکی دالله پس نه به وی

فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا... دپیریانو دایمان راوړلو واقعه: په ذکر سوو ایاتونو کي دمکي کفاروته دشرم مخکي کولو دپاره د پیریانو دایمان راوړلو واقعه بیان سویده چي پیریان خو په غروراو تکبر کي ستاسي څخه هم زیات دي مګر چي قرآن کریم یي واوریدی نو دهغوی زړونه نرم سول او مسلمانان سول تاسي ته خو الله جَلَّ جَلَالُهُ دپیریانو څخه زیات عقل اوشعور درکړی دی مګر ددي باوجود تاسي ایمان رانه وړی او دپیریانو واقعه دقرآن داوریدو او ایمان راوړو په صحیحو احادیثو کي داسي راغلي ده چي دنبي کریم ﷺ دبعثت په وخت کي هر کله چي پیریان دآسماني خبرونو داوریدلو دپاره لوړ ختله نو په شهاب ثاقب ویشتل کیدله په پیریانو کي ددي ذکر وسوچي ددي سبب معلومول پکار دي چي څه نوي واقعه په دنیا کي پیښه سویده چي دهغه په وجه پیریان دآسماني خبرو داوریدو څخه منع سول دپیریانو مختلفي ډلي ددنیا مختلفوطرفونو ته ددي دتحقیق دپاره خپري سوي وې ددوی یوه ډله دحجاز طرف ته ورسیده پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

بِمُعۡجِزٍ فِي الۡاَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهٗ مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ

بِمُعۡجِزٍ	فِي الۡاَرۡضِ	وَلَيۡسَ	لَهٗ	مِنۡ دُوۡنِهٖۤ	اَوۡلِيَآءُ	اُولٰٓئِكَ
عاجز کوونکی	په مځکه کښې	او نه به وی	ده ته	بی له هغه (الله) څخه	دوستان، مددګاران	دغه کسان

عاجز کوونکی په مځکه کښې او نه به وی ده ته بی له هغه (الله) څخه دوستان مددګاران، دغه کسان

فِيۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۳۲ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيۡ خَلَقَ

فِيۡ ضَلٰلٍ	مُّبِيۡنٍ	اَوَلَمۡ يَرَوۡا	اَنَّ	اللّٰهَ	الَّذِيۡ	خَلَقَ
په ګمراهي	ښکاره کښې دی	آیا نه وینی دوی	چې بیشکه!	الله	هغه (ذات) دی	چې پیدا کړی یئ دی

په ګمراهي ښکاره کښې دی، آیا نه وینی فکر نه کوی چې بیشکه! الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړی یئ دی

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى

السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	وَلَمۡ يَعۡيَ	بِخَلۡقِهِنَّ	بِقٰدِرٍ	عَلٰٓى
آسمانونه	او مځکه	حال دا چې نه دی ستړی سوی	په پیدا کولو دهغوی کښې	قادر	پر

آسمانونه او مځکه حال دا چې نه دی ستړی سوی په پیدا کولو دهغوی کښې قادر په

اَنۡ يُّحۡيِۦَ الۡمَوۡتٰى ؕ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ ۳۳ وَيَوۡمَ

اَنۡ يُّحۡيِۦَ	الۡمَوۡتٰى	بَلٰٓى	اِنَّهٗ	عَلٰى	كُلِّ شَيۡءٍ	قَدِيۡرٌ	وَيَوۡمَ
دی چې ژوندی کړی	مړی	بلکه قادر دی	بیشکه! دغه (الله)	پر	هر شی باندی	ښه قادر دی	او هغه ورځ

دی باندی چې ژوندی کړی مړی؟ بلکه قادر دی بیشکه! دغه (الله) پر هر شی باندی ښه قادر دی. او یاده کړه هغه ورځ

يُعۡرَضُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا عَلَى النَّارِ ؕ اَلَيۡسَ هٰذَا بِالۡحَقِّ ؕ

يُعۡرَضُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	عَلَى النَّارِ	اَلَيۡسَ	هٰذَا	بِالۡحَقِّ
چې وړاندی به کړل سی	هغه کسان	چې کافران سوی دی	پر اور باندی	آیا نه وو	دغه (عذاب)	حق، رښتیا

چې وړاندی به کړل سی هغه کسان چې کافران سوی دی په اور باندی آیا نه وو دغه (عذاب) حق، رښتیا

قَالُوۡا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ

قَالُوۡا	بَلٰى	وَرَبِّنَا	قَالَ	فَذُوۡقُوا	الۡعَذَابَ	بِمَا كُنۡتُمۡ
وبه وایئ دوی	چې هو! قسم دی	په رب زموږ	فرمائی الله	نو وڅکئ تاسی	عذاب	په سبب دهغه چې وئ تاسی

وبه وایئ دوی چې هو! رښتیا دی قسم دی زموږ په رب زموږ، فرمائی نو وڅکئ تاسی عذاب په سبب دهغه چې وئ تاسی

بِمُعۡجِزٍ فِي الۡاَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهٗ مِنۡ دُوۡنِهٖ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګورئ:

په دغه ورځ نبي کریم ﷺ دخپلو څو صحابه کرامو ﵃ سره په مقام نخله کي تشریف درلودی او دسوق عکاظ طرف ته یي دتللو اراده درلوده ده عربو خلګو به دتجارتي او معاشرتي کارونو دپاره په مختلفو مقاماتو باندي په خاصو خاصو ورځو کي بازارونه لګول چي دهري مځکي څخه به ورته خلګ جمع کیدل دکانونه به لګیدل او اجتماعات او جلسي به کیدې لکه زموږ په زمانه کي چي دغه شان نمایشونه ځای پر ځای کیږي په هغه کي به یو بازار په مقام دعکاظ کي لګیدی: نبي کریم ﷺ غالبا داسلام ددعوت او تبلیغ دپاره تشریف یووړی په دې مقام بطن نخله کي دوی دسهار لمونځ کوی چي هغه پیریان دلته راورسیدل قرآن کریم یي واوریدی نو ویي ویل چي بس هغه نوې خبره داده کمه چي زموږ اوداسماني خبرونو تر مابین حائله سوې وه نو بیا مسلمانان سول خپل قوم ته ولاړل او هغوی ته یي داټوله پس منظر بیان کي او داسلام طرف ته یي راوبلل.

(معرف القرآن ج۹ پ۲۶ ص ۲۶)

تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ

تَكْفُرُوْنَ	فَاصْبِرْ	كَمَا	صَبَرَ	اُولُوا	الْعَزْمِ
چي كافران كيدلى	نو صبر كوه ته	لكه چي	صبر كړى وُ	خاوندانو	دعزم ټينګ

چي كافران كيدلى. نو صبر كوه ته لكه چي صبر كړى و خاوندانو دعزم ټينګ ودريدلو (په حق)

مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ؕ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ

مِنَ الرُّسُلِ	وَلَا تَسْتَعْجِلْ	لَّهُمْ	كَاَنَّهُمْ	يَوْمَ
له رسولانو	او تلوار مه كوه	دوى ته	ګويا دوى	په هغه ورځ كښى

له رسولانو او تلوار مه كوه (په غوښتلو دعذاب) دوى ته، ګويا دوى په هغه ورځ كښى

يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً


يَرَوْنَ	مَا يُوْعَدُوْنَ	لَمْ يَلْبَثُوْٓا	اِلَّا	سَاعَةً
چي ويني	هغه چي وعده يئ ورسره كولى سوه	نه وه پاته سوى دوى	مګر	يو ساعت

چي ويني هغه (عذاب) چي وعده يئ ورسره كولى سى نه دى تير كړى (په دنيا كښى) مګر يو ساعت

مِّنْ نَّهَارٍ ؕ بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع

مِّنْ نَّهَارٍ	بَلٰغٌ	فَهَلْ	يُهْلَكُ	اِلَّا	الْقَوْمُ	الْفٰسِقُوْنَ
له يوى ورځى څخه	دغه (قرآن) پند رسوونه دى	نو آيا	هلاک به كړل سى	مګر	قوم	فاسقان

له يوى ورځى څخه، دغه (قرآن) پند رسوونه دى نو آيا هلاک به كړسى مګر قوم فاسقان سرغړوونكى (له احكامو دالله)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ

اَلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَصَدُّوْا	عَنْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اَضَلَّ
هغه كسان	چي كافران سوى دى	او منع كړى يئ دى خلګ	له لارى	دالله څخه	خراب كړى دى

هغه كسان چي كافران سوى دى او منع كړى يئ دى خلګ له لارى د الله (اسلام) څخه خراب (ابته) كړى دى

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ د الله ﷻ د طرفه څخه و نبي كريم ﷺ ته د صبر او زغم تلقين: په من الرُّسل كي لفظ دمن دمحققينو په نزد بيانيه دى دتبعيض دپاره نه دى: معنى داده چي ټول رسولان كم چي صاحب عزم او همت دي: معلومه سوه چي صاحب دعزم او همت كيدل دټولو انبياوو صفت والى دى البته درسولانو په مينځ كي دصفتونو په درجو كي تفاضل او كمى زياتى په خپله دقرآن كريم دارشاد څخه ثابت دى: تلك الرسل فضّلنا بعضهم على بعض: په دې وجه كم انبياء چي په صفت دعزم او همت كي دنورو څخه زيات امتياز لري خاص دهغو رسولانو دپاره دادلقب په طور مشهور سوا و ددې په تعين كي هم اختلاف دى او داكثرو قول دادى چي لقب داولو العزم چي كمو ته وركول سوى دى دا هغه حضرات دي دكمو ذكر چي دسورت احزاب په دې ايت كي سوى دى: واذاخذنا من النبيين ميثقهم ومنك ومن نوح وابراهيم و موسى وعيسى ابن مريم: يعني دغه پنځه كسه انبياء عليهم السلام دي الخ (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۳۰)

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا دسورت محمد دوهم نوم سورت قتال هم دی: ځکه چي دجهاد او قتال احکام په دغه سورت کي بيان سوي دي :دمدينې منورې دهجرت څخه فورا وروسته داسورت نازل سو تر دي چي ددې سورت يو آيت: كاين من قرية: مكي دی ځکه چي ددې نزول هغه وخت سوی دی هر کله چي دوی ﷺ دهجرت په نيت سره د مکې مکرمې څخه ووتل او دمکې مکرمې کلي او بيت الله ته يي وکتل حضور ﷺ وفرمايل چي دټولې دنيا په ښارونو کي ماته ته زياته محبوبه يي کـه دمکې خلګو زه ددې ځايه څخه نه ايستلای نو ما به په خپل اختيار سره مکه مکرمه نه وای پرې ايښې: او د مفسرينو داصطلاح مطابق چي کم اياتونه دمدينې دهجرت دسفر په دوران کي نازل سوي دي هغه ته مکي وايي لنډه دا چي دا سورت دمدينې منورې دهجرت څخه فورا وروسته نازل سوی دی او کله چي نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته ورسيدی نو دکفارو سره دجهاد او قتال احکام نازل سول.الله ﷻ دي دعمل توفيق راکړي> (معارف القرآن ج۹پ ۲٦ ص ۳۲)

اَعْمَالَهُمْ ۝١ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا

اَعْمَالَهُمْ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوْا	الصّٰلِحٰتِ	وَاٰمَنُوْا
(الله) عملونه ددوی	او هغه کسان چي	ايمان يئ راوړی دی	اوکړی يئ دی	ښه (عملونه)	او ايمان يئ راوړی دی

(الله نيک) عملونه د دوی. او هغه کسان چي ايمان يئ راوړی دی اوکړی يئ دی ښه (کارونه) او ايمان يئ راوړی دی

بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ

بِمَا	نُزِّلَ	عَلٰى	مُحَمَّدٍ	وَّهُوَ	الْحَقُّ	مِنْ رَّبِّهِمْ	كَفَّرَ	عَنْهُمْ
په هغه	چي نازل کړی سوی دی	پر	محمد	او هغه	حق (دين) دی	له (نزده) ربه د دوی	وبه رژوی	له دوی څخه

په هغه (قرآن) چي نازل کړی سوی دی پر محمد او هغه حق (دين) دی له (نزده) ربه د دوی وبه رژوی له دوی څخه (الله)

سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۝٢ ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

سَيِّاٰتِهِمْ	وَاَصْلَحَ	بَالَهُمْ	ذٰلِكَ	بِاَنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
ګناهونه ددوی	او ښه به کړی	حال د دوی	دغه په سبب ددی چي	بيشکه!	هغه کسان	چي کافران سوی دی

ګناهونه د دوی او ښه به کړی (الله) حال د دوی. دغه په سبب د دی چي بيشکه! هغه کسان چي کافران سوی دی

اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ

اتَّبَعُوا	الْبَاطِلَ	وَاَنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّبَعُوا	الْحَقَّ
متابعت يئ کړی دی	دباطل	او بيشکه!	هغه کسان	چي ايمان يئ راوړی دی	متابعت يئ کړی دی	دحق (قرآن)

متابعت يئ کړی دی دباطل (دشيطان) او بيشکه! هغه کسان چي ايمان يئ راوړی دی متابعت يئ کړی دی د حق (قرآن)

مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ۝٣

مِنْ رَّبِّهِمْ	كَذٰلِكَ	يَضْرِبُ	اللّٰهُ	لِلنَّاسِ	اَمْثَالَهُمْ
له جانبه درب د دوی	همداسی	بيانوی	الله	خلګو ته	مثالونه (احوال) د دوی

له جانبه درب د دوی همداسی (په مثل ددی بيان) بيانوی الله خلګو ته مثالونه (احوال) د دوی .

فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ؕ

فَاِذَا	لَقِيْتُمُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فَضَرْبَ	الرِّقَابِ
نو کله چي	مخامخ سوئ	له هغو کسانو سره	چي کافران سوی دی	نو ووهئ وهل	د څټونو (دهغو)

نو کله چي مخامخ سوئ (په جنګ کښی) له هغو کسانو سره چي کافران سوی دی نو ووهئ وهل د ورمېږونو (دهغو)

حَتّٰىٓ اِذَآ اَثۡخَنۡتُمُوۡهُمۡ فَشُدُّوا الۡوَثَاقَ ۙ فَاِمَّا مَنًّۢا

حَتّٰىٓ	اِذَآ اَثۡخَنۡتُمُوۡهُمۡ	فَشُدُّوا	الۡوَثَاقَ	فَاِمَّا مَنًّا
ترهغه پورې	چې ښه ډیر مو وو وژل دوی	نو سخت محکم کړئ	تړل	پس بیا احسان ورسره وکړئ

ترهغه پورې چې ښه ډیر مو ووژل دوی او پرې غالب سوئ نو بیا سخت محکم کړئ تړل (د دوی) پس بیا احسان ورسره وکړئ

بَعۡدُ وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ الۡحَرۡبُ اَوۡزَارَهَا ۛۚ ذٰلِكَ

بَعۡدُ	وَاِمَّا فِدَآءً	حَتّٰى	تَضَعَ	الۡحَرۡبُ	اَوۡزَارَهَا	ذٰلِكَ
وروسته	او یا فدیه، عوض ځینې واخلئ	ترهغه پورې	چې کښیږدي	جنګ	وسلې خپلې	دغه دی (حکم دالله)

وروسته او یا تاسې فدیه کړئ دوی ترهغه پورې چې کښیږدي جنګ وسلې خپلې دغه دی (حکم دالله)

وَلَوۡ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانۡتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلٰكِنۡ لِّيَبۡلُوَا۟

وَلَوۡ يَشَآءُ	اللّٰهُ	لَانۡتَصَرَ	مِنۡهُمۡ	وَلٰكِنۡ	لِّيَبۡلُوَا۟
او که اراده فرمایلی وی	الله	نو خامخا به بدل اخیستئ ؤ الله	له دوی ځنې	او لیکن	لپاره ددې چې ازموینه وکړي

او که ارا ده فرمایلی وی الله نو خامخا به بدل اخیستئ ؤ الله له دوی ځنې او لیکن لپاره ددې چې ازموینه وکړي الله

بَعۡضَكُمۡ بِبَعۡضٍ ؕ وَالَّذِيۡنَ قُتِلُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ فَلَنۡ يُّضِلَّ

بَعۡضَكُمۡ	بِبَعۡضٍ	وَالَّذِيۡنَ	قُتِلُوۡا	فِىۡ سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	فَلَنۡ يُّضِلَّ
دځینو ستاسو	په ځینو نورو	او هغه کسان	چې وژلی سوی دی	په لاره	دالله کښې	پس له سره به ضایع نه کړي

دځینو ستاسو په ځینو نورو، او هغه کسان چې وژلی سوی دی په لاره د الله کښې پس له سره به ضایع نه کړي (الله)

اَعۡمَالَهُمۡ ۴ سَيَهۡدِيۡهِمۡ وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ ۵ وَيُدۡخِلُهُمُ

اَعۡمَالَهُمۡ	سَيَهۡدِيۡهِمۡ	وَيُصۡلِحُ	بَالَهُمۡ	وَيُدۡخِلُهُمُ
عملونه ددوی	ژر به سمه لاره وښیي دوی ته	او ښه به کړي	حال د دوی	او داخل به کړي دوی

عملونه د دوی. ژر به سمه لاره وښیي دوی ته (الله) او ښه به کړي حال د دوی (په دارینو کښې) .او داخل به کړي (الله) دوی

الۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ ٦ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِنۡ تَنۡصُرُوا

الۡجَنَّةَ	عَرَّفَهَا لَهُمۡ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡۤا	اِنۡ تَنۡصُرُوا
په جنت کښې	چې معلوم کړې دی دغه دوی ته	ای	هغو کسانو	چې ایمان یې راوړی دی	که مدد ګاري وکړئ تاسې

په جنت کښې چې معلوم کړې دی (الله) دغه دوی ته. ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی که مدد ګاري وکړئ تاسې

حَتّٰىٓ اِذَآ اَثۡخَنۡتُمُوۡهُمۡ فَشُدُّوا الۡوَثَاقَ..... ددې ایت څخه دوې خبرې ثابتې سوې: اول دا چې هر کله دجنګ او قتال په ذریعه دکفارو شوکت او قوت مات سي نو اوس پر ځای دقتلولو دوی قید سي بیا ددې جنګي قیدیانو متعلق مسلمانانو ته دوه اختیاره ورکول سوه. یو دا چې پر دوی دې احسان وسي بغیر دڅه فدیې او معاوضې څخه پرینښوول سي. دوهم دا چې ددوی څخه فدیه واخیستل سي چې څه مالي فدیه ورڅخه واخیستل سي او پرینښوول سي. دا حکم په ظاهره دهغه حکم خلاف دی کم چې دسورت انفال په آیت کې تیر سوی دی په کم کې چې یې دغزوه بدر دقیدیانو څخه دمعاوضې اخیستلو او پرینښوولو په رایه باندې دالله جل جلاله دطرف څخه عتاب نازل سو او نبي کریم ﷺ وفرمایل چې زموږ په دې عمل عذاب نژدې راغلی وو نو ددې څخه به بغیر دعمر ابن خطاب رضي الله عنه او سعد ابن معاذ رضي الله عنه څخه بل هیڅوک نه وای ساتل سوی ځکه چې هغوی په فدیه باندې په پرینښوولو درایې څخه اختلاف کړی وو چې تفصیل یې په سورت انفال کې تیر سو. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اللّٰهَ	يَنْصُرْكُمْ	وَيُثَبِّتْ	اَقْدَامَكُمْ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
له الله سره	نو کومک به وکړي (الله) له تاسي سره	او ثابت به کړي	قدمونه ستاسي	او هغه کسان	چي کافران سوي دي

له (دين د) الله سره نو مدد به وکړي (الله) له تاسي سره او ثابت به کړي قدمونه ستاسي. او هغه کسان چي کافران سوي دي

فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿٨﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا

فَتَعْسًا	لَّهُمْ	وَاَضَلَّ	اَعْمَالَهُمْ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	كَرِهُوْا
نو تباهي، بربادي ده	دوی ته	او عبث خراب به کړي	عملونه د دوی	دغه	بيشکه! هغوی	بد ګڼلي دي

پس هلاکوالي، شرمول دي دوی ته (له الله) او عبث خراب به کړي (الله) عملونه د هغوی. دغه بيشکه! هغوی بد ګڼلي دي

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿٩﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

مَآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	فَاَحْبَطَ	اَعْمَالَهُمْ	اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا
هغه (قرآن) چي نازل کړی دی	الله	پس الله عبث کړل	عملونه د دوی	آيا پس نه ګرځی دوی

هغه (قرآن) چي نازل کړی دی الله (پر محمد) پس الله عبث کړل (نيک) عملونه د دوی. آيا پس نه ګرځی دوی

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

فِي الْاَرْضِ	فَيَنْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الَّذِيْنَ
په مځکه کښې	چي وګوری دوی	چي څرنګه	وو	آخره خاتمه	د هغو کسانو

په مځکه کښې پس چي وګوری دوی (په نظر د عبرت سره) چي څرنګه وو عاقبت آخره خاتمه د هغو کسانو

مِنْ قَبْلِهِمْ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ﴿١٠﴾ ذٰلِكَ

مِنْ قَبْلِهِمْ	دَمَّرَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ	وَلِلْكٰفِرِيْنَ	اَمْثَالُهَا	ذٰلِكَ
چي پخوا له دوی څخه وو	هلاکت راوست	الله	په دوی باندی	او سته دپاره د کافرانو	مثالونه	دغه

چي پخوا له دوی څخه وو، هلاکت راوست الله په دوی باندی او سته دپاره د کافرانو مثالونه (دپخوانيو). دغه

بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى

بِاَنَّ	اللّٰهَ	مَوْلَى	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَاَنَّ	الْكٰفِرِيْنَ	لَا مَوْلٰى
بيشکه!	الله	دوست	د هغو کسانو دی	چي ايمان يې راوړی دی	او بيشکه!	چي کافران	نسته دوست

بيشکه! الله دوست مددګار د هغو کسانو دی چي ايمان يې راوړی دی او بيشکه! چي کافران نسته (هيڅ) دوست، مددګار

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ

دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: لنډه داچي په سورت انفال کي يي په فديه اخيستلو باندي دقيديانو پريښوول هم ممنوع کړي وه نو بغير دمعاوضې پريښوول خو به يي په درجه اولى ممنوع وي او دسورت محمد دي ذکر سوي ايت دا دواړه شيان جائز کړي دي په دې وجه اکثره صحابه امامان او فقهاء فرمايي چي دسورت محمد دې آيت دسورت انفال ايت منسوخ کى او په تفسير مظهري کي يي ليکلي دي چي دا داکثرو صحابه کرامو او جمهورو فقهاوو قول دی.
او ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دغزوه بدر پر موقع مسلمانان لږ وه نو دغه وخت داحسان کولو او فديي داخيستلو ممانعت رالى او هرکله چي دمسلمانانو شرکت او شمير زيات سو نو په سورت محمد کي داحسان کولو او فديي اخيستلو اجازت ورکول سو. په تفسير مظهري کي حضرت قاضي ثنآء الله رحمه الله دانقل کوي او فرمايي چي داقول صحيح او مختار دی ځکه چي په خپله رسول الله ﷺ په دې عمل فرمايلی دی الخ.
(معرف القرآن ج۹ پ۲۶ ص ۳۳)

لَهُمْ ⑪ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

لَهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُدْخِلُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
دوی ته	بیشکه !	الله	داخل به کړی	هغه کسان	چی ایمان یئ راوړی دی	او کړی یئ دی

دوی ته. بیشکه! الله داخل به کړی هغه کسان چی ایمان یئ راوړی دی او کړی یئ دی

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَالَّذِيْنَ

الصّٰلِحٰتِ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	وَالَّذِيْنَ
نبه (عملونه)	په جنتونو کښی	چی بهیږی به	له لاندی د هغو	ویالی	او هغه کسان چی

نبه (عملونه) په جنتونو کښی چی بهیږی به له لاندی (دونو او ماڼیو د هغو څلور قسمه) ویالی او هغه کسان چی

كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ

كَفَرُوْا	يَتَمَتَّعُوْنَ	وَيَاْكُلُوْنَ	كَمَا	تَاْكُلُ	الْاَنْعَامُ	وَالنَّارُ
کافران سوی دی	نفع اخلی دوی	او خوراک به کوی	لکه چی	خوراک کوی	چارپایان	او اور (د دوزخ)

کافران سوی دی (لږ) نفع اخلی دوی (په دنیا کښی) او خوراک به کوی لکه چی خوراک کوی چارپایان او اور (د دوزخ)

مَثْوًى لَّهُمْ ⑫ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً

مَثْوًى	لَّهُمْ	وَكَاَيِّنْ	مِّنْ قَرْيَةٍ	هِيَ	اَشَدُّ	قُوَّةً
ځای د ورتلو دی	دوی لره	او ډیر	له (اهل د) کلیو څخه	چی هغوی به	ډیر سخت وو	له جهته د قوت څخه

ځای د ورتلو دی دوی لره. او ډیر له (اهل د) کلیو څخه چی هغوی به ډیر سخت محکم وو له جهته د قوت څخه

مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ⑬

مِّنْ قَرْيَتِكَ	الَّتِيْٓ	اَخْرَجَتْكَ	اَهْلَكْنٰهُمْ	فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ
له کلی ستا څخه	هغه چی	څینی ایستلی یئ ته	هلاک مو کړل هغوی	پس نه به وُ هیڅ مدد کوونکی د دوی سره

له (اهل د) کلی ستا څخه هغه چی تری ایستلی یئ ته (محمده!) هلاک مو کړل هغوی پس نه به وُ مدد کوونکی د هغوی سره

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ

اَفَمَنْ	كَانَ	عَلٰى	بَيِّنَةٍ	مِّنْ رَّبِّهٖ	كَمَنْ	زُيِّنَ	لَهٗ	سُوْٓءُ
آیا نو هغه چی	وی	پر	ښکاره حجت	له رب خپل څخه	په شان د هغه دی	چی ښائسته کړی سوی دی	ده ته	ناکاره

آیا نو هغه چی وی په ښکاره حجت له رب خپل څخه په شان د هغه دی چی ښائسته کړی سوی دی ده ته ناکاره

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

ایمان او نیک عمل جنت ته د تللو سبب دی : په دغه آیت کي د الله ﷻ ارشاد مبارک دی چي کمو کسانو ایمان راوړی دی او نیک کارونه یي کړي دي هغه به زه داسي باغونو ته داخل کړم چي د هغه تر درختو لاندي به ولي بهیږي او ددې برعکس کم کسان چي کافران سوي دي هغوی په دنیا کي د عیش او عشرت ژوند کوي او داسي د آخرت څخه غافله دي چي خوري او چیښي یي لکه څنګه چي یي حیوانان خوري او چیښي چي هغوی دا سوچ نه کوي چي دا خوراک او چیښاک موږ لره ولي راکول کیږي او زموږ پر ذمه ددې څه حق واجب دي ؟ او جهنم د هغه خلګو دا وسیدو د پاره بد ځای دی : او بیا الله ﷻ فرمایي لوړچي د کمو کفارو په دنیا کي د عیش او عشرت کولو ذکر وسو په دې سره دي د مکې کفار په دوکه کي نه لویږي او تاسي لره ای زما نبي د دوی پر غفلت باندي څه غم او خفګان پکار نه دی کم چي د دوی د مخالفت سبب جوړ سوی دی تر دي چي ته یي تنګ کړې او د مکې څخه یي هم ویستې الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص ۴۵)

عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿١٤﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ

عَمَلِهٖ	وَاتَّبَعُوْٓا	اَهْوَآءَهُمْ	مَثَلُ	الْجَنَّةِ	الَّتِيْ	وُعِدَ
عمل دده	اومتابعت یئ کړی وی	دنفسونو خپلو	مثل، صفت	دجنت	هغه چې	وعده یئ کړی سوی ده

عمل د ده او متابعت یئ کړی وی د هواؤ خپلو. مثل صفت بیان د جنت هغه چې وعده یئ کړی سوی ده

الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ

الْمُتَّقُوْنَ	فِيْهَآ	اَنْهٰرٌ	مِّنْ مَّآءٍ	غَيْرِ	اٰسِنٍ	وَاَنْهٰرٌ	مِّنْ لَّبَنٍ
له پرهیزګارانو سره	په هغه کښی	ویالی دی	له اوبو	چې نه به وی	بد خوندی	او ویالی دی	د شیدو

له پرهیزګارانو سره، په هغه کښی ویالی دی له اوبو چې نه به وی بد خوندی (بدلیدونکی په مزه) او ویالی دی له شیدو

لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ

لَّمْ يَتَغَيَّرْ	طَعْمُهٗ	وَاَنْهٰرٌ	مِّنْ خَمْرٍ	لَّذَّةٍ	لِّلشّٰرِبِيْنَ	وَاَنْهٰرٌ
چې نه به وی بدل سوی	خوند د هغو	او ویالی دی	له شرابو	چې خوند ورکوونکی دی	څښونکو ته	او ویالی دی

چې نه به وی متغیری مزه د هغو، او ویالی دی له شرابو چې مزه ورکونکی دی (هغه) څښونکیو ته. او ویالی دی

مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

مِّنْ عَسَلٍ	مُّصَفًّى	وَلَهُمْ	فِيْهَا	مِنْ كُلِّ	الثَّمَرٰتِ
له شاتو، عسلو	صفاکړیو سویو	او (سته) دوی ته	په دغه (جنت) کښی	له هر قسم	میوو څخه

له شاتو صفا کړیو سویو، او (سته) دوی ته په دغه (جنت) کښی له هر راز (قسم) میوو څخه

وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً

وَمَغْفِرَةٌ	مِّنْ رَّبِّهِمْ	كَمَنْ	هُوَ	خَالِدٌ	فِي النَّارِ	وَسُقُوْا	مَآءً
او مغفرت	له (طرفه) درب د دوی	په شان د هغه دی	چې هغه	تل دی	په اور د دوزخ کښی	او ورڅښولی به سی په دوی	اوبه

او مغفرت له (طرفه) رب د دوی (آیا دغه) په شان د هغه دی چې هغه تل دی په اور د دوزخ کښی او ورڅښولی به سی پری اوبه

حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ

حَمِيْمًا	فَقَطَّعَ	اَمْعَآءَهُمْ	وَمِنْهُمْ	مَّنْ يَّسْتَمِعُ
ډیری تودی	پس پری به کړی	کولمی د دوی	او ځینی له دوی (کفارو) څخه	هغه دی چې غوږ ایږدی

ډیری تودی پس پری به کړی (ټوټی ټوټی به کړی) کولمی د دوی، او ځینی له دغو (کفارو) څخه هغه دی چې غوږ ایږدی

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ... دجنت تر درختو لاندي ثلور قسمه ويالې بهيږي دجنتيانو دپاره: چي بيان يي دادى دكم جنت چي دمتقيانو سره وعده كول كيږي دهغه حال دادى چي په دي كي ډيري ويالي دي خو دداسي اوبو دي په كموكي چي ذره تغيّر نه وي نه يي په بوى كي او نه يي په رنگ كي او نه يي په خوند كي او ډيري ويالي دشيدو دي چي خوند به يي ذره بدل نه وي او ډيري ويالې بيا داسي دشرابو دي چي چيښونكوته به ډير مزيداره معلوميږي او ډيري ويالي دشاتودي كم چي بالكل صاف او پاك دي او ددغه جنتيانو دپاره به په جنت كي هر قسم ميوې هم وي او وجنت ته تر داخليدو مخكي به دهغوى درب دطرفه ثخه دگناهونو بخښه وي ايا داسي خلگ دهغو په شان كيداى سي كم چي به هميشه په دوږخ كي اوسيږي او جوشيدلي اوبه به وركول كيږي دچيښاك دپاره او هغه داسي گرمي اوبه دي چي كله يي دغه دوږخيان وچيښي نو په نس كي دننه يي كولمې ور توټه توټه كړي او شوه سي ځني الخ.

(معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص ٤٥)

اِلَيۡكَ حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوۡا مِنۡ عِنۡدِكَ قَالُوۡا لِلَّذِيۡنَ اُوۡتُوا

اِلَيۡكَ	حَتّٰٓى	اِذَا	خَرَجُوۡا	مِنۡ عِنۡدِكَ	قَالُوۡا	لِلَّذِيۡنَ	اُوۡتُوا
تاته	ترهغه پورې	هركله چې	دباندې ووځې دوى	له نزده ستا څخه	نو وايئ	هغو كسانو ته	چې وركړى سوى دى دوى ته

تاته ترهغه پورې هر كله چې د باندې ووځې دوى له نزده تا څخه نو وايئ هغو كسانو ته چې وركړى سوى دى ورله

الۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا ۟ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى

الۡعِلۡمَ	مَاذَا قَالَ	اٰنِفًا	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيۡنَ	طَبَعَ	اللّٰهُ	عَلٰى
علم	څه وويل (محمد)	اوس	دوى	هغه كسان دى	چې مهر وهلى دى	الله	پر

علم څه وويل (محمد) اوس (په دې ساعت كښې) ، دوى هغه كسان دى چې مهر وهلى دى الله په

قُلُوۡبِهِمۡ وَاتَّبَعُوۡۤا اَهۡوَآءَهُمۡ ⑯ وَالَّذِيۡنَ اهۡتَدَوۡا

قُلُوۡبِهِمۡ	وَاتَّبَعُوۡۤا	اَهۡوَآءَهُمۡ	وَالَّذِيۡنَ	اهۡتَدَوۡا
زړونو د دوى	او متابعت كړى دى دوى	دنفسونو خپلو	او هغه كسان چې	سمه لاره يې پيدا كړې ده

زړونو د دوى او متابعت كړى دى دوى د هواؤ خپلو (په نفاق كښې). او هر څه هغه كسان چې سمه لاره يې پيدا كړې ده

زَادَهُمۡ هُدًى وَّاٰتٰىهُمۡ تَقۡوٰىهُمۡ ⑰ فَهَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ

زَادَهُمۡ	هُدًى	وَّاٰتٰىهُمۡ	تَقۡوٰىهُمۡ	فَهَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ
زيادت كړى دى دوى ته	هدايت	او وركړې ده (الله) دوى ته	پرهيزګارى د دوى	پس انتظار نه كوى دوى

زيادت كړى دى دوى ته (الله يا قرآن) هدايت بصيرت او وركړې ده (الله) دوى ته پرهيزګارى د دوى. پس انتظار نه كوى دوى

اِلَّا السَّاعَةَ اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ بَغۡتَةً ۚ فَقَدۡ جَآءَ اَشۡرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى

اِلَّا	السَّاعَةَ	اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ	بَغۡتَةً	فَقَدۡ	جَآءَ	اَشۡرَاطُهَا	فَاَنّٰى
مګر	دقيامت	چې رابه سى دوى ته	ناڅاپه	نو په تحقيق	راغلى دى	علامې د هغه	پس كوم ځاى به وى

مګر د قيامت چې را به سى دوى ته ناڅاپه نو په تحقيق راغلى دى علامې نښى د هغه (قيامت) پس بيا څرنګه به (نفع ورسوى)

لَهُمۡ اِذَا جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرٰىهُمۡ ⑱ فَاعۡلَمۡ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ

لَهُمۡ	اِذَا	جَآءَتۡهُمۡ	ذِكۡرٰىهُمۡ	فَاعۡلَمۡ	اَنَّهٗ	لَاۤ اِلٰهَ
دوى ته	هغه وخت	چې راسى دوى ته	نصيحت حاصلول د دوى	نو پوه سه	بيشكه! شان دا دى	چې نسته هيڅ برحق معبود

دوى ته هغه وخت چې راسى دوى ته (قيامت) تو به ايستل د دوى. نو پوه سه شان دا دى چې نسته هيڅ برحق معبود

اَنۡ تَاۡتِيَهُمۡ بَغۡتَةً ۚ فَقَدۡ جَآءَ اَشۡرَاطُهَا ۚ. دقيامت دعلاماتو ابتداء به كله كيږي ؟ داشراط معنى علامات يعني نښي دي او دقيامت دعلاماتو ابتداء په خپله دخاتم النبيين ﷺ دبعثت څخه كيږي ځكه چي ختم نبوت هم دقيامت دنږدي كيدو علامه ده دغه شان دسپوږمي دوه نيمه كولو معجزه هم په قرآن كريم كي د : اقتربت الساعة: فرمايلي ده او دي طرف ته يي اشاره كړيده چي دا هم دقيامت دعلاماتو څخه ده كمه چي په خپله دقرآن دنزول په وخت كي ظاهره سوي وه نور نژدې علامات په صحيح احاديثو كي ثابت دي په هغه كي يو حديث دحضرت انس رضي الله عنه څخه نقل دى چي ما دنبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي چي دقيامت علامات دادي. اول: علم به پورته سي. دوهم: جهل به زيات سي. دريم: زنا به ډيره سي: څلورم. شراب خوري به ډيره سي. پنځم: سړي به كم پاته سي. شپږم: ښځي به ډيري سي دپنځوسو ښځو كفالت كوونكى به يو سړى سي. دنن سبا حالات او دغه حديث نور نو فكر پكار دى.
(معارف القرآن ج ۹ پ۲۶ ص۴۷)

۲ ع۸ ۲

اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

اِلَّا	اللّٰهُ	وَاسْتَغْفِرْ	لِذَنْۢبِكَ	وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ
مګر یوازې	اللّٰه دی	او مغفرت غواړه	د ګناه خپلې	او د پاره د مؤمنانو سړیو	او مؤمنانو ښځو

مګر یوازې اللّٰه دی او مغفرت، بخښنه غواړه د ګناه خپلې او د پاره د مؤمنانو سړیو او مؤمنانو ښځو

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ

وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	مُتَقَلَّبَكُمْ	وَمَثْوٰىكُمْ	وَيَقُوْلُ	الَّذِيْنَ
او اللّٰه ته	معلوم دی	ځای د ګرځیدلو ستاسی	او ځای د هستوګنې ستاسی	او وایئ	هغه کسان چې

او اللّٰه ته معلوم دی ځای د ګرځیدلو ستاسی او ځای د هستوګنې ستاسی، او وایئ هغه کسان چې

اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ

اٰمَنُوْا	لَوْلَا نُزِّلَتْ	سُوْرَةٌ	فَاِذَآ	اُنْزِلَتْ	سُوْرَةٌ	مُّحْكَمَةٌ
ایمان یئ راوړی دی	ولې نه نازلول کیږي	یو سورت	نو پس کله چې	نازل کړ سی	یو سورت	محکم

ایمان یئ راوړی دی ولې نه نازلول کیږي یو سورت (د قرآن) ، نو پس کله چې نازل کړ سی یو سورت محکم

وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

وَّذُكِرَ	فِيْهَا	الْقِتَالُ	رَاَيْتَ	الَّذِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ
او یاد کړی سوی وی	په هغه کښې	جنګ	نو وینې به ته	هغه کسان	چې وی په زړونو د دوی کښې	ناروغی (د نفاق)

او یاد کړی سوی وی په هغه کښې جنګ نو وینې به ته هغه کسان چې وی په زړونو د دوی کښې ناروغی (د نفاق)

يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ؕ فَاَوْلٰى

يَّنْظُرُوْنَ	اِلَيْكَ	نَظَرَ	الْمَغْشِيِّ	عَلَيْهِ	مِنَ الْمَوْتِ	فَاَوْلٰى
ګوری	تا ته	لکه کتنه	د هغه چا چې بیهوشي راغلې وی	پر هغه باندې	له ییرې د مرګ څخه	پس هلاکت دی وی

ګوری تا ته لکه کتنه د هغه چا چې بیخودی راغلې وی پر هغه باندې له ییرې د مرګ څخه پس هلاکت دی وی

لَهُمْ ﴿۲۰﴾ طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ ۫ فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ ۟

لَهُمْ	طَاعَةٌ	وَّقَوْلٌ	مَّعْرُوْفٌ	فَاِذَا	عَزَمَ	الْاَمْرُ
دوی ته	طاعت کول	او خبره	نیکه کول	پس هر کله چې	ټینګ سی	امر (د جهاد)

دوی له کار د دوی، طاعت کول (د دوی اللّٰه ته) او خبره نیکه کول (تا ته) پس هر کله چې فرض سی کار، امر (د جهاد)

اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ. نبي کریم ﷺ ته پر توحید د ثابت قدم پاته کیدو حکم: په دې آیت کې نبي کریم ﷺ ته خطاب دی چې ته پوه سه چې د اللّٰه جل جلاله څخه ماسوا بل څوک د عبادت لائق نسته او ظاهره ده چې دا علم خو هر مومن مسلمان ته هم حاصل دی نو سید الانبیاء ﷺ ته به ولې نه وي حاصل؟ نو بیا ددې علم د حاصلولو حکم ورکول یا خو پر دې د ثابت قدم پاته کیدو په معنی کې دي: او یا یې پر مقتضیاتو عمل کول مراد دي لکه چې امام قرطبي رحمة الله علیه نقل کړي دي چې د سفیان ابن عیینة رحمة الله علیه څخه پوښتنه وسوه د علم د فضیلت په باره کې نو هغوی وفرمایل چې ایا تاسي د قرآن کریم دا ارشاد نه دی اوریدلی: فاعلم انّه لااله الا الله واستغفر لذنبک چې په دې کې د علم څخه وروسته د عمل حکم دی. د غه شان بل ځای فرمايي: اعلموا انّما الحيواة الدنيا لعب ولهو. او بیا فرمايي سابقوا الى مغفرة من ربکم. او د غه شان یو بل ځای فرمايي واعلموا انما اموالکم واولادکم فتنة. د دې څخه وروسته فرمايي: فاحذروهم. په دې ټولو کې اول علم بیا عمل دی. (معارف القرآن ج۹ پ۲٦ ص ۴۹)

فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ

فَلَوْ صَدَقُوا	اللّٰهَ	لَكَانَ	خَيْرًا	لَّهُمْ	فَهَلْ عَسَيْتُمْ
پس كه چيرى رښتيا ويل كړي وى دوى	له الله سره	نو خامخا به وو به دغه	خير، بهتر	دوى ته	پس آيا نژدې يئ تاسي

پس كه چيرى رښتيا ويل كړي وى دوى له الله سره نو خامخا به وو دغه رښتيا ويل بهتر دوى ته. پس آيا نژدې يئ تاسي

اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

اِنْ تَوَلَّيْتُمْ	اَنْ تُفْسِدُوْا	فِي الْاَرْضِ	وَتُقَطِّعُوْٓا	اَرْحَامَكُمْ
كه چيرى تاسي مخ واړوئ	نو فساد به وكړى	په مځكه كښى	او پرى به كړى تاسى	قرابتونه خپل

كه چيرى تاسي مخ واړوئ نو فساد به وكړي په مځكه كښى او پرى به كړى تاسى (خپلولي او) قرابتونه خپل.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ وَاَعْمٰٓى

اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	لَعَنَهُمُ	اللّٰهُ	فَاَصَمَّهُمْ	وَاَعْمٰٓى
دا (مفسدان)	هغه كسان دى	چې لرى كړى دى دوى	الله	پس نو كانه كړي يئ دى دوى	او رندى كړي يئ دى

دا (مفسدان) هغه كسان دى چې لرى كړى دى دوى الله (له رحمت) پس نو كانه كړي يئ دى دوى او رندى كړي يئ دى

اَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ

اَبْصَارَهُمْ	اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ	الْقُرْاٰنَ	اَمْ عَلٰى	قُلُوْبٍ
سترګى د دوى	آيا فكر نه كوى دوى	په قرآن كښى	بلكه پر	زړونو (د دوى باندى)

سترګى د دوى. آيا فكر نه كوى دوى په قرآن كښى بلكه پر زړونو (د دوى باندى)

اَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ

اَقْفَالُهَا	اِنَّ	الَّذِيْنَ	ارْتَدُّوْا	عَلٰٓى	اَدْبَارِهِمْ	مِّنْۢ بَعْدِ
قلفونه دزړونو د دوى دى	بيشكه!	هغه كسان	چې بيرته ګرځيدلى دى	پر	شاؤ خپلو	پس له

قلفونه د زړونو د دوى دى. بيشكه! هغه كسان چې بيرته ګرځيدلى دى (له ايمانه) پر شاؤ خپلو پس له

مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ

مَا تَبَيَّنَ	لَهُمُ	الْهُدَى	الشَّيْطٰنُ	سَوَّلَ	لَهُمْ
هغه څه چې ښكاره ده	دوى ته	سمه لاره	شيطان	ښائيسته كړي دى	دوى ته (ګناهونه)

هغه څه چې ښكاره سوى ده دوى ته سمه لاره، شيطان ښايسته كړي دى دوى ته (ګناهونه)

فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا... دالله جَلَّ جَلَالُهٗ له طرفه څخه دصله رحمي سخت تاكيد: دايت مطلب دادى چې كه تاسي دشرعي احكامو څخه روى ګرداني وكړه په كمو كي چي دجهادحكم هم شامل دى نو اثر به يي داوي چي تاسي به دجاهليت په پخوانيو طريقو كي پريوزي چي لازمي نتيجه يي په مځكه كي فساد او قطع دصله رحمي ده لكه چي دجاهليت په كار كي داليدل كيداى سوه چي يوه قبيله به پر بلي ورختله او لوټ مارى او قتلونه به يي كوله خپل بچي به يي په خپله ژوندى په قبر كي ښخول اسلام دا ټول جاهلي رسمونه ختم كړل او ددې دختم كولو دپاره يي دجهادحكم جاري وفرمايه كمه كه څه هم په ظاهره خونريزي ده مگر په حقيقت كي ددې مطلب وروست سوى اندام دجسم څخه جلا كول دي چي باقي جسم سالم پاته سي دجهاد په ذريعه دعدل او انصاف او خپلولو او رشتو احترام قائمول دي. او په تفسير روح المعانى او تفسير قرطبي وغيره كي يي دلته دتولى معنى حكومت او امارت اخيستې ده نو بيا يي معنى داولي معنى څخه مختلفه كيږي الخ.
(معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص٥٥)

وَاَمْلٰى لَهُمْ ﴿۲۵﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا

وَاَمْلٰى	لَهُمْ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	قَالُوْا	لِلَّذِيْنَ	كَرِهُوْا
او مهلت یئ ورکړی دی	دوی ته	دغه	بیشکه! دوی	وویل	هغو کسانو ته	چی بد یئ ګڼه

او مهلت ئې ورکړی دی (شیطان) دوی ته. دغه (مهلت) بیشکه! دوی وویل هغو کسانو ته چی بد یئ ګڼه

مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

مَا نَزَّلَ	اللّٰهُ	سَنُطِيْعُكُمْ	فِيْ بَعْضِ	الْاَمْرِ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ
هغه چی رالیږلی دی	الله	ژر به حکم ومنو ستاسی	په ځینو	کارونو کښی	او الله ته	معلومی دی

هغه (قرآن) چی رالیږلی دی الله ژر به حکم ومنو ستاسی په ځینو کارونو کښی او الله ته معلومی دی

اِسْرَارَهُمْ ﴿۲۶﴾ فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ

اِسْرَارَهُمْ	فَكَيْفَ	اِذَا	تَوَفَّتْهُمُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	يَضْرِبُوْنَ
پټی خبری د دوی	نو څرنګه به وی	کله چی	قبض کوی (روح) د دوی	ملائیکی	وهی به دوی

پټی خبری (او مشوری) د دوی. نو څرنګه به وی (حال د دوی) کله چی قبض کوی (روح) د دوی ملائیکی، وهی به دوی

وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿۲۷﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ

وُجُوْهَهُمْ	وَاَدْبَارَهُمْ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمُ	اتَّبَعُوْا	مَآ اَسْخَطَ
مخونه د دوی	او شاګانی د دوی	دغه چی	بیشکه! دوی	متابعت کړی وو	د هغه چی په غضب کاوه به یئ

مخونه د دوی او شاګانی د دوی. دغه (ساکښل) چی بیشکه! دوی متابعت کړی وو د هغه شی چی په غضب کاوه به یئ

اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۲۸﴾ ع اَمْ حَسِبَ

اللّٰهَ	وَكَرِهُوْا	رِضْوَانَهٗ	فَاَحْبَطَ	اَعْمَالَهُمْ	اَمْ حَسِبَ
الله	او بد به یئ ګڼله	خوښی د دغه (الله)	پس خراب کړل	عملونه د دوی	آیا ګمان کوی

الله او بد به یئ ګڼله خوښی د دغه (الله) پس ضائع، خراب کړل (الله نیک) عملونه د دوی. آیا ګمان کوی

الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ﴿۲۹﴾

الَّذِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ	اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ	اللّٰهُ	اَضْغَانَهُمْ
هغه کسان	چی په زړونو د دوی کښی	مرض دی	چی نه به ښکاره کوی	الله	پټی کینی د دوی

هغه کسان چی په زړونو د دوی کښی ناروغی ده چی نه به ښکاره کوی الله تعالی پټی کینی د دوی (له مؤ منانو سره)

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ.

منافقینو داګمان کوی چي الله ﷻ به ددوی کینې او حسد ښکاره نه کړي:

اضغان جمع دضغن ده چي معنی یې پټه دښمني او حسد او کینه ده منافقانو کمو چي به داسلام دعوی او په ظاهره دنبي کریم ﷺ سره دمحبت اظهار او په باطن کي دښمني او کینه ساتل دهغوی په باره کي نازل سوه چي دا خلګ دالله ﷻ چي رب العلمین ذات دی سره ددې چي دوی هغه عالم الغیب ګڼي دوی ددې خبري څخه ولي بې خبره دي او ولي بې فکره دي چي الله ﷻ به ددوی باطني راز او پټه دښمني خلګو ته ظاهره کړي. ابن کثیر رحمه الله فرمایي چي الله ﷻ په سورت برآءت کي ددوی دداسي عملونو، کارونو او حرکتونو پته وښووله دکمو څخه چي دمنافقینو دنفاق پته ولګیږي او هغوی وپیژندل سي په دې وجه سورت برآءت ته فاضحه هم وایي یعني رسوا کوونکی ځکه چي الله ﷻ په هغه سورت کي منافقین ودنیا ته رسوا او ښکاره کړل او ددوی خاص خاص نښاني یې وښوولې.

(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۵۷)

ع ۳

وَلَوۡ نَشَآءُ لَاَرَيۡنٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُمۡ بِسِيۡمٰهُمۡ ؕ

وَلَوۡ	نَشَآءُ	لَاَرَيۡنٰكَهُمۡ	فَلَعَرَفۡتَهُمۡ	بِسِيۡمٰهُمۡ
او كه	اراده وفرمايو موږ	نو خامخا به وښيو موږ تاته دوی	پس وبه پيژني ته دوی	په (علامو د) څيرو د دوی

او كه اراده وفرمايو موږ نو خامخا به وښيو موږ تاته دغه كسان نو خامخا وبه پيژني ته دوی په (علامو د) څيرو د دوی

وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِىۡ لَحۡنِ الۡقَوۡلِ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ اَعۡمَالَكُمۡ ﴿۳۰﴾

وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ	فِىۡ لَحۡنِ	الۡقَوۡلِ	وَاللّٰهُ	يَعۡلَمُ	اَعۡمَالَكُمۡ
او خامخا وبه پيژني ته دوی	په ګرځولو اړولو	دخبرو كښې	او الله ته	معلوم دی	ټول اعمال ستاسی

او (قسم دی) خامخا وبه پيژني ته دوی په ګرځولو اړولو د خبرو كښې او الله ته معلوم دی ټول اعمال ستاسی.

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتّٰى نَعۡلَمَ الۡمُجٰهِدِيۡنَ مِنۡكُمۡ وَالصّٰبِرِيۡنَ ۙ

وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ	حَتّٰى	نَعۡلَمَ	الۡمُجٰهِدِيۡنَ	مِنۡكُمۡ	وَالصّٰبِرِيۡنَ
او خامخا ازمويو تاسی موږ	ترهغه پوری	چی ظاهر كړو موږ	جهاد كوونكی	له تاسی څخه	او صبر كوونكی

او هرومرو موآزمويو تاسی ترهغه پوری چی ظاهر كړو موږ جنګ كوونكی له تاسی څخه او صبر كوونكی

وَنَبۡلُوَا۟ اَخۡبَارَكُمۡ ﴿۳۱﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا عَنۡ

وَنَبۡلُوَا۟	اَخۡبَارَكُمۡ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	وَصَدُّوۡا	عَنۡ
او ازمويو موږ	علمونه ، خبرونه ستاسی	بيشكه!	هغه كسان	چی كافران سوی دی	او منع كوی	له

او ازمويو موږ علمونه حالونه خبرونه ستاسی. بيشكه! هغه كسان چی كافران سوی دی او منع كوی (نور خلک) له

سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ

سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَشَآقُّوا	الرَّسُوۡلَ	مِنۡۢ بَعۡدِ	مَا تَبَيَّنَ	لَهُمُ
لاری	دالله څخه	او مخالفت كوی	له رسول سره	پس له هغه چی	ښكاره سوه	دوی ته

لاری د الله څخه او مخالفت كوی له رسول سره پس له هغه چی ښكاره سوه دوی ته

الۡهُدٰى ۙ لَنۡ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيۡـئًا ؕ وَسَيُحۡبِطُ اَعۡمَالَهُمۡ ﴿۳۲﴾

الۡهُدٰى	لَنۡ يَّضُرُّوا	اللّٰهَ	شَيۡـئًا	وَسَيُحۡبِطُ	اَعۡمَالَهُمۡ
لاره سمه	له سره به ضرر ونه رسوی دوی	الله ته	هيڅ شی	او ژر ده چی خراب به كړی	عملونه د دوی

لاره سمه له سره به ضرر ونه رسوی دوی الله ته هيڅ شی او ژر ده چی ابته (ضائع) خراب به كړی (الله.نيک) عملونه د دوی.

وَلَوۡ نَشَآءُ لَاَرَيۡنٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُمۡ.. يعني كه موږ وغواړو تاته به په تعيين سره منافقان ښكاره كړو او ددوی داسي حيلې به دروښيو چي په هغه سره به ته هر يو منافق په شخصي طور سره وپيژنې: قرآن كريم دا مضمون په حرف دلو سره بيان كړی دی چي استعمال يي دداسي شرط دپاره راځي كم چي واقع سوی نه وي په دې وجه دآيت معنی داسي كول كيږي چي كه موږ غوښتلای نو هريو منافق به مو تاته په شخصي طور سره متعين ښوولی وای مګر موږ دحكمت او مصلحت او په خپل حلم او بردباری سره دوی داسي رسوا كول خوښ نه كړل چي قاعده دا قائمه پاته سي چي ددوی ټول كارونه په ظاهره محمول سي او باطني حالت او دزړه پټ رازونه يي صرف عليم او خبير الله ﷻ ته وسپارل سي البته تاته موږ داسي بصيرت دركړی دی چي ته به منافقان په خپله ددوی دخبرو څخه پيژنې دآيت دآخري حصې هم دغه مطلب دی يعني ولتعرفنّهم فی لحن القول الله ﷻ دي موږ او تاسي دنفاق دټولو قسمونو څخه وساتي آمين.
(معارف القرآن ج ٩ پ٢٦ ص٥٧)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ

يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡۤا	اَطِيۡعُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيۡعُوا	الرَّسُوۡلَ
ای	هغو کسانو	چې ایمان یې راوړی دی	اطاعت کوی	دالله	او اطاعت کوی	د رسول دالله

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی اطاعت کوی د الله او اطاعت کوی د رسول دالله

وَلَا تُبۡطِلُوۡۤا اَعۡمَالَكُمۡ ۝۳۳ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا عَنۡ

وَلَا تُبۡطِلُوۡۤا	اَعۡمَالَكُمۡ	اِنَّ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	وَصَدُّوۡا	عَنۡ
او مه باطلوی تاسی	عملونه خپل	بیشکه !	هغه کسان	چې کافران سوی دی	او منع کوی (خلک)	له

او مه باطلوی تاسی عملونه خپل (په معاصیو سره). بیشکه ! هغه کسان چې کافران سوی دی او منع کوی (خلق) له

سَبِيۡلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوۡا وَهُمۡ كُفَّارٌ فَلَنۡ يَّغۡفِرَ اللّٰهُ لَهُمۡ ۝۳۴

سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	ثُمَّ	مَاتُوۡا	وَهُمۡ	كُفَّارٌ	فَلَنۡ يَّغۡفِرَ	اللّٰهُ	لَهُمۡ
لاری	دالله څخه	بیا	مړه سی	او دوی	کافران وی	پس له سره به مغفرت ونه کړی	الله	دوی ته

لاری دالله څخه بیا مړه سی او دوی کافران وی پس له سره به مغفرت ونه کړی الله دوی ته .

فَلَا تَهِنُوۡا وَتَدۡعُوۡۤا اِلَى السَّلۡمِ ۖ وَاَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ ۖ

فَلَا تَهِنُوۡا	وَتَدۡعُوۡۤا	اِلَى السَّلۡمِ	وَاَنۡتُمۡ	الۡاَعۡلَوۡنَ
پس سستی مه کوئ او مه ضعیفان کیږی	او مه غواړی تاسی	روغی ته	حال داچې هم دا تاسی	غالب یئ

پس سستی مه کوئ او مه ضعیفان کیږی (په جهاد) کښې او مه غواړی تاسی (کفار) روغی ته ، حال داچې هم دا تاسی غالب یئ

وَاللّٰهُ مَعَكُمۡ وَلَنۡ يَّتِرَكُمۡ اَعۡمَالَكُمۡ ۝۳۵ اِنَّمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا

وَاللّٰهُ	مَعَكُمۡ	وَلَنۡ يَّتِرَكُمۡ	اَعۡمَالَكُمۡ	اِنَّمَا	الۡحَيٰوةُ	الدُّنۡيَا
او الله	له تاسی سره دی	او له سره به ضائع نه کړی له تاسی	عملونه ستاسی	بیشکه! دا	ژوندون	د دنیا

او الله له تاسی سره دی او له سره به ناقص او ضائع نه کړی له تاسی عملونه ستاسی. بیشکه! دا ژوندون د دنیا

لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ ؕ وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا يُؤۡتِكُمۡ اُجُوۡرَكُمۡ

لَعِبٌ	وَّلَهۡوٌ	وَاِنۡ	تُؤۡمِنُوۡا	وَتَتَّقُوۡا	يُؤۡتِكُمۡ	اُجُوۡرَكُمۡ
لوبی	او تماشه ده	او که	ایمان راوړی تاسی	او پرهیز وکړی	دربه کړی تاسی ته	اجرونه ستاسی

لوبی او مشغولیده دی ، او که ایمان راوړی تاسی او پرهیز وکړی (له معاصیو) دربه کړی تاسی ته (الله) اجرونه ستاسی

وَلَا تُبۡطِلُوۡۤا اَعۡمَالَكُمۡ ۝۳۳ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا... خپل کړي عملونه مه باطلوی: داعمالو دباطلولو یو صورت خو هغه دی کم چي دکفر په وجه سره مینځ ته راځي یعني العیاذ بالله کله چي یو مسلمان مرتد یعني کافر سي نو دهغه کفر او ارتداد دوجې یي داسلام دزماني کړي عملونه ټوله باطل سي: او داصلي کافر خو هیڅ عمل په وجه دکفر کولو دسره مقبول نه دی: دوهم صورت داعمالو دباطلولو دادی چي دځینو صالحه اعمالو دپاره څه نور اعمال هم شرط دي نو کم سړي چي دغه شرط ضائع کړی نو دهغه دا نیک عمل هم ضائع سو کم چي ددې شرط سره مشروط وومثلا دهر نیک عمل دقبلیدو دپاره داشرط دی چي دغه خالص دالله ﷻ دپاره وي ریا او نمایش نه وي په کښي یعني محض دخلګو دښودني دپاره یاد نمایش دپاره یي داعمل نه وي کړی: دقرآن کریم ارشاددی: وما امروا الا لیعبدوا الله مخلصین له الدین. او بل ځای فرمایي الا لله الدین الخالص. نو دکم سړي عملونه چي دریا او نمایش دپاره وي هغه عمل به دالله ﷻ په نزد باطل وي.
(معارف القرآن ج۹ پ ۲۶ ص ۶۱)

وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ۞ اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ

وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ	اَمْوَالَكُمْ	اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا	فَيُحْفِكُمْ
او نه به غواړي له تاسي	مالونه ستاسي	كه وغواړي دى له تاسي څخه هغه	پس ښه كوښښ وكړي په غوښتلو كې د تاسو

او نه به غواړي له تاسي (ټول) مالونه ستاسي . كه وغواړي دى له تاسي څخه هغه (مال) پس ښه كوښښ وكړي په غوښتلو كې

تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ۞ هٰۤاَنْتُمْ

تَبْخَلُوْا	وَيُخْرِجْ	اَضْغَانَكُمْ	هٰۤاَنْتُمْ
نو بخل به وكړى تاسي	او راوبه باسي	پټې كينې ،دښمنې ستاسي	خبردار سي تاسي چې يئ

نو بخل به وكړى تاسي او راو به باسي (په دغو غوښتلو) پټې كينې دښمنې ستاسي. خبردار سي تاسي چې يئ

هٰۤؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ

هٰۤؤُلَآءِ	تُدْعَوْنَ	لِتُنْفِقُوْا	فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	فَمِنْكُمْ
هغه خلك ياست	چې بللى سوى يئ	لپاره دددې چې ولگوى مال	په لاره	دالله كښې	پس ځينى له تاسو

هغه خلك ياست چې بللى سوى يئ لپ ره د دې چې نفقه كړى مال ولگوى په لاره د الله كښې ، پس ځينى له تاسو

مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ

مَّنْ يَّبْخَلُ	وَمَنْ يَّبْخَلْ	فَاِنَّمَا	يَبْخَلُ	عَنْ نَّفْسِهٖ
هغه دى چې بخل كوى	او هغه څوك چې بخل كوى	نو بيشكه! چې	بخل كوى	دخپل ځان خلاف

هغه دى چې بخل كوى (نه لگوى مال) او هغه څوك چې بخل كوى مال نه لگوى نو بيشكه! چې بخل كوى خپل ځان ته

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا

وَاللّٰهُ	الْغَنِيُّ	وَاَنْتُمْ	الْفُقَرَآءُ	وَاِنْ	تَتَوَلَّوْا
او الله	غني دى	او تاسي	فقيران يئ (الله ته)	او كه	وگرځيدى تاسي

او الله غنى، بى پروا دى او تاسي فقيران محتاجان يئ (الله ته) او كه وگرځيدى تاسي (له ايمان او سخا څخه نو الله)

يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْۤا اَمْثَالَكُمْ ۞

يَسْتَبْدِلْ	قَوْمًا	غَيْرَكُمْ	ثُمَّ	لَا يَكُوْنُوْۤا	اَمْثَالَكُمْ
په بدل كښې به راولى	يو قوم بل	بى له تاسي	بيا به	نه وى هغوى	په شان ستاسي

به بدل راولى يو قوم بل بى له تاسي بيا به نه وى هغوى په شان ستاسي (گرځيدونكى له احكامو د الله).

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ... الله جل جلاله

دغنيانو ومالونو ته هيڅ ضرورت نه لري: په دې آيت كي يي د الله جل جلاله دغنيانو څخه غني كيدل داسي واضح كړي دي چي د الله جل جلاله ستاسي مالونو ته څه چي ستاسي وجود ته يي هم ضرورت نسته كه تاسي ټول په جمع زموږ داحكامو تعميل او پر ځاى كول پريږدى نو ترڅو پوري چي موږ دنيا او په دي كي اسلام باقي پاته كول غواړو نو موږ به دخپل حق دين دحفاظت او دخپلو احكامو دتعميل دپاره بل داسي قوم پيدا كړو كم چي به ستاسي په شان دشرعي احكامو څخه مخ گرځوونكي نه وي بلكي زموږ مكمل اطاعت به كوي. حضرت حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي چي مراد ددې څخه عجمي خلك دي او حضرت عكرمه رضي الله عنه فرمايي چي ددې څخه مراد فارس او اهل روم دي: او دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي هركله نبي كريم صلى الله عليه وسلم ددې ايت تلاوت داصحابو كرامو رضي الله عنهم په مخكي وفرمايه نبي كريم صلى الله عليه وسلم د سلمان فارسي رضي الله عنه پر ورانه لاس مبارك كښيښووى او وې فرمايل چي دى او دده قوم دي الخ (معارف القرآن ج۹پ۲۶ص ۶۶)

ع ۸

اٰیاتونه ۲۹ — ۴۸ سُوْرَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ ۱۱۱ — ۴ رکوعونه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۝١ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا

مَا	اللهُ	لِّيَغْفِرَ لَكَ	مُّبِيْنًا	فَتْحًا	فَتَحْنَا لَكَ	إِنَّا
هغه چې	الله	دپاره ددې چې وبخښي تاته	ښکاره	فتح ،بري	فتح درکړې ده تاته	بیشکه! چې موږ

بیشکه! چې موږ فتح او بری مو درکړی دی تاته فتح او بری ظاهر او ښکاره دپاره ددې چې وبخښي تاته الله هغه چې

تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ

عَلَيْكَ	نِعْمَتَهٗ	وَيُتِمَّ	وَمَا تَأَخَّرَ	مِنْ ذَنْۢبِكَ	تَقَدَّمَ
پر تا باندې	نعمت خپل	او چې پوره کړي	او هغه چې وروسته دي	له ګناه ستا څخه	پخوا تیر سوي دي

پخوا تیر سوي دي له ګناه ستا څخه او هغه چې وروسته دي (له ګناه) او چې پوره کړي مهرباني خپله پر تا باندې

وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝٢ وَّيَنْصُرَكَ اللهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ۝٣

عَزِيْزًا	نَصْرًا	اللهُ	وَّيَنْصُرَكَ	مُّسْتَقِيْمًا	صِرَاطًا	وَيَهْدِيَكَ
ښه قوي	مدد	الله	او چې کومک وکړي له تا سره	سمه صافه	لاره	او چې وښیي تاته

او چې وښیي (الله) تاته سمه صافه لاره . او چې کومک (مدد) وکړي الله تعالی له تا سره مدد غالب ښه قوي

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ

الْمُؤْمِنِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِ	السَّكِيْنَةَ	اَنْزَلَ	هُوَ الَّذِيْٓ
دمؤمنانو کښې	په زړونو	سکینه، ډاډینه	چې نازله کړې یې ده	دغه (الله) هغه ذات دی

دغه (الله) هغه ذات دی چې نازله کړې یې ده سکینه او ډاډینه (سکون) په زړونو د مؤمنانو کښې

لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ

السَّمٰوٰتِ	جُنُوْدُ	وَلِلّٰهِ	اِيْمَانِهِمْ	مَّعَ	اِيْمَانًا	لِيَزْدَادُوْٓا
دآسمانونو	لښکرې	او خاص الله لره دي	ایمان د دوی	سره له	ایمان	له پاره ددې چې زیات کړي دوی ته

له پاره ددې چې زیات کړي دوی لره ایمان سره له ایمان د دوی او خاص الله لره دي لښکرې د آسمانونو

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا. سورت فتح کله نازل سو؟ دجمهورو اصحابو ﷺ او تابعینو رحمهم الله او دتفسیر داماماتو په نزد داسورت دهجرت په شپږم کال کي هغه وخت نازل سو کله چې دوی دعمري په اراده مکې مکرمې ته تشریف یووړی او دمکې حرم ته نژدې مقام حدیبیه ته ورسیدل هلته یي قیام وفرمایي مګر دمکې قریشو دوی ﷺ مکې مکرمې ته دداخلیدو څخه منع کړل بیا پر دې دصلح کولو دپاره تیار سول چې په دې کال باندې بېرته تاسي واپس ولاړسي په راتلونکي کال به ددې عمرې قضاء وکی ډیرو صحابه کرامو ﷺ خصوصاً حضرت فاروق اعظم ﷺ دا قسم صلح نه خوښوله. مګر نبي کریم ﷺ په خدایي اشارو سره دا صلح آخر دمسلمانانو دپاره ذریعه دکامیابی وګڼله او قبوله یې کړه چې ددې تفصیل مخ ته راځي کله چې نبي کریم ﷺ خپل دعمرې احرام خلاص کی او دحدیبي څخه واپس روان سو نو په لار کي داټول سورت نازل سو او په دې کې یې ورښوولي چې دنبي کریم ﷺ خوب رښتینی دی الخ. (معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص۶۸)

وَالۡاَرۡضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا ۙ﴿۴﴾ لِّيُدۡخِلَ

لِّيُدۡخِلَ	حَكِيۡمًا	عَلِيۡمًا	اللّٰهُ	وَكَانَ	وَالۡاَرۡضِ
دپاره ددې چې داخل کړي	ښه حکمت والا	ښه خبردار	الله	او دی	او د مځکې

او د مځکې او دی الله ښه خبردار ښه حکمت والا. دپاره ددې چې داخل کړي

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ

الۡاَنۡهٰرُ	مِنۡ تَحۡتِهَا	تَجۡرِيۡ	جَنّٰتٍ	وَالۡمُؤۡمِنٰتِ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ
ويالې	دلاندې دهغو	چې بهيږي	په جنتونو کښې	او مؤمنانې ښځې	مؤمنان سړي

مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې په جنتونو کښې چې بهيږي د لاندې (دونو د مانيو) دهغو (ځلور قسمه) ويالې

خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا وَيُكَفِّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّاٰتِهِمۡ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنۡدَ

عِنۡدَ	ذٰلِكَ	وَكَانَ	سَيِّاٰتِهِمۡ	عَنۡهُمۡ	وَيُكَفِّرَ	فِيۡهَا	خٰلِدِيۡنَ
په نزد	دغه	او دی	ګناهونه د دوی	د دوی څخه	او ليرې به کړي	دوی په هغو کښې	چې هميشه به وي

حال دا چې هميشه به وي دوی په هغو (جنتونو) کښې او ليرې به کړي (الله) د دوی څخه ګناهونه د دوی. دی دغه په نزد

اللّٰهِ فَوۡزًا عَظِيۡمًا ۙ﴿۵﴾ وَّيُعَذِّبَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ وَالۡمُنٰفِقٰتِ

اللّٰهِ	فَوۡزًا	عَظِيۡمًا	وَّيُعَذِّبَ	الۡمُنٰفِقِيۡنَ	وَالۡمُنٰفِقٰتِ
د الله	په مراد رسيدل	ډير لوی	او چې په عذاب کړي (الله)	منافقان سړي	او منافقانې ښځې

دالله په مراد رسيدل بری موندل ډير لوی. او (لپاره د دې) چې په عذاب کړي (الله) منافقان سړي او منافقانې ښځې

وَالۡمُشۡرِكِيۡنَ وَالۡمُشۡرِكٰتِ الظَّآنِّيۡنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوۡءِ ؕ

السَّوۡءِ	ظَنَّ	بِاللّٰهِ	الظَّآنِّيۡنَ	وَالۡمُشۡرِكٰتِ	وَالۡمُشۡرِكِيۡنَ
د بدی	ګمان	پر الله باندې	چې ګمان کوونکي دي	او مشرکانې ښځې	او مشرکان سړي

او مشرکان سړي او مشرکانې ښځې، چې ګمان کوونکي دي پر الله باندې ګمان د بدی

عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ السَّوۡءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ وَلَعَنَهُمۡ

وَلَعَنَهُمۡ	عَلَيۡهِمۡ	اللّٰهُ	وَغَضِبَ	السَّوۡءِ	دَآئِرَةُ	عَلَيۡهِمۡ
او لعنت يې کړی دی پر دوی	پر دوی باندې	الله	او غضب کړی دی	د بدی	راګرځيدل	پر دوی باندې دي

پر دوی باندې دي راګرځيدل د بدی (په ذلت او عذاب) سره، او غضب کړی دی الله پر دوی باندې او ليرې کړي دي دوی

لِّيُدۡخِلَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ جَنّٰتٍ..

دحديبيه په صلح کې دالله ﷻ حکمتونه او مصلحتونه: دحديبيه په صلح کې مسلمانانو دالله ﷻ اودنبي کريم ﷺ اطاعت په پوره جذبه او شوق سره وکړ نو دالله ﷻ په نزد يې بدل دادی الله ﷻ فرمايي چې ددغه اطاعت په دولت به مسلمانان سړي او مسلمانانې ښځې داسې جنتونو ته داخل کړم ترکم لاندې چې ويالې بهيږي په کومو کې چې به دوی هميشه اوسيږي او بل دا چې ددغه اطاعت په خاطر به يې تولـه ګناهونه ورمعاف کړم ځکه چې درسول ﷺ په اطاعت کې دګناهونو څخه توبه او نيک عملونه ټول داخل دي کم چې دټولو ګناهونو او بديو کفاره وي او دا څه چې ذکر سول دالله ﷻ په نزد ډيره لويه کاميابي ده: په دغه ايت کې يې اول دمومنانو پر زړونو دسکينت او تحمل دنازلولو دانعام ذکر وفرمايه بيا دا انعام دايمان دزياتي په ذريعه داطاعت رسول سبب جوړ سو او اطاعت رسول بيا دجنت دداخليدو سبب جوړ سوالله ﷻ دي موږ او تاسي ته هم دپوره اطاعت توفيق رانصيب کړي آمين.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص ۸۶)

وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۚ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ٦ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ

وَاَعَدَّ	لَهُمْ	جَهَنَّمَ	وَسَآءَتْ	مَصِيْرًا	وَلِلّٰهِ	جُنُوْدُ
او تيار كړي دي (الله)	دوى ته	دوزخ	او بد ځاى	دورتلو دى	او خاص الله لره دى	لښكرى

او تيار كړي دي الله تعالى دوى ته (عذاب د) دوزخ او بد ځاى د ورتلو دى (دغه دوزخ) او خاص الله لره دى لښكرى

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ٧ اِنَّآ

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَكَانَ	اللّٰهُ	عَزِيْزًا	حَكِيْمًا	اِنَّآ
دآسمانونو	او دمځكى	او هميشه دى	الله	ښه غالب قوى	ښه حكمت والا	بيشكه! موږ

د آسمانونو او د مځكى او هميشه دى الله ښه غالب قوى ښه حكمت والا . بيشكه! موږ

اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ٨ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

اَرْسَلْنٰكَ	شَاهِدًا	وَّمُبَشِّرًا	وَّنَذِيْرًا	لِّتُؤْمِنُوْا	بِاللّٰهِ
ليږلى يئ ته	شاهد	او زيرى وركوونكى	او ييروونكى	لپاره ددې چې ايمان راوړى تاسى	په الله

ليږلى يئ ته (اى محمده!) شاهد او زيرى وركوونكى او ييروونكى. لپاره ددې چې ايمان راوړى تاسى په الله

وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ۚ وَتُسَبِّحُوْهُ

وَرَسُوْلِهٖ	وَتُعَزِّرُوْهُ	وَتُوَقِّرُوْهُ	وَتُسَبِّحُوْهُ
او په رسول ددغه (الله)	او كومك وكړى دهغه د دين	او تعظيم وكړى دهغه	او هغه ته نسبت دپاكى وكړى

او په رسول د دغه (الله) او مدد ، كومك وكړى دهغه د دين او تعظيم وكړى دهغه، او هغه (الله) ته نسبت دپاكى وكړى

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ٩ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ

بُكْرَةً	وَّاَصِيْلًا	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يُبَايِعُوْنَكَ	اِنَّمَا	يُبَايِعُوْنَ	اللّٰهَ
سهار	او مابنام	بيشكه!	هغه كسان	چې بيعت كوى له تا سره	بيشكه!	بيعت كوى	له الله سره

سهار او مابنام. بيشكه! هغه كسان چې بيعت كوى له تاسره بيشكه! بيعت كوى له الله سره

يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ

يَدُ	اللّٰهِ	فَوْقَ	اَيْدِيْهِمْ	فَمَنْ	نَّكَثَ	فَاِنَّمَا	يَنْكُثُ
لاس	دالله	دپاسه	دلاسونو ددوى دى	پس هغه چاچې	مات كړى دا بيعت	نو بيشكه! چې	ماتوى به دى بيعت

او لاس (بلاكيف) دالله دپاسه د لاسونو د دوى دى ، پس هغه چا چې مات كړ دا بيعت نو بيشكه! چې ماتوى به دى بيعت

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا۔ دنبي كريم ﷺ حقونه او ددوى تعظيم او تكريم : په ذكر سوو اياتونو كې دنبي كريم ﷺ دحقونو او تعظيم او تكريم ذكر دى اول نبي كريم ﷺ ته خطاب دى ددوى درې صفتونه يې بيان كړي دي : شاهد ، بشير ، نذير ، دشاهد معنى شاهدي ده مراد ددې څخه هغه دى كم چې په سورت نساء كې تر دغه آيت لاندي تير سوى دى : فكيف اذا جئنا من كل امة بشهيد وجئنا بك على هؤلاء شهيدا چې هر نبي به دخپل امت په بابت كې ددې خبرې شاهدي وركوي چې ده دالله جل جلاله پيغام امت ته ورسوى بيا چا اطاعت وكى او چا نافرماني وكړه دغه شان به نبي كريم ﷺ دخپل امت متعلق شاهدي وركړي : د سورت نسآء دآيت په تفسير كې قرطبي رحمه الله ليكلي دي چې دانبياوو عليهم السلام دا شاهدي دخپلي زماني دموجودو خلګو متعلق به وي چې ددوى دحق دعوت چا قبول كى او چا نافرماني وكړه دغه شان دنبي كريم ﷺ دا شاهدي به هم د خپلي زماني دخلګو متعلق وي الخ : پاته بيان پر راروان مخ وګورى)

عَلٰى نَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ اَوۡفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيۡهُ اللّٰهَ فَسَيُؤۡتِيۡهِ

عَلٰى نَفۡسِهٖ	وَمَنۡ	اَوۡفٰى	بِمَا	عٰهَدَ	عَلَيۡهُ	اللّٰهَ	فَسَيُؤۡتِيۡهِ
پر ځان خپل	او هغه څوک چې	وفا وکړي	په هغه شي	چې عهد يئ کړی دی	پر هغه	له الله سره	پس ژر ده چې ورېه کړي ده ته

په ځان خپل ،او هغه څوک چې وفا وکړي په هغه شي چې عهد او اقرار يئ کړی دی پر هغه له الله سره پس ژر ده چې ورېه کړي

اَجۡرًا عَظِيۡمًا ۝۱۰ سَيَقُوۡلُ لَكَ الۡمُخَلَّفُوۡنَ مِنَ الۡاَعۡرَابِ

اَجۡرًا	عَظِيۡمًا	سَيَقُوۡلُ	لَكَ	الۡمُخَلَّفُوۡنَ	مِنَ الۡاَعۡرَابِ
اجر، بدله	ډېر زيات	ژر دی چې وبه وايئ	تاته	وروسته پاتې سوی	له صحرايانو

الله تعالىٰ ده ته اجر او بدل ډېر زيات. ژر دی چې وبه وايئ تاته (له تا څخه) وروسته پاتې سوی له صحرايانو

شَغَلَتۡنَاۤ اَمۡوَالُنَا وَاَهۡلُوۡنَا فَاسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ۚ يَقُوۡلُوۡنَ

شَغَلَتۡنَاۤ	اَمۡوَالُنَا	وَاَهۡلُوۡنَا	فَاسۡتَغۡفِرۡ لَنَا	يَقُوۡلُوۡنَ
مشغول کړي يئ وو موږ	مالونو زموږ	او کورني زموږ	نو بخښنه وغواړه زموږ دپاره	وايئ دوی (منافقان)

مشغول کړي يئ وو موږ مالونو زموږ او کورني زموږ نو بخښنه وغواړه موږ له (دګناه زموږ)، وايئ دوی (منافقان)

بِاَلۡسِنَتِهِمۡ مَّا لَيۡسَ فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ قُلۡ فَمَنۡ يَّمۡلِكُ لَكُمۡ

بِاَلۡسِنَتِهِمۡ	مَّا لَيۡسَ	فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ	قُلۡ	فَمَنۡ	يَّمۡلِكُ	لَكُمۡ
په ژبو خپلو سره	هغه چې نسته	په زړونو د دوی کښې	ووايه (محمده)	نو څوک دی	چې مالک به سی	تاسی لره

په ژبو خپلو سره هغه (خبرې) چې نسته په زړونو د دوی کښې ووايه ته (محمده!) نو څوک دی چې مالک به سی تاسی لره

مِّنَ اللّٰهِ شَيۡـًٔا اِنۡ اَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا اَوۡ اَرَادَ بِكُمۡ

مِّنَ اللّٰهِ	شَيۡـًٔا	اِنۡ اَرَادَ	بِكُمۡ	ضَرًّا	اَوۡ اَرَادَ	بِكُمۡ
د الله څخه	ديو شي	که الله اراده وفرمايئ	ستاسی	دضرر	يا اراده وفرمائی	ستاسو

په دفع د عذاب کښې دجانبه د الله څخه ديو شي که الله اراده وفرمائی ستاسی دضرر او نقصان يا اراده وفرمائی ستاسو

نَفۡعًا ؕ بَلۡ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرًا ۝۱۱ بَلۡ ظَنَنۡتُمۡ

نَفۡعًا	بَلۡ كَانَ	اللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	خَبِيۡرًا	بَلۡ ظَنَنۡتُمۡ
دنفعی	بلکه دی	الله	په هغو ټولو کارونو	چې کوی يئ تاسی	ښه خبردار	بلکه ګمان به کاوه تاسی

دنفعی او ګټی بلکه دی، الله په هغو ټولو کارونو چې کوی يئ تاسی ښه خبردار. بلکه ګمان به کاوه تاسی

وَمَنۡ اَوۡفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيۡهُ اللّٰهَ فَسَيُؤۡتِيۡهِ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: او ځينې حضرات بيا فرمايي چې دا شاهدي به دټول امت پر عملونو باندي وي هغه نو که ګناهونه وي او که طاعتونه وي ځکه چې دځينو روايتونو مطابق دامت عملونه سهار او ماښام نبي کريم ﷺ ته ملايکي پيش کوي په دي وجه به دوی دټوله امت دعملونو څخه باخبره وي: ذکره القرطبي. او دبشير معنى خوشخبري ورکوونکی او دنذير معنى بيروونکی دی مراد دادی چې ته دامت مومنانو او اطاعت کوونکوته دجنت خوشخبري او زيری ورکوونکی يې او دکفارو فاجرانو دعذاب څخه بيروونکی يې. مخ ته درسول دليږلو مقصد دا وبنوول سوچي تاسي خلک په الله ﷻ او دهغه په رسول ايمان راوړی او دايمان سره يي دنورو زياتو دروصفتونو ذکر وکړی کم چي په مومنانو کي پيداکيدل پکار دي: تُعزروه ، توقروه ، تسبحوه ،يعني تاسي دهغه مدد وکړی او دهغه عزت وکړی او د الله ﷻ پاکي بيانوی سهار او ماښام الخ. (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۸۸)

ع ۹

أَنۡ لَّنۡ يَّنۡقَلِبَ الرَّسُوۡلُ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ إِلٰٓى أَهۡلِيۡهِمۡ أَبَدًا وَّزُيِّنَ

أَنۡ لَّنۡ يَّنۡقَلِبَ	الرَّسُوۡلُ	وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ	إِلٰٓى أَهۡلِيۡهِمۡ	أَبَدًا	وَّزُيِّنَ
چي بيا به له سره راونه ګرځي	رسول د الله	او مؤمنان	کورونو خپلو ته	هيڅ کله	او ښائسته کړې سوې دی

چي بيا به له سره راونه ګرځي رسول الله او مؤمنان (له حديبيې څخه) کورونو خپلو ته هيڅ کله او ښائسته کړې سوې دی

ذٰلِكَ فِيۡ قُلُوۡبِكُمۡ وَظَنَنۡتُمۡ ظَنَّ السَّوۡءِ ۚ وَكُنۡتُمۡ قَوۡمًا

ذٰلِكَ	فِيۡ قُلُوۡبِكُمۡ	وَظَنَنۡتُمۡ	ظَنَّ	السَّوۡءِ	وَكُنۡتُمۡ	قَوۡمًا
دغه	په زړونو ستاسې کښې	او ګمان کړې ؤ تاسې	ګمان	بد	او وی تاسې	يو قوم

دغه (ګمان) په زړونو ستاسې کښې (ای منافقانو) او ګمان کړې ؤ تاسې ګمان بد سوی، او وی تاسې يو قوم

بُوۡرًا ﴿١٢﴾ وَمَنۡ لَّمۡ يُؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ فَإِنَّآ أَعۡتَدۡنَا

بُوۡرًا	وَمَنۡ	لَّمۡ يُؤۡمِنۡۢ	بِاللّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	فَإِنَّآ	أَعۡتَدۡنَا
هلاک کړې سوی	او هر هغه چي	ايمان يئ نه دی راوړی	په الله	او په رسول د دغه (الله)	نو بيشکه! موږ	تيار کړی دی موږ

هلاک کړې. او هر هغه چي ايمان يئ نه دی راوړی په الله او په رسول د دغه (الله) نو بيشکه! موږ تيار کړی دی موږ

لِلۡكٰفِرِيۡنَ سَعِيۡرًا ﴿١٣﴾ وَلِلّٰهِ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضِ

لِلۡكٰفِرِيۡنَ	سَعِيۡرًا	وَلِلّٰهِ	مُلۡكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡأَرۡضِ
دکافرانو دپاره	اور (د دوزخ)	او خاص الله لره دی	سلطنت	دآسمانونو	او دمځکی

دکافرانو دپاره اور (د دوزخ). او خاص الله لره دی سلطنت او باچاهي د آسمانونو او دمځکی (ملکاً خلقاً و عبيداً)

يَغۡفِرُ لِمَنۡ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ وَكَانَ اللّٰهُ

يَغۡفِرُ	لِمَنۡ يَّشَآءُ	وَيُعَذِّبُ	مَنۡ يَّشَآءُ	وَكَانَ	اللّٰهُ
بخښي	هر هغه چي اراده وفرمائی	او په عذاب کښې اچوی	هر هغه چي اراده وفرمائی	او دی	الله

بخښي هر هغه چي اراده وفرمائی (دمغفرت يئ) او په عذاب کښې اچوی هر هغه چي اراده وفرمائی او دی (هميشه) الله

غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿١٤﴾ سَيَقُوۡلُ الۡمُخَلَّفُوۡنَ إِذَا انۡطَلَقۡتُمۡ إِلٰى مَغَانِمَ

غَفُوۡرًا	رَّحِيۡمًا	سَيَقُوۡلُ	الۡمُخَلَّفُوۡنَ	إِذَا	انۡطَلَقۡتُمۡ	إِلٰى مَغَانِمَ
ډير ښه بخښونکی	ډير رحم والا	ژر به وايئ	وروسته پاتې کيدونکی	کله چي	روان سې تاسې	دغنيمتونو طرف ته

ډير ښه بخښونکی ډير رحم والا. ژر به وايئ وروسته پاتې کيدونکی (خلګ) کله چي راون سې تاسې دغنيمتونو طرف ته

يَّنۡقَلِبَ الرَّسُوۡلُ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ إِلٰٓى أَهۡلِيۡهِمۡ

منافقينو به پر نبي کريم ﷺ او مسلمانانو باندي بد ګمانونه کول: په دغه ايت کي الله ﷻ پاک بيا دمنافقينو منافقت او داسلام او دمسلمانانو سره ددوی عدوات خصوصا دنبي کريم ﷺ دذات مبارک سره هغه داسي چي کله نبي کريم ﷺ دحديبيه په سفر باندي روان سونو دمديني منورې څخه دباندي منافقين په دغه سفر کي شريک نه سول نو الله ﷻ فرمايي ژرده چي دغه منافقين به مديني منورې ته راسي او تاته به دبهانې په طور باندي ووايي چي موږ چي ستا سره شريک نه سولو دهغه وجه داده چي موږ لره زموږ مالونو او اهل او عيال فرصت را نه کی يعني دهغو په ضرورتونو کي مشغول وونو زموږ دپاره ددې کوتاهي دمعافی دعا وکړه مخ ته حق تعالی ددوی تکذيب فرمايي چي داخلګ په خپلو ژبو سره هغه خبري کوي کم چي دهغوی په زړونو کي نه وي بلکي اصلي وجه داوه چي دوی داسي ګڼله چي مسلمانان به بيا رانه سي کفار به ټوله دوی ختم کړي ددغي بد ګمانی په خاطر دوی شريک نه سول. پاته بيان پر راروان مخ وګوری:

لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ

لِتَاْخُذُوْهَا	ذَرُوْنَا	نَتَّبِعْكُمْ	يُرِيْدُوْنَ	اَنْ يُّبَدِّلُوْا	كَلٰمَ
لپاره ددی چي واخلي تاسي هغه	پريږدی موږ	چي درځو په تاسي پسی	اراده لري دوی	چي بدل كړي	كلام

(دپاره ددی) چي واخلي تاسي هغه (غنيمت)، پريږدی موږ چي درځو په تاسي پسی، اراده لري دوی چي بدل كړي كلام

اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ

اللّٰهِ	قُلْ	لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا	كَذٰلِكُمْ	قَالَ	اللّٰهُ	مِنْ قَبْلُ
دالله	ووايه (محمده)	چي له سره به متابعت ونه كړي تاسي زموږ	همداسي	فرمايلي وو	الله	پخوا له دی

دا الله (حکم دالله) ووايه (محمده!) چي له سره به متابعت ونه كړي تاسي زموږ همداسي فرمايلي وو الله پخوا له دی

فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا

فَسَيَقُوْلُوْنَ	بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا	بَلْ كَانُوْا	لَا يَفْقَهُوْنَ	اِلَّا
بيا به ژر ووايئ	چي حسد، كينه كوی تاسي له موږ سره	بلكه ؤ دوی	چي نه به پوهيدل	مگر

بيا به ژر ووايئ چي حسد او كينه كوی تاسي له موږ سره بلكه ؤ دوی چي نه به پوهيدل (له دين د اسلام باندی) مگر

قَلِيْلًا ۝١٥ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى

قَلِيْلًا	قُلْ	لِّلْمُخَلَّفِيْنَ	مِنَ الْاَعْرَابِ	سَتُدْعَوْنَ	اِلٰى
خو لږ	ووايه (محمده!)	وروسته پاتي كيدونكوته	له صحرائی خلكو	ژر ده چي راوبه بللی سی تاسي	طرف (د جنگ)

خو لږ. ووايه (محمده!) وروسته پاتي كيدونكو ته له صحرائی خلكو ژر ده چي راوبه بللی سی تاسي طرف د جنگ

قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ

قَوْمٍ	اُولِيْ	بَاْسٍ	شَدِيْدٍ	تُقَاتِلُوْنَهُمْ	اَوْ يُسْلِمُوْنَ	فَاِنْ
ديوه قوم ته	چي خاوندان	دجنگ	سخت وی	يا به جنگ كوی تاسي دهغو سره	يا به مسلمانيږی هغوی	نو بيا كه

د يوه قوم ته چي خاوندان د جنگ سخت وی يابه جنگ كوی تاسي دهغو سره يا به مسلمانيږی هغوی نو بيا كه

تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا

تُطِيْعُوْا	يُؤْتِكُمُ	اللّٰهُ	اَجْرًا	حَسَنًا	وَاِنْ	تَتَوَلَّوْا	كَمَا
امر و منی تاسي د دوی	دربه كړی تاسي ته	الله	اجر، ثواب	ښه	او كه	وگرځيدی تاسي	لكه چي

امر و منی تاسي د دغو بلونكو دربه كړی تاسي ته الله اجر ثواب ښه، او كه وگرځيدی تاسي لكه چي

لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيْدُوْنَ. دتير مخ پاته بيان دلته وگوری او دغه خبره ددغه منافقينو په زړونو كي هم ښه معلوميده په وجه دالله ﷻ او درسول ﷺ ددښمنی ځكه چي ددوی دزړو تمنا هم دغه وه او دغه منافقينو بد بد گمانونه وكړل او ددغه بدو گمانونو په خاطر كم چي كفري خيالات دي دغه منافقين برباد سول نو الله ﷻ خطاب كړی دی دغه منافقينو ته كه اوس هم ددي وعيدونو په اوريدو تاسي په زړه سره ايمان را وړی نو خير دی توبه به مو قبوله سي او كه مو ددي غټ جرم باوجود بل جرم هم وكی هغه داچي پر دغه خپل جرم باندي دوام كول او پاته كيدل دي نو پوه سی چي كم سړی پر الله ﷻ او دغه پر رسول ﷺ باندي ايمان نه راوړي نو داسي كسان كافران دي او موږ دكافرانو دپاره دوږخ تيار كړی دی: او دمومن او غير مومن دپاره پر دغه مذكوره قانون چاته داعتراض كولو موقع نه وركول كيږي ځكه چي الله ﷻ اختيار والا ذات دی چي چاته چي سزا وركوي او چاته چي وغواړي بخښنه كوي الخ. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٦ ص ٩١)

تَوَلَّيۡتُمۡ مِّنۡ قَبۡلُ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿۱۶﴾ لَيۡسَ عَلَى

تَوَلَّيۡتُمۡ	مِّنۡ قَبۡلُ	يُعَذِّبۡكُمۡ	عَذَابًا	اَلِيۡمًا	لَيۡسَ	عَلَى
گرځیدلی وی	پخوا له دی څخه	په عذاب به کړی تاسی	په عذاب	ډیر دردناک سره	نشته	پر

گرځیدلی وی پخوا له دی څخه نو په عذاب به کړی (الله) تاسی په عذاب ډیر دردناک سره . نشته پر

الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡاَعۡرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الۡمَرِيۡضِ

الۡاَعۡمٰى	حَرَجٌ	وَّلَا عَلَى الۡاَعۡرَجِ	حَرَجٌ	وَّلَا عَلَى الۡمَرِيۡضِ
ړانده باندی	هیڅ ګناه	او نه پر ګوډ باندی	هیڅ ګناه او تکلیف	او نه پر ناروغ باندی

ړانده باندی هیڅ ګناه او تکلیف او نه پر ګوډ باندی هیڅ ګناه او تکلیف او نه په ناروغ باندی

حَرَجٌ ؕ وَمَنۡ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ يُدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ

حَرَجٌ	وَمَنۡ	يُّطِعِ	اللّٰهَ	وَرَسُوۡلَهٗ	يُدۡخِلۡهُ	جَنّٰتٍ
هیڅ ګناه	او هر هغه څوک چی	اطاعت وکړی دحکم	دالله	او د رسول دده	نو داخل به یئ کړی (الله) دی	په جنتونو کښی

هیڅ ګناه او هر هغه څوک چی اطاعت وکړی ومنی حکم دالله او درسول د دغه (الله) نو داخل به یئ کړی (الله) دی په جنتونو

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ۚ وَمَنۡ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿۱۷﴾ ع

تَجۡرِىۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا	الۡاَنۡهٰرُ	وَمَنۡ	يَّتَوَلَّ	يُعَذِّبۡهُ	عَذَابًا	اَلِيۡمًا
چی بهیږی	لهلاندی دهغو	ویالی	او هر هغه څوک چی	وګرځید	نو (الله) به په عذاب کړیږی دی	په عذاب	دردناک سره

کښی چی بهیږی لهلاندی دهغو ویالی او هر هغه څوک چی وګرځید نو (الله) به په عذاب کړی دی په عذاب دردناک سره .

ع ۷ نصف

لَقَدۡ رَضِىَ اللّٰهُ عَنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اِذۡ يُبَايِعُوۡنَكَ تَحۡتَ

لَقَدۡ	رَضِىَ	اللّٰهُ	عَنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	اِذۡ يُبَايِعُوۡنَكَ	تَحۡتَ
خامخا په تحقیق	راضی سوی دی	الله	له مؤمنانو څخه	هغه وخت چی بیعت یئ کاوه له تاسره	دلاندی

خامخا په تحقیق راضی او خوښ سوی دی الله تعالی له مؤمنانو څخه هغه وخت چی بیعت یئ کاوه له تاسره دلاندی

الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ فَاَنۡزَلَ السَّكِيۡنَةَ عَلَيۡهِمۡ

الشَّجَرَةِ	فَعَلِمَ	مَا	فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ	فَاَنۡزَلَ	السَّكِيۡنَةَ	عَلَيۡهِمۡ
د درختی	بیا معلوم کړ (الله)	هغه چی	په زړونو ددوی کښی وو	بیا راکښته کړه	اطمینان	پر دوی باندی

دونی بیا معلوم کړ (الله) هغه (اخلاص) چی په زړونو د دوی کښی وو ، بیا راکښته کړه (الله) سکینه، داډینه پر دوی باندی

لَقَـــدۡ رَضِىَ اللّٰهُ عَنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اِذۡ يُبَايِعُوۡنَكَ
الله ﷻ دمسلمانانو څخه راضي سو په سبب دبیعت ددوی دنبي کریم ﷺ سره
ددې بیعت څخه مراد دلته بیعت حدیبیه دی دکم ذکر چي ددې څخه مخکي هم په: یبایعونک کي راغلی دی داایت هم ددې سره متعلق او ددې تاکید دی په دې آیت کي الله ﷻ ددې بیعت دشرکاوو څخه دخپلي رضا اعلان کړی دی په دې وجه دې ته بیعت رضوان هم ویل کیږي او مقصود ددې څخه ددغو شریکانو دبیعت مدح او دوی ته ددې عهد دپوره ورکولو تاکید دی: په صحیحینو کي دحضرت جابر ﵁ څخه روایت دی چي دحدیبیې په ورځ زموږ شمیر څوارلس سوه کسان وو موږ ته نبي کریم ﷺ وفرمایل: انتم خیر اهل الارض. یعني تاسي خلګ دټولي مځکي دانسانانو څخه ښه یاست او په مسلم شریف کي دام بشر رضي الله عنها څخه مرفوع روایت دی چي: لایدخل النّار احد ممن بایع تحت الشجرة یعني کمو خلګو چي تردرختي لاندي بیعت کړی دی هغه به یو هم اورته داخل نه سي الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۹۹)

وَاَثَابَهُمۡ فَتۡحًا قَرِيۡبًا ۟ۙ وَّمَغَانِمَ كَثِيۡرَةً يَّاۡخُذُوۡنَهَا ؕ

يَّاۡخُذُوۡنَهَا	كَثِيۡرَةً	وَّمَغَانِمَ	قَرِيۡبًا	فَتۡحًا	وَاَثَابَهُمۡ
چې وابه خلي دوى هغه (ولجې)	ډير	او غنيمتونه	نژدې	برى	او عوض يې ورکړ دوى ته

او عوض يې ورکړ (الله) دوى ته برى نژدې، او ولجې (غنيمت) ډيرې چې وابه خلي دوى هغه (ولجې)

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيۡزًا حَكِيۡمًا ۟ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيۡرَةً

كَثِيۡرَةً	مَغَانِمَ	اللّٰهُ	وَعَدَكُمُ	حَكِيۡمًا	عَزِيۡزًا	اللّٰهُ	وَكَانَ
ډيرو	دغنائمو، ولجو	الله	وعده کړې ده له تاسي سره	ډير حکمت والا	قوي غالب	الله	او دى

او دى (الله هميشه) قوي غالب ډير حکمت والا. وعده کړې ده له تاسي سره الله د غنائمو او ولجو ډيرو

تَاۡخُذُوۡنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمۡ هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيۡدِىَ النَّاسِ

النَّاسِ	اَيۡدِىَ	وَكَفَّ	هٰذِهٖ	لَكُمۡ	فَعَجَّلَ	تَاۡخُذُوۡنَهَا
دخلکو	لاسونه	او (الله) بند کړل	دا	تاسي ته	نو (الله) ژر درکړل	چې وابه يې خلي تاسي هغه

چې وابه يې خلي تاسي هغه نو (الله) ژر درکړل تاسي ته دا (غنائم او ولجې) او (الله) بند کړل لاسونه د خلکو

عَنۡكُمۡ ۚ وَلِتَكُوۡنَ اٰيَةً لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَيَهۡدِيَكُمۡ صِرَاطًا

صِرَاطًا	وَيَهۡدِيَكُمۡ	لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ	اٰيَةً	وَلِتَكُوۡنَ	عَنۡكُمۡ
لاره	او بيېي تاسي ته	له پاره د مؤمنانو	دا کار، نښه	او چې سي	له تاسي څخه

له تاسي څخه، او چې سي دا کار نښه (د قدرت دالله) له پاره د مؤمنانو او (الله) بيېي تاسي ته لاره

مُّسۡتَقِيۡمًا ۟ۙ وَّاُخۡرٰى لَمۡ تَقۡدِرُوۡا عَلَيۡهَا قَدۡ اَحَاطَ اللّٰهُ

اللّٰهُ	اَحَاطَ	قَدۡ	عَلَيۡهَا	لَمۡ تَقۡدِرُوۡا	وَّاُخۡرٰى	مُّسۡتَقِيۡمًا
الله	احاطه کړې ده	په تحقيق	په هغو باندې	چې لا نه وى قادر تاسي	او بل	برابره

برابره (د توکل په الله باندې). او بل چې لا نه وى قادر تاسي په هغو (غنيمتونو) باندې په تحقيق احاطه کړې ده الله

بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرًا ۟ وَلَوۡ قٰتَلَكُمُ

قٰتَلَكُمُ	وَلَوۡ	قَدِيۡرًا	كُلِّ شَىۡءٍ	عَلٰى	اللّٰهُ	وَكَانَ	بِهَا
جنګ وکړى له تاسي سره	او که	ښه قادر، او توانا	هر شي باندې	پر	الله	او دى	په هغو باندې هم

په هغو (غنائمو) باندې هم او دى الله تعالى پر هر شي باندې ښه قادر او توانا. او که جنګ وکړى له تاسي سره

وَاَثَابَهُمۡ فَتۡحًا قَرِيۡبًا ۟ وَّمَغَانِمَ كَثِيۡرَةً. د فتح قريب څخه مراد دخيبر فتح ده: دا هغه فتح ده کمه چې دحديبي څخه دواپس کيدو څخه وروسته واقع سوه: دځينو رواياتو مطابق خو دحديبيې دواپسۍ څخه وروسته ددوى قيام په مدينه منوره کي صرف لس ورځې او دنورو رواياتو مطابق شل ورځې پاته سو: ددې څخه وروسته دخيبر طرف ته روان سو: او دابن اسحاق دروايت مطابق دوى ﷺ په ذى الحجة کي مدينې منورې ته واپس تشريف راوړى او دمحرم په مياشت چې دهجرت اووم کال وو دوى دخيبر د پاره تشريف يووړى او دصفرې په مياشت کي دهجرت په اووم کال بيا خيبر فتح سو: په هرحال داثابته سوه چې داواقعه دفتح خيبر دسفر دحديبيې څخه کافي ورځې وروسته پيښه سويده او دسورت فتح دحديبيې په سفر کي نازليدل دټولو په نزد متفق عليه ده البته په دې کي اختلاف دى چې ټول سورت په دغه وخت کي نازل سوى دى يا څه اياتونه وروسته نازل سول او بيا سورت مکمل سوالخ. (معارف القرآن ج۹پ۲۶ص ۱۰۱)

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا

الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَوَلَّوُا	الْاَدْبَارَ	ثُمَّ	لَا يَجِدُوْنَ	وَلِيًّا
هغه كسان	چي كافران سوي وو	نو خامخا به يئ	گرځولي وي شاوي خپلي	بيا به يئ	نه وو پيدا كړي څوك	دوست ، ساتونكى

هغه كسان چي كافران سوي وو نو خامخا به يئ گرځولي وي شاوي خپلي بيا به يئ نه وو موندلي څوك دوست، ساتونكى

وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

وَّلَا نَصِيْرًا	سُنَّةَ اللّٰهِ	الَّتِيْ	قَدْ	خَلَتْ	مِنْ قَبْلُ	وَلَنْ تَجِدَ
او نه مددگار	دا د الله طريقه ده	هغه چي	په تحقيق سره	تيره سوي ده	پخوا له دي څخه	او هيڅ كله به پيدا نه كړې ته

او نه مددگار. په طريقي د الله سره هغه چي په تحقيق سره تيره سوي ده پخوا له دي څخه او هيڅ كله به نه مومې ته

لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ

لِسُنَّةِ	اللّٰهِ	تَبْدِيْلًا	وَهُوَ	الَّذِيْ	كَفَّ	اَيْدِيَهُمْ	عَنْكُمْ
طريقي	د الله لره	تبديل	او دغه (الله)	هغه (ذات) دى	چي بند يئ كړل	لاسونه د هغو	له تاسي څخه

طريقي د الله لره تبديل او او بنتل. او دغه (الله) هغه (ذات) دى چي بند يئ كړل لاسونه د هغو (كفارو) له تاسي څخه

وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ

وَاَيْدِيَكُمْ	عَنْهُمْ	بِبَطْنِ	مَكَّةَ	مِنْۢ بَعْدِ	اَنْ اَظْفَرَكُمْ
او لاسونه ستاسي	له هغوى څخه	په مينځ (وادي)	د مكي كښي	پس له هغي څخه	چي غالب يئ كړي تاسي

او لاسونه ستاسي له هغوى څخه په مينځ د مكي كښي پس له هغي څخه چي غالب يئ كړي تاسي

عَلَيْهِمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾ هُمُ الَّذِيْنَ

عَلَيْهِمْ	وَكَانَ	اللّٰهُ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرًا	هُمُ	الَّذِيْنَ
په هغو باندي	او دى	الله	په هغه څه چي كوى تاسي	ښه ليدونكى	دوى	هغه كسان دى

په هغوى باندي او دى الله په هغه څه چي كوى يئ تاسي ښه ليدونكى. دوى هغه كسان دى

كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ

كَفَرُوْا	وَصَدُّوْكُمْ	عَنِ الْمَسْجِدِ	الْحَرَامِ	وَالْهَدْيَ
چي كافران سوي دى	او منع كړي يئ وي تاسي	له مسجد	الحرام څخه	او قرباني ستاسي

چي كافران سوي دى او منع كړي يئ وي تاسي له مسجد الحرام څخه او (منع كړي يئ وي) قرباني ستاسي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ. كه چيري د حديبيى صلح نه واى سوي بيا به هم كفارو شكست خوړلى واى : او چونكي د هغو كفارو د مغلوبيت مقتضيات موجود وه كم چي مخ ته راځي په دي وجه كه چيري په تاسي كي دا صلح نه واى سوي بلكي ستا سره دي كافرانو جنگ كړى واى نو د دغي مقتضياتو په وجه سره به هغوى خامخا پر شاه تښتيدلي واى بيا به دوى ته نه څوك يار پيدا كيداى نه مددگار او الله ﷻ د كفارو د پاره دا دستور جوړ كړى دى كم چي د مخكي څخه راروان دى چي په مقابله كي حق پرست غالب او باطل پرست مغلوب وي او يوځاى په يو وخت كي په دي كي تاخير كيدل په مصلحت سره هغه دي منافي نه دي او ته به د خداى ﷻ په دستور كي د چاسري د طرفه څخه رد او بدل نه كي پيدا چي خداى ﷻ څه كوي او څوك يي كولو ته نه پريږدي دا محال دي د الله ﷻ په حق كي الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص۱۰۳)

مَعۡكُوۡفًا اَنۡ يَّبۡلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوۡلَا رِجَالٌ مُّؤۡمِنُوۡنَ وَنِسَآءٌ

وَنِسَآءٌ	مُّؤۡمِنُوۡنَ	وَلَوۡلَا رِجَالٌ	مَحِلَّهٗ	اَنۡ يَّبۡلُغَ	مَعۡكُوۡفًا
او ښځې	ايمان لرونكي	او كه چيرې نه وى څو سړي	ځاى د حلالولو ته	له دې چې ورسيږي	چې بندي كړى سوي وى

چې بندي كړى سوي وى له دې څخه چې ورسيږي ځاى د حلالولو ته، او كه چيرې نه وى څو سړي ايمان لرونكي او څو ښځې

مُّؤۡمِنٰتٌ لَّمۡ تَعۡلَمُوۡهُمۡ اَنۡ تَطَــُٔوۡهُمۡ فَتُصِيۡبَكُمۡ

فَتُصِيۡبَكُمۡ	اَنۡ تَطَــُٔوۡهُمۡ	لَّمۡ تَعۡلَمُوۡهُمۡ	مُّؤۡمِنٰتٌ
پس رسيدلى به وو تاسى ته	چې پايمال كړى وو تاسو هغوى	چې نه پيژندل تاسى هغوى	ايمان لرونكى

ايمان لرونكى چې نه پيژندل تاسى هغوى (په صفت د ايمان سره) چې پايمال كړى وو تاسو هغوى پس رسيدلى به وو تاسى ته

مِّنۡهُمۡ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ ۚ لِيُدۡخِلَ اللّٰهُ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ۚ

مَنۡ يَّشَآءُ	فِىۡ رَحۡمَتِهٖ	اللّٰهُ	لِيُدۡخِلَ	بِغَيۡرِ عِلۡمٍ	مَّعَرَّةٌ	مِّنۡهُمۡ
هر هغه چې اراده وفرمائى	په رحمت خپل كښې	الله	دپاره ددې چې داخل كړى	په ناپوهى سره	څه ضرر	له هغو څخه

له هغوى څخه څه ضرر او غم په ناپوهى سره دپاره ددې چې داخل كړى الله په رحمت خپل كښې هر هغه چې اراده وفرمائى

لَوۡ تَزَيَّلُوۡا لَعَذَّبۡنَا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡهُمۡ عَذَابًا

عَذَابًا	مِنۡهُمۡ	كَفَرُوۡا	الَّذِيۡنَ	لَعَذَّبۡنَا	لَوۡ تَزَيَّلُوۡا
په عذاب	له دوى څخه	چې كافران سوى دى	هغه كسان	خامخا به مو په عذاب كړى وُ	كه چيرې جلا سوى وى دوى

كه چيرې جلا سوى وى دوى (مسلمانان) خامخا به مو په عذاب كړى وُ هغه كسان چې كافران سوى دى له دوى څخه په عذاب

اَلِيۡمًا ﴿٢٥﴾ اِذۡ جَعَلَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا فِىۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ

حَمِيَّةَ	الۡحَمِيَّةَ	فِىۡ قُلُوۡبِهِمُ	كَفَرُوۡا	الَّذِيۡنَ	اِذۡ جَعَلَ	اَلِيۡمًا
هسى تنګ، ضد	تنګ، ضد	په زړونو خپلو كښې	چې كافران سوى وو	هغو كسانو	كله چې ګرځولي وو	ډير دردناك

ډير دردناك سره كله چې ګرځولي وو هغو كسانو چې كافران سوى وو په زړونو خپلو كښې تنګ هسى تنګ

الۡجَاهِلِيَّةِ فَاَنۡزَلَ اللّٰهُ سَكِيۡنَتَهٗ عَلٰى رَسُوۡلِهٖ وَعَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَعَلَى	عَلٰى رَسُوۡلِهٖ	سَكِيۡنَتَهٗ	اللّٰهُ	فَاَنۡزَلَ	الۡجَاهِلِيَّةِ
مؤمنانو باندى	او پر	پر رسول خپل	اطمينان خپل	الله	نو راكښته كړى	دجاهليت وه

دجاهليت ناپوهى وه نو راكښته كړى الله سكينه، اطمينان خپل پر رسول خپل او پر مؤمنانو باندى.

مَعۡكُوۡفًا اَنۡ يَّبۡلُغَ مَحِلَّهٗ

وَلَوۡلَا رِجَالٌ.. داحرام دترلو څخه وروسته مكې ته نه داخليدل دم لازموي

ددې څخه معلوميږي چې څوک داحرام ترلو څخه وروسته په څه وجه مكې ته دداخليدو څخه منع سو پر هغه باندي په اتفاق سره دا خولازمه ده چې قرباني كوي بيا به داحرامه څخه حلال سي ليكن په دې كي اختلاف دى چې دا قرباني به هلته كيداى سي كم ځاى چې هغه منع سوى دى يا دنورو قربانيو په شان ددې هم په حدودو دحرم كي دا خليدل شرط دي دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دادى چې دغه قرباني هم دحرم شريف په حدودو كي دننه داخليدل شرط دي او دليل ددغه آيت څخه كوي چې دلته ددې قرباني دپاره قرآن كريم يو خاص عمل مقرر كړى دى دكم څخه چې كفارو مسلمانان منع كړي وه: ددې څخه معلومه سوه چې ددې قرباني دپاره دحرم شريف په حدودو كي كول شرط دي او پاته سوه دامعامله چې دحنفيو پخپله دغه قول هم دى چې دحديبيې ځيني حصه په حرم شريف كي داخله او ځيني دباندي ده جواب يې په معارف القرآن كي وګورى الخ.

معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص١٠۶

وَ اَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ التَّقۡوٰى وَ كَانُوۡۤا اَحَقَّ بِهَا وَ اَهۡلَهَا ؕ وَ كَانَ

وَاَلۡزَمَهُمۡ	كَلِمَةَ التَّقۡوٰى	وَكَانُوۡۤا	اَحَقَّ	بِهَا	وَاَهۡلَهَا	وَكَانَ
او لازمه يې کړله دوی لره	کلمه د پرهيزګارۍ	او وو دوی	ښه لائق، ور	له دغه سره	او اهل د دی (کلمې)	او دی

او ټينګه لازمه يې کړله هغو لره کلمه د تقوی او وو دوی ښه لائق ور له دغه سره او اهل د ددی (کلمې دتقوا) او دی

اللّٰهُ بِكُلِّ شَیۡءٍ عَلِيۡمًا ﴿۲٦﴾ لَقَدۡ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوۡلَهُ الرُّءۡيَا

اللّٰهُ	بِكُلِّ شَیۡءٍ	عَلِيۡمًا	لَقَدۡ	صَدَقَ	اللّٰهُ	رَسُوۡلَهُ	الرُّءۡيَا
الله	پر هر شی باندی	ښه پوه	خامخا په تحقيق	ربښتيا ښوولی دی	الله	رسول خپل ته	خوب د ده

الله پر هر شی باندی ښه پوه. خامخا په تحقيق ربښتيا ښودلی دی الله رسول خپل ته خوب دده

بِالۡحَقِّ ۚ لَتَدۡخُلُنَّ الۡمَسۡجِدَ الۡحَرَامَ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيۡنَ ۙ

بِالۡحَقِّ	لَتَدۡخُلُنَّ	الۡمَسۡجِدَ	الۡحَرَامَ	اِنۡ شَآءَ	اللّٰهُ	اٰمِنِيۡنَ
په حقه	چی خامخا به داخل سی تاسی	مسجد	الحرام ته	که اراده وفرمائی	الله	په آمن سره

په حقه او ربښتيا سره چی خامخا به داخل سی تاسی مسجد الحرام ته که اراده وفرمائی الله په امن ، او آرام سره

مُحَلِّقِيۡنَ رُءُوۡسَكُمۡ وَ مُقَصِّرِيۡنَ ۙ لَا تَخَافُوۡنَ ؕ فَعَلِمَ

مُحَلِّقِيۡنَ	رُءُوۡسَكُمۡ	وَمُقَصِّرِيۡنَ	لَا تَخَافُوۡنَ	فَعَلِمَ
حال دا چی خريونکی به وی	د سرونو خپلو	او لنډوونکی به وی	او نه به بيريږی تاسی	نو معلوم دی الله ته

حال دا چی خريونکی به وی د سرونو خپلو او لنډوونکی به وی (دويښتو خپلو) او نه به بيريږی تاسی،نو معلوم دی الله ته

مَا لَمۡ تَعۡلَمُوۡا فَجَعَلَ مِنۡ دُوۡنِ ذٰلِكَ فَتۡحًا قَرِيۡبًا ﴿۲۷﴾ هُوَ

مَا	لَمۡ تَعۡلَمُوۡا	فَجَعَلَ	مِنۡ دُوۡنِ ذٰلِكَ	فَتۡحًا	قَرِيۡبًا	هُوَ
هغه څه	چی نه پوهيدی تاسی	نو وئی ګرځوله	پخوا له دغه (داخليدلو دمکی) څخه	فتح او بری	نژدی	دغه (الله)

هغه څه چی نه پوهيدی تاسی نو وئی ګرځوله پخوا له دغه داخليدلو دمکی څخه فتحه او بری نژدی. دغه (الله)

الَّذِیۡۤ اَرۡسَلَ رَسُوۡلَهُ بِالۡهُدٰى وَ دِيۡنِ الۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُ عَلَى

الَّذِیۡۤ	اَرۡسَلَ	رَسُوۡلَهُ	بِالۡهُدٰى	وَدِيۡنِ	الۡحَقِّ	لِيُظۡهِرَهُ	عَلَى
هغه (ذات) دی	چی راليږلی يئ دی	رسول خپل	په سمی لاری	او دين	حق سره	لپاره ددی چی غالبه کړی هغه	پر

هغه ذات دی چی راليږلی يئ دی رسول خپل په (ښوونه د) سمی لاری او دين حق سره، لپاره ددی چی غلبه ورکړی پر

لَتَدۡخُلُنَّ الۡمَسۡجِدَ الۡحَرَامَ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ. داينده كيدونكو كارونو دپاره دان شاءالله ويلو تاكيد : په دي آيت كي الله ﷻ د راتلونكي داخلي د مسجد حرام سره دان شآء الله لفظ استعمال وفرمايه حال دادی چي الله ﷻ په خپله دخپل مشيت عالم دی هغه ته ددي د وينا ضرورت نه وو ليكن خپل رسول ﷺ او ټولو بندګانو ته دتعليم وركولو دپاره دلته حق تعالى ﷻ هم لفظ دان شآء الله استعمال كړی : قرطبي : محلقين رؤسكم ومقصرين په صحيح بخاري شريف كي دي چي په راتلونكي كال عمرة القضاء كي حضرت معاويه رضي الله عنه دنبي كريم ﷺ وريښته مبارک په غچی سره تراش كړي وه داواقعه دقضا دعمرې ده ځكه چي په حجة الوداع كي دوی حلق فرمايلی وو يعني سر مبارک يي خرييلی وو: فعلم ما لم تعلموا .يعني دالله ﷻ په قدرت كي خو دا هم وه چي په دې كال تاسي ته مسجد الحرام ته داخليدل او عمره نصيب سوې وای ليكن تر راتلونكي كال پوري په تاخير كولو كي يي مصلحتونه وه كم چي الله ﷻ ته معلوم دي.
(معارف القرآن ج۹پ۲٦ص ۱۱۱)

ع۳

الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ٢٨ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ

الدِّيْنِ	كُلِّهٖ	وَ كَفٰى	بِاللّٰهِ	شَهِيْدًا	مُحَمَّدٌ	رَّسُوْلُ	اللّٰهِ	وَالَّذِيْنَ
دینونو	ټولو باندی	او کافی دی	الله	ښه شاهد	محمد	رسول	دالله دی	او هغه کسان

دینونو ټولو باندی او کافی بس دی الله ښه شاهد (حق ثابت کوونکی). محمد رسول او رالیږل سوی دالله دی او هغه کسان

مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ

مَعَهٗۤ	اَشِدَّآءُ	عَلَى الْكُفَّارِ	رُحَمَآءُ	بَيْنَهُمْ
چی له ده سره دی	سخت دی	پر کافرانو باندی	مهربان، او زړه سواندی دی	پخپلو منځونو کښی

چی له ده سره دی سخت دی په مقابله او مجاهده سره پر کافرانو باندی مهربان او زړه سواندی دی پخپلو منځونو کښی

تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا

تَرٰىهُمْ	رُكَّعًا	سُجَّدًا	يَّبْتَغُوْنَ	فَضْلًا	مِّنَ اللّٰهِ	وَرِضْوَانًا
وینی به ته هغوی	رکوع کوونکی	او سجده کوونکی	غواړی دوی	مهربانی	له الله څخه	او رضامندی دهغه

وینی به ته هغوی، رکوع کوونکی او سجده کوونکی، غواړی دوی (په دی)، مهربانی له الله څخه او رضامندی دهغه

سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ

سِيْمَاهُمْ	فِيْ وُجُوْهِهِمْ	مِّنْ	اَثَرِ	السُّجُوْدِ	ذٰلِكَ	مَثَلُهُمْ
نښی د دینداری د دوی	په مخونو ددوی کښی دی	له	اثر	دسجدو څخه	دا	مثال،صفت د دوی

نښی د دینداری د دوی په مخونو ددوی کښی دی له اثر د سجدو څخه (انوار)، دا (اوصاف) چی مثالونه د دوی

فِي التَّوْرٰىةِ ۛ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۛ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ

فِي التَّوْرٰىةِ	وَمَثَلُهُمْ	فِي الْاِنْجِيْلِ	كَزَرْعٍ	اَخْرَجَ	شَطْـَٔهٗ
په تورات کښی دی	او مثال،صفت د دوی	په انجیل کښی دی	لکه کښت	چی راوباسی	ځانګه(تیغ) خپل

په تورات کښی بیان سوی دی ، او مثالونه یې په انجیل کښی بیان سوی دی لکه کښت چی راوباسی ځانګه (تیغ) خپل

فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ

فَاٰزَرَهٗ	فَاسْتَغْلَظَ	فَاسْتَوٰى	عَلٰى سُوْقِهٖ	يُعْجِبُ
بیایې قوی کړی داتیغ	بیا هغه غټ سو	بیا هغه ودریدئ	پرخپله تنه باندی	په تعجب کښی اچوی

بیا ودریږی دغه کښت پس له ضعیفی او نرمی څخه په پنډیو او بیخونو خپلو باندی، (چی قوت ددی) په تعجب کښی اچوی

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ

دنبي كريم ﷺ تعظيم دالله جل جلاله په نزد هم ډير دی :په ټول قرآن کریم کي دخاتم الانبياء ﷺ دنوم مبارک اخیستلو پر ځای عموماً ددوی ذکر په اوصافو او القابو سره سوی دی خصوصاً دندا او اواز پر وخت باندي الله جل جلاله فرمايي : يا ايُّها الرسول و ياايُّها النبيّ ياايّها المزّمّل وغيره بر خلاف دنورو انبياوو چي ددغو په نومونو سره بيا ندا سويده نه په القابو او او صافو سره مثلاً يا ابراهيم،يا موسی ، يا عيسی او په ټول قرآن کريم کي الله جل جلاله صرف څلور ځايه ددوی نوم مبارک محمد ذکر فرمايلی دی کم ځای چي ددوی په نوم ذکر کولو کي څه مصلحت وي په دغه مقام کي مصلحت دا وو چي دحديبيی په صلحنامه کي ددوی دنوم سره هرکله چي حضرت علي رضي الله عنه محمد رسول الله وليکل نو دقريشو کافرانو دا خراب کی دمحمد ابن عبدالله پر ليکلو يي اصرار وکړی : رسول الله ﷺ په حکم درب دا منظورول قبول کړل حق تعالی جل جلاله دلته په خصوصيت سره ددوی دنوم مبارک سره درسول الله لفظ راوړی الخ.
معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۱۱۲

الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۗ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ اٰمَنُوا

الزُّرَّاعَ	لِيَغِيظَ	بِهِمُ	الْكُفَّارَ	وَعَدَ	اللّٰهُ	الَّذِينَ	اٰمَنُوا
بزګران	دپاره ددې چې په قهر راولي	پر دوی	کفار	وعده کړې ده	الله	له هغو کسانو سره	چې ایمان یې راوړی دی


بزګران (زمینداران). د پاره ددې چې په قهر راولي په دې سره کفار، وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی

ع ۴ ۳ ۱۴

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيمًا ﴿۲۹﴾

وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	مِنْهُمْ	مَغْفِرَةً	وَّاَجْرًا	عَظِيمًا
او عملونه یې کړي دي	نیک	دوی له	دبخښنې	او داجر	ډیر لوی

او عملونه نیک یې کړي دي دوی له د بخښنې او داجر ډیر لوی، (چې جنت، لقا او رضا دالله تعالٰی ده)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ

يٰاَيُّهَا	الَّذِينَ	اٰمَنُوا	لَا تُقَدِّمُوا	بَيْنَ يَدَيِ	اللّٰهِ	وَرَسُولِهِ
ای	هغو کسانو	چې ایمان مو راوړی دی	مه وړاندې کیږئ	په مخکښې	دالله	او درسول دده

ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی مه وړاندې کوئ مفکوری خپلې په مخکښې له صدوره داوامرو دالله او درسول د ده

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۱﴾ يٰاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا

وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	سَمِيعٌ	عَلِيمٌ	يٰاَيُّهَا	الَّذِينَ	اٰمَنُوا
او ویریږئ	له الله څخه	بیشکه!	الله	ښه اوریدونکی	او ښه پوه دی	ای	هغو کسانو	چې ایمان مو راوړی دی

ویریږئ له الله څخه هر وخت بیشکه! الله اوریدونکی او ښه پوه دی. ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی

لَا تَرْفَعُوٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهٗ

لَا تَرْفَعُوٓا	اَصْوَاتَكُمْ	فَوْقَ	صَوْتِ	النَّبِيِّ	وَلَا تَجْهَرُوا	لَهٗ
مه پورته کوئ	آوازونه خپل	لوړ	پر آواز	دپیغمبر	او په لوړه مه پورته کوئ آواز	ده ته

مه پورته کوئ آوازونه خپل برسیره پر آواز د پیغمبر او په لوړه مه پورته کوئ ده لره آواز

الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۗ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ

دصحابه کرامو فضیلتونه اوصفتونه او خاص علامات: په دغه مقام کې الله جل جلاله دنبي کریم صلی الله علیه وسلم رسالت او ددوی دین پر ټولو ادیانو دغالبه کولو بیان وفرمایي دصحابه کرامو رضي الله عنهم دصفتونو او فضیلتونو او خاصو علاماتو ذکر یې په تفصیل سره فرمایلی دی په دې کې ددوی ددې سخت امتحان او انعام هم دی کم چې دصلح حدیبیې په نوم اخیستل سوی وو چې دهغوی دقلبي یقین او قلبي جذباتو خلاف صلح وسوه بغیر دمکې دداخلیدو وغیره څخه دناکامه واپسۍ باوجود ددوی قدمونه متزلزل نه سول او دبې مثله اطاعت رسول او قوت ایماني ثبوت یې ورکړی دارنګه دصحابه کرامو رضي الله عنهم په فضائلو او علاماتو په تفصیل بیانولو کې که دا حکمت هم وي نو بعیده نه ده چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته څوک بل نبي او رسول مبعوث کیدونکی نه وو دوی دځان څخه وروسته دامّت دپاره دکتاب الله سره خپل اصحاب په طور دنمونې پریښي دي او ددوی داتباع احکام یې ورکړي دي: پاتې بیان پر راروان مخ وګورئ:

بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ

بِالْقَوْلِ	كَجَهْرِ	بَعْضِكُمْ	لِبَعْضٍ	أَنْ تَحْبَطَ	أَعْمَالُكُمْ
په خبرو کښې	لکه په لوړ آواز خبرې	دبعضو ستاسې	له بعضو نورو سره	داچې ضایع به سي	عملونه ستاسې

په خبرو کښې لکه په لوړ (اوچت) آواز خبرې د بعضو د تاسې له بعضو نورو سره، دا چې ضایع به سي عملونه ستاسې

وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝٢ إِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ أَصْوَاتَهُمْ

وَأَنْتُمْ	لَا تَشْعُرُوْنَ	إِنَّ	الَّذِيْنَ	يَغُضُّوْنَ	أَصْوَاتَهُمْ
او تاسې به	پرې خبر نه یاست	بیشکه!	هر هغه کسان	چې کښته کوي	آوازونه خپل

او تاسې به پرې خبر نه وی. بیشکه! هر هغه کسان چې ټیټوی آوازونه خپل

عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ

عِنْدَ	رَسُوْلِ	اللّٰهِ	أُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	امْتَحَنَ	اللّٰهُ	قُلُوْبَهُمْ
په نزد	درسول	الله	دا دله	هغه کسان دي	چې آزمویلي دي	الله	زړونه د دوی

په نزد د رسول الله دا دله هغه کسان دي چې آزمویلي دي الله تعالیٰ جل جلاله زړونه د دوی

لِلتَّقْوٰى لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّأَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝٣ إِنَّ الَّذِيْنَ

لِلتَّقْوٰى	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ	وَّأَجْرٌ	عَظِيْمٌ	إِنَّ	الَّذِيْنَ
دپاره د پرهیزګارۍ	دوی لره ده	بخښنه	او اجر، ثواب	لوی	بیشکه!	هغه کسان

دپاره د پرهیزګاری او بیری له ده څخه، دوی لره ده بخښنه، عوض او ثواب لوی. بیشکه! هغه کسان

يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝٤

يُنَادُوْنَكَ	مِنْ وَّرَآءِ	الْحُجُرٰتِ	أَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْقِلُوْنَ
چې چغې وهي تاته	له وروستو	دکوټو څخه	اکثره د دوی	عقل نه لري

چې چغې وهي تا لره، دکورونو د امهات المؤمنونو څخه، له هغه خوا اکثره د دوی عقل نه لري

وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ

وَلَوْ	أَنَّهُمْ	صَبَرُوْا	حَتّٰى	تَخْرُجَ	إِلَيْهِمْ	لَكَانَ	خَيْرًا	لَّهُمْ
که چیرې	بیشکه! دوی	صبر کړی وی	ترهغوی پورې	چې راوتلی وی ته	دوی ته	نو دا (صبر به)	په خیر تمامیده	دوی ته

که چیرې دوی صبر کړی وی ترهغوی پورې چې راوتلی وی ته دوی لره، نو دا صبر به په خیر تمامیده دوی لره

إِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ.. د تیر مخ پاتې بیان

دلته وګورئ: په دې وجه قرآن کریم هم ددوی دغه فضیلتونو او علاماتو بیـان وفرمایي او مسلمانانو ته یې ددوی داتباع ترغیب او تاکید فرمایلی دی په دې مقام کې دصحابه کرامو دټولو څخه اولنی وصف خو یې دابښودلی دی چې هغوی دکفارو په مقابله کې سخت او په خپل مینځ کې مهربان دي. دکفارو په مقابله کې سختیدل ددوی پر هره موقع باندې ثابت سوی دي چې نسبي تعلق او ترون یې ټول پر اسلام باندې قربان کړی او دحدیبیې پر موقع باندې په خصوصیت سره ددې اظهار وسو او په خپل مینځ کې دمهربانیدو او ایثار پیښه کیدو ظهور په صحابه کرامو ﷺ کې هغه وخت په خاص طور سره وسو هرکله چې په مهاجرینو او انصارو کې مواخات قائم سو او انصارو په خپلو ټولو شیانو کې مهاجرینو ته د شریکیدو دعوت ورکی قرآن کریم دصحابه کرامو ﷺ دغه وصف مخکې بیان کی چې په حقیقت کې ددغه وصف واهمیت او عظمت شان ته اشاره ده الخ.
معارف القرآن ج٩پ٢٦ص١١٣)

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ

وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنْ جَآءَ	كُمْ
او الله	ډیر بخښونکی	او مهربان دی	ای	هغو کسانو	چې ایمان یې راوړی دی	که چیری راغلی	تاسو ته

او الله ډیر بخښونکی او مهربان دی. ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی که چیری راغلی تاسو ته

فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًاۢ بِجَهَالَةٍ

فَاسِقٌ	بِنَبَاٍ	فَتَبَيَّنُوْٓا	اَنْ تُصِيْبُوْا	قَوْمًا	بِجَهَالَةٍ
فاسق	په یو خبره سره	نو تاسو بنه تحقیق پکښې وکړی	داچې وبه رسوی تاسی (ضرر)	یوه قوم ته	په ناپوهی سره

فاسق، په یو خبره سره، نو تاسو بنه تحقیق پکښې وکړی دا چې وبه رسوی تاسو یوه قوم ته ضرر او تاوان په ناپوهی سره

فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝٦ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ

فَتُصْبِحُوْا	عَلٰى	مَا فَعَلْتُمْ	نٰدِمِيْنَ	وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ	فِيْكُمْ
نو پس وبه ګرځئ تاسی	پر	هغه څه چې مو عمل کړی دی	پښیمانه	او پوه سی تاسی	چې بیشکه!	په تاسی کښې

نو پس وبه ګرځئ تاسی په هغه څه سره چې مو عمل کړی دی خفه او پښیمانه. او پوه سی تاسی چې بیشکه! په تاسی کښې

رَسُوْلَ اللّٰهِ ۭ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ

رَسُوْلَ	اللّٰهِ	لَوْ يُطِيْعُكُمْ	فِيْ كَثِيْرٍ	مِّنَ الْاَمْرِ	لَعَنِتُّمْ
رسول	د الله دی	که چیری پیروی وکړی دی ستاسی	په ډیرو	کارونو کښې	نو خامخا په تکلیف کښې به او سئ

رسول د الله دی که چیری پیروی وکړی دی (رسول) ستاسی په ډیرو کارونو کښې نو هر وخت به په تکلیف کښې اوسئ

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ

وَلٰكِنَّ	اللّٰهَ	حَبَّبَ	اِلَيْكُمُ	الْاِيْمَانَ	وَزَيَّنَهٗ	فِيْ قُلُوْبِكُمْ
او لیکن	الله	دوست ګرځولی دی	تاسی ته	ایمان	او ښائسته کړی یې دی دغه	په زړونو ستاسی کښې

لیکن الله دوست، محبوب ګرځولی دی تاسی ته ایمان او ښائسته کړی یې دی دغه (ایمان) په زړونو ستاسی کښې

وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ

وَكَرَّهَ	اِلَيْكُمُ	الْكُفْرَ	وَالْفُسُوْقَ	وَالْعِصْيَانَ	اُولٰۗىِٕكَ
او بد یې ګرځولی دی	تاسو ته	کفر	او فسق	او نافرمانی	دغه کسان

بد او منفور یې ګرځولی دی تاسو ته کفر، فسق او نافرمانی (له اوامرو د الله)، دغه کسان

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ

د ایت شان نزول: ددې آیت دنازلیدو واقعه ابن کثیر رحمة الله علیه داسې نقل کړیده: چې دبنی المصطلق قبیلې سردار حارث ابن ضرار بن ابی ضرار ـــ دکم لور حضرت جویریه رضي الله عنها چې دامهات المؤ منین څخه ده دی فرمایي چې زه دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم نو دوی ماته داسلام دعوت راکی او دزکوة ادا کولو حکم یې راته راکړی ما اسلام قبول کړی اودزکوة داداء کولو اقرار مې وکړی اوعرض مې وکړی چې اوس زه خپل قوم ته ځم او هغوی ته هم داسلام او زکوة اداء کولو دعوت ورکوم کم خلګ چې زما خبره ومني او زکوة اداء کړي زه به هغه زکوة جمع کړم تاسې په فلانی میاشت او فلانې تاریخ کې یو څوک را واستوی چې کم دزکوة رقم زما سره جمع سوی دی هغه ورته حواله کړم بیا چې هر کله حارث دوعدې مطابق دایمان راوړونکو څخه دزکوة رقم جمع کړی او هغه میاشت او تاریخ کم چې دقاصد دلیږلو ووتیر سو او دنبي کریم ﷺ څوک قاصد را نغلی. پاته بیان پرراروان مخ وګوری.

هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ﴿٧﴾ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

هُمُ	الرّٰشِدُوْنَ	فَضْلًا	مِّنَ اللّٰهِ	وَنِعْمَةً	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ
هم دوی دی	پر سمه لار روان	له جهته د فضله	له طرفه د الله څخه	او د نعمت د ده	او الله	ښه عالم

هم دوی دی ثابت په دین حق باندی. له جهته د فضله له طرفه د الله څخه او د نعمت د ده او الله ښه عالم

حَكِيْمٌ ﴿٨﴾ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا

حَكِيْمٌ	وَاِنْ	طَآئِفَتٰنِ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ	اقْتَتَلُوْا
ښه حکمت والا دی	او که چیری	دوی ډلی	د مؤمنانو	سره په جګړه کښی ولویږی

ښه حکمت والا دی، که چیری دوی ډلی د مؤمنانو سره په جنګ، جګړه کښی ولویږی

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى

فَاَصْلِحُوْا	بَيْنَهُمَا	فَاِنْ	بَغَتْ	اِحْدٰىهُمَا	عَلَى الْاُخْرٰى
پس روغه وکړی	په مینځ د هغو دواړو کښی	پس که چیری	تیری وکړی	یوه له دی دوو څخه	پر هغه بلی ډلی باندی

پس روغه او صلح وکړی په مینځ د هغو دواړو کښی پس که چیری ظلم، تیری وکړی یوه له دوی څخه په هغه بلی ډلی باندی

فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ

فَقَاتِلُوا	الَّتِيْ	تَبْغِيْ	حَتّٰى	تَفِيْٓءَ	اَمْرِ اِلٰٓى	اللّٰهِ	فَاِنْ فَآءَتْ
پس جنګ کوی تاسی	د هغه سره	چی تیری کوی	تر هغه چی	بیرته راوګرځی دوی	حکم	د الله ته	او که چیری وګرځیدله

پس جنګ کوی تاسی د هغه سره چی تیری، ظلم کوی تر هغه چی بیرته راوګرځی دوی حکم د الله ته او که چیری وګرځیدله

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَاَقْسِطُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

فَاَصْلِحُوْا	بَيْنَهُمَا	بِالْعَدْلِ	وَاَقْسِطُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ
پس صلح او روغه وکړی تاسی	په مینځ د دوی کی	په عدل سره	او انصاف کوی تاسی	بیشکه!	الله	خوښوی

پس صلح او روغه وکړی تاسی په مینځ د دوی کښی په عدل سره او انصاف کوی تاسی بیشکه! الله خوښوی

الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٩﴾ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ

الْمُقْسِطِيْنَ	اِنَّمَا	الْمُؤْمِنُوْنَ	اِخْوَةٌ	فَاَصْلِحُوْا	بَيْنَ
عدل او انصاف کوونکی	بیشکه! هم دا خبره ده	چی مؤمنان ټول	وروڼه دی	پس صلح کوی تاسی	په مینځ

عدل او انصاف کوونکی. بیشکه! هم دا خبره ده چی مؤمنان ټول وروڼه دی (په دین کښی) پس صلح کوی تاسی په مینځ

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ. دتیر
مخ پاته بیان دلته وګوری:
نو د حضرت حارث رضي الله عنه سره دا خطره پیدا سوه چي شاید نبي کریم ﷺ زموږ څخه په څه خبره ناراضه سوی وي کنه وای نو دا ممکنه نه وه چي د وعدې مطابق دي نبي کریم ﷺ یو څوک نه وای رااستولای حضرت حارث رضي الله عنه د دې خطرې ذکر د اسلام قبلوونکو د سردارانو سره وکی او اراده یې وکړه چي دوی ټول دي د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سي:
آخوا ته بیا واقعه داسي وسوه چي نبي کریم ﷺ پر مقرر تاریخ باندي ولید ابن عقبه رضي الله عنه خپل قاصد جوړ کی او د زکوة د وصولولو د پاره یې دوی ته ورولیږی مګر ولید ابن عقبه رضي الله عنه ته په لاره کي دا خیال ودریدی چي د دې قبیلې د خلګو سره زما د پخوا څخه دښمني ده هسي نه چي هغوی ما قتل کړي د دې بیري په سبب دی د لاري څخه واپس سو او نبي کریم ﷺ ته راغی او دا یې وویل چي هغوی د زکوة د قبلولو څخه انکار وکړی او زما د قتلولو اراده یې هم وکړه په دې خبره سره. پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿١٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اَخَوَيْكُمْ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	لَعَلَّكُمْ	تُرْحَمُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
د ورونو خپلو کښې	او ووېرېږئ	له الله څخه	دپاره ددې چې پر تاسې	رحمت وکړل سي	اى	هغو کسانو

د ورونو خپلو کښې او وېرېږئ له الله څخه ښايي چې دربان دى رحمت وکړى سي (له جانبه دالله). اى هغو کسانو

اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا

اٰمَنُوْا	لَا يَسْخَرْ	قَوْمٌ	مِّنْ قَوْمٍ	عَسٰٓى	اَنْ يَّكُوْنُوْا	خَيْرًا
چي ايمان يې راوړى دى	توکې دې نه کوى	هيڅ يو قوم	له قوم ستاسې څخه په بل باندې	ښائي	چې وي به دغه	بهتره، غوره

چي ايمان يې راوړى دى توکې او سپکاوى دې نه کوى هيڅ يو قوم له تاسي څخه په بل باندې چې وي به دغه بهتره، غوره

مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ

مِّنْهُمْ	وَلَا نِسَآءٌ	مِّنْ نِّسَآءٍ	عَسٰٓى	اَنْ يَّكُنَّ	خَيْرًا	مِّنْهُنَّ
د دوى څخه	او نه ښځې	پر ښځو نورو باندې	ممکنه ده	دا چي هغوى به	غوره وى	له دوى څخه

(په نزد الله) د دوى څخه، او نه ښځې له تاسي څخه پر نورو ښځو ممکنه ده دا چې هغوى به غوره وى له دوى څخه

وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ بِئْسَ

وَلَا تَلْمِزُوْٓا	اَنْفُسَكُمْ	وَلَا تَنَابَزُوْا	بِالْاَلْقَابِ	بِئْسَ
او عيب مه لګوئ	پر يو بل باندې	او مه بلئ يو بل	په لقبونو سره	بد دى

او مه عيب جويي کوى پر ځانونو خپلو (يو پر بل) او مه بلئ يو بل په (بدو نومونو) لقبونو سره، بد دى

الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ

الِاسْمُ	الْفُسُوْقُ	بَعْدَ	الْاِيْمَانِ	وَمَنْ	لَّمْ يَتُبْ	فَاُولٰٓئِكَ
دا نومونه	له جهته د فسق	وروسته	له ايمان درلودلو څخه	او هغه چي	توبه يې ونه ايستله	نو دغه کسان

دا (درى) نومونه له جهته د فسق وروسته له ايمان درلودلو څخه، او هغه چې توبه يې ونه ايستله نو دغه کسان

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿١١﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اجْتَنِبُوْا	كَثِيْرًا
هم دوى دي ظالمان	اى	هغو کسانو	چي ايمان يې راوړى دى	ځان وساتى تاسى	ډير

هم دوى دي ظالمان. اى هغو کسانو چي ايمان يې راوړى دى ځان وساتى تاسى ډير

اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:

نبي کريم ﷺ ته ډيره زياته غصه ورغله او دحضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه په مشرى کي يي يوه ډله دمجاهدينو روانه کړه: دي خواته دا ډله دمجاهدينو روانه سوه دآخوا څخه حضرت حارث رضي الله عنه سره دخپلو ملګرو دنبي کريم ﷺ په خدمت کي دحاضرى دپاره راووتى مديني منورې ته نژدې ددواړو ملاقات وسو حضرت حارث رضي الله عنه ددغو خلګو څخه پوښتنه وکړه چي تاسي دکمو خلګو طرف ته ليږل سوي ياست؟ هغوى وويل چي موږ خو ستا طرف ته ليږل سوي يو حضرت حارث رضي الله عنه ورڅخه دسبب پوښتنه وکړه نو دوى دحضرت وليد ابن عقبه رضي الله عنه دليږلو او بيا دواپس راتللو واقعه ورته بيان کړه او داچي حضرت عقبه رضي الله عنه دنبي کريم ﷺ په مخکي دابيان کړى دى چي بنو المصطلق دزکوة دورکولو څخه انکار وکړى او زما دقتل منصوبه يي جوړه کړې وه حضرت حارث رضي الله عنه چي دا واوريدل نو يي وويل زما دي قسم دى په هغه ذات وي چاچي. پاته بيان پر راروان مخ وګورى:

مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعۡضَ الظَّنِّ اِثۡمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوۡا وَلَا يَغۡتَبۡ

مِّنَ الظَّنِّ	اِنَّ	بَعۡضَ	الظَّنِّ	اِثۡمٌ	وَّلَا تَجَسَّسُوۡا	وَلَا يَغۡتَبۡ
له بدګمانيو	بيشکه!	ځيني	ګمانونه	ګناه ده	او جاسوسي مه کوئ تاسي	او نه دې کوي غيبت

له بدګمانيو، بيشکه! ځيني ګمانونه، تهمتونه ګناه ده او جاسوسي مه کوئ تاسي او نه دې کوي غيبت

بَّعۡضُكُمۡ بَعۡضًا ؕ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمۡ اَنۡ يَّاۡكُلَ لَحۡمَ اَخِيۡهِ

بَّعۡضُكُمۡ	بَعۡضًا	اَيُحِبُّ	اَحَدُكُمۡ	اَنۡ يَّاۡكُلَ	لَحۡمَ	اَخِيۡهِ
ځيني ستاسي	د ځينو نورو	آيا خوښوي	يو له تاسي څخه	دا چي وخوري	غوښي	د وروړ خپل

ځيني ستاسي د ځينو نورو، آيا خوښوي يو له تاسي څخه دا چي وخوري غوښي د وروړ خپل

مَيۡتًا فَكَرِهۡتُمُوۡهُ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۲﴾

مَيۡتًا	فَكَرِهۡتُمُوۡهُ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	تَوَّابٌ	رَّحِيۡمٌ
دا چي مړی وي	پس بدګڼي تاسي هغه	او ويرېږئ تاسي	له الله	بيشکه!	الله	ښه توبه قبلوونکی	ډير رحم والا دی

حال دا چي مړی وي پس بدګڼي تاسي هغه، او ويرېږئ تاسي له الله څخه بيشکه! الله ښه توبه قبلوونکی ډير رحم والا دی

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقۡنٰكُمۡ مِّنۡ ذَكَرٍ وَّاُنۡثٰى وَجَعَلۡنٰكُمۡ

يٰۤاَيُّهَا	النَّاسُ	اِنَّا	خَلَقۡنٰكُمۡ	مِّنۡ ذَكَرٍ	وَّاُنۡثٰى	وَجَعَلۡنٰكُمۡ
ای	خلکو	بيشکه! موږ	پيدا کړي يئ تاسي	له يوه سړي	او له يوې ښځي	او ګرځولي يئ موږ تاسي

ای خلکو بيشکه! موږ پيدا کړي يئ تاسي له يوه سړي چي (آدم) او له يوې ښځي چي (حوا) ده او ګرځولي يئ موږ تاسي

شُعُوۡبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوۡا ؕ اِنَّ اَكۡرَمَكُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ

شُعُوۡبًا	وَّقَبَآئِلَ	لِتَعَارَفُوۡا	اِنَّ	اَكۡرَمَكُمۡ	عِنۡدَ اللّٰهِ
قومونه	او قبيلې قبيلې	د پاره ددې چي وپيژني يو له بل سره	بيشکه! چي	ډير عزت مند له تاسي	په نزد د الله

ثاټکي او قبيلې قبيلې د پاره ددې چي وپيژني يو له بل سره بيشکه! چي ډير مکرم او معزز له تاسي په نزد د الله

اَتۡقٰكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌ خَبِيۡرٌ ﴿۱۳﴾ قَالَتِ الۡاَعۡرَابُ اٰمَنَّا ؕ

اَتۡقٰكُمۡ	اِنَّ	اللّٰهَ	عَلِيۡمٌ	خَبِيۡرٌ	قَالَتِ	الۡاَعۡرَابُ	اٰمَنَّا
ډير پرهيزګاره ستاسي وی	بيشکه! چي	الله	ښه عالم	ډير خبردار دی	وويل	صحرائيانو	ايمان راوړی دی موږ

ډير متقي، پرهيزګاره ستاسي وی، بيشکه! چي الله ښه عالم ډير خبردار دی. وويل صحرائيانو ايمان راوړی دی موږ

مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعۡضَ الظَّنِّ اِثۡمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوۡا... د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ:

محمد ﷺ په حقه سره راليږلی دی ما خوليد ابن عقبه رضی الله عنه ليدلی هم نه دی او نه هغه ماته راغلی دی ددې څخه وروسته چي حضرت حارث رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو دوی وفرمايل چي آيا تاسي د زکوة د ورکولو څخه انکار وکی او زما د قاصد د قتلولو اراده مو وکړه حضرت حارث رضی الله عنه وفرمايل چي هيڅکله نه قسم دی په هغه ذات چاچي تاسي په حقه سره راليږلي ياست هغه نه ماته راغلی دی او نه ماليدلی دی بيا چي هر کله پر مقرره تاريخ ستاسي قاصد رانه رسيدی نو زما سره بيره پيدا سوه چي شايد زما څخه به څه قصور سوی وي په کم سره چي نبي کريم ﷺ زما څخه ناراضه سوی وي نو په دې وجه زه ستاسي په خدمت کي حاضر سوم حضرت حارث رضی الله عنه فرمايي چي زموږ پر دغه واقعه باندي د سورت حجرات دغه آيت نازل سو: دغه شان نزول حافظ ابن کثير رحمة الله عليه په خپل تفسير کي نقل کړی دی.

معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۱۲۶)

قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا

قُلْ	لَّمْ تُؤْمِنُوْا	وَلٰكِنْ	قُوْلُوْٓا	اَسْلَمْنَا	وَلَمَّا
ووايه (محمده)	له سره ايمان نه دی راوړی تاسی	او ليکن	ووايئ	اسلام راوړی دی موږ	او له سره نه دی

ووايه (محمده) له سره ايمان نه دی راوړی تاسی او ليکن ووايئ اسلام راوړی دی موږ او له سره نه دی

يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ۭ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ

يَدْخُلِ	الْاِيْمَانُ	فِيْ قُلُوْبِكُمْ	وَاِنْ	تُطِيْعُوا	اللّٰهَ
ننوتلی	ايمان	په زړونو ستاسی کښی	او که	حکم ومنی تاسی	دالله

ننوتلی ايمان په زړونو ستاسی کښی، او که حکم ومنی تاسی دالله

وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْــــًٔا

وَرَسُوْلَهٗ	لَا يَلِتْكُمْ	مِّنْ اَعْمَالِكُمْ	شَيْــــًٔا
او درسول ددغه (الله)	نو کم به نه کړی تاسی ته	له (جزاء د) عملونو ستاسی څخه	هيڅ شی

او درسول ددغه (الله په اخلاص سره) نو نه پری کوی، نه کموی (الله) له (جزاء د) عملونو ستاسی څخه هيڅ شی

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝١٤ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	اِنَّمَا	الْمُؤْمِنُوْنَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
بيشکه!چی	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډير رحم والا دی	بيشکه! چی	مؤمنان	هغه کسان دی	چی ايمان يئ راوړی دی

بيشکه! چی الله ښه مغفرت کوونکی ډير رحم والا دی. بيشکه!چی مؤمنان هغه کسان دی چی ايمان يئ راوړی دی

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ

بِاللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	ثُمَّ	لَمْ يَرْتَابُوْا	وَجٰهَدُوْا	بِاَمْوَالِهِمْ
په الله	او په رسول ددغه (الله)	بيا	شک نه کوی	او جهاد کوی دوی	په مالونو خپلو سره

په الله او په رسول ددغه (الله) باندی بيا شک نه کوی (په ايمان کښی) او جهاد کوی دوی په مالونو خپلو سره

وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝١٥

وَاَنْفُسِهِمْ	فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اُولٰۗىِٕكَ	هُمُ	الصّٰدِقُوْنَ
او په ځانونو خپلو سره	په لاره	دالله کښی	داکسان	هم دوی دی	رښتينی

او په ځانونو خپلو سره چی جهاد کوی په لاره د الله کښی دا کسان هم دوی دی رښتينی (په دعوی دايمان کښی)

قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا. **شان نزول:** واقعه ددې آيت داده چي دبنی اسد دقبيلې يو څو کسان په مدينه منوره کي دنبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سول ديوې سختي قحطی په زمانه کي داخلګ په زړه سره مومنان خونه وه محضي دصدقو او خيراتونو دحاصلولو دپاره يي دخپل اسلام راوړلو اظهار وکی او چونکي په واقع کي مومنان نه وه او داسلامي آدابو او احکاموڅخه بې خبره وه دوی دمدينې منورې په لارو کي غلاظت او ګندګي خپره کړه او په بازارونو کي يي دضرورت دشيانو قيمتونه ګران کړل او دحضور ﷺ په وړاندي يو خو يي دايمان راوړلو ددرواغو وعده وکړه. دوهم يي دوی ﷺ ته دوکه اوفريب ورکول غوښتل. دريم يي پر دوی ﷺ باندي احسان اېښووی چي نور خلګ خو تر څه وخته پوري ستاسي سره په جنګ وه او ستاسي خلاف يي ډير جنګونه وکړل او بيا مسلمانان سول موږ بغير دڅه جنګ څخه په خپله تاته حاضر سوو او مسلمانان سوو په دې وجه زموږ قدر پکار دی. پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

قُلْ	اَتُعَلِّمُوْنَ	اللّٰهَ	بِدِيْنِكُمْ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ
ووايه	آيا تاسو خبروركوئ	اللّٰه ته	په دين ستاسي سره	او اللّٰه	معلوم دى	هرهغه چي	په آسمانونو كښې دى

ووايه (محمده!) آيا پوهوئ تاسي اللّٰه په دين ستاسي سره حال دا چي اللّٰه ته معلوم دى هرهغه چي په آسمانونو كښې دى

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٦﴾

وَمَا	فِي الْاَرْضِ	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمٌ
او هرهغه شيان چي	په ځمكه كښې دى	او اللّٰه	پر هر شي باندى	ښه عالم، پوه دى

او هرهغه شيان چي په ځمكه كښې دى او اللّٰه پر هر شي باندى ښه عالم، خبردار، پوه دى (هيڅ شى نه ځيني پټيږى)

يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ۗ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ

يَمُنُّوْنَ	عَلَيْكَ	اَنْ اَسْلَمُوْا	قُلْ	لَّا تَمُنُّوْا	عَلَيَّ
احسان باروى دوى	پرتا باندى	ددى چي تش مسلمانان سوى دى دوى	ووايه	احسان مه باروى تاسي	پر ما

احسان باروى دوى په تا باندى (اى محمده) د دى چي تش مسلمانان سوى دى دوى، ووايه احسان مه باروى تاسي په ما

اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ

اِسْلَامَكُمْ	بَلِ	اللّٰهُ	يَمُنُّ	عَلَيْكُمْ	اَنْ هَدٰىكُمْ
داسلام راوړلو ستاسي	بلكه	اللّٰه	احسان كوى	پرتاسي باندى	ددى چي لاره يئ وښودله تاسي ته

داسلام راوړلو ستاسي بلكه اللّٰه احسان كوى پر تاسي باندى ددى چي لاره يئ وښووله تاسي ته

لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ

لِلْاِيْمَانِ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	اِنَّ	اللّٰهَ	يَعْلَمُ	غَيْبَ
دايمان راوړلو	كه يئ تاسي	ربنتيني، صادقان	بيشكه !	اللّٰه ته	ښه معلوم دى	غيب

دايمان راوړلو كه يئ تاسي ربنتيني او صادقان (په دعوى دايمان كښې). بيشكه! اللّٰه ته ښه معلوم دى غيب (پټ)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨﴾ ع

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاللّٰهُ	بَصِيْرٌ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ
دآسمانونو	اودځمكي	او اللّٰه	ښه ليدونكى دى	په هغو كارونو	چي كوى يئ تاسي

دآسمانونو او دځمكي او اللّٰه ښه ليدونكى دى په هغو كارونو باندى چي كوى يئ تاسي.

ع ٢ ١٤

قُــلْ اَتُعَلِّمُــوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: كمه چي په شان دنبوت او رســالت كــي يــو قسم ګستاخي هم وه چي دخپل مسلمانيدو پــر دوى ﷺ احسان ايـږدي اومقصود يي ددي څخه ماسوا نور هيڅ نه وو چي دمسلمانانو پــه صدقــوســره خپــل مفليسي ليري كړي او كه دوى واقعــي او ربنــتيني مسلمانان واى نــو پر نبي كــريم ﷺ ددوى څـــه احسان وو پــه خپلـه يــي خپله نفع وه پـردي داذكر سوي اياتونه رانازل سول پـه كومـو كي چي ددوى ددرواغوددعـوي تكـذيب او داحسان خيژولو مذمت سـوى دى:ولكن قولـوا اسلمنا چونكي ددوى پـه زړونـوكي ايمان نـه وو او ددرواغو دعوه وه كمه چي يي دظاهري كارونو پـر بنا كولـه پـه دي وجـه قـرآن ددوى دايمـــان نفـــي او دايمـان دعـوه يـي غلطـه بيان كړه او دايي وفرمايل چي ستاسي آمنّا ويـل خو درواغ دي تاسي زيـات تـر زيات اسلمنا ويلي سواى ځكه چي داسلام لفظي معنى په ظاهري افعالو كي اطاعـــت كـــول دي او دي خلګـو هـم دخپلـي دعـوي دثابتولو دپاره څـه عملونــه كــړي وه الـخ.
معارف القرآن ج۹ پ۲۶ ص۱۵۴

ایاتونه ۴۵ — ۵۰ سُوْرَةُ قٓ مَكِّيَّةٌ ۳۴ — رکوعې ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ① بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ

مُّنْذِرٌ	اَنْ جَآءَهُمْ	عَجِبُوْٓا	بَلْ	الْمَجِيْدِ	وَالْقُرْاٰنِ	قٓ
بیرونکی	له دی څخه چې راغلی دوی ته	تعجب کوی دوی	بلکه	چې لوی شان لری	قسم دی په قرآن	قاف

قاف. قسم دی په قرآن چې لوی شان لری بلکه تعجب کوی دوی له دی څخه چې راغلی دوی ته بیرونکی

مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ② ءَاِذَا مِتْنَا

ءَاِذَا مِتْنَا	عَجِيْبٌ	شَيْءٌ	هٰذَا	الْكٰفِرُوْنَ	فَقَالَ	مِّنْهُمْ
آیا کله چې مړه سو موږ	عجیب دی	یو شی	دا (بیرول)	کافرانو	نو وویل	له دوی څخه

له دوی څخه نو وویل کافرانو دا (بیرول) یو شی عجیب دی آیا کله چې مړه سو موږ

وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ③ قَدْ عَلِمْنَا

عَلِمْنَا	قَدْ	بَعِيْدٌ	رَجْعٌ	ذٰلِكَ	تُرَابًا	وَكُنَّا
معلوم دی موږ ته	په تحقیق سره	ډیر لیری دی	بیرته راتلل	دغه	خاوری موږ	او سو

او سو خاوری موږ (بیا به هم ژوندی کیږو؟) دغه بیرته راتلل ډیر لیری دی (له عقله) .په تحقیق سره معلوم دی موږ ته

مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ④ بَلْ

بَلْ	حَفِيْظٌ	كِتٰبٌ	وَعِنْدَنَا	مِنْهُمْ	الْاَرْضُ	مَا تَنْقُصُ
بلکه	په یاد ساتونکی د هر شی	یو کتاب دی	او زموږ سره	له (وجوده) د دوی	مځکه	هغه چې کموی یې

هغه چې کموی یې مځکه له وجوده د دوی ، او زموږ سره یو کتاب دی په یاد ساتونکی د هر شی (لوح محفوظ). بلکه

كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ⑤

مَّرِيْجٍ	فِيْٓ اَمْرٍ	فَهُمْ	جَآءَهُمْ	لَمَّا	بِالْحَقِّ	كَذَّبُوْا
د پریشانئ دی	په یو کار کښی	پس دوی	راغلی دوی ته	کله چې	حق ته	نسبت د دروغو کړی دی دوی

نسبت د دروغو کړی دی دوی حق او ربښتینی دین ته کله چې راغلی دوی ته پس دوی په مختلفو خبرو کښی مضطرب دی

وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ① بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ

د سورت ق خصوصیات:

په سورت ق کي ډیر مضامین د آخرت او قیامت او د مړو د ژوندي کیدو او د حساب او کتاب په اړوند دي او دا مناسبت دی د دې سورت د سورت حجرات سره چي د هغه په آخر کي د دې مضامینو ذکر وو:

د سورت ق یو خاص اهمیت د دې حدیث شریف څخه معلومیږي چي امّ هشام بنت حارثه بن نعمان رضی الله عنها وایي چي نبي کریم ﷺ ته زما کور ډیر نژدې وو تقریبا تر دوو کالو پوري زموږ او د نبي کریم ﷺ تنور یو وو ما ته سورت ق ټول د اسي یاد سو چي نبي کریم ﷺ به دا سورت هره جمعه پر منبر باندي په خطبه کي تلاوت فرمایي: رواه مسلم

او حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه د ابو واقد لیثي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي نبي کریم ﷺ به د اخترونو په لمونځونو کي کم سورت وایه؟ نو دوی وفرمایل: ق والقرآن المجید. او اقتربت الساعة ، وانشق القمر او په روایت د جابر رضي الله عنه نقل دي چي نبي کریم ﷺ به د سهار په لمانځه کي سورت ق ډیر تلاوت کوی:

معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۱۵۹

أَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا

اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا	اِلَى السَّمَآءِ	فَوْقَهُمْ	كَيْفَ	بَنَيْنٰهَا	وَزَيَّنّٰهَا
آیا پس نه ګوري دوی	طرف دآسمان ته	دپاسه د دوی	چي څرنګه	جوړ کړی دی موږ هغه	او ښائسته کړی دی موږ هغه

آیا پس نه ګوري دوی طرف دآسمان ته دپاسه د دوی چي څرنګه جوړ کړی دی موږ هغه او ښائسته کړی دی موږ هغه

وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ⑥ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا

وَمَا لَهَا	مِنْ فُرُوْجٍ	وَالْاَرْضَ	مَدَدْنٰهَا	وَاَلْقَيْنَا	فِيْهَا
او نسته دغه آسمان ته	کوم چاوده	او مځکی ته	غوړولی مو ده هغه	او غورځولی مو دی	په هغی کښی

او نسته دغه آسمان ته کوم چاوده (عیب) . او مځکی ته غوړولی مو ده او غورځولی مو دی په هغی کښی

رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ⑦ تَبْصِرَةً

رَوَاسِيَ	وَاَنْۢبَتْنَا	فِيْهَا	مِنْ كُلِّ	زَوْجٍ	بَهِيْجٍ	تَبْصِرَةً
درانه بارونه	او زرغونه کړی مو دی	په هغی کښی	له هر قسم	جوړی	ښائسته	دپاره د ښوونی

درانه بارونه محکم غرونه او زرغونه کړي مو دي په هغی کښی له هر قسم تازه ګیاوی درونق شیان دپاره د ښوونی

وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ⑧ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ

وَّذِكْرٰى	لِكُلِّ	عَبْدٍ	مُّنِيْبٍ	وَنَزَّلْنَا	مِنَ السَّمَآءِ
او پند، نصیحت	هر هغه	بنده ته	چي رجوع کوونکی وی	او نازلی کړی دی موږ	له (طرفه د) آسمانه

او پند، نصیحت هر هغه بنده ته چي رجوع کوونکی وی الله ته. او نازلی، کښته کړی دی موږ له (طرفه د) آسمانه

مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ⑨

مَآءً	مُّبٰرَكًا	فَاَنْۢبَتْنَا	بِهٖ	جَنّٰتٍ	وَّحَبَّ	الْحَصِيْدِ
اوبه	ډیری برکتناکی	نو زرغونه موکړل	په دغو سره	باغونه	او دانی	درییل سوی کښت

او به ډیری برکتناکی نو زرغونه مو کړل په دغو (اوبو) سره باغونه او دانی کښت چي فصل یئ رېبلی کیږی.

وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ⑩ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ

وَالنَّخْلَ	بٰسِقٰتٍ	لَّهَا	طَلْعٌ	نَّضِيْدٌ	رِّزْقًا	لِّلْعِبَادِ
او خرماوی	لوړی لوړی	چي هغي لره	وږی دی	لاندی باندی	رزق، روزی	دپاره د بندګانو

او (زرغونی موکړلی) خرماوی لوړی لوړی چي د هغی وږی دی لاندی باندی. رزق روزی دپاره د بندګانو

يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا. ايا اسمان په نظر راځي ؟
ددغه ايت څخه يعني: افلم ينظروا الى السمآء فوقهم : په ظاهره دا معلوميږي چي آسمان په نظر راځي او مشهوره داده چي داشين رنګ چي کم په نظر راځي دادهوا رنګ دی مګر ددې دنفي هم څه دليل نسته چي دارنګه دآسمان هم وي ددې څخه علاوه په آيت کي دنظر څخه مراد نظرعقلي په معنی دغور او فکر هم مراد کيدای سي: بيان القرآن. وروسته دمرګ څخه پر ژوندون دمشهوري شبهي جواب: قدعلمنا ما تنقص الارض منهم. کفارو او مشرکينوکمو چي په قيامت کي وروسته دمرګ څخه دژوندون انکار کوی ددوی دټولو څخه لوی دليل داتعجب دی چي دمرګ څخه وروسته دانسان اکثره اجزاء دجسم خاوري سي بيا دغه خاوري په دنيا کي وغوړول سي اوبه او هوا دده ذرې دکم ځای څخه کم ځای ته ورسوي په قيامت کي ددوباره ژوندی کولو دپاره په دنياکي دخپرو سوواجزاوو معلوم ساتل چي داجز دفلاني دی دادفلاني دی. پاته بيان پر راروان مخ وګوري.

وَاَحۡيَيۡنَا بِهٖ بَلۡدَةً مَّيۡتًا ؕ كَذٰلِكَ الۡخُرُوۡجُ ⑪ كَذَّبَتۡ

وَاَحۡيَيۡنَا	بِهٖ	بَلۡدَةً	مَّيۡتًا	كَذٰلِكَ	الۡخُرُوۡجُ	كَذَّبَتۡ
او ژوندی کړل موږ	په دغو سره	ښارونه	مړه	هم داسی دی	راوتل	دروغجن کړی ؤ

او ژوندی کړل موږ په دغو (اوبو) سره کلی او ښارونه مړه. هم داسی دی راوتل (د مړیو له قبرونو څخه) دروغجن کړی ؤ

قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوۡحٍ وَّاَصۡحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوۡدُ ⑫ وَعَادٌ

قَبۡلَهُمۡ	قَوۡمُ	نُوۡحٍ	وَّاَصۡحٰبُ	الرَّسِّ	وَثَمُوۡدُ	وَعَادٌ
پخوا له دغو (کفارو)	قوم	دنوح	او ملګری	دڅاه	او ثمودیانو	او عادیانو

پخوا له دغو (کفارو) قوم د نوح (نوح لره) اوملګری د کوهی (نبی خپل) او ثمودیانو (صالح لره) او عادیانو (هود لره)

وَفِرۡعَوۡنُ وَاِخۡوَانُ لُوۡطٍ ⑬ وَّاَصۡحٰبُ الۡاَيۡكَةِ وَقَوۡمُ تُبَّعٍ ؕ

وَفِرۡعَوۡنُ	وَاِخۡوَانُ	لُوۡطٍ	وَّاَصۡحٰبُ	الۡاَيۡكَةِ	وَقَوۡمُ تُبَّعٍ
او فرعون	او ورونو	دلوط	او خاوندانو	دځنګله	او قوم د تبع

او فرعون (موسیٰ لره) او (نوعی) ورونو د لوط (لوط لره) اوخاوندانو د ځنګله (شعیب لره) او قوم دتبع (خپل نبی ته)،

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيۡدِ ⑭ اَفَعَيِيۡنَا

كُلٌّ	كَذَّبَ	الرُّسُلَ	فَحَقَّ	وَعِيۡدِ	اَفَعَيِيۡنَا
دوی ټولو	نسبت د دروغو کړی وو	پیغمبرانو ته	بیا ثابت سو	عذاب زما	آیا پس نو موږ ستړی سوی وو

دوی ټولو نسبت د دروغو کړی وو پیغمبرانو ته بیا ثابت سو عذاب زما (پر دوی). آیا پس نو موږ ستړی سوی وو

بِالۡخَلۡقِ الۡاَوَّلِ ؕ بَلۡ هُمۡ فِىۡ لَبۡسٍ مِّنۡ خَلۡقٍ جَدِيۡدٍ ⑮ ع

بِالۡخَلۡقِ	الۡاَوَّلِ	بَلۡ هُمۡ	فِىۡ لَبۡسٍ	مِّنۡ خَلۡقٍ	جَدِيۡدٍ
په پیدا ینت	اول باندی	بلکه دوی	په شک کښی دی	له جوړولو، ژوندی کولو	نوی څخه

په پیدا ینت اول باندی (یعنی نه یو ستړی سوی) بلکه دوی په شک کښی دی له جوړولو او ژوندی کولو نوی څخه.

ع ۱۵ ۱۵

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهٖ نَفۡسُهٗ ۖۚ

وَلَقَدۡ	خَلَقۡنَا	الۡاِنۡسَانَ	وَنَعۡلَمُ	مَا تُوَسۡوِسُ	بِهٖ	نَفۡسُهٗ
او خامخا په تحقیق	پیدا کړی دی موږ	انسان	په داسی حال کښی چی پوهیږو	په هغه چی وسوسه کوی	په هغه	زړه دده

او خامخا په تحقیق پیدا کړی دی موږ انسان په داسی حال کښی چی موږ پوهیږو په هغه چی وسوسه کوی په هغه، زړه دده

وَاَحۡيَيۡنَا بِهٖ بَلۡدَةً مَّيۡتًا كَذٰلِكَ الۡخُرُوۡجُ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری:
اوبیا ده هریوه اجزا جلا جلا جمع کول دڅا دوس خبره ده ؟ قرآن کریم ددې جواب ورکی چې انسان پر خپل محدود علم او بصیرت دالله ﷻ غیر محدود او لامتناهي علم قیاس کوي اوپه ګمراهی کې راځي: قد علمنا ما تنقص الارض دالله ﷻ علم دومره وسیع او محیط دی چې دمرګ څخه وروسته دانسان یو یو جزء دده په نظر کې دی هغه پوه دی چې دمړي کمه کمه حصه مځکې خوړلې ده څکه چې دده څه هډوکي خو الله ﷻ داسې جوړ کړي دي چې هغه مځکه نه خوري او کم چې مځکه وخوري او خاوري یې کړي بیا دغه خاوري ددنیا کونج کونج ته ورسیږي دغه هر څه دالله ﷻ په نظر کې دي هر کله چې الله ﷻ وغواړي نو ټول به یې کړي او یو ځای به یې راجمع کړي او که لږ فکر او غور وسي نو داوخت دهر انسان جسم چې دکمو اجزاوو څخه مرکب ګرځیدونکی راګرځیدونکی دی په دي کې هم دټولې دنیا دمختلفو حصو اجزاء جمع دي الخ (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۶ ص ۱۶۰)

وَنَحۡنُ اَقۡرَبُ اِلَیۡهِ مِنۡ حَبۡلِ الۡوَرِیۡدِ ﴿۱۶﴾ اِذۡ یَتَلَقَّی

وَنَحۡنُ	اَقۡرَبُ	اِلَیۡهِ	مِنۡ حَبۡلِ	الۡوَرِیۡدِ	اِذۡ یَتَلَقَّی
حال دا چې موږ	ډیر نژدی یو	ده ته	له رګ	دساه	هر کله چې لیکی

حال دا چې موږ ډیر نژدی یو ده ته په علم سره له رګونو د ورمیږو د ده (ساه، غاړې دده) . او هر کله چې لیکی

الۡمُتَلَقِّیٰنِ عَنِ الۡیَمِیۡنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِیۡدٌ ﴿۱۷﴾

الۡمُتَلَقِّیٰنِ	عَنِ الۡیَمِیۡنِ	وَعَنِ الشِّمَالِ	قَعِیۡدٌ
دوه لیکونکی	چې یو پر راسته طرف باندی	او بل پر چپه طرف باندی	ناست وی

دوی لیکونکی (ملائیکی) چې یو پر راسته طرف باندی (لیکی نیکی) او بل پر چپه طرف باندی (لیکی بدی) ناسته وی

مَا یَلۡفِظُ مِنۡ قَوۡلٍ اِلَّا لَدَیۡهِ رَقِیۡبٌ عَتِیۡدٌ ﴿۱۸﴾ وَجَآءَتۡ

مَا یَلۡفِظُ	مِنۡ قَوۡلٍ	اِلَّا	لَدَیۡهِ	رَقِیۡبٌ	عَتِیۡدٌ	وَجَآءَتۡ
نه وایئ	هیڅ خبره	مګر وی	دهغه سره	ساتونکی	حاضر تیار ناست	او راغلی

نه وایئ (دغه بنده) هیڅ خبره مګر وی له ده څخه دوی ساتونکی، حاضر تیار ناست (لیکی یئ). او راغلی

سَكۡرَةُ الۡمَوۡتِ بِالۡحَقِّ ؕ ذٰلِكَ مَا كُنۡتَ مِنۡهُ تَحِیۡدُ ﴿۱۹﴾

سَكۡرَةُ	الۡمَوۡتِ	بِالۡحَقِّ	ذٰلِكَ	مَا كُنۡتَ	مِنۡهُ	تَحِیۡدُ
بی هوشی ، سختی	د مرګ	داچې ووینی په حق سره	دا مرګ	هغه دی چې وی به ته	له ده څخه	لیری کیدونکی

بی هوشی سختی دمرګ داچې په سترګو یئ ووینی په حق سره، دا مرګ هغه دی چې وی به ته له ده څخه لیری کیدونکی .

وَنُفِخَ فِی الصُّوۡرِ ؕ ذٰلِكَ یَوۡمُ الۡوَعِیۡدِ ﴿۲۰﴾ وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٍ

وَنُفِخَ	فِی الصُّوۡرِ	ذٰلِكَ	یَوۡمُ	الۡوَعِیۡدِ	وَجَآءَتۡ	كُلُّ نَفۡسٍ
او وبه پوکل سی	په شپیلی کښی	چې دا	یوه ورځ ده	دبیریدولو	او راځی	هر نفس په دی ورځ کښی

او وبه پوکل سی په شپیلی کښی چې دا یوه ورځ ده دبیریدولو . او راځی هر نفس په دی ورځ کښی

مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِیۡدٌ ﴿۲۱﴾ لَقَدۡ كُنۡتَ فِیۡ غَفۡلَةٍ مِّنۡ

مَّعَهَا	سَآئِقٌ	وَّشَهِیۡدٌ	لَقَدۡ	كُنۡتَ	فِیۡ غَفۡلَةٍ	مِّنۡ
چې وی به له ده سره	یو شړونکی	او شاهدی ورکوونکی	او خامخا په تحقیق	وی ته	په بی خبری کښی	له

چې وی به له ده سره یو شړونکی او شاهدی ورکوونکی. او خامخا په تحقیق وی ته په بی خبری کښی له

وَنَحۡنُ اَقۡرَبُ اِلَیۡهِ مِنۡ حَبۡلِ الۡوَرِیۡدِ. الله ﷻ انسان ته دشاه رګ څخه زیات نژدې دی: جمهورو مفسرینو ددې مطلب دا مقرر کړی دی چې دقریب څخه مراد قرب علمي دی قرب مسافت مراد نه دی: لفظ دورید په عربي ژبه کي دهرجاندار هغه رګونه دي کم چي ټول بدن ته وینه رسوي: په طبي اصطلاح کي دا دوه قسمه رګونه دي یو قسم هغه کم چي دځيګر څخه راوزي او خالص وینه ټول بدن ته رسوي په طبي اصطلاح کي دغه رګونو ته ورید وایي او جمع یي اوریده راځي: دوهم قسم هغه رګونه دي کم چي دحیوان دزړه څخه وزي او دویني هغه لطیف تپ بړاس کم ته چي دطب په اصطلاح کي روح وایي هغه دغه شان ټول انساني بدن ته رسوي او خوروي یي دغه ته شریان اوشرآئن وایي داول قسم رګونه غټ او ددوهم قسم رګونه باریک دي: په ذکر سوي آیت کي داضروري نه ده چي دورید لفظ دطبي اصطلاح مطابق دغه رګ ته ویل سوی وي کم چي دځيګر څخه وزي بلکي دزړه څخه وتلي رګ ته هم ورید ویل کیږي الخ.
معارف القرآن ج ۹ پ ۲٦ ص ۱٦۷

هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾

هٰذَا	فَكَشَفْنَا	عَنْكَ	غِطَآءَكَ	فَبَصَرُكَ	الْيَوْمَ	حَدِيْدٌ
دی ورځی د عذاب څخه	نو لیری مو کړه	له تا څخه	پرده د غفلت ستا	نو نظر ستا	نن ورځ	ډیر تیز دی

دی ورځی د عذاب څخه نو بیرته مو کړه له تا څخه پرده د غفلت ستا ، نو سترګی ستا نن ورځ ډیری تیزی دی

وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ

وَقَالَ	قَرِيْنُهٗ	هٰذَا	مَا لَدَيَّ	عَتِيْدٌ	اَلْقِيَا	فِيْ جَهَنَّمَ
او وبه وایئ	ملګری دده	دا دی	هغه شی چی زما سره	حاضر دی	وغورځوی تاسی	په دوزخ کښی

او وبه وایئ ملګری دده (ملائیکی) دا دی هغه شی چی زما سره حاضر دی ، (حکم به وسی چی) وغورځوی تاسی په دوزخ کښی

كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبٍ ﴿٢٥﴾

كُلَّ	كَفَّارٍ	عَنِيْدٍ	مَّنَّاعٍ	لِّلْخَيْرِ	مُعْتَدٍ	مُّرِيْبٍ
هریو	کافر	عناد کوونکی	منع کوونکی	د خیر	تیریدوکی له حدودو ظالم	شک کوونکی

هر یو کافر عناد کوونکی ، منع کوونکی د خیر تیریدونکی له حدودو (مشروعو) ظالم، شک کوونکی (په دین کښی) .

الَّذِيْ جَعَلَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ

الَّذِيْ	جَعَلَ	مَعَ اللّٰهِ	اِلٰهًا	اٰخَرَ	فَاَلْقِيٰهُ	فِي الْعَذَابِ
هغه (کافر)	چی ګرځولی یئ دی	سره له الله	الله	بل	نو وغورځوی دی	په عذاب

هغه (کافر) چی ګرځولی یئ دی سره له الله (الله بل) نو وغورځوی دی په عذاب

الشَّدِيْدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ

الشَّدِيْدِ	قَالَ	قَرِيْنُهٗ	رَبَّنَا	مَآ اَطْغَيْتُهٗ	وَلٰكِنْ	كَانَ
سخت کښی	وبه وایئ	ملګری دده	ای ربه زموږ	نه ؤ ګمراه کړی ما دی	او لیکن	و دی

سخت کښی ، وبه وایئ ملګری دده یعنی شیطان ای ربه زموږ ، نه ؤ ګمراه کړی ما دی (جبرا) لیکن و دی پخپله

فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ

فِيْ ضَلٰلٍ	بَعِيْدٍ	قَالَ	لَا تَخْتَصِمُوْا	لَدَيَّ	وَقَدْ	قَدَّمْتُ
په ګمراهی	لیری کښی	وبه فرمائی (الله)	جګړه مه کوی تاسی	دلته له ما سره	او په تحقیق	مخکی لیږلی ؤ ما

په ګمراهی لیری کښی له حقه څخه. وبه فرمائی (الله) جګړه مه کوی تاسی دلته له ما سره او په تحقیق مخکی لیږلی ؤ ما

وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ... دانسان دعملونود لیکونکي فرشتې ذکر:
دلته دقرین څخه مرادهغه فرشته ده کمه چي دانسان سره دده دعملونودلیکلو دپاره اوسیده او اول معلومه سویده چي دعملونو لیکونکي ملایکي دوي دي مګرپه قیامت کي يي دانسان دحاضرۍ په وخت کي يوې ته سائق او يوې ته شهيد ددې څخه په مخکي ايت کي فرمايلي دي په دې وجه دنسق کلام څخه دامعلومېږي چي دعملونو ليکونکو دوو فرشتوته په ميدان دحشر کي دده دحاضرۍ پر وخت دوه کارونه سپارل سوي دي: ديوې پر ذمه په ده ورپسې کيدل او دده دحشر ميدان ته رسول کم ته چي په دې آيت کي دسائق نوم ورکول سوی دی بلي ته دده عملنامه سپارل سويده کمي ته چي يي دشهيد نوم ورکړی دی نو ميدان دحشر ته درسيدو څخه وروسته به عمل نامې والا فرشته يعني شهيد داعرض وکړي چي: هذامالدی عتيد يعني دده عملونه زما سره ليکلي موجود دي اوځيني بيا فرمايي چي لفظ دقرين سائق اوشهيد دواړوته شامل دی.
معارف القرآن ج۹پ۲۶ص۱۷۲

هٰذَا مَا تُوۡعَدُوۡنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِيۡظٍ.. اواب کم خلک دي؟ يعني دجنت وعده دهر هغه سړي دپاره ده کم چي اواب او حفيظ وي: داواب معنی رجوع کوونکی دی مراد هغه سړی دی کم چي دګناهونو څخه دالله ﷻ طرف ته رجوع کوونکی وي: حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه او شعبي رحمة الله عليه او مجاهد رحمة الله عليه فرمايي چي اوّاب هغه سړی دی کم چي په خلوت کي خپل ګناهونه يادوي او استغفار کوي اوحضرت عبيدابن عمير رضي الله عنه فرمايي چي اوّاب هغه سړی دی کم چي خپل په هرمجلس او هرنشست کي دالله ﷻ څخه دخپلوګناهونو مغفرت غواړي او فرمايي چي موږ ته دا ښوول سوي دي چي اواب او حفيظ هغه سړی دی کم چي په خپل هر مجلس کي دولاړيد په وخت کي دادعا کوي: سبحان الله وبحمده استغفر اللهمّ انّى استغفرک مما اصبت فی مجلسی هذا پاک دی الله ﷻ او دهغه ثناء ده يا الله ﷻ زه بخښنه غواړم دهغه ګناه څخه کمه چي ما په دې مجلس کي کړې وي: يا الله موږ هم په اوابينوکي شمار کړې.
معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص١٧٥

ع ٢ ١٤ ١٦

اِلَيۡكُمۡ بِالۡوَعِيۡدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَيَّ وَمَاۤ اَنَا

اِلَيۡكُمۡ	بِالۡوَعِيۡدِ	مَا يُبَدَّلُ	الۡقَوۡلُ	لَدَيَّ	وَمَاۤ اَنَا
تاسی ته	وعده د خپل عذاب	نه سی بد لیدلی	هیڅ خبره	په نزد زما	او نه یم زه

تاسی ته بیرول خپل (په ژبو د انبیاؤ). نه سی بدلیدلی هیڅ خبره په دی باره کښی په نزد زما او نه یم زه

بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ ﴿٢٩﴾ يَوۡمَ نَقُوۡلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امۡتَلَاۡتِ

بِظَلَّامٍ	لِّلۡعَبِيۡدِ	يَوۡمَ	نَقُوۡلُ	لِجَهَنَّمَ	هَلِ امۡتَلَاۡتِ
ظلم کوونکی	پر بندګانو	هغه ورځ	چی وایو موږ	دوزخ ته	داسی آیا ډک، موړ سوی ته

ظلم کوونکی پر بندګانو. (یادکړه) هغه ورځ چی وایو موږ دوزخ ته داسی آیا ډک، موړ سوی ته (له خلکو څخه)؟

وَتَقُوۡلُ هَلۡ مِنۡ مَّزِيۡدٍ ﴿٣٠﴾ وَاُزۡلِفَتِ الۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِيۡنَ

وَتَقُوۡلُ	هَلۡ	مِنۡ مَّزِيۡدٍ	وَاُزۡلِفَتِ	الۡجَنَّةُ	لِلۡمُتَّقِيۡنَ
او وبه وایئ هغه	آیا	نور زیاتی څه سته؟	او رانژدی به کړی سی	جنت	لپاره د پرهیزګارانو

او وبه وایئ هغه آیا نور هم څه زیات ځای سته، او رانژدی به کړی سی جنت لپاره د بیریدونکو، پرهیزګارانو

غَيۡرَ بَعِيۡدٍ ﴿٣١﴾ هٰذَا مَا تُوۡعَدُوۡنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِيۡظٍ ﴿٣٢﴾

غَيۡرَ	بَعِيۡدٍ	هٰذَا	مَا تُوۡعَدُوۡنَ	لِكُلِّ	اَوَّابٍ	حَفِيۡظٍ
چی نه به وی	لیری	(فرمائی الله) چی دا	هغه دی چی وعده به یئ کیدله له تاسی سره	دپاره دهر	رجوع کوونکی	ساتونکی

چی نه به وی لیری. فرمائی الله چی دا هغه دی چی وعده به یئ کوله کیده له تاسی سره دپاره دهر رجوع کوونکی، ساتونکی

مَنۡ خَشِيَ الرَّحۡمٰنَ بِالۡغَيۡبِ وَجَآءَ بِقَلۡبٍ مُّنِيۡبِ ﴿٣٣﴾ ادۡخُلُوۡهَا

مَنۡ خَشِيَ	الرَّحۡمٰنَ	بِالۡغَيۡبِ	وَجَآءَ	بِقَلۡبٍ	مُّنِيۡبِ	ادۡخُلُوۡهَا
هغه چی بیریږی	له رحمان	په غیب سره	او راتلونکی وی	په زړه	رجوع کوونکی	چی ننوځی په هغه کښی

هغه چی بیریږی له عذابه د رحمان په غیب سره او راتلونکی وی په زړه رجوع کوونکی (وبه وایئ الله) چی ځی ننوځی پکښی

بِسَلٰمٍ ؕ ذٰلِكَ يَوۡمُ الۡخُلُوۡدِ ﴿٣٤﴾ لَهُمۡ مَّا يَشَآءُوۡنَ

بِسَلٰمٍ	ذٰلِكَ	يَوۡمُ	الۡخُلُوۡدِ	لَهُمۡ	مَّا يَشَآءُوۡنَ
په سلامتیا سره	دا	یوه ورځ	دورننوتلو (په جنت کښی ده)	وی به دوی ته	هغه چی غواړی یئ دوی

په سلامتیا سره، دا یو ورځ د ورننوتلو په جنت کښی ده، وی به دوی ته (مؤمنان) هغه چی غواړی یئ دوی

فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ۝٣٥ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ

فِيْهَا	وَلَدَيْنَا	مَزِيْدٌ	وَكَمْ اَهْلَكْنَا	قَبْلَهُمْ	مِّنْ قَرْنٍ
په دی کښی	او له موږ سره	نور هم زيات دی	او ډير مو هلاک کړی دی	پخوا له دی څخه	له اهل د زمانو

په دی (جنت) کښی او له موږ سره نور هم زيات دی. او ډير مو هلاک کړی دی پخوا له دی څخه له اهل د زمانو (پخوانيو)

هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ

هُمْ	اَشَدُّ	مِنْهُمْ	بَطْشًا	فَنَقَّبُوْا	فِي الْبِلَادِ
چی هغوی	ډير سخت وه	له دوی څخه	له جهته د قوته	نو ډير ځايونه يئ د پناه ولټول	په ښارونو کښی

چی هغوی ډير سخت او قوی و له دوی (کفارو د مکی) څخه له جهته د قوته نو ډير ځايونه د پناه يئ ولټول په ښارونو کښی

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ۝٣٦ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَذِكْرٰى	لِمَنْ كَانَ	لَهٗ	قَلْبٌ
آيا څه ځای د تيښتی شته	بيشکه	په دغو کښی	خامخا پند دی	هر هغه چا لره چی وی	هغه لره	زړه

آيا ځای د تيښتی شته؟ بيشکه! په دغو (مذکوره وشيانو) کښی خامخا ذکرپند دی هر هغه چا لره چی وی هغه لره زړه

اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ۝٣٧ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

اَوْ اَلْقَى	السَّمْعَ	وَهُوَ	شَهِيْدٌ	وَلَقَدْ	خَلَقْنَا	السَّمٰوٰتِ
يا کښيږدی	غوږ	او چی هغه	حاضر وی	او خامخا په تحقيق	پيدا کړی دی موږ	آسمانونه

يا کښيږدی غوږ (نصيحت ته) او چی هغه حاضر، متوجه وی په زړه سره. او خامخا په تحقيق پيدا کړی دی موږ آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا

وَالْاَرْضَ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	فِيْ سِتَّةِ	اَيَّامٍ	وَّمَا مَسَّنَا
او ځمکه	او هغه نور مخلوقات	چی په مينځ د دغو کښی دی	په شپږو	ورځو کښی	او نه وه رسيدلی موږ ته

او ځمکه او هغه نور مخلوقات چی په مينځ د دغو (دواړو) کښی دی په شپږو ورځو کښی او نه وه رسيدلی موږ ته

مِنْ لُّغُوْبٍ ۝٣٨ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

مِنْ لُّغُوْبٍ	فَاصْبِرْ	عَلٰى مَا	يَقُوْلُوْنَ	وَسَبِّحْ	بِحَمْدِ	رَبِّكَ
هيڅ ستومانی	نو صبر کوه	پر هغه	چی وايئ يئ دوی	او تسبيح ووايه	سره له حمده	د رب خپل

هيڅ ستومانی. نو صبر کوه (محمده) پر هغه چی وايئ دوی او تسبيح ووايه پيوست سره له حمده د رب خپل

لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ... دعلم دحصول دوې طريقې: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي دلته دقلب څخه مراد عقل دی چونکي دعقل مرکز قلب دی په دې وجه يي ددې څخه په قلب سره تعبير وکړی: ځيني مفسرين فرمايي چي دلته دقلب څخه مراد حيات دی هغه هم ځکه چي دحيات مدار قلب دی: معنی دآيت داسوه چي دقرآن په دې سورت کي چي څه بيان سوي دي ددې څخه دنصيحت او عبرت فائده هغه سړي ته رسيدای سي په کم کي چي عقل وي يا ژوندوي بې عقله يا مړ ته به څه فائده ورسيږي: **او القى السمع وهو شهيد**: دالقآء السمع معنی خبري ته غوږ اينښوول دي: **شهيد** په معنی دحاضر: معنی داده چي دذکر سوو اياتونو فائده دووسړو ته رسيږي يو هغه چي په خپله عقل لري په خپل عقل سره ددې ټولو مضامينو تصديق کوي: يا بيا هغه سړی کم چي دالله جل جلاله اياتونو ته غوږ ايږدي او اوري يي او داسي يي اوري چي هغه په خپله هم حاضروي يعني غافله او بې فکره نه وي ځيني الخ.
(معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص١٧٨)

يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيبٍ... په کمه ورځ چي يوه اوازکوونکي فرشته دها خوا څخه اوازوکي: دزيد ابن جابر شافعي رحمة الله عليه څخه روايت دی چي دا فرشته به حضرت اسرافيل عليه السلام وي کمه چي به دبيت المقدس پر صخره باندي ودريږي او دټولي دنيا مړو ته به خطاب وکړي: چي ای رژيدلو هډوکو او ای ريزه ريزه سوو غرمنواوای خپرواو پاشلو ويښتيانو واوری تاسي ته الله جل جلاله دا حکم کوي چي دحساب دپاره جمع سی: مظهري دادقيامت ددوهمي شپيلی بيان دی په کم سره چي به دوباره عالم ژوندکيږي او دمکان قريب څخه مراد دادی چي دغه وخت به ددغه ملايکي اواز نژدې اوليري ټولو خلګوته داسي رسيږي چي ګويا ددوی دخوا څخه اواز کوي: حضرت عکرمه رضي الله عنه فرمايي چي دا آواز به داسي اوريدل کيږي لکه څوک چي زموږ په غوږکي اواز کوي. او ځيني حضرات بيا فرمايي چي دنژدي څخه مراد صخره دبيت المقدس ده ځکه چي هغه دمځکي مينځ دی ده طرفه ددي* مسافت يو شان دی.
معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص١٨٠

قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ الَّيْلِ

قَبْلَ	طُلُوعِ	الشَّمْسِ	وَقَبْلَ	الْغُرُوبِ	وَمِنَ الَّيْلِ
دمخه له	راختلو	دلمر	او دمخه	له لويدلو دلمر	او په بعضي وختونو دشپې کښې

دمخه له راختلو د لمر يعني لمونځ دسهار او دمخه له لويدلو دلمر (لمونځونه دماپښين، مازديګر) او بعضې د شپې کښې

فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ ﴿٤٠﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ

فَسَبِّحْهُ	وَأَدْبَارَ	السُّجُودِ	وَاسْتَمِعْ	يَوْمَ	يُنَادِ
پس تسبيح وايه ده (الله) ته	او وروسته	له سجدو	او واوره	هغه ورځ چي	آواز وکړي

پس تسبيح وايه دغه (الله) ته او وروسته له سجدو (هم تسبيح وايه). او واوره غوږ کښيږده هغه ورځ چي آواز وکړي

الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾ يَّوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ

الْمُنَادِ	مِنْ مَّكَانٍ	قَرِيبٍ	يَّوْمَ	يَسْمَعُونَ	الصَّيْحَةَ
آوازکوونکی	له ځای	نژدی څخه	هغه ورځ	چي واوری دوی	سخته چغه د (اسرافيل)

آوازکوونکی (اسرافيل) له ځای نژدی څخه. هغه ورځ چي واوری (دغه خلک) سخته چغه د (اسرافيل)

بِالْحَقِّ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ وَنُمِيتُ

بِالْحَقِّ	ذٰلِكَ	يَوْمُ	الْخُرُوجِ	إِنَّا	نَحْنُ	نُحْيِ	وَنُمِيتُ
په حقه سره	دا	ورځ	دوتلو ده (له قبرونو څخه)	بيشکه!	هم دا موږ	ژوندی کول کوو	او مړه کول کوو

په حقه سره دا (ورځ دآواز) ورځ دوتلو ده (له قبرونو) څخه. بيشکه! هم دا موږ ژوندی کول کوو او مړه کول کوو

وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا

وَإِلَيْنَا	الْمَصِيرُ	يَوْمَ	تَشَقَّقُ	الْأَرْضُ	عَنْهُمْ	سِرَاعًا
او سته خاص موږ ته	راګرځيدل	په هغه ورځ	چي وچوی	مځکه	له دوی څخه	په چابکی سره

او سته خاص موږ ته راګرځيدل (دټولو امورو). په هغه ورځ چي وچوی مځکه له دوی څخه په چابکی سره

ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ

ذٰلِكَ	حَشْرٌ	عَلَيْنَا	يَسِيرٌ	نَحْنُ	أَعْلَمُ	بِمَا	يَقُولُونَ
دغه	جمع کول دی	پر موږ باندی	ډير آسان	موږ ته	ښه معلوم دی	هغه څه چي	وايئ دوی

دغه (ژوندی کول) ټول دی پر موږ باندی ډير آسان. موږ ته ښه معلوم دی هغه څه چي وايئ دوی

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿٤٥﴾

وَمَآ اَنْتَ	عَلَيْهِمْ	بِجَبَّارٍ	فَذَكِّرْ	بِالْقُرْاٰنِ	مَنْ يَّخَافُ	وَعِيْدِ
او نه يئ ته	پردوى باندى	زوركوونكى	نو پندوركوه	په قرآن سره	هغه ته چې بيريږي	زما دعذاب دوعدى څخه

او نه يئ ته پردوى باندى زوركوونكى نو پندوركوه په قرآن سره هغه چاته چې بيريږي زما د عذاب د وعدى څخه

اياتونه ٦٠ — ٥١ سُوْرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ ٦٧ — ركوعي ٣

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجٰرِيٰتِ

وَالذّٰرِيٰتِ	ذَرْوًا	فَالْحٰمِلٰتِ	وِقْرًا	فَالْجٰرِيٰتِ
قسم دى په الوزوونكو بادونو	چې الوزوى	پس قسم دى په پورته كوونكو	دوريځو	پس قسم دى په تلونكو كشتيو

قسم دى په هغو بادونو باندى چې الوځوى خاورى، پس قسم دى په پورته كوونكو دوريځو. پس قسم دى په تلونكو كشتيو

يُسْرًا ﴿٣﴾ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ﴿٤﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾

يُسْرًا	فَالْمُقَسِّمٰتِ	اَمْرًا	اِنَّمَا	تُوْعَدُوْنَ	لَصَادِقٌ
په نرمى سره	پس قسم په (ملائيكو) تقسيم كوونكو	دكارونو	بيشكه !هغه چې	وعده يئ كړى سوى ده ستاسى سره	هغه ربښتيا ده

په نرمى سره پس قسم په (ملائيكو) تقسيم كوونكو دكارونو بيشكه! هغه چې وعده يئ كړى سوى ده ستاسى سره ربښتيا ده

وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿٧﴾

وَّاِنَّ	الدِّيْنَ	لَوَاقِعٌ	وَالسَّمَآءِ	ذَاتِ	الْحُبُكِ
او بيشكه !چې	جزا د عمل	خامخا واقع كيدونكى ده	او (قسم دى) په آسمان	چې خاوند	دلارو دى

او بيشكه! چې جزا د عمل خامخا واقع كيدونكى ده. او (قسم دى) په آسمان چې خاوند د لارو دى

اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ﴿٩﴾

اِنَّكُمْ	لَفِيْ	قَوْلٍ	مُّخْتَلِفٍ	يُّؤْفَكُ	عَنْهُ	مَنْ اُفِكَ
بيشكه! تاسى يئ	خامخا په	يوه خبره	مختلفه كښى	گرځولى سوى دى	له دى څخه	هغه څوک چې گرځولى سى دى

بيشكه! تاسى يئ خامخا په يوه خبره مختلفه كښى. گرځولى سوى دى له هدايته له دى څخه هغه څوک چې گرځولى سى دى.

وَالـذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا. الله ﷻ په هواگانو سره قسمونه اخيستي دي: په اولنيو څو اياتونو كي الله ﷻ په څو شيانو باندي قسم اخيستى دى او فرمايي چي دقيامت په حقله چي دكمو شيانو وعده سويده هغه ربښتيني وعده ده په كمو شيانو چي يي قسم اخيستى دى هغه څلور دي الذاريت ذرواً: الحاملات وقراً: الجاريات بسراً: المقسمات امراً: دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه او دحضرت علي المرتضى رضي الله عنه څخه ددي څلورو شيانو معنى او مطلب دا بيول سوى دى چي ذاريات څخه مراد هغه هواگاني دي دكمو سره چي گردونه ملوي اود حاملات وقراً څخه مراد هغه وريځي دي كمي چي داوبو بار پورته كوي: او دجاريات بسراً څخه مراد هغه كښتى دي كمي چي پر اوبو باندي بنه په آساني سره چليږي: او دمقسمات امرا څخه مراد هغه ملايكي دي كمي چي دالله ﷻ دطرفه څخه په عامو مخلوقاتو كي درزق او باران اواوبو دتكليف او راحت مختلف اقسام دتقدير الهي مطابق تقسيم كوي الخ.
معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص١٨٥

ع٣ ١٧

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ. په عبادت کي شب بيداري او ددي تفصيل: يهجعون دهجوع څخه جوړ دی چي معنی يي ده دشپې خوب: په دي کي دمومنانو متقيانو داصفت بيان سوی دی چي هغوی شپې دالله ﷻ په عبادت کي تيروي بيديږي کم او بيداروي زيات او وخت په لمانځه او عبادت کي تيروي:دا تفسير ابن جرير رحمة الله عليه اختياره کړی دی او دحضرت حسن بصري رحمة الله عليه څخه هم دامنقول دی چي متقين حضرات دشپې دويښ اوسيدو او عبادت کولو مشقت تيروي او ډير کم بيديږي او حضرت ابن عباس رضي الله عنه او قتاده رضي الله عنه او مجاهد رحمة الله عليه او وغيره امامانو دتفسير بياددغي مطلب حرف دما په دي کي دنفي دپاره مقرر کړی دی او دايي ښوولي دي چي دشپې لږ حصه پر دوی داسي هم راځي چي دوی په کښي بيديږي نه بلکي په عبادت لمونځ وغيره کي مشغوله وي ددي مطلب په اعتبار سره هغه ټول خلګ ددي مصداق کيږي چي دشپې په څه حصه کي هم عبادت وکړي که په اوله کي وي او که په آخره کي الخ.
معارف القرآن ج٩ پ٢٦ ص١٨٧

قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿١١﴾

قُتِلَ	الْخَرّٰصُوْنَ	الَّذِيْنَ	هُمْ	فِيْ غَمْرَةٍ	سَاهُوْنَ
هلاک سول	اندازه لګوونکی بی دلیله	هغه کسان	چي دوی	په نهايت غفلت کښی	هيروونکی دی

لعنت کړی سوی دی پر دروغو ویونکو. هغه کسان چي دوی په نهایت غفلت کښی سهو کوونکی، غافل دی (له قیامته)

يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ

يَسْـَٔلُوْنَ	اَيَّانَ	يَوْمُ	الدِّيْنِ	يَوْمَ هُمْ	عَلَى النَّارِ
سوال کوی (منکران)	چي کله به وی	ورځ	دانصاف	هغه ورځ چي دوی	پر اور (د دوزخ)

سوال کوی منکران چي کله به وی ورځ د انصاف (دقیامت). هغه ورځ چي دوی پر اور (د دوزخ)

يُفْتَنُوْنَ ﴿١٣﴾ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ؕ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ

يُفْتَنُوْنَ	ذُوْقُوْا	فِتْنَتَكُمْ	هٰذَا	الَّذِيْ	كُنْتُمْ	بِهٖ
سوځولی سی	وڅکی تاسی	عذاب ستاسی	دادی	هغه (عذاب)	چي وئ تاسی	چي هغه به مو

معذب سی. (ورته وبه ویل سی!) وڅکی تاسی عذاب ستاسی، دادی هغه (عذاب) چي وئ تاسی چي هغه به مو

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿١٤﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٥﴾

تَسْتَعْجِلُوْنَ	اِنَّ	الْمُتَّقِيْنَ	فِيْ جَنّٰتٍ	وَّعُيُوْنٍ
په تلواری غوښتی تاسی	بيشکه!	پرهيزګاران	به په جنت کښی وی	او په چينو کښی به وی

په تلواری غوښتی (په دنیا کښی) تاسی. بیشکه! ځان ساتونکی له معاصیو به په جنت کښی وی او په چینو کښی به وی.

اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ

اٰخِذِيْنَ	مَآ اٰتٰىهُمْ	رَبُّهُمْ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	قَبْلَ ذٰلِكَ
اخيستونکی به وی	هغو نعمتونو لره چي ورکړی وی دوی ته	رب د دوی	بيشکه! دوی	ؤ	پخوا له دی څخه

اخیستونکی به وی هغو نعمتونو لره چي ورکړی وی دوی ته رب د دوی، بیشکه! دوی ؤ پخوا له دی څخه

مُحْسِنِيْنَ ﴿١٦﴾ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ﴿١٧﴾

مُحْسِنِيْنَ	كَانُوْا	قَلِيْلًا	مِّنَ الَّيْلِ	مَا يَهْجَعُوْنَ
نيکی کوونکی	ؤ به دوی	چي په لږ برخه	دشپې کښی به	بيده کيدل دوی

نیکی کوونکی (په دنیا کښی). ؤ به دوی چي په لږ برخه د شپې کښی به بیده کیدل دوی

وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿١٨﴾ وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ

وَبِالْاَسْحَارِ	هُمْ	يَسْتَغْفِرُوْنَ	وَفِيْٓ	اَمْوَالِهِمْ	حَقٌّ
او په وخت دسحر کښی	به دوی	مغفرت غوښتی	او په	مالونو د دوی کښی	حق، برخه وه

او په وخت د سحر کښی به دوی مغفرت غوښتی (د الله ښخه). او په مالونو د دوی کښی حق ، برخه وه

لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿١٩﴾ وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ﴿٢٠﴾

لِّلسَّآئِلِ	وَالْمَحْرُوْمِ	وَفِي الْاَرْضِ	اٰيٰتٌ	لِّلْمُوْقِنِيْنَ
سوالگرلره	او صبر کوونکی لره	او په مځکه کی	علامی دی	دپاره د يقين لرونکو

دسوالگرو (صبر کوونکو) او دتنگدستو. او په مځکه کښی علامی ، نښی دی (دقدرت دالله) دپاره د يقين لرونکو لره

وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٢١﴾ وَفِي السَّمَآءِ

وَفِيْٓ	اَنْفُسِكُمْ	اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ	وَفِي السَّمَآءِ
او په	نفسونو ستاسو کښی	آيا پس تاسی يئ نه وينی	او په آسمان کښی دی

په نفسونو ستاسی کښی (هم علامی د عبرت دی) آيا پس تاسی يئ نه وينی (چی تری پند واخلی). او په آسمان کښی دی

رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿٢٢﴾ فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

رِزْقُكُمْ	وَمَا	تُوْعَدُوْنَ	فَوَرَبِّ	السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ
رزق ستاسی	او هغه چی	ستاسی سره يئ وعده کړی سوی ده	نو قسم دی وی په رب	دآسمانونو	او دمځکی

رزق ستاسی چی (باران او) هغه چی ستاسی سره يئ وعده کړی سوی ده. نو قسم دی وی په رب دآسمانونو او د مځکی

اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿٢٣﴾ ع هَلْ اَتٰىكَ

اِنَّهٗ	لَحَقٌّ	مِّثْلَ	مَآ اَنَّكُمْ	تَنْطِقُوْنَ	هَلْ اَتٰىكَ
بيشکه! داخبره	خامخا رښتيا ده	په مثل	دهغی چی تاسو	پری خبری کوی	آيا راغلی دی تاته

بيشکه! دا خبره (چی وعده يئ کړی سوی ده) خامخا رښتيا ده په مثل دهغی چی تاسو پری خبری کوی. آيا راغلی دی تاته

ع٣ ١٨

حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿٢٤﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ

حَدِيْثُ	ضَيْفِ	اِبْرٰهِيْمَ	الْمُكْرَمِيْنَ	اِذْ دَخَلُوْا	عَلَيْهِ
خبر	دميلمنو	دابراهيم	چی عزتمندان وو	کله چی ننوتلی دوی	پر دغه (ابراهيم)

خبر (ای محمده!) دميلمنو د ابراهيم چی عزتمندان وو (په نزد دالله). کله چی ننوتلی دغه (ملائيکی) پر دغه (ابراهيم)

وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ
دپیشلمي داستغفار برکتونه او فضيلتونه:
يعني مومنان متقيان دسهار په وخت کي دخپلو گناهونو ښخه استغفار کوي: اسحار جمع دسحر ده دشپي آخري شپږمي حصي ته سحر وايي. دشپي په دغه آخره حصه کي داستغفار کولو فضيلت په دي آيت کي هم دی او په نورو ايآتونو کي هم دی لکه: والمستغفرين بالاسحار. داحاديثو په ټولو کتابونوکي داحديث مذکور دی چي الله ﷻ دهري شپي په آخري دريمه حصه کي ددنيا اسمان ته نزول اجلالي فرمايي کم چي دده دشان سره مناسب وي ددي حقيقت چاته معلوم نه دی او اعلان فرمايي چي سته څوک توبه کوونکي چي زه يي توبه قبوله کړم سته څوک استغفار کوونکي چي زه ورته مغفرت وکړم: ابن کثير: په يو بل حديث شريف کي دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي ای خلگو تاسي خلگوته دوډی ورکوی او صله رحمي ساتی او سلام کوی نوروته ، اودشپي په وخت کي لمونځ کوی چي خلگ بيده وي نو په سلامتی سره به جنت ته داخل سی.
معارف القرآن ج٩پ٢٦ص١٨٨

فَقَالُوۡا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوۡمٌ مُّنۡكَرُوۡنَ ﴿۲۵﴾ فَرَاغَ

فَقَالُوۡا	سَلٰمًا	قَالَ	سَلٰمٌ	قَوۡمٌ	مُّنۡكَرُوۡنَ	فَرَاغَ
نو وویل	په سلام کولو سره	وویل	سلام دی وی پر تاسو	قوم دی	نا آشنا دی	پس ورغلی ابراهیم

نو وویل په سلام کولو سره، وویل (ابراهیم) سلام دی وی پر تاسو (چی دا یو) قوم دی نا آشنا دی. پس ورغلی ابراهیم

اِلٰٓى اَهۡلِهٖ فَجَآءَ بِعِجۡلٍ سَمِيۡنٍ ﴿۲٦﴾ فَقَرَّبَهٗۤ اِلَيۡهِمۡ قَالَ اَلَا تَاۡكُلُوۡنَ ﴿۲۷﴾

اِلٰٓى اَهۡلِهٖ	فَجَآءَ	بِعِجۡلٍ	سَمِيۡنٍ	فَقَرَّبَهٗۤ	اِلَيۡهِمۡ	قَالَ	اَلَا تَاۡكُلُوۡنَ
کورخپل ته	نو راییٔ وړ	یو کلکی	چاغ، تیار	نو ورنژدی یئ کړی هغه	هغوی ته	وی ویل	ولی نه خورئ

کورخپل ته نو راییٔ وړ یو خوسی تیار، وریت کړی. نو ورنژدی یئ کړ هغوی ته وی ویل ولی نه خورئ (یعنی وخورئ)

فَاَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيۡفَةً ؕ قَالُوۡا لَا تَخَفۡ ؕ

فَاَوۡجَسَ	مِنۡهُمۡ	خِيۡفَةً	قَالُوۡا	لَا تَخَفۡ
پس پټه کړه (ابراهیم)	له دوی څخه	بیره	ورته وی ویل دوی (ملائیکو)	مه بیریږه

پس پټه کړه (ابراهیم) (په زړه کښی) له دوی څخه بیره، ورته وی ویل دوی (ملائیکو) مه بیریږه (موږ لیږلی یو رب ستا)

وَبَشَّرُوۡهُ بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ ﴿۲۸﴾ فَاَقۡبَلَتِ امۡرَاَتُهٗ فِىۡ صَرَّةٍ

وَبَشَّرُوۡهُ	بِغُلٰمٍ	عَلِيۡمٍ	فَاَقۡبَلَتِ	امۡرَاَتُهٗ	فِىۡ صَرَّةٍ
او زیری یئ ورکړ ده ته	په یو هلک	پوهه سره	پس مخ یئ ورواړاوه	ښځی د ده	په ږغ د حیرانتیا سره

او زیری یئ ورکړ ده ته په یوه هلک ښه عالم هوښیار سره. پس مخ یئ ورواړاوه ښځی د ده په ږغ د حیرانتیا سره

فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوۡزٌ عَقِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوۡا

فَصَكَّتۡ	وَجۡهَهَا	وَقَالَتۡ	عَجُوۡزٌ	عَقِيۡمٌ	قَالُوۡا
نو وئی واهه	مخ خپل	وویل دی چی	زړه بوډی یمه	وچه	وویل دوی

وئی واهه مخ خپل (په څپیړو) وویل دی چی زړه بوډی یمه شنډه (څرنګه به وزیږوم زوی؟) وویل دوی (ملائیکو)

كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡحَكِيۡمُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۰﴾

كَذٰلِكِ	قَالَ	رَبُّكِ	اِنَّهٗ	هُوَ	الۡحَكِيۡمُ	الۡعَلِيۡمُ
هم داسی	ویلی دی	رب ستا	بیشکه!	هغه (الله)	ښه حکمت والا	ښه خبردار دی

هم داسی (لکه چی بشارت مو درکړی) ویلی دی رب ستا بیشکه! هغه (الله) ښه حکمت والا ښه خبردار دی.

فَرَاغَ اِلٰٓى اَهۡلِهٖ فَجَآءَ بِعِجۡلٍ سَمِيۡنٍ. حضرت ابراهیم علیه السلام مهمان نوازه شخصیت وو: لفظ دراغ دروغ څخه مشتق دی چي معنی یي دیو ځای څخه کرار کرار وتل او په پټه باندي تلل دي: مطلب دادی چي حضرت ابراهیم علیه السلام دمیلمنو دپاره دخوراک انتظام کولو دپاره کورته داسي ولاړی چي میلمانه په پوه هم نه سول کنه نو هغوی به دخوراک او دمیلمیستیا څخه انکار کړی وای:

دمیلمیستیا اداب: ابن کثیر رحمة الله علیه فرمایي چي په دې آیت کي دمیلمه دپاره ښوآداب دمیلمیستیا ښوول سوي دي: **اوله خبره** خوداده چي دمخکي څخه یي دمیلمنو څخه پوښتنه ونه کړه چي زه ستاسي دپاره خوراک راوړم بلکي په پټه سره ولاړی او ددوی دمیلمستیا دپاره چي ورسره دخوراک دپاره دټولو څخه ښه شی وو یعني ګیلګی ذبح سوی هغه یي کباب کړی او رایي وړی. او **دوهمه** داچي دراوړلو څخه وروسته یي میلمنو ته ددې تکلیف ورنه کړی چي دوی خوراک ته راوبلي بلکي هلته یي وروړه چي دوی ناست وه الخ.

معارف القرآن ج ۹ پ ۲٦ ص ۱۹۳

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ

قَالَ	فَمَا خَطْبُكُمْ	اَيُّهَا	الْمُرْسَلُوْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّآ	اُرْسِلْنَآ
وويل	نو څه کار دی ستاسو	ای	رالیږل سوو	وويل دوی	بیشکه! موږ	رالیږلی سوی یو

وويل (ابراهيم) نو څه کار (شان) دی ستاسو ای مرسلانو (رالیږلیو سویو). وويل دوی بیشکه! موږ رالیږلی سوی یو

اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ ﴿۳۳﴾

اِلٰى	قَوْمٍ	مُّجْرِمِيْنَ	لِنُرْسِلَ	عَلَيْهِمْ	حِجَارَةً	مِّنْ طِيْنٍ
طرف	دیوه قوم	ګنهګارانو ته	دپاره ددې چې ولیږو	پر هغوی باندې	کاڼي	له ختو

طرف دیوه قوم ګنهګار (کافر، مجرمانو) ته. دپاره ددې چې ولیږو پر هغوی باندې تیږې له ختو (پخو سوو په اور).

مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۴﴾ فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ

مُّسَوَّمَةً	عِنْدَ	رَبِّكَ	لِلْمُسْرِفِيْنَ	فَاَخْرَجْنَا	مَنْ كَانَ
نشان داره کړی سوی	په نزد	درب ستا	دپاره د حده تیریدونکو	بیا راو ویستلی موږ	هغه څوک چې ؤ

نشان داره کړی سوی په نزد درب ستا دپاره د حده تیریدونکو. بیا را وویستل موږ هغه څوک چې ؤ

فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا غَيْرَ بَيْتٍ

فِيْهَا	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ	فَمَا وَجَدْنَا	فِيْهَا	غَيْرَ	بَيْتٍ
په دی کلیو کښې	له ایمان لرونکو څخه	پس بیا پیدا نه کړی موږ	په دغو کلو کښې	پرته	له یوه کوره

په دی کلیو کښې له ایمان لرونکو څخه. پس بیا پیدا نه کړی موږ په دغو کلو کښې پرته (علاوه) له یوه کوره

مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۶﴾ وَتَرَكْنَا فِيْهَآ اٰيَةً لِّلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ

مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ	وَتَرَكْنَا	فِيْهَآ	اٰيَةً	لِّلَّذِيْنَ	يَخَافُوْنَ
دمسلمانانو	او پریښوده موږ	په (هلاکت) ددغو کښې	یوه نښه	دپاره دهغو کسانو	چې بیریږي

د مسلمانانو (دلوط او کورنی د ده). او پریښوده موږ په (هلاکت) د دغو کښې یوه نښه دپاره د هغو کسانو چې بیریږي

الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۳۷﴾ وَفِيْ مُوْسٰٓى اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ

الْعَذَابَ	الْاَلِيْمَ	وَفِيْ	مُوْسٰٓى	اِذْ اَرْسَلْنٰهُ	اِلٰى	فِرْعَوْنَ
له عذاب	دردناک	او په	موسیٰ کښې	کله چې ورومولیږه دی	طرف	دفرعون ته

له عذاب دردناک څخه. او په (قصې د) موسیٰ کښې کله چې ورومولیږه دغه (موسیٰ) طرف د فرعون ته

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ..حضرت ابراهيم عليه السلام دفرشتو دراتلو دمقصد پوښتنه وکړه: حضرت ابراهيم عليه السلام ته دنبوت په فراست سره دا معلومه سوه چې علاوه د زوی دخوشخبری او زیري څخه ددوی هم بل څه مقصد سته نو دوی ته یي وویل چې ښه ای ملایکو نو دا ووایاست چې ستاسي لوی کار څه په مخ کي دی؟ ملایکو وویل چې موږ دیو مجرم قوم یعني قوم دلوط عليه السلام طرف ته رالیږل سوي یوی چې موږ پر هغوی کلک سوي کاڼي واوروو پر کمو چې دستا درب دطرف څخه یعني په عالم غیب کي خاص نښاني هم دي او هغه دهغه کسانو دپاره دي چي تر حد تیر سوي وي: ځیني مفسرینو لیکلي دي چي پر هر ډبره دهغه سړي نوم لیکلی وو دکم دهلاکولو دپاره چي هغه رالیږل سوي وه او هغه کس چي به کم طرف ته وتښتیدی هغه ډبره به ورپسې وه او په نورو ایاتونو کي بیا دا رغلي دي چي جبرآئیل عليه السلام ددوی ښارونه پورته کړل او نسکوریي کړل نو اول وار دډبرو عذاب ورکړه سو بیا دنسکوریدو عذاب الخ.
(معرف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۲)

بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾

بِسُلْطٰنٍ	مُّبِيْنٍ	فَتَوَلّٰى	بِرُكْنِهٖ	وَقَالَ	سٰحِرٌ	اَوْ مَجْنُوْنٌ
په علمي دليل	ښکاره سره	بيا مخ واړاوه (فرعون)	سره له لښکر خپل	او وويل	چي دا کوډګر دی	يا ليونی دی

په برهان، علمي دليل ښکاره سره. بيا مخ واړاوه (فرعون) سره له لښکر خپل او وی ويل چي دا کوډګر دی يا ليونی دی،

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِى الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿٤٠﴾

فَاَخَذْنٰهُ	وَجُنُوْدَهٗ	فَنَبَذْنٰهُمْ	فِى الْيَمِّ	وَهُوَ	مُلِيْمٌ
نو ونيوه موږ دغه (فرعون)	او لښکر دده	نو وغورځول موږ دوی	په سيند کښی	او دوی	ملامته کړی سوی ؤ

نو ونيوه موږ دغه (فرعون) او لښکر دده نو وغورځول موږ دوی په سيند کښی او (نوغرق سول) او دوی ملامته کړی سوی ؤ

وَفِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ

وَفِيْ	عَادٍ	اِذْ اَرْسَلْنَا	عَلَيْهِمُ	الرِّيْحَ	الْعَقِيْمَ	مَا تَذَرُ
او په (قصی د)	عاد کښی	کله چي وموليږه	پر دوی باندی	باد	وچ بی برکته	نه به پرينښوده

او په (قصی د) عاد کښی کله چي وموليږه پر دوی باندی باد شنډ، بی خيره. نه به پرينښوده (دغه باد)

مِنْ شَىْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ اِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ﴿٤٢﴾ وَفِيْ ثَمُوْدَ

مِنْ شَىْءٍ	اَتَتْ	عَلَيْهِ	اِلَّا	جَعَلَتْهُ	كَالرَّمِيْمِ	وَفِيْ ثَمُوْدَ
هيڅ شی	چي را به غلی	په هغه باندی	مګر خو	وبه يئ ګرځاوه هغه	لکه وچ زوړ رژيدلی وابنه	او په (قصی د) ثمود کی

هيڅ شی (له نفس او مال) چي وا به لوت په هغه باندی مګر خو وبه يئ ګرځاوه لکه وچ زوړ رژيدلی . او په (قصی د) ثمود کی

اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ

اِذْ قِيْلَ	لَهُمْ	تَمَتَّعُوْا	حَتّٰى	حِيْنٍ	فَعَتَوْا	عَنْ اَمْرِ
کله چي وويل	دوی ته	نفع واخلئ تاسي	تر يوه	وخته پوری	نو سر ييځ وغړاوه	له امره، حکمه

کله چي وويل سو دوی ته نفع واخلئ تاسي تر يوه وخته پوری. نو سر ييځ وغړاوه له امره ، حکمه

رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿٤٤﴾

رَبِّهِمْ	فَاَخَذَتْهُمُ	الصّٰعِقَةُ	وَهُمْ	يَنْظُرُوْنَ
درب خپل	نو ونيول دوی	تکی	او دوی به	کتل

درب خپل نو ونيول دوی تکی (دتالندی عذاب هلاک کوونکی) او دوی به (ورته) کتل

فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ. فرعون هم سره دخپلو ارکانو مخ واړاوی: په دغه اياتو نو کي الله ﷻ دحضرت موسى ﵇ او دفرعون قصه بيان کريده چي په دي کي هم عبرت دی هغه داسي چي حضرت موسى ﵇ الله پاک ﷻ وفرعون او دده قوم ته ورولیږی سره دمعجزو نو هغه وو چي فرعون سره دخپلو ارکانو دسلطنت مخ واړوی او ويي ويل چي دغه موسى ﵇ ساحر يا مجنون دی نو الله ﷻ فرمايي چي موږ دی او دده لښکر ونيول او درياب ته مو واچول يعني غرق مو کړل او دا ځکه چي دده دملامتيا کار کړی وو. مخ ته بيا الله ﷻ دعاديانو قصه بيان کريده يعني دحضرت هود ﵇ قوم چي دهغوی په قصه کي هم عبرت سته هغه داسي چي کله الله ﷻ پر دوی باندي يوه نامبارکه هوا راوليږله پر کم شي چي به تيريدله هغه به يي داسي کوی لکه يو شی چي ذره ذره سي: تر دي وروسته بيا الله ﷻ دثموديانو قصه بيانوي يعني دحضرت صالح ﵇ قوم ځکه چي دهغوی په قصه کي هم عبرت دی الخ (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۲)

ع٢ ٢٣ ١

فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿٤٥﴾

فَمَا اسْتَطَاعُوْا	مِنْ قِيَامٍ	وَّمَا كَانُوْا	مُنْتَصِرِيْنَ
بیا نه توانیدل دوی	چي پورته سی	او نهٔ دوی	بدل اخیستونکی

بیا نه توانیدل دوی چي پورته سی او نهٔ دوی بدل اخیستونکی (له موږ مقابله کوونکی له عذاب الله سره)

وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٤٦﴾

وَقَوْمَ	نُوْحٍ	مِّنْ قَبْلُ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا	قَوْمًا	فٰسِقِيْنَ
او قوم	دنوح	پخوا له دی (هلاکت شخه)	بیشکه! دوی	ؤ	قوم	فاسقان

او (هلاک کړی ؤ موږ) قوم د نوح پخوا له دی (هلاکت شخه) بیشکه! دوی ؤ قوم فاسقان، وتونکی له فرمان شخه .

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْىدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَالْاَرْضَ

وَالسَّمَآءَ	بَنَيْنٰهَا	بِاَيْىدٍ	وَّاِنَّا	لَمُوْسِعُوْنَ	وَالْاَرْضَ
او آسمان	جوړ کړی دی موږ هغه	په قوت سره	او بیشکه! موږ	خامخا پراخوونکی یو	او مځکه

او آسمان موجود کړی دی موږ په اید (دقدرت خپل) او بیشکه! موږ خامخا پراخوونکی یو . او مځکه

فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا

فَرَشْنٰهَا	فَنِعْمَ	الْمٰهِدُوْنَ	وَمِنْ	كُلِّ شَيْءٍ	خَلَقْنَا
غوړولی ده موږ	نو ښه	غوړوونکی یو موږ	او له	هر شی شخه	پیدا کړی دی موږ

غوړولی ده موږ نو ښه غوړوونکی یو موږ . او له هر شی شخه پیدا کړی دی موږ

زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٩﴾ فَفِرُّوْا اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ

زَوْجَيْنِ	لَعَلَّكُمْ	تَذَكَّرُوْنَ	فَفِرُّوْا	اِلَى اللّٰهِ	اِنِّيْ	لَكُمْ
جوړی دوه قسمه	دپاره ددی چي	پند واخلئ	پس رجوع وکړئ	په طرف دالله	بیشکه! زه	تاسی ته

جوړی دوه قسمه (نر- ښځه) دپاره د دی چي پند واخلئ (پوه سئ). پس رجوع وکړئ په طرف دالله ، بیشکه! زه تاسی ته

مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّيْ

مِّنْهُ	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ	وَلَا تَجْعَلُوْا	مَعَ اللّٰهِ	اِلٰهًا	اٰخَرَ	اِنِّيْ
له طرف دهغه (الله)	ییروونکی	ښکاره یم	او مه ګرځوئ تاسی	سره له الله	معبود	بل	بیشکه! زه

له طرف دهغه (الله) ییروونکی ښکاره یم . او مه ګرځوئ (مه شریکوئ) تاسی سره له الله معبود بل بیشکه زه

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْىدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ. اسمان هم الله ﷻ په خپل قدرت سره جوړ کړی دی: په تیرو ایاتونو کي دقیامت او آخرت بیان او ددې پر منکرینو باندې دعذاب ذکر وو په دې ایاتونو کي هم دحق تعالی ﷻ دکامل قدرت بیان دی چي په دې سره دقیامت او په دې کي دمړو پر دوباره ژوندي کولو چي کم تعجب دمنکرینو دطرف شخه کیدی دهغه ازاله ده: دارنګه دتوحید داثبات او پر رسالت دایمان تاکید دی: بنیناها باید وانّا لموسعون. لفظ اید دقوت او قدرت په معني کي راځي یعني موږ اسمان په خپل قوت او قدرت سره جوړ کړی دی حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه داید دغه شان تفسیر کړی دی: ففرّوا الی الله یعني منډي وهی دالله ﷻ طرف ته حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي مراد دادی چي دخپلو ګناهونو شخه تښتی دتوبې په ذریعه دالله ﷻ طرف ته ، ابوبکر وراق رحمة الله علیه فرمایي چي نفس او شیطان دګناهونو طرف ته دعوت ورکوونکی دی تاسی ددوی شخه وتښتی د الله ﷻ شخه پناه واخلی. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٧ ص ٥)

لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٥١ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ

لَكُمْ	مِّنْهُ	نَذِيْرٌ	مُّبِيْنٌ	كَذٰلِكَ	مَآ اَتَى	الَّذِيْنَ
تاسی ته	له طرفه دهغه (الله)	بیروونکی	ښکاره یم	هم داسی	نه دی راغلی	هغو کسانو ته

تاسی ته له طرفه دهغه (الله) بیروونکی ښکاره یم. هم داسی (چې وایئ تاته) نه دی راغلی هغو کسانو ته

مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ۝٥٢

مِنْ قَبْلِهِمْ	مِّنْ رَّسُوْلٍ	اِلَّا	قَالُوْا	سَاحِرٌ	اَوْ مَجْنُوْنٌ
چې پخواله دوی څخه وه	هیڅ رسول	مګر	خو ویل هغوی	چې (دی) ساحر دی	یا مجنون دی

پخواله دوی څخه هیڅ رسول مګر خو ویل هغوی چې (دی) ساحر ، کوډ کر دی یا مجنون (لیونی) دی.

اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ۝٥٣ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ

اَتَوَاصَوْا	بِهٖ	بَلْ هُمْ	قَوْمٌ	طَاغُوْنَ	فَتَوَلَّ	عَنْهُمْ
آیا وصیت کړی دی دوی	په دی خبری سره	بلکه هم دوی دی	قوم	سرکشان	پس مخ وګرځوه ته	له دوی څخه

آیا وصیت کړی دی دوی یو بل ته په دی خبری سره (نه) بلکه هم دوی دی قوم سرکشان.پس مخ وګرځوه ته له دوی څخه

فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ۝٥٤ وَّذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝٥٥

فَمَآ اَنْتَ	بِمَلُوْمٍ	وَّذَكِّرْ	فَاِنَّ	الذِّكْرٰى	تَنْفَعُ	الْمُؤْمِنِيْنَ
پس نه یئ ته	هیڅ ملامت کړی سوی	او تل نصیحت کوه	پس بیشکه! چې	پند	نفع رسوی	مؤمنانو ته

پس نه یئ ته هیڅ ملامت کړی سوی او تل نصیحت کوه پس بیشکه! چې پند (ګټه) نفع رسوی مؤمنانو ته.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ۝٥٦ مَآ اُرِيْدُ

وَمَا خَلَقْتُ	الْجِنَّ	وَالْاِنْسَ	اِلَّا	لِيَعْبُدُوْنِ	مَآ اُرِيْدُ
او نه دی پیدا کړی ما	پیریان	او انسانان	مګر	لپاره د دی چې عبادت وکړی دوی زما	او اراده نه لرم زه

او نه دی پیدا کړی ما پیریان او انسانان مګر لپاره د دی چې عبادت وکړی دوی زما. او اراده نه لرم زه

مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ۝٥٧ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

مِنْهُمْ	مِّنْ رِّزْقٍ	وَّمَآ اُرِيْدُ	اَنْ يُّطْعِمُوْنِ	اِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ
له دوی څخه	دهیڅ روزی	او اراده نه لرم زه	چې طعام راکړی ما له دوی	بیشکه!	الله	هم دی دی

له دوی څخه دهیڅ رزق، روزی او اراده نه لرم زه د دی چې طعام راکړی ماله دوی. بیشکه! الله هم دی دی

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ

دپیریانو او انسانانو دپیدا کولو مقصد: یعني موږ پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي ماسوا دعبادت څخه دبل شي دپاره: په دې کې دوه اشکاله په ظاهري نظر پیدا کیږي. **اول اشکال:** دا کم مخلوق چې الله ﷻ دڅه کار دپاره پیدا کړی دی او داارادہ یې هم ده چې دغه مخلوق دغه کار کوي نو بیا په عقلي طوربه دا ناممکنه او محاله وي چې بیا دغه مخلوق ددغه کار څخه انحراف وکړي ځکه چې دالله ﷻ دمشیت اواراده څخه خلاف هر یو کار محال دی. **دوهم اشکال:** دادی چې په دې آیت کې دانسان او پیري پیدایش صرف په عبادت کې منحصر سوی دی حال دادی چې ددوی په پیدایش کې علاوه دعبادت څخه نوري فائدې او حکمتونه هم موجود دي. **داول سوال جواب** دادی چې دامضمون صرف په مومنانو پوري مخصوص دی یعني موږ مومنان انسانان او پیریان بغیر دعبادت څخه دبل کار دپاره نه دي پیدا کړي او مومنان خو ظاهره ده چې کم اوبیش دعبادت پابینده وي. پاتـه بیان پر راروان مـخ وګوري:

الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ۝۵۸ فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا

الرَّزَّاقُ	ذُو الْقُوَّةِ	الْمَتِيْنُ	فَاِنَّ	لِلَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا	ذَنُوْبًا
ښه رزق ورکوونکی	خاوند د قوت	محکم دی	پس بیشکه!	هغو کسانو ته چې	ظلم یې کړی دی	حصه د عذاب ده

ښه رزق، روزي ورکوونکی څښتن د قوت محکم دی. پس بیشکه! هغو کسانو ته چې ظلم یې کړی دی حصه د عذاب ده

مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ۝۵۹ فَوَيْلٌ


مِّثْلَ	ذَنُوْبِ	اَصْحٰبِهِمْ	فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ	فَوَيْلٌ
په شان	د حصې د عذاب	د یارانو د دوی	پس تلوار دې نه کوي دوی	پس افسوس، عذاب دی

په شان د حصې د عذاب د یارانو هلاک کړل سوي د دوی پس تلوار دې نه کوي دوی (پرما). پس افسوس، هلاکت، عذاب دی

لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ۝۶۰

لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ يَّوْمِهِمُ	الَّذِيْ	يُوْعَدُوْنَ
هغو کسانو ته	چې کافران سوي دي	له ورځې د عذاب د دوی څخه	هغه ورځ	چې وعده یې ورسره کړی سوې ده

هغو کسانو ته چې کافران سوي دي له ورځې د عذاب د دوی څخه هغه ورځ چې وعده یې ورسره کړی سوې ده.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالطُّوْرِ ۝۱ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۝۲ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ۝۳

وَالطُّوْرِ	وَكِتٰبٍ	مَّسْطُوْرٍ	فِيْ رَقٍّ	مَّنْشُوْرٍ
قسم دی په طور باندی	او په کتاب	لیکلی سوی باندی	په کاغذ	خلاص کړل سوی کښې

قسم دی په (غره) طور باندی. او په کتاب لیکلی سوی باندی، په کاغذ خور کړی سوی (پرانستلی سوی) کښې

وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ۝۴ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ۝۵ وَالْبَحْرِ

وَّالْبَيْتِ	الْمَعْمُوْرِ	وَالسَّقْفِ	الْمَرْفُوْعِ	وَالْبَحْرِ
او په کور	ودان کړی سوی باندی	او په چت	پورته کړی سوی باندی	او په دریاب

او (قسم دی) په کور ودان کړی سوی باندی. او (قسم دی) په چت پورته کړی سوی باندی (آسمان). او (قسم دی) په بحر

الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ۝۵۸
فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ... د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: او ددوهم سوال جواب دادی چې دیو مخلوق دعبادت دپاره پیدا کول دده څخه دنورو فائدواو نفعو نفي نه ورکوي: یعني ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي چې ګواکي دعامو انسانانو دعادت مطابق ورځخه زه څه خپله فائده واخلم چې دوی زما دپاره رزق پیدا کړي یا زما دنور مخلوق دپاره یاداچې دوی یې وګټي او په ما یې وخوري: داټول کلام دانسان دعام عادت مطابق وسو ځکه چې دلوی څخه لوی انسان چې کم غلام اخلي او خرڅ په کوي نو مقصد یې ددغو غلامانو څخه خپل کار اخیستل په خپلو ضرورتونو او کارونو کي ورڅخه مدد اخیستل او څه ګټل او مالک ته ورکول وي حق تعالی ﷻ ددې ټولو شیانو څخه پاک او بالا اوبرتر دی په دې وجه فرمایي چې ددوی دپیدا کولو څخه زما خپله څه نفع نه ده مقصود بلکې دوی دي هغه څه کوي چې دوی ته یې فائده ورسیږي یعني عبادت چې مقصد یې د الله ﷻ رضا او جنت دی الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۷)

ع ۳/۲

الْمَسْجُوْرِ ⑥ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ⑦ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ⑧

الْمَسْجُوْرِ	اِنَّ	عَذَابَ	رَبِّكَ	لَوَاقِعٌ	مَّا لَهٗ	مِنْ دَافِعٍ
تود کړی سوی باندی	بیشکه!	عذاب	درب ستا	خامخا واقع کیدونکی دی	نسته هغه لره	هیڅوک لیری کوونکی

تود یا ډک کړی سوی باندی. بیشکه! عذاب د رب ستا خامخا واقع کیدونکی دی نسته هغه لره هیڅوک لیری کوونکی.

يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ⑨ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ⑩

يَّوْمَ	تَمُوْرُ	السَّمَآءُ	مَوْرًا	وَّتَسِيْرُ	الْجِبَالُ	سَيْرًا
هغه ورځ	چی حرکت وکړی	آسمان	په حرکت کولو سره	او روان به سی	غرونه	په روانیدلو سره

هغه ورځ چی حرکت وکړی آسمان په حرکت کولو سره. او روان به سی غرونه په روانیدلو سره

فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ⑪ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ

فَوَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	الَّذِيْنَ	هُمْ	فِيْ خَوْضٍ
نو افسوس دی	په دغه ورځ کښی	دروغجن کوونکو ته	هغو لره	چی دوی	په بیکاره خبرو جوړولو کښی

نو خرابی، افسوس، هلاکت دی په دغه ورځ کښی دروغجن کوونکو ته هغو لره چی دوی په بیکاره خبرو جوړولو کښی

يَّلْعَبُوْنَ ⑫ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ⑬ هٰذِهِ

يَّلْعَبُوْنَ	يَوْمَ	يُدَعُّوْنَ	اِلٰى نَارِ	جَهَنَّمَ	دَعًّا	هٰذِهِ
لوبی کوی	هغه ورځ	چی پوری وهلی سی دوی	اور د	دوزخ ته	په پوری وهلو سره	دا دی هغه

لوبی مشغولتیا کوی. هغه ورځ چی پوری وهلی سی دوی اور د دوزخ ته په پوری وهلو سره. دا دی هغه

النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ⑭ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ

النَّارُ	الَّتِيْ	كُنْتُمْ	بِهَا	تُكَذِّبُوْنَ	اَفَسِحْرٌ	هٰذَآ	اَمْ اَنْتُمْ
اور	هغه چی	وئ تاسی	چی په دی به مو	دروغ ویل	آیا پس جادو دی	دا (عذاب)	که یئ تاسی

اور چی وئ تاسی چی په دی به مو دروغ ویل. آیا پس سحر، کوډی دی دا (عذاب چی وینئ یئ تاسی) که یئ تاسی

لَا تُبْصِرُوْنَ ⑮ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا ۚ سَوَآءٌ

لَا تُبْصِرُوْنَ	اِصْلَوْهَا	فَاصْبِرُوْٓا	اَوْ	لَا تَصْبِرُوْا	سَوَآءٌ
چی نه یئ وینئ	ننوزئ په دغه دوزخ کښی	پس صبر وکړئ تاسی	یا	مه کوئ صبر	برابر دی

چی نه یئ وینئ. ځئ ننوزئ په دغه دوزخ کښی پس صبر وکړئ تاسی یا مه کوئ صبر برابر دی (دغه دواړه کارونه)

اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ⑦ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ. بیشکه ستا درب عذاب به واقع کیږي هغه لره څوک دفع کوونکی نسته: داجواب دقسم دی لوړ چي په طور، دصحیفو دعملونو، بیت المعمور، آسمان، سمندر چي دکم مضمون دپاره قسمونه اخیستل سوي دي دهغه دابیان دی چي پر کفارو باندي به دالله جل جلاله عذاب ضرور واقع کیږي.

دفاروق اعظم رضی الله عنه واقعه: حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه یوه ورځ سورت طور ووایه چي دې آیت ته راورسیدی نو یو سوړ اسویلی یي وکښی چي بیا ددې څخه وروسته شل ورځي دی ناجوړی سو خلک به یي پوښتني ته راتلل مگر چاته دا معلومه نه سوه چي دا څه مریضي ده. ابن کثیر حضرت جبیر ابن مطعم رضی الله عنه فرمایي چي زه دمسلمانېدو څخه مخکي یووار مديني منورې ته ددې دپاره راغلم چي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سره دبدر دقیدیانو متعلق خبري وکړم زه چي راورسیدم نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم دمانبام په لمانځه کي سورت طور وایه او آواز چي یي دمسجد څخه دباندي راووتی نوزما حالت بدل سو دبیري څخه الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۱۵)

عَلَيۡكُمۡ ۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٦ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ

عَلَيۡكُمۡ	إِنَّمَا	تُجۡزَوۡنَ	مَا كُنتُمۡ	تَعۡمَلُونَ	إِنَّ	ٱلۡمُتَّقِينَ
په تاسي باندې	بیشکه! هم داخبره ده	چې جزا درکوله سي تاسي ته	دهغو چې وئ تاسي	چې کول به مو	بیشکه!	پرهیزګاران

په تاسي باندې بیشکه! دا چې جزا درکوله سي تاسي ته دهغو (کارونو) چې وئ تاسي چې کول به مو. بیشکه! پیریدونکی

فِي جَنَّٰتٖ وَنَعِيمٖ ١٧ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ وَوَقَىٰهُمۡ

فِي جَنَّٰتٖ	وَنَعِيمٖ	فَٰكِهِينَ	بِمَآ	ءَاتَىٰهُمۡ	رَبُّهُمۡ	وَوَقَىٰهُمۡ
په جنتونو کښې به وي	او په نعمتونوکې	خوشحالیدونکي به وي	په هغو چې	ورکړي دي دوی ته	رب د دوی	او ساتلي دي دوی

په جنتونو کښې او په نعمتونو کښې به خوشحالیدونکي وي په هغو چې ورکړي دي دوی ته رب د دوی او ساتلي دي دوی

رَبُّهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ١٨ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمۡ

رَبُّهُمۡ	عَذَابَ	ٱلۡجَحِيمِ	كُلُواْ	وَٱشۡرَبُواْ	هَنِيٓـَٔۢا	بِمَا كُنتُمۡ
رب د دوی	له عذابه	د دوزخ څخه	خورئ	او څښئ	ښه په خوند	په بدل د هغو چې وئ تاسي

رب د دوی له عذاب د دوزخ څخه. خورئ او څښئ ښه هضمیدونکي په بدل د هغو چې وئ تاسي

تَعۡمَلُونَ ١٩ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٖ مَّصۡفُوفَةٖۖ وَزَوَّجۡنَٰهُم

تَعۡمَلُونَ	مُتَّكِـِٔينَ	عَلَىٰ	سُرُرٖ	مَّصۡفُوفَةٖ	وَزَوَّجۡنَٰهُم
چې کول به مو	داچې تکیه کوونکي به وي دوی	پر	تختونو باندې	چې برابر غوړیدلي به وي	او په نکاح به ورکړو دوی ته

چې کول به مو. دا چې تکیه کوونکي به وي دوی پر تختونو باندې چې برابر غوړیدلي به وي، او په نکاح به ورکړو دوی ته

بِحُورٍ عِينٖ ٢٠ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُم

بِحُورٍ	عِينٖ	وَٱلَّذِينَ	ءَامَنُواْ	وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ	ذُرِّيَّتُهُم
حورې	دغټو سترګو	او هغه کسان	چې ایمان یې راوړی دی	او متابعت کړې وي د دوی	اولادونو د دوی

حورې ښې ښائسته د غټو سترګو. او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او متابعت کړې وي د دوی اولادونو د دوی

بِإِيمَٰنٍ أَلۡحَقۡنَا بِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَمَآ أَلَتۡنَٰهُم مِّنۡ عَمَلِهِم

بِإِيمَٰنٍ	أَلۡحَقۡنَا	بِهِمۡ	ذُرِّيَّتَهُمۡ	وَمَآ أَلَتۡنَٰهُم	مِّنۡ عَمَلِهِم
په ایمان سره	نو پیوست به کړو موږ	په دوی پورې	اولاد د دوی	او کم به نه کړو موږ دوی	له (جزاء د) عملونو د دوی

په ایمان سره نو پیوست به کړو موږ په دوی پورې اولاد د دوی او کم به نه کړو موږ دغو (پلرونو له) له (جزاء د) عملونو د دوی

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ.. په شرط دایمان سره دبزرګانو سره نسبي تعلق هم په اخرت کي فائده ورکوي: یعني هغه خلګ کم چي ایمان راوړي او دهغوی اولاد هم په ایمان کي ددوی تابع سي یعني ایمان راوړي نو موږ به ددوی اولاد هم په جنت کي ددوی سره یوځای کړو. دحضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي الله ﷻ به د مومنانو صالحانو اولاد هم ددوی بزرګانو پلارانو درجې ته ورسوي که څه هم هغوی دعمل په اعتبار سره ددغه درجې مستحق نه وي ددې دپاره چي ددغو بزرګانو سترګي یخي سي. اودحضرت سعید ابن جبیر ﷛ څخه روایت دی هغه وایي چي حضرت ابن عباس ﷛ فرمایلي دي اوزما ګمان دادی چي هغوی دادنبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چي کله یو سړی جنت ته داخل سي نو دخپل مور او پلار او ښځي په حقله به پوښتنه وکړي چي هغه چیري دي؟ ده ته به وویل سي چي هغه ستا درجې ته نه دي رارسیدلي په دې وجه دهغوی ځای په جنت کي جلا دی پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

مِّنۡ شَيۡءٍؕ كُلُّ امۡرِیٴٍۭ بِمَا كَسَبَ رَهِيۡنٌ ﴿۲۱﴾ وَاَمۡدَدۡنٰهُمۡ

مِّنۡ شَيۡءٍ	كُلُّ	امۡرِیٴٍ	بِمَا	كَسَبَ	رَهِيۡنٌ	وَاَمۡدَدۡنٰهُمۡ
هیڅ شي	هر	سړی به	په هغه چي	کړي يئ وي	ګرو، اخته وي	او کومک به وکړو موږ له دوی سره

هیڅ شي. هر سړی به په هغه عمل چي کړی یئ وي ګرو اخته وي. او مدد (کومک) به وکړو موږ له دوی سره

بِفَاكِهَةٍ وَّلَحۡمٍ مِّمَّا يَشۡتَهُوۡنَ ﴿۲۲﴾ يَتَنَازَعُوۡنَ فِيۡهَا كَاۡسًا

بِفَاكِهَةٍ	وَّلَحۡمٍ	مِّمَّا	يَشۡتَهُوۡنَ	يَتَنَازَعُوۡنَ	فِيۡهَا	كَاۡسًا
په ورکولو د میوو	او دغوښو	له هغه شي چي	د دوی زړه یئ غواړي	یو له بله به اخلی دوی	په دغه کښي	پیالی د شرابو

په ورکولو د میوو او دغوښو له هغه شي چي د دوی زړه یئ غواړي. یو له بله به اخلی دوی په دغه (جنت) کښي پیالی د شرابو

لَّا لَغۡوٌ فِيۡهَا وَلَا تَاۡثِيۡمٌ ﴿۲۳﴾ وَيَطُوۡفُ عَلَيۡهِمۡ غِلۡمَانٌ لَّهُمۡ

لَّا لَغۡوٌ	فِيۡهَا	وَلَا تَاۡثِيۡمٌ	وَيَطُوۡفُ	عَلَيۡهِمۡ	غِلۡمَانٌ	لَّهُمۡ
چي نه وی بیکاره ویل	په هغی کښي	او نه نسبت د ګناه یو بل ته	او چاپیر به ګرځی	پر دوی باندی	غلمان	د دوی

چي نه وی چتی (بیکاره) ویل په هغی کښي او نه نسبت د ګناه یو بل ته. او چاپیر به ګرځی پر دوی باندی غلمان د دوی

كَاَنَّهُمۡ لُؤۡلُؤٌ مَّكۡنُوۡنٌ ﴿۲۴﴾ وَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ

كَاَنَّهُمۡ	لُؤۡلُؤٌ	مَّكۡنُوۡنٌ	وَاَقۡبَلَ	بَعۡضُهُمۡ	عَلٰى	بَعۡضٍ
ګواکی دوی	ملغلری	پټی په غلاف کښي ساتلی سوی وی	او مخ به کړی	ځیني د دوی	پر	ځینو نورو

ګواکی دغه (خادمان) مرغلری پټی په غلاف کښي ساتلی سوی وی. او مخ به کړی ځیني د دوی پر ځینو نورو

يَّتَسَآءَلُوۡنَ ﴿۲۵﴾ قَالُوۡۤا اِنَّا كُنَّا قَبۡلُ فِىۡۤ اَهۡلِنَا مُشۡفِقِيۡنَ ﴿۲۶﴾

يَّتَسَآءَلُوۡنَ	قَالُوۡۤا	اِنَّا كُنَّا	قَبۡلُ	فِىۡۤ اَهۡلِنَا	مُشۡفِقِيۡنَ
چي پوښتني به سره کوی یو دبله	وبه وایئ دوی	چي بیشکه! موږ وُ	مخکی له دی څخه	په اهل خپل کښي	بیریدونکی (له عذابه)

چي پوښتني به سره کوی. وبه وایئ دوی چي بیشکه! موږ مخکی له دی څخه وُ په اهل خپل کښي بیریدونکی (له عذابه).

فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيۡنَا وَوَقٰٮنَا عَذَابَ السَّمُوۡمِ ﴿۲۷﴾ اِنَّا كُنَّا

فَمَنَّ	اللّٰهُ	عَلَيۡنَا	وَوَقٰٮنَا	عَذَابَ	السَّمُوۡمِ	اِنَّا	كُنَّا
نو احسان وکړ	الله	پر موږ باندی	او وی ساتلو موږ	له عذاب	د ګرمی هوا	بیشکه! موږ	وو موږ

نو احسان وکړ الله پر موږ باندی او وی ساتلو موږ له عذاب د تودوخی ګرمی (د دوزخ) . بیشکه! موږ وو موږ

وَاَمۡدَدۡنٰهُمۡ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحۡمٍ مِّمَّا يَشۡتَهُوۡنَ. دتیر مخ پاته بیان دلته

وګوری: دا سړی به عرض وکړي چي یا الله جل جلاله ای زما پروردګاره ما چي کم عمل کړی وو هغه ما دځان او ددوی ټولو دپاره کړی وو نو دالله جل جلاله له طرفه څخه به حکم وسي چي هغوی هم دې درجې ته په جنت کښي دده سره راورسوی: ابن کثیر: حافظ ابن کثیر رحمة الله علیه ددې ذکر سوو روایتونو دنقل کولو څخه وروسته فرمايي ددې روايتونو څخه دا ثابته سوه چي په آخرت کښي دصالحانو پلرونو په برکت سره به ددوی اولادونو ته فائده ورسيږي او په عمل کښي ددوی ددرجې دکمیدو باوجود به دخپلو صالحانو پلرونو درجې ته ورسول سي: ددې بل مخ چي دصالح اولاد په وجه به والدینو ته نفع رسیږي داهم په حدیث سره ثابت دي. دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي الله جل جلاله به دځینو کسانو درجه ددوی دعمل د مناسبت څخه ډیره لوړه کړي ځکه چي اولادونو دوی ته په دنیا کښي دعا او استغفار کړی وو الخ.
(معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۱۶)

مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ۖ إِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ

مِنْ قَبْلُ	نَدْعُوْهُ	إِنَّهٗ	هُوَ	الْبَرُّ	الرَّحِيْمُ	فَذَكِّرْ
پخوا له دې څخه	چې عبادت به مو کاوه د ده	بیشکه! چې دی	هم دی	نېه احسان کوونکی	رحم والا	پس پند ورکوه ته

پخوا له دې څخه چې عبادت به مو کاوه د ده (الله) بیشکه اچې دی هم دی نېه احسان کوونکی رحم والا .پس پند ورکوه ته

فَمَآ أَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجْنُوْنٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ

فَمَآ أَنْتَ	بِنِعْمَتِ	رَبِّكَ	بِكَاهِنٍ	وَّلَا مَجْنُوْنٍ	أَمْ يَقُوْلُوْنَ	شَاعِرٌ
پس نه یئ ته	په سبب د فضل نعمت	د رب خپل سره	خبر ورکوونکی د غیبو	او نه مجنون	آیا وایئ دوی	دی شاعر دی

(ای محمده!) پس نه یئ ته په سبب د فضل نعمت د رب خپل سره فالګر او نه مجنون (لیونی) . آیا وایئ دوی دی شاعر د ی

نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوْا فَإِنِّيْ مَعَكُمْ

نَّتَرَبَّصُ	بِهٖ	رَيْبَ	الْمَنُوْنِ	قُلْ	تَرَبَّصُوْا	فَإِنِّيْ	مَعَكُمْ
مونږ منتظر یو	په ده باندی	تول حوادثو	د زمانی ته	ووایه	منتظر اوسئ تاسی	پس بیشکه! زه	له تاسی سره

مونږ منتظر یو په ده باندی تول حوادثو د زمانی ته. ووایه (محمده) منتظر اوسئ تاسی پس بیشکه! زه له تاسی سره

مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ

مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ	أَمْ تَأْمُرُهُمْ	أَحْلَامُهُمْ	بِهٰذَآ
له منتظرانو څخه یم	آیا امر، حکم کوی دوی ته	عقلونه د دوی	په دی (کار)

له منتظرانو څخه یم (هلاکت ستاسی ته) . آیا امر حکم کوی دوی ته عقلونه د دوی په دی (کار)

أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ بَلْ

أَمْ هُمْ	قَوْمٌ	طَاغُوْنَ	أَمْ يَقُوْلُوْنَ	تَقَوَّلَهٗ	بَلْ
یا دوی	یو قوم دی	سرکښه	آیا وایئ دوی	چی له ځانه یئ جوړ کړی دی ده دا (قرآن)	بلکه

یا دوی یو قوم دی سرکښه، تیریدونکی له حده. آیا وایئ دوی چی له ځانه یئ جوړ کړی دی ده دا (قرآن) بلکه

لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖٓ إِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿٣٤﴾

لَّا يُؤْمِنُوْنَ	فَلْيَأْتُوْا	بِحَدِيْثٍ	مِّثْلِهٖٓ	إِنْ كَانُوْا	صٰدِقِيْنَ
دوی ایمان نه راوړی	پس رادی وړی دوی	خبره	په شان د دی	که چیری وی دوی	رښتینی په دی کښې

دوی ایمان نه راوړی. پس رادی وړی دوی خبره (جوړه کړی سوی) په شان د دی (قرآن) که چیری وی دوی رښتینی په دی کی

فَذَكِّرْ فَمَآ أَنْتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ... نبي کریم ﷺ دالله ﷻ په فضل سره نه کاهن وو او نه مجنون: په دغه آیت کې خطاب نبي کریم ﷺ ته دی چې تاسې نه مجنون یاست او نه کاهن یاست یعني کله چې تاسې ته دغه تیر سوي مضامین دجنت او دوږخ دمستحقینو پر برابر په تفصیل سره وحي کیږي نو تاسې په دغه مضامینو سره خلګ پوهوی ځکه چې تاسې دالله ﷻ په فضل سره نه کاهن یاست او نه لیونی لکه چې دمشرکینو دغه قول دسورت والضحی په شان نزول کې راغلی دی چې قد ترک شیطانک یعني محمد ﷺ خپل شیطان پرېښوی ددې آیت مطلب دادی چې ته کاهن نه سې کیدای ځکه چې کاهن دشیطانانو څخه خبرونه حاصلوي او ستا دشیطان سره څه واسطه نسته او په یو آیت کې دي چې: ویقولون انّه لمجنون. یعني کفار وایي چې دانبي لیونی دی. الله ﷻ دلته ستا څخه دجنون نفي هم کړې دي مطلب دادی چې ته نبي یې او دنبي کار همیشه نصیحت کول دي که څه هم داخلګ هر څه وایي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

اَمۡ خُلِقُوۡا مِنۡ غَيۡرِ شَىۡءٍ اَمۡ هُمُ الۡخٰلِقُوۡنَ ۝٣٥

اَمۡ خُلِقُوۡا	مِنۡ غَيۡرِ	شَىۡءٍ	اَمۡ هُمُ	الۡخٰلِقُوۡنَ
آیا پیداکړی سوی دی دوی	بی له	یو شی	یا که دوی	پخپله پیداکوونکی دی

آیا پیداکړی سوی دی دوی بی له یو شی (خالق پخپل سر) یا که دوی پخپله پیداکوونکی دی (دځانونو خپلو).

اَمۡ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ ۚ بَلۡ لَّا يُوۡقِنُوۡنَ ۝٣٦

اَمۡ خَلَقُوا	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	بَلۡ	لَّا يُوۡقِنُوۡنَ
آیا پیداکړی دی دوی	آسمانونه	او مځکه	بلکه	یقین نه کوی دوی

آیا پیداکړی دی دوی آسمانونه او مځکه (نه دي داسی) بلکه یقین نه کوی دوی (او نه یئ منی چی ایمان راوړی)

اَمۡ عِنۡدَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ اَمۡ هُمُ الۡمُصَيۡطِرُوۡنَ ۝٣٧

اَمۡ	عِنۡدَهُمۡ	خَزَآئِنُ	رَبِّكَ	اَمۡ هُمُ	الۡمُصَيۡطِرُوۡنَ
آیا	له دوی څخه دی	خزانې	دربستا!	آیا هم دوی دی	واکداران

آیا له دوی څخه دی خزانې (دنبوت نعمت) د رب ستا! آیا هم دوی دی واکداران (زوروران چی کوی هرکار).

اَمۡ لَهُمۡ سُلَّمٌ يَّسۡتَمِعُوۡنَ فِيۡهِ ۚ فَلۡيَاۡتِ مُسۡتَمِعُهُمۡ

اَمۡ لَهُمۡ	سُلَّمٌ	يَّسۡتَمِعُوۡنَ	فِيۡهِ	فَلۡيَاۡتِ	مُسۡتَمِعُهُمۡ
آیا سته دوی ته	ځینه	چی اوریدل کوی	په هغه باندی	پس رادی وړی	هغه اوریدونکی د دوی

آیا سته دوی ته اندرپایه چی اوریدل کوی په هغه باندی (خبر د ملائیکو) پس رادی وړی هغه اوریدونکی د دوی

بِسُلۡطٰنٍ مُّبِيۡنٍ ۝٣٨ اَمۡ لَهُ الۡبَنٰتُ وَلَكُمُ الۡبَنُوۡنَ ۝٣٩

بِسُلۡطٰنٍ	مُّبِيۡنٍ	اَمۡ لَهُ	الۡبَنٰتُ	وَلَكُمُ	الۡبَنُوۡنَ
یو سند علمی	ښکاره	آیا هغه (الله) لره	لوڼې دی	او تاسی لره	زامن دی؟

یو برهان سند ښکاره. آیا هغه (الله) لره لوڼې دی (په زعم ستاسی) او تاسی لره زامن دی؟

اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ اَجۡرًا فَهُمۡ مِّنۡ مَّغۡرَمٍ مُّثۡقَلُوۡنَ ۝٤٠ اَمۡ

اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ	اَجۡرًا	فَهُمۡ	مِّنۡ مَّغۡرَمٍ	مُّثۡقَلُوۡنَ	اَمۡ
آیا ته غواړی له دوی څخه	څه اجر، بدل	پس دوی	له تاوانه	درانه کړی سوی دی	آیا

آیا ته غواړی له دوی څخه (ای محمده!) څه اجر بدل پس دوی له تاوانه (دهغه) درانه کړی سوی دی. آیا

اَمۡ خُلِقُوۡا مِنۡ غَيۡرِ شَىۡءٍ اَمۡ هُمُ الۡخٰلِقُوۡنَ...دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: او دغه کفار دمکي علاوه پر دغه چي تاته کاهن او لیونی وایي یو بل نسبت هم تاته کوي هغه دا چي دوی وایي چي محمد شاعر دی او موږ دده په باره کي دمرګ دحادثې انتظار کوو لکه چي په درمنثور کي دي چي قریش په دارالندوة کي راجمع سول او دده په باره کي یي دامشوره وکړه چي لکه څنګه چي نور شاعران مړه سول او ختم سول دوی هم په هغو کي یو دی دغه شان به دی هم هلاک سي نو داسلام قصه به ختمه سي ته ووایه چي ښه نو تاسي انتظار کوی زه هم ستاسي سره منتظر یم یعني تاسي زما انجام ته ګوری زه ستاسي انجام ته ګورم په دي کي اشاره او پیشګویي ده چي زما انجام فلاح او کامیابي ده او ستاسي انجام خساره او ناکامي ده او دامي هم مقصد نه دی چي تاسي به مړه سی زه به مړنه سم بلکي ددغه خلګو چي ددغه څخه څه مقصدوو چي دده دین به ونه چلیږي نو دین به یي ختم سي ددغه خبري رد زما مقصود دی. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

عِنۡدَهُمُ الۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُوۡنَ ﴿٤١﴾ اَمۡ يُرِيۡدُوۡنَ كَيۡدًا

كَيۡدًا	اَمۡ يُرِيۡدُوۡنَ	يَكۡتُبُوۡنَ	فَهُمۡ	الۡغَيۡبُ	عِنۡدَهُمُ
دمکر کولو	آیا اراده لری دوی	لیکی (له هغه څخه)	نو دوی یئ	غیب دی	په نزد د دوی

په نزد ددوی (علم د) غیب (پټو) دی نو دوی یئ لیکی (له هغه څخه). آیا اراده لری دوی دمکر کولو (او چل کولو)

فَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا هُمُ الۡمَكِيۡدُوۡنَ ﴿٤٢﴾ اَمۡ لَهُمۡ اِلٰهٌ غَيۡرُ

غَيۡرُ	اِلٰهٌ	اَمۡ لَهُمۡ	الۡمَكِيۡدُوۡنَ	هُمُ	كَفَرُوۡا	فَالَّذِيۡنَ
بی له	کوم معبود	آیا سته دوی ته	مکر کړی سوی دی	هم په دوی باندی	چی کافران سوی دی	پس هغه کسان

پس هغه کسان چی کافران سوی دی هم په دوی باندی مکر کړی سوی دی. آیا سته دوی ته کوم معبود بی له

اللّٰهِ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿٤٣﴾ وَاِنۡ يَّرَوۡا كِسۡفًا مِّنَ

مِّنَ	كِسۡفًا	وَاِنۡ يَّرَوۡا	يُشۡرِكُوۡنَ	عَمَّا	اللّٰهِ	سُبۡحٰنَ	اللّٰهِ
له	یوه ټوټه	او که ووینی دوی	چی دوی یئ ورسره شریکوی	له هغه شی	الله ره	پاکی ده	الله

الله پاکی ده الله ره له هغه شی چی دوی یئ ورسره شریکوی (نور). او که ووینی دوی یوه ټوټه له

السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوۡلُوۡا سَحَابٌ مَّرۡكُوۡمٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرۡهُمۡ حَتّٰى

حَتّٰى	فَذَرۡهُمۡ	مَّرۡكُوۡمٌ	سَحَابٌ	يَّقُوۡلُوۡا	سَاقِطًا	السَّمَآءِ
تر هغه پوری چی	نو پریږده دوی	قطِ پر قط سوی	وریځ ده	نو وبه وایئ	رالویدونکی	آسمانه

آسمانه رالویدونکی نو وبه وایئ (دا) وریځ ده (غټه) یوه پر بلی باندی سوره سوی. نو پریږده دوی تر هغه پوری چی

يُلٰقُوۡا يَوۡمَهُمُ الَّذِىۡ فِيۡهِ يُصۡعَقُوۡنَ ﴿٤٥﴾ يَوۡمَ لَا يُغۡنِىۡ

لَا يُغۡنِىۡ	يَوۡمَ	يُصۡعَقُوۡنَ	فِيۡهِ	الَّذِىۡ	يَوۡمَهُمُ	يُلٰقُوۡا
وبه نه کړی دفع	هغه ورځ چی	بیهوشه کړل سی دوی	په هغی کښی به	هغه چی	له ورځی خپلی سره	یو ځای سی دوی

یو ځای سی دوی له ورځی خپلی سره هغه چی پکښی وبه لویږی پر دوی باندی تالنده. هغه ورځ چی وبه نه کړی دفع

عَنۡهُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡئًا وَّلَا هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ﴿٤٦﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيۡنَ

لِلَّذِيۡنَ	وَاِنَّ	يُنۡصَرُوۡنَ	وَّلَا هُمۡ	شَيۡئًا	كَيۡدُهُمۡ	عَنۡهُمۡ
هغو کسانو ته	او بیشکه!	څه مرسته وکړه سی	او نه به له دوی سره	هیڅ شی	مکر د دوی	له دوی څخه

له دوی څخه مکر د دوی هیڅ شی (له عذابه) او نه به له هغوی سره څه مرسته وکړه سی. او بیشکه! هغو کسانو ته

عِنۡدَهُمُ الۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُوۡنَ.. دتیر مخ پاته بیا دلته وګوری: چنانچي همداسي وسوه چي دوی په خساره کي ولویده او دمحمد ﷺ دین هغه دی تر ننه پوري ژوندی دی بیا الله ﷻ فرمایي چي دغه خلګ کم چي دغه خبري کوي ایا ددوی عقلونه دوی ته ددغه خبرو تعلیم ورکوي یا داده چي داشریر خلګ دي: ددوی دعقل او پوهي دعوی کول ددوی ددي قول څخه ثابته ده: لوکان خیرا ماسبقونا الیه او دمعالم التنزیل دنقل څخه هم ددي تائید کیږي چي دقریشو غټان لوی او مشهور عقلمندان وه نو په دغه آیت کي الله ﷻ ددوی دعقل حالت ښوولی دی چي بس صاحب عقل دغه دی کم چي داسي تعلیم ورکوي ؟ او که وایا داد عقل تعلیم نه دی عقل ددوی هم داسي وو چي دقرآن او نبي کریم ﷺ په حقانیت باندي دوی پوه وه نو بیا داویل یکار دي چي داخالص ددوی ضد تعصب او شرارت دی.او کله به یي بیا دا ویل چي محمد ﷺ داقرآن دځانه جوړ کړی دی نو داخبره یي هم دضد او تعصب پربنا کوله الخ. (معارف القرآن ج۹پ۲۷ ص ۱۹)

ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾

لَا يَعْلَمُوْنَ	اَكْثَرَهُمْ	وَلٰكِنَّ	ذٰلِكَ	دُوْنَ	عَذَابًا	ظَلَمُوْا
نه پوهيږي	زياتره دوى	او ليكن	دغه	بې له	عذاب دى	چې ظلم يې كړى دى

چې ظلم يې كړى دى عذاب د ى بې له دى (دنيوى عذابه) او ليكن زياتره دوى نه پوهيږي (نو ځكه مخ ګرځوى له ايمانه)

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ


رَبِّكَ	بِحَمْدِ	وَسَبِّحْ	بِاَعْيُنِنَا	فَاِنَّكَ	رَبِّكَ	لِحُكْمِ	وَاصْبِرْ
درب خپل سره	سره له حمده	او تسبيح وايه	زموږ دسترګو په مخ كښې يې	بيشكه! ته	درب خپل ته	حكم	او صبر كوه ته

او صبر كوه ته حكم درب خپل ته بيشكه! ته په ځاى د ليدلو زموږ كښې يې، او تسبيح وايه سره له حمده درب خپل سره

حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿۴۸﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿۴۹﴾

النُّجُوْمِ	وَاِدْبَارَ	فَسَبِّحْهُ	وَمِنَ الَّيْلِ	تَقُوْمُ	حِيْنَ
دستورو ځخه	او دوروستو	پس تسبيح وايه	او په بعض د شپې كښې	چې راولاړيږې	په هغه وخت كښې

په هغه وخت كښې چې راپاڅيږې (له خوبه) او په بعض د شپې كښې پس تسبيح وايه او وروسته دستورو د غايب كيدو ځخه .



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ﴿۱﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ﴿۲﴾

وَمَا غَوٰى	صَاحِبُكُمْ	مَا ضَلَّ	اِذَا هَوٰى	وَالنَّجْمِ
او نه يې لاره وركه كړې ده	ملګرى ستاسى	نه دى ګمراه سوى	كله چې پريوځي	قسم دى په ستورو باندى

قسم دى په ستورو باندى كله چې پريوځي (غروب سى) نه دى ګمراه سوى ملګرى ستاسى او نه يې لاره وركه كړې ده .

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ﴿۳﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴿۴﴾ عَلَّمَهٗ

عَلَّمَهٗ	يُّوْحٰى	وَحْيٌ	اِلَّا	اِنْ هُوَ	عَنِ الْهَوٰى	وَمَا يَنْطِقُ
ښوولى دە دە ته	چې ورته ليږلى سوى ده	وحى ده	مګر	نه دى دغه (قرآن)	له خواهش خپل ځخه	او خبرى نه كوى

او خبرى نه كوى (محمد) له نفس خپل ځخه، نه دى دغه (قرآن) مګر وحى ده چې ورته ليږلى سوى ده. ښوولى ده ده ته

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ. نبي كريم ﷺ ته دالله ﷻ د طرفه ځخه د تسبيح حكم: يعني ته دالله ﷻ حمد او ثناكوه كله چې ته ودريږې: ددريدو ځخه مراد دخوب ځخه ولاړيدل هم كيداى سي: ابن جرير دا اختياره كړيده ددې تائيد ددې حديث ځخه هم كيږي كم چې امام احمد رحمة الله عليه دحضرت عبادة بن صامت ﷺ ځخه روايت كړى دى چې نبي كريم ﷺ فرمايي كم سړى چې دشپې بيدار سو او داكلمات يې وويل نو چې څه دعا كوي قبليږي هغه كلمات داذي لااله الا الله وحده لاشريك له له الملک وله الحمد وهو على كل شئ قدير . سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ولا حول ولاقوة الا بالله: بيا كه ده لمانځه كولو اراده يه وكړه او ودس يې وكى لمونځ يې وكى نو ده د لمونځ به قبول سي ابن كثير. دمجلس كفاره: ځيني علماء لكه امام مجاهد رحمة الله عليه وغيره فرمايي چې دحين تقوم ځخه مراد دادى چې كله بنده دخپل مجلس ځخه پورته كيږي نو دادي وايي چې سبحانک اللهم وبحمدک.
(معارف القرآن ج۹پ۲۷ص ۲۴)

ع ۲ / ۲۱

شَدِيْدُ الْقُوٰى ﴿۵﴾ ذُوْ مِرَّةٍ فَاسْتَوٰى ﴿۶﴾ وَهُوَ بِالْاُفُقِ

شَدِيْدُ الْقُوٰى	ذُوْ مِرَّةٍ	فَاسْتَوٰى	وَهُوَ	بِالْاُفُقِ
دسختو قوتونو مالک	چې خاوند دښه قوت دی	بیا برابر کښېنستئ	او هغهٔ	په کنارو

دسختو قوتونو مالک (جبرئیل) چې خاوند د ښه قوت صورت عقل دی بیا برابر کښېنستئ، او هغهٔ په کنارو

الْاَعْلٰى ﴿۷﴾ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ﴿۹﴾

الْاَعْلٰى	ثُمَّ	دَنَا	فَتَدَلّٰى	فَكَانَ	قَابَ	قَوْسَيْنِ	اَوْ اَدْنٰى
لوړو کښې	بیا	نژدې سو	پس ښه نژدې سو	پس وُ	په اندازه	ددوو لیندو	یا نژدې دهغه څخه

لوړو (دآسمانه) . بیا نژدې سو (جبریل محمد ته) پس ښه نژدې سو پس وُ په مینځ د نژدیوالی د دوو لیندو یا نژدې دهغه څخه

فَاَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ مَآ اَوْحٰى ﴿۱۰﴾ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿۱۱﴾

فَاَوْحٰى	اِلٰى عَبْدِهٖ	مَآ اَوْحٰى	مَا كَذَبَ	الْفُؤَادُ	مَا رَاٰى
پس وحی وکړله	بنده خپل ته	هغه چې وحی یئ وکړه	نهٔ ویلی دروغ	زړه	دهغه چې لیدلی یئ ؤ

پس وحی وکړله (الله په ژبه دجبرئیل) بنده خپل ته هغه چې وحی یئ وکړه. نهٔ ویلی دروغ زړه دهغه چې لیدلی یئ ؤ (په سترګو)

اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾

اَفَتُمٰرُوْنَهٗ	عَلٰى مَا	يَرٰى	وَلَقَدْ	رَاٰهُ	نَزْلَةً	اُخْرٰى
پس آیا تاسی جګړه کوئ له هغه سره	په هغه کښې چې	ده لیدلی دی	او خامخا په تحقیق	لیدلی ؤ ده هغه	په کښته کیدلو	بل وار

پس آیا تاسی جګړه کوئ له هغه سره په هغه کښې چې ده لیدلی دی. او خامخا په تحقیق لیدلی ؤ محمد هغه (جبرئیل) بل ځلی

عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾

عِنْدَ	سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى	عِنْدَهَا	جَنَّةُ الْمَاْوٰى
په نزد	د درختی د بیری	په نزد دهغی دی	جنت ځای دهستوګنی

په نزد دونی دبیری (سدرة المنتهٰی) په نزد دهغی دی جنت الماوٰی (ځای د هستوګنی)

اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿۱۶﴾ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا

اِذْ يَغْشٰى	السِّدْرَةَ	مَا يَغْشٰى	مَا زَاغَ	الْبَصَرُ	وَمَا
کله چې پټی کړی	هغی درختی د بیری	هغه څه چې پټ کړیئ ؤ	نه وی کږی سوی	سترګی د (محمده)	او نه دی

کله چې پټی کړی هغی ونی د بیری لره هغه څه چې پټ کړی یئ ؤ. چې نه وی ګرځیدلی سترګی د (محمد بلی خواته) او نه دی

ذُوْ مِرَّةٍ فَاسْتَوٰى ﴿۶﴾ وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى.. جبرائیل امین ته الله جل جلاله غټ طاقت اوقوت ورکړی دی

دمرّة معنی قوت ده داهم دجبرآئیل امین ددوهم صفت دقوت او طاقت دزیاتي بیانول دي چي چاته دا وهم ورپیدا نه سي چي دوحي راوړنکي ملایکي په کار کي څوک شیطان دخیل کیدای نه سي چي څوک وحي ځیني واخلي یا زیاتی او کمی په کښي وکړي: ځکه چي جبرآئیل امین دومره قوي دی چي شیطان دده خواته ورنژدې کیدای هم نه سي:

او دفاستوی معنی ده برابر سو مراد دادی چي اول یي کله جبرآئیل امین ولیدی نو هغه داسمانه څخه راکښته کیدی دراکښته کیدو څخه وروسته په لوړ افق باندي برابر سوکښېنستی. دافق سره داعلی په قید کي داحکمت دی چي دافق هغه حصه کمه چي دمځکي سره یوځای په نظر راځي دغه عموما دنظرونو څخه پټه وي په دې وجه په لوړ افق باندي یي جبرآئیل امین وښووی او بیاهغه نبي کریم ﷺ په خپل اصلي شکل او صورت کي ولیدی چي دآسمان کنارې یي تـولي نیـولي وي.

(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص ۳۶)

طَغٰى ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿١٨﴾ اَفَرَءَيْتُمُ

طَغٰى	لَقَدْ	رَاٰى	مِنْ اٰيٰتِ	رَبِّهِ	الْكُبْرٰى	اَفَرَءَيْتُمُ
تیری سوی	خامخا په تحقیق	لیدلی دی	له ځینی دلائلو	درب خپل	چی ډیر لوی وه	آیا پس وینئ تاسی

تیری سوی (له حده). خامخا په تحقیق لیدلی دی (محمد) له ځینی دلائلو درب خپل چی ډیر لوی وه . آیا پس وینئ تاسی

اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴿١٩﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ﴿٢٠﴾ اَلَكُمُ

اللّٰتَ	وَالْعُزّٰى	وَمَنٰوةَ	الثَّالِثَةَ	الْاُخْرٰى	اَلَكُمُ
لات	او عزیٰ	او منات	دریم	بل له دغو	آیا تاسی لره (ای کفارو)

لات او عزیٰ . او منات (په مرتبه کښې) دریم بل له دغو (یعنی دغه بتان بیکاره شیان دی). آیا تاسی لره (ای کفارو)

الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ﴿٢١﴾ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ﴿٢٢﴾ اِنْ هِىَ

الذَّكَرُ	وَلَهُ	الْاُنْثٰى	تِلْكَ	اِذًا	قِسْمَةٌ	ضِيْزٰى	اِنْ هِىَ
هلکان دی	او دغه (الله) لره	لونی دی	دا (قسمت)	په دی شان	قسمت دی	ډیر ظالمانه	نه دی (دابتان)

هلکان دی او دغه (الله) لره لونی دی . دا (قسمت د اولاد) په دی شان قسمت دی ډیر کوږ ناکاره. نه دی (دا بتان)

اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا

اِلَّآ	اَسْمَآءٌ	سَمَّيْتُمُوْهَآ	اَنْتُمْ	وَاٰبَآؤُكُمْ	مَّآ اَنْزَلَ	اللّٰهُ	بِهَا
مگر خو	تش نومونه دی	چی ایښی دی تاسی دوی لره	تاسی	او پلرونو ستاسی	نه دی نازل کړی	الله	په دغه باندی

مگر خو تش نومونه دی چی ایښی دی تاسی دوی لره تاسی او پلرونو ستاسی نه دی نازل کړی الله په دغه (عبادت د بتانو)

مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ

مِنْ سُلْطٰنٍ	اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ	اِلَّا	الظَّنَّ	وَمَا	تَهْوَى	الْاَنْفُسُ
برهان، علمی سند	متابعت نه کوی دوی	مگر	خو دگمان خپل	او دهغه شی	چی غواړی یئ	نفسونه د دوی

باندی کوم برهان، علمی سند. متابعت نه کوی دوی مگر خو دگمان خپل او دهغه شی چی غواړی یئ نفسونه د دوی

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿٢٣﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ

وَلَقَدْ	جَآءَهُمْ	مِّنْ رَّبِّهِمُ	الْهُدٰى	اَمْ	لِلْاِنْسَانِ
او خامخا په تحقیق سره	راغلی دی دوی ته	له ربه د دوی څخه	هدایت	آیا سته (کافر)	انسان لره

او خامخا په تحقیق سره راغلی دی دوی ته له ربه د دوی څخه هدایت ، لاربنوونه. آیا سته (کافر) انسا ن لره

اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ﴿١٩﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ ... دقریشو دیو څو مشهورو بتانو

ذکر: په تیرو ایاتونو کي دنبي کریم ﷺ دنبوت او رسالت ددوی دوحی دمحفوظ کیدو ددلیلونو تفصیلي ذکر ووپه دې ایاتونوکي ددې بالمقابل دعربو دمشرکینو ددې فعل مذمت دی چي دوی بغیر دڅه دلیل څخه مختلفو بتانو لره خپل معبودان او کارسازه جوړ کړي دي او ملایکو ته دخدای ﷻ لوني وایي: او په ځینو روایاتوکي دي چي دوی به دغه بتانو ته هم دخدای ﷻ لوني ویلې: دعربو دمشرکانو بتان دکمو چي دوی عبادت کوی بې شمیره دي مگر په هغه کي درې زیات مشهور دي او ددغه پر عبادت باندي دعربو لوی لوی قبیلې لگیدلي وي: لات ، عزی ، منات ، لات دثقیف قبیلې طائف والا بت وو : عُزّی دقریشو ، اومنات دبني هلال بت وو : ددې بتانو پر ځایونو مشرکینولوی لوی شانداره مکانات جوړ کړي وه کموته چي به یي دکعبې حیثیت ورکوی دمکې دفتح څخه وروسته نبي کریم ﷺ داټول ونړول او ختم یي کړل.

(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۴۸)

ع ۱/۲۵ ۵

مَا تَمَنّٰى ۝۲۴ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ۝۲۵ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ

مَا تَمَنّٰى	فَلِلّٰهِ	الْاٰخِرَةُ	وَالْاُوْلٰى	وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ
هغه چې غواړي يئ	پس خاص الله لره دی	(سلطنت) دآخرت	او ددنيا	او ډير دی له ملائيکو څخه

هغه چې غواړي يئ (له نبوت او اخروی سعادت) پس خاص الله لره دی (سلطنت) دآخرت او د دنيا. او ډير دی له ملائيکو څخه

فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ

فِي السَّمٰوٰتِ	لَا تُغْنِيْ	شَفَاعَتُهُمْ	شَيْـًٔا	اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِ	اَنْ يَّاْذَنَ
په آسمانونو کښې	چې نه دفع کوی	شفاعت د دوی	هيڅ شی	مگر	وروسته	له هغه چې حکم وفرمائی

په آسمانونو کښې چې نه دفع کوی شفاعت سپارښت د دوی هيڅ شی مگر وروسته له هغه چې اذن، حکم وفرمائی

اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ۝۲۶ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

اللّٰهُ	لِمَنْ يَّشَآءُ	وَيَرْضٰى	اِنَّ	الَّذِيْنَ	لَا يُؤْمِنُوْنَ
الله	دپاره د هغه چاچې اراده وفرمائی	او راضی وی په شفاعت	بيشکه!	هغه کسان	چې ايمان نه راوړی

الله دپاره د هغه چاچې اراده وفرمائی او راضی وی په شفاعت. بيشکه هغه کسان چې ايمان نه راوړی

بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ۝۲۷ وَمَا لَهُمْ

بِالْاٰخِرَةِ	لَيُسَمُّوْنَ	الْمَلٰٓئِكَةَ	تَسْمِيَةَ	الْاُنْثٰى	وَمَا لَهُمْ
په آخرت باندی	خامخا نومونه ايږدی	پر ملائيکو باندی	په نوم ايښودلو	دښځو سره	او نسته دوی ته

په آخرت باندی خامخا نومونه ږدی پر ملائکو باندی په نوم ايښودلو دښځو سره او نسته دوی ته

بِهٖ مِنْ عِلْمٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ

بِهٖ	مِنْ عِلْمٍ	اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ	اِلَّا	الظَّنَّ	وَاِنَّ	الظَّنَّ	لَا يُغْنِيْ
په دی وينا کښې	هيڅ علم	متابعت نه کوی دوی	مگر	خو دگمان	او بيشکه!	گمان	نه دفع کوی

په دی وينا کښې هيڅ علم په متابعت نه کوی دوی مگر خو د گمان او بيشکه! گمان نه دفع کوی

مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ۝۲۸ فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا

مِنَ الْحَقِّ	شَيْـًٔا	فَاَعْرِضْ	عَنْ مَّنْ	تَوَلّٰى	عَنْ ذِكْرِنَا
له حق څخه	هيڅ شی	پس مخ وگرځوه ته	له هغه چاڅخه چې	مخ يئ گرځولی دی	له پنده، ذکره زموږ

له حق څخه هيڅ شی. پس مخ وگرځوه ته له هغه چاڅخه چې مخ يئ گرځولی دی له پنده، ذکره زموږ

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ... دظن مختلف اقسام او ددې احکام: لفظ دظن په عربي کښي دمختلفو معانيوو دپاره ويل سوی دی. يوه معنى يي داهم ده چې بې بنياده خيالاتو ته ظن ويل کيږي په آيت کې هم دامراد دی او دادمکې دمشرکانو دبت پرستۍ سبب وو په دې وجه دليري کولو دپاره يې دافرمايلي دي. اودوهمه معنى دظن هغه ده کمه چي ديقين په مقابله کي راځي يقين ورته ويل کيږي: يعني هغه علم قطعي مطابق دواقعې ته په کم کي چې څه شک اوشبه نه وي لکه دقرآن کريم يا دمتواترو احاديثو څخه حاصل سوی علم ددې په مقابله کي ظن هغه علم ته ويل کيږي کم چي بې بنياده خيالات خو نه وي ددليل پر بنياد باندي قائم وي مگر دادليل په داسي قطعي درجه کي نه وي چي بل احتمال په کښي نه وي لکه داحاديثو په عامو روايتونو باندي ثابت سوي احکام په دې وجه اول قسم مسئلو ته قطعي اويقيني وايي او دوهم قسم ته ظنيات وايي او دا ظن په شريعت کي معتبر دی او واجب العمل دی. (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۴۹)

وَلَمۡ يُرِدۡ اِلَّا الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ مَبۡلَغُهُمۡ

وَلَمۡ يُرِدۡ	اِلَّا	الۡحَيٰوةَ	الدُّنۡيَا	ذٰلِكَ	مَبۡلَغُهُمۡ
او نه لري اراده	مګر	خو د ژوندون	د دنیا	دا	ځای د رسیدلو د دوی دی

او نه لري اراده مګر خو د ژوندون د دنیا دا (اختیارول دده دنیا لره) ځای د رسیدلو د دوی دی

مِّنَ الۡعِلۡمِ ۚ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ ضَلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ

مِّنَ الۡعِلۡمِ	اِنَّ	رَبَّكَ	هُوَ اَعۡلَمُ	بِمَنۡ	ضَلَّ	عَنۡ سَبِيۡلِهٖ
له علمه	بیشکه	رب ستا	هم دی ښه عالم دی	په هغه چا باندی	چي ګمراه سوی دی	له لاری د ده څخه

له علمه پوهه (د دوی)، بیشکه! رب ستا هم دی ښه عالم دی په هغه چا باندی چي ګمراه سوی دی له لاری دده څخه

وَهُوَ اَعۡلَمُ بِمَنِ اهۡتَدٰى ﴿۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

وَهُوَ	اَعۡلَمُ	بِمَنِ	اهۡتَدٰى	وَلِلّٰهِ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ
او هم دی	ښه عالم دی	په هغه چا باندی	چي سمه لاره یئ پیدا کړیده	او خاص الله ته دی	هرهغه	چي په آسمانونو کښي دی

او هم دی ښه عالم پوه دی په هغه چا باندی چي سمه لاره یئ موندلی ده. او خاص الله ته دی هر هغه چي په آسمانونو کښي دی

وَمَا فِي الۡاَرۡضِ ۙ لِيَجۡزِيَ الَّذِيۡنَ اَسَآءُوۡا بِمَا

وَمَا فِي الۡاَرۡضِ	لِيَجۡزِيَ	الَّذِيۡنَ	اَسَآءُوۡا	بِمَا
او هر هغه چي په مځکه کښي دی	لپاره د دی چي جزاء ورکړي	هغو کسانو ته	چي بدي یئ کړي وي	په سبب د هغه

او هر هغه چي په مځکه کښي دی ، لپاره د دی چي جزاء ورکړي (الله) هغو کسانو ته چي بدي یئ کړي وي په سبب دهغه

عَمِلُوۡا وَيَجۡزِيَ الَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا بِالۡحُسۡنٰى ﴿۳۱﴾ اَلَّذِيۡنَ يَجۡتَنِبُوۡنَ

عَمِلُوۡا	وَيَجۡزِيَ	الَّذِيۡنَ	اَحۡسَنُوۡا	بِالۡحُسۡنٰى	اَلَّذِيۡنَ	يَجۡتَنِبُوۡنَ
چي کړي یئ وي	او جزاء ورکړي	هغو کسانو ته	چي نیکي یئ کړي وي	په ښه خصلت سره	هغه کسان دي	چي ځان ساتی له

چي کړي یئ وي او جزاء ورکړي هغو کسانو ته چي نیکي یئ کړي وي په نیکو عملونو سره .هغه کسان دي چي ځان ساتی له

كَبٰٓئِرَ الۡاِثۡمِ وَالۡفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الۡمَغۡفِرَةِ ؕ

كَبٰٓئِرَ	الۡاِثۡمِ	وَالۡفَوَاحِشَ	اِلَّا اللَّمَمَ	اِنَّ	رَبَّكَ	وَاسِعُ	الۡمَغۡفِرَةِ
لويو	ګناهونو څخه	او له بی حیایئ څخه	مګر وړې وړې ګناوی	بیشکه!	رب ستا	پراخ کوونکی	دمغفرت دی

لويو ګناهونو څخه او له فواحشو ،قبیحو کارونو څخه مګر وړې وړې ګناه، بیشکه! رب ستا پراخ کوونکی دمغفرت دی .

ذٰلِكَ مَبۡلَغُهُمۡ مِّنَ الۡعِلۡمِ ۚ اِنَّ رَبَّكَ.. دکفارو دتعلیم او تعلم مقصد ددنیا لذتونه او خوندونه حاصلول دي: په دغه ایت کي الله جل جلاله بیا نبي کریم ﷺ ته خطاب کړی دي چي تاسي دداسي خلګو څخه مخ واړوی او خپل خیال ځني واړوی کم چي زموږ دیاده څخه مخ اړوي او ددنیا دژوند څخه ماسوا ددوی بل مقصد نه وي داددوی انتهایي علم او هنر دی. یوضروري خبرداری: قرآن کریم دادهغه کفارو حال بیان کړی دی کم چي دآخرت څخه او قیامت څخه منکر دي افسوس دی چي انګریزي تعلیم او ددنیا خواهشاتو نن صبا زموږ دمسلمانانو داحال کړی دی چي زموږ ټول علوم او فنون او دعلمي ترقی ټول کو ششونه صرف دمعاشیاتو پرشاو خوا ګردش کوي معادیات دآخرت معاملي موداسي هیري کړي دي چي خیال قدريي هم نه ورته کیږي موږ دنبي کریم ﷺ نوم اخلو او دده دشفاعت امید کوو مګر حالت داسي سوی دی چي الله جل جلاله خپل رسول ﷺ ته دداسي حالت والاوو څخه دمخ اړولو هدایت کوي. (معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۵۲)

الربع

هُوَ اَعۡلَمُ بِكُمۡ اِذۡ اَنۡشَاَكُمۡ مِّنَ الۡاَرۡضِ وَاِذۡ اَنۡتُمۡ اَجِنَّةٌ

هُوَ	اَعۡلَمُ	بِكُمۡ	اِذۡ اَنۡشَاَكُمۡ	مِّنَ الۡاَرۡضِ	وَاِذۡ اَنۡتُمۡ	اَجِنَّةٌ
هغه	ښه عالم دی	پر تاسی باندی	کله چی پیدا یئ کړئ تاسی	له مځکی څخه	او کله چی وئ تاسی	(پټ) بچی

هغه ښه عالم دی په تاسی باندی کله چی پیدا یئ کړئ تاسی له مځکی څخه او کله چی وئ تاسی (پټ) بچی

فِيۡ بُطُوۡنِ اُمَّهٰتِكُمۡ فَلَا تُزَكُّوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنِ

فِيۡ بُطُوۡنِ	اُمَّهٰتِكُمۡ	فَلَا تُزَكُّوۡۤا	اَنۡفُسَكُمۡ	هُوَ	اَعۡلَمُ	بِمَنِ
په نسونو	دمیندو خپلو کښی	نو مه پاکوئ تاسو	ځانونه خپل	هم دغه (الله)	ښه عالم دی	په هغه چا باندی

په نسونو دمیندو خپلو کښی نو مه ستایئ مه پاکوئ تاسو ځانونه خپل ، هم دغه (الله) ښه عالم دی ، په هغه چا باندی

اتَّقٰى ﴿۳۲﴾ اَفَرَءَيۡتَ الَّذِيۡ تَوَلّٰى ﴿۳۳﴾ وَاَعۡطٰى قَلِيۡلًا

اتَّقٰى	اَفَرَءَيۡتَ	الَّذِيۡ	تَوَلّٰى	وَاَعۡطٰى	قَلِيۡلًا
چی بیریږئ	آیا پس لیدلی دی تا	هغه څوک	چی مخ یئ واړاوه	او ورییئ کړ	لږ شی

چی بیریږی (له الله). آیا پس لیدلی دی تا هغه څوک چی مخ یئ واړاوه (له ایمانه او مرتد سو)، او ورییئ کړ لږ شی

وَاَكۡدٰى ﴿۳۴﴾ اَعِنۡدَهٗ عِلۡمُ الۡغَيۡبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿۳۵﴾ اَمۡ لَمۡ يُنَبَّاۡ

وَاَكۡدٰى	اَعِنۡدَهٗ	عِلۡمُ	الۡغَيۡبِ	فَهُوَ يَرٰى	اَمۡ لَمۡ يُنَبَّاۡ
او منع یئ کړل نو ر	آیا سته له ده څخه	علم	دپټو	پس دی وینی	آیا نه دی خبر کړی سوی دی

او منع یئ کړل نور. آیا سته له ده څخه علم دپټو (خفی شیانو) پس دی وینی (نجات خپل) ، آیا نه دی خبر کړی سوی دی

بِمَا فِيۡ صُحُفِ مُوۡسٰى ﴿۳۶﴾ وَاِبۡرٰهِيۡمَ الَّذِيۡ وَفّٰۤى ﴿۳۷﴾

بِمَا	فِيۡ صُحُفِ	مُوۡسٰى	وَاِبۡرٰهِيۡمَ	الَّذِيۡ	وَفّٰۤى
په هغه چی ؤ	په صحیفو پاڼو	دموسٰی کښی	او دابراهیم کښی	هغه چی	وفاء یئ کړی وه

په هغه (شی) چی ؤ په صحیفو پاڼو دموسٰی کښی او (په صحیفو پاڼو) د ابراهیم کښی هغه (ابراهیم) چی وفاء یئ کړی وه

اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزۡرَ اُخۡرٰى ﴿۳۸﴾ وَاَنۡ لَّيۡسَ لِلۡاِنۡسَانِ اِلَّا مَا

اَلَّا تَزِرُ	وَازِرَةٌ	وِّزۡرَ	اُخۡرٰى	وَاَنۡ	لَّيۡسَ	لِلۡاِنۡسَانِ	اِلَّا مَا
چی نه پورته کوی	هیڅ پورته کوونکی	بار	دبل نفس	او بله دا چی	نسته هیڅ	انسا ن لره	مګر جزاء دهغه شی

چی نه پورته کوی هیڅ نفس پورته کوونکی بار پیټی د بل نفس. او بله دا چی نسته هیڅ انسان لره مګر جزاء دهغه شی

فَلَا تُزَكُّوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى. انسان باید دخپل نفس دپاکی دعوی ونه کړي : په دغه ایت کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي تاسي دخپل نفس دپاکی دعوی مه کوی ځکه چي په دې صرف الله ﷻ پوه دی چي څوک ښنګه دی او دکمي درجي دی ځکه دفضیلت مدار پر تقوی باندي دی په ظاهري اعمالونه دی او تقوی هم هغه معتبره ده کمه چي ترمرګه پوري قائمه پاته سي : دحضرت زینب رضی الله عنها نوم ددې مور او پلار برّه ایښی وو چي معنی یي ده نیکوکاره نبي کریم ﷺ ذکر سوی آیت تلاوت وفرمایه ددې نوم ښخه یي منع وکړه ځکه چي په دي کي دخپل نیک کیدو دعوی ده او نوم یي ورلره بدل کی زینب یي ورلره کښیښووی : رواه مسلم: او همداشان یوه سړي دنبي کریم ﷺ په مخکي دبل سړي تعریف وکړی دوی منع کی او وې فرمایل چي که دچا مدح او ثنا کوې نو په دې الفاظو سره یي کوه چي زما په علم کي داسړی نیک متقي دی او زه دانه سم ویلای چي دالله ﷻ په نزد هم داسي پاک دی الخ. (معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص ۵۴)

ربع ۲

سَعٰى ﴿۳۹﴾ وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ﴿۴۰﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ

سَعٰى	وَاَنَّ	سَعْيَهٗ	سَوْفَ	يُرٰى	ثُمَّ	يُجْزٰىهُ
چي کړی يئ دی	او بيشکه!	جزا دسعی عمل دده	ژر ده چي	وبه ښوولی سی (ده ته)	بيا به	جزاء ورکړی سی هغه ته

چي کړی يئ دی. او بيشکه! (داچي) جزا دسعی عمل دده ژر ده چي وبه ښوولی سی (ده ته) بيا به جزاء ورکړی سی هغه ته

الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿۴۱﴾ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ﴿۴۲﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ

الْجَزَآءَ	الْاَوْفٰى	وَاَنَّ	اِلٰى رَبِّكَ	الْمُنْتَهٰى	وَاَنَّهٗ	هُوَ	اَضْحَكَ
جزاء	پوره بدل ښه	او بيشکه!	رب ستا ته ده	انتها د ټولو	او بيشکه!	هم هغه (الله)	خندوی

جزاء پوره بدل ښه. او بيشکه! (داچي) رب ستا ته ده انتهاء دټولو (مخلوقاتو). او (داچي) بيشکه! همغه (الله) خندوی

وَاَبْكٰى ﴿۴۳﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ﴿۴۴﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ

وَاَبْكٰى	وَاَنَّهٗ	هُوَ	اَمَاتَ	وَاَحْيَا	وَاَنَّهٗ	خَلَقَ
او ژړوی	او بيشکه!	همغه (الله)	وژني	او ژوندی کوی	او بيشکه! همغه (الله)	پيدا کړی يئ دی

او ژړوی. او بيشکه! همغه (الله) وژني او ژوندی کوی. او (داچي) بيشکه! همغه (الله) پيدا کړی يئ دی

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾

الزَّوْجَيْنِ	الذَّكَرَ	وَالْاُنْثٰى	مِنْ نُّطْفَةٍ	اِذَا	تُمْنٰى
جوړي	نر	او ښځه	له يوه څاڅکی او بوڅخه	کله چي	وڅڅاوه سی (په رحم کښی)

جوړي نر او ښځه. له يوه څاڅکی او بو د (مني) څخه کله چي وڅڅاوه سی (په رحم کښی)

وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿۴۸﴾

وَاَنَّ	عَلَيْهِ	النَّشْاَةَ	الْاُخْرٰى	وَاَنَّهٗ	هُوَ	اَغْنٰى	وَاَقْنٰى
او بيشکه!	په ده باندی	دی پيدا کول	د دوهم ځلی	او بيشکه!	همغه (الله)	غنی کوی	او خزانی ورکوی

او (داچي) بيشکه! په ده باندی دی پيدا کول د دوهم ځلی (پس له مرګه). او بيشکه! همغه (الله) غنی کوی او خزانی ورکوی

وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾ وَاَنَّهٗٓ اَهْلَكَ عَادًا الْاُوْلٰى ﴿۵۰﴾

وَاَنَّهٗ	هُوَ	رَبُّ	الشِّعْرٰى	وَاَنَّهٗ	اَهْلَكَ	عَادًا	الْاُوْلٰى
او بيشکه!	هم هغه (الله)	رب	دشعری ستوری دی	او بيشکه! هم هغه (الله)	هلاک کړی دی	عاديان	مخکنی، پخوا

او بيشکه! هم هغه (الله) رب دشعری (ستوری) دی. او (داچي) بيشکه! هم هغه (الله) هلاک کړی دی عاديان مخکني

وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ﴿۴۱﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ.. دالله جل جلاله په دربار کي اصل حقيقت ته هم کتل کيږي: يعني صرف دهرسړي ظاهري کوشش نه دی کافي دالله جل جلاله په دربار کي به دسعی کوشش اصل حقيقت ته هم کتل کيږي چي ده په اخلاص سره دالله جل جلاله دپاره کړی دی يا نور دنيوي غرضونه په کښي شامل دي لکه چي په حديث شريف کي دنبي کريم ﷺ ارشاد دی چي: انما الاعمال بالنيات يعني صرف دعمل صورت کافي نه دی په عمل کي خالص نيت دالله جل جلاله درضا او حکم منلو ضروري دی: وان الی ربک المنتهی مراد دادی چي آخر دټولو دالله جل جلاله طرف ته واپسي ده او دعملونو حساب به ورکول وي ځينو مفسرينو حضراتو د دې جملې دا مطلب مقرر کړی دی چي دانساني غور او فکر سلسله چي دالله جل جلاله ذات ته رسيږي ختمه سي دده دذات او صفاتو حقيقت په څه غور او فکر سره نه سي حاصليدای او نه په دي کي دغور او فکر اجازت سته لکه چي په روايتونو کي دي چي دالله جل جلاله په نعمتونو کي فکر کوی نه په ذات کي الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص ۶۲)

وَثَمُوۡدَاۡ فَمَاۤ اَبۡقٰى ۝۵۱ وَقَوۡمَ نُوۡحٍ مِّنۡ قَبۡلُ ؕ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا

وَثَمُوۡدَاۡ	فَمَاۤ اَبۡقٰى	وَقَوۡمَ	نُوۡحٍ	مِّنۡ قَبۡلُ	اِنَّهُمۡ	كَانُوۡا
او ثمودیان	پس باقي يې پرې نه ښود بل هيڅوک	او قوم	دنوح	پخواله دوی څخه	بيشکه! چې دوی	ؤ

او ثمودیان پس باقي يې پرې نه ښود بل هيڅوک (له هغوی څخه) او قوم د نوح پخوا له دوی څخه بيشکه! چې دوی ؤ

هُمۡ اَظۡلَمَ وَاَطۡغٰى ۝۵۲ وَالۡمُؤۡتَفِكَةَ اَهۡوٰى ۝۵۳ فَغَشّٰىهَا مَا

هُمۡ	اَظۡلَمَ	وَاَطۡغٰى	وَالۡمُؤۡتَفِكَةَ	اَهۡوٰى	فَغَشّٰىهَا مَا
هم دوی	ډير ظالمان	او ډير سرکشان	او هغو کليو اړوليو سوی لره يې	کښته راوغورځول	پس پټ کړل هغو لره هغه څه

هم دوی ډير ظالمان او ډير سرکشان. او هغو کليو اړوليو سوی لره يې کښته راوغورځول. پس راولويد په هغه باندی هغه څه

غَشّٰى ۝۵۴ فَبِاَىِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ۝۵۵ هٰذَا نَذِيۡرٌ مِّنَ

غَشّٰى	فَبِاَىِّ	اٰلَاۤءِ	رَبِّكَ	تَتَمَارٰى	هٰذَا	نَذِيۡرٌ	مِّنَ
چې پټ يې کړل	پس په کومو	نعمتونو	درب خپل	شک کوی ته	دغه (محمد)	يېرووونکی دی	له (جملې د)

چې راولويد . پس په کومو نعمتونو درب خپل شک کوی ته (ای کافره) .دغه (محمد) يېرووونکی دی له (جملې د)

النُّذُرِ الۡاُوۡلٰى ۝۵۶ اَزِفَتِ الۡاٰزِفَةُ ۝۵۷ لَيۡسَ لَهَا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

النُّذُرِ	الۡاُوۡلٰى	اَزِفَتِ	الۡاٰزِفَةُ	لَيۡسَ	لَهَا	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ
يېرووونکو	مخکنيو څخه	رانژدې سو	نژدې راتلونکی	نسته	هغه لره	پرته	له الله

يېرووونکو مخکنيو (اولنيو) څخه. رانژدې سو راتلونکی (قيامت) نسته هغه لره پرته (علاوه) له الله

كَاشِفَةٌ ۝۵۸ اَفَمِنۡ هٰذَا الۡحَدِيۡثِ تَعۡجَبُوۡنَ ۝۵۹ وَتَضۡحَكُوۡنَ

كَاشِفَةٌ	اَفَمِنۡ	هٰذَا	الۡحَدِيۡثِ	تَعۡجَبُوۡنَ	وَتَضۡحَكُوۡنَ
ښکاره کوونکی	آيا پس	له دی	خبری (قرآن) څخه	تعجب کوئ تاسی	او خاندئ تاسی

ښکاره کوونکی (راوستونکی). آيا پس له دی خبری (قرآن) څخه تعجب کوئ تاسی او خاندئ تاسی (تمسخراً)

وَلَا تَبۡكُوۡنَ ۝۶۰ وَاَنۡتُمۡ سٰمِدُوۡنَ ۝۶۱ فَاسۡجُدُوۡا لِلّٰهِ وَاعۡبُدُوۡا ۩ ۝۶۲

وَلَا تَبۡكُوۡنَ	وَاَنۡتُمۡ	سٰمِدُوۡنَ	فَاسۡجُدُوۡا	لِلّٰهِ	وَاعۡبُدُوۡا
او نه ژاړئ	او تاسی	غافلان يئ بيکاره	پس سجده کوئ تاسی	الله ته	او عبادت کوی دهم دغه

او نه ژاړئ (خوفاً) او تاسی غافلان يئ بيکاره لوبی کوئ. پس سجده کوئ تاسی (خاص) الله ته او عبادت کوی دهم دغه.

وَالۡمُؤۡتَفِكَةَ اَهۡوٰى ۝۵۳ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى...سره متصل يو څو ښارونه چې حضرت لوط ﷺ ورته ليږل سوی وو: دنافرمانی او بې حيايی دعملونو په سزا کې ددوی کلي حضرت جبرآئيل ﷺ سرچپه کړل: رواياتو کې دي چې حضرت جبرآئيل ﷺ ددوی کلي دومره پورته کړه دپيشلمي پر وخت چې دآسمان اوسيدونکو فرشتو ددغه کلو دچرګانو او دسپو آوازونه واوريده دآخوايه سرچپه راوغورځول نوبيا پټ کړه دغه کلي کم شي چې پټول مراد ورڅخه هغه دکاڼو باران دی کم چې ددې کلو دچپه کيدوڅخه وروسته پر دوی وسو: تر دې ځايه پوري په حواله دصحيفو دحضرت موسی ﷺ او ابراهيم ﷺ سره چې کم تعليمات بيانول وو هغه ختم سو: فبأيِّ آلاء ربّک تتماری حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې داخطاب هر انسان ته دی چې تيروا ياتونو او دحضرت موسی ﷺ او حضرت ابراهيم ﷺ په صحيفو کي په راغلو رباني ايتونو کي څوک ذره هم غور اوفکر وکي نو هغه ته به ددغه دين په حق کيدو کي هيڅ شک او شبه پاته نه سي الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۶۳)

السجدة ۱۴ ع ۳

رکوعې ٣ — ٥٤ سُوْرَةُ الْقَمَرِ مَكِّيَّةٌ ٣٧ — اٰیاتونه ٥٥

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ① وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً

اِقْتَرَبَتِ	السَّاعَةُ	وَانْشَقَّ	الْقَمَرُ	وَاِنْ	يَّرَوْا	اٰيَةً
رانږدې سو	قیامت	او شیری دوه ټوټې سوه	سپوږمی	او که	ووینی دغه	کوم دلیل

رانږدې سو قیامت او شیری دوه ټوټې سوه سپوږمی. او که ووینی دغه (کفار د قریشو) کوم دلیل (دقدرت)

يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ② وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا

يُّعْرِضُوْا	وَيَقُوْلُوْا	سِحْرٌ	مُّسْتَمِرٌّ	وَكَذَّبُوْا	وَاتَّبَعُوْٓا
مخ به واړوی دوی	او وایئ به دوی	جادو دی	دیخوا څخه را روان	او دروغجن کوی دوی	او متابعت کوی دوی

مخ به واړوی دوی او وایئ به دوی (دغه) کوډی دی قوی چې له پخوا راهسې راځی. او دروغجن کوی دوی او متابعت کوی

اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ③ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ

اَهْوَآءَهُمْ	وَكُلُّ	اَمْرٍ	مُّسْتَقِرٌّ	وَلَقَدْ	جَآءَهُمْ	مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ
دخواهشاتو خپلو	او هر	کار	قرارنیوونکی دی	او خامخا په تحقیق	راغلی دی دوی ته	له خبرونو څخه

دوی، دخواهشاتو خپلو او هر کار قرار نیوونکی دی. او خامخا په تحقیق راغلی دی دوی ته خبر د هلاکت دپخوانیو امتونو

مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ④ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ⑤

مَا فِيْهِ	مُزْدَجَرٌ	حِكْمَةٌ	بَالِغَةٌ	فَمَا تُغْنِ	النُّذُرُ
هغه چې په هغه کښی	عبرت ؤ	حکمت دی	کامل نهایت ته رسیدلی	پس هیڅ نفع نه رسوی	بیروونکی

هغه چې په هغه کښی امتناع، عبرت ؤ (له کفره). حکمت دی کامل نهایت ته رسیدلی پس هیڅ نفع نه رسوی بیروونکی

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ نُّكُرٍ ⑥

فَتَوَلَّ	عَنْهُمْ	يَوْمَ	يَدْعُ	الدَّاعِ	اِلٰى شَيْءٍ	نُّكُرٍ
نو مخ وګرځوه ته	له هغوی څخه	(یادکړه) ورځ	چې راوبولی	بلونکی	یو شی	نا اشناته

(انبیاء، قرآن) نو مخ وګرځوه ته له هغوی څخه، (او یاد کړه هغه) ورځ چې راوبولی (دوی لره) بلونکی یو شی نا اشنا ته

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ... دقیامت دنږدې کیدو یو دلیل دسپوږمی دوې ټکرې کیدل: دقیامت په علاموکې یوه لویه علامه په خپله دنبي کریم ﷺ بعثت او نبوت دی لکه چې په حدیث شریف کې چې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې زما راتلل او قیامت داسې یوځای دی لکه دلاس دوې ګوتې او نور یې هم څو روایتونه په حدیث کې ددوی قیامت ته دنږدې کیدو بیان فرمایلی دی دغه شان یوه لویه علامه دقیامت دا هم ده چې ددوی دمعجزې په طوربه سپوږمی دوې ټکرې سي جلا جلا به سي بیا به دیو بل سره یو ځای سي دارنګه دسپوږمی دوې ټکرې کیدل په دې حیثیت سره هم دقیامت علامه ده چې څنګه دغه وخت دالله ﷻ په قدرت سره سپوږمی دوې ټکرې سوه دغه شان به قیامت کې ټولې سیارې او ستورې ټکرې کیدل څه مستبعد کار نه دی: دمکې کفارو دنبي کریم ﷺ څخه دغه دنبوت او رسالت دپاره څه نښانه دمعجزې طلب کړه الله ﷻ ددوی دحقانیت دثبوت دپاره دا معجزه دشق القمر ظاهره کړه. (معارف القرآن ج٩ پ٢٧ ص٦٧)

خُشَّعًا اَبۡصَارُهُمۡ یَخۡرُجُوۡنَ مِنَ الۡاَجۡدَاثِ كَاَنَّهُمۡ

خُشَّعًا	اَبۡصَارُهُمۡ	یَخۡرُجُوۡنَ	مِنَ الۡاَجۡدَاثِ	كَاَنَّهُمۡ
حال داچې بیریدونکې به وی	سترګی د دوی	را وبه وځی دوی	له قبرونو څخه	ګواکی دوی به

حال داچې بیریدونکې به وی سترګی د دوی، راوبه وځی دوی له قبرونو څخه ګواکی دوی به

جَرَادٌ مُّنۡتَشِرٌ ⑦ مُّهۡطِعِیۡنَ اِلَی الدَّاعِ ؕ یَقُوۡلُ الۡكٰفِرُوۡنَ

جَرَادٌ	مُّنۡتَشِرٌ	مُّهۡطِعِیۡنَ	اِلَی الدَّاعِ	یَقُوۡلُ	الۡكٰفِرُوۡنَ
ملخان وی	پاشل سوی	چی تلوار کوونکی به وی	په لوری دبلونکی خپل	وایئ به	کافران

ملخان، مچان وی خواره واره سوی. چی تلوار کوونکی به وی په لوری دبلونکی خپل، وایئ به کافران

هٰذَا یَوۡمٌ عَسِرٌ ⑧ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوۡحٍ فَكَذَّبُوۡا

هٰذَا	یَوۡمٌ	عَسِرٌ	كَذَّبَتۡ	قَبۡلَهُمۡ	قَوۡمُ	نُوۡحٍ	فَكَذَّبُوۡا
دا	ورځ ده	ډیره سخته	دروغجن کړی دی	پخوا له دوی څخه	قوم	دنوح	نو دروغجن کړی دوی

داورځ ده ډیره سخته. دروغجن کړی دی پخوا له دوی څخه قوم د نوح انبیاؤ لره نو دروغجن کړی دوی

عَبۡدَنَا وَقَالُوۡا مَجۡنُوۡنٌ وَّازۡدُجِرَ ⑨ فَدَعَا رَبَّهٗۤ

عَبۡدَنَا	وَقَالُوۡا	مَجۡنُوۡنٌ	وَّازۡدُجِرَ	فَدَعَا	رَبَّهٗۤ
بنده زموږ	او وی ویل	چی لیونی دی	او منع کړی سوی دی	پس دعاء وکړه (نوح)	له ربه خپله

بنده زموږ او وی ویل چی (دغه نوح) لیونی دی او منع کړی سوی دی (له دعوت). پس دعاء، سوال وکړ (نوح) له ربه خپله

اَنِّیۡ مَغۡلُوۡبٌ فَانۡتَصِرۡ ⑩ فَفَتَحۡنَاۤ اَبۡوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ

اَنِّیۡ	مَغۡلُوۡبٌ	فَانۡتَصِرۡ	فَفَتَحۡنَاۤ	اَبۡوَابَ	السَّمَآءِ	بِمَآءٍ
چی بیشکه! زه	مغلوب عاجز سوی یم	نو بدل می واخله	نو خلاصی کړی موږ	دروازی	دآسمان	په اوبو

(داسی چی) بیشکه! زه مغلوب عاجز سوی یم نو بدل می واخله (له کفارو). نو پرانیستلی موږ دروازی د آسمان په اوبو

مُّنۡهَمِرٍ ⑪ وَّفَجَّرۡنَا الۡاَرۡضَ عُیُوۡنًا فَالۡتَقَی الۡمَآءُ عَلٰۤی اَمۡرٍ

مُّنۡهَمِرٍ	وَّفَجَّرۡنَا	الۡاَرۡضَ	عُیُوۡنًا	فَالۡتَقَی	الۡمَآءُ	عَلٰۤی اَمۡرٍ
ډیروراتویدونکوسره	اوروانی کړی موږ	له مځکی څخه	چینی	بیا سره ګډی سوی	تولی اوبه	پر هغه کار باندی

ډیرو راتویئ سویو سره. او روانی کړی موږله مځکی څخه چینی بیا سره ګډی سوی تولی اوبه په هغه کار باندی

فَكَذَّبُوۡا عَبۡدَنَا وَقَالُوۡا مَجۡنُوۡنٌ وَّازۡدُجِرَ...قوم دنوح علیه السلام نوح علیه السلام ته مجنون وویل او بیا یې وترټی: او بیایې اخطار ورکړی درسالت دتبلیغ څخه یې منع کړی لکه چې په یوبل آیت کې دي چې دې خلګو حضرت نوح علیه السلام ته دا اخطار ورکی چې که ته دخپل تبلیغ ددعوت څخه منع نه سوې نو موږ به تا په کانړوولو اومړ به دې کړو عبد ابن حمید دمجاهد رحمة الله علیه څخه نقل کړي دي چې دحضرت نوح علیه السلام دقوم ځینو خلګو چې به کله حضرت نوح علیه السلام یو ځای پیدا کی نو ځینې وخت به یې دده غاړه خپه کوله تر دې پوري چې دی علیه السلام به بې هوښه سو بیا چې به په هوښ کې رالی نو دالله جل جلاله څخه به یې دا سوال کوی چې یاالله جل جلاله زما قوم معاف کړې دوی دحقیقت څخه ناخبره دي نهه نیم سوه کاله یې دقوم ددې ازارونو جواب په دعاګانو سره ورکولو کي تیر کړل اخر عاجزه سو او ښراوي یې وکړې چې ذکر یې په راتلونکي آیت کې دي دکم په نتیجه کې چې تول غرق سوداوبو په طوفان سره او نیست اونابود سوالخ.

(معارف القرآن ج٩پ٢٧ص ٧٢)

قَدۡ قُدِرَ ۝١٢ وَحَمَلۡنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلۡوَاحٍ وَّدُسُرٍ ۝١٣ تَجۡرِىۡ

قَدۡ قُدِرَ	وَحَمَلۡنٰهُ	عَلٰى ذَاتِ	اَلۡوَاحٍ	وَّدُسُرٍ	تَجۡرِىۡ
چي په تحقيق مقرر سوی ؤ	او سپور کړی وو موږ دغه	پر خاوند	دتختو پلنو	اودغټو ميخونو	چي تلله

چي تاکلی مقرر سوی ؤ. او سور کړی وو موږ دغه (نوح) پر (کشتي) خاوند د تختونو پلنو او ميخونو پرېيو وه. چي تلله

بِاَعۡيُنِنَا ۚ جَزَآءً لِّمَنۡ كَانَ كُفِرَ ۝١٤ وَلَقَدۡ تَّرَكۡنٰهَآ

بِاَعۡيُنِنَا	جَزَآءً	لِّمَنۡ	كَانَ كُفِرَ	وَلَقَدۡ	تَّرَكۡنٰهَآ
زموږ دسترګو په مخ کی	لپاره دامداد	دهغه چا	دکوم شخه چي انکار سوی ؤ	او خامخا په تحقيق	پرېښودله موږ دغه

زموږ دسترګو په وړاندی دجزاء ورکولو دپاره هغه چاته چي کفران داحسان يئ سوی ؤ. او خامخا په تحقيق پرېښودله موږ دغه

اٰيَةً فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ۝١٥ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِىۡ وَنُذُرِ ۝١٦ وَلَقَدۡ

اٰيَةً	فَهَلۡ	مِنۡ مُّدَّكِرٍ	فَكَيۡفَ	كَانَ	عَذَابِىۡ	وَنُذُرِ	وَلَقَدۡ
يو دليل	نو آيا سته	شوک پند اخيستونکی	پس څرنګه	ؤ	عذاب زما	او بيرول زما	او خامخا په تحقيق

(کشتي) يو دليل نو آيا سته شوک پند اخيستونکی. پس څرنګه ؤ عذاب زما او بيرول (زما په ژبی د نوح). او خامخا په تحقيق

يَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ۝١٧ كَذَّبَتۡ عَادٌ

يَسَّرۡنَا	الۡقُرۡاٰنَ	لِلذِّكۡرِ	فَهَلۡ	مِنۡ مُّدَّكِرٍ	كَذَّبَتۡ	عَادٌ
آسان کړی دی موږ	قرآن	دپاره د پند اخيستلو	نو آيا سته	شوک پند اخيستونکی	دروغجن کړی ؤ	عاديانو

آسان کړی دی موږ قرآن دپاره د پند اخيستلو نو آيا سته شوک پند اخيستونکی. دروغجن کړی ؤ عاديانو (هود)

فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِىۡ وَنُذُرِ ۝١٨ اِنَّآ اَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيۡحًا

فَكَيۡفَ	كَانَ	عَذَابِىۡ	وَنُذُرِ	اِنَّآ	اَرۡسَلۡنَا	عَلَيۡهِمۡ	رِيۡحًا
نو څرنګه	ؤ	عذاب زما	او بيرول زما	بيشکه ! موږ	ليږلی ؤ موږ	پر دوی باندی	باد

نو څرنګه ؤ عذاب زما او بيرول زما بيشکه! موږ ليږلی ؤ موږ پر دوی باندی باد

صَرۡصَرًا فِىۡ يَوۡمِ نَحۡسٍ مُّسۡتَمِرٍّ ۝١٩ تَنۡزِعُ النَّاسَ

صَرۡصَرًا	فِىۡ يَوۡمِ	نَحۡسٍ	مُّسۡتَمِرٍّ	تَنۡزِعُ	النَّاسَ
ډير تند ، سخت	په ورځی	سپيری کښی	چي هميشه وی	چي را ايستل به يئ	خلګ

ډير سخت په ورځی نحسی (دبدی) کښی چي تل وی (بدی يئ). چي را ايستل به (باد له پټو ژورو کندو شخه) خلګ

وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ

الله ﷻ قران کريم دحفظ دپاره اسانه کړی دی:

دذکر معنی يادول او حفظ کول راځي او دځه خبري شخه پند او عبرت حاصلول هم راځي. دا دواړي معناوي دلته مراد کيدای سي چي الله ﷻ قرآن کريم دحفظ دپاره اسانه کړی دی: داخبره دده شخه مخکي يو کتاب ته هم حاصله نه وه چي ټول کتاب تورات ،يا انجيل ، يا زبور دي چاته زباني ياد وي او دا دالله ﷻ داسانه کولو اثر دی چي دمسلمانانو واړه واړه بچيان قرآن کريم داسي پوره پوره يادوي چي ديوه زبر يا زير فرق هم نه وي په کښي څه دپا سه څوارلس سوه کلونه او بيا په هره زمانه کي او په هره طبقه کي او په هره خطه کي په زرګونولکونوحافظانو په سينو کي دالله ﷻ دا کتاب محفوظ راروان دی او دا معنی هم کيدای سي چي قرآن کريم دعبرت او نصيحت خپل مضامين داسي آسان کړي دي چي لکه ځنګه چي دلوی شخه لوی عالم ، ماهر فلسفي، اوحکيم ددې شخه فايده اخيستی سي عام خلګ يي هم اخيستی سي الخ.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۷۳)

١ ع ٢٢ ٨

كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾

كَأَنَّهُمْ	أَعْجَازُ	نَخْلٍ	مُّنقَعِرٍ	فَكَيْفَ	كَانَ	عَذَابِي	وَنُذُرِ
ګواکی دوی	تنې	دخرماؤ وی	چې له بیخه را ایستلی سوی وی	نو څنګه	ؤ	عذاب زما	او بیرول زما

ګواکی دوی تنې د خرماؤ وی چې له بیخه را ایستلی سوی وی په مځکه پریوتی وی. نو څنګه ؤ عذاب زما او بیرول زما

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾

وَلَقَدْ	يَسَّرْنَا	الْقُرْآنَ	لِلذِّكْرِ	فَهَلْ	مِن مُّدَّكِرٍ
او خامخا په تحقیق	آسان کړی دی موږ	قرآن	پند اخیستلو ته	نو آیا سته	څوک پند اخیستونکی

او خامخا په تحقیق آسان کړی دی موږ قرآن ذکر، پند اخیستلو ته نو آیا سته څوک یادوونکی پند اخیستونکی

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ

كَذَّبَتْ	ثَمُودُ	بِالنُّذُرِ	فَقَالُوا	أَبَشَرًا	مِّنَّا	وَاحِدًا	نَّتَّبِعُهُ
دروغجن کړي ؤ	ثمودیانو	بیروونکی	پس وویل دوی	آیا یو بشر لره	له موږ څخه	یو دی	متابعت وکړو ده لره

دروغجن کړي ؤ ثمودیانو بیروونکی. پس وویل دوی آیا یو بشر لره له موږ څخه یو دی متابعت وکړو (موږ) ده لره

إِنَّا إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَأُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ

إِنَّا	إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ	وَسُعُرٍ	أَأُلْقِيَ	الذِّكْرُ	عَلَيْهِ
بیشکه! موږ	په دغه وخت کښی خامخا به یو په ګمراهی	او لیونتوب کښی	آیا غورځول سوی دی	ذکر وحی	په ده باند

بیشکه! موږ په دغه وخت کښی خامخا به یو په ګمراهی او لیونتوب کښی. آیا غورځول سوی دی ذکر وحی په ده باندی

مِنۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا

مِنۢ بَيْنِنَا	بَلْ هُوَ	كَذَّابٌ	أَشِرٌ	سَيَعْلَمُونَ	غَدًا
په مینځ زموږ کښی	بلکه دی	ډیر دروغجن	متکبر دی	ژر ده چې پوه به سی دوی	سهار

په مینځ زموږ کښی بلکه دی ډیر دروغجن متکبر دی. ژر ده چې پوه به سی دوی سهار (په وخت د نزول د عذاب کښی)

مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ

مَّنِ الْكَذَّابُ	الْأَشِرُ	إِنَّا	مُرْسِلُوا	النَّاقَةِ	فِتْنَةً	لَّهُمْ
چې څوک دی هغه دروغجن	متکبر	بیشکه! موږ	لیږونکي یو	داوښی	دپاره دفتنی، ازموینت	د دوی

چې څوک دی هغه ډیر دروغجن متکبر. بیشکه! موږ لیږونکی یو د اوښی دپاره دفتنی ازموینت د دوی

كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ.. قوم دعادیانو الله جل جلاله په یو سخت عذاب سره هلاک کړی: په دغه ایاتونو کي الله جل جلاله دعادیانو دقوم د هلاکت بیان کړی دی هغه داسي چي الله جل جلاله ددوی داصلاح او هدایت دپاره حضرت هود علیه السلام ورولیږی لیکن دوی بدبختانو دهغه تکذیب وکړی او دهغه خبره یي ونه منله الله پاک جل جلاله پر دوی باندي یو تیز او تند او یخ باد او هوا مسلطه کړله او هغه هوا به خلګ داسي ددوی دځایه څخه پورته کوله او بیا به یي دمځکي څخه وهله او ویشتله چي ګواکي دوی دویشتلو سوو خرماوو تني دي په دغه تشبیه کي علاوه ددوی دراویشتلو او دمځکي دوهلو څخه اشاره دې ته هم ده چي ددوی قد اوقامت او بدنونه ډیر اوږده وه نو الله جل جلاله فرمایي چي ای زما بندګانو ددغه قوم دهلاکت څخه عبرت واخلی او وګوری چي زما عذاب او بیرول پر دوی باندي څنګه هیبتناک سوه اوموږ قرآن کریم دنصیحت حاصلولو دپاره اسانه جوړ کړی دی ایا څوک نصیحت حاصلوونکی سته ؟ (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۷۵)

فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ

فَارْتَقِبْهُمْ	وَاصْطَبِرْ	وَنَبِّئْهُمْ	اَنَّ	الْمَآءَ	قِسْمَةٌ
پس منتظر اوسه ته دوی ته	او صبر وکړه	او خبر کړه دوی	چي بیشکه!	اوبه	ویشلې سوې دي

پس منتظر اوسه ته (ای صالح!) دوی ته او صبر وکړه. او خبر کړه دوی (په دې) چي بیشکه! اوبه ویشلې سوې دي

بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ

بَيْنَهُمْ	كُلُّ	شِرْبٍ	مُّحْتَضَرٌ	فَنَادَوْا	صَاحِبَهُمْ
په مینځ د دوی کښې	هر وار	د اوبو څښلو ته	حاضر کړی سوی دی	نو آواز وکړ دوی	ملګری خپل ته

په مینځ د دوی کښې هر وار د اوبو څښلو ته حاضر کړی سوی دی خاوندان د اوبو. نو اواز وکړ دوی ملګری خپل ته

فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ اِنَّآ

فَتَعَاطٰى	فَعَقَرَ	فَكَيْفَ	كَانَ	عَذَابِيْ	وَنُذُرِ	اِنَّآ
نو ده لاس ور واچوئ	پس پرې یئ کړې پښې	پس څرنګه	ؤ	عذاب زما	او بیرول زما	بیشکه! موږ

پس پرې یئ کړې پښې (دهغې اوښې او وریسې مړه یئ کړه). پس څرنګه ؤ عذاب زما او بیرول زما. بیشکه! موږ

اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾

اَرْسَلْنَا	عَلَيْهِمْ	صَيْحَةً	وَّاحِدَةً	فَكَانُوْا	كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ
ولیږه موږ	پر هغو باندې	رغ (د جبرئیل)	یو	نو سول دوی	لکه وچ مات سوی توتې توتې خس خاشاک

ولیږه موږ پر هغو باندې رغ یو (د جبرئیل) نو سول دوی لکه وچ مات سوی وابنه شپول جوړوونکی

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ

وَلَقَدْ	يَسَّرْنَا	الْقُرْاٰنَ	لِلذِّكْرِ	فَهَلْ
او خامخا په تحقیق	آسان کړی دی موږ	قرآن	لپاره د پند اخیستلو	نو آیا سته

وابنه او خامخا په تحقیق آسان کړی دی موږ قرآن لپاره د ذکر، یادولو، پند اخیستلو نو آیا سته

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍۢ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا

مِنْ مُّدَّكِرٍ	كَذَّبَتْ	قَوْمُ	لُوْطٍ	بِالنُّذُرِ	اِنَّآ	اَرْسَلْنَا
څوک پند اخیستونکی	دروغجن کړی ؤ	قوم	دلوط	بیروونکی	بیشکه! موږ	لیږلی ؤ موږ

څوک یا دوونکی، پند اخیستونکی. دروغجن کړی ؤ قوم دلوط بیروونکی انبیاء لره بیشکه! موږ لیږلی ؤ موږ

وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ. حضرت صالح علیه السلام ته هم خپل قوم نسبت ددرواغوو کړی: په دغه ایتونو کي الله جل جلاله دصالح علیه السلام دقوم د نافرمانی او پرهغه معجزه چي الله جل جلاله صالح علیه السلام ته ورکړې وه یعني اوښه پر هغې ددوی ظلم او تیری او پرهغه ظلم باندي راضي کیدل بیان کړي دي: فرمایي چي ثمودیانو هم دراليږل سوو بیروونکو نبیانو تکذیب وکړی او کله چي حضرت صالح علیه السلام دوی ته راغی نو دوی وویل چي ایا بشر یعني انسان هم نبي کیدای سي او بیا په موږ ټول قوم کي صالح ته نبوت ورکول سو بل څوک نه وو ددې کار دانتخاب دپاره که اوس موږ دده تابعداري وکړو نو موږبه په یوغټه غلطی کي مبتلا سو او یابه په جنون او لیونتوب کسي راسو بلکي دی چي دی لوی درواغجن او تکبر کوونکی دی دامتکبره دلويي داسي خبري کوي چي خلګ ما سردار وبولي الله جل جلاله حضرت صالح علیه السلام ته وفرمایل چي ددوی په دې فضول خبرو پسې مه ګرځه ژر به دوی ته معلومه سي چي درواغجن څوک دي؟

(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۷۶)

عَلَيْهِمْ حَاصِبًا اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ۭ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً

عَلَيْهِمْ	حَاصِبًا	اِلَّآ	اٰلَ	لُوْطٍ	نَجَّيْنٰهُمْ	بِسَحَرٍ	نِّعْمَةً
پر دوی باندی	باد (کانی ویشتونکی)	مگر	کورنی	دلوط	ومو ژغورل دوی	په پیشلمی کښی	له جهته د مهربانی

پر دوی باندی باد کانی ویشتونکی مگر کورنی د لوط ومو ژغورل (وموساتل) دوی په پیشلمی کښی له جهته د مهربانی

مِّنْ عِنْدِنَا ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ

مِّنْ عِنْدِنَا	كَذٰلِكَ	نَجْزِيْ مَنْ	شَكَرَ	وَلَقَدْ	اَنْذَرَهُمْ
له نزده زمونږ	هم داسی	جزاء ورکوو مونږ هغه ته	چی شکر باسی	او خامخا په تحقیق	بیرولی ؤ (لوط) دوی

له نزده زمونږ هم داسی جزاء ورکوو مونږ هغه ته چی شکر باسی حق منونکی وی. او خامخا په تحقیق بیرولی ؤ (لوط) دوی

بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ

بَطْشَتَنَا	فَتَمَارَوْا	بِالنُّذُرِ	وَلَقَدْ	رَاوَدُوْهُ
له نیولو زمونږ څخه	نو شک وکړ دوی	په بیرولو	او خامخا په تحقیق	غوښتی وه دوی له ده غه څخه

له نیولو زمونږ څخه نو شک وکړ دوی په بیرولو (دهغه کښی) . او خامخا په تحقیق غوښتی ؤ دوی له ده غه (لوط څخه)

عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾

عَنْ ضَيْفِهٖ	فَطَمَسْنَآ	اَعْيُنَهُمْ	فَذُوْقُوْا	عَذَابِيْ	وَنُذُرِ
میلمانه د ده	نو ړندی کړی مونږ	سترګی د دوی	پس وڅکئ تاسی	عذاب زما	او بیرول زما

میلمانه د هغه (بدکاری ته) نو محو ړندی کړی مونږ سترګی د دوی پس (وفرمایل الله) وڅکئ تاسی عذاب او بیرول زما

وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوْقُوْا

وَلَقَدْ	صَبَّحَهُمْ	بُكْرَةً	عَذَابٌ	مُّسْتَقِرٌّ	فَذُوْقُوْا
او خامخا په تحقیق	راغلی ؤ دوی ته	په وخت د سهار کښی	عذاب	چی ثابت قرار نیوونکی ؤ	نو وڅکئ تاسی

او خامخا په تحقیق راغلی ؤ دوی ته په وخت د سهار کښی عذاب چی ثابت قرار نیوونکی ؤ. (وفرمائل الله) نو وڅکئ تاسی

عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ ع

٢ ع ١٨ ٩

عَذَابِيْ	وَنُذُرِ	وَلَقَدْ	يَسَّرْنَا	الْقُرْاٰنَ	لِلذِّكْرِ	فَهَلْ	مِنْ مُّدَّكِرٍ
عذاب زما	او بیرول زما	او په تحقیق	آسان کړی دی مونږ	قرآن	دپاره د پند اخیستلو	نو آیا شته	څوک پند اخیستونکی

ثمره د عذاب زما او د بیرولو زما . او خامخا په تحقیق آسان کړی دی مونږ قرآن دپاره د پند اخیستلو نو آیا شته پند اخیستونکی .

وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ. قوم دلوط (عليه السلام) دخپل خواهش دپوره کولو دپاره دلوط (عليه السلام) پر کور راواوښتل دمراودت معنی یوڅوک دخپل نفساني شهوت دپوره کولو دپاره لمسول او غولول دي: مراد دادی چي دلوط (عليه السلام) قوم چونکي په خپل خباثت سره دهلکانو سره دبد فعلی عادت وو او الله (جل جلاله) ددوی دامتحان دپاره ملایکي دښایسته بې ږیرو هلکانو په صورت کي راليږلي وې داشیطانان ددوی دخپل خواهش نښانه کولو دپاره دحضرت لوط (عليه السلام) پرکور راوختل حضرت لوط (عليه السلام) دروازه بنده کړله نو دوی ددروازې په ماتولو یا پر دیوال باندي په راوښتلو شروع سول. حضرت لوط (عليه السلام) پریشانه سو نو دغه وخت ملایکو خپل راز ښکاره کړی چي ته فکر مه کوه دوی زمونږ هیڅ نه سي کولای مونږ دالله (جل جلاله) ملایکي یودوی لره د عذاب ورکولو دپاره راغلي یونور به دوی په هلاکت رسیږي او تاسی به داسي وکړی چي ځان او مسلمانان به وباسی ددې ځایه څخه چي دلته عذاب راځي.
(معارف القرآن ج٩پ٢٧ص ٧٧)

وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿۴۱﴾ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا

وَلَقَدْ	جَآءَ	اٰلَ	فِرْعَوْنَ	النُّذُرُ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا	كُلِّهَا
او خامخا په تحقیق	راغلي ؤ	قوم	دفرعون ته	بیروونکی	دروغجن کړل هغو	دلائل دقدرت زموږ	ټول

او خامخا په تحقیق راغلي ؤ (فرعون او) قوم دفرعون ته بیروونکی، دروغجن کړل هغو دلائل دقدرت زموږ ټول

فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۴۲﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ

فَاَخَذْنٰهُمْ	اَخْذَ	عَزِيْزٍ	مُّقْتَدِرٍ	اَكُفَّارُكُمْ	خَيْرٌ
نو ونیول موږ دوی	په نیولو	دذات ډیر غالب	او قادر سره	آیا کفار ستاسی	غوره دی

نو ونیول موږ دوی په نیولو د ذات ډیر غالب او قادر سره. آیا کفار ستاسی (ای عربو!) غوره دی

مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿۴۳﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ

مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ	اَمْ لَكُمْ	بَرَآءَةٌ	فِي الزُّبُرِ	اَمْ يَقُوْلُوْنَ	نَحْنُ
له مخکنیو ستاسی څخه	یا تاسی ته	خلاصی دی	په کتابونو کښی	آیا وایئ دوی	چی موږ

له مخکنیو (کفارو) ستاسی څخه یا تاسی ته (حکم) خلاصی دی په کتابونو کښی. آیا وایئ دوی (چی) موږ

جَمِيْعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿۴۴﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ ﴿۴۵﴾ بَلِ

جَمِيْعٌ	مُّنْتَصِرٌ	سَيُهْزَمُ	الْجَمْعُ	وَيُوَلُّوْنَ	الدُّبُرَ	بَلِ
یو ټولی	انتقام اخیستونکی یو	ژر ده چی ماته به کړه سی	جمع (د دوی)	او وبه ګرځوی دوی	شاوی خپل	بلکه

یو ټولی مرستی (مدد) کوونکی یو له بل ته. ژر ده چی ماته به کړه سی جمع (د دوی) او وبه ګرځوی دوی شاوی خپل. بلکه

السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ ﴿۴۶﴾ اِنَّ

السَّاعَةُ	مَوْعِدُهُمْ	وَالسَّاعَةُ	اَدْهٰى	وَاَمَرُّ	اِنَّ
قیامت دی	وخت ځای دوعدی د دوی	او قیامت	ډیر سخت دی	او ډیر تریخ دی	بیشکه!

قیامت دی وخت ځای د وعدی (دعذاب) د دوی او قیامت ډیر سخت دی او ډیر تریخ دی (له عذاب د دنیا څخه). بیشکه!

الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۴۷﴾ يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِي النَّارِ

الْمُجْرِمِيْنَ	فِيْ ضَلٰلٍ	وَّسُعُرٍ	يَوْمَ	يُسْحَبُوْنَ	فِي النَّارِ
ګنهګاران	په ګمراهی کښی دی	او په اور ګرم کښی دی	هغه ورځ	چی راکش کړل به سی دوی	په اور (د دوزخ) کښی

ګنهګاران په ګمراهی کښی دی او په اور ګرم (د دوزخ) کښی دی. هغه ورځ چی راکش کړل به سی دوی په اور (د دوزخ) کی

اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ.. ایا دمکې کافران پر تیرو کافرانو فضیلت لري؟

دادکفارو قصې او دکفر په وجه پر دوی دعذاب راتلو واقعات خو تاسي واوریدل اوس کله چي تاسي هم ددې جرم مرتکب یاست نو ستاسي دعذاب څخه دخلاصیدو هیڅ وجه نسته آیا په تاسي کي چي کم کافران دي په دوی کي ددغو مذکوره تیرو خلګو څخه څه فضیلت دی؟ دکم په وجه چي به تاسي سره دجرم کولو سزا نه کی پیدا ،یا ستاسي دپاره په اسماني کتابونو کي څه معافي نامه لیکل سویده که څه هم څه خاص فضیلت نه وي نو په دوی کي څه داسي قوت دی کم چي به دوی دعذاب څخه خلاص کړي لکه چي دا خلګ وایي چي زموږ داسي جماعت دی کم چي به غالب وي او کله چي ددوی دمغلوب کیدو واضح دلیلونه موجو دوي او په خپله هم ددوی دمغلوبیت یقین دی نو بیا دا خبره ددې مستلزمه ده چي په دوی کي څه داسي قوت سته کم چي دعذاب څخه منع کول کولی سي هغه دا چي په ایمان او اسلام سره مشرفه سي الخ
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۷۹)

عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ؕ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ اِنَّا كُلَّ شَیْءٍ

عَلٰى	وُجُوْهِهِمْ	ذُوْقُوْا	مَسَّ	سَقَرَ	اِنَّا	كُلَّ شَیْءٍ
پر	مخونو د دوی	وڅکئ تاسی	لاس رسول	دسقر (اورته)	بیشکه! موږ	هر شی

په مخونو د دوی وڅکئ تاسی (مزه) د مس کولو رسیدلو (د اور) د دوزخ. بیشکه! موږ هر شی

خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَاۤ اَمْرُنَاۤ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾

خَلَقْنٰهُ	بِقَدَرٍ	وَمَاۤ	اَمْرُنَاۤ	اِلَّا	وَاحِدَةٌ	كَلَمْحٍ	بِالْبَصَرِ
پیداکړی مودی هغه	په اندازه سره	او نه دی	امر زموږ	مګر	یو وار	لکه ړپول	دسترګو

پیدا کړی مودی په اندازه سره. او نه دی امر زموږ (یو شی لره چې اراده مو کړی ده) مګر (امر) یو ځل لکه ړپول د سترګو .

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَاۤ اَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ

وَلَقَدْ	اَهْلَكْنَاۤ	اَشْيَاعَكُمْ	فَهَلْ	مِنْ مُّدَّكِرٍ	وَكُلُّ
او خامخا په تحقیق	هلاک کړی دی موږ	مشابه نظائر ستاسی	نو آیا شته	څوک پند اخیستونکی	او هر هغه

او خامخا په تحقیق هلاک کړی دی موږ مشابه نظائر ستاسی (له سابقهٔ اممو) نو آیا شته څوک پند اخیستونکی. او هر هغه

شَیْءٍ فَعَلُوْهُ فِی الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾

شَیْءٍ	فَعَلُوْهُ	فِی الزُّبُرِ	وَكُلُّ	صَغِيْرٍ	وَّكَبِيْرٍ	مُّسْتَطَرٌ
شی	چې کړی دی هغو	په اعمالنامه کښې موجود دی	او هر	وړوکی	او لوی	لیکلی سوی دی

شی چې کړی دی هغوی (لیکلی سوی دی) په لوح محفوظ کښې. او هر وړوکی او لوی لیکلی سوی دی (په لوح محفوظ کی)

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِیْ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِیْ مَقْعَدِ صِدْقٍ

اِنَّ	الْمُتَّقِيْنَ	فِیْ جَنّٰتٍ	وَّنَهَرٍ	فِیْ مَقْعَدِ	صِدْقٍ
بیشکه!	پیریدونکی	به په جنتونو کښې وی	او په ویالو کښې به وی	په مجلس	رښتنی (دجنت) کښې

بیشکه! پیریدونکی به په جنتونو کښې وی او په ویالو کښې به وی په مجلس (حق) رښتنی (دجنت) کښې

عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾ ع

عِنْدَ مَلِيْكٍ	مُّقْتَدِرٍ
په نزد دباچا	لوی قدرت لرونکی

په نزد د باچا لوی قدرت لرونکی (چې هیڅوک یئ نسی عاجزولی).

اِنَّا كُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَاۤ اَمْرُنَاۤ. الله جل جلاله هرشی په یوه خاص انداز سره پیداکړی دی: دقدر لغوي معنی اندازه کول او دخه شي دحکمت او مصلحت مطابق په اندازه سر جوړول دي: په دې آیت کي دالغوي معنی هم مراد کیدی سي چي حق تعالی جل جلاله دعالم ټول مخلوقات او ددوی هره نوع او صنف په یو حکیمانه انداز سره لوی کوچني او په مختلف هیئت او صورت کي جوړ کړي دي بیا دهر نوع او صنف دهر فرد په تخلیق کي هم حکیمانه انداز په لوی حکمت سره ایښی دی ، ګوتي یي ټولي په یوه شان نه دي جوړي کړي او په اوږدوالي کي یي فرق ساتلی دی دلاسونو او پښو په اوږدوالي پلنوالي او په غزیدواوراټولولو او هوارولو کي یي اسپرینګان لګولي دي دیوه یوه اندام یوه یوه جزته چي ګورې نو دقدرت او حکمت خداوندي عجیبه او نادري دروازې خلاصي په نظر درته راځي او په اصطلاح دشرع کي لفظ دقدر په معنی دتقدیر الهي هم استعمالیږي او اکثرو امامانو دتفسیر شریف دځینو. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

٣ ع ١٥ ١٠

أياتونه ٧٨ — ٥٥ سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ مَدَنِيَّةٌ ٩٧ — ركوعوي ٣

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلرَّحْمٰنُ ① عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ② خَلَقَ الْاِنْسَانَ ③ عَلَّمَهُ

عَلَّمَهُ	الْاِنْسَانَ	خَلَقَ	الْقُرْاٰنَ	عَلَّمَ	اَلرَّحْمٰنُ
بيا يئ ورښوولی دی هغه ته	انسان	پيدا کړی يئ دی	قرآن	ښوولی دی	رحمٰن

رحمٰن ښوولی دی قرآن (هغه چاته چې اراده يئ سوی ده). پيدا کړی يئ دی انسان بيا يئ ورښوولی دی هغه ته

الْبَيَانَ ④ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ⑤ وَّالنَّجْمُ

وَّالنَّجْمُ	بِحُسْبَانٍ	وَالْقَمَرُ	اَلشَّمْسُ	الْبَيَانَ
او ستوری	په حساب سره	او سپوږمی	لمر	بيان

بيان (خبری چې د زړه مقصد ونه يئ پرې ادا کيږی). لمر او سپوږمی (جاری او روان) دی په حساب سره. او ستوری يا نباتات

وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ⑥ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ⑦

الْمِيْزَانَ	وَوَضَعَ	رَفَعَهَا	وَالسَّمَآءَ	يَسْجُدٰنِ	وَالشَّجَرُ
ميزان، تله	او ايښی يئ دی	پورته کړی دی (الله) هغه	او آسمان	سجده کوی دوی دواړه	او درختی

او ونی سجده کوی دوی دواړه. او آسمان پورته کړی دی (الله) هغه (پر مځکه باندی) او ايښی يئ دی ميزان، تله

اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ⑧ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا

وَلَا تُخْسِرُوا	بِالْقِسْطِ	الْوَزْنَ	وَاَقِيْمُوا	فِي الْمِيْزَانِ	اَلَّا تَطْغَوْا
او مه کموئ	په انصاف سره	وزن، تول	او برابروئ	په تله کښی	چې ونه کړئ تاسی تيری

چې ونه کړئ تاسی تيری په ميزان، تله (د عدل) کښی. او برابروئ وزن تول په انصاف سره او مه کموئ

الْمِيْزَانَ ⑨ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ⑩ فِيْهَا

فِيْهَا	لِلْاَنَامِ	وَضَعَهَا	وَالْاَرْضَ	الْمِيْزَانَ
په دی (مځکی) کښی	دپاره د خلګو	غوړولی هواره کړی يئ ده	او مځکه	ميزان، تله

ميزان تله (او کمی مه کوئ په تول کښی). او مځکه غوړولی تيته کړی ده (الله) دپاره د خلګو. په دی (مځکی) کښی

عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ② خَلَقَ الْاِنْسَانَ... د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ:

روايتونو د حديث شريف پر بنا په دغه آيت کي د قدر څخه تقدير الهي مراد اخيستی دی: د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي د قريشو مشرکينو يو وار د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره د تقدير د مسئلي په حقله جګړه جوړه کړه نو پر دغه باندي دغه قرآني ايت نازل سو: ددې معنی په اعتبار سره مطلب د آيت دادی چي موږ د ټول عالم يو يو شی د خپل تقدير ازلي مطابق جوړ کړی دی يعني په ازل کي پيدا کيدونکی شی او ددې مقدار او زمانه او مکان او ددې د کميدو زياتيدو پيمانه يي د ده عالم د پيدا کيدو څخه مخکي ليکلې وه څه چي په عالم کي پيدا کيږي هغه ددې ازلي تقدير مطابق کيږي: **د تقدير دا مسئله د اسلام قطعي عقيده ده** ددې منکر کافر او کمي فرقې چي په تاويل سره انکار کوي هغوی فاسقان دي. نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي په هر امت کي مجوسيان وي ددې امت مجوسيان هغه خلګ دي کم چي د تقدير څخه انکار کوي که دا سي خلګ مړه سي کفن مه ورکوی الخ. (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٧ ص ٨١)

فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ۖ﴿۱۱﴾ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ

فَاكِهَةٌ	وَّالنَّخْلُ	ذَاتُ	الْاَكْمَامِ	وَالْحَبُّ	ذُو	الْعَصْفِ
(قسم قسم) میوی دی	او خرماګانی دی	خاوندانی	دپوښو	او دانی دی	خاوندانی	د وښو

(قسم قسم) میوی دی او خرماګانی دی خاوندانی د پوښو . او دانی خاوندانی د وښو

وَالرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾ فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ

وَالرَّيْحَانُ	فَبِاَيِّ	اٰلَاۤءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	خَلَقَ
او خوشبویه ګلونه	پس په کوم یوه نعمت	د نعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	پیدا کړی دی (الله)

او (خاوندانی) د خوشبویئ ورقی د بنو وړمو. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی دروغ وایئ. پیدا کړی دی الله

الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ۙ﴿۱۴﴾ وَخَلَقَ الْجَآنَّ

الْاِنْسَانَ	مِنْ صَلْصَالٍ	كَالْفَخَّارِ	وَخَلَقَ	الْجَآنَّ
انسان	له خټی وچی کړنګیدونکی څخه	په شان د کودری	او پیدا کړی دی (الله)	(پلاړ د) پیریانو (ابلیس)

انسان (آدم) له خټی کړنګیدونکی وچی څخه په شان د کودری. او پیدا کړی دی (الله) (پلاړ د) پیریانو (ابلیس)

مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ۚ﴿۱۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ رَبُّ

مِنْ مَّارِجٍ	مِّنْ نَّارٍ	فَبِاَيِّ	اٰلَاۤءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	رَبُّ
له خالصی شغلی	داور څخه	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	دی رب

له خالصی شغلی د اور څخه (چی دود یئ نه درلود). پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی دروغ وایئ. دی رب

الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ۚ﴿۱۷﴾ فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا

الْمَشْرِقَيْنِ	وَرَبُّ	الْمَغْرِبَيْنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَاۤءِ	رَبِّكُمَا
د دواړو مشرقونو	او رب	د دواړو مغربونو	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی

د دواړو مشرقونو (لمرختو) او رب د دواړو مغربونو (لمرپریوتو، لویدلو). پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی

تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۸﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ۙ﴿۱۹﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ

تُكَذِّبٰنِ	مَرَجَ	الْبَحْرَيْنِ	يَلْتَقِيٰنِ	بَيْنَهُمَا	بَرْزَخٌ
درواغ وایئ	بهولی یئ دی	دوه بحرونه	چی جمع سی دواړه	په مینځ د دواړو کښی	یوه پرده ده

درواغ وایئ. بهولی (بیولی) یئ دی دوه بحرونه چی یوځای ښکاریږی په مینځ د دواړو کښی یوه پرده (دقدرت) ده

وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ. دمځکي څخه دمخلوقاتو دپاره د راوتونکو نعمتونو ذکر:
حب داني یعني غلې ته وايي لکه غنم، نخود، وريجه، لوبيا وغيره:
عصف: هغه بوسو ته ويل کيږي دکموپه مينځ کي چي دانه دخدای په قدرت او بالغ حکمت سره پيدا کيږي ددغه بوسو په غلاف کي دننه بنده سوې دانه دخرابو هواګانو غوماشو، مچيانو څخه محفوظ وي پاک صفا ساتل کيږي: ددانې دپيدايش سره الله جَلَّ جَلَالُهُ ذوالعصف: لفظ زيات کی. غافل انسان يې دې طرف ته هم متوجه کړی دی چي دادودی دال وغيره کم چي دی په ورځ کي خو خو واره خوري ددې يوه يوه دانه مالک او خالق په څنګه څنګه عجيب صنعت سره دخاورواو اوبو څخه پيدا کړه او بيا موڅنګه دادحشرات الارض څخه محفوظه کړه چي پر يوه يوه دانه يې غلاف ورسپورکړی نو دغه ستاسي ګوله اولقمه جوړه سوه. ددې سره دعصف په ذکر کولو کي شايد ديوبل نعمت طرف هم اشاره وي چي دا بوس پروړستاسي دحيوانانو خوراک هم جوړيږي الخ.
(معارف القرآن ج۹پ ۲۷ ص ۹۰)

لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ

لَّا يَبْغِيٰنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	يَخْرُجُ
چي نه ګډيږي	پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسي	درواغ وايئ	راوځي

چي نه ګډيږي (او تجاوز نه کوي يو په بل باندې). پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب ستاسي درواغ وايئ. راوځي

مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٣﴾

مِنْهُمَا	اللُّؤْلُؤُ	وَالْمَرْجَانُ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
له دي دواړو څخه	ملغلري	او مرجان	پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسي	درواغي وايئ

له دي دواړو څخه لؤ لؤ او مرجان پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب ستاسي درواغ وايئ.

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٢٤﴾ فَبِاَيِّ

وَلَهُ	الْجَوَارِ	الْمُنْشَئٰتُ	فِي الْبَحْرِ	كَالْاَعْلَامِ	فَبِاَيِّ
او خاص ده لره دي	کشتي تلونکي	نوي پيدا کړي سوي لوړي	په بحر کښي	لکه لوی لوړ غرونه	پس په کوم يوه نعمت

او خاص دغه (الله) لره دي کشتي تلونکي نوي پيدا کړي سوي لوړي په بحر کښي لکه لوی لوړ غرونه. پس په کوم يوه نعمت

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَّيَبْقٰى

اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	كُلُّ	مَنْ عَلَيْهَا	فَانٍ	وَّيَبْقٰى
دنعمتونو	درب ستاسي	درواغ وايئ	ټول	هغه څوک چي په دی (مځکه) کښي دی	فاني کيدونکی دی	او باقي به پاتي سی

د نعمتونو درب ستاسي درواغ وايئ. ټول هغه څوک چي په دی (مځکه) کښي دی فاني کيدونکی دی. او باقي به پاتي سی

وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

وَجْهُ	رَبِّكَ	ذُو الْجَلٰلِ	وَالْاِكْرَامِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا
ذات	درب ستا	چي خاوند دجلال، لوئی دی	او دعزت ورکولو دی	پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسي

ذات د رب ستا چي خاوند د جلال لوئی دی او (خاوند د) عزت ورکولو دی. پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب ستاسي

تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٨﴾ يَسْئَلُهُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ

تُكَذِّبٰنِ	يَسْئَلُهُ	مَنْ	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	كُلَّ	يَوْمٍ
درواغ وايئ	سؤال کوی له دغه	هرهغه څوک	چي په آسمانونو	او په مځکه کښي دی	هره	ورځ

درواغ وايئ. سؤال غوښتنه کوی له دغه (الله څخه) هر هغه څوک چي په آسمانونو او په مځکه کښي دی هره ورځ

يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ. ددريابونو څخه دراوتونکو نعمتونو ذکر: دلؤلؤ معنی ملغلري او دمرجان معنی وړې ملغلري دي: داهم قيمتي جواهرات دي په دي کي ددرختي په شان ښاخونه وي دادواړه شيان ددريابونو څخه راوزي: مګر معروفه داده چي دادتريخ درياب څخه راوزي دخوږ څخه نه راوځي او په دې ايت کي يي ددواړو څخه راوتل بيان فرمايلي دي ددې توجيه داسي کيدای سي چي ملغلري په دواړو دريابونو کي پيدا کيږي خو شيرين درياب روان وي ددې څخه ملغلري رااېستل آسانه کار نه دی او داخواړه دريابونه ټول ځي په تريخ درياب کي لويږي دهغه ځای څخه بيا رااېستل کيږي په دې وجه دملغلرو منبع تريخ درياب ته ويل کيږي: ولـه الجـوار المنشـئات فـی البحـر کـالاعلام جواری دجاريةٌ جمع ده ددې معنی دکښتی هم راځي هغه دلته مراد دي او دمنشئات څخه مراد دکښتيو بادبانونه دي کم چي دبيرغو په شان لوړ جوړيږي په دي کي د کښتی دصنعت اوداوبو پر سر دتللو دحکمت بيان دی (معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۹۲)

نصف ع ۲۵

هُوَ فِيْ شَاْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٠﴾ سَنَفْرُغُ

هُوَ	فِيْ شَاْنٍ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	سَنَفْرُغُ
دی	په یوه کار کښې دی	پس په کوم یوه نعمت	د نعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	ژر ده چې فارغ به سو موږ

دی په یوه کار کښې دی. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ ژر ده چې فارغ به سو موږ

لَكُمْ اَيُّهَا الثَّقَلٰنِ ﴿٣١﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٢﴾

لَكُمْ	اَيُّهَا	الثَّقَلٰنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
تاسی ته	ای	دوودرنو قبیلو	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ

تاسی ته ای دوو درنو قبیلو (انسانانو او پیریانو). پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ.

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ

يٰمَعْشَرَ	الْجِنِّ	وَالْاِنْسِ	اِنِ اسْتَطَعْتُمْ	اَنْ تَنْفُذُوْا	مِنْ اَقْطَارِ
ای ټولیه	دپیریانو	او دانسانانو	که چیری قدرت لرئ تاسی	چې دباندی ووځئ تاسی	له څنډو (غاړو)

آی ټولیه د پیریانو او د انسانانو که چیری قدرت لرئ تاسی چې بهر ووځئ (وتښتئ تاسی) له څنډو (غاړو)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	فَانْفُذُوْا	لَا تَنْفُذُوْنَ	اِلَّا
د آسمانونو	او دمځکی څخه	پس ووځئ، وتښتئ	وبه نه وځئ وبه نه تښتئ تاسی	مگر

د آسمانونو او د مځکی څخه پس ووځئ وتښتئ وبه نه وځئ وبه نه تښتئ تاسی مگر

بِسُلْطٰنٍ ﴿٣٣﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ

بِسُلْطٰنٍ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	يُرْسَلُ
په قوت او زور سره	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	وبه لیږلی سی

په قوت او زور سره (چې نه یئ لرئ). پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. وبه لیږلی سی

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿٣٥﴾

عَلَيْكُمَا	شُوَاظٌ	مِّنْ نَّارٍ	وَّنُحَاسٌ	فَلَا تَنْتَصِرٰنِ
پر تاسی باندی	خالصی لمبی	له اوره	او دود	بیا به تاسی کومک نسئ کولی یو له بل سره

پر تاسی باندی خالصی لمبی له اوره او په لوګی (سره ګډ) بیا به تاسی مدد نسئ کولی یو له بل سره په دفع د عذاب کښې.

سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَا الثَّقَلٰنِ. ژر ده چي موږ به درفارغه سواي دوو ډلو: ثقلان دثقل تثنيه ده چي معنى يي وزن او باردى ثقلان دوه بارونه: مراد ددي څخه پيريان او انسانان دي لفظ دثقل په عربي ژبه كي هر هغه شي ته ويل كيږي دكم وزن او قدرو قيمت چي معروف وي په دي وجه په حديث شريف كي دنبي كريم ﷺ ارشاد دى: انّى تارک فيكم الثقلين يعني زه دخپل ځان څخه وروسته دوه وزنداره قابل قدر شيان پريږدم كم چي به تاسي ته دهدايت او اصلاح كار دركوي ددي دواړو شيانو بيان په ځينو روايتونو كي كتاب الله وعترتى راغلى دى په ځينو كي كتاب الله وسنتى او خلاصه ددواړو يوه ده ځكه چي دعترت څخه مراد خپل اولاد دى چي نسبي او روحاني دواړه قسمه اولاد و لره شامل دي په دي وجه مراد تول صحابه كرام ﷺ سول او دحديث معنى دا سوه چي دنبي كريم ﷺ څخه وروسته دوه شيان دمسلمانانو دهدايت او اصلاح ذريعه ده يو د الله ﷻ كتاب، دوهم ددوى صحابه ﷺ او د هغوى كردار (معارف القرآن ج ٩ پ ٢٧ ص ٩٨)

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ

دقيامت په ورځ به د يو انسان يا د پيري څخه دهغه دگناه پوښتنه ونه سي: ددې يو مطلب خوداد دی چي ددې خلگو څخه به په قيامت کي دا پوښتنه ونه سي چي تاسي فلانی جرم کړی دی او که نه دی؟ دغه خو دملايکو په ليکل سوو عملناموکي محفوظ او دالله ﷻ په علم ازلي کي ددې څخه مخکي موجود دی بلکي پوښتنه به دا وي چي فلانی جرم تا ولي کړی دی؟: دا تفسير حضرت ابن عباس رضي الله عنه کړی دی او امام مجاهد رحمة الله عليه فرمايي چي کمي ملايکي دمجرمانو پر عذاب ماموره دي هغوی ته به دمجرمانو څخه دپوښتني ضرورت نه وي چي تاسي دا جرم کړی دی او که نه بلکي دهر جرم به يوه خاصه نښانه دمجرمانو پر مخ باندي ظاهره وي ملايکي به هغه نښانه گوري او دوی به جهنم ته اچوي په وروسته آيت کي دا مضمون راغلی دی: يعرف المجرمون بسيماهم فيؤخذ بالنواصی والاقدام او دا د هغه وخت خبره ده چي حساب او کتاب به خلاص سوی وي او پرېکړه سوې به د جهنم دغورځولو فيصله وسي.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۰۱)

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝۳۶ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ

فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	فَاِذَا	انْشَقَّتِ	السَّمَآءُ
پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وايئ	بيا کله چي	وچوی، څيری سی	آسمان

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وايئ. بيا کله چي وچوی، څيری سی آسمان

فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ۝۳۷ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝۳۸

فَكَانَتْ	وَرْدَةً	كَالدِّهَانِ	فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
نو وبه گرځی	سوررنگ	په شان د سری څرمنی	پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وايئ

نو وبه گرځی گل سور رنگ لکه د سری څرمنی. پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی دروغ وايئ.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ۝۳۹

فَيَوْمَئِذٍ	لَّا يُسْـَٔلُ	عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ	اِنْسٌ	وَّلَا	جَآنٌّ
نو په دغه ورځ کښی	نه به پوښتيدل کيږی	له گناه ددوی څخه	له انسانانو	او نه	له پيريانو

نو په دغه ورځ کښی نه به پوښتيدل کيږی له گناه د دوی څخه (نه) له انسانانو او نه له پيريانو.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝۴۰ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ

فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	يُعْرَفُ	الْمُجْرِمُوْنَ
پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وايئ	پيژندل کيږی	گنهگاران (کافران)

پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وايئ. پيژندل کيږی گنهگاران (کافران)

بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ ۝۴۱ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

بِسِيْمٰهُمْ	فَيُؤْخَذُ	بِالنَّوَاصِیْ	وَالْاَقْدَامِ	فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ
په علائمو ددوی سره	نو وبه نيولی سی	په تندی سره	او په قدمونو سره	پس په کوم يوه نعمت	دنعمتونو

په علائمو نښو د دوی سره، نو وبه نيولی سی (دغه منکران) په وچولی (تندی) سره او په قدمونو سره. پس په کوم يوه نعمت

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝۴۲ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ يُكَذِّبُ بِهَا

رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	هٰذِهٖ	جَهَنَّمُ	الَّتِیْ	يُكَذِّبُ	بِهَا
درب ستاسی	درواغ وايئ	دا	دوزخ دی	هغه چي	درواغ به يئ گڼل	په ده سره

د نعمتونو درب ستاسی درواغ وايئ. دا دوزخ دی هغه چي درواغ به يئ ويل په ده سره

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ ﴿٤٤﴾ فَبِاَيِّ

الْمُجْرِمُوْنَ	يَطُوْفُوْنَ	بَيْنَهَا	وَبَيْنَ	حَمِيْمٍ	اٰنٍ	فَبِاَيِّ
مجرمانو	ګرځی به دوی	په مینځ د دوزخ	او په مینځ	دابو ډیرو تودو	ایشیدلو کښی	پس په کوم یوه نعمت

مجرمانو (کافرانو). ګرځی به دوی په مینځ د دوزخ او په مینځ د اوبو ډیرو تودو، ګرمو کښی. پس په کوم یوه نعمت

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾

اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	وَلِمَنْ	خَافَ	مَقَامَ	رَبِّهٖ	جَنَّتٰنِ
دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	او هغه لره چی	ییریږی	له دریدلو څخه	په مخ درب خپل کی	دوه جنتونه دی

د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. او هغه لره چی ییریږی له دریدلو څخه په مخ د رب خپل کښی دوه جنتونه دی.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾

فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	ذَوَاتَآ	اَفْنَانٍ
پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	چی خاوندان	د ډیرو ډیرو ښاخونو دی

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. (هسی جنتونه) چی خاوندان د ډیرو ډیرو ښاخونو دی.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٩﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿٥٠﴾

فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	فِيْهِمَا	عَيْنٰنِ	تَجْرِيٰنِ
پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	په دی دواړو کښی	به دوی چینی وی	چی بهیږی به

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. په دی دواړو (جنتونو) کښی به دوه چینی وی چی بهیږی به .

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥١﴾ فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ

فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	فِيْهِمَا	مِنْ كُلِّ	فَاكِهَةٍ
پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	په دی دواړو کښی به	له هری	میوی

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. په دی دواړو (جنتونو) کښی به له هری میوی

زَوْجٰنِ ﴿٥٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى

زَوْجٰنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	مُتَّكِـِٕيْنَ	عَلٰى
دوه دوه قسمه وی	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	تکیه کوونکی به وی	پر

دوه دوه قسمه وی. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. تکیه کوونکی به وی پر

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ. څوک چي دخپل رب په مخکي ددریدو څخه بیریدی دلره دوه جنتونه دی: یعني ددووباغونو مستحقین هغه خلګ دي کم چي هر وخت په هر حال کي دالله ﷻ په مخکي دقیامت په ورځ دوړاندي کیدو او حساب او کتاب څخه بیریږي دکم په نتیجه کي چي هغه هیڅ ګناه ته نه نژدي کیږي ظاهره ده چي دا خلګ سابقین او خاص مقربین کیدای سي: دنورو دووباغونو مستحقین به کم خلګ وي؟ ددې وضاحت په ذکر سوو ایاتونو کي نه دی سوی مګر دا ښوول سویده چي دادواړه باغونه به دمخکنیودواړوباغونو څخه په کمه درجه کي وي. ومن دونهما جنتان یعني داولو دووباغونو څخه به کمتره نور دوه باغونه وي ددې څخه په قرینه دمقام معلومه سوه چي ددې دوو باغونو مستحق به عام مومنان وي کم چي دخاصو مقربینو څخه په درجه کي کم دي: داولنیو او نورو دوو باغونو په تفسیر کي مفسرینو حضراتو نور توجیهات بیان کړي دي چي داځای یې دبیان څخه عاجز دی. (معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۰۶)

ع۲/۱۲

فُرُشٍ بَطَآئِنُهَا مِنۡ اِسۡتَبۡرَقٍ ؕ وَ جَنَا الۡجَنَّتَيۡنِ دَانٍ ﴿۵۴﴾

فُرُشٍ	بَطَآئِنُهَا	مِنۡ اِسۡتَبۡرَقٍ	وَ جَنَا	الۡجَنَّتَيۡنِ	دَانٍ
داسې فرشونو باندې	چې استرونه دهغو به	له وریښمو کلکو څخه وي	او شکول دمیوی	ددو جنتونو به	نژدې وي

فرشونو باندې چې استرونه د هغو به له وریښمو کلکو څخه وي. او شکول (د میوی ددغو) دوو جنتونو به تر لاس لاندې وي.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِيۡهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرۡفِ ۙ

فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	فِيۡهِنَّ	قٰصِرٰتُ	الطَّرۡفِ
پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسې	درواغ وایئ	په دغو کښې	به بند کوونکې	دسترګو (حورې) وي

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب ستاسې درواغ وایئ. په دغو (جنتونو) کښې به بند کوونکې دسترګو (حورې) وي

لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ اِنۡسٌ قَبۡلَهُمۡ وَ لَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ	اِنۡسٌ	قَبۡلَهُمۡ	وَ لَا جَآنٌّ	فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ
چې نه وي مسه کړې دوی لره	انسان	دمخه ددغو (جنتیانو)	او نه پیرې	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو

چې نه وي مسه کړې دوی لره انسان دمخه د دغو (جنتیانو) او نه پیرې. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾ كَاَنَّهُنَّ الۡيَاقُوۡتُ وَ الۡمَرۡجَانُ ﴿۵۸﴾

رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	كَاَنَّهُنَّ	الۡيَاقُوۡتُ	وَ الۡمَرۡجَانُ
درب ستاسې	درواغ وایئ	ګواکې دغه (حورې)	یاقوت وي	او مرجان وي

د رب ستاسې درواغ وایئ. ګواکې دغه (حورې) یا قوت لعل وي (په صفائۍ) او مرجان وي (په سپین والي کښې).

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾ هَلۡ جَزَآءُ الۡاِحۡسَانِ اِلَّا

فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	هَلۡ جَزَآءُ	الۡاِحۡسَانِ	اِلَّا
پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسې	درواغ وایئ	نه ده جزاء	داحسان، نیکۍ	مګر

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب ستاسې درواغ وایئ. نه ده جزاء بدل د احسان، نیکۍ مګر

الۡاِحۡسَانُ ﴿۶۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۱﴾ وَ مِنۡ دُوۡنِهِمَا

الۡاِحۡسَانُ	فَبِاَیِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	وَ مِنۡ دُوۡنِهِمَا
احسان، نیکي ده	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسې	درواغ وایئ	او بې له دغو (دوو جنتونو)

احسان نیکي ده. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو د رب ستاسې درواغ وایئ. او بې له دغو (دوو جنتونو)

لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ اِنۡسٌ قَبۡلَهُمۡ وَلَا جَآنٌّ... دجنت حورو ته به نه انسان او نه پیري لاس وروړی وي: لفظ دطمث دڅو معناوو دپاره استعمالیږي. دحیض وینې ته طمث وایي او حائضې ښځي ته طامث وایي او دناواده سوي انجلۍ سره کوروالي ته هم طمث وایي: دلته دا معنی مراد ده او په دې کې چې کمه ددې نفې سویده چې دکمو جنتیانو دپاره چې دا حوري مقرري دي ددوی څخه مخکې دوی به هیڅ انسان یا پیري نه وي مسه کړي: ددې مفهوم داسې هم کیدای سي چې کمې حوري دانسانانو دپاره مقرري دي هغوی به یوواري هم چا ددوی څخه مخکې نه وي مسه کړي او دا معنی هم کیدای سي چې لکه څنګه چې په دنیا کې پر انساني ښځو کله جنات مسلطه کیږي هلته به ددې هم څه امکان نه وي **هل جزآء الاحسان الا الاحسان:** یعني دښکلي او ښایسته عمل بدله هم ښکلي او ښایسته وي ددې څخه ماسوا بل احتمال نسته دې حضراتو همیشه دنیک عمل پایبندي کړې وه نو دالله ﷻ دطرفه څخه هم دوی ته ښه جزاء ورکول سوه.

معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۰۸

جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾

جَنَّتٰنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
دوه جنتونه نورهم دی	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ

دوه جنتونه نور هم دی. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ.

مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِيْهِمَا

مُدْهَآمَّتٰنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	فِيْهِمَا
تک توربه وی	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	وی به په دغو کښی

تک تور به وی (له دیرشینوالی څخه) پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ. وی به په دغو (جنتونو) کی

عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾ فِيْهِمَا

عَيْنٰنِ	نَضَّاخَتٰنِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ	فِيْهِمَا
دوی چینی	جوش وهونکی	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ	وی به په دغو کښی

دوی چینی جوش وهونکی. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی دراوغ وایئ وی به په دغو (دوو جنتونو) کښی

فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٩﴾

فَاكِهَةٌ	وَّنَخْلٌ	وَّرُمَّانٌ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
هرقسم میوی	او خرما	او انار	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ

هر راز (قسم) میوی او خرما او انار. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ.

فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾

فِيْهِنَّ	خَيْرٰتٌ	حِسَانٌ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
وی به په دغو کښی	حوری پیغلی غوره	نیکی ، ښائسته	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ

وی به په دغو (ټولو جنتونو) کښی حوری پیغلی نیکی ښائسته. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ.

حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾

حُوْرٌ	مَّقْصُوْرٰتٌ	فِي الْخِيَامِ	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ
حوری به وی	پټی کړی سوی	په خیمو کښی	پس په کوم یوه نعمت	دنعمتونو	درب ستاسی	درواغ وایئ

حوری به وی پټی کړی سوی په خیمو کښی . پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسی درواغ وایئ.

مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ. هغه دوه جنتونه به ډير شنه لکه تور داسي وي: دډير شين والي دوجي چي کم تور والی ښکاره کيږي هغه ته ادهمام وايي مراد دادی چي ددې دواړو باغونو سر سبزي به ددو ی دسیاهی مائل والي په وجه سره وي: دا صفت که څه هم په مخکنیو دوو باغونو کي نه دی ذکر سوی مگر ددې څخه دانه لازميږي چي په دغو کي به دا صفت نه وي بلکي: ذواتا افنان چي کم دهغه ځای صفت ښوول سوی دی په دي کي د: مدهامّتان صفت هم شامل دی: فيهنّ خيرات حسان دخيرات څخه مراد دسيرت او کردار ښه والی اودحسان څخه مراد صورت ښه والی دی دکمو طرف ته چي اشاره په مخکي ايتونوکي موجوده ده: متكئين على رفرف خضر وعبقريّ حسان په قاموس کتاب کي دي چي رف دشين رنگ د وريښمو جامه ده چي فرش تکيي او نور دزينت سامان ورڅخه جوړيږي او عبقري هري ښکلي او ښايسته جامې ته وايي په حسان سره ددې وصف دښايست والي بيان وسو.

(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۰۸)

لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ إِنسٌ قَبۡلَهُمۡ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾

وَلَا جَآنٌّ	قَبۡلَهُمۡ	إِنسٌ	لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ
او نه پیرې	پخوا له دوی (جنتیانو)	سړي	لاس به نه وي وروړی دوی ته

چې نه به وي مسه کړې دوی لره سړي پخوا له دغو (جنتیانو) او نه پیرې.

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفۡرَفٍ خُضۡرٍ

خُضۡرٍ	عَلَىٰ رَفۡرَفٍ	مُتَّكِـِٔينَ	تُكَذِّبَانِ	رَبِّكُمَا	ءَالَآءِ	فَبِأَيِّ
شین رنګو باندې	پر بالښتونو	تکیه کوونکي به وي دوی	درواغ وایئ	درب ستاسې	دنعمتونو	پس په کوم یوه نعمت

پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسې درواغ وایئ. تکیه کوونکي به وي دوی پر بالښتونو شین رنګو باندې

وَعَبۡقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾

تُكَذِّبَانِ	رَبِّكُمَا	ءَالَآءِ	فَبِأَيِّ	حِسَانٍ	وَعَبۡقَرِيٍّ
درواغ وایئ	درب ستاسې	دنعمتونو	پس په کوم یوه نعمت	ښائسته ؤ باندې	او په فرشونو نفیسو عمده ؤ

او په فرشونو نفیسو عمده ؤ ښائسته ؤ باندې. پس په کوم یوه نعمت د نعمتونو درب ستاسې درواغ وایئ.

تَبَٰرَكَ ٱسۡمُ رَبِّكَ ذِي ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ ﴿٧٨﴾ ع

وَٱلۡإِكۡرَامِ	ذِي ٱلۡجَلَٰلِ	رَبِّكَ	ٱسۡمُ	تَبَٰرَكَ
او دعزت ورکولو والا دی	چې خاوند دلوی شان	درب ستا	نوم	برکت ناک دی

برکت ناک دی نوم د رب ستا چې خاوند دلوئی ستر توب او دعزت ورکولو او انعام دی.

ع ٣ ٣٣ ١٣

آیاتونه ٩٦ — ٥٦ سُورَةُ ٱلۡوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ ٤٦ — رکوعې ٣

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډېر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيۡسَ لِوَقۡعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾

كَاذِبَةٌ	لِوَقۡعَتِهَا	لَيۡسَ	ٱلۡوَاقِعَةُ	وَقَعَتِ	إِذَا
هیڅ نفس درواغ کوونکی	پیښیدلو دهغې لره	نشته	واقع کیدونکې	واقع سې	کله چې

کله چې واقع سې واقع کیدونکې (قیامت) نشته پیښیدلو دهغې لره هیڅ نفس درواغ کوونکی (او انکار کوونکی).

إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيۡسَ لِوَقۡعَتِهَا كَاذِبَةٌ

دقیامت راتلل یقیني دي

خامخا به راځي: یعني کله چې قیامت راسي د کم پر واقع کیدو چې څه خلاف نسته بلکي واقع کیدل یې بالکل صحیح او حق دی نو هغه به ځیني لاندې کړي او ځیني به لوړ کړي یعني دکفارو ذلت او دمومنانولوړوالی به په دغه ورځ ښکاره سي کله چې پر مځکه سخته زلزله راسي او غرونه به بالکل ذره ذره سي بیا به دغه دالوتونکي ګرد په شان سي او تاسي ټول انسانان کم چې داوخت موجود یا ست یا مخ ته تیر سوي دي یا آینده راتلونکي دي دري قسمه به سی دکمو تفصیل چې مخ ته راروان دی: اوله طبقه به خواص مومنان وي، دوهمه به عوام مومنان وي، دریمه به کفار وي چې په سورت رحمن کې هم دا دري قسمونه ذکر دي او په راتلونکوایاتونو کې یې خواص ته مقربین او سابقین ویلي دي او عوام مومنانو ته یې اصحاب الیمین او کفارو ته یې اصحاب الشمال ویلي دي. او داولې او دوهمې شپیلې بیان هم سوی دی.

معارف القرآن ج٩ ص٢٧ ص١١٢

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝٣ إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ۝٤ وَّبُسَّتِ

وَّبُسَّتِ	رَجًّا	الْأَرْضُ	رُجَّتِ	إِذَا	رَّافِعَةٌ	خَافِضَةٌ
او ذره ذره سی	په ښوریدلو سختو سره	ځمکه	وښورول سی	کله چې	پورته کوونکی دی	کښته کوونکی دی

(قیامت) کښته کوونکی دی، پورته کوونکی دی . کله چې وخوځولی سی ځمکه په لړځولو سختو سره. او وریژول سی

الْجِبَالُ بَسًّا ۝٥ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ۝٦ وَّكُنْتُمْ أَزْوَاجًا

أَزْوَاجًا	وَّكُنْتُمْ	مُّنۢبَثًّا	هَبَآءً	فَكَانَتْ	بَسًّا	الْجِبَا
صنفونه	او سی به تاسی	پاشل سوی	یوه دوړه	نو سی به دا غرونه	په ذره ذره کولو سره	غرونه

غرونه په ریژولو سختو سره. نو سی به دا غرونه یوه دوړه خوره کړی سوی او سی به تاسی صنفونه

ثَلٰثَةً ۝٧ فَأَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ أَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝٨

الْمَيْمَنَةِ	مَآ أَصْحٰبُ	الْمَيْمَنَةِ	فَأَصْحٰبُ	ثَلٰثَةً
دراسته لاس	څومره ښه دی یاران	دراسته لاس	پس یاران ، ملګری	دری

دری (دوه جنتیان او یو دوزخیان) . پس یاران ملګری د راسته لاس څومره ښه دی یاران ملګری د را سته لاس

وَأَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَآ أَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۝٩ وَالسّٰبِقُوْنَ

وَالسّٰبِقُوْنَ	الْمَشْـَٔمَةِ	مَآ أَصْحٰبُ	الْمَشْـَٔمَةِ	وَأَصْحٰبُ
او مخکی کیدونکی	دچپه لاس	څومره بد دی یاران	دچپه لاس	او یاران

او یاران ملګری د چپه لاس څومره بد سپک دی یاران ملګری د چپه لاس. او مخکی کیدونکی (حسناتو ته)

السّٰبِقُوْنَ ۝١٠ أُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝١١ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝١٢

النَّعِيْمِ	فِيْ جَنّٰتِ	الْمُقَرَّبُوْنَ	أُولٰٓئِكَ	السّٰبِقُوْنَ
دنعمتونو کښی به وی	په جنتونو	نژدی کړی سوی دی	هم دوی	هم دوی مخکی کیدونکی دی

هم دوی مخکی کیدونکی دی (جنت ته) هم دوی نژدی کړی سوی دی (الله ته) په جنتونو دنعمتونو کښی به وی .

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِيْنَ ۝١٣ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ۝١٤ عَلٰى سُرُرٍ

عَلٰى سُرُرٍ	مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ	وَقَلِيْلٌ	الْأَوَّلِيْنَ	مِّنَ	ثُلَّةٌ
(ناست به وی) پر تختونو	له آخرینو څخه	او لږ دی	اولینو ، مخکنیو څخه	له	لویه ډله به وی

لویه ډله به وی له اولینو ، مخکنیو څخه او لږ دی له آخرینو وروستنیو څخه. ناست به وی (جنتیان) پر تختونو

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ۝٤ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا..

دسورت الواقعه خصوصي فضیلت: ابن کثیر رحمة الله علیه روایت کړی دي چې دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه دمرض وفات په خت کي حضرت عثمان غني رضي الله عنه دده دناجوړی دپوښتني دپاره تشریف یووړی نو حضرت عثمان رضي الله عنه پوښتنه ورڅخه وکړه چي تاته څه تکلیف دی ؟ نو ویي فرمایل دخپلو ګناهونو تکلیف دی راته: بیا یي ورڅخه پوښتنه وکړه چي ته څه غواړې ؟ نو ویي فرمایل دخپل رب رحمت غواړم: بیا یي ورته وفرمایل چي زه به تاته یو طبیب راولم نو ویي فرمایل چي طبیب خو زه ناجوړی کړی یم بیا حضرت عثمان غني رضي الله عنه وفرمایل چي زه به ستا دپاره دبیت المال څخه څه بخشش راولیږم نو ویي فرمایل ماته ددې هیڅ حاجت نسته حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وفرمایل چي بخشش واخله دا به ستا څخه وروسته ستا دلوڼو په کار ورسي نو ويي فرمایل چي آیا ستا سره زما دلوڼو په باره کي دا فکر دی چي دوی به په فقر او فاقه کي مبتلا سي مګر زما سره دافکر نسته: **پاته بیان پر راروان مخ وګوری**

مَّوْضُوْنَةٍ ۝١٥ مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ۝١٦ يَطُوْفُ

مَّوْضُوْنَةٍ	مُّتَّكِـِٕيْنَ	عَلَيْهَا	مُتَقٰبِلِيْنَ	يَطُوْفُ
په زرو جواهرو باندې اوبدل سوي	چې تکيه وهونکي به وي	په هغو باندې	مخامخ کښيناستونکي يو بل ته	ګرځي به

په زرو جواهرو باندې. چې تکيه وهونکي به وي (جنتيان) په هغو باندې مخامخ کښيناستونکي يو بل ته. ګرځي به

عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ۝١٧ بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ ۙ وَكَاْسٍ

عَلَيْهِمْ	وِلْدَانٌ	مُّخَلَّدُوْنَ	بِاَكْوَابٍ	وَّاَبَارِيْقَ	وَكَاْسٍ
پر دوی باندې	هلکان	تل پاتې کيدونکي	په ګلاسونو	او په کوزو سره	او په جامونو، لوښو سره

په دوی باندې (دپاره دخدمت) هلکان تل پاتې کيدونکي. په ګلاسونو او په کوزو سره او په کاسو لوښيو سره

مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝١٨ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ۝١٩

مِّنْ مَّعِيْنٍ	لَّا يُصَدَّعُوْنَ	عَنْهَا	وَلَا يُنْزِفُوْنَ
له پاکو شرابو بهيدونکو څخه	چې نه د سردرد راځي	له دغو	او نه به دوی مستيږي

له پاکو، صافو شرابو بهيدونکو څخه. چې نه به سر خوږيږي له دغو (شرابو) او نه به بې هوشه کيږي بيکاره وييږي

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ۝٢٠ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ۝٢١

وَفَاكِهَةٍ	مِّمَّا	يَتَخَيَّرُوْنَ	وَلَحْمِ	طَيْرٍ	مِّمَّا	يَشْتَهُوْنَ
او ميوو	له هغه قسم	چې يئ خوښوي	او غوښو	دمرغانو سره	له هغه قسمه	چې زړونه يئ غواړي

او (ګرځي به پر دوی هلکان په) ميوو له هغه قسم چې يئ خوښوي. او غوښو دمرغانو سره له هغه قسمه چې زړونه يئ غواړي

وَحُوْرٌ عِيْنٌ ۝٢٢ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ۝٢٣

وَحُوْرٌ	عِيْنٌ	كَاَمْثَالِ	اللُّؤْلُؤِ	الْمَكْنُوْنِ
او حورې پيغلې	دغټو سترګو	په شان	دلؤلؤ مرغلرو	ساتليو سويو په پوښو کښې

او (ګرځي به پر دوی) حورې پيغلې دغټو سترګو په شان د لؤ لؤ مرغلرو ساتليو سويو په پوښو (غلافونو) کښې.

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٢٤ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا

جَزَآءً	بِمَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	لَا يَسْمَعُوْنَ	فِيْهَا	لَغْوًا
جزاء، بدل ورکول دي	په هغو چې ؤ دوی	چې کول به يئ	نه به اوري دوی	په دغه (جنت) کښې	بيکاره چټي خبرې

جزاء بدل ورکول دي په هغو چې ؤ دوی چې کول به يئ. نه به اوري دوی په دغه (جنت کښې) بيکاره چټي خبرې

مُتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ۝١٦ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ. تير مخ پاته بيان دلته وګورئ:
ځکه چي ما خپلو لوڼو ته تاکيد کړی دی چي دوی دي هره شپه سورت واقعه وايي ځکه چي ما دنبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي چي من قرء سورة الواقعة كلّ ليلة لم تصبه فاقة ابدا ابن کثير. يعني کم سړی چي هره شپه سورت واقعه ووايي دی به هيڅکله په لوږه کي اخته نه سي: ابن کثير رحمة الله عليه دنورو سندونو او کتابونو څخه هم ددغه حديث شريف تاييد پيش کړی دی يطوف عليهم ولدان مخلّدون ددې څخه مراد دادی چي دا هلکان به هميشه پر دغه حالت باندي هلکان وي په دوی کي څه تغير دعمر وغيره به نه وي ددغو جنتي غلمانو متعلق راجح تحقيق دادی چي دحورو په شان به داهم په جنت کي پيدا سوي وي او داټول به دجنتيانو خادمان وي او دحديث شريف درواياتونو څخه داثابته ده چي ديوه يوه جنتي به په زرګونو خادمان او نوکران وي. دغه رواياتونه دتفسير مظهري څخه رانقل سوي دي. اللهم ارزقنا من لدنک في الجنة هذه النعم (معرف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۱۵)

وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿٢٦﴾ وَأَصْحٰبُ الْيَمِينِ ۙ

وَّلَا تَأْثِيمًا	إِلَّا	قِيلًا	سَلٰمًا	سَلٰمًا	وَأَصْحٰبُ	الْيَمِينِ
او نه دګناه خبري	مګر اوري	يوه خبره	سلام	سلام	او ملګري	دراسته لاس

او نه دګناه خبرې. مګر اوري يوه خبره سلام سلام (يعنې تل به سلام اچوي جنتيان). او ملګرې، ياران دراسته لاس

مَآ أَصْحٰبُ الْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَّطَلْحٍ

مَآ أَصْحٰبُ	الْيَمِينِ	فِي سِدْرٍ	مَّخْضُودٍ	وَّطَلْحٍ
څومره ښه دي ملګرې	دراسته لاس	په بيرو	بې اغزيو کښې به وي	او په کيلو (له بيخه تر سره)

څومره ښه دي ملګرې ياران د راسته لاس. په بيرو بې اغزيو کښې به وي او په کيلو (له بيخه تر سره)

مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾

مَّنضُودٍ	وَّظِلٍّ	مَّمْدُودٍ	وَّمَآءٍ	مَّسْكُوبٍ
ډکو کړيو سويو کښې به وي	او په سيوريو	اوږدو سويو کښې به وي	او په اوبو	بهيدونکو هميشه ؤ کښې به وي

ډکو کړيو سويو کښې به وي. او په سيوريو اوږدو سويو کښې به وي. او په اوبو بهيدونکو هميشه ؤ کښې به وي.

وَّفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَّلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾

وَّفَاكِهَةٍ	كَثِيرَةٍ	لَّا مَقْطُوعَةٍ	وَّلَا مَمْنُوعَةٍ
او په ميوو	ډيرو کښې به وي	چې نه به قطع کولی کيږي	او نه به منع کولی کيږي

او په ميوو ډيرو کښې به وي چې نه به قطع کولی کيږي په هيڅ وخت او نه به منع کولی کيږي (په هيڅ عذر سره).

وَّفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّآ أَنشَأْنٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنٰهُنَّ

وَّفُرُشٍ	مَّرْفُوعَةٍ	إِنَّآ	أَنشَأْنٰهُنَّ	إِنشَآءً	فَجَعَلْنٰهُنَّ
او په فرشونو	اوچتو سويو کښې	بيشکه! موږ	نوی پيدا کړی دی دغه حوری	په يو ښه پيدا کولو سره	نو ګرځولی مو دی دوی

او په فرشونو اوچتو سويو کښې. بيشکه! موږ نوی پيدا کړی دی دغه حوری په ښه پيدا کولو سره. نو ګرځولی مو دی دوی

أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّأَصْحٰبِ الْيَمِينِ ﴿٣٨﴾

أَبْكَارًا	عُرُبًا	أَتْرَابًا	لِّأَصْحٰبِ	الْيَمِينِ
پيغلی	عاشقانی	همزولی	دپاره د ملګرو، يارانو	دراسته لاس

پيغلی، عاشقانی (پر جنتيانو) همزولی دپاره دملګرو يارانو د راسته لاس.

ع ۳۸ ۱۴

وَأَصْحٰبُ الْيَمِينِ مَآ أَصْحٰبُ الْيَمِينِ. اصحاب اليمين څوک دي؟ په اصل کي په مومنانو متقيانو او اولياءالله کي به ګناهګاره مسلمانان هم ددوی سره يوځای کيږي ځيني خو به محض دالله ﷻ په فضل سره، او ځيني به ديونبي ولي په شفاعت سره دمغفرت او معافي کيدو څخه وروسته او ځينو لره به عذاب وي: مګر دخپلي ګناه دعذاب تيرولو څخه وروسته به دوی هم دګناه څخه پاک سي داصحاب اليمين په ډله کي به شامل سي ځکه چي دګناهګار مومن دپاره دجهنم اور په حقيقت کي عذاب نه دی بلکي دخيري څخه دپاکيدو او صفا کولو يو تدبير دی تفسير مظهري. فی سدر مخضود: وطلح منضود: وظل ممدود: ومآء مسکوب. دجنت نعمتونه بې شميره او بې مثاله او بې قياسه دي: په دي کي چي کم نعمتونه قرآن کريم ذکر کوي دغه دمخاطبو انداز فکر او ددوی دمحبوبو شيانو ذکر کوي دعربو دخلګو چي دکمو تفريحاتو او کمو ميوو سره مينه وه دلته يي دهغو څخه دځه ميوو ذکر کړی دی الخ. (معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۲۲)

ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَاَصْحٰبُ

ثُلَّةٌ	مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ	وَثُلَّةٌ	مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ	وَاَصْحٰبُ
لويه ډله به وی	له اولينو ، مخکنيو خلکو څخه	او لويه ډله به وی	له آخرينو خلکو څخه	او ملګری

(اصحاب اليمين به) لويه ډله وی له اولينو ، مخکنيو خلکو څخه او لويه ډله به وی له آخرينو خلکو څخه . او ملګری

الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿٤٢﴾

الشِّمَالِ	مَآ اَصْحٰبُ	الشِّمَالِ	فِيْ سَمُوْمٍ	وَّحَمِيْمٍ
دچپه لاس	څومره بد دی ملګری	دچپه لاس	په ګرم باد کښې به وی	او په سوځوونکو اوبو کښې به وی

دچپه لاس څومره بد دی ملګری د چپه لاس په اور تاوده کښې به وی او په سوځوونکو اوبو کښې به وی

وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿٤٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا

وَّظِلٍّ	مِّنْ يَّحْمُوْمٍ	لَّا بَارِدٍ	وَّلَا كَرِيْمٍ	اِنَّهُمْ	كَانُوْا
او په سيوری کښې به وی	د دود ډير تور	چې نه به يخی سړی وی	او نه به عزت راحت وی	بيشکه! دوی	ؤ

او په سيوری کښې به وی دود ډير تور ، چې نه به يخی سړی وی او نه به دعزت راحت وی. بيشکه دوی ؤ

قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ

قَبْلَ	ذٰلِكَ	مُتْرَفِيْنَ	وَكَانُوْا	يُصِرُّوْنَ	عَلَى الْحِنْثِ
پخواله	دی څخه	آباد کړی سوی په نعمتونو کښې	او ؤ دوی	چې دوام ، ضد به يې کاوه	پر ګناه

پخوا له دی څخه په دنيا کښې ودان کړی سوی په نعمتونو کښې خوشحال او ؤ دوی چې دوام اصرار ضد به يې کاوه پر ګناه

الْعَظِيْمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ۙ اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا

الْعَظِيْمِ	وَكَانُوْا	يَقُوْلُوْنَ	اَئِذَا	مِتْنَا	وَكُنَّا	تُرَابًا
لويه (کفر) باندی	او ؤ دوی	چې ويل به يې	آيا کله چې	مړه سو موږ	او سو	خاوری

لويه (کفر) باندی. او ؤ دوی چې ويل به يې آيا کله چې مړه سو موږ او سو خاوری

وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٤٧﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾

وَّعِظَامًا	ءَاِنَّا	لَمَبْعُوْثُوْنَ	اَوَاٰبَآؤُنَا	الْاَوَّلُوْنَ
او هډوکی	آيا بيشکه! موږ به	بيا خامخا راپورته کړی سوی يو	او پلرونه زموږ	مخکنی هم (اولنی هم)

او هډوکی آيا بيشکه! موږ به بيا خامخا راپورته کړی سوی يو او پلرونه زموږ مخکنی هم . (به بيا ژوندی راپورته کيږی؟)

ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ. يولوی جماعت به داولينو څخه وي او يولوی جماعت به داخرينو څخه وي : دثلة معنی ده لوی جماعت : او داولين او دآخرين په تفسير کي دمفسرينو اختلاف دی. که داولين څخه مراد دحضرت آدم عليه السلام څخه د خاتم الانبياء صلى الله عليه وسلم ترزماني پوري حضرات واخيستل سي. او دآخرين څخه دحضور صلى الله عليه وسلم امت تر قيامته پوري وي لکه ځيني مفسرين چي فرمايي.نودآيت مطلب به داسي چي اصحاب اليمين يعني دمومنانو متقيانو تعداد به دتيروامتونو دمجموعي څخه يو لوی جماعت وي او يوازي دامت محمديه څخه به يولوی جماعت وي : په دې صورت کي اول خو دامت محمديه دفضيلت دپاره دا هم څه کمه نه ده چي دتيرو په لکونو انبياء دامتونو برابربه دا امت هم سي چي زمانه يي ډيره مختصره ده ددې څخه علاوه په لفظ دثلةٌ کي ددې هم ګنجايش سته چي داثلة دآخرينو تعداد داولينو څخه زيات سي. دامقام بنه په غور او دقت وګوره چي توجه غواړي. (معارف القرآن ج٩ پ٢٧ ص١٢٤)

قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ۝٤٩ لَمَجْمُوْعُوْنَ

لَمَجْمُوْعُوْنَ	وَالْاٰخِرِيْنَ	الْاَوَّلِيْنَ	اِنَّ	قُلْ
خامخا تول کړل سی	او وروستنی (خلګ) به	چی مخکنی	بیشکه!	ووایه (محمده!)

ووایه ته (ای محمده!) بیشکه! چی مخکنی (خلګ) او وروستنی (خلګ) به خامخا تول کړل سی

اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ۝٥٠ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ

الضَّآلُّوْنَ	اَيُّهَا	اِنَّكُمْ	ثُمَّ	مَّعْلُوْمٍ	يَوْمٍ	اِلٰى مِيْقَاتِ
ګمراهانو	ای	بیشکه! تاسی	بیا به	معلومی ته	دورځی	وخت

وخت دورځی معلومی ته (چی قیامت دی). بیا به بیشکه! تاسی ای ګمراهانو

الْمُكَذِّبُوْنَ ۝٥١ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ۝٥٢ فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا

مِنْهَا	فَمَالِـُٔوْنَ	مِّنْ زَقُّوْمٍ	مِنْ شَجَرٍ	لَاٰكِلُوْنَ	الْمُكَذِّبُوْنَ
له هغی څخه	پس ډک کوونکی به یئ	دزقوم څخه	له درختی	خامخا خوړونکی به یئ	درواغ ویونکو

دروغ ویونکو خامخا خوړونکی به یئ (په دوزخ کښی) له ونی د زقوم څخه پس ډک کوونکی به یئ له هغی (ونی) څخه

الْبُطُوْنَ ۝٥٣ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ۝٥٤ فَشٰرِبُوْنَ

فَشٰرِبُوْنَ	مِنَ الْحَمِيْمِ	عَلَيْهِ	فَشٰرِبُوْنَ	الْبُطُوْنَ
پس څښونکی به یئ	له اوبو سوځوونکو څخه	پرهغه باندی	پس څښونکی به یئ تاسی	نسونو خیلو ته

ګیډو خیلو لره. پس څښونکی به یئ تاسی په هغه (زقوم) باندی له اوبو سوځوونکو څخه. پس څښونکی به یئ (په شان)

شُرْبَ الْهِيْمِ ۝٥٥ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ۝٥٦ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ

خَلَقْنٰكُمْ	نَحْنُ	الدِّيْنِ	يَوْمَ	نُزُلُهُمْ	هٰذَا	الْهِيْمِ	شُرْبَ
پیدا کړی یئ تاسی	موږ	دجزاء کښی	په ورځ	میلمستیا د دوی ده	دا	داوښانو ډیرو تږو	په شان دڅښلو

دڅښلو د اوښانو ډیرو تږو. دا میلمستیا د دوی ده په ورځ د جزاء انصاف کښی. موږ پیدا کړی یئ تاسی (له نشتوالی)

فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ۝٥٧ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ۝٥٨

مَّا تُمْنُوْنَ	اَفَرَءَيْتُمْ	فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ
(له) هغه اوبو څخه چی څڅوی یئ تاسی	آیا وینئ تاسی	نوولی تاسی باوریقین نه کوئ

نو ولی تاسی باور یقین نه کوئ (په ژوندون پس له مرګه). آیا وینئ تاسی (له) هغه اوبو څخه چی څڅوی یئ تاسی.

نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ..موږ تاسي پیدا کړي یا ست بیا ولي رشتیا نه مني: دسورت دشروع څخه تر دي ځایه پوري په محشر کي دانسانانو درو قسمونو او دهغوی دجزا او سزا او احکامو بیان وو. په دي ذکر سوو ایاتونو کي هغو ګمراهانو خلګو ته خبرداري ورکړه سوی دی کم چي دسره دقیامت دقائمیدو او ددوباره ژوندي کیدو قائل نه دي یا دالله ﷻ په عبادت کي نور شریکوي: دانسان دهغه غفلت او جهالت پرده خیرول دي کم چي دی په هیرو کي غورځولی دی. وضاحت ددي دادی چي په دي عالم کائنات کي چي څه موجود دي یا موجود کیدونکي دي یا آینده راتلونکي دي ددي پیدا کول او بیا دا باقي پریښوول او بیا دادانسان په مختلفو کارونو کي لګول داټول په حقیقت کي دالله ﷻ دقدرت او حکمت کرشمي دي که داسبابو پر دي په مینځ کي نیستي سي او انسان ددي تولو شیانو پیدا کیدل بي دواسطي داسبابو څخه مشاهده کړي نو پر ایمان راوړلو به مجبوره سي مګر دادنیا دارالامتحان ده الخ.
معارف القرآن ج۹پ۲۷ص۱۲۷

ءَاَنۡتُمۡ تَخۡلُقُوۡنَهٗۤ اَمۡ نَحۡنُ الۡخٰلِقُوۡنَ (٥٩) نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَيۡنَكُمُ

ءَاَنۡتُمۡ تَخۡلُقُوۡنَهٗۤ	اَمۡ نَحۡنُ	الۡخٰلِقُوۡنَ	نَحۡنُ	قَدَّرۡنَا	بَيۡنَكُمُ
آیا پیدا کوئ تاسی لہ دغه	که یو موږ	پیدا کوونکی	موږ	مقدر کړی مو دی	په مینځ ستاسی کښی

آیا پیدا کوئ تاسی لہ دغه (منی نه بشر) که یو موږ پیدا کوونکی. موږ مقدر کړی مو دی په مینځ ستاسی کښی

الۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوۡقِيۡنَ (٦٠) عَلٰۤى اَنۡ نُّبَدِّلَ

الۡمَوۡتَ	وَمَا نَحۡنُ	بِمَسۡبُوۡقِيۡنَ	عَلٰۤى اَنۡ نُّبَدِّلَ
مرګ	او نه یو موږ	عاجز چی څوک تیری را باندی وکړی	له دی څخه چی پیدا کړو بدل ستاسی

(ای مخلوقاتو) مرګ، او نه یو موږ عاجز چی څوک تیری را باندی وکړی له دی څخه چی پیدا کړو بدل ستاسی (نور خلګ)

اَمۡثَالَكُمۡ وَنُنۡشِئَكُمۡ فِىۡ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ (٦١) وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ

اَمۡثَالَكُمۡ	وَنُنۡشِئَكُمۡ	فِىۡ مَا	لَا تَعۡلَمُوۡنَ	وَلَقَدۡ	عَلِمۡتُمُ
په شان ستاسی	او موږ را پورته پیدا کړو تاسی	په هغو صورتو کی	چی تاسی به علم نه پری لرئ	او په تحقیق	پوهیدلی یئ تاسی

په شان ستاسی او موږ را پورته پیدا کړو تاسی په هغو کی چی تاسی به علم نه پری لرئ. او خامخا په تحقیق پوهیدلی یئ تاسی

النَّشۡاَةَ الۡاُوۡلٰى فَلَوۡلَا تَذَكَّرُوۡنَ (٦٢) اَفَرَءَيۡتُمۡ مَّا تَحۡرُثُوۡنَ (٦٣)

النَّشۡاَةَ	الۡاُوۡلٰى	فَلَوۡلَا تَذَكَّرُوۡنَ	اَفَرَءَيۡتُمۡ	مَّا تَحۡرُثُوۡنَ
په پیدا کیدلو	مخکنیو باندی	نو ولی نه یادوئ، پند نه اخلئ	آیا پس وینئ	هغه چی کرئ یئ تاسی

په پیدا کیدلو مخکنیو باندی نو ولی نه یادوئ پند نه اخلئ. آیا پس وینئ هغه چی کرئ یئ تاسی.

ءَاَنۡتُمۡ تَزۡرَعُوۡنَهٗۤ اَمۡ نَحۡنُ الزّٰرِعُوۡنَ (٦٤) لَوۡ نَشَآءُ

ءَاَنۡتُمۡ	تَزۡرَعُوۡنَهٗۤ	اَمۡ نَحۡنُ	الزّٰرِعُوۡنَ	لَوۡ نَشَآءُ
آیا تاسی	زرغونوئ هغه	که موږ یو	زرغونوونکی	که اراده وفرمایو موږ

آیا تاسی زرغونوئ هغه (کرلی سوی) که موږ یو زرغونوونکی (دهغه). که اراده وفرمایو موږ

لَجَعَلۡنٰهُ حُطَامًا فَظَلۡتُمۡ تَفَكَّهُوۡنَ (٦٥) اِنَّا لَمُغۡرَمُوۡنَ (٦٦)

لَجَعَلۡنٰهُ	حُطَامًا	فَظَلۡتُمۡ	تَفَكَّهُوۡنَ	اِنَّا	لَمُغۡرَمُوۡنَ
نو خامخا وبه ګرځوو موږ هغه	وچ وابنه ذره ذره	نو وبه ګرځئ تاسی	حیران پاته سوی	چی بیشکه! موږ	خامخا تاوان کړی یو

نو خامخا وبه ګرځوو موږ هغه وچ وابنه ذره ذره نو وبه ګرځئ تاسی تعجب کوونکی. چی بیشکه! موږ خامخا تاوان کړی یو.

ءَاَنۡتُمۡ تَخۡلُقُوۡنَهٗۤ اَمۡ نَحۡنُ الۡخٰلِقُوۡنَ... ایا تاسي دغه پیداکوی که یي موږ پیداکوو؟ یعني ای انسانه لږ غور او فکر خو وکړه چي دبچي په پیدایش کي ستا دخل ددې څخه ماسوا څه دی چي تاخویوه قطره دمني یو خاص محل ته ورسوله.ددې څخه وروسته آیاتاته څه خبر سته چي پر دې نطفه څه څه دورونه تیر سول څه څه تغیرات په کښي راغلل په څه څه شان سره په دې کي هډوکي غوښه پوستکي پیدا سول او په څه شان ددې عالم اصغر په وجود کي څنګه څنګه نازک نازک مشینان دغذا حاصلولو، وینه جوړولو، او روح حیواني پیدا کولو بیا دلیدو، خبرو کولو اوریدو چیښلو سوچ کولو او دپوهیدو قوتونه دده په وجود کي ودرول سول چي دیوه انسان وجود یوه حرکت کوونکي کارخانه جوړه سوه نه پلار خبر دی نه مور خبره ده دچا په نس کي چي داخه کیږي آخر که عقل په دنیا کي څه شی دی نو هغه په دې ولي نه پوهیږي چي په عجیبه حکمتونو باندي مشتمل وجود خپله جوړسو؟ او که یو چا جوړ کړی دی الخ.
معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۱۲۸

بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾

بَلْ نَحْنُ	مَحْرُوْمُوْنَ	اَفَرَءَيْتُمُ	الْمَآءَ	الَّذِيْ	تَشْرَبُوْنَ
بلکه موږ	محروم ، بې برخې کړی سوی یو	آیا پس وینئ تاسی	اوبه	هغه چې	څښئ یئ تاسی

بلکه موږ محروم بې برخې کړی سوی یو (له رزق څخه). آیا پس وینئ تاسی او به هغه چې څښئ یئ تاسی .

ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾

ءَاَنْتُمْ	اَنْزَلْتُمُوْهُ	مِنَ الْمُزْنِ	اَمْ نَحْنُ	الْمُنْزِلُوْنَ
آیا تاسو	نازلې کړی دی هغه	له سپینو وریځو څخه	که موږ	نازلوونکی ، راکښته کوونکی یو

آیا تاسو نازلې کړی دی هغه لطیفی خوږی (اوبه) له سپینو وریځو څخه که موږ نازلوونکی ، راکښته کوونکی یو .

لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ اَفَرَءَيْتُمُ

لَوْ نَشَآءُ	جَعَلْنٰهُ	اُجَاجًا	فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ	اَفَرَءَيْتُمُ
که اراده وفرمایو موږ	نو وبه ګرځوو دا	تروې ترخې	نو ولې شکر نه باسئ	آیا پس وینئ تاسی

که اراده وفرمایو موږ نو وبه ګرځوو دا (اوبه) تروې ترخې نو ولې شکر نه وباسئ (تاسی). آیا پس وینئ تاسی

النَّارَ الَّتِيْ تُوْرُوْنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ

النَّارَ	الَّتِيْ	تُوْرُوْنَ	ءَاَنْتُمْ	اَنْشَاْتُمْ	شَجَرَتَهَا	اَمْ نَحْنُ
اور	هغه	چې بلوئ یئ تاسی	آیا تاسی	پیداکړی ده	درخته ددی (اور)	او که موږ

اور هغه چې بلوئ یئ تاسی . آیا تاسی پیدا کړی ده ونه ددی (اور) او که موږ

الْمُنْشِئُوْنَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا

الْمُنْشِئُوْنَ	نَحْنُ	جَعَلْنٰهَا	تَذْكِرَةً	وَّمَتَاعًا
پیداکوونکی یو	موږ	ګرځولی مو دی دغه (دنیوی اور)	تذکر ، یادول (د دوزخ)	او فائده

پیداکوونکی یو (دهغې ونې). موږ ګرځولی دی دغه (دنیوی اور) تذکر یادول (د دوزخ)، او په کار راتللو ته

لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾ فَلَآ اُقْسِمُ

لِّلْمُقْوِيْنَ	فَسَبِّحْ	بِاسْمِ	رَبِّكَ	الْعَظِيْمِ	فَلَآ اُقْسِمُ
دپاره د مسافرانو	نو وکړه نسبت د پاکی	نامه	درب خپل ته	چې له ټولو ډیر لوی دی	نو قسم خورم زه

دپاره د مسافرانو محتاجانو بې وزلو. نو وکړه نسبت د پاکی نامه درب خپل ته چې له ټولو ډیر لوی دی. نو قسم خورم زه

اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ.. ایا وینی تاسي اوبه کمي چي تاسي چیښی؟ په دغه ایت کي بیا الله جل جلاله دغافل انسان دغفلت اوجهالت دلیري کولو دپاره خطاب کړی دی او دایو قسم خبرداری هم دی چي ښه اي انسانه دا وښیه چي کمي اوبه تاسي چیښی هغه اوبه دوریځي څخه تاسي اوروی او که یي موږ اوروو ؟.او بیا دغه اوبه دچیښلو قابلي جوړول زموږ یو بل نعمت دی چي که موږ وغواړو نو دغه اوبه به ترخي کړونو آخر تاسي شکر ولي نه باسی ؟ اولوی شکر دالله جل جلاله په نزد عقیده دتوحید او دکفر پریښوول دي : مخ ته بیا څلورم خبرداری دی چي ښه دا وښایاست چي کم اور تاسي بلوی دهغه درختي څخه په کمه کي چي دااور دی چي بیان یي دسورت یس په آخر کي دی او دغه شان دکمو ذریعو څخه چي دااور پیداکیږي هغه ذریعي تاسي پیداکړي دي او که موږ یي پیداکوونکي یو ؟ موږ دغه ددوزخ داور یا دخپل قدرت څخه دیادولو شی اودمسافرو دپاره دفائدي شی جوړ کړی دی الخ.

معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۲۷

الثلثة ٢٥ ع٢

لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ
قران کریم ته به لاس نه
وروړي مگر پاک خلک:
امام مالک رحمه الله فرمايي
چي دايت لايمسه الا
المطهرون په تفسير کي
چي ما څه اوريدلي دي په
هغو کي دټولو څخه ښه
قول دادی چي ددې هغه
مطلب وي کم چي دسورت
عبس په ايت کي دی:
يعني فی صحف مکرّمة:
مرفوعة مطهرة: بايدی
سفرة کرام بررة يعني دغه
قرآن کريم په صحيفو کي
ليکلی دی چي عزتمندي
دي لوړشان والادي پاکي
کړی سوي دي له هره
قسمه زياتي او کمي
څخه په لاسونو کي
دليکونکو فرشتو دي
چي عزتمندي دي او
نيکاني دي: قرطبي او
روح المعاني. او ددې
مطلب هم دادی چي
داجمله دکتاب مکنون
صفت نه دی بلکي دقرآن
صفت دی اودقرآن څخه
مراد هغه صحيفي دي کم
چي وحي راوړونکو
ملايکو ته په لاسونوکي
ورکول کيږي. سوال
دادی چي دمطهرون څخه
څوک مراد دي؟ دصحابه
کرامو اوتابعينو او
مفسرينو يوې لويي ډلي
بيان دادي چي ددې څخه
مراد ملايکي دي
چي دگناهونو څخه
پاکي دي الخ. پاته بيان
پر راروان مخ وگوری:

بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿٧٥﴾ وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿٧٦﴾

بِمَوٰقِعِ	النُّجُوْمِ	وَاِنَّهٗ	لَقَسَمٌ	لَّوْ تَعْلَمُوْنَ	عَظِيْمٌ
په ځايونو دپريوتلو	دستورو باندی	او بيشکه! دغه	خامخا قسم دی	که پوهيږئ تاسی	عظيم ډير لوی

په ځايونو د پريوتلو د ستوريو باندی. او بيشکه! خامخا قسم دی که پوهيږئ تاسی عظيم ډير لوی.

اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٧﴾ فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهٗٓ

اِنَّهٗ	لَقُرْاٰنٌ	كَرِيْمٌ	فِيْ كِتٰبٍ	مَّكْنُوْنٍ	لَّا يَمَسُّهٗٓ
چي بيشکه! دا	خامخا قرآن کريم	عزت والادی	په کتاب	پټ ساتلی سوی کښی	چی لاس نه سی وروړلی ده لره

چی بيشکه! دا خامخا قرآن کريم عزت والا دی په کتاب پټ ساتلی سوی (لوح محفوظ) کښی، چی نه يئ مسه کوی ده لره

اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿٧٩﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اَفَبِهٰذَا

اِلَّا	الْمُطَهَّرُوْنَ	تَنْزِيْلٌ	مِّنْ رَّبِّ	الْعٰلَمِيْنَ	اَفَبِهٰذَا
مگر	هغه چی پاک کړی سوی وی	نازل کړی سوی دی	له (طرفه) درب	دمخلوقاتو	آيا په دی

مگر هغه چی پاک کړی سوی وی. نازل کړی سوی دی له (طرفه د پالونکی) رب د عالميانو. آيا په دی

الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ

الْحَدِيْثِ	اَنْتُمْ	مُّدْهِنُوْنَ	وَتَجْعَلُوْنَ	رِزْقَكُمْ	اَنَّكُمْ
خبری باندی	تاسی	انکار کوونکی يئ	او گرځوئ تاسی	روزی، برخه خپله	بيشکه! چی تاسی

خبری (دقرآن) باندی تاسی سپک کوونکی يئ او گرځوئ تاسی روزی برخه خپله (له قرآنه دا خبره) چی تاسی

تُكَذِّبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿٨٣﴾

تُكَذِّبُوْنَ	فَلَوْلَآ	اِذَا	بَلَغَتِ	الْحُلْقُوْمَ
دروغ کوونکی يئ	نو ولی نه	په هغه وخت کښی	چی ورسيږی (روح دسړی)	ستونی ته

دروغ کوونکی يئ (دغه قرآن لره). نو ولی نه په هغه وخت کښی چی ورسيږی (روح د سړی) ستونی ته

وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ

وَاَنْتُمْ	حِيْنَئِذٍ	تَنْظُرُوْنَ	وَنَحْنُ	اَقْرَبُ	اِلَيْهِ	مِنْكُمْ
او تاسی	په دغه وخت حاضر آوريدونکی	گورئ تاسی هغه ته	او موږ	ډير نژدی يو	هغه ته	له تاسی څخه

او تاسی په دغه وخت حاضر اوريدونکی، نظر کوونکی يئ هغه ته او موږ ډير نژدی يو هغه ته له تاسی څخه

وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿٨٦﴾

وَلٰكِنْ	لَّا تُبْصِرُوْنَ	فَلَوْلَآ	اِنْ كُنْتُمْ	غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ
مګر	نه وينئ، او نه پوهيږئ تاسی	پس ولی نه	که يئ تاسی	چی جزاء نه درکوله کيږی

مګر نه وينئ او نه پوهيږئ تاسی، پس ولی که يئ تاسی چی جزاء نه درکوله کيږی، نه ژوندی کيږئ

تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاَمَّآ اِنْ كَانَ

تَرْجِعُوْنَهَآ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ	فَاَمَّآ	اِنْ كَانَ
بيرته راوګرځوئ تاسی دا (روح)	که چيری يئ تاسی	رښتينی	نو که چيری	وی دغه (مړی)

نو بيرته راوګرځوئ تاسی دا (روح) که چيری يئ تاسی رښتينی . نو که چيری وی (دغه مړی)

مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿٨٩﴾

مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ	فَرَوْحٌ	وَّرَيْحَانٌ	وَّجَنَّتُ	نَعِيْمٍ
له مقربينو څخه	نو (سته ده ته) راحت، هوسايئ	او ښه رزق	او باغ	ډک له نعمتونو څخه

له مقربينو څخه (الله ته) نو (سته ده لره) راحت هوسايئ (آرام) او ښه رزق او جنت ډک له نعمتونو څخه .

وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩٠﴾ فَسَلٰمٌ

وَاَمَّآ	اِنْ كَانَ	مِنْ اَصْحٰبِ	الْيَمِيْنِ	فَسَلٰمٌ
او که چيری	وی (دا مړی)	له يارانو ، ملګرو	د راسته لاس	نو سلامتيا ده

او که چيری وی (دا مړی) له يارانو ، ملګرو د راسته لاس. نو سلامتيا ده

لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩١﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ

لَّكَ	مِنْ اَصْحٰبِ	الْيَمِيْنِ	وَاَمَّآ اِنْ كَانَ	مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ
تا لره	له يارانو ، ملګرو	د راسته لاس څخه	او که چيری وی (دغه مړی)	له دروغ ګڼونکو

تا لره له يارانو ، ملګرو د راسته لاس څخه. او که چيری وی (دغه مړی) له دروغ ويونکيو

الضَّآلِّيْنَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٩٣﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿٩٤﴾ اِنَّ

الضَّآلِّيْنَ	فَنُزُلٌ	مِّنْ حَمِيْمٍ	وَّتَصْلِيَةُ	جَحِيْمٍ	اِنَّ
ګمراهانو څخه	نو ميلمستيا ده (ده ته)	له سوځوونکو اوبو څخه	او ننه ايستل دی	په (اور) د دوزخ کښی	بيشکه!

ګمراهانو څخه، نو ميلمستيا ده (ده ته) له سوځوونکيو اوبو څخه . او ننه ايستل دی په اور د دوزخ کښی . بيشکه !


فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورئ: او ځيني علمآء بيا فرمايي چي دقرآن څخه مراد هغه مصحف دی کم چي زموږ او ستاسو په لاسونو کي دی او دمُطهّرون څخه مراد هغه خلګ دي کم چي دنجاست ظاهري او معنوي يعني دحدث اصغر او حدث اکبر دواړو څخه پاک وي يعني نه کوچني بې اودسيا ورسره وي او نه غټه بې اودسوالی ورسره وي چي نه به بې اودسه وي او نه به په حالت کي دجنابت او حيض او نفاس کي وي. **مسئله:** دذکر سوو اياتونو پر بنا باندي دجمهور امت او دڅلورو واړو امامانو پر دې اتفاق دی چي قرآن کريم ته دلاس وروړلو دپاره طهارت شرط دی ددې خلاف کول ګناه ده دظاهري نجاست څخه لاس پاکول په اوداسه کي کيدل په حالت دجنابت کي نه کيدل دا ټول په دي کي داخل دي. **مسئله**: دقرآن مجيد غلاف کم چي دجلد سره ګنډل سوی وي هغه هم دقرآن کريم په حکم کي داخل دی دغه ته هم بغير داوداسه څخه لاس وروړل نه دی رواه :والله اعلم.
معارف القرآن ج٩ پ٢٧ ص١٣٥

ع ۳/۲۲/۱۲

هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۹۵﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۹۶﴾

هٰذَا	لَهُوَ	حَقُّ	الْيَقِيْنِ	فَسَبِّحْ	بِاسْمِ	رَبِّكَ	الْعَظِيْمِ
دا خبره	خامخا هم دا	حق ده	دیقین قابل ده	پس وکړه نسبت دپاکی	نامه	درب خپل ته	چی له ټولو څخه ډیر لوی دی

دا خبره خامخا هم دا حقه یقینی ده. پس وکړه نسبت د پاکی نامه د رب خپل ته چی له ټولو څخه ډیر لوی دی.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

سَبَّحَ	لِلّٰهِ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ
نسبت د پاکی کوی	الله ته	هغه چی	په آسمانونو	او په مځکه کښی دی	او هم دغه (الله)	ښه غالب قوی

نسبت د پاکی کوی الله ته هغه چی په آسمانونو او په مځکه کښی دی ، او هم دغه (الله) ښه غالب قوی

الْحَكِيْمُ ﴿۱﴾ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ

الْحَكِيْمُ	لَهُ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	يُحْيٖ	وَيُمِيْتُ
ښه حکمت والا دی	خاص ده ته ده	باچائی	دآسمانونو	او د مځکی	ژوندی کول کوی	او مړه کول کوی

ښه حکمت والا دی. خاص دغه (الله) لره ده باچائی د آسمانونو او (باچایئ) د مځکی ژوندی کول کوی او مړه کول کوی

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲﴾ هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ

وَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	هُوَ	الْاَوَّلُ	وَالْاٰخِرُ
او هم دغه (الله)	پر	هر شی باندی	ښه قادر دی	هم دغه (الله)	اول دی	او آخر دی

او هم دغه (الله) په هر شی باندی ښه قادر دی. هم دغه (الله) اول دی (له هر شی څخه) او آخر دی (له هر شی څینی)

وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۳﴾

وَالظَّاهِرُ	وَالْبَاطِنُ	وَهُوَ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمٌ
او ظاهر دی	او باطن دی	او هم دغه (الله)	پر هر شی باندی	ښه عالم ، ښه پوهیدونکی دی

او ظاهر دی (په دلیلونو سره) او باطن دی (پټ دی له لیدلو) او هم دغه (الله) دی په هر شی باندی ښه عالم ښه پوهیدونکی.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ.. دسورت الحدید څیني خصوصیات

پنځو سورتونو ته په حدیث شریف کي مسبِّحات ویل سوي دي دکمو په شروع کي چي سبح یا یسبح راغلی دی په هغه کي اولنی دا سورت حدید دی ، دوهم حشر، دریم صف ، څلورم جمعه ، پنځم تغابن ، دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ به دشپي دبیدیدو څخه مخکي دامسبحات ویل اودوی ارشاد فرمایي چي په دې کي یو آیت داسي دی چي دزرو ایاتونو څخه افضل دی: ابن کثیر رحمه الله ددغه روایتو دنقل کولو څخه وروسته فرمایي چي دغه افضل آیت دسورت الحدید دغه ایت دی: هو الاول والاخر والظاهر والباطن وهو بکل شئ علیم .ددغه پنځو سورتونو څخه په دروکي یعني په سورت الحدید او سورت الحشر او سورت الصف کي خو لفظ دسبّح راغلی دی په صیغه دماضي سره او په آخري ددو سورتونو یعني په جمعه او تغابن کي يُسَبِّحُ په صیغه دمضارع راغلی دی اشاره ده چي دالله جل جلاله ذکر هر وخت پکار دی.

(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۴۱)

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ

هُوَ الَّذِیْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضَ	فِیْ سِتَّةِ	اَیَّامٍ	ثُمَّ
او دغه (الله) هغه ذات دی	چی پیدا کړی یئ دی	آسمانونه	او ځمکه	په مقدار د شپږو	ورځو کښی	بیا

او دغه (الله) هغه ذات دی چی پیدا کړی یئ دی آسمانونه او ځمکه په مقدار د شپږو ورځو کښی بیایئ

اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ۭ یَعْلَمُ مَا یَلِجُ فِی الْاَرْضِ وَمَا

اسْتَوٰی	عَلَی الْعَرْشِ	یَعْلَمُ	مَا یَلِجُ	فِی الْاَرْضِ	وَمَا
قایم سو دی	پرعرش باندی	معلوم دی (الله ته)	هغه څه چی ننوځی	په ځمکه کښی	او هر هغه څه

استواء وکړه په عرش باندی، معلوم دی (الله ته) هغه څه چی ننوځی په ځمکه کښی (لکه مړی او باران) او هر هغه څه

یَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا یَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا یَعْرُجُ فِیْهَا ۭ

یَخْرُجُ	مِنْهَا	وَمَا یَنْزِلُ	مِنَ السَّمَآءِ	وَمَا یَعْرُجُ	فِیْهَا
چی راووځی	له دغه ځمکی څخه	او هر هغه چی نازلیږی	له آسمانه	او هر هغه چی پورته خیژی	په دغه کښی

چی راووځی له دغه ځمکی څخه،او هر هغه چی نازلیږی له آسمانه او هر هغه چی پورته خیژی په دغه (آسمان) کښی

وَهُوَ مَعَكُمْ اَیْنَ مَا كُنْتُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ④

وَهُوَ	مَعَكُمْ	اَیْنَ مَا	كُنْتُمْ	وَاللّٰهُ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ	بَصِیْرٌ
او دی	له تاسی سره دی په علم او قدرت سره	هر چیری چی	یئ تاسی	او الله	پر هر هغه چی کوئ یئ تاسی	ښه لیدونکی دی

او دی له تاسی سره دی هر چیری چی یئ تاسی او الله پر هر هغه څه چی کوئ یئ تاسی ښه لیدونکی دی.

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَاِلَی اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ⑤

لَهٗ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاِلَی	اللّٰهِ	تُرْجَعُ	الْاُمُوْرُ
خاص ده (الله) ته ده	باچائی	دآسمانونو	او دځمکی	او خاص	الله لره	گرځول کیږی	ټول کارونه

خاص هغه (الله) لره ده باچائی، سلطنت دآسمانونو او دځمکی او خاص الله لره گرځول کیږی ټول کارونه.

یُوْلِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ ۭ وَهُوَ

یُوْلِجُ	الَّیْلَ	فِی النَّهَارِ	وَیُوْلِجُ	النَّهَارَ	فِی الَّیْلِ	وَهُوَ
ننه باسی (الله)	شپه	په ورځی کښی	او ننه باسی	ورځ	په شپی کښی	او دغه (الله)

ننه باسی (الله) شپه په ورځی کښی او ننه باسی (الله) ورځ په شپی کښی ، او دغه (الله)

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ... ځمکي او اسمانونه الله ﷻ په اندازه دشپږو ورځو کي پیدا کړي دي: الله ﷻ داسي قادر ذات دی کم چي ځمکي او اسمانونه په شپږو ورځو مقدار او زمانه کي پیدا کړي دي بیا پر عرش باندي قائم سو کم چي مشابه دی دتخت دسلطنت سره او هغه ذات داسي قائم سو څنګه چي دده دشان سره لائق او ښايي او الله ﷻ هغه ذات چي هر هغه څه پیژني کم چي په ځمکه او اسمانونو کي دي او هغه څه هم پیژني کم چي په ځمکه کي داخلیږي مثلا باران او کم شیان چي ددې څخه راوزي مثلا نباتات او څه شی چي دآسمان څخه نازلیږي او څه چي ورپورته کیږي مثلا ملایکي چي خیژي او کښته کیږي او مثلا احکام دکمو چي نزول کیږي او عملونه دبندګانو کم چي لوړ خیژي اولکه څنګه چي ددې شیانو هغه ته علم دی دغه شان ستاسي ټول حالات هم هغه ته معلوم دي چنانچي هغه دعلم او اطلاع په اعتبار سره ستاسي سره وي هرچیري چي یاست تاسي نو په حقیقت کي لويي هم دهغه سره ښايي.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۴۰)

عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝٦ اٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَاَنۡفِقُوۡا

عَلِيۡمٌ	بِذَاتِ	الصُّدُوۡرِ	اٰمِنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	وَاَنۡفِقُوۡا
ښه عالم دی	په پټو خبرو	چې په سینو کښې دی	ایمان راوړئ تاسی	په الله	او په رسول دده (الله)	او لګوئ

ښه عالم دی په پټو خبرو چې په سینو کښې دی. ایمان راوړئ تاسی په الله او په رسول دده (الله) باندی او لګوئ

مِمَّا جَعَلَكُمۡ مُّسۡتَخۡلَفِيۡنَ فِيۡهِ ؕ فَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ

مِمَّا	جَعَلَكُمۡ	مُّسۡتَخۡلَفِيۡنَ	فِيۡهِ	فَالَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	مِنۡكُمۡ
له هغو څخه	چې ګرځولی یئ تاسو (الله)	خلیفګان	په هغو کښې	پس هغه کسان	چې ایمان یئ راوړی دی	له تاسی

له هغو څخه چې ګرځولی یئ تاسو (الله) خلیفګان په هغو (اموالو) کښې، پس هغه کسان چې ایمان یئ راوړی دی له تاسی

وَاَنۡفَقُوۡا لَهُمۡ اَجۡرٌ كَبِيۡرٌ ۝٧ وَمَا لَكُمۡ لَا تُؤۡمِنُوۡنَ

وَاَنۡفَقُوۡا	لَهُمۡ	اَجۡرٌ	كَبِيۡرٌ	وَمَا لَكُمۡ	لَا تُؤۡمِنُوۡنَ
او لګولی یئ دی (اموال)	هغو لره دی	اجر	ډیر لوی	او څه مانع عذر دی تاسی لره	چې ایمان نه راوړئ

او لګولی یئ دی (اموال په لاره د الله) هغو لره دی اجر ثواب ډیر لوی. او څه مانع عذر دی تاسی لره چې ایمان نه راوړئ

بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوۡلُ يَدۡعُوۡكُمۡ لِتُؤۡمِنُوۡا بِرَبِّكُمۡ وَقَدۡ اَخَذَ

بِاللّٰهِ	وَالرَّسُوۡلُ	يَدۡعُوۡكُمۡ	لِتُؤۡمِنُوۡا	بِرَبِّكُمۡ	وَقَدۡ	اَخَذَ
په الله	او رسول دده (الله)	داچې رابولی تاسی	چې ایمان راوړئ	په رب خپل باندی	او په تحقیق	اخیستی ده

په الله او رسول دده (الله) حال داچې (رسول الله) رابولی تاسی چې ایمان راوړئ په رب خپل باندی او په تحقیق اخیستی ده

مِيۡثَاقَكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ۝٨ هُوَ الَّذِيۡ يُنَزِّلُ

مِيۡثَاقَكُمۡ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	مُّؤۡمِنِيۡنَ	هُوَ الَّذِيۡ	يُنَزِّلُ
وعده کلکه ستاسی	که چیری یئ تاسی	ایمان راوړونکی	دغه (الله) هغه ذات دی	چې نازلوی

(الله) وعده کلکه ستاسی که چیری یئ تاسی ایمان راوړونکی. دغه (الله) هغه ذات دی چې نازلوی

عَلٰى عَبۡدِهٖۤ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخۡرِجَكُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

عَلٰى	عَبۡدِهٖۤ	اٰيٰتٍ	بَيِّنٰتٍ	لِّيُخۡرِجَكُمۡ	مِّنَ الظُّلُمٰتِ
پر	بنده خپل باندی	دلائل	ښکاره	چې وباسی تاسی	له تیارو (دکفر) څخه

پر بنده خپل باندی دلائل (دقدرت خپل) ښکاره (لپاره د دی) چې وباسی تاسی له تیارو (دکفر) څخه

وَقَدۡ اَخَذَ مِيۡثَاقَكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ... دمیثاق او عهد څخه کم میثاق او عهد مراد ده؟ ددې څخه دمیثاق ازل هم مراد کیدای سي کله چي الله ﷻ دمخلوقاتو دپیدا کولو څخه مخکي په وجود کي راتلونکي ټول ارواحان راجمع کړل ددوی څخه یې دالله ﷻ درب العالمین کیدو اقرار او عهد اخیستی وو چي ذکر یې په قرآن کریم کي د الستُ بربّکم قالوا بلی په الفاظو سره راغلی دی او داهم کیدای سي چي ددې میثاق څخه مراد هغه عهد او میثاق وي کم چي دتیرو انبیاوواوددوی دامتونو څخه پر خاتم الانبیاء ﷺ باندې دایمان راوړلو او دده دمدد کولو په حقله اخیستل سوی دی چي ذکر یې دقرآن کریم په دې آیت کي راغلی دی. ثمّ جآءکم رسول مصدق لما معکم لتؤمننّ به ولتنصرنّه قال أأقررتم واخذتم علی ذلک اصری قالوا اقررنا قال فاشهدوا وانّا معکم من الشاهدین :آل عمران آیت ۸۱ یعني بیا به تاسي ته یو رسول راسي چي تصدیق کوي دهغه کتابونو چي ستاسي سره دی تاسي به ایمان ورباندي راوړی الخ
معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۴۵

اِلَى النُّوۡرِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمۡ لَرَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ۝۹ وَمَا لَكُمۡ

اِلَى النُّوۡرِ	وَاِنَّ	اللّٰهَ	بِكُمۡ	لَرَءُوۡفٌ	رَّحِيۡمٌ	وَمَا لَكُمۡ
رڼا ته	او بیشکه!	الله	پر تاسی باندی	خامخا ښه مهربان	ډیر رحم والا دی	او څه مانع عذر دی تاسی لره

رڼا (دایمان) ته او بیشکه! الله په تاسی باندی خامخا ښه مهربان ډیر رحم والا دی. او څه مانع عذر دی تاسی لره

اَلَّا تُنۡفِقُوۡا فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيۡرَاثُ السَّمٰوٰتِ

اَلَّا تُنۡفِقُوۡا	فِىۡ سَبِيۡلِ	اللّٰهِ	وَلِلّٰهِ	مِيۡرَاثُ	السَّمٰوٰتِ
چی نه نفقه کوئ (مال خیل)	په لاره	دالله کښی	او خاص الله لره دی	میراث	دآسمانونو

چی نه نفقه کوئ نه لګوئ (مال خیل) په لاره د الله کښی او خاص الله لره دی میراث دآسمانونو

وَالۡاَرۡضِ ؕ لَا يَسۡتَوِىۡ مِنۡكُمۡ مَّنۡ اَنۡفَقَ مِنۡ قَبۡلِ

وَالۡاَرۡضِ	لَا يَسۡتَوِىۡ	مِنۡكُمۡ	مَّنۡ اَنۡفَقَ	مِنۡ قَبۡلِ
او دمځکی	نه دی برابر	له تاسی څخه	هغه چی لګولی یئ دی	پخواله

او دمځکی نه دی برابر له تاسی څخه هغه چی لګولی یئ دی (مال خیل په لاره د الله کښی) پخوا له

الۡفَتۡحِ وَقٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعۡظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيۡنَ

الۡفَتۡحِ	وَقٰتَلَ	اُولٰٓئِكَ	اَعۡظَمُ	دَرَجَةً	مِّنَ الَّذِيۡنَ
فتحی څخه	او بیا یئ جنګ کړی دی	دا (لګوونکی)	ډیر لوی دی	له جهته د درجی	له هغو کسانو

فتحی (دحدیبیی یا د مکی) څخه او بیا یئ جنګ کړی دی دا (لګوونکی) ډیر لوی دی له جهته د درجی مرتبی له هغو کسانو

اَنۡفَقُوۡا مِنۡۢ بَعۡدُ وَقٰتَلُوۡا ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الۡحُسۡنٰى ؕ

اَنۡفَقُوۡا	مِنۡۢ بَعۡدُ	وَقٰتَلُوۡا	وَكُلًّا	وَّعَدَ اللّٰهُ	الۡحُسۡنٰى
چی لګوی مال خیل	وروسته (له فتح)	او جنګیږی	او له دواړو طائفو سره	وعده کړی ده الله	دنیکی

چی لګوی مال خیل په لاره دالله کښی وروسته (له فتح) او جنګیږی ، او له دواړو طائفو سره وعده کړی ده الله دنیکی

وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ۝۱۰ مَنۡ ذَا الَّذِىۡ يُقۡرِضُ اللّٰهَ

وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	خَبِيۡرٌ	مَنۡ	ذَا الَّذِىۡ	يُقۡرِضُ	اللّٰهَ
او الله	په هغو کارونو باندی	چی کوئ یئ تاسی	ښه خبردار دی	څوک دی	ذات هغه	چی قرض ورکوی	الله لره

او الله په هغو کارونو باندی چی کوئ یئ تاسی ښه خبردار دی ، څوک دی ذات هغه چی قرض ورکوی الله لره

وَلِلّٰهِ مِيۡرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ لَا يَسۡتَوِىۡ. مځکي او اسمانونه ټول دالله ﷻ ملکیت او میراث دي: میراث په اصل کي هغه ملکیت ته ویل کیږي کم چي داولني مالک دمرګ څخه پس دده وروسته ژوندیو وارثانو ته حاصليږي او دا ملک جبري وي که مرکیدونکي غواړي او که نه غواړي کم څوک چي وارث وي ملکیت ددغه مړي دهغه طرف ته منتقل کیږي: دلته الله ﷻ ملکیت دآسمان او دمځکي د میراث په لفظ سره تعبیر کړي په دغه تعبیر کولو کي حکمت دادی چي که تاسي وغواړی او که نه غواړی دکم شي چي نن تاسي مالکان ګڼل کیږی دغه ټول به په آخر کي دحق تعالی ﷻ خاص ملکیت ته منتقل سي: مراد دادی چي کله هم حقیقي مالک دعالم دټولو اشیاوو مځکي هم حق تعالی ﷻ وو مګر ده په خپل فضل سره دځيني شیانو ملکیت ستاسي په نوم کړی وو او اوس به دغه ظاهري ملکیت سي نو که یي اوس هم تاسي ددغه ظاهري ملکیت څخه خرڅ کړي الله ﷻ به یي پوره بدل درکړي معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۱۴۶

ع ۱۷

قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١١﴾ يَوْمَ

قَرْضًا	حَسَنًا	فَيُضٰعِفَهٗ	لَهٗ	وَلَهٗٓ	اَجْرٌ	كَرِيْمٌ	يَوْمَ
په قرض ورکولو	نیکو سره	نو بیا به دوچنده کړي (الله)	ده لره	او خاص ده ته	اجر، ثواب دی	نیک	هغه ورځ

په قرض ورکولو نیکو سره نو بیا به (الله) دوچنده کړي (هغه قرض) ده لره او خاص ده ته اجر ثواب دی نیک. هغه ورځ

تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

تَرَى	الْمُؤْمِنِيْنَ	وَالْمُؤْمِنٰتِ	يَسْعٰى	نُوْرُهُمْ	بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ
چي وینې ته	مؤمنان سړي	او مؤمناني ښځې	چي ځغلی به	رڼا د دوی	مخکښې له دوی څخه

(دقیامت) چي وینې ته مؤمنان سړي او مؤمناني ښځې چي ځغلی به رڼا د دوی مخکښې له دوی څخه

وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

وَبِاَيْمَانِهِمْ	بُشْرٰىكُمُ	الْيَوْمَ	جَنّٰتٌ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا
او له راسته خوا د دوی څخه	زیری ستاسی	نن ورځ دی	جنت	چي بهیږي	له لاندی د هغو

او له راسته خوا د دوی څخه. زیری ستاسی نن ورځ دی (نن تل په) جنت چي بهیږي له لاندی (دمانیو او ونو) د هغو

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٢﴾

الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	ذٰلِكَ	هُوَ الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ
ویالي	تل به وی دوی	په هغو کښې	دغه دی	هم دغه بری ده (کامیابی)	ډیره لویه

ویالي تل به وی دوی په هغو کښې دغه دی هم دغه بری موندل ډیر لوی

يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

يَوْمَ	يَقُوْلُ	الْمُنٰفِقُوْنَ	وَالْمُنٰفِقٰتُ	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوا
هغه ورځ	چي وایئ به	منافقان سړي	او منافقاني ښځې	هغو کسانو ته	چي ایمان یئ راوړی دی

(یاد کړه ای محمده! هغه) ورځ چي وایئ به منافقان سړي او منافقاني ښځې هغو کسانو ته چي ایمان یئ راوړی دی

انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ

انْظُرُوْنَا	نَقْتَبِسْ	مِنْ نُّوْرِكُمْ	قِيْلَ	ارْجِعُوْا	وَرَآءَكُمْ
وګورئ موږ ته	چي رڼا واخلو	له رڼا ستاسی	نو وبه ویل سی دوی ته	چي وګرځئ	شاؤ خپلو ته

وګورئ موږ ته (انتظار وکړئ) چي رڼا واخلو له رڼا ستاسی نو وبه ویل سی دوی ته چي وګرځئ شاؤ خپلو ته

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى..

دمومنانو نور به دقیامت په ورځ ددوی څخه مخکي روان وي: دلته د الله ﷻ ارشاد مبارک دی چي هغه ورځ دیاد ساتلو ده په کمه ورځ چي ته مومنان سړي او مومناني ښځي ووینې چي ددوی نور به ددوی څخه مخکي او راسته طرف ته وي: ددې ورځي څخه مراد دقیامت ورځ ده او دغه دنور دعطا کولو معامله به پر پل صراط باندي دتللو څخه مخکي راسي: ددې تفصیل په یو حدیث شریف کي داسي راغلی دی په روایت دابو امامه رضی الله عنه چي ده په دمشق کښي په یوه جنازه کي شرکت وکړی او دفارغیدو څخه وروسته یي خلګو ته دمرګ او آخرت دیادولو دپاره پر مرګ او قبر باندي دحشر څه حالات بیانول ذکر دي دهغو څو جملو ترجمه داده چي: بیا به تاسي دقبرونو څخه میدان دحشر طرف ته منتقل سی په کم کي چي به مختلف مراحل او مواقف وي یوه مرحله به داسي راسي چي د خدای ﷻ په حکم به ځیني مخونه سپین او روښانه سي او ځیني مخونه به بیا تور سي. پاته بیان پر راروان مخ وګورئ.

فَالۡتَمِسُوۡا نُوۡرًا ؕ فَضُرِبَ بَيۡنَهُمۡ بِسُوۡرٍ لَّهٗ بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ

فَالۡتَمِسُوۡا	نُوۡرًا	فَضُرِبَ	بَيۡنَهُمۡ	بِسُوۡرٍ	لَّهٗ	بَابٌ	بَاطِنُهٗ
پس ولټوئ	رڼا	پس وبه واهه سی	په منیځ ددوی کښې	یو دیوال	چې هغه لره به	دروازه وی	دننه طرف ته یئ

پس ولټوئ رڼا پس وبه واهه سی په مینځ د دغو (منافقانو او مؤمنانو) کښې یو دیوال چې هغه لره به دروازه وی دننه طرف

فِيۡهِ الرَّحۡمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنۡ قِبَلِهِ الۡعَذَابُ ؕ ﴿۱۳﴾ يُنَادُوۡنَهُمۡ

فِيۡهِ	الرَّحۡمَةُ	وَظَاهِرُهٗ	مِنۡ قِبَلِهِ	الۡعَذَابُ	يُنَادُوۡنَهُمۡ
په هغې کښې	رحمت وی	او دباندی طرفته دهغه	دهغه دمخ دطرفه څخه	به عذاب وی	ږغ به وکړی دوی ته

دهغې رحمت وی (مؤمنانو لره) او دباندی طرف ته دهغه له طرفه د هغه څخه به عذاب وی. ږغ به وکړی (منافقان) دوی ته

اَلَمۡ نَكُنۡ مَّعَكُمۡ ؕ قَالُوۡا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمۡ فَتَنۡتُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ

اَلَمۡ نَكُنۡ	مَّعَكُمۡ	قَالُوۡا	بَلٰى	وَلٰكِنَّكُمۡ	فَتَنۡتُمۡ	اَنۡفُسَكُمۡ
آیا نه وو موږ	له تاسی سره	نو وبه وایئ	هو !	وئ مګر تاسی	په فتنه کښې اچولی ؤ تاسو	ځانونه خپل

آیا نه وو موږ له تاسی سره (ملګری) نو وبه وایئ (مؤمنان) هو ! وئ مګر تاسی په فتنه کښې اچولی ؤ تاسو ځانونه خپل

وَتَرَبَّصۡتُمۡ وَارۡتَبۡتُمۡ وَغَرَّتۡكُمُ الۡاَمَانِىُّ حَتّٰى جَآءَ

وَتَرَبَّصۡتُمۡ	وَارۡتَبۡتُمۡ	وَغَرَّتۡكُمُ	الۡاَمَانِىُّ	حَتّٰى	جَآءَ
او انتظار کاوه تاسی	او شک به مو کاوه تاسی	او غولولی وئ تاسی	آرزوګانو خپلو	تر هغه پورې	چې راغلی

او انتظار کاوه تاسی او شک به مو کاوه تاسی او غولولی وئ تیر ایستلی وئ تاسی آرزوګانو خپلو تر هغه پورې چې راغلی

اَمۡرُ اللّٰهِ وَغَرَّكُمۡ بِاللّٰهِ الۡغَرُوۡرُ ﴿۱۴﴾ فَالۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ مِنۡكُمۡ

اَمۡرُ	اللّٰهِ	وَغَرَّكُمۡ	بِاللّٰهِ	الۡغَرُوۡرُ	فَالۡيَوۡمَ	لَا يُؤۡخَذُ	مِنۡكُمۡ
امر	دالله	او غولولی یئ تاسی	په الله باندی	غولوونکی	پس نن ورځ	وا به نه خیستله سی	له تاسی څخه

امر ، حکم دالله او غولولی یئ تاسی په (کرم د) الله باندی غولوونکی . پس نن ورځ وا به نه خیستله سی له تاسی څخه

فِدۡيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ؕ مَاۡوٰٮكُمُ النَّارُ ؕ

فِدۡيَةٌ	وَّلَا مِنَ الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	مَاۡوٰٮكُمُ	النَّارُ
فدیه	او نه له هغو کسانو څخه	چې کافران سوی ؤ	ځای دورتلو ستاسی	اور (دوزخ) دی

فدیه معاوضه او نه له هغو کسانو څخه چې کافران سوی ؤ ځای د ورتلو ستاسی اور (دوزخ) دی

فَضُرِبَ بَيۡنَهُمۡ بِسُوۡرٍ لَّهٗ بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ...دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: بیا به یوه مرحله داسي راسي چي په میدان دحشرکي په جمع سوو ټولو خلګو چي مومنان او کافران به پکښي وي یوه سخته تیاره راپورته سي چاته به هیڅ شی په نظر نه راځي: ددې څخه وروسته به نور تقسیم سي هر مومن ته به نور ورکول سي: او په بل روایت کي دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه نقل دي چي په مومنانو کي به دانور په قدر ددوی دعملونو تقسیم سي دچانور به په مثل دغره وي او دچانور به په مثل ددرختي وي او دچانور به دانسان دقامت برابر وي دټولو څخه کم نور دهغه سړي دی دکم چي به صرف په ګوته کي نور وي او هغه به کله روښانه کیږي اوکله به مري: ابن کثیر. بیا ابو امامه باهلي رضي الله عنه فرمايي چي منافقینو اوکفارو ته به هیڅ قسم نور نه ورکول کیږي اوبیا دی فرمايي چي داواقعه قرآن کریم دیومثال په عنوان سره بیان فرمايلې ده په دغه آیت کي او: کظلمات فی بحر لجيٍّ یغشاه موج من فوقه موج من فوقه سحاب: الخ.
معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۵۷

هِيَ مَوْلٰـكُمْ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٥﴾ اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

هِيَ	مَوْلٰـكُمْ	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	اَلَمْ يَاْنِ	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا
همغه	ملګري ستاسي دي	او بد	ځای دورتلو دی	آیا نه دی راغلی وخت	هغو کسانو لره	چي ایمان یئ راوړی دی

همغه ملګري ستاسي دی او بد ځای د ورتلو دی (دغه دوزخ). آیا نه دی راغلی وخت هغو کسانو لره چي ایمان یئ راوړی دی

اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ

اَنْ تَخْشَعَ	قُلُوْبُهُمْ	لِذِكْرِ اللّٰهِ	وَمَا نَزَلَ	مِنَ الْحَقِّ
چي وبيريږئ	زړونه د دوی	دالله د ذکر دپاره	او دهغه شي چي نازل سوی دی	له حق څخه

چي وبيريږئ زړونه د دوی (له جهته) د ذکر دالله څخه او (له جهته د) هغه شي چي نازل سوی دی له حق څخه

وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ

وَلَا يَكُوْنُوْا	كَالَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلُ	فَطَالَ	عَلَيْهِمُ
او نه دی کيږي	په شان د هغو کسانو	چي ورکړی سوی ؤ هغوی ته	کتاب	پخوا له دی څخه	نو اوږده سوه	په دوی باندی

او نه دی کیږی په شان د هغو کسانو چي ورکړی سوی ؤ هغوی ته کتاب پخوا له دی څخه نو اوږده سوه په دوی باندی

الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿١٦﴾ اِعْلَمُوْٓا

الْاَمَدُ	فَقَسَتْ	قُلُوْبُهُمْ	وَكَثِيْرٌ	مِّنْهُمْ	فٰسِقُوْنَ	اِعْلَمُوْٓا
زمانه	نو سخت سول	زړونه د دوی	او ډير	له دوی څخه	فاسقان، نافرمانان دی	پوه سئ تاسی

زمانه نو سخت سول زړونه د دوی او ډیر له دوی څخه فاسقان، نافرمانان دی پوه سئ تاسی

اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ قَدْ بَيَّنَّا

اَنَّ	اللّٰهَ	يُحْيِ	الْاَرْضَ	بَعْدَ	مَوْتِهَا	قَدْ	بَيَّنَّا
بيشكه! چي	الله	ژوندی کوی	ځمکه	وروسته	له مرګه	په تحقيق	ښکاره بيان کړی دی موږ

بيشکه! چي الله ژوندی کوی زرغونوی ځمکه وروسته له مرګه، وچوالی دهغې په تحقیق ښکاره بیان کړی دی موږ

لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ

لَكُمُ	الْاٰيٰتِ	لَعَلَّكُمْ	تَعْقِلُوْنَ	اِنَّ	الْمُصَّدِّقِيْنَ
تاسی ته	دلائل	دپاره ددی چي تاسی	عقل پکښی وچلوئ	بيشکه!	خيرات ورکوونکی سړی

تاسی ته دلائل (دقدرت) دپاره د دی چي تاسی عقل پکښی وچلوئ. بیشکه! خیرات ورکوونکی سړی

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ..ایا دمسلمانانو دزړونو دبیداری وخت نه دی راغلی؟ په دغه آیت کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي آیا اوس هم هغه وخت نه دی راغلی دایماندارو دپاره چي ددوی زړونه دالله ﷻ د ذکر دپاره عاجزي وکړي او نرم سي او ددغه قرآن کریم دپاره کم چي پر دوی نازل سوی دی دزړه دخشوع څخه مراد دلته دزړه نرمیدل او وعظ او نصیحت قبلول او دهغه اطاعت کول دي. ابن کثیر دقرآن دپاره خشوع داده چي دده داحکامو اوامرو او نواهیوو دمکمل اطاعت دپاره تیار سي او پر دې په عمل کولو کي څه سستي او کمزوري ونه کړي: روح المعاني. دغه عتاب او خبرداری مومنانو ته دی دحضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چي الله ﷻ دځینو مومنانو په زړونو کي دعمل په اعتبار سره څه سستي معلومه کړه پر دغه باندي دغه ایت نازل سو: ابن کثیر. او ځیني بیا فرمایي چي مديني منورې ته درسیدو څخه وروسته دصحابه کرامو رضي الله عنهم په عمل کي څه کمی راغی نو دا آیت نازل سو الخ.
معارف القرآن ج ٩ پ ٢٧ ص ١٦٢

وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ

وَالْمُصَّدِّقٰتِ	وَاَقْرَضُوا	اللّٰهَ	قَرْضًا	حَسَنًا	يُّضٰعَفُ	لَهُمْ
اوخيرات وركوونكي ښځي	او هغه څوک چي قرضونه يئ کړی دی	له الله سره	قرض	نيک	دوچند به کړسی	دوی ته

او خيرات وركوونكي ښځي او هغه څوک چي قرضونه يئ کړی دی له الله سره قرض نيک دوچند به کړسی دوی ته

وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖۤ

وَلَهُمْ	اَجْرٌ	كَرِيْمٌ	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	بِاللّٰهِ	وَرُسُلِهٖۤ
او وی به دوی ته	اجر ثواب	ډير لوی	او هغه کسان	چي ايمان يئ راوړی دی	په الله	او په رسولانو ددغه (الله)

او وی به دوی ته اجر ثواب ډير لوی. او هغه کسان چي ايمان يئ راوړی دی په الله او په (ټولو) رسولانو ددغه (الله)

اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۖ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ لَهُمْ

اُولٰٓئِكَ	هُمُ	الصِّدِّيْقُوْنَ	وَالشُّهَدَآءُ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	لَهُمْ
دغه کسان	هم دوی دی	ډير رښتيني	او شهيدان دی	په نزد	درب خپل	وی دوی ته

دغه کسان هم دوی دی ډير رښتيني او شاهدان دی په نزد درب خپل وی به دغو (صديقانو مؤمنانو) ته

اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

اَجْرُهُمْ	وَنُوْرُهُمْ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَكَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَآ
اجر ددوی	او رڼا ددوی	او هغه کسان	چي کافران سوی دی	او نسبت د درغو يئ کړی دی	آياتونو زموږ ته

اجر ددوی او رڼا ددوی او هغه کسان چي کافران سوی دی او نسبت د دروغو يئ کړی دی آياتونو زموږ ته

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۹﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ

اُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	الْجَحِيْمِ	اِعْلَمُوْٓا	اَنَّمَا	الْحَيٰوةُ	الدُّنْيَا	لَعِبٌ
هغوی دی	ياران، ملګری	د دوزخ	او پوه سئ تاسي	چي بيشکه!	دغه ژوندون	د دنيا	لوبی بی فائدی

هغوی دی ياران ملګری د دوزخ. او پوه سئ تاسي چي بيشکه! دغه ژوندون د دنيا خوشی بی فائدی لوبی

وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي

وَّلَهْوٌ	وَّزِيْنَةٌ	وَّتَفَاخُرٌۢ	بَيْنَكُمْ	وَتَكَاثُرٌ	فِي
او تماشه، عبث	او زينت	او فخر لوئی کول دی	په مينځ ستاسی کښی	او زيادت دی	په

او بيکاره عبث مشغولتيا او زينت ښائست او فخر لوئی کول دی په مينځ ستاسی کښی اوزيادت دی په

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖۤ اُولٰٓئِكَ..ايا هر مومن صديق او شهيد دی؟ددې ايت څخه داسي معلومه سوه چي صديق او شهيد هر مومن ته ويل کيږي، او حضرت قتاده رضي الله عنه او عمر ابن ميمون رحمة الله عليه ددې آيت پر بنا فرمايي چي هر هغه سړی کم چي پر الله جل جلاله او دهغه پر رسول صلی الله علیه وسلم باندي ايمان راوړي هغه صديق او شهيد دی ابن جرير رحمة الله عليه دحضرت برآء ابن عازب رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي مؤمنوا امتی شهدآء چي زما دامت ټول مومنان شهيدان دي اوددې خبري په دليل کي يي دغه ذکر سوی آيت تلاوت وفرمايه: او دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ ددوی سره څه اصحاب حضرات رضي الله عنهم جمع وه دوی وفرمايل: كلكم صديقٌ وشهيدٌ. يعني په تاسي کي هريو صديق او شهيد هم دی خلګو په تعجب سره وويل چي ای ابوهريره رضي الله عنه دا تاسي څه واياست؟ نو ده مبارک وفرمايل چي که يقين نه لری نو دقرآن کريم دغه ايت ووياست والذين آمنوا بالله ورسله الخ پاته بيان پر راروان مخ وګوری

ع ۲ / ۱۸

الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ

الْاَمْوَالِ	وَالْاَوْلَادِ	كَمَثَلِ	غَيْثٍ	اَعْجَبَ	الْكُفَّارَ	نَبَاتُهٗ
په اموالو	او په اولاد کښې	په شان	دباران دی	چی ښه ښکاری	ناشکرانو کرونکو لره	زرغونه دده

په اموالو او (ډیروالی دی) په اولاد کښې په مثل (دنباتاتو) دباران دی ښه ښکاری ناشکرانو کرونکو لره زرغونه دده

ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ؕ وَفِي الْاٰخِرَةِ

ثُمَّ	يَهِيْجُ	فَتَرٰىهُ	مُصْفَرًّا	ثُمَّ	يَكُوْنُ	حُطَامًا	وَفِي	الْاٰخِرَةِ
بیا	وچه سی	نو پس وبه وینی هغه	زیړ سوی	بیا	سی هغه (وچ)	مات تار په تار	او په	آخرت کښې

بیا وچه سی (داګیا) نو پس وبه وینی هغه (زرغونه) زیړ سوی بیا سی هغه (وچ وابښه) مات تار په تار او په آخرت کښې

عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ

عَذَابٌ	شَدِيْدٌ	وَّمَغْفِرَةٌ	مِّنَ اللّٰهِ	وَرِضْوَانٌ	وَمَا الْحَيٰوةُ
عذاب	شدید، سخت دی	او بخښنه ده لویه	له (جانبه) د الله	او رضاء، خوښی ده	او نه دی ژوندون

عذاب شدید سخت دی او مغفرت بخښنه ده لویه له(جانبه) دالله اورضوان رضاء خوښی ده او نه دی (دغه) ژوندون

الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ⑳ سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ

الدُّنْيَآ	اِلَّا	مَتَاعُ	الْغُرُوْرِ	سَابِقُوْٓا	اِلٰى	مَغْفِرَةٍ	مِّنْ
د دنیا	مګر دی	متاع، اسباب	دغرور دغولیدلو	وځغلئ تاسی	طرف	دمغفرت، بخښنی ته	چی له (جانبه)

د دنیا مګر دی متاع اسباب د غرور د غولیدلو. تلوار وکړئ وځغلئ تاسی طرف د مغفرت، بخښنی ته چی له (جانبه)

رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۙ

رَّبِّكُمْ	وَجَنَّةٍ	عَرْضُهَا	كَعَرْضِ	السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ
درب ستاسی دی	او جنت ته	چی پلنوالی یئ دی	لکه پلنوالی	دآسمان	او دمځکی

د رب ستاسی دی او (تلوار وکړئ) جنت ته چی پلنوالی یئ (داسی) دی لکه پلنوالی د آسمان او د مځکی

اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ

اُعِدَّتْ	لِلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	بِاللّٰهِ	وَرُسُلِهٖ	ذٰلِكَ	فَضْلُ
تیار کړی سوی دی	دپاره دهغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	پر الله	او پر رسول دده (الله)	دغه	فضل

تیار کړی سوی دی دپاره د هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی په الله او په رسول دده (الله) دغه فضل

الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: لیکن دقرآن کریم دیوبل آیت څخه په ښکاره دغه مستفاد کیږي چي صدیق او شهید هر مومن نه دی بلکي دمومنانو څخه دیوې اعلی طبقې خلګو ته صدیق او شهید ویل کیږي. هغه آیت دادی: فاولئک مع الذین انعم الله علیهم من النبیین والصدیقین والشهدآء والصالحین ځکه چي په دې ایت کي دانبیاوو سره دعامومنانودرې طبقې په خصوصیت سره ذکر سوي دي صدیقین، شهدآء، او صالحین او ددې څخه ظاهره داده چي ددرو سره وارو په مفهوم او مصداق کي فرق دی کني ددې درې وارو دجلا جلا ذکر کولو ضرورت نه وو په دې وجه ځیني حضرا فرمايي چي صدیقین او شهدآء خو په اصل کي دمومنانو مخصوص خلګ دي کم چي داعلی اولوړو صفتونو خاوندان دي. اودلته ټولو مومنانو ته دصدیق او شهید فرمایلو مطلب دادی چي هريو مومن په يو حيثيت سره دصديق او شهيد په حکم کي دی او ددوی په جماعت کي پیوست کيږي

معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص ۱۶۳

اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢١﴾

اللّٰهِ	يُؤْتِيْهِ	مَنْ يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ	ذُو الْفَضْلِ	الْعَظِيْمِ
د الله دی	چی ورکوی یئ	هغه چاته چی اراده وفرمائی	او الله	خاوند د فضل	عظیم دی

د الله دی چی عطاء کوی یئ هغه چاته چی اراده وفرمائی او الله خاوند د فضل عظیم دی .

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ

مَآ اَصَابَ	مِنْ مُّصِيْبَةٍ	فِي الْاَرْضِ	وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ
نه رسیږی	هیڅ مصیبت ، آفت	په مځکه	او نه ستاسی په ځانونو کښی

نه رسیږی هیڅ مصیبت آفت غم په مځکه او نه ستاسی په ځانونو کښی

اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

اِلَّا	فِيْ كِتٰبٍ	مِّنْ قَبْلِ	اَنْ نَّبْرَاَهَا	اِنَّ	ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ
مگر	هغه خو لیکلی سوی دی	پخوا له هغی څخه	چی پیدا کړی وی موږ هغه	بیشکه!	دا	پر الله

مگر هغه خو لیکلی سوی دی په کتاب (لوح محفوظ) کښی پخوا له هغی څخه چی پیدا کړی وی موږ هغه بیشکه! دا پر الله

يَسِيْرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰي مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا

يَسِيْرٌ	لِّكَيْلَا تَاْسَوْا	عَلٰي مَا	فَاتَكُمْ	وَلَا تَفْرَحُوْا
ډیره آسانه ده	لپاره ددی چی خفه نه سئ تاسو	پر هغه څه	چی له لاسه وتلی دی ستاسو	او خوشحاله نسئ تاسی

ډیره آسانه ده. لپاره ددی چی خفه نه سئ تاسو پر هغه څه چی مره سوی له لاسه وتلی دی دتاسو او خوشحاله نسئ تاسی

بِمَآ اٰتٰىكُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِۨ ﴿٢٣﴾ الَّذِيْنَ

بِمَآ	اٰتٰىكُمْ	وَاللّٰهُ	لَا يُحِبُّ	كُلَّ	مُخْتَالٍ	فَخُوْرٍ	الَّذِيْنَ
په هغه څه چی	تاسی ته یئ درکړی وی	او الله	نه خوښوی	هر	کبرجن	او فخر کوونکی	هغه کسان چی

په هغه څه چی تاسی ته یئ درکړی وی ، او الله نه خوښوی هر متکبر او فخر کوونکی هغه کسان چی (هم دوی پخپله)

يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ

يَبْخَلُوْنَ	وَيَاْمُرُوْنَ	النَّاسَ	بِالْبُخْلِ	وَمَنْ	يَّتَوَلَّ	فَاِنَّ
بخل کوی	او امر کوی	خلگو ته	په بخل سره	او هر هغه چی	مخ یئ وگرځاوه	نو بیشکه!

بخل کوی او (هم) امر کوی خلگو ته په بخل سره ، او هر هغه چی مخ یئ وگرځاوه (له احکام الله څخه) نو بیشکه!

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ. هرڅه چي مخلوق ته رسيږي مخکي الله ﷻ هغه ليکلي وه : يعني کم يو مصيبت چي پرتاسي باندي په مځکه کي راځي يا په خپلو ځانونو کي واقع کيږي : دغه ټول موږ په کتاب يعني لوح محفوظ کي دمخلوقاتو دپيدا کيدوڅخه مخکي ليکلي وه دمځکي دمصيبت څخه مراد قحط ،زلزله په فصل او باغ کي نقصان ، او په تجارت کي تاوان ،دمال او دولت ضائع کيدل دخپلوانو دوستانو مرگ ټول په کښي داخل دي او **دخپلو ځانونو په مصيبت** کي هر قسم مرضونه اوزخم اوگوذار وغيره شامل دی **لکی لاتاسوا علی ما فاتکم ولاتفرحوا بما آتاکم** مطلب ددې آيت دادی چي په دنيا کي څه مصيبت يا راحت خوشحالي يا غم انسان ته پيښيږي هغه ټول الله ﷻ په لوح محفوظ کي دانسان دپيدا کيدو څخه مخکي ليکلي دي ددې اطلاع تاسي ته ځکه درکول سوه چي تاسي ددنيا ښو اوبدو حالاتو ته زيات فکر ونه کی او نه ددې ځای تکليف او مصيبت زيات دافسوس شی وبولی.
(معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۷۱)

اللّٰهَ هُوَ الۡغَنِيُّ الۡحَمِيۡدُ ﴿۲۴﴾ لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِالۡبَيِّنٰتِ

اللّٰهَ	هُوَ الۡغَنِيُّ	الۡحَمِيۡدُ	لَقَدۡ	اَرۡسَلۡنَا	رُسُلَنَا	بِالۡبَيِّنٰتِ
الله	هم هغه غني ، بې پروا	ښه ستايلی سوی دی	خامخا په تحقيق	ليږلي ؤ موږ	پيغمبران خپل	په ښکاره ؤ دلائلو

الله هم هغه غني بې پروا په صفتونو سره ښه ستايلی سوی دی . خامخا په تحقيق ليږلي ؤ موږ پيغمبران خپل په ښکاره ؤ دلائلو

وَاَنۡزَلۡنَا مَعَهُمُ الۡكِتٰبَ وَالۡمِيۡزَانَ لِيَقُوۡمَ النَّاسُ

وَاَنۡزَلۡنَا	مَعَهُمُ	الۡكِتٰبَ	وَالۡمِيۡزَانَ	لِيَقُوۡمَ	النَّاسُ
او نازل کړی ؤ موږ	له هغوی سره	کتاب	او ميزان ، تله	لپاره ددی چي ودريږی	خلک

او نازل کړی ؤ موږ له هغوی سره کتاب او ميزان تله لپاره ددی چي ودريږی خلک

بِالۡقِسۡطِ‌ۚ وَاَنۡزَلۡنَا الۡحَدِيۡدَ فِيۡهِ بَاۡسٌ شَدِيۡدٌ وَّمَنَافِعُ

بِالۡقِسۡطِ	وَاَنۡزَلۡنَا	الۡحَدِيۡدَ	فِيۡهِ	بَاۡسٌ	شَدِيۡدٌ	وَّمَنَافِعُ
په انصاف باندی	او راکښته کړی ده موږ	او سپنه	چی په دی کښی	جنګ	سخت دی	او منافع ګټی دی

په انصاف باندی، او را اليږلی ده موږ او سپنه . چی په دی کښی سخت جنګ ډير قوت دی او منافع ګټی دی

لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ اللّٰهُ مَنۡ يَّنۡصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالۡغَيۡبِ‌ؕ

لِلنَّاسِ	وَلِيَعۡلَمَ	اللّٰهُ	مَنۡ يَّنۡصُرُهٗ	وَرُسُلَهٗ	بِالۡغَيۡبِ
لپاره د خلګو	او لپاره ددی چي معلوم کړی	الله	چی څوک دی چی مرسته کوی له ده سره	او له رسولانو دده سره	په غيبو

لپاره د خلګو ، او بل لپاره د دی چی عالم سی الله په هغه چا باندی چی مرسته کوی له ده سره او له رسولانو د ده سره په غيبو

اِنَّ اللّٰهَ قَوِىٌّ عَزِيۡزٌ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا وَّاِبۡرٰهِيۡمَ وَجَعَلۡنَا

اِنَّ	اللّٰهَ	قَوِىٌّ	عَزِيۡزٌ	وَلَقَدۡ	اَرۡسَلۡنَا	نُوۡحًا	وَّاِبۡرٰهِيۡمَ	وَجَعَلۡنَا
بيشکه!	الله	ډير قوی دی	ښه غالب دی	او خامخا په تحقيق	ليږلي ؤ موږ	نوح	او ابراهيم	او ګرځولی ؤ موږ

بيشکه! الله ډير قوی دی ښه غالب دی (په ذلت) .او خامخا په تحقيق ليږلي ؤ موږ نوح او ابراهيم او ګرځولی ؤ موږ

فِىۡ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالۡكِتٰبَ فَمِنۡهُمۡ مُّهۡتَدٍ‌ۚ وَكَثِيۡرٌ

فِىۡ ذُرِّيَّتِهِمَا	النُّبُوَّةَ	وَالۡكِتٰبَ	فَمِنۡهُمۡ	مُّهۡتَدٍ	وَكَثِيۡرٌ
په اولاده د دغه دواړو کښی	نبوت پيغمبری	او کتاب	نو ځينی له دوی	لار پيدا کوونکی دی	او ډير

په اولاده د دغه دواړو کښی نبوت پيغمبری (او نازل کړی ؤ موږ) کتاب، نو ځينی له دوی لار پيدا کوونکی دی او ډير

ع ۳ ۱۹

لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِالۡبَيِّنٰتِ وَاَنۡزَلۡنَا مَعَهُمُ داسماني کتابونو او دانبياوو عليهم السلام دليلونو اصل مقصد : دبينات څخه مراد يا خو واضح احکام دي او دا هم کيداى سي چي ددي څخه معجزات او پر نبوت او رسالت باندي واضح دليلونه مراد وي: او ددي څخه وروسته الله ﷻ فرمايي: وانزلنا معهم الكتب والميزان دلته يي دکتاب سره ديوه بل شي ذکر هم کړى دى چي هغه ميزان دى ميزان په اصل کي هغه آلې ته ويل کيږي په کم سره چي ديوشي وزن کول کيږي چي عام صورت يي دتلې دى اودرواجي تلې څخه علاوه دمختلفو شيانو دوزن کولو دپاره چي کم مختلف قسم آلات ايجاديږي دغه هم دميزان يعني تلې په مفهوم کي شامل او داخل دي لکه نن صبا چي دهوا ، رنا وغيره ناپ کولو آلات دي : په دي آيت کي دکتاب په شان دميزان دپاره هم دنازلولو ذکر فرمايلى دى: ددي متعلق په روح المعاني کي ليکلي دي چي دميزان دنازلولو څخه مراد هغه احکام دي کم چي دميزان داستعمالولو او انصاف کولو په حقله نازل سوه .
معارف القرآن ج ۹ پ ۲۷ ص ۱۷۳

مِّنۡهُمۡ فٰسِقُوۡنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيۡنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمۡ بِرُسُلِنَا

مِّنۡهُمۡ	فٰسِقُوۡنَ	ثُمَّ	قَفَّيۡنَا	عَلٰٓى	اٰثَارِهِمۡ	بِرُسُلِنَا
له دوی څخه	فاسقان دی	بیا	پر له پسی ولیږل موږ	پر	قدمونو دهغو باندی	نور رسولان خپل

له دوی څخه فاسقان دی، نافرمانان دی. بیا وروسته ولیږل موږ پر آثار قدمونو دهغو باندی نور رسولان خپل

وَقَفَّيۡنَا بِعِيۡسَى ابۡنِ مَرۡيَمَ وَاٰتَيۡنٰهُ الۡاِنۡجِيۡلَ ۙ وَجَعَلۡنَا

وَقَفَّيۡنَا	بِعِيۡسَى	ابۡنِ	مَرۡيَمَ	وَاٰتَيۡنٰهُ	الۡاِنۡجِيۡلَ	وَجَعَلۡنَا
او وروپسی راومولیږه	عیسیٰ	زوی	دمریمی	او ورکړ موږ ده ته	انجیل	او کرځولی ؤ موږ

او وروسته راووست موږ عیسیٰ زوی د مریمی او ورکړ موږ ده ته انجیل، او کرځولی ؤ موږ

فِىۡ قُلُوۡبِ الَّذِيۡنَ اتَّبَعُوۡهُ رَاۡفَةً وَّرَحۡمَةً ؕ وَرَهۡبَانِيَّةَ ۨ

فِىۡ قُلُوۡبِ	الَّذِيۡنَ	اتَّبَعُوۡهُ	رَاۡفَةً	وَّرَحۡمَةً	وَرَهۡبَانِيَّةَ
په زړونو	دهغو کسانو	چی متابعت یئ کړی ؤ ددغه	رافت نرمی	او رحمت مهربانی	او رهبانیت

په زړونو دهغو کسانو کښی چی متابعت یئ کړی ؤ د دغه (عیسی) رافت نرمی او رحمت مهربانی او رهبانیت (ترک د دنیا)

ابۡتَدَعُوۡهَا مَا كَتَبۡنٰهَا عَلَيۡهِمۡ اِلَّا ابۡتِغَآءَ رِضۡوَانِ

ابۡتَدَعُوۡهَا	مَا كَتَبۡنٰهَا	عَلَيۡهِمۡ	اِلَّا	ابۡتِغَآءَ	رِضۡوَانِ
چی نوی یئ له ځانه جوړ کړی ؤ دوی هغه	نه ؤ مقرر کړی موږ دغه	پر دوی باندی	مګر	دپاره دطلب	دخوښی

چی نوی یئ له ځانه جوړ کړی ؤ دوی هغه نه ؤ مقرر کړی موږ دغه (رهبانیت) په دوی باندی مګر دپاره دطلب دخوښی

اللّٰهِ فَمَا رَعَوۡهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيۡنَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

اللّٰهِ	فَمَا رَعَوۡهَا	حَقَّ	رِعَايَتِهَا	فَاٰتَيۡنَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا
دالله	پس ونه کړ دوی رعایت ددی	چی حق	درعایت یئ ؤ	پس ورکړ موږ	هغو کسانو ته	چی ایمان یئ راوړی ؤ

دالله پس ونه کړ دوی رعایت د دی لکه چی حق درعایت یئ ؤ، پس ورکړ موږ هغو کسانو ته چی ایمان یئ راوړی ؤ

مِنۡهُمۡ اَجۡرَهُمۡ ۚ وَكَثِيۡرٌ مِّنۡهُمۡ فٰسِقُوۡنَ ﴿٢٧﴾

مِنۡهُمۡ	اَجۡرَهُمۡ	وَكَثِيۡرٌ	مِّنۡهُمۡ	فٰسِقُوۡنَ
له هغو څخه	اجر ثواب د دوی	او ډیر	له دوی څخه	فاسقان، نافرمانان دی

له هغو څخه اجر ثواب د دوی او ډیر له دوی څخه فاسقان، نافرمانان دی.

ثُمَّ قَفَّيۡنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمۡ بِرُسُلِنَا. بیا پرله پسې مو ولیږل پر قدمونو دهغوی نور رسولان خپل: په دغه ایاتونو کې دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چې موږ دخپل مخلوق دآخرت او ددین داصلاح دپاره حضرت نوح علیه السلام او حضرت ابراهیم علیه السلام پیغمبران جوړ کړل وا موستول او موږ ددوی په اولاد کې پیغمبري او کتاب جاري پاته کړل یعني ددوی په اولادو کې موهم ځیني پیغمبران او په دوی کې ځیني صاحب دکتاب جوړ کړل نو کمو کمو خلګوته چې داپیغمبران راغلل په هغوخلګو کې خو ځینو هدایت پیداکړی او ځیني په دوی کې نافرمانه سول: اودغه ذکر سوي پیغمبران خودمستقل شریعت خاوندان وه په دوی کې ځیني دکتاب خاوندان هم وه موسی علیه السلام کم چې دحضرت نوح علیه السلام او ابراهیم علیه السلام دواړو په اولاد کې وه اوځیني که څه هم صاحب کتاب نه وه لکه هود علیه السلام او صالح علیه السلام چې ددوی دکتاب خاوندان کیدل منقول نه دي مګر شریعت ددوی مستقل وو په هر حال ډیر نبیان خو دمستقل شریعت: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	اللّٰهَ	وَاٰمِنُوْا	بِرَسُوْلِهٖ
ای	هغو كسانو	چې ايمان يئ راوړی دی	ويريږئ تاسی	دالله څخه	او ايمان راوړئ	په رسول ددغه (الله)

ای هغو كسانو چې ايمان يئ راوړی دی په تيرو انبياؤ ويريږئ تاسی (له عذابه) دالله او ايمان راوړئ په رسول د دغه (الله)

يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا

يُؤْتِكُمْ	كِفْلَيْنِ	مِنْ رَّحْمَتِهٖ	وَيَجْعَلْ	لَّكُمْ	نُوْرًا
چې دركړي تاسي ته	دوی حصی برخی	له رحمته خپله	او چې وگرځوی	تاسی لره	يوه رڼا

چې دركړي تاسي ته دوی حصی برخی له رحمته خپله او چې وگرځوی تاسی لره يوه رڼا

تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۙ﴿۲۸﴾

تَمْشُوْنَ	بِهٖ	وَيَغْفِرْ لَكُمْ	وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ
چې تلل به كوئ	په هغی سره	او وبخښی تاسي ته (گناهونه)	او الله	ښه مغفرت كوونكی	ډير رحم والا دی

چې تلل به كوئ په هغی سره (په لار) او وبخښی تاسي ته (گناهونه ستاسی) او الله ښه مغفرت كوونكی ډير رحم والا دی

لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ

لِّئَلَّا يَعْلَمَ	اَهْلُ	الْكِتٰبِ	اَلَّا يَقْدِرُوْنَ	عَلٰى	شَيْءٍ
دپاره ددی چې وپوهيږی	اهل	دكتاب	چې قدرت نه لری دوی	پر هيڅ	شي

دپاره ددی چې وپوهيږی اهل د كتاب (په دی) چې قادران نه دی دوی (منكران) په هيڅ شي

مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ

مِّنْ فَضْلِ	اللّٰهِ	وَاَنَّ	الْفَضْلَ	بِيَدِ	اللّٰهِ	يُؤْتِيْهِ
له فضل	دالله څخه	او چې بيشكه!	فضل لوئی	په لاس	دالله كښی ده	وركوی يئ هغه

له فضل دالله څخه او چې بيشكه! فضل لوئی په يد (بلاكيف) دالله كښی ده وركوی يئ هغه

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾

مَنْ يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ	ذُو الْفَضْلِ	الْعَظِيْمِ
هرهغه چاته چې اراده وفرمائی	او الله	خاوند دفضل	ډير لوی دی

هرهغه چا ته چې اراده وفرمائی (دوركولو يئ) او الله خاوند دفضل ډير لوی دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا... دتير مخ پاته بيان دلته وگوری:

خاوندان وليږل بيا ددوی څخه وروسته مو نور رسولان كم چې دمستقل شريعت خاوندان نه وه په يو بل پسې راوليږل لكه دموسی عليه السلام څخه وروسته دتورات پر احكامو عمل كوونكي ډير پيغمبران راغلل اوددوی څخه وروسته مو بيا يو دمستقل شريعت خاوند يعني عيسی عليه السلام چي زوی دمريمي دی وليږی او موږ ده ته انجيل وركی او ددوی په امت كي دوه قسمه خلگ سول يوه طبقه هغه سول چي پر دوی يي ايمان راوړی او بله طبقه هغه سوه چي ددوی دنبوت څخه يي انكار وكړی او كمو خلگو چي ددوی تابعداري كړې وه يعني اول قسم خلگ موږ ددوی په زړونو كي نرمي شفقت اوترحم ديوبل سره اخلاق حميده پيدا كړل لكه چي دا قول دالله جل جلاله دصحابه كرامو رضي الله عنهم په شان كي په طور دصفت راغلی دی: رحمآء بينهم: اوشايد په وجه ددې چي ددوی په شريعت كي جهاد نه وو هغه بل صفت يي نه كی ذكر چي اشدآء علی الكفار دی.

معارف القرآن ج۹ پ۲۷ ص۱۷۷

أياتونه ۲۲ — ۵۸ سُورَةُ الْمُجَادِلَةِ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۵ — رکوعوي ۳

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قَدْ سَمِعَ اللهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ

قَدْ	سَمِعَ	اللهُ	قَوْلَ	الَّتِيْ	تُجَادِلُكَ	فِيْ زَوْجِهَا	وَتَشْتَكِيْٓ
په تحقيق	اوريدله	الله	خبره	دهغې چې	چې جګړه يې کوله له تاسره	په شان د خاوند خپل کښې	او شکايت يې کاوه

په تحقيق اوريدله الله خبره دهغې (ښځې) چې سؤال او جواب يې کاوه له تاسره په شان د خاوند خپل کښې او شکايت يې کاوه

اِلَى اللهِ ۖ وَاللهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ①

اِلَى اللهِ	وَاللهُ	يَسْمَعُ	تَحَاوُرَكُمَا	اِنَّ	اللهَ	سَمِيْعٌۢ	بَصِيْرٌ
طرف د الله ته	او الله	اوريده	سؤال او جواب ستاسي	بيشکه! چې	الله	ښه اوريدونکی دی	ښه کتونکی دی

طرف د الله ته، او الله اوريده سؤال او جواب ستاسي بيشکه! چې الله ښه اوريدونکی دی ښه کتونکی دی (دټولو احوالو).

اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۭ

اَلَّذِيْنَ	يُظٰهِرُوْنَ	مِنْكُمْ	مِّنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ	مَّا هُنَّ	اُمَّهٰتِهِمْ
هغه کسان	چې ظهار کوی	له تاسی څخه	ښځو خپلو ته	نه کيږی دغه ښځې	ميندی د دوی

هغه کسان چې ظهار کوی له تاسی څخه ښځو خپلو ته نه کيږی دغه ښځې ميندی د دوی

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰۗـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ	اِلَّا	الّٰۗـِٔيْ	وَلَدْنَهُمْ	وَاِنَّهُمْ	لَيَقُوْلُوْنَ
نه دی ميندی د دوی	مګر	هغه ښځې دی	چې ځيږولی يې وی دوی	او بيشکه! دوی	خامخا وايئ

نه دی ميندی د دوی مګر هغه ښځې دی چې ځيږولی يې وی دوی او بيشکه ! دوی خامخا وايئ

مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ۭ وَاِنَّ اللهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ②

مُنْكَرًا	مِّنَ الْقَوْلِ	وَزُوْرًا	وَاِنَّ	اللهَ	لَعَفُوٌّ	غَفُوْرٌ
يو خرابه	له خبری	او دروغ وايئ	او بيشکه!	الله	خامخا ښه عفو کوونکی	ښه مغفرت کوونکی دی

يو خرابه له خبری او دروغ وايئ، او بيشکه! الله خامخا ښه عفو کوونکی ښه مغفرت کوونکی دی

قَدْ سَمِعَ اللهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ...شان نزول: ددې سورت دابتدايي اياتونو دنازليدو سبب يوه خاص واقعه ده چې حضرت اوس ابن صامت ﷺ يو وارخپلې ښځې خوله ﷺ ته وويل چې: انتِ عليّ كظهر امي. ته زما په حق کې داسې يې لکه زما دمور شا يعني حرامه يې. دنبي کريم ﷺ تر بعثت مخکې به دا لفظ ددايمي او ابدي حرمت دپاره استعماليدی کم چې تر مغلظ طلاق څخه هم زيات سخت وو: حضرت خوله ﷺ ددې واقعې تر پيښيدو وروسته دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضره سوه چې دمسئلې شرعي حکم ځان ته معلوم کړي تردې وخته پورې ددې خاص مسئلې په حقله پر نبي کريم ﷺ باندې څه وحې نه وې نازلې سوې په دې وجه دمشهور قول مطابق نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: مااراک الاقد حرمت عليه. يعني زما په رايه کې خوته پر خپل ميړه باندې حرامه سوې يې هغې چې دا واوريدل نو فرياد يې شروع کړی چې زما ځواني ټوله ددې خاوند په خدمت کې تيره سوه اوس په زوړوالي. پاته بيان پر راروان مخ وګورئ:

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا

وَالَّذِيْنَ	يُظٰهِرُوْنَ	مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ	ثُمَّ	يَعُوْدُوْنَ	لِمَا	قَالُوْا
او هغه کسان	چې ظهار کوي	له ښځو خپلو څخه	بیا	راګرځي دوی	هغې خبرې ته	چې دوی ویلې دي

او هغه کسان چې (مور وایئ) ظهار کوي له ښځو خپلو څخه بیا راګرځي دوی هغې خبرې ته

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ

فَتَحْرِيْرُ	رَقَبَةٍ	مِّنْ قَبْلِ	اَنْ يَّتَمَآسَّا	ذٰلِكُمْ	تُوْعَظُوْنَ
نو لازم دي دوی ته	ازادول د مریي	د مخه د هغه	چې یو بل سره مسه کړي	دغه	پند درکاوه سي تاسي ته

نو لازم دي دوی ته ازادول د مریي پخوا (د مخه) د هغه چې یو بل سره مسه کړي، دغه پند درکاوه سي تاسي ته

بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٣﴾ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

بِهٖ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرٌ	فَمَنْ	لَّمْ يَجِدْ	فَصِيَامُ
په دغه سره	او الله	په هغه څه	چې کوئ یئ تاسي	ښه پوهیدونکی دی	پس هغه چاچې	پیدا نه کړ (مریی)	نو روژه نیول دي

په دغه (حکم) سره، او الله په هغه څه چې کوئ تاسي ښه پوهیدونکی دی، پس هغه چاچې ونه موند (مریی) نو روژه نیول دي

شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ

شَهْرَيْنِ	مُتَتَابِعَيْنِ	مِنْ قَبْلِ	اَنْ يَّتَمَآسَّا	فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ
د دوو میاشتو	پرله پسې	د مخه له هغه	چې یو بل سره مسه کړي	پس هغه څوک چې توان نه لري

د دوو میاشتو پرله پسې پخوا (د مخه) له هغه چې یو بل سره مسه کړي (په وطی سره) پس هغه چې توان نه لري (دروژې نیولو)

فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ؕ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

فَاِطْعَامُ	سِتِّيْنَ	مِسْكِيْنًا	ذٰلِكَ	لِتُؤْمِنُوْا	بِاللّٰهِ
نو طعام ورکول دي	شپیتو	مسکینانو ته	دغه	د پاره د دې چې ایمان راوړئ تاسي	په الله

نو (پرې لازم) طعام (خواړه) ورکول دي شپیتو مسکینانو ته، دغه د پاره د دې دی چې ایمان راوړئ تاسي په الله

وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤﴾

وَرَسُوْلِهٖ	وَتِلْكَ	حُدُوْدُ	اللّٰهِ	وَلِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ
او په رسول د دغه (الله)	او دا	حدونه	د الله دي	او کافرانو ته	عذاب	ډیر دردناک دی

او په رسول د دغه (الله) دا (مذکوره احکام) حدونه د الله دي (معین کړی سوي) او کافرانو ته عذاب ډیر دردناک دی.

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ..

د تیر مخ پاته بیان دلته

وګورئ: کي ده زما سره دا معامله وکړه نو زه چیري ولاړه سم؟ زما او زما د بچیانو به ګذاره څنګه وي؟ او په یو روایت کي دي چي حضرت خوله رضي الله عنها داعرض وکړی چي ماذکر طلاقا یعني زما خاوند د طلاق نوم هم نه دی اخیستی نو بیا طلاق څنګه وسو؟ او په یوه روایت کي دي چي حضرت خوله رضي الله عنها الله ته شکایت وکړی اللهمّ انّی اشکو الیک او په یوه روایت کي دي چي نبي کریم ﷺ حضرت خوله رضي الله عنها ته وفرمایل: ما امرت فی شانک بشئ حتّی الان یعني تر اوسه ستا په معامله کي پرما څه حکم نه دی نازل سوی: په دې ټولو روایتونو کي هیڅ تضاد نسته ټول اقوال صحیح کیدای سي پر دې باندي دغه ایاتونه رانازل سول: لکه په درمنثور او ابن کثیر کي چي دي. په دې وجه د سورت په ابتدائي ایاتونو کي ددې خاص مسئلې حکم ته چي ظهار ویل کیږي د هغه شرعي حکم الله پاک جل جلاله په تفصیل سره بیان کړی او د خوله رضي الله عنها فریاد الله جل جلاله واوریدی.

(معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۲)

إِنَّ الَّذِينَ يُحَآدُّونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا

إِنَّ	الَّذِينَ	يُحَآدُّونَ	اللّٰهَ	وَرَسُولَهُ	كُبِتُوا	كَمَا
بیشکه!	هغه کسان	چې مخالفت کوی	له الله څخه	او له رسول دد غه (الله) څخه	خوار هلاک به کړل سی دوی	لکه چې

بیشکه! هغه کسان چې مخالفت کوی له الله څخه او له رسول دد غه (الله) څخه خوار هلاک به کړل سی دوی لکه چې

كُبِتَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِينَ

كُبِتَ	الَّذِينَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	وَقَدْ	أَنْزَلْنَا	آيَاتٍ	بَيِّنَاتٍ	وَلِلْكَافِرِينَ
خوارکړی سوی ؤ	هغه کسان	چې پخوا له دوی څخه ؤ	او په تحقیق	نازل کړی دی موږ	دلائل	روښانه	او کافرانو ته

خوارهلاک کړی سوی ؤ هغه کسان چې پخوا له دوی څخه ؤ او په تحقیق نازل کړی دی موږ دلائل روښانه او کافرانو ته

عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿٥﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُمْ

عَذَابٌ	مُهِينٌ	يَوْمَ	يَبْعَثُهُمُ	اللّٰهُ	جَمِيعًا	فَيُنَبِّئُهُمْ
عذاب	سپکوونکی دی	هغه ورځ	چې ژوندی به پورته کړی دوی	الله	ټول	پس خبر به کړی (الله) دوی

عذاب سپکونکی ، رسوا کوونکی دی. (یادکړه) هغه ورځ چې ژوندی به پورته کړی الله دوی ټول پس خبر به کړی (الله) دوی

بِمَا عَمِلُوا ۚ أَحْصَاهُ اللّٰهُ وَنَسُوهُ ۚ وَاللّٰهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

بِمَا	عَمِلُوا	أَحْصَاهُ	اللّٰهُ	وَنَسُوهُ	وَاللّٰهُ	عَلَىٰ	كُلِّ شَيْءٍ
په هغو کارو	چې کړی یې ؤ وی	شمیرلی دی هغه (اعمال)	الله	او هیر کړی دی دوی هغه	او الله	پر	هر شی باندی

په هغو کارونو باندی چې کړی یې ؤ وی ،شمیرلی ساتلی دی هغه(اعمال) الله او هیر کړی دی هغو او الله پر هر شی باندی

شَهِيدٌ ﴿٦﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

شَهِيدٌ	أَلَمْ تَرَ	أَنَّ	اللّٰهَ	يَعْلَمُ	مَا	فِي السَّمَاوَاتِ	وَمَا
ښه خبردار دی	آیا نه وینی ته	چې بیشکه!	الله ته	ښه معلوم دی	هر هغه څه	چې په آسمانونو کښی دی	او هر هغه څه

ښه خبردار دی. آیا نه وینی ته نه یئ خبر چې بیشکه! الله ته ښه معلوم دی هر هغه څه چې په آسمانونو کښی دی او هر هغه څه

فِي الْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِنْ نَجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا

فِي الْأَرْضِ	مَا يَكُونُ	مِنْ نَجْوَىٰ	ثَلَاثَةٍ	إِلَّا	هُوَ	رَابِعُهُمْ	وَلَا
چې په مځکه کښی دی	نه به وی	پټی خبری	د درو تنو	مگر خو	دغه (الله)	به څلورم دهغوی وی	او نه به وی

چې په مځکه کښی دی نه به وی پټی خبری د درو تنو مگر خو دغه (الله) به څلورم دهغو ی وی (علماً) او نه به وی

إِنَّ الَّذِينَ يُحَآدُّونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ. څوک چې دالله ﷻ دحدودو مخالف وي هغه ته ددنیا او اخرت ذلت وربه برخه دی: په تیروایاتونو کي الله ﷻ خپلو بندگانو ته دخپل حدودو او اسلامي شریعت داحکامو د پایبندی تاکید کړی وو په دي کي هغه خلگو ته وعده ده کم چي دحدودالله څخه مخالف او منکر دي په دغه وعده کي ددوی دپاره په دنیا کي هم آخر ذلت او خواري او ددوی دکفریه عزایمو دناکامی بیان دی او په آخرت کي ددردناک عذاب ذکر دی: بیا الله ﷻ فرمایي: احصه الله ونسوه په دې جمله کي پر دې خبرداری دی چي غافل انسان په دنیا کي دفسق او فجور کارونه کوي کم چي ده ته یاد هم نه پاته کیږي او بیا یي هیرکړي اودهیرولو سبب یي په اصل کي داوي چي دی هغه کار ته څه اهمیت نه ورکوي په دې وجه دذهن څخه ووزي داټول دالله ﷻ سره لیکل سوي دي ده وکړل او هیر یي کړل مگر الله ﷻ ته ټول یاد دي او پر ټولو باندي به محاسبه او عذاب وي الله ﷻ دي زموږ او ستاسي سره دآساني معامله وکړي.
(معارف القرآن ج١٠ پ٢٨ ص٨)

ع ١

خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ

خَمْسَةٍ	إِلَّا	هُوَ	سَادِسُهُمْ	وَلَآ	أَدْنٰى	مِنْ ذٰلِكَ	وَلَآ أَكْثَرَ
پنځه تنه	مګر	خو دغه (الله)	به شپږم دهغوی وی	او نه به وی	لږ	له دی (عدد) څخه	او نه به وی ډیر

پنځه تنه (راز ویونکی) مګر خو دغه (الله) به شپږم دهغوی وی او نه به وی لږ له دی (عدد) څخه او نه به وی ډیر (له دی عدد)

إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ

إِلَّا	هُوَ	مَعَهُمْ	أَيْنَ	مَا كَانُوا	ثُمَّ	يُنَبِّئُهُمْ	بِمَا عَمِلُوا	يَوْمَ
مګر وی به	دغه (الله)	له هغو سره	هر چیری	چی وی هغوی	بیا به	خبر کړی (الله) دوی	په هغو چی کړی یئ دی	په ورځی

مګر خو وی به دغه (الله) له هغو سره علما او قدرتا هر چیری چی وی، بیا به خبر کړی (الله) دوی په هغو چی کړی یئ دی په ورځی

الْقِيٰمَةِ إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ

الْقِيٰمَةِ	إِنَّ	اللّٰهَ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيمٌ	أَلَمْ تَرَ	إِلَى الَّذِينَ
دقیامت کښی	بیشکه!	الله	پر هر شی باندی	ښه پوهیدونکی دی	آیا نه وینی ته نه یئ خبر	په هغه کسانو چی

دقیامت کښی بیشکه! الله په هر شی باندی ښه پوهیدونکی ښه خبر دار دی. آیا نه وینی ته نه یئ خبر هغه کسانو چی

نُهُوا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا عَنْهُ

نُهُوا	عَنِ النَّجْوٰى	ثُمَّ	يَعُودُونَ	لِمَا	نُهُوا	عَنْهُ
منع کړی سوی ؤ	له پټو خبرو څخه	بیا بیرته	ور وګرځیدل دوی	هغه شی ته	چی منع کړی سوی ؤ دوی	له هغه څخه

منع کړی سوی ؤ له پټو خبرو څخه بیا بیرته ور وګرځیدل دوی هغه شی ته چی منع کړی سوی ؤ دوی له هغه څخه

وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَإِذَا

وَيَتَنٰجَوْنَ	بِالْإِثْمِ	وَالْعُدْوَانِ	وَمَعْصِيَتِ	الرَّسُولِ	وَإِذَا
او پټی خبری کوی دوی	په ګناه سره	او په تجاوز، دښمنی سره	او په نافرمانی	د رسول (د الله) سره	او کله چی

او پټی خبری کوی دوی په ګناه سره او په تجاوز دښمنی ظلم سره او په معصیت نافرمانی د رسول (د الله) سره، او کله چی

جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنْفُسِهِمْ

جَاءُوكَ	حَيَّوْكَ	بِمَا	لَمْ يُحَيِّكَ	بِهِ	اللّٰهُ	وَيَقُولُونَ	فِيٓ أَنْفُسِهِمْ
راسی دوی تاته	نو سلام اچوی تاته	په هغه	چی سلام اچول نه دی مقرر کړی	په هغه سره	الله	او وایئ	په نفسونو خپلو کښی

راسی دوی تاته نو سلام اچوی تاته په هغه سره چی سلام اچول نه دی مقرر کړی په هغه سره الله او وایئ په نفسونو خپلو کښی

خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنٰى مِنْ... شان نزول: ددې اياتونو دنزول اسباب څو واقعات دي. اول: په يهودو او مسلمانانو کي صلح وه ليکن يهودو چي به کله مسلمانان ليدل نو ددوى دخيالاتو پريشانه کولو دپاره به يي په خپل مينځ کي يو بل ته په غوږ کي خبري کول شروع کړل هغه مسلمان به داسي ګڼل چي زما خلاف څه سازش کوي نبي کريم ﷺ يهود ددغه څخه منع کړل مګر بيا هم هغوى منع نه سول پر دې باندي داآيت نازل سو: الم تر الى الذين نُهوا عن النجوى. دوهم: دغه ډول به منافقانو هم ديو بل سره په غوږ کي خبري کولي پردې باندي دغه ايت رانازل سو: اذا تناجيتم فلا تتناجوا بالاثم والعدوان دريم: يهود چي به دنبي کريم ﷺ حضورته راتلل نو دشرارت دپاره به يي پر ځاى دالسلام عليكم ورحمة الله: السّامُ عليكم ويل دسام معنى مرګ ده يعني مرګ او هلاکت دي پر تاسو وي ثلورم: کله به منافقينو هم داسي شان الفاظ ويل پر دې دواړو واقعاتو باندي دغه آيت نازل سو: واذا جآءوک حيّوک... پاته بيان پر راروان مخ وګورى

لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ ؕ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ

لَوْلَا يُعَذِّبُنَا	اللّٰهُ	بِمَا	نَقُوْلُ	حَسْبُهُمْ	جَهَنَّمُ	يَصْلَوْنَهَا
ولې نه په عذابوي موږ	الله	په هغه څه	چې وايو يې	بس دی دوی ته	دوزخ	چې ورننوځي به هغه ته

ولې نه په عذابوي موږ الله په هغه (غلط) څه چې وايو يې (الله فرمائي) بس دی دوی ته دوزخ چې ورننوځي پکښې

فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ

فَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْۤا	اِذَا	تَنَاجَيْتُمْ
نو بد	ځای دورتللو دی	ای	هغو کسانو	چې ايمان يې راوړی دی	کله چې	پټې خبرې کوئ تاسې

نو بد ځای د ورتللو دی (دادوزخ). ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی کله چې پټې خبرې کوئ تاسې يو له بله سره

فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ

فَلَا تَتَنَاجَوْا	بِالْاِثْمِ	وَالْعُدْوَانِ	وَمَعْصِيَتِ	الرَّسُوْلِ
پس مه کوئ پټې خبرې	په ګناه سره	او په تجاوز، دښمنی سره	او په نافرمانی سره	درسول (الله)

پس مه کوئ پټې خبرې پخپلو منځونو کښې په ګناه سره او په تجاوز دښمنی ظلم سره او په معصيت درسول (الله) سره

وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْۤ اِلَيْهِ

وَتَنَاجَوْا	بِالْبِرِّ	وَالتَّقْوٰى	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	الَّذِيْۤ	اِلَيْهِ
او پټې خبرې کوئ	په نيکۍ	او پرهيزګارۍ سره	او وېرېږئ	له الله	هغه (الله)	چې خاص ده ته

او پټې خبرې مصلحت کوئ پخپلو منځونو کښې په نيکۍ او پرهيزګارۍ سره، او وېرېږئ له الله هغه (الله) چې خاص ده ته

تُحْشَرُوْنَ ﴿۹﴾ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ

تُحْشَرُوْنَ	اِنَّمَا	النَّجْوٰى	مِنَ الشَّيْطٰنِ	لِيَحْزُنَ
به تاسې جمع کړی سئ	بيشکه! چې	پټې خبرې	د شيطان دی	لپاره ددې چې غمجن کړي

به تاسې جمع کړی سئ په قيامت کښې جزاء ته. بيشکه! چې پټې خبرې (دکارونو) د شيطان دی لپاره ددې چې خفه کړي

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَلَيْسَ	بِضَآرِّهِمْ	شَيْـًٔا	اِلَّا	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَعَلَى اللّٰهِ
هغه کسان	چې ايمان يې راوړی دی	او نه دی	ضرر رسوونکی دوی ته	د هيڅ شي	مګر	په حکم	د الله	او خاص پر الله

هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نه دی ضرر رسوونکی دغو (مؤمنانو) ته د هيڅ شي مګر په حکم د الله او خاص پر الله

لَـوْلَا يُعَـذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَـا نَقُـوْلُ ؕ حَسْـبُهُمْ جَهَـنَّمُ. دتير مخ پاته بيان دلته وګـوری.. پـنځم: يـو وار نبـي کـريم ﷺ پـه صـفه مسـجد کـي تشـريف درلـودی او پـه مجلس کي ګڼه ګونه زياته وه يـو څو صحابه کـرام رضي الله عنهم کـم چي دبدر پـه غزا کـي شـريک سوي وه راغلل نو دوی ته هـيڅ ځـای دناسـتي نـه وو چـي کښـيني او نـه هـم دمجلـس خلګـو داسـي وکـړل چي يـو بـل تـه نږدي سي او هغوی ته ځای وسي نو ده ﷺ چي وکتل ځينو خلګو ته يي دمجلس څخه دپورته کيدو وفرمايل چي الله جل جلاله دي پـر هغـه سـړي رحـم وکـړي کـم چـي خپـل ورور تـه پـه مجلـس کـي ځای فراخه کړي نو هغه وو چي خلګو ځای فراخه کړی پـر دغـه بانـدي دغـه ايـت رانازل سو: يـا آيها الـذين آمنـوا اذا قيـل لكـم تفسّـحوا.. ابـن كثيـر.. دروايت دمجموعه اجزاوو څخـه معلـوميږي چـي اول نبـي کـريم ﷺ دځـای دفراخولـو ويلـي وي او بيا ځينـو دي ځـای فـراخ کـړی وي خو هغه بـه کافي نـه وو او ځينـو دي ځـای نـه وي فراخـه کـړی ده ﷺ بـه هغـوی تـه تاديبـاً دپورتـه کولـو امـر کـړی وي الـخ. (معارف القرآن ج ۱۰ پ ۲۸ ص ۱۰)

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قِيْلَ

فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُؤْمِنُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْۤا	اِذَا قِيْلَ
پس توکل دی وکړی	مؤمنان	ای	هغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	کله چی وویل سی

پس توکل دی وکړی مؤمنان . ای هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی کله چی وویل شی

لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ

لَكُمْ	تَفَسَّحُوْا	فِي الْمَجٰلِسِ	فَافْسَحُوْا	يَفْسَحِ	اللّٰهُ	لَكُمْ
تاسی ته	ځای پراخ کړئ	په مجلسو کښی	نو ځای پراخ کړئ	چی پراخی وکړی	الله	تاسی لره

تاسی ته ځای ارت کړئ په مجلس کښی نو ځای ارت کړئ چی ارتیا وکړی الله تاسی لره

وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

وَاِذَا	قِيْلَ	انْشُزُوْا	فَانْشُزُوْا	يَرْفَعِ	اللّٰهُ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
او کله چی	وویل سی	چی پورته سئ	نو پورته سئ	پورته کوی	الله	هغه کسان	چی ایمان یئ راوړی دی

او کله چی وویل سی (تاسی ته) چی پورته سئ نو پورته سئ ، پورته کوی الله هغه کسان چی ایمان یئ راوړی دی

مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

مِنْكُمْ	وَالَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْعِلْمَ	دَرَجٰتٍ	وَاللّٰهُ	بِمَا
له تاسی څخه	او هغه کسان	چی ورکړی سوی دی دوی ته	علم ، پوه	په درجو مرتبو کښی	او الله	په هغو

له تاسی څخه (په طاعت) او (خاص) هغه کسان چی ورکړی سوی دی دوی ته علم پوه په درجو مرتبو کښی، او الله په هغو

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ

تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرٌ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْۤا	اِذَا	نَاجَيْتُمُ
چی کوئ یئ تاسی	ښه خبردار دی	ای	هغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	کله چی	پټه مشوره کوئ تاسی

چی کوئ یئ تاسی ښه خبردار دی. ای هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی کله چی پټه مشوره کوئ تاسی

الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ

الرَّسُوْلَ	فَقَدِّمُوْا	بَيْنَ يَدَيْ	نَجْوٰىكُمْ	صَدَقَةً	ذٰلِكَ
د رسول سره	نو وړاندی کړئ	په مخکښی	د راز خپل څخه	خیرات	دغه (تقدیم د صدقی)

د رسول سره نو وړاندی کړئ په مخکښی د راز خپل څخه صدقه ، خیرات دغه تقدیم د صدقی مخکی له پټو خبرو څخه

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ. صحابه کرامو ﷺ ته د صدقې حکم او بیا دغه منسوخه کیدل

ځیني غنیان خلګ به د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سول تر ډیره وخته به یي دده سره په غوږ کي خبري کولې او فقیرانو ته به د فائدې حاصلیدو وخت کم حاصلیدی دوی ته دغو خلګو تر ډیره پوري کښینا ستل او په غوږ کي خبري کول ګران کار تمام سو پر دغه باندي دغه آیت نازل سو په فتح البیان تفسیر کي دي چي یهودو او منافقینو به د نبي کریم ﷺ سره بغیر د ضرورت څخه په غوږ کي خبري کولې پر مسلمانانو به په دي خیال چي شاید څه نقصاني خبره به کوي دغه کارګران پر یوتي نو په دي سره هغوی منع سول چي ذکر یي په آیت نُهوا عن النجوی کي دی مګر کله چي دوی منع نه سول نو دغه حکم نازل سو: اذا ناجیتم الرسول ددي نتیجه دا سوه چي اهل باطل د غوږ د خبري څخه منع سول ځکه چي د مال د محبت د وجي صدقه او خیرات کول ورته مشکل وو نو بیا به یي په غوږ کي خبري نه کولې. (معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۱)

خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑫

خَيْرٌ لَّكُمْ	وَاَطْهَرُ	فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ
خير، غوره دی تاسی لره	او ډیر پاکیزه دی	نو که بیا پیدا نه کړی	بیشکه !	الله	بنه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی

خیر بهتر ډیر غوره تاسی لره او ډیر پاکیزه دی نو که بیا پیدا نه کړی، پس بیشکه! الله بنه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی.

ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ۚ

ءَاَشْفَقْتُمْ	اَنْ تُقَدِّمُوْا	بَيْنَ يَدَيْ	نَجْوٰىكُمْ	صَدَقٰتٍ
آیا ببرېږئ تاسی	چې وړاندې کړی	په مخکښې	دپټې خبرې ستاسی	صدقات، خیراتونه

آیا ببرېږئ تاسی (له فقره) چې وړاندې کړی په مخکښې د پټې خبرې ستاسی صدقات خیراتونه

فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

فَاِذْ	لَمْ تَفْعَلُوْا	وَتَابَ	اللّٰهُ	عَلَيْكُمْ	فَاَقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ
پس په هغه وخت کښې	چې ونه کړی تاسی دغه	او رجوع په رحمت سره وکړه	الله	پر تاسی باندی	نو سم دروئ	لمونځ

پس په هغه وخت کښې چې ونه کړ تاسی دغه (خیرات) او رجوع په رحمت سره وکړه الله پر تاسی باندی نو قائم کړئ لمونځ

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا

وَاٰتُوا	الزَّكٰوةَ	وَاَطِيْعُوا	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَاللّٰهُ	خَبِيْرٌ	بِمَا
او ورکړئ تاسی	زکوٰة	او حکم ومنئ تاسی	دالله	او درسول ددغه (الله)	او الله	بنه خبردار دی	په هغو باندی

او ورکړئ تاسی زکوٰة او حکم ومنئ تاسی دالله او درسول ددغه (الله) او الله بنه خبردار دی په هغو اعمالو باندی (هم)

تَعْمَلُوْنَ ⑬ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ

تَعْمَلُوْنَ	اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ	تَوَلَّوْا	قَوْمًا	غَضِبَ	اللّٰهُ
چې کوئ یئ تاسی	آیا نه ګوری ته	هغو ته	چې دوستی کوی	له هغه قوم سره	چې غضب کړی دی	الله

چې کوئ یئ تاسی. آیا نه ګوری ته (محمده!) هغو ته چې دوستی کوی له (هغه) قوم سره چې غضب کړی دی الله

عَلَيْهِمْ ۚ مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى

عَلَيْهِمْ	مَا هُمْ	مِّنْكُمْ	وَلَا مِنْهُمْ	وَيَحْلِفُوْنَ	عَلَى
پر هغوی باندی	نه دی دغه	له تاسی څخه	او نه له هغو څخه	او قسمونه خوری	په

پر هغوی باندی، نه دی دغه (منافقان) له تاسی (مؤمنانو) څخه او نه له هغو (یهودانو) څخه او قسمونه خوری پر

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ... دالله ﷻ ددښمنانو کافرانو سره ددوستی ساتلو بد انجام

په دغه ایاتونو کې الله ﷻ دهغه خلګو دبدحالی او په انجام کې یې دسخت عذاب ذکر فرمایلی دی کم چې دالله ﷻ ددښمنانو کافرانو سره دوستي ساتي دغه کفار نو بیا برابره خبره ده که مشرکین وي یا یهود او نصاری یا نور قسم کافران وي: یو مسلمان ته دزړه دوستي دیوه سره هم جائز نه ده او داعقلا هم نه سي کیدای ځکه چې دمومن اصل سرمایه دالله ﷻ سره محبت دی کفار دالله ﷻ مخالف او دښمنان دي او دکم سړي په زړه کې چې دچا سره رښتینی محبت او دوستي وي دده څخه داسي نسي ممکن کیدای چې هغه دي دهغه ددښمن سره هم محبت وساتي په دې وجه دقرآن کریم په ډیرو ایاتونو دکفارو سره ددوستی سخت حرمت او دممانعت احکام راغلي دي: او کم مسلمان چې دیو کافر سره دزړه دوستي ساتي نو ده ته دکفارو په تولی کې دشامل ګڼلو سخته سزا راغلی ده لیکن دا ټول احکام دزړه ددوستی سره متعلق دي. پاته بیان پر راروان مخ وګوری:

الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا

الْكَذِبِ	وَهُمْ	يَعْلَمُوْنَ	اَعَدَّ	اللّٰهُ	لَهُمْ	عَذَابًا
دروغو باندی	حال داچی دوی	پوهیږی	تیار کړی دی	الله	دوی ته	عذاب

دروغو باندی حال داچی دوی پوهیږی (پخپلو دروغو) . تیار کړی دی الله دوی ته عذاب

شَدِيْدًا ۭ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٥﴾ اِتَّخَذُوْٓا

شَدِيْدًا	اِنَّهُمْ	سَآءَ مَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	اِتَّخَذُوْٓا
ډیر سخت	بیشکه! دوی	بد دی هغه شی	چې وُ دوی	چې کول به یئ	ګرځولی یئ دی

ډیر سخت، بیشکه! دوی لره بد دی هغه شی چې وُ دوی چې کول به یئ (له ګناهونو) . ګرځولی یئ دی

اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ

اَيْمَانَهُمْ	جُنَّةً	فَصَدُّوْا	عَنْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	فَلَهُمْ	عَذَابٌ
قسمونه خپل	ډال (سپر)	پس منع کړل دوی	له لاری	دالله څخه	پس دوی لره دی	عذاب

قسمونه خپل ډال پس منع ستانه کړل دوی (په دغو قسمونو سره مؤمنان) له لاری دالله څخه پس دوی لره دی عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿١٦﴾ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ

مُّهِيْنٌ	لَنْ تُغْنِيَ	عَنْهُمْ	اَمْوَالُهُمْ	وَلَآ اَوْلَادُهُمْ	مِّنَ
سپکوونکی	له سره به دفع نه کړی	له دوی څخه	مالونه د دوی	او نه اولاد د دوی	له

سپکوونکی، له سره به دفع نه کړی له دوی څخه (په قیامت کښې) مالونه د دوی او نه اولاد د دوی له (عذابه د)

اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۭ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿١٧﴾

اللّٰهِ	شَيْـًٔا	اُولٰۗىِٕكَ	اَصْحٰبُ	النَّارِ	هُمْ	فِيْهَا	خٰلِدُوْنَ
الله څخه	هیڅ شی	دغه کسان	یاران ملګری	د دوزخ دی	دوی به	په دی دوزخ کښی	تل او سیدونکی وی

الله څخه هیڅ شی دغه کسان یاران ملګری د دوزخ دی دوی به په دی دوزخ کښی تل اوسیدونکی وی.

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ

يَوْمَ	يَبْعَثُهُمُ	اللّٰهُ	جَمِيْعًا	فَيَحْلِفُوْنَ	لَهٗ	كَمَا يَحْلِفُوْنَ	لَكُمْ
هغه ورځ	چې ژوندی پورته کړی	الله	ټول	نو قسمونه به خوری دوی	هغه ته	لکه چې قسمونه خوری دوی	تاسی ته

(یاد کړه) هغه ورځ چې ژوندی پورته کړی الله ټول نو قسمونه به خوری دوی هغه ته لکه چې قسمونه خوری دوی تاسی ته

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا... دتیر مخ پاته

بیان دلته وګوری : دکفارو سره حسن سلوک ، همدردي ، خیر خواهي ، او پر دوی احسان کول په ښو اخلاقوورته مخ ته راتلل ، یا تجارتي او اقتصادي معاملې ددوی سره کول ددوستی په معنی کې داخل نه دي..

خبرداری:لیکن دغه اخلاق یا حسن سلوک یا همدردي او خیرخواهي یا پر دوی باندي احسان کول یا ښه اخلاق ورسره کول دحربي کافرانوپه باره کي نه دي ځکه چي حربي او جنګي کافران خو دهغه ملک او مسلمانانو دخرابوولو اووژلو دپاره راغلي وي نو بیا دهغو سره همدردي دکمي خوا سته داحکم دعامو کفارو په باره کي دی لکه په موجوده وخت۱۳۹۰ هج/ ش کال کي دچین کافران یانورچي مسلمانان ورسره تجارتي اړیکي لري : دنبي کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ ښکاره تعامل پر دې باندي شاهد دی البته په دې ټولو شیانو کي ددې رعایت ضروري دي چي ددوی سره داسي معاملات ساتل دخپل دین دپاره مضر نه وي او په ایمان او عمل کي سستي پیدا نه کړي اونورو ته هم مضر ثابت نه سي.

معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص۲۴

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَاۤ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾

وَيَحْسَبُوْنَ	اَنَّهُمْ	عَلٰى شَيْءٍ	اَلَاۤ	اِنَّهُمْ	هُمُ	الْكٰذِبُوْنَ
او گمان به کوی دوی	چي بيشكه! دوی	پر يو شه دی	خبردار سئ!	چي بيشكه! دوی	هم دوی دی	دروغجنان

او گمان به کوی (دوی) چي بيشكه! دوی په هغه شي پوه دی ، واورئ خبردار سئ! چي بيشكه! دوی هم دوی دی دروغجنان

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ

اِسْتَحْوَذَ	عَلَيْهِمُ	الشَّيْطٰنُ	فَاَنْسٰهُمْ	ذِكْرَ	اللّٰهِ	اُولٰٓئِكَ
غالب سوی دی	پر دوی باندی	شيطان	نو هير کړی دی شيطان له دوی څخه	پند، ياد	دالله	دغه

غالب سوی دی پر دوی باندی شيطان نو هير کړی دی شيطان له دوی څخه ذکر - ياد دالله ، دغه (هيروونکی کسان)

حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾

حِزْبُ	الشَّيْطٰنِ	اَلَاۤ	اِنَّ	حِزْبَ	الشَّيْطٰنِ	هُمُ الْخٰسِرُوْنَ
لښکر	دشيطان دی	واورئ	بيشكه!	لښکر، تابعان	دشيطان	هم دوی دی زيانکاران

لښکر دشيطان دی واورئ! خبردار سئ! بيشكه! لښکر تابعان دشيطان هم دوی دی زيانکاران .

اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗۤ اُولٰٓئِكَ فِى الْاَذَلِّيْنَ ﴿۲۰﴾

اِنَّ	الَّذِيْنَ	يُحَآدُّوْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	اُولٰٓئِكَ	فِى الْاَذَلِّيْنَ
بيشكه !	هغه کسان	چي مخالفت کوی	له الله	او له رسول ددغه (الله)	دغه	په ذليلانو کښي دی

بيشكه! هغه کسان چي مخالفت کوی له الله او له رسول ددغه (الله) څخه دغه په (جملې د) ذليلانو مغلوبانو کښي دی

كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِىْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِىٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۱﴾

كَتَبَ	اللّٰهُ	لَاَغْلِبَنَّ	اَنَا	وَرُسُلِىْ	اِنَّ	اللّٰهَ	قَوِىٌّ	عَزِيْزٌ
ليكلی دی	الله	چي خامخا به غالب سم	زه	او رسولان زما	بيشكه !	الله	ډير قوی دی	ښه غالب دی

ليکلی دی الله (لوح محفوظ) چي خامخا به غلبه بری وکړم هرومرو زه او رسولان زما بيشكه! الله ډير قوی دی ښه غالب دی

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ

لَا تَجِدُ	قَوْمًا	يُّؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ	الْاٰخِرِ	يُوَآدُّوْنَ
او نه به پيدا کړی ته	يو قوم	چي ايمان يئ راوړی وی	په الله	او په ورځی	آخری	چي دوستی به کوی دوی

او نه به پيدا کوی ته (محمده) يو قوم چي ايمان يئ راوړی وی په الله او په ورځی آخری (دقيامت) چي دوستی به کوی دوی

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَاۤ اِنَّهُمْ دمنافقينو منافقت الله ﷻ بيا افشا کړی دی : په دغه اياتونو کښي الله ﷻ دمنافقينو منافقت او دوه مخی سياست بيا ښکاره کړی او بيان کړی دی هغه دا چي ددوی کم لوړ بيان سوي حرکتونه تا سي واوريدل چي په هغه کي درواغ ،چم او چمبازي او دمسلمانانو سره بغض ، او دکفارو سره دوستي او داسلام په ناکامی خوشحاله کيدل دغه اعمال دوی ځکه تر سره کوي چي شيطان پر دوی پوره قبضه کړيده چي دوی دهغه په خبره عمل کوي نو دغه شيطان بيا ددوی څخه الله ﷻ هير کړی او دهغه احکام يي پريښوول واقعي دا خلگ دشيطان ټولگی ده او دا هم واوری خبردار سی چي دشيطان ټولگی او جماعت بربادېدونکی دی په آخرت کي خو خامخا او کله په دنيا کي هم تباه سي او ددوی به دا حالت ولي نه وي چي دوی دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ مخالف دي او داقاعده ده چي څوک دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ مخالف وي هغه به آخر کار خواريږي او ذليله کيږي به.
(معارف القرآن ج١٠ پ٢٨ ص٢٣)

مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ

مَنْ حَآدَّ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَلَوْ كَانُوْٓا	اٰبَآءَهُمْ
له هغه چا سره چې مخالفت كوى	له الله	او له رسول د دغه (الله) څخه	واګر كه وى	پلرونه د دوى

له هغه چا سره چې مخالفت كوى له الله او له رسول د دغه (الله) څخه اګر كه وى (دغه مخالفين) پلرونه د دوى

اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ

اَوْ اَبْنَآءَهُمْ	اَوْ اِخْوَانَهُمْ	اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ
او زامن د دوى	يا ورونه د دوى	يا خپلوان د دوى

او زامن د دوى يا ورونه د دوى يا (نور قبيله) خپلوان د دوى

اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ

اُولٰٓئِكَ	كَتَبَ	فِيْ قُلُوْبِهِمُ	الْاِيْمَانَ	وَاَيَّدَهُمْ
دغه	ليكلى دى (الله)	په زړونو د دوى كښې	ايمان	او قوى كړي يئ دى دوى

دغه (قوم چې د اعداء الله سره دوستى نه كوى) ليكلى دى (الله) په زړونو د دوى كښې ايمان، او قوى كړي يئ دى دوى

بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

بِرُوْحٍ	مِّنْهُ	وَيُدْخِلُهُمْ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ
په غيبى، فيض	له نزده خپله څخه	او داخل به كړى دوى	په جنتونو كښې	چې بهيږى	له لاندى د هغو	ويالى

په غيبى فيض مدد له نزده خپل څخه، او داخل به كړى دوى (الله) په جنتونو كښې چې بهيږى له لاندى د هغو ويالى

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ

خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	رَضِيَ	اللّٰهُ	عَنْهُمْ	وَرَضُوْا	عَنْهُ	اُولٰٓئِكَ
تل به وى دوى	په هغو كښې	راضى سو	الله	له دوى څخه	او راضى دى دوى	له الله څخه	دغه دى

تل به وى دوى په هغو (جناتو) كښې، راضى سو الله له دوى څخه (په اطاعت سره) او راضى سول دوى له الله څخه، دغه

حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٢٢﴾ ع

ركوع ٣

حِزْبُ	اللّٰهِ	اَلَآ	اِنَّ	حِزْبَ	اللّٰهِ	هُمُ	الْمُفْلِحُوْنَ
لښكر	د الله	واورئ!	چې بيشكه!	لښكر	د الله	هم دوى دى	په مراد رسيدونكى

(خلګ) دى لښكر د الله، واورئ! خبرادر سئ! چې بيشكه! لښكر د الله چې دى هم دوى دى په مراد رسيدونكى، برياليان

مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ..... د مسلمان دزړه دوستي ديوه كافر سره هم نه سي كيداى: په دغه آيت كي الله ﷻ د مخلصو مومنانو حال ذكر كړى دى چي هغوى ديو داسي سړي سره دوستي او دزړه تعلق نه ساتي كم چي د الله ﷻ مخالف يعني كافر وي كه څه هم هغه دده پلار يا اولاد او يا ورور يا بل نژدې قريب ولي نه وي د صحابه كرامو رضي الله عنهم ټولو دا حال وو دلته مفسرينو د صحابه كرامو داسي حالات بيان كړي دي چي په كمو كي د پلار، زوى يا ورور څخه يي كله يوه خبره د اسلام يا نبي كريم ﷺ خلاف اوريدلې ده نو ټول تعلقات يي هيركړي دي هغه ته يي سزا وركړيده او ځيني يي قتل كړي دي. د عبد الله ابن ابي منافق زوى عبد الله ﵁ د خپل منافق پلار څخه د حضور ﷺ په شان كي د بي عزتي كلمه واوريده نو د حضور ﷺ څخه يي اجازه وغوښته چي زه خپل پلار قتل كړم؟ ده ﷺ دى منع كړى او نوري هم داسي واقعاتي په سيرت د صحابه كرامو رضي الله عنهم كي موجود دي.
معارف القرآن ج١٠ پ٢٨ ص٢٥

أياتونه ۲۴ ۵۹ سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۱ رکوعي ۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

سَبَّحَ	لِلّٰهِ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الْاَرْضِ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ
نسبت دپاکی کوی	الله ته	هرهغه	چې په آسمانونو کښې	او هرهغه	چې په مځکه کښې دی	او هم دغه (الله)	ښه غالب دی

نسبت د پاکی کوی الله ته هرهغه چې په آسمانونو کښې او هرهغه چې په مځکه کښې دی او هم دغه (الله) ښه غالب دی

الْحَكِيْمُ ① هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ

الْحَكِيْمُ	هُوَ الَّذِيْٓ	اَخْرَجَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ اَهْلِ
ښه حکمت والا دی	دغه (الله) هغه ذات دی	چې ایستلی دی	هغه کسان	چې کافران سوي ؤ	له اهل

ښه حکمت والا دی. دغه (الله) هغه ذات دی چې ایستلی دی هغه کسان چې کافران سوي ؤ له اهل

الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۗ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا

الْكِتٰبِ	مِنْ دِيَارِهِمْ	لِاَوَّلِ	الْحَشْرِ	مَا ظَنَنْتُمْ	اَنْ يَّخْرُجُوْا
دکتابونو څخ	له کورونو خپلو څخه	په اول	د ایستلو ددوی	گمان نه کاوه تاسی	چې وبه وځي دوی

دکتابونو څخه له کورونو خپلو څخه په اول د ایستلو د دوی (له مدینې څخه) گمان نه کاوه تاسې چې وبه وځي دوی

وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

وَظَنُّوْٓا	اَنَّهُمْ	مَّانِعَتُهُمْ	حُصُوْنُهُمْ	مِّنَ	اللّٰهِ
او گمان نه کاوه دوی	چې بیشکه! دوی لره	منع کوونکی، ساتونکی دی	کلاوی ددوی	له (عذابه د)	الله

او گمان نه کاوه دوی چې بیشکه! دوی لره منع کوونکی ساتونکی دی کلاوی د دوی له (عذابه د) الله

فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ وَقَذَفَ

فَاَتٰىهُمُ	اللّٰهُ	مِنْ حَيْثُ	لَمْ يَحْتَسِبُوْا	وَقَذَفَ
پس راغلی پر دوی	(عذاب د) الله	له هغه ځایه چې	گمان نه کاوه دوی	او واچوله (الله)

پس راغلی پر دوی (عذاب د) الله له هغه ځایه چې گمان نه کاوه دوی او واچوله (الله)

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ .. شان نزول: نبي کريم ﷺ چي کله مديني منورې ته تشريف راوړی نو ديهودو سره يي دصلح وعده سوې وه او ددې يهودو په مختلفو قبيلو کي يوه قبيله دبنو نضير وه دغه قبيله هم دصلح په وعده کي داخله وه او داخلگ دمديني منورې څخه په دوه ميله کي اوسيدل: يوواردا واقعه پيښه سوه چي دعمروبن اميه ضميري دلاسه دوه قتلونه وسوه چي دهغو دويني بدل يي تولو ته په جمع سره ادا کول وودوی دخپلو مسلمانانو څخه ددې دپاره چنده وکړه بيا يي دا اراده وسوه چي يهود هم دصلحنامې په وجه دمسلمانانو سره دي نو دوی هم دويني دبدل د رقم په ادا کولو کي شريکول پکار دي؛ ددې کار دپاره نبي کريم ﷺ دبنو نضير قبيلې ته تشريف يووړی هغوی دا سازش وکړی چي دده ﷺ دقتل کولو موقع زموږ په لاس راغلې ده په دې وجه يي نبي کريم ﷺ يو ځای کښينوی او ويې ويل چي موږ دويني دبدل دجمع کولو انتظام کوو او پته مشوره يي داسي وکړه چي: پاته بيان پر راروان مخ وگورى.

فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ

فِيْ قُلُوْبِهِمُ	الرُّعْبَ	يُخْرِبُوْنَ	بُيُوْتَهُمْ	بِاَيْدِيْهِمْ
په زړونو د دوی کښې	ييره	چې ورانول به يې	كورونه خپل	په لاسونو خپلو

په زړونو د دوی کښې ييره، چې ورانول به ئې كورونه خپل په لاسو خپلو سره (چې څوک هستوګنه ونه كړی پكښې)

وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ فَاعْتَبِرُوْا يٰاُولِي الْاَبْصَارِ ۝٢

وَاَيْدِي	الْمُؤْمِنِيْنَ	فَاعْتَبِرُوْا	يٰاُولِي	الْاَبْصَارِ
او په لاسو	د مؤمنانو سره	پس عبرت واخلى تاسى	اى خاوندانو	د ستركو

او په لاسو د مؤمنانو سره، پس عبرت واخلئ تاسى اى خاوندانو د ستركو (عقلونو).

وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۚ وَلَهُمْ

وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمُ	الْجَلَآءَ	لَعَذَّبَهُمْ	فِي الدُّنْيَا	وَلَهُمْ
او كه نه وی ليكلى	الله	پر دوی باندی	وتل له وطنه	نو خامخا په عذاب كړی به ؤ دوی	په دنيا كښې	او دوی لره دی

او كه نه وی ليكلى الله په دوی باندی وتل له وطنه نو خامخا په عذاب كړی به ؤ (الله) دوی لره په دنيا كښې او دوی لره دی

فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝٣ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ

فِي الْاٰخِرَةِ	عَذَابُ	النَّارِ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	شَآقُّوا	اللّٰهَ
په آخرت كښى	عذاب	د اور	دغه	په سبب د دی چې بيشكه! ؤ دوی	چې مخالفت به يئ كاوه	له الله

په آخرت كښى عذاب د اور. دغه (تعذيب) په سبب د دی ؤ چې بيشكه! ؤ دوی چې مخالفت به يئ كاوه له الله

وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٤

وَرَسُوْلَهٗ	وَمَنْ يُّشَآقِّ	اللّٰهَ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	شَدِيْدُ	الْعِقَابِ
او له رسول د دغه (الله) سره	او هر هغه چې مخالفت كوی	له الله څخه	نو بيشكه!	الله	شديد ، سخت دى	عذاب د ده

او له رسول د دغه (الله) سره او هر هغه چې مخالفت كوی له الله څخه نو بيشكه! الله شديد سخت دی عذاب د ده

مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى

مَا قَطَعْتُمْ	مِّنْ لِّيْنَةٍ	اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا	قَآئِمَةً	عَلٰٓى
هغه چې پرى كوئ تاسى	له تنو د ونو د خرماؤ څخه	يا يئ پريږدئ هغه	ولاړ	پر

هغه چې پرى كوئ تاسى له تنو د ونو د (كم اصلو) خرماؤ څخه يا يئ پريږدئ هغه ولاړ پر

فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ. مخ پاته بيان دلته وګورى: تر كم ديوال لاندي چي حضور ﷺ تشريف درولودى يو سرى دي لوړ وخيژي او يوه لويه ډبره دي دده ﷺ پر سر دلوړي څخه را ايله كړي چي كار يي تمام سي ده ﷺ ته فورا دوحى په ذريعه دهغوى داسازش معلوم سو نو دى ﷺ راولاړسو او واپس يي تشريف راوړى اودوى ته يي خبر وليږى چي تاسي وعده شكني كړيده او صلح موماته كړيده په دې وجه اوس تاسو ته دلسو ورځو مهلت دركول كيږي په دغه لسو ورځو كي چي تاسي كمي خواته غواړى ولاړ سى ددغي مودې څخه وروسته چي كم سړى دلته په نظر راغى سر به ورڅخه پرې كول كيږي: هغوى دتللو اراده وكړه نو عبدالله ابن ابى منافق هغوى منع كړل چي هيڅ ځاى مه ځى زما سره ددوزرو كسانو جمعيت دى كم چي به ستاسي دپاره خپل ځانونه قربان كړي خو تاسي ته به څوک هيڅ هم ونه وايي.او په روح المعاني كي دي چي څه نور كسان هم دعبدالله ابن ابى سره شريكان سول. پاته بيان پر راروان مخ وګورى

أُصُوْلِهَا فَبِإِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۵ وَمَآ اَفَآءَ

أُصُوْلِهَا	فَبِإِذْنِ	اللّٰهِ	وَلِيُخْزِيَ	الْفٰسِقِيْنَ	وَمَآ	اَفَآءَ
بیخونو خپلو باندی	نو دغه په حکم	دالله سره دی	او چی رسوا کړی (الله)	فاسقانو ، نافرمانانو لره	او هغه (مال) چی	راګرځولی دی

بیخونو خپلو باندی نو دغه (ټول) په حکم د الله سره دی او چی رسوا کړی (الله) فاسقانو لره ، او هغه مال چی راګرځولی دی

اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ

اللّٰهُ	عَلٰى	رَسُوْلِهٖ	مِنْهُمْ	فَمَآ اَوْجَفْتُمْ	عَلَيْهِ	مِنْ خَيْلٍ
الله	پر	رسول خپل باندی	له (مالونو) د دوی	پس نه ؤ ځغلولی تاسی	پر دوی	هیڅ اسونه

الله په رسول خپل باندی له مالونو د دوی پس نه ؤ ځغلولی تاسی پر دوی هیڅ اس

وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

وَّلَا رِكَابٍ	وَّلٰكِنَّ	اللّٰهَ	يُسَلِّطُ	رُسُلَهٗ	عَلٰى	مَنْ يَّشَآءُ	وَاللّٰهُ
او نه هیڅ اوښ	اولیکن	الله	مسلطه کوی	رسولانو خپلو لره	پر	هغه چا باندی چی اراده وفرمائی	او الله

او نه هیڅ اوښ لیکن الله مسلطوی برې ورکوی رسولانو خپلو ته پر هغه چا باندی چی اراده وفرمائی او الله

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶ مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ

عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	مَآ اَفَآءَ	اللّٰهُ	عَلٰى	رَسُوْلِهٖ	مِنْ اَهْلِ
پر	هر شی باندی	ښه قادر دی	هغه شی چی راګرځولی دی	الله	پر	رسول خپل باندی	له اهل

پر هر شی باندی ښه قادر دی ، هغه شی چی راګرځولی دی الله پر رسول خپل باندی له (مالونو د) اهل

الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى

الْقُرٰى	فَلِلّٰهِ	وَلِلرَّسُوْلِ	وَلِذِي الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى
دقریو	نو دی الله لره	او رسول (دالله) لره	او خپلوانو درسول (الله) لره	او یتیمانو لره

دقریو ، کلیو (بی له جنګه) نو (هغه) دی الله لره او رسول (دالله) لره ، او خپلوانو درسول (الله) لره ، او یتیمانو لره

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ

وَالْمَسٰكِيْنِ	وَابْنِ السَّبِيْلِ	كَيْ	لَا يَكُوْنَ	دُوْلَةً	بَيْنَ
او مسکینانو لره	او مسافرانو لره	لپاره ددی چی	ونه ګرځی	ګردش کوونکی	په مینځ

او مسکینانو لره او مسافرانو لره (مقرر کړی دی الله) لپاره ددی چی ونه ګرځی (دغه اموال) دولت په مینځ

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ...دتیر مخ پاته بیان
دلته وګوری : نو هغه ووچي بنو نضیر ددغه منافقینو په خبرو کي راغلل او نبي کریم ﷺ ته یي حال ولیږی چي موږ هیڅ ځای هم نه سوتللای او ستا چي څه په وسه کیدی سي هغه وکړه ده ﷺ دصحابه کرامو ﷺ سره پر دې قبیله حمله وکړه او دغه خلګ قلا بند سول او منافقینو ځانونه پټ کړل کښینستل دوی یي محاصره وکړه او دهغوی ځیني درختي یي وروسوزولې اوځیني یي ورپرېکړې آخر هغوی تنګ سول او جلاوطن کیدل یي منظور کړل ده ﷺ په دې حال کي هم دهغوی سره دا رعایت وکړی چي حکم یي وکی څومره سامان چي تاسي دځان سره وړلای سی یو یه سی بغیر دوسلو څخه چي هغه به ضبط وي دغه خلګ ووتل ځیني شام ته ولاړل ځیني خیبر ته او ددنیا دحرص په وجه یي دخپلو کورونو کلکینان اوتختې ویستلې او د ځان سره یي یوورې : دغه قصه داحد دغزا څخه وروسته په ربیع الاول دهجرت په څلورم کال کي پیښه سوه الی آخرالقصة.
(معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص۲۷)

الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ۚ وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا

الْاَغْنِيَآءِ	مِنْكُمْ	وَمَآ	اٰتٰىكُمُ	الرَّسُوْلُ	فَخُذُوْهُ	وَمَا
دغنيانو كښې	له تاسې څخه	او هغه څه چې	دركړي تاسې ته	رسول	نو وئ نيسئ هغه	او هغه څه چي

د غنيانو كښې له تاسې څخه، او هغه څه چې دركړي تاسې ته رسول (دالله) نو وئ نيسئ قبول يئ كړئ! او هغه څه چي

نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

نَهٰىكُمْ	عَنْهُ	فَانْتَهُوْا	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	شَدِيْدُ
منع كوي تاسې	له هغه څخه	نو منع سئ تاسې	او وبيريږئ	له الله	بيشكه!	الله	سخت دی

منع كوي تاسې له هغه څخه نو بيرته سئ ترې او وبيريږئ له (عذاب د) الله په ځان ساتلو له معاصيو بيشكه! الله سخت دی

الْعِقَابِ ۝ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا

الْعِقَابِ	لِلْفُقَرَآءِ	الْمُهٰجِرِيْنَ	الَّذِيْنَ	اُخْرِجُوْا
عذاب دده	دپاره دفقيرانو	هجرت كوونكو	هغه كسان	چې ايستلی سوی دی دوی

عذاب دده. دپاره دفقيرانو هجرت كوونكو هغه كسان چې ايستلی سوی دی دوی

مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا

مِنْ دِيَارِهِمْ	وَاَمْوَالِهِمْ	يَبْتَغُوْنَ	فَضْلًا	مِّنَ اللّٰهِ	وَرِضْوَانًا
له كورونو خپلو څخه	او له اموالو خپلو څخه	چې طلبوی دوی	فضل، بخښنه	له الله	او رضاء (دده)

له كورونو كليو خپلو څخه او له اموالو خپلو څخه په دی حال كښې چې طلبوی دوی فضل بخښنه له الله او رضاء (د ده)

وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۭ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝ ٨

وَّيَنْصُرُوْنَ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	اُولٰۗىِٕكَ	هُمُ	الصّٰدِقُوْنَ
او مرسته كوی	له الله	اورسول دده (الله) سره	دغه	هم دوی دی	رښتيني (صادقان)

او مرسته كوی له الله او رسول دده (الله) سره (په نفسونو او مالونو خپلو) دغه (مهاجران) هم دوی دی رښتيني.

وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ

وَالَّذِيْنَ	تَبَوَّؤُ	الدَّارَ	وَالْاِيْمَانَ	مِنْ قَبْلِهِمْ
او هغو (انصارو له)	چې ځای يئ نيولی دی	په كور كښې	او ايمان خپل خالص	پخوا له دغو (مهاجرانو) څخه

او هغو (انصارو) چې ځای نيولی دی په (دی) كور (مدينه) كښې او ايمان پخوا له دغو (مهاجرانو) څخه

وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ. درسول حكم دقران كريم دحكم په شان واجب التعميل دی: داآيت كه څه هم دمال فی په سلسله كي راغلی دی اوددې سلسلې مناسب ددې مفهوم دادی چې په مال دفی كي كه څه هم الله ﷻ دمستحقينو طبقې بيان كړي دي مگر په دوی كي چاته او څومره به وركول سي ددې تعين دنبي كريم ﷺ پر رايه مباركه باندې پرېښوول سوی دی په دې وجه مسلمانانو ته په دې آيت كي هدايت وسو چې چاته څومره دی ﷺ وركوي پر هغه دې راضي سي اخلې دې او څه چې نه وركوي دهغه فكر دې نه كوي: مخ ته بيا الله ﷻ داحكم په **اتّقوا الله** سره مؤكّد كړی دی چې كه په دې معامله كي څه غلطې حيلې بهانې جوړې كړي او زيات شی دنبي كريم ﷺ څخه واخلی نو پوه سی چې الله ﷻ په هرڅه باندې خبر دی هغه به ددې سزا وركوي. ليكن دقرآن كريم الفاظ عام دي داحكم صرف دمالونو سره تخصيص نه لري بلكي احكام هم په دې كي داخل دي په دې وجه په عام انداز كي. **پاته بيان پر راروان مخ وگوری.**

يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ

يُحِبُّوْنَ	مَنْ هَاجَرَ	اِلَيْهِمْ	وَلَا يَجِدُوْنَ	فِيْ صُدُوْرِهِمْ
محبت كوى	له هغه چا سره چې هجرت يې كړى دى	دوى ته	او نه پيدا كوى دوى	په زړونو خپلو كښې

خو بنوى محبت كوى دوى له هغه چا سره چې هجرت يې كړى دى دوى ته او نه پيدا كوى دوى په زړونو، سينو خپلو كښې

حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ

حَاجَةً	مِّمَّآ	اُوْتُوْا	وَيُؤْثِرُوْنَ	عَلٰٓى	اَنْفُسِهِمْ	وَلَوْ كَانَ
څه تنگى	له هغه شى څخه	چې وركړى سوى وى	او غوره كوى (مهاجران)	پر	خپلو ځانونو	او اگر كه وى

څه تنگى (حسد) له هغه شى څخه چې وركړى سوى وى او غوره كوى (مهاجران) مقدموى يې پر خپلو ځانونو او اگر كه وى

بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ

بِهِمْ	خَصَاصَةٌ	وَمَنْ يُّوْقَ	شُحَّ	نَفْسِهٖ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ
پر دوى باندى	تنگى	او هر هغه چې وساتلى سى	له بخل	دنفس دده څخه	نو هم دغه كسان دى	هم دوى

پر دوى باندى تنگى، او هر هغه چې وساتلى سى له بخل دنفس دده څخه نو هم دغه كسان دى هم دوى

الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٩﴾ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ

الْمُفْلِحُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	جَآءُوْ	مِنْۢ بَعْدِ	هِمْ	يَقُوْلُوْنَ
په مراد رسيدلى	او هغو كسانو لره	چې راغلى دى	وروسته له	دوى (مهاجرو) څخه	وايې دوى

په مراد رسيدلى. او (اموال) هغو (كسانو لره دى) چې راغلى دى راځى وروسته له دغو (مهاجرو) څخه، وايې دوى

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا

رَبَّنَا	اغْفِرْ لَنَا	وَلِاِخْوَانِنَا	الَّذِيْنَ	سَبَقُوْنَا
چې اى ربه زموږ	مغفرت وكړه موږ ته	او (دينى) ورونو زموږ ته	هغو ته چې	مخكى داخل سوى دى زموږ څخه

چې اى ربه زموږ مغفرت وكړه موږ ته او هغو (دينى) ورونو زموږ ته چې مخكى داخل سوى دى (له موږ څخه)

بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بِالْاِيْمَانِ	وَلَا تَجْعَلْ	فِيْ قُلُوْبِنَا	غِلًّا	لِّلَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
په ايمان كښى	او مه گرځوه	په زړونو زموږ كښى	بغض، كينه	دهغو كسانو سره	چې ايمان يې راوړى دى

په ايمان كښى او مه گرځوه په زړونو زموږ كښى بغض كينه دهغو كسانو سره چې ايمان يې راوړى دى

يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ. دتير مخ پاته بيان دلته وكورى: دآيت مطلب دادى چې دى ﷺ څه حكم يا مال يا بل څه شى چاته وركوي هغه دي هغه اخلي او ددې مطابق دعمل كولو دپاره تياريدل پكار دي او دكم شي څخه چې منع كوي دهغه څخه منع كيدل پكار دي: ډيرو صحابه كرامو ﷺ دا عام مطلب اختياره كړى دى او دنبي كريم ﷺ هر يو حكم يي ددې آيت پر بنا باندي دقرآن كريم حكم او واجب التعميل مقرر كړى دى امام قرطبي رحمه الله فرمايي چي په دې آيت كي داتى په مقابله كي نهى راغلى دى ددې څخه معلوميږي چي داتى معنى دلته دامَر ده كم چي دنهى صحيح مقابل دى: او قرآن كريم دنهى په مقابل كي دامر لفظ پرينښوى داتى لفظ يي شايد په دې وجه استعمال وفرمايي چي دكم مضمون په سياق كي چي دا آيت راغلى دى يعني دفى دمال تقسيم دې لره هم دآيت مضمون شامل سي: نو لهذا دالله جل جلاله رسول ﷺ چي كم حكم وامت ته وركي چي دا وكړى مثلا ډيره پريږدى نو دهغه پر ځاى كول واجب دي نو ږيره پريښوول واجب ده.
معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص۴۶

الربع

رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ۝ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ نَافَقُوۡا

رَبَّنَآ	اِنَّكَ	رَءُوۡفٌ	رَّحِيۡمٌ	اَلَمۡ تَرَ	اِلَى الَّذِيۡنَ	نَافَقُوۡا
ای ربه زموږ	بیشکه! ته	بنه مهربانی کوونکی	ډیر رحم والا یې	آیا نه ګوری ته	هغو کسانو ته	چی منافقان سوی دی

ای ربه زموږ بیشکه! ته بنه مهربانی کوونکی خورا رحم والا یې. آیا نه ګوری ته هغو کسانو ته چی منافقان سوی دی

يَقُوۡلُوۡنَ لِاِخۡوَانِهِمُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ

يَقُوۡلُوۡنَ	لِاِخۡوَانِهِمُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	مِنۡ اَهۡلِ	الۡكِتٰبِ
وایې هغوی	ورونو خپلو ته	هغو ته	چی کافران سوی دی	له اهل	دکتابونو

وایې هغوی هغو ورونو خپلو (یهودانو) ته چی کافران سوی دی له اهل دکتابونو

لَئِنۡ اُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيۡعُ فِيۡكُمۡ اَحَدًا

لَئِنۡ	اُخۡرِجۡتُمۡ	لَنَخۡرُجَنَّ	مَعَكُمۡ	وَلَا نُطِيۡعُ	فِيۡكُمۡ	اَحَدًا
قسم دی که خامخا	وویستل سئ تاسی	نو خامخا وبه وځو موږ هرومرو	له تاسی سره	او نه به منو	ستاسو په باره کښی	دهیچا

قسم دی که خامخا وویستل سئ تاسی (له مدینی څخه) نو خامخا وبه وځو موږ هرومرو له تاسی سره او نه به منو دهیچا

اَبَدًا ۙ وَّاِنۡ قُوۡتِلۡتُمۡ لَنَنۡصُرَنَّكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ يَشۡهَدُ

اَبَدًا	وَّاِنۡ	قُوۡتِلۡتُمۡ	لَنَنۡصُرَنَّكُمۡ	وَاللّٰهُ	يَشۡهَدُ
هیڅکله	او که چیری	جنګ شروع کړی سی له تاسی سره	خامخا کومک به وکړو موږ له تاسی سره	او الله	شاهدی ورکوی

هیڅکله او که چیری جنګ شروع کړی سی له تاسی سره خامخا کومک به وکړو موږ له تاسی سره او الله شاهدی ورکوی

اِنَّهُمۡ لَكٰذِبُوۡنَ ۝ لَئِنۡ اُخۡرِجُوۡا لَا يَخۡرُجُوۡنَ مَعَهُمۡ ۚ وَلَئِنۡ

اِنَّهُمۡ	لَكٰذِبُوۡنَ	لَئِنۡ اُخۡرِجُوۡا	لَا يَخۡرُجُوۡنَ	مَعَهُمۡ	وَلَئِنۡ
چی بیشکه! دوی	خامخا دروغجنان دی	قسم دی که وویستل سی دوی	نه وځئ	د دوی سره	او قسم دی که

چی بیشکه! دوی خامخا دروغجنان دی. قسم دی که وویستل سی دغه (یهودان) نه وځی د دوی سره او قسم دی که

قُوۡتِلُوۡا لَا يَنۡصُرُوۡنَهُمۡ ۚ وَلَئِنۡ نَّصَرُوۡهُمۡ

قُوۡتِلُوۡا	لَا يَنۡصُرُوۡنَهُمۡ	وَلَئِنۡ	نَّصَرُوۡهُمۡ
جنګ وکړ سی له هغو سره	نو مرسته نه کوی دوی د هغو سره	او که	مرسته وکړی (منافقان) د (یهودانو) سره

جنګ وکړ سی له هغو (یهودانو) سره نو مرسته نه کوی دوی د هغوی سره، او که مرسته وکړی (منافقان) د (یهودانو) سره

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ نَافَقُوۡا يَقُوۡلُوۡنَ..منافقینو واهل کتابو ته ددرواغو وعدې ورکړې: په دغه آیت کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي ایا تاسي دهغو منافقینو لکه عبدالله ابن ابی او ده ته ورته دنورو منافقینو حالت ونه لیدی چي خپلو هم مذهبو ورونو یعني اهل کتابو کفاروته چي بنو نضیر وه وویل چي زموږ دي په خدای قسم وي موږ په هرحال کي ستاسي سره یو پس که تاسي دخپل وطن څخه جبراً ویستل سواست نو موږ به هم ستاسي سره دخپل وطن څخه ووزو او ستاسي په معامله کي به موږ هیڅکله دچا خبره ونه منو یعني برابره خبره ده که موږ څوک هر څنګه وپوهوي چي په خروج او قتال کي کم چي مخکي بیان سوي دي ستاسي ملګرتیا ونه کړو لیکن موږ به یي ونه منو پس جمله د **لانطیع فیکم** دسیاق او سباق دواړو په حقله ده اوکه ستاسي سره دچا جنګ جوړ سو نو موږ به ستاسي مدد کوو او الله ﷻ شاهد دی چي هغوی بالکل دروغجن دی داخود دوی ددروغجن کیدو اجمالا بیان وسو الخ

معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص ۶۲

لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢﴾ لَاَانْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً

لَيُوَلُّنَّ	الْاَدْبَارَ	ثُمَّ	لَا يُنْصَرُوْنَ	لَاَانْتُمْ	اَشَدُّ	رَهْبَةً
خامخا وبه ګرځوی	شاوی خپل	بیا به	کومک ونه کړل سی د دوی سره	خامخا تاسی	ډیر سخت يئ	له جهته د بیری

خامخا وبه ګرځوی (منافقان) شاوی خپل، بیا به کومک ونه کړل سی . خامخا تاسی (مؤمنانو) ډیر سخت يئ له جهته د بیری

فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿١٣﴾

فِيْ صُدُوْرِهِمْ	مِّنَ اللّٰهِ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	قَوْمٌ	لَّا يَفْقَهُوْنَ
په سینو ددغو (منافقانو) کښی	له (بیری) د الله	دغه بیره	په سبب د دی چی بیشکه! دوی	(داسی) قوم دی	چی نه پوهیږی

په سینو ددغو (منافقانو) کښی له (بیری) د الله دغه بیره په سبب د دی ده بیشکه! چی دوی (داسی) قوم دی چی نه پوهیږی

لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ

لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ	جَمِيْعًا	اِلَّا	فِيْ قُرًى	مُّحَصَّنَةٍ	اَوْ مِنْ وَّرَآءِ
جنګ به ونه کړی دوی له تاسی سره	ټول	مګر	په قریو کښی	کلابندی سوی	یا وروسته

جنګ به ونه کړی دوی (یهودان) له تاسی سره (ای مؤمنانو) ټول په ګډه سره مګر په قریو ټینګ کړیو سویو کښی یا وروسته

جُدُرٍ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا

جُدُرٍ	بَاْسُهُمْ	بَيْنَهُمْ	شَدِيْدٌ	تَحْسَبُهُمْ	جَمِيْعًا
له دیوالونو	جنګ د دوی	په مینځ د دوی کښی	ډیر سخت دی	ګمان به کوی ته پر دوی	چی ټول سره یو دی

له دیوالونو سنګرونو څخه جنګ د دوی په مینځ د دوی کښی ډیر سخت دی ،ګمان به کوی ته پردوی چی سره یو دی

وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٤﴾

وَّقُلُوْبُهُمْ	شَتّٰى	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	قَوْمٌ	لَّا يَعْقِلُوْنَ
او زړونه د دوی سره	جلا جلا دی	دا	په سبب د دی چی بیشکه! دوی	داسی قوم دی	چی نه پوهیږی

او زړونه د دوی سره جلا جلا دی دا (پریشانی) په سبب د دی دی چی بیشکه! دوی داسی قوم دی چی نه پوهیږی

كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيْبًا ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ

كَمَثَلِ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ	قَرِيْبًا	ذَاقُوْا	وَبَالَ	اَمْرِهِمْ
مثال د دوی لکه مثال	دهغو کسانو دی	چی پخوا له دوی څخه	په نژدی زمانه کښی وه	چی وڅکله هغوی	سزا	د بد کارو خپلو

مثال د دوی لکه مثال د قصی دهغو کسانو دی چی ؤ پخوا له دوی څخه په نژدی زمانه کښی چی وڅکله هغوی سزا د بد و خپلو

لَاَانْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ...منافقینو اخر کار دبنونضیر قبیلې کومک ونه کړی: اوس الله جل جلاله دمنافقینو دهغو وعدو کمي چي دوی داهل کتابو بنو نضیر قبیلې سره کړي وې دهغو درواغجن والی بیانوي: هغه داسي چي په خدای قسم دی که اهل کتاب وایستل سول نو دوی منافقان به دهغوی سره ونه وزي او که ددوی سره جنګ وسو نو هغوی به یي مدد ونه کي اوبالفرض ومحال که دغه منافقین دهغوی مدد هم وکي او په جنګ کي شریک سي نو پر شاه به وتښتي بیا به ددوی تر تښتیدو وروسته دهغوی اهل کتابو هیڅ مدد ونه سي یعني کم چي مددکوونکي وه هغوی وتښتیدل اوبل څوک به یي هم مددګار نه وي پس خامخا به مغلوب او مقهور وي: مطلب داچي دمنافقینو چي کم غرض دی چي ددوی پر دې وړونو څه آفت رانه سي په دي کي به دوی په هرډول سره ناکامه وي لکه چي داسي وسوه چي کله په آخر کي بنونضیر وایستل سول نو منافقین ورو سره ونه وتل او په هغه محاصره کي دهغوی یي هم کومک ورسره ونه کړی

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۶۲

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝١٥ كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ

وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	كَمَثَلِ	الشَّيْطٰنِ	اِذْ قَالَ
او سته هغوی ته	عذاب	دردناک	په شان دحال	دشیطان (داسی ده)	کله چي وايئ

او سته هغوی ته عذاب دردناک (په عقبا کښی). لکه مثل (قصه) دشیطان داسی ده کله چي وايئ

لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ

لِلْاِنْسَانِ	اكْفُرْ	فَلَمَّا	كَفَرَ	قَالَ	اِنِّيْ	بَرِيْٓءٌ	مِّنْكَ	اِنِّيْٓ
انسان ته	چي کافر سه	نو کله چي	کافر سی	وايئ	زه	بيزاره جلا يم	له تا څخه	بيشکه! زه

انسان ته چي کافر سه نو کله چي (انسان) کافر سی وايئ (شيطان) زه بيزاره جلا يم له تا څخه بيشکه! زه

اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٦ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا

اَخَافُ	اللّٰهَ	رَبَّ	الْعٰلَمِيْنَ	فَكَانَ	عَاقِبَتَهُمَآ	اَنَّهُمَا
بيريږم	له الله	چي رب	دټولو مخلوقتو دی	پس دی	عاقبت انجام د دواړو داسی چي	بيشکه! هغوی دواړه به وی

بيريږم له الله چي رب (پالونکی) دټولو عالميانو دی. پس دی عاقبت انجام د دواړو داسی چي بيشکه! هغوی دواړه به وی

فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ۝١٧ يٰٓاَيُّهَا

فِي النَّارِ	خَالِدَيْنِ	فِيْهَا	وَذٰلِكَ	جَزٰٓؤُا	الظّٰلِمِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا
په اور (د دوزخ) کښی	تل به او سيږی دوی	په هغه کښی	او هم دا	جزاء	دظالمانو ده	ای

په اور (د دوزخ) کښی تل به او سيږی دوی (دواړه) په هغه کښی او هم دا جزاء د ظالمانو (کافرانو) ده. ای

ع ۲ ۵

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	اللّٰهَ	وَلْتَنْظُرْ	نَفْسٌ	مَّا
هغو کسانو	چي ايمان يئ راوړی دی	وبيريږئ	له الله	او بنايئ چي وګوری	هر نفس	هغه شی ته چي

هغو کسانو چي ايمان يئ راوړی دی وبيريږئ له (عذابه د) الله او بنايئ چي و دی ګوری هر نفس هغه شی ته چي

قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١٨

قَدَّمَتْ	لِغَدٍ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	خَبِيْرٌۢ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ
مخکی يئ ليږلی دی	دپاره دصبا	او بيريږئ	له الله	بيشکه! چي	الله	ښه خبردار دی	په هغو چي کوئ يئ تاسی

مخکی يئ ليږلی دی دپاره د صبا (قيامت) او بيريږئ له الله بيشکه! چي الله ښه خبردار دی په هغو چي کوئ يئ تاسی.

كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ

دمنافقينو مثال الله جل جلاله دشيطان سره ورکړی دی

دا مثال دهغو منافقينو دی کمو چي بنو نضير دجلا وطنی دحکم په نه منلو او دنبي کريم ﷺ په مقابله کي دجنګ کولو دپاره را وپارول اوددوی دمدد کولو وعده يي وکړه: مګر کله چي مسلمانانو دبنو نضيرو محاصره وکړه نويو منافق يي هم امداد ته ونه رسيدی: ددوی مثال قرآن کريم دشيطان ديوې واقعې سره ورکړی دی چي شيطان انسان پر کفر باندي اماده کی او دده سره قسم قسم وعدې وکړي مګر کله چي دی په کفر کي مبتلا سونو هغه دټولو څخه منکر سو دشيطان داسي واقعات خدای خبر چي څومره سوي دي په دنيا کي په هغه کي يوه واقعه خو په خپله په قرآن کريم کي منصوص ده چي بيان يي دسورت انفال په دغه اياتونو کي راغلی دی: واذ زين لهم الشيطن اعمالهم وقال لا غالب لکم اليوم من الناس وانّی جار لکم الخ چي دبدر په ميدان کي شيطان په طور دوسوسې او يا په شکل دانسان کي مخ ته ورته راغی الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۶۶

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ۭ

وَلَا تَكُوْنُوْا	كَالَّذِيْنَ	نَسُوا	اللّٰهَ	فَاَنْسٰىهُمْ	اَنْفُسَهُمْ
او مه کیږئ تاسی	په شان د هغو کسانو	چې هیر کړی دی هغو	الله	بیا هیر کړی الله په دوی	حق د نفسونو د دوی

او مه کیږئ تاسی (ای مؤمنانو) په شان د هغو کسانو چې هیر کړی دی هغوی الله بیا هیر کړی الله په دوی حق د نفسونو د دوی

اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ⑲ لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ

اُولٰٓىِٕكَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ	لَا يَسْتَوِيْٓ	اَصْحٰبُ	النَّارِ
دغه خلک	هم دوی دی	فاسقان	نه دی سره برابر	یاران، ملګری	د اور

دغه خلک هم دوی دی فاسقان نافرمانان. نه دی سره برابر (په نزد د الله) یاران ملګری د اور (چې هیر کړی یئ دی الله)

وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۭ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ ⑳ لَوْ

وَاَصْحٰبُ	الْجَنَّةِ	اَصْحٰبُ	الْجَنَّةِ	هُمُ	الْفَاۗىِٕزُوْنَ	لَوْ
او یاران	د جنت	یاران	د جنت	هم دوی دی	په مراد رسیدلی	که

او یاران، ملګری د جنت (چې پیرېږئ د الله څخه) یاران، ملګری د جنت هم دوی دی په مراد رسیدلی. که

اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰي جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا

اَنْزَلْنَا	هٰذَا	الْقُرْاٰنَ	عَلٰي	جَبَلٍ	لَّرَاَيْتَهٗ	خَاشِعًا
نازل کړی وی موږ	دغه	قرآن	پر	یو غره باندی	نو خامخا لیدلی به وُ تا هغه	پیریدونکی

نازل کړی وی موږ (احکام د دغه) قرآن پر یو غره باندی نو خامخا لیدلی به وُ تا هغه (غر) پیریدونکی فرمان منونکی

مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ۭ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا

مُّتَصَدِّعًا	مِّنْ خَشْيَةِ	اللّٰهِ	وَتِلْكَ	الْاَمْثَالُ	نَضْرِبُهَا
ټوټې ټوټې کیدونکی	له بیری (له عذابه)	د الله	او دا	مثالونه	بیانوو او روو موږ هغه

ټوټې ټوټې کیدونکی له بیری (له عذابه) د الله او دا مثالونه بیانوو اورو موږ هغه

لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ㉑ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ

لِلنَّاسِ	لَعَلَّهُمْ	يَتَفَكَّرُوْنَ	هُوَ اللّٰهُ	الَّذِيْ
خلګو ته	لپاره د دی چې دوی	فکر وکړی	دغه الله	هغه ذات دی

خلګو ته (لپاره د دی) چې دوی فکر وکړی (فائده تری اخلی). دغه (الله) هغه ذات دی

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰي جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ. قران کریم فی نفسه مؤثر او قوي الاثره دی: په دغه ایت کي الله ﷻ یو تمثیل بیان کړی دی دقرآن کریم دشان او مقام دعظمت دپاره هغه داسي چي که دغه قرآم کریم دغرونو په شان پر سختو درنو شیانو باندي الله ﷻ نازل کړی وای او لکه څنګه چي انسان ته پوه او شعور ورکول سوی دی هغو ته هم الله ﷻ داسي پوه او شعور ورکړی وای نوغر به هم ددې قرآن دعظمت په مخکي کښته سوی وای بلکي خاشه خاشه سوی به وای مګر انسان په خپله خواهش پرستی کي او خود غرضی کي اخته سو او خپل فطري شعور یي ختم کړی هغه په قرآن کریم سره نه متاثره کیږي ګواکي دا یوفرضي مثال دی چي که په غرونو کي شعور او ادراک وای اوځیني حضرات بیا فرمايي چي په غرونو او درختو او ددنیا په ټولو شیانو کي دشعور او ادراک کیدل په عقل او نقل سره ثابت دي په دې وجه دا څه مثال نه دی حقیقت دی: یا الله قرآن کریم دژوند ترآخری ساه بلکي تر جنته پوري زموږ ملګری وګرځوي.

معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص۷۳

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ

لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	عٰلِمُ	الۡغَيۡبِ	وَالشَّهَادَةِ	هُوَ
چې نشته بل هيڅ معبود برحق	مګر	خو هم دى دى	عالم دى	په غيبو باندى	او په ښکاره ؤ باندى	هم هغه (الله) دى

چې نشته بل هيڅ معبود بر حق مګر خو هم دى دى (يواځې) عالم دى په غيبو باندى او په ښکاره ؤ باندى هم هغه (الله) دى

الرَّحۡمٰنُ الرَّحِيۡمُ ﴿۲۲﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِىۡ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡمَلِكُ

الرَّحۡمٰنُ	الرَّحِيۡمُ	هُوَ اللّٰهُ	الَّذِىۡ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	اَلۡمَلِكُ
ډير مهربان	ډير رحم والا	دغه الله	هغه (ذات) دى	چې نشته بل هيڅ معبود برحق	مګر خو	هم دى دى	پاچاه

ډير مهربان ډير رحم والا. دغه الله هغه (ذات) دى چې نشته بل هيڅ معبود برحق مګر خو هم دى دى پاچاه (بادشاه)

الۡقُدُّوۡسُ السَّلٰمُ الۡمُؤۡمِنُ الۡمُهَيۡمِنُ الۡعَزِيۡزُ الۡجَبَّارُ

الۡقُدُّوۡسُ	السَّلٰمُ	الۡمُؤۡمِنُ	الۡمُهَيۡمِنُ	الۡعَزِيۡزُ	الۡجَبَّارُ
ښه پاک دى	سالم دى	امان ورکوونکى دى	شاهد، حافظ دى	ښه قوى غالب دى	ډير زبردست دى

ښه پاک دى، سالم دى (له ټولو عيبو څخه) امان ورکوونکى دى.شاهد، حافظ دى ښه قوى غالب دى، ډيره څښتنى کيږى

الۡمُتَكَبِّرُ ؕ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ﴿۲۳﴾ هُوَ اللّٰهُ الۡخَالِقُ

الۡمُتَكَبِّرُ	سُبۡحٰنَ	اللّٰهِ	عَمَّا	يُشۡرِكُوۡنَ	هُوَ اللّٰهُ	الۡخَالِقُ
دلوئى څښتن دى	پاک دى	دا الله	له هغو شيانو	چې ورسره يئ شريکوى کفار	دغه الله (هغه ذات) دى	چې پيدا کوونکى دى

دلوئى څښتن دى پاک دى ذات دالله له هغو شيانو چې ورسره يئ شريکوى. دغه الله (هغه ذات دى) چې پيدا کوونکى دى

الۡبَارِئُ الۡمُصَوِّرُ لَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ

الۡبَارِئُ	الۡمُصَوِّرُ	لَهُ	الۡاَسۡمَآءُ	الۡحُسۡنٰى	يُسَبِّحُ	لَهٗ
نوى ښکاره کوونکى دى	صورت ورکوونکى دى	دغه الله لره دى	نومونه	نيک، عمده	په پاکى سره، يادوئ	هغه (الله) ته

راوستونکى دى صورت ورکوونکى دى هم دغه الله لره دى نومونه نيک عمده، په پاکى سره يادوئ هغه (الله) لره

مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۲۴﴾ ع

مَا	فِى السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَهُوَ	الۡعَزِيۡزُ	الۡحَكِيۡمُ
هر هغه څه	چې په آسمانونو کښى دى	او چې په مځکه کښى دى	او هم دغه (الله)	ښه غالب دى	ښه حکمت والا دى

هر هغه څه چې په آسمانونو کښى دى او چې په مځکه کښى دى، او هم دغه (الله) ښه غالب دى ښه حکمت والا دى .

يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ...داسمان او مځکي اوسيدونکي مخلوقات دالله ﷻ تسبيحات وايي :داتسبيح په زبان حال سره کول خو ظاهره ده چي ټول مخلوقات او په دوى کي اينبوول سوي عجيبه او نا اشنا صورتونه او صنعتونه په زبان حال سره دخپل جوړوونکي په حمداوثنا کي مشغول دي. او دا هم کيداى سي چي حقيقي تسبيح ورڅخه مراد وي ځکه چي تحقيق دادى چي په ټولو شيانو کي دعالم په خپل حيثيت سره عقل او شعور سته او دشعور دټولو څخه اوله مقتضى دخپل جوړونکي پيژندل او دهغه شکر ګذاره کيدل دي په دې وجه هر شى په حقيقت کي تسبيح کوي نو په دي کي هيڅ بعد نسته که څه هم موږ ددوى تسبيح په غوږونو سره نه اورو په دې وجه قرآن کريم په يوځاى کي فرمايلي دي: وان من شئ الا يسبح بحمده.: ولکن لاتفقهون تسبيحهم. الله ﷻ فرمايي چي په دنيا کي هيڅ شى نسته مګر دالله ﷻ تسبيح وايي ليکن تاسي دهغو په تسبيح نه پوهيږى او نه يي اورى : (معارف القرآن ج ۱۰ پ ۲۸ص ۷۵)

ربع

اٰیاتونه ١٣ | ٦٠ سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ مَدَنِیَّةٌ ٩١ | رکوعي ٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ

اَوْلِيَآءَ	وَعَدُوَّكُمْ	عَدُوِّيْ	لَا تَتَّخِذُوْا	اٰمَنُوْا	الَّذِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا
دوستان	او دښمنان خپل	دښمنان زما	مه نيسئ تاسی	چې ايمان يئ راوړی دی	هغو کسانو	ای

ای هغو کسانو چې ايمان يئ راوړی دی مه نيسئ تاسی دښمنان زما او دښمنان خپل دوستان

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا

بِمَا	كَفَرُوْا	وَقَدْ	بِالْمَوَدَّةِ	اِلَيْهِمْ	تُلْقُوْنَ
په هغه شی	کافران سوی دی هغوی	او په تحقيق	په سبب د دوستی سره	هغوی ته	چې غورځوئ تاسی خبرونه

چې غورځوئ ليږئ تاسی خبرونه هغوی ته په سبب د دوستی سره او په تحقيق کافران سوی دی هغوی په هغه شي

جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

بِاللّٰهِ	اَنْ تُؤْمِنُوْا	وَاِيَّاكُمْ	الرَّسُوْلَ	يُخْرِجُوْنَ	مِّنَ الْحَقِّ	جَآءَكُمْ
په الله	داچې ايمان راوړی دی تاسی	او هم تاسی	رسول (دالله)	او وباسی دوی	له حق څخه	چې راغلی دی تاسی ته

چې راغلی دی تاسی ته له حق څخه، او وباسی دوی رسول (دالله) او هم تاسی داچې ايمان راوړی دی تاسی په الله

رَبِّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ

وَابْتِغَآءَ	فِيْ سَبِيْلِيْ	جِهَادًا	خَرَجْتُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	رَبِّكُمْ
او دپاره دطلب غوښتلو	په لاره زما کښی	دپاره دجهاد	چې راوتلی يئ تاسی	که چيری يئ تاسی	چې رب ستاسی دی

چې رب ستاسی دی، که چيری يئ تاسی چې راوتلی يئ تاسی دپاره دجهاد جنګ په لاره زما کښی او دپاره دغوښتلو

مَرْضَاتِيْ تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ

بِمَآ	اَعْلَمُ	وَاَنَا	بِالْمَوَدَّةِ	اِلَيْهِمْ	تُسِرُّوْنَ	مَرْضَاتِيْ
په هغه څه	ښه عالم يم	او زه	په (سبب د) دوستی	هغوی ته	چې په پټه ليږئ تاسی	درضاء خوښی، زما

درضاء خوښی زما، چې په پټه (خبری) ليږئ تاسی هغوی ته په (سبب د) دوستی سره او زه ښه عالم يم په هغه څه

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ. شان نزول: په تفسير مظهري کي ذکر دي چي دبدر تر واقعي وروسته دمکي مکرمي دفتح څخه مخکي دمکي مکرمي سره يوه سروزګره ښځه وه نوم يي ساره وه اول مديني منوري ته راغله نبي کريم ﷺ ددي څخه پوښتنه وکړه چي آيا تاهجرت کړی دی راغلي يي؟ نو هغي وويل چي نه ده ﷺ بيا پوښتنه ورڅخه وکړه چي آيا ته مسلمانه سوي يي راغلي يي؟ ددي څخه هم هغي انکار وکړی ده ﷺ ورته وفرمايل چي بيا دلته په څه غرض سره راغلي يي؟ دي وويل چي تاسي خلګ دمکي مکرمي داعلی خاندان خلګ واست په تاسي باندي زماګذاره وه اوس دمکي لوی سرداران دبدر په غزا کي مړه سول او تاسي خلګ دلته راغلاست زماګذاره ګرانه سوه زه په سخت حاجت او ضرورت سره اخته سوم ستاسي څخه دمدد اخيستو دپاره دلته راغلي يم ده ﷺ ورته وفرمايل چي ته خو په مکه مکرمه کي کسب کاره سروزګره وي هغه دمکي ځوانان څه سول چيري ولاړل؟: پاته بيان پر راروان مخ وګوری

اَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ اَعۡلَنۡتُمۡ ۚ وَمَنۡ يَّفۡعَلۡهُ مِنۡكُمۡ فَقَدۡ

اَخۡفَيۡتُمۡ	وَمَآ	اَعۡلَنۡتُمۡ	وَمَنۡ يَّفۡعَلۡهُ	مِنۡكُمۡ	فَقَدۡ
چې پټوئ يئ تاسې	او په هغه څه	چې ښکاروئ يئ تاسې	او هر هغه څوک چې وکړئ دغه	له تاسې څخه	نو په تحقيق

چې پټوئ يئ تاسې او په هغه څه چې ښکاروئ يئ تاسې ،او هر هغه څوک چې وکړي دغه (کار) له تاسې څخه نو په تحقيق

ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيۡلِ ① اِنۡ يَّثۡقَفُوۡكُمۡ يَكُوۡنُوۡا لَكُمۡ اَعۡدَآءً

ضَلَّ	سَوَآءَ	السَّبِيۡلِ	اِنۡ يَّثۡقَفُوۡكُمۡ	يَكُوۡنُوۡا	لَكُمۡ	اَعۡدَآءً
ورکه کړې يې ده	سمه صافه	لاره	که چيرې برې پيدا کړي په تاسې باندې	نو سي به دوی	تاسې ته	دښمنان

ورکه کړې يې ده سمه صافه لاره. که چيرې ظفر برې ومومي (کفار) په تاسې باندې (نو) سي به دوی تاسې لره دښمنان

وَّيَبۡسُطُوۡۤا اِلَيۡكُمۡ اَيۡدِيَهُمۡ وَاَلۡسِنَتَهُمۡ بِالسُّوۡٓءِ وَوَدُّوۡا

وَّيَبۡسُطُوۡۤا	اِلَيۡكُمۡ	اَيۡدِيَهُمۡ	وَاَلۡسِنَتَهُمۡ	بِالسُّوۡٓءِ	وَوَدُّوۡا
او اوږده به کړي	تاسې ته	لاسونه خپل	او ژبې خپلې	په بدۍ سره	او خوښوي به دوی

او اوږده به کړي تاسې ته لاسونه خپل او ژبې خپلې په بدۍ (ويلو ستاسې) سره او خوښوي به دوی (دغه)

لَوۡ تَكۡفُرُوۡنَ ② لَنۡ تَنۡفَعَكُمۡ اَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ اَوۡلَادُكُمۡ ۚ يَوۡمَ

لَوۡ تَكۡفُرُوۡنَ	لَنۡ تَنۡفَعَكُمۡ	اَرۡحَامُكُمۡ	وَلَآ اَوۡلَادُكُمۡ	يَوۡمَ
چې کافران سئ تاسې	له سره به نفع در ونه رسوي تاسې ته	خپلوي ستاسې	او نه اولاد ستاسې	په ورځ

چې کافران سئ تاسې. له سره به نفع درونه رسوي ت سې ته (که کافران سئ) خپلوي ستاسې او نه اولاد ستاسې په ورځ

الۡقِيٰمَةِ ۚ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ③

الۡقِيٰمَةِ	يَفۡصِلُ	بَيۡنَكُمۡ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ
د قيامت کښې	فيصله به وکړي	په مينځ ستاسې کښې	او الله	په هغو عملونو	چې کوئ يئ تاسې	ښه ليدونکی دی

د قيامت کښې فيصله به وکړي (الله) په مينځ ستاسې کښې او الله په هغو عملونو چې کوئ يئ تاسې ښه ليدونکی دی

قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ فِيۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ وَالَّذِيۡنَ

قَدۡ	كَانَتۡ	لَكُمۡ	اُسۡوَةٌ	حَسَنَةٌ	فِيۡۤ اِبۡرٰهِيۡمَ	وَالَّذِيۡنَ
په تحقيق	ده	تاسې ته	طريقه ، نمونه	ښه	په (قول) د ابراهيم کښې	او په هغه چا کښې چې

په تحقيق ده تاسې لره طريقه ښه په (قول او فعل) د ابراهيم کښې او په هغه چا کښې چې

اَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ اَعۡلَنۡتُمۡ وَمَنۡ يَّفۡعَلۡهُ مِنۡكُمۡ .. د تير مخ پاته بيان دلته وګورئ:
چې پرتا باندې به يې د پيسو او روپو بارانونه کول هغې وويل چې د واقعې د بدر څخه وروسته د هغو جشنونه او خوشحالۍ ختمې سولي تر دې وخته پورې هيچازه نه يم بللې نبي کريم ﷺ بني عبدالمطلب ته ددې دامداد کولو ترغيب ورکړې هغوی دې ته نغدي او جامې او نور څه يې ورکړې او رخصت يې کړه: او دا هغه زمانه وه کله چې د صلح حديبيې وعده د قريشو کافرانو ماته کړې وه او نبي کريم ﷺ د مکې پر کفارو د حملې اراده وکړه او پټې تيارۍ يې شروع کړې وې او دا دعا يې هم کړې چې يا الله ﷻ زموږ دغه راز د مکې خلګو ته د وخت څخه مخکې مه ښکاره کوې دې خواته بيا په اولينو مهاجرينو کې يو صحابي حاطب ابن ابی بلتعه رضی الله عنه وو کوم چې په اصل کې د يمن او سيدونکي وو مکې مکرمې ته راغلی او مقيم سوی وو دلته يې په مکه کې څه خاندان او قبيله نه وه دلته مسلمان سو او بيا يې مدينې منورې ته هجرت وکړ. پاته بيان پر راروان مخ وګورئ.

مَعَهٗۤ اِذۡ قَالُوۡا لِقَوۡمِهِمۡ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنۡكُمۡ وَمِمَّا

مَعَهٗۤ	اِذۡ قَالُوۡا	لِقَوۡمِهِمۡ	اِنَّا	بُرَءٰٓؤُا	مِنۡكُمۡ	وَمِمَّا
دده سره ؤ	كله چې وويل دوى	قوم خپل ته	چې بېشكه! موږ	جلا، بېزاره يو	له تاسې څخه	او له هغه څخه

د ده سره ؤ (له مؤمنانو) كله چې وويل دوى قوم خپل ته چې بېشكه! موږ جلا بېزاره يو له تاسې څخه او له هغه څخه

تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا

تَعۡبُدُوۡنَ	مِنۡ دُوۡنِ	اللّٰهِ	كَفَرۡنَا	بِكُمۡ	وَبَدَا	بَيۡنَنَا
چې عبادت يې كوى تاسې	بې له	الله	منكران سوى يو موږ	په (دين) ستاسې باندى	او ښكار سوى ده	په مينځ زموږ

چې عبادت يې كوى تاسې بې له الله منكران سوى يو موږ (په دين) ستاسې باندى او ښكاره سوى دى په مينځ زموږ

وَبَيۡنَكُمُ الۡعَدَاوَةُ وَالۡبَغۡضَآءُ اَبَدًا حَتّٰى تُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗۤ

وَبَيۡنَكُمُ	الۡعَدَاوَةُ	وَالۡبَغۡضَآءُ	اَبَدًا	حَتّٰى	تُؤۡمِنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَحۡدَهٗۤ
او په مينځ ستاسې كې	دښمني	او بغض	هميشه	ترهغه پورى	چې ايمان راوړى	په الله باندى	يو اځى

او په مينځ ستاسې كښې دښمني او بغض، حسد هميشه تر هغه پورى چې ايمان راوړى په الله باندى يو اځى،

اِلَّا قَوۡلَ اِبۡرٰهِيۡمَ لِاَبِيۡهِ لَاَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَاۤ اَمۡلِكُ لَكَ

اِلَّا قَوۡلَ	اِبۡرٰهِيۡمَ	لِاَبِيۡهِ	لَاَسۡتَغۡفِرَنَّ	لَكَ	وَمَاۤ اَمۡلِكُ	لَكَ
مګر يوه خبره	دابراهيم	پلار خپل ته	چې خامخا زه بخښنه غواړم	ستا دپاره	او مالک نه يم زه	تالره

مګر يوه خبره د ابراهيم (چې ويلي ؤ) پلار خپل ته چې خامخا زه بخښنه غواړم هرومرو د تا دپاره او مالک نه يم زه تالره

مِنَ اللّٰهِ مِنۡ شَىۡءٍ‌ؕ رَبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَاِلَيۡكَ اَنَبۡنَا

مِنَ اللّٰهِ	مِنۡ شَىۡءٍ	رَبَّنَا	عَلَيۡكَ	تَوَكَّلۡنَا	وَاِلَيۡكَ	اَنَبۡنَا
له عذابه دالله	دهيڅ شى	اى ربه زموږ	پرتا باندى	توكل كړى دى موږ	او تاته	رجوع كړى ده موږ

له عذابه د الله د هيڅ شى، اى ربه زموږ (خاص) پر تا باندى توكل كړى دى موږ او (خاص) تاته رجوع كړى ده موږ

وَاِلَيۡكَ الۡمَصِيۡرُ ۝٤ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةً لِّلَّذِيۡنَ

وَاِلَيۡكَ	الۡمَصِيۡرُ	رَبَّنَا	لَا تَجۡعَلۡنَا	فِتۡنَةً	لِّلَّذِيۡنَ
او (خاص) تاته	بيرته ګرځيدل دټولو دى	اى ربه زموږ	مه ګرځوه ته موږ	فتنه ځاى، دازمويلو	هغو كسانو لره

او (خاص) تاته بيرته ګرځيدل د ټولو دى. اى ربه زموږ مه ګرځوه ته موږ فتنه ځاى د ازمويلو هغو كسانو لره

اِذۡ قَالُوۡا لِقَوۡمِهِمۡ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنۡكُمۡ.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى:
ددغه سړي اهل اوعيال هم په مكه مكرمه كي وه دنبي كريم ﷺ او ډير وصحابه كرامو ﷺ دهجرت څخه وروسته به دمكې مشركينو هغه مسلمانان كم چي په مكه مكرمه كي پاته سوي وه دوى به يي آزارول او پريشانه كول دكمو مهاجرينو چي خپلوان په مكه مكرمه كي موجودوه هغوى ته به په څه درجه كي تحفظ حاصل وو دحاطب ﷺ سره دا فكروو چي زما داهل اوعيال خو ددښمنانو څخه ساتونكي هلته هيڅوك نسته ده ﷺ دخپل اهل او عيال دتحفظ موقع غنيمت وګڼله چي پر مكې والاو باندي څه احسان وكي نوهغوى به دده پر اولادونو باندي ظلم نه كوي: دده خو پر خپل ځاى دايقين وو چي نبي كريم ﷺ ته به حق تعالى جل جلاله فتح وركوي ده ﷺ ته يا اسلام ته په دې راز لڅيدو هيڅ نقصان نه رسيږي كه زه هغوى ته خط وليكم او ددې اطلاع وركړم چي ده نبي كريم ﷺ اراده پر تاسو باندي دحملې كولو ده نو زما دبچيانو حفاظت به وسي: پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ

كَفَرُوْا	وَاغْفِرْ لَنَا	رَبَّنَا	اِنَّكَ	اَنْتَ	الْعَزِيْزُ
چي کافران سوی دی	او بخښنه وکړه موږ لره	ای ربه زموږ	بیشکه! ته	هم ته یې	ښه غالب قوی

چي کافران سوی دی او بخښنه وکړه موږ لره ای ربه زموږ بیشکه! هم ته یې ښه غالب قوی

الْحَكِيْمُ ۝ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

الْحَكِيْمُ	لَقَدْ	كَانَ	لَكُمْ	فِيْهِمْ	اُسْوَةٌ	حَسَنَةٌ
ښه حکمت والا	خامخا په تحقیق	ده	تاسی لره	په دغو کښی	طریقه ، نمونه	حسنه ، ښه

ښه حکمت والا. خامخا په تحقیق ده تاسی لره (ای مؤمنانو) په دغو کښی طریقه حسنه ، ښه

لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

لِّمَنْ كَانَ	يَرْجُوا	اللّٰهَ	وَالْيَوْمَ	الْاٰخِرَ	وَمَنْ يَّتَوَلَّ
هغه چالره چي وی	چي امید لری	دالله	او ورځی	آخری	او هر هغه څوک چي مخ وګرځوی

هغه چالره چي وی چي امید لری (دثواب) دالله او بیرېږی د (جزاءد) ورځی آخری او هرهغه څوک چي مخ وګرځوی،

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ ع۲

فَاِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	الْغَنِيُّ	الْحَمِيْدُ	عَسَى	اللّٰهُ	اَنْ يَّجْعَلَ
نو بیشکه!	الله	همغه دی	غنی ، بی پروا	ښه ستایلی سوی	ښائیږی	چي الله	پیدا کړی

نو بیشکه! الله همغه دی غنی بی پروا ښه ستایلی سوی. ښائیږی چي الله پیدا کړی

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ۚ

بَيْنَكُمْ	وَبَيْنَ	الَّذِيْنَ	عَادَيْتُمْ	مِّنْهُمْ	مَّوَدَّةً
په مینځ ستاسی کښی	او په مینځ	دهغو کافرانو	چي دښمنی لری تاسی	له هغوی سره	دوستی

په مینځ ستاسی کښی او په مینځ دهغو کافرانو چي دښمنی لری تاسی له هغوی سره دوستی

وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ لَا يَنْهٰىكُمُ

وَاللّٰهُ	قَدِيْرٌ	وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	لَا يَنْهٰىكُمُ
او الله	ښه قادردی	او الله	ښه مغفرت کوونکی دی	ډیر رحم والا دی	نه منع کوی تاسی

او الله ښه قادردی او الله ښه مغفرت کوونکی دی ډیر رحم والا دی. نه منع کوی تاسی (ای مؤمنانو)

كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: دغه غلطي دهغه ښځه وسوه چي یو پټ خط یي داهل مکې په نوم ولیکی او دې تلونکي ښځي ساره ته یي ورکی: قرطبي مظهري. نبي کریم ﷺ ته الله جل جلاله په ذریعه دوحی ددې واقعې اطلاع ورکړه او دایي ورته هم وښووله چي هغه ښځه به دا وخت روضه خاخ ته رسیدلې وي. دحضرت علی رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ ماته او ابو مرثد رضي الله عنه او زبیر ابن عوام رضي الله عنه ته حکم وکی چي پر آسونو سپاره سی او دهغې ښځي تعاقب وکړی تاسي ته به په روضه خاخ مقام کې په لاس درسي او دهغې سره دمکې دمشرکینو په نامه دحاطب ابن ابی بلتعه رضي الله عنه یو خط دی هغه ونیسی او خط ورڅخه واپس واخلی حضرت علی رضي الله عنه فرمایي چي موږ دحکم مطابق روضه خاخ ته ورسیدو نو هغه ښځه پر اوښ سپره روانه وه موږ ونیوله او ورته مو وویل چي هغه خط را واخله کم چي ستا سره دی هغې وویل چي زما سره دچا هیڅ خط نسته موږ ددې اوښ کښینوی: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

اللّٰهُ	عَنِ الَّذِيْنَ	لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ	فِي	الدِّيْنِ
الله	له هغو كسانو	چي نه يئ دى كړى جنګ له تاسو سره	په	دين كښى

الله له (دوستى د) هغو كسانو چي نه يئ دى كړى جنګ له تاسو سره په (كار د) دين كښى

وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا

وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ	مِّنْ دِيَارِكُمْ	اَنْ تَبَرُّوْهُمْ	وَتُقْسِطُوْٓا
او نه يئ ايستلى ياست تاسى	له كورونو خپلو څخه	چي نيكى كوئ تاسى له دوى سره	او چي عدل كوئ تاسى

او نه يئ ايستلى تاسى له كورونو خپلو څخه (له دى څخه) چي نيكى كوئ تاسى له دوى سره او چي عدل ، انصاف كوئ تاسى

اِلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ⑧ اِنَّمَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ

اِلَيْهِمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُقْسِطِيْنَ	اِنَّمَا	يَنْهٰىكُمُ	اللّٰهُ
له هغوى سره	بيشكه!	چي الله	خوښوى	انصاف، عدل كوونكى	بيشكه! همدا خبره ده	چي منع كوى تاسى	الله

له هغوى سره بيشكه! چي الله خوښوى دوست لرى انصاف عدل كوونكى. بيشكه! همدا خبره ده چي منع كوى تاسى الله

عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ

عَنِ الَّذِيْنَ	قٰتَلُوْكُمْ	فِي الدِّيْنِ	وَاَخْرَجُوْكُمْ	مِّنْ دِيَارِكُمْ
له هغو كسانو څخه	چي جنګ يئ كړى دى ستاسى سره	په دين كښى	او چي ايستلى يئ تاسى	له كورو ستاسى

له (دوستى د) هغو كسانو څخه چي جنګ يئ كړى دى ستاسى سره په دين كښى او چي ايستلى يئ تاسى له كورو ستاسى

وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ

وَظٰهَرُوْا	عَلٰٓى	اِخْرَاجِكُمْ	اَنْ	تَوَلَّوْهُمْ	وَمَنْ
او مرستى يئ كړى دى	پر	ايستلو ستاسى كښى	له دى څخه	چي دوستى كوئ تاسى	او هر هغه چي

او مرستى يئ كړى دى (له دښمنانو ستاسى سره) په ايستلو ستاسى كښى له دى څخه چي دوستى كوئ تاسى او هر هغه چي

يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

يَّتَوَلَّهُمْ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ الظّٰلِمُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا
دوستى كوى له هغوى سره	پس دا خلګ	هم دوى دى ظالمان	اى	هغو كسانو	چي ايمان يئ راوړى دى

دوستى كوى له هغوى سره پس دا خلګ هم دوى دى ظالمان ، ګنهګاران. اى هغو كسانو چي ايمان يئ راوړى دى

اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ... دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: او ددې تلاشـي مـو واخيسته مګر خط موږ ته په لاس رانغلى ليكن موږ په زړه كي وويل چي دنبي كريم ﷺ خبره غلطيداى نه سي ضرور دې خط يو ځاى پټ كړى دى نو اوس موږ دې ته وويل چي يا خو خط راوباسه كنه وي نو موږ ستا څخه بيرته كالي اخلو: كله چي هغې وليدل چي اوس ددې څخه زما خلاصون نسته نو دخپل پرتوګ څخه يي خط راويستى موږ دغه خط راواخيستى او دنبي كريم ﷺ په خدمت كي مو پيش كړى: حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه دواقعې داوريدو سره سم نبي كريم ﷺ ته عرض وكى چي يا رسول الله دي سړي دالله جل جلاله او دهغه درسول ﷺ سره او دټولو مسلمانانو سره خيانت كړى دى چي زموږ راز يي كفاروته وليكى نور ماته اجازت راكړى چي دده سر په توره پريكړم. نبي كريم ﷺ دحاطب رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چي ته څه شي پر دغه حركت كولو باندي اماده كړې حاطب رضي الله عنه عرض وكړى چي يا رسول الله: پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

إِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ اَللّٰهُ

إِذَا	جَآءَكُمُ	الْمُؤْمِنٰتُ	مُهٰجِرٰتٍ	فَامْتَحِنُوْهُنَّ	اَللّٰهُ
کله چي	راسي تاسي ته	مؤمناني	هجرت کوونکي	نو وايئ ازمويئ تاسي هغوی	الله ته

کله چي راسي تاسي ته مؤمناني (ښځي) هجرت کوونکي وطن پريښوونکي نو وايئ ازمويئ تاسي هغوی

اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ

اَعْلَمُ	بِاِيْمَانِهِنَّ	فَاِنْ	عَلِمْتُمُوْهُنَّ	مُؤْمِنٰتٍ	فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ
ښه معلوم دي	ايمان د دوی	نو که	وپيژنئ تاسي دوی	مؤمناني	نو بيرته مه ليږئ هغوی

الله ته ښه معلوم دي ايمان د دوی، نو که وپيژنئ تاسي دوی (په قسم سره) مؤمناني نو بيرته مه ليږئ هغوی

اِلَى الْكُفَّارِ ؕ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ؕ

اِلَى الْكُفَّارِ	لَا هُنَّ	حِلٌّ	لَّهُمْ	وَلَا هُمْ	يَحِلُّوْنَ	لَهُنَّ
طرف د کفارو ته	نه دی دغه (ښځی)	حلالی	هغوی ته	او نه دی هغوی	حلال	دی (ښځو مؤمنانو) ته

طرف د کفارو ته نه دی دغه (مؤمنانی ښځی) حلالی هغو (کفارو) لره او نه دی هغه حلال دی (ښځو مؤمنانو) لره

وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

وَاٰتُوْهُمْ	مَّآ اَنْفَقُوْا	وَلَا جُنَاحَ	عَلَيْكُمْ
او ورکړئ تاسي (هغو) ته	هغه څه چي لګولي يئ دي	او نسته هيڅ ګناه	پر تاسي

او ورکړئ تاسي (هغو کافرانو) ته (چي مرونه د هغودی) هغه څه چي لګولي يئ دي (له مهره) او نسته هيڅ ګناه پر تاسي

اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ؕ وَلَا تُمْسِكُوْا

اَنْ تَنْكِحُوْ	هُنَّ	اِذَآ	اٰتَيْتُمُوْهُنَّ	اُجُوْرَهُنَّ	وَلَا تُمْسِكُوْا
چي نکاح وتړئ تاسي	له دی ښځو سره	کله چي	ورکړئ تاسي هغو (ښځو) ته	مهرونه د دوی	او مه ساتي تاسي

چي نکاح وتړئ تاسي له دی ښځو سره په شرط د دی کله چي ورکړئ تاسي هغو (ښځو) ته مهرونه د دوی او منګولی مه ږدی

بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْئَلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْئَلُوْا مَآ

بِعِصَمِ	الْكَوَافِرِ	وَاسْئَلُوْا	مَآ اَنْفَقْتُمْ	وَلْيَسْئَلُوْا	مَآ
عصمتونه د	کافرانو ښځو	او وغواړی تاسي	هغه څه چي خرڅ کړی دی تاسي	او ودی غواړی دوی	هغه څه

په عصمتونو د ښځو کافرانو او وغواړی تاسي هغه څه چي خرڅ کړی دی تاسي (پر دغو کافرانو) او ودی غواړی هغه څه

إِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ

دتير مخ پاته بيان دلته

وګوری: زما په ايمان کي اوس هم ذره فرق نسته: خبره داده چي زما په زړه کي داخيال راغی چي زه دمکې مکرمې پر خلګو باندي يو احسان وکم چي هغوی زما اهل او عيال ته څه ونه وايي زما څخه ماسوا دنورو مهاجرينو حضراتو څخه هيڅوک داسي نسته دکم چي څه خاندان يا قبيله هلته موجود نه وي کم چي دده داهل او عيال حفاظت کوي: نبي کريم ﷺ چي دحاطب رضي الله عنه بيان واوريدی نو ويي فرمايل چي ده رشتيا خبره وويل دده په معامله کي دخير څخه ماسوا بل څه مه وايا ست حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په خپل غيرت ايماني سره بيا خپله خبره دوباره وکړه او دده دقتل اجازه يي وغوښته حضور ﷺ وفرمايل چي آيا دی دبدري صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه نه دی؟ الله جل جلاله دبدر تولو شريکانو ته دمغفرت او ددوی دپاره دجنت دوعدې اعلان فرمايلی دی چي دايي واوريدل نو دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په سترګو کي اوښکي راغلې: پاته بيان پر راروان مخ وګوری.

اَنۡفَقُوۡا ؕ ذٰلِكُمۡ حُكۡمُ اللّٰهِ ؕ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ

اَنۡفَقُوۡا	ذٰلِكُمۡ	حُكۡمُ	اللّٰهِ	يَحۡكُمُ	بَيۡنَكُمۡ	وَاللّٰهُ	عَلِيۡمٌ
چي خرڅ کړي وي هغوی	دا	حکم	دالله دی	حکم کوی	په مينځ ستاسی کښی	او الله	ښه عالم دی

چي خرڅ کړي وي هغوی دا (مذکوره احکام) حکم دالله دی حکم کوی په تاسی کښی او الله ښه عالم، پوه دی

حَكِيۡمٌ ۝١٠ وَاِنۡ فَاتَكُمۡ شَيۡءٌ مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ اِلَى الۡكُفَّارِ

حَكِيۡمٌ	وَاِنۡ	فَاتَكُمۡ	شَيۡءٌ	مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ	اِلَى الۡكُفَّارِ
ښه حکمت والا دی	او که چيری	فوت سی له تاسو څخه	يو شی	له ښځو ستاسی	په طرف د کفارو

ښه حکمت والا دی. او که چيری فوت سی له تاسو څخه (ای مؤمنانو) يو شی له ښځو ستاسی په طرف د کفارو

فَعَاقَبۡتُمۡ فَاٰتُوا الَّذِيۡنَ ذَهَبَتۡ اَزۡوَاجُهُمۡ مِّثۡلَ

فَعَاقَبۡتُمۡ	فَاٰتُوا	الَّذِيۡنَ	ذَهَبَتۡ	اَزۡوَاجُهُمۡ	مِّثۡلَ
پس غزا موو کړه	پس ورکړئ تاسی	هغو کسانو ته	چي تللی وی	ښځی د هغوی (کفاروته)	په مثل

پس غزا مو وکړه پس ورکړئ تاسی هغو کسانو ته چي تللی وی ښځی د هغوی (کفاروته) په مثل

مَاۤ اَنۡفَقُوۡا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيۡۤ اَنۡتُمۡ بِهٖ مُؤۡمِنُوۡنَ ۝١١

مَاۤ اَنۡفَقُوۡا	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	الَّذِيۡۤ	اَنۡتُمۡ	بِهٖ	مُؤۡمِنُوۡنَ
د هغه (مهر) چي ورکړی دی دوی	او ويريږئ تاسی	له الله	هغه چي	تاسو	پر هغو باندی	ايمان راوړونکی يئ

د هغه (مهر) چي ورکړی دی دوی (هغو ښځو لره) او ويريږئ تاسی له الله هغه چي تاسو پر هغو باندی ايمان راوړونکی يئ

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الۡمُؤۡمِنٰتُ يُبَايِعۡنَكَ عَلٰۤى

يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	اِذَا	جَآءَكَ	الۡمُؤۡمِنٰتُ	يُبَايِعۡنَكَ	عَلٰۤى
ای	نبی	کله چي	راسی تاته	مؤمنانی ښځی	چي بيعت کوی له تاسره	په

ای نبی (زما) کله چي راسی تاته مؤمنانی ښځی چي بيعت کوی له تاسره په

اَنۡ لَّا يُشۡرِكۡنَ بِاللّٰهِ شَيۡـًٔا وَّلَا يَسۡرِقۡنَ

اَنۡ	لَّا يُشۡرِكۡنَ	بِاللّٰهِ	شَيۡـًٔا	وَّلَا يَسۡرِقۡنَ
دی شرط	چي نه به شريکوی دوی	له الله سره	هيڅ شی	او نه به کوی غلا دوی

دی شرط چي نه به شريکوی دوی له الله سره هيڅ شی او نه به کوی غلا دوی

ذٰلِكُمۡ حُكۡمُ اللّٰهِ ؕ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ ؕ...دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: او عرض يي وکړی چي الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ په حقيقت ښه پوه دي او په ځينو رواياتو کي دحاطب ابن ابی بلتعه رضي الله عنه دا قول هم راغلی دی چي ما دا کار اسلام او مسلمانانو ته دضرر رسولو دپاره هيڅکله نه دی کړی ځکه چي زما يقين وو چي فتح به ستاسي وي که دمکي خلګ خبر هم سي نو تاسي ته به نقصان هيڅ هم ونه رسيږي: ددې واقعې پر بنا دسورة الممتحنة اولني ايآتونه رانازل سول په کمو کي چي پر دې واقعې باندي سرزنش او خبرداری دی او مسلمانانو ته دکفارو سره يو قسم دوستانه تعلقات حرام ساتل سوي دي. نو دالله ﷻ ارشاد دی چي ای ايماندارو زما دښمن او خپل دښمن دوست مه جوړوی چي تاسي هغوی ته ددوستی پيغام ورکوی په دي کي ددې ذکر سوي واقعې طرف ته اشاره ده چي دغسي خط کفارو ته ليکل هغوی ته ددوستی پيغام ورکول دي او الله ﷻ په آيت کي کافران خپل په دښمنانو سره تعبير کړي دي.
(معارف القرآن ج١٠پ٢٨ص٨٠)

وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ

وَلَا يَزْنِيْنَ	وَلَا يَقْتُلْنَ	اَوْلَادَهُنَّ	وَلَا يَاْتِيْنَ
او نه به کوی زناء دوی	او نه به وژنی دوی	اولاد خپل	او نه به راتله کړی

او نه به کوی زناء دوی او نه به وژنی دوی اولاد خپل او نه به راتله کړی

بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ

بِبُهْتَانٍ	يَّفْتَرِيْنَهٗ	بَيْنَ	اَيْدِيْهِنَّ	وَاَرْجُلِهِنَّ
په دروغو سره	چې جوړوی يې دوی	په مينځ	دلاسو	او پښو خپلو کښې

په دروغو سره چې جوړوی يې دوی په مينځ دلاسو او پښو خپلو کښې ،

وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ

وَلَا يَعْصِيْنَكَ	فِيْ مَعْرُوْفٍ	فَبَايِعْهُنَّ	وَاسْتَغْفِرْ
او نه به کوی نافرمانی له تاڅخه	په ښو چارو کښې	نو ته بيعت وکړه له دوی سره	او مغفرت، بخښنه وغواړه

او نه به کوی نافرمانی له تا څخه په معروف ښو چارو کښې نو ته بيعت وکړه له دوی سره او مغفرت بخښنه وغواړه

لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

لَهُنَّ	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
دپاره ددغو (ښځو)	له الله	بيشکه! چې	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډير رحم والا دی	ای	هغو کسانو

دپاره د دغو (ښځو) له الله بيشکه! چې الله ښه مغفرت کوونکی ډير رحم والا دی. ای هغو کسانو

اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ قَدْ

اٰمَنُوْا	لَا تَتَوَلَّوْا	قَوْمًا	غَضِبَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ	قَدْ
چې ايمان يې راوړی دی	مه کوئ دوستی	له هغه قوم سره	چې په قهر سوی دی	الله	پر دوی باندی	په تحقيق

چې ايمان يې راوړی دی مه کوئ دوستی له هغه قوم(ديهودو) سره چې په قهر سوی دی الله پر دوی باندی په تحقيق

يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿۱۳﴾ ع

يَئِسُوْا	مِنَ الْاٰخِرَةِ	كَمَا يَئِسَ	الْكُفَّارُ	مِنْ اَصْحٰبِ	الْقُبُوْرِ
نااميده سوی دی دوی	له آخرته	لکه چې نااميده سوی دی	کافران	له ملګرو	دهديرو څخه

نااميده سوی دی دغه (يهودان) له (ثواب د) آخرته لکه چې نااميده سوی دی کافران له ملګرو دهديرو (مقبرو) څخه .

يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ..دخپلو لاسونو او پښو په مينځ کي بهتان مه جوړوی: ددې ذکر ځکه وسو چي دقيامت په ورځ به دانسان لاس او پښې دده پر عملونو شهادت ورکوي : مطلب دا سو چي دداسي گناه کولو په وخت کي داخيال ساتل پکار دي چي زه دخلورو شاهدانو په مينځ کي داکار کوم چي به زما خلاف شاهدي ورکوي : دلته لفظ دبهتان عام دی پر خپل خاوند باندي وي او که پر بل چا باندي وي ځکه چي افتراء او بهتان پر هرسړي باندي تر دي چي پر کافر باندي هم تړل حرام دي خصوصاً پر خپل خاوند باندي بهتان نوره هم سخته گناه ده او پر خاوند دبهتان لګولو يو صورت دا هم دی چي ښځه دبل سړي بچي راوړي او ښکاره کړي چي دا زما دخاوند بچی دی او په نسب کي يي ورلره داخل کړي او دا هم معاذالله بدکاري وکي او حمل يي سي چي په نتيجه کي يي دابچي دخاوند په نسب کي داخل وګڼل سي. ولايعصينک فی معروف يعنې دوی به دنيکی په کار کي ستا دحکم مخالفت نه کوي.

معارف القرآن ج١٠پ٢٨ص١٠٤

نصف ع ۲ ۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

سَبَّحَ	لِلّٰهِ	مَا فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الْاَرْضِ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ
نسبت دپاکی کوی	الله لره	هر هغه شیان چې په آسمانونو کښې دی	او هغه چې	په مځکه کښې دی	او همغه	بنه غالب قوی دی

نسبت د پاکی کوی الله لره هر هغه شیان چې په آسمانونو کښې دی او په مځکه کښې دی او همغه بنه غالب قوی دی

الْحَكِيْمُ ① يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا

الْحَكِيْمُ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لِمَ تَقُوْلُوْنَ	مَا
بنه حکمت والا دی	ای	هغو کسانو	چې ایمان یئ راوړی دی	ولی وایئ تاسی	هغه چې

بنه حکمت والا دی. ای هغو کسانو چې ایمان یئ راوړی دی ولی وایئ تاسی هغه (خبره) چې

لَا تَفْعَلُوْنَ ② كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا

لَا تَفْعَلُوْنَ	كَبُرَ	مَقْتًا	عِنْدَ اللّٰهِ	اَنْ تَقُوْلُوْا
نه یئ کوئ	لویه ده	له جهته د غضبه	په نزد دالله	چې وایئ تاسی

نه یئ کوئ. لویه ده له جهته د غضبه په نزد دالله (داخبره) چې وایئ تاسی

مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ③ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ

مَا لَا تَفْعَلُوْنَ	اِنَّ	اللّٰهَ	يُحِبُّ	الَّذِيْنَ	يُقَاتِلُوْنَ	فِيْ سَبِيْلِهٖ
هغه څه چې نه یئ کوئ	بیشکه!	الله	خوښوی	هغه کسان	چې جنګ کوی	په لاره دده (الله) کښې

هغه څه چې نه یئ کوئ. بیشکه! الله خوښوی هغه کسان چې جنګ کوی په لاره (د دین) ددغه (الله) کښې

صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ④ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

صَفًّا	كَاَنَّهُمْ	بُنْيَانٌ	مَّرْصُوْصٌ	وَاِذْ قَالَ	مُوْسٰى
صف ترونکی	ګواکی دوی	یو دیوال دی	ټینګ کړی سوی	او کله چې وویل	موسیٰ

صف ترونکی ګواکی دوی بناګانی په قلعی سره ټینګ کړی سوی دی. او (یادکړه ای محمده) کله چې وویل موسیٰ

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ. شان نزول: امام ترمذي رحمه الله دحضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي دصحابه کرامو رضي الله عنهم یو جماعت په خپل مینځ کي خبري اتري کولي چي که موږ ته دا معلومه سي چي دالله جل جلاله په نزد دټولو څخه محبوب عمل کم یو دی نو موږ به عمل پر وکړو او بغوي رحمه الله دا هم نقل کړي دي چي په دې حضراتو کي ځینو څه داسي الفاظ هم وویل چي که موږ ته دالله جل جلاله په نزد دټولو څخه بنه او محبوب عمل معلوم سو نو موږ به خپل ځان او مال ټول دهغه دپاره قربان کړو: او په یوه روایت کي دي چي داټول حضرات جمع سول په خپل مینځ کي یې دا مذاکره سره وکړه اودایې وغوښتل چي یو کس ولاړ سي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړي چي کم عمل الله جل جلاله ته ډیر محبوب دی اوس لا دوی ناست وه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم دهر یوه نوم واخیستی او دوی یې ځان ته راوبلل کله چي دوی جمع سول نو دوی ته یې دا سورت صف ووایه چي تر ټولو محبوب عمل الله جل جلاله ته جهاد دی الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۱۰

وَاِذْقَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ
يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ..په انجيل
کې دنبي کريم ﷺ
خوشخبري: دلته په تيرو کتابونو کې دتورات ذکر په خصوصيت سره ځکه وسو چې پر بني اسرائيلو باندې نږدې نازل سوی دغه کتاب وو کنه نو تصديق دانبياوو خو تولو تيرو کتابونو لره شامل او عام دی: دارنګه په دې کې اشاره دې طرف ته هم ده چې شريعت عيسوي که څه هم مستقل شريعت دی مګر ددې اکثره احکام دشريعت موسوي او دتورات داحکامو مطابق دي صرف يو څو احکام دي چې بدل سوي دي: داخو دتيرو انبياوو د کتابونو دتصديق مضمون وو بل دا چې دوروستو راتلونکي پيغمبر خوشخبري يې واوروله په دې کې هم دې طرف ته اشاره ده چې دهغوی هدايتونه به هم ددې مطابق وي په دې وجه پر دې ايمان راوړل عين تقاضا دعقل او ديانت ده. ددې سره چې دکم راتلونکي رسول خوشخبري حضرت عيسى عليه السلام بني اسرآئيلو ته واوروله دده نوم او پته هم په انجيل کې وښوول سوه په دې کې بني اسرآئيلو ته ددې. پاته بيان پر راروان مخ وګورئ.

لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ

لِقَوْمِهٖ	يٰقَوْمِ	لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ	وَقَدْ	تَّعْلَمُوْنَ	اَنِّيْ
قوم خپل ته	داسې چې ای قومه زما	ولې ضرر رسوئ تاسې ماته	حال دا چې په تحقيق	پوهيږئ تاسې	چې بيشکه! زه

قوم خپل ته داسې چې ای قومه زما ولې ضرر رسوئ تاسې ماته حال دا چې په تحقيق پوهيږئ تاسې په دې چې بيشکه! زه

رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ؕ فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ

رَسُوْلُ	اللّٰهِ	اِلَيْكُمْ	فَلَمَّا	زَاغُوْٓا	اَزَاغَ	اللّٰهُ	قُلُوْبَهُمْ	وَاللّٰهُ
رسول	دالله يم	تاسې ته	نو هر کله چې	وګرځېدل دوی	نو وګرځول	الله	زړونه د دوی	او الله

رسول دالله يم تاسې ته، نو هر کله چې وګرځېدل دوی (له احکامو دالله) نو وګرځول الله زړونه د دوی (له هدايته) او الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ وَاِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ	الْفٰسِقِيْنَ	وَاِذْ قَالَ	عِيْسَى	ابْنُ	مَرْيَمَ
نه ښيي سمه لاره	قوم	دفاسقانو ته	او کله چې وويل	عيسٰی	زوی	دمريمې

نه ښيي سمه صافه لاره قوم د فاسقانو ته (په علم د دغه الله کښې). او (ياد کړه) کله چې وويل عيسٰی زوی د مريمې

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	اِنِّيْ	رَسُوْلُ	اللّٰهِ	اِلَيْكُمْ	مُّصَدِّقًا	لِّمَا
داسې چې ای بني اسرائيلو	بيشکه! زه	رسول ليږلی سوی	دالله يم	تاسې ته	تصديق کوونکی يم	دهغه کتاب

داسې چې ای بني اسرائيلو بيشکه! زه رسول ليږلی سوی دالله يم تاسې ته (حال دا چې) تصديق کوونکی يم د هغه کتاب

بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًا ۢ بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي

بَيْنَ يَدَيَّ	مِنَ التَّوْرٰىةِ	وَمُبَشِّرًا	بِرَسُوْلٍ	يَّاْتِيْ	مِنْۢ بَعْدِي
چې وړاندې زما دی	له تورات څخه	او زيری کوونکی يم	په هغه رسول سره	چې رابه سي	وروسته له ما څخه

چې وړاندې زما دی له تورات څخه، او زيری کوونکی يم په هغه رسول سره چې رابه سي وروسته له ما څخه

اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ

اسْمُهٗٓ	اَحْمَدُ	فَلَمَّا	جَآءَهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	قَالُوْا	هٰذَا	سِحْرٌ
چې نوم د هغه	احمد دی	بيا کله چې	راغلی هغه دوی ته	په ښکاره ؤ معجزو سره	وويل دوی	دا (قرآن)	جادو دی

چې نوم د هغه احمد دی، بيا (وايئ الله) کله چې راغلی هغه (رسول) دوی ته په ښکاره ؤ معجزو سره وويل دا (قرآن) سحر دی

مُّبِيْنٌ ⑥ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

مُّبِيْنٌ	وَمَنْ	اَظْلَمُ	مِمَّنِ	افْتَرٰى	عَلَى اللّٰهِ	الْكَذِبَ
ښکاره	او څوک دی	لوی ظالم	له هغه چا چې	له ځانه ترې	پر الله پورې	دروغ

ښکاره . او څوک دی ډیر لوی ظالم له هغه چا څخه چې له ځانه ترې پر الله پورې دروغ

وَهُوَ يُدْعٰۤى اِلَى الْاِسْلَامِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ

وَهُوَ	يُدْعٰۤى	اِلَى الْاِسْلَامِ	وَاللّٰهُ	لَا يَهْدِى	الْقَوْمَ
او دی	بللی سوی دی	طرف د اسلام ته	او الله	نه ښیي سمه صافه لاره	قوم

او (حال دا چې) دی بللی سوی دی طرف د اسلام ته او الله نه ښیي سمه صافه لاره قوم

الظّٰلِمِيْنَ ⑦ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ؕ

الظّٰلِمِيْنَ	يُرِيْدُوْنَ	لِيُطْفِـُٔوْا	نُوْرَ	اللّٰهِ	بِاَفْوَاهِهِمْ
ظالمانو ته	اراده لری دوی	چې مړه کړی	رڼا	د الله	په خولو خپلو سره

ظالمانو ته. اراده لری غواړي دوی (منکران) چې مړه کړی رڼا د الله (شریعت د محمد) په خولو خپلو سره

وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ⑧ هُوَ الَّذِىْۤ اَرْسَلَ

وَاللّٰهُ	مُتِمُّ	نُوْرِهٖ	وَلَوْ كَرِهَ	الْكٰفِرُوْنَ	هُوَ الَّذِىْۤ	اَرْسَلَ
او الله	پوره کوونکی	د رڼا خپلې دی	اگر که بد گڼی دغه لره	کافران	دغه (الله) هغه ذات دی	چې رالیږلی یئ دی

او الله پوره کوونکی د رڼا خپلې دی اگر که بد گڼی دغه لره کافران، منکران. دغه (الله) هغه (ذات) دی چې رالیږلی یئ دی

رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ

رَسُوْلَهٗ	بِالْهُدٰى	وَدِيْنِ	الْحَقِّ	لِيُظْهِرَهٗ	عَلَى الدِّيْنِ	كُلِّهٖ
رسول خپل	په هدایت، سمه لاره	او په دین	حق	لپاره د دې چې غلبه ورکړی دغه ته	پر دینونو	ټولو باندی

رسول خپل (محمد) په هدایت سمه صافه لاره او په دین حق لپاره د دې چې غلبه ورکړی (الله) دغه ته پر دینونو ټولو باندی

وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ⑨ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ

وَلَوْ كَرِهَ	الْمُشْرِكُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	هَلْ	اَدُلُّكُمْ
اگر که بد گڼی	مشرکان	ای	هغو کسانو	چې ایمان یئ راوړی دی	آیا	دلالت وکړم تاسی ته

اگر که بد گڼی مشرکان. ای هغو کسانو چې ایمان یئ راوړی دی آیا دلالت وکړم تاسی ته (د روښیم تاسی ته)

ع ۹

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ... دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: هدایت دی چې کله دغه رسول تشریف راوړي نو ستاسي به دا فرض وي چې پر هغه باندي ایمان راوړی او اطاعت یي وکړی په مبشّرا برسول یاتی من بعدی اسمه احمد: کي ددې بیان دی په دې کي دراتلونکي رسول نوم، احمد ښوول سوی دی زموږ دنبي کریم ﷺ نوم مبارک محمد ﷺ هم وو او احمد هم او نور یي هم ډیر نومونه وه مګر په انجیل کي ددوی ﷺ داحمد نوم په ښوولو کي شاید دامصلت وي چې دمحمد ﷺ نوم ایښوول دعربو پخوانی دستور وو په دې وجه په دې نوم نور سړي هم په عربو کي وه په خلاف داحمد چې دانوم په عربو کي معروف نه وو داددوی ﷺ دذات سره مخصوص وو او داټولو ته معلومه ده او په خپله یهودو او نصاراوو ته هم معلومه ده او اقرار یي کړی دی چې په تورات او انجیل کي تحریف سوی دی نو ځکه دموجوده تحریف شده انجیل پر بنا عیسایان دقرآن دغه خبره نه مني چې په انجیل کي دي دنبي کریم ﷺ نوم راغلی وي الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۱۳

عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ⑩ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

عَلٰى تِجَارَةٍ	تُنْجِيْكُمْ	مِّنْ عَذَابٍ	اَلِيْمٍ	تُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ
پر داسی تجارت	چی نجات درکوی تاسی ته	له عذاب	دردناک	محکم اوسئ په ایمان کښی	پر الله باندی

پرهسی تجارت سوداګری چی نجات درکوی خلاصوی تاسی له عذاب دردناک. محکم اوسئ په ایمان کی پر الله باندی

وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ

وَرَسُوْلِهٖ	وَتُجَاهِدُوْنَ	فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	بِاَمْوَالِكُمْ
او په رسول د دغه (الله)	او جهاد کوئ تاسی	په لاره	د الله کښی	په اموالو خپلو سره

او په رسول د دغه (الله) او جهاد جنګ کوئ تاسی په لاره د الله کښی په اموالو خپلو سره

وَاَنْفُسِكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ⑪

وَاَنْفُسِكُمْ	ذٰلِكُمْ	خَيْرٌ لَّكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ
او په نفسونو خپلو سره	دغه	خیر ، بهتر دی تاسی ته	که چیری یئ تاسی	چی پوهیږی

او په نفسونو خپلو سره دغه (ټینګ ایمان) خیر ، بهتر دی تاسی ته که چیری یئ تاسی چی پوهیږی

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

يَغْفِرْ لَكُمْ	ذُنُوْبَكُمْ	وَيُدْخِلْكُمْ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ
وبه بخښی (الله) تاسی ته	ګناهونه ستاسی	او داخل به کړی تاسی	په جنتونو کښی	چی بهیږی

وبه بخښی (الله) تاسی ته ګناهونه ستاسی او داخل به کړی تاسی په جنتونو کښی چی بهیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ

مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	وَمَسٰكِنَ	طَيِّبَةً	فِيْ جَنّٰتِ	عَدْنٍ
له لاندی دهغو	ویالی	او په ځایونو	ښائسته ؤ پاکیزه ؤ کښی	په جنتونو	دهمیشه اوسیدلو کښی

له لاندی دهغو (څلور) ویالی، او (داخل به موکړی) په ځایونو ښائسته ؤ پاکیزه ؤ کښی په جنتونو دهمیشه اوسیدلو کښی

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑫ وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا نَصْرٌ

ذٰلِكَ	الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ	وَاُخْرٰى	تُحِبُّوْنَهَا	نَصْرٌ
دغه	په مراد رسیدل	ډیر لوی دی	او بل نعمت	چی خوښوئ غواړئ یئ تاسی	هغه کومک دی

دغه فوز عظیم بری مونددل په مراد رسیدل ډیر لوی دی . او بل (دنیوی نعمت چی) خوښوئ غواړئ تاسی هغه کومک دی

عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ... ایمان او په مال او نفس سره جهاد هم تجارت اخروي دی : په دغه ایت کي الله ﷻ ایمان او په مال او نفس سره جهاد ته تجارت فرمایلي دي.ځکه چي لکه څنګه چي په تجارت کي دځه مال خرڅولو او محنت کولو په صله کي نفعي حاصلیږي دایمان سره دالله ﷻ په لاره کي دځان او مال خرڅ کولو په بدله کي دالله ﷻ رضا او دآخرت دایمي نعمتونه حاصلیږي چي ذکر یي په راتلونکي آیت کي دی چي چا دا تجارت اختیار کی الله ﷻ به دهغه ګناهونه معاف کړي او په جنت کي به ده ته پاکیزه او بهترین مکانونه ورکړي چي دهر قسم ارام او عیش سامان به په کښي وي لکه چي په حدیث شریف کي دمساکن طیبه په تفسیر کي راغلي دي مخکي بیا الله ﷻ دآخرت دنعمتونو سره ددنیا دیوڅو نعمتونو ذکر فرمایلی دی او دهغه وعده یي کړې ده هغه داچي د الله ﷻ مدد او ددې په ذریعه نژدې فتح یعني ددښمنانو دملکونو فتح کیدل دا به هم دداسي کسانو په برخه وي دالله ﷻ د طرفه څخه.

معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص۱۱۶

مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ۚ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ⑬ يٰٓاَيُّهَا

مِّنَ اللّٰهِ	وَفَتْحٌ	قَرِيْبٌ	وَبَشِّرِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	يٰٓاَيُّهَا
له (جانبه د) الله	او فتح، بري	نژدې دى	او بشارت، زيرى وركړه	مؤمنانو ته	اى

له (جانبه د) الله او فتح قريب بري نژدې دى، او بشارت زيرى وركړه (اى محمده!) مؤمنانو ته. اى

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	كُوْنُوْٓا	اَنْصَارَ	اللّٰهِ	كَمَا قَالَ	عِيْسَى
هغو كسانو	چې ايمان يې راوړى دى	سئ تاسى	مرسته كوونكي	دالله	لكه چې ويلې وُ	عيسىٰ

هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى سئ تاسى مرسته كوونكي (د دين) دالله لكه چې ويلې وُ عيسىٰ

ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۗ قَالَ

ابْنُ	مَرْيَمَ	لِلْحَوَارِيّٖنَ	مَنْ	اَنْصَارِيْٓ	اِلَى اللّٰهِ	قَالَ
زوى	دمريمې	ملګرو خپلو ته	څوک دى	مرسته كوونكي زما	په لاره دالله كښې	نو وويل

زوى د مريمې ملګرو خپلو ته څوک دى مرسته كوونكي زما په لاره دالله كښې؟ نو وويل

الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ

الْحَوَارِيُّوْنَ	نَحْنُ	اَنْصَارُ	اللّٰهِ	فَاٰمَنَتْ	طَّآئِفَةٌ
حواريونو	موږ يو	مرسته كوونكي	دالله	نو ايمان راووړ	يوى طائفې، ډلې

حواريونو (ملګرو د ده) موږ يو مرسته (مدد) كوونكي (د دين) دالله، نو ايمان راووړ يو ى طائفې، ډلې

مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا

مِّنْۢ بَنِيْٓ	اِسْرَآءِيْلَ	وَكَفَرَتْ	طَّآئِفَةٌ	فَاَيَّدْنَا
له بنى	اسرائيلو څخه	او كافره سوه پرى	بله طائفه ډله	نو قوت مووركړ

له بنى اسرائيلو څخه او كافره سوه پرى بله طائفه ډله (چې ويل يې عيسىٰ زوى دالله دى) نو قوت مو وركړ

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ⑭ ع

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	عَلٰى	عَدُوِّهِمْ	فَاَصْبَحُوْا	ظٰهِرِيْنَ
هغو ته	چې ايمان يې راوړى وُ	پر	دښمنانو د دوى باندى	پس وګرځېدل دوى	غالبان

هغو ته چې ايمان يې راوړى وُ پر دښمنانو د دوى باندى پس وګرځېدل دوى (مؤمنان) غالبان (پر كافرانو).

ع ۲ ۱۰

فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ..

دعيسايانو درې فرقې: امام بغوي رحمه الله ددغه ايت په تفسير كې دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى چې كله حضرت عيسىٰ عليه السلام اسمان ته پورته كړى سو نو په عيسايانو كې درې فرقې جوړې سوې يوې فرقې وويل چې هغه په خپله خداى وو او آسمان ته ولاړى، بلې فرقې وويل چې هغه خو خداى نه وو بلكې دخداى زوى وو او الله جل جلاله هغه پورته كړى او پر دښمنانو يې ورته فوقيت وركى، بلې فرقې وويل كمه چې صحيح او حقه خبره ده چې هغه نه خداى وو او نه دخداى زوى وو بلكې دالله جل جلاله بنده او دهغه راليږل سوى رسول وو الله جل جلاله هغه ددښمنانو دحفاظت او ددرجې دلوړولو دپاره پورته كړى داخلګ بيا صحيح مومنان وه ددې درې واړو فرقو سره دعوامو څخه څه كسان ملګري سول او په خپل مينځ كې يې جګړې سره شروع كړې په اتفاقي طور سره دادواړې ډلې پر مومنانو باندې غالبه سولې تر دې چې الله جل جلاله نبي كريم صلى الله عليه وسلم راوليږى دنيا ته الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص ۱۱۸

آیاتونه ۱۱ | ۶۲ سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ مَدَنِيَّةٌ ۱۱۰ | رکوعوي ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ

يُسَبِّحُ	لِلّٰهِ	مَا فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الْاَرْضِ	الْمَلِكِ
نسبت د پاکی کوی	خاص الله لره	هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی	او هر هغه څه	چې په مځکه کښې دی	چې باچا دی

نسبت د پاکی کوی خاص الله لره هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی او هر هغه څه چې په مځکه کښې دی چې باچا دی

الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ① هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ

الْقُدُّوْسِ	الْعَزِيْزِ	الْحَكِيْمِ	هُوَ الَّذِيْ	بَعَثَ	فِي الْاُمِّيّٖنَ
ډیر پاک (له هر عیبه)	ښه غالب قوی	ښه حکمت والا دی	دغه (الله) هغه ذات دی	چې لیږلی یئ دی	په امیانو کښې

ډیر پاک له هر عیبه ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا دی دغه (الله) هغه ذات دی چې لیږلی یئ دی په امیانو کښې

رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ

رَسُوْلًا	مِّنْهُمْ	يَتْلُوْا	عَلَيْهِمْ	اٰيٰتِهٖ	وَيُزَكِّيْهِمْ	وَيُعَلِّمُهُمُ
یو رسول	له دوی څخه	چې وایئ	پر دوی باندې	آیتونه د دی (قرآن)	او پاکوی دوی	او ښیی دوی ته

یو رسول (محمد) له دوی څخه چې وایئ پر دوی باندې آیتونه د دی (قرآن) او پاکوی دوی (له شرکه) او ښیی دوی ته

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ②

الْكِتٰبَ	وَالْحِكْمَةَ	وَاِنْ كَانُوْا	مِنْ قَبْلُ	لَفِيْ	ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ
کتاب (قرآن)	پوهه او د حکمت خبری	اگر که وُ دوی	پخوا له (بعثه)	خامخا په	گمراهی	ښکاره کښې

کتاب (قرآن) او احکام (د قرآن) اگر که وُ دوی پخوا له (بعثه د محمده) خامخا په گمراهی ښکاره کښې.

وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ③

وَّاٰخَرِيْنَ	مِنْهُمْ	لَمَّا يَلْحَقُوْا	بِهِمْ	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ
او نورو ته هم	له دوی څخه	چې نه دی رسیدلی دوی	هغو ته	او دغه (الله)	ښه غالب قوی	ښه حکمت والا دی

او نورو ته هم له مؤمنانو چې نه دی رسیدلی دوی هغو (پخوانیو) ته او دغه (الله) ښه غالب قوی دی ښه حکمت والا دی.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ. دسبّح په لفظ سره شروع سورتونو ته مسبّحات ویل کیږي: دقرآن کریم چي کم سورتونه دسبّح په لفظ سره شروع سوي دي یا دیسبّح په لفظ سره دغو ته مسبّحات ویل کیږي په دې ټولو کي دآسمانونو او دمځکي اوڅه چي په دې کي دي دټولو دپاره تسبیح خواني ثابته سویده دغه تسبیح حالي یعني په ژبه دحال خویي هر سړی پیژندای سي چي دالله ﷻ دمخلوقاتو ذره ذره دخپل صانع او جوړوونکي حکیم په حکمت او قدرت شاهدي ورکوي داددوی تسبیح ده او صحیح خبره داده چي هرشی په خپل طرز کي حقیقي تسبیح کوي ځکه چي حقیقت دادی چي شعور او ادراک الله ﷻ په هري درختي او په هري ډبري کي اوهرشي کي دده دحوصلې مطابق ایښی دی ددې عقل اوشعور لازمي تقاضا تسبیح ده مگر ددې شیانو تسبیح خلگ اوري نه ځکه چي په قرآن کریم کي الله ﷻ فرمايي: ولکن لاتفقهون تسبيحهم. چي تاسي ددغه مخلوقاتو په تسبیح نه پوهیږئ چي دوی یي څنگه وایي.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۲۱

ذٰلِكَ فَضۡلُ اللّٰهِ يُؤۡتِيۡهِ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ

ذُو الۡفَضۡلِ	وَاللّٰهُ	مَنۡ يَّشَآءُ	يُؤۡتِيۡهِ	اللّٰهِ	فَضۡلُ	ذٰلِكَ
خاوند دفضل	او الله	هغه چاته چي اراده وفرمائی	چي ورکوی يئ هغه	دالله دی	فضل لوئ	دغه

دغه (نبوت) فضل لوئ دالله (له طرفه) دی چي ورکوی يئ هغه چاته چي اراده وفرمائی د ورکولو يئ او الله خاوند دفضل

الۡعَظِيۡمِ ۝ مَثَلُ الَّذِيۡنَ حُمِّلُوا التَّوۡرٰىةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوۡهَا

لَمۡ يَحۡمِلُوۡهَا	ثُمَّ	التَّوۡرٰىةَ	حُمِّلُوا	الَّذِيۡنَ	مَثَلُ	الۡعَظِيۡمِ
بار نه کړ هغوی هغه	بيا	په تورات	چي مکلف کړی سوی ؤ هغوی	دهغو کسانو	مثل	ډير لوی دی

ډير لوی دی، مثل دهغو کسانو چي مکلف کړی سوی ؤ هغوی په تورات چي عمل په وکړی بيا بار نه کړ هغوی هغه

كَمَثَلِ الۡحِمَارِ يَحۡمِلُ اَسۡفَارًا ؕ بِئۡسَ مَثَلُ الۡقَوۡمِ

الۡقَوۡمِ	مَثَلُ	بِئۡسَ	اَسۡفَارًا	يَحۡمِلُ	الۡحِمَارِ	كَمَثَلِ
دقوم	مثل	بد دی	کتابونه	چي په شاوړی	دخره دی	په مثل

(عمل يي ورباندی نه وکړی) په مثل دخره دی چي په شا وړی کتابونه او نفع تری نسی اخيستی. بد دی مثل د قوم

الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ

الۡقَوۡمَ	لَا يَهۡدِى	وَاللّٰهُ	اللّٰهِ	بِاٰيٰتِ	كَذَّبُوۡا	الَّذِيۡنَ
قوم	نه ښيي سمه لاره	او الله	دالله	په دلائلو	چي دروغ ګڼلي دی	هغه کسانو

هغه (کسانو) چي دروغ وايئ دوی په دلائلو (دقدرت) د الله، او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم

الظّٰلِمِيۡنَ ۝ قُلۡ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ هَادُوۡۤا اِنۡ زَعَمۡتُمۡ اَنَّكُمۡ

اَنَّكُمۡ	اِنۡ زَعَمۡتُمۡ	هَادُوۡا	الَّذِيۡنَ	يٰۤاَيُّهَا	قُلۡ	الظّٰلِمِيۡنَ
چي بيشکه! تاسی	که ګمان دعوی کوئ تاسی	چي يهودان سوی يئ	هغو کسانو	ای	ووايه ته	ظالمانو ته

ظالمانو ته. ووايه ته (ای محمده!) ای هغو کسانو چي يهودان سوی يئ که ګمان دعوی کوئ تاسی چي بيشکه! تاسی

اَوۡلِيَآءُ لِلّٰهِ مِنۡ دُوۡنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الۡمَوۡتَ اِنۡ كُنۡتُمۡ

اِنۡ كُنۡتُمۡ	الۡمَوۡتَ	فَتَمَنَّوُا	النَّاسِ	مِنۡ دُوۡنِ	لِلّٰهِ	اَوۡلِيَآءُ
که چيری يئ تاسی	دمرګ	نو ارزو وکړئ	له نورو خلګو	پرته	دالله	دوستان يئ

دوستان يئ دالله پرته (علاوه) له نورو خلګو (چي مؤمنان دی) نو (فرمائی الله) ارزو وکړئ دمرګ که چيری يئ تاسی

مَثَلُ الَّذِيۡنَ حُمِّلُوا التَّوۡرٰىةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوۡهَا..بې عمله عـالم الله ﷻ دخره سره مشابه بيان کړی دی: په تيرو اياتونو کي دنبي کريم ﷺ دبعثت او نبوت په اُميينو کي کيدل او ددوی ﷺ د بعثت ددرو مقصدونو ذکر چي په کمو الفاظو او صفتونو سره راغلی دی دهغه مقتضا دا وه چي يهودو پر نبي کريم ﷺ دليدو سره فوراً ايمان راوړی وای مګر دوی ددنيا جاه او مال دتورات داحکمونو څخه راونه کړل او سره ددي چي دتورات عالمان وه دعمل په اعتبار سره داسي سول لکه بالکل جاهلان اوناپوهه چي وي ددغو خلګو مذمت په ذکر سوي آيت کي داسي وسوچي دا خلګ پر کموچي تورات بار کړل سو يعني بغير دغوښتلو ورته دانعمت ورکول سو مګر دوی ددي ديورته کولو حق اداء نه کړی يعني دتورات داحکامو پرواه يي ونه کړه ددوی مثال دهغه خره دی چي په شايي دغتو غتو کتابونو دعلمونو بار وي دغه خر دغه بوج په شا ګرځوي مګر دمضامينو څخه يي نه خبر دی او نه فائده ورڅخه اخلي: فکذلک علماء اليهود ومن شابههم.
معارف القرآن ج۱۰پ۲۸ص۱۲۴

صٰدِقِيْنَ ۞٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ

صٰدِقِيْنَ	وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗ	اَبَدًا	بِمَا	قَدَّمَتْ	اَيْدِيْهِمْ
رښتيني	حال دا چې وبه نه کړی دوی ارزو د دغه	هيڅيری	په سبب د هغو	چې مخکښی ليږلی دی	لاسو د دوی

صادقان، رښتيني. حال دا چې وبه نه کړی دوی ارزو د دغه (مرګ) هيڅيری په سبب د هغو چې مخکښی ليږلی دی لاسو د دوی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۞٧ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ

وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	بِالظّٰلِمِيْنَ	قُلْ	اِنَّ	الْمَوْتَ	الَّذِيْ	تَفِرُّوْنَ	مِنْهُ
او الله	ښه عالم دی	پر ظالمانو	ووايه	بيشکه!	مرګ	هغه چې	تيښتئ تاسی	له هغه څخه

او الله ښه عالم دی پر ظالمانو. ووايه (ای محمده!) بيشکه! مرګ هغه چې تيښتئ تاسی له هغه څخه

فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ

فَاِنَّهٗ	مُلٰقِيْكُمْ	ثُمَّ	تُرَدُّوْنَ	اِلٰى	عٰلِمِ	الْغَيْبِ
پس بيشکه! هغه مرګ	ضرور رسيدونکی دی تاسی ته	بيا به	بوتلی سئ تاسی	په لوری	د ښه پوهيدونکی	په پټو

پس بيشکه! هغه مرګ ضرور رسيدونکی دی تاسی ته بيا به بوتلی سئ تاسی په لوری د (هغه) ښه پوهيدونکی په پټو

وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۞٨ يٰۤاَيُّهَا ١ ع ٨ ١١

وَالشَّهَادَةِ	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ	يٰۤاَيُّهَا
او په ښکاره ؤ باندی	پس خبر به کړی تاسی	په هغو چې وئ تاسی	چې کول به مو	ای

او په ښکاره ؤ باندی پس خبر به کړی تاسی په هغو (کارونو باندی) چې وئ تاسی چې کول به مو . ای

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْۤا	اِذَا	نُوْدِيَ	لِلصَّلٰوةِ	مِنْ يَّوْمِ	الْجُمُعَةِ
هغو کسانو	چې ايمان يئ راوړی دی	کله چې	اذان وويلی سی	دپاره د لمانځه	په ورځی	د جمعی کښی

هغو کسانو چې ايمان يئ راوړی دی کله چې (اول) اذان وويلی سی دپاره د لمانځه په ورځی د جمعی کښی

فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ

فَاسْعَوْا	اِلٰى	ذِكْرِ	اللّٰهِ	وَذَرُوا	الْبَيْعَ	ذٰلِكُمْ
نو ځغلئ	طرف	د ذکر	د الله ته	او پريږدئ	اخيستل، خرڅول	هم دا خبره

نو ځغلئ منډی وهئ طرف د ذکر د الله ته او پريږدئ، دا (تګ د لمانځه ته) اخيستل، خرڅول هم دا خبره

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ. دمرګ داسبابو څخه دتيښتي احکام: کم شيان چي عادتاً دمرګ سبب وي دهغه څخه تيښته مقتضا دعقل هم ده او مقتضا دشرعي هم ده نبي کريم ﷺ تر يوه کوږ سوي ديوال لاندي تيريدی نو په تيزی سره ولاړی دغه شان چي کم ځای اور لګيدلی وي دهغه ځای څخه تښتيدل دعقل او شرع دواړو څخه خلاف نه ده مګر دغه دمرګ څخه تيښته دکم مذمت چي په ذکر سوي ايت کي وارد سويدی په دي کي داخله ده کله چي سالمه عقيده وي او په دي پوه وي چي تيښته ما دمرګ څخه نه سي خلاصولای: مګر چي کله ده ته معلومه نه ده چي دا اور يا زهر يا بل مهلک شی په متعين طور سره زما مرګ په دي کي ليکل سوی دی په دې وجه دمرګ څخه تيښته کمه چي مذمومه ده په دي کي داخله نه ده: باقي پاته سو طاعون يا وبا چي په کم کلي کي راسي ددې څخه تيښته يوه مستقله مسئله ده چي تفصيلات يي دفقهي او احاديثو په کتابونو کي راغلي دي هلته دي وکتل سي الخ.
معارف القرآن ج ١٠ پ ٢٨ ص ١٢٦

خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٩﴾ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ

خَيۡرٌ لَّكُمۡ	اِنۡ كُنۡتُمۡ	تَعۡلَمُوۡنَ	فَاِذَا	قُضِيَتِ	الصَّلٰوةُ
خیر بهتر دی تاسی ته	که چیری یئ تاسی	چی پوهیږئ	نو هرکله چی	اداء کړی سی	لمونځ (دجمعی)

خیر بهتر ډیر غوره دی تاسی ته که چیری یئ تاسی چی پوهیږئ. نو هرکله چی اداء کړی سی لمونځ (دجمعی)

فَانۡتَشِرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ وَابۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ

فَانۡتَشِرُوۡا	فِی الۡاَرۡضِ	وَابۡتَغُوۡا	مِنۡ فَضۡلِ	اللّٰهِ
پس سره ولاړ سئ تاسی	په مځکه کښی	او ولټوئ تاسی	له فضله	د الله

پس خواره سئ تاسی په مځکه کښی (خپلو حوائجو ته که یئ لرئ) او ولټوئ تاسی له فضله د الله

وَاذۡكُرُوا اللّٰهَ كَثِيۡرًا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿١٠﴾

وَاذۡكُرُوا	اللّٰهَ	كَثِيۡرًا	لَّعَلَّكُمۡ	تُفۡلِحُوۡنَ
او یادوئ تاسی	الله	په یادوولو ډیر سره	ښائیری چی تاسی به	پیدا کړی ښیګڼی په مراد ورسیږی

او یادوئ تاسی الله (په یادولو) ډیرو سره ښائیری چی پیدا کړی تاسی ښګڼی (نیکی) خلاصی مراد.

وَاِذَا رَاَوۡا تِجَارَةً اَوۡ لَهۡوَا انْفَضُّوۡۤا اِلَيۡهَا وَتَرَكُوۡكَ

وَاِذَا	رَاَوۡا	تِجَارَةً	اَوۡ لَهۡوَا	انْفَضُّوۡۤا	اِلَيۡهَا	وَتَرَكُوۡكَ
او کله چی	ووینئ دوی	تجارت	یا کومه لهو، تماشا	نو دوی منډی کړی	په لوری دهغی	او پریږدی دوی تا

او کله چی ووینی دوی تجارت سوداګری یا کومه لهو، تماشا، ننداره نو خوریږی دوی په لوری دهغی اوپریږدی دوی تا

قَآئِمًا ؕ قُلۡ مَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَيۡرٌ مِّنَ اللَّهۡوِ وَمِنَ

قَآئِمًا	قُلۡ	مَا	عِنۡدَ اللّٰهِ	خَيۡرٌ	مِّنَ اللَّهۡوِ	وَمِنَ
ولاړ	ووایه	هغه څه	چی په نزد دالله دی	خیر ډیر بهتر دی	له لهو، تماشی	او له

ولاړ ووایه (ای محمده) هغه څه (ثواب) چی په نزد دالله دی خیر ډیر بهتر غوره دی له لهو، تماشی، تنداری او له

التِّجَارَةِ ؕ وَاللّٰهُ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ﴿١١﴾ ع

التِّجَارَةِ	وَاللّٰهُ	خَيۡرُ	الرّٰزِقِيۡنَ
تجارت، سوداګری څخه	او الله	خیر، ډیر بهتر، غوره	له ټولو رزق ورکوونکو دی

تجارت، سوداګری څخه او الله خیر ډیر بهتر غوره له ټولو رزق روزی ورکوونکو دی.

فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانۡتَشِرُوۡا.. دجمعې دلمانځه څخه وروسته په تجارت او کسب کي برکت

حضرت عراک ابن مالک رضی الله عنه چي به کله دجمعې دلمانځه څخه فارغه سو دباندي به راتلی نو دمسجد جامع پر دروازه به ودریدی او دا دعا به یي غوښتله: اللهمّ انّی اجبتُ دعوتک، وصلیتُ فریضتک، وانتشرتُ کما امرتنی فارزقنی من فضلک وانت خیر الرازقین یعني یا الله ما ستا دحکم اطاعت وکړی اوستا فرض مي اداء کړی اولکه چي تا حکم کړی دی دلمانځه څخه وروسته دباندي ځم ته په خپل فضل سره ماته روزي راکړې او ته دټولو څخه ښه روزي ورکوونکی ذات یي: او دځینو سلفو صالحینو څخه مذکور دي چي کم سړی دجمعې دلمانځه څخه وروسته تجارتي کار وبار کوي الله جل جلاله دهغه دپاره اویا واره برکتونه نازلوي واذکروا الله کثیرا لعلکم تفلحون یعني دجمعې دلمانځه څخه چي فارغه سی نو دمعاش په کسب تجارت اونورو کي اخته سی دکافرانو په شان دخدای جل جلاله څخه مه غافله کیږی.

معارف القرآن ج١٠ پ٢٨ ص١٣٢

ع ٢ ١٢

آیاتونه ۱۱ ۶۳ سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۴ رکوعوي ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ

إِذَا جَآءَكَ	الْمُنٰفِقُوْنَ	قَالُوْا	نَشْهَدُ	إِنَّكَ	لَرَسُوْلُ	اللّٰهِ
کله چې راسی تاته	منافقان	نو وایئ دوی	شاهدی ورکوو موږ	چې بیشکه! ته	خامخا رسول	د الله یئ

کله چې راسی تاته (ای محمده) منافقان نو وایئ دوی شاهدی ورکوو موږ چې بیشکه! ته خامخا رسول د الله یئ

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	إِنَّكَ	لَرَسُوْلُهٗ	وَاللّٰهُ	يَشْهَدُ	إِنَّ	الْمُنٰفِقِيْنَ
او الله ته	معلوم دی	چې بیشکه! ته	خامخا رسول دده (الله) یئ	او الله	شاهدی ورکوی	چې بیشکه!	منافقان

او الله ته معلوم دی چې بیشکه! ته خامخا رسول د دغه (الله) یئ او الله شاهدی ورکوی په دی چې بیشکه! منافقان

لَكٰذِبُوْنَ ۚ ۞ اِتَّخَذُوْٓا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ

لَكٰذِبُوْنَ	اِتَّخَذُوْٓا	أَيْمَانَهُمْ	جُنَّةً	فَصَدُّوْا	عَنْ سَبِيْلِ
خامخا دروغجنان دی	نیولی دی دوی	قسمونه خپل	ډال، سپر	پس اړوی دوی	(خلګ) له لاری

خامخا دروغجنان دی. نیولی دی دوی قسمونه خپل ډال، سپر، پس اړوی (دوی خلګ) له لاری

اللّٰهِ ؕ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۞ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

اللّٰهِ	إِنَّهُمْ	سَآءَ	مَا كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ	ذٰلِكَ	بِأَنَّهُمْ
د الله څخه	بیشکه! دوی چې دی	بد دی	هغه عمل چې دی دوی	چې کوی یئ	دا (بدی)	بیشکه! دوی

د الله څخه بیشکه! دوی چې دی بد دی هغه عمل چې دی دوی چې کوی یئ. دا (بدی) بیشکه! دوی

اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۞

اٰمَنُوْا	ثُمَّ	كَفَرُوْا	فَطُبِعَ	عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	فَهُمْ	لَا يَفْقَهُوْنَ
ایمان راوړی دی	بیا	کافران سوی دی	بیا مهر وهلی سوی دی	پر	زړونو ددوی باندی	پس دوی	نه پوهیږی

ایمان راوړی دی (لساناً) بیا کافران سوی دی (قلباً) بیا مهر وهلی سوی دی په زړونو د دوی باندی پس دوی نه پوهیږی.

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ. دسورت منافقون دنزول واقعه په تفصیل سره: واقعه دسیرت دروایت مطابق داده چې نبي کریم ﷺ ته داخبر حاصل سو چې دبنی المصطلق قبیلې سردار حارث ابن ضرار دنبي کریم ﷺ خلاف دجنګ تیاری کوي دا حارث ابن ضرار دحضرت جویریه رضي الله عنها پلار دی کمه چې وروسته مسلمانه سوه او دنبي کریم ﷺ په ازواجو مطهراتو کې داخله سوه او په خپله حارث ابن ضرار هم وروسته مسلمان سو نبي کریم ﷺ ته چې کله ددوی دجنګې تیاریو خبر حاصل سونو نبي کریم ﷺ دمسلمانانو دیو جماعت سره ددوی مقابلې ته ووتی دې جهاد ته دوتونکو مسلمانانو سره ډیر منافقین هم په دې طمع ووتل چې موږ ته هم په مال غنیمت کې حصه حاصله سي ځکه چې دې خلګو سره ددې چې په زړه کې منکر او کافر وه دایقین یې هم درلودی چې دالله جل جلاله مدد ددوی ﷺ سره دی او دوی به غالب او فاتح وي نبي کریم ﷺ چې کله دبنی المصطلق مقام ته ورسیدی: پاته بیان پ راروان مخ وګوری

وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِن يَقُولُوا

وَإِذَا	رَأَيْتَهُمْ	تُعْجِبُكَ	أَجْسَامُهُمْ	وَإِن	يَقُولُوا
او كله چي	ووينى ته دوى	په تعجب كښى تا اچوى	بدنونه د دوى	او كه	خبرى كوى دوى

او كله چي ووينى ته دوى په تعجب كښى تا اچوى اجسام بنى د دوى له جهت د ښائست او كه خبرى كوى دوى

تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ

تَسْمَعْ	لِقَوْلِهِمْ	كَأَنَّهُمْ	خُشُبٌ	مُّسَنَّدَةٌ	يَحْسَبُونَ	كُلَّ	صَيْحَةٍ
اورى ، غوږ ږدى	خبرو د دوى ته	حال داچي ګواكى دوى	وچ لرګى دى	دروولى سوى ديوال ته	ګڼى دوى	هر	بږغ

اورى غوږ ږدى خبرو د دوى ته حال داچي ګواكى دوى وچ لرګى دى دروولى سوى ديوال ته ګڼى دوى هر بږغ

عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ

عَلَيْهِمْ	هُمُ	الْعَدُوُّ	فَاحْذَرْهُمْ	قَاتَلَهُمُ	اللَّهُ
پر خپل ځانو باندى	هم دوى دى	دښمنان	نو ځان وساته ته له دوى څخه	هلاک دى كړى دوى لره	الله

پر دوى باندى هم دوى دى دښمنان نو ځان وساته ته له دوى څخه ، هلاک دى كاندى دوى لره الله

أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ④ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ

أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ	وَإِذَا	قِيلَ لَهُمْ	تَعَالَوْا	يَسْتَغْفِرْ	لَكُمْ
څرنګه ګرځولى سوى دى دوى	او كله چي	وويل سى دوى ته	چى راسئ	چى بخښنه وغواړى	تاسى ته

څرنګه ګرځولى سوى دى دوى له حقه . او كله چي وويل سى دوى ته چي راسئ چي بخښنه وغواړى تاسى ته (محمد)

رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم

رَسُولُ	اللَّهِ	لَوَّوْا	رُءُوسَهُمْ	وَرَأَيْتَهُمْ	يَصُدُّونَ	وَهُم
رسول	دالله	تاوكړى دوى	سرونه خپل	او وينى ته دوى	چى څنګ كوى	داچي وى دوى

رسول د الله تاو كړى دوى سرونه خپل (مخ تراړوى) او وينى ته دوى چي څنګ كوى منع كوى ، حال داچي وى دوى

مُّسْتَكْبِرُونَ ⑤ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ

مُّسْتَكْبِرُونَ	سَوَاءٌ	عَلَيْهِمْ	أَسْتَغْفَرْتَ	لَهُمْ	أَمْ
لوئى كوونكى	برابره ده	پر دوى باندى	چى بخښنه غواړى ته	دوى ته	او كه

لوئى كوونكى. برابر ده پر دوى باندى چي بخښنه غواړى ته (اى محمده!) دوى ته او كه

وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ.. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى : نو دحارث ابن ضرار دلښكر سره يي داوبو پر هغه چينه يا څاه باندي مقابله سوه كم چي دمريسيع په نوم سره معروف وو په دې وجه غزا ته هم دمريسيع غزا ويل كيږي دجانبينو څخه صفونه برابر سول او په غشو سره مقابله سوله په كمه كي چي دبنى المصطلق ډير سړي مړه سول باقي وتښتيدل الله جَلَّ جَلَالُهُ نبي كريم ﷺ ته فتح وركړه ددوى يعني ددښمن څه مالونه غنيمت سول او څه سړي او ښځي قيد سول دمسلمانانو په لاس راغلل او ددې جهاد قضيه ختمه سوه. مګر ددې څخه وروسته لا دمسلمانانو لښكر پر دې مريسيع باندي جمع وو چي يوه ناخوښه قصه او واقعه پيښه سوه چي ديوه انصاري او مهاجر پر اوبو باندي جګړه سوه او نوبت جنګ ته ورسيدى مهاجر دخپل مدد دپاره مهاجرينو ته آواز وكړى او انصاري انصاروته آواز وكى ددواړو دمدد دپاره څه افراد ورسيدل اونږدې وه چي دمسلمانانو په مينځ كي يوه فتنه راپورته او پيدا سي : پاته بيان پر راروان مخ وګورى :

لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ لَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِی

لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ	لَنْ یَّغْفِرَ	اللّٰهُ	لَهُمْ	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا یَهْدِی
بخښنه نه غواړې ته دوی ته	له سره به بخښنه نه کوی	الله	دوی ته	بیشکه!	الله	نه ښیی، سمه لاره

بخښنه نه غواړې ته (ای محمده!) دوی ته له سره به بخښنه نه کوی الله دوی ته بیشکه! الله نه ښیی سمه صافه لاره

الْقَوْمَ الْفٰسِقِیْنَ ۝٦ هُمُ الَّذِیْنَ یَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا

الْقَوْمَ	الْفٰسِقِیْنَ	هُمُ	الَّذِیْنَ	یَقُوْلُوْنَ	لَا تُنْفِقُوْا
قوم	فاسقانو ته	دوی	هغه کسان دی	چې وایئ	مه لګوئ تاسی نفقه،

قوم فسقانو نافرمانو ته. دوی هغه کسان دی چې وایئ (خپلو ملګروته) مه ورکوئ نفقه مه لګوئ تاسی مال

عَلٰی مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰی یَنْفَضُّوْا ؕ وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ

عَلٰی	مَنْ عِنْدَ	رَسُوْلِ	اللّٰهِ	حَتّٰی	یَنْفَضُّوْا	وَلِلّٰهِ	خَزَآئِنُ
پر	هغه چا باندی چې په نزد	د رسول	د الله دی	ترڅو چې	چې سره ولاړ سی	او خاص الله لره دی	خزانې

پر هغه چا باندی چې په نزد د رسول د الله دی تر څو چې متفرق خواره سی دوی، او خاص الله لره دی خزانې

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰکِنَّ الْمُنٰفِقِیْنَ لَا یَفْقَهُوْنَ ۝٧

السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَلٰکِنَّ	الْمُنٰفِقِیْنَ	لَا یَفْقَهُوْنَ
د آسمانونو	او د ځمکی	او لیکن	منافقان	نه پوهیږی

د آسمانونو او د ځمکی او لیکن منافقان نه پوهیږی (په رزاقیت د رب العزت)

یَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَی الْمَدِیْنَةِ لَیُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا

یَقُوْلُوْنَ	لَئِنْ رَّجَعْنَآ	اِلَی الْمَدِیْنَةِ	لَیُخْرِجَنَّ	الْاَعَزُّ مِنْهَا
وایئ منافقان	که چیری بیرته وګرځو موږ	طرف د مدینی ته	نو خامخا به وباسی هرومرو	ډیر عزتمند له دغی ځخه

وایئ منافقان که چیری بیرته وګرځو موږ طرف د مدینی ته نو خامخا به وباسی هرومرو ډیر عزتمند (کافر) له دغی ځخه

الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ وَلٰکِنَّ

الْاَذَلَّ	وَلِلّٰهِ	الْعِزَّةُ	وَلِرَسُوْلِهٖ	وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ	وَلٰکِنَّ
ډیر خوار، کمزوری خلک	او خاص الله لره دی	عزت او غلبه	او رسول ده د ده لره دی	او مؤمنانو لره دی	او لیکن

ډیر خوار کمزوری خلک او خاص الله لره دی عزت او غلبه او رسول د ده لره دی او مؤمنانو لره دی او لیکن

لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ لَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ... د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری:
نبی کریم ﷺ ته ددې اطلاع وسوه نو فوراً یې موقع او هغه ځای ته تشریف یوړی او د سخت خفګان سره یې وفرمایل: مابالُ دعوی الجاهلیة یعنې دا د جاهلیت نعره څنګه ده؟ چې وطنی او نسبی قومیت بنیاد جوړوي او د امداداو دفاع معامله کیږي او ویې فرمایل: مابال دعوی الجاهلیة یعنې دا د جاهلیت نعره ده او ویې فرمایل چې هر مسلمان ته د خپل مسلمان ورور مدد پکار دی برابره خبره ده که هغه ظالم وي او که مظلوم د مظلوم مدد کول خو ظاهره ده چې دی د ظالم د ظلمه ځخه وساتي او د ظالم د مدد کولو مطلب دا دی چې دی د ظلمه ځخه منع کړي ځکه چې دغه د ده حقیقي امداد دی مراد دا وو چې په هره معامله کې دې ته کتل پکار دي چې مظلوم څوک دی او ظالم څوک دی بیا د هر مسلمان برابره خبره ده که هغه مهاجر وي او که انصاري وي او د کمې قبیلې او خاندان ځخه وي دا فرض دی چې مظلوم د ظلم ځخه خلاص کړي او د ظالم لاس ونیسي: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ⑧ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ

الْمُنٰفِقِيْنَ	لَا يَعْلَمُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تُلْهِكُمْ
منافقان	نه پوهيږي	اې	هغو كسانو	چې ايمان يې راوړى دى	مشغول دې نه كړي تاسې

منافقان نه پوهيږي. اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى مشغول غافل دې نه كړي تاسې

اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ

اَمْوَالُكُمْ	وَلَآ اَوْلَادُكُمْ	عَنْ ذِكْرِ	اللّٰهِ	وَمَنْ يَّفْعَلْ
مالونه ستاسې	او نه اولادونه ستاسې	له ذكره ، ياده	دالله څخه	او هغه څوک چې وكړي

مالونه ستاسې او نه اولادونه ستاسې له ذكره ياده دالله څخه او هغه څوک چې وكړي

ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ⑨ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ

ذٰلِكَ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْخٰسِرُوْنَ	وَاَنْفِقُوْا	مِنْ مَّا	رَزَقْنٰكُمْ
دا كار	نو هم دغه كسان	هم دوى دي	زيانكاران	او نفقه كړئ تاسې	له هغو مالونو څخه	چې دركړي مو دي تاسې ته

دا كار نو هم دغه كسان هم دوى دي زيانكاران. او نفقه كړئ ، ولګوئ تاسې له هغو مالونو څخه چې دركړي مو دي تاسې ته

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ

مِّنْ قَبْلِ	اَنْ يَّاْتِيَ	اَحَدَكُمُ	الْمَوْتُ	فَيَقُوْلَ	رَبِّ
پخوا له هغه	چې راسي	وه يوه ستاسې ته	(اسباب) دمرګ	نو وبه وايئ	اې ربه زما

پخوا له هغه څنې چې راسي يو ستاسې ته (اسباب) دمرګ نو وبه وايئ اې ربه زما

لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ⑩

لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ	اِلٰٓى اَجَلٍ	قَرِيْبٍ	فَاَصَّدَّقَ	وَاَكُنْ	مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ
ولې دې وروستى نه كړم ما لره	تر اجل	نژدې پورې	چې صدقه وكړم زه	او سم زه	له صالحانو څخه

ولې دې وروستى نه كړ ما لره تر اجل نيتي نژدې پورې چې صدقه خيرات وكړم زه او سم زه له صالحانو ، نيكانو څخه

وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۭ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ⑪ ع

وَلَنْ يُّؤَخِّرَ	اللّٰهُ	نَفْسًا	اِذَا جَآءَ	اَجَلُهَا	وَاللّٰهُ	خَبِيْرٌۢ	بِمَا تَعْمَلُوْنَ
او له سره به نه وروستى كوى	الله	هيڅ نفس لره	كله چې راسي	نيته يې	او الله	ښه خبردار دى	په هغه چې كوئ يې تاسې

او له سره به نه وروستى كوى الله هيڅ نفس لره كله چې راسي نيته يې ، او الله ښه خبردار دى په هغه چې كوئ يې تاسې .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ..دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: بيا نو برابره خبره ده كه خپل حقيقي ورور او پلار ولي نه وي ؟ دا نسبي او وطني قوميت جاهلانه اوبدبوداره نعره ده چي دګندګی څخه ماسوا ورڅخه نور څه په لاس نه راځي دنبي كريم ﷺ ددې ارشاد داوريدو سره جګړا ختمه سوه :په دې معامله كي زياتی دجهجاه مهاجري رضي الله عنه ثابت سودده مقابل سنان ابن وبره جهني انصاري رضي الله عنه ته زخم راغلی وو . دمنافقينو يوه ډله كمه چي دمال غنيمت په طمع دنبي كريم ﷺ او مسلمانانو سره تللې وه ددوى سردار عبدالله ابن ابى وو كم چي په زړه كي دنبي كريم ﷺ او مسلمانانو سره دښمني لرله :مګر ددنيوي فائدې په خاطر يي ځان ته مسلمان ويل ده ته چي كله دمهاجرينو او انصارو په مينځ كي دجګړې خبر حاصل سو نو ده دمسلمانانو په مينځ كي داختلاف اچولو موقع غنيمت وګڼله او په خپل مجلس كي دمديني منورې انصار دمهاجرينو خلاف راوپارول الخ دتفصيل دپاره معارف القرآن تفسير ته رجوع وكړی.

معارف القرآن ج١٠ پ٢٨ ص١٣٧

أياتونه ١٨ — ٦٤ سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ ١٠٨ — رکوعوي ٢

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الۡاَرۡضِۚ لَهُ الۡمُلۡكُ

يُسَبِّحُ	لِلّٰهِ	مَا فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الۡاَرۡضِ	لَهُ الۡمُلۡكُ
نسبت د پاکی کوی	الله ته	هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی	او هر هغه څه	چې په مځکه کښې دی	خاص هم ده ته دی ملک

نسبت د پاکی کوی الله ته هر هغه څه چې په آسمانونو کښې دی او هر هغه څه چې په مځکه کښې دی خاص هم ده ته دی سلطنت

وَلَهُ الۡحَمۡدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ ① هُوَ الَّذِيۡ

وَلَهُ	الۡحَمۡدُ	وَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ شَيۡءٍ	قَدِيۡرٌ	هُوَ	الَّذِيۡ
او هم ده لره	ټوله ثناء، ستاينه ده	او هم دی (الله)	پر	هر شی باندی	ښه قادر دی	هم دغه (الله)	هغه ذات دی

او هم ده لره ټوله ثناء ستاینه (صفت) ده او هم دغه (الله) په هر شی باندی ښه قادر دی. هم دغه (الله) هغه ذات دی

خَلَقَكُمۡ فَمِنۡكُمۡ كَافِرٌ وَّمِنۡكُمۡ مُّؤۡمِنٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

خَلَقَكُمۡ	فَمِنۡكُمۡ	كَافِرٌ	وَّمِنۡكُمۡ	مُّؤۡمِنٌ	وَاللّٰهُ	بِمَا
چې پیدا کړی یئ یاست تاسی	ځینی له تاسی	کافر دی	او ځینی له تاسی	مؤمن دی	او الله	په هغه څه چې

چې پیدا کړی یئ یاست تاسی ځینی له تاسی کافر دی او ځینی له تاسی مؤمن دی. او الله په هغه څه چې

تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ② خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ بِالۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ

تَعۡمَلُوۡنَ	بَصِيۡرٌ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضَ	بِالۡحَقِّ	وَصَوَّرَكُمۡ
کوئ یئ تاسی	ښه لیدونکی دی	پیدا کړی یئ دی	آسمانونه	او مځکه	په تدبیر، حق سره	او صورتونه یئ ترلی دی ستاسی

کوئ تاسی ښه لیدونکی دی، پیدا کړی یئ دی آسمانونه او مځکه په تدبیر حق سره او صورتونه یئ ترلی دی ستاسی

فَاَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۚ وَاِلَيۡهِ الۡمَصِيۡرُ ③ يَعۡلَمُ

فَاَحۡسَنَ	صُوَرَكُمۡ	وَاِلَيۡهِ	الۡمَصِيۡرُ	يَعۡلَمُ
بیا یئ ښه ښائسته کړی دی	صورتونه ستاسی	او هغه (الله) ته	بیرته ورتلل دی ستاسی	ښه معلوم دی دغه (الله ته)

بیا یئ ښه ښائسته کړی دی صورتونه ستاسی، او هغه (الله) ته بیرته ورتلل دی ستاسی. ښه معلوم دی دغه (الله ته)

هُوَ الَّذِيۡ خَلَقَكُمۡ فَمِنۡكُمۡ كَافِرٌ وَّمِنۡكُمۡ مُّؤۡمِنٌ. په دنیا کي ځیني کافران او ځیني بیامومنان دي: په دغه آیت کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي ما تاسي پیداکړي یاست بیا په تاسي کي ځیني کافران سول او ځیني مومنان پاته سول :ددې څخه معلومه سوه چي په اول تخلیق او پیداکیدو کي یوهم کافر نه وودغه دکافر او مومن تقسیم وروسته ددې د کسب او اختیار په وجه پر دې باندې ثواب اوګناه عائد کیږي دیوحدیث شریف څخه هم ددې تائید کیږي په کم کي چي دنبي کریم ﷺ ارشاد دی: کلّ مولود یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او ینصّرانه الحدیث یعني هرپیدا کیدونکی انسان پر فطرت سلیمه پیداکیږي چي تقاضایي مومن کیدل دي مګر بیا مور او پلار دده دی یهودي یا نصراني او نور یعني مجوسي وغیره جوړوي: قرآن کریم دلته انسانان په دوو ډلو کي تقسیم کړي دي کافر او مومن دکم څخه چي معلومه سوه چي دآدم ؑ اولاد ټوله یوه برادري ده او ددنیا ټول انسانان ددې برادری افراد دي: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا

مَا فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَيَعْلَمُ	مَا تُسِرُّوْنَ	وَمَا
هغه څه چي په آسمانونو	او په مځکه کښي دی	او ښه معلوم دی دغه (الله) ته	هغه څه چي پټوئ يئ تاسي	او هغه څه چي

هغه څه چي په آسمانونو او په مځکه کښي دی او ښه معلوم دی دغه (الله) ته هغه څه چي پټوئ تاسي او هغه څه چي

تُعْلِنُوْنَ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۴ اَلَمْ يَاْتِكُمْ

تُعْلِنُوْنَ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	بِذَاتِ	الصُّدُوْرِ	اَلَمْ يَاْتِكُمْ
ښکاره کوئ يئ تاسي	او الله	ښه پوهه دی	په هغه پټو خبرو	چي په سينو ستاسي کښي دی	آيا نه دی راغلی تاسي ته

ښکاره کوئ يئ تاسي او الله ته ښه معلوم دی هغه پټي خبري چي په سينو ستاسي کښي دی، آيا نه دی راغلی تاسي ته ای منکرانو

نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۫ فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ

نَبَؤُا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ قَبْلُ	فَذَاقُوْا	وَبَالَ	اَمْرِهِمْ
خبر	دهغو کسانو	چي منکران سوي دی	پخوا له دی څخه	پس وئی شکل	وبال، سزا	د کار خپل

خبر د هغو کسانو چي منکران سوي دی پخوا له دی څخه پس وئی شکل وبال سزا د کار خپل

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝۵ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ

وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهٗ	كَانَتْ	تَّاْتِيْهِمْ
او سته دوی ته	عذاب	دردناک	دا (عذاب)	د دی دپاره دی چي بیشکه!	ؤ به دوی	چي راتلل به دوی ته

او سته دوی ته عذاب دردناک. دا (عذاب دوی ته) د دی دپاره دی چي بيشکه! ؤ به دوی چي راتلل به دوی ته

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ۫ فَكَفَرُوْا

رُسُلُهُمْ	بِالْبَيِّنٰتِ	فَقَالُوْٓا	اَبَشَرٌ	يَّهْدُوْنَنَا	فَكَفَرُوْا
رسولان ددوی	په ښکاره دلائلو سره	نو ويل به دوی	چي آيا سړي	لاره ښيي موږ ته	بيا به کافران سول

رسولان ددوی په ښکاره و دلائلو سره نو ويل به دوی (تمسخراً) چي آيا سړي لاره ښيي موږ ته بيا به کافران سول

وَتَوَلَّوْا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝۶

وَتَوَلَّوْا	وَّاسْتَغْنَى	اللّٰهُ	وَاللّٰهُ	غَنِيٌّ	حَمِيْدٌ
او مخونه به يئ وګرځول	او بې پروا ، غنی دی	الله	او الله	غنی دی (بې نيازه)	او ډير ستايلی سوی دی

(په رسولانو) او مخونه به يئ وګرځول او بې پروا غنی دی الله او الله غنی دی (له عبادته) او ډير ستايلی سوی دی.

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ. دتير مخ پاته بيان دلته وګوری: د دغي برادری قطع کوونکی او ځان ته دله جوړوونکی شي صرف کفر دی کم سړی چي کافر سو ده د انساني برادری تعلق پريکړی دغه شان په ټوله دنيا کي دانسانانو پارټي او ګروپ بندي صرف د ايمان او کفر پر بنا کيدای سي ،د رنګ او ژبي ، نسب خاندان ، وطن او ملک څخه هيڅ شي داسي نه دی کم چي انساني برادري په مختلفو ډلو کي تقسيم کړي ديو پلار اولاد که په مختلفو ښارونو کي اوسيږي يا مختلفي ژبي وايي يا د دوی په رنګ کي تفاوت وي نو هغه جلا جلا ډلي نه سي کيدای د اختلاف د رنګ او ژبي او وطن او ملک باوجود داټول په خپل مينځ کي سره ورونه وي يو پوه انسان دوی ته مختلفي ډلي نه سي ويلای دجاهليت په زمانه کي دنسب او قبيلو تفريق دقوميت او دډلي بندی بنياد جوړ سوی وو دغه شان د ملک او قوم پر بنياد څه دله بندي سوي وه نبي کريم ﷺ دا ټول تفريق او اختلاف ختم کړی او ديوه اسلام طرف ته يي دوی راوبلل الخ.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص ۱۵۴

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ

زَعَمَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا	قُلْ	بَلٰى	وَرَبِّيْ
گمان کوی	هغه کسان	چې کافران سوی دی	چې له سره به بیا ژوندی راپورته نه کړی سی دوی	وو وایه	هو !	قسم دی په رب زما

گمان کوی هغه کسان چې کافران سوی دی چې له سره به بیا ژوندی راپورته نه کړی سی دوی وو وایه هو قسم دی په رب زما

لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ؕ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝٧

لَتُبْعَثُنَّ	ثُمَّ	لَتُنَبَّؤُنَّ	بِمَا	عَمِلْتُمْ	وَذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ	يَسِيْرٌ
چې خامخا را پورته به کړل سئ تاسی	بیا به	خامخ خبر به کړی سئ	په هغه څه	چې کړی دی تاسی	او دا	پر الله	آسانه ده

چې خامخا را پورته به کړل سئ تاسی بیا به خامخا خبر به کړی سئ په هغه چې کړی دی تاسی .او دا پر الله آسانه ده .

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

فَاٰمِنُوْا	بِاللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	وَالنُّوْرِ	الَّذِيْٓ	اَنْزَلْنَا	وَاللّٰهُ	بِمَا
نو ایمان راوړئ	په الله	او په رسول دده باندی	او په هغی رڼا باندی	هغه چې	نازل کړی ده موږ	او الله	په هغه څه

نو ایمان راوړئ په الله او په رسول دده (محمد) باندی او په هغی رڼا (قرآن) باندی چې نازل کړی ده موږ او الله په هغه څه

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٨ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ

تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرٌ	يَوْمَ	يَجْمَعُكُمْ	لِيَوْمِ	الْجَمْعِ	ذٰلِكَ	يَوْمُ
چې کوئ یئ تاسی	ښه خبردار دی	هغه ورځ چې	راجمع به کړی تاسی	په ورځ	دجمع کیدلو کښې	دا	ورځ

چې کوئ یئ تاسی ښه خبردار دی. (یادکړه) هغه ورځ چې راجمع به کړی تاسو لره په ورځ دجمع کیدلو (قیامت) کښې دا ورځ

التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ

التَّغَابُنِ	وَمَنْ يُّؤْمِنْ	بِاللّٰهِ	وَيَعْمَلْ	صَالِحًا	يُّكَفِّرْ	عَنْهُ
دنفعی ، او نقصان ده	او هغه چې ایمان راوړی	په الله	او وکړی عمل	نیک	لیری به کړی (الله)	له ده څخه

دنفعی او نقصان ده ، او هغه چې ایمان راوړی په الله او وکړی عمل نیک لری به کړی (الله) له ده څخه

سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

سَيِّاٰتِهٖ	وَيُدْخِلْهُ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ
بدی دده	او داخل به کړی دی	په هغو جنتونو کښې	چې بهیږی	لهلاندی دهغو	ویالی

بدی د ده، او داخل به کړی (الله) دغه (صالح مؤمن) په هغو جنتونو کښې چې بهیږی لهلاندی دهغو (څلور) ویالی

لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ. دقیامت ورځې ته دیوم التغابن ویلو وجه

یوم یجمعکم لیوم الجمع ذلک یوم التغابن په کمه ورځ چې تاسې الله ﷻ راجمع کړي دجمع کولو په ورځ هغه ورځ به دتغابن یعني دخسارې وي: یوم الجمع او یوم التغابن دواړه دقیامت دورځې نومونه دي. یوم الجمع کېدل خو دغې ورځې ظاهر دي چې ټول مخلوق اول او آخرين به په دغه ورځ دحساب ، کتاب جزا او سزا دپاره جمع کیږي اویوم التغابن ځکه چې تغابن دغبن څخه مشتق دي چې معنی یې خساره او نقصان دی مالي نقصان او خسارې ته هم غبن ویل کیږي او درایې او عقل نقصان ته هم : امام راغب اصفهاني رحمه الله په مفردات القرآن کې فرمایي چې دمالي خسارې دپاره دالفظ په صیغه دمجهول یعني: غُبِنَ فلان فهو مغبون استعمالیږي :لفظ دتغابن داصل په اعتبار سره ددوه طرفه کار دپاره ویل کیږي چې یو سړی بل ته او بل دده ته نقصان ورسوي او یا دده نقصان او خساره ظاهره کړي دلته مراد یک طرفه اظهار غبن دی الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۵۶

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۹ وَالَّذِيْنَ

خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	اَبَدًا	ذٰلِكَ	الْفَوْزُ	الْعَظِيْمُ	وَالَّذِيْنَ
تل به وی دوی	په هغه کښې	ابدی، همیشه	دغه	بری، خلاصې	ډیر لوی دی	او هغه کسان

تل به وی دوی په هغه کښې ابدی همیشه، دغه (مغفرت او جنت) بری خلاصې ډیر لوی دی. او هغه کسان

كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ

كَفَرُوْا	وَ كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَآ	اُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	النَّارِ	خٰلِدِيْنَ
چې کافران سوی دی	او نسبت د دروغو کوی	آیتونو زموږ ته	دغه کسان دی	یاران	داور (ددوزخ)	تل به وی دوی

چې کافران سوی دی او نسبت د دروغو کوی آیتونو زموږ ته دغه کسان دی یاران ملګری د دوزخ تل به وی دوی

فِيْهَا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۱۰ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا

فِيْهَا	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	مَآ اَصَابَ	مِنْ مُّصِيْبَةٍ	اِلَّا
په هغه کښې	او بد	ځای د ورتللو دی	نه رسیږي	هیڅ مصیبت، غم هیڅ چاته	مګر خو

په هغه (دوزخ) کښې او بد ځای د ورتللو دی (دا دوزخ) نه رسیږي هیڅ مصیبت غم درد هیچاته مګر خو (رسیږي)

بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ

بِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ	بِاللّٰهِ	يَهْدِ	قَلْبَهٗ	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ
په حکم	دالله سره	او هغه څوک چې ایمان یئ راوړی دی	په الله باندی	لاره ښیي	زړه دده ته	او الله	پر هر

په اذن حکم دالله سره او هغه څوک چې ایمان یئ راوړی دی په الله باندی لاره ښیي (الله) زړه دده ته او الله پر هر

شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝۱۱ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

شَيْءٍ	عَلِيْمٌ	وَاَطِيْعُوا	اللّٰهَ	وَاَطِيْعُوا	الرَّسُوْلَ	فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ
شی باندی	ښه عالم دی	او حکم ومنئ تاسی	دالله	او حکم ومنئ تاسی	درسول	پس که مخ وګرځوه تاسی

شی باندی ښه عالم دانا دی. او حکم ومنئ تاسی دالله او حکم ومنئ تاسی درسول (ددغه الله) پس که مخ وګرځوه تاسی

فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝۱۲ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ

فَاِنَّمَا	عَلٰى	رَسُوْلِنَا	الْبَلٰغُ	الْمُبِيْنُ	اَللّٰهُ	لَآ اِلٰهَ
نو بیشکه!	په	رسول زموږ باندی	رسول	ښکاره دی	الله (یو دی)	نسته هیڅوک ورلایق دعبادت

(له طاعته) نو بیشکه! په رسول زموږ باندی رسول ښکاره دی، الله (یو دی) نسته هیڅوک ور (لایق) دعبادت

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ... هیڅ چاته هیڅ مصیبت دالله ﷻ داذن څخه بغیر نه رسیږي: او څوک چې پر الله ﷻ ایمان راوړي الله ﷻ دهغه زړه ته هدایت فرمایي: مطلب دادی چې دا امر خو پر خپل ځای یو یقیني حقیقت دی چې دالله ﷻ داذن او مشیت څخه بغیر هیڅکله هیڅ ځای یوه ذره هم نه سي ښوریدای. د الله ﷻ داذن څخه بغیر نه څوک چاته څه نقصان او تکلیف رسولی سي نه نفع او نه راحت مګر دکم سړي چې پر الله ﷻ او دهغه پر تقدیر ایمان نه وي دمصیبت په وخت کي دهغه دپاره داقرار او سکون څه سامان نه وي هغه دمصیبت دلیري کیدو دپاره لاس او پښې وهي په خلاف دمومن څخه دکم چې په تقدیر الهي ایمان دی الله ﷻ دده زړه مطمئن کوي چې څه وسوه دالله ﷻ په اذن او مشیت سره وسوه او کم مصیبت چې ماته ورسیدی هغه رسیدونکی وو داهیچا نه سوای منع کولای او دکم مصیبت څخه چې راته نجات حاصل سو دهغه څخه نجات حاصلیدونکی وو دالله ﷻ په اذن او مشیت سره

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص ۱۶۱

الثلثة ۱۵ ع۱۰ ۱

اِلَّا هُوَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۱۳ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

اِلَّا هُوَ	وَعَلَى	اللّٰهِ	فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُؤْمِنُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ
مگر خو هم دی دی	او خاص پر	الله باندی	پس توکل دی وکړی	مؤمنان	ای	هغو کسانو

مگر خو هم دی دی او خاص یوا ځې پر الله باندی پس توکل دی وکړی مؤمنان. ای هغو کسانو

اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ

اٰمَنُوْٓا	اِنَّ	مِنْ اَزْوَاجِكُمْ	وَاَوْلَادِكُمْ	عَدُوًّا لَّكُمْ
چی ایمان یې راوړی دی	بیشکه!	ځینی له ښځو ستاسی	او زامنو ستاسی	دښمنان دی تاسی ته

چی ایمان یې راوړی دی بیشکه! ځینی له ښځو ستاسی او (ځینی له) زامنو ستاسی دښمنان دی تاسی لره

فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ

فَاحْذَرُوْهُمْ	وَاِنْ	تَعْفُوْا	وَتَصْفَحُوْا	وَتَغْفِرُوْا	فَاِنَّ
نو ځان وساتئ تاسی له دوی څخه	او که	عفوه وکړئ تاسی	او مخ وګرځوئ تاسو	او مغفرت وکړئ تاسی	پس بیشکه!

نو ځان وساتئ تاسی له دوی څخه او که عفوه اوګزشت وکړئ تاسو او مخ وګرځوئ تاسو او مغفرت وکړئ تاسی پس بیشکه!

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۱۴ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ؕ

اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	اِنَّمَآ	اَمْوَالُكُمْ	وَاَوْلَادُكُمْ	فِتْنَةٌ
الله	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی	بیشکه! هم دا خبره ده	چی مالونه ستاسی	او اولاد ستاسی	یوه فتنه ده

الله ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی. بیشکه! هم دا خبره ده چی مالونه ستاسی او اولاد ستاسی یوه فتنه، ازموینت دی

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۱۵ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا

وَاللّٰهُ	عِنْدَهٗٓ	اَجْرٌ	عَظِيْمٌ	فَاتَّقُوْا	اللّٰهَ	مَا اسْتَطَعْتُمْ	وَاسْمَعُوْا
او الله	په نزد د ده دی	اجر، ثواب	ډیر لوی	نو ویریږئ تاسی	له الله	څومره چی توانیږی تاسی	واوریٔ (خبری د الله)

او الله چی دی په نزد د ده دی اجر ثواب ډیر لوی. نو ویریږئ تاسی له الله څومره چی توانیږئ تاسی واوریٔ (خبری د الله)

وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ؕ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ

وَاَطِيْعُوْا	وَاَنْفِقُوْا	خَيْرًا	لِّاَنْفُسِكُمْ	وَمَنْ يُّوْقَ	شُحَّ
او اطاعت کوئ	او نفقه کوئ ښه شیان	غوره به وی	د ځانونو ستاسو لپاره	او هغه څوک چی وساتلی سو	له بخیلی

او اطاعت کوئ (د احکام الله) او نفقه کوئ لګوئ شیان، غوره، بهتر به وی د ځانونو خپلو او هغه چی وساتلی سو له حرص

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ..ځینې اولادونه او ښځې د انسان دښمنان وي: یعنې ای مسلمانانو ستاسې ځینې بیبیانې او اولاد ستاسې دښمنان دي ددوی د شر څخه ځان ساتی: د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې دا آیت د هغه مسلمانانو په باره کې نازل سوی دی کم چې د مدینې منورې د هجرت څخه وروسته په مکه مکرمه کې په اسلام کې داخل سوي وه او اراده یې وکړه چې هجرت وکړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر سي مگر ددوی اهل او عیال دوی پرې نښول چې هجرت وکی ولاړ سي: روح المعاني او دا زمانه هغه وه چې د مکې څخه هجرت کول پر هر مسلمان فرض وو د قرآن کریم په ذکر سوي آیت کې دا سې ښځو او اولادو ته یې د انسان دښمن وویل او ددوی د شر څخه یې د ځان ساتلو تاکید وکی ځکه چې ددې څخه لوی دښمن د انسان څوک کیدای سي کم چې دی د همیشه همیشه عذاب او د جهنم په اور کې مبتلا کړي. دا آیت دنن سبا مسلمانانو ته هم ډیر غټ سبق ورکوي که لږ فکر وکړي.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۶۱

نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ⑯ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ

نَفْسِهٖ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْمُفْلِحُوْنَ	اِنْ تُقْرِضُوا	اللّٰهَ
دنفس خپل څخه	نو داکسان	هم دوی دی	بریالیان	که چیری قرض ورکړئ تاسی	الله ته

دنفس خپل څخه نو داکسان هم دوی دی بریالیان (کامیاب) په مراد رسیدلی. که چیری قرض پور ورکړئ تاسی الله لره

قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ

قَرْضًا	حَسَنًا	يُّضٰعِفْهُ	لَكُمْ	وَيَغْفِرْ لَكُمْ	وَاللّٰهُ	شَكُوْرٌ
قرض	نیک	نو دوچنده به کړی هغه	تاسی ته	او مغفرت به وکړی تاسی ته	او الله	ښه قدردان دی


قرض، پور نیک نو دوچنده به کړی (الله) هغه (پور) تاسی ته او مغفرت به وکړی (الله) تاسی ته او الله ښه قدردان دی

حَلِيْمٌ ⑰ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ⑱ ع

۲ ع ۱۲

حَلِيْمٌ	عٰلِمُ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ
ښه تحمل والا دی	عالم، پوهیدونکی	دپټو	او ښکاره دی	ښه غالب قوی دی	ډیر حکمت والا دی

ښه تحمل والا دی، عالم پوهیدونکی دپټو او ښکاره دی ښه غالب قوی دی ډیر حکمت والا دی.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

يٰٓاَيُّهَا	النَّبِيُّ	اِذَا	طَلَّقْتُمُ	النِّسَآءَ	فَطَلِّقُوْهُنَّ	لِعِدَّتِهِنَّ
ای	نبی	کله چی	طلاقوئ تاسو	ښځی	نو طلاقوئ هغوی	(په وخت د) عدت د دوی کښی

ای نبی (ووایه امت ته) کله چی اراده وکړئ طلاقوئ تاسو ښځی (خپلی) نو طلاقوئ په (وخت د) عدت د دوی کښی

وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ

وَاَحْصُوا	الْعِدَّةَ	وَاتَّقُوا	اللّٰهَ	رَبَّكُمْ	لَا تُخْرِجُوْهُنَّ	مِنْ
او وشمیرئ، وساتئ تاسی	عدت	او ویریږئ تاسو	له الله	چی رب ستاسی دی	مه باسئ دغه (ښځی)	له

او وشمیرئ وساتئ تاسو عدت (د ښځو خپلو)، او ویریږئ تاسو له الله چی رب ستاسی دی مه باسئ دغه (ښځی) له

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ... دنکاح او طلاق شرعي حیثیت او ددې حکیمانه نظام: خلاصه ددې بحث داده چې دنکاح او طلاق معامله په هر مذهب او ملت کې دعامو معاملو اخیستلو خرڅولو او اجارې په شان نه ده چې دطرفینو په رضامندی سره یې ختګه وغواړي کوي یې بلکې دهر ملت او مذهب خلګ همیشه پر دې متفق دي چې دې معاملاتو ته یو خاص مذهبي تقدس حاصل دی ددې تر هدایاتو لاندې داکار پوره کول پکار دي اهل کتاب یهود او نصاری خو په هرحال دیو آسماني دین او آسماني کتاب سره نسبت لري په هغه کې دسوونو تحریفاتو باوجود دومره قدر مشترک اوس هم باقي دی چې په دې معاملاتو کې دمذهبي حدودو او قیودو پابندې کفار او مشرکین چې څه مذهبي کتاب او مذهب نه لري مګر په څه ناڅه صورت کې دخدای ﷻ دوجود قائله دي لکه هند و آریا، سکه، مجوس آتش پرست نجوم پرست، خلګ هغوی هم دنکاح او طلاق معاملات د بیع او شراء او یا داجارې په شان نه ګڼي: پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

بُيُوْتِهِنَّ	وَلَا يَخْرُجْنَ	اِلَّآ	اَنْ يَّاْتِيْنَ	بِفَاحِشَةٍ	مُّبَيِّنَةٍ
كورونو خپلو څخه	او نه دي وځي دغه	مگر	هلته چي راسي دوى	په بې حيايۍ	ښكاره سره

كورونو خپلو څخه او نه دي وځي دغه (ښځې هم پخپله) مگر هلته چي راسي دوى په فاحشه بې حيا يۍ ښكاره سره

وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ

وَتِلْكَ	حُدُوْدُ	اللّٰهِ	وَمَنْ يَّتَعَدَّ	حُدُوْدَ	اللّٰهِ	فَقَدْ	ظَلَمَ
او دا	حدود ، اندازه كړى سوى	دالله دى	او هرڅوك چي تيرېږى	له حدودو	دالله	نو په تحقيق	ظلم يې كړى دى

او دا (احكام) حدود اندازه كړي سوى دالله دى او هر څوك چي تيرېږى له حدودو دالله څخه نو په تحقيق ظلم يې كړى دى

نَفْسَهٗ ؕ لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ﴿١﴾

نَفْسَهٗ	لَا تَدْرِیْ	لَعَلَّ	اللّٰهَ	يُحْدِثُ	بَعْدَ	ذٰلِكَ	اَمْرًا
په ځان خپل باندى	نه پوهېږى	ښايۍ چي	الله	پيدا كړى	وروسته	له دى طلاق	كوم ښه كار

په ځان خپل باندى، نه پوهېږى ښايۍ چي الله پيدا كړي وروسته له دى طلاق كوم ښه كار (او نوى صورت لكه رجوع)

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ

فَاِذَا	بَلَغْنَ	اَجَلَهُنَّ	فَاَمْسِكُوْ	هُنَّ	بِمَعْرُوْفٍ
بيا نو كله چي	ورسيږى دغه (ښځې)	نيټې خپل ته	نو وساتۍ	دوى	په ښه توگه سره

بيا نو كله چي ورسيږى دغه (ښځې) نيټې خپل ته نو وساتۍ دوى په معروف (نيكى ښه شان سره)

اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ

اَوْ فَارِقُوْهُنَّ	بِمَعْرُوْفٍ	وَّاَشْهِدُوْا	ذَوَیْ	عَدْلٍ	مِّنْكُمْ
يا جلا سئ تاسى له دوى څيني	په ښه توگه	او شاهدان نيسئ تاسى	دوه خاوندان	دعدل	له تاسى څخه

يا جلا (جدا) سئ تاسى له دوى څيني په معروف (ښه توگه)او شاهدان نيسئ تاسى دوه خاوندان دعدل له تاسى څخه

وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ

وَاَقِيْمُوا	الشَّهَادَةَ	لِلّٰهِ	ذٰلِكُمْ	يُوْعَظُ	بِهٖ	مَنْ كَانَ
او ښه اداء كړئ تاسى	شاهدى	دپاره د الله	دا	نصيحت كاوه سى	په دى سره	هغه چاته چي وى

او ښه اداء كړئ تاسى شاهدى دپاره د (رضاء د) الله دا (ساتنه په نيكى) نصيحت كاوه سى په دى سره هغه چاته چي وى

وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ..
دتير مخ پاته بيان دلته وگورى: ددغو كفارو په نزد هم څه مذهبي رسمونه دي دكمو پا ببندي چي دوى په دغه معاملاتو كي لازمه گني صرف ددهريانو او بې مذهبه خلگو او دخداى ﷻ څخه دمنكرو خلگو يوه فرقه ده كمه چي دخداى او مذهب څخه بيزاره ده هغوى داشيان هم داجارې په شان دباهمى رضامندى په طور كيدونكي يوه معامله گني چي مقصد يي دخپلو شهواتي جذباتو دتسكين څخه آخواته نور هيڅ نسته افسوس دى چي نن سبا په دنيا كي داسي نظريه عامه كيږي كم چي انسانان يي دځنگل دځناورو په صف كي درولي دي شريعت اسلام ديو مكمل او پاكيزه نظام حيات نوم دى په دي كي نكاح ته صرف يوه معامله او وعده نه بلكي دې ته يي يو قسم دعبادت حيثيت وركړى دى په كم كي چي دخالق كائنات دطرف څخه په انساني فطرت كي دا ايښوول سوي شهواني جذباتو دتسكين بهترين او پاكيزه سامان هم دى او دسړي او ښځي دكورني ژوند دتعلقاتو سره :پاته بيان پرراوان مخ وگورى.

يُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ۬ؕ وَمَنۡ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجۡعَلۡ لَّهٗ

يُؤۡمِنُ	بِاللّٰهِ	وَالۡيَوۡمِ	الۡاٰخِرِ	وَمَنۡ	يَّتَّقِ	اللّٰهَ	يَجۡعَلۡ	لَّهٗ
چي ايمان يې راوړي وي	پر الله	او پر ورځې	وروستى باندې	او هغه څوک	چي بيريږي	له الله	وبه ګرځوي	ده ته

چي ايمان يې راوړى وي پر الله او پر ورځې وروستى (دقيامت) باندې، او هغه څوک چي بيريږي له الله وبه ګرځوي ده ته

مَخۡرَجًا ۟ۙ وَّيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُ ؕ وَمَنۡ يَّتَوَكَّلۡ ②

مَخۡرَجًا	وَّيَرۡزُقۡهُ	مِنۡ حَيۡثُ	لَا يَحۡتَسِبُ	وَمَنۡ يَّتَوَكَّلۡ
يو ځاى دوتلو	او رزق به وركړي (الله) ده ته	له هغه ځايه	چي ګمان به نه كوي دى	او هغه څوک چي توكل وكړي

يو ځاى دوتلو. او رزق، روزي به وركړي (الله) ده ته له هغه (ځايه) چي ګمان به نه كوي دى او هغه څوک چي توكل وكړي

عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسۡبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمۡرِهٖ ؕ قَدۡ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ

عَلَى اللّٰهِ	فَهُوَ	حَسۡبُهٗ	اِنَّ اللّٰهَ	بَالِغُ	اَمۡرِهٖ	قَدۡ جَعَلَ	اللّٰهُ	لِكُلِّ
پر الله باندې	نو دغه (الله)	بس كافي دى ده لره	بيشكه! الله	رسيدونكى دى	امر خپل ته	په تحقيق ګرځولى ده	الله	هر

پر الله باندې نو دغه (الله) بس كافي دى ده لره، بيشكه! الله رسيدونكى دى امر كار خپل ته په تحقيق ګرځولى ده الله هر

شَيۡءٍ قَدۡرًا ③ وَالّٰٓـئِيۡ يَئِسۡنَ مِنَ الۡمَحِيۡضِ مِنۡ نِّسَآئِكُمۡ

شَيۡءٍ	قَدۡرًا	وَالّٰٓـئِيۡ	يَئِسۡنَ	مِنَ الۡمَحِيۡضِ	مِنۡ نِّسَآئِكُمۡ
شى ته	اندازه	او هغه ښځې چي	نااميده سوي وي	له حيضه	له ښځو ستاسي ځيني

شى ته اندازه. او هغه ښځې چي نااميده سوي وي له حيضه له ښځو ستاسي ځيني

اِنِ ارۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشۡهُرٍ ۙ وَّالّٰٓـئِيۡ لَمۡ يَحِضۡنَ ؕ

اِنِ ارۡتَبۡتُمۡ	فَعِدَّتُهُنَّ	ثَلٰثَةُ	اَشۡهُرٍ	وَّالّٰٓـئِيۡ	لَمۡ يَحِضۡنَ
كه چيري په شک كښي يئ تاسي	نو عدت د دوى	درى	مياشتى دى	او هم داسي ښځې	چي حيض نه وي ورته راغلى

كه چيري په شک كښي يئ تاسي نو عدت د دوى درى مياشتى دى او هم داسي ښځې چي نه وي سوي حائضه

وَاُولَاتُ الۡاَحۡمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنۡ يَّضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّ ؕ

وَاُولَاتُ	الۡاَحۡمَالِ	اَجَلُهُنَّ	اَنۡ يَّضَعۡنَ	حَمۡلَهُنَّ
او خاوندانې	د حمل (حاملانې)	عدت د دوى	داى چي كښيږدى دوى	بار خپل

او (ښځې) خاوندانې د بار ګيډى (حاملانې) عدت د دوى دا دى چي كښيږدى دوى بار خپل (وزيږوى دوى دغه حمل)

بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ وَمَنۡ يَّتَّقِ اللّٰهَ. دتير مخ پاته بيان دلته وګورى: چي كم عمراني مسائل دنسل دبقا او داولاد دتربيت په حقله دي د هغوى هم معتدلانه او حكيمانه نظام موجود دى. او چي كله دښځي او خاوند دژوند په صحيح كيدو باندي دعام نسل انساني صحيح والى موقوف دى په دي وجه په قرآن كريم كي يي عائلي مسائلو ته دنورو تولو معاملو څخه زيات اهميت وركړى دى: دقرآن كريم په فكر سره ويونكي ته داعجيبه مشاهده كيږي چي ددنيا په عامو معاشي مسئلو كي دټولو څخه اهم تجارت او شركت، اجاره او نور دي. قرآن كريم دغو صرف پر اصولو ښوولو بس والى فرمايلي دي ددي فروعي مسائل په قرآن كريم كي كم دي پر خلاف دنكاح او طلاق څخه چي ددي يي صرف پر اصولو ښوولو باندي بس والى نه دى فرمايلى بلكي ددي ډير فروع او جزيئات هم سيده په سيده حق تعالى ﷻ په قرآن كريم كي نازل فرمايلي دي. الله ﷻ دي موږ او تاسو دازدواجي ژوند دحقوقو داداء كولو توفيق راكړي.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۶۸

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ④ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ

وَمَنْ يَّتَّقِ	اللّٰهَ	يَجْعَلْ	لَّهٗ	مِنْ اَمْرِهٖ	يُسْرًا	ذٰلِكَ	اَمْرُ اللّٰهِ
او هغه څوک چي بيريږي	له الله	وبه ګرځوي الله	ده ته	په کار ده کښې	آسني	دا	امر دالله دی

او هغه څوک چي بيريږي له الله وبه ګرځوي الله ده ته په کار ده کښې اسانی دا امر، حکم د الله دی

اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ

اَنْزَلَهٗٓ	اِلَيْكُمْ	وَمَنْ يَّتَّقِ	اللّٰهَ	يُكَفِّرْ	عَنْهُ	سَيِّاٰتِهٖ
نازل کړی يې دی هغه	تاسی ته	او هغه څوک چي بيريږي	له الله	نو ليری به کړي (الله)	له ده څخه	ګناهونه د ده

نازل کړی يې دی هغه تاسی ته او هغه څوک چي بيريږي له الله نو ليری به کړي الله له ده څخه ګناهونه د ده

وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ⑤ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ

وَيُعْظِمْ	لَهٗٓ	اَجْرًا	اَسْكِنُوْهُنَّ	مِنْ حَيْثُ	سَكَنْتُمْ
او لوی به کړي	ده لره	اجر، ثواب	واوسوئ دا (ښځی)	په هغه ځای کښی	چي پکښی اوسيږئ تاسی

او لوی به کړي (الله) ده لره اجر ثواب (ده) . واوسوئ دا (ښځی) په هغه ځای کښی چي پکښی اوسيږئ تاسی (سم)

مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ وَاِنْ

مِّنْ وُّجْدِكُمْ	وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ	لِتُضَيِّقُوْا	عَلَيْهِنَّ	وَاِنْ
له طاقت ستاسی	او مه کوئ اراده دضرر تاسی ددغو	چي تنګوئ به تنګی راولی	پر دوی باندی	او که چيری

له طاقت ستاسی. او مه کوئ اراده دضرر تاسی ددغو (مطلقاتو) لره چي تنګوئ به پر دوی باندی، او که چيری

كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

كُنَّ	اُولَاتِ	حَمْلٍ	فَاَنْفِقُوْا	عَلَيْهِنَّ	حَتّٰى	يَضَعْنَ	حَمْلَهُنَّ
وی دغه	خاوندانی	دحمل	نو نفقه کوئ تاسی	پر دوی باندی	ترهغه پوری	چي کښيږدی دوی	حمل خپل

وی دغه (ښځی) خاوندانی د حمل نو نفقه کوئ تاسی پر دوی باندی ترهغه پوری چي کښيږدی دوی حمل خپل

فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ

فَاِنْ	اَرْضَعْنَ	لَكُمْ	فَاٰتُوْهُنَّ	اُجُوْرَهُنَّ	وَاْتَمِرُوْا	بَيْنَكُمْ
نو که	تی ورکاؤ دوی اولاد	ستاسو لره	پس ورکړئ تاسی هغو لره	مزدوری دهغوی	او مشوره کوئ	په مينځونو خپلو کښی

نو که تی ورکاؤ دوی اولاد ستاسو لره پس ورکړئ تاسی هغوی لره مزدوری دهغوی او مشوره کوئ په مينځونو خپلو کښی

وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ... دطلاقو سوو ښځو دعدې نفقه به څنګه وي؟ په دغه آيت کې الله جَلَّ جَلَالُهُ دابنوولي دي چي طلاقي سوي ښځي که حاملې وي نو نفقه يي تر هغه وخته پوري پر خاوند لازمه ده تر څو چي حمل نه وي پيدا سوی په دې وجه دطلاقي سوي حاملې په حقله دپوره امت اجماع ده چي دحمل تر پيدا کيدو پوري ددې نفقه دعدې پر خاوند باندي واجب ده باقي کمه طلاقه سوې چي حامله نه وي که دې ته طلاق رجعي ورکول سوی وي نو دعدې نفقه يي هم پر خاوند باندي لازمه ده په اجماع دامت سره: اوپا ته سوه هغه طلاقه سوې ښځه کمي ته چي طلاق بائن ورکړه سوی وي يا درې طلاقه ورکړه سوي وي يا کمو چي په خلع او نورو سره خپله نکاح فسخ کړې وي ددې په حقله دامام شافعي او رحمة الله عليه او احمد رحمة الله عليه ځينو نورو امامانو قول دادی چي ددې نفقه پر خاوند نه ده واجبه او دامام په رحمة الله عليه اعظم ابوحنيفه نزد بيا ددې نفقه هم پر خاوند واجبه ده لکه څنګه چي يي سکنی واجبه ده.
معارف القرآن ج١٠پ٢٨ص ١٨٦

بِمَعْرُوْفٍۚ وَاِنْ تَعَاسَرْ تُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗۤ اُخْرٰى ۞ لِيُنْفِقْ

بِمَعْرُوْفٍ	وَاِنْ تَعَاسَرْ تُمْ	فَسَتُرْضِعُ	لَهٗ	اُخْرٰى	لِيُنْفِقْ
په نیکی سره	او که سختی وکړئ تاسی	نو تی به ورکړی	هغه لره	بله ښځه	نفقه دی ورکوی

په معروف، نیکی سره، او که سختی وکړئ تاسی نو لپاره دتی ورکولو دی طلب کړی هغه لره بله ښځه، نو نفقه دی ورکوی

ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖۚ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ

ذُوْ سَعَةٍ	مِّنْ سَعَتِهٖ	وَمَنْ قُدِرَ	عَلَيْهِ	رِزْقُهٗ	فَلْيُنْفِقْ
خاوند دطاقت	له طاقته شتو خپلو څخه	او هغه چی تنګ کړی سی	پر ده باندی	رزق دهغه	پس نفقه دی کوی

خاوند دطاقت له طاقته شتو خپلو څخه او هغه چی تنګ کړی سی پر ده باندی رزق دهغه پس نفقه دی کوی

مِمَّاۤ اٰتٰىهُ اللّٰهُۚ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَاۚ

مِمَّاۤ	اٰتٰىهُ	اللّٰهُ	لَا يُكَلِّفُ	اللّٰهُ	نَفْسًا	اِلَّا	مَاۤ اٰتٰىهَا
له هغه ځینی	چی ورکړی وی هغه لره	الله	نه ورکوی تکلیف	الله	هیڅ نفس لره	مګر	خو په هغه قدر چی ورکړئ وی هغه ته

له هغه ځینی چی ورکړی وی هغه لره الله نه ورکوی تکلیف الله هیڅ نفس لره مګر خو په قدر چی ورکړئ وی الله هغه لره

سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ۞ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ

سَيَجْعَلُ	اللّٰهُ	بَعْدَ	عُسْرٍ	يُّسْرًا	وَكَاَيِّنْ	مِّنْ قَرْيَةٍ
ژر به پیدا کړی	الله	پس له	سختی څخه	اسانی پراخی	او ډیرۆ له	کلیو څخه

ژر به ښکاره کړی الله پس له سختی تنګی څخه اسانی پراخی. او ډیرۆ له کلیو څخه

عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًاۙ

عَتَتْ	عَنْ اَمْرِ	رَبِّهَا	وَرُسُلِهٖ	فَحَاسَبْنٰهَا	حِسَابًا	شَدِيْدًا
چی ګرځیدلی وه	له امره	درب خپل	او درسولانو دده څخه	نو حساب به وکړو موږ	له هغو سره حساب	سخت

چی ګرځیدلی وه له امره درب خپل درسولانو دده (الله) څخه نو حساب به وکړو موږ له هغوی سره حساب سخت

وَّعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ۞ فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا وَكَانَ

وَّعَذَّبْنٰهَا	عَذَابًا	نُّكْرًا	فَذَاقَتْ	وَبَالَ	اَمْرِهَا	وَكَانَ
او په عذاب به کړو موږ هغوی	په عذاب	ناآشنا، سخت	نو وبه څکی هغوی	وبال، سزا	د کار خپل	او دی

او په عذاب به کړو موږ هغوی په عذاب ناآشنا ناکاره سخت، نو وبه څکی هغوی سزا دکار خپل او دی

وَاِنْ تَعَاسَرْ تُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗۤ اُخْرٰى.. دطلاق څخه وروسته دماشوم دتي ورکولو معامله: یعني که دتي ورکولو معامله په خپل مینځ کي په مشوره سره حل نه سي یا که مطلقه ښځه په معاوضه سره هم خپل بچي ته تی نه ورکوي نو دادي نه مجبوره کول کیږي بلکي داسي دي وګڼل سي چي سره ددې چي دمور شفقت پر بچي باندي دټولو څخه زیات دی او ددې باوجود دا انکار کوي نو څه واقعي عذر به وي لیکن که په واقع کي دې ته څه عذر نه وي محض دغصې او خفګان په وجه انکار کوي نو دخدای ﷻ په نزد به ګناهکاره وي مګر دقاضي په عدالت کي دا په تي ورکولو نه سي مجبوره کیدلای دغه شان دتي داجرت ورکولو څخه که خاوند په وجه دافلاس عاجزه وي او بله ښځه بچي ته بغیر دمعاوضې یا دمطلقې دمعاوضې څخه په کمه تي ورکولو ته تیاره وي نو کمه معاوضه چي طلاقه سوې مور غواړي خاوند پر هغه نه سي مجبوره کولای چي دی دي دبچي دمور مطالبه منظوره کړي په دې دي تی ورکوي الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۸ ص۱۸۸

ربع

عَاقِبَةُ اَمۡرِهَا خُسۡرًا ۞ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمۡ عَذَابًا شَدِيۡدًا ۙ فَاتَّقُوا

عَاقِبَةُ	اَمۡرِهَا	خُسۡرًا	اَعَدَّ	اللّٰهُ	لَهُمۡ	عَذَابًا	شَدِيۡدًا	فَاتَّقُوا
عاقبت	دامردوی	زیان	تیار کړی دی	الله	هغوته	عذاب	سخت	نو ويريږئ

عاقبت آخر د امر کار د دوی زیان (په آخرت). تیار کړی دی الله هغوی ته عذاب سخت ،نو ويريږئ

لّٰهَ يٰۤاُولِي الۡاَلۡبَابِ ۚۖ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا ۚۛ قَدۡ اَنۡزَلَ اللّٰهُ اِلَيۡكُمۡ

لّٰهَ	يٰۤاُولِي	الۡاَلۡبَابِ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	قَدۡ	اَنۡزَلَ	اللّٰهُ	اِلَيۡكُمۡ
له الله	ای خاوندانو	دعقلونو	هغه کسان	چې ايمان يې راوړی دی	په تحقيق	نازل کړی دی	الله	تاسې ته

له الله څخه وساتئ ای خاوندانو دعقلونو هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، په تحقيق نازل کړی دی الله تاسې ته

ذِكۡرًا ۞ رَّسُوۡلًا يَّتۡلُوۡا عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخۡرِجَ

ذِكۡرًا	رَّسُوۡلًا	يَّتۡلُوۡا	عَلَيۡكُمۡ	اٰيٰتِ	اللّٰهِ	مُبَيِّنٰتٍ	لِّيُخۡرِجَ
نصيحت	رسول دی	وايئ	پر تاسې باندې	آيتونه	دالله	چې ښکاره کوونکې دی	دپاره ددې چې راوباسي

ذکر، نصيحت (قرآن). رسول دی وايئ پر تاسې باندې آيتونه د الله چې ښکاره ظاهر کوونکې دی دپاره ددې چې را وباسي

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ ؕ وَمَنۡ

الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	مِنَ الظُّلُمٰتِ	اِلَى النُّوۡرِ	وَمَنۡ
هغه کسان	چې ايمان يئ راوړی	او کړی دی	ښه عملونه	له ظلمتونو تيارو څخه	رڼا ته	او هغه چې

هغه کسان چې ايمان يئ راوړی او کړی دی ښه عملونه له ظلمتونو تيارو څخه رڼا (دعلم او ايمان) ته ، او هغه چې

يُّؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ وَيَعۡمَلۡ صَالِحًا يُّدۡخِلۡهُ جَنّٰتٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

يُّؤۡمِنۡۢ	بِاللّٰهِ	وَيَعۡمَلۡ	صَالِحًا	يُّدۡخِلۡهُ	جَنّٰتٍ	تَجۡرِيۡ	مِنۡ تَحۡتِهَا
ايمان راوړی	په الله باندې	او وکړي	ښه عمل	نو داخل به کړي ده لره	په جنتونو کښې	چې بهيږی	له لاندی دهغو

ايمان راوړی په الله باندې او وکړی ښه (عمل) نو داخل به کړی (الله) ده لره په جنتونو کښې چې بهيږی له لاندی دهغو

الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ؕ قَدۡ اَحۡسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزۡقًا ۞

الۡاَنۡهٰرُ	خٰلِدِيۡنَ	فِيۡهَاۤ	اَبَدًا	قَدۡ	اَحۡسَنَ	اللّٰهُ	لَهٗ	رِزۡقًا
ويالی	تل به اوسيدونکی وی دوی	په هغو کښې	هميشه	په تحقيق	ښه ورکړی دی	الله	هغه ته	رزق، روزی

ويالی تل به اوسيدونکی وی دوی په هغو کښې ابدی هميشه په تحقيق ښه ورکړی دی الله هغه ته رزق، روزی

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمۡ عَذَابًا شَدِيۡدًا ۙ فَاتَّقُوا.. دتيرو قومونو سرکشي او پر هغه سرييره ددوی هلاکت: دالله جل جلاله دا ارشاد دی په دغه اياتونوکې چې ډير کلي داسې وه کمو چې دخپل رب دحکم دمنلو څخه انکار وکړی او دهغه درسولانو دتعليماتو څخه يې مخ واړوی چې په نتيجه کې الله جل جلاله ددوی سره سخت حساب وکړی مطلب دادی چې ددوی دکفر په عملونو کې يې يو عمل ورمعاف نه کړی بلکې پر تولو باندې يې سزا منتخب کړه. او الله جل جلاله فرمايي چې موږ دوی ته ډيره سخته سزا ورکړه چې دعذاب په ذريعه هلاک سول غرض هغوی دخپلو عملونو وبال وڅکی او ددوی انجام دکار خساره سو داخو په دنيا کې وسو او په آخرت کې هم الله جل جلاله ددوی دپاره يو سخت عذاب تيار کړی دی: او کله چې انجام او آخره نتيجه دنافرمانی داده نو ای هوښيارانو کمو چې ايمان راوړی دی دخدای جل جلاله څخه ويريږی چې ايمان هم ددې مقتضی ده او ييره دغه ته وايي چې سستي او کاهلي پريږدی او اطاعت ته محکمې ملاوې وتړی الخ.

معارف القرآن ج ۱۰ پ ۲ ص ۱۹۰

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ

اَللّٰهُ	الَّذِیْ	خَلَقَ	سَبْعَ	سَمٰوٰتٍ	وَّمِنَ	الْاَرْضِ	مِثْلَهُنَّ
الله	هغه ذات دی	چی پیدا کړی دی	اووه	آسمانونه	او له	مځکی څخه	هم په مثل د دی

الله هغه (ذات) دی چی پیدا کړی دی اووه آسمانونه او (پیدا کړیدی) له مځکی څخه هم په مثل د دی اووه آسمانونه

یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ

یَتَنَزَّلُ	الْاَمْرُ	بَیْنَهُنَّ	لِتَعْلَمُوْۤا	اَنَّ اللّٰهَ	عَلٰی	كُلِّ شَیْءٍ
نازلیږی	امر حکم	په مینځ د دغو کښی	ترڅو چی وپوهیږئ تاسی	چی بیشکه! الله	پر	هر شی


نازلیږی امر حکم (د الله) په مینځ د دغو (آسمانونو او مځکو) کښی، ترڅو چی وپوهیږئ تاسی چی بیشکه! الله پر هر شی

قَدِیْرٌ ۙ۬ وَّ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ۟ ۱۲ ع

قَدِیْرٌ	وَّاَنَّ	اللّٰهَ	قَدْ	اَحَاطَ	بِكُلِّ شَیْءٍ	عِلْمًا
ښه قادر دی	او بیشکه!	چی الله	په تحقیق	احاطه فرمائلی رسیدلی دی	هر شی ته	له جهته د علمه

ښه قادر دی، او بیشکه! چی الله په تحقیق احاطه فرمائلی رسیدلی دی هر شی ته له جهته د علمه قدرته.

ع ۵ ۲ ۱۸



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِیْ مَرْضَاتَ

یٰۤاَیُّهَا	النَّبِیُّ	لِمَ	تُحَرِّمُ	مَاۤ اَحَلَّ	اللّٰهُ	لَكَ	تَبْتَغِیْ	مَرْضَاتَ
ای	نبی	ولی	حراموی ته	هغه چی حلال کړی دی	الله	تا ته	غواړی ته	خوښی

ای نبی ولی حراموی ته هغه چی حلال کړی دی الله تا ته غواړی ته (په دی حرامولو سره) خوښی

اَزْوَاجِكَ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝۱ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ

اَزْوَاجِكَ	وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِیْمٌ	قَدْ	فَرَضَ	اللّٰهُ	لَكُمْ
د ښځو خپلو	او الله	بخښونکی دی	ډیر رحم والا دی	په تحقیق	مقرر کړی دی	الله	تاسی لره

د ښځو خپلو، او الله بخښونکی دی (ستا قسم لره) ډیر رحم والا دی. په تحقیق مقرر کړی دی الله تاسی لره

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ. د تحریم د ایاتونو شان نزول: د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روایت دی چي د نبي کریم ﷺ عادت مبارکه دا وو چي د مازدیگر د لمانځه څخه وروسته به په ولاړي ولاړي د ټولو بیبیانو کوروته د خبر اخیستلو د پاره تلی یوه ورځ د حضرت زینب رضي الله عنها سره تر عادت زیات ودریدی او عسل یي وچیښل نو ما ته غیرت راغی او ما د حضرت حفصي رضي الله عنها سره مشوره وکړه چي په موږ کي چي دهري یوې خوا ته نبي کریم ﷺ تشریف یوړی نو دا به ورته وایو چي تاسي مغافیر چیښلي دي مغافیر یو خاص قسم غازداره مواد و ته ویل کیږي چي کله ناکله د درختو څخه راوزي په کمو کي چي څه بدبویي وي لکه چي بیا داسي وسوه چي په دوی کي یوې و نبي کریم ﷺ ته وویل چي تاسي مغافیر چیښلي دي ده ﷺ وفرمایل چي ما خو عسل چیښلي دي. دې بي بي وفرمایل چي شاید یو ځای به دغه مچمچی د مغافیرو پر درخته باندي کښیناستلي وي او د هغه څخه به یي رس خوړلی وي. پاته بیان پر راروان مخ وگوری.

تَحِلَّةَ اَيۡمَانِكُمۡ ۚ وَاللّٰهُ مَوۡلٰـكُمۡ ۚ وَهُوَ الۡعَلِيۡمُ الۡحَكِيۡمُ ②

تَحِلَّةَ	اَيۡمَانِكُمۡ	وَاللّٰهُ	مَوۡلٰـكُمۡ	وَهُوَ	الۡعَلِيۡمُ	الۡحَكِيۡمُ
حلالولی	دقسمونو ستاسی	او الله	مولی ، دوست ستاسی دی	او هم دغه (الله)	ښه عالم	ښه حکمت والا دی

حلالولی دقسمونو ستاسی ، او الله مولی دوست ، مددګار ستاسی دی او هم دغه (الله) ښه عالم ښه حکمت والا دی .

وَاِذۡ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعۡضِ اَزۡوَاجِهٖ حَدِيۡثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتۡ

وَاِذۡ اَسَرَّ	النَّبِيُّ	اِلٰى بَعۡضِ	اَزۡوَاجِهٖ	حَدِيۡثًا	فَلَمَّا	نَبَّاَتۡ
او کله چی پټ راز ووایه	نبی	ځینو	ښځو خپلو ته	یوه خبره	نو کله چی	خبر ورکړ هغی

کله چی پټ راز ووایه نبی پیغمبر ځینو ښځو خپلو ته یوه خبره نو کله چی خبر ورکړ هغی (حفصی)

بِهٖ وَاَظۡهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ بَعۡضَهٗ وَاَعۡرَضَ

بِهٖ	وَاَظۡهَرَهُ	اللّٰهُ	عَلَيۡهِ	عَرَّفَ	بَعۡضَهٗ	وَاَعۡرَضَ
په دی سره	او ښکاره کړه هغه خبره	الله	پر دغه نبی باندی	نو وروپیژندله نبی	ځینی ددی خبری	او مخ یې واړولی

په دی (خبری) سره (عائشی ته) او ښکاره کړه هغه خبره الله پر دغه باندی نو وروپیژندله ځینی ددی خبری او مخ یې واړولی

عَنۡ بَعۡضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتۡ مَنۡ اَنۡۢبَاَكَ هٰذَا ؕ

عَنۡ بَعۡضٍ	فَلَمَّا	نَبَّاَهَا	بِهٖ	قَالَتۡ	مَنۡ اَنۡۢبَاَكَ	هٰذَا
له ځینو هغو	بیا هر کله چی	نبی وښودله دی ته	هغه خبره	نو وویل دی	چی چا خبر کړی ته	په دی باندی

له ځینو هغو (خبرو) بیا هر کله چی نبی وښودله دی ته هغه خبره نو وویل دی (حفصی) چی چا خبر کړئ ته په دی باندی

قَالَ نَبَّاَنِيَ الۡعَلِيۡمُ الۡخَبِيۡرُ ③ اِنۡ تَتُوۡبَاۤ اِلَى اللّٰهِ فَقَدۡ

قَالَ	نَبَّاَنِيَ	الۡعَلِيۡمُ	الۡخَبِيۡرُ	اِنۡ تَتُوۡبَاۤ	اِلَى اللّٰهِ	فَقَدۡ
وویل (نبی)	خبر کړی یم زه	ښه عالم دانا	ښه خبردار	که توبه وباسئ تاسی دواړه	الله ته	نو په تحقیق

وویل (نبی) خبر کړی یم زه ښه عالم دانا ښه خبردار. که توبه وباسئ تاسی دواړه الله ته (قبوله به سی) نو په تحقیق

صَغَتۡ قُلُوۡبُكُمَا ۚ وَاِنۡ تَظٰهَرَا عَلَيۡهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوۡلٰـهُ

صَغَتۡ	قُلُوۡبُكُمَا	وَاِنۡ تَظٰهَرَا	عَلَيۡهِ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	هُوَ	مَوۡلٰـهُ
کاږه سوی دی	زړونه ستاسی دواړو	او که مرسته وکړئ تاسی دواړی	دده خلاف	نو بیشکه!	الله	همغه	مددګار دی دهغه

کاږه سوی دی زړونه ستاسی دواړو ، او که مرسته وکړئ تاسی دواړی یوه له بلی سره نو بیشکه! الله همغه مددګار دی دهغه

وَاللّٰهُ مَوۡلٰـكُمۡ وَهُوَ الۡعَلِيۡمُ الۡحَكِيۡمُ ...دتیر مخ پاته

بیان دلته وګوری: نبی کریم ﷺ دبدبویه شیانو څخه ډیر سخت نفرت کوی په دې وجه ده ﷺ قسم واخیستی چي بیا به زه عسل په آینده کي نه چیښم او په دې خیال سره چي حضرت زینب ﷺ خفه نه سي ددې راز دپټ ساتلو تاکید یې وکړی مګر دې بي بي بلي ته وویل: او په ځینو روایتونو کي دي چي حضرت حفصه ﷺ دعسلو چیښونکي وه او دغه پلان حضرت عائشي ﷺ او حضرت سوده ﷺ او حضرت صفیه ﷺ په خپل مینځ کي سره جوړ کړی: او په ځینو روایتونو کي داقصه په بل شان سره هم راغلي ده نو ممکنه ده چي واقعاتي ډیري وي او ددغوټولو څخه وروسته دغه ایاتونه نازل سوي وي خلاصه ددې ایاتونو داده چي په دې واقعه کي نبي کریم ﷺ کم حلال شی یعني عسل په ذریعه دقسم پرځان باندي حرام کړي وه داکار که په څه مصلحت او ضرورت سره وای نو به جائزوای لیکن دلته هغه شی نه وو نو الله ﷻ دشفقت خطاب ورته وکی چي ای زما نبي ولي ؟ الخ

معارف القرآن ج ١٠ پ٢٨ص ١٩٥

وَجِبۡرِيۡلُ وَصَالِحُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمَلٰٓـئِكَةُ بَعۡدَ ذٰلِكَ

وَجِبۡرِيۡلُ	وَصَالِحُ	الۡمُؤۡمِنِيۡنَ	وَالۡمَلٰٓـئِكَةُ	بَعۡدَ	ذٰلِكَ
اوجبرئيل	او صالح	دمؤمنانو	او ملائيكي	وروسته	له دغه

او جبرئيل او صالح دمؤمنانو او ملائيكي (يئ هم) وروسته له دغه (مددگاري څخه)

ظَهِيۡرٌ ۝٤ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنۡ طَلَّقَكُنَّ اَنۡ يُّبۡدِلَهٗۤ

ظَهِيۡرٌ	عَسٰى	رَبُّهٗۤ	اِنۡ طَلَّقَكُنَّ	اَنۡ يُّبۡدِلَهٗۤ
مددگاراني دي	نژدي دي	رب ددغه	كه چيري طلاق دركړي تاسي ته	په دي چي بدل وركړي ده لره

مددگاراني دي. نژدي دي (اوقادر دي) رب د دغه (نبي) كه چيري طلاق دركړي تاسي ټولو ته په دي چي بدل وركړي ده لره

اَزۡوَاجًا خَيۡرًا مِّنۡكُنَّ مُسۡلِمٰتٍ مُّؤۡمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ

اَزۡوَاجًا	خَيۡرًا	مِّنۡكُنَّ	مُسۡلِمٰتٍ	مُّؤۡمِنٰتٍ	قٰنِتٰتٍ	تٰٓئِبٰتٍ	عٰبِدٰتٍ
نوري ښځي	بهتري	له تاسي څخه	حكم منونكي	مؤمناني	لمونځ كوونكي	توبه ايستونكي	عبادت كوونكي

نوري ښځي بهتري له تاسي څخه حكم منونكي مؤمناني لمونځ كوونكي توبه ايستونكي عبادت كوونكي

سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّاَبۡكَارًا ۝٥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا قُوۡۤا

سٰٓئِحٰتٍ	ثَيِّبٰتٍ	وَّاَبۡكَارًا	يٰۤاَيُّهَا	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	قُوۡۤا
روژه نيوونكي	كونډي	او پيغلي	اى	هغو كسانو	چي ايمان يئ راوړى دى	وساتئ تاسي

روژه نيوونكي هجرت كوونكي كونډي او پيغلي. اى هغو كسانو چي ايمان يئ راوړى دى وساتئ تاسي

اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا وَّقُوۡدُهَا النَّاسُ وَالۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا

اَنۡفُسَكُمۡ	وَاَهۡلِيۡكُمۡ	نَارًا	وَّقُوۡدُهَا	النَّاسُ	وَالۡحِجَارَةُ	عَلَيۡهَا
ځانونه خپل	او كورخپل	له اور څخه	چي خس او رلگوني دهغه	سړي	او كاڼي دي	پر دي اور باندي

ځانونه خپل او كور خپل (په اطاعت دالله) له اور څخه چي خس اور لگوني دهغه سړي او تيږي (ګټي) دي پر دي اور باندي

مَلٰٓـئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعۡصُوۡنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمۡ

مَلٰٓـئِكَةٌ	غِلَاظٌ	شِدَادٌ	لَّا يَعۡصُوۡنَ	اللّٰهَ	مَاۤ اَمَرَهُمۡ
مقرري دي ملائيكي	كلكي زوروري	قوتناكي	نه كوي نافرماني دوى	د الله	دهغه څه چي امريئ كړي دى دوى ته

مقرر دي ملائيكي كلكي زوروري قوتناكي، نه كوي نافرماني دوى له الله دهغه څه چي امر يئ كړي دى دوى ته

قُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا وَّقُوۡدُهَا. عامو مسلمانانو ته ددوى او ددوى داولادو داصلاح

حكم: په دي آيت كي عامو مسلمانانو ته حكم دى چي دجنهم داور څخه تاسي هم ځان وساتى او هم خپل اهل او عيال وساتى او بيا يي دجهنم داور شدت او سختى بيان كړي دي او په آخر كي يي داهم وفرمايل چي څوك ددغه جهنم داور مستحق سي هغه به دخه زور طاقت يا ډلي يا خوشامد يا رشوت په ذريعه ددغو فرشتو دگرفت څخه نه سي خلاصيدلاى هغه فرشتي چي پر جهنم باندي پيره داراني دي دكمو نوم چي زبانيه دي په لفظ داهليكم كي اهل او عيال ټول داخل دي په كمو كي چي ښځه، اولاد، غلامان، مريان، مينځي ټوله داخل دي او داهم بعيده نه ده چي دټول وخت نوكران او چاكران هم دمينځو او غلامانو په حكم كي وي: په يوه روايت كي دي چي كله دا آيت نازل سو نو حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه عرض وكى چي يا رسول الله خپل دځان دجهنم څخه دساتلو په طريقه خوموږ پوه يو چي گناهونه پريږدو. پاته بيان پر راروان مخ وگورى

وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ⑥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

وَيَفْعَلُوْنَ	مَا يُؤْمَرُوْنَ	يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
او کوی دوی	هغه کار چی دوی ته یئ امر سوی دی	ای	هغو کسانو	چی کافران سوی یئ

او کوی دوی هغه کار چی پر ماموری وی (من جانب الله) . ای هغو کسانو چی کافران، منکران سوی یئ

ع ١٩

لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۖ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑦

لَا تَعْتَذِرُوْا	الْيَوْمَ	اِنَّمَا	تُجْزَوْنَ	مَا كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ
عذر مه کوئ تاسی	نن ورځ	بیشکه! هم دا خبره ده	چی جزاء به درکړل سی تاسی ته	دهغه چی وئ تاسی	چی کول به مو

عذر مه کوئ تاسی نن ورځ بیشکه! هم دا خبره ده چی بدل جزاء به درکړ سی تاسی ته دهغه چی وئ تاسی چی کول به مو

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ۖ عَسٰى

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	تُوْبُوْٓا	اِلَى اللّٰهِ	تَوْبَةً	نَّصُوْحًا	عَسٰى
ای	هغو کسانو	چی ایمان یئ راوړی دی	توبه وباسئ تاسی	الله ته	توبه	خالصه رښتیا دزړه له کومی	امید دی چی

ای هغو کسانو چی ایمان یئ راوړی دی توبه وباسئ تاسی الله ته توبه خالصه رښتیا دزړه له کومی، امید دی چی

رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ

رَبُّكُمْ	اَنْ يُّكَفِّرَ	عَنْكُمْ	سَيِّاٰتِكُمْ	وَيُدْخِلَكُمْ	جَنّٰتٍ
رب ستاسی	چی وبه رژوی	له تاسی څخه	ګناهونه ستاسی	او داخل به کړی تاسی	هغو جنتونو ته

رب ستاسی چی وبه رژوی له تاسی ځینی ګناهونه ستاسی او داخل به کړی تاسی هغو جنتونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ

تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	يَوْمَ	لَا يُخْزِي	اللّٰهُ	النَّبِيَّ
چی بهیږی	له لاندی دهغو	ویالی	په هغه ورځ کښی	چی نه به رسواء کوی	الله	نبی

چی بهیږی له لاندی د هغو ویالی په هغه ،ورځ کښی چی وبه نه شرموی الله نبی

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مَعَهٗ	نُوْرُهُمْ	يَسْعٰى	بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ
او هغه کسان	چی ایمان یئ راوړی دی	له هغه سره	رڼا د دوی به	ځغلی	په مخکی د دوی

او هغه کسان چی ایمان یئ راوړی دی له هغه سره ، رڼا د دوی به ځغلی وړاندی د دوی څخه

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ..دتیر
مخ پاته بیان دلته وګوری

او دالله ﷻ دحکمونو پایینده سومګر اهل او عیال به موږ څنګه دجهنم څخه بچ وساتو ؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چي دهغه طریقه داده چي الله ﷻ دکموکارونوڅخه تاسي منع کړي یاست خپل اهل او عیال هم دهغه څخه منع کړی او دکموکارونو دکولو چي الله ﷻ تاسي ته امر درکړی دی دهغه دکولو امر تاسي وخپل اهل اواولادونو ته ورکوی نو داعمل به هغوی دجهنم داوره څخه محفوظه کړي : فقهاء حضرات فرمايي چي ددې آیت څخه ثابته سوه چي پرهرسړي باندي فرض دي چي خپلي ښځي ته او خپل اولاد ته دشرعي فرائضو او دحلالو او دحرامو داحکامو تعلیم ورکړي او پر دې باندي په عمل کولو کي کوشش وکي. په یوه حدیث شریف کي دنبي کریم ﷺ ارشاد مبارک دی چي دالله ﷻ رحمت دي پر هغه سړي وي کم چي وایي ای زما ښځو اوبچو ستاسي لمونځ ،ستاسي روژې، او نوردفرمایلومطلب دادی چي ددې شیانو خیال ساتی الخ.
معارف القرآن ج ١٠ پ٢٨ص ٢٠٠

وَبِاَيۡمَانِهِمۡ يَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَآ اَتۡمِمۡ لَنَا نُوۡرَنَا وَاغۡفِرۡ لَنَا

وَبِاَيۡمَانِهِمۡ	يَقُوۡلُوۡنَ	رَبَّنَآ	اَتۡمِمۡ	لَنَا	نُوۡرَنَا	وَاغۡفِرۡ لَنَا
او پر راسته خوا د دوی	وبه وایئ دوی	ای ربه زموږ	پوره کړه	موږ لره	رڼا زموږ	او وبخښه موږ لره

او پر راسته خوا د دوی، وبه وایئ دوی ای ربه زموږ پوره کړه باقي ولره موږ لره رڼا زموږ او وبخښه موږ لره ګناهونه

اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ ۞ ٨ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الۡكُفَّارَ

اِنَّكَ	عَلٰى	كُلِّ شَيۡءٍ	قَدِيۡرٌ	يٰۤاَيُّهَا	النَّبِيُّ	جَاهِدِ	الۡكُفَّارَ
بیشکه! ته	پر	هر شي باندې	ښه قادر یئ	ای	نبي	جهاد کوه	له کفرو سره

بیشکه! ته پر هر شي باندې (چي اراده وفرمائي) ښه قادر یئ. ای نبي جهاد جنګ کوه له کفارو سره (بالسیف)

وَالۡمُنٰفِقِيۡنَ وَاغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡ ؕ وَمَاۡوٰىهُمۡ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئۡسَ

وَالۡمُنٰفِقِيۡنَ	وَاغۡلُظۡ	عَلَيۡهِمۡ	وَمَاۡوٰىهُمۡ	جَهَنَّمُ	وَبِئۡسَ
او له منافقانو سره	او سختي کوه	پر دوی	او ځای د دوی	جهنم، دوزخ دی	او بد

او له منافقانو سره (باللسان) او سختي کوه پر دوی او ځای (دورتللو) د دوی جهنم دوزخ دی او بد مرجع

الۡمَصِيۡرُ ۞ ٩ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوا امۡرَاَتَ

الۡمَصِيۡرُ	ضَرَبَ	اللّٰهُ	مَثَلًا	لِّلَّذِيۡنَ	كَفَرُوا	امۡرَاَتَ
ځای دورتللو دی	بیان کړی دی	الله	یو مثال	دپاره دهغو کسانو	چي کافران سوي دي	ښځه

ځای دورتللو دی (دا دوزخ). بیان کړی دی الله یو مثل دپاره دهغو کسانو چي کافران سوي دي ښځه

نُوۡحٍ وَّامۡرَاَتَ لُوۡطٍ ؕ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَالِحَيۡنِ

نُوۡحٍ	وَّامۡرَاَتَ	لُوۡطٍ	كَانَتَا	تَحۡتَ	عَبۡدَيۡنِ	مِنۡ عِبَادِنَا	صَالِحَيۡنِ
د نوح	او ښځه	د لوط	چي وې دا دواړې	لاندې	د دوو بندګانو	له بندګانو زموږ	صالحانو

د نوح او ښځه د لوط چي وې دا (دواړه ښځې) لاندې د دوو بندګانو له بندګانو صالحانو زموږ

فَخَانَتٰهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيۡـًٔا

فَخَانَتٰهُمَا	فَلَمۡ يُغۡنِيَا	عَنۡهُمَا	مِنَ اللّٰهِ	شَيۡـًٔا
بیا خیانت وکړی دی دواړو د هغوی سره	نو دفع نه کړی (پیغمبرانو)	له دغو ښځو څخه	له (عذاب) د الله څخه	هیڅ شي

بیا خیانت وکړی (دی دواړو ښځو) نو دفع نه کړی (پیغمبرانو) له دغو ښځو څخه له عذاب د الله څخه هیڅ شي

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوا... دسورت تحریم په اخرکي دڅلورو ښځو مثالونه: ددغه سورت په آخر کي الله جل جلاله دڅلورو ښځو مثالونه بیان کړي دي مخکنۍ دوې ښځې ددوو پیغمبرانو ښځې دي کمو چي ددین په معامله کي دخپلو خاوندانو مخالفت وکی او دکفارو اومشرکانو امداد او موافقت به یي په پټه کوی ددې په نتیجه کي دوږخ ته ولاړې دالله جل جلاله دمقبولو پیغمبرانو ښځوالی هم دوی دعذاب څخه بچ نه کړې په دوی کي یوه دحضرت نوح علیه السلام بي بي وه چي نوم یي واعله وه قرطبي او دوهمه ښځه دحضرت لوط علیه السلام وه چي نوم یي واهله وه. دریمه ښځه ده کمه چي دغټ کافر دخدایي دعوه کوونکي فرعون ښځه وه مګر پر حضرت موسی علیه السلام یي ایمان راوړی الله جل جلاله ورلره دادرجه ورکړه چي په دنیا کي یي ورته دجنت مقام وښوو ی اودخاوند فرعونیت ددې په لاره کي هیڅ خنډ جوړ نه سو. څلورمه حضرت مریم رضی الله عنها ده چي دچا بي بي نه ده مګر دایمان او نیک عمل په وجه الله جل جلاله دې ته غټه درجه ورکړیده الخ.

معارف القرآن ج١٠ پ ٢٨ ص ٢٠٥

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ

دفرعون دښځي داسيي بنت مزاحم يو مثال : دغه مثال دفرعون دښځي آسيه بنت مزاحم دی څه وخت چي موسی عليه السلام دجادوگرو په مقابله کي کامياب سو او جادوگران مسلمانان سول نو دې بي بي دخپل ايمان اظهار وکړی فرعون دې ته سخته سزا ورکول وټاکل : په ځينو روايتونو کي دي چي ددې پر لاسواو پښو يي ميخونه تک وهل پر سينه يي درنه ډبره ورکښيښوول په دغه حالت کي هغي دالله جل جلاله څخه هغه دعاء وغوښتله کمه چي په آيت کي ذکرده : او په ځينو روايتونو کي دي چي ددې پر سر يي دلوړي څخه درنه ډبره راايله کول وټاکل لا دغه ډبره ددې پر سر نه وه راايله سوې چي دې دعا وکړه او الله جل جلاله ددې روح قبض کړی ډبره دمړيني په حالت کي پر راشوه سول اودې په خپل دعا کي داسي وفرمايل چي زما ربه ماته په جنت کي په خپل خوا کي کور جوړ راکړې نو الله جل جلاله ورته په دنيا کي ددې دجنت کور وښووی او داددې ده يوه کرامت ثبوت هم سو.

معارف القرآن ج ۱۰ پ۲۸ص۲۰٦

وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ﴿۱۰﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا

وَّقِيْلَ	ادْخُلَا	النَّارَ	مَعَ الدّٰخِلِيْنَ	وَضَرَبَ	اللّٰهُ	مَثَلًا
او وويل سوه	ننوځئ تاسي دواړی	اور ته	سره له نورو ننوتونکو	او بيان کړی دی	الله	يو مثال

او وويل سوه ننوځئ تاسي دواړی (دوزخ ته) سره له نورو ننوتونکو (کافرانو) او بيان کړی دی الله يو مثال

لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ

لِّلَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	امْرَاَتَ	فِرْعَوْنَ	اِذْ قَالَتْ	رَبِّ	ابْنِ
دپاره دهغو کسانو	چي ايمان يئ راوړی دی	ښځه	دفرعون	کله چي وويل دی	ای ربه زما	جوړ کړه

دپاره دهغو کسانو چي ايمان يئ راوړی دی ښځه د فرعون ، کله چي وويل دی ای ربه زما جوړ کړه

لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ

لِيْ عِنْدَكَ	بَيْتًا	فِي الْجَنَّةِ	وَنَجِّنِيْ	مِنْ فِرْعَوْنَ	وَعَمَلِهٖ
ماته دخپل ځان سره	يو کور	په جنت کښی	او نجات راکړه ماته	دفرعون څخه	او له عملی دده څخه

ماته په نزد خپل يو کور په جنت کښی او ومی ژغوره (خلاصه) می کړه له عذاب د فرعون څخه او له عملی دده څخه

وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ

وَنَجِّنِيْ	مِنَ الْقَوْمِ	الظّٰلِمِيْنَ	وَمَرْيَمَ	ابْنَتَ	عِمْرٰنَ
او ومی ژغوره	له قومه	دظالمانو څخه	او مريم	لور	دعمران

او ومی ژغوره (خلاصه) می کړه له قومه ظالمانو څخه ، او مريم لور د عمران

الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا

الَّتِيْٓ	اَحْصَنَتْ	فَرْجَهَا	فَنَفَخْنَا	فِيْهِ	مِنْ رُّوْحِنَا
هغه چي	ساتلی يئ ؤ	ځای دشهوت خپل	نو ومو پوکل	په (گريوان دهغی) کښی	له روح خپل څخه

هغه چي ساتلی ؤ ځای د شهوت خپل (له نکاح او سفاح څخه) نو ومو پوکل (په گريوان دهغی) کښی له روح خپل څخه

٢٠ ع ٢ وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ﴿۱۲﴾

وَصَدَّقَتْ	بِكَلِمٰتِ	رَبِّهَا	وَكُتُبِهٖ	وَكَانَتْ	مِنَ الْقٰنِتِيْنَ
او تصديق کړی ؤ هغی	په خبرو	درب خپل باندی	او په کتابونو دده	او وه دا له	امرمنونکو څخه

او تصديق باور کړی ؤ هغی په خبرو درب خپل باندی او په کتابونو د ده او وه دا له امرمنونکو فرمان وړونکيو څخه .

اٰیاتونه ٣٠ | ٦٧ سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ ٧٧ | رکوعي ٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ۡ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۨ ۝١

تَبٰرَكَ	الَّذِيْ	بِيَدِهِ	الْمُلْكُ	وَهُوَ	عَلٰى	كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ
دلوی برکت خاوند دی	هغه (الله)	چی په لاس دده کښی	سلطنت دی	او هم دغه (الله)	پر	هر شی	بنه قادر دی

ډیر برکت کوی هغه (الله) چی په لاس (بلاکیف) دده کښی دی ملک سلطنت او هم دغه (الله) پر هر شی بنه قادر دی.

الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ

الَّذِيْ	خَلَقَ	الْمَوْتَ	وَالْحَيٰوةَ	لِيَبْلُوَكُمْ	اَيُّكُمْ	اَحْسَنُ
هغه (الله)	چی پیدا کړی یئ دی	مرګ	او ژوندون	دپاره ددی چی وازموئی تاسی	چی کوم یو له تاسی	ډیر بنه دی

هغه (الله) چی پیدا کړی یئ دی مرګ او ژوندون دپاره ددی چی وازموئی تاسی چی کوم یو له تاسی ډیر بنه دی

عَمَلًا ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۝٢ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ

عَمَلًا	وَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْغَفُوْرُ	الَّذِيْ	خَلَقَ	سَبْعَ
دعمل له مخی	او هم دغه (الله)	بنه غالب قوی دی	ډیر مغفرت کوونکی دی	هغه (الله)	چی پیدا کړی یئ دی	اووه

دعمل له مخی ،او هم دغه (الله) بنه غالب قوی دی ډیر مغفرت کوونکی دی.هغه (الله) چی پیدا کړی یئ دی اووه (۷)

سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ۭ مَا تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ ۭ فَارْجِعِ

سَمٰوٰتٍ	طِبَاقًا	مَا تَرٰى	فِيْ خَلْقِ	الرَّحْمٰنِ	مِنْ تَفٰوُتٍ	فَارْجِعِ
آسمانونه	طبقی طبقی	وبه نه وینی ته	په پیدا ابینت	درحمٰن کښی	هیڅ تفاوت	بیا واړوه

آسمانونه طبقی طبقی لاندی باندی وبه نه وینی ته په پیدا ابینت درحمٰن کښی هیڅ تفاوت خلل عیب فرق، بیا واړوه (خپلی)

الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ۝٣ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ

الْبَصَرَ	هَلْ تَرٰى	مِنْ فُطُوْرٍ	ثُمَّ	ارْجِعِ	الْبَصَرَ	كَرَّتَيْنِ
سترګی	چی آیا وینی ته	څه څیری والی	بیا	وګرځوه	سترګی خپلی	دوه دوه واره

سترګی چی آیا وینی ته (پکښی) څه چاود څیری والی نقصان. بیا وګرځوه سترګی خپلی دوه دوه ځلی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى.. دسورت ملک فضیلتونه: دغه سورت ته په حدیث شریف کي سورت واقیة، او سورت منجیة هم فرمایلي دي: دواقیة معنی دحفاظت کوونکي، او دمنجیة معنی ده نجات ورکوونکي په حدیث شریف کي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي هي المانعة هي المنجیة تنجیه من عذاب القبر یعني دا سورت عذاب منع کوونکی او دعذاب څخه نجات ورکوونکی دی دی به خپل لوستونکی دقبر دعذاب څخه ساتي رواه الترمذی او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي زما زړه غواړي چي سورت ملک دهر مومن په زړه کي وي او دحضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي په قرآن کریم کي یو سورت داسي دی دکم چي دیرش ایتونه دي دقیامت په ورځ به دی دیوه سړي سفارش کوي تر دې چي دی به دجهنم څخه راوباسي او جنت ته به یي داخل کړي او هغه سورت تبارک الذی دی: قرطبي.
(معارف القرآن ج ١٠ پ٢٩ ص ٨)

يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ٤ وَلَقَدْ زَيَّنَّا

يَنْقَلِبْ	اِلَيْكَ	الْبَصَرُ	خَاسِئًا	وَّهُوَ	حَسِيْرٌ	وَلَقَدْ	زَيَّنَّا
بیرته به راوګرځی	تاته	سترګی	ذلیله اوستومنه	او دغه (به)	ذلیلی ستړی وی	او خامخا په تحقیق	ښائسته کړی دی موږ

بیرته به راوګرځی تاته سترګی بیرته ګرځیدونکی او دغه (به) ذلیلی ستړی وی . او خامخا په تحقیق ښائسته کړی دی موږ

السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ

السَّمَآءَ	الدُّنْيَا	بِمَصَابِيْحَ	وَجَعَلْنٰهَا	رُجُوْمًا	لِّلشَّيٰطِيْنِ
دا آسمان	ډیر نژدی	په څراغانو سره	او ګرځولی دی موږ دغه	ویشتونکی	شیطانانو لره

دا آسمان ډیر نژدی (مخکی ته) په ډیوو ستوریو سره ، او ګرځولی دی موږ دغه (ستوری) ویشتونکی شیطانانو لره

وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ٥ وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ

وَاَعْتَدْنَا	لَهُمْ	عَذَابَ	السَّعِيْرِ	وَلِلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِرَبِّهِمْ
او تیار کړی دی موږ	دوی لره	عذاب	ډیر سوځوونکی	او سته دپاره دهغو کسانو	چی کافران سوی دی	په رب خپل باندی

او تیار کړی دی موږ دوی لره عذاب ډیر سوځوونکی . او سته دپاره دهغو کسانو چی کافران سوی دی په رب خپل باندی

عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ٦ اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا

عَذَابُ	جَهَنَّمَ	وَبِئْسَ	الْمَصِيْرُ	اِذَآ اُلْقُوْا	فِيْهَا	سَمِعُوْا	لَهَا
عذاب	دجهنم	او بد	ځای دورتللو دی	کله چی وغورځولی سی	په دغه کښی	وابه وری دوی	دغه لره

عذاب د جهنم دوزخ او بد ځای د ورتللو دی (دا دوزخ). کله چی وغورځولی سی په دغه (اور) کښی وابه وری دوی دغه لره

شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ ٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا

شَهِيْقًا	وَّهِيَ	تَفُوْرُ	تَكَادُ	تَمَيَّزُ	مِنَ الْغَيْظِ	كُلَّمَآ	اُلْقِيَ	فِيْهَا
لوی بد آواز	او هغه به	جوش وهی	نژدی به وی	چی ټوټی ټوټی سی	له قهره	هرکله چی	وغورځوله سی	پکښی

لوی بد آواز او هغه به خوټیږی. نژدی به وی چی ټوټی ټوټی سی له قهره هر کله چی وغورځوله سی پکښی

فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ ٨ قَالُوْا بَلٰى

فَوْجٌ	سَاَلَهُمْ	خَزَنَتُهَآ	اَلَمْ يَاْتِكُمْ	نَذِيْرٌ	قَالُوْا	بَلٰى
یوه ډله	پوښتنه به وکړی له هغوی څخه	چوکیداران د دوزخ	آیا نه ؤ راغلی تاسی ته	بیروونکی	نو وبه وایئ	هو !

یوه ډله (دمنکرانو) پوښتنه به وکړی له هغوی څخه خازنانی د دوزخ آیا نه ؤ راغلی تاسی ته بیروونکی . نو وبه وایئ هو !

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ. اسمان الله جَلَّ جَلَالُهُ په ستورو سره ښایسته کړی دی: دمصابیح څخه مراد ستوري دي او دلاندي آسمان په ستورو سره دښایسته کولو دپاره داضروري نه ده چي ستوري دي په آسمان کي دننه یا په ده پوري لګیدلي وي بلکي داښایست په دې صورت کي هم صادق دی چي ستوري دآسمان څخه ډیر لاندي په خلا کي وي لکه چي په نوي تحقیق سره ددې مشاهده کیږي دا دهغه منافي نه ده :او ستوري دشیطانانو ددفع کولو دپاره دانګار جوړولو دامطلب هم کیدای سي چي دستورو څخه څه آتشین ماده ددوی طرف ته وغورځول سي او ستوري دي پر خپل ځای باندي وي دعوامو په نظر کي چونکي دا شعله دستوري په شان حرکت کوونکې په نظر راځي په دې وجه دې ته ستوري ماتیدل او په عربي ژبه کي انقضاض الکواکب ورته وایي: قرطبي ددې څخه دا هم معلومه سوه چي شیطانان کم چي دآسماني خبرو دغلا دپاره آسمان ته خیژي هغه په ستورو سره لاندي دفع کیږي. (معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۱۲)

قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۚ اِنْ اَنْتُمْ

قَدْ جَآءَنَا	نَذِيْرٌ	فَكَذَّبْنَا	وَقُلْنَا	مَا نَزَّلَ	اللّٰهُ	مِنْ شَيْءٍ	اِنْ اَنْتُمْ
په تحقيق راغلی ؤ موږ ته	بيروونکی	نو دروغجن وباله موږ دی	او وويل موږ	نه دی راليږلی	الله	هيڅ شی	نه يئ تاسی

په تحقيق راغلی ؤ موږ ته بيروونکی (پيغمبر) نو دروغجن وباله موږ دی او وويل موږ نه دی راليږلی الله هيڅ شی نه يئ تاسی

اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ⑨ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا

اِلَّا	فِيْ ضَلٰلٍ	كَبِيْرٍ	وَقَالُوْا	لَوْ كُنَّا	نَسْمَعُ	اَوْ نَعْقِلُ	مَا كُنَّا
مګر	په ګمراهی	لويه کبنی	او وبه وايئ	که چيری وی موږ	چی اوريدلی مو	يا مو عقل لرلی	نو نه به وو موږ

مګر په ګمراهی لويه کبنی. او وبه وايئ (منکران) که چيری وی موږ چی اوريدلی مو يا مو عقل لرلی نو نه به وو موږ (نن)

فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ⑩ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ

فِيْٓ اَصْحٰبِ	السَّعِيْرِ	فَاعْتَرَفُوْا	بِذَنْۢبِهِمْ	فَسُحْقًا	لِّاَصْحٰبِ
په ملګرو	دوزخ کبنی	نو اقرار يئ وکړ دوی	په ګناه خپلی باندی	نو ليری والی دی	خاوندانو

په اهل، ملګرو د دوزخ کبنی. نو اقرار يئ وکړ (قائل سول) دوی په ګناه خپلی باندی نو ليری والی دی خاوندانو

السَّعِيْرِ ⑪ اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ

السَّعِيْرِ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	يَخْشَوْنَ	رَبَّهُمْ	بِالْغَيْبِ	لَهُمْ	مَّغْفِرَةٌ
د دوزخ لره	بيشکه!	هغه کسان	چی بيريږی	له رب خپل	په غيب سره	سته دوی ته	مغفرت

د دوزخ لره. بيشکه! هغه کسان چی بيريږی له رب خپل په غيب سره سته دوی ته مغفرت (د ګناهونو)

وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ⑫ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ

وَّاَجْرٌ	كَبِيْرٌ	وَاَسِرُّوْا	قَوْلَكُمْ	اَوِ اجْهَرُوْا	بِهٖ	اِنَّهٗ	عَلِيْمٌۢ
او اجر	ډير لوی	او که پټوئ تاسی	خبره خپله	او که ښکاروئ	هغه خبره	بيشکه! هغه	ښه پوهه دی

او اجر ثواب ډير لوی (جنت). او که پټوئ تاسی خبره خپله او که ښکاروئ (هغه خبره) بيشکه! هغه (الله) عليم ښه دانا دی

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ⑬ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ۚ وَهُوَ اللَّطِيْفُ

بِذَاتِ	الصُّدُوْرِ	اَلَا يَعْلَمُ	مَنْ خَلَقَ	وَهُوَ	اللَّطِيْفُ
په پټو خبرو	دسينو باندی هم	آيا نه پوهيږی	هغه (الله) چی پيدا کړی يئ دی	او هغه (الله) دی	باريک ليدونکی دی

په پټو خبرو د سينو باندی هم. آيا نه پوهيږی (په پټو) هغه (الله) چی پيدا کړی يئ دی (زرونه) او هغه (الله) دی عليم دانا

قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ.. دوزخ محافظه فرشتي به دوزخيانو څخه پوښتنه وکړي: په دغه اياتو نو کي دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي کله دکافرانو يوه ډله په دوزخ کي واچول سي نو دهغه محافظين به دهغو خلګو څخه پوښتنه وکړي چي آيا تاسي ته بيروونکی پيغمبر نه وو راغلی کم چي تاسي دالله ﷻ دعذاب څخه بيرولي وای چي مقتضا يي داوه چي ددې څخه دساتني تياري مو کړې وای او اوس ددې څخه محفوظ سوي وای: داسوال به په طور دزورني وي يعني پيغمبرخو راغلی وو او داپوښتنه به دهري نوي راتلونکو ډلي څخه کول کيږي ځکه چي دوزخ ته به دتفوت او مرتبو مطابق ټولي فرقې دکفارو په يو بل پسې ورځي هغه کافران به په طور داعتراف ووايي چي واقعي موږ ته بيروونکي پيغمبر راغلی وو پس زموږ بد بختي وه چي موږ هغه درواغ کړي وه او موويل چي خدای ﷻ دقبيلې څخه داحکامو او کتابونو هيڅ نه دي نازل کړي اوتاسي په لويه غلطي کي لويدلي واست الخ. (معارف القرآن ج١٠پ٢٩ ص ٥)

ع ۱۴

الْخَبِيْرُ ۝۱۴ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا

الْخَبِيْرُ	هُوَ الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الْاَرْضَ	ذَلُوْلًا	فَامْشُوْا
ښه خبردار دی	دغه (الله) همغه ذات دی	چې ګرځولې يئ ده	تاسی ته	مځکه	پسته، تابعداره	نو ځئ ګرځئ تاسی

ښه خبردار دی. دغه (الله) همغه ذات دی چې ګرځولې يئ ده تاسی ته مځکه پسته تابعداره نو ځئ ګرځئ تاسی

فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ۭ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ۝۱۵

فِيْ مَنَاكِبِهَا	وَكُلُوْا	مِنْ رِّزْقِهٖ	وَاِلَيْهِ	النُّشُوْرُ
په اوږو اطرافو ددی مځکی	او خورئ تاسی	له رزق ددغه (الله)	او خاص دغه (الله) ته	بيا راپورته کيدل ستاسی دی

په اوږو اطرافو ددی مځکی او خورئ تاسی له رزق ددغه (الله) او خاص دغه (الله) ته بيا راپورته کيدل ستاسی دی

ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَاۗءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ

ءَاَمِنْتُمْ	مَّنْ فِي السَّمَاۗءِ	اَنْ يَّخْسِفَ	بِكُمُ الْاَرْضَ	فَاِذَا	هِيَ
آيا په امن کی يئ تاسی	له هغه چې په آسمانونو کښی دی	چې کښته يئ ننه باسی	تاسی په مځکه کښی	بيا به ناڅاپه هلته	دا

آيا ډاډه سوی يئ تاسی له هغه (الله) چې په آسمانونو کښی دی چې راپورته به کړی په تاسی باندی مځکه بيا به ناڅاپه هلته دا

تَمُوْرُ ۝۱۶ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَاۗءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ

تَمُوْرُ	اَمْ اَمِنْتُمْ	مَّنْ	فِي السَّمَاۗءِ	اَنْ يُّرْسِلَ	عَلَيْكُمْ
لړزيږی	آيا ډاډه سوی يئ تاسی	له هغه	چې په آسمانونو کښی دی	له دی څخه چې وبه ليږی	په تاسی باندی

(مځکه) لړزيږی. آيا ډاډه سوی يئ تاسی له هغه (الله) چې په آسمانونو کښی دی له دی څخه چې وبه ليږی په تاسی باندی

حَاصِبًا ۭ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ۝۱۷ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ

حَاصِبًا	فَسَتَعْلَمُوْنَ	كَيْفَ	نَذِيْرِ	وَلَقَدْ	كَذَّبَ	الَّذِيْنَ
کاڼی ويشتونکی باد	نو ژر ده چې پوه به سئ تاسی	چې څرنګه ؤ	ييرول زما	او خامخا په تحقيق	دروغجن کړی ؤ	هغو چې

کاڼی ويشتونکی باد نو ژر ده چې پوه به سئ تاسی چې څرنګه ؤ ييرول زما. او خامخا په تحقيق دروغجن کړی ؤ هغه چې

مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝۱۸ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ

مِنْ قَبْلِهِمْ	فَكَيْفَ	كَانَ	نَكِيْرِ	اَوَلَمْ يَرَوْا	اِلَى الطَّيْرِ	فَوْقَهُمْ
پخوا له دغو څخه ؤ	نو څنګه	ؤ	عذاب زما	آيا نه ګوری دوی	مرغانو ته	له پاسه دسرونو د دوی

پخوا له دغو (کفارو) څخه ؤ نو څنګه ؤ انکار دعذاب زما. آيا نه ګوری دوی مرغانو ته له پاسه د سرونو د دوی

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا... الله ﷻ همغه ذات دی چې مځکه يې ستاسي دپاره مسخره کړې ده: دذلول لفظي معنی منقاد او مطيع کيدل دي: هغه حيوان ته ذلول ويل کيږي کم چې په سپريدو کې شوخي نه کوي: مناکب دمنکب جمع ده اوږې ته وايي ديو حيوان اوږه هم دسپرلی ځای نه وي بلکې ملا او شايي وي کم حيوان چې دسپريدونکو دپاره خپلې اوږې هم پيش کړي هغه ډير تابعداره منقاد او مسخر کيدای سي په دې وجه يې وفرمايل چې مځکه موږ ستاسي دپاره داسي مسخر کړيده چې تاسي دهغې پر اوږو باندي ګرځئ مځکې ته الله ﷻ يو داسي قِوام وربخښلی دی چې نه داوبو په شان سياله او بهيدونکې ده او نه دپنبې او دختو په شان تنباسونکې ده ځکه چې که مځکه داسي وای نو پر دې به هيڅ انسان اوسيدل او پاته کيدل ممکن نه وای دغه شان مځکه يې داوسپنې په شان سخته هم نه ده جوړه کړې که داسي وای نو په دې کې به درختې او فصل نه سوای کرل کيدلای نو بيا به مشکل وای. (معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۱۳)

صٰٓفّٰتٍ وَّیَقۡبِضۡنَ ؕۘ مَا یُمۡسِکُهُنَّ اِلَّا الرَّحۡمٰنُ ؕ اِنَّهٗ

صٰٓفّٰتٍ	وَّیَقۡبِضۡنَ	مَا یُمۡسِکُهُنَّ	اِلَّا الرَّحۡمٰنُ	اِنَّهٗ
خلاصوی وزرونه	او ټولوی	نه ساتی دوی په هوا کښې	مګر خورحمٰن	بیشکه! هغه (الله)

پرانیځی وزرونه او ټولوی (وزرونه) نه ساتی دوی په هوا کښې له پریوتو مګر خورحمٰن (یئ ساتی) بیشکه! هغه (الله)

بِکُلِّ شَیۡءٍۭ بَصِیۡرٌ ﴿۱۹﴾ اَمَّنۡ هٰذَا الَّذِیۡ هُوَ جُنۡدٌ لَّکُمۡ یَنۡصُرُکُمۡ

بِکُلِّ شَیۡءٍۭ	بَصِیۡرٌ	اَمَّنۡ	هٰذَا الَّذِیۡ	هُوَ	جُنۡدٌ لَّکُمۡ	یَنۡصُرُکُمۡ
په هر شی باندی	ښه لیدونکی دی	آیا څوک دی	هغه ذات چی	هغه	لښکر ستاسی سئ	چی مرسته وکړی له تاسی سره

په هر شی باندی ښه لیدونکی دی. آیا څوک دی هغه (ذات) چی هغه لښکر ستاسی چی مرستی وکړی له تاسی سره

مِّنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ ؕ اِنِ الۡکٰفِرُوۡنَ اِلَّا فِیۡ غُرُوۡرٍ ﴿۲۰﴾ اَمَّنۡ هٰذَا

مِّنۡ دُوۡنِ	الرَّحۡمٰنِ	اِنِ الۡکٰفِرُوۡنَ	اِلَّا	فِیۡ غُرُوۡرٍ	اَمَّنۡ	هٰذَا
بی له	رحمٰن څخه	نه دی کافران	مګر خو	په غرور، غولیدلو کښې دی	آیا څوک دی	هغه (ذات)

بی له رحمٰن څخه نه دی کافران مګر خو په غرور غولیدلو کښې دی. آیا څوک دی هغه (ذات)

الَّذِیۡ یَرۡزُقُکُمۡ اِنۡ اَمۡسَکَ رِزۡقَهٗ ۚ بَلۡ لَّجُّوۡا فِیۡ عُتُوٍّ وَّ نُفُوۡرٍ ﴿۲۱﴾

الَّذِیۡ	یَرۡزُقُکُمۡ	اِنۡ اَمۡسَکَ	رِزۡقَهٗ	بَلۡ لَّجُّوۡا	فِیۡ عُتُوٍّ	وَّ نُفُوۡرٍ
چی	رزق درکړی تاسی ته	که چیری بند کړی درڅخه	رزق خپل	بلکه ټنوتلی دی دوی	په سرکشی	او نفرت کښې

چی رزق درکړی تاسی ته که چیری بند کړی (الله) درڅخه رزق خپل، بلکه ټنوتلی دی دوی په سرکشی او نفرت کښې

اَفَمَنۡ یَّمۡشِیۡ مُکِبًّا عَلٰی وَجۡهِهٖۤ اَهۡدٰۤی اَمَّنۡ یَّمۡشِیۡ سَوِیًّا

اَفَمَنۡ	یَّمۡشِیۡ	مُکِبًّا	عَلٰی	وَجۡهِهٖۤ	اَهۡدٰۤی	اَمَّنۡ یَّمۡشِیۡ	سَوِیًّا
آیا پس هغه څوک	چی ځی	نسکور	پر	مخ خپل باندی	ښه لاره پیدا کوونکی وی	یا هغه څوک چی ځی	برابر سم

آیا پس هغه څوک چی ځی نسکور په مخ خپل باندی ښه لار پیدا کوونکی وی یا هغه څوک چی ځئ برابر سم

عَلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۲۲﴾ قُلۡ هُوَ الَّذِیۡۤ اَنۡشَاَکُمۡ وَ جَعَلَ

عَلٰی	صِرَاطٍ	مُّسۡتَقِیۡمٍ	قُلۡ	هُوَ الَّذِیۡۤ	اَنۡشَاَکُمۡ	وَ جَعَلَ
پر	لاری	سمی باندی	ووایه (محمده)	دغه (الله) هغه ذات دی	چی پیدا کړی یئ یاست تاسی	او ګرځولی یئ دی

په لاری سمی باندی، ووایه (محمده!) دغه (الله) هغه ذات دی چی پیدا کړی یئ یاست تاسی او ګرځولی یئ دی

اَمَّنۡ هٰذَا الَّذِیۡ هُوَ جُنۡدٌ لَّکُمۡ یَنۡصُرُکُمۡ... کافران الله ﷻ دخپل عذاب څخه بیرولی دي: ددې ځایه څخه دسورت تر ختمیدو پوري الله ﷻ کافران فاجران او بدعمله کسان دخپل عذاب څخه بیرولي دي اول یي پر دې خبرداری ورکړی دی چي که الله ﷻ پر یو قوم باندي عذاب نازلول وغواړي نو ددنیا یو طاقت یي هم نه سي منع کولای ستاسي لښکري او سپایان دهغه دعذابه څخه تاسي نه سي ساتلای ارشاد فرمایي: امّن هذالذی هو جند لکم ینصرکم من دون الرحمن ان الکافرون الا فی غرور: ددې څخه یي وروسته په دې سره وبیرول چي الله ﷻ کم رزق دآسمان څخه داوبو په اورولو کي او دمځکي څخه دبوټو په شنه کولو کي تاسي ته درکوي داڅه ستاسي ذاتي جاګیر نه دی بلکي دالله ﷻ عطا او بخشش دی هغه دابندولی هم سي د: امّن هذالذی یرزقکم ان امسک رزقه هم دا مطلب دی مخ ته دکفارو پر حالت باندي افسوس دی کم چي دالله ﷻ دقدرت په ایاتونو کي نه غور کوي او نه دنورو خبره اوري الخ.
(معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص ۱۵)

لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾

لَكُمُ	السَّمْعَ	وَالْأَبْصَارَ	وَالْأَفْئِدَةَ	قَلِيلًا مَّا	تَشْكُرُونَ
تاسی ته	غوږونه	او سترګی	او زړونه	ډیر لږ	شکر باسئ تاسی

تاسی ته غوږونه او سترګی او زړونه ډیر لږ شکر باسئ تاسی (په دغو ډیرو نعماؤ دالله)

قُلْ هُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

قُلْ	هُوَ الَّذِي	ذَرَأَكُمْ	فِي الْأَرْضِ	وَإِلَيْهِ	تُحْشَرُونَ
ووایه	دغه (الله) هغه ذات دی	چی پیداء یئ کړی تاسی	په مځکه کښی	او خاص ده ته به	راټول کړی سئ تاسی

ووایه (ای محمده!) دغه (الله) هغه ذات دی چی یئ پیداء کړئ تاسی په مځکه کښی او خاص ده ته به راټول کړل سئ تاسی

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلْ إِنَّمَا

وَيَقُولُونَ	مَتَىٰ	هَٰذَا الْوَعْدُ	إِن كُنتُمْ	صَادِقِينَ	قُلْ	إِنَّمَا
او وایئ دغه کفار	کله به وی	دا وعده	که چیری یئ تاسی	صادقان	ووایه	بیشکه! هم دا خبره ده

او وایئ دغه کفار کله به وی دا وعده که چیری یئ تاسی رښتینی صادقان. ووایه (ای محمده! دوی ته) بیشکه !دی خبری

الْعِلْمُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً

الْعِلْمُ	عِندَ اللَّهِ	وَإِنَّمَا	أَنَا	نَذِيرٌ	مُّبِينٌ	فَلَمَّا	رَأَوْهُ	زُلْفَةً
ددی خبری علم	په نزد الله دی	او بیشکه!	زه	بیروونکی یم	ښکاره	پس کله چی	وويني دوی هغه	ډیر نژدی

علم، په نزد الله دی او بیشکه! زه بیروونکی یم ښکاره (له جحیمه). پس کله چی وويني دوی هغه (عذاب) ډیر نژدی

سِيئَتْ وُجُوهُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَقِيلَ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم

سِيئَتْ	وُجُوهُ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	وَقِيلَ	هَٰذَا	الَّذِي	كُنتُم
نو خراب سئ	مخونه	دهغو کسانو	چی کافران سوی دی	او وویل به سی	دا	همغه دی	چی وی به تاسو

نو بد شکله تور به سی مخونه دهغو (کسانو) چی کافران سوی دی او وویل به سی (دوی ته) دا همغه دی چی وی به تاسو

بِهِ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللَّهُ وَمَن

بِهِ	تَدَّعُونَ	قُلْ	أَرَأَيْتُمْ	إِنْ أَهْلَكَنِيَ	اللَّهُ	وَمَن
چی دغه مو	(ژر) غوښتلو	ووایه	آیا وینئ تاسی	که چیری هلاک می کړی	الله	او هغه څوک چی

چی دغه مو (ژر) غوښتلو. ووایه (محمده) آیا وینئ خبرا کړئ تاسی ماته که چیری هلاک می کړی الله او هغه څوک چی

لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۚ سترګي، غوږونه، او زړه دالله ﷻ دلویو نعمتونو څخه دي: یعني ته ووایه چي الله ﷻ هغه ذات دی کم چي تاسي پیدا کړي یاست او ستاسي غوږونه او سترګي اوزړونه يي جوړ کړل مګر تاسي خلګ شکر نه اداء کوی.په دغه آیت کي الله ﷻ دانسان په اندامونو کي دهغه درو اندامونو ذکر وکړی پر کمو چي علم ادراک اوشعور موقوف دی فلاسفه وودعلم او ادراک پنځه ذریعي بیان کړي دي کم ته چي حواس خمسه وايي یعني اوریدل لیدل، بویول، څکل، مسه کول، دبویولو دپاره پزه، دڅکلو دپاره ژبه ،او دمسه کولو قدرت په ټول بدن کي الله ﷻ ایښی دی، داوریدو دپاره يي غوږونه جوړ کړي دي، او دلیدلو دپاره يي سترګي جوړي کړي دي. دلته حق تعالی ﷻ په دغه پنځو شیانو کي دوه ذکر کړي دي یعني غوږونه او سترګي وجه داده چي په بویولو سره او په چیښلو سره دډیرو کمو شیانو علم انسان ته حاصلیږي دده دمعلوماتو لوی داراومدار پر اوریدلو او لیدلو باندي دی. پاته بیان پرراروان مخ وګوری.

مَّعِيَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ

مَّعِيَ	اَوْ رَحِمَنَا	فَمَنْ	يُّجِيْرُ	الْكٰفِرِيْنَ	مِنْ عَذَابٍ	اَلِيْمٍ	قُلْ هُوَ
زما سره دی	یا رحم وکړی پرموږ	پس څوک دی	چی خلاص به کړی	کافران	له عذابه	دردناکه څخه	وواېه دی

زما سره دی یا رحم وکړی (الله) پر موږ باندی پس څوک دی چی خلاص به کړی کافران له عذابه دردناکه څخه . وواېه دی

الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ

الرَّحْمٰنُ	اٰمَنَّا	بِهٖ	وَعَلَيْهِ	تَوَكَّلْنَا	فَسَتَعْلَمُوْنَ
رحمٰن دی	چی ایمان مو راوړی دی	پر هغه باندی	او پر هغه باندی	توکل کړی دی موږ	نو ژر به پوه سی تاسی

رحمٰن دی چی ایمان مو راوړی دی پر هغه باندی او پر همغه (رحمٰن) باندی توکل کړی دی موږ .نو ژر به پوه سی تاسی

مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ

مَنْ هُوَ	فِيْ ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ	قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	اِنْ اَصْبَحَ	مَآؤُكُمْ
چی څوک دی هغه	چی په ګمراهی	ښکاره کښې دی	وواېه	آیا وینئ تاسی	که چیری وګرځی	اوبه ستاسی

چی څوک دی هغه چی په ګمراهی ښکاره کښې دی. وواېه (محمده) آیا وینئ تاسی که چیری سهار وګرځی اوبه ستاسی

غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾

غَوْرًا	فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ	بِمَآءٍ	مَّعِيْنٍ
کښته	نو څوک دی هغه چی راولی تاسی ته	اوبه	روانی، شفافی

کښته (په مځکه کښ ننوتلی ورکی) نو څوک دی هغه چی راولی تاسی ته اوبه روانی شفافی ، پاکی ، صافی .

اٰیاتونه ٥٢ | ٦٨ سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ ٢ | رکوعی ٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴿١﴾ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ

نٓ	وَالْقَلَمِ	وَمَا	يَسْطُرُوْنَ	مَآ اَنْتَ	بِنِعْمَةِ	رَبِّكَ
نون	قسم دی په قلم	او په هغه څه	چی دوی یئ لیکی	چی نه یئ ته	په نعمت	درب خپل سره

نون. قسم دی په قلم او په هغه څه چی دوی یئ لیکی چی نه یئ ته (ای محمده!) په نعمت (فضل انعام) درب خپل سره

ع٢/٢

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ...دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری :
او په دي کي يي هم اوريدل مقدم کړل پر ليدلو باندي چي فکر وسي نو معلومه به سي چي انسان ته په خپل عمر کي څومره معلومات سوي دي په هغه کي اوريدل سوي شيان په نسبت دليدل سوو شيانو ډير زيات دي په دې وجه يي دلته په حواس خمسه وو کي صرف پر دوو باندي بس والی کړی دی چي ډير انساني معلومات صرف په دغه دوو لاروباندي حاصليږي : او دوهم شی يي زړه ښوولی دی چي دا په اصل کي دعلم بنياد اومرکز دی په غوږونو سره داوريدل سوو او په سترګو سره دليدل سوو شيانو علم هم پر زړه موقوف دی دقرآن کريم ډير اياتونه پر دې باندي شاهددي چي زړه يي دعلم مرکز مقرر کړی دی پر خلاف دفلاسفه ووچي هغوی دماغ ددې مرکز مني ددې څخه وروسته بيا کفارو او منکرينو ته دا خبرداری او دعذاب د وعدې بيان سوی دی چي ترڅه وخته به لا په دي کفر او سرکشي او دالله جل جلاله خلاف په بغاوت کي مبتلا ياست.
معارف القرآن ج ١٠ پ ٢٩ ص ١٥

بِمَجۡنُوۡنٍ ۞٢ وَاِنَّ لَكَ لَاَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُوۡنٍ ۞٣ وَاِنَّكَ لَعَلٰى

بِمَجۡنُوۡنٍ	وَاِنَّ لَكَ	لَاَجۡرًا	غَيۡرَ مَمۡنُوۡنٍ	وَاِنَّكَ	لَعَلٰى
ليونى	او بيشكه! خاص تالره	خامخا اجر	بى انتهاء دى	او بيشكه! چې يئ ته	خامخا پر

ليونى. او بيشكه! چې دى خاص تالره خامخا اجر بدل ثواب بى انتهاء. او بيشكه! چې يئ ته (محمده) خامخا په

خُلُقٍ عَظِيۡمٍ ۞٤ فَسَتُبۡصِرُ وَيُبۡصِرُوۡنَ ۞٥ بِاَيِّكُمُ الۡمَفۡتُوۡنُ ۞٦

خُلُقٍ	عَظِيۡمٍ	فَسَتُبۡصِرُ	وَيُبۡصِرُوۡنَ	بِاَيِّكُمُ	الۡمَفۡتُوۡنُ
اخلاقو	ډيرلويو باندى	پس ژربه وويني ته	او وبه ويني دغه (منكران)	چې پركوم يوه له تاسو	ليونتوب دى

خلق خويونو (دين) ډير لوى باندى. پس ژربه وويني ته او وبه ويني دغه (منكران) چې پركوم يوه له تاسو څخه ليونتوب دى

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ ضَلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ ۖ وَهُوَ

اِنَّ رَبَّكَ	هُوَ	اَعۡلَمُ	بِمَنۡ	ضَلَّ	عَنۡ سَبِيۡلِهٖ	وَهُوَ
بيشكه! رب ستا چې دى	همغه ته	ډير ښه معلوم دى	هغه څوک	چې ګمراه سوى دى	له لارى دده څخه	او هم دى

بيشكه! رب ستا چې دى همغه ته ډير ښه معلوم دى هغه څوک چې ګمراه سوى دى له لارى دده څخه او همغه (الله) ته

اَعۡلَمُ بِالۡمُهۡتَدِيۡنَ ۞٧ فَلَا تُطِعِ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ۞٨ وَدُّوۡا لَوۡ تُدۡهِنُ

اَعۡلَمُ	بِالۡمُهۡتَدِيۡنَ	فَلَا تُطِعِ	الۡمُكَذِّبِيۡنَ	وَدُّوۡا	لَوۡ تُدۡهِنُ
ښه پوهه دى	په لاره پيدا كوونكو	نو ته مه منه (خبره)	د دروغجن كوونكو	خوښوى دوى	چې كه ته نرمى كوى

ښه معلوم دى لار موندونكى، نو ته مه منه (خبره) د دروغجن كوونكو خوښوى دوى چې كه ته نرمى كوى (له دوى سره)

فَيُدۡهِنُوۡنَ ۞٩ وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيۡنٍ ۞١٠ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍ

فَيُدۡهِنُوۡنَ	وَلَا تُطِعۡ	كُلَّ	حَلَّافٍ	مَّهِيۡنٍ	هَمَّازٍ	مَّشَّآءٍ
نو دوى به هم نرمى كوى	نو ته خبره مه منه	دهر	ډير قسم خوړونكى	سپک	عيب ويونكى	هر تلونكى

نو دوى به هم نرمى كوى. نو ته خبره مه منه دهر ډير قسم خوړونكى سپک. عيب ويونكى هر ګر زنده

بِنَمِيۡمٍ ۞١١ مَّنَّاعٍ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ اَثِيۡمٍ ۞١٢ عُتُلٍّ بَعۡدَ ذٰلِكَ زَنِيۡمٍ ۞١٣

بِنَمِيۡمٍ	مَّنَّاعٍ	لِّلۡخَيۡرِ	مُعۡتَدٍ	اَثِيۡمٍ	عُتُلٍّ	بَعۡدَ	ذٰلِكَ	زَنِيۡمٍ
په چغلئ سره	منع كوونكى	دخير	له حده تيريدونكى	ډير ګنهګار	بدخويه	وروسته	له دى ټولو عيبو	حرام زاده

په شيطانت سره .منع كوونكى دخير له حده تيريدونكى ډير ګنهګار. سخت ويونكى وروسته له دى ټولو عيبو حرام زاده

وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيۡمٍ..دنبي كريم ﷺ خلق عظيم او ښايسته اخلاق: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې دخلق عظيم څخه مراد دلته دين عظيم دى چې دالله جل جلاله په نزد دډ دين اسلام څخه زيات بل محبوب دين نسته حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې دنبي كريم ﷺ اخلاق خپله قرآن دى يعني قرآن كريم چې دكمو اعلى اخلاقو تعليم وركوي دى ﷺ دهغو ټولو عملي نمونه ده حضرت على رضي الله عنه فرمايي چې دخلق عظيم څخه مراد آداب القرآن دي يعني هغه آداب كم چې قرآن كريم ښوولي دي: حاصل دډ ټولو اقوالو تقريباً يو دى دنبي كريم ﷺ په وجود باوجود كي حق تعالى جل جلاله ټول اخلاق فاضله په درجه دكمال ايښي وه په خپله نبي كريم ﷺ فرمايي چې انّما بعثت لاتمم مكارام الاخلاق يعني زه ددې دپاره راليږل سوى يم چې زه داعلى اخلاقو تكميل په دې دنياكي دخپل امت په مخ كي پيش كړم او دا تكميل داخلاقو نبي كريم ﷺ سرته هم ورسوى څكه چې دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې ما لس.. پاته بيان پر راروان مخ وګورى.

أَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿١٤﴾ إِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ

اَنْ كَانَ	ذَا مَالٍ	وَّبَنِيْنَ	اِذَا تُتْلٰى	عَلَيْهِ	اٰيٰتُنَا	قَالَ
ددې دپاره چې وودی	خاوند دمال	او دزامنو	کله چې ولوستل سی	پر ده باندی	آیتونه زموږ	نووايئ

د دې دپاره چې دی خاوند دمال او دزامنو. کله چې ولوستل سی پر ده باندی آیتونه (دقرآن) زموږ نو وايئ

أَسَاطِيْرُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿١٥﴾ سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ﴿١٦﴾ إِنَّا بَلَوْنٰهُمْ

اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ	سَنَسِمُهُ	عَلَى الْخُرْطُوْمِ	اِنَّا	بَلَوْنٰهُمْ
داقصی دی	دپخوانیو	ژرده چې داغ به کښیږدو ده لره	پرپزه باندی	بیشکه! موږ	وموازمویل دوی

دا قصی نقلونه دی دپخوانیو (خلکو). ژرده چې داغ به کښیږدو ده لره پرپزه باندی. بیشکه! موږ ومو ازمویل دوی

كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوْا لَيَصْرِمُنَّهَا

كَمَا	بَلَوْنَآ	اَصْحٰبَ	الْجَنَّةِ	اِذْ اَقْسَمُوْا	لَيَصْرِمُنَّهَا
لکه چې	ازمویلي ؤ موږ	خاوندان	دباغ	کله چې قسمونه وخوړل دوی	خامخا پری به کړی میوی دهغه باغ

(مکیان) لکه چې ازمویلي ؤ موږ خاوندان دباغ، کله چې قسمونه وخوړل دوی تولو خامخاپری به کړو میوی دهغه باغ

مُصْبِحِيْنَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ﴿١٨﴾ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ

مُصْبِحِيْنَ	وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ	فَطَافَ	عَلَيْهَا	طَآئِفٌ
په اول وخت دسهار کښی	او استثنا یئ ونه کړه	پس نازله سوه	پر دغه (باغ)	یوه گرځیدونکی بلا

په اول وخت دسهار کښی. او استثنا یئ ونه کړه (انشاءالله یئ ونه ویل) . پس نازله سوه پر دغه (باغ) یوه طواف کوونکی

مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿١٩﴾ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوْا

مِّنْ رَّبِّكَ	وَهُمْ	نَآئِمُوْنَ	فَاَصْبَحَتْ	كَالصَّرِيْمِ	فَتَنَادَوْا
له (طرفه) درب ستا	او داچې دوی	بیده وه	پس تر سهار وختی پوری وگرځید	لکه ریبلی سوی کښت	نویو بل ته یئ وروغ کړل

له (طرفه) د رب ستا حال داچې دوی بیده وه پس تر سهار وختی پوری وگرځید (لکه هغه باغ) ريبلی سوی کښت .

مُصْبِحِيْنَ ﴿٢١﴾ أَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صٰرِمِيْنَ ﴿٢٢﴾

مُصْبِحِيْنَ	اَنِ اغْدُوْا	عَلٰى حَرْثِكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰرِمِيْنَ
سهار وختی	چې سهار له وخته ورسئ	کښتونو خپلو ته	که چیری یئ تاسی	پری کوونکی

نو یو بل ته وروغ کړل (په وخت دسهار کښی) چې سهار له وخته ورسئ کښتونو خپلو ته که چیری یئ تاسی پری کوونکی.

اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: کاله دنبي کریم ﷺ خدمت وکی په دې توله وخت کي نبي کریم ﷺ چي ما دي یو کار کړی وي ماته هیڅکله داسي نه دي فرمایلي چي داسي دي ولي وکړل او کم کار چي ما نه وي کړی په هغه کي هیڅکله نه دي راته ویلي چي داکار دي ولي ونه کړی حال دادی چي دا ظاهره ده چي دلسو کالو په وخت کي دخد مت کوونکي څخه ډیر کارونه خلاف طبع کیدای سي حضرت انس رضي الله عنه فرمایي چي دنبي کریم ﷺ دمکارم اخلاق دا حال وو چي دمدینې منورې یوي مینځي به نبي کریم ﷺ دلاس څخه ونیوی چي هر ځای به یي بیوی دی ﷺ به ورسره تلی: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي چي نبي کریم ﷺ هیڅکله هیڅوک په خپل لاس سره نه دی وهلی بغیر دجهاد فی سبیل الله څخه چي په دي کي دکفارو وهل او قتلول ثابت دي او نه ده ﷺ هیڅکله یو خادم یا ښځه وهلې ده په دوی کي چي به کله دچا څخه خطا هم وسوه نو انتقام یي نه دی ور څخه اخیستی: (پاته بیان پر راروان مخ وګوری)

فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ

فَانْطَلَقُوْا	وَهُمْ	يَتَخَافَتُوْنَ	اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا	الْيَوْمَ
نو ولاړل دوی	او دوی	پخپلو منځونو کښې پټې خبرې کولې	چې داخل نه سی خامخا هغه	نن ورځ

نو ولاړل دوی او دوی پخپلو منځونو کښې پټې خبرې کولې. چې داخل نه سی خامخا هغه (باغ ته) نن ورځ

عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا

عَلَيْكُمْ	مِّسْكِيْنٌ	وَّغَدَوْا	عَلٰى حَرْدٍ	قٰدِرِيْنَ	فَلَمَّا
پر تاسی باندی	هیڅ مسکین سړی	او سهار ولاړل	په منع دفقیرانو سره	حال داچې قادر وه	بیا هرکله چې

پر تاسی باندی هیڅ مسکین، محتاج سړی او سهار ولاړل په منع دفقیرانو سره (باغ ته) حال داچې قادر ؤ . بیا هرکله چې

رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾

رَاَوْهَا	قَالُوْٓا	اِنَّا	لَضَآلُّوْنَ	بَلْ نَحْنُ	مَحْرُوْمُوْنَ
ويې لید هغه	وی ویل	بیشکه! موږ	خامخا لاره ورکه کړی ده	بلکه موږ	پخپله محرومه، بې برخې سوی یو

ويې لید هغه (باغ) وی ویل بیشکه! موږ خامخا لاره ورکه کړی ده (دخپل باغ) بلکه موږ پخپله محرومه بې برخې سوی یو .

قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَ

قَالَ	اَوْسَطُهُمْ	اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ	لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ	قَالُوْا	سُبْحٰنَ
وویل	منځنی بهتر د دوی	آیا مانهٔ ویلی تاسی ته	ولی په پاکی نه یادوی تاسی الله	وویل دوی	پاکی ده

وویل منځنی بهتر د دوی آیا مانهٔ ویلی تاسی ته ولی په پاکی نه یادوی تاسی الله. وویل دوی پاکی د ه

رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

رَبِّنَآ	اِنَّا	كُنَّا	ظٰلِمِيْنَ	فَاَقْبَلَ	بَعْضُهُمْ	عَلٰى	بَعْضٍ
رب زموږ لره	بیشکه موږ	وو پخپله	ظالمان	بیا مخ واړاوه	ځینی د دوی	پر	ځینو نورو باندی

رب زموږ لره بیشکه! موږ وو پخپله ظالمان بیا مخ واړاوه ځینی د دوی پر ځینو نورو باندی

يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا طٰغِيْنَ ﴿٣١﴾ عَسٰى رَبُّنَآ

يَّتَلَاوَمُوْنَ	قَالُوْا	يٰوَيْلَنَآ	اِنَّا	كُنَّا	طٰغِيْنَ	عَسٰى	رَبُّنَآ
چې یو بل به یې ملامتاوه	وویل دوی	ای افسوس، خرابی ده موږ لره	بیشکه! موږ	وو	له حده تیریدونکی	ښایي چې	رب زموږ

چې یو بل به یې ملامتاوه. وویل دوی ای افسوس خرابی ده موږ لره بیشکه! موږ وو له حده تیریدونکی ښایی چې رب زموږ

فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ

دتیر مخ پاته بیان دلته

وګوری: البته که چا دالله ﷻ داحکامو خلاف ورزي کړي وای نو هغه ته به يي شرعي سزا ورکوله: اوحضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چي نبي کريم ﷺ نه فحش ګو وو نه به فحشو ته نژدي کيدی او نه به يي په بازارونو کي شوراوشغب کوی دبدی بدله به يي هيڅکله په بدی سره نه ورکوله بلکي دمعافي او درګذر معامله به يي فرمايله: اوحضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي دعمل په ميزان کي به دحسن خلق برابر دهيڅ عمل وزن نه وي او الله ﷻ دبنکنځل کوونکي او بد زبانه سره بغض لري او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چي دنبي کريم ﷺ څخه هيڅکله ديوشي سوال نه دی سوی چي په جواب کي يي دوی ﷺ نه، فرمايلي وي او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل چي مسلمان دخپل حسن خلق په وجه هغه درجه حاصلوي کم څوک چي هميشه دشپي په عبادت کي ويښ وي اوټوله ورځ روژه نيسي. (معارف القرآن ج١٠پ٢٩ص ٢٩)

اَنۡ یُّبۡدِلَنَا خَیۡرًا مِّنۡهَاۤ اِنَّاۤ اِلٰی رَبِّنَا رٰغِبُوۡنَ ﴿۳۲﴾ کَذٰلِكَ

اَنۡ یُّبۡدِلَنَا	خَیۡرًا	مِّنۡهَاۤ	اِنَّاۤ	اِلٰی رَبِّنَا	رٰغِبُوۡنَ	کَذٰلِكَ
چې بدل راکړي موږ ته	غوره	له دې څخه	بیشکه! موږ	رب خپل ته	رجوع کوونکي	همداسې

بدل راکړي موږ له خیر غوره له دې څخه بیشکه! موږ رب خپل ته رغبت کوونکي یو. همداسې (راځي)

١ ع ٣٣ ٣

الۡعَذَابُ ؕ وَ لَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ اَکۡبَرُ ۘ لَوۡ کَانُوۡا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳۳﴾ اِنَّ

الۡعَذَابُ	وَ لَعَذَابُ	الۡاٰخِرَةِ	اَکۡبَرُ	لَوۡ کَانُوۡا	یَعۡلَمُوۡنَ	اِنَّ
عذاب	او خامخا عذاب	د آخرت	ډیر لوی دی	که چیرې وی دوی	چې پوهیدلی	بیشکه!

عذاب (په دنیا کښې) او خامخا عذاب آفت د آخرت ډیر لوی دی که چیرې وی دوی چې پوهیدلی. بیشکه!

لِلۡمُتَّقِیۡنَ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ جَنّٰتِ النَّعِیۡمِ ﴿۳۴﴾ اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِیۡنَ

لِلۡمُتَّقِیۡنَ	عِنۡدَ	رَبِّهِمۡ	جَنّٰتِ	النَّعِیۡمِ	اَفَنَجۡعَلُ	الۡمُسۡلِمِیۡنَ
پیریدونکو ته	په نزد	د رب د دوی	جنتونه	ډک له نعمتونو دی	آیا پس وبه ګرځوو موږ	مسلمانان

پیریدونکو ته په نزد د رب د دوی جنتونه ډک له نعمتونو دی. آیا پس وبه ګرځوو موږ مسلمانان (حکم منونکی)

کَالۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۳۵﴾ مَا لَکُمۡ ۟ کَیۡفَ تَحۡکُمُوۡنَ ﴿۳۶﴾ اَمۡ لَکُمۡ کِتٰبٌ

کَالۡمُجۡرِمِیۡنَ	مَا لَکُمۡ	کَیۡفَ	تَحۡکُمُوۡنَ	اَمۡ لَکُمۡ	کِتٰبٌ
په شان د مجرمانو	څه سوی دی تاسی ته	څرنګه	حکم کوئ تاسی	آیا له تاسی سره سته	کوم کتاب

په شان د مجرمانو، څه سوی دی تاسی ته څرنګه حکم کوئ تاسی، آیا له تاسی سره سته کوم کتاب

فِیۡهِ تَدۡرُسُوۡنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ لَکُمۡ فِیۡهِ لَمَا تَخَیَّرُوۡنَ ﴿۳۸﴾ اَمۡ لَکُمۡ

فِیۡهِ	تَدۡرُسُوۡنَ	اِنَّ	لَکُمۡ	فِیۡهِ	لَمَا	تَخَیَّرُوۡنَ	اَمۡ لَکُمۡ
چې په هغه کښې	وایاست تاسی	چې بیشکه!	تاسی ته دی	په هغه کی	خامخا هغه څه	چې خوښوئ یئ تاسی	آیا سته تاسی ته

چې په هغه کښې لولئ تاسی چې بیشکه! تاسی له دی په هغه کښې خامخا هغه څه چې خوښوئ یئ تاسی، آیا سته تاسی ته

اَیۡمَانٌ عَلَیۡنَا بَالِغَةٌ اِلٰی یَوۡمِ الۡقِیٰمَةِ ۙ اِنَّ لَکُمۡ لَمَا تَحۡکُمُوۡنَ ﴿۳۹﴾

اَیۡمَانٌ	عَلَیۡنَا	بَالِغَةٌ	اِلٰی یَوۡمِ	الۡقِیٰمَةِ	اِنَّ	لَکُمۡ	لَمَا	تَحۡکُمُوۡنَ
قسمونه	پر موږ باندې	چې رسیدلی وی	تر ورځی	د قیامت پورې	بیشکه! چې	سته تاسی ته	هغه چې	پرې حکم کوئ تاسی

قسمونه پر موږ باندې چې رسیدلی وی تر ورځی د قیامت پورې بیشکه! چې سته تاسی ته هغه چې پرې حکم کوئ تاسی.

کَذٰلِكَ الۡعَذَابُ ؕ وَ لَعَذَابُ الۡاٰخِرَةِ اَکۡبَرُ

دالله ﷻ عذاب چې راسي نو داسې راځي:

دمکې دخلګو دقحط دعذاب اجمالي اودباغ والاوو دفصل سوزیدو دتفصیلي واقعې ذکر کولو وروسته عامه قاعده ارشاد فرمايي چې کله دالله ﷻ عذاب راځي نو دغه شان راځي او په دنيا کي دعذاب راتلو سره هم ددوی دآخرت دعذاب کفاره نه کیږي بلکي دآخرت عذاب ددې څخه علاوه دی او ددې څخه زيات سخت دی. په راتلونکو اياتونو کي اول دنیکانو متقیانو بندګانو دجزاء ذکر دی او ددې څخه وروسته دمکې دمشرکانو دیوې بلې باطلي دعوې رد دی هغه داچې دمکې کفارو به ویل چې اول خو قیامت راتلونکی نه دی او ددوباره ژوند او حساب او کتاب قصه محض افسانه ده او که بالفرض داسي هم وسي نو موږ ته به هلته هم داسې نعمتونه او مال او دولت راکړل سي لکه چې په دنيا کي راکول سوی دی ددې جواب الله ﷻ په څو اياتونو کي ورکړی دی چې آيا موږ به نیک بندګان او مجرمان سره برابروو؟ دا مشکل ده

(معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۳۵)

فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ... نبي کريم ﷺ ته الهي تسلي: په دغه آيت کي الله ﷻ فرمايي چي ای زما نبي که چيري ستاسي دعوت او تبليغ څخه وروسته بيا هم دغه کفار خبره نه مني او قيامت ته عقيده نه لري او دروغ يې بولي نو ما او دغه دروغجن کوونکي خلګ سره پريږده بيا به وګورو چي موږ څه کوو لفظ د پريښوول په دغه مقام کي ديوي محاورې په طور فرمايل سوي دي مراد ددې څخه پر الله ﷻ باندي تکيه او توکل کول دي او حاصل ددې کلام دادی چي د کفارو د طرف څخه دا مطالبه با بار پيش کيده که موږ واقعي دالله ﷻ په نزد مجرمان يو او الله ﷻ موږته په عذاب راکولو قادر دی نو بيا موږ ته عذاب اوس ولې نه راکوي ددوی دا سوي دل آزاره مطالبو په وجه به کله کله په خيله د نبي کريم ﷺ په زړه مبارک کي هم داسي خيال را پيدا کيدی او ممکنه ده چي څه وخت يي دعا هم کړي وي چي پر دي خلګو داوخت عذاب راسي نو دپاته خلګو داصلاح توقع ده نو الله ﷻ دا جواب ورکړی.
معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۳۷

سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَاْتُوْا

سَلْهُمْ	اَيُّهُمْ	بِذٰلِكَ	زَعِيْمٌ	اَمْ لَهُمْ	شُرَكَآءُ	فَلْيَاْتُوْا
پوښتنه وکړه له دوی څخه	چي کوم يو له دوی څخه	په دغه	ذمه اخيستونکی دی	آيا سته دوی ته	شريکان	نو را دي ولي هغه

پوښتنه وکړه له دوی څخه چي کوم يو له دوی څخه په دغه ذمه اخيستونکی دی. آيا سته دوی لره شريکان نو را دي ولي هغه

بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

بِشُرَكَآئِهِمْ	اِنْ كَانُوْا	صٰدِقِيْنَ	يَوْمَ	يُكْشَفُ	عَنْ سَاقٍ
شريکان خپل	که چيري وي دوی	رښتيني	هغه ورځ	چي لڅوالی به وکړل سي	له پنډۍ څخه

شريکان خپل که چيري وي دوی رښتيني، (او يادکړه) هغه ورځ چي بربنډوالی به وکړی سي له پنډۍ څخه

وَّيُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٤٢﴾ خَاشِعَةً

وَّيُدْعَوْنَ	اِلَى السُّجُوْدِ	فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ	خَاشِعَةً
او راوبه بللی سي دوی	طرف د سجدې کولو ته	پس توان به يې ونه سي	حال دا چي ذليلې کښته به وي

او راوبه بللی سي دغه (کافران) طرف د سجدې کولو ته پس توان به يې ونه سي. حال دا چي ذليلې کښته به وي

اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ

اَبْصَارُهُمْ	تَرْهَقُهُمْ	ذِلَّةٌ	وَقَدْ	كَانُوْا	يُدْعَوْنَ	اِلَى السُّجُوْدِ
سترګې د دوی	را اېښنګ کړې به وي دوی	ذلت، خواري	او بيشکه!	ؤ دوی	چي بلل کيدل دوی	طرف د سجدې کولو ته

سترګې د دوی را اېښنګ کړې به وي دوی ذلت خواري او بيشکه! ؤ دوی چي بلل کيدل دوی طرف د سجدې کولو ته

وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ

وَهُمْ	سٰلِمُوْنَ	فَذَرْنِيْ	وَمَنْ يُّكَذِّبُ	بِهٰذَا الْحَدِيْثِ
او دوی به	روغ رمټ وه	نو پرېږده ما	او هغه څوک چي دروغ ګڼي	په دې خبرې (قرآن) باندې

او دوی به ؤ روغ رمټ. نو پرېږده ما او هغه څوک چي دروغ وايي په دې خبرې (قرآن) باندې

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَاُمْلِيْ لَهُمْ ۚ اِنَّ

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ	مِّنْ حَيْثُ	لَا يَعْلَمُوْنَ	وَاُمْلِيْ	لَهُمْ	اِنَّ
ژر ده چي وبه نيسو موږ دوی کرار کرار	له هغه ځايه	چي دوی نه دي پوهېږي	او مهلت ورکوم زه	دوی ته	بيشکه!

ژر ده چي وبه نيسو موږ دوی ورو ورو (نژدې به يې کړو) له هغه ځايه چي دوی نه دي پرې پوه. او ټال ورکوم دوی ته بيشکه!

كَيۡدِىۡ مَتِيۡنٌ ﴿٤٥﴾ اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ اَجۡرًا فَهُمۡ مِّنۡ مَّغۡرَمٍ

كَيۡدِىۡ	مَتِيۡنٌ	اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ	اَجۡرًا	فَهُمۡ	مِّنۡ مَّغۡرَمٍ
تدبیر زما	ډیر کلک دی	آیا ته غواړې له دوی څخه	څه اجر	نو دوی	د هغه له تاوان څخه

زما مکر وار کلک دی. آیا ته غواړې له دوی ځینې څه اجر، مزدوری نو دوی د هغه له زیان، تاوان څخه

مُّثۡقَلُوۡنَ ﴿٤٦﴾ اَمۡ عِنۡدَهُمُ الۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُوۡنَ ﴿٤٧﴾

مُّثۡقَلُوۡنَ	اَمۡ عِنۡدَهُمُ	الۡغَيۡبُ	فَهُمۡ	يَكۡتُبُوۡنَ
درونډ بارئ کړی سوی دی	آیا سته په نزد د دوی	پټه خبره	پس دوی	یئ لیکی (له هغه څخه)

درونډ بارئ کړی سوی دی. آیا سته په نزد د دوی پټه خبره علم الغیب پس دوی یئ لیکی (له هغه څخه)

فَاصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُنۡ كَصَاحِبِ الۡحُوۡتِ اِذۡ نَادٰى

فَاصۡبِرۡ	لِحُكۡمِ	رَبِّكَ	وَلَا تَكُنۡ	كَصَاحِبِ	الۡحُوۡتِ	اِذۡ نَادٰى
نو صبر کوه	حکم	د رب خپل ته	نو مه کیږه ته	لکه خاوند	د ماهی	کله چی ږغ وکړ

نو صبر کوه حکم د رب خپل ته (په باب د منکرانو کښی) نو مه کیږه ته لکه خاوند د ماهی کله چی ږغ وکړ

وَهُوَ مَكۡظُوۡمٌ ﴿٤٨﴾ لَوۡلَاۤ اَنۡ تَدٰرَكَهٗ نِعۡمَةٌ مِّنۡ رَّبِّهٖ

وَهُوَ	مَكۡظُوۡمٌ	لَوۡلَاۤ اَنۡ تَدٰرَكَهٗ	نِعۡمَةٌ	مِّنۡ رَّبِّهٖ
او دی ؤ	ډک له غم څخه	که چیری را ټینګ کړی نه وای ده لره	نعمت، احسان	له لوری د رب د ده

او دی وډک له غم غصی څخه. که چیری نه وی دا چی موندلی وی ده نعمت احسان له لوری د رب د ده

لَنُبِذَ بِالۡعَرَآءِ وَهُوَ مَذۡمُوۡمٌ ﴿٤٩﴾ فَاجۡتَبٰهُ رَبُّهٗ

لَنُبِذَ	بِالۡعَرَآءِ	وَهُوَ	مَذۡمُوۡمٌ	فَاجۡتَبٰهُ	رَبُّهٗ
نو خامخا به غورځول سوی وای دی	په ډاګ میدان کښی	او دی به	ملامت کړی سوی ؤ	پس غوره کړ دغه (یونس) لره	رب د ده

نو خامخا به پری وتی و دی په سپیره میدان کښی او دی به ملامت کړی سوی و. پس غوره کړ دغه (یونس) لره رب د ده

فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنۡ يَّكَادُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

فَجَعَلَهٗ	مِنَ الصّٰلِحِيۡنَ	وَاِنۡ	يَّكَادُ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا
نو ګرځولی یئ دی	له صالحانو (نیکو کارانو)	او بیشکه !	نژدی ؤ	هغه کسان	چی کافران سوی دی

نو ګرځولی یئ دی له (کاملانو) نیکو کارانو. او بیشکه! نژدی ؤ هغه کسان چی کافران سوی دی

وَاِنۡ يَّكَادُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا
کفارو نبي کريم ﷺ په باره کي بده اراده کړې وه

دآيت مطلب دادی چي کفار غواړي چي تاته په غضبناکو او ژورو سترګو وګوري او غواړي چي تاته دخپل مقام څخه خطا درکړي هر کله چي هغوی ستا کلام واوري او بيا وايي چي دی مجنون دی: وماهوالا ذكر للعالمين حال دادی چي دا کلام خود ټول جهان والاوو دپاره ذکر او نصيحت او ددوی دصلاح او فلاح ضامن دی داسي کلام والا ته کله مجنون ويل کيدای سي: دکفارو دکمو طعنو چي د دې سورت په ابتداء کي جواب ورکول سوی وو دسورت پر ختميدو يي دهغه په بل انداز سره جواب ورکی او امام بغوي رحمة الله عليه او علامه آلوسي رحمة الله عليه اونورو مفسرينو ددې اياتونو يوه خاص واقعه نقل کړې ده چي دانسان بد نظر لګيدل او په دې سره انسان ته نقصان او بيماري بلکي هلاکت ته رسيدل لکه چي حقيقت دی او په صحيح احاديثو کي ددې حقوالی ثابت دی او دا کاريعني بدنظري په عربو کي هم مشهوره وه.
(معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص ١٥)

لَيُزۡلِقُوۡنَكَ بِاَبۡصَارِهِمۡ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكۡرَ وَيَقُوۡلُوۡنَ


لَيُزۡلِقُوۡنَكَ	بِاَبۡصَارِهِمۡ	لَمَّا	سَمِعُوا	الذِّكۡرَ	وَيَقُوۡلُوۡنَ
چي خامخا وبه نبويوی تا	په سترګو خپلو سره	هر کله چي	واوريده دوی	پند، قرآن	او وايئ دوی

خامخا وبه نبويوی تا (وبه دی غورځوی په مځکه) په سترګو خپلو سره هر کله چي واوريده دوی قرآن او وايئ دوی

اِنَّهٗ لَمَجۡنُوۡنٌ ۝٥١ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكۡرٌ لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ۝٥٢

اِنَّهٗ	لَمَجۡنُوۡنٌ	وَمَا هُوَ	اِلَّا	ذِكۡرٌ	لِّلۡعٰلَمِيۡنَ
بيشکه! دغه (محمد)	ليونی دی	او حال دا دی چي نه دی دا	مګر	خو پند دی	ټولو مخلوقاتو لره

بيشکه! دغه (محمد) ليونی دی. او حال دا دی چي نه دی دا (قرآن) مګر خو پند دی ټولو عالميانو لره.



اٰياتونه ٥٢ ۶۹ سُوۡرَةُ الۡحَآقَّةِ مَكِّيَّةٌ ٧٨ رکوعي ۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلۡحَآقَّةُ ۝١ مَا الۡحَآقَّةُ ۝٢ وَمَآ اَدۡرٰىكَ مَا الۡحَآقَّةُ ۝٣

اَلۡحَآقَّةُ	مَا الۡحَآقَّةُ	وَمَآ	اَدۡرٰىكَ	مَا الۡحَآقَّةُ
هغه حق واقع کيدونکی	څه شی دی هغه حق واقع کيدونکی	او څه شی	پوه کړی يئ ته	چي څه شی دی هغه واقع کيدونکی

هغه (قيامت) حق واقع کيدونکی څه شی دی هغه حق واقع کيدونکی او څه شي پوه کړی يئ ته چي څه شی دی هغه واقع کيدونکی

كَذَّبَتۡ ثَمُوۡدُ وَعَادٌۢ بِالۡقَارِعَةِ ۝٤ فَاَمَّا ثَمُوۡدُ فَاُهۡلِكُوۡا

كَذَّبَتۡ	ثَمُوۡدُ	وَعَادٌ	بِالۡقَارِعَةِ	فَاَمَّا	ثَمُوۡدُ	فَاُهۡلِكُوۡا
دروا غ ويلي ؤ	ثموديانو	او عاديانو	په ټکوونکی	پس هر څه	چي ثموديان ؤ	نو هلاک کړل سول

دروا غ ويلي ؤ ثموديانو او عاديانو په ټکوونکی (قيامت). پس هر څه چي ثموديان ؤ نو هلاک کړل سول

بِالطَّاغِيَةِ ۝٥ وَاَمَّا عَادٌ فَاُهۡلِكُوۡا بِرِيۡحٍ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٍ ۝٦ سَخَّرَهَا

بِالطَّاغِيَةِ	وَاَمَّا	عَادٌ	فَاُهۡلِكُوۡا	بِرِيۡحٍ	صَرۡصَرٍ	عَاتِيَةٍ	سَخَّرَهَا
په سخت آواز	او هر څه	چي عاديان ؤ	نو هلاک کړی سوی ؤ	په باد	سخت آواز کوونکی	له حده تيرسوی	مقرر کړی ؤ دغه باد

په سخت آواز او هر څه چي عاديان ؤ نو هلاک کړی سوی ؤ په باد سخت آواز کوونکی. مقرر کړی ؤ (الله) دغه باد

اَلۡحَآقَّةُ ۝١ مَا الۡحَآقَّةُ ۝٢ وَمَآ اَدۡرٰىكَ مَا الۡحَآقَّةُ

دقيامت دورځي هولناک او خطرناک واقعات: په دغه سورت کي الله ﷻ دقيامت دورځي بيروونکي واقعات او بيا هلته دکفارو او فاجرانو دسزا او مومنانو متقيانو ته دنيکي جزاء ذکر کړی دی دقيامت نومونه په قرآن کريم کي ډير راغلي دي په دې سورت کي يي قيامت ته حاقة بيا قارعة اوبيا واقعة ويلي دي او دا ټول دقيامت دورځي نومونه دي: دلفظ حاقة معنی حق او ثابت هم راځي او نور شيان حق کول او ثابتول هم: پر قيامت دغه لفظ ددواړو معناوو په اعتبار سره صادقه راځي ځکه چي قيامت په خپله هم حق دی او او ددې واقعي کيدل هم ثابت او يقيني دی او قيامت دمومنانو دپاره جنت او دکفارو دپاره دوزخ ثابت او مقررونکی دی دلته قيامت په دې نوم سره دسوال مکررولو ددې مافوق القياس او حيرت انګيز هولناک کيدو طرف ته اشاره ده چي هغه ورځ داسي دخوف ورځ ده چي پلار به داولاده او اولاد به دمور او پلاره څخه بې خبره وي او خپل غم به ورسره وي الخ.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۴۴)

الربع

عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ ۙ حُسُوۡمًا ۙ فَتَرَى الۡقَوۡمَ فِيۡهَا

عَلَيۡهِمۡ	سَبۡعَ لَيَالٍ	وَّثَمٰنِيَةَ	اَيَّامٍ	حُسُوۡمًا	فَتَرَى	الۡقَوۡمَ	فِيۡهَا
پردوی باندی	اووه شپې	او اته	ورځې	پرله پسې برابر	نو لیده به تا	هغه قوم (دعاد)	په هغه کښې

پردوی باندی اووه شپې او اته ورځې پرله پسې برابر نو لیده به تا هغه قوم (دعاد) په هغه کښې

صَرۡعٰى ۙ كَاَنَّهُمۡ اَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٍ ۚ ۞ فَهَلۡ تَرٰى لَهُمۡ

صَرۡعٰى	كَاَنَّهُمۡ	اَعۡجَازُ	نَخۡلٍ	خَاوِيَةٍ	فَهَلۡ تَرٰى	لَهُمۡ
لویدلی	ګواکی دوی	تنی دی	دخرماؤ	غوځاری سوی پر مځکه	نو آیا وینی ته کوم	له دوی ځینی

لویدلی (مړه پراته) ګواکی دوی (له جهته دلویوالی) تنی د خرماؤ دی پری وتلی. نو آیا وینی ته کوم یو (نفس) له دوی ځینی

مِّنۡۢ بَاقِيَةٍ ۞ وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَنۡ قَبۡلَهٗ وَالۡمُؤۡتَفِكٰتُ

مِّنۡۢ بَاقِيَةٍ	وَجَآءَ	فِرۡعَوۡنُ	وَمَنۡ	قَبۡلَهٗ	وَالۡمُؤۡتَفِكٰتُ
باقی پاتی سوی	او راغلی	فرعون	او هغه چی	پخوا له هغه ؤ	او (اهل د) کلیو چپه کړی سویو

باقی پاتی سوی. او راغی فرعون او هغه چی پخوا له هغه ځینی ؤ او (اهل د) کلیو چپه کړی سویو په

بِالۡخَاطِئَةِ ۞ فَعَصَوۡا رَسُوۡلَ رَبِّهِمۡ فَاَخَذَهُمۡ اَخۡذَةً رَّابِيَةً ۞

بِالۡخَاطِئَةِ	فَعَصَوۡا	رَسُوۡلَ	رَبِّهِمۡ	فَاَخَذَهُمۡ	اَخۡذَةً	رَّابِيَةً
په ګناهونو سره	نو حکم ونه مانه دوی	درسول	درب ددوی	نو ونیول هغوی	په نیولو	سختو سره

په ګناهونو سره (چی شرک وو) نو حکم ونه مانه دوی درسول درب د دوی نو (الله) ونیول هغوی په نیولو سختو سره

اِنَّا لَمَّا طَغَا الۡمَآءُ حَمَلۡنٰكُمۡ فِى الۡجَارِيَةِ ۞ لِنَجۡعَلَهَا

اِنَّا	لَمَّا طَغَا	الۡمَآءُ	حَمَلۡنٰكُمۡ	فِى الۡجَارِيَةِ	لِنَجۡعَلَهَا
بیشکه موږ	هر کله چی ترحدتیری سوی	اوبه	پورته کړی وو موږ تاسی	په روانی کشتی کښی	دپاره ددی چی وګرځوو هغه

بیشکه! موږ هر کله چی طغیان وکړاوبو پورته کړی وو موږ تاسی په روانی کشتی کښی دپاره ددی چی وګرځوو موږ هغه

لَكُمۡ تَذۡكِرَةً وَّتَعِيَهَاۤ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ۞ فَاِذَا نُفِخَ فِى الصُّوۡرِ نَفۡخَةٌ

لَكُمۡ	تَذۡكِرَةً	وَّتَعِيَهَاۤ	اُذُنٌ	وَّاعِيَةٌ	فَاِذَا	نُفِخَ	فِى الصُّوۡرِ	نَفۡخَةٌ
تاسی ته	پند	او په یاد وساتی دا	غوږونه	یادوونکی	بیا کله چی	پوکی وسی	په شپیلی کښی	پوکی

تاسی ته پند او په یاد دی ولری دا (نصیحت) غوږونه یادوونکی ساتونکی. بیا کله چی پوکی وسی په شپیلی کښی پوکی

سَبۡعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ ۙ حُسُوۡمًا. پرقوم دعاد یانو الله جَلَّ جَلَالُهٗ سخت باد اوهوا مسلطه کړل: په ځینو روایتونو کي دي چي دچارشنبې په ورځ دسهار دهوا داعذاب شروع سواو دبلي چارشنبې تر ماښامه پوري وو دغه شان ورځې خو ۸اته دانې سوې او شپې اووه سوې: حسوماً دحاسم جمع ده چي معنی يې قطع کول او استیصال کول دي یعني بالکل فنا کول دي د: مؤتفکت. معنی یودبل سره خلط او پیوست کیدل راځي دحضرت لوط عَلَیْهِ السَّلَام کلو ته یې مؤتفکت یا خو ځکه وویل سوه چي داټول دیو بل سره پیوست وه او یاځکه چي دعذاب راتلو په وخت کي هر کله دغه کلي پاستر کړل سول نو ټول دیوبل سره ګډوډ سول فاذا نفخ فی الصور نفخة واحدة. دحضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی چي شپیلی دښکر په شکل باندي یو شی دی چي دقیامت په ورځ به په کښې پُوکړل سي او د نفخة واحدةٌ: څخه مراد دادی چي دا به یوناڅاپه او مسلسل آوازوي او په دې آواز سره به ټول مخلوقات مړه سي او الخ. (معرف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۴۵)

وَّاحِدَةٌ ۙ﴿١٣﴾ وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً

وَّاحِدَةٌ	وَّحُمِلَتِ	الْاَرْضُ	وَالْجِبَالُ	فَدُكَّتَا	دَكَّةً
يو	او پورته به کړی سی	مځکه	او غرونه	نو مات به کړل سی دا دواړه	په ماتولو

يو او پورته به کړه سی مځکه او غرونه (له خپلو ځايونو) نو مات به کړل سی دا دواړه (ټوټی ټوټی) په ماتولو

وَّاحِدَةً ۙ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ

وَّاحِدَةً	فَيَوْمَئِذٍ	وَّقَعَتِ	الْوَاقِعَةُ	وَانْشَقَّتِ	السَّمَآءُ
يو ه سره	نو په دغه ورځی کښی به	واقع سی	واقع کيدونکی	او وبه چوی	آسمان

يو سره . نو په دغه ورځی کښی به واقع سی (هغه) واقع کيدونکی (قيامت). او وبه چوی (څيری به سی) آسمان

فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ۙ﴿١٦﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا ۭ وَيَحْمِلُ

فَهِيَ	يَوْمَئِذٍ	وَّاهِيَةٌ	وَّالْمَلَكُ	عَلٰٓى	اَرْجَآئِهَا	وَيَحْمِلُ
بيا هغه	په دغه ورځ کښی	ضعيف وی	او ملائيکی به وی	پر	څنډو دهغه (آسمان)	او پورته به کړی

بيا هغه (آسمان) په دغه ورځ کښی سست ضيف وی او ملائيکی به وی پر څنډو دهغه (آسمان)، او پورته به کړی

عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ

عَرْشَ	رَبِّكَ	فَوْقَهُمْ	يَوْمَئِذٍ	ثَمٰنِيَةٌ	يَوْمَئِذٍ	تُعْرَضُوْنَ
عرش	درب ستا	دپاسه د دوی	په هغه ورځ کښی	اته	په دغه ورځ کښی به	تاسی حاضر وړاندی کړل سئ

عرش درب ستا دپاسه د دوی په هغه ورځ کښی اته (ملائيکی) . په دغه ورځ کښی به تاسی حاضر وړاندی کړل سئ

لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ۙ

لَا تَخْفٰى	مِنْكُمْ	خَافِيَةٌ	فَاَمَّا	مَنْ اُوْتِيَ	كِتٰبَهٗ	بِيَمِيْنِهٖ
پټه به نه پاتی کيږی	له تاسی	هيڅ يوه پټه خبره	نو هر هغه څوک	چی ورکړ سی	عمل نامه دده	په راسته لاس دده

پټه به نه پاتی کيږی له (اعمالو د) تاسی هيڅ يوه پټه خبره .نو هر هغه څوک چی ورکړ سی عمل نامه دده په راسته لاس دده

فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ مُلٰقٍ

فَيَقُوْلُ	هَآؤُمُ	اقْرَءُوْا	كِتٰبِيَهْ	اِنِّيْ	ظَنَنْتُ	اَنِّيْ	مُلٰقٍ
نو وبه وايئ	راسئ	او ووايا ست تاسی	دا زما علمنامه	بيشکه! ما	يقين کاوه	چی بيشکه! زه	يو ځای کيدونکی يم

نو وبه وايئ راسئ (وا خلئ) او ولولئ تاسی دا زما عملنامه . بيشکه! ما يقين کاوه چی بيشکه! زه پيوست کيدونکی يم

وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ... عرش مبارک به اتو ملايکو پورته کړی وي: يعني دقيامت په ورځ به عرش رحمن اته ملايکو پورته کړی وي دحديث شريف په ځينو روايتونوکي دي چي دقيامت څخه مخکي خو داکار څلورو ملايکو ته سپارل سوی دی دقيامت په ورځ به ورسره څلور نوري يوځای سي: پاته سوه دا معامله چي عرش رحمن څه ته وايي؟ ددې حقيقت او حقيقي شکل او صورت څه دی؟ او دغه ملايکولره دغه عرش لوړول په څه صورت سره دي؟ داټول هغه شيان دي چي نه عقل انساني ددې احاطه کولای سي او نه په دې شيانو کي دوی ته دغور او فکر کولو او سوالونوکولو اجازت ورکول سوی دی :دسلفو صالحينو صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمة الله عليه مسلک په داسي ټولو معاملو کي دادی چي پر دې باندي ايمان راوړل سي چي ددې څخه د الله جل جلاله څه مراد دی هغه حق دی او ددې حقيقت او کيفيت نامعلومه دی که يي په ښوولو کي مصلحت وای نو خامخا به يي راته ښوولی وای: والله اعلم.

معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص٤٦

حِسَابِيَهْ ۚ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾

حِسَابِيَهْ	فَهُوَ	فِيْ عِيْشَةٍ	رَّاضِيَةٍ	فِيْ جَنَّةٍ	عَالِيَةٍ
له حسابه خپل سره	نو هغه دی	په ژوند	بنه کښی	په جنت	عالی، لوی کښی

له حسابه خپل سره. نو هغه (شخص) دی په عیش ښه کښی (چی دی به پری راضی وی) په جنت عالی لوی او چت کښی

قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ

قُطُوْفُهَا	دَانِيَةٌ	كُلُوْا	وَاشْرَبُوْا	هَنِيْٓـًٔا	بِمَآ	اَسْلَفْتُمْ
چی میوی به یئ	نژدی وی	خورئ	او څښئ	په اشتهاء، خوندور سره	په بدل د هغو عملونو خپلو	چی مخکښی لیږلی وه تاسی

چی میوی به یئ نژدی وی. خورئ او څښئ په اشتهاء هضم سره په بدل د هغو عملونو خپلو چی مخکښی لیږلی ؤ

فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ

فِي الْاَيَّامِ	الْخَالِيَةِ	وَاَمَّا	مَنْ اُوْتِيَ	كِتٰبَهٗ	بِشِمَالِهٖ	فَيَقُوْلُ
په ورځو	تیرو سویو کښی	او هر هغه څوک	چی ورکړ سی	عملنامه دده	په چپه لاس دده	نو وبه وایئ

په ورځو تیرو سویو د دنیا کښی. او هرهغه څوک چی ورکړ سی عملنامه دده په چپه لاس دده نو وبه وایئ (له غمه داسی)

يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾

يٰلَيْتَنِيْ	لَمْ اُوْتَ	كِتٰبِيَهْ	وَلَمْ اَدْرِ	مَا حِسَابِيَهْ
ای کاشکی	نه وی راکړی سوی ماته	دا عملنامه زما	او نه وم پوه زه	چی څه دی حساب زما

ای کاشکی نه وی راکړی سوی ماته دا کتاب اعملنامه زما او نه وم پوه زه چی څه دی حساب زما .

يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ

يٰلَيْتَهَا	كَانَتِ	الْقَاضِيَةَ	مَآ اَغْنٰى	عَنِّيْ	مَالِيَهْ	هَلَكَ
ای کاشکی	وی	خلاصوونکی	هیڅ دفع ونه کړه له	له ما څخه	مال زما	برباد سو

ای کاشکی وی خلاصوونکی (زما له دوهم حیات) هیڅ دفع ونه کړه له ما څخنی مال زما برباد سو

عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾ خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾

عَنِّيْ	سُلْطٰنِيَهْ	خُذُوْهُ	فَغُلُّوْهُ	ثُمَّ	الْجَحِيْمَ	صَلُّوْهُ
له ما څخه	سلطنت زما	ونیسئ دی	پس په ځنځیر سره وتړئ دی	بیا	په (اورد) د دوزخ کښی	ننه باسئ دی

له ما څخنی سلطنت، حکومت زما. ونیسئ دی! پس په ځنځیر سره وتړئ دی! بیا (اورد) د دوزخ ته یئ وغورځوئ دی !

هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾ خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ... دکافر انسان فریاد او چیغي دقیامت په ورځ : دسلطان لفظي معنی غلبه او تسلط ده په دې وجه حکومت ته سلطنت او حاکم ته سلطان ویل کیږي : مطلب دادی چي په دنیا کي چي ماته کمه پر خلګو غلبه اولويي حاصله وه او زه په ټولوکي مشر ګڼل کیدم نن خو هغه غلبه او لويي هم هیڅ په کار رانغله او سلطان په معنی دحجت هم اخیستل کیږي نو معنی به داوي چي افسوس نن زما په لاس کي هیڅ حجت او سند نسته دکم په ذریعه چي دعذاب څخه نجات راکړل سي خذوه فغلوه: داحکم به ملایکوته وي چي دا مجرم ونیسی او دده په غاړه کي طوق واچوی لیکن دا آیت په الفاظو کي ددې ذکر نسته چي څوک ونیسي او طوق ورته واچوي په دې وجه په ځینو روایتونو کي دي چي داحکم صادر سي نو هر در او دیوار او هرشی به دمطیع او فرمانبردارونوکرانو په شان دده نیولو لره منډې وهي یا الله یا حنان یا منّان موږ ددغې ورځي دذلت اورسوايي څخه وساتې آمین.

(معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۴۶)

ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿۳۲﴾ اِنَّهٗ

ثُمَّ	فِيْ سِلْسِلَةٍ	ذَرْعُهَا	سَبْعُوْنَ	ذِرَاعًا	فَاسْلُكُوْهُ	اِنَّهٗ
بیا	په یوه ځنځیر کښې	چې ګزونه د هغه	اویا	ګزه وی	پس ننه باسئ دی	بیشکه! دی

بیا په یوه ځنځیر کښې چې ګزونه د هغه اویا ګزه وی پس ننه باسئ دی (په دوزخ کښې). بیشکه! دی و (په دنیا کی)

كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿۳۳﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ

كَانَ	لَا يُؤْمِنُ	بِاللّٰهِ	الْعَظِيْمِ	وَلَا يَحُضُّ	عَلٰى	طَعَامِ
ؤ	چې ایمان یئ نه راوړو	په الله	لوی باندی	او تاکید تیزوالی به یئ نه کاوه	په	طعام ورکولو

ؤ چې ایمان یئ نه راوړو په الله لوی باندی او تاکید تیزوالی به یئ نه کاوه په طعام ډوډی ورکولو

الْمِسْكِيْنِ ﴿۳۴﴾ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿۳۵﴾ وَّلَا طَعَامٌ

الْمِسْكِيْنِ	فَلَيْسَ	لَهُ الْيَوْمَ	هٰهُنَا	حَمِيْمٌ	وَّلَا طَعَامٌ
د مسکینانو	نو نشته	د ده نن ورځ	په دی ځای کښې	کوم دوست	او نشته هیڅ طعام

د مسکینانو، محتاجانو باندی. نو نشته د ده نن ورځ په دی ځای کښې کوم دوست. او نشته هیڅ طعام (چې ویې خوری)

اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿۳۶﴾ لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِئُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَلَآ اُقْسِمُ

اِلَّا	مِنْ غِسْلِيْنٍ	لَّا يَاْكُلُهٗٓ	اِلَّا	الْخَاطِئُوْنَ	فَلَآ اُقْسِمُ
مګر	خو له وینو، زوو څخه	چې نه خورئ دغه	مګر	هم غه خطاکاران	نو قسم خورمه

مګر خو له وینو او زوو ځینی چې نه خورئ دغه (غسلین) مګر همغه خطا کاران، ګناهګاران. نو قسم خورمه

بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ

بِمَا	تُبْصِرُوْنَ	وَمَا	لَا تُبْصِرُوْنَ	اِنَّهٗ	لَقَوْلُ	رَسُوْلٍ
په هغو شیانو	چې وینئ یئ تاسی	او په هغو شیانو	چې نه یئ وینئ تاسی	بیشکه! دا	خامخا خبره	د رسول

په هغو شیانو چې وینئ یئ تاسی او په هغو شیانو چې نه یئ وینئ تاسی. بیشکه! دا (قرآن) خامخا خبره د رسول

كَرِيْمٍ ﴿۴۰﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلَا

كَرِيْمٍ	وَّمَا	هُوَ	بِقَوْلِ	شَاعِرٍ	قَلِيْلًا مَّا	تُؤْمِنُوْنَ	وَلَا
عزتمن ده	او نه ده	دا	خبره	د کوم شاعر	لږ	ایمان راوړئ تاسی	او نه ده

مکرم عزتمن ده. او نه ده دا خبره د کوم شاعر ببخی لږ ایمان راوړئ تاسی (بلکه نه مؤمنان کیږئ). او نه ده

فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ... الله جل جلاله ددنیا او اخرت په شیانو سره قسم پورته کړی دی: یعني قسم دی په هغو ټولو شیانو کم چې تاسي وینی یا لیدای سی او کم چې تاسي نه وینی یا یې نه سی لیدلای په دې کې ټول مخلوقات راغلل ځینی حضرات بیا فرمایي چې د شیانو د نه لیدلو څخه مراد د الله جل جلاله ذات او صفات دي او ځینې بیا فرمایي چې د شیانو د لیدو څخه مراد د دنیا شیان دي او د نه لیدو څخه مراد د آخرت شیان دي ولو تقول علینا الخ: د تقوّل معنی خبره جوړول دي او وتین د زړه څخه وتونکي هغه رګ ته ویل کیږي په کم سره چې روح په انساني جسم کې خوریږي او ددې په پرېکولو سره مرګ فورا واقع کیږي: په تیرو ایاتونو کې د کفارو د دې بې هوده خیال رد سوی وو چابه دوی ﷺ ته شاعر او د دوی کلام ته شعر وایه، چابه دوی ته کاهن او کلام ته یې کهانت وایه کاهن هغه سړی وي چې څه خبري د شیطانانو څخه پیدا کي څه د نجوم د اثراتو څخه معلومي کړي او په راتلونکي واقعاتو کې. پاته بیان پر راروان مخ وګوری.

ع ۲ ۲۷ ۵

بِقَوْلِ كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ

بِقَوْلِ	كَاهِنٍ	قَلِيْلًا مَّا	تَذَكَّرُوْنَ	تَنْزِيْلٌ	مِّنْ رَّبِّ
دا خبره	دکاهن	لږ	پند اخلئ تاسی	دغه (قرآن) نازل سوی دی	له (جانبه) درب

داخبره دکاهن (چې تاسو گمان کوئ) لږ پند اخلئ تاسی. دغه (قرآن) نازل سوی دی له (جانبه دپالونکی) رب

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا

الْعٰلَمِيْنَ	وَلَوْ تَقَوَّلَ	عَلَيْنَا	بَعْضَ	الْاَقَاوِيْلِ	لَاَخَذْنَا
دمخلوقاتو	او که له ځانه جوړولي	پر موږ باندی	ځيني	خبری	نو هرومرو بدل اخيستی موږ

دعالميانو. او که له ځانه جوړولي (محمد) پر موږ باندی ځيني خبری. نو هرومرو بدل اخيستی به ؤ موږ

مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ

مِنْهُ	بِالْيَمِيْنِ	ثُمَّ	لَقَطَعْنَا	مِنْهُ	الْوَتِيْنَ	فَمَا	مِنْكُمْ
له ده څخه	په عذاب سخت سره	بيا به	خامخا پری کړئ ؤ موږ	له ده	رگ دزړه	پس نه به ؤ	له تاسی څخه

له ده څخه په يمين قوت عذاب سخت سره. بيا به خامخا پری کړئ ؤ موږ له ده رگ د زړه پس نه به ؤ له تاسی څخه

مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا

مِّنْ اَحَدٍ	عَنْهُ	حٰجِزِيْنَ	وَاِنَّهٗ	لَتَذْكِرَةٌ	لِّلْمُتَّقِيْنَ	وَاِنَّا
هيڅوک	دهغه څخه	منع کوونکی	او بيشکه! دغه	خامخا پند دی	بيريدونکو لره	او بيشکه! موږ ته

هيڅوک هغه (دمحمد) ځيني منع کوونکی. او بيشکه! دغه (قرآن) خامخاپند دی بيريدونکو لره. او بيشکه! موږ ته

لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾

لَنَعْلَمُ	اَنَّ مِنْكُمْ	مُّكَذِّبِيْنَ	وَاِنَّهٗ	لَحَسْرَةٌ	عَلَى الْكٰفِرِيْنَ
خامخا معلوم دی	دا چی بيشکه! ځيني له تاسی	درواغ کوونکی دی	او بيشکه! دغه	خامخا پښيمانی ده	پر کافرانو باندی

خامخا معلوم دی دا چی بيشکه! ځيني له تاسی څخه درواغ کوونکی دی. او بيشکه! دا خامخا پښيمانی ده پر کافرانو باندی

وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾ ع

وَاِنَّهٗ	لَحَقُّ	الْيَقِيْنِ	فَسَبِّحْ	بِاسْمِ	رَبِّكَ	الْعَظِيْمِ
او بيشکه! دغه	خامخا حق	يقين دی	پس تسبيح ووايه	په نامه	درب خپل	چی له ټولو ډير لوی دی

او بيشکه! دغه خامخا حق يقين دی. پس تسبيح پاکی ووايه په نامه درب خپل چی له ټولو ډير لوی دی

ع ١٥ ٢ ٢

بِقَوْلِ كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ... دتير مخ پاته بيان دلته وگوری:
په اټکل خبري کوي غرض دوی ته دشاعر او کاهن ويونکسو دالزام حاصل داووچي دوی کم کلام اوروي دادالله ﷻ دطرف څخه نه دی نبي کريم ﷺ په خپله دخپلو خيالاتو يا دکاهنانو په شان دشيطانانو څخه څه کلمې جمع کړي دي دهغه نسبت دالله ﷻ طرف ته کوي په ذکر سوو اياتونو کي الله ﷻ ددوی ددې باطل خيال په يو بل صورت سره په سخته داسي رد وکړی چي ای ليونو کـه دې رسول معاذالله زموږ طرف ته ددرواغو نسبت کړی وای او پر موږ يي درواغ تړلي وای نوآيا موږ به ورته داسي کتلای او ده ته به مو څه نه ويلای چي دخدای ﷻ مخلوق گمراه کوي په دې خبره دهيڅ عقل خاوند باورنه سي کولای که بالفرض و محال داسي وای يعني دې رسول ﷺ څه خبره هم جوړه کړې وای او موږ ته يي دهغه نسبت کولای نو موږ به دی دلاسه څخه نيولای وای اودروح رگ به مو پريکړی وای او دی به چا زموږ څخه نه وای خلاص کړی الخ.
(معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص٤٧)

ایاتونه ۴۴ — ۷۰ سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ ۷۹ — رکوعوي ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۝١ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ۝٢

سَاَلَ	سَآئِلٌۢ	بِعَذَابٍ	وَّاقِعٍ	لِّلْكٰفِرِيْنَ	لَيْسَ	لَهٗ	دَافِعٌ
وغوښت	غوښتونکی	يو عذاب	واقع کيدونکی	کافرانو لره	چې نسته	هغه ته	دفع کوونکی

وغوښت غوښتونکی يو عذاب واقع کيدونکی لويدونکی کافرانو لره چې نسته هغه ته دفع کوونکی (چې راسی)

مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ۝٣ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ

مِّنَ اللّٰهِ	ذِي الْمَعَارِجِ	تَعْرُجُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	وَالرُّوْحُ	اِلَيْهِ
له طرفه دالله	چې خاوند دلويو لوړو زينو دی	چې خيژی	ملائکی	او روح	پر طرف دهغه

له طرفه دالله چې ښتښتن دلويو لوړو زينو دی. چې خيژی ملائيکی او روح (جبرئيل) په طرف دهغه

فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۝٤ فَاصْبِرْ صَبْرًا

فِيْ يَوْمٍ	كَانَ	مِقْدَارُهٗ	خَمْسِيْنَ	اَلْفَ	سَنَةٍ	فَاصْبِرْ	صَبْرًا
په هغه ورځ کښی	چې ده	اندازه دهغی	پنځوس	زره	کاله	نو صبر وکړه	صبر

په هغه ورځ کښی چې ده اندازه دهغی پنځوس زره کاله. نو صبر وکړه (ای محمده) صبر

جَمِيْلًا ۝٥ اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ۝٦ وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ۝٧ يَوْمَ

جَمِيْلًا	اِنَّهُمْ	يَرَوْنَهٗ	بَعِيْدًا	وَّنَرٰىهُ	قَرِيْبًا	يَوْمَ
نيک	بيشکه! دوی (منکران)	وينی هغه	ليری	او موږيئ وينو هغه	نژدی	هغه ورځ

جميل (نيک). بيشکه! دغه (منکران) وينی هغه (عذاب ياقيامت) ليری، او موږيئ وينو هغه نژدی. هغه ورځ

تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ۝٨ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ۝٩

تَكُوْنُ	السَّمَآءُ	كَالْمُهْلِ	وَتَكُوْنُ	الْجِبَالُ	كَالْعِهْنِ
چې وګرځی	آسمان	په شان دژير ويلی سوی	او وبه ګرځی	غرونه	په شان د وړی رنګداری

چې وګرځی آسمان په شان دتورو خټو دتيلو. او وبه ګرځی غرونه په شان د وړی رنګداری وهلی رنګارنګ.

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ

کفارو دالله ﷻ دعذاب غوښتنه وکړه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې دا غوښتونکی نضر ابن حارث وو کم چې دقرآن کريم او دنبي کريم په تکذيب کي ددومره زړه ورتيا څخه کار واخيستی چې وې ويل: اللهمّ ان كان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة من السمآء اوائتنا بعذاب اليم يعني دادعا يي وکړه چې يا الله که داقرآن حق او ستا دطرف څخه وي نو پر موږ دآسمان څخه کاني راواوروه يا بل دردناک عذاب راوليږه: تفسير مظهري الله ﷻ ده لره دبدر په غزا کي دمسلمانانو په لاس عذاب ورکی مظهري دې سرې چې په خپله خوله دالله ﷻ کم عذاب غوښتلی وو مختـه ددې دڅه حقيقت بيان دی چې داعذاب پر کافرانو خامخا واقع کيدونکی دی: برابره خبره ده که په دنيا کي وي يا په آخرت کي وي يا په دواړو کي وي ددې عذاب دفع کول دچا دوس کار نه دی اوداعذاب دالله ﷻ دطرفه څخه دی کم چې لوړو درجو والا ذات دی او دچا پرواه نه لري.

معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۵۵

وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ⑩ يُبَصَّرُونَهُمْ ۚ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي

وَلَا يَسْـَٔلُ	حَمِيمٌ	حَمِيمًا	يُبَصَّرُونَهُمْ	يَوَدُّ	الْمُجْرِمُ	لَوْ يَفْتَدِي
او نه به کوي پوښتنه	يو دوست	له بل دوسته	دوی به کوري هغوی ته	غواړي به	مجرم	چي فديه ورکړي

او نه به کوي پوښتنه يو دوست له بل دوسته اګر که په نظر ورځي دوی ته هغوی خوښوي به مجرم (کافر) چي کاش فديه ورکړي

مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ⑪ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ⑫

مِنْ عَذَابِ	يَوْمِئِذٍ	بِبَنِيهِ	وَصَاحِبَتِهِ	وَأَخِيهِ
له عذابه	ددغي ورځي	په زامنو خپلو سره	او ملګرې ښځي خپلي سره	او وړور خپل سره

له عذابه ددغي ورځي په زامنو خپلو سره او ملګرې ښځي خپلي سره او وړور خپل سره

وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ⑬ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ

وَفَصِيلَتِهِ	الَّتِي	تُؤْوِيهِ	وَمَنْ	فِي الْأَرْضِ	جَمِيعًا	ثُمَّ
او خپلوانو قبيلو خپل	هغو سره	چي پناه يې ورکول دوی ته	او هغه څوک	چي په مځکه کښي دي	ټول	بيا

او خپلوانو قبيلو خپل هغو سره چي ځايونه يې ورکول دوی ته په دنيا کښي او هغه څوک چي په مځکه کښي دي ټول بيا

يُنْجِيهِ ⑭ كَلَّا ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ⑮ نَزَّاعَةً لِلشَّوَىٰ ⑯ تَدْعُو مَنْ

يُنْجِيهِ	كَلَّا	إِنَّهَا	لَظَىٰ	نَزَّاعَةً	لِلشَّوَىٰ	تَدْعُو	مَنْ
وساتي ځان خپل	نه ده داسي	بيشکه! دا	لمبې وهونکې دی	ايستونکې دی	دځرمنو	رابولي	هغه څوک

وساتي ځان خپل نه ده داسي. بيشکه! دا (اور) لمبې وهونکې دی ايستونکې دی (له کفارو څخه) دځرمنو، رابولي هغه څوک

أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ⑰ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ⑱ إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ

أَدْبَرَ	وَتَوَلَّىٰ	وَجَمَعَ	فَأَوْعَىٰ	إِنَّ	الْإِنْسَانَ	خُلِقَ
چي شايځ کړی وی	او مخ يې ګرځولی وی	او ټول کړی يې و (مال)	نو ساتلي يې وی	بيشکه!	انسان	پيدا کړی سوی دی

چي شايځ کړی وی او مخ يې ګرځولی وی. او ټول کړی يې وی (مال) نو ساتلي يې وی. بيشکه! انسان پيدا کړی سوی دی

هَلُوعًا ⑲ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ⑳ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ㉑

هَلُوعًا	إِذَا مَسَّهُ	الشَّرُّ	جَزُوعًا	وَإِذَا	مَسَّهُ	الْخَيْرُ	مَنُوعًا
حارص	او کله چي ورسيږي ده ته	تکليف	نوفرياد کوونکی وی	او کله چي	ورسيږي ده ته	ښيګڼی	نو منع کوونکی وی

حارص، بې صبره او کله چي ورسيږي ده ته شر خرابي صبر نه کوی او کله چي ورسيږي ده ته ښيګڼی نو منع کوونکی وی

إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا
بيشکه انسان بې صبره پيداکړی سوی دی: د هلوع لفظي معنی ده بې صبره ، حريص ،کم همته سړی :حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي په آيت کي دهلوع څخه مراد هغه سړی دی کم چي دحرام مال په حرص کي اخته وي : او حضرت سعيد ابن جبير رضي الله عنه فرمايي چي ددې څخه مراد بخيل سړی دی: او امام مقاتل رحمة الله عليه فرمايي چي زړه تنګی او بې صبره سړی ورڅخه مراد دی او داټولي معناوي يو بل ته نژدې دي دهلوع په مفهوم کي ټولي داخلي دي ددې هلوع تشريح خپله قرآن کريم هم کړېده : دلته دي دا شبهه نه کول کيږي چي کله يې دی پيداکړی دی او داعيب دده په تخليق کي اېښوول سوی دی نو بيا دده څه قصور سو؟ دی مجرم څنګه وګرځول سو ؟ وجه داده چي مراددې څخه په انساني فطرت او جبلّت کي اېښوول سوې ماده او استعداد دی پس په ده کي الله جل جلاله دهر خير او صلاح ماده او استعدادهم اېښی دی اودشر اوفساد هم او ده ته يې عقل او هوښ هم ورکړی دی. پاته بيان پر راروان مخ وګوری :

إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿۲۲﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴿۲۳﴾

إِلَّا الْمُصَلِّينَ	الَّذِينَ	هُمْ	عَلَىٰ	صَلَاتِهِمْ	دَآئِمُونَ
مګر لمونځ کوونکی	چې	دوی	پر	لمانځه خپل	دائم قائم دی

مګر لمونځ کوونکی چې دوی پر لمانځه خپل دائم قائم دی او هیڅکله او هیڅیری هیڅ یو لمونځ تری نه فوت کیږی.

وَالَّذِينَ فِىٓ أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿۲۴﴾ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿۲۵﴾

وَالَّذِينَ	فِىٓ أَمْوَالِهِمْ	حَقٌّ	مَّعْلُومٌ	لِّلسَّآئِلِ	وَالْمَحْرُومِ
او هغه کسان	چې په اموالو دهغوی کښی	حق، برخه	معلومه وی	دپاره دغوښتونکو	او محروم

او هغه کسان چې په اموالو دهغوی کښی حق برخه معلومه وی دپاره دغوښتونکو او محروم (فقیرانو)

وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿۲۶﴾ وَالَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ

وَالَّذِينَ	يُصَدِّقُونَ	بِيَوْمِ	الدِّينِ	وَالَّذِينَ	هُم	مِّنْ عَذَابِ
او هغه کسان	چې باور کوونکی وی	په ورځ	دجزاء باندی	او هغه کسان	چې دوی	له عذاب

او هغه کسان چې باور کوونکی وی په ورځ د انصاف جزاء باندی. او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چې دوی له عذاب

رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿۲۷﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿۲۸﴾

رَبِّهِم	مُّشْفِقُونَ	إِنَّ	عَذَابَ	رَبِّهِمْ	غَيْرُ	مَأْمُونٍ
درب خپل	بیریدونکی وی	بیشکه!	عذاب	درب دوی	نه دی	په امن کړی سوی

درب خپل بیریدونکی وی. بیشکه! عذاب درب د دوی نه دی په امن کړی سوی (بلکه تل تری بیریږی) .

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ﴿۲۹﴾ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَاجِهِمْ

وَالَّذِينَ	هُمْ	لِفُرُوجِهِمْ	حَٰفِظُونَ	إِلَّا	عَلَىٰٓ	أَزْوَاجِهِمْ
او هغه کسان	چې دوی	دخپل شهوت دځایونو	ساتونکی دی	مګر	په	ښځو خپلو باندی

او هغه کسان (هم هلوع نه دی) چې دوی دخپل شهوت دځایونو ساتونکی دی مګر په ښځو خپلو باندی

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿۳۰﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ

أَوْ مَا	مَلَكَتْ	أَيْمَٰنُهُمْ	فَإِنَّهُمْ	غَيْرُ	مَلُومِينَ	فَمَنِ	ابْتَغَىٰ
او په هغه وینځې	چې یئ مالکان سوی دی	راسته لاسونه د دوی	نو بیشکه! دوی	نه دی	ملامت کړی سوی	نو هغه چې	غواړی

او په هغه وینځې چې یئ مالکان سوی دی راسته لاسونه د دوی نو بیشکه! دوی نه دی ملا مت کړی سوی . هغه چې غواړی

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: او دخپلو رسولانو او کتابونو په ذریعه یې دهر کار انجام هم وښوولی نو ده په خپل اختیار سره دشر او فساد داختیاري اعمالو په وجه مجرم مقرر سو کمه ماده چې دده په پیدایش کښې ایښوول سوی ده دهغه په وجه دی مجرم مقرر نه سو لکه چې مخ ته دهلوع دمعنی تشریح په خپله قرآن کریم کړیده په دې کې یې صرف داختیاري عملونو ذکر فرمایلی دی هغه دادی اذا مسّه الشرّ جزوعاً :: واذا مسه الخیر منوعاً :یعنې ددې انسان دکم همتی او بې صبری دا حالت دی چې کله ده ته څه تکلیف او مصیبت پیښ سي نو دصبر څخه کار نه اخلي او کله چې ورته څه راحت او مال او دولت حاصل سي نو په دې کې بخل کوي دلته دبې صبری او جزع فزع څخه مراد هغه دی کم د چې شرعي حدودو څخه وتلي وي دغه شان دبخل څخه مراد دفرائضو او واجباتو په اداء کولو کي کوتاهي ده مخ ته بیا دعامو انسانانو ددې ذکر سوي خصلت څخه استثناء سوې ده. (معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۵۸)

وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝٣١ وَالَّذِيْنَ هُمْ

وَرَآءَ	ذٰلِكَ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْعٰدُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ
پرته	له دغو څخه	پس دغه خلک	هم دوی دی	له حده تیریدونکی	او هغه کسان	چی دوی

پرته (علاوه) له دغو (حلالو ښځو) څخه پس هم دوی دی له حده تیریدونکی. او هغه کسان چی دوی

لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝٣٢ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ

لِاَمٰنٰتِهِمْ	وَعَهْدِهِمْ	رٰعُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	بِشَهٰدٰتِهِمْ
امانتونو خپلو لره	او وعدو خپلو لره	ساتونکی دی	او هغه کسان	چی هم دوی	پر شاهدی خپل باندی

امانتونو لره او وعدو خپلو لره ساتونکی دی. او هغه کسان چی هم دوی پر شاهدی خپل باندی

قَآئِمُوْنَ ۝٣٣ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝٣٤

قَآئِمُوْنَ	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	عَلٰى	صَلَاتِهِمْ	يُحَافِظُوْنَ
سم ولاړ وی	او هغه کسان	چی هم دوی	پر	لمانځه خپل باندی	ساتنه کوی

سم ولاړ وی (نه يئ پټوی) . او هغه کسان چی هم دوی پر لمانځه خپل باندی ساتنه کوی (پر خپلو وختونو يئ اداء کوی) .

۱ ع ۳۵ ۷

اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ۝٣٥ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اُولٰٓئِكَ	فِيْ جَنّٰتٍ	مُّكْرَمُوْنَ	فَمَالِ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
دغه کسان	په جنتونو کښی به وی	مکرم عزتمن کړی سوی	نو څه سوی دی	هغو کسانو لره	چی کافران سوی دی

دغه کسان په جنتونو کښی وی مکرم عزتمن کړی سوی. نو څه سوی دی هغو کسانو لره چی کافران سوی دی

قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ ۝٣٦ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ۝٣٧ اَيَطْمَعُ

قِبَلَكَ	مُهْطِعِيْنَ	عَنِ الْيَمِيْنِ	وَعَنِ الشِّمَالِ	عِزِيْنَ	اَيَطْمَعُ
چی طرف ستا ته	راځغاستونکی دی	له راسته طرفه څخه	او له چپه طرفه څخه	ناست ډلی ډلی	آیا طمع کوی

چی طرف ستا ته راځغاستونکی دی. له راسته لوری څخه او له چپه لوری څخه ناست ډلی ډلی. آیا طمع کوی

كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ۝٣٨ كَلَّا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ

كُلُّ	امْرِئٍ	مِّنْهُمْ	اَنْ يُّدْخَلَ	جَنَّةَ	نَعِيْمٍ	كَلَّا	اِنَّا	خَلَقْنٰهُمْ
هر	سړی	له دوی څخه	چی داخل به کړی سی	په جنت	دنعمتونو کښی	نه دی داسی	بیشکه! موږ	پیدا کړی مو دی دوی

هر سړی له دوی ځینی چی داخل به کړی سی په جنت دنعمتونو کښی. نه دی داسی بیشکه! موږ پیدا کړی مو دی دوی

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ. تول حقوق الله او حقوق العباد په امانت کي داخل دي: په دغه آيت کي امانات دجمع صيغه استعمال سويده لکه بل ځای يي هم فرمايلي دي: انّ الله يامركم ان تؤدوا الامانات الى اهلها دواړه ځايه په لفظ دجمع راوړوسره دي طرف ته اشاره ده چي امانت صرف هغه مال نه دی کم چي ستا سره يو چا ايښی وي بلکي ټول واجب حقونه دکمو ادا کول چي ستا پر ذمه فرض وي هغه ټول امانتونه دي په هغه کي کوتاهي کول خيانت دی په دي کي ټول حقوق الله لمونځ، روژه، حج، زکوة هم داخل دي اوټول حقوق العباد کم چي دالله ﷻ دطرف څخه پر چا واجب دي يا دی يي پخپله دخه وعدې او معاملې په ذريعه پر ځان لازم کړي هغه ټول دامانتونو په فهرست کي داخل دي او اداء کول يي فرض او کوتاهي په کښي کول خيانت دی والذين هم بشهاداتهم قآئمون هغه هم نيکان دي کم چي پر خپلو شاهديو باندي ولاړ وي کمی او زياتی نه په کښي کوي په دي کي هر قسم شاهدي داخله ده الخ.
(معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص ۶۰)

مِمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اِنَّا

اِنَّا	وَالْمَغْرِبِ	الْمَشْرِقِ	بِرَبِّ	فَلَآ اُقْسِمُ	يَعْلَمُوْنَ	مِمَّا
بيشكه! موږ	او په مغربونو	دمشرقونو	په رب	نو قسم خورم	چې په پوهيږي دوى	له هغې شخه

له هغې (نطفې) شخه چې په پوهيږي دوى. نو قسم خورم په رب دمشرقونو او په (رب) مغربونو. بيشكه! موږ

لَقٰدِرُوْنَ ﴿۴۰﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ

وَمَا نَحْنُ	مِّنْهُمْ	خَيْرًا	عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ	لَقٰدِرُوْنَ
او نه يو موږ	له دوى شخه	خير ، غوره	په دې باندى چې بدل راوړو	خامخا قادر يو

خامخا قادر يو په دې باندى چې بدل راوړو خير ډير غوره له دوى شخه او نه يو موږ

بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا

يُلٰقُوْا	حَتّٰى	وَيَلْعَبُوْا	يَخُوْضُوْا	فَذَرْهُمْ	بِمَسْبُوْقِيْنَ
چې ملاقات وكړى دوى	ترهغه پورى	او لوبې كوى	چې مشغول وى	نو پرېږده دوى	عاجز كړى سوى

عاجز كړى سوى. نو پرېږده دوى (اى محمده!) چې تنوځى مشغوليږى او لوبې كوى ترهغه پورى چې پيوست سى دوى

يَوْمَهُمُ الَّذِىْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾ يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ

مِنَ الْاَجْدَاثِ	يَخْرُجُوْنَ	يَوْمَ	يُوْعَدُوْنَ	الَّذِىْ	يَوْمَهُمْ
له قبرونو شخه	چې دباندى راووزى دوى	هغه ورځ	وعده يې كړى سوى ده له دوى سره	چې هغې	له ورځى خپل سره

له هغې ورځى خپلى سره چې وعده يې كړى سوى ده له دوى سره. هغه ورځ چې دباندى راويستل سى دوى له قبرونو شخه

سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ اِلٰى نُصُبٍ يُّوْفِضُوْنَ ﴿۴۳﴾ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ

اَبْصَارُهُمْ	خَاشِعَةً	يُّوْفِضُوْنَ	اِلٰى نُصُبٍ	كَاَنَّهُمْ	سِرَاعًا
ستركى د دوى	حال دا چې ذليلى ،خوارى به وى	چابک ځغلى	پر طرف د نښو	لكه چې دوى	ځغليدونكى به وى

ځغليدونكى به وى لكه چې دوى په طرف د نښو چابک ځغلى. حال دا چې ذليلى خوارى به وى ستركى د دوى

تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِىْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ ع

يُوْعَدُوْنَ	كَانُوْا	الَّذِىْ	الْيَوْمُ	ذٰلِكَ	ذِلَّةٌ	تَرْهَقُهُمْ
چې وعده ورسره كړى سوى وه	وه دوى	چې	ورځ ده	دا	ذلت خوارى	چې پټ كړى به وى دوى

چې پټ كړى به وى دوى لره ذلت خوارى دا ورځ ده (هغه قيامت) چې ؤ دوى چې وعده ورسره كړى سوى وه (په دنيا كښې)

فَلَآ اُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ.. زه قسم اخلم دمشرقونو او مغربونو په مالک سره : په دغه آيت كې الله ﷻ بيا قسم پورته كړى دى او د قسم مقصد داى چې د قيامت واقع كيدل يقيني دي او دا دي شوک مستبعد نه بولي په جواب كې د قسم الله ﷻ فرمايي چې موږ پر دې باندې قادر يو چې په دنيا كې دغه موجوده كافران ختم كړو په خپل عذاب سره او د دوى پر ځاى د دوى څخه ښه خلک راپيدا كړو چې هغوى به د الله ﷻ حكمونه منې او د هغو پيروي به كوي او د موجوده كافرانو په شان نافرماني او سركشي به نه كوي او الله ﷻ فرمايي چې موږ د دغه كار څخه عاجزه نه يو پس هر كله چې نوى مخلوق او هغه هم داسې په كم كې چې صفتونه د كمال زيات وي په كمو كې چې زيات اشياء پيدا كول دي موږ ته يې پيدا كول آسان دي نو تاسي لره پيدا كول كم گران كار دى ؟ نو اوس كه دغه كفار سره د واضح دلائلو د خپل انكار څخه نه واپس كيږي نو مهلت وركړه تر هغه چې موعود عذاب ته مخامخ سي د قيامت په ورځ الخ.
معارف القرآن ج ۱۰ پ۲۹ ص۵۴

ع ۸

اٰیاتونه ۲۸ | ۷۱ سُوْرَةُ نُوْحٍ مَّكِّيَّةٌ ۷۱ | رکوعي ۲

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ

إِنَّآ	أَرْسَلْنَا	نُوحًا	إِلَىٰ	قَوْمِهِۦٓ	أَنْ أَنذِرْ	قَوْمَكَ	مِن قَبْلِ
بيشكه! موږ	ليږلی وو موږ	نوح	طرف	دقوم دده ته	په دی سره چی ويروه ته	قوم خپل	پخوا له هغه څخه

بيشكه! موږ ليږلی وو موږ نوح طرف دقوم دده ته په دی سره چی ويروه ته قوم خپل پخوا له هغه څخه

أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ① قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ

أَن يَأْتِيَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ	قَالَ	يَٰقَوْمِ	إِنِّى	لَكُمْ	نَذِيرٌ
چی راسی دوی ته	عذاب	دردناک	وويل (نوح)	ای قومه زما	بيشكه! زه	تاسی ته	بيروونكی

چی راسی دوی ته عذاب دردناک. وويل (نوح) ای قومه زما بيشكه! زه تاسی ته بيروونكی

مُّبِينٌ ② أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ③ يَغْفِرْ لَكُم

مُّبِينٌ	أَنِ ٱعْبُدُوا۟	ٱللَّهَ	وَٱتَّقُوهُ	وَأَطِيعُونِ	يَغْفِرْ لَكُم
ښكاره يم	چی بندگی کوئ تاسی	الله ته	او ويريږئ له الله څخه	او ومنئ تاسی زما خبری	چی وبخښی (الله) تاسی ته

ښكاره يم. چی بندگی کوئ تاسی الله ته او ويريږئ له الله څخه او ومنئ تاسی زما خبری. چی وبخښی (الله) تاسی ته

مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ

مِّن ذُنُوبِكُمْ	وَيُؤَخِّرْكُمْ	إِلَىٰٓ أَجَلٍ	مُّسَمًّى	إِنَّ	أَجَلَ	ٱللَّهِ
گناهونه ستاسی	او وروستی به کړی تاسی	ترنيتي	په نامه کړی سوی پوری	بيشكه!	چی نيته	دالله

گناهونه ستاسی او وروستی به کړی (الله) تاسی (بی له عذابه) ترنيتي په نامه کړی سوی پوری بيشكه! چی نيته دالله

إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۖ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ④ قَالَ رَبِّ إِنِّى دَعَوْتُ

إِذَا جَآءَ	لَا يُؤَخَّرُ	لَوْ كُنتُمْ	تَعْلَمُونَ	قَالَ	رَبِّ	إِنِّى	دَعَوْتُ
کله چی راسی	نه وروستی کيږی	که چيری يئ تاسی	چی پوهيږئ	وويل (نوح)	ای ربه زما	بيشكه! ما	ومی باله

کله چی راسی نه وروستی کيږی که چيری يئ تاسی چی پوهيږئ. وويل (نوح) ای ربه زما بيشكه! ما ومی باله

إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ أَنْ أَنذِرْ. دحضرت نوح عليه السلام او دهغه دقوم واقعه

په دغه اياتونو کي الله جل جلاله دحضرت نوح عليه السلام او دهغه دقوم واقعه بيان کړيده داسي چي موږ خپل نبي نوح عليه السلام دده قوم ته واستوی او دا مو ورته وويل چي خپل قوم ويروه دالله جل جلاله دعذاب څخه او دا پيغام ورکړه چي نور کفر اوشرک پريږدي له مخه تردي چي دالله جل جلاله عذاب باندي راسي حضرت نوح عليه السلام وخپل قوم ته وويل چي ای زما قومه زه دالله جل جلاله له طرفه تاسي ته بيروونکی يم هغه داچي دالله جل جلاله عبادت وکړی اودهغه څخه وبيريږي او زما خبره ومنی الله جل جلاله به ستاسي گناهونه معاف کړي او وخت به درکړي تر يو متعيني نيتي پوري يغفر لكم من ذنوبكم ويؤخركم مطلب دادی چي په ايمان راوړوسره به ستاسي هغه گناهونه معاف سي دکمو تعلق چي دحقوق الله سره دی ځکه چي دحقوق العباد دمعافی دپاره دايمان راوړلو څخه وروسته هم داشرط دی چي کم حقونه داداء کولوقابل وي هغه اداء کي لکه مالي واجبات. پاته بيان پر راروان مخ وگوری

قَوۡمِیۡ لَیۡلًا وَّنَهَارًا ۙ﴿۵﴾ فَلَمۡ یَزِدۡهُمۡ دُعَآءِیۡۤ اِلَّا فِرَارًا ﴿۶﴾

قَوۡمِیۡ	لَیۡلًا	وَّنَهَارًا	فَلَمۡ یَزِدۡهُمۡ	دُعَآءِیۡۤ	اِلَّا	فِرَارًا
قوم خپل	شپه	او ورځ	نو زیات نه کړ دوی ته	دعوت زما	مګر	تیښته

قوم خپل (توحید ته) شپه او ورځ (تل) نو زیات نه کړ دوی ته دعوت بلنی زما مګر تیښته (له ایمان او اطاعت څخه).

وَاِنِّیۡ کُلَّمَا دَعَوۡتُهُمۡ لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوۡۤا اَصَابِعَهُمۡ

وَاِنِّیۡ	کُلَّمَا	دَعَوۡتُهُمۡ	لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ	جَعَلُوۡۤا	اَصَابِعَهُمۡ
او بیشکه! زه	هر کله چی	وبولم دوی	ددی دپاره چی وبخښی ته دوی	نوننه باسی دوی	ګوتی خپلی

او بیشکه! زه هر کله چی وبولم دوی (وحدت او طاعت ته) ددی دپاره چی وبخښی ته دوی نو ننه باسی دوی ګوتی خپلی

فِیۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَاسۡتَغۡشَوۡا ثِیَابَهُمۡ وَاَصَرُّوۡا وَاسۡتَکۡبَرُوا

فِیۡۤ اٰذَانِهِمۡ	وَاسۡتَغۡشَوۡا	ثِیَابَهُمۡ	وَاَصَرُّوۡا	وَاسۡتَکۡبَرُوا
په غوږونو خپلو کښی	او راتولی یئ کړی دوی	جامی خپلی	او همیشه والی کوی	او سرکشی کوی

په غوږونو خپلو کښی او چاپیر کړی یئ دی ځانونه خپل په جامو خپلو او همیشه والی کوی او سرکشی کوی (له متابعته زما)

اسۡتِکۡبَارًا ۚ﴿۷﴾ ثُمَّ اِنِّیۡ دَعَوۡتُهُمۡ جِهَارًا ۙ﴿۸﴾ ثُمَّ اِنِّیۡۤ اَعۡلَنۡتُ

اسۡتِکۡبَارًا	ثُمَّ	اِنِّیۡ	دَعَوۡتُهُمۡ	جِهَارًا	ثُمَّ	اِنِّیۡۤ	اَعۡلَنۡتُ
سرکشی کول	بیا	بیشکه! ما	وبلل دوی	په ښکاره	بیا	بیشکه! ما	ښکاره وینا وکړه

سرکشی کول. بیا بیشکه! ما وبلل دوی په ښکاره (بلنه سره). بیا بیشکه! ما ښکاره وینا وکړه

لَهُمۡ وَاَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ اِسۡرَارًا ۙ﴿۹﴾ فَقُلۡتُ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّکُمۡ ؕ

لَهُمۡ	وَاَسۡرَرۡتُ	لَهُمۡ	اِسۡرَارًا	فَقُلۡتُ	اسۡتَغۡفِرُوۡا	رَبَّکُمۡ
دوی ته	او په پټه می وینا وکړه	دوی ته	په پټه	نو ومی ویل دوی ته	بخښنه وغواړئ	له ربه خپله

دوی ته او په پټه می وینا وکړه دوی ته په پټه. نو ومی ویل دوی ته بخښنه وغواړئ له ربه خپله (له شرکه)

اِنَّهٗ کَانَ غَفَّارًا ۙ﴿۱۰﴾ یُّرۡسِلِ السَّمَآءَ عَلَیۡکُمۡ مِّدۡرَارًا ۙ﴿۱۱﴾

اِنَّهٗ	کَانَ	غَفَّارًا	یُّرۡسِلِ	السَّمَآءَ	عَلَیۡکُمۡ	مِّدۡرَارًا
بیشکه! هغه (الله)	دی	ډیر بخښونکی	راوبه لیږی (باران)	له آسمانه	پر تاسی باندی	پرله پسی

بیشکه! هغه (الله) دی ډیر بخښونکی (توبه کوونکو لره). راو به لیږی باران له آسمانه پر تاسی باندی ډیر اوریدونکی

فَلَمۡ یَزِدۡهُمۡ دُعَآءِیۡۤ اِلَّا فِرَارًا. دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: او کم چي قابل داداء کولو نه وي لکه په ژبه یا لاس سره یي چاته آزار رسولی وي دهغه معافي وغواړی په حدیث شریف کي چي کم راغلي دي چي په ایمان راوړلو سره مخکني ټول ګناهونه معاف کیږي په دي کي دحقوق العباد اداء کول یا معافي شرط ده داجل معنی موده ده او دمسمی څخه مراد متعین سوی: مطلب دادی چي که تاسي ایمان راوړی نو الله ﷻ به تاسي ته تر دغه وخت پوري مهلت درکړي کم چي ستاسي دپاره مقرر او متعین دی یعني دعمر دمقرري مودې څخه مخکي به تاسي په څه دنیوي عذاب نیولو سره نه هلاکوي: ددې مطلب داسو چي که ایمان رانه وړی نو دا هم ممکنه ده چي دمقررې مودې څخه مخکي پر تاسي باندي دالله ﷻ عذاب راسي او هلاک سی: نو معلومه سوه چي دعمر په مقرره وخت کي ځیني وخت څه شرط وي چي که ده فلانی کار وکی نو عمر به یي اتیاکاله وي او که یي ونه کی نو به اویا کاله وي.
(معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۶۶)

وَّيُمۡدِدۡكُمۡ بِاَمۡوَالٍ وَّبَنِيۡنَ وَيَجۡعَلۡ لَّكُمۡ جَنّٰتٍ وَّيَجۡعَلۡ

وَّيُمۡدِدۡكُمۡ	بِاَمۡوَالٍ	وَّبَنِيۡنَ	وَيَجۡعَلۡ	لَّكُمۡ	جَنّٰتٍ	وَّيَجۡعَلۡ
او كومك كوى له تاسى سره	په مالونو	او زامنو سره	او وه به گرځوى	تاسى ته	باغونه	او وبه گرځوى

او در ډيروى كومك به كوى له تاسى سره په مالونو او زامنو سره او وه وبه گرځوى تاسى ته باغونه او وبه گرځوى

لَّكُمۡ اَنۡهٰرًا ؃ ۱۲ مَا لَكُمۡ لَا تَرۡجُوۡنَ لِلّٰهِ وَقَارًا ۱۳ وَقَدۡ

لَّكُمۡ	اَنۡهٰرًا	مَا لَكُمۡ	لَا تَرۡجُوۡنَ	لِلّٰهِ	وَقَارًا	وَقَدۡ
تاسى ته	ويالى	څه سوى دى په تاسى باندى	چى اميد هيله نه لرئ	له الله څخه	دوقار، لوئى	او په تحقيق

تاسى ته ويالى. څه سوى دى په تاسى باندى چى اميد هيله (ارزو) نه لرئ له الله څخه د وقار، لوئى عزت. او په تحقيق

خَلَقَكُمۡ اَطۡوَارًا ۱۴ اَلَمۡ تَرَوۡا كَيۡفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ

خَلَقَكُمۡ	اَطۡوَارًا	اَلَمۡ تَرَوۡا	كَيۡفَ	خَلَقَ	اللّٰهُ	سَبۡعَ	سَمٰوٰتٍ
پيدا كړى يئ ياست تاسى	قسم قسم	آيا نه گورئ تاسى	څرنگه	پيدا كړى دى	الله	اووه	آسمانونه

پيدا كړى يئ ياست تاسى قسم قسم. آيا نه گورئ تاسى څرنگه پيدا كړى دى الله اووه آسمانونه

طِبَاقًا ۱۵ وَّجَعَلَ الۡقَمَرَ فِيۡهِنَّ نُوۡرًا وَّجَعَلَ الشَّمۡسَ

طِبَاقًا	وَّجَعَلَ	الۡقَمَرَ	فِيۡهِنَّ	نُوۡرًا	وَّجَعَلَ	الشَّمۡسَ
لاندى باندى	او گرځولى يئ ده	سپوږمى	په دى آسمانونو كښى	رڼا، روښنانه	او گرځولى يئ دى	لمر

لاندى باندى او گرځولى يئ ده سپوږمى په دى آسمانونو كښى رڼا روښنانه او گرځولى يئ دى لمر

سِرَاجًا ۱۶ وَاللّٰهُ اَنۡۢبَتَكُمۡ مِّنَ الۡاَرۡضِ نَبَاتًا ۱۷ ثُمَّ

سِرَاجًا	وَاللّٰهُ	اَنۡۢبَتَكُمۡ	مِّنَ الۡاَرۡضِ	نَبَاتًا	ثُمَّ
څراغ بل روښنانه	او الله	پيدا كړى يئ تاسى	له مځكى څخه	پيداكيدل	بيا به

ډيوه بله روښنانه. او الله زرغونه پيدا كړى يئ تاسى (پيدا كړى يئ دى پلار ستاسى) له مځكى څخه پيدا كيده. بيا به

يُعِيۡدُكُمۡ فِيۡهَا وَيُخۡرِجُكُمۡ اِخۡرَاجًا ۱۸ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ

يُعِيۡدُكُمۡ	فِيۡهَا	وَيُخۡرِجُكُمۡ	اِخۡرَاجًا	وَاللّٰهُ	جَعَلَ لَكُمُ
واپس كړى تاسى	په هغى كښى	بيا به راوباسى تاسى	رايستل	او الله	گرځولى ده تاسى ته

ننه باسى تاسى په هغى (مځكى) كښى بيا به راوباسى تاسى (له قبرونو) رايستل. او الله گرځولى ده تاسى ته

وَّيُمۡدِدۡكُمۡ بِاَمۡوَالٍ وَّبَنِيۡنَ وَيَجۡعَلۡ لَّكُمۡ.. دانسان په عمر كي دكمي اوزياتي بحث: په تفسير مظهري كې ددې خبري تشريح داسي كړيده چي دتقدير او قضآء الهي دوه قسمونه دي يو قطعي او بل معلق يعني كم چي په څه شرط پوري معلق وي يعني په لوح محفوظ كي مثلا داسي وليكل سي چي فلاني سړي كه دالله ﷻ اطاعت او عبادت وكړى نو دهغه عمر به مثلا اويا كاله وي او كه يي ونه كى نو په پنځوسو كالوكي به مړ كيږي په دې دوهم قسم تقدير كي په شرط نه پيدا كيدو سره تبديلي كيداى سي په قرآن كريم كي الله ﷻ ددې دواړو قسمونو تقدير او قضاء ذكر په دغه آيت كي كړى دى يمحو الله مايشآء ويثبت وعنده امّ الكتاب: يعني الله ﷻ په لوح محفوظ كي ترميم او تبديلي محو او اثبات كوي او دالله ﷻ سره دى اصل كتاب: داصل كتاب څخه دلته مراد هغه كتاب دى په كم كي چي تقدير مبرم ليكلى سوى دى ځكه چي په تقدير معلق كي چي كم شرط ليكل سوى دى الله ﷻ ته دمخكي څخه: پاته بيان پر راروان مخ وگورى

ع ٩

الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾ قَالَ

الْاَرْضَ	بِسَاطًا	لِّتَسْلُكُوْا	مِنْهَا	سُبُلًا	فِجَاجًا	قَالَ
مځکه	غوړولې فرش	ترڅو چي ولاړ سئ تاسي	له دغې څخه	پرلارو	لويو پراخو باندې	وويل

مځکه غوړولې فرش ترڅو چي ولاړ سئ تاسي له دغې (مځکې) نه پرلارو لويو ارتو باندې. وويل

نُوْحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ عَصَوْنِيْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهٗ

نُوْحٌ	رَّبِّ	اِنَّهُمْ	عَصَوْنِيْ	وَاتَّبَعُوْا	مَنْ	لَّمْ يَزِدْهُ	مَالُهٗ
نوح	اى ربه زما	بيشكه! دوى	نافرمانى وکړه له ما څخه	او متابعت يئ وکړ	دهغه چا	چى نه يئ دى زيات کړى ده ته	مال د ده

نوح اى ربه زما بيشكه! دوى نافرمانى وکړه له ما څخه او متابعت يئ وکړ دهغه چا چى نه يئ دى زيات کړى ده ته مال د ده

وَوَلَدُهٗۤ اِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُوْا

وَوَلَدُهٗۤ	اِلَّا	خَسَارًا	وَمَكَرُوْا	مَكْرًا	كُبَّارًا	وَقَالُوْا
او اولاد دده	مگر	له زيانكارى	او مکر وکړ دوى	مكر	ډيرلوى	او وويل (مشرانو)

او اولاد دده پرته له زيانكارى گمراهى. او مکر وکړ دوى (رؤ ساؤ د دوى) مكر ډيرلوى. او وويل (مشرانو کشرانو ته)

لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوْثَ

لَا تَذَرُنَّ	اٰلِهَتَكُمْ	وَلَا تَذَرُنَّ	وَدًّا	وَّلَا سُوَاعًا	وَّلَا يَغُوْثَ
چى مه پريږدى تاسى	معبودانو خپلو له	او مه پريږدئ	ود	او نه سواع	او نه يغوث

چى مه پريږدى تاسى (عبادت د) معبودانو خپلو له او مه پريږدئ ود او نه سواع او نه يغوث

وَيَعُوْقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا ۚ وَلَا تَزِدِ

وَيَعُوْقَ	وَنَسْرًا	وَقَدْ	اَضَلُّوْا	كَثِيْرًا	وَلَا تَزِدِ
او يعوق	او نسر	او په تحقيق	گمراه کړى دى دوى	ډير	او مه زياتوه

او يعوق او نسر (نوميږى). او په تحقيق گمراه کړى دى (دغو مشرانو) ډير (کشران خلک) او مه زياتوه (اى ربه زما)

الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿٢٤﴾ مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا

الظّٰلِمِيْنَ	اِلَّا	ضَلٰلًا	مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ	اُغْرِقُوْا
ظالمانو خلکو ته	مگر	خو گمراهى ، عذاب	په سبب دگناهونو خپلو سره	ډوب کړل سول دوى

ظالمانو ، بى انصافانو له مگر خو گمراهى هلاک عذاب. په سبب دگناهونو خپلو سره ډوب کړل سول (په دنيا کښې)

لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا. دتير مخ پاته بيان دلته وگورى: دا معلومه ده چي دغه سړى به دا شرط پوره کوي يا به يي نه پوره کوي په دې وجه په تقدير مبرم کي قطعي فيصله ليکل کيږي: دحضرت سلمان فارسي ﷺ په حديث کي دي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي لايردّ القضآء الا الدعآء ولا يزيد فى العمر الا البرّ: يعني قضاء الهي هيڅ شى بغير ددعآء څخه نه سي ردولاى او دچا په عمر کي زياتى بغير دوالدينو سره دنيکى څخه نه سي کيداى دبر معنى ددوى سره ښه سلوک کول دي او مطلب دحديث شريف دادى چي په تقدير معلق کي ددې عملونو په وجه سره تبديلي کيداى سي: لنډه دا چي په آيت کي يي چي تر اجل مسمّى پوري وروسته کول ددوى دايمان په راوړلو باندي موقوف کړي دي دا ددوى دعمر په باره کي دتقدير معلق بيان دى دکم چي به الله ﷻ حضرت نوح ؑ ته علم ورکړى وي ددې په سبب سره دوى خپل قوم ته وښووله چي که تاسي ايمان راوړى نو کم اصلي عمر چي ستاسي: پاته بيان پر راروان مخ وگورى.

فَأُدْخِلُوا نَارًا ۙ فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِّنْ دُونِ اللّٰهِ أَنْصَارًا ﴿٢٥﴾

فَأُدْخِلُوا	نَارًا	فَلَمْ يَجِدُوا	لَهُمْ	مِّنْ دُونِ	اللّٰهِ	أَنْصَارًا
نو داخل به کړل سی	اورته	بيا نه پيدا کوی دوی	دخپلو ځانونو دپاره	بی له	الله	مرسته کوونکی

نو داخل به کړی سی (آخروی) اورته، بيانه پيدا کوی دوی دخپلو ځانونو دپاره بی له الله مددګاران، مرسته کوونکی.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِينَ

وَقَالَ	نُوحٌ	رَّبِّ	لَا تَذَرْ	عَلَى الْأَرْضِ	مِنَ الْكٰفِرِينَ
او وويل	نوح	ای ربه زما	مه پريږده !	پر مځکه باندی	له کافرانو څخه

او وويل نوح ای ربه زما مه پريږده! پر مځکه باندی له کافرانو څخه

دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا

دَيَّارًا	إِنَّكَ	إِنْ تَذَرْهُمْ	يُضِلُّوا	عِبَادَكَ	وَلَا يَلِدُوٓا
هيڅ اوسيدونکی	بيشکه! ته	که چيری پريږدی ته دوی	نو ګمراهان به کړی دوی	بندګان ستا	او نه زيږوی دوی

هيڅ او سيدونکی. بيشکه! ته که چيری پريږدی ته دوی نو ګمراهان به کړی دوی (مؤمنان) بندګان ستا او نه زيږوی دوی

إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ

إِلَّا	فَاجِرًا	كَفَّارًا	رَبِّ	اغْفِرْ لِي	وَلِوَالِدَيَّ
مګر	خو فاجر، بيباکه	ناشکره	ای ربه زما	وبخښه ما	او مور او پلار زما

مګر خو فاجر بيباکه، ناشکره، بدکاره له حقه منکره. ای ربه زما وبخښه ما او مور و پلار زما

وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِينَ

وَلِمَنْ	دَخَلَ	بَيْتِيَ	مُؤْمِنًا	وَّلِلْمُؤْمِنِينَ
او هغه ځوک	چې ننوځی	کور زما ته	حال داچې ايمان لرونکی وی	او ټول ايمان لرونکی نارينه

او هغه څوک چې ننوځی کور، کشتی، مسجد زما ته حال داچې ايمان لرونکی وی او (وبخښه) ټول ايمان لرونکی نارينه

وَالْمُؤْمِنٰتِ ۭ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾ ع

وَالْمُؤْمِنٰتِ	وَلَا تَزِدِ	الظّٰلِمِينَ	إِلَّا	تَبَارًا
او ټولی ايمان لرونکی ښځی	او مه زياتوه	ظالمانو لره	مګر	خو بربادی هلاکت

او ټولی ايمان لرونکی ښځی، او مه زياتوه (ای زما پروردګاره) ظالمانو لره مګر خو بربادی هلاکت.

فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِّنْ دُونِ اللّٰهِ أَنْصَارًا..دتير مخ پاته بيان دلته وګوری:

دپاره الله جل جلاله مقرر کړی دی تر هغه پوري به تاسي ته مهلت درکول سي او په څه دنيوي عذاب سره به نه هلاکيږی او که ايمان رانه وړی نو ددغه اصلي عمر څخه مخکي به دالله جل جلاله عذاب تاسي هلاک کړي او دآخرت عذاب به په دې صورت کښي ددې څخه علاوه وي مخ ته يي دا هم وښوول چي په ايمان راوړو به دهميشه دپاره دمرګ څخه نجات نه وي بلکي په تقدير مبرم کي چي کم عمر ستاسي ليکل سوی دی پر هغه مرګ راتلل ضروري دی ځکه چي الله جل جلاله په خپل بالغ حکمت سره دا عالم دنيا دائمي نه ده جوړه کړې دلته هر شی فنا کيدل د الله جل جلاله دحکمت تقاضا ده په دي کي په ايمان او طاعت سره او په کفر او معصيت سره څه فرق راځي ځکه چي دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی انّ اجل الله اذا جآء لايؤخر يعني دالله جل جلاله له طرفه چي کله دبنده دپاره هغه دده دمرګ تاکلې نيته پوره سي نو مرګ راځي وروسته کيږي نه دخپل وخته څخه الخ.
(معارف القرآن ج١٠پ٢٩ص٦٧)

نصف ١٠ ع٨ ٢

اٰیاتونه ۲۸ | ۷۲ سُوْرَةُ الْجِنِّ مَكِّيَّةٌ ۴۰ | رکوعونه ۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قُلۡ اُوۡحِىَ اِلَىَّ اَنَّهُ اسۡتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الۡجِنِّ فَقَالُوۡۤا اِنَّا

قُلۡ	اُوۡحِىَ اِلَىَّ	اَنَّهُ	اسۡتَمَعَ	نَفَرٌ	مِّنَ الۡجِنِّ	فَقَالُوۡۤا	اِنَّا
ووایه	وحی راغلی ماته	بیشکه! شان دا دی	چې واوریده	یوی ټولی	له پیریانو څخه	نو وویل دوی	بیشکه! موږ

ووایه (ای محمده!) وحی راغلی ماته چې بیشکه! شان دا چې واوریده یوی ټولی له پیریانو څخه نو وویل دوی بیشکه! موږ

سَمِعۡنَا قُرۡاٰنًا عَجَبًا ۙ ۞۱ يَّهۡدِىۡۤ اِلَى الرُّشۡدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ وَلَنۡ نُّشۡرِكَ

سَمِعۡنَا	قُرۡاٰنًا	عَجَبًا	يَّهۡدِىۡۤ	اِلَى الرُّشۡدِ	فَاٰمَنَّا	بِهٖ	وَلَنۡ نُّشۡرِكَ
واوووریدی	یو قرآن	عجیب	چې هدایت کوی	سمی لاری ته	نو ایمان راووړ موږ	پر هغه (قرآن)	او هرګز به شریک نه کړو

واموووریدی یو قرآن عجیب چې هدایت کوی لاره نبیی رشد (ایمان اوحق) ته نو ایمان راووړ موږ پر هغه (قرآن) او هرګز به

بِرَبِّنَاۤ اَحَدًا ۙ ۞۲ وَّاَنَّهُ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً

بِرَبِّنَاۤ	اَحَدًا	وَّاَنَّهُ	تَعٰلٰى	جَدُّ	رَبِّنَا	مَا اتَّخَذَ	صَاحِبَةً
له رب خپل سره	بل هیڅوک	او بیشکه! شان دا دی	چې لوئ دی	شان دلوئی	درب زموږ	نه ده نیولی (الله)	ښځه

شریک نه کړو له رب خپل سره بل هیڅوک. او بیشکه! شان دادی چې لوئ دی شان دلوئی درب زموږ نه ده نیولی (الله) ښځه

وَّلَا وَلَدًا ۙ ۞۳ وَّاَنَّهُ كَانَ يَقُوۡلُ سَفِيۡهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ۙ ۞۴

وَّلَا وَلَدًا	وَّاَنَّهُ	كَانَ يَقُوۡلُ	سَفِيۡهُنَا	عَلَى اللّٰهِ	شَطَطًا
او نه اولاد	او بیشکه! شان دا دی	چې ویل به	ناپوه زموږ (ابلیس)	پر الله باندی	درواغ خبری، لوئی لری له حق

او نه اولاد. او بیشکه! شان دا دی چې ویل به ناپوه زموږ (ابلیس) پر الله باندی خبری لوئی لری له حق صواب.

وَّاَنَّا ظَنَنَّاۤ اَنۡ لَّنۡ تَقُوۡلَ الۡاِنۡسُ وَالۡجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۙ ۞۵

وَّاَنَّا	ظَنَنَّاۤ	اَنۡ لَّنۡ تَقُوۡلَ	الۡاِنۡسُ	وَالۡجِنُّ	عَلَى اللّٰهِ	كَذِبًا
او بیشکه! موږ	ګمان کاوه	چې هیڅکله به نه وایئ	انسانان	او پیریان	پر الله باندی	درواغ

او بیشکه! موږ ګمان کاوه چې هیڅکله به نه وائی انسانان او پیریان پر الله باندی دروغ

قُلۡ اُوۡحِىَ اِلَىَّ اَنَّهُ اسۡتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الۡجِنِّ.. **شان نزول** دایاتونو دتفسیر څخه مخکي په یو څو واقعاتو پوهیدل پکار دي دکمو ضرورت چي په تفسیر کي پیښیږي. اوله واقعه دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکي به شیطانان آسمان ته رسیدل او دملایکو خبري به یي اوریدې دده ﷺ دبعثت څخه وروسته دوی دشهاب ثاقب په ذریعه ددې اوریدو څخه منع سول او ددې حادثې دتحقیق په ضمن کي داپیریان دوی ته ورسیدل لکه چي په سورت احقاف کي تیرسوي دي. **دوهمه واقعه** دجاهلیت په زمانه کي عادت وو چي کله به په یو ځنګل یا بیابان کي دسفر په دوران دقیام کولونو بت راتلی نو په دې عقیده سره چي دپیریانو سردار به زموږ حفاظت کوي دا الفاظ به یي ویل اعوذ بعزیز هذا الوادی من شرّ سفهآء قومه یعني زه ددې ځنګل په سردار سره پناه اخلم دده دقوم دبې وقوفانو شریرانو څخه: دریمه واقعه په مکه مکرمه کي دده ﷺ په بښراوو قحط راغلی وو او ترڅو کاله پوري جاري وو الخ. معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۷۳)

وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ

وَّاَنَّهٗ	كَانَ	رِجَالٌ	مِّنَ الْاِنْسِ	يَعُوْذُوْنَ	بِرِجَالٍ	مِّنَ الْجِنِّ
او بیشکه! شان دادی	چې ؤ به	ډیر سړي	له انسانانو څخه	چې پناه به یئ غوښتله	په سړیو	له پیریانو څخه

او بیشکه! شان دادی چې ؤ به ډیر سړي له انسانانو څخه چې پناه به یئ غوښتله په سړیو له پیریانو څخه

فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ

فَزَادُوْهُمْ	رَهَقًا	وَّاَنَّهُمْ	ظَنُّوْا	كَمَا	ظَنَنْتُمْ	اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ
نو زیاته کړه دوی هغو ته	سرکشي	او بیشکه! دوی	ګمان کړی دی	لکه چې	ګمان کړی دی تاسي	چې هرګز به پورته نه کړي

نو زیاته کړه دغو هغو ته سرکشي، او بیشکه! دوی ګمان کړی دی لکه چې ګمان کړی دی تاسي چې هرګز به پورته نه کړي

اللّٰهُ اَحَدًا ﴿٧﴾ وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا

اللّٰهُ	اَحَدًا	وَّاَنَّا	لَمَسْنَا	السَّمَآءَ	فَوَجَدْنٰهَا	مُلِئَتْ	حَرَسًا
الله	هیڅوک	بیشکه! موږ	ورسیدو	آسمان ته	نو پیدا مو کړ هغه	ډک کړل سوی	له چوکیدارانو

الله هیڅوک. بیشکه! موږ ورسیدو آسمان ته نو پیدا مو کړی هغه (آسمان) ډک کړل سوی له څوکیدارانو

شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿٨﴾ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ

شَدِيْدًا	وَّشُهُبًا	وَّاَنَّا	كُنَّا	نَقْعُدُ	مِنْهَا	مَقَاعِدَ	لِلسَّمْعِ
سختو	او له ستوریو سوځوونکو	او بیشکه!	وو موږ	چې کښینستلو	له دی آسمانه	پر ځایونو باندې	دپاره د اوریدلو

سختو (ملائیکي). او له ستوریو سوځوونکیو څخه او بیشکه! وو موږ چې کښینستلو موږ پر ځایونو دپاره د اوریدلو

فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ

فَمَنْ يَّسْتَمِعِ	الْاٰنَ	يَجِدْ لَهٗ	شِهَابًا	رَّصَدًا	وَّاَنَّا	لَا نَدْرِيْٓ
نو هغه څوک چې اوریدل غواړي	اوس	پیدا کوی به دپاره دځان	داور لمبه	تیاره کړی سوی	او بیشکه! موږ	نه پوهیږو

نو هغه څوک چې اوریدل غواړي اوس پیدا کوی به دپاره دځان د اور لمبه منتظره . او بیشکه! موږ نه پوهیږو

اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾

اَشَرٌّ	اُرِيْدَ	بِمَنْ	فِي الْاَرْضِ	اَمْ اَرَادَ	بِهِمْ	رَبُّهُمْ	رَشَدًا
آیا شر دی	چې اراده یئ سوی ده	په هغه چا	چې په مځکه کښې دی	یا اراده کړی ده	په دوی باندې	رب د دوی	دلاربښوونی

آیا شر دی چې اراده یئ سوی ده په هغه چا باندې چې په مځکه کښې دی یا اراده کړی ده په دوی باندې رب د دوی دلاربښوونی .

وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ. دجناتو او پیریانو حقیقت. جن دالله ﷻ په مخلوقاتو کي دیوداسي مخلوق نوم دی کم چي دجسم خاوندان هم دي اودروح هم او دانسان په شان شعور والا هم دي مګر دخلګو دنظرونو څخه پټ دي په دې وجه ددوی نوم جن مقرراو اینبوول سوی دی ځکه چي دجن لفظي معنی دپټ ده : ددوی دتخلیق غالبه ماده چي ده هغه اور دی لکه دانسان د تخلیق غالبه ماده چي خاوره ده په دې نوع کي هم دانسان په شان نر او ماده یعني سړی او ښځه سته دي او دانسان په شان په دوی کي دتوالد او تناسل سلسله هم سته او ظاهره داده چي په قرآن کریم کي یي جن ته شیاطین ویلي دي داهم په جناتو کي دشریرو خلګو نوم دی دجناتو او ملایکو وجود دقرآن کریم او سنت په قطعي دلایلو سره ثابت دی چي انکار ورڅخه کفر دی تفسیر مظهري. نفر من الجنّ لفظ دنفر ددریو څخه تر لسو شمیرې ته ویل کیږي دغه پیریان هم نهه کسه وه دنصیبین مقام اوسیدونکي وه. والله اعلم (معارف القرآن ج١٠پ٢٩ص٧٨)

وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ؕ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ۱۱

وَّاَنَّا	مِنَّا	الصّٰلِحُوْنَ	وَمِنَّا	دُوْنَ ذٰلِكَ	كُنَّا	طَرَآئِقَ	قِدَدًا
او بیشکه! موږ چي یو	ځینی له موږ څخه	نیکان دی	او ځینی له موږ	غیر له دوی دی	وو موږ ناست	پر لارو	مختلفو

او بیشکه! موږ چي یو ځینی له موږ څخه نیکان دی، او ځینی له موږ غیر له دوی دی وو موږ ناست پر لارو مختلفو (د ادیانو).

وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ۱۲

وَّاَنَّا	ظَنَنَّآ	اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ	اللّٰهَ	فِي الْاَرْضِ	وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ	هَرَبًا
او بیشکه! موږ	یقین موکاوه	چي موږ به عاجز نه کړو	الله	په مځکه کښی	او له سره به نه عاجز کوو موږ دغه	په تیښتی سره

او بیشکه! موږ یقین مو کاوه چي موږ به عاجز نه کړو الله په مځکه کښی او له سره به نه عاجز کوو موږ دغه په تیښتی سره

وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ فَمَنْ يُّؤْمِنْ بِرَبِّهٖ

وَّاَنَّا	لَمَّا	سَمِعْنَا	الْهُدٰٓى	اٰمَنَّا	بِهٖ	فَمَنْ يُّؤْمِنْ	بِرَبِّهٖ
اوبیشکه! موږ	کله چي	واورید موږ	هدایت	نو ایمان راوړ موږ	پر هغه	نو هغه چي ایمان راوړی	په رب خپل

او بیشکه! موږ کله چي واورید هدایت (قرآن) نو ایمان راوړ موږ پر هغه، نو هغه چي ایمان راوړی په رب خپل نو نه

فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ۱۳ وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا

فَلَا يَخَافُ	بَخْسًا	وَّلَا رَهَقًا	وَّاَنَّا	مِنَّا	الْمُسْلِمُوْنَ	وَمِنَّا
نو نه بیریږی	له نقصان	او نه له زیادت څخه	او بیشکه! موږ چي یو	ځینی له موږ	مسلمانان دی	او ځینی له موږ

بیریږی له نقصان (دخپلی نیکی) او نه له زیادت څخه دبدی. او بیشکه! موږ چي یو ځینی له موږ مسلمانان دی او ځینی له موږ

الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ۱۴ وَاَمَّا

الْقٰسِطُوْنَ	فَمَنْ	اَسْلَمَ	فَاُولٰٓئِكَ	تَحَرَّوْا	رَشَدًا	وَاَمَّا
ظالمان کاږه دی	نو هغه چي	غاړه کښیږدی	نو دوی	قصد کړی دی	دسمی صافی لاری	او هر څه

ظالمان کاږه دی. نو هغه چي (الله ته) غاړه کښیږدی (ایمان راوړی) نو دوی قصد کړی دی دسمی صافی لاری. او هر څه

الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ۱۵ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى

الْقٰسِطُوْنَ	فَكَانُوْا	لِجَهَنَّمَ	حَطَبًا	وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا	عَلَى
کږیدونکی له سمی لاری	نو وی به دوی	دوزخ لره	لرګی (خاشاک)	او که داخلګ برابر سی	پر

کږیدونکی له سمی لاری نو وی به دوی دوزخ لره لرګی د (سوځولو). او که دا (خلق دمکی) برابر سی پر

وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ...دپیریانو په سبب دحضرت رافع ابن عمیر رضی الله عنه اسلام: په تفسیر مظهري کي دي چي په هواتف الجن کي په سند سره دحضرت سعید ابن جبیر رضی الله عنه څخه دانقل کړي دي چي رافع ابن عمیر رضی الله عنه صحابي دخپل اسلام دقبلولو یوه واقعه دا ښوولې ده چي ما یوه شپه په یوه بیابان کي سفر کوی چي ناڅاپه پر ما دخوب غلبه راغله زه دخپلي اوښي څخه کښته سوم او بیا بیده سوم اوچي بیده کیدلم دخوب څخه مخکي ما دخپل قوم دعادت مطابق دا الفاظ وویل انّی اعوذ بعظیم هذالوادی من الجنّ یعني زه پناه اخلم ددې ځنګل دپیریانو په سردار پوري نو ما په خوب کي ولیدل چي دیو سړي په لاس کي وسله ده او هغه زماداوښي پر سینه ایښوول غواړي زه وبیریدم راپورته سوم او آخوا دیخواته مي وکتل هیڅ شی نه وونو ما په زړه کي وویل چي دا شیطاني خیال دی اصلي خوب نه دی او بیا بیده سوم او بالکل غافله سوم نو بیا مي دغه خوب ولیدی نوبیا راپورته سوم: پاته بیان پر راروان مخ وګوری

الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَمَنْ

الطَّرِيْقَةِ	لَاَسْقَيْنٰهُمْ	مَّآءً	غَدَقًا	لِّنَفْتِنَهُمْ	فِيْهِ	وَمَنْ
طريقه	نو هرومرو به وڅښوو دوی ته	اوبه	ډيری	ترڅو وازمويو موږ دوی	په دغه کښې	او هغه څوک

طريقه (سمې لارې) نو هرومرو به وڅښوو دوی ته اوبه ډيرې. ترڅو وازمويو موږ دوی په دغه (نعمت) کښې. او هغه څوک

يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾ وَّاَنَّ

يُّعْرِضْ	عَنْ ذِكْرِ	رَبِّهٖ	يَسْلُكْهُ	عَذَابًا	صَعَدًا	وَّاَنَّ
چې مخ واړوی	له ياده	درب خپل	نو داخل به کړي دی (الله)	عذاب	سخت ته	او بيشکه!

چې مخ واړوی له ذکر (قرآن) درب خپل نو داخل به يې کړی (الله) عذاب سخت ته. او بيشکه!

الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿١٨﴾ وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ

الْمَسٰجِدَ	لِلّٰهِ	فَلَا تَدْعُوْا	مَعَ اللّٰهِ	اَحَدًا	وَّاَنَّهٗ لَمَّا	قَامَ
مسجدونه	دپاره دالله دی	نو مه بولئ تاسې	سره له الله	بل هيڅوک	او بيشکه! کله چې	ودريد

مسجدونه (او دسجدې اعضا) دپاره د الله دی نو مه بولئ تاسې سره له الله بل هيڅوک. او بيشکه! کله چې ودريد (لمانځه ته)

عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾ قُلْ اِنَّمَآ

عَبْدُ	اللّٰهِ	يَدْعُوْهُ	كَادُوْا	يَكُوْنُوْنَ	عَلَيْهِ	لِبَدًا	قُلْ	اِنَّمَآ
بنده	دالله	چې بالـه يې دغه	نژدې وُ دوی	چې کيدل به	پر ده باندې	سرپر سر پريوتونکي	ووايه	بيشکه! زه

بنده د الله (محمد) چې باله يې دغه (الله) نژدې وُ دوی چې کيدل به پر ده باندې سر پر سر پريوتونکي. ووايه بيشکه! زه

اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ

اَدْعُوْا	رَبِّيْ	وَلَآ اُشْرِكُ	بِهٖٓ	اَحَدًا	قُلْ	اِنِّيْ	لَآ اَمْلِكُ	لَكُمْ
بولم	رب خپل	او شريک نه نيسم	له دغه (الله) سره	هيڅوک	ووايه	بيشکه! زه	مالک نه يم	تاسې لره

بولم (عبادت کوم) رب خپل او شريک نه نيسم له دغه (الله) سره هيڅوک. ووايه بيشکه! زه مالک نه يم نه توانيږم تاسې لره

ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ اِنِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ۙ

ضَرًّا	وَّلَا رَشَدًا	قُلْ	اِنِّيْ	لَنْ يُّجِيْرَنِيْ	مِنَ اللّٰهِ	اَحَدٌ
دخه ضرر	او نه دخه رشد ، خير	ووايه	بيشکه! زه	هرگز به مې خلاص نه کړي	له (عذابه د) الله	هيڅوک

دخه ضرر او نه دخه رشد خير رسولو. ووايه (محمده) بيشکه! زه چې يم هرگز به مې خلاص نه کړي له (عذابه د) الله هيڅوک

الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا...دتير مخ پاته بيان دلته وگورى: او دخپلي اوبني پر شا اوخوا راوگرځيدم هيڅ مي ونه ليدل مگر چي اوبني ته مي وکتل نو هغه رپيده: زه بيا بيده سوم نو بيا مي دريم وار دغه خوب وليدی چي بيداره سوم که گورم نو زما اوبنه رپيږي او بيا مي وليدل چي يو ځوان دی په لاس کي يي وسله ده او دا هغه سړی وو چي ما په خوب کي پر اوبنه باندي حمله کوونکی ليدلی وواو ورسره مي وليدل چي يوه بوډا سړي دده لاس نيولی دی او پر اوبنه باندي يي دحملي کولو څخه منع کوي په دغه وخت کي درې صحرايي خره رامخامخ سول نو بوډا دغه ځوان ته وويل چي په دغه درووارو کي چي دي کم يو خوښ وي هغه واخله او ددې انسان دا اوبنه پريږده هغه ځوان يو صحرايي خرواخيستی او رخصت سو بيا هغه بوډا ماته وکتل وييل چي ای بې عقله کله چي ته په يو ځنگل کي پاته کيږې او هلته دپيريانو اوشيطانانو بيره وي نو دا الفاظ درسره وايه چي: اعوذ برب محمد من هول هذا الوادی..پاته بيان پر راروان مخ وگورى

ع ١٩ ١١

اَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾ اِلَّا بَلٰغًا.. د تیر مخ پاته بیان دلته وګوری: یعني زه پناه غواړم په رب د محمد ﷺ د دې ځنګل د پیریانو او د هغوی د شر څخه او بیا د چا پیري پناه مه غواړه ځکه چي هغه زمانه تیره سوه کله چي به انسان د پیریانو څخه پناه اخیستنه ما د هغه څخه پوښتنه وکړه چي هغه څوک دی؟ هغه وویل چي هغه نبي عربي دی نه شرقي، نه غربي، د دوشنبې په ورځ هغه مبعوث سوی دی ما پوښتنه وکړه چي هغه کم ځای اوسیږي؟ هغه وویل چي په یثرب کي اوسیږي کم چي د خرماوو کلی دی نو ما سمدستي د سهار څخه د مدینې منورې لاره ونیوله او سپرلی مي تیزه وچلوله تر دې چي مدینې منورې ته ورسیدم نبي کریم ﷺ چي زه ولیدم نو زما ټوله واقعه یې ماته بیان کړه د دې څخه مخکي چي زه هغه واقعه نبي کریم ﷺ ته ذکر کړم او بیا یې ماته د اسلام دعوت راکی او زه مسلمان سوم سعید رضی الله عنه فرمایي چي زما په نزد د دې معاملې په حقله د قرآن کریم دغه آیت نازل سوی دی. وانه کان یعوذون الخ. معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۸۳

وَّلَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾ اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ

وَّلَنْ اَجِدَ	مِنْ دُوْنِهٖ	مُلْتَحَدًا	اِلَّا	بَلٰغًا	مِّنَ اللّٰهِ	وَرِسٰلٰتِهٖ
او له سره به بیا پیدانه کړم	بی له ده (الله)	ځای د پناه	مگر	رسول د حکم	له (طرفه د) الله	او پیغامونه د دغه (الله)

او له سره به بیا پیدانه کړم بی له دغه (الله) څخه ځای د پناه. مگر خو تبلیغ له (طرفه د) الله او رسالت د دغه (الله)

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

وَمَنْ	يَّعْصِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَاِنَّ	لَهٗ	نَارَ جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ
او هر هغه څوک	چی نافرمانی کوی	د الله	او د رسول د دغه (الله)	نو بیشکه!	هغه لره دی	اور د دوزخ	چی تل به وی	په هغه کښی

او هر هغه څوک چی نافرمانی کوی د الله او د رسول د دغه (الله) نو بیشکه! هغه لره دی اور د دوزخ چی تل به وی په هغه کی

اَبَدًا ﴿۲۳﴾ حَتّٰٓى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ

اَبَدًا	حَتّٰٓى	اِذَا رَاَوْا	مَا يُوْعَدُوْنَ	فَسَيَعْلَمُوْنَ	مَنْ اَضْعَفُ
همیشه	تر هغه پوری	چی ووینی دوی	هغه چی وعده یې ورسره سوی ده	نو ژر به پوه سی دوی	چی څوک ډیر ضعیف دی

همیشه. تر هغه پوری چی ووینی دوی هغه چی وعده یې ورسره سوی ده نو ژر به پوه سی دوی چی څوک ډیر ضعیف دی

نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾ قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ

نَاصِرًا	وَّاَقَلُّ	عَدَدًا	قُلْ	اِنْ اَدْرِيْٓ	اَقَرِيْبٌ	مَّا تُوْعَدُوْنَ
له جهته د مددگاره	او ډیر لږ	له جهته د شمیره	وواېه	نه پوهیږم چی	آیا نژدی دی	هغه چی وعده یې درسره کړی سوی ده

له جهته د مددگاره او ډیر لږ له پلوه د شمیره. وواېه نه پوهیږم چی آیا نژدی دی هغه (عذاب) چی وعده یې درسره کړی سوی ده

اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّيْٓ اَمَدًا ﴿۲۵﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ

اَمْ يَجْعَلُ	لَهٗ	رَبِّيْٓ	اَمَدًا	عٰلِمُ	الْغَيْبِ	فَلَا يُظْهِرُ
او که یې مقرر کړی ده	ده لره	رب زما	یوه زمانه لیری	(الله) عالم دی	پر غیبو باندی	نو نه خبروی

او که یې مقرره کړی ده ده لره رب زما یوه زمانه لری. (الله) عالم دی پر غیبو (اشیاؤ) باندی نو نه خبروی

عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ

عَلٰى غَيْبِهٖٓ	اَحَدًا	اِلَّا	مَنِ ارْتَضٰى	مِنْ رَّسُوْلٍ	فَاِنَّهٗ
پر غیبو خپلو باندی	هیڅوک	مگر	هغه څوک چی راضی وی ځینی	له رسول خپل څخه	نو بیشکه! هغه (الله)

په غیبو خپلو باندی هیڅوک مگر هغه څوک چی راضی وی تری له رسول خپل څخه نو بیشکه! هغه (الله)

يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿٢٧﴾ لِّيَعْلَمَ

يَسْلُكُ	مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ	وَمِنْ خَلْفِهٖ	رَصَدًا	لِّيَعْلَمَ
روانوی	په مخ دهغه (رسول کښی)	او وروسته له هغه څخه	ساتونکی (ملائیکی)	ترڅو چی پوه سی رسول

روانوی په مخ دهغه (رسول) کښی او وروسته له هغه ځینی ساتونکی څوکیداران له هر طرفه. ترڅو چی پوه سی

اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ

اَنْ قَدْ	اَبْلَغُوْا	رِسٰلٰتِ	رَبِّهِمْ	وَاَحَاطَ
په دی چی بیشکه!	دوی رسولی دی	پیغامونه	درب خپل	او نیونکی دی علم د الله

په دی چی بیشکه! دوی رسولی دی (جبرئیل او نورو ملائیکو) پیغامونه درب خپل (بی له نقصانه) او نیوونکی دی

بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾ ع

بِمَا	لَدَيْهِمْ	وَاَحْصٰى	كُلَّ شَيْءٍ	عَدَدًا
په هغه باندی	چی د دوی سره دی	او شمیرلی، ساتلی دی	هر شی	دشمیر او عدد له مخی

په هغه (علم) باندی چی په نزد د دغو (ملائیکو او رسولانو) دی او شمیرلی ساتلی دی (الله) هر شی دشمیر او عدد له مخی.

ع ۲ / ۱۲

ایاتونه ۲۰ — ۷۳ سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ ۳ — رکوعی ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٢﴾ نِّصْفَهٗٓ اَوِ انْقُصْ

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ	قُمِ الَّيْلَ	اِلَّا	قَلِيْلًا	نِّصْفَهٗٓ	اَوِ انْقُصْ
ای په جامو کښی ځان رانغښتونکیه	ودریږه په شپه کښی	مګر	خو په لږه	نیمه ددی	یا لږه کړه

ای نغښتونکیه د ځان په جامه کښی. ودریږه (لمانځه ته) په شپه کښی مګر خو په لږه. (چی هغه نیمه د شپی ده) یا لږه کړه

مِنْهُ قَلِيْلًا ﴿٣﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿٤﴾

مِنْهُ	قَلِيْلًا	اَوْ زِدْ	عَلَيْهِ	وَرَتِّلِ	الْقُرْاٰنَ	تَرْتِيْلًا
له هغی	لږ څه حصه	یا زیاته کړه	پر هغی باندی	او واضح وایه	قرآن	په ښکاره واضح لوستلو سره

له هغی (نصفه) لږ څه. یا زیاته کړه پر هغی (نیمی شپی) باندی. او ښکاره واضح لوله قرآن په ښکاره واضح لوستلو سره.

يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ... په علم غیب او غیبي خبرونو کي فرق:
په دغه آیت کي د استثناء مطلب دیوې بې وقوفانه شبهي جواب دی چي دکلي علم غیب په نفي سره دهرغیب نفي مطلقا مراد نه دي بلکي درسالت دمنصب دپاره چي څومره دعلم غیب دخبرونو او دغیب دشیانو علم یو رسول لره دورکولو ضرورت دی دغه هغو ته دالله ﷻ دطرفه څخه په ذریعه دوحی ورکول کیږي او دا په داسي محفوظه طریقه ورکول کیږي چي کله پر دوی دالله ﷻ دطرف څخه څه وحي نازلیږي نو دده هرطرف ته دملایکو پیره وي چي شیطانان په هغه کي څه مداخله ونه کړي :په دي کي اول خو دلفظ درسول څخه دهغو غیبو نوعیت متعین سو دکم علم چي نبي او رسول ته ورکول کیږي اودغه ظاهره ده چي علم شرایع او احکام بتمامه تولو او دغیبو خبرونه په قدر دضرورت دوخت ددي څخه وروسته چي کم علم غیب رسول یانبي ته ورکول کیږي نو هغه په ذریعه دملایکو لیږل کیږي چي پر هغو نوري ملایکي پیره وي الخ
(معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۸۷)

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ⑤ إِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ

إِنَّا سَنُلْقِي	عَلَيْكَ	قَوْلًا	ثَقِيلًا	إِنَّ	نَاشِئَةَ	الَّيْلِ	هِيَ	أَشَدُّ
بیشکه! موږ غورځوونکی یو	پر تا باندی	کلام	دروند	بیشکه!	پورته کیدل	دشپې	دغه	ډېر سخت دی

بیشکه !موږ غورځوونکی یو پر تا باندی کلام دروند (قرآن). بیشکه! پورته کیدل دشپې دغه (پاڅیدل) ډېر سخت دی

وَطْأً وَأَقْوَمُ قِيلًا ⑥ إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ⑦

وَطْأً	وَأَقْوَمُ	قِيلًا	إِنَّ	لَكَ	فِي النَّهَارِ	سَبْحًا	طَوِيلًا
په پائماله کولو کښې د نفس	او زیاته درسته وی	خبره	بیشکه!	تالره	په ورځې کښې	مشغولتیا ده	ډیره

له پلوه د مشقته دپائمال کولو دنفس او ډېر بنه ثابت محکم دی. بیشکه! تالره (محمده) په ورځې کښې مشغولتیا ده اوږده

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ⑧ رَبُّ الْمَشْرِقِ

وَاذْكُرِ	اسْمَ	رَبِّكَ	وَتَبَتَّلْ	إِلَيْهِ	تَبْتِيلًا	رَبُّ	الْمَشْرِقِ
او یادوه	نوم	درب خپل	او جلا سه له هر شی	په لوری ددغه	جلاکیدل کامل	رب	دمشرق دی

او یادوه نوم درب خپل او جلا سه له هر شی څخه په لوری ددغه (رب خپل) جلا کیدل کامل. رب د مشرق (لمر ختو) دی

وَالْمَغْرِبِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ⑨ وَاصْبِرْ عَلَىٰ

وَالْمَغْرِبِ	لَا إِلَٰهَ	إِلَّا	هُوَ	فَاتَّخِذْهُ	وَكِيلًا	وَاصْبِرْ	عَلَىٰ
او دمغرب	نسته بل هیڅوک معبود	مګر	خو هم دی دی یواځی	نو ونیسه دغه (الله)	کارساز	او صبر کوه	پر

او (رب) دمغرب . نسته بل هیڅوک حقانی معبود مګر خو هم دی دی یواځی نو ونیسه دغه (الله) وکیل او صبر کوه پر

مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ⑩ وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ

مَا يَقُولُونَ	وَاهْجُرْهُمْ	هَجْرًا	جَمِيلًا	وَذَرْنِي	وَالْمُكَذِّبِينَ
هغه څه باندی چې وایئ یئ دوی	او پرېږده دوی	پرېښوول	نیک	او پرېږده ما	او درواغ کوونکی

هغه څه باندی چې وایئ ئی دوی . او پرېږده دوی پرېښوول نیک . او پرېږده ما او دروغ کوونکی

أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا ⑪ إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَجَحِيمًا ⑫

أُولِي	النَّعْمَةِ	وَمَهِّلْهُمْ	قَلِيلًا	إِنَّ	لَدَيْنَا	أَنْكَالًا	وَجَحِيمًا
چې خاوندان	دنعمت دی	او مهلت ورکړه دوی ته	لږ	بیشکه!	په نزد زموږ دی	ځنځیرونه درانه	او اور سوځوونکی

چې خاوندان دنعمت دی او مهلت ورکړه دوی ته (مهلت) لږ. بیشکه! په نزد زموږ دی ځنځیرونه درانه او اور سوځوونکی .

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا... ژر ده چې موږ به پر تا باندې یو درونـدوزن داره کـلام وغورزوو: دثقیل معنی درونـد دی او دقول ثقیل څخه مراد دلته قرآن کریم دی ځکه چي ددي دبیان کړو حلالو او حرامو جائزو اوناجائزو دحدودو دائمي پا بندي کول په طبعي ډول سره درنه وي بغیر دهغه څخه چي دچا دپاره یې الله ﷻ اسانه کړي او قرآن کریم ته قول ثقیل په دي وجه ویل کیږي چي ددوی دنزول په وخت کي به نبي کریم ﷺ یو خاص وزن او شدت محسوسوي په کم سره چي به دسخت یخ په وخت کي هم ددوی دتندي مبارک څخه خوله راتله او کـه دوحي دنازلیدو په وخت کي دی مبارک پر اوښه باندي سپور وای نو هغه به ددي دبار څخه ښځ کښته کی لکه چي په صحیح احادیثو کي چي راغلي دي: په دغه آیت کـي دغـه طـرف تـه اشـاره پیـدا کیږي چي دتهجد دلمونځ حکم ځکه درکـول سـو چي انسـان دمشقت تیرولو عادت سي او دادشپې دخوب دغلبې او دنفس دراحت خلاف یـو جهـاد دی الله ﷻ دي رانصـیب کـړي.
(معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۹۷)

وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۳﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ

وَّطَعَامًا	ذَا غُصَّةٍ	وَّعَذَابًا	اَلِيْمًا	يَوْمَ	تَرْجُفُ	الْاَرْضُ
او طعام	نښتونکی په مری کښی	او عذاب	دردناک	په هغه ورځی کښی	چی وښوری	مځکه

او طعام نښتونکی په مری کښی او عذاب دردناک. په هغه ورځی کښی چی وخوځیږی ولړځیږی مځکه

وَّالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيْبًا مَّهِيْلًا ﴿۱۴﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَآ

وَالْجِبَالُ	وَكَانَتِ	الْجِبَالُ	كَثِيْبًا	مَّهِيْلًا	اِنَّآ	اَرْسَلْنَآ
او غرونه	اوسی به	داغرونه	لکه دریګوغونډی	روانی سوی	بیشکه! موږ	لیږلی مو دی

او غرونه اوسی به دا غرونه لکه دشګو ډیری روانی سوی . بیشکه! موږ لیږلی مو دی

اِلَيْكُمْ رَسُوْلًا ۙ شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ

اِلَيْكُمْ	رَسُوْلًا	شَاهِدًا	عَلَيْكُمْ	كَمَآ	اَرْسَلْنَآ	اِلٰى فِرْعَوْنَ
تاسی ته	رسول	شاهد	پرتاسی باندی	لکه چی	لیږلی وو موږ	فرعون ته

تاسی ته رسول (محمد) شاهد په (اعمالو د) تاسی باندی لکه چی لیږلی وو موږ فرعون ته

رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿۱۶﴾

رَسُوْلًا	فَعَصٰى	فِرْعَوْنُ	الرَّسُوْلَ	فَاَخَذْنٰهُ	اَخْذًا	وَّبِيْلًا
رسول	نو نافرمانی وکړه	فرعون	له هغه رسول څخه	پس ونیو موږ دغه (فرعون)	په نیولو	سختو سره

رسول (موسیٰ) . نو عصیان نافرمانی وکړه فرعون له هغه رسول څخه پس ونیو موږ دغه (فرعون) په نیولو سختو سره

فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ﴿۱۷﴾

فَكَيْفَ	تَتَّقُوْنَ	اِنْ كَفَرْتُمْ	يَوْمًا	يَّجْعَلُ	الْوِلْدَانَ	شِيْبًا
پس څرنګه به	وساتئ (ځانونه)	که چیری منکران سئ	له هغی ورځی څخه	چی وبه ګرځوی	هلکان واړه	سپین ږیری

پس څرنګه به وساتئ (ځانونه) که چیری منکران سئ له (عذاب د) هغی ورځی څخه چی وبه ګرځوی هلکان واړه سپین ږیری

السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ ؕ كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ﴿۱۸﴾ اِنَّ هٰذِهٖ

السَّمَآءُ	مُنْفَطِرٌۢ	بِهٖ	كَانَ	وَعْدُهٗ	مَفْعُوْلًا	اِنَّ	هٰذِهٖ
آسمان به	وچوی	په دی سره	ده	وعده دهغه	پوره کیدونکی خامخا	بیشکه!	دا (آیتونه)

آسمان به وچوی په دی سره ده وعده دهغه (الله په راتلو دد غی ورځی سره) پوره کیدونکی خامخا . بیشکه! دا (آیتونه)

يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ..

دقیامت دورځي هیبتناک حالات: په دغه آیت کي الله ﷻ دقیامت دورځي هیبتناک حالات بیان کړي دي چي دا هغه ورځ ده چي مځکه اوغرونه به په حرکت کي راسي داسي حرکت به وکړي چي مځکه به دخپل ځایه څخه وښوري لکه الله ﷻ چي دغه پس منظر په سورت الزلزال کي هم پیش کړی دی: اذا زلزلت الارض زلزالها: واخرجت الارض اثقالها. یعني هغه ورځ الله ﷻ فرمايي تاسي دريه ياد کی چي مځکه به په جیتکو سي او کم دننه شیان چي په دي کي پراته دی هغه به مځکه ټوله راوغورځوي هغه نو که مړي وي که معادن وي که سره زر وي او که سپین زر وي.او داغرونه به بهيدلی ریګ جوړ سي . په سورت القارعة کي الله ﷻ په بل انداز سره بیا دابیان کړی دی: وتكون الجبال كالعهن المنفوش یعني داکلک او سخت دکاڼو څخه جوړ غرونه به داسي سي لکه وریشل سوي وړی اوس فکر پکار دی چي دا به څنګه ورځ وي اوڅه حالت به وي ؟

معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۱۰۵

ع ۱۹ / ۱۴

تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ۝۱۹ اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ

تَذْكِرَةٌ	فَمَنْ شَآءَ	اتَّخَذَ	اِلٰى رَبِّهٖ	سَبِيْلًا	اِنَّ	رَبَّكَ	يَعْلَمُ
نصيحت دی	نو هر هغه څوک چې اراده کوی	ودی نيسی	رب خپل ته	لاره	بيشکه!	رب ستا	عالم دی په دی

بيروونکی، پند دی (خلگو ته) نو هر هغه څوک چې اراده کوی نيسی رب خپل ته لاره. بيشکه! رب ستا عالم دی په دی

اَنَّكَ تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ

اَنَّكَ	تَقُوْمُ	اَدْنٰى	مِنْ ثُلُثَيِ	الَّيْلِ	وَنِصْفَهٗ	وَثُلُثَهٗ
چې بيشکه! ته	ولاړيږې	لږ	له دوو برخو	دشپې څخه	او نيمه برخه دشپې	او دريمه برخه دشپې

بيشکه! ته چې يې پاڅيږې لمانځه ته په شپه کښې لږ له دوو برخو دشپې څخه او نيمه برخه دشپې او دريمه برخه دشپې

وَطَآئِفَةٌ مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ ۚ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۚ عَلِمَ

وَطَآئِفَةٌ	مِّنَ الَّذِيْنَ	مَعَكَ	وَاللّٰهُ	يُقَدِّرُ	الَّيْلَ	وَالنَّهَارَ	عَلِمَ
او يوه طائفه	دهغو کسانو څخه	چې له تاسره دی	او الله	اندازه کوی	شپه	او ورځ	پوه دی په دی

او يوه طائفه د هغو کسانو څخه چې له تاسره دی. او الله اندازه کوی ساتی شپه او ورځ پوه دی (الله) په دی

اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ ۚ

اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ	فَتَابَ	عَلَيْكُمْ	فَاقْرَءُوْا مَا	تَيَسَّرَ	مِنَ الْقُرْاٰنِ
چې هرگز به طاقت ونه لرئ تاسی دهغی	نو معافی يې وليږله	پر تاسو باندې	پس وايا ست هغه	چې آسان وی	له قرآنه

چې هرگز به طاقت ونه لرئ تاسی دهغی نو معافی يې وليږله پر تاسو باندې پس وايا ست هغه چې آسان وی له قرآنه

عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ

عَلِمَ	اَنْ سَيَكُوْنُ	مِنْكُمْ	مَّرْضٰى	وَاٰخَرُوْنَ	يَضْرِبُوْنَ
پوه دی	چې ژر به سی	بعضی له تاسی څينې	مريضان	او وی به نور له تاسی	چې سفر کوی دوی

پوه دی (الله) شان دادی چې ژر به بعضی له تاسی څينې مريضان، ناروغان او وی به نور له تاسی چې سفر کوی دوی

فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ

فِي الْاَرْضِ	يَبْتَغُوْنَ	مِنْ فَضْلِ	اللّٰهِ	وَاٰخَرُوْنَ	يُقَاتِلُوْنَ
په مځکه کښې	لټوی به دوی	له فضله، رزقه	دالله	او وی به نور له تاسی څخه	چې جنگونه به کوی دوی

په مځکه کښې لټوی به دوی له فضله رزقه دالله او وی به نور له تاسی څخه چې جنگونه به کوی دوی

عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ.. دقيام الليل فرضيت منسوخ سو: دسورت په شروع کې په قم اليل سره پر نبي کريم ﷺ او ټولو مسلمانانو دشپې قيام فرض سوی دی اوددې قيام اوږدوالی هم فرض وو مگر په دې اوږدوالي کې اختيار هم ورکول سوی وو چې دنيمې شپې څخه څه کم يا زيات او دکم څخه کم دريمه حصه دشپې قيام پکار دی. نبي کريم ﷺ او ددوی سره دصحابه کرامو ﷺ يو جماعت ددې فرضو په اداء کولو کې اکثره په عزيمت باندې عمل وکړی او دشپې زيات تر زيات وخت به يې په دې لمونځ کې تيروی کم چې به دوه ثلثه دشپې ته نژدې وو هره شپه: دا عمل بيا دورځې ددين ددعوت او تبليغ اوذاتي ضرورتونه خصوصا اکثرو صحابه کرامو ﷺ به محنت او مزدوري يا تجارت کوی ددې اوږد او دروند لمونځ په پابندی سره دنبي کريم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ پښې وپړسيدې ددوی دا محنت او مشقت دالله ﷻ په مخکې وو هغه په دې ښه پوه وو مگر په علم الهي کې دمخکې: پاتې بيان پر راروان مخ وگوری

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

فِيْ سَبِيْلِ	اللّٰهِ	فَاقْرَءُوْا مَا	تَيَسَّرَ	مِنْهُ	وَاَقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ
په لارې	دالله کښې	وایاست تاسې هغه	چې آسان وی	له دغه	او قائموی	لمونځ

پہ لارې دالله کښې نو لولئ تاسې (پہ لمانځه کښې) هرومرو چې آسان وی له دغه (قرآنه) او قائموی لمونځ

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ۗ وَمَا تُقَدِّمُوْا

وَاٰتُوا	الزَّكٰوةَ	وَاَقْرِضُوا	اللّٰهَ	قَرْضًا	حَسَنًا	وَمَا	تُقَدِّمُوْا
او ورکوی	زکوٰة	او قرض ورکوی تاسی	الله ته	قرض	ښه	او هر هغه چې	مخکې لیږئ تاسی

او ورکوی زکوٰة او قرض ورکوی تاسی الله ته قرض ښه ، او هر هغه چې وړاندې لیږئ تاسی

لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ

لِاَنْفُسِكُمْ	مِّنْ خَيْرٍ	تَجِدُوْهُ	عِنْدَ اللّٰهِ	هُوَ	خَيْرًا	وَّاَعْظَمَ
دپاره دځانونو خپلو	له خیر نیکی څخه	بیا به پیدا کړئ تاسی هغه	په نزد دالله	دا ډیره	غوره ده	او ډیره لویه ده


دپاره دځانونو خپلو له خیر نیکی څخه نو بیا به پیدا کړئ تاسی هغه (نیکی) په نزد دالله دا ډیره غوره ده او ډیره لویه ده

ع ١٤

اَجْرًا ۗ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٢٠

اَجْرًا	وَاسْتَغْفِرُوا	اللّٰهَ	اِنَّ	اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ
له پلوه داجر	او بخښنه وغواړئ	له الله	بیشکه!	الله	ښه مغفرت کوونکی	ډیر رحم والا دی

له پلوه داجر ثواب، او بخښنه وغواړئ له الله په هر حال کښې بیشکه! الله ښه مغفرت کوونکی ډیر رحم والا دی .



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَاَنْذِرْ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣ وَثِيَابَكَ

يٰۤاَيُّهَا	الْمُدَّثِّرُ	قُمْ	فَاَنْذِرْ	وَرَبَّكَ	فَكَبِّرْ	وَثِيَابَكَ
ای	په جامه کښې نغښتونکی	پورته سه!	پس ویېروه	او رب خپل	پس په لوئی سره یادوه	او جامی خپل

ای په جامه کښې نغښتونکی پورته سه! پس ویېروه. او رب خپل پس په لوئی سره یادوه. او کالی (جامی) خپل

فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: څخه متعین وه چې دادوره دمحنت او تکلیف دڅو ورځو دپاره ده چې دوی ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم دمحنت او ریاضت سره عادت سي دکم طرف ته چې په ذکر سوو ایاتونو کي هم په: انّا سنلقی علیک قولا ثقیلا: کي اشاره سوې ده چې ستا څخه دا محنت او مشقت ځکه اخیستل کیږي چې تاته قول ثقیل یعني دقرآن کريم خدمت سپارل کیدونکی دی کم چې ددې مشقت څخه لوی مشقت دی: په هر حال دعلم ازلي مطابق کله چې داحکمت درياضت او محنت دعادت جوړولو پوره سو نو دافرض دقيام اليل هم منسوخ سو او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه دروايت مطابق داهم کيدای سي چي په ذکر سوو اياتونو سره صرف داوږد قيام فرضيت منسوخ سوی وي داصل لمونځ دتهجد فرضيت پر خپل ځای وي بيا دمعراج په شپه کي د پنځولمونځونو دفرضيت په وخت دتهجد دلمونځ فرضيت منسوخ سوی دی. والله تعالى اعلم بالحقائق واليه يرجع الامر.

معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص١٠٥

فَطَهِّرْ ۝٤ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۝٥ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ

فَطَهِّرْ	وَالرُّجْزَ	فَاهْجُرْ	وَلَا تَمْنُنْ	تَسْتَكْثِرُ	وَلِرَبِّكَ
پاکی وساته	او ګندګی، بتان	پس ترک کړه	او مه کوه داسی احسان	چی بدل یئ ډیر غواړی	او د پاره د رب خپل

پاکی وساته! او ګندګی، بتان پس ترک کړه. او مه کوه داسی (لږ) احسان چی بدل یئ ډیر غواړی او د پاره د رب خپل

فَاصْبِرْ ۝٧ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ۝٨ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَّوْمٌ

فَاصْبِرْ	فَإِذَا	نُقِرَ	فِي النَّاقُورِ	فَذَٰلِكَ	يَوْمَئِذٍ	يَّوْمٌ
پس صبر کوه	کله چی	پوکړ سی	په شپیلی کښی	نو دغه پوکی	په دغه ورځ کښی	ورځ

پس صبر کوه. کله چی پو کړ سی په شپیلی کښی نو دغه (وخت د) پوکی په دغه ورځ کښی ورځ

عَسِيرٌ ۝٩ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ۝١٠ ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ

عَسِيرٌ	عَلَى الْكَافِرِينَ	غَيْرُ	يَسِيرٍ	ذَرْنِي	وَمَنْ	خَلَقْتُ
سخته ده	پر کافرانو باندی	نه به وی	آسانه	پریږده ما	او هغه څوک	چی پیدا کړی می دی

سخته ده. پر کافرانو باندی نه به وی آسانه (پر دوی). پریږده ما او هغه څوک چی پیدا کړی می دی

وَحِيدًا ۝١١ وَّجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ۝١٢ وَّبَنِينَ شُهُودًا ۝١٣

وَحِيدًا	وَّجَعَلْتُ	لَهُ	مَالًا	مَّمْدُودًا	وَّبَنِينَ	شُهُودًا
یوازی	او بیا می وګرځاوه	د ده ته	مال	ډیر زیات	او زامن	حاضر

یوازی (بی له ماله). او بیا می وګرځاوه ورمی کړ ده ته مال ډیر زیات. او زامن حاضر

وَّمَهَّدْتُّ لَهُ تَمْهِيدًا ۝١٤ ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ۝١٥ كَلَّا ۖ إِنَّهُ كَانَ

وَّمَهَّدْتُّ	لَهُ	تَمْهِيدًا	ثُمَّ يَطْمَعُ	أَنْ أَزِيدَ	كَلَّا	إِنَّهُ	كَانَ
او پراخی می وکړه	ده لره	پراخی	بیا طمع کوی	چی لا به بنه زیات کړم	نه کوم داسی	بیشکه! هغه	وو

او تیاری می وکړه ده لره تیاری. بیا طمع کوی امید لری دی چی لا به بنه زیات کړم. نه کوم داسی بیشکه! هغه وو

لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ۝١٦ سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ۝١٧ إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ۝١٨

لِآيَاتِنَا	عَنِيدًا	سَأُرْهِقُهُ	صَعُودًا	إِنَّهُ	فَكَّرَ	وَقَدَّرَ
آیتونو زموږ لره	عناد کوونکی	ژر به یئ وخیژوم هغه	پر لوړ غرد اور باندی	بیشکه! هغه	فکر وکړ	او اندازه یئ وکړه

آیتونو زموږ لره عناد کوونکی مخالف. وبه یئ خیژوم پر لوړ (اوچت) غرد اور باندی. بیشکه! هغه فکر وکړ او اندازه یئ وکړه

وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۝٥ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ.. دګندګی څخه لیري اوسه داسي احسان مه کوه چي بدل یي زیات غواړې: ځیني مفسرینو درجز معنی بتان مقرر کړي دي او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه په یوروای کي دي چي دديږ څخه مراد هره ګناه او معصیت دی نو معنی دآیت داسوه چي بتان یاګناه او معصیت پریږده نبي کریم ﷺ خو دمخکي څخه لا هرڅه پري اینبسي وه دوی ته ددي حکم کولو معنی داده چي آینده هم ددې شیانو څخه لیري اوسه او په حقیقت کي دا حکم دامت دپاره دتعلیم دی کم چي یي دډیر تاکید دپاره نبي کریم ﷺ مخاطب کی چي هغوی پوه سي چي کله معصوم پیغمبر ته هم ددې حکم دی نو موږ لره خو ددې څومره اهتمام کول پکار دي: مخکي دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی ولاتمنن تستکثر. یعني پرچا احسان په دې نیت سره مه کوه چي تا څه ورلره ورکړي وي تر هغه زیات ورڅخه وصول سي ددې څخه معلومه سوه چي چالره هدیه تحفه په دې نیت سره ورکول چي هغه به زیات راکړي مکروه ده الخ.
معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۱۲۲)

فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ

فَقُتِلَ	كَيْفَ	قَدَّرَ	ثُمَّ	قُتِلَ	كَيْفَ	قَدَّرَ	ثُمَّ نَظَرَ	ثُمَّ
نودی قتل سی	څرنګه یئ	اندازه کړه	بیا	دی ووژلی سی	څرنګه یئ	اندازه وکړه	بیا یئ وکتل	بیا یئ

نوووژلی سو څرنګه یئ اندازه کړه بیا دی ووژلی سی څرنګه یئ اندازه وکړه. بیا یئ وکتل (محمد یاقرآن ته) بیا یئ

عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

عَبَسَ	وَبَسَرَ	ثُمَّ	اَدْبَرَ	وَاسْتَكْبَرَ	فَقَالَ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا
مخ تریو کړی	او خوله یئ خرابه کړه	بیا یئ	شاواړوله	او لوئی یئ وکړه	نو ویئ ویل	نه دی دا (قرآن)	مګر خو

مخ تریو کړی او تندئ یئ غوټه کړی، بیا یئ شاواړوله (له محمده) اولوئی یئ وکړه. نو ویئ ویل نه دی دا (قرآن) مګر خو

سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

سِحْرٌ	يُّؤْثَرُ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا	قَوْلُ	الْبَشَرِ	سَاُصْلِيْهِ	سَقَرَ
کوډی دی	چی نقل سوی دی	نه دی دا (قرآن)	مګر	خو خبره	دبنی آدم ده	ژربه داخل کړم دی	اور د دوزخ ته

کوډی دی چی نقل سوی دی. نه دی دا (قرآن) مګر خو خبره دبشر بنی آدم ده. (الله فرمائی) ژربه داخل کړم دی اور د دروخ ته

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾

وَمَآ اَدْرٰىكَ	مَا سَقَرُ	لَا تُبْقِيْ	وَلَا تَذَرُ	لَوَّاحَةٌ	لِّلْبَشَرِ
او څه شی پوه کړی یئ ته	چی څه دی اور د سقر	چی باقی نه پریږدی غوښه	او نه پریږدی هډوکی	سوځوونکی دی	سړیو ته

او څه شی پوه کړی یئ ته چی څه دی اور د سقر .چی نه پاتی کیږی او نه پریږدی ، سوځوونکی، توروونکی دی سړیو لره

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ اِلَّا

عَلَيْهَا	تِسْعَةَ عَشَرَ	وَمَا جَعَلْنَآ	اَصْحٰبَ	النَّارِ	اِلَّا
پر هغه باندی (مکلفی) دی	نولس (ملائیکی)	او نه دی ګرځولی موږ	محافظانی	د اور (د دوزخ)	مګر

په هغه (اور دسقر) باندی مکلفی دی نولس ملائیکی. او نه دی ګرځولی موږ خازنانی ، مؤکلانی د دوزخ مګر

مَلٰٓئِكَةً وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

مَلٰٓئِكَةً	وَّمَا جَعَلْنَا	عِدَّتَهُمْ	اِلَّا	فِتْنَةً	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
ملائیکی	او نه دی ګرځولی موږ	شمیر ددوی	مګر	ازموینه ، امتحان	دپاره دهغو کسانو	چی کفران سوی دی

ملائیکی (قوتناکی). او نه دی ګرځولی موږ (دا لږ) شمیر ددوی مګر فتنه ، ازموینه دپاره دهغو کسانو چی کافران سوی دی

فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ...

وليد ابن مغيره دالله ﷻ دوركړو نعمتونوناشكري وكړه: په دغه اياتونوكي الله ﷻ دوليدابن مغيره ناشكري دده كفر او داسلام او مسلمانانو سره بغض او حسد بيان كړى دى دالله ﷻ ارشاد دى چي ما اوهغه سړى پر خپل حال پريږدى چي موږ به دده سره پوه سو كم چي ما دمال او اولاد څخه خالي او يوازي پيدا كړى دى لكه چي دپيداكيدو په وخت كي دسړي سره نه مال وي او نه اولادوي او بيا مي دلره ډير مال وركړى او دده سره په خواكي اوسيدونكي زامن مي وركړل اوهر قسم سامان مي دده دپاره تيار كړى ليكن ده بدبخته دالله ﷻ دغه پريمانه نعمت په ناشكري او بې قدرى سره كم وګڼى او اوس ددې خبري هوس لري چي ده ته نور زيات وركړم ليكن الله ﷻ فرمايي چي داهيڅكله دزيات وركولو قابل نه دى ځكه چي هغه زموږ داياتونو مخالف دى او دمخالفت سره عدم قابليت ظاهر او ښكاره دى كله چي دغه اياتو نه نازل سول نور ددغه وليد ابن مغيره : **پاته بيان پر راروان مخ وګورى :**

لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

لِيَسْتَيْقِنَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	وَيَزْدَادَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا
ترڅو چي يقين وكړي	هغه كسان	چي وركړی سوی دی دوی ته	كتاب	او چي زيات سي	هغه كسان	چي ايمان يې راوړی دی

ترڅو چي يقين وكړي هغه كسان چي دوی ته وركړی سوی دی كتاب او زيادت كړي دی هغو كسانو چي ايمان يې راوړی دی

اِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

اِيْمَانًا	وَّلَا يَرْتَابَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	وَالْمُؤْمِنُوْنَ
په ايمان كښي	او چي نه كړي شك	هغه كسان	چي دوی ته وركړی سوی دی	كتاب	او مؤمنان

ايمان يې زيات كړي چي ونه كړي شك هغه كسان چي دوی ته وركړی سوی دی كتاب او (غيرله مذكورو څخه نور) مؤمنان.

وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ

وَلِيَقُوْلَ	الَّذِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ	وَّالْكٰفِرُوْنَ	مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ
او چي ووايې	هغه كسان	چي په زړونو دهغوی كښي	مرض دی	او كافران	د څه شي اراده كړې ده الله

او چي ووايې هغه كسان چي په زړونو دهغوی كښي مرض دی او (وايې) كافران د څه شي اراده كړې ده الله

بِهٰذَا مَثَلًا ۘ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ

بِهٰذَا	مَثَلًا	كَذٰلِكَ	يُضِلُّ	اللّٰهُ	مَنْ يَّشَآءُ	وَيَهْدِيْ
په دی شمير سره	له جهته دمثاله	هم داسی	ګمراه كوی	الله	هر هغه څوک چي اراده وفرمائي	او سمه لاره ښيي

په دی شمير (دملائيكو) سره له جهته دمثاله. هم داسی ګمراه كوی الله هر هغه څوک چي اراده وفرمائي او سمه لاره ښيي

مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ۭ وَمَا هِيَ اِلَّا

مَنْ يَّشَآءُ	وَمَا يَعْلَمُ	جُنُوْدَ	رَبِّكَ	اِلَّا	هُوَ	وَمَا هِيَ	اِلَّا
هر هغه چاته چي اراده وفرمائي	او نه پوهيږي	په لښكرو	درب ستا	مګر	هم دغه (الله)	او نه ده دا	مګر

هر هغه چاته چي اراده وفرمائي. او نه پوهيږي په لښكر درب ستا مګر هم دغه (الله)، او نه ده دا (سقر، عدد، قرآن) مګر

ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ۝٣١ كَلَّا وَالْقَمَرِ ۝٣٢ وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ۝٣٣ وَالصُّبْحِ

ذِكْرٰى	لِلْبَشَرِ	كَلَّا	وَالْقَمَرِ	وَالَّيْلِ	اِذْ اَدْبَرَ	وَالصُّبْحِ
خو پند دی	خلګو ته	نه ده داسی	او قسم دی په سپوږمي	او په شپې	كله چي شا واړوی	او قسم دی په سهار باندی

خو پند دی خلګو ته. نه ده داسی او قسم دی په سپوږمي او قسم دی په شپې كله چي شا واړوی او قسم دی په سهار باندی

ع ۱ ۱۵

لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ... دتير مخ پاته
بيان دلته وګوری : ترقي
هم بنده سوه چنانچي بيا
يي نه اولاد وسو او نه يي
مال زيات سو او دا سزا
خو الله ﷻ ده ته په دنيا
كي وركړه او الله ﷻ
فرمايي چي په آخرت كي
به يي يعني دمرګ څخه
وروسته به يي ددوږخ
غرونو ته وخيژوم په
حديث شريف كي دي چي
صعود په دوږخ كي يو غر
دی په اويا كاله كي به ده
سر ته ورسيږي بيا به دغه
ځايه څخه راولغړي بيابه
دغه شان هميشه خيژي او
را وبه لغړي او وجه ددي
سزا هغه عناد دی كم چي
لوړ ذكر سو او مخ ته هم
ددي څه تفصيل راروان
دی هغه داچي دغه سړی
يعني وليد ابن مغيره په
دي باره كي سوچ وكړی
چي دقرآن كريم په شان كي
څه خبره منتخبه كړم بيا يي
سوچ وكړی يوه خبره يي
منتخبه كړه دغه مكرر
تعجب ده پر سخت او
قابل تعجب خبره باندي
دی يعني څنګه بې جوړه
خبره يي منتخبه كړه دكم
چي احتمال هم نه سي
كيدای اوبيا يي دحاضرو
كفارو مخونو ته وكتل
چي دغه منتخب سوي
خبره وكړم دوی ته : پاته
بيان پر راروان مخ وګوری

إِذَآ أَسۡفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرٗا لِّلۡبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَآءَ

إِذَآ أَسۡفَرَ	إِنَّهَا	لَإِحۡدَى	ٱلۡكُبَرِ	نَذِيرٗا	لِّلۡبَشَرِ	لِمَن شَآءَ
کله چي روښانه سي	بيشکه! دا	خامخا يو له	لويو څخه دی	بيروونکی دی	بشر له	هغه چا له چي غواړي

کله چي روڼ سي ، بيشکه! دا (دوزخ)خامخا يو له (مصيبتونو) لويو څخه دی. بيروونکی دی بشر له هغه چا له چي غواړي

مِنكُمۡ أَن يَتَقَدَّمَ أَوۡ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ

مِنكُمۡ	أَن يَتَقَدَّمَ	أَوۡ يَتَأَخَّرَ	كُلُّ	نَفۡسِۭ	بِمَا	كَسَبَتۡ
له تاسي څخه	چي مخکی سی	يا وروسته پاته سی	هر	نفس	په سبب د هغه	چي کړی يئ وی

له تاسي ځيني چي مخکی سی يا وروستی سی . هر نفس په سبب د هغه چي کړی يئ وی

رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِي جَنَّٰتٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾

رَهِينَةٌ	إِلَّآ	أَصۡحَٰبَ	ٱلۡيَمِينِ	فِي جَنَّٰتٖ	يَتَسَآءَلُونَ
گروبندی به وی	مگر خو	خاوندان	د راسته لاس	وی به په جنتونو کښی	چي پوښتني به سره کوی يو له بله

گروبندی به وی (په سقر کی) . مگر خو خاوندان د راسته لاس وی به په جنتونو کښی چي پوښتني به سره کوی يو له بله

عَنِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمۡ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُواْ لَمۡ نَكُ

عَنِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ	مَا سَلَكَكُمۡ	فِي سَقَرَ	قَالُواْ	لَمۡ نَكُ
له حال د مجرمانو	څه شی داخل کړی يئ تاسي	په دوزخ کښی	وبه وايئ	نه ؤ موږ

له حال د مجرمانو (گنهگارانو).(وايئ به) څه شی داخل کړی يئ تاسي په دوزخ کښی. وبه وايئ (مجرمان) نه ؤ موږ

مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ ٱلۡمِسۡكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا

مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ	وَلَمۡ نَكُ	نُطۡعِمُ	ٱلۡمِسۡكِينَ	وَكُنَّا
له لمونځ کوونکو څخه	او نه وو موږ	چي طعام موورکړی وی	مسکينانو ته	او وو به موږ

(په دنيا کښی) له لمونځ کوونکو څخه او نه وو موږ چي طعام خواړه مو ورکړی وی مسکينانو ته او وو به موږ

نَخُوضُ مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾

نَخُوضُ	مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ	وَكُنَّا	نُكَذِّبُ	بِيَوۡمِ	ٱلدِّينِ
چي مشغول کيدو به	په (باطلو) سره له ډيرو خبرو کوونکو سره	او وو به موږ	چي درواغ به مو ويل	په ورځ	د قيامت باندی

چي شغل مو کاوه په (باطلو خبرو کښی) سره له ډيرو خبرو کوونکو او وو به موږ چي درواغ به مو ويل په ورځ د قيامت باندی.

إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرٗا لِّلۡبَشَرِ... د تير مخ پاته بيان دلته وگورى :

بيا يي خله خرابه کړه چي دغه ليدونکي کفار ووينې چي دی د قرآن کريم څخه ډير نفرت لري او زياته يي خله خرابه کړه بيا يي مخ واړوی او تکبر يي ظاهر کړی لکه چي دا د خلگو عادت دی چي کم شی قابل اعتراض گڼي د هغه د ذکر کولو څخه مخ اړوي او د نفرت اظهار کوي بيا يي وويل چي بس دا خو جادو دی کم چي د نورو څخه نقل دی بس دا د سړي کلام دی دا د الله ﷻ کلام نه دی کم چي محمد د يو جادوگر څخه نقل کوي او يا يي په خپله مصنف دی ليکن دا مضامين د تيرو مدعيانو د نبوت څخه منقول دی او دغه د عبادت اسلوب او طريقه يي نعوذ بالله د دوی د سحر اثر دی : الله ﷻ د داسي کسانو په باره کي فرمايي چي زه به دغه عنادگر ژر په دوزخ کي داخل کړم او تاسي څه خبر ياست چي دوزخ څه شی دی ؟ هغه داسي دی چي د بدن غوښي پاکي سوځي او هيڅ شی هم نه پريږدي او نولس فرشتې پر هغه مقرري دي د عذاب ورکولو د پاره الخ.

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۱۱۳

حَتّٰٓى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿۴۷﴾ فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿۴۸﴾

حَتّٰٓى	اَتٰىنَا	الْيَقِيْنُ	فَمَا تَنْفَعُهُمْ	شَفَاعَةُ	الشّٰفِعِيْنَ
ترهغه پورى	چى راغله موږ ته	يقينى خبره	پس نفع به ونه رسوى دوى ته	شفاعت	دشفاعت كوونكو

ترهغه پورى چى راغله موږته يقينى خبره (مرګ) . (نوفرمائى الله) پس نفع به ونه رسوى دوى ته شفاعت دسپارښت كوونكو .

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۹﴾ كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ

فَمَا لَهُمْ	عَنِ التَّذْكِرَةِ	مُعْرِضِيْنَ	كَاَنَّهُمْ	حُمُرٌ
پس څه سوى دى په دوى باندى	چى له پنده	مخ ګرځوونكى دى	ګواكى دوى	خره دى

پس څه سوى دى په دوى باندى چى له پنده (قرآنه) مخ ګرځوونكى دى، ګواكى دوى (صحرايئ خره) خره دى

مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿۵۰﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿۵۱﴾ بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ

مُّسْتَنْفِرَةٌ	فَرَّتْ	مِنْ قَسْوَرَةٍ	بَلْ يُرِيْدُ	كُلُّ	امْرِئٍ	مِّنْهُمْ
تښتيدونكى	چى تښتى	له زمرى څخه	بلكه غواړى	هريو	سړى	له دوى څخه

تښتيدونكى چى تښتى له زمرى (يا له غال مغال) څخه . بلكه غواړى هريو سړى له دوى څخه

اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿۵۲﴾ كَلَّا ؕ بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ

اَنْ يُّؤْتٰى	صُحُفًا	مُّنَشَّرَةً	كَلَّا	بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ
داچى وركړى سى ده ته	پاڼى	خلاصى سوى	داسى نه ده	بلكه نه بيريږى دوى

داچى وركړى سى ده ته پاڼى خورى سوى (په متابعت دمحمدﷺ كښى). داسى نه ده بلكه نه بيريږى دوى (د عذابه)

الْاٰخِرَةَ ﴿۵۳﴾ كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ﴿۵۴﴾ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿۵۵﴾ وَمَا

الْاٰخِرَةَ	كَلَّآ	اِنَّهٗ	تَذْكِرَةٌ	فَمَنْ شَآءَ	ذَكَرَهٗ	وَمَا
د آخرت څخه	نه ده داسى چى دوى وايئ	بيشكه! دا (قرآن)	پند دى	پس هر څوک چى غواړى	پند دى واخلى له دغه	او نه

له آخرت څخه ، نه ده داسى چى دوى وايئ بيشكه! دا (قرآن) پند دى. پس هر څوک چى غواړى پند دى واخلى له دغه. او نه

يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿۵۶﴾ ع

يَذْكُرُوْنَ	اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	هُوَ	اَهْلُ	التَّقْوٰى	وَاَهْلُ	الْمَغْفِرَةِ
اخلى پند دوى	مګر كه اراده وفرمائى	الله	هم هغه (الله) دى	اهل (وړ دى)	د بيرى	او اهل	د بخښنى

اخلى پند دوى مګر كه اراده وفرمائى الله هم هغه (الله) دى اهل (وړ دى) د بيرى (چى بيره ځينى وسى) او اهل د بخښنى

فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ. دكافرانو په حق كي به دهيڅ چا شفاعت قبول نه سي: يعني دغه مجرمينو دقيامت په ورځ دخپلو څلور جرمونو اقرار وكړى يودا چي هغو لمونځ نه كوى، دوهم دا چي هغو به چامسكين غريب ته خوراك نه وركوى، مراد دادى چي دغريبانو په ضرورتونوكي به يي خرڅ نه كوى، دريم دا چي اهل باطل كمو چي به داسلام او ايمان خلاف خبري كولې يا به په ګناهونواو فواحشو كي اخته كيدل دوى به هم دهغوى سره كيدل دهغوى څخه د بيزارى اظهار به يي نه كوى څلورم داچي دقيامت څخه به يي انكار كوى: ددې آيت څخه ثابته سوه چي داسي مجرمان كم چي ددې ټولو ګناهونومرتكب سول چي دقيامت تكذيب په كښي هم داخل دى كم چي عين كفر دى دداسي مجرمانو دپاره به دچا شفاعت نافع نه سي ځكه چي هغه كفار دي ديو كافر دشفاعت كولو به چا ته اجازت نه وي او كه څوک يي كوي نو قبليږي به نه برابره خبره ده كه ټول شفاعت كوونكي جمع سي او دشفاعت زورولګوي.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۱۲۷

ع ۲ ۲۵ ۱۲

اٰیاتونه ۴۰ ۷۵ سُوْرَةُ الْقِیٰمَةِ مَکِّیَّةٌ ۳۱ رکوعوي ۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

لَآ اُقْسِمُ بِیَوْمِ الْقِیٰمَةِ ① وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ②

لَآ اُقْسِمُ	بِیَوْمِ	الْقِیٰمَةِ	وَلَآ اُقْسِمُ	بِالنَّفْسِ	اللَّوَّامَةِ
قسم خورم زه	په ورځی	دقیامت باندی	او قسم خورم زه	په نفس	ملامت کوونکی

قسم خورم زه په ورځی دقیامت باندی. او قسم خورم زه په نفس ملامت کوونکی (ځان خپل لره)

اَیَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ③ بَلٰی قٰدِرِیْنَ عَلٰٓی

اَیَحْسَبُ	الْاِنْسَانُ	اَلَّنْ نَّجْمَعَ	عِظَامَهٗ	بَلٰی	قٰدِرِیْنَ	عَلٰٓی
آیا گمان کوی	انسان	چې له سره به نه ټولوو موږ	هډوکی دده	هو !	حال دا چې قادر یو موږ	پر دی

آیا گمان کوی (کافر) انسان چې له سره به نه ټولوو موږ هډوکی دده (لپاره دژوندون) .هو! حال دا چې قادر یو موږ پر دی

اَنْ نُّسَوِّیَ بَنَانَهٗ ④ بَلْ یُرِیْدُ الْاِنْسَانُ لِیَفْجُرَ اَمَامَهٗ ⑤

اَنْ نُّسَوِّیَ	بَنَانَهٗ	بَلْ یُرِیْدُ	الْاِنْسَانُ	لِیَفْجُرَ	اَمَامَهٗ
چې برابر کړو موږ	دګوتو سرونه دده	بلکه اراده لری	(کافر) انسان	چې بدعملی وکړی	په مخ خپل کښې

چې برابر ټول کړو هډوکی او بندونه دګوتو دده. بلکه اراده لری انسان چې درواغ وواییٔ پر هغه چې په مخ کښې دده دی.

یَسْـَٔلُ اَیَّانَ یَوْمُ الْقِیٰمَةِ ⑥ فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ⑦ وَخَسَفَ

یَسْـَٔلُ	اَیَّانَ	یَوْمُ	الْقِیٰمَةِ	فَاِذَا	بَرِقَ	الْبَصَرُ	وَخَسَفَ
پوښتنه کوی	کله به وی	ورځ	دقیامت	پس کله چې	وبریښی	سترګی له هیبته	او توره سی

پوښتنه کوی (کافر انسان) کله به وی (ورځ د) قیامت. کله چې خړی متحیری سی سترګی له هیبته او توره سی

الْقَمَرُ ⑧ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ⑨ یَقُوْلُ الْاِنْسَانُ یَوْمَئِذٍ

الْقَمَرُ	وَجُمِعَ	الشَّمْسُ	وَالْقَمَرُ	یَقُوْلُ	الْاِنْسَانُ	یَوْمَئِذٍ
سپوږمی	او جمع سی	لمر	او سپوږمی	نو وبه وایئ	انسان	په دغه ورځی کښې

سپوږمی (رڼائی ولاړه شی). او جمع کړل سی لمر او سپوږمی ، نو وبه وایئ (کافر) انسان په دغه ورځی کښې

لَآ اُقْسِمُ بِیَوْمِ الْقِیٰمَةِ ① وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ..دنفس لوامه تفسیر دابن عباس رضی الله عنه په نزد: دنفس معنی ځان یا روح معروف دی: او لوّامه دلوم څخه مشتق دی چې معنی یې ملامتول دي: دنفس لوامه څخه مراد هغه نفس دی کم چې په خپله دخپلو عملونو محاسبه وکړي او خپل ځان ملامت کوي یعني کمه ګناه چې ورڅخه وسي یا ورڅخه په واجب عمل کې کوتاهي وسي په هغه په خپله خپل ځان ملامت کوي چې تا داسې ولې وکړل او دښو اونیکوعملونو په حقله هم خپل ځان په دې ملامت کړي چې ددې څخه زیات نیک کارونه دي ولې نه وکړل چې اعلی درجې دي حاصلي کړي وای: غرض داچې کامل مومن په خپل هر عمل خیر او شراو نیکو او بدو کې خپل ځان ملامت کوي په ګناه یا واجباتوکي پر کوتاهي ملامتول خو ظاهره ده په نیکو کارونوکي دملامت کولو وجه داده چې ای نفسه تاخو دانیکی ددې څخه زیاتي هم کولای سوې ددغه زیات څخه ولې محرومه پاته سوې دغه تفسیر دابن عباس رضی الله عنه څخه نقل دی.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص ۱۳۵

اَيْنَ الْمَفَرُّ ⑩ كَلَّا لَا وَزَرَ ⑪ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ الْمُسْتَقَرُّ ⑫

اَيْنَ	الْمَفَرُّ	كَلَّا	لَا وَزَرَ	اِلٰى رَبِّكَ	يَوْمَئِذِ	الْمُسْتَقَرُّ
چیری دی	ځای دتیښتی ؟	هیڅ کله نه	نسته ځای دپناه	خاص رب ستا ته	په دغی ورځی کښی	ځای دقرار دخلګو دی

چیرته ځای دتیښتی سته؟ نسته ځای دپناه ، خاص رب ستا ته په دغی ورځی کښی ځای دقرار دخلګو دی

يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ⑬

يُنَبَّؤُا	الْاِنْسَانُ	يَوْمَئِذٍ	بِمَا	قَدَّمَ	وَاَخَّرَ
خبر به کړسی	انسان	په دغی ورځی کښی	په هغو چې	مخ کښی یئ لیږلی دی	او وروسته یئ پری ایښی وی

خبر به کړسی انسان په دغی ورځی کښی په هغو (اعمالو) چې مخ کښی یئ لیږلی دی او وروسته یئ پری ایښی وی.

بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰى نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ ⑭ وَّلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِيْرَهٗ ⑮

بَلِ الْاِنْسَانُ	عَلٰى	نَفْسِهٖ	بَصِيْرَةٌ	وَّلَوْ	اَلْقٰى	مَعَاذِيْرَهٗ
بلکه انسان	په	ځان خپل باندی	شاهد دی	که چیرته	وړاندی کړی	عذرونه خپل

بلکه انسان په ځان خپل باندی حجت لیدونکی شاهد دی . که چیرته وړاندی کړی عذرونه خپل (قبول به نسی)

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ⑯ اِنَّ عَلَيْنَا

لَا تُحَرِّكْ	بِهٖ	لِسَانَكَ	لِتَعْجَلَ	بِهٖ	اِنَّ عَلَيْنَا
مه ښوروه	په دی (قرآن) سره	ژبه خپله	چې تلوار ه وکړی	په هغه سره	بیشکه! پر موږ باندی دی

مه خوځوه په دی (قرآن) سره (ای محمده) ژبه خپله چې تعجیل به کوی په دی (قرائت سره) بیشکه! پر موږ باندی دی

جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ⑰ فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ⑱

جَمْعَهٗ	وَقُرْاٰنَهٗ	فَاِذَا	قَرَاْنٰهُ	فَاتَّبِعْ	قُرْاٰنَهٗ
جمع کول یئ	او لوستل یئ	بیا مو کله چې	ولوستدا (قرآن)	نو متابعت کوه ته	دلوستلو دده

جمع کول یئ (په سینه ستا کی) او لوستل یئ (پر ژبه ستا) بیا مو کله چې ولوستدا (قرآن) نو متابعت کوه ته دلوستلو دده .

ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ⑲ كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ⑳

ثُمَّ	اِنَّ	عَلَيْنَا	بَيَانَهٗ	كَلَّا	بَلْ تُحِبُّوْنَ	الْعَاجِلَةَ
بیا	بیشکه!	پر موږ باندی دی	ښکاره بیانول دهغه	نه دی داسی	بلکه خوښوئ تاسی	ځغلیدونکی (دنیا)

بیا بیشکه! په موږ باندی دی ښکاره بیانول دهغه (په اعتبار دفهم سره). نه دی داسی بلکه خوښوئ تاسی ځغلیدونکی

يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ۔ انسان ته به دقیامت په ورځ مخکني او وروستني ټول عملونه وروښوول سي: په دغه آیت کي دالله جل جلاله ارشاد دی چي دقیامت په ورځ به انسان ته وښوول سي چي ده څه مخ ته لیږلي دي او څه یي وروسته پرې ایښي دي حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه او عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چي کم نیک کار دخپل مرګ څخه مخکي چاکړی وي هغه یي مخکي ولیږی او کمه نیکه یا بده مفیده یا مضره څه طریقه یا رسم چي یي داسي پرې ایښی وي چي دده څخه وروسته خلګ په هغه عمل کوي هغه یي وروسته پرې ایښي دي ددې ثواب یا عذاب به ده ته ورکول کیږي: او حضرت قتاده رضی الله عنه فرمایي چي دماتقدّم څخه مراد هغه عمل صالح دی کم چي ده په خپل ژوند کي کړی دی آو د مااخّر څخه مرادهغه عمل صالح دی کم چي یي کوی او اراده یي دکولو درلوده خو لیکن ویي نه کړی او فرصت ځیني ضایع سو خو هر قول چي راواخلې انسان ته به دقیامت په ورځ حقیقت ورمعلوم سي
معارف القرآن ج ۱۰ پ۲۹ ص۱۳۸

وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾

وَتَذَرُوْنَ	الْاٰخِرَةَ	وُجُوْهٌ	يَّوْمَئِذٍ	نَّاضِرَةٌ
او پریږدی تاسی	آخرت	ځینی مخونه به	په دغی ورځی کښی	ښائسته وی

او پریږدی تاسی آخرت. ځینی مخونه (یعنی دمؤمنانو به) په دغی ورځی (دقیامت) کښی ښائسته، تازه، روښنانه وی

اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۢ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ

اِلٰى رَبِّهَا	نَاظِرَةٌ	وَوُجُوْهٌ	يَّوْمَئِذٍ	بَاسِرَةٌ	تَظُنُّ
خاص ذات درب خپل ته	به کتونکی وی	او ځینی مخونه	په دغی ورځی کښی	به تریو خرپړوی	یقین به کوی

خاص ذات درب خپل ته به کتونکی وی. او ځینی مخونه په دغی ورځی کښی به تریو بدڅیره وی. یقین به کوی

اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾

اَنْ يُّفْعَلَ	بِهَا	فَاقِرَةٌ	كَلَّا	اِذَا	بَلَغَتِ	التَّرَاقِيَ
چی واقع کیږی	په دغو باندی	بلاء لویه ملا ماتوونکی	نه ده داسی	کله چی	ورسیږی	(روح) وستونی ته

چی واقع کیږی په دغو (مخونو) باندی دوی ته بلا چی ماتوونکی وی هډوکی .نه ده داسی کله چی ورسیږی و ستونی ته

وَقِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾

وَقِيْلَ	مَنْ رَاقٍ	وَّظَنَّ	اَنَّهُ	الْفِرَاقُ
او وبه وایئ	څوک دی دم کوونکی	او یقین کوی	چی بیشکه! دا وخت	وخت د جدائیئ دی

او وبه وایئ څوک دی دم کوونکی. او یقین کوی (هغه مریض) چی بیشکه! په ده (باندی راغلی) دی وخت دجدائیئ

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ۨ

وَالْتَفَّتِ	السَّاقُ	بِالسَّاقِ	اِلٰى	رَبِّكَ	يَوْمَئِذٍ
او تاویږی	یوه پنډی	له بلی پنډی سره	پر طرف	درب ستا	په دغی ورځی کښی

او تاویږی یوه پنډی (دده) له بلی پنډی (دده) سره، په لوری درب ستا په دغی ورځی کښی

الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ

الْمَسَاقُ	فَلَا صَدَّقَ	وَلَا صَلّٰى	وَلٰكِنْ
ورتلل دی	بیا یقین ونه کړی	او نه یئ لمونځ وکړ	مګر

ورتلل دی (دټولو مخلوقاتو لپاره دمجازاتو) . بیا یقین ونه کړی اونه یئ لمونځ وکړ، مګر

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ. څه مخونه به دقیامت په ورځ ترو تازه او هشاش بشاش وي: ناضره په معنی دتراوتازه راځي یعني په دغه ورځ به څه مخونه تر او تازه هشاش بشاش وي الی ربّها ناظرة یعني دا مخونه به خپل رب ویني ددې څخه ثابته سوه چي په جنت کي به جنتیانو ته دالله جَلَّ جَلَالُهُ دیدار دسر په سترګو نصیب وي پر دې داهل سنت والجماعت او ټولو علماوو فقهاوو اجماع ده صرف معتزله او خوارج ورڅخه منکر دي: وجه دانکار یي فلسفیانه شبهات دي چي په سترګو سره دلیدو دپاره د لیدونکي او څوک چي لیدل کیږي او ددې دواړو په مینځ کي دمسافت دپاره چي کم شرطونه دي دخالق او دمخلوق په مینځ کي دهغه تحقیق نه سي کیدای: داهل سنت والجماعت تحقیق او مسلک دادی چي په آخرت کي به الله جَلَّ جَلَالُهُ لیدل کیږي او دا به دټولو شرطونو څخه بې نیازه وي نه به دڅه جهت او طرف سره ددې تعلق وي او نه هم دڅه خاص شکل اوصورت او هیئت سره به ددې تعلق وي الـخ.
معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص ١١٣

ربع ١٧

كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾

كَذَّبَ	وَتَوَلّٰى	ثُمَّ	ذَهَبَ	اِلٰٓى اَهْلِهٖ	يَتَمَطّٰى
دروغجن یئ کړ	او مخ یئ وګرځاوه	بیا	ولاړئ	اهل خپل ته	په تکبر سره

دروغجن یئ کړ (قرآن لره) او مخ یئ وګرځاوه (له ایمانه) بیا لاړئ اهل خپل ته (له مجلس څخه) په تکبر سره

اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٥﴾ اَيَحْسَبُ

اَوْلٰى	لَكَ	فَاَوْلٰى	ثُمَّ	اَوْلٰى	لَكَ	فَاَوْلٰى	اَيَحْسَبُ
افسوس دی	تاته	بیا افسوس دی	بیا	افسوس دی	تاته	بیا افسوس دی	آیا ګمان کوی (کافر)

ور لایقه ده تاته (ای کافره سختی د قبر) پس ور لایقه ده. بیا ور لایقه ده (تالره) پس ور لایقه ده (تالره) . آیا ګمان کوی

الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ اَلَمْ يَكُ

الْاِنْسَانُ	اَنْ يُّتْرَكَ	سُدًى	اَلَمْ يَكُ
انسان	چی پری به ښود سی دی	بیکاره ، بی قیده	آیا نه ؤ دغه (آنسان اول)

انسان چی پری به ښود سی دی بیکاره بی قیده مهمله بیکاره (په دنیا او عقبا کښی). آیا نه ؤ دغه (انسان اول)

نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ

نُطْفَةً	مِّنْ مَّنِيٍّ	يُّمْنٰى	ثُمَّ	كَانَ	عَلَقَةً	فَخَلَقَ
یو څاڅکی	له منی څخه	چی تویوه سی	بیا	ؤ دی	یوه توټه د وینو	نو پیدا کړی الله

یو څاڅکی له منی څخه چی تویوه سی (اچوه سی پر رحمونو د ښځو) . بیا ؤ دی یوه توټه د وینو نو پیدا کړی الله

فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ

فَسَوّٰى	فَجَعَلَ	مِنْهُ	الزَّوْجَيْنِ	الذَّكَرَ
پس برابر کړی	نو پیدا کړ	له هغه څخه	جوړه	نارینه

پس برابر کړی (صورت یئ او روح یئ) نو پیدا کړ له هغه (او بو د منی) څخه جوړه (دوه صنفه) نارینه

وَالْاُنْثٰى ﴿٣٩﴾ اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾

وَالْاُنْثٰى	اَلَيْسَ	ذٰلِكَ	بِقٰدِرٍ	عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ	الْمَوْتٰى
او ښځه	آیا نه دی	دغه	قدرت لرونکی	پر دی باندی چی ژوندی کړی	مړی

او ښځه. آیا نه دی دغه (ذات) قدرت لرونکی ، کوونکی د دغو افعالو قادر په دی باندی چی ژوندی کړی مړی .

ع ۱۸ ۲

اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى. د کافر د پاره څلور واره دهلاکت اوبربادی دلفظ استعمال: لفظ داولی مقلوب دی د ویل څخه چی معنی یی هلاکت او بربادي ده: دلته دهغه سړي دپاره کم چي کفر او تکذیب خپل شعار جوړ کړی او ددنیا په مال او دولت کي مست سو بیا پر دي حال پسي مړ سو دده دپاره الله ﷻ څلور واره لفظ دهلاکت او بربادی استعمال کړی دی چي دمرګ په وخت کي بیا دمرګ څخه وروسته په قبر کي بیا دحشر او نشر په وخت کي بیا جهنم ته داخلیدو په وخت کي دا مصیبت او بربادي ستا حصه ده. مخته بیا دالله ﷻ دغه ارشاد مبارک دی الیس ذلک بقادر علی ان یحیي الموتی. یعنی ایا هغه ذات دچا په قبضه کي چي مرګ او ژوند او ټول جهان دی ایا هغه پر دي قادر نه دی چي مړي دوباره ژوندي کړي ولي نه دی نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي کم سړي دسورت قیامت دا آیت تلاوت کړي نو هغه ته پکار دي چي دا کلمې ووایي: بلی وانا علی ذلک من الشهدين. والله اعلم

معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۱۴۱

اٰياتونه ٣١ — ٧٦ سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَدَنِيَّةٌ ٩٨ — رکوعوي ٢

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

هَلۡ اَتٰى عَلَى الۡاِنۡسَانِ حِيۡنٌ مِّنَ الدَّهۡرِ لَمۡ يَكُنۡ شَيۡـًٔا

هَلۡ اَتٰى	عَلَى الۡاِنۡسَانِ	حِيۡنٌ	مِّنَ الدَّهۡرِ	لَمۡ يَكُنۡ	شَيۡـًٔا
آيا راغلی دی	پر انسان	څه وخت	له زماني څخه	چې نه ؤ دی	يو شي

آيا راغلی دی پر انسان څه وخت له زماني څخه چې نه ؤ دی يو شی

مَّذۡكُوۡرًا ① اِنَّا خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ مِنۡ نُّطۡفَةٍ اَمۡشَاجٍ

مَّذۡكُوۡرًا	اِنَّا	خَلَقۡنَا	الۡاِنۡسَانَ	مِنۡ نُّطۡفَةٍ	اَمۡشَاجٍ
يادکړی سوی	بيشکه! موږ	پيداکړی دی موږ	انسان	له نطفی څخه	چې ګډوډه سوی ده

يادکړی سوی (په يوه نامه سره) بيشکه! موږ پيداکړی دی موږ انسان له نطفی څخه چې ګډوډه سوی ده (د نر او د ښځی)

نَّبۡتَلِيۡهِ فَجَعَلۡنٰهُ سَمِيۡعًا بَصِيۡرًا ② اِنَّا هَدَيۡنٰهُ السَّبِيۡلَ

نَّبۡتَلِيۡهِ	فَجَعَلۡنٰهُ	سَمِيۡعًا	بَصِيۡرًا	اِنَّا	هَدَيۡنٰهُ	السَّبِيۡلَ
ازمايويئ هغه	نو موګرځوو موږ دغه	اوريدونکی	ليدونکی	بيشکه! موږ	وربښوولی ده ده ته	سمه لاره

ازمايوو يئ نو موګرځوو موږ دغه (انسان) اوريدونکی ليدونکی بيشکه! موږ وربښوولی ده دغه (انسان) ته سمه لاره

اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوۡرًا ③ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ سَلٰسِلَاۡ

اِمَّا شَاكِرًا	وَّاِمَّا كَفُوۡرًا	اِنَّاۤ	اَعۡتَدۡنَا	لِلۡكٰفِرِيۡنَ	سَلٰسِلَاۡ
يا به وی دئ شکر کوونکی	او يا به وی دی ناشکره	بيشکه! موږ	تيار کړی مو دی	کافرانو ته	ځنځيرونه

يا به وی دئ شکر کوونکی اويا به وی دی ناشکره. بيشکه! موږ تيار کړی مو دی کافرانو ته ځنځيرونه

وَاَغۡلٰلًا وَّسَعِيۡرًا ④ اِنَّ الۡاَبۡرَارَ يَشۡرَبُوۡنَ مِنۡ كَاۡسٍ كَانَ

وَاَغۡلٰلًا	وَّسَعِيۡرًا	اِنَّ	الۡاَبۡرَارَ	يَشۡرَبُوۡنَ	مِنۡ كَاۡسٍ	كَانَ
او طوقونه	او تود اور	بيشکه	نيکان	څښي	له جامونو د شرابو څخه	چې وی

او طوقونه او تود اور (لمبی وهونکی). بيشکه! ابرار نيکان څښي (په جنت کښی) له جامونو د شرابو ځيني چې وی

هَـلۡ اَتٰى عَلَى الۡاِنۡسَانِ حِيۡنٌ مِّنَ الدَّهۡرِ..سورت دهر نوم سورت انسان او سورت ابرار هم دی : په دغه سورت کي الله ﷻ دانسان دپيدايښت ابتداء او انتهاء او پرعملونو جزا اوسزاء دقيامت اوجنت او دوږخ خاص حالت په نهايت بليغ انداز کي بيان کړی دی : دالله ﷻ ارشاد مبارک دی چي بيشکه پر انسان باندي يو داسي وخت هم په زمانه کي راغلی دی په کم کي چي دی څه قابل ذکر شی نه وو يعني انسان نه وو بلکي نطفه وه او ددي څخه مخکي غذا اوددي څخه مخکي دعناصرو جزوو موږ دی د مخلوطي نطفي څخه پيدا کړی يعني دنر او ښځي دداوړو دنطفي څخه ځکه چي دښځي مني هم دننه دننه په رحم کي لويږي بيا کله کله درحم دخولي څخه راووزي ضايع سي او کله دننه پاته سي. او دمخلوط معنی دا هم کيدای سي چي دا دمختلفو اجزاوو څخه مرکب دی چناچي دمني ترکيب دمختلفو اجزاوو څخه ظاهر دی غرض داچي موږ دی دنطفي څخه پيدا کی او بيا مو مکلف جوړ کړی الخ.

معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص١١٤٥

مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ۝٥ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا

مِزَاجُهَا	كَافُوْرًا	عَيْنًا	يَّشْرَبُ	بِهَا	عِبَادُ اللّٰهِ	يُفَجِّرُوْنَهَا
گډ له هغو سره	كافور	چينه	چي څښي به	له هغي څخه	بندگان دالله	چي بهوي به مؤمنان دغي لره

گډ له هغو سره (جنتي) كافور. چينه چي څښي به له هغي څخه (نيک) بندگان دالله چي بيا يئ به (مؤمنان) دغي (چيني) لره

تَفْجِيْرًا ۝٦ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ

تَفْجِيْرًا	يُوْفُوْنَ	بِالنَّذْرِ	وَيَخَافُوْنَ	يَوْمًا	كَانَ	شَرُّهٗ
په بيولو سره	وفا كوى	په خپل نذر سره	او بيريږى دوى	له هغي ورځي	چي	شريئ

په بيولو سره. وفا كوى په خپل نذر سره او بيريږى (ابرار) له هغي ورځي چي شريئ

مُسْتَطِيْرًا ۝٧ وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا

مُسْتَطِيْرًا	وَيُطْعِمُوْنَ	الطَّعَامَ	عَلٰى حُبِّهٖ	مِسْكِيْنًا
هر طرف ته ښكاره وى	او وركوى دوى	خواړه	په محبت ددغه (الله) كښي	مسكين ته

ښكاره او تيت (خرګند) دى. او وركوى طعام، خواړه په محبت، ميني ددغه (الله يا دطعام) مسكين ته

وَّيَتِيْمًا وَّاَسِيْرًا ۝٨ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ

وَّيَتِيْمًا	وَّاَسِيْرًا	اِنَّمَا	نُطْعِمُكُمْ	لِوَجْهِ	اللّٰهِ	لَا نُرِيْدُ
او يتيم ته	او اسير بندى ته	بيشكه! چي	موږ طعام دركوو تاسي ته	خاص دپاره درضاء	دالله	نه غواړو موږ

او يتيم ته او اسير بندى ته. (وايئ) بيشكه! چي موږ طعام دركوو تاسي ته خاص دپاره (دثواب) د الله نه غواړو موږ

مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ۝٩ اِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا

مِنْكُمْ	جَزَآءً	وَّلَا شُكُوْرًا	اِنَّا	نَخَافُ	مِنْ رَّبِّنَا	يَوْمًا	عَبُوْسًا
له تاسي څخه	جزاء	او نه شكر ايستل	بيشكه! موږ	بيريږو	له ربه خپله	له عذابه دورځي	ډيرى سختي

له تاسي څخه جزاء بدل او نه شكر ايستل بيشكه! موږ بيريږو له ربه خپله له عذابه دورځي ډيرى سختي

قَمْطَرِيْرًا ۝١٠ فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً

قَمْطَرِيْرًا	فَوَقٰىهُمُ	اللّٰهُ	شَرَّ	ذٰلِكَ	الْيَوْمِ	وَلَقّٰىهُمْ	نَضْرَةً
تريو مخى څخه	نو وبه ساتي دوى	الله	له شره ، سختي	ددغي	ورځي	او وربه كړي دوى ته	تازگي

تريو مخى څخه. نو وبه ساتي دوى الله له شره سختي ددغي ورځي او وربه كړي دوى ته تازگي

يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ يَوْمًا كَانَ۔ نيكان هغه خلك دي چي خپل منلي نذرونه پوره كوي: دابيان دهغه دى چي ابرارو اونيكانواو عباد الله ته دا انعامات پر څه بنا وركول كيږي ؟: معنى داده چي دا هغه خلگ دي دكمو كار چي دالله ﷻ دپاره نذر منل او بيا دهغه پوره كول وي: دنذر لفظي معنى ده چي پر خپل ځان يوداسي كار لازم او واجب كړي چي دشريعت دطرفه څخه پر ده واجب نه وي داسي نذر پوره كول شرعا پر ده واجب سي ددي څه تفصيل مخ ته راځي دلته دجنتيانودعظيمي جزا او انعاماتو سبب يي دنذر پوره كول مقرر كړي دي په دي كي اشاره دي طرف ته ده چي دا خلگ چي كله دخپل طرف څخه دواجبو كړى سوو شيانوداداء كولو اهتمام كوي نو كم فرائض او واجبات چي ددوى پر ذمه دي او ددوى داختيار هم نه دي بلكي دالله ﷻ دطرفه څخه پر دوى لازم سوي دي دهغه اهتمام خو به په درجه اولى سره كوي او په دغه ايفاء نذر كي توله شرعي واجبات او فرائض شامل سوه او دجنت دانعاماتو. پاته بيان پر راروان مخ وگورى

وَّسُرُوْرًا ﴿١١﴾ وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٕيْنَ

مُّتَّكِـِٕيْنَ	وَّحَرِيْرًا	جَنَّةً	بِمَا صَبَرُوْا	وَجَزٰىهُمْ	وَّسُرُوْرًا
چې تکیه کوونکي به وي	او (جامې) وریښمینې	جنت	په سبب د صبر دوی	او جزاء به ورکړي دوی ته	او خوشحالي

او حسن د مخونو . او جزاء به ورکړي دوی ته (الله) په سبب د صبر د دوی جنت او (جامې) وریښمینې چې تکیه کوونکي به وي

فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿١٣﴾

وَّلَا زَمْهَرِيْرًا	شَمْسًا	فِيْهَا	لَا يَرَوْنَ	عَلَى الْاَرَآئِكِ	فِيْهَا
او نه یخه یخني	لمر	په هغه کښې	نه به وینې دوی	پر تختونو باندې د باچایانو	په هغه کښې

په هغه (جنت) کښې پر تختونو باندې د باچایانو نه به وینې دوی هلته لمر (ګرمي) او نه زمهریر (یخ، ساړه)

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿١٤﴾

تَذْلِيْلًا	قُطُوْفُهَا	وَذُلِّلَتْ	ظِلٰلُهَا	عَلَيْهِمْ	وَدَانِيَةً
په کښته کیدلو سره	میوې د هغو	او کښته کړې سوې به وي	سیورې د هغه	پر دوی باندې	حال دا چې نژدې به وي

حال دا چې نژدې به وي پر دوی باندې سیورې (د ونو) د هغه او ټیټې کړې سوې به وي میوې د هغو په ټیټیدلو سره .

وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيْرَا۠ ﴿١٥﴾

قَوَارِيْرَا۠	كَانَتْ	وَّاَكْوَابٍ	مِّنْ فِضَّةٍ	بِاٰنِيَةٍ	عَلَيْهِمْ	وَيُطَافُ
د ښیښو	چې وي به	او ګلاسونه	د سپینو زرو	جامونه	پر دوی باندې	او ګرځولی به سی

او ګرځولی به سی پر دغو (ابرارو) باندې جامونه د سپینو زرو او ګلاسونه چې وي به د ښیښو .

قَوَارِيْرَا۠ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾ وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا

فِيْهَا	وَيُسْقَوْنَ	تَقْدِيْرًا	قَدَّرُوْهَا	مِنْ فِضَّةٍ	قَوَارِيْرَا۠
په جنت کښې	او ور وڅښول کیږي به دوی ته	اندازه کول	په اندازه کړې به وي دوی هغه	له سپینو زرو به وي	هسې ښیښې چې

هسې ښیښې چې له سپینو زرو به وي په اندازه به وي هغه (جامونه) اندازه کول. او ور وڅښول کیږي به دوی ته په جنت کې

كَاْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيْلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيْهَا تُسَمّٰى

تُسَمّٰى	فِيْهَا	عَيْنًا	زَنْجَبِيْلًا	مِزَاجُهَا	كَانَ	كَاْسًا
نوم یې ایښودلی سوی دی	په دغه کښې	چینه ده	زنجبیل	ګډ له هغه سره	چې وي به	جامونه د شرابو

جامونه د شرابو چې وي به ګډ له هغه سره زنجبیل. چینه ده په دغه (جنت کښې چې) نوم یې ایښودلی سوی دی

وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا..د تیر مخ پاته بیان دلته وګورئ: سبب مکمل اطاعت او د ټولو فرائضـو اداء کـول دي. مسئله: د نـذر د منعقد کیدو د پاره څو شرطونه دي اول: دا چې د کم کار نذر منل کیږي هغه به جائز او حلال وي ګناه او معصیت به نه وي که چیرې څوک دیو ګناه او معصیت د کار نذر ومني نو پر ده لازمه ده چې هغه ناجائز کار به نه کوي خپل قسم دي مات کړي او د قسم کفاره دي اداء کړي. دوهم شرط دا دی چې هغه د الله ﷻ د طرفه څخه واجب نه وي په دې وجه که څوک د فرض لمانځه یا وترو واجبو نذر ومني نو دا نذر به لغوه وي د غه فرض یا واجب داول څخه پر ده واجب الاداء دی. د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد دا هم شرط دی چې کم کار یې په ذریعه د نذر پر ځان واجب کړی دی د هغه جنس څخه به یو عبادت په شریعت کي واجب سوی وي لکه لمونځ، روژه، صدقه، قرباني، او د کم جنس څخه چې شرعا عبادت مقصود نه وي په شریعت کي د هغه نذر نه کیږي لکه دیو مریض پوښتنه کول الخ. معارف القرآن ج١٠ پ٢٩ ص١٥٢

سَلۡسَبِيۡلًا ۞۱۸ وَيَطُوۡفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَانٌ مُّخَلَّدُوۡنَ ۚ اِذَا

سَلۡسَبِيۡلًا	وَيَطُوۡفُ	عَلَيۡهِمۡ	وِلۡدَانٌ	مُّخَلَّدُوۡنَ	اِذَا
په سلسبیل سره	او ګرځی به	پر دغو جنتیانو باندی	هلکان	تل پاتی سوی	کله چی

په سلسبیل سره . او ګرځی به پر دغو جنتیانو باندی هلکان تل پاتی سوی (پخپل حال) ، کله چی

رَاَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤًا مَّنۡثُوۡرًا ۞۱۹ وَاِذَا رَاَيۡتَ ثَمَّ رَاَيۡتَ

رَاَيۡتَهُمۡ	حَسِبۡتَهُمۡ	لُؤۡلُؤًا	مَّنۡثُوۡرًا	وَاِذَا	رَاَيۡتَ	ثَمَّ	رَاَيۡتَ
ووینی ته دوی	ګنې به ته هغوی	لکه مرغلری	پاشل سوی	او هرکله چی	وګوری ته	هلته	وبه وینی ته

ووینی ته دوی ګنې به ته هغوی (په صفایئ کښې) لکه مرغلری خوری سوی .او هرکله چی وګوری ته دغه ته وبه وینی ته

نَعِيۡمًا وَّمُلۡكًا كَبِيۡرًا ۞۲۰ عٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُنۡدُسٍ خُضۡرٌ

نَعِيۡمًا	وَّمُلۡكًا	كَبِيۡرًا	عٰلِيَهُمۡ	ثِيَابُ	سُنۡدُسٍ	خُضۡرٌ
نعمتونه	او پاچائی	لویه	دپاسه پر دوی باندی	به کالی	دنریو وریښمو وی	چی شنه به وی

نعمتونه او ملک پاچائی لویه (لازواله) . دپاسه پر دوی باندی به کالی (جامی) دنریو وریښمو وی چی شنه به وی

وَّاِسۡتَبۡرَقٌ وَّحُلُّوۡۤا اَسَاوِرَ مِنۡ فِضَّةٍ ۚ وَسَقٰهُمۡ رَبُّهُمۡ

وَّاِسۡتَبۡرَقٌ	وَّحُلُّوۡۤا	اَسَاوِرَ	مِنۡ فِضَّةٍ	وَسَقٰهُمۡ	رَبُّهُمۡ
او دغتو وریښمو څخه	او وابه غوسته سی په دوی	باهوګان	له سپینو زرو	او ورو به څښی دوی ته	رب د دوی

او دغتو وریښمو څخه ، او وابه غوسته سی (دوی ته) باهوګان له سپینو زرو او ورو به څښی دغو (جنتیانوته) رب د دوی

شَرَابًا طَهُوۡرًا ۞۲۱ اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءً وَّكَانَ سَعۡيُكُمۡ

شَرَابًا	طَهُوۡرًا	اِنَّ	هٰذَا	كَانَ	لَكُمۡ	جَزَآءً	وَّكَانَ	سَعۡيُكُمۡ
شراب	طهور (پاکیزه)	بیشکه!	دغه	ؤ	تاسی لره	جزاء	او دی	سعی عمل ستاسی

شراب طهور (څښناک ښه پاکیزه). بیشکه! دغه (نعمتونه) ؤ تاسی لره جزاء بدل (داعمالو ستاسی) او دی سعی عمل ستاسی

مَّشۡكُوۡرًا ۞۲۲ اِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ تَنۡزِيۡلًا ۞۲۳

ع ۲ ۱۹

مَّشۡكُوۡرًا	اِنَّا	نَحۡنُ	نَزَّلۡنَا	عَلَيۡكَ	الۡقُرۡاٰنَ	تَنۡزِيۡلًا
مشکور ، مقبول	بیشکه! موږ	هم دا موږ	نازل کړی مو دی	پر تا باندی	قرآن	نازل کول

مشکور مقبول. بیشکه! موږ هم دا موږ نازل کړی مو دی پر تا باندی (ای محمده!) قرآن نازل کول .

وَّحُلُّوۡۤا اَسَاوِرَ مِنۡ فِضَّةٍ وَسَقٰهُمۡ رَبُّهُمۡ. جنتیانو ته به په لاسو کي بنګړي ورکړه سي: اساور جمع دسوار ده بنګړو ته ویل کیږي کم چي په لاسونوکي داچولوکالي دی: په دې ایت کي دسپینوزرو دبنګړو ذکر دی او په بل آیت کي اساور من ذهب راغلي دي یعني دسروزرو بنګړي په دې دواړوکي څه تضاد نسته بلکي کیدای سي چي یو وخت دسپینو یو وخت دسروزرو بنګړي استعمالیږي یا دځینو بنګړي دسرو وي اودځینو دادسپینو. مګر یو سوال دلته پر هر حال دی چي دسپینو زرو بنګړي وي او که دسرو په هرحال دا کالي دي کم چي دښځو داستعمال دپاره وي دسرو دپاره داسي زیور اچول عیب ګڼل کیږي جواب دادی چي دیو شي دسړو یا دښځو دپاره مخصوص کیدل او ددوی دپاره ښه یا بد کیدل دادعرف او عادت تابع وي په ځینو ملکونو یا قومونوکي یو شی لوی عیب او بدګڼل کیږي په نورو قومونوکي بیا هغه ډیر ښایسته ګڼل کیږي نو ضروري نه ده چي دغه بنګړي دي هلته عیب وګڼل سي الخ.
معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۱۵۴

فَاصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعۡ مِنۡهُمۡ اٰثِمًا اَوۡ كَفُوۡرًا ﴿۲۴﴾

فَاصۡبِرۡ	لِحُكۡمِ	رَبِّكَ	وَلَا تُطِعۡ	مِنۡهُمۡ	اٰثِمًا	اَوۡ كَفُوۡرًا
نو صبر کوه	حکم	درب خپل ته	او مه منه خبره	له دوی څخه	ده‌یڅ ګنهګار	او ناشکره

نو صبر کوه حکم امر درب خپل ته ، او مه منه خبره له دوی څخه ده‌یڅ یو ګنهګار او نا شکره (چې تابولی کفر ته).

وَاذۡكُرِ اسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةً وَّاَصِيۡلًا ﴿۲۵﴾ وَمِنَ الَّيۡلِ فَاسۡجُدۡ لَهٗ

وَاذۡكُرِ	اسۡمَ	رَبِّكَ	بُكۡرَةً	وَّاَصِيۡلًا	وَمِنَ الَّيۡلِ	فَاسۡجُدۡ	لَهٗ
او یادوه	نوم	درب خپل	سهار	او ماښام	او په څه برخه د شپې کښې	نو سجده کوه	هغه (الله) ته

او یادوه نوم درب خپل سهار او ماښام. او په څه برخه د شپې کښې نو سجده کوه هغه (الله) ته

وَسَبِّحۡهُ لَيۡلًا طَوِيۡلًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوۡنَ الۡعَاجِلَةَ

وَسَبِّحۡهُ	لَيۡلًا	طَوِيۡلًا	اِنَّ	هٰٓؤُلَآءِ	يُحِبُّوۡنَ	الۡعَاجِلَةَ
او نسبت د پاکی کوه ده ته	په شپه	اوږده کښې	بیشکه!	دا (خلک)	خوښوی	ژر تیریدونکی (دنیا)

او نسبت د پاکی کوه دغه (الله) ته په شپه اوږده کښې. بیشکه! دا (خلک) خوښوی ژر تیریدونکی (دنیا)

وَيَذَرُوۡنَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمًا ثَقِيۡلًا ﴿۲۷﴾ نَحۡنُ خَلَقۡنٰهُمۡ

وَيَذَرُوۡنَ	وَرَآءَهُمۡ	يَوۡمًا	ثَقِيۡلًا	نَحۡنُ	خَلَقۡنٰهُمۡ
او پریږدی دوی	وروسته له ځانونو	ورځ	درنه ، سخته	موږ	پیدا کړی مو دی دوی

او پریږدی دوی وروسته له ځانونو ورځ سخته (دعقبٰی) . موږ پیدا کړی مو دی دوی

وَشَدَدۡنَآ اَسۡرَهُمۡ ۚ وَاِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَآ اَمۡثَالَهُمۡ تَبۡدِيۡلًا ﴿۲۸﴾

وَشَدَدۡنَآ	اَسۡرَهُمۡ	وَاِذَا	شِئۡنَا	بَدَّلۡنَآ	اَمۡثَالَهُمۡ	تَبۡدِيۡلًا
او بیا موږ مضبوط کړل	پیدائیښت بندونه د دوی	او کله چې	اراده وفرمایو	بدل به راوړو موږ	په شان د دوی	بدلول

او بیا مو مضبوط کړل پیدائیښت بندونه د دوی او کله چې اراده وفرمایو بدل به راوړو موږ امثال د دوی بدل.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذۡكِرَةٌ ۚ فَمَنۡ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيۡلًا ﴿۲۹﴾

اِنَّ	هٰذِهٖ	تَذۡكِرَةٌ	فَمَنۡ شَآءَ	اتَّخَذَ	اِلٰى	رَبِّهٖ	سَبِيۡلًا
بیشکه!	دغه	پند دی	نو هر هغه څوک چې اراده کوی	ودی نیسی	طرف	درب خپل ته	لاره د خیر

بیشکه! دغه (سورت) تذکره پند دی (خلګو ته) نو هر هغه څوک چې اراده کوی نیسی دی طرف درب خپل ته لاره .

نَحۡنُ خَلَقۡنٰهُمۡ وَشَدَدۡنَآ اَسۡرَهُمۡ..موږ دوی پیدا کړل او ددوی دوجود په جوړښت کي موخاص کمال کښیښووی : په دغه آیت کـي الله ﷻ دعنادګرو کفارو پر کفر باندي دټینګ پاته کیدو وجه ښوولي ده چي داجاهلان ددنیا په سطحي او سر سري او فاني لذتونو کي داسي مست سول چي انجام یعني آخرت یي هیر کړی حال دادی چي موږ په دنیا کي هم په خپله ددوی په وجود کي داسي شیان ایښي وه چي که دوی په هغو کي فکر او غور کړی وای نو خپل خالق او مالک به یي پیژندلی وای مثلا الله ﷻ فرمايي: نحن خلقناهم وشددنا اسرهم. یعني موږ دوی پیدا کړل او بیا مو ددوی په وجود او دهغه په صنعت کي مو یو خاص کمال دا کښیښووی چي دده جوړونه او بندونه مو مضبوط او مستحکم جوړ کړل په دي کي اشاره ددي خبري طرف ته هم ده چي انسان خپل یو یو جوړ او بند ته نظر وکي چي په مقتضاء دحکمت او انساني راحت دغه بندونه نرم معلومیږي لیکن په حقیقت کي څومره ټینګ دي الخ.
معارف القرآن ج۱۰ پ۲۹ ص۱۵۵

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ① فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا

دسورت المرسلات دنزول متعلق دعبدالله ابن مسعود ﷜ یو حدیث: په صحیح بخاري کي دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷜ څخه روایت دی چي موږ دنبي کریم ﷺ سره دمنی په یو غار کي وو چي ناڅاپه سورت مرسلات را نازل سو نبي کریم ﷺ دا وایه او ما یي دمبارکي خلې څخه اوریدی او یادوی مي ددوی مبارکه خله ددې سورت په تلاوت سره رطب شاداب کیده چي ناڅاپه یومار پر موږ حمله وکړه نبي کریم ﷺ دهغه دقتلولو حکم وکړی موږ په هغه پسي سو هغه ولاړی وتښتیدی نبي کریم ﷺ وفرمایل چي لکه څنګه چي تاسي دده شره څخه محفوظ سواست دغسي دی هم ستاسي دشره څخه محفوظ سو: **ابن کثیر**: په دغه سورت کي الله ﷻ په څوشیانو باندي قسم اخیستی دی دقیامت پر یقیني کیدو باندي چي دا خامخا راتلونکی دی پر تاسو ددغو شیانو په قرآن کریم کي نومونه نه دي بیان سوي البته دلته یي پنځه صفتونه بیان کړی سوي دي: **پاته بیان پر راروان مخ وګوری:**

وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

وَمَا تَشَآءُوْنَ	اِلَّآ	اَنْ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	اِنَّ	اللّٰهَ	كَانَ
او اراده نسئ کولی تاسی	مګر	هغه چي اراده وفرمائی	الله	بیشکه!	الله	دی

او اراده نسئ کولی تاسی (په هیڅ لاری د خیر) مګر هغه چي اراده وفرمائی الله (تاسوته) بیشکه! الله دی (پر هر شی باندی)

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۳۰ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۭ


عَلِيْمًا	حَكِيْمًا	يُّدْخِلُ	مَنْ يَّشَآءُ	فِيْ رَحْمَتِهٖ
ښه عالم	ښه حکمت والا	داخلوی	هغه څوک چي اراده وفرمائی	په رحمت خپل کښی

ښه عالم دانا ښه حکمت والا. داخلوی (الله) هغه څوک چي اراده (ددخول) وفرمائی په رحمت خپل کښی

وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝۳۱ ع ۲ ۲۰

وَالظّٰلِمِيْنَ	اَعَدَّ	لَهُمْ	عَذَابًا	اَلِيْمًا
او ظالمان	تیار کړی دی (الله)	دوی ته	عذاب	ډیر دردناک

او ظالمان (کافران چي دی) تیار کړی دی (الله) دوی ته عذاب ډیر دردناک



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۝۱ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۝۲ وَّالنّٰشِرٰتِ

وَالْمُرْسَلٰتِ	عُرْفًا	فَالْعٰصِفٰتِ	عَصْفًا	وَّالنّٰشِرٰتِ
قسم دی په رالیږل سوو بادونو	نرمو	او په هغو سختو تیزو بادونو	زور داره	قسم دی په ښوروونکو بادونو

قسم دی په هغو بادونو چي لیږلي سوی دی پرله پسی، او په هغو سختو تیزو بادونو په زور سره، قسم دی په خواره کوونکو بادونو

نَشْرًا ۝۳ فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۝۴ فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ۝۵

نَشْرًا	فَالْفٰرِقٰتِ	فَرْقًا	فَالْمُلْقِيٰتِ	ذِكْرًا
ښه ښورول	بیا په جلا کوونکو بادونو	په جلا کولو	پس قسم دی په هغو چي راکښته کوونکی دی	دپند وحی

پورته کول، خورول. بیا په جلا کوونکو بادونو په جلا کولو. پس قسم دی په هغو چي راکښته کوونکی دی دپند، وحی

عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾ فَاِذَا النُّجُوْمُ

عُذْرًا	اَوْ نُذْرًا	اِنَّمَا	تُوْعَدُوْنَ	لَوَاقِعٌ	فَاِذَا	النُّجُوْمُ
چي عذروی	یا بیرول وی	بیشکه! هغه چي	ستاسی سره وعده سوی ده	خامخا واقع کیدونکی دی	نو کله چي	ستوری

چي عذر یا بیرول وی. بیشکه! هغه چي ستاسی سره وعده سوی ده خامخا واقع کیدونکی دی. نو کله چي ستوری

طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾ وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَاِذَا

طُمِسَتْ	وَاِذَا السَّمَآءُ	فُرِجَتْ	وَاِذَا	الْجِبَالُ	نُسِفَتْ	وَاِذَا
بی نوره سی	او کله چي آسمان	څیری کړل سی	او کله چي	غرونه	والوځول سی	او کله چي

تورسی او کله چي آسمان څیری کړل سی. او کله چي غرونه والوځولی سی (روان سی) او کله چي

الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ﴿١١﴾ لِاَيِّ يَوْمٍ اُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴿١٣﴾

الرُّسُلُ	اُقِّتَتْ	لِاَيِّ	يَوْمٍ	اُجِّلَتْ	لِيَوْمِ	الْفَصْلِ
دپیغمبرانو	وخت وټاکلی سی	دپاره دکومی	ورځی	وروستی کړی سوی دی	دپاره دورځی	دفیصلی

د پیغمبرانو وخت وټاکلی سی (جمع سی). دپاره دکومی ورځی وروستی کړی سوی دی (داشیان) دپاره دورځی دفیصلی

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴿١٤﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٥﴾

وَمَآ اَدْرٰىكَ	مَا يَوْمُ	الْفَصْلِ	وَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ
او څه شی پوه کړی یئ ته	چی څه ده ورځ	دفیصلی	هلاکت	په دغی ورځی کښی	درواغ ویونکو لره دی

او څه شی پوه کړی یئ ته چي څه ده ورځ دفیصلی. افسوس، هلاکت په دغی ورځی کښی دروغ ویونکو لره دی.

اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٧﴾ كَذٰلِكَ

اَلَمْ نُهْلِكِ	الْاَوَّلِيْنَ	ثُمَّ	نُتْبِعُهُمُ	الْاٰخِرِيْنَ	كَذٰلِكَ
آیا نه دی هلاک کړی موږ	مجرم خلک مخکنی	بیا	ورلیږو په دوی پسی	وروستنی	هم داسی

آیا نه دی هلاک کړی موږ مجرم خلک مخکنی. بیا ورلیږو په هغو پسی وروستنی (مجرمان) هم دا سی

نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٩﴾

نَفْعَلُ	بِالْمُجْرِمِيْنَ	وَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ
کار کوو موږ	له ټولو مجرمانو سره	افسوس، خرابی ده	په دغی ورځی کښی	درواغ ویونکو لره

کار کوو موږ له ټولو مجرمانو سره. افسوس، هلاکت، خرابی ده په دغی ورځی کښی دروغ ویونکو لره.

اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾ فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ.

دتیر مخ پاته بیان دلته وګوری: مرسلات، عاصفات، ناشرات، فارقات، ملقیات الذکر، په یوه مرفوع حدیث کي هم ددې پوره تعین نه دی راغلی چي ددې صفتونو موصوفات څه دي؟ په دې وجه په صحابه کرامو ﷺ او تابعینو ﷫ کي ددغه صفتونو په موصوفاتو کي اختلاف داقوالو موجود راغلی دی ځیني حضراتو ددې پنځوواړو صفتونو موصوفات ملایکي مقرر کړي دي او دا کیدای سي چي دملایکو مختلف جماعتونه ددې مختلفو صفتونو حامل وي. او ځیني حضرات بیا ددغه صفتونو موصوفات هواګاني مقرروي دا هم دمختلفو اقسامو او نوعیت وي په دې وجه دا مختلف صفتونه په دي کي کیدای سي اوځیني حضراتو بیا ددې صفتونو موصوف په خپله انبیآء او رسولان مقرر کړي دي: لیکن ابن جریر طبري ﷫ په دغه وجه په دي معامله کي سکوت او توقف اسلم مقرر کړی دی چي احتمال ددواړو دی تعین موږ نه سو ورکولای الخ.

معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۱۶۱

اَلَمْ نَخْلُقكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ⑳ فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ㉑ اِلٰى

اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ	مِّنْ مَّآءٍ	مَّهِيْنٍ	فَجَعَلْنٰهُ	فِيْ قَرَارٍ	مَّكِيْنٍ	اِلٰى
آیا نه یئ پیدا کړي موږ تاسي	له اوبو	سپکو څخه	نو مو ساتلی موږ هغه	په ځای د قرار	ټينګ کښې	تر

آیا نه یئ پیدا کړي موږ تاسي له اوبو سپکو (دمنی) څخه نو مو ساتلی موږ هغه (اوبه) په ځای د قرار ټينګ کښې. تر

قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ㉒ فَقَدَرْنَا ۖ فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ㉓ وَيْلٌ

قَدَرٍ	مَّعْلُوْمٍ	فَقَدَرْنَا	فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ	وَيْلٌ
نيټي	معلومي پوری	پس موږ اندازه ولګول	پس څه ښه اندازه لګوونکي يو موږ	افسوس، خرابی ده

نيټي معلومي پوری. پس قادر يو موږ په دغو کارونو باندی پس ښه قادر يو موږ. افسوس، هلاکت، خرابی ده

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ㉔ اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ㉕

يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	اَلَمْ نَجْعَلِ	الْاَرْضَ	كِفَاتًا
په دغی ورځی کښې	درواغ ويونکو لره	آيا نه ده ګرځولی موږ	ځمکه	جمع کوونکی

په دغی ورځی کښې درواغ ويونکو لره. آيا نه ده ګرځولی موږ ځمکه جمع کوونکی.

اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ㉖ وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ شٰمِخٰتٍ

اَحْيَآءً	وَّاَمْوَاتًا	وَّجَعَلْنَا	فِيْهَا	رَوَاسِيَ	شٰمِخٰتٍ
ژونديو لره	او مړيو لره	او پيدا کړي دی موږ	په دی کښې	غرونه	لوی

ژونديو لره او مړيو لره او پيدا کړي دی موږ په دی (ځمکه) کښې غرونه لوی

وَّاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا ㉗ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ㉘

وَّاَسْقَيْنٰكُمْ	مَّآءً	فُرَاتًا	وَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ
او درومو څښلي تاسي ته	اوبه	خوږي	افسوس دی	په دغی ورځی کښې	درواغ ويونکو لره

او درومو څښلي تاسي ته اوبه خوږی تنده ماتوونکی. افسوس هلاکت دی په دغی ورځی کښې دروغ ويونکو لره.

اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ㉙ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى ظِلٍّ ذِيْ

اِنْطَلِقُوْٓا	اِلٰى مَا كُنْتُمْ	بِهٖ	تُكَذِّبُوْنَ	اِنْطَلِقُوْٓا	اِلٰى ظِلٍّ	ذِيْ
ځئ ولاړ سئ	هغه شی ته چي وئ تاسي	چي هغه به مو	درواغ ګڼل	ځئ ولاړ سئ	هغه سيوری ته	چي خاوند

ځئ ولاړ سئ! هغه شی ته چي وئ تاسي چي په هغه به مو درواغ ويل، ځئ ولاړ سئ! هغه سيوری ته چي خاوند

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ㉕ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا. الله ﷻ

ځمکه کفات جوړه کړيده

په دغه ايت کي د الله ﷻ ارشاد مبارک دی چي موږ ځمکه کفات جوړه کړيده دمړو او دژوندو دپاره. کفات دکفت څخه مشتق دی چي معنی يي ده حاصلول او جمع کول کفات هغه شی دی کم چي ډير شيان په خپل ځان کي راجمع کړي ځمکه الله ﷻ داسي جوړه کړيده چي ژوندي انسانان سربيره پر ګرځي او مړه ټول ددې په غيږ او خيټه کي دي يعني دمرګ څخه وروسته ددفن کيدو او غرقيدو او سوزيدو په صورت کي آخر خاوري سي او دځمکي په اجزاوو کي شامل سي او داد مرګ څخه وروسته حالت ځکه نعمت دی چي که مړي نه خاوري کيدای نو ژوندي به پريشانه وای او ترمړو به بدتر وای چي دوی ته به دخپلو اوسيدو بلکي دګرځيدو ځای هم نه حاصليدای: اوبيا الله ﷻ ديوبل غټ نعمت ذکر کړی دی چي موږ په دې ځمکه کي دنګ دنګ غرونه جوړ کړل دکمو سره چي ستاسي ای انسانانو ډيري نفعي تړلي دي الــــخ والله اعلم.

معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ ص۱۵۹

ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿۳۰﴾ لَّا ظَلِيْلٍ وَّلَا يُغْنِيْ مِنَ اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾ اِنَّهَا

ثَلٰثِ	شُعَبٍ	لَّا ظَلِيْلٍ	وَّلَا يُغْنِيْ	مِنَ اللَّهَبِ	اِنَّهَا
د دريو	ښاخونو څانګو دی	چې نه سوری کوونکی دی	او نه به دفع کوی	د ګرمی څخه	بيشکه! هغه (اور)

د دريو ښاخونو څانګو دی. چې نه به وی (داسيوری) يخ او نه به دفع کوی د ګرمی څخه (داور دلمبی). بيشکه! هغه (اور)

تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ وَيْلٌ

تَرْمِيْ	بِشَرَرٍ	كَالْقَصْرِ	كَاَنَّهٗ	جِمٰلَتٌ	صُفْرٌ	وَيْلٌ
ويشتل کوی	په سروسکروټو	لکه لوړه غټه مانۍ	ګواکی هغه	اوښان دی	ژړ رنګ	افسوس دی

ويشتل کوی په هسی بڅرکو سروسکروټو سره لکه لوړه غټه مانۍ. ګواکی هغه اوښانوزيړو تورو دی. افسوس هلاکت دی

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۴﴾ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ

يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	هٰذَا	يَوْمُ	لَا يَنْطِقُوْنَ	وَلَا يُؤْذَنُ	لَهُمْ
په دغې ورځې کښې	درواغ ويونکو لره	دا هغه	ورځ ده	چې خبرې به نه کوی دوی	او اجازه به ونه کړې سی	دوی ته

په دغې ورځې کښې دروغ ويونکو لره. داهغه ورځ ده چې خبرې به نه کوی. او حکم به ونه کړې سی دوی ته

فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۷﴾ هٰذَا يَوْمُ

فَيَعْتَذِرُوْنَ	وَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	هٰذَا	يَوْمُ
چې دوی عذر وغواړی	افسوس دی	په دغې ورځې کښې	درواغ ويونکو لره	دا	ورځ

چې دوی عذر وغواړی. افسوس هلاکت خرابی ده په دغې ورځې کښې دروغ ويونکو لره. دا ورځ

الْفَصْلِ جَمَعْنٰكُمْ وَالْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۸﴾ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ

الْفَصْلِ	جَمَعْنٰكُمْ	وَالْاَوَّلِيْنَ	فَاِنْ	كَانَ	لَكُمْ	كَيْدٌ
د فيصلې ده	جمع به کړو موږ تاسی	او پخوانی خلک هم	پس که	وی	تاسی لره	څه مکر ، فريب

د فيصلې ده . جمع کوو موږ تاسی او پخوانی خلک هم. پس که وی تاسی لره څه مکر ، فريب ، چل

فَكِيْدُوْنِ ﴿۳۹﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۴۰﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ

فَكِيْدُوْنِ	وَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	اِنَّ	الْمُتَّقِيْنَ
نو مو کړی دغه فريب زما سره	افسوس دی	په دغې ورځې کښې	درواغ ويونکو لره	بيشکه!	پرهيزګاران

نو مو کړی دغه فريب، مکر پر ما باندی. افسوس هلاکت، دی په دغې ورځې کښې دروغ ويونکيو لره. بيشکه! پرهيزګاران

اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ
دجهنم داور بڅري به ديوه غټ محل برابر وي: په دغه آيت کي الله جل جلاله دجهنم داور شدت سختي اوزوراو دهغه دبڅرو لويوالی بيان کړی دی: دقصر معنی ده عاليشان محل: او جمالة په معنی دجمل اوښ ته ويل کيږي: صفر داصفر جمع ده ژړ ته ويل کيږي مراد دآيت دادی چي ددې جهنم داور څخه به دومره غټ غټ بڅري پورته کيږي کم چي به ديو مستقل عاليشان محل برابر وي بيا به دغه سره پاش پاش سي په کوچنيو کوچنيو ټوټو کي به تقسيم سي دغه ټوټې به دژړو اوښانو برابر وي او ځينو حضراتو دلته دصفر ترجمه په تورو سره کړيده ځکه چي دژړ اوښ ژړوالی تورووالي ته مايل وي: روح المعاني: هذا يوم لاينطقون: يعني په دغه ورځ به څوک خبري نه سي کولای او نه به چاته دخپل کړي عمل دعذر دپيش کولو اجازت وي او په نورو اياتونو کي چي دکفارو دعذر پيش کيدل راغلي دي هغه ددې سره ټکر نه لري ځکه چي په محشر کي مختلف مواقف او مقامات دي الـخ.
معارف القرآن ج۱۰پ۲۹ص۱۶۴

ع ۲
۲۱

فِيْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ۝٤١ وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ۝٤٢ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

وَاشْرَبُوْا	كُلُوْا	مِمَّا يَشْتَهُوْنَ	وَّفَوَاكِهَ	وَّعُيُوْنٍ	فِيْ ظِلٰلٍ
او څښئ تاسې	خورئ تاسې	هغه چې غواړي يې دوی	او په ميوو کښې به وی	او په چينو کښې به وی	به په سيورې

به په سيورى او په (غاړه) چينو كښې به وى. او په ميوو كښې به وى هغه چې غواړي يې دوى. خورئ تاسى او څښئ تاسى

هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٤٣ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِی الْمُحْسِنِيْنَ ۝٤٤

الْمُحْسِنِيْنَ	نَجْزِی	كَذٰلِكَ	اِنَّا	تَعْمَلُوْنَ	كُنْتُمْ	بِمَا	هَنِيْٓـًٔا
نيکانو ته	بنه جزاء ورکوو	دارنګه	بيشکه! موږ	چې کول به مو	چې وئ به تاسې	په بدل د هغو	چې لذت اخيستونکی به يئ

چې لذت اخيستونكى به يئ په بدل د هغو چې وئ به تاسى چې كول به مو. بيشكه! موږ دارنګه بنه جزاء وركوو نيكانو ته.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٥ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ

اِنَّكُمْ	قَلِيْلًا	وَتَمَتَّعُوْا	كُلُوْا	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	يَّوْمَئِذٍ	وَيْلٌ
بيشکه! يئ تاسې	لږ	او نفع واخلی	خورئ تاسې	دوروغ ويونکو ته	په دغی ورځی کښې	افسوس دی

افسوس، هلاكت دى په دغى ورځى كښې دروغ ويونكيو لره. خورئ تاسى او نفع واخلى لږ (ورځى) بيشكه! يئ تاسى

مُّجْرِمُوْنَ ۝٤٦ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٧ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ

لَهُمُ	قِيْلَ	وَاِذَا	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	يَّوْمَئِذٍ	وَيْلٌ	مُّجْرِمُوْنَ
دوی ته	وويل سی	او هرکله چې	درواغ ويونکو لره	په دغی ورځی کښې	افسوس دی	مجرمان

مجرمان. افسوس، هلاكت دى په دغى ورځى كښې دروغ ويونكيو لره. كله چې وويل سى دوى ته (مكذبينو ته)

ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ۝٤٨ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

يَّوْمَئِذٍ	وَيْلٌ	لَا يَرْكَعُوْنَ	ارْكَعُوْا
په دغی ورځی کښې	افسوس دی	نه کوی دوی رکوع	چې رکوع وکړئ تاسې

چې ركوع ،لمونځ وكړئ تاسى، نه كوى دوى ركوع لمونځ (الله ته) . افسوس، هلاكت دى په دغى ورځى كښې

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٩ فَبِاَیِّ حَدِيْثٍۢ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ۝٥٠ ع

يُؤْمِنُوْنَ	بَعْدَهٗ	حَدِيْثٍۢ	فَبِاَیِّ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ
ايمان ، يقين راوړی دوی	وروسته ماسيواء له دی قرآنه به	خبری باندی	پس په کومی	درواغ ويونکو ته

دروغ ويونكيو ته. پس په كومى خبرى باندى وروسته ما سيوا له دى (قرآنه) به ايمان ، يقين راوړى (دغه منكران).

تمّـت سـورت المرسـلت بحمدالله وعونـه وتوفيقـه بتـاريخ ۱۷ مـن رمضـان سنـة ۱۴۳۲ المطابق مع اليـوم السـابع عشــر مــن الشـهر الثـامن مـن عـام ۲۰۱۱ المـيلادي وهــو المسـتعان فـي جميـع الامورو عليه التكلان وبه العـوذ مـن جميـع الفـتن والشـرور : اى ذالجلالـه ذاتــه اى مهربانــه ذاتــه ددغـي روژې دمياشـتي دتقدس پـه خاطر او خپله دقـرآن كـريم دعظمـت او بزرګـي پـه خاطر او خپله سـتا دذات اوعــرش وكرسـي اودبزرګـي پـه خاطر دغـه تفسير شريف اول وار ستا په حضور كي اوورسـتـه بيـا سـتـه دمخلوقاتو پـه ميـنځ كـي قبوليـت ورنصـيب كـړي اوبنـــده عـــاجز او احمدياسين صاب او هغه كسانو ته چي زموږ سره يي ستا دكلام په خدمت كي هر قسم كومك كړي وي كـه مـالي وي او كـه جاني وي اجر او عوض په دنيا وآخرت دواړوكي را نصيب كړي او دغه خدمت پـه خپـل عاليشـان دربـار كي په لوى او ډير رآخښه قبول كړي آمين ثمّ آمين. وصـلى الله علـــى سـيدالانبياء والمرسـلين وعلى آلـه وصحبه وامّته اجمعـــين: حـــرّره العبدالنادم على الخطايا الفقيـر الـى كـرم الـرحمن عبـدالحنان عفـى عنـه.

ع ۲ / ۲۲

ایاتونه ۴۰ — ۷۸ سُوْرَةُ النَّبَاِ مَكِّيَّةٌ ۸۰ — رکوعوي ۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډېر زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

عَمَّ يَتَسَآءَلُوۡنَ ۚ ① عَنِ النَّبَاِ الۡعَظِيۡمِ ۙ ② الَّذِىۡ هُمۡ فِيۡهِ

عَمَّ	يَتَسَآءَلُوۡنَ	عَنِ النَّبَاِ	الۡعَظِيۡمِ	الَّذِىۡ	هُمۡ	فِيۡهِ
دخه شی په باره کی	یو د بله څخه دوی سوال کوی	د خبر	لوی (قیامت)	هغه خبر	چی دوی	په هغه خبر کی

دا خلک دخه شی په هکله یو له بله څخه پوښتنه کوی ، دهغه لوی خبر (قیامت) په هکله چی دوی یو د بله پکښی

مُخۡتَلِفُوۡنَ ؕ ③ كَلَّا سَيَعۡلَمُوۡنَ ۙ ④ ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُوۡنَ ⑤

مُخۡتَلِفُوۡنَ	كَلَّا	سَيَعۡلَمُوۡنَ	ثُمَّ	كَلَّا	سَيَعۡلَمُوۡنَ
اختلاف کوی	هیڅکله نه	ژر به پوه سی	وروسته	هیڅکله نه	ژر به پوه سی

اختلاف کوی. داسی نه ده دوی به ډیر ژر پوه سی بیا داسی نه ده دوی به ډیر ژر پوه سی (قیامت حق دی)

اَلَمۡ نَجۡعَلِ الۡاَرۡضَ مِهٰدًا ۙ ⑥ وَّالۡجِبَالَ اَوۡتَادًا ۙ ⑦ وَّخَلَقۡنٰكُمۡ

اَلَمۡ نَجۡعَلِ	الۡاَرۡضَ	مِهٰدًا	وَّالۡجِبَالَ	اَوۡتَادًا	وَّخَلَقۡنٰكُمۡ
آیا موږ نه ده ګرځولی	مځکه	یو فرش (هواره)	او غرونه	میخونه	او پیدا کړل موږ تاسی

آیا موږ مځکه نه ده هواره کړی؟ او غرونه مو پر میخ کړی نه دی؟ بیشکه! موږ تاسی پیدا کړی یاست

اَزۡوَاجًا ۙ ⑧ وَّجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتًا ۙ ⑨ وَّجَعَلۡنَا الَّيۡلَ

اَزۡوَاجًا	وَّجَعَلۡنَا	نَوۡمَكُمۡ	سُبَاتًا	وَّجَعَلۡنَا	الَّيۡلَ
جوړی جوړی	او ګرځولی دی موږ	خوب ستاسو	آرام	او ګرځولی ده موږ	شپه

جوړه جوړه (نر او ښځه). او ستاسو دپاره مو خوب د آرام (راحت) وسیله ګرځولی ده. او ګرځولی (جوړه کړی) مو ده شپه

لِبَاسًا ۙ ⑩ وَّجَعَلۡنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ۖ ⑪ وَّبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ

لِبَاسًا	وَّجَعَلۡنَا	النَّهَارَ	مَعَاشًا	وَّبَنَيۡنَا	فَوۡقَكُمۡ
پرده	او وګرځول موږ	ورځ	دګټی کولو لپاره	او جوړ کړل موږ	لوړ پر تاسو

پرده او ورځ مو د روزی ګټلو وسیله ګرځولی ده او جوړ کړل موږ ستاسو پر سر

بسم الله الرحمن الرحيم
(دسورت دابتدایي ایاتونو شانِ نزول)
دحضرت ابن عباس رض څخه نقل دی چي کله قرآن کریم نازلېد ل شروع سوه نو دمکې کفارو به په خپلو مجلسونو کښي ددې په هکله خپلي خپلي رایي او خبري کولې نوکله چي په قرآن کریم کښي دقیامت ذکر راغی، څرنګه چي د دوي په نزد دقیامت راتګ یو محال او مشکل کار وو، نوځکه د دوي په منځونو کښي په دې هکله ډیري خبري کېدلې، چا به یي تصدیق کاوه اوڅوک به منکر کېدل، ځکه الله ج ددغه سورت په شروع کښي د دوي داحالت ذکر کړی دی.

وَّجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ
خوب دالله ج داسي یو ستر نعمت دی چي دانسان ټوله غمونه او فکرونه قطع او پرې کوي او مغزته داسي راحت ورکوي چي ددنیا هيڅ راحت ددې بدل نه سي کېدلاي اودا نعمت الله ج د ټول مخلوق لپاره داسي عام کړی دی چي امیر او غریب، عالم او جاهل، پاچا او مزدور ټول په کښي برابر دي.
(معارف القران ج۱۰ ص۵)

سَبۡعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَّ جَعَلۡنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَّ اَنۡزَلۡنَا مِنَ

سَبۡعًا	شِدَادًا	وَّ جَعَلۡنَا	سِرَاجًا	وَّهَّاجًا	وَّ اَنۡزَلۡنَا	مِنَ
اووه (آسمانونه)	سخت (ټينګ)	او ګرځولی دی موږ	څراغ (لمر)	روښانه	او اورولی مو دی	د

اووه سخت (کلک) آسمانونه جوړ کړل. او جوړکړی دی موږ یو څراغ (لمر) روښانه او اورولی مو دی د

الۡمُعۡصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخۡرِجَ بِهٖ حَبًّا

الۡمُعۡصِرٰتِ	مَآءً	ثَجَّاجًا	لِّنُخۡرِجَ	بِهٖ	حَبًّا
اوبو ډکو وریځو څخه	اوبه	پرله پسې	چې راوباسو	په دغو (اوبو سره)	دانه

وریځو څخه اوبه (بارانونه) پرله پسې (په وارو وارو) چې راوباسو په دغو (اوبو) سره غله (حبوبات)

وَّنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلۡفَافًا ﴿١٦﴾ اِنَّ یَوۡمَ الۡفَصۡلِ كَانَ مِیۡقَاتًا ﴿١٧﴾ یَّوۡمَ

وَّنَبَاتًا	وَّجَنّٰتٍ	اَلۡفَافًا	اِنَّ	یَوۡمَ	الۡفَصۡلِ	كَانَ	مِیۡقَاتًا	یَّوۡمَ
او واښه	او باغونه	ګڼ	بیشکه!	ورځ	دفیصلې	ده	مقرره (ټاکلی)	هغه ورځ

او واښه. او ګڼ ګڼ باغونه بیشکه! د فیصلې ورځ (قیامت) ده ټاکل سوی (مقرره ده). هغه ورځ چې پو به کړی

یُّنۡفَخُ فِی الصُّوۡرِ فَتَاۡتُوۡنَ اَفۡوَاجًا ﴿١٨﴾ وَّ فُتِحَتِ السَّمَآءُ

یُّنۡفَخُ	فِی الصُّوۡرِ	فَتَاۡتُوۡنَ	اَفۡوَاجًا	وَّ فُتِحَتِ	السَّمَآءُ
چې پوه کړل سی	په شپیلی کی	نو راځئ به تاسی	ټولی ټولی	او خلاص به سی	آسمان

(حضرت اسرافیل ﷺ) په شپیلی کښې (دوهم ځل) نو را به سی تاسی ډلی ډلی (له قبرونو). او خلاص به سی آسمان

فَكَانَتۡ اَبۡوَابًا ﴿١٩﴾ وَّ سُیِّرَتِ الۡجِبَالُ فَكَانَتۡ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

فَكَانَتۡ	اَبۡوَابًا	وَّ سُیِّرَتِ	الۡجِبَالُ	فَكَانَتۡ	سَرَابًا
نو سی به	دروازی	او روان به سی	غرونه	نو سی به	په شان د شوګو (ځلیدونکی ځمکه)

سی به دروازی دروازی، او روان به کړل سی غرونه نو داسی به سی لکه سراب په شان د شوګو (ځلیدونکی ځمکه)

اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِیۡنَ مَاٰبًا ﴿٢٢﴾ لّٰبِثِیۡنَ فِیۡهَاۤ

اِنَّ	جَهَنَّمَ	كَانَتۡ	مِرۡصَادًا	لِّلطَّاغِیۡنَ	مَاٰبًا	لّٰبِثِیۡنَ	فِیۡهَاۤ
بیشکه!	دوږخ	دی	په انتظار کښې	دسرکښانو دپاره	دورتللو ځای دی	پاته به وی دوی	په دغه (دوږخ) کی

بیشکه! دوږخ په انتظار کښې دی او ځای دی د سرکښانو پاته به وی دوی (سرکښان) په دا (دوږخ کښې)

فَتَاۡتُوۡنَ اَفۡوَاجًا
د حضرت ابوذرغفاري رض
څخه روایت دی چې
نبي کریم صلی الله علیه
وسلم فرمایلي دي چې
خلګ به دقیامت په ورځ
پر درو ډلو وویشل سي
یوه ډله به دهغه خلګو
وي چې په مړه خېټه،
لباس په تن او
پر سپرلیو سپاره دحشر
ومیدان ته به راسي،
دوهمه ډله به د پیاده
خلګو وي چې دحشر
میدان ته به راځي،
او دریمه ډله به
دهغو خلګو وي چې
پر مخي به دحشر و
میدان ته راکښیږي
(تفسیرمظهري). حضرت
حسن بصري رح فرمایي
چې دجهنم پر پله باندې
دمقررو ملائیکو پوسته
وي دچا سره چې دجنت
دتللو سند وي هغوی
به جنت ته پرېږدي او دچا
سره چې د جنت دتللو
سند نه وي هغوی به
وجنت ته د ننوتلو څخه
منع کوي.(تفسیرقرطبي)
(اَحۡقَابًا) احقاب دحقبة
جمع ده چې اوږدي
زماني ته ویل کیږي
ځیني علماء فرمایي چې
حقبه اتیا (٨٠) کالو ته
وایي او ځیني علماء
بیا فرمایي چې حقبه
اویا (٧٠) کالو ته وایي.
(معارف القران ج١٠ص٨)

أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾

أَحْقَابًا	لَا يَذُوقُونَ	فِيهَا	بَرْدًا	وَّلَا شَرَابًا
تر ډیری مودی	نه به څکی دوی	په دغه (دوزخ) کی	یخی اوبه	او نه به هم د څښلو شی

تر ډیره وخته او نه به څښي په دا دوزخ کښي یخي اوبه او نه هم د څښلو شی

إِلَّا حَمِيمًا وَّغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ

إِلَّا	حَمِيمًا	وَّغَسَّاقًا	جَزَآءً	وِّفَاقًا	إِنَّهُمْ	كَانُوا	لَا يَرْجُونَ
مگر	ایشیدلی اوبه	او نو (زوی)	سزاء ده	د عملو مطابق	بیشکه! دوی	وه	چی امید یې نه درلودی

مگر پرته د ایشیدلو اوبو او زوی څخه دا یې سزا ده د عملونو (د دوی) بیشکه! دوی نه درلودی امید

حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَّكَذَّبُوا بِأٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنٰهُ كِتٰبًا ﴿٢٩﴾

حِسَابًا	وَّكَذَّبُوا	بِأٰيٰتِنَا	كِذَّابًا	وَكُلَّ شَيْءٍ	أَحْصَيْنٰهُ	كِتٰبًا
د حساب	او دروغ یی بلل	ایاتونه زمونږ	په دروغ بللو سره	او هر شی	حسابلی دی مونږ هغه	په لیکلو سره

د حساب (قیامت). او دروغ به یې گڼلی زمونږ نشانیانی (آیاتونه) شمیرلی دی مونږ هغه په لیکلو سره

فَذُوقُوا فَلَنْ نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ

فَذُوقُوا	فَلَنْ نَّزِيدَكُمْ	إِلَّا	عَذَابًا	إِنَّ	لِلْمُتَّقِينَ
نو وڅکئ	هیڅکله نه ډیر وو تاسو ته	مگر	عذاب	بیشکه!	د پرهیزگارانو دپاره

(په لوح محفوظ کښی).نو خوند واخلی (خپل د سزا څخه) پس مونږ بیله عذابه بل شی نه زیاتوو. بیشکه! د پرهیزگارانو دپاره

مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَابًا ﴿٣٢﴾ وَّكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَّكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾

مَفَازًا	حَدَآئِقَ	وَأَعْنَابًا	وَّكَوَاعِبَ	أَتْرَابًا	وَّكَأْسًا	دِهَاقًا
کامیابی ده	باغونه	او دانگورو ونی	او پیغلی انجونی	همزولانی	او پیالی	ډکی

کامیابی ده. باغونه (دمیوو) او دانگورو ونی (درختی) دی. او همزولی پیغلی نجونی دی او ډک ډک جامونه به وی

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّنْ

لَا يَسْمَعُونَ	فِيهَا	لَغْوًا	وَّلَا كِذّٰبًا	جَزَآءً	مِّنْ
نه به اوری دوی	په دا (جنت) کی	بی ځایه خبری	او نه هم دروغ	اجر دی	د طرفه

نه به اوری پرهیزگاران په دا جنت کښی بی ځایه خبری او نه هم دروغ ، اجر (جزاء ده) د طرفه

لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا... دوږخیانو ته نه راحت او نه یخي اوبه ورکول کیږي. په دغه ایت کي الله ﷻ د دوږخیانو د عذاب او او د هغوی د ذلت ذکر کړی دی الله ﷻ فرمایي چي دوږخیان به په دوږخ کي نه د څه یخوالي یعني راحت خوند وڅکي او نه به دوی ته د چیښلو شی ورکړه سي چي تنده یي په ماته سي بغیر د گرمو اوبو څخه او د وینو اوزوي څخه او دا دوی ته د دوی د عملونو پوره بدله ورکول کیږي او هغه عملونه د کمو چي د دغه عذاب بدله ده هغه دادي چي هغه خلگو به د قیامت دورځي امید نه درلودی او نه یي هم بیره ځیني کوله او زمونږ هغه ایاتونه په کومو کي چي به د حساب او حقوقو او نورو کارونو خبروو ښه دروغجن کول او مونږ بیا د دوی د اعمالو څخه هرشی د دوی په عملنامه کي لیکلي محفوظ کړي دي پس په دغو عملونو به دوی خبر سي او وبه ویل سي ورته چي اوس د دغه عملونو خوند وڅکی چي مونږ به ستاسي سزا پر مخ باندي زیاتوو دغه د کافرانو فیصله سوله الخ

(معارف القرآن ج ١٠ پ ٣٠ ص ٤)

ربع

جَــزَآءً مِــنۡ رَّبِّــكَ عَـطَـآءً ...پــه حــدیث شـریف کښـي راغـي چي نبي کریم ص فرمایلي دي چــي یــو ســړی جنــت تــه یواځي په خپل عمل سره نه سي تللای تر څو چي دالله ج فضل اوکرم نه وي ورسـره، صـحابه کرامـو عرض وکړ چي یا رسول الله صلی الله علیه وسلم آیــا تاســو هــم؟ دوي وفرمایل چي هو زه هم په خپـل عمـل سره جنت تـه نــه ســم تلــلای تــر څــو چي دالله ج فضـل او کـرم نــه وي راســره ملگــری.

(الرُّوۡحُ) دروح څخـه مـراد دتفسیر دځینو اماما نو په نـزد جبرائیـل امـین دی، د جبرائیــل ذکــر دعــامو ملائیکوڅخه اول ځکه یاد سو، چي دا ملکه دالله ج په نـزد د ډیـر عظمـت اوشـان خاونــده ده اوپــه ځینــو روایتونو کښي راغلي دي چي: روح دالله ج یو عظیم الشان لښکر دی کوم چي ملائیکــي نــه دي دوي ســرونه لاســونه او پښــي لري ددغه تفسیر پر بناء نــو دمحشــر پــه ورځ بــه دوه صـفونه وي یـو صـف دملائیکــو او بــل دروح او دابــه هغــه ســخته ورځ وي چي هیڅ چاته به دحق تعـالی ج داجـازې پرتــه د خبروکولـو اجـازه نـه وي.

(معــارف القــرانج۱۰ص)

رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا

رَّبِّكَ	عَطَآءً	حِسَابًا	رَّبِّ	السَّمٰوٰتِ	وَالۡاَرۡضِ	وَمَا
درب ستا	بخشش دی	په حساب د اعمالو	رب	د آسمانونو	او د ځمکی دی	او هغه شیان

دربه ستا څخه عطاء او بخښښ دی په حساب د اعمالو چی رب د آسمانونو او د ځمکی دی او (رب د) هغه شیانو چی

بَيۡنَهُمَا الرَّحۡمٰنِ لَا يَمۡلِكُوۡنَ مِنۡهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوۡمَ يَقُوۡمُ

بَيۡنَهُمَا	الرَّحۡمٰنِ	لَا يَمۡلِكُوۡنَ	مِنۡهُ	خِطَابًا	يَوۡمَ	يَقُوۡمُ
چی په مینځ کښی د دوی دی	ډیر زیات مهربان دی	نه لری اختیار هیڅوک	دده سره (دالله سره)	د خبرو کولو	هغه ورځ	چی ودریږی

په مینځ د دوی کښی دی (الله) ډیر مهربانه دی هیڅوک اختیار نه لری چی خبری وکړی دالله سره هغه ورځ چی ودریږی

الرُّوۡحُ وَالۡمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ۚ لَّا يَتَكَلَّمُوۡنَ اِلَّا مَنۡ اَذِنَ

الرُّوۡحُ	وَالۡمَلٰٓئِكَةُ	صَفًّا	لَّا يَتَكَلَّمُوۡنَ	اِلَّا	مَنۡ	اَذِنَ
جبرئیل	او ملائیکی	صف تړلی	نسی خبری کولای	مګر	هغه څوک	چی اجازه ورکړی

روح الامین (جبرئیل ؑ) او ملائیکی په تړل سوی صفونو، خبری به نسی کولای مګر هر هغه څوک چی اجازه (حکم) ورکړی

لَهُ الرَّحۡمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ الۡيَوۡمُ الۡحَقُّ ۚ فَمَنۡ شَآءَ

لَهُ	الرَّحۡمٰنُ	وَقَالَ	صَوَابًا	ذٰلِكَ	الۡيَوۡمُ	الۡحَقُّ	فَمَنۡ	شَآءَ
ده ته	مهربانه (الله)	او وایی به	ښه خبره	دغه	ورځ	حق ده	پس هغه څوک	چی وغواړی

ده ته رحمن. او هغه څوک چی ویلی یئ وی ښې خبری (په دنیا کښی) دغه ورځ حق ده پس هغه څوک چی وغواړی

اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ﴿٣٩﴾ اِنَّاۤ اَنۡذَرۡنٰكُمۡ عَذَابًا قَرِيۡبًا ۖ يَّوۡمَ يَنۡظُرُ

اتَّخَذَ	اِلٰى	رَبِّهٖ	مَاٰبًا	اِنَّاۤ	اَنۡذَرۡنٰكُمۡ	عَذَابًا	قَرِيۡبًا	يَّوۡمَ	يَنۡظُرُ
ودی نیسی	وطرفته	درب خپل	دورتللو ځای	بیشکه!	ومو بیرولاست تاسی	دعذاب څخه	نژدی	هغه ورځ	چی ووینی

دخپل رب طرفته دی ځای ونیسی. بیشکه! ومو بیرولاست د نژدی راتلونکی عذاب څخه هغه ورځ چی هر سړی وینی

الۡمَرۡءُ مَا قَدَّمَتۡ يَدٰهُ وَيَقُوۡلُ الۡكٰفِرُ يٰلَيۡتَنِىۡ كُنۡتُ تُرٰبًا ﴿٤٠﴾

الۡمَرۡءُ	مَا قَدَّمَتۡ	يَدٰهُ	وَيَقُوۡلُ	الۡكٰفِرُ	يٰلَيۡتَنِىۡ	كُنۡتُ	تُرٰبًا
هر سړی	هغه چی دمخه یئ استولی وه	دواړو لاسو دده	او وبه وایئ	کافر	کاشکی زه	وای	خاوری

ع ٢ خپل اعمال چی دمخه یئ استولی دی په خپلو دواړو لاسونو او کافر به وایئ افسوس کاشکی زه خاوری وای.

اٰياتوٗنه ٤٦ — ٧٩ سُوْرَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ ٨١ — رکوعي ٢

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالنّٰزِعٰتِ غَرۡقًا ۝١ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشۡطًا ۝٢ وَّالسّٰبِحٰتِ

وَالنّٰزِعٰتِ	غَرۡقًا	وَّالنّٰشِطٰتِ	نَشۡطًا	وَّالسّٰبِحٰتِ
قسم دی په سخت ايستونکو (ملائيکو)	سخت ايستل	او په اسانی ايستونکو (ملائيکو)	اسانه ايستل	او په تيزو غوټو وهونکو

قسم په هغو فرشتو چې روح په سختئ سره باسئ او قسم په هغو فرشتو چې روح په نرمی سره باسی او قسم په هغو چې غوټې وهی

سَبۡحًا ۝٣ فَالسّٰبِقٰتِ سَبۡقًا ۝٤ فَالۡمُدَبِّرٰتِ اَمۡرًا ۝٥

سَبۡحًا	فَالسّٰبِقٰتِ	سَبۡقًا	فَالۡمُدَبِّرٰتِ	اَمۡرًا
تيزه غوټه وهل	په وړاندی کيدونکو (ملائيکو)	وړاندی کيدل	او تدبير جوړوونکو (ملائيکو)	د الله حکم

په تيزئ سره او قسم په هغو فرشتو چې مخته روانی دی په ځغستا سره او قسم په هغو چې تدبير جوړونکی دی د کارو د الله په امر د الله

يَوۡمَ تَرۡجُفُ الرَّاجِفَةُ ۝٦ تَتۡبَعُهَا الرَّادِفَةُ ۝٧ قُلُوۡبٌ يَّوۡمَئِذٍ

يَوۡمَ	تَرۡجُفُ	الرَّاجِفَةُ	تَتۡبَعُهَا	الرَّادِفَةُ	قُلُوۡبٌ	يَّوۡمَئِذٍ
هغه ورځ	چې ولړزيږی	لړزيدلی	رابه سی په دی پسی	وروسته راتلونکی	زړونه	په دغه ورځ

هغه ورځ چې ولړزيږی لړزيدلی او ورپسی به وی وروسته راتلونکی (دوهمه شپيلی) په هغه ورځ به زړونه

وَّاجِفَةٌ ۝٨ اَبۡصَارُهَا خَاشِعَةٌ ۝٩ يَقُوۡلُوۡنَ ءَاِنَّا

وَّاجِفَةٌ	اَبۡصَارُهَا	خَاشِعَةٌ	يَقُوۡلُوۡنَ	ءَاِنَّا
بی قراره درزيږی	سترګی د دوی	به کښته وی	وايئ به دوی	آيا موږ به

درزيږی او سترګی د دوی کښته (ذليلی) وی ، (ديری څخه) دوی به وايئ آيا موږ به

لَمَرۡدُوۡدُوۡنَ فِي الۡحَافِرَةِ ۝١٠ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ۝١١ قَالُوۡا

لَمَرۡدُوۡدُوۡنَ	فِي الۡحَافِرَةِ	ءَاِذَا	كُنَّا	عِظَامًا	نَّخِرَةً	قَالُوۡا
بيرته وګرځول سو	په اول حالت کی	آيا هر کله	چې موږ سو	هډوکی	زړيدلی	وايئ دوی

بيرته وګرځول سو په اول حالت ؟ آيا هغه وخت چې زموږ هډوکی ايری سی (بيرته ژوندی کيدلای سو ؟) دوی به وايئ

(قَالُوۡا تِلۡكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ) يعني کفارو به ويل چي کله موږ په هديره کښې نيغ کړل سو بيا به څنګه موږ ژر تر ژره ژوندي کيږو؟ موږ خو په دي خبرو نه پوهيږو چي زړيدلي هډوکي به څنګه بيا ژوندي کيږي که داسي کومه پيښه وسي نو بيا به ژوندي کېدل موږ لره ډير دضرره ډک وي ولي موږ خو دهغه ژوندون لپاره څه تياري نه ده کړې او هيڅ شئ او سامان نه ورته لرو دا خبري به دوي په ملنډو او مسخرو سره کولې.

سَاهِرَةِ ځينې علماء کرام د ساهره څخه مراد يا دهغې مصداق د شام مځکه بولي او ځني علماء بيا د ساهره څخه مراد دوزخ اخلي يعني کفارو او مشرکين د قيامت راتګ ډير مشکل بولي او حال دا چي دا ساري پاک الله ته ډيري اسانه دي يعني ديوې شپيلۍ په پوه کولو سره به پخواني او وروستني مري ټول د مځکي څخه راووزي او مخ د حشرګاه پر طرف به روان وي او هلته به بيا حساب او پوښتني ځني کيږي د نېو بدله به نېه وي او د بدو بدله به بده وي.

(ابن کثير جلد څلورم ص ٤٢٣)

تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَاِذَا

تِلْكَ	اِذًا	كَرَّةٌ	خَاسِرَةٌ	فَاِنَّمَا	هِيَ	زَجْرَةٌ	وَّاحِدَةٌ	فَاِذَا
دغه	په هغه وخت کي	گرځيدل	د تاوان دي	نو بيشکه!	هغه به	زورور آواز وى	يو	نو دغه وخت به

چي داخو به هسي د تاوان د ک راتگ وى نو بيشکه! هغه به يو زورور آواز وى (د وهم ځل شپيلي پو کل) . نو پس هغه وخت

هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿١٥﴾ اِذْ نَادٰىهُ

هُمْ	بِالسَّاهِرَةِ	هَلْ	اَتٰىكَ	حَدِيْثُ	مُوْسٰى	اِذْ	نَادٰىهُ
دوى	په مخ د مځکې وى	آيا	راغلى دى تاته	خبر	د موسىٰ	کله چي	آواز وکړى وده ته

به ټول په يو ميدان (حشر) کښې راجمع سي آيا تاته (اى محمده!) د موسىٰ د واقع خبر رارسيدلى دى کله چي ورړغ کړل ده ته

رَبُّهٗ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ

رَبُّهٗ	بِالْوَادِ	الْمُقَدَّسِ	طُوًى	اِذْهَبْ	اِلٰى	فِرْعَوْنَ	اِنَّهٗ
رب دده	په کنده د ميدان کي	پاکه	د طوىٰ کي	ولاړسه !	وطرفته	د فرعون	بيشکه! ده

رب دده په پاکه کنده د طوىٰ کښې (او حکم يئ ورکړى الله) چي ولاړ سه (په رسالت زما) وطرفته د فرعون بيشکه دئ

طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰى اَنْ تَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ

طَغٰى	فَقُلْ	هَلْ لَّكَ	اِلٰى	اَنْ تَزَكّٰى	وَاَهْدِيَكَ	اِلٰى	رَبِّكَ
سرغړولى دى	نو ووايه	آيا سته مينه تالره	وطرفته	د دى چي پاک سى	او لاره درو ښيم تاته	وطرفته	د رب ستا

سرکښه دى، او ووايه (فرعون ته) آيا ته غواړى چي پاک سى؟ (په اسلام) او لاره درو ښيم تا ته ستا د رب؟ نو پس چي وبيريږي

فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾ فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ

فَتَخْشٰى	فَاَرٰىهُ	الْاٰيَةَ	الْكُبْرٰى	فَكَذَّبَ	وَعَصٰى	ثُمَّ
چي وبيريږى ته	نو ورښکاره يى کړل وده ته	نښانه	غټه	نو درواغ يى وګڼل	او نافرماني يى وکړل	وروسته

(د عذاب څخه) نو ورښکاره يئ کړل وده ته (وفرعون ته) لويه نښانه (معجزه) پس (فرعون) درواغ وګڼل او نافرماني يئ وکړل

اَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ﴿٢٤﴾

اَدْبَرَ	يَسْعٰى	فَحَشَرَ	فَنَادٰى	فَقَالَ	اَنَا	رَبُّكُمُ	الْاَعْلٰى
شايي وګرځول	ولاړى په ځغستا سره	نو يى راټول کړل	نو آوازيى وکړى	نو وويل	زه يم	رب ستاسو	ډير لوى

بيرته يئ شا وګرځوله کوښښ يئ وکړ نو يئ راټول کړل (خلک) او آواز يئ وکړ و دوى ته نو يئ وويل ستاسو لوى رب زه يم

فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ

دحضرت عبد الله ابن عمر رض څخه روايت دی چي دقيامت په ورځ به ټوله مځکه هواره سطح سي چي انسانان، پيريان، پرمځکه گرځيدونکي حيوانان او وحشي ځناوران ټوله به پر راجمع سي او په حيواناتو کښي چي چا پر چا ظلم کړی وي په دنيا کي نو دهغه څخه به دهمغه ظلم بدل واخيستل سي، تر دې اندازې چي که يو ښکروري بزې بې ښکره بزه په ښکرو وهلې وي نو په دغه ورځ به دهغه بدل هم ځني واخستل سي کله چي ددې څخه فارغه سي نو ټولو حيواناتو ته به حکم وسي چي خاوري سي نو هغه به ټول خاوري سي دغه وخت به کافران دا ارزو وکړي چي کاشکي موږ هم حيوانان واي او خاوري سوي واي او دحساب کتاب او جهنم دسزا څخه محفوظ سوي واي، (معارف القران). ددې ذکر سوو آياتونو څخه ثابته سوه چي دا عذاب او ثواب به په قبر يعني برزخ کښي وي دحشر عذاب او ثواب ددې څخه وروسته دی په صحيح احاديثو کښي ددې ډير تفصيلات ذکر دي دبرا ابن عازب رض څخه يو اوږد حديث په مشکواة شريف کښي ذکر دی.
(معارف القران ج١٠ص١٩)

فَأَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ

فَاَخَذَهُ	اللّٰهُ	نَكَالَ	الْاٰخِرَةِ	وَالْاُوْلٰى	اِنَّ	فِيْ ذٰلِكَ	لَعِبْرَةً	لِّمَنْ
نو ويئ نيوى دى	الله	په عذاب	دآخرت	او د دنيا	بيشكه!	په دغه كښې	عبرت دى	دهغه چا دپاره

نو ويئ ونيوى دى (فرعون) الله په عذاب د آخرت او په دى دنيا كښې . بيشكه! په دغه (قصه) كښې عبرت دى دهغه چا دپاره

يَّخْشٰى ﴿٢٦﴾ ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ۚ بَنٰهَا ﴿٢٧﴾

يَّخْشٰى	ءَاَنْتُمْ	اَشَدُّ	خَلْقًا	اَمِ السَّمَآءُ	بَنٰهَا
چې بيريږى	آيا تاسى	ډير سخت ياست	په پيدا ئينت كښې	يا آسمان؟	چې جوړكړى يئ دى هغه

چې بيريږى (د الله څخه) آيا ستاسو پيدا كيدل سخت كار دى او يا كه د آسمان (جوړول؟) چې هغه يئ جوړ كړى دى

رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿٢٨﴾ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿٢٩﴾

رَفَعَ	سَمْكَهَا	فَسَوّٰىهَا	وَاَغْطَشَ	لَيْلَهَا	وَاَخْرَجَ	ضُحٰىهَا
لوړيئ كړ	چت د هغه	بيا يئ برابر كړ هغه	او تياره يئ كړه	شپه د هغه	او راوى يئ ايستل	رڼا د هغه

لوړ يئ كړى چت د هغه (آسمان) بيا يى برابر كړ او تاريكه يئ كړل شپه د هغه او راويى ايستل رڼا

وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿٣٠﴾ اَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا

وَالْاَرْضَ	بَعْدَ	ذٰلِكَ	دَحٰىهَا	اَخْرَجَ	مِنْهَا	مَآءَهَا
او مځكه	وروسته	تر دغه	ويئ غوړوله هغه	راويى ايستلى	ددى څخه	اوبه ددى

ورځ ددغه (دآسمان څخه) او وروسته تر دغه يئ مځكه هواره كړل راويى ايستل ددى (مځكى) څخه اوبه ددى

وَمَرْعٰىهَا ﴿٣١﴾ وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَا ﴿٣٢﴾ مَتَاعًا لَّكُمْ

وَمَرْعٰىهَا	وَالْجِبَالَ	اَرْسٰىهَا	مَتَاعًا	لَّكُمْ
او وابنه ددى	او غرونه	محكم يئ ودرول هغه	گټه ده	ستاسى دپاره

او وابنه ددى او غرونه يئ قايم كړل پكښى (ټينګ ودرول) (دا هر څه) ګټه ده ستاسو دپاره

وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿٣٣﴾ فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿٣٤﴾ يَوْمَ

وَلِاَنْعَامِكُمْ	فَاِذَا	جَآءَتِ	الطَّآمَّةُ	الْكُبْرٰى	يَوْمَ
او ستاسى دحيواناتو دپاره	هغه وخت چې	راسى	بلا (آفت)	لويه (قيامت)	په دغه ورځ

او ستاسو د حيواناتو (ذكيى) لپاره نو پس هغه وخت چې راسى پيښه لويه (قيامت) په هغه ورځ

(مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ)
يعني كه دا انتظام
دورځي او دشپي او
دآسمانونو او مځكو او
داوبو او وښو نه واى نو
الله فرمايي ستاسي او
ستاسي دحيواناتو چاري
به څنګه پوره كېدلا ي
ددې ټولو شيانو د
پيداكولو څخه مقصد
ستاسي احتياج پوره
كول دي او تاسي ته
راحت رسول مقصد دى
نو دالله ج دغو نعمتونو ته
بايد وكتل سي او دهغه
ددغه نعمتونو شكر اداء
كړل سي او په دي هم
بايد پوه سو چي هغه
قادر مطلق ذات چي
داسي لوړ انتظامات او
لوړ ترتيبات يې جوړ
كړي دي هغه پر دغه هم
قدرت لري چي په رژېدلو
هډوكو كښي روح
واچوي او ددغو ذكر
سوو نعمتونو څخه دا
سبق هم اخيستل كيږي
چي انسان بايد دالله ج
دقدرت اقرار وكړي او
دده دنعمتو شكر پر ځاى
راوړي كه نه نو دقيامت
په ورځ به سخت پرېشانه
اوخپږه وي خصوصاً
بيا هغه وخت چي د
بنده اعمال دهغه په
مخكښي وړاندي سي.
يا الله موږ ته ستا
دقدرت په نښو كښي
دغور او فكر كولو
توفيق راكړې! آمين.
(تفسير كابلي ج٢ ص١٦٣٩)

(وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ)
په ذكر سوي آيت كښي
يې دجنت دلاسته راوړني
لپاره دوه شرطونه
وښوول او كه لږ فكر
وسي نو دنتيجې په
اعتبار سره يو شرط
دى، اولنى شرط: دالله ج
په حضور كښي دجواب
وركولو ېره ده. دوهم
شرط: نفس دخواهشاتو
څخه منع كول دي او
حقيقت دادى چي
دخداى ج ېره نفس د
خواهشاتو څخه منع كوي
حضرت قاضي ثنا ءالله
پاني پتي رح په تفسير
مظهري كښي فرمايي
چي دخواهشاتو
د مخالفت دري درجې
دي اوله درجه داده
چي بنده دهغو
باطلو عقيدو څخه
ځان وساتي چي
دظاهرو آياتونو او
دسلفو د اجماع څخه
خلاف وي متوسطه درجه
داده چي هغه ديو معصيت
او گناه اراده وكړي نو
بيا ده ته آخرت ورپه ياد
سي نو ددې خيال پر
بنابانـدي دى دغه گناه
پريږدي. دريمه درجه داده
چي بنده دشبهاتو څخه هم
پرهيز وكړي او دكوم رواه
او جايز كار د مشغو
لېدو په نتيجه كي چي
په يو ناجايز كار د
اخته كيدو خطره وي
هغه هم پريږدي.
(معارف القرآن ج ٣٠ ص ٢٢)

يَتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ مَا سَعٰى ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ﴿٣٦﴾

يَتَذَكَّرُ	الْاِنْسَانُ	مَا سَعٰى	وَبُرِّزَتِ	الْجَحِيْمُ	لِمَنْ	يَّرٰى
ياد به كړي	آنسان	هغه څه چې كوښښ يې كړى وى	او ښكاره به كړل سى	دوږخ	دهغه چا دپاره	چې ويني يې

به ياد كړي آنسان هغه څه چې كړي يې وى (ددنيا عمل) او ښكاره به سى دوږخ دهغه چا دپاره چې ويني يې

فَاَمَّا مَنْ طَغٰى ﴿٣٧﴾ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ

فَاَمَّا مَنْ	طَغٰى	وَاٰثَرَ	الْحَيٰوةَ	الدُّنْيَا	فَاِنَّ	الْجَحِيْمَ	هِيَ
نو هر هغه چاچې	سركښي يې كړي وى	او غوره كړي يې وى	ژوند	ددنيا	نو بيشكه!	دوږخ	دغه

پس هغه چا چې سركښي كړي وى او غوره كړي يې وى (ښه يې ګڼلى وى) ژوند د دنيا (په آخرت باندې) نو بيشكه! دوږخ

الْمَاْوٰى ﴿٣٩﴾ وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ

الْمَاْوٰى	وَاَمَّا	مَنْ خَافَ	مَقَامَ	رَبِّهٖ	وَنَهَى	النَّفْسَ	عَنِ
ځاى د هستوګنې دده دى	او هر هغه څوك	چې ويرېږى	مخامخ ته په دريدو	وخپل رب ته	او منع كړي يې وى	نفس	د

ځاى د هغه دى. او هر هغه څوك چې ويرېږى خپل رب ته د مخامخ دريدلو څخه او منع كړي يې وى نفس خپل د

الْهَوٰى ﴿٤٠﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿٤١﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ

الْهَوٰى	فَاِنَّ	الْجَنَّةَ	هِيَ	الْمَاْوٰى	يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ
خواهشاتو (څخه)	نو بيشكه!	جنت	دغه (جنت)	ځاى د هستوګنې دده دى	پوښتنه كوى دوى له تا څخه	د

خواهشاتو څخه (دبدو خواهشاتو څخه) نو پس دغه جنت دده ځاى دى . پوښتنه كوى له تا څخه (اى محمده!) (داخلګ)

السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ﴿٤٢﴾ فِيْمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرٰىهَا ﴿٤٣﴾ اِلٰى

السَّاعَةِ	اَيَّانَ	مُرْسٰىهَا	فِيْمَ	اَنْتَ	مِنْ	ذِكْرٰىهَا	اِلٰى
قيامت	چې څه وخت به وى	واقع كيدل دهغه (قيامت)	په څه كښې يې	ته	د	يادولو څخه د هغه	وطرفته

چې قيامت څه وخت واقع كيږى ؟ څه تعلق دى ستا ددا پوهيدلو (معلومولو دقيامت) سره ؟ ددى (قيامت)

رَبِّكَ مُنْتَهٰىهَا ﴿٤٤﴾ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشٰىهَا ﴿٤٥﴾

رَبِّكَ	مُنْتَهٰىهَا	اِنَّمَآ	اَنْتَ	مُنْذِرُ	مَنْ يَّخْشٰىهَا
درب ستا	انتهاء د هغه (قيامت)	بيشكه!	ته (اى محمده!)	ييرووونكى يې	دهغه چا چې ويرېږى دقيامت څخه

انتهايې علم دالله سره دى . بيشكه! ته (اى محمده!) ييرووونكى يې دهغه چا لره چې ويرېږى (دقيامت څخه)

ع ۲

كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا عَشِيَّةً اَوْ ضُحٰهَا ﴿٤٦﴾

كَاَنَّهُمْ	يَوْمَ	يَرَوْنَهَا	لَمْ يَلْبَثُوْٓا	اِلَّا	عَشِيَّةً	اَوْ ضُحٰهَا
ګواکې دوی	په ورځ	چې ويني دوی هغه	نه دي پاته سوي	مګر	يو مابنام	يا يو څاښت

کوم وخت چې دوی ويني (قيامت) (داسې به وی) لکه (په دنيا کې چې يئ) ديو مابنام يا څاښت وخت تير کړی وی

اياتونه ۴۲ — ۸۰ سُوْرَةُ عَبَسَ مَكِّيَّةٌ ۲۴ — رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى ﴿١﴾ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيْكَ

عَبَسَ	وَتَوَلّٰٓى	اَنْ جَآءَهُ	الْاَعْمٰى	وَمَا	يُدْرِيْكَ
تندی يئ تريو کړ	او مخ يئ واړاوه	له دی امله چې راغلی و ده ته	ړوند	او څه شي	پوه کړی يئ ته

تندی يئ تريو کړی (محمد) او مخ يئ واړاوه له دی امله چې راغلی وده ته ړوند (عبدالله) او څه شی پوه کړی يئ ته (محمد)

لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰٓى ﴿٣﴾ اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ﴿٤﴾

لَعَلَّهٗ	يَزَّكّٰٓى	اَوْ يَذَّكَّرُ	فَتَنْفَعَهُ	الذِّكْرٰى
ښايئ چې دی	به پاک سی	او يا به پند واخلي	نو فائده به ورسوی ده ته	نصيحت ستا

ښايئ چې هغه به پاک سوی وای، او که تا نصيحت ورته کړی وای فائده به يې ځيني اخيستی وای ستا د نصيحت څخه

اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ﴿٥﴾ فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰى ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ﴿٧﴾

اَمَّا مَنِ	اسْتَغْنٰى	فَاَنْتَ	لَهٗ	تَصَدّٰى	وَمَا	عَلَيْكَ	اَلَّا يَزَّكّٰى
هر هغه څوک چې	بی پروايي يئ کړی ده	نو ته	وهغه ته	قصد کوی	او نسته	پر تا باندی (مسؤليت)	چې پاک نه سی

آما هغه څوک چې بی پروا دی نو ته ده هغه طرف ته مخ ور ګرځوی او نسته پر تا باندی هيڅ شی (الزام) چې پاک نه سی

وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰى ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشٰى ﴿٩﴾ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ﴿١٠﴾

وَاَمَّا مَنْ	جَآءَكَ	يَسْعٰى	وَهُوَ	يَخْشٰى	فَاَنْتَ	عَنْهُ	تَلَهّٰى
او هغه څوک چې	راغلی وتاته	په تلوار سره	او هغه چې	ييريږی (د الله څخه)	پس ته	د هغه څخه	مخ ګرځوی

او هغه څوک چې راغلی وتاته په تلوار سره حال دادی چې دی ييريږی د الله څخه نو پس ته (محمده!) د هغه څخه بی پروايئ کوی

شـــان نـــزول: ددې آياتونو د نازلېدو واقعه داده چې يوځلي نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) د کفارو او مشرکينو د ځينو سردارانو سره ناست وو او هغوی يې په دين باندې پوهول لکه ابوجهل ابن هشام، عتبه بن ربيعه، ابي بن خلف، اميه بن خلف. په هم دې شيبه کښې حضرت عبدالله ابن ام مکتوم رض ړوند صحابي راغی او يو پوښتنه يې وکړه او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) خبري يې پرې کړې، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته دغه کار خوښ نه سو او د ده طرف ته يې توجه ونه کړه او د ناخوښۍ په وجه يې تندی مبارک ګنجي کړ، کله چې ددې مجلس څخه پورته سو کور ته تلی نو د وحي نښي راښکاره سوې او دا آياتونه د عبس وتولى را نازل سوه ددې څخه وروسته کله چې به هغه ده صلى الله عليه وسلم خواته راغی نو ده صلى الله عليه وسلم به يې ډير مراعت کاوه، د بغوي په روايت کښې راغلي دي چې حضرت عبد الله ابن ام مکتوم رض ته د ړند بدو له امله نه وه معلومه چې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) د خلګو سره مصروف دی.

(معارف القرآن ج ۳۰ ص ۲۶)

كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِي صُحُفٖ مُّكَرَّمَةٖ ﴿١٣﴾

كَلَّآ	إِنَّهَا	تَذۡكِرَةٞ	فَمَن	شَآءَ	ذَكَرَهُۥ	فِي صُحُفٖ	مُّكَرَّمَةٖ
هيڅکله نه ده	بيشکه! دا	يو نصيحت دی	پس هغه څوک	چی وغواړی	ياد دی کړی دا (قرآن)	په صحيفو کی	چی عزتمندی دی

نو مه کوه داسی بيشکه دا يو نصيحت دی، نو هغه څوک چی وغواړی ودی منی دغه پند د قرآن چی په ورقو کی ليکل سوی دی

مَّرۡفُوعَةٖ مُّطَهَّرَةِۭ ﴿١٤﴾ بِأَيۡدِي سَفَرَةٖ ﴿١٥﴾ كِرَامِۭ بَرَرَةٖ ﴿١٦﴾

مَّرۡفُوعَةٖ	مُّطَهَّرَةِۭ	بِأَيۡدِي	سَفَرَةٖ	كِرَامِۭ	بَرَرَةٖ
ډيری لوړی دی	او پاکی دی	په لاسونو کښی	دليکونکو (فرشتو)	چی عزتمندی	نيکانی دی

چی هغه ډيری لوړی او پاکی دی چی دليکوونکو ملائيکو په لاسونو کښی دی چی ډيری عزت مندی نيکانی دی

قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ ﴿١٧﴾ مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطۡفَةٍ

قُتِلَ	ٱلۡإِنسَٰنُ	مَآ	أَكۡفَرَهُۥ	مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ	خَلَقَهُۥ	مِن نُّطۡفَةٍ
هلاک دی سی	انسان	څه شی	ناشکره کړی دی دی	د څه شی څخه	پيدا کړی دی (الله) دا انسان	د نطفی څخه

مړ دی سی هغه انسان چی ناشکره دی ، د څه شی څخه پيدا کړی دی الله دغه انسان؟ د نطفه (منی) څخه يې

خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ

خَلَقَهُۥ	فَقَدَّرَهُۥ	ثُمَّ	ٱلسَّبِيلَ	يَسَّرَهُۥ	ثُمَّ	أَمَاتَهُۥ
پيدا کړی دی (الله) دا انسان	پس اندازه کړی يې دی (دا انسان)	بيا	لاره	آسانه کړه ده ته	بيا يې	مړ کړی دی

پيدا کړی دی (انسان) اندازه کړی يې دی (اندامونه ده) بيا يې لاره ورته آسانه کړه (د مور د نس څخه) بيا يې مړ کړ (دئ)

فَأَقۡبَرَهُۥ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقۡضِ مَآ

فَأَقۡبَرَهُۥ	ثُمَّ	إِذَا	شَآءَ	أَنشَرَهُۥ	كَلَّا	لَمَّا يَقۡضِ	مَآ
بيا يې په قبر کی کښيښودی دی	بيا	هغه وخت	چی وغواړی	ژوند کوی ده لره	هيڅکله نه	بيخی يې نه دی کړی	هغه څه چی

او کښی يې ښوی په قبر کښی بيا چی وغواړی (الله) بيا يې ژوندی کوی دغه انسان . هيڅکله يې نه دی کړی هغه څه

أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبۡنَا ٱلۡمَآءَ

أَمَرَهُۥ	فَلۡيَنظُرِ	ٱلۡإِنسَٰنُ	إِلَىٰ	طَعَامِهِۦٓ	أَنَّا	صَبَبۡنَا	ٱلۡمَآءَ
امر کړی دی الله ده ته	نو ودی ګوری	انسان	وطرفته	دخوراک خپل	بيشکه! موږ	را اورولی دی	اوبه

چی الله ورته امر کړی دی، نو ودی ګوری انسان وطرف ته دخپل خوراک ، بيشکه! موږ اوبه

(بِأَيۡدِي سَفَرَةٖ) سفرة دسافر جمع هم کيداي سي چي معنی يي ده کاتب (ليکونکی) په دې صورت کښي به ددې څخه ملايکي، کرام کاتبين یاانبیاء؏ او د دوي دوحي ليکونکي حضرات وي او لفظ د سفره جمع د سفير ده چي دقاصد په معنی هم راځي په دې صورت کښي به ددې څخه مراد رسولان ملايکي او انبياء کرام (صلوات الله عليهم اجمعين) او دوحي ليکونکي صحابه کرام رض دي او دامت علماء هم په دې کښي شامل دي ځکه چي علماء کرام هم درسول الله صلی الله عليه وسلم او امت تر مابين سفيران او قاصدان دي په حديث شريف کښي راځي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي ((کوم سړی چي قرآن شريف وايي او هغه په قرآت کښي هم ماهر وي نو هغه دسفره کرام ابرار سره دی او کوم سړی چي ماهر نه وي مګر په تکليف او مشقت سره خپل قرآئت صحيح کوي دهغه لپاره به دوه برابره اجر وي)) (رواه الشيخان) ددې حديث شريف څخه معلومه سوه چي غير ماهر ته دوه اجره دي يو دقرآت او بل د مشقت او دماهر اجرونه خو بې شميره دي.
(معارف القران ج۱۰ ص۳۲)

صَبًّا ﴿۲۵﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ﴿۲۶﴾ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ﴿۲۷﴾

صَبًّا	ثُمَّ	شَقَقْنَا	الْاَرْضَ	شَقًّا	فَاَنْۢبَتْنَا	فِيْهَا	حَبًّا
په اورولو سره	بیا	څیرې کړه موږ	مځکه	څیرول	نو راشنه کړل موږ	په دا (مځکه) کې	دانې

اورولی دی (دوریځو څخه) بیا مو وچاودله مځکه چاودی دلی ، نو بیا مو راشنه کړل په دغه مځکه کښې غنم

وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ﴿۲۸﴾ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ﴿۲۹﴾ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿۳۰﴾

وَّعِنَبًا	وَّقَضْبًا	وَّزَيْتُوْنًا	وَّنَخْلًا	وَّحَدَآئِقَ	غُلْبًا
او انګور	او ترکاری	او زیتون	او خرما	او باغونه	ګڼ (دډیروالی څخه)

او انګور (سیب) ترکاری، سبزیانی، خرما او باغونه ګڼ (د ډیروالی څخه)

وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿۳۱﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۲﴾ فَاِذَا

وَّفَاكِهَةً	وَّاَبًّا	مَّتَاعًا	لَّكُمْ	وَلِاَنْعَامِكُمْ	فَاِذَا
او میوی	او وابنه	ګټه ده	ستاسو دپاره	او ستاسو د څاروی دپاره	نو هغه وخت

میوه او وابنه په دی ټولو کښی ګټه ده ستاسو او ستاسو د څارویو (حیواناتو دپاره) ، نو هغه وخت

جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿۳۳﴾ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿۳۴﴾ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿۳۵﴾

جَآءَتِ	الصَّآخَّةُ	يَوْمَ	يَفِرُّ	الْمَرْءُ	مِنْ اَخِيْهِ	وَاُمِّهٖ	وَاَبِيْهِ
چی راسی	زورور آواز	هغه ورځ	تښتی به	سړی	د خپل ورور څخه	او دخپل مور څخه	او دخپل پلار څخه

چی راسی زورور آواز (سخت آواز دقیامت په ورځ) هغه ورځ به تښتی سړی د خپل ورور او دخپل مور او د خپل پلار

وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِ ﴿۳۶﴾ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ

وَصَاحِبَتِهٖ	وَبَنِيْهِ	لِكُلِّ	امْرِئٍ	مِّنْهُمْ	يَوْمَئِذٍ	شَاْنٌ
او دخپلی ښځی څخه	او دخپلو زامنو څخه	دهر	سړی لپاره	ددوی څخه	په دغه ورځ	یو حال وی

او دخپلی ښځی څخه او دزامنو څخه ، دهر سړی دپاره د دوی څخه په دغه ورځ کښی یو حال وی

يُّغْنِيْهِ ﴿۳۷﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿۳۸﴾ ضَاحِكَةٌ

يُّغْنِيْهِ	وُجُوْهٌ	يَّوْمَئِذٍ	مُّسْفِرَةٌ	ضَاحِكَةٌ
چی بی پروا کوی دی	ځینی مخونه	په دغه ورځ	روښانه وی	خندیدونکی وی

چی بی پروا کوی به دی (دنورو داحوالو څخه) ځینی مخونه به په دغه ورځ روښانه وی (دایمان دړنا څخه) خندیدلی به وی

(الصَّآخَّةُ) صاخة داسي شور (زوږ) اوسخت آواز ته وايي چي دانسان غوږونه کاڼه کوي، مراد ددې څخه دقيامت شور يعني دشپيلۍ پوه کول دي (يوم يفر المرء من اخيه) دا په محشر کښې دټولو دجمع کېدو دوخت بيان دی چي هرسړی به په خپل فکر کښي وي او دنفسی نفسی عالم به وي (هر سړی به دځان دمغفرت په فکر کي وي) د دنيا خواږه تعلقات به ختم سي هغه کسان چي پر دې دنيا يو پر بل باندي خپل ځان قربانوی په هغه عالم کښي به هر سړی په خپله په داسي فکر کښي اخته وي چي څوک به دچا خبر نه اخلي بلکه که چيري يې مخامخ هم ويني نو مخ به ځني واړوي انسان به دخپله وروره څخه دمور او پلاره څخه دښځي او اولاده څخه مخ پټوي او ځيني تښتي به، په دنيا کښي تعاون تناصر او ديو بل سره مرسته به په ورونو کښي وي او تر دې لا زيات دمور او پلار دمرستي او اعانت فکر روي او په طبعي ډول سره تر دې لا زيات دښځي او اولاد خپلوي (تعلق) وي نو ځکه يې په دغه ترتيب سره بيان کړه.
(معارف القران ج۱۰ ص۳۴)

مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا

مُّسْتَبْشِرَةٌ	وَوُجُوهٌ	يَّوْمَئِذٍ	عَلَيْهَا	غَبَرَةٌ	تَرْهَقُهَا
خوشحاله به وی	او ځینې مخونه به	په دغه ورځ	پردوی باندی	ګرد او غبار وی	پټ کړی به وی دوی

خوشحاله به وی او پر ځینې مخونو به په دغه ورځ کښې ګرد او غبار وی ، او وی به پر دوی باندی

قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

قَتَرَةٌ	أُولَٰئِكَ	هُمُ	الْكَفَرَةُ	الْفَجَرَةُ
توروالی	دغه خلک	دوی	به کافران وی	بدکاران به وی

توروالی د ظلمت. دغه خلک (تور مخی) هم دوی به وی کافران او بدکاران.

ع ۱ ۴۲ ۵

أياتونه ۲۹ — ۸۱ سُورَةُ التَّكْوِيرِ مَكِّيَّةٌ ۷ — رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا النُّجُومُ انْكَدَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا

إِذَا	الشَّمْسُ	كُوِّرَتْ	وَإِذَا	النُّجُومُ	انْكَدَرَتْ	وَإِذَا
هغه وخت	چې لمر	ونغښتل سی	او هغه وخت چې	ستوری	بې نوره (خوپ) سی	او هغه وخت

هغه وخت چې لمر وپیچل سی (رڼا یې ولاړه سی) او هغه وخت چې ستوری بې نوره کړل سی او هغه وخت چې

الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ﴿٤﴾ وَإِذَا الْوُحُوشُ

الْجِبَالُ	سُيِّرَتْ	وَإِذَا	الْعِشَارُ	عُطِّلَتْ	وَإِذَا	الْوُحُوشُ
چې غرونه	روان کړل سی	او هغه وخت	چې دلسو میاشتو حمل داری اوښې	خوشی کړل سی	او هغه وخت چې	وحشی (ځناوران)

غرونه روان کړل سی او هغه وخت چې دلسو میاشتو حمل داری اوښې هیری کړل سی ، او هغه وخت چې وحشی ځناوران

حُشِرَتْ ﴿٥﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾ وَإِذَا

حُشِرَتْ	وَإِذَا	الْبِحَارُ	سُجِّرَتْ	وَإِذَا
راټول کړل سی	او هغه وخت چې	بحرونه ، سیندونه	سخت ګرم او وچ کړل سی	او هغه وخت چې

را ټول کړل سی (د قصاص د پاره) او هغه وخت چې سیندونه او سمندرونه داور څخه ډک او وچ کړل سی. او هغه وخت چې

(إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ) په صحيح البخاري کښي دحضرت ابو هريره رض څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چي لمر او سپوږمۍ به دقيامت په ورځ په درياب کښي وغورځول سي. او په مسند بزار کتاب کښي دا هم راغلي دي چي په جهنم کښي به وغورځول سي او دحديثو امامانو ددې احاديثو داسي شرح کړې ده چي دقيامت په ورځ بـه الله ج لمر او سپوږمۍ او ټول ستوري په درياب کښي وغورځوي او بيا به يوه تېزه هوا پر راسي چي په دې سره به ټول سمندر او درياب اور جوړسي نو ځکه دا وينا هم صحيح سوه چي لمر او سپوږمۍ به په درياب کښي وغورځول سي او دا خبره هم درسته سوه چي په اور کښي به وغورځول سي ځکه چي ټول سمندر به په دغه وخت کښي جهنم جوړ سي. (مظهري او قرطبي).

(وَ إِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ) يعني اول به سمندر او خواړه دريابونه ګډ کړل سي بيا به لمر او سپوږمۍ په دې کښي وغورځول سي. (معارف القرآن ج ۱۰ ص ۳۸)

النُّفُوۡسُ زُوِّجَتۡ ۙ﴿۷﴾ وَاِذَا الۡمَوۡءٗدَةُ سُئِلَتۡ ۙ﴿۸﴾ بِاَیِّ ذَنۡۢبٍ

النُّفُوۡسُ	زُوِّجَتۡ	وَاِذَا	الۡمَوۡءٗدَةُ	سُئِلَتۡ	بِاَیِّ	ذَنۡۢبٍ
روحونه	یوځای کړل سی	او هغه وخت چی	دژوندی ښخی کړل سوی انجلی ځخه	پوښتنه وسی	چی په کومه	ګناه

روحونه یوځای کړل سی (د بدنونو سره) او هغه وخت چی د ژوندی ښخی سوی انجلی ځخه پوښتنه وسی، چی په کومه ګناه

قُتِلَتۡ ۚ﴿۹﴾ وَاِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتۡ ۙ﴿۱۰﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتۡ ۙ﴿۱۱﴾

قُتِلَتۡ	وَاِذَا	الصُّحُفُ	نُشِرَتۡ	وَاِذَا	السَّمَآءُ	كُشِطَتۡ
وژل سویده	او هغه وخت چی	عمل نامی	خلاصی کړل سی	او هغه وخت چی	آسمان	پوست کړل سی

وژل سویده او هغه وخت چی عمل نامی (وغوړول سی) او هغه وخت چی آسمان د پوستکی په شان ویستل سی

وَاِذَا الۡجَحِیۡمُ سُعِّرَتۡ ۙ﴿۱۲﴾ وَاِذَا الۡجَنَّةُ اُزۡلِفَتۡ ۙ﴿۱۳﴾

وَاِذَا	الۡجَحِیۡمُ	سُعِّرَتۡ	وَاِذَا	الۡجَنَّةُ	اُزۡلِفَتۡ
او هغه وخت چی	دوږخ	بلی لمبی کړل سی	او هغه وخت چی	جنت	نژدی کړل سی

(دخپل ځای ځخه) او هغه وخت چی دوږخ بلی لمبی کړل سی (کافرانو ته) او هغه وخت چی جنت نژدی کړل سی (مؤمنانو ته)

عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّاۤ اَحۡضَرَتۡ ؕ﴿۱۴﴾ فَلَاۤ اُقۡسِمُ بِالۡخُنَّسِ ۙ﴿۱۵﴾ الۡجَوَارِ

عَلِمَتۡ	نَفۡسٌ	مَّاۤ اَحۡضَرَتۡ	فَلَاۤ	اُقۡسِمُ	بِالۡخُنَّسِ	الۡجَوَارِ
پوه به سی	هر نفس (شخص)	په هغه څه چی	حاضر کړی یئ وی	نو زه قسم اخلم	په بیرته ګرځیدونکو (ستورو) سره	په سمو تلونکو سره

پوه به سی هر نفس په هغه څه چی یئ حاضر کړی وی (الله فرمائی) نو زه قسم اخلم په بیرته ګرځیدونکو، سمو تلونکو

الۡكُنَّسِ ۙ﴿۱۶﴾ وَالَّیۡلِ اِذَا عَسۡعَسَ ۙ﴿۱۷﴾ وَالصُّبۡحِ اِذَا تَنَفَّسَ ۙ﴿۱۸﴾

الۡكُنَّسِ	وَالَّیۡلِ	اِذَا	عَسۡعَسَ	وَالصُّبۡحِ	اِذَا	تَنَفَّسَ
په پټیدونکو سره	او قسم په شپه	هغه وخت چی	راوخیږی	او قسم په سهار	هغه وخت چی	ساه واخلی

په پټیدونکو سره، او قسم اخلم په شپه هغه وخت چی خپره سی او قسم اخلم په سهار هغه وخت چی راښکاره سی (رڼا دسهار)

اِنَّهٗ لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ كَرِیۡمٍ ۙ﴿۱۹﴾ ذِیۡ قُوَّةٍ عِنۡدَ ذِی

اِنَّهٗ	لَقَوۡلُ	رَسُوۡلٍ	كَرِیۡمٍ	ذِیۡ قُوَّةٍ	عِنۡدَ ذِی
بیشکه! دا (قرآن)	(خامخا) کلام دی	دلیږل سوی فرشتی	عزتمندی	چی صاحب دقوت دی (جبرئیل)	په نزد د صاحب

بیشکه! دا قرآن کلام دی (داستول سوی) فرشتی عزتمندی چی صاحب دقوت (طاقت) ده، په نزد دصاحب

(انه لقول رسول کریم)
په ستورو باندي دقسم خوړلو وروسته الله پاکج فرمایي چي دا قرآن کریم دیو رسول کریم یعنی استول سوي فرشتي چي جبرئیل دی، قول دی او وروسته یې بیا ددغه رسول کریم (جبرئیل) څو صفتونه بیان کړل اول صفت یي دابیان کړ چي دا رسول کریم ډیر طاقتور دی او بل صفت یی دا بیان کړ چي درب العرش په خواه کښي مطاع (فرمانبرداره) دی یعني خبره یې هلته منل کیږي دریم صفت یې دا بیان کړ چي هغه داللهج په نزد امین دی، دی داللهج ځخه په پیغام راوړلو کښي هیڅ خیانت او کمي یا زیاتي نه کوي سوال دادی چي دارسول کریم څوک دی؟ په ظاهره داسي معلومیږي چي ددي ځخه مراد جبرائیل امین دی ځکه ځنګه چي درسول لفظ وانبیاوو ته استعمالیږي داسي دملائیکو لپاره هم دا لفظ استعمالیږي او دغه صفتونه چي بیان سول دا ټوله پر جبرائیل امین باندي منطبق هم دي دلیلة المعراج دحدیث ځخه ثابت دی چي کله جبرائیل امین نبي کریمص دځان سره واخستئ نو دآسمان مقررو فرشتو دده امر ومنی.
(معارف القرآن ج ۱۰ ص ۴۲)

الْعَرْشِ مَكِيْنٍ ۝٢٠ مُّطَاعٍ ثَمَّ اَمِيْنٍ ۝٢١ وَمَا صَاحِبُكُمْ

الْعَرْشِ	مَكِيْنٍ	مُّطَاعٍ	ثَمَّ	اَمِيْنٍ	وَمَا	صَاحِبُكُمْ
دعرش	دلوی مرتبی خاوند دی	منل سوی دی	هلته	امانتداردی	او نه دی	ستاسو یار (ملگری)

د عرش (دافرشته، جبرئیل) دلوی مرتبی خاوند دی، فرمانبرداره او امانت داره دی او نه دی ستاسو ملگری (محمد!)

بِمَجْنُوْنٍ ۝٢٢ وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِيْنِ ۝٢٣ وَمَا هُوَ عَلَى

بِمَجْنُوْنٍ	وَلَقَدْ	رَاٰهُ	بِالْاُفُقِ	الْمُبِيْنِ	وَمَا هُوَ	عَلَى
لیونئ	او بیشکه!	هغه لیدلی دی دی	دآسمان پر کنارو	روښانه (ځرگند)	او نه دی دی (محمد)	پر

لیونئ په حقیقت سره ده (دا محمد) لیدلی دی (جبرئیل) دآسمان په کنارو کښی معلومداره. او نه دی دئ (محمد) پر

الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ۝٢٤ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ

الْغَيْبِ	بِضَنِيْنٍ	وَمَا هُوَ	بِقَوْلِ	شَيْطٰنٍ
غیب باندی	بخیل	او نه دی دا (قرآن)	کلام	دشیطان

غیب (دوحی پرپټو خبرو) باندی بخیل او نه دی دا قرآن کلام د شیطان

رَّجِيْمٍ ۝٢٥ فَاَيْنَ تَذْهَبُوْنَ ۝٢٦ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

رَّجِيْمٍ	فَاَيْنَ	تَذْهَبُوْنَ	اِنْ هُوَ	اِلَّا	ذِكْرٌ
ترټل سوی	نو چیری	ځی (تاسی)	نه دی دا (قرآن)	مگر	نصیحت

ترټل سوی نو چیری ځئ تاسو (چیری تښتئ؟) نه دی دا (قرآن) مگر نصیحت دی (له جانبه د الله)

لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝٢٧ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ۝٢٨

لِّلْعٰلَمِيْنَ	لِمَنْ	شَآءَ	مِنْكُمْ	اَنْ يَّسْتَقِيْمَ
دټول مخلوق دپاره	دهغه دپاره	چی وغواړی	له تاسو څخه	دا چی پر سمه لاره روان سی

دپاره دټولو مخلوقاتو، ستاسو د هغو کسانو دپاره چی وغواړی پر سمه لاره روان سی،

وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٢٩

وَمَا تَشَآءُوْنَ	اِلَّآ	اَنْ يَّشَآءَ	اللّٰهُ	رَبُّ	الْعٰلَمِيْنَ
او نه سی غوښتلای (تاسو)	مگر	هغه څه چی وغواړی	الله	چی رب دی	دټولو مخلوقاتو

او نه سی غوښتلای تاسو (سمه لاره) مگر هغه چی اراده وفرمائی الله چی رب د ټولو مخلوقاتو دی.

مُّطَاعٍ ثَمَّ اَمِيْنٍ ۝٢١ وَمَا صَاحِبُكُمْ بِمَجْنُوْنٍ. قران کریم دیورسول کریم قول دی. په دغه ایت کي د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی چي قرآن کریم دیو رسول کریم قول دی او بیا یي مخ ته ددغه رسول کریم صفت یو خو دابیان کی چي هغه ذي قوت دی بل دا چي درب العرش په خواه کي مطاع دی چي دده احکام عرش والا منسي. دريم داچي هغه دالله جل جلاله په نزد امين دی دده څخه په پيغام راوړلو کي او رسولو کي دخه خيانت او کمي يا زيادت امکان نسته. دلته درسول کريم څخه مراد په ظاهره جبرائيل امين دی ځکه چي دلفظ درسول اطلاق څنگه چي پر انبياوو باندي کيږي داسي دملايکو دپاره هم دالفظ ويل کيږي او مخ ته چي درسول څومره صفتونه بيان سوي دي هغه ټول پر جبرآئيل امين بغير دخه تکلف او تاويل څخه منطبق او برابر دي دده ذي قوت کيدل په سورت نجم کي صراحةً راغلي دي. علّمه شديد القوى او په اهل عرش او سموات کي دده مطاع کيدل دليلة المعراج دقصي او واقعي څخه ثابت دي الخ.
معارف القرآن ج ١٠ پ ٣٠ ص ٤٢

ع ١ ٢٩ ٦

اٰیاتونه ۱۹ | ۸۲ سُوْرَةُ الْاِنْفِطَارِ مَكِّيَّةٌ ۸۲ | رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ۝١ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ۝٢

اِذَا	السَّمَآءُ	انْفَطَرَتْ	وَاِذَا	الْكَوَاكِبُ	انْتَثَرَتْ
هغه وخت چې	آسمان	وچوی (څيرې سی)	او هغه وخت چې	ستوری	رواليږی (ګډ وډ سی)

هغه وخت چې آسمان وچوی او هغه وخت چې ستوری را ولويږی (تار په تار)

وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝٣ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ۝٤ عَلِمَتْ

وَاِذَا	الْبِحَارُ	فُجِّرَتْ	وَاِذَا	الْقُبُوْرُ	بُعْثِرَتْ	عَلِمَتْ
او هغه وخت چې	دريابونه	سره ګډ سی	او هغه وخت چې	قبرونه	لاندی باندی سی	پوه به سی

او هغه وخت چې دريابونه او بحرونه يو د بل سره ګډ سی او هغه وخت چې قبرونه ونړول (څيرې) سی ، پوه به سی

نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ ۝٥ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا

نَفْسٌ	مَّا قَدَّمَتْ	وَاَخَّرَتْ	يٰۤاَيُّهَا	الْاِنْسَانُ	مَا
هر نفس	په هغه څه چې وړاندی يئ ليږلی دی	او يا يئ وروسته پری ايښی دی	ای	انسانه!	څه شی

هر نفس (په دغه ورځ) په هغه څه چې دمخه يئ استولی وی، او يا يئ وروسته پری ايښی وی ، ای انسانه څه شی

غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۝٦ الَّذِيْ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ ۝٧

غَرَّكَ	بِرَبِّكَ	الْكَرِيْمِ	الَّذِيْ	خَلَقَكَ	فَسَوّٰىكَ	فَعَدَلَكَ
خطاء ايستلئ يئ ته	له خپل رب څخه	چې کريم دی	هغه (رب)	چې پيدا يئ کړی ته	پس برابر يئ کړی ته	ميانه حاله يئ کړی ته

خطاء ايستلی يئ په خپل رب باندی چې کريم دی هغه رب چې پيدا يئ کړی ته او برابر يئ کړی ته او ميانه حاله يئ کړی ته

فِيْۤ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝٨ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ بِالدِّيْنِ ۝٩ وَاِنَّ

فِيْۤ اَيِّ صُوْرَةٍ	مَّا شَآءَ	رَكَّبَكَ	كَلَّا بَلْ	تُكَذِّبُوْنَ	بِالدِّيْنِ	وَاِنَّ
په کوم صورت	چې خوښه يئ وه دده	جوړ يئ کړی ته	داسی نه ده بلکه	تاسو دروا غ بولی	ورځ د جزاء	او بيشکه!

په هغه شان چې خوښه يئ وه پيوند (جوړ) يئ کړی ته ، داسی نه ده څکه چې تاسو دروا غ ګڼی ورځ د آخرت، او بيشکه!

عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ...... يعني کله چي دقيامت هغه حالات چي په دي سورت کي ذکر سوی دي راپيښ سي يعني دآسمان څيرېدل دستورو رژېدل تيت خوارېدل او ترخه دريابونه او بحرونه يو له بله سره ګډېدل او دقبرو څخه دمړو راپورته کېدل، دغه وخت به هر انسان پوه سي چي دمخه يې څه عملونه لېږلي دي او څه عملونه يې شاته پرې ايښي دي، يعني چاچي په دي دنيا کښي عمل دالله ج په اوامرو کړی وي او دنواهيو څخه يې پرهيز کړی وي هغه به هم پوه سي چي يا الله نن زه کامياب يم او چا چي کوتاهي کړی وي هغه به هم پوه سي چي يا الله نن زه ملامت يم او خدايه پاکه تاته شرمنده يم: او دا هم مراد کېدای سي چي دی به په هغه اعمالو پوه سي چي ده په خپله کړي وه او په هغو اعمالو به هم پوه سي چي ده پخپله نه وه کړي ليکن دهغو رواج يې په دنيا کښي پرې ايښی وو که هغه نيک کار وي نو ثواب به يې ده ته ورکول کيږي او که بد وي نو بدي به يې ده په عملنامه کښي ليکل کيږي.
(معارف القران ج ۱۰ ص ۴۵)

عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿۱۱﴾ يَعْلَمُوْنَ مَا

عَلَيْكُمْ	لَحٰفِظِيْنَ	كِرَامًا	كَاتِبِيْنَ	يَعْلَمُوْنَ	مَا
پر تاسو باندی	ساتونکی مقرری دی	عزتمندی	نویشته کوونکی	پوهیږی	په هغه څه

پر تاسو ساتونکی (ملائیکی) مقرری دی نیک کرداره (عزتمندی) لیکونکی (دنیک او بد عمل) دی، پوهیږی په هغه څه

تَفْعَلُوْنَ ﴿۱۲﴾ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ﴿۱۳﴾ وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ

تَفْعَلُوْنَ	اِنَّ	الْاَبْرَارَ	لَفِيْ	نَعِيْمٍ	وَاِنَّ	الْفُجَّارَ	لَفِيْ
چی تاسی یئ کوی	بیشکه!	نیکان به	خامخا په	نعیم (جنت) کی وی	او بیشکه!	بدکاران به	خامخا په

چی تاسی یئ کوی، بیشکه! نیک کاران به خامخا په نعمتونو (دجنت) کښی وی، او بیشکه! بدکاران به خامخا په

جَحِيْمٍ ﴿۱۴﴾ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿۱۵﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿۱۶﴾

جَحِيْمٍ	يَّصْلَوْنَهَا	يَوْمَ	الدِّيْنِ	وَمَا هُمْ	عَنْهَا	بِغَآئِبِيْنَ
دوږخ کی وی	داخلیږی په دا (دوږخ) کی	په ورځ	دجزاء	او نه به وی دوی	د دغه (دوږخ) څخه	پټیدونکی

دوږخ کښی وی، داخلیږی به په دا (دوږخ) کښی په ورځ د قیامت او نه به وی دوی د دغه دوږخ څخه پټیدونکی

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ

وَمَآ اَدْرٰىكَ	مَا يَوْمُ	الدِّيْنِ	ثُمَّ	مَآ اَدْرٰىكَ
او څه شی خبر کړی یئ ته	چی څه شی ده ورځ	دجزاء	بیا	څه شی خبر کړی یئ ته

او څه شی خبر (پوه) کړی ته چی څه شی ده ورځ د قیامت بیا څه شی خبر (پوه) کړی ته

مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۸﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ

مَا يَوْمُ	الدِّيْنِ	يَوْمَ	لَا تَمْلِكُ	نَفْسٌ	لِّنَفْسٍ
چی څه شی ده ورځ	دجزاء	ورځ ده	نه به وی مالک	یو شخص	دبل شخص دپاره

چی څه شی ده ورځ د قیامت، هغه ورځ ده چی نسته توان د کومک د هیڅ یو شخص د بل شخص سره

شَيْـًٔا ۭ وَالْاَمْرُ يَوْمَىِٕذٍ لِّلّٰهِ ﴿۱۹﴾ ع

شَيْـًٔا	وَالْاَمْرُ	يَوْمَىِٕذٍ	لِّلّٰهِ
دهیڅ شی	او امر (حکم)	په هغه ورځ	خاص د الله لپاره وی

د هیڅ شی، او امر (حکم) به هغه ورځ خاص د الله دپاره وی.

خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ...دلته الله پاک ج دانسان د پیدایښت دابتدایي مرحلو په ذکر کښي فرمايي خلقک فسواک یعني الله ج ته پیدا کړې او فقط پیدا یې نه کړې بلکه ستا وجود اوټول اندامونه یې په یو خاص مناسبت سره برابر جوړ کړل هر یوه اندام ته یې دهغه مناسب ځاي ورکړ دهر اندام جسامت او طول او عرض یې په یو تناسب سره جوړ کړي دي، او که دا تناسب یوه ذره هم سره مختلف سي نود انساني اندامونو هغه فایدې نه پاته کیږي ددي څخه وروسته بیا الله ج وفرمایل (فَعَدَلَكَ) یعني ستا وجود ته یې یو خاص اعتدال ورکړ او هغه اعتدال ددنیا په هیڅ ذي روح شي کښي نسته خپله داعضاوو دتناسب په پیدایښت کښي مختلف مواد شامل دي مثلا وینه او بلغم، سودا اوصفرا ځیني گرم ځیني یخ مگر الله ج ددې ټولو څخه یو معتدل مزاج جوړ کړ او بیا دالله ج کامل قدرت او بالغ حکمت ته وگورئ چي د ټولو انسانانو شکلونه سره مختلف دي.
(معارف القران ج۱۰ ص۴۶)

ركوع ۱۹

أياتونه٣٦ | ٨٣ سُوْرَةُ الْمُطَفِّفِيْنَ مَكِّيَّةٌ ٨٦ | ركوعوي ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ ۞١ الَّذِيْنَ اِذَا اكْتَالُوْا عَلَى النَّاسِ

عَلَى النَّاسِ	اكْتَالُوْا	اِذَا	الَّذِيْنَ	لِّلْمُطَفِّفِيْنَ	وَيْلٌ
دخلكو څخه	پيمانه اخلي	هر كله چي	هغه كسان	د كم وركوونكي (پيماني لره)	هلاكت دى

افسوس (هلاكت) دى د پيمانى كم كوونكى لره هغه كسان چى كله اخلى پيمانه دخلكو (څخه)

يَسْتَوْفُوْنَ ۞٢ وَاِذَا كَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ يُخْسِرُوْنَ ۞٣ اَلَا يَظُنُّ

اَلَا يَظُنُّ	يُخْسِرُوْنَ	اَوْ وَّزَنُوْهُمْ	كَالُوْهُمْ	وَاِذَا	يَسْتَوْفُوْنَ
آيا نه كوى باور	نو كمئ كوى	او يا يئ تلى هغو ته	پيمانه وركوى هغوى ته	او هغه وخت چي	پوره يئ څينى اخلي

نو پوره يئ اخلى، او كله چى بيمانه وركوى يا يئ تلى هغوى ته نو كموى يئ (پوره يئ نه وركوى) ، آيا يقين (باور) نه كوى

اُولٰٓئِكَ اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۞٤ لِيَوْمٍ عَظِيْمٍ ۞٥

عَظِيْمٍ	لِيَوْمٍ	مَّبْعُوْثُوْنَ	اَنَّهُمْ	اُولٰٓئِكَ
چي لويه ده	دپاره دهغى ورځى	راپورته كرل سى	چي بيشكه! دوى به	داخلگ

دوى چي بيشكه! دا خلگ به راژوندى كرل سى (دپاره د حساب) په هغه ورځ كښى (د قيامت)

يَّوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞٦ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ

كِتٰبَ	اِنَّ	كَلَّآ	الْعٰلَمِيْنَ	لِرَبِّ	النَّاسُ	يَقُوْمُ	يَّوْمَ
عمل نامه	بيشكه!	داسى نه ده	دټولو مخلوقاتو	ورب ته	خلگ	چي ودريږى	هغه ورځ

هغه ورځ چي ودريږى ټول مخلوقات (دپاره د حساب) ورب ته د ټول عالم. داسى نه ده بيشكه! عمل نامه

الْفُجَّارِ لَفِيْ سِجِّيْنٍ ۞٧ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ۞٨ كِتٰبٌ

كِتٰبٌ	مَا سِجِّيْنٌ	اَدْرٰىكَ	وَمَآ	سِجِّيْنٍ	لَفِيْ	الْفُجَّارِ
يو دفتر دى	چي څه شى دى سجين	خبر كړى يئ ته	او څه شى	سجين كى ده	خامخا په	دبدكارانو

دبدكارانو خامخا په سجين كښى ده او څه شى خبر كړى ته چي څه شى دى سجين ، (سجين) يو كتاب دى

دابتدايي اياتونوشان

نزول: دحضرت ابن عباس (ض) څخه روايت دى چي دا اولنئ سورت دى چي كله نبي كريم (صلى الله عليه وسلم) مديني منورې ته راغى پرده مبارک نازل سو سبب يې دا وو چي دمديني منورې په خلگو كښي دا عادت ووچي كله به يې دچا څخه سودا اخيسته نو په پوره پيمانه او په پوره ترازو به يې اخيسته او كله چي به يې پر نورو باندي خرخوله او يا به يې بيرته وركوله نو په هغه كښي به يې كمي اوغلا كوله ددغه مبارک سورت په نازلېدو سره دا خلگ ددې بد رسم څخه داسي منع سول چي تر ننه پوري دمديني منورې خلگ دتول او ترازو په پوره وركولو كښي معروف او مشهور دي (رواه الحاكم وابن ماجه) په موءطا امام مالک رح كښي راغلي دي چي حضرت عمر ابن خطاب رض يو سړى وليد چي هغه دلمانځه ركوع او سجده اونور اركان پوره نه اداء كول ژر ژر يې لمونځ وكړ او ختم يې كړ نو هغه ته يې وفرمايل: لقد طففت يعني تا دالله ج په حق كښي كمى وكړ داسي نه ده يكار، نومعلومه سوه چي دتطفيف مفهوم ډير پراخه دى. (معارف القرآن ج ١٠ ص ٥٢)

مَّرْقُوْمٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ يُكَذِّبُوْنَ

مَّرْقُوْمٌ	وَيْلٌ	يَّوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِيْنَ	الَّذِيْنَ	يُكَذِّبُوْنَ
ليكل سوى	هلاكت دى	په دغه ورځ	د دروغ ګڼونكو دپاره	هغه كسان	چي دروغ يئ ګڼي

ليكل سوى ، افسوس (هلاكت) دى په دغه ورځ (دقيامت) د دروغ ګڼونكو دپاره هغه كسان چي دروغ يئ بلل

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ﴿١٢﴾ اِذَا

بِيَوْمِ	الدِّيْنِ	وَمَا يُكَذِّبُ	بِهٖٓ	اِلَّا	كُلُّ	مُعْتَدٍ	اَثِيْمٍ	اِذَا
ورځ	دجزاء	او دروغ نه ګڼي	دغه ورځ	مګر	هر	له اندازي تيريدونكى	ګناه كار	هغه وخت چي

ورځ د جزاء (دقيامت) او نه يئ بلل دروغ دغه ورځ مګر (بلل يئ) هر سركښه ګناه كار ، هغه وخت چي

تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾ كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ

تُتْلٰى	عَلَيْهِ	اٰيٰتُنَا	قَالَ	اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ	كَلَّا بَلْ	رَانَ
ولوستل سي	پر ده	آياتونه زموږ (دقرآن)	ويل به يئ	دا قصې	د پخوانيو دى	نه ده داسي بلكه	زنګ اچولى دى

ورته ويل به يئ دوى ته زموږ آياتونه (نو) ويل به دوى چي دا (بيكاره) قصې دپخوا دى ، داسي نه ده بلكه زنګ وهلى دى

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ

عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	مَّا كَانُوْا	يَكْسِبُوْنَ	كَلَّآ	اِنَّهُمْ	عَنْ رَّبِّهِمْ	يَوْمَئِذٍ
پر	زړونو د دوى	هغه څه چي وه	كول به يئ دوى	نه ده داسي	بيشكه! دوى	درب خپل څخه	په دغه ورځ

پر زړونو د دوى هغه څه (ګناهونه) چي دوى به كول ، نه ده داسي بيشكه! دوى د خپل رب څخه په دا ورځ (دقيامت په ورځ)

لَّمَحْجُوْبُوْنَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ

لَّمَحْجُوْبُوْنَ	ثُمَّ	اِنَّهُمْ	لَصَالُوا	الْجَحِيْمِ	ثُمَّ	يُقَالُ
په حجاب كبنى وى	بيا	بيشكه! دوى	ننه وتونكى دى	ودوږخ ته	بيا	ورته وويل به سى (دوى ته)

به په پرده كبنى وى (دوى به نه وينى الله) بيا بيشكه! دوى خامخا داخل كيدونكى دى و دوږخ ته ، پس ورته وبه ويل سى

هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِيْ

هٰذَا	الَّذِيْ	كُنْتُمْ	بِهٖ	تُكَذِّبُوْنَ	كَلَّآ	اِنَّ	كِتٰبَ	الْاَبْرَارِ	لَفِيْ
دغه ده	هغه ورځ	چي وئ تاسي چي	هغه به مو	دروغ ګڼل	نه ده داسي	بيشكه!	عمل نامه	دنيك كارانو	خامخا به په

چي دغه ده هغه چي وى تاسى هغه به مو دروغ ګڼل ، نه ده داسى بيشكه! عمل نامه د نيكانو به خامخا په

دجنت اودوږخ مقام:

امام بيهقي په دلايل نبوت كښي دحضرت عبدالله ابن سلام رض څخه روايت كړى دى چي جنت په آسمان كښي دى او جهنم په مځكه كښي دى او ابن جرير په خپل تفسير كښي دحضرت معاذ بن جبل نه روايت كړى دى چي دنبي كريم (صلى الله عليه وسلم) څخه پوښتنه وسوه چي په قرآن كريم كي داسي راغلي دي چي جهنم به دقيامت په ورځ راوړل سي؟ د دې راوړلو څه مطلب دي؟ جهنم به دكوم ځاي څخه راوړل سي؟ نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي جهنم به داوومي مځكي څخه راوړل سي ددغه روايتونو څخه هم ثابته سوه چي جهنم په اوومه مځكه كښي دى، دهغه ځايه څخه به شغله وكړي ټوله دريابونه او سمندرونه به په دغه اور كښي شامل سي او ټولو خلګو ته به مخامخ راسي (مظهري) (كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ) دمرقوم معنى دلته دمختوم ده يعني مهر لګول سوي، امام بغوي او ابن كثير فرمايي چي داجمله دمقام سجين تفسير نه دى بلكه دكتاب الفجار بيان دى. (معارف القرآن ج١٠ ص٦٥)

عِلِّيِّيْنَ ۝١٨ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ ۝١٩ كِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ۝٢٠

عِلِّيِّيْنَ	وَمَآ	اَدْرٰىكَ	مَا عِلِّيُّوْنَ	كِتٰبٌ	مَّرْقُوْمٌ
علیین کښې وی	او څه شی	خبر کړی یئ ته	چې څه شی دی علیون	دفتر دی	نویشته سوی

علیین کښې وی، او څه شی پوه کړی یئ ته چې څه شی دی علیون (هغه) عمل نامه ده نویشته سوی

يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝٢١ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ۝٢٢ عَلَى

يَّشْهَدُهٗ	الْمُقَرَّبُوْنَ	اِنَّ	الْاَبْرَارَ	لَفِيْ	نَعِيْمٍ	عَلَى
حاضریږی هغه ته	مقربی ملائیکی	بیشکه!	نیک کاران	به خامخا په	نعیم (جنت) کښی دی	پر

چې حاضریږی ورته مقربی ملائیکی ، بیشکه! نیکاران به خامخا په نعیم (لوی نعمت د جنت) کښی وی ، پر

الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ۝٢٣ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيْمِ ۝٢٤

الْاَرَآئِكِ	يَنْظُرُوْنَ	تَعْرِفُ	فِيْ وُجُوْهِهِمْ	نَضْرَةَ	النَّعِيْمِ
تختونو باندی ناست	گوری به دوی	پیژنی به ته	په مخونو کی د دوی	تازه گی	د نعیم (جنت)

تختونو باندی ناست گوری به دوی ، پیژنی به ته د دوی په مخونو کښی تازگی د نعیم (د جنت د نعمتونو څخه)

يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ۝٢٥ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ وَفِيْ ذٰلِكَ

يُسْقَوْنَ	مِنْ رَّحِيْقٍ	مَّخْتُوْمٍ	خِتٰمُهٗ	مِسْكٌ	وَفِيْ	ذٰلِكَ
وه به څښل سی (په دوی)	د خالصو شرابو چې	مهر به پر وهل سوی وی	مهر به یئ	مشک وی	او په	دغه کښی

وبه څښل سی په دوی باندی مهر سوی خالص شراب دا مهر به د مشک وی او پر دغه شرابو

فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ۝٢٦ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ۝٢٧

فَلْيَتَنَافَسِ	الْمُتَنَافِسُوْنَ	وَمِزَاجُهٗ	مِنْ	تَسْنِيْمٍ
پکار ده چې رغبت وکړی	رغبت کونکی	او گډون د هغه (شرابو)	د	تسنیم څخه دی

رغبت په کار دی د رغبت (مینه) کوونکو دپاره او مزاج (گډون) ددی (شرابو) دتسنیم څخه دی .(څه شی دی تسنیم؟)

عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ۝٢٨ اِنَّ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا كَانُوْا

عَيْنًا	يَّشْرَبُ	بِهَا	الْمُقَرَّبُوْنَ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	اَجْرَمُوْا	كَانُوْا
چینه ده	چې څښی به	دهغی څخه (چینی)	مقرب خلک	بیشکه!	هغه کسان	چې کافران سوی دی	وه دوی

چینه ده چې څښی به دهغه څخه مقرب خلک بیشکه! هغه خلک چې گناه کاره وی دوی به

يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ...
دیشهد معنی ده حاضربدل اومشاهده کول څینی مفسرین فرمایي چي ددي آیت مطلب دادی چي دابرارو او صالحانو عملنامي به مقربین کسان گوري او دمقربینو څخه مرادفرشتي دي او دکتلو څخه مراد د دوي ساتنه او حفاظت دی مطلب دآیت دادی چي دابرارو عملنامي به دمقربوفرشتو په نگراني کښي وي (تفسیر قرطبي) دمرگ څخه وروسته دانساني ارواحانو مقام کوم ځای دی؟ په دي معامله کښي دحدیث روایتونه مختلف دي دسجین اوعلیین په تفسیر کښي چي کوم آیتونه راغلي دي دهغو څخه معلوميږي چي دکفارو ارواحان به په سجین کښي وي او هغه په اوومه مځکه کښي دی او دمؤمنانو ارواحان به په علیین کښي وي او علیین په اووم آسمان کښي دی تر عرش مبارک لاندي او دځینو روایتونو څخه معلوميږي چي دکفارو ارواحان به په جهنم کښي وي او دمؤمنانو ارواحان به په جنت کښي وي ددي بحث پوره تحقیق په معارف القرآن تفسیر کښي کتلاي سيئ.
(معرف القرآن ج۱۰ ص۶۸)

مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ ﴿۲۹﴾ وَاِذَا مَرُّوْا بِهِمْ

مِنَ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	يَضْحَكُوْنَ	وَاِذَا	مَرُّوْا بِهِمْ
په هغو کسانو	چې ايمان يې درلودی	خندل يې	او هغه وخت چې	تيريدل به (کافران د مسلمانانو څخه)

پر هغو کسانو چې ايمان يې درلودی خندل به يې، او هغه وخت چې تيريدل به پر مؤمنانو (مسلمانانو) باندی

يَتَغَامَزُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَاِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿۳۱﴾

يَتَغَامَزُوْنَ	وَاِذَا	انْقَلَبُوْٓا	اِلٰٓى	اَهْلِهِمُ	انْقَلَبُوْا	فَكِهِيْنَ
سترګی به يې وهلې	او هغه وخت چې	وګرځيدل به	وطرفته	دخپلو کورونو ته	ګرځيدل به	خوشحاله

نو چشمکان به يې وهله، او هغه وخت چې به وګرځيدل وطرف ته د خپلو کورونو (تلل به دا کفار) خوشحاله،

وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿۳۲﴾ وَمَآ اُرْسِلُوْا

وَاِذَا	رَاَوْهُمْ	قَالُوْٓا	اِنَّ	هٰٓؤُلَآءِ	لَضَآلُّوْنَ	وَمَآ اُرْسِلُوْا
او هغه وخت چې	وبه يې ليدل دوی (کافرانو)	ويل به يې (پرمؤمنانو)	بيشکه!	هم دا خلک	خامخا ګمراهان دی	او نه دی ليږل سوی

او کله چې وبه يې ليدل دوی ويل به يې چې دا خلک (مسلمانان) خامخا ګمراهان دی (بې لاری دی)، او نه دی ليږل سوی

عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۳۳﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ

عَلَيْهِمْ	حٰفِظِيْنَ	فَالْيَوْمَ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مِنَ الْكُفَّارِ
پر دوی باندی	ساتونکی	نو نن ورځ	هغه کسان چې	ايمان يې راوړی دی	پر کافرانو باندی

(کافران) پر دوی (پر مسلمانانو) ساتونکی، نو نن ورځ (دقيامت) هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی پر کافرانو باندی

يَضْحَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ هَلْ ثُوِّبَ

يَضْحَكُوْنَ	عَلَى الْاَرَآئِكِ	يَنْظُرُوْنَ	هَلْ	ثُوِّبَ
خاندی	پر تختونو باندی ناست (په جنت کی)	ګوری	بيشکه!	جزا به ورکړل سی

خنداکوونکی دی، پر تختونو باندی ناست (په جنت کښی) ګوری (کفاروته) بيشکه! جزاء به ورکړل سی

الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾

الْكُفَّارُ	مَا كَانُوْا	يَفْعَلُوْنَ
وکافرانو ته	دهغه څه چې وه دوی به	کول (بد عمل)

وکافرانو ته دهغه څه چې وه دوی به کول (بد عمل).

كَانُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَضْحَكُوْنَ.. کفار وبه پر مسلمانانو باندي خنداوي کولې. په دغه اياتونو کي حق تعالی ﷻ دا اهل حقو سره دا اهل باطلو دطرز عمل پوره نقشه راپيش کړيده چي کفار اهل باطل په مومنانو اهل حقو پوري په طوردمسخرو خاندي توقي کوي او کله چي دا اهل حق ددوی مخ ته راځي نو داخلګ په خپل مينځ کي يو بل ته په سترګو سره اشارې کوي په کمو سره چي ددوی مقصود په مسلمانانو پوري خنداګاني او مسخرې کول دي ددوی په خپل مينځ کي تذکره په خوند اخيستو سره کوي چي موږ داخلګ ښه ذليل کړل او کله چي داکفار مومنان ويني نو په ظاهره دهمدردی په لهجه کي او په حقيقت کي دمسخرو دپاره داوايي چي دا بې چارګان ډير ساده بې وقوفه دي دوی محمد ﷺ ګمراه کړي دي .العياذ بالله. او دنن سبا دحالاتو جائزه که واخيستل سي نو داوخت هم هغه خلګ چي دالله ﷻ داحکاماو دنبي کريم ﷺ دتعليماتو څخه ليري خلګ هم تر دوی نه دي کم په ښکاره .فتفکّر ايها المخاطب تُفهم .
(معارف القرآن ج ۱۰ پ ۳۰ ص ۶۱)

ع ۲۶
۸

ایاتونه ٢٥ | ٨٤ سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ مَكِّيَّةٌ ٨٣ | ركوعوي ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاك چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ١ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ٢ وَاِذَا

اِذَا	السَّمَآءُ	انْشَقَّتْ	وَاَذِنَتْ	لِرَبِّهَا	وَحُقَّتْ	وَاِذَا
هغه وخت	چي آسمان	وچوى	او واورى (ومنى)	دخپل رب حكم	او لائق دى (آسمان)	او هغه وخت چي

هغه وخت چي آسمان وچوى (څيرى سى) او واورى حكم دخپل رب، او لائق ورِ دى آسمان دالله دحكم، او هغه وخت چي

الْاَرْضُ مُدَّتْ ٣ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ٤ وَاَذِنَتْ

الْاَرْضُ	مُدَّتْ	وَاَلْقَتْ	مَا فِيْهَا	وَتَخَلَّتْ	وَاَذِنَتْ
مځكه	وغوړوله سى	او دباندى وغورځوى	هغه څه چي په دى كى دى	او خالى به سى	او واورى (ومنى)

مځكه هواره سى او راوباسى هغه څه چي دننه په مځكه كى دى (مړى)، او خالى سى دټولو شيانو څخه، او وبه منى مځكه

لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ٥ يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ

لِرَبِّهَا	وَحُقَّتْ	يٰۤاَيُّهَا	الْاِنْسَانُ	اِنَّكَ	كَادِحٌ	اِلٰى	رَبِّكَ
دخپل رب حكم	او لائقه ده (مځكه)	اى هغه	انسانه	بيشكه! ته	عمل كوونكى يئ په سعى سره	وطرفته	درب خپل

دخپل رب حكم چي لا يقه ده اى هغه انسانه! بيشكه ته عمل كوونكى يى په سعى سره وطرف ته درب خپل

كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ٦ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ٧

كَدْحًا	فَمُلٰقِيْهِ	فَاَمَّا	مَنْ اُوْتِيَ	كِتٰبَهٗ	بِيَمِيْنِهٖ
په عمل او سعى كولو سره	نو يو ځاى كيدونكى يئ دهغه سره	پس هر هغه څوک	چي وركړل سى	عمل نامه دده	په راسته لاس كى دده

په عمل سعى سره، نو ته به يو ځاى كړل سى دخپل عمل سره، پس هر هغه چاته چي وركړل سى عمل نامه دده په راسته لاس

فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ٨ وَّيَنْقَلِبُ اِلٰۤى اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ٩

فَسَوْفَ	يُحَاسَبُ	حِسَا	يَّسِيْرًا	وَّيَنْقَلِبُ	اِلٰۤى	اَهْلِهٖ	مَسْرُوْرًا
نو ژر ده	چي حساب به وكړل سى دده سره	حساب	آسان	او وبه ګرځى	وطرف ته	دخپل اهل	خوشحاله

نو ژر ده چي محاسبه سى حساب دده ډير آسان. او وبه ګرځى وطرف ته دخپل اهل (په جنت كى) خوشحاله،

وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ...

دالله (ج) احكام پر دوه قسمه دي يو تشريعي احكام او بل تكويني احكام. تشريعي هغه احكام چي په هغو كښي يو قانون ښوول سوى وي او دهغه په سر ته نه رسولو باندي يوه سزا هم بيان سوى وي مګر كوونكى دنومړو څخه د يوه طرف پر كولو مجبور نه دى بلكي ده لره په يوه اندازه اختيار وركړه سوى دى هغه كس په خپل اختيار سره هغه قانون پر ځاي كوي او يا سرغړونه څيني كوي، او په داسي احكامو په عام ډول هغه مخلوقات ګمارل كيږي چي دعقل خاوندان وي لكه انسانان او پيريان او تاسي وينئ چي څني په دوي كښي كافران او څيني په دوي كښي مؤمنان دي، تكويني يا تقديري احكام هغه دي چي پر ځاي كول يې جبري وي، هيڅ چاته مجال او اختيار نسته چي ديوه وينسته برابرهم دهغو څخه سرغړونه وكړي ددغه احكامو تعميل ټول مخلوقات كوي، په دي كښي انسانان او پيريان، مځكه آسمانونه ټوله مخلوقات داخل دي چي دوي به دالله ج حكم مني.

(معارف القرآن ج١٠ ص٧٥)

وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ﴿۱۰﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوْا

يَدْعُوْا	فَسَوْفَ	ظَهْرِهٖ	وَرَآءَ	كِتٰبَهٗ	اُوْتِيَ	وَاَمَّا مَنْ
ناری کړی دی	نو ژربه	تر شا دده	وروسته	عمل نامه دده	چی ورکړل سی	او هر هغه څوک

او هغه چاته چی ورکړل سی عمل نامه دده د شاه د خوا څخه (په چپه لاس) نو ژربه وغوښتل سی

ثُبُوْرًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ كَانَ فِيْٓ اَهْلِهٖ

فِيْٓ اَهْلِهٖ	كَانَ	اِنَّهٗ	سَعِيْرًا	وَّيَصْلٰى	ثُبُوْرًا
په خپل اهل کښی	وو	بیشکه! دی	بل سوی اور ته	او داخل به سی	هلاکت ته

دهلاکت دپاره او داخل به سی سره اور ته د (دوږخ)، بیشکه دی وو په په خپل اهل کښی (په دنیا کی)

مَسْرُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ﴿۱۴﴾ بَلٰٓى ۚ اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ

بِهٖ	كَانَ	رَبَّهٗ	اِنَّ	بَلٰٓى	يَّحُوْرَ	اَنْ لَّنْ	ظَنَّ	اِنَّهٗ	مَسْرُوْرًا
په ده سره	وو	رب دده	بیشکه!	ولی نه	له سره به بیرته نه گرځی	ددی چی	گمان کاوه	بیشکه! ده	خوشحاله

خوشحاله، بیشکه ده گمان کاوه (په دنیا کی) چی هیڅ وخت به بیرته نه راگرځی، ولی نه بیشکه رب دده وو په ده سره

بَصِيْرًا ﴿۱۵﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۙ﴿۱۶﴾ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ۙ﴿۱۷﴾

وَسَقَ	وَمَا	وَالَّيْلِ	بِالشَّفَقِ	فَلَآ اُقْسِمُ	بَصِيْرًا
شپی سره راټول کړی وی	او په هغه څه چی	او په شپه	په سرخی د ماښام	نو قسم اخلم	ښه لیدونکی

لیدونکی (ښه پوه) نو قسم اخلم (الله فرمایی) په سرخی د ماښام او په شپه او هغه څه چی راټول کړی یی وی (شپی)

وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۙ﴿۱۸﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ﴿۱۹﴾ فَمَا

فَمَا	عَنْ طَبَقٍ	طَبَقًا	لَتَرْكَبُنَّ	اتَّسَقَ	اِذَا	وَالْقَمَرِ
نو څه سوی دی	وروسته له بل حاله	یوه حال ته	خامخا به ورسیږی تاسی	پوره سی	هغه وخت چی	او په سپوږمی باندی

او په سپوږمی باندی کله چی پوره (مکمله سی) خامخا به ورسیږی تاسی دیوه حال څخه وبل حال ته، نو څه سبب دی چی

لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ﴿۲۱﴾ السجدة

لَا يَسْجُدُوْنَ	الْقُرْاٰنُ	عَلَيْهِمُ	قُرِئَ	وَاِذَا	لَا يُؤْمِنُوْنَ	لَهُمْ
نه کوی دوی سجده	قرآن	پر دوی باندی	چی تلاوت سی	او هغه وخت	چی ایمان نه راوړی	دوی ته

دوی ایمان نه راوړی. او کله چی تلاوت سی پر دوی باندی قرآن (پس) نه کوی دوی سجده،

لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ.
دانسان په بدن کښی بې شمیره انقلابات وي، په اوله مرحله کښي نطفه بیا دوینې ټوټه بیا دغوښو ټوټه او بالاخره يې هډوکي جوړ او اندامونه يې مکمل سول، بیا په کښي روح واچول سو او هغه يو ژوندی انسان جوړ سو او بیا یې خوراک دمور په ګېډه کښي درحم ناپاکه وینه ورته مقرره سوه، او نهه میاشتي وروسته الله ج ده لره ودنیا ته دراتلو دمور د رحم څخه لاره آسانه کړه، دناپاکه خوراک پر ځای یې دمور شیدي رودل شروع کړي، او دنیا وسیع او پراخه هوا چي یې ولیدل لویېدل او غټېدل يې شروع سوه، دوه کاله وروسته يې دګرځېدو او خبرو کولو طاقت پیدا سو دمور شیدي يې پرې ښوولي تر هغه يې زیات خوندور خوراکونه شروع کړل لوبي او منډي زغستاوي دده مشغله جوړه سوه لږ څه چي يې هوش او شعور زیات سو نو دتعلیم او تربیت په شکنجه کښي پریوت بیا نو څه تر سپین ږیرتوبه پوري.
(معارف القرآن ج ۱۰ ص ۷۸)

السجدة ۱۳

بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

بَلِ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	يُكَذِّبُوْنَ	وَاللّٰهُ	اَعْلَمُ
بلکه	هغه کسان	چې کافران دي	دروغ يې ګڼي (داقرآن)	او الله	پوهيږي

مګر هغه کسان چې کافران سول (داسلام ددين څخه) دروغ يې بولي (داقرآن)، او الله پاک ته ښه معلومه ده

بِمَا يُوْعُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۴﴾ اِلَّا

بِمَا	يُوْعُوْنَ	فَبَشِّرْهُمْ	بِعَذَابٍ	اَلِيْمٍ	اِلَّا
په هغه څه چې	دوی يې پټوی	نو زيری ورکړه دوی ته	په عذاب سره	دردناکه	مګر


هغه څه چې دوی يې پټوی (په زړو کښې)، نو خبر ورکړی دوی ته په داسې عذاب سره چې دردناکه دی. مګر

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿۲۵﴾

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	لَهُمْ	اَجْرٌ	غَيْرُ مَمْنُوْنٍ
هغه کسان	چې ايمان يې راوړی دی	او عمل يې کړی دی	دنيکو اعمالو	سته دوی دپاره	اجر (ثواب)	نه ختميدونکی

هغه کسانو چې ايمان راوړئ دی، او عمل يې کړی وی نيک (صالح) نو هغوی ته دی ثوابونه بيله احسانه (بی نهايته)

ع ۱ ۲۵ ۹



اٰياتونه ۲۲ ۸۵ سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّيَّةٌ ۲۷ کوعوي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ﴿۱﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ﴿۲﴾ وَشَاهِدٍ

وَالسَّمَآءِ	ذَاتِ	الْبُرُوْجِ	وَالْيَوْمِ	الْمَوْعُوْدِ	وَشَاهِدٍ
قسم په آسمان	چې خاوند	دبرجونو دی	او قسم په هغه ورځ	چې وعده کړل سوی ده	او هغه ورځ چې حاضريږی

قسم په هغه آسمان چې خاوند دبرجونو دی، او په هغه ورځ چې وعده کړه سوی ده (قيامت)، او په هغه ورځ چې حاضريږی

وَّمَشْهُوْدٍ ﴿۳﴾ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ﴿۴﴾ النَّارِ ذَاتِ

وَّمَشْهُوْدٍ	قُتِلَ	اَصْحٰبُ	الْاُخْدُوْدِ	النَّارِ	ذَاتِ
او په ورځ چې هغې ته ورحاضريږی	وژل (هلاک) سوی دی	خاوندان	دکندو (جوړولو)	داور	چې خاوند د

(دجمعې ورځ). او (قسم دی) په هغه ورځ چې ورحاضريږو (دقيامت). وژل سوی دی خاوندان دکندو جوړولو، او اورو و

وَالْيَــوْمِ الْمَوْعُــوْدِ ﴿۲﴾ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ.. ددغو الفاظو تفسير په حديث شريف کښي. امام ترمذي رحمة الله عليه يو مرفوع حديث شريف نقل کړی دی چي په هغه کي ددغو الفاظو تفسير په لاندي ډول راغلی دی چي ديوم موعود څخه مراد دقيامت ورځ ده او دشاهد څخه مراد دجمعې ورځ ده او دمشهود څخه مراد دعرفات ورځ ده په دغه آيت کي الله جل جلاله په څلورو شيانو سره قسم اخيستی دی اول په برجونو والا اسمان سره بيا دقيامت په ورځي سره بيا دجمعې په ورځي سره او بيا دعرفې په ورځي سره. مناسبت ددغو شيانو دجواب قسم سره دادی چي دا شيان دالله جل جلاله په کامل قدرت باندي او بيا دقيامت دورځي پر جزا او سزا باندي دليلونه دي او دجمعې او عرفې ورځ دمومنانو دپاره دآخرت دذخيرې جمع کولو مبارکي ورځي دي او مخته بيا په جواب قسم کي پر هغو کفارو باندي لعنت راغلی دی کمو چي مسلمانان ددوی دايمان په وجه په اور کي وسوزول او بيا الله جل جلاله ومخته دمومنانو دآخرت ددرجو بيان وفرمايه.
معارف القرآن ج ۱۰ پ ۳۰ ص ۷۷

(اِنَّ الَّـــذِيْنَ فَتَنُـــوا الْمُـؤْمِنِيْنَ) دلتــه دهغــه ظالمـانو دسزا بيـان سوی دی چـي مسـلمانان يـې يـوازي دهغـوي دايمـان په سبب د اور په خندق کښي وغورځول او ويې سوځول الله پـاک ج دداسي کسـانو پـه سزا کښـي دوې خبري ارشـاد وفرمـايلې، اولـه داچــي ددوي لپــاره پــه آخرت کښي سخت عذاب دی دوهمــه ســزا يــي دا وفرمايل چي دوي تـه يـو ســـوځوونکی عـــذاب ورکــول کيــږي، کېــدای سي چي دوهمـه جملـه د اولي لپاره بيان او تأ کيد وي يعني دوي به جهنم ته ځي او هلته به هميشـه پـه عـذاب کښـي سـوځي او دايـې هـم مطلب کېـداي سـي چـي دسـوځوونکي عـذاب څخـه مـراد ددې دنيا عذاب وي ځکـه چي پـه ځينـي روايـاتو کښـي راځي چي دغـه ظالمـانو چي مسلمانان يې پـه اور کښـــي غورځـــولي وه، اللهج مســـــلمانان داور دتکليـف څخـه وسـاتل د اور تـر رسـېدو مخکښـي اللهج د دوي څخـــــــه ارواحـان واخيســتل بيـا دغـه اور دومـره شـغلې وکـړي چـي دخنـدقونو دحدودو څخه راووتي او پـه ښـار کښـي ورگـډي سـوي، اوهغـه کـافران يـــې تـــول وســـوځل.
(معـارف القـران ج ۱۰ ص ۸۹)

الْوَقُوْدِ ۝۵ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۝۶ وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ

الْوَقُوْدِ	اِذْ هُمْ	عَلَيْهَا	قُعُوْدٌ	وَّهُمْ	عَلٰى مَا	يَفْعَلُوْنَ
دبليدو وو	کله چې به دوی	پر هغه (اور)	ناست وه (په غاړه داور)	او دوی	پر هغه څه	چې کول يې

په دا کندو کښې چې په زور سره بليدی او کله چې به دوی پر څنډو د هغه اور ناست وه، او هغه څه چې دوی به کول

بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ۝۷ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

بِالْمُؤْمِنِيْنَ	شُهُوْدٌ	وَمَا نَقَمُوْا	مِنْهُمْ	اِلَّآ	اَنْ يُّؤْمِنُوْا	بِاللّٰهِ
پر مؤمنانو باندی	حاضر وه	او عيب يې نه ليدی	دهغو (مسلمانانو څخه)	مگر	داچې دوی ايمان لرونکی وه	په الله سره

پر مؤمنانو باندی (ليدل) حاضر وه. او نه يې اخستل بدله دهغو څخه مگر (په دی) چې دوی به آيمان درلودی په الله سره

الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۝۸ الَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

الْعَزِيْزِ	الْحَمِيْدِ	الَّذِىْ	لَهٗ	مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ
چې غالب (قوی)	ډير ستايل سوی دی	هغه ذات چې	خاص ده لره	پاچاهی	دآسمانونو	او د ځمکی ده

چې غالب او دصفت (ستاينی) لائق دی، هغه ذات چې ده لره ده دا پاچاهی په آسمانونو کی او په ځمکه کی،

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيْدٌ ۝۹ اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ

وَاللّٰهُ	عَلٰى	كُلِّ شَىْءٍ	شَهِيْدٌ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	فَتَنُوا	الْمُؤْمِنِيْنَ
او الله	پر	هر شی باندی	خبردار (شاهد) دی	بيشکه!	هغه کسان	چې عذاب يې ورکړی وی	مؤمنانو (نارينو) ته

او الله پر هر شئ باندی شاهد (يوه، خبردار) دی، بيشکه! هغه خلکو چې عذاب يې ورکوی مؤمنانو (نارينو) ته

وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ

وَالْمُؤْمِنٰتِ	ثُمَّ	لَمْ يَتُوْبُوْا	فَلَهُمْ	عَذَابُ	جَهَنَّمَ	وَلَهُمْ
او مؤمنانو (ښځو) ته	بيا	نه (وکښل) دوی توبه	نو سته دوی ته	عذاب	د دوږخ	او سته د دوی دپاره

او مؤمنانی (ښځو) ته. او بيا يې نه وکښل دوی توبه (دکفره څخه)، نو ددوی دپاره دی عذاب د دوږخ او د دوی دپاره دی

عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۝۱۰ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

عَذَابُ	الْحَرِيْقِ	اِنَّ	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ
عذاب	داور سوځوونکی	بيشکه!	هغه کسان	چې ايمان يې راوړی دی	او کړی يې دی	ښه عملونه

عذاب د سوځولو. بيشکه! هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، او کړی يې دی ښه (عملونه نيک)

لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۬ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ⑪

لَهُمْ	جَنّٰتٌ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	ذٰلِكَ	الْفَوْزُ	الْكَبِيْرُ
د دوی دپاره	جنتونه دی	چی بهیږی	لاندی تر هغو	نهرونه (ویالی)	همدا ده	کامیابی	ډیره لویه

سته دوی ته باغونه (جنتونه) چی بهیږی لاندی دهغو نهرونه (څلور قسمه ویالی) همدغه ده کامیابی ډیره لویه.

اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ⑫ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ

اِنَّ	بَطْشَ	رَبِّكَ	لَشَدِيْدٌ	اِنَّهٗ	هُوَ	يُبْدِئُ
بیشکه!	نیول	درب ستا	ډیر سخت دی	بیشکه! دئ	هم دئ (الله)	اول پلا پیدا کوی

بیشکه! ستادرب نیول ډیر سخت دی. بیشکه! هم دغه الله دی پیدا کوونکی اول پلا (دنطفی څخه)

وَيُعِيْدُ ⑬ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ⑭ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ⑮

وَيُعِيْدُ	وَهُوَ	الْغَفُوْرُ	الْوَدُوْدُ	ذُو الْعَرْشِ	الْمَجِيْدُ
او بیا یئ دوهم پلا پیدا کوی	او هم دئ (الله)	بخښونکی	محبت کوونکی (دمؤمنانو سره)	مالک دعرش دی	چی لوی دی

او بیا پیدا کوی دوهم ځلی (پس له مرګه). او هغه الله بخښوونکی او محبت کوونکی دی. مالک دعرش عظیم (لوی) دی.

فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ⑯ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ⑰ فِرْعَوْنَ

فَعَّالٌ	لِّمَا يُرِيْدُ	هَلْ اَتٰىكَ	حَدِيْثُ	الْجُنُوْدِ	فِرْعَوْنَ
کوونکی دی	دهر هغه څه چی اراده وفرمائی	آیا راغلی دی تاته (ای محمده!)	خبر	دلښکرو	دفرعونیانو

(ډیربنه) کوونکی دی دهر څه چی اراده وفرمایی. آیا راغلی دی تاته (ای محمده) خبر دلښکرو چی فرعونیان.

وَثَمُوْدَ ⑱ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ⑲ وَّاللّٰهُ

وَثَمُوْدَ	بَلِ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فِيْ تَكْذِيْبٍ	وَّاللّٰهُ
او ثمودیانو	بلکه هغه کسان	چی کافران سوی دی	په دروغجن توب کښی دی	او الله

اوثمودیان دی بلکه هغه کسان چی کافران سوی دی (له قومه ستا) په دروغو کښی دی. او الله

مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ ⑳ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ㉑ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ㉒ ع

مِنْ وَّرَآئِهِمْ	مُّحِيْطٌ	بَلْ هُوَ	قُرْاٰنٌ	مَّجِيْدٌ	فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ
په شاوخوا د دوی	احاطه کوونکی دی	بلکه دا	قرآن	ډیر لوی دی	په لوح محفوظ کی

په شاوخوا د دوی احاطه کوونکی دی، بلکه دا قرآن ډیر لوی (عظیم) دی لیکل سوی دی په لوح محفوظ کی

ع ۱ ۲۲ ۱۰

(اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ) یو مطلب یې دادی چي اول وار په دنیا کښي اللهﷻ عذاب ورکوي اوبیا یې په آخرت کښې هم ورکوي یا یې دا مطلب دی چي، اللهﷻ اول وار مخلوق پیدا کوي او دوهم ځل یې ترمرګ وروسته هم پیدا کوي، نو مجرمان دي نه خطا وزي په دغه چي دوي مړه سول نو دوي به بیخي ختم سي بیا به نه ژوندي کیږي، (ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ) یعني اللهﷻ هغه ذات دی چي هر وخت اوهر کله وغواړي په خپل علم اوحکمت سره ژر تر ژره هغه کوي، هیڅ چا ته دا حق نسته چي دهغه دچارو په مخکښي ودریږي نو بندګانو ته نه ښایي چي دهغه په اکرام او انعاماتو باندي مغروره سي اونه دااللهﷻ دانتقامه څخه بې خوفه سي بلکه ښایې چي تل دهغه دجلال او جمال صفتونه دواړه تر سترګو لاندي ولري او په خپل زړه کښي دبیري او خوف سره بیا هم دااللهﷻ درحمت او کرم څخه مایوسه نسي بلکه دخوف او رجاء ترمینځ به ژوند کوي او حدیث شریف هم داسي مضمون را اخیستی دی (عام تفا سیر)

آياتونه ١٧ — ٨٦ سُوْرَةُ الطَّارِقِ مَكِّيَّةٌ ٣٦ — ركوعوي ١

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ۙ﴿۱﴾ وَمَآ اَدۡرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ﴿۲﴾ النَّجۡمُ

وَالسَّمَآءِ	وَالطَّارِقِ	وَمَآ اَدۡرٰىكَ	مَا الطَّارِقُ	النَّجۡمُ
قسم دى په آسمان	او په راتلونكى (دشپې)	او څه خبر كړې يې ته	چې څه شى دى راتلونكى دشپې	هغه ستورى دى

قسم دى په آسمان او قسم دى په راتلونكى دشپې. او څه پوه كړى يې ته چې څه شئ دى راتلونكى دشپې، هغه ستورى دى

الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ اِنۡ كُلُّ نَفۡسٍ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٌ ﴿۴﴾ فَلۡيَنۡظُرِ

الثَّاقِبُ	اِنۡ كُلُّ	نَفۡسٍ	لَّمَّا	عَلَيۡهَا	حَافِظٌ	فَلۡيَنۡظُرِ
ځليدونكى	نشته هيڅ	نفس	چې نه وى	پر هغه باندى	ساتونكى (مقرر)	بنايئ چې وګورى

ځليدونكى نشته هيڅ نفس چې نه وى پر هغه باندى ساتونكئ مقرر، نو ودى ګورى

الۡاِنۡسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿۵﴾ خُلِقَ مِنۡ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿۶﴾ يَّخۡرُجُ

الۡاِنۡسَانُ	مِمَّ	خُلِقَ	خُلِقَ	مِنۡ مَّآءٍ	دَافِقٍ	يَّخۡرُجُ
انسان	چې دڅه شى څخه	پيدا سوى دى	پيدا سوى دى	د اوبو	توپ وهونكو څخه	چې راوزى

انسان چې (اصلاً) دڅه شى څخه پيدا سوى دى پيدا سوى دى (دا انسان) له اوبو غورځيدلو څخه (په رحم كى). چې راوزى

مِنۡۢ بَيۡنِ الصُّلۡبِ وَالتَّرَآئِبِ ﴿۷﴾ اِنَّهٗ عَلٰى رَجۡعِهٖ لَقَادِرٌ ﴿۸﴾

مِنۡۢ بَيۡنِ	الصُّلۡبِ	وَالتَّرَآئِبِ	اِنَّهٗ	عَلٰى	رَجۡعِهٖ	لَقَادِرٌ
دمينځ څخه	دملا دهډوكو	او دسينو څخه	بيشكه! دئ (الله)	پر	بيرته ژوندى كولو باندى دهغه	قدرت لرونكى دى

دمابينځ څخه دملاوو (دنارينو) اودسينو (دښځو) څخه. بيشكه! دى (الله) په بياپيدا كولو (دانسان) قدرت (توان) لرى.

يَوۡمَ تُبۡلَى السَّرَآئِرُ ﴿۹﴾ فَمَا لَهٗ مِنۡ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ﴿۱۰﴾

يَوۡمَ	تُبۡلَى	السَّرَآئِرُ	فَمَا لَهٗ	مِنۡ قُوَّةٍ	وَّلَا نَاصِرٍ
كوم ورځ چې	ښكاره كړل سى	رازونه	نو نه به وى دغه (انسان) ته	هيڅ طاقت	او نه څوک كومک كوونكى (دده)

په هغه ورځ چې ښكاره سى (پټ) رازونه نو نه به وى ودغه (انسان) ته هيڅ قوت او نه هيڅوک كومک كوونكئ دده .

(اِنۡ كُلُّ نَفۡسٍ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٌ) دآيت معنى داده چي يو نفس دا سي نشته چي پر هغه باندي حافظ نه وي مقرر، دحافظ معنى ساتونكى هم راځي يعني هغه كس چي دچا پر عملونو باندي نظر ساتي او بيا دهغه سره حساب كوي او حافظ دمحافظ په معنى هم راځي بيا يې معنى ده دتكليفونو او افتونو څخه حفاظت كوونكئ، دلته دواړي معناوي صحيح دي يعني د انسان سره هغه فرشتې هم ملګري دي چي دده اعمال ليكي او هغه فرشتې هم د انسان سره ورسره دي چي شپه او ورځ دټولو افتونو څخه دهرانسان ساتنه كوي، بيله هغه مصيبته چي الله ج دده دپاره مقرر كړى وي نور يې دټولو آفاتو او مصيبتو څخه دا فرشتې ساتنه كوي په يوه حديث شريف كښي راځي چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: پر هر مومن باندي دالله ج له طرفه څخه دري سوه شپيته فرشتې د ده دساتني لپاره مقرري كړي دي چي د انسان دهراندام ساتنه كوي په دغو فرشتو كښي اووه فرشتې صرف دانسان دسترګو ساتنه كوي. (معارف القران ج١٠ ص٩٣)

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾ وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾

وَالسَّمَآءِ	ذَاتِ	الرَّجْعِ	وَالْاَرْضِ	ذَاتِ	الصَّدْعِ
او قسم دی په آسمان	چی خاوند	دباران داوریدلو دی	او په مځکه	چی خاوند	دچاودیدلو ده

او قسم دی په آسمان چی خاوند داوریدلو دی دباران او په مځکه چی خاوند ده چاودیدلو ده (چی راوزی او به او بوټی اونور)

اِنَّهٗ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ﴿١٥﴾

اِنَّهٗ	لَقَوْلٌ	فَصْلٌ	وَّمَا هُوَ	بِالْهَزْلِ	اِنَّهُمْ	يَكِيْدُوْنَ	كَيْدًا
بیشکه! دا (قرآن)	خامخا وینا ده	بیلوونکی	او نه دی دا (قرآن)	عبث خبری	بیشکه! دوی	تدبیری کوی	یو تدبیر


بیشکه دا (قرآن) خامخا وینا ده د فیصلی (دحق او باطل)، او نه دی دا بی ځایه خبر (کلام). بیشکه دوی جوړوی یو مکر

ع

وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

وَّاَكِيْدُ	كَيْدًا	فَمَهِّلِ	الْكٰفِرِيْنَ	اَمْهِلْهُمْ	رُوَيْدًا
او (زه هم) تدبیر کوم	یو تدبیر	پس مهلت ورکړه	کافرانو ته	وخت (مهلت) ورکه دوی ته	لږموده (وخت)

او (الله فرمایی) زه تدبیر کوم یو تدبیر. پس مهلت (موقع د کولو) ورکه کافرانو ته لږ موده.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٢﴾ وَالَّذِيْ

سَبِّحِ	اسْمَ	رَبِّكَ	الْاَعْلَى	الَّذِيْ	خَلَقَ	فَسَوّٰى	وَالَّذِيْ
پاکی بیان که	دنامه د	رب خپل	چی ډیر لوی دی	هغه (رب)	چی پیدایئ کړل	نو برابر یئ کړل	او هغه(رب) چی

پاکی بیان که د نامه د رب خپل چی ډیر لوی او بنه غالب دی، هغه (رب) چی پیدایی کړل (مخلوق). او برابر یی کړل او هغه

قَدَّرَ فَهَدٰى ﴿٣﴾ وَالَّذِيْ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ﴿٤﴾ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً

قَدَّرَ	فَهَدٰى	وَالَّذِيْ	اَخْرَجَ	الْمَرْعٰى	فَجَعَلَهٗ	غُثَآءً
اندازه یئ کړل	بیا یئ لاره وروښوول	او هغه (رب) چی	راویستله	تازه گیاه (دمځکی شخه)	نو ویئ گرځوله هغه (گیاه)	وچه

چی اندازه یی کړه (خیر او شر)، او بیا یی لاره ور وښوول، او هغه چی راویستله شنه گیاه (دمځکی) ویی گرځول هغه وچه (بوس)

انسان ته سایٔنسي تعلیم هم په حقیقت کښي عطاء رباني ده: انسان ته الله ج عقل او شعور ورکړی دی او دا شعوریې ډیر زیات او مکمل ورکړی دی، دکایناتو مخدوم یې جوړ کړی دی، ټولي مځکي غرونه او دریابونه او په دوي کښي پیدا کېدونکي شیان یې دانسان دخدمت او نفع لپاره پیدا کړي دي، مگر ددغو کایناتو څخه پوره فایده اخیستل او بیا مختلف شیان یوځای کول او یو نوی شئ ځیني جوړول دا لوی عقل او فهم غواړي، په انسان کښي دننه قدرت الهي په فطري طور سره دغه عقل او فهم اینښئ دی، چي غرونه کیندي او په دریابونوکي غوټې وهي په سوونو معدني او دریابي شیان حاصلوي او بیا مختلف شیان سره یو ځای کوي ددي څخه نوي شیان دخپل ضرورت لپاره جوړوي او دغه علم دفلاسفه وو پر تحقیقاتو او دمکتب او پوهنتون پر تعلیماتو موقوف نه دی، د دنیا دابتدا څخه بې سواده خلگو هم دا کارونه کړیدي او دا یو قسم فطري ساینس دی چي الله په انسان کښي اینښی دی. (معارف القرآن ج۱۰ ص۹۱)

أَحْوٰى ۝٥ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓى ۝٦ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ۗ اِنَّهٗ

أَحْوٰى	سَنُقْرِئُكَ	فَلَا تَنْسٰٓى	اِلَّا	مَا شَآءَ	اللّٰهُ	اِنَّهٗ
توره	ژر ده چې وبه وایو موږ تاته	نو نه به یې هیر کړې ته	مګر	هغه څه چې وغواړي	الله	بیشکه! دغه الله ته

توره. ژر ده چې وبه وایو موږ پر تا باندې (قرآن ای محمده!) نو نه به یې هیروې مګر هغه څه چې وغواړي الله، بیشکه الله ته

يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفٰى ۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ۝٨ فَذَكِّرْ

يَعْلَمُ	الْجَهْرَ	وَمَا يَخْفٰى	وَنُيَسِّرُكَ	لِلْيُسْرٰى	فَذَكِّرْ
معلوم دی	ښکاره	او هغه څه چې پټ وي	او موږ آسانه کوو تاته	د شریعت آسانه لار	پس نصیحت کوه ته

معلوم دی ښکاره او هغه څه چې پټ دي. او موږ آسانه وو وتاته (شریعت) په اسانه طریقه، پس نصیحت وکړه ته (محمده)

اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ۝٩ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا

اِنْ نَّفَعَتِ	الذِّكْرٰى	سَيَذَّكَّرُ	مَنْ يَّخْشٰى	وَيَتَجَنَّبُهَا
که چیرې فائده رسوی	نصیحت ستا	ژر ده چې پند به واخلي	هغه څوک چې ویریږي (دالله څخه)	او لیرې کیږي به د هغه څخه

که فائده رسوی نصیحت ستا، ژر ده چې پند به واخلي هغه څوک چې ویریږي. او لیرې والئ به کوي (د نصیحت څخه)

الْاَشْقَى ۝١١ الَّذِىْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ۝١٢ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا

الْاَشْقَى	الَّذِىْ	يَصْلَى	النَّارَ	الْكُبْرٰى	ثُمَّ	لَا يَمُوْتُ	فِيْهَا
ډیر لوی بدبخته	هغه کس	چې داخلیږي	اور ته	چې ډیر لوی دی	بیا به	نه مري	په دا (اور) کې

ډیر بدبخته (بد نصیبه) هغه څوک چې داخلیږی لوی اور (دوږخ) ته. بیا به نه مري په (هغه اور) کې (چې راحت پیدا کې)

وَلَا يَحْيٰى ۝١٣ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۝١٤ وَذَكَرَ اسْمَ

وَلَا يَحْيٰى	قَدْ	اَفْلَحَ	مَنْ تَزَكّٰى	وَذَكَرَ	اسْمَ
او نه به ښه ژوندی دوی	په تحقیق سره	کامیابه سو	هغه څوک چې پاک سو	او یاد یې کړه	نوم

او نه به ښه ژوندی وی ،په تحقیق سره کامیاب سو (په مراد ورسیدی) هغه څوک چې پاک سو. او یادیې کړی نوم

رَبِّهٖ فَصَلّٰى ۝١٥ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝١٦ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ

رَبِّهٖ	فَصَلّٰى	بَلْ	تُؤْثِرُوْنَ	الْحَيٰوةَ	الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةُ	خَيْرٌ
د رب خپل	بیا یې لمونځ وکړ	مګر	تاسې خوښوی	ژوند	د دنیا	او (شان دادی) چې آخرت	ډیر ښه دی

د خپل رب او بیایې لمونځ وکړی. مګر تاسې غوره کوی ژوند (د دنیا) په دنیا کې، او شان دادی چې آخرت ښه دی

اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى د حضرت موسی علیه السلام د صحیفو مضامین چې د حضرت ابوذر رض څخه روایت دي: چې ما د رسول لله صلی الله علي وسلم څخه پوښتنه وکړه چې د حضرت موسی (علیه السلام) په صحیفو کښي څه شي وه ده مبارک وفرمایل چې په هغه کښي ټول عبرتونه وه، چې په هغو کښي یو څو عبرتونه دادي: زه تعجب کوم پر هغه سړي چې پر مرګ یې یقین وي بیا هغه څنګه خوشحاله اوسیږي او زما تعجب دی پر هغه سړي چې پر تقدیر ایمان لري هغه بیا څنګه درمانده او غمجن وي او زما تعجب دی پر هغه سړي چې ددنیا او دهغې انقلابات او دهغه د عروج او نزول ویني هغه بیا څنګه پر دنیا مطمین کیږي، او زما تعجب دی پر هغه چا چې دآخرت پر حساب باندي یقین لري او بیا عمل پرېږدي، ابو ذر رض وایي ما بیا پوښتنه وکړه چې ایا ستاسو په صحیفو کښي دهغو صحیفو مضامین سته ده مبارک وفرمایل دغه آیاتونه ووایه: قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۝ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى (معارف القرآن ج ١٠ ص ٩٥)

وَّاَبۡقٰى ﴿۱۷﴾ اِنَّ هٰذَا لَفِى الصُّحُفِ الۡاُوۡلٰى ﴿۱۸﴾


وَّاَبۡقٰى	اِنَّ	هٰذَا	لَفِى	الصُّحُفِ	الۡاُوۡلٰى
او باقي پاته دی	بیشکه!	دا خبری دی	په	صحیفو	اولو کښي

او پاته دی (ابدالابد). بیشکه دا خبری دی په پخوانی

صُحُفِ اِبۡرٰهِيۡمَ وَمُوۡسٰى ﴿۱۹﴾

صُحُفِ	اِبۡرٰهِيۡمَ	وَمُوۡسٰى
چي صحیفی	د ابراهیم	او د موسٰی دی

صحیفو کی (بیان سوی چي هغه صحیفی) د ابراهیم علیه السلام او د موسی علیه السلام دی.



آیاتونه ۲۶ | ۸۸ سُوۡرَةُ الۡغَاشِيَةِ مَكِّيَّةٌ ۶۸ | رکوعي ۱

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

هَلۡ اَتٰٮكَ حَدِيۡثُ الۡغَاشِيَةِ ﴿۱﴾ وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿۲﴾

هَلۡ اَتٰٮكَ	حَدِيۡثُ	الۡغَاشِيَةِ	وُجُوۡهٌ	يَّوۡمَئِذٍ	خَاشِعَةٌ
آیا راغلی دی تاته	خبر	دپټوونکی (قیامت)	چي ځيني مخونه به	په دغه ورځ	ذلیله وی

آیا راغلی دی تاته (محمده!) خبر دپټوونکی (قیامت) چي ځيني مخونه به په دغه ورځ ذلیله (ویریدونکی) وی

عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿۳﴾ تَصۡلٰى نَارًا حَامِيَةً ﴿۴﴾ تُسۡقٰى مِنۡ عَيۡنٍ

عَامِلَةٌ	نَّاصِبَةٌ	تَصۡلٰى	نَارًا	حَامِيَةً	تُسۡقٰى	مِنۡ عَيۡنٍ
تکلیف ایستونکی به وی	ستړی ستومانه به وی	داخل به سی	اور ته	ډیر گرم د ډیری گرمی څخه	په وبه چښل سی	د چينی

زیلی (په تکلیف سره) او ستړی ستومانه به وی، داخل به سی اور ته چي بلیږی. په وبه چښل سی د چینو څخه (اوبه)

اٰنِيَةٍ ﴿۵﴾ لَيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ اِلَّا مِنۡ ضَرِيۡعٍ ﴿۶﴾ لَّا يُسۡمِنُ

اٰنِيَةٍ	لَيۡسَ	لَهُمۡ	طَعَامٌ	اِلَّا	مِنۡ ضَرِيۡعٍ	لَّا يُسۡمِنُ
ډیری گرمی څخه	نه به وی	د دوی دپاره	خوراک (خواړه)	مگر	داغزی لرونکو بوټو	نه به چاغوی بدن

ډیری گرمی نه به وی د دوی دپاره خواړه مگر وی به داغزی لرونکو بوټو، (کله چي وخوری) نه به غوړوی بدن

وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝ حضرت حسن بصري رح فرمایي چي حضرت فاروق اعظم رح چي کله شام ته تشریف یووړی نو یو نصراني راهب یي ولیدی چي د ته راغی چي ډیر بوډا او سپین ږیری وو او دخپل مذهب په عبادت او ریاضت او مجاهده کښي ډیر پوه وو په ډیر کوښښ او خواریو سره دده مخ ډیر خراب او وران سوی وو بدن یي وچ، کالي یي خراب او ډیر بدصورته وو کله چي فاروق اعظم دی ولیدی نو په ژړا سو، خلکو ورڅخه دژړا پوښتنه وکړه نو حضرت فاروق اعظم وفرمایل چي ماته ددي بوډا سړي پر حال باندي رحم راغی چي ده عاجزه دیوه مقصد لپاره دومره لوي کوښښ کړی دی، مگر دهغه مقصد معلوم نه دی، یعني دالله ج رضا، نو پر دغه قول باندي فاروق اعظم دغه آیت تلاوت کړی (وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝): نو معلومه سول چي دنیکو اعمالو دقبولیت لپاره په اول قدم کښي ایمان شرط دی او بیا اخلاص او دهغه عمل پر شرعي طریقي برابر والی. (معارف القرآن ج۱۰ ص۹۹)

ربع ۱۹ / ۱۲

وَلَا يُغۡنِيۡ مِنۡ جُوۡعٍ ۞ۛ وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ۞ لِّسَعۡيِهَا ۞

وَلَا يُغۡنِيۡ	مِنۡ جُوۡعٍ	وُجُوۡهٌ	يَّوۡمَئِذٍ	نَّاعِمَةٌ	لِّسَعۡيِهَا
او نه به دفع کوی	هیڅ لوږه	ځینی مخونه به	په دا ورځ	تازه (بنایئسته وی)	په خپل کوښښ باندی به

اونه به کمه وی (د دوی) دا لوږه، ځینی مخونه به په دا ورځ تازه او بنائسته وی، په خپل کوښښ باندی به

رَّاضِيَةٌ ۞ فِيۡ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۞ لَّا تَسۡمَعُ فِيۡهَا لَاغِيَةً ۞

رَاضِيَةٌ	فِيۡ جَنَّةٍ	عَالِيَةٍ	لَّا تَسۡمَعُ	فِيۡهَا	لَاغِيَةً
راضی وی	په جنت	لوړ کښی به وی	نه به اوری	په هغه کښی	بی ځایه خبری

راضی وی (چی په دنیا کی یی کاوه). دوی به په لوړ (عظیم) جنت کی وی، نه به اوری په هغه کښی بی ځایه چټی خبری.

فِيۡهَا عَيۡنٌ جَارِيَةٌ ۞ فِيۡهَا سُرُرٌ مَّرۡفُوۡعَةٌ ۞ وَّاَكۡوَابٌ ۞

فِيۡهَا	عَيۡنٌ	جَارِيَةٌ	فِيۡهَا	سُرُرٌ	مَّرۡفُوۡعَةٌ	وَّاَكۡوَابٌ
په (جنت) کښی به	چینه وی	بهیدونکی	په (جنت) کښی به	تختونه وی	لوړ لوړ	او جامونه

په (دا جنت کی به) بهیدونکی چینه او تختونه به وی لوړ لوړ (دپاره دکښینستو)، او جامونه

مَّوۡضُوۡعَةٌ ۞ وَّنَمَارِقُ مَصۡفُوۡفَةٌ ۞ وَّزَرَابِيُّ مَبۡثُوۡثَةٌ ۞

مَّوۡضُوۡعَةٌ	وَّنَمَارِقُ	مَصۡفُوۡفَةٌ	وَّزَرَابِيُّ	مَبۡثُوۡثَةٌ
ایښودل سوی	او بالښتان	په قطار ایښودل سوی	او فرشونه (غالی)	غوړیدلی دی

ایښودل سوی، او بالښتونه په قطار (برابر) ایښودل سوی دی. (جنتیانو ته) او فرشونه (غالی) غوړیدلی دی (په داجنت

اَفَلَا يَنۡظُرُوۡنَ اِلَى الۡاِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ ۞ وَاِلَى

اَفَلَا يَنۡظُرُوۡنَ	اِلَى الۡاِبِلِ	كَيۡفَ	خُلِقَتۡ	وَاِلَى
آیا پس نه ګوری دوی	طرف ته د اوښ	چی څنګه	پیدا سوی دی	او طرف ته

نو آیا پس نه ګوری دوی طرف ته د اوښانو چی څنګه پیدا سوی دی. او طرف ته

السَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ ۞ وَاِلَى الۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ۞

السَّمَآءِ	كَيۡفَ	رُفِعَتۡ	وَاِلَى	الۡجِبَالِ	كَيۡفَ	نُصِبَتۡ
د آسمان	چی څنګه	لوړ کړل سوی دی	او طرف ته د	غرونو	چی څنګه	درول سوی دی

د آسمان چی څنګه لوړ کړل سوی دی، او طرف ته د غرونو چی څنګه درول سوی دی.

وَّاَكۡوَابٌ مَّوۡضُوۡعَةٌ
اکواب د کوب جمع ده
کوب داوبو چیښلو لوښي
ته وایي لکه پیالي او
ګیلاسونه او نور، الله پاک ج
د جنت یو دغه صفت ذکر
کړی دی چي په جنت کښي
به دغه لوښي پر خپل ځاي
د اوبو په خواکښي
ایښوول سوي وي، ددغه
صفت په فرمایلو سره الله ج
دمعاشرت یو اهم باب ته
اشاره کړېده هغه داسي
چي داوبو چیښلو لوښي
باید داوبو پر مقرر
ځاي باندي پروت وي چي
دهغه ځاي څخه آخوا
دیخوا ته نه سي، او
بیا داوبو چیښلو په وخت
کښي دهغه تلاش کول
دتکلیف کار دی په
دې وجه هر سړي ته پکار
ده چي ددي اهتمام
وکړي چي داسي
داستعمال شیان چي دکور
دټولو خلګو پکار وي
لکه لوټي ګلاسونه
او نور داسي شیان
د دغو ځای و ته کل
سي او داستعمال څخه
وروسته بیا هلته
کښیښودل سي، چي بیا
نوروته تکلیف نه وي
اودغه دمعاشرت د ادابو
اشاره د موضوعة دلفظ
څخه اخستل سوېده او
دجنتیانو په نعمتونو
کښي الله ج ذکر کړل.
(معارف القرآن ج۱۰ ص ۱۰۰)

وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنْتَ

وَإِلَى	الْأَرْضِ	كَيْفَ	سُطِحَتْ	فَذَكِّرْ	إِنَّمَا	أَنْتَ
او طرف ته	دمځکې	چې څنګه	غوړول (فرش) سوي ده	نو نصيحت وکړه	بيشکه!	ته

او طرف ته د مځکې چې څنګه غوړول (فرش) سوي ده، نو نصيحت وکړه (دوی ته) بيشکه ته

مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَنْ

مُذَكِّرٌ	لَسْتَ	عَلَيْهِمْ	بِمُصَيْطِرٍ	إِلَّا مَنْ
نصيحت کوونکی يې	نه يې ته	پر دوی باندې	مسلط کړل سوی	مګر هغه څوک

نصيحت کوونکی يې (ودوی ته). مګر نه يې ته پر دوی باندې مسلط (چې په زوره يې مسلمانان کړې)، مګر هغه څوک

تَوَلَّى وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا


تَوَلَّى	وَكَفَرَ	فَيُعَذِّبُهُ	اللَّهُ	الْعَذَابَ	الْأَكْبَرَ	إِنَّ	إِلَيْنَا
چې مخ يې وګرځوی	او کافر سو	بيا به عذاب ورکړي ورده ته	الله	عذاب	ډير لوی	بيشکه!	وطرف ته زموږ

چې وګرځيدی (دايمان څخه) او کافر سو .بيا به الله ده ته عذاب ورکړي چې ډير لوی دی، بيشکه! خاص زموږ طرف ته

إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾ ع

إِيَابَهُمْ	ثُمَّ	إِنَّ	عَلَيْنَا	حِسَابَهُمْ
بيرته راتګ دی د دوی	بيا	بيشکه!	پر موږ باندې دی	حساب د دوی

به دوی راځي (دقيامت په ورځ). بيا بيشکه پر موږ باندې دی حساب د دوی.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا

وَالْفَجْرِ	وَلَيَالٍ	عَشْرٍ	وَالشَّفْعِ	وَالْوَتْرِ	وَاللَّيْلِ	إِذَا
قسم دی په سهار	او په شپو	لسو باندې	او په جفت باندې	او په طاق باندې	او په شپه باندې	هغه وخت چې

قسم دی په سهار (صبا) او لسو شپو باندې او (قسم دی) په جفت باندې او په طاق باندې او په شپه باندې کله چې

(وَلَيَالٍ عَشْرٍ)
دوهم شئ چي الله ج په دغه سورت کښي قسم په پورته کړی دی هغه لس شپې دي الله ج فرمايي چي زما دي په دِغه لسو شپو قسم وي داکومي لس شپي دي؟ دحضرت ابن عباس رض څخه روايت دی چي ددغو لسو شپو څخه مراد د ذي الحجې دمياشتي اولني لس شپي دي چي په احاديثو کښ ددغو شپو په بار کښي ډير فضيلت راغلی دی نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي چي دعبادت کولو لپاره دالله ج په نزد په ټولو ورځو کښي دذي الحجې لس ورځي دټولو څخه ښه دي، ددغو لسو ورځو دهري ورځي روژه په فضيلت کښي ديوه کال دروژو سره برابره ده او په دغو لسو شپو کښي دهري شپې عبادت دشب قدر دشپې سره برابر دی. (ترمذي وابن ماجة) او دحضرت جابر رض څخه هم روايت سوی دی چي په خپله نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) د والفجر وليال عشر په تفسير کښي وفرمايل چي د دې څخه مراد دذي الحجې اولي لس ورځي دي. (معرف القرآن ج١٠ ص١٠٨)

ربع ٣٢ نصف

يَسۡرِ ۝٤ هَلۡ فِيۡ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيۡ حِجۡرٍ ۝٥ اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ

يَسۡرِ	هَلۡ	فِيۡ ذٰلِكَ	قَسَمٌ	لِّذِيۡ	حِجۡرٍ	اَلَمۡ تَرَ	كَيۡفَ	فَعَلَ
په‌تیریدوسی	آیا سته	په‌دی قسمونو کښی	لوی قسم	دپاره‌ د خاوند	دعقل	آیا نه‌دی کتلی تا	چی څنګه	سلوک کړی دی

په‌تیریدو سی . آیا سته‌ په‌دی قسمونو کی (لوی قسم) دعقل دخاوند دپاره. آیا تا نه‌ولیده (ای محمده!) چی څه کړی دی

رَبُّكَ بِعَادٍ ۝٦ اِرَمَ ذَاتِ الۡعِمَادِ ۝٧ الَّتِيۡ لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا

رَبُّكَ	بِعَادٍ	اِرَمَ	ذَاتِ	الۡعِمَادِ	الَّتِيۡ	لَمۡ يُخۡلَقۡ	مِثۡلُهَا
رب ستا	دعادیانو سره	چی ارم وه	چی خاوندان	دلوړ قدونو وه	هغه‌چی	چی نه‌دی پیدا سوی	د دوی په‌شان

رب ستا دعادیانو سره‌ چی ارم وه‌ چی خاوندان دلوړ قدونو وه، هغسی (قبیله) چی نه‌وه‌ پیدا سوی په‌مثل د دوی

فِي الۡبِلَادِ ۝٨ وَثَمُوۡدَ الَّذِيۡنَ جَابُوا الصَّخۡرَ بِالۡوَادِ ۝٩

فِي الۡبِلَادِ	وَثَمُوۡدَ	الَّذِيۡنَ	جَابُوا	الصَّخۡرَ	بِالۡوَادِ
په‌ښارونو کښی	او د ثمودیانو سره	هغو چی	تراشلی	ډبری	په‌کنده‌کښی

په‌ښارونو کی، او (څه‌وکړل رب ستا) د ثمودیانو سره‌ هغو چی تراشلی ډبری په‌کنده‌کی (چی کورونه‌ به‌یی ځینی جوړول).

وَفِرۡعَوۡنَ ذِي الۡاَوۡتَادِ ۝١٠ الَّذِيۡنَ طَغَوۡا فِي الۡبِلَادِ ۝١١

وَفِرۡعَوۡنَ	ذِي الۡاَوۡتَادِ	الَّذِيۡنَ	طَغَوۡا	فِي الۡبِلَادِ
او فرعون	چی خاوند د میخونو وو	هغو کسانو چی	سرکښی یې وکړه	په‌ښارونو کښی

او (څه‌وکړل رب ستا) د فرعون سره‌ چی خاوند د میخونو وو، هغو چی سرکښی کړی وه‌ په‌ښارونو کی

فَاَكۡثَرُوۡا فِيۡهَا الۡفَسَادَ ۝١٢ فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ

فَاَكۡثَرُوۡا	فِيۡهَا	الۡفَسَادَ	فَصَبَّ	عَلَيۡهِمۡ	رَبُّكَ	سَوۡطَ
بیا یې ډیر وکړی	په‌هغه (ښارونو کی)	فساد	نو نازل یې کړه	پر دوی باندی	رب ستا	قمچینه

بیایی ډیر فساد وکړی په‌هغه‌ ښارونو کښی، نو نازله‌ کړه‌ پر دوی باندی رب ستا مترکه

عَذَابٍ ۝١٣ اِنَّ رَبَّكَ لَبِالۡمِرۡصَادِ ۝١٤ فَاَمَّا الۡاِنۡسَانُ اِذَا مَا

عَذَابٍ	اِنَّ	رَبَّكَ	لَبِالۡمِرۡصَادِ	فَاَمَّا	الۡاِنۡسَانُ	اِذَا مَا
دعذاب	بیشکه!	رب ستا	په‌انتظار کښی دی	نو هرچی	انسان	هغه‌وخت

د عذاب. بیشکه! (په‌تحقیق سره) رب ستا (په‌ځای) د انتظار کی دی، پس هغه‌وخت چی هر انسان

وَفِرۡعَوۡنَ ذِي الۡاَوۡتَادِ ۝١٠ الَّذِيۡنَ طَغَوۡا فِي الۡبِلَادِ

فرعون بد بخته‌ به‌ سخته‌ سزاء وخلکوته‌ ورکوله.

اوتاد جمع دوتد ده میخ ته‌ ویل کیږي فرعون ته‌ د ذی الاوتاد ویلو مختلفي وجوهاتي علماوو او تفاسیرو بیان کړي دي دجمهورو مفسرینو په‌ نزد مشهور تفسیر ددي هغه‌ دی چي دمعارف القرآن په‌ لنډ تفسیر کي تیر سوی دی چي په‌ دي لفظ کي دده دظلم زیاتي او دوحشیانه سزاګانو ذکر دی چي به‌ دچا څخه‌ خفه‌ سونو دهغه‌ لاسونه‌ او پښي به‌ یي په‌ څلورو میخونو پسي وتړل بیا به‌ یي میخونه‌ پر ووهل په‌ سره‌ غرمه‌ کي به‌ یي وځړوی او ماران او لړمان به‌ یي ورپرېښوول نو هغه‌ خوار به‌ یي خوړی او ځینو مفسرینو دده دخپلي بي بي حضرت آسیي رضي الله عنها په‌ حقله‌ یوه‌ اوږده‌ قصه‌ هم دلته‌ نقل کړیده‌ چي دا مسلمانه‌ سوله‌ او دخپل ایمان اظهار یي دفرعون په‌ مخکي وکړی او بیا هغه‌ ظالم دا مبارکه‌ په‌ دغه‌ قسم سزا باندي هلاکه‌ کړل دتفصیل دپاره‌ تاسي وتفسیر مظهري ته‌ رجوع کولای سي و.

معارف القرآن ج ۱۰ پ ۳۰ ص ۱۱۱

ابْتَلٰىهُ رَبُّهٗ فَاَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ

رَبِّيْٓ	فَيَقُوْلُ	وَنَعَّمَهٗ	فَاَكْرَمَهٗ	رَبُّهٗ	ابْتَلٰىهُ
رب زما	نو دی وایی	او نعمتونه ورکړی ورده ته	نو عزت ورکړی ورده ته	رب دده	چی وازمایئ دی

و ازمایی دی (په راحت سره) رب د ده او عزت ورکړی ورده ته او نعمتونه ورکړی ورده ته نو دی وایی، چی رب زما (ماته)

اَكْرَمَنِ ۟ وَاَمَّآ اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ

رَبِّيْٓ	فَيَقُوْلُ	رِزْقَهٗ	عَلَيْهِ	فَقَدَرَ	ابْتَلٰىهُ	وَاَمَّآ اِذَا مَا	اَكْرَمَنِ
رب زما	پس وایی دی چی	رزق د هغه	پر ده باندی	پس تنګ کړی	وازمایئ دی	او هر کله چی	عزت راکړو ماته

عزت راکړی، او کله چی وازمایی دی رب د ده، پس تنګ (کم) کړی پر ده باندی رزق نو دی وایی چی رب زما ماته

اَهَانَنِ ۟ كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ۟ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى

عَلٰى	وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ	الْيَتِيْمَ	لَّا تُكْرِمُوْنَ	كَلَّا بَلْ	اَهَانَنِ
پر	او نه کوی (یو بل ته) ترغیب تاسو	پر یتیم	نه کوی تاسی احسان	هیڅکله نه ده بلکه	سپک (ذلیل) کړم زه

سپک (ذلیل) کړم، داسی نه ده مګر هم تاسو نه کوی عزت دیتیم (پلار مړی) باندی او نه کوی تاکید (نه ډیروی) تاسو

طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۟ وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا ۟ وَّتُحِبُّوْنَ

وَّتُحِبُّوْنَ	اَكْلًا لَّمًّا	التُّرَاثَ	وَتَاْكُلُوْنَ	الْمِسْكِيْنِ	طَعَامِ
او مینه کوی	په خوړلو ډیرو سره	مال دمیراث	او خورئ تاسی	د مسکینانو	ډوډی

ډوډی پر مسکینانو (محتاجانو)، او خوری تاسی د میراث مال په ډیرو خوړلو سره او مینه کوی (تاسی)

الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۟ كَلَّآ اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا ۟

دَكًّا دَكًّا	الْاَرْضُ	دُكَّتِ	اِذَا	كَلَّآ	جَمًّا	حُبًّا	الْمَالَ
په ټوټه ټوټه کولو سره	مځکه	ماته سی	هغه وخت چی	نه ده داسی	ډیره سره	په مینه	د مال سره

د مال (دولت) سره په ډیره مینه سره، داسی نه ده هغه وخت چی ماته سی مځکه په ټوټه ټوټه کولو سره

وَّجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ۟ وَجِايْٓءَ

وَجِايْٓءَ	صَفًّا صَفًّا	وَالْمَلَكُ	رَبُّكَ	وَّجَآءَ
او رابه وستل سی	په صفونو صفونو	او ملائیکی	رب ستا	او راسی

او راسی رب ستا. او راسی ملا ئیکی په صفو صفو او رابه وستل سی

(كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ) پر یتیم باندې صرف خرځ کول کافي نه دي دهغه احترام هم ضروري دی.. دلته الله پاک ج دکفارو یو بد خصلت بیان کړی دی هغه دا چي تاسي دیتیمانو کوچنیانو اکرام نه کوی او د دې اصل مطلب دابنودل دي چي تاسي دیتیمانو حقونه نه ورکوی او پر دوی ضروري خرځ نه کوی لیکن الله پاک ج ددغي خبرې تعبیر په اکرام سره کړیدی، او په دې کښې اشاره داده چي انسانیت او دالله ج دشکر تقاضا داده چي دیتیم حق یوازې دانه دی چي تاسي دهغه حق ورکړی، بلکي واجب ده چي ددوي اکرام او عزت هم وکړی، دخپلو بچیانو په مقابل کښې یې حقیر او سپک ونه ګڼی : دوهم بد خصلت یې ددوي دا بیان کړ، چي خپله خو مسکین ته ډوډی نه ورکوی دا مو دبخل حال دی او بل ته هم ددغه کار ترغیب او تشویق نه ورکوی چي هغوي دغه نیک عمل وکړي، ددې آیت څخه هم معلومه سوه چي دمسکینانو سره کومک څومره زیات الله ج ته محبوب عمل دی.
(معارف القرآن ج۱۰ ص۱۱۲)

يَوۡمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوۡمَئِذٍ يَّتَذَكَّرُ الۡاِنۡسَانُ

يَوۡمَئِذٍ	بِجَهَنَّمَ	يَوۡمَئِذٍ	يَّتَذَكَّرُ	الۡاِنۡسَانُ
په دغه ورځ	دوږخ	په دغه ورځ به	نصيحت (پند به واخلي)	انسان

په دغه ورځ دوږخ ، نو په دغه ورځ به پند واخلي انسان

وَاَنّٰى لَهُ الذِّكۡرٰى ﴿۲۳﴾ يَقُوۡلُ يٰلَيۡتَنِىۡ قَدَّمۡتُ

وَاَنّٰى	لَهُ	الذِّكۡرٰى	يَقُوۡلُ	يٰلَيۡتَنِىۡ	قَدَّمۡتُ
او څه کته به ورسوي	وده ته	دا نصيحت (پند)	وايي به	اى كاشكى زه	مخكى مى استولى واى

او څه کته به ورسوي وده ته (په دا وخت كى دا پند)، وايي به اى كاشكى مخكى مى استولى وايى (نيک عمل)

لِحَيَاتِىۡ ﴿۲۴﴾ فَيَوۡمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗۤ اَحَدٌ ۙ﴿۲۵﴾

لِحَيَاتِىۡ	فَيَوۡمَئِذٍ	لَّا يُعَذِّبُ	عَذَابَهٗۤ	اَحَدٌ
دپاره ددى ژوند	پس په دغه ورځ به	عذاب به ورنه کړي	په شان دعذاب د دا	هيڅ يو كس

دپاره د دى ژوند (د آخرت)، پس په دغه ورځ به نه كړي ورعذاب په شان دعذاب دده هيڅ يو كس

وَّلَا يُوۡثِقُ وَثَاقَهٗۤ اَحَدٌ ﴿۲۶﴾ يٰۤاَيَّتُهَا النَّفۡسُ الۡمُطۡمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾

وَّلَا يُوۡثِقُ	وَثَاقَهٗۤ	اَحَدٌ	يٰۤاَيَّتُهَا	النَّفۡسُ	الۡمُطۡمَئِنَّةُ
نه به وتړي	په شان د تړلو دده	هيڅ يو كس	اى	نفسه	ارام نيوونكى

او نه به كړي قيد (د الله) په شان دده قيد هيڅ يو كس، اى نفسه اطمينان سوى (ارام سوى)

اِرۡجِعِىۡۤ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرۡضِيَّةً ﴿۲۸﴾

اِرۡجِعِىۡۤ	اِلٰى	رَبِّكِ	رَاضِيَةً	مَّرۡضِيَّةً
وګرځه	وطرفته	درب خپل	چى راضى به يئ ته (دالله څخه)	راضى به وى (الله ستا څخه)

بيرته وګرځه وطرف ته د رب خپل چى راضى به يى ته دالله څخه او الله به ستا څخه راضى وى،

فَادۡخُلِىۡ فِىۡ عِبٰدِىۡ ﴿۲۹﴾ وَادۡخُلِىۡ جَنَّتِىۡ ﴿۳۰﴾

فَادۡخُلِىۡ	فِىۡ عِبٰدِىۡ	وَادۡخُلِىۡ	جَنَّتِىۡ
نو داخل سته ته	په (نيكانو) بندګانو زما كښى	او داخل سه	په جنت زما كښى

نو داخل سه ته زما په بندګانو (نيكانو) كى او داخل سه زما په جنت كى

(يٰۤاَيَّتُهَا النَّفۡسُ الۡمُطۡمَئِنَّةُ) حافظ طبراني رح په خپل كتاب كښي دفتان ابن زرين څخه دده خپله قصه رانقل كړې ده، چي دوي فرمايي يو وار موږ په روم كښي قيد سولو او بيا دهغه ځاي دپاچا په مخكښي پيش كړل سولو، دغه كافر پآچا موږ مجبوره كړو چي موږ دده دين اختياره كړواوچا چي به انكاروكړى دهغه سر به يې پرې كوى، نو زموږ په ډله كښي درې كسان دمرګ دبيري څخه مرتد سول او دپاچا دين يې اختيار كړى، څلورم سړى چي پيش سو هغه دپاچا ددين دقبلولو څخه انكار وكړى نو پاچا دده سر ورپرېكړى او يوه نږدې سيند ته يې وغورځوى، په دغه وخت كښي دغه سر داوبو پاي ته ولاړى اوبيرته داوبو سر ته راوختئ او خلګو ته يې وكتل او دهغوى نومونه يې واخيستل چي فلانى فلانى او بيا يې وويل چي الله ج فرمايلي دي (يا ايتها النفس المطمئنة ارجعي الى ربک راضية مرضية فادخلي في عبادي وادخلي جنتي الى آخره) او بيرته غوټه سو. (معارف القران ج ۱۰ ۱۱۷)

ربع ۱۴

آياتونه ۲۰ ۹۰ سُوْرَةُ الْبَلَدِ مَكِّيَّةٌ ۳۵ ۷ ركوعوي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ① وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ② وَوَالِدٍ

لَآ اُقْسِمُ	بِهٰذَا	الْبَلَدِ	وَاَنْتَ	حِلٌّۢ	بِهٰذَا	الْبَلَدِ	وَوَالِدٍ
زه قسم اخلم	په دې	ښار	او ته به	داخل سې	په دې	ښار کښې	او قسم دی په پلار

زه قسم اخلم په دې ښار (مکه) باندې، چې ته به داخل سې په دې ښار (مکه) کې، او قسم دی په پلار

وَّمَا وَلَدَ ③ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ ④ اَيَحْسَبُ اَنْ

وَّمَا وَلَدَ	لَقَدْ	خَلَقْنَا	الْاِنْسَانَ	فِيْ كَبَدٍ	اَيَحْسَبُ	اَنْ
او په هغه چې ده زيږولی دی	په تحقيق سره	پيدا کړی موږ	انسان	په سختۍ کښې	آيا دی ګمان کوی	دا چې

او ده په اولاد په تحقيق سره پيدا کړی دی موږ انسان په سختۍ کښې، آيا ګمان کوی (کافران) چې

لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌ ⑤ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ⑥

لَّنْ يَّقْدِرَ	عَلَيْهِ	اَحَدٌ	يَقُوْلُ	اَهْلَكْتُ	مَالًا	لُّبَدًا
هيڅکله به قادر نه سی	پر ده باندې	هيڅوک	وايي د دغه څخه	خرڅ کړی دی ما	مال	خورا ډير

قادر به نسی هيڅ کله پر دوی باندې هيڅوک، وايي به (دوی) چې ما خرڅ (برباد) کړی دی مال (دنيا)

اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗٓ اَحَدٌ ⑦ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ

اَيَحْسَبُ	اَنْ	لَّمْ يَرَهٗٓ	اَحَدٌ	اَلَمْ نَجْعَلْ	لَّهٗ
آيا دی ګمان کوی	دا چې	نه دی ليدلی دی	هيچا	آيا نه دی جوړې کړی موږ	ده ده پاره

خورا ډير (د محمد په دښمنۍ سره). آيا ګمان کوی (کافران) چې دوی هيچا نه دی ليدلی، آيا نه دی جوړې کړی موږ ده ده پاره

عَيْنَيْنِ ⑧ وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ⑨ وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ ⑩ فَلَا اقْتَحَمَ

عَيْنَيْنِ	وَلِسَانًا	وَّشَفَتَيْنِ	وَهَدَيْنٰهُ	النَّجْدَيْنِ	فَلَا اقْتَحَمَ
دوی سترګې	او ژبه	او دوی شونډې	او ښودلی مو ده ده ته	دوی لارې	نو تکليف يې و نه ايست

سترګې او ژبه او دوی شونډې (دوه شونډان) او ور ښودلی مو دی وده ته دوی لارې (د خير او شر) نو دی داخل نه سو

(بِـهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْن) دلته الله پاک ج دمکې په ښار باندې قسم اخيستی دی، دا په حقيقت کښې د مکې مکرمې د ښار فضيلت او د هغې شرافت بيانول دي د حضرت عبد الله ابن عدي رض څخه روايت دی چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) د هجرت په وخت کښې د مکې ښار ته خطاب وکړ، او ويې فرمايل چې د خدای په ذات قسم دی چې ته په ټوله مځکه کښې د الله ج په نزد تر ټولو زيات غوره او محبوبه يې او که زه د دې ښار څخه پر وتلو نه واي مجبوره سوی نو زه به ستا د مځکې څخه نه وای وتلی (رواه الترمذي)

(وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ) د والد څخه مراد آدم عليه السلام دی چې د ټولو انسانانو پلار دی او د ماولد څخه مراد د آدم (عليه والسلام) اولاده ده چې د دنيا د شروع څخه نيولې بيا تر قيامته پورې به وي (لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ) د کبد لفظي معنی محنت او مشقت دی معنی يې داده چې انسان په خپل فطرت سره داسې پيدا کړل سوی دی چې د اوله څخه تر آخره پورې په تکليف کښې وي (معرف القرآن ج ۱۰ ص ۱۳۲)

الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾

الْعَقَبَةَ	وَمَآ اَدْرٰىكَ	مَا الْعَقَبَةُ	فَكُّ	رَقَبَةٍ
په ختلو د غونډۍ کښې	او څه خبر کړې يې ته	چې څه شی دی ختل د غونډۍ	خلاصول	دغاړې دی

ومشقت ځای ته او څه پوهيږې چې څه شی دی دمشقت ځای. (هغه) دغاړې خلاصول دی

اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾

اَوْ اِطْعٰمٌ	فِيْ يَوْمٍ	ذِيْ مَسْغَبَةٍ	يَّتِيْمًا	ذَا مَقْرَبَةٍ
يا ډوډۍ ورکول	په هغه ورځ کښې	چې خاونده دلوږې وی	يتيم ته	چې خاوند د خپلوی وی

يا ډوډۍ ورکول دلوږې په ورځ، (او) يتيمانو ته هغه چې دخپلوانو څخه وی

اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا

اَوْ مِسْكِيْنًا	ذَا مَتْرَبَةٍ	ثُمَّ	كَانَ	مِنَ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَتَوَاصَوْا
يا غريب ته چې	چې په خاورو کی ککړ وی	بيا	وی هغه	د هغو کسانو څخه	چې ايمان يې راوړی وی	او وصيت کوی يو دبله سره

او غريب ته چې په خاورو لړلی وی او بيا هغه دهغو کسانو څخه وی چې ايمان لری او وصيت (نصيحت) کوی يو دبله سره

بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

بِالصَّبْرِ	وَتَوَاصَوْا	بِالْمَرْحَمَةِ
دصبر	او وصيت کوی (يو دبله سره)	د رحم کولو

دصبر (په طاعت، مصيبت او له معصيته) او وصيت کوی يو دبله په مهربانی او شفقت سره.

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا

اُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	الْمَيْمَنَةِ	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِاٰيٰتِنَا
هم دا خلګ (صابران)	خاوندان دی	دراسته لاس	او هغه کسان	چې کافران سوی دی	په اياتونو زموږ

دغه (خلګ) خاوندان دی دراسته لاس (دښه برخی) او هغه کسان چې کافران دی په آياتونو زموږ

هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾ ع

هُمْ	اَصْحٰبُ	الْمَشْئَمَةِ	عَلَيْهِمْ	نَارٌ	مُّؤْصَدَةٌ
هم دوی	خاوندان	دچپه لاس دی	وی به پر دوی باندی	اور	بند کړل سوی

هم دوی خاوندان (لايق) دچپه لاس دی. (او) وی به پر دوی باندی اور سرپوښ کړل سوی.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ پس ونه ختی دی پر غونډۍ باندي. عقبة دغره جګي ځوکي ته هم وايي او ددوو غرونو په مينځ کي لاري ته هم وايي او ددښمن څخه په نجات حاصلولو کي دا عقبة دانسان مدد کوي چي غرته لوړ وخيژي او دښمن څخه ځان محفوظ کړي يا دغرونو دمينځ پر لاره بل طرف ته واوړي دلته يي طاعات او عبادات په عقبة سره تعبير فرمايلي دي چي لکه څنګه چي عقبه ددښمن څخه دنجات ورکولو سبب وي او نيک عملونه دآخرت دعذاب څخه دنجات ذريعه جوړيږي بيا په دي نيکو عملونو کي يي اول. فك رقبة وفرمايل يعني يو غلام آزادول چي دا يو لوی عبادت او ديو انسان ژوند جوړول دي. دوهم شي يي. او اطعام في يوم ذي مسغبة. چي اوږي ته خوراک ورکول ډير لوی ثواب دی او خوراک ورکول که هرچاته وي خو دثواب څخه خالي نه دی مګر ځينو ته ورکول بيا ډير لوی ثواب جوړيږي په دي وجه يي دهغو ذکر وفرمايه چي مثلا هغه خوراک يتيم لره وي يا ستا يو خپل لره وي الخ. معارف القرآن ج١٠ پ٣٠ ص١٢٤

ربع ١ ١٥

اٰیاتونه ۱۵ | ۹۱ سُوْرَةُ الشَّمْسِ مَكِّيَّةٌ ۲۶ | رکوعوي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ۝۱ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ۝۲ وَالنَّهَارِ اِذَا

وَالشَّمْسِ	وَضُحٰىهَا	وَالْقَمَرِ	اِذَا	تَلٰىهَا	وَالنَّهَارِ	اِذَا
قسم دی په لمر	او په رڼا دهغه	او په سپوږمی	هغه وخت چی	راسی (وروسته) په لمر پسی	او په ورځ باندی	هغه وخت چی

قسم دی په لمر باندی او په رڼا دهغه باندی او په سپوږمی. کله چی راځی په دغه (لمر پسی) او (قسم) په ورځ باندی کله چی

جَلّٰىهَا ۝۳ وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ۝۴ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰىهَا ۝۵

جَلّٰىهَا	وَاللَّيْلِ	اِذَا	يَغْشٰىهَا	وَالسَّمَآءِ	وَمَا	بَنٰىهَا
روښانه کری دغه	او په شپه باندی	هغه وخت چی	پټ کری (لمر)	او په آسمان	او هغه (ذات)	چی جوړ کری یئ دی هغه

روښانه سی او په شپه باندی هرکله چی پټ کری (دغه لمر)، او په آسمان سره او په هغه ذات سره چی جوړ کری یی دی

وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ۝۶ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۝۷

وَالْاَرْضِ	وَمَا	طَحٰىهَا	وَنَفْسٍ	وَّمَا	سَوّٰىهَا
او په مځکه	او هغه (ذات)	چی غوړولی یئ ده هغه	او (قسم) په نفس	او هغه (ذات)	چی برابر یئ کړدی (نفس)

(آسمان). او په مځکه او په هغه ذات چی غوړولی یی ده (مځکه) او په نفس او هغه ذات چی برابر کری یی دی (اندامونه) دهغه

فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۝۸ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝۹

فَاَلْهَمَهَا	فُجُوْرَهَا	وَتَقْوٰىهَا	قَدْ	اَفْلَحَ	مَنْ زَكّٰىهَا
پس ورښوولی یئ دی هغه ته	بدی دده	او تقوا دده	په تحقیق سره	په مقصد ورسیدی	هغه څوک چی پاک یئ کړ دا نفس

پس ورښوولی یی دی (په زړه دده کی) بدی دده او تقوا دده. بیشکه! په مراد ورسیدی هغه څوک چی پاک یی کړی (نفس خپل)

وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ۝۱۰ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰىهَآ ۝۱۱

وَقَدْ	خَابَ	مَنْ دَسّٰىهَا	كَذَّبَتْ	ثَمُوْدُ	بِطَغْوٰىهَآ
او په تحقیق	برباد سو	هغه څوک چی پټ یئ کړ هغه	درواغ وګڼل	ثمودیانو	په سرکښی خپلی سره

او برباد سو هغه څوک چی پټ یی کری دغه (نفس په ګناهونو کی). درواغ وګڼی ثمودیانو په سرکښی سره (خپل رسول).

(وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا) ددغه سورت په شروع کښي الله پاک ج په اوو شیانو قسم کړی دی اول: قسم په لمر او دهغه په رڼا سره: ضحی هغه وخت ته ویل کیږي چي کله لمر لږ راپورته سي او رڼا یې پر مځکه خپره سي. دوهم: قسم الله ج په سپوږمۍ کړی دی کله چي دا په لمر پسي راسي او دا یې هم مطلب کېدای سي چي کله سپوږمۍ دلمر دلویدو وروسته راوخیږي او داحالت بیا دمیاشتي په مابین کښي وي کله چي میاشت مکمله وي. دریم: قسم الله ج په ورځ کړی دی چي کله دغه ورځ لمر روښانه وساتي یعني دورځي دراختو په سبب ورځ روښانه په نظر راځي. څلورم: قسم الله ج په شپې کړی دی کله چي لمر پټ کړل سي یعني دلمر رڼا پټه سي. پنځم: قسم الله ج په آسمان سره کړی دی او په هغه ذات سره چي دغه آسمان یې جوړ کړی دی یعني الله ج په خپل ذات سره قسم کړی دی دقسم جواب دادی چي دقیامت ورځ خامخا راتلونکې ده او په دې کښې هیڅ شک نسته. (معرف القرآن ج۱۰ ص ۱۴۰)

(فُجُوْرَهَاوَتَقْوٰىهَا) یعني الله تعالی ج دانسان نفس جوړ کړی بیا یې هغه ته په زړه کښې دګناه او تقوی دواړو الهام ورکړی، مطلب یې دادی چې حق تعالی ج دانسان دنفس په جوړولو کښې دګناه او اطاعت دواړو مادې او استعداد ایښې دی او بیا یې انسان ته یو خاص قسم اختیار او قدرت هم ورکړی دی اوس نو دغه انسان په خپل قصد او اختیار سره دګناه لار اختیاروي یاداطاعت لار، هر کله چې ده په خپل قصد او اختیار سره ددغو لارو څخه یوه لاره اختیاره کړه نو پر دغه قصد او اختیار باندې ده ته ثواب یا عذاب ورکول کیږي. دحضرت ابوهریره او حضرت ابن عباس رض څخه روایت دی چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) به کله دغه آیت تلاوت کړی نو په لوړ اواز سره به یې دا دعا وکړه (اللهم آت نفسي تقواها انت ولیها ومولاها وانت خیر من زکاها) ژباړه: یاالله زما نفس ته دتقوی توفیق ورکړې ای الله ته زما دنفس ولي یې او ته بهتره هغه ذات یې چې نفس پاکوي. (الحدیث معارف القرآن ج۱۰ ص۱۴۱)

إِذِ انۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ

ٱللَّهِ	نَاقَةَ	ٱللَّهِ	رَسُولُ	لَهُمْ	فَقَالَ	أَشْقَىٰهَا	إِذِ انۢبَعَثَ
دالله	(پریږدی) اوښه	دالله	رسول	دوی ته	نو ویی ویل	لوی بدبخته ددوی	هغه وخت چې راپورته سو

کله چې راپورته سو لوی بدبخته دوی (پس) وی ویل دوی ته رسول دالله (چې پریږدی) اوښه د الله

وَسُقْيَـٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ

عَلَيْهِمْ	فَدَمْدَمَ	فَعَقَرُوهَا	فَكَذَّبُوهُ	وَسُقْيَـٰهَا
پردوی باندی	نو سخت عذاب راوستی	پس مره یې کړل هغه	نو دوی دروغجن کړی هغه	او اوبه څښل ددی


او د اوبو د څښلو ته (نوبت) دهغی، نو دوی درواغ وبلل پس مره یی کړل هغه (اوښه) نو عذاب راوستئ پر دوی باندی

رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَـٰهَا ﴿١٥﴾ ع

عُقْبَـٰهَا	وَلَا يَخَافُ	فَسَوَّىٰهَا	بِذَنۢبِهِمْ	رَبُّهُمْ
ددوی د انجام څخه	او نه بیریږی (الله)	نو برابریئ کړله هغوی	په سبب د ګناه ددوی	رب د دوی

رب د دوی، په سبب دګناه د دوی نو برابر یی کړله هغوی، او نه بیریږی الله د دوی د عقوبت (انجام) څخه.

ع ۱۵/۱۶



بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ﴿١﴾ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ

ٱلذَّكَرَ	خَلَقَ	وَمَا	إِذَا تَجَلَّىٰ	وَٱلنَّهَارِ	إِذَا يَغْشَىٰ	وَٱلَّيْلِ
نارینه	چې پیدا یئ کړل	او په هغه (ذات)	هغه وخت چې روښانه سی	او په ورځ باندی	هغه وخت چې پټ کړی	قسم دی په شپه

قسم دی په شپه کله چې پټ کړی (په تیاره سره) او په ورځ باندی کله چې روښانه سی، او په هغه ذات چې پیدا یی کړل نارینه

وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ ﴿٤﴾ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾

وَٱتَّقَىٰ	أَعْطَىٰ	فَأَمَّا مَنْ	لَشَتَّىٰ	سَعْيَكُمْ	إِنَّ	وَٱلْأُنثَىٰٓ
او پرهیزګاری یئ وکړه	وکړی مال	پس هر چا چې	مختلف دی	کوښښ (عملونه) ستاسو	بیشکه!	او ښځه

او ښځه. بیشکه! ستاسی عملونه مختلف دی پس هغه چاچې ورکړی مال (دالله په لاره کی) او پرهیز ګاری یی وکړه

وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ۝٧ وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ

وَصَدَّقَ	بِالْحُسْنٰى	فَسَنُيَسِّرُهٗ	لِلْيُسْرٰى	وَاَمَّا مَنْ	بَخِلَ
او تصدیق یې وکړی	دښه خبرې	ژر ده چې تیار به یې کړو	دپاره د آسانۍ لارې	او هغه چا چې	بخیلي یې وکړه

او تصدیق یې وکړی دښه خبرې (دحق) نو ډیر ژر به روان کړو دی په آسانه لار. او هغه څوک چې بخیلي یې وکړه

وَاسْتَغْنٰى ۝٨ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى ۝١٠

وَاسْتَغْنٰى	وَكَذَّبَ	بِالْحُسْنٰى	فَسَنُيَسِّرُهٗ	لِلْعُسْرٰى
او بې پروا سو	او دروغ یې وګڼل	نیکه خبره	ژر ده چې تیار به یې کړو	دپاره د سختۍ لارې

اوبې پروا سو (دالله څخه). او دروغ یې وګڼل نیکه خبره (دحق خبره) نو ډیر ژر به روان کړو دی، سختۍ لارې ته

وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗۤ اِذَا تَرَدّٰى ۝١١ اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى ۝١٢

وَمَا يُغْنِيْ	عَنْهُ	مَالُهٗ	اِذَا	تَرَدّٰى	اِنَّ	عَلَيْنَا	لَلْهُدٰى
او نه به دفع وکړی	دده څخه	مال دده	هغه وخت چې	په کنده کښې ولویږی	بیشکه!	پرموږ ده	لاره د هدایت

او نه به خلاص کړی دی مال دده کله چې (هلاک سی) ولویږی په کنده کی. بیشکه! پرموږ ده لاره ښوول دهدایت

وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ۝١٣ فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ۝١٤

وَاِنَّ	لَنَا لَلْاٰخِرَةَ	وَالْاُوْلٰى	فَاَنْذَرْتُكُمْ	نَارًا	تَلَظّٰى
او بیشک!	موږلره دی آخرت	او دنیا	پس ما بیرولی یاست تاسو	داور څخه	چې لمبې به وهی

اوبیشکه! زموږ دی آخرت او دنیا. پس ما بیرولی یاست تاسی داور څخه چې لمبې وهونکی دی،

لَا يَصْلٰىهَاۤ اِلَّا الْاَشْقَى ۝١٥ الَّذِيْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۝١٦

لَا يَصْلٰىهَاۤ	اِلَّا	الْاَشْقَى	الَّذِيْ	كَذَّبَ	وَتَوَلّٰى
نه به ننوځی په دا (اور) کی	مګر هغه	ډیر بدبخته	هغه چې	دروغ ګڼی (حق)	او مخ یې ځینی ګرځولی وی

نه به ننوځی په دا اور کی مګر هغه (کافران) چې ډیر بدبخته دی، هغه چې دروغ ګڼی حق او مخ ځینی ګرځوی (دحق څخه).

وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ۝١٧ الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ۝١٨ وَمَا لِاَحَدٍ

وَسَيُجَنَّبُهَا	الْاَتْقَى	الَّذِيْ	يُؤْتِيْ	مَالَهٗ	يَتَزَكّٰى	وَمَا	لِاَحَدٍ
او لیری به وی د دا (اور څخه)	پرهیزګاره	هغه چې	ورکوی	مال خپل	چې دی پاک سی	او نسته	دهیچا

او لیری به وی د دا (اور څخه) متقیان هغه چې ورکوی به مال خپل، چې دی پاک سی او نسته دهیچا

(وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى)
په تفسیر خازن کښي راغلی دي، چي حضرت بلال رض دامیة ابن خلف کافر مریي وو اودده بادار یعني امیة به وبلال رض ته سخت عذابونه ورکول، ښه چي به د دوبي غرمه سوله نو دی به یې دکوره راوېستی او ستوني ستخ به یې دمکي په شګلن مانده کښي پرېږ ایښتی او بیا به یې یو غټه ګاره دده پر سینه ورکښېښوله او ورته وویل به یې چي یا دمحمد دین پرېږده یا به داسي تکلیفونه ګالې، لېکن بلال به په دغه وخت کښي داحد احد نارې وهلې او پر اسلام مضبوط ولاړ وو یوه ورځ ابوبکر صدیق رض راتېرېدی او بلال کفارو وهی نو صدیق وامیة کافر ته وویل: چي ته دالله څخه نه بېرېږې؟ ددغه مظلوم په باره کښي. امیة ورته وویل: چي دا تاسي دلاري اړولی دی، اوس یې نو خلاص کړه هغه وو چي ابوبکر صدیق دی رانیوی او بیا یې دالله په لاره کښي آزاد کړی او الله ج دده څخه پر دغه عمل داسي راضي سو چي په خپل کتاب کښي یې ذکر کړی دی.
(تفسیر الخازن ج۴ ص ۲۵۶)

عِنۡدَهٗ مِنۡ نِّعۡمَةٍ تُجۡزٰۤى ⑲ اِلَّا ابۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ

عِنۡدَهٗ	مِنۡ نِّعۡمَةٍ	تُجۡزٰۤى	اِلَّا ابۡتِغَآءَ	وَجۡهِ	رَبِّهِ
دده سره	هيڅ احسان	چې عوض يې وركړل سي	مګر حاصلول	درضاء منډی	درب خپل


پرده باندی هيڅ احسان (دنعمت) چې عوض (بدله) يی وركړی. مګر دپاره دحاصلولو درضاء منډی دخپل رب چې

الۡاَعۡلٰى ⑳ وَلَسَوۡفَ يَرۡضٰى ㉑

ع ١ ٢١ ١٧

الۡاَعۡلٰى	وَلَسَوۡفَ	يَرۡضٰى
چې لوی دی	او ډير ژر به	دی راضي سی

لوی دی. او ډیر ژر به (دخپل رب څخه) راضي سی.



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكی ذات دی

وَالضُّحٰى ① وَالَّيۡلِ اِذَا سَجٰى ② مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ③

وَالضُّحٰى	وَالَّيۡلِ	اِذَا سَجٰى	مَا وَدَّعَكَ	رَبُّكَ	وَمَا قَلٰى
قسم دی په څاښت	او په شپه	هغه وخت چې تياره سی	نه يئ پری ايښی ته	رب ستا	او نه يئ خفه كړی يئ ته

قسم دی دورځی په رڼا او په شپه كله چې راسی (تياره سی). نه يی پری ايښی ته رب ستا او نه يی ناراضه كړی يی (محمده!)

وَلَلۡاٰخِرَةُ خَيۡرٌ لَّكَ مِنَ الۡاُوۡلٰى ④ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيۡكَ

وَلَلۡاٰخِرَةُ	خَيۡرٌ لَّكَ	مِنَ الۡاُوۡلٰى	وَلَسَوۡفَ	يُعۡطِيۡكَ
او آخرت	بهتر دی تالره (محمده)	د دنيا څخه	او ژر ده چې	دربه كړی تاته (محمده)

او خامخا آخرت بهتر دی تالره (محمده!) د دنيا څخه. او ډير ژر ده چې دربه كړی تاته (ای محمده! لويه برخه په آخرت كښې)

رَبُّكَ فَتَرۡضٰى ⑤ اَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيۡمًا فَاٰوٰى ⑥

رَبُّكَ	فَتَرۡضٰى	اَلَمۡ يَجِدۡكَ	يَتِيۡمًا	فَاٰوٰى
رب ستا	پس راضي به سی ته	آيا نه وی پيدا كړی الله ته (محمده)	يتيم	بيا يئ ځای دركړی

رب ستا نو راضي به سی، آيا نه يی پيدا كړی الله ته (ای محمده!) يتيم بيا يی ځای (دپناه) دركړی،

دوالضحی دسورت شان نزول: ددغه سورت دنزول په هكله په بخاري او مسلم كښي دحضرت جندب ابن عبد الله رض څخه روايت راغلی دی چي يو واري د نبي كريم صلی الله عليه وسلم يوه ګوته مباركه زخمي سوله او دهغې څخه وينه روانه سوله نو ده مبارک وفرمايل (ان انت الا اصبع دميت ،،وفي سبيل الله مالقيت) يعني ته يوه ګوته يې چي ويني سوې، او كوم تكليف چي تاته ورسېدی هغه دالله ج د رضاء د پاره دی، څه غم نه دی پكار، حضرت جندب دغه واقعه ذكر كړه او بيا يې وفرمايل چي ددې واقعې څخه وروسته څو ورځې وحي وځنډېدې او جبرائيل را نه غلی، نو دمكې مشركينو طعنې وركول شروع كړې چي محمد (صلی الله عليه وسلم) دده رب پرېښووی، او رب يې ځني ناراضه دی ددغه په جواب كښي الله ج دغه سورت نازل كړی او تر قيامته پوري يې راتلونكو نسلونو ته داخبره په ډاګه كړه چي زه هيڅكله دخپل نبي څخه نه ناراضه كيږم او نه هم ناراضه سوی يم.
(معارف القرآن ج ١٠ صفحه ١٥٢)

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۝۷ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ۝۸

وَوَجَدَكَ	ضَآلًّا	فَهَدٰى	وَوَجَدَكَ	عَآئِلًا	فَاَغْنٰى
او پیداایئ کړی ته	چی نه پوهیدی	نو لاره یې درته وښودله (الله)	او پیداکړی یې وی ته	فقیر (مسکین)	پس غنی یئ کړی

اوپیدا یی کړی ته چی نه پوهیدی نودرته وی ښودله (الله تاته دشریعت لار) او پیدایی کړی ته فقیر بیایی غنی کړی

فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝۹ وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝۱۰


فَاَمَّا	الْيَتِيْمَ	فَلَا تَقْهَرْ	وَاَمَّا	السَّآئِلَ	فَلَا تَنْهَرْ
نو هرچی	یتیم دی	مه یئ رټه (قهر مه پرکوه)	او هرچی	سوالګر دی	نو مه یئ ترټه

نوپر یتیم سختی مه کوه او هغه څوک چی سوال کوی مه یی ترټه

وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝۱۱

وَاَمَّا	بِنِعْمَةِ	رَبِّكَ	فَحَدِّثْ
او هرچی	نعمت دی	ستا درب	بیا نو وایه

او بیا خپل درب نعمتونه بیانوه (خلقو ته)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝۱ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۝۲

اَلَمْ نَشْرَحْ	لَكَ	صَدْرَكَ	وَوَضَعْنَا	عَنْكَ	وِزْرَكَ
آیا نه ده پراخه کړی موږ	ستادپاره	سینه ستا	او کښته کړی موږ	ستا څخه	درونډ بار

آیا نه ده پراخه کړی موږ ستا دپاره سینه ستا (په نبوت سره) او لیری کړل موږ ستا څخه درونډ بار (ستا)

الَّذِیْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۝۳ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝۴ فَاِنَّ

الَّذِیْٓ	اَنْقَضَ	ظَهْرَكَ	وَرَفَعْنَا لَكَ	ذِكْرَكَ	فَاِنَّ
هغه چی	ماته کړی یئ وه	ملا ستا	او پورته کړی موږ ستادپاره	یاد ستا	نو په تحقیق سره

هغه چی کړه کړی یی وه ملا ستاء او لوړ کړی موږ ذکر ستا (په نبوت سره). نو په تحقیق سره

(فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝۷ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝۸)
یعني کله چي ته د حق د دعوت اوتبلیغ داحکامو څخه فارغ سې نودبل دعوت او تبلیغ دپاره کوښښ وکړه، لمونځ اودالله ج په ذکر اودعا او استغفار کښي مشغول اوسه، اکثره مفسرینو حضراتو ددې ایت همدا تفسیر کړیدی، خو ځینو حضراتویې نورتفسیرونه هم لیکلي دي، مګر ډیر نژدي هغه دی چي لوړ ذکر سو. ددې خلاصه داده چي ددعوت تبلیغ اوخدای ج مخلوق ته لاره ورښوول، دا دنبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دټولو څخه لوی عبادت وو. داعبادت دپاره د مخلوق دی چي دوی و سمی لاري یعنی داصلاح لاري ته پاملرنه او دالله ج عبادت وکړي او قرآن شریف ټول احکام پر خپل ځان عملي کړي، دایت مقصود هم دادی چي صرف په دې عبادت باندي ته قناعت مه کوه بلکي کله چي وتاته فرصت پیدا کیږي نو په خلوت کي دحق تعالی ج طرفته متوجه کیږه، دهغه څخه په هر کار کي دکامیابي دعاء کوه ځکه چي دکوم مقصد لپاره چي انسان پیدا سوی دی، هغه ذکر د الله ج اوعبادت بلا واسطه دی.
(معارف القران ج۱۰ ص ۱۴۸)

ع ۱
۱۸

مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۞ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۞ فَاِذَا فَرَغْتَ

مَعَ الْعُسْرِ	يُسْرًا	اِنَّ	مَعَ الْعُسْرِ	يُسْرًا	فَاِذَا	فَرَغْتَ
سته دسختي سره	آساني	بيشكه!	سته دسختي سره	آساني	نو كله چې	فارغ سې ته

سته دسختي ورو سته اسانتيا، بيشكه سته دسختي ورو سته اسانتيا، نو كله چې فارغ سې (اې محمده!)

فَانْصَبْ ۞ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۞

فَانْصَبْ	وَاِلٰى	رَبِّكَ	فَارْغَبْ
نو كوښښ كوه (په عبادت سره)	او وطرف ته	درب خپل	رغبت كوه

پس ځان ستړى كوه (په عبادت سره) او وطرف ته درب خپل متوجه سه.

ع ۱۹

اٰياتونه ۸ | ۹۵ سُوْرَةُ التِّيْنِ مَكِّيَّةٌ ۲۸ | ركوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع كوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم كوونكى ذات دى

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۞ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۞ وَهٰذَا الْبَلَدِ

وَالتِّيْنِ	وَالزَّيْتُوْنِ	وَطُوْرِ	سِيْنِيْنَ	وَهٰذَا	الْبَلَدِ
قسم دى په انځر	او (قسم دى) په زيتون باندى	او (قسم دى) په طور	سينين باندى	او په دى	ښار

قسم دى په انځر او په زيتون باندى او (قسم دى) په طور سينين (چې ديو غره نوم دى) او (قسم دى) په دى ښار (مكه) باندى

الْاَمِيْنِ ۞ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۞ ثُمَّ

الْاَمِيْنِ	لَقَدْ	خَلَقْنَا	الْاِنْسَانَ	فِيْٓ اَحْسَنِ	تَقْوِيْمٍ	ثُمَّ
چې امان وركوونكى دى	په تحقيق سره	پيدا كړى دى موږ	انسان	په ډير ښه	صورت كښى	بيا

چې امان وركوونكى دى، بيشكه! پيدا كړى دى موږ انسان (بنى آدم) په ډير ښه ترتيب (خلقت، جوړښت) سره، بيا

رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۞ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

رَدَدْنٰهُ	اَسْفَلَ	سٰفِلِيْنَ	اِلَّا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا
وګرځاوه موږ هغه	ډير كښته	تركښتو	مګر	هغه كسان	چې ايمان يې راوړى	او عمل يې كړى وى

وګرځاوه موږ هغه (انسان) كښته تركښتو. مګر هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى. او عمل يې كړى وى

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ

:دانساني حسن يوه عجبه واقعه: قرطبي دلته نقل كړى دي چې عيسي بن موسى هاشمي چې دخليفه ابو جعفر منصور ددربار دمخصوصو خلګو څخه وو اودخپلې ښځې سره يې ډير محبت ساتى يوه ورځ دسپوږمۍ په شپه كې دښځې سره ناست وو ويې ويل: پرتادې درې طلاقه وي كه ته دسپوږمۍ څخه زياته ښايسته نه يې، ددې وينا سره ښځه ولاړه سوه اوپه پرده كې سوه چې تاخوماته طلاق راكړى، خبره په خندا او توكو كې وه مګر دطلاق داحكم دى، چې په هر شان سره چې ښځې ته په صريحې الفاظو طلاق وويل سي نوطلاق واقع كيږي كه څه هم په خندا اوتوكو كې وويل سي.عيسي بن موسي شپه ډيره په بې ارامى، رنځ اوغم كښې تېره كړه، نو سهار د وخت خليفه ابوجعفر منصور په خدمت كې حاضر سو، او خپله قصه يې ورته وكړل اودخپلې پريشانى اظهاريې وكړى، منصور دښار فقهاء اومفتيان راټول كړل او پوښتنه يې ځينې وكړه، تولو په يوځاى جواب وركړ، چې طلاقه سوېده ځكه چې دسپوږمۍ څخه دزيات ښايسته كېدو ديوه انسان دپاره امكان نسته مګر يو عالم چې دامام ابوحنيفه دشاګردانو څخه وو خاموش ناست وو، پوښتنه ځينې وسوه چې ته ولې خاموش يې. ده وويل چې نده طلاقه اوپه دليل كې دغه ايات پيش كى. (معارف القران ج۱۰ ص ۱۵۳)

ع٨ ٢٠

الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٦﴾ فَمَا يُكَذِّبُكَ


الصّٰلِحٰتِ	فَلَهُمْ	اَجْرٌ	غَيْرُ مَمْنُوْنٍ	فَمَا	يُكَذِّبُكَ
دنيکو (ښه)	نو وي به دوی ته	اجر (ثواب)	نه ختميدونکی	پس څه شی	درواغجن کوی تا

نيک (ښه، صالح) ، پس د دوی دپاره اجر (ثواب) دی بی انتها (نه ختميدونکی)، پس څه سبب دی چې درواغ بولې

بَعْدُ بِالدِّيْنِ ﴿٧﴾ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨﴾

بَعْدُ	بِالدِّيْنِ	اَلَيْسَ	اللّٰهُ	بِاَحْكَمِ	الْحٰكِمِيْنَ
وروسته تردغه	په ورځ د جزاء (قيامت)	آيا نه دی	الله	ډيرلوی حاکم	دټولو حاکمانو

وروسته (ددی واضح دليلو څخه) ورځ دجزاء (قيامت). آيا نه دی الله ډيرلوی (او ښه) حاکم پر ټولو حاکمانو باندی.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ

اِقْرَاْ	بِاسْمِ	رَبِّكَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	خَلَقَ	الْاِنْسَانَ
ووايه (محمده)	په نامه	درب ستا	هغه (ذات)	چې پيدا کړی يئ دی	پيدا کړی يئ دی	انسان

ووايه (ای محمده!) په نامه درب ستا هغه رب چې پيدا کړی يې دی (مخلوقات)، پيدا يې کړی انسان

مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ﴿٣﴾ الَّذِيْ

مِنْ عَلَقٍ	اِقْرَاْ	وَرَبُّكَ	الْاَكْرَمُ	الَّذِيْ
د ترل سوو وينو څخه	ووايه	او رب ستا	ډيرلوی کريم دی	هغه (ذات)

د (ترل سوو) وينو دټوټو څخه، ووايه حال دا چې رب ستا ډيرلوی کريم دی، هغه رب

عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾

عَلَّمَ	بِالْقَلَمِ	عَلَّمَ	الْاِنْسَانَ	مَالَمْ	يَعْلَمْ
چې ښوولی يئ دی (علم)	په قلم سره	ښوولی يئ دی	انسان ته	هغه څه	چې نه په پوهيدی دی

چې ښوولی يې دی (علم) په قلم سره، ښوولی يې دی انسان ته هغه څه چې دی نه پرې پوهيدی.

دوحـي ابتـداء او اولنـی وحـي: پـه صحيحينو اونورو معتبرو روايتونـو سـره ثابتـه او دجمهـورو سـلفو پـردي اجمـاع اواتفـاق دی چـي دوحي ابتداء دسورة علق يعني اقراء څخه سوېده، اوددي سـورة ابتـدايي پنځه اياتونه تر:مالم يعلم پوري دټولو څخه اول نازل سوه، ځينو حضراتو سورة مدثر اولنـئ سورة مقرر کـړی دی اوځينـو بيـا سورت فاتحه. امام بغوي فرمـايي چـي دجمهـورو سلفواوخلفو په نزد صحيح داده چي دټولو څخه اولني دسورة اقراء ابتدايي پنځه اياتونه نازل سوي دي (دا روايتونه دابن عباس رض زهـري عمـروبن دينـار رض څخـه نقـل دی (درمنثـور) اوکومو حضراتو چي سورة مـدثر اولنـی سـورة مقررکـړی دی دهغـه وجـه داده چـي د اقـراء دپنځـو ايـاتونو دنازيلېدو څخـه وروسته دقرآن په نزول کي تريوې مودې پوري توقف راغلی، چي هغـه ته زمانه فترت ويـل کيـږي اودوحي په تاخير اوتوقف سره نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) تـه ډيـر غـم اوخفگـان پـيښ سـو، ددغـه څخه وروسته بيا ناڅاپه حضرت جبرائيل امـين مـخ تـه راغلـی او دسـورة مـدثر ايتونـه نـازل سـول. (تفسـير مظهـري) (معارف القران ج ١٠ ص ١٥٩)

كَلَّآ اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَيَطۡغٰٓى ۙ⑥ اَنۡ رَّاٰهُ اسۡتَغۡنٰى ؕ⑦ اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ

كَلَّآ	اِنَّ	الۡاِنۡسَا	لَيَطۡغٰٓى	اَنۡ رَّاٰهُ	اسۡتَغۡنٰى	اِنَّ	اِلٰى	رَبِّكَ
ربنتیا ده	بیشکه!	انسان	سرکښی کوی	ددی دپاره چی وینی خپل ځان دی	بی پرواء	بیشکه!	وطرفته د	رب ستا

ربنتیا ده داخبره بیشکه انسان سرکښی کوی د دی په خاطر چی وینی خپل ځان (بولی) بی پرواء، بیشکه! وطرف ته د رب ستا

الرُّجۡعٰى ؕ⑧ اَرَءَيۡتَ الَّذِىۡ يَنۡهٰى ۙ⑨ عَبۡدًا اِذَا صَلّٰى ؕ⑩

الرُّجۡعٰى	اَرَءَيۡتَ	الَّذِىۡ	يَنۡهٰى	عَبۡدًا	اِذَا	صَلّٰى
بیرته تګ دی	آیا تا ولیدی	هغه کس	چی منع کوی	بنده	هغه وخت چی	هغه لمونځ کوی

(ای انسانه) بیرته تګ (ورتلل) دی، آیا تا ولیدی هغه کس چی منع کوی بنده (محمد) هغه وخت چی لمونځ کوی

اَرَءَيۡتَ اِنۡ كَانَ عَلَى الۡهُدٰٓى ۙ⑪ اَوۡ اَمَرَ بِالتَّقۡوٰى ؕ⑫ اَرَءَيۡتَ

اَرَءَيۡتَ	اِنۡ	كَانَ عَلَى الۡهُدٰٓى	اَوۡ اَمَرَ	بِالتَّقۡوٰى	اَرَءَيۡتَ
آیا تا ولیدی	که چیری	وی پر هدایت باندی (دابنده)	او حکم ورکوی	د پرهیزګاری	آیا تا ولیدی

آیا تا ولیدی که چیری (دابنده) پر هدایت باندی وی او حکم ورکوی د پرهیزګاری، آیا تا ولیدی دا (منع کوونکی)

اِنۡ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ؕ⑬ اَلَمۡ يَعۡلَمۡ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ؕ⑭

اِنۡ كَذَّبَ	وَتَوَلّٰى	اَلَمۡ يَعۡلَمۡ	بِاَنَّ	اللّٰهَ	يَرٰى
که چیری درواغ بولی	او مخ یې وګرځاوه	آیا نه پوهیږی دی	په دی چی بیشکه!	الله	وینی

چی درواغ بولی (رسول الله) او مخ ګرځوی (دایمانه څخه)، آیا نه پوهیږی دا (کافران) په دی چی بیشکه الله وینی.

كَلَّا لَئِنۡ لَّمۡ يَنۡتَهِ ۙ لَنَسۡفَعًۢا بِالنَّاصِيَةِ ۙ⑮ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ

كَلَّا	لَئِنۡ لَّمۡ يَنۡتَهِ	لَنَسۡفَعًا	بِالنَّاصِيَةِ	نَاصِيَةٍ	كَاذِبَةٍ
داسی نه ده	که چیری نه سو منع دی	نو موږ به یې راکاږو سخت	په وریښتو دتندی سره	داسی تندی	چی درواغجن

داسی نه ده که چیری منع نه سو (دبد عمله څخه) نو موږ به یې خامخا راکاږو دتندی په وریښتو باندی، هغه تندی چی دروغجن

خَاطِئَةٍ ؕ⑯ فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهٗ ۙ⑰ سَنَدۡعُ الزَّبَانِيَةَ ۙ⑱

خَاطِئَةٍ	فَلۡيَدۡعُ	نَادِيَهٗ	سَنَدۡعُ	الزَّبَانِيَةَ
خطاکار دی	پس را دی وغواړی	دخپل مجلس خلک	ژر ده چی موږ به هم راوبولو	ملائیکی دعذاب

خطاکار دی، پس را دی وغواړی دخپل مجلس (اهل) خلک ژر ده چی موږ به هم را وبولو ملائیکی سختی دعذاب.

كَلَّآ اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَيَطۡغٰٓى ⑥ اَنۡ رَّاٰهُ اسۡتَغۡنٰى.. دابوجهل مذمت په دغه ذکر سوي ایت کي. ددې آیت رویي سخن که څه هم دیو خاص سړي یعني ابوجهل طرف ته دی کم چي دنبي کریم ﷺ په شان کي بې عزتي او ګستاخي کړې وه مګر عنوان یي عام اېښی دی او په کم کي چي یي دعامو انسانانو دیوې کمزوری بیان وکی هغه دادی چي انسان ترڅو پوري چي دنورو محتاج وي نو سم چلېږي او کله چي دده دا ګمان راسي چي زه دچا محتاج نه یم دټولو څخه بې نیازه یم نو دده په نفس کي سرکښي او پر نورو باندي دظلم او زیاتي رجحانات راپیدا سي لکه چي عموما په مالدارو او په اقتدار کي دحکومت والاوو او اولاداو احبابو او خادمانو لرونکو کي ددې مشاهده کیدای سي چي دی دخپل مالداری او ډلي په طاقت کي مست سي څوک په نظر کي رانه ولي چونکي دابوجهل هم دغه حال وو چي دټوله مکې په خوشحاله خلګو کي وو او غرور تر دې اندازې ورساوه چي دنبي کریم ﷺ په شان کي به یي بې عزتي کوله الخ.
معارف القرآن ج ١٠ پ٣٠ ص ١٦٧

كَلَّا ۚ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۩ ﴿١٩﴾

كَلَّا	لَا تُطِعْهُ	وَاسْجُدْ	وَاقْتَرِبْ
داسی نه ده	مه منه وینا (فرمان) دده	او سجده کوه	او نژدی سه (الله ته)

داسی نه ده، مه منه وینا دده او سجده کوه او نژدی سه (الله ته په طاعت سره).

آیاتونه ۵ — ۹۷ سُوْرَةُ الْقَدْرِ مَكِّيَّةٌ ۲۵ — رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾

إِنَّا	أَنْزَلْنَاهُ	فِي لَيْلَةِ	الْقَدْرِ	وَمَا أَدْرَاكَ	مَا لَيْلَةُ	الْقَدْرِ
بیشکه موږ	نازل کړی دی (قرآن)	په شپه	دقدر	او څه شی خبر کړی یې ته	چی څه شی ده شپه	دقدر

بیشکه موږ نازل کړی دی (ټول قرآن) په شپه دقدر، او تا ته څه معلومه ده (ای محمده!) چی څه شی ده شپه دقدر.

لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ

لَيْلَةُ	الْقَدْرِ	خَيْرٌ	مِّنْ أَلْفِ	شَهْرٍ	تَنَزَّلُ	الْمَلَائِكَةُ
شپه	دقدر	غوره ده	دزرو (۱۰۰۰)	میاشتو څخه	نازلیږی	ملائیکی

شپه د قدر غوره (بهتره) ده د زرو (۱۰۰۰) میاشتو څخه. نازلیږی ملائیکی

وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم ۚ مِّن كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾ سَلَامٌ

وَالرُّوحُ	فِيهَا	بِإِذْنِ	رَبِّهِم	مِّن كُلِّ	أَمْرٍ	سَلَامٌ
او روح (جبرئیل)	په دا (شپه)	په حکم	درب خپل	دپاره دهر	کار	سلامتیا ده

او روح (جبرئیل) په دغه (شپه) په حکم(امر) درب خپل، دپاره دهر کار (ټاکل سوی). سلامتیا ده (دهر طرف څخه)

هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾

هِيَ	حَتَّىٰ	مَطْلَعِ	الْفَجْرِ
دغه (شپه)	تروخته	دختلو	دسهار

په دغه شپه تر هغه وخته چی (سپیدی) راخیږی.

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ

ابن ابي حاتم دمجاهد څخه روایت کړی دی چه نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دبني اسرائیلو دیو مجاهد حال ذکر کړی، چي تر زرو میاشتو پوري مسلسل په جهاد کي مشغول وو، هیڅکله یې وسله نه وه ایښي مسلمانانو چي دا واوریدل نو په تعجب کي سول په دې وخت کي سورة قدر نازل سو، چي ددې امت دپاره صرف دیوې شپې عبادت د دغه مجاهد دټول عمر دعبادت یعني زرو میاشتو څخه ښه مقرر سو، او ابن جریر په روایت دمجاهد یوه بله واقعه دا ذکر کړیده چي په بني اسرائیلو کي دیوه عابد دا حال وو چي ټوله شپه به په عبادت کي مشغول وو، او دسهار کیدو سره به جهاد ته وتئ ټوله ورځ به په جهاد کي مشغول وو، زرمیاشتي همدغه دول ده په عبادت کي مسلسل تیري کړلي نو مسلمانان په تعجب سول، په همدي وخت کښي الله ج سورة قدر نازل کړی، او دې امت فضیلت یې پر ټولو ثابت وفرمایه. ددې څخه دا هم معلومیږي چي شب قدر دامت محمدي دخصوصیاتو څخه ده. (تفسیر مظهري) الله پاک دي موږ او تاسو ته ددغه شپي دقدر توفیق رانصیب کړي.

(معارف القرآن ج ۱۰ ص ۱۷۱)

آیاتونه ۸ | ۹۸ سُورَةُ الْبَيِّنَةِ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۰ | رکوعي ۱

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

لَمۡ يَكُنِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ وَالۡمُشۡرِكِيۡنَ

لَمۡ يَكُنِ	الَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	مِنۡ اَهۡلِ	الۡكِتٰبِ	وَالۡمُشۡرِكِيۡنَ
نه وو	هغه کسان	چې کافران سوی دی	د اهل	د کتابو څخه	او د مشرکانو څخه

نه وو هغه کسان چې کافران سوی دی د اهل کتاب څخه او له مشرکانو څخه

مُنۡفَكِّيۡنَ حَتّٰى تَاۡتِيَهُمُ الۡبَيِّنَةُ ۝۱ رَسُوۡلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتۡلُوۡا

مُنۡفَكِّيۡنَ	حَتّٰى	تَاۡتِيَهُمُ	الۡبَيِّنَةُ	رَسُوۡلٌ	مِّنَ اللّٰهِ	يَتۡلُوۡا
جلاکیدونکی	ترهغه پوری	چې راغلی دوی ته	ښکاره دلیل	چې رسول دی	د طرفه د الله	چې وایی

جلا کیدونکی د خپل باطل دین څخه تر هغه پوری چې راغلی دوی ته ښکاره دلیل، چې رسول دی د طرفه د الله چې وایی درته

صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝۲ فِيۡهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ۝۳ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيۡنَ

صُحُفًا	مُّطَهَّرَةً	فِيۡهَا	كُتُبٌ	قَيِّمَةٌ	وَمَا تَفَرَّقَ	الَّذِيۡنَ
صحیفی	پاکی	په هغوی کښی	لیکل سوی دی	سم احکام	او نه وه جلا سوی	هغه کسان

(دغه رسول) صحیفی پاکی، چې په هغه کښی لیکل سوی دی سم احکام، او نه وه جلا سوی هغه کسان

اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنَةُ ۝۴ وَمَاۤ اُمِرُوۡۤا

اُوۡتُوا	الۡكِتٰبَ	اِلَّا	مِنۡۢ بَعۡدِ مَا	جَآءَتۡهُمُ	الۡبَيِّنَةُ	وَمَاۤ اُمِرُوۡۤا
چې ورکول سوی وو	کتاب	مګر	پس له هغه چې	راغلی دوی ته	ښکاره دلیل	او نه وو حکم سوی دوی ته

چې ورکول سوی وو دوی ته کتاب مګر وروسته د هغه څخه چې راغلی دوی ته ښکاره دلیل او نه وو حکم سوی دوی ته

اِلَّا لِيَعۡبُدُوا اللّٰهَ مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۙ حُنَفَآءَ

اِلَّا	لِيَعۡبُدُوا	اللّٰهَ	مُخۡلِصِيۡنَ	لَهُ	الدِّيۡنَ	حُنَفَآءَ
مګر	داچې عبادت دی کوی	د الله	خالص کوونکی وی	الله لره	دین د هغه	راګرځیدونکی وی

مګر داچې عبادت کوی د الله په خاصه (خالص) توګه د (الله) دپاره د هغه دین، راګرځیدونکی (د شرکه او نفاقه)

يَتۡلُوۡا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝۲ فِيۡهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ۝۳

دا ایت مطلب دادی چې دهغې زماني د مشرکانو او اهل کتابو ګمراهي دې درجې ته رسیدلې وه چې دهغوی دخپلو باطلو عقیدو څخه بیرته راګرځول د اسلام طرف ته ممکن نه وه، ترهغه پوري چې دوی ته د الله ج له طرفه ښکاره نښاني او واضح حجت نه وايي راغلی. په دي خاطر الله ج دهغوی لپاره خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) واضح حجت جوړ او راوي لیږي. اودا رسول به هغوی ته (مشرکانو ته) پاکي صحیفي اورولي، لیکن دوي بدبختانو دضد او تعصب څخه کار واخیستي دد دغه نبي مخالفت یې وکړی، حال دا چې دوي ښه په تحقیق سره پیژندل چې دا هغه نبي آخرزمان دی، مراد دادی چې دوحي خداوندي هغه احکام یې اورول کوم چې وروسته دصحیفو په ذریعه محفوظ سول. څکه چې په ابتداء دتلاوت کي نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دصحیفي څخه نه بلکي دخپلو یادسوي څخه به یې ویل او او په دوي به یې اورول اودا پاکي صحیفي داسي دي کوم چې داسي الهي احکام پکښي کي دی چې په عدل او اعتدال سره ورکول سوي دي اوهمیشه قایم پاته کیدونکي دي. (معارف القران ج ۱۰ ص ۱۷۷)

وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾

وَيُقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ	وَيُؤْتُوا	الزَّكٰوةَ	وَذٰلِكَ	دِيْنُ	الْقَيِّمَةِ
او قايموي دي	لمونځ	او وركوي دي	زكوة	او دا دي	دين	قايم (مضبوط)

او چي قايمويي لمونځ او چي وركوي زكوة او دا دي دين (دالله) قايم (مضبوط).

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ فِيْ نَارِ

اِنَّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْ اَهْلِ	الْكِتٰبِ	وَالْمُشْرِكِيْنَ	فِيْ نَارِ
بيشكه!	هغه كسان	چي كافران سول	د اهل	كتابو څخه	او دمشركينو څخه	په اور

بيشكه هغه كسان چي كافران سوه د اهل كتابو څخه او (دا) مشركين به وي په اور

جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۗ اُولٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

جَهَنَّمَ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	اُولٰٓئِكَ	هُمْ شَرُّ	الْبَرِيَّةِ	اِنَّ	الَّذِيْنَ
د دوږخ كي	تل به وي دوى	په هغه (دوږخ) كي	دا خلګ	هم دوى دي بدتر	د مخلوق	بيشكه	هغه كسان

د دوږخ كي، تل به وي دوى په هغه (دوږخ) كي، دا خلګ هم دوى دي بد تر د مخلوق. بيشكه! هغه كسان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾

اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	اُولٰٓئِكَ	هُمْ خَيْرُ	الْبَرِيَّةِ
چي ايمان يئ راوړى دى	او كړي يئ وى عملونه	نيک (صالح)	دا خلګ	هم دوى دي ډير ښه	دمخلوق

چي ايمان لري او كړي يي وى نيک عمل (په دنيا كښي) دا خلګ هم دوى دي ډير ښه دمخلوق.

جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

جَزَآؤُهُمْ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	جَنّٰتُ	عَدْنٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا
بدله (اجر) د دوى	په نزد	د رب د دوى	جنتونه دي	دتل لپاره داوسيدلو	بهيږي به	دهغه لاندي

جزاء (عوض) د دوى په نزد د رب د دوى جنتونه (باغونه) وى. دهميشه او سيدو دپاره، بهيږي به دهغه لا ندى

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۗ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	اَبَدًا	رَضِيَ	اللّٰهُ	عَنْهُمْ
ويالي (نهر)	تل به وى دوى	په هغه كښي	د تل لپاره	راضي به وى	الله	د دوى څخه

نهر (ويالي څلور قسمه) هميشه به وى دوى په هغه كښي، هميشه به راضي وى الله د دوى څخه

(رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ): په دي ايت كي دجنتيانو دپاره د ټولو څخه دلوي نعمت ذكر دى، چي الله ج د دوي څخه راضي دى اوس دناراضتيا هيڅ نسته. دحضرت ابو سعيد خدري رض څخه روايت دى چه نبي كريم (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي چي الله ج به جنتيانو ته وفرمايي، ياأهل الجنة، نو جنتيان به جواب وركي: لبيك ربنا وسعديك والخير كله في يديك، يعني اې زموږ ربه! موږ حاضر يو اودحكم منلو دپاره اماده يو، اوهرخير ستاپه لاس كي دى. بيابه الله ج وفرمايي، هل رضيتم، يعني تاسي راضي اوخوشحاله ياست، هغوي به جواب وركي اې زموږ پروردګاره! اوس هم دنه راضي كيدو څه احتمال دى كله چي تاموږته هرهغه څه راكړل چي چا مخلوق ته نه دي وركړي، الله ج به وفرمايي چي ايا زه تاسي ته ددې څخه هم افضل اوبهتر نعمت دركم، بيابه وفرمايي چي ماخپله رضاء پرتاسي نازله كړه اوس به هيڅكله زه ستاسي څخه ناراضه نه سم. (بخري او مسلم، مظهري) (معارف القران ج ١٠ ص ١٨٠)

ع ۸/۲۳

وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ۝۸

وَرَضُوْا	عَنْهُ	ذٰلِكَ	لِمَنْ	خَشِيَ	رَبَّهٗ
او راضي به وي دوی	دهغه څخه (الله)	دا (درجه)	دهغه چا دپاره ده	چي بيريږي	دخپل رب څخه

او راضي به وي دوی دالله څخه. دا (وعده،درجه) دهغه چا دپاره ده چي بيريږي دخپل رب څخه.

آیاتونه ۸ | ۹۹ سُوْرَةُ الزِّلْزَالِ مَدَنِيَّةٌ ۹۳ | رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝۱ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ۝۲

اِذَا	زُلْزِلَتِ	الْاَرْضُ	زِلْزَالَهَا	وَاَخْرَجَتِ	الْاَرْضُ	اَثْقَالَهَا
هغه وخت	چي وښورول سی	مځکه	په ښورولو د دی سره	او د باندی راوباسی	مځکه	درانه شيان دخپل مينځ څخه

کله چي وښورول سی مځکه په ښو رولو سره او د باندی راوباسی مځکه درانه شيان دخپل منځ څخه

وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ۝۳ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ۝۴

وَقَالَ	الْاِنْسَانُ	مَا لَهَا	يَوْمَئِذٍ	تُحَدِّثُ	اَخْبَارَهَا
او وبه وايئ	انسان	چي څه سوي دي په دي	په دغه ورځ به	بيان کړي (دا مځکه)	خبر (حالات) خپل

او وبه وايي انسان چي څه سوي دی په دی (مځکی). په دغی ورځی کښی به بيان کړی دا مځکه حالات خپل (خير او شر).

بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ۝۵ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ

بِاَنَّ	رَبَّكَ	اَوْحٰى لَهَا	يَوْمَئِذٍ	يَّصْدُرُ	النَّاسُ
ځکه چي	رب ستا	وحی وکړی (امر) ودی ته (مځکه)	په دغه ورځ به	وګرځی	خلک

ځکه چي رب ستا امر وکړی ودی ته (مځکی ته). په دغه ورځ به راووځی خلک (دقبرونو څخه)

اَشْتَاتًا ۬ لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ۝۶ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

اَشْتَاتًا	لِّيُرَوْا	اَعْمَالَهُمْ	فَمَنْ يَّعْمَلْ	مِثْقَالَ	ذَرَّةٍ
ډلی ډلی	چي وښودل سی دوی ته	عملونه ددوی	نو پس هغه څوک چي عمل وکړی	په اندازه	ديو ی ذری

ډلی ډلی، (دپاره ددی) چي وښودل سی دوی ته عملونه د دوی. نو پس څوک چي عمل وکړی په اندازه د يو ی ذری

اِذَا زُلْــزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْـزَالَـهَا. پـه دې کـي اخـتلاف دی چـي پـه دې ايـت کـي دکمـي زلزلـې ذکـردی. دا هغـه زلزلـه ده کومه چي به داولي شپيلئ څخه مخکي پـه دنيا کي وې چـي پـه د قيامـت پـه نښـانيانو کـي ددې ذکـر راغلـي دی، ياددې زلزلې څخه مراد دوهمه شپيلئ ده، کلـه چـي مـړي بيـا ژونـدي سـي او دځمکـې څخه راپورتـه سي، دهغه وخت زلزله ده؟. دمفسرينو روايتونه اواقوال مختلف دی، اوپـه دې کـي هـم ليريوالی نسته چي زلزلې مختلفي وي، يعني ډيري بـه وي يـوه داولـي شـپيلئ څخه مخكي، بله ددوهمي څخـه وروسـته دمـړو دژونـدي کېـدو پـه وخـت کي، اودلته دادوهمه زلزله مراد ده، اوپـه سورت کي چـي مـخ تـه دقيامـت دحساب کتاب احوال ذکر دی هغه قرينه د دې ده. چي دازلزلـه د دوهمـي شـپيلئ څخـه وروسـته ده. والله اعلـم (تفسـير مظهري).


وَ اَخْــرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا: نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) ددې زلزلي پـه حقلـه ارشـاد وفرمايـه: چي مځکه به دخپل ځګر ټـوټې دسـرو زرو دلويـو لويو غرونو اودغونډيو پـه شـان را د بانـدي کـړي. (معارف القران ج۱۰ ص ۱۸۲)

١ ع ٨ ٢٣

خَيْرًا يَّرَهٗ ۝٧ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝٨

خَيْرًا يَّرَهٗ	وَمَنْ يَّعْمَلْ	مِثْقَالَ	ذَرَّةٍ	شَرًّا يَّرَهٗ
دنیکی نو به وینی هغه	او هغه څوک چي عمل وکړی	په اندازه	د يوی ذری	د بدئ نو هغه به ووینی دی

دنیکئ نو وبه وینی (جزاء دهغه) او څوک چي عمل وکړی په اندازه د يوی ذری دبدئ نو وبه وینی (سزاء) دهغه دی.



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ۝٢

وَالْعٰدِيٰتِ	ضَبْحًا	فَالْمُوْرِيٰتِ	قَدْحًا
قسم دی په ځغليدونکو اسانو	چي آواز ايستونکی دی	قسم دی په اسونو ايستونکو د اور	په نوکانو جنګولو د تيږو سره

قسم دی په اسانو ځغليدونکو چي شيشنئ کوی، او په اسونو ايستونکو د اور چي نوکان جنګوی د تيږو سره،

فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا ۝٣ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝٤ فَوَسَطْنَ

فَالْمُغِيْرٰتِ	صُبْحًا	فَاَثَرْنَ	بِهٖ	نَقْعًا	فَوَسَطْنَ
بيا په حمله کوونکو	دسهار په وخت	پس پورته کوی	په دا (دنوکانو په وهلو سره)	ګرد	نو بيا ننوځی دغه (اسونه)

(او قسم دی) په حمله کوونکو د سهار په وخت، پس پورته کوی (دغه آسونه) په ځغستا سره ګرد، نو بيا ننوځی دغه (اسونه)

بِهٖ جَمْعًا ۝٥ اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۝٦ وَاِنَّهٗ

بِهٖ	جَمْعًا	اِنَّ	الْاِنْسَانَ	لِرَبِّهٖ	لَكَنُوْدٌ	وَاِنَّهٗ
هغه وخت	په مينځ د ټولی کښی	بيشکه!	انسان	خپل رب لره	ناشکره دی	او بيشکه! دا (انسان)

په منځ د (دښمن) د ټولئ کښی بيشکه !انسان (کافر) له رب خپل خامخا منکر ناشکره (دنعمتو) دی، او بيشکه دا (انسان)

عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۝٧ وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ۝٨

عَلٰى	ذٰلِكَ	لَشَهِيْدٌ	وَاِنَّهٗ	لِحُبِّ	الْخَيْرِ	لَشَدِيْدٌ
پر	دی (ناشکری)	ګواه (شاهد) دی	او بيشکه! دا (انسان)	په محبت کښی	دمال	ډير سخت دی

په دی ناشکری خپله شاهد دی، او بيشکه دا (انسان) په محبت کښی دمال ډير سخت (مبتلا) دی.

دوالعديت د سورت په اړه بيان: په دې سورت کښي الله ج دجنګي اسانو دځينو خاصو حالاتو او صفتونو ذکر فرمايلی دی، او قسم يې په اخيستی او دا ارشاديږي فرمايلی دی چي انسان دخپل رب لوي ناشکره دی داخبره خو په قران کريم کي په بار بار معلومه ذکر سويده، چي حق تعالي ج په خپل مخلوقاتو کي په مختلفو شيانو قسم اخلي او خاص واقعات او احکام بيانوي، دادحق تعالی ج خصوصيت دی. خو د انسان دپاره په يو مخلوق قسم اخيستل جايز نه دی او دقسم اخيستو مقصد دعامو قسمونو په شان دخپلي خبري حقوالی او يقيني والی ښوول دي، او دا خبره هم مخکي راغلې ده چي قران کريم په څه شي قسم اخلي او څه مضمون بيان فرمايي نو هغه شئ دهغه مضمون په ثبوت کي داخل وي او هغه شي ګواکي دهغه مضمون شاهدي ورکوي. دلته دجنګي اسونو د سختو خدمتونو ذکر ددې خبري په شهادت کي راوړل سوی دی، چي انسان لوی ناشکره دی لږ خو دي آس ته وګوري چي دخپل مجازي مالک څومره امر مني.
(معارف القرآن ج١٠ ص ١٨٥)

اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ ⑨ وَحُصِّلَ


وَحُصِّلَ	فِي الْقُبُوْرِ	مَا	بُعْثِرَ	اِذَا	اَفَلَا يَعْلَمُ
او ښکاره کړل سی	چی په قبرو کښی دی	هغه څه	چی راپورته کړی سی	هغه وخت	آیا دی نه پوهیږی

آیا دی نه پوهیږی کله چی راووځی هغه څه چی په قبرو کښی دی (مړي) او ښکاره کړل سی


مَا فِي الصُّدُوْرِ ⑩ اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ⑪

لَّخَبِيْرٌ	يَوْمَئِذٍ	بِهِمْ	رَبَّهُمْ	اِنَّ	فِي الصُّدُوْرِ	مَا
ښه خبر دی	په دغه ورځ	په دوی باندی	رب د دوی	بیشکه!	چی په سینو کښی وی	هغه څه

هغه څه چی په سینو کښی د دوی وی، بیشکه! رب د دوی په دوی باندی په دغی ورځی ښه پوه (خبر) دی .



أياتونه ۱۱ ۱۰۱ سُوْرَةُ الْقَارِعَةِ مَكِّيَّةٌ ۳۰ رکوعي ۱



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلْقَارِعَةُ ① مَا الْقَارِعَةُ ② وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ③

مَا الْقَارِعَةُ	وَمَآ اَدْرٰىكَ	مَا الْقَارِعَةُ	اَلْقَارِعَةُ
چی څه دی هغه ټکوونکی	او څه شی خبر کړی یئ ته	چی څه دی هغه ټکوونکی	هغه ټکوونکی

هغه ټکوونکی (د زړونو په قیامت) څه دی، هغه ټکوونکی او تا ته څه معلومه ده چی څه شی دی هغه ټکوونکی

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ④ وَتَكُوْنُ

وَتَكُوْنُ	الْمَبْثُوْثِ	كَالْفَرَاشِ	النَّاسُ	يَكُوْنُ	يَوْمَ
او وبه ګرځی	پاشلی پاشلی	په شان د پریشانه شوپرکانو	خلک	چی ګرځی	په هغه ورځ

په هغه ورځ به وی انسان په شان د کوچنی ملخانو پاشلی پاشلی (یو په بل ختونکی). او وبه ګرځی

الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ⑤ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ

مَنْ ثَقُلَتْ	فَاَمَّا	الْمَنْفُوْشِ	كَالْعِهْنِ	الْجِبَالُ
هغه څوک چی درنه سوه	پس هر چی	شیندل سوی	په شان د وړی رنګینی	غرونه

غرونه (له هیبته په هغه ورځ) په شان د وړئ شیندل سوی (پاشل سوی رنګینی)، پس د هغه چا چی درونډ سی

دالقارعة سورت متعلق

بیان: پـه دې سـورت کـې دعملونـو دتـول کېـدو او دوزن پـه سـپك یـا درونـد کېـدو د دوزخ یـا جنـت ورکولـو ذکـر دی. دحدیث دروایتونـــو اودتطبیـــق دایتونـو څخـه معلومیږي چي دعملونو وزن بـه غالبا دوه واره وي پـــه يـــو وار وزن سره به دمومن او کافر معلومولو فرق وسيي، دهر مومن تول به درونډ او دهر کـافر تـول بـه سـپك وي، بیابـه پـه مؤمنـانو کـې دنیکـــو اوبـــدوعملونو دمعلومولـو دپـاره دوبـاره وزن کـــول وي. پـــه دې سورت کې په ظاهره دغه اولنـی وزن مـراد دی پـه کوم چي به دهر مؤمن تـول دایمان په وجه درونډ وي ، برابره خبره ده که د ده عمل هر څنګه هم وي اودکـافر تول به دایمان د نه درلودو په وجه سپك وي، که څه هـم ده نیـك کارونـه کـړي وي، او پـه تفسیر مظهـري کـې دي چي پـه قـران کریم کې په عام طور سره په جزا اوســزا کـــې تقابـــل د کفــــارو دمؤمنــــانو صــالحانو ســره ســوی دی، چـي اصـلي مؤمنـان هـــم هغـــه دي. بـــاقي پاتـه سـول هغـه مؤمنـان کوم چي نیك اوبد عملونه یې ګډوډ کړي وي هغوی پـــه درجـــه کښـــې کـــم دي تـــر خاصـــو مؤمنـــانو. (معـارف القـران ج ۱۰ ص ۱۸۹)

ع ۱ ۲۵

مَوَازِيْنُهٗ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾ وَاَمَّا

مَوَازِيْنُهٗ	فَهُوَ	فِيْ عِيْشَةٍ	رَّاضِيَةٍ	وَاَمَّا
تله (دنیکی دده)	پس هغه‌به‌وی	په‌ژوند	غوره کی (راضی به‌وی)	او هر چې

وزن (دعملونو) د ده، پس هغه به وی په ښه‌ژوندون کی چې راضی به‌وی (په جنت کی)، او دهغه چا چې

مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ﴿٨﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾

مَنْ خَفَّتْ	مَوَازِيْنُهٗ	فَاُمُّهٗ	هَاوِيَةٌ
هغه‌څوک چې سپکه‌سوه	تله‌دنیکئ‌دده	دهغه‌ځای‌به	هاویه‌وی

سپک سی وزن (دنیک عملونو) د ده، دهغه ځای به هاویه وی.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿١١﴾

وَمَآ اَدْرٰىكَ	مَا هِيَهْ	نَارٌ	حَامِيَةٌ
څه‌شی خبر کړی یئ ته	چی څه‌شی ده هاویه	اور دی	ډیر تود (ګرم)

او تاته څه معلومه ده چې څه شی ده هاویه ، (هغه هاویه) اور دی ډیر تود (ګرم).



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم‌په‌نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ

اَلْهٰكُمُ	التَّكَاثُرُ	حَتّٰى	زُرْتُمُ	الْمَقَابِرَ	كَلَّا	سَوْفَ
غافله‌کړی‌یئ‌یاست‌تاسی	ډیروالی د مال	ترهغه‌پوری	چې زیارت مو وکړی	قبروته	داسی نه‌ده	ژربه

غافله کړی یی یاست تاسی ډیروالی د دنیا، ترهغه وخت پوری چې قبرونو ته ورسیږی، داسی نه ده ژربه

تَعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ

تَعْلَمُوْنَ	ثُمَّ	كَلَّا	سَوْفَ	تَعْلَمُوْنَ	كَلَّا	لَوْ تَعْلَمُوْنَ
تاسی پوه‌سی	بیا	داسی نه‌ده	ژربه	تاسی پوه‌سی	داسی نه‌ده	که‌چیری تاسی پوهیدلای

تاسی پوه سی بیا داسی نه ده. ژربه تاسی پوه سی (په خپل خطاء باندی)، داسی نه ده که چیری تاسی پوهیدلای

(حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ): دلته دقبرو څخه مراد مړه کېدل اوقبرته رسېدل دي، څنګه چي په حديث مرفوع کي په خپله نبي کريم(صلى الله عليه وسلم) د حتى زرتم المقابر په تفسير کي فرمايلي دي، حتى ياتيکم الموت نو په دي وجه ، مطلب دايت داسي دی چي تاسي دمال دولت او يا دهغه زياتوالي يا هم اولاد ،قبيله اونسب باندي فخر کول تاسي په غفلت يعني په بې پروايې کي اچولي ياست، دخپل اخرت دحساب هيڅ فکرنه کوی تردې چي په دې حال کي تاسي لره مرګ راځي، او هلته به په عذاب کي ونېول سی، دا خطاب په ظاهره عامو انسانانوته دی چي دمال او اولاد په محبت ياپر نورو باندي د خپلي برتري اوتفاخرکي داسي مست وي چي د خپل اخرت حساب، او کتاب ته د فکر کولو توجع نه وي. **دسورت فضيلت:** نبي کريم(صلى الله عليه وسلم) صحابه کرامو[رض] ته و فرمايل چي ايا په تاسي کي يوسړي ددې قدرت نه لري چي هره ورځ دقران يوزر(١٠٠٠) اياتونه ووايې ، صحابه کرامو[رض] عرض وکړ، چي روزانه زر اياتونه څوك ويلای سي؟ نو نبي کريم[ص] وفرمايل چي په تاسي کي څوك :الهاکم التکاثر نه سي ويلای دا د زرو آياتونو ثواب لري. (تفسيرمظهري) (معارف القران ج١٠ ص ١٩١)

ع ٢٦

وَالْعَصْرِ①اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ...دسورت عصر خاص فضیلت. حضرت عبید الله ابن حصن رضي الله عنه فرمایي چي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم په صحابه کرامو کي دوه کسان داسي وه چي کله به دوی په خپل مینځ کي یو ځای کیدل نو ترهغه وخته پوري چي به په دوی کي یوه دبل په مخکي سورت العصر نه وای ویلی نه سره جلا کیدل. او امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي چي که خلګو صرف په دې سورت کي تدبر کولای نو دابه ورلره کافي وای. ابن کثیر. سورت عصر دقرآن کریم دډیرو مختصرو سورتونو څخه دی لیکن داسي جامع دی چي په قول دحضرت امام شافعي رحمة الله علیه چي که داخلګ داسورت په فکر او تدبر سره ووایي نو ددین او دنیا ددرستی دپاره به ورته کافي سي په دې سورت کي حق تعالی په زمانه قسم اخلي فرمایي چي نوع انساني په لویه خساره کي ده او ددې خسارې څخه مستثنی صرف هغه خلګ دي کم چي دخلورو شیانو پابند وي ایمان، عمل صالح، نوروته دحق نصیحت او وصیت، اودصبر وصیت، الخ.
معارف القرآن ج ١٠ پ ٣٠ ص ١٩٤

عِلْمَ الْيَقِيْنِ⑤لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ⑥ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ

عَيْنَ	لَتَرَوُنَّهَا	ثُمَّ	الْجَحِيْمَ	لَتَرَوُنَّ	الْيَقِيْنِ	عِلْمَ
په سترګو	تاسی به خامخا ووینی دا دوږخ	بیا	دوږخ	خامخا تاسی به ووینی	یقینی سره	په پیژندنه


په علم الیقین باندی (نو داسی به مونه کولای). تاسی به ووینی دوږخ بیا تاسی به خامخا ووینی په سترګو

ع ٨
٢٧

الْيَقِيْنِ⑦ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ⑧

عَنِ النَّعِيْمِ	يَوْمَىِٕذٍ	لَتُسْـَٔلُنَّ	ثُمَّ	الْيَقِيْنِ
په باره کښی د نعمتونو	په دغه ورځ کښی	خامخا پوښتنه به وسی له تاسی څخه	بیا	د یقین سره

په یقین سره بیا خامخا پوښتنه به وسی له تاسی څخه په دغه ورځ کی په باره کی د نعمتونو (ددنیا)



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَالْعَصْرِ①اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ②

خُسْرٍ	لَفِيْ	الْاِنْسَانَ	اِنَّ	وَالْعَصْرِ
تاوان کښی دی	خامخا په	انسان	بیشکه!	قسم دی په زمانی سره

قسم دی په عصر (زمانه) بیشکه انسان خامخا په تاوان (زیان) کښی دی

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

الصّٰلِحٰتِ	وَعَمِلُوا	اٰمَنُوْا	اِلَّا الَّذِيْنَ
نیک (ښه)	او عمل يئ کړی وی	چی ایمان يئ راوړی وی دوی	مګر هغه کسان

مګر (نه دی) هغه کسان چی ایمان لری او عمل یی کړی وی نیک (په دنیا کښی)

ع
٢٨

وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ③

بِالصَّبْرِ	وَتَوَاصَوْا	بِالْحَقِّ	وَتَوَاصَوْا
د صبر	او نصیحت يئ کړی وی (یو دبله سره)	دحق (دین)	او نصیحت يئ کړی وی (یو دبله سره)

او نصیحت یی کړی وی دحق (دین په باره کی) او نصیحت یی کړی وی د صبر (دطاعت او مصیبت څخه)

اٰیاتونه ۹ | ۱۰۴ سُوْرَةُ الْهُمَزَةِ مَكِّيَّةٌ ۳۲ | رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چی ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِۨ ۝١ الَّذِىْ جَمَعَ مَالًا

وَيْلٌ	لِّكُلِّ	هُمَزَةٍ	لُّمَزَةِ	الَّذِىْ	جَمَعَ	مَالًا
هلاکت دی	هر	پسی شاعیب رااېستونکی لره	مخ مخ طعنی ورکوونکی لره	هغه څوک چی	ټول کړی یې دی	مال

هلاکت (افسوس) دی د هر عیبګر (عیب ویونکی) او غیبت کوونکی دپاره، هغه (غیبتګر، عیبګر) چی جمع کوی مال

وَّعَدَّدَهٗ ۝٢ يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ۝٣ كَلَّا

وَّعَدَّدَهٗ	يَحْسَبُ	اَنَّ	مَالَهٗ	اَخْلَدَهٗ	كَلَّا
او بیا بیا یې شمیرلی دی هغه لره	ګمان کوی	چی بیشکه!	مال دده به	همیشه ژوندی وساتی دی	داسی نه ده

او حسابوی هغه (مال (او) ګمان کوی (خیال کوی) چی بیشکه مال دده به تل (ټول عمر) ژوندی وی، داسی نه ده (بلکه)

لَيُنْۢبَذَنَّ فِى الْحُطَمَةِ ۝٤ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝٥

لَيُنْۢبَذَنَّ	فِى الْحُطَمَةِ	وَمَاۤ اَدْرٰىكَ	مَا الْحُطَمَةُ
خامخا وبه غورځول سی	په حطمه کښی	او څه شی خبر کړی یې ته	چی څه شی دی حطمه

خامخا به وغورځول سی (هغه) په حطمه کښی او ته څه معلومه ده چی څه شی دی حطمه (هغه)

نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ۝٦ الَّتِىْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ۝٧

نَارُ	اللّٰهِ	الْمُوْقَدَةُ	الَّتِىْ	تَطَّلِعُ	عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ
اور	دالله دی	بل سوی	هغه چی	خیږی	پر زړونو باندی

اور د الله دی بل سوی، هغه چی خیږی پر زړونو باندی (نو سوځوی یې)

اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۝٨ فِىْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝٩

اِنَّهَا	عَلَيْهِمْ	مُّؤْصَدَةٌ	فِىْ عَمَدٍ	مُّمَدَّدَةٍ
بیشکه! هغه به	پر دوی باندی	بند کړل سوی وی	په ستونو	اوږدو اوږدو کښی

بیشکه دا (اور) به پر دوی بند سوی وی په اوږدو ستونو سره

ع ۱ / ۲۹

دلمزه سورت:

په دي سورت کي پردروسختو ګناهونو باندي د سخت عذاب وعده اوبیا ددغه عذاب دشدت بیان سوی دی، هغه دري ګناهونه دادي لمز، جمع مال او همز. همز او لمز په څو معناووکي استعمالیږي. اکثره مفسرینو چي کومه معنی اختیاره کړې ده، هغه داده چي دهمز معنی غیبت یعني په شا پسي دعیبونوذکر کول. اود لمز معنی مخامخ چاته طعنه ورکول اوبدویل دا دواړه شیان سخت ګناه لري. پرغیبت باندي سزاوي په قران اوحدیث کي ډیر ذکر سوي دي، وجه یې داده چي ددې ګناه په کولو کي څه مشکل نه وي اوهرڅوک یې په ازاد ډول کوي په دغه وجه یې ګناهونه سم دلاسه ډیریږي. البته مخامخ طعنه ورکول چي دهغه دجواب لپاره هرڅوک تیاریږي. نوپدې وجه ددغه عمل په ګناه کي اوږدوالی نه وي ددې څخه علاوه په کومو کسانو پسي چي پسي شا دهغو عیبونه بیانیږي داهم څکه لوي ظلم دی، چي هغه خوار خبر ندی چي پر ماڅه الزام ویل کیږي. نودی نسي کولای چي ځان صفاه کړي او دا دده خوار په حق کښي لوی ظلم دی.

(معارف القران ج ۱۰ ص ۱۹۹)

أیاتونه ۵ — ۱۰۵ سُوْرَةُ الْفِيلِ مَكِّيَّةٌ ۱۹ — رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ①

اَلْفِيْلِ	بِاَصْحٰبِ	رَبُّكَ	فَعَلَ	كَيْفَ	اَلَمْ تَرَ
دفیل سره	دخاوندانو	رب ستا	معامله وکړه	چې څنګه	آیا نه دی لیدلی تا

آیا نه دی لیدلی تا چې څنګه معامله وکړه رب ستا د خاوندانو دفیل سره

اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ②

فِيْ تَضْلِيْلٍ	كَيْدَهُمْ	اَلَمْ يَجْعَلْ
په ګمراهی کښې	مکر د دوی	آیا نه یئ وګرځوی

آیا نه یی وګرځوی (هغه) مکر (چې نړولی کعبه) په ګمراهی (زیانمنی) کی،

وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ③

اَبَابِيْلَ	طَيْرًا	عَلَيْهِمْ	وَّاَرْسَلَ
تولی تولی	مرغان	پر دوی باندی	او وی لیږل

او را وایستول پر دوی باندی مرغان تولی تولی (نو)

تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ④

مِّنْ سِجِّيْلٍ	بِحِجَارَةٍ	تَرْمِيْهِمْ
چې دختو جوړ سوی په اور پخ سوی وه	په کاڼو سره	ویشتل به یئ دوی

ویشتل به یی دوی په کاڼو چې په اور کی (دختو جوړ سوی) پخ سوی وه،

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ⑤

مَّاْكُوْلٍ	كَعَصْفٍ	فَجَعَلَهُمْ
خوړل سوو	په شان د وښو	نو یئ وګرځول دوی

نو وی ګرځول دوی (دغه دفیل لښکر) په شان د (وښو) خوړل سوو. (پایمال سوو)

دفیل واقعه: داواقعه په هغه کال کې پیښه سوه په کوم کال کې چې دخاتم الانبیا(صلی الله علیه وسلم) ولادت په مکه مکرمه کې وسو. په ځینو روایتونو کې هم ددې تایید کیږي اودامشهور قول دی (ابن کثیر) محدثینو حضراتو داواقعه دنبي کریم(صلی الله علیه وسلم) یوقسم معجزه مقرر کړیده. مګر داچې دمعجزو قانون دادی چې هغه دنبي دنبوت ددعوې سره د دوي دتصدیق دپاره ظاهریږي، نو دنبي کریم ص دولادت څخه هم مخکې حق تعالیٰ ځیني وخت په دنیاکي داسې واقعات اونښنانیاني ظاهرکړي هغه چې په خرق عادت کې په مثل دمعجزې وي ، داسې نښانوته دمحدثینو په اصطلاح کې ارهاص ویل کیږي.کوم چې دابتداء او بنیاد په معنی کې استعمالیږي. رهص سنګ بنیاد ته وایي (قاموس) دنبي کریم(صلی الله علیه وسلم) دبعثت او ولادت څخه مخکې هم داقسم ارهاصات ډیر سویدي. اصحاب فیل دآسماني عذاب په ذریعه پر بیت الله شریفي دحملې کولو څخه منع کول هم ددغو ارهاصاتو څخه دي. (معرف القرآن ج۱۰ ص۲۱۳)

ع۳۵

آیاتونه ۴ ۱۰۶ سُوْرَةُ قُرَيْشٍ مَكِّيَّةٌ ۲۹ رکوعوي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝٢

لِاِيْلٰفِ	قُرَيْشٍ	اٖلٰفِهِمْ	رِحْلَةَ	الشِّتَآءِ	وَالصَّيْفِ
دسببه د مینې او الفت	د قریشو یو د بل سره	محبت د دوی	له سفره سره	د ژمي	او د گرمۍ

د مینې دسببه د قریشو یو د بل سره او مینه د دوی په سفر کې د ژمي (یمن ته) او د گرمۍ (وشام ته).

فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝٣ الَّذِيْٓ

فَلْيَعْبُدُوْا	رَبَّ	هٰذَا	الْبَيْتِ	الَّذِيْٓ
نو ښائي چې عبادت وکړي دوی	د رب	د دغه	کور (کعبه)	هغه چاچې

نو ښائي چې (دوی) عبادت وکړي د رب د دغه (د الله) د کور (کعبه). هغه ذات (الله)

اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝٤ ع

اَطْعَمَهُمْ	مِّنْ جُوْعٍ	وَّاٰمَنَهُمْ	مِّنْ خَوْفٍ
خوراک ورکړی دی دوی ته	په لوږه کښې	او امن یئ ورکړی دی دوی ته	په بیره کښې

چې خوراک یې (دوی) ورکړل دوی ته په لوږه کښې او امن یې ورکړی دی دوی ته په ویره کې.

آیاتونه ۷ ۱۰۷ سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ مَكِّيَّةٌ ۱۷ رکوعوي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝١ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ

اَرَءَيْتَ	الَّذِيْ	يُكَذِّبُ	بِالدِّيْنِ	فَذٰلِكَ	الَّذِيْ	يَدُعُّ
آیا تالیدلی دی	هغه څوک چې	دروغ بولي	ورځ د جزاء (قیامت)	پس هم دغه دی	هغه کس	چې شړي (ربتي)

آیا تالیدلی دی هغه څوک چې دروغ بولي ورځ د جزاء (قیامت) پس هم دغه دی هغه کسان چې شړي (ربتي)

وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ:
د ماعون اصلي لفظي معنې لږ شئ دی. په دې وجه ماعون دا سې د استعمال شیانو ته ویل کیږي چې عادتًا یو بل ته ورکول کیږي او کومه راکړه ورکړه چې په خپل مینځ کې د خلګو تر منځ کیږي لکه تبر، کولنګ ، یا د خوراك پخولو لوښي، چې د ضرورت په وخت کښې دیو همسایه څخه غوښتل څه عیب نه ګڼل کیږي. او څوك چې یې په ورکولو کې بخل کوي هغه ډیر بخیل او کمینه ګڼل کیږي. مګر په ذکر سوي ایت کې د لفظ ماعون څخه مراد زکواة دی او زکوة ته یې ماعون په دې وجه ویلي دي چې دا د مقدار په اعتبار سره ډیر لږ دی، یعني صرف څلویښتمه حصه. حضرت علي رض ابن عمر رض حسن بصري قتاده ضحاك او نورو مفسرینو جمهورو په دغه ایت کې د ماعون تفسیر په زکوة سره کړی دی (تفسیر مظهري) او د دې په نه ورکولو کې چې د ویل عذاب د جهنم مذکور دی هغه هم په ترك د فرض وکېداي سي. د استعمال شیان نورو له ورکول ډیر لوي ثواب لري او د انسانیت او مروت په لحاظ سره ضروري خودی، مګر فرض او واجب نه دي چې پر منع کولو یې د جهنم عذاب وي. (معارف القران ج۱۰ صفحه ۲۱۰_۲۱۱)

ع ۳۱

الْيَتِيْمَ ۝٢ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝٣ فَوَيْلٌ

فَوَيْلٌ	الْمِسْكِيْنِ	طَعَامِ	عَلٰى	وَلَا يَحُضُّ	الْيَتِيْمَ
پس خرابي ده	د مسکين	خوراک ورکولو	پر	او نه کوي تيزول (باعث کول)	يتيم

يتيم او نه کوي ترغيب (اضافه توب) پر خوراک ورکولو د مسکينانو ته، پس هلاکت (افسوس) دی

لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝٤ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝٥

سَاهُوْنَ	عَنْ صَلَاتِهِمْ	هُمْ	الَّذِيْنَ	لِّلْمُصَلِّيْنَ
بي خبره وي	د خپل د لمانځه څخه	چي دوی	هغه کسان	دپاره د لمونځ کوونکو


دپاره د لمونځ کوونکو هغه کسان چي دوی د خپل د لمانځه څخه بي خبره (غافله) وي،

ع ۳۲

الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝٦ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝٧

الْمَاعُوْنَ	وَيَمْنَعُوْنَ	يُرَآءُوْنَ	هُمْ	الَّذِيْنَ
مال د زکوة	او منع کوي دوی	ريا ء کاري کوي	چي دوی	هغه کسان

هغه کسان چي دوی ريا ء کاري کوي (په عمل خپل کښي ښوونه کوي) او منع کوي دوی د مال زکوة (اسباب د کومک).



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝٢

وَانْحَرْ	لِرَبِّكَ	فَصَلِّ	الْكَوْثَرَ	اَعْطَيْنٰكَ	اِنَّآ
او قرباني کوه	دپاره د رب خپل	پس لمونځ وکړه	کوثر	درکړی دی تاته	بيشکه! موږ

بيشکه موږ درکړی دی تاته کوثر (هر خير يا واله په جنت کی) نو لمونځ کوه دپاره د رب خپل او قرباني کوه.

ع ۳۳

اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝٣

الْاَبْتَرُ	هُوَ	شَانِئَكَ	اِنَّ
بي بنياده (بي نښي)	هم هغه دی	دښمن ستا	بيشکه!

بيشکه دښمن ستا هم هغه بي بنياده دی ده هره خيره.

شان نزول د کوثر سورت:

ابن ابي حاتم د سدي څخه او بيهقي په دلايل نبوت کي د حضرت محمد بن علي بن حسن رض څخه نقل کړي دي چي کوم وخت به د سړي نارينه اولاد مړسو هغه ته به عربو ابتر وايه يعني مقطوع النسل، څه وخت چي د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) زوي قاسم يا ابراهيم په کوچنيوالي کي وفات سو نو د مکې کفارو به ده (صلى الله عليه وسلم) ته ابتر ويل او طعني به يې ورکولې، په داسي ويونکو کي د عاص بن وايل نوم په خاص طور سره ذکر کيږي، دده په مخکې چي به کله د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) ذکر کيدی نو ده به ويل چي د هغه خبره پرېږدی داد هيڅ فکر کولو خبره نه ده، ځکه چي هغه ابتر (مقطوع النسل) دی، کله چي دی مړ سي د دوي به هيڅوک نوم اخيستونکي پاته نه سي، په دې خاطر سورت الکوثر نازل سو. (بغوي، ابن کثير، مظهري).

او په ځينو رواياتو کي ددې سورت شان نزول د کعب بن اشرف يهودي راتګ ومکې مکرمې ته بيان سوي دی. په دې وجه چي ده په دغه سفر کښي د مشرکينو کلك ملاتړ وکړی. (معارف القران ج ۱۰ ص ۲۱۳)

اٰياتونه ٦	١٠٩ سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ مَكِّيَّةٌ ١٨	ركوعي ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ① لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ② وَلَآ اَنْتُمْ

قُلْ	يٰٓاَيُّهَا	الْكٰفِرُوْنَ	لَآ اَعْبُدُ	مَا تَعْبُدُوْنَ	وَلَآ اَنْتُمْ
ووایه	ای	کافرانو	نه کوم عبادت زه	د هغه شی چې تاسی یې عبادت کوی (باطل بتان)	او نه تاسی

ووایه (محمده!) ای کافرانو نه کوم زه (فی الحال) عبادت د هغه شی چې تاسی یی عبادت کوی (بتان). او نه تاسی

عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ③ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ④ وَلَآ اَنْتُمْ

عٰبِدُوْنَ	مَآ اَعْبُدُ	وَلَآ اَنَا	عَابِدٌ	مَّا عَبَدْتُّمْ	وَلَآ اَنْتُمْ
عبادت کوونکی یاست	د هغه چې زه یې عبادت کوم	او نه یم زه	عبادت کوونکی	د هغه چې تاسی یې عبادت کوی	او نه تاسو

عبادت کوونکی یاست د هغه ذات چې زه یی عبادت کوم. او نه یم زه عبادت کوونکی (وروسته) د هغه شئ چې تاسی یی عبادت

عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ⑤ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ⑥

عٰبِدُوْنَ	مَآ اَعْبُدُ	لَكُمْ	دِيْنُكُمْ	وَلِيَ	دِيْنِ
عبادت کوونکی یاست	د هغه چې زه یې عبادت کوم	ستاسو د پاره	ستاسو دین دی	او زما د پاره	زما دین دی

کوی، او نه تاسی عبادت کوونکی یاست د هغه ذات چې زه یی عبدت کوم، ستاسو د پاره ستاسو دین دی او زما د پاره زما دین دی

ع ٢
٣٤

اٰياتونه ٣	١١٠ سُوْرَةُ النَّصْرِ مَدَنِيَّةٌ ١١٤	ركوعي ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ① وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ

اِذَا	جَآءَ	نَصْرُ	اللّٰهِ	وَالْفَتْحُ	وَرَاَيْتَ	النَّاسَ	يَدْخُلُوْنَ
هغه وخت چې	راسی	کومک	د الله	او فتح	او وینی به ته	خلک	چې داخلیږی

کله چې راسی نصرت (کومک) د الله او فتح (د مکی) (نو) وینی به ته خلک چې داخلیږی (ننوځی)

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ

دسورت الکافرون شان نزول. دابن اسحق روایت دابن عباس رضي الله عنه څخه دادی چې ولید ابن مغیره، عاص ابن وائل، اسود ابن عبدالمطلب، او امیه ابن خلف تو له نبي کریم ﷺ ته راغلل چې راځه موږ په خپل مینځ کي صلح کوو چي یو کال ته زموږ دبتانو عبادت کوه او یوه کال به موږ ستا دمعبود عبادت کوو. تفسیر قرطبي او دطبراني روایت دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دادی چي دمکې کفارو اول خو په خپل مینځ کي دصلح دپاره دنبي کریم ﷺ په مخکې دا صورت پیش کی چي موږ تاته دومره مال درکوو چي ته به په تو له مکه کي دټولو څخه زیات مالداره سې او دکمې ښځي سره چي ته غواړې ستا نکاح به وکو ته صرف دومره وکړه چي زموږ معبودانو ته بد مه وایه او که ته دا هم نه منې نو داسي به وکو چي ته یو کال زموږ دبتانو عبادت کوه او موږ به یو کال ستا دمعبود عبادت کوو نور به جنجال ختم وي دمینځ څخه ددوی ددغي مطالبې په جواب کي دغه سورت نازل سو.
معارف القرآن ج١٠ پ٣٠ ص ٢٩٨

فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

فِيْ دِيْنِ	اللّٰهِ	اَفْوَاجًا	فَسَبِّحْ	بِحَمْدِ	رَبِّكَ
په دين کښې	دالله	ډلې ډلې	پس پاکي بيان کړه	په تعريف سره	درب ستا

په دين دالله کښې ډلې ډلې پس تسبيح (پاکي) وايه سره د حمد ثناء د رب خپل،

وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝٣ ع ۳۵

وَاسْتَغْفِرْهُ	اِنَّهٗ	كَانَ	تَوَّابًا
او بخښنه وغواړه د هغه څخه	بيشکه! (الله)	دی	ښه توبه قبلونکی

او مغفرت (بخښنه) وغواړه د هغه (الله) څخه بيشکه دی (الله) توبه قبلوونکی دی.

اٰیاتونه ٥ — ١١١ سُوْرَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ ٦ — رکوعي ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډير زيات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا

تَبَّتْ	يَدَآ	اَبِيْ لَهَبٍ	وَّتَبَّ	مَآ اَغْنٰى	عَنْهُ	مَالُهٗ	وَمَا
مات دی سی	دواړه لاسونه	دابو لهب	او هلاک دی سی پخپله	نه راغلی پکار	د ده ته	مال د ده	او هغه چې

مات هلاک دی سی دواړه لاسونه دابو لهب او پخپله دی دی هم هلاک سی، په کار به را نه سی (هلاکت ته) د ده مال د ده ته،

كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَّامْرَاَتُهٗ ؕ

كَسَبَ	سَيَصْلٰى	نَارًا	ذَاتَ	لَهَبٍ	وَّامْرَاَتُهٗ
ده گټلي وه	ژر دی چې ننه به وزی	اور ته	چې خاوند	دلمبو دی	او ښځه دده هم

او هغه چې ده گټلي وه (يعنې اولاده) ژر دی چې ننه به وځی (ابولهب) د اور ولمبو ته (په آخرت). (ننه به وځی) ښځه د ده هم

حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝٤ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝٥ ع ۳۶

حَمَّالَةَ	الْحَطَبِ	فِيْ جِيْدِهَا	حَبْلٌ	مِّنْ مَّسَدٍ
په داسی حال کی چې بار راوړونکی به وی	دلرگيو (خسو د دوږخ)	(داچې) په غاړه ددی کښې	رسی ده	د پوستکو دخرما مضبوطه

اور ته په داسی حال کی چې راوړونکی به وی لرگی د دوږخ. داچې په غاړه د دی ده رسی د خرما د پوستکو

شان نزول: په بخاري اومسلم کښی دي چي کله پر نبي کريم صلى الله عليه وسلم ايت د :(وانذر عشيرتك الاقربين) نازل سو نونبي کريم (صلى الله عليو سلم) دصفا غره ته وختی او دخپلي قبيلي خلگو قريشو ته يې اواز وکړ. په ځينو روايتونو کي دي چي يا صباحاه يې وويل او په يابني عبدمناف اويا بني عبدمطلب او نورو نومونو سره يې اواز وکړ، (داسي اواز کول په عربو کي دخطرې علامه گڼل کيده) تول قريش جمع سول نونبي کريم صلي الله عليه وسلم) وفرمايل چي که زه تاسي ته داخبر درکړم چي دښمن پرتاسي سهار يا مابنام حمله کوونکی دی. نوايا تاسي خلگ به زما خبره ومنی؟ ټولو په يوه خوله په جمع وويل چي هو! ضرور به تا رينښتني گڼو بيانبي کريم (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل چي زه تاسي ديوه سخت عذابه څخه بيروم (کوم چي پر شرك او کفر دالله ج دطرفه څخه مقرردی) چي دايې واوريدل نو ابولهب وويل، هلاکت دي وي تالره ددې دپاره تا مور جمع کړو؟ ،اودده (صلى الله عليه وسلم) دويشتلو دپاره يې يوه ډبره راپورته کړه. دابولهب اصلي نوم عبدالعزای وو. دی د عبدالمطلب داولادي څخه دی.(معارف القران ج١٠ ص ٢٢٥)

آیاتونه ۴ ۱۱۲ سُوْرَةُ الْإِخْلَاصِ مَكِّيَّةٌ ۲۲ رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ① اَللّٰهُ الصَّمَدُ ② لَمْ يَلِدْ

قُلْ	هُوَ	اللّٰهُ	اَحَدٌ	اَللّٰهُ	الصَّمَدُ	لَمْ يَلِدْ
ووایه	هغه	الله	یو دی	الله	بی پروا دی	نه دی زیږولی ده څوک

ووایه (ای محمده! دوی ته) شان دا دی چې الله یو دی ، الله بی پروا دی ، نه دی زیږولی سوی هیڅوک دده څخه

وَلَمْ يُوْلَدْ ③ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ④

وَلَمْ يُوْلَدْ	وَلَمْ	يَكُنْ	لَّهٗ	كُفُوًا	اَحَدٌ
نه دی دچا څخه زیږیدلی دئ	او نه	سته	ده ته	برابر سیال	هیڅ یو کس

او نه هم دی دچا څخه زیږول سوی دی او نه سته دغه (الله) ته برابر هیڅ یو سیال.

آیاتونه ۵ ۱۱۳ سُوْرَةُ الْفَلَقِ مَكِّيَّةٌ ۲۰ رکوعي ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چې ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ① مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ②

قُلْ	اَعُوْذُ	بِرَبِّ	الْفَلَقِ	مِنْ شَرِّ	مَا خَلَقَ
ووایه (محمده)	زه پناه غواړم	په رب	دسهار	د شر څخه	دهغه چې ده پیدا کړی دی

ووایه (ای محمده) پناه غواړم په رب دسهار (خیروونکی دتیاری) دهغه شی دشر څخه چې ده (الله) پیدا کړی دی،

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ③ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ

وَمِنْ شَرِّ	غَاسِقٍ	اِذَا	وَقَبَ	وَمِنْ شَرِّ	النَّفّٰثٰتِ
او دشر څخه	د توری شپې	هغه وخت چې	تکه توره سی	او دشر څخه	د پوه کوونکو جادوګرو ښځو

او دشر څخه د توری شپې (تیاری) کله چې تکه توره سی، او د شر څخه دپوه کوونکو جادوګرو ښځو چې

شان نزول: دترمذي، حاکم اوپه نورو روایتونو کښي دي، چي دمکې مشرکینو دنبي کریم ص څخه دالله ج دنسب پوښتنه کړې وه ددوي په جواب کي دا سورت نازل سو په نورو ځینو روایتونو کي دا سوال دمدینې دیهودو طرف ته منسوب سوی دی په دې وجه ددې سورت په مکي یا مدني کېدو کي اختلاف دی. حضرت عبدالله بن مسعود رض حضرت حسن رض عطا رض عکرمه رض جابر رض دې ته مکي ویلي دي اوقتاده رض ضحاک رض اونورو مدني ورته ویلي دي. دحضرت ابن عباس رض څخه دوه قوله منقول دي (قرطبي) په ځینو روایتونو کښي دي چي دمشرکینو په سوال کي دا هم وه چي الله ج دڅه شي څخه جوړ سوی دی ، دسرو او سپینو یا بل شئ څخه ؟. ددوي په جواب کښي دا سورت نازل سو.

دسورت فضیلتونه: امام احمد دحضرت انس رض څخه روایت کړي دي چي یو سړی دنبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په خدمت کي حاضر سو اوعرض یې وکړ چي زما ددې سورت سره ډیر محبت دی، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل چي ددې سورت محبت به تا جنت ته داخل کړي. (ابن کثیر) (معارف القران جلد ۱۰ صفحه ۲۳۰)

ع ۲۷

ع ٤ / ٣٨

فِى الْعُقَدِ ۝٤ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۝٥

فِى الْعُقَدِ	وَمِنْ شَرِّ	حَاسِدٍ	اِذَا	حَسَدَ
په غوټو کښی	او د شر څخه	دحسد کوونکی	هغه وخت چي	هغه حسد کوی

پر غوټو پو کوی او د شر څخه د حسد کوونکی کله چي ښکاره کړی حسد خپل (په حسد کولو سره)

أياتونه ٦ — ١١٤ سُوْرَةُ النَّاسِ مَكِّيَّةٌ ٢١ — كوعوي ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله پاک چي ډیر زیات مهربانه او پوره رحم کوونکی ذات دی

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝١ مَلِكِ النَّاسِ ۝٢

قُلْ	اَعُوْذُ	بِرَبِّ	النَّاسِ	مَلِكِ	النَّاسِ
ووایه (محمده)	زه پناه غواړم	په رب	دخلګو	په پادشاه	دخلګو

ووایه ای محمده! (چي) زه پناه غواړم په رب دخلګو، په پادشاه د خلګو ،

اِلٰهِ النَّاسِ ۝٣ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۝٤

اِلٰهِ	النَّاسِ	مِنْ شَرِّ	الْوَسْوَاسِ	الْخَنَّاسِ
په معبود	دخلګو	د شر څخه	د وسوسو اچوونکی	دتښتیدونکی

په معبود دخلګو ، د شر څخه د وسوسو اچوونکی (بیا) دتښتیدونکی (شیطان د ذکره د الله) ،

الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝٥

الَّذِىْ	يُوَسْوِسُ	فِىْ صُدُوْرِ	النَّاسِ
هغه چي	وسوسه اچوی	په سینو کښی	دخلګو

هغه (شیطان) چي وسوسه اچوی په سینو (زړونو) دخلګو کښی،

ع ٦ / ٣٩

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝٦

مِنَ الْجِنَّةِ	وَالنَّاسِ
چي د پیریانو	او انسانانو څخه دی

(چي دغه وسوسه اچوونکی) د پیریانو او انسانانو څخه دی

په صحیح بخاري کښي

دحضرت عایشي رض په روایت کښي دي چي یو یهودي په نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) جادو کړی وه ، نو هغه پر دوي داسي اثرو کړی چي ځیني وخت به یې محسوسوله چي فلاني کارمي کړی دی، مګر کړی به یې نه وو بیایې یوه ورځ حضرت عایشي رض ته وفرمایل چي ماته زما مریضي الله ج په خوب کي را وښووله ، هغه داسي چي دوه کسان راغلل، یومي سرته کښینستی، بل مي پښوته، سرته ناست سړي دهغه بل ته چي پښوته ناست وو وویل چي ده ته څه تکلیف دی؟ هغه وویل چي په ده جادو سوی دی، هغه پوښتنه وکړه چي چاپه کړی دی؟ نوجواب یې ورکړ چي لبید بن اعصم کوم چي دیهودو دوست منافق دی.بیایې پوښتنه ورڅخه وکړه چي په څه شي کښي یې جادوپه کړی دي ، هغه وویل چي په ږمنځ اودهغې په غابنو کښي، بیایې پوښتنه ځني وکړه چي په کوم ځای کښي دي؟ هغه وویل چي دخرما په هغه غلاف کي په کوم کي چي دخرما میوه پیدا کیږي. په ذروان څاه کي تریوې ډبري لاندي ښخ دي. نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) هغه څاه ته ولاړی او هغه یې راویستې اوویې فرمایل چي په خوب کي ماته داڅاه ښودل سوي وو. (معارف القران جلد ١٠ صفحه ٢٣٤)

دقرآن مجید دسورتونو فهرست

دقرآن مجید دسورتونو فهرست